تسهیلات

پښتو شرح

مشکوٰة

تالیف مولانا شاه فیصل
فاضل دار العلوم اسلامیه چارسده و امداد العلوم پشاور

د اوويشت (۲۷) خصوصياتو سره چې يولس (۱۱) په کښې دا دي

(۱) پېښوري پښتو سره بين القوسين د قندهاري پښتو د کړانو تڅکو اضافه
(۲) د مشکاة د عربي او اردو متداولو شروحاتو مجموعه
(۳) په ترجمه کښې بين القوسين د مرقاة المفاتيح د اضافي قيوداتو ترجمه
(۴) د حديث هرې جملې او د هغې ترجمې ته د آسانتيا دپاره نمبرې ورکول
(۵) د فقهي اختلافي مسئلو دلائل او آسان حل
(۶) د اوږدو احاديثو د متن او ترجمې تقسيم
(۷) د هر حديث د صحاح ستة و نورو کتبو نه تخريج
(۸) د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتيح نه د مشکلو لغاتو حل
(۹) د قوله په عنوان سره د مشکلې جملې تشريح
(۱۰) د هر باب په اول کښې ... خلاصه
(۱۱) د هر کتاب په اول کښې ... مقدمه

تسهیلات



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احادیث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ و دعوت
تمام فنون		

تسهيلات

پښتو شرح

مشکواة

تالیف۔ مولانا شاه فیصل فاضل دارالعلوم اسلامیه چارسده

نهم جلد (۹)

د شلو (۲۰) خصوصیاتو سره چې لس (۱۰) په کښې دا دی

① پیښوری پښتو سره بین القوسین د قندهاری پښتو د ګرانو ټکو اضافه
② د مشکاة د عربی او اردو متداولو ټولو شروحاتو مجموعه
③ په ترجمه کښې بین القوسین د مرقاة المفاتیح داضافی قیوداتو ترجمه
④ د حدیث هرې جملې ته اود هغې ترجمې د آسانتیا دپاره نمبرې ورکول
④ په فهقی اختلافی مسئلو کښې مدلل او آسان مباحث
⑤ د اوږدو احادیثو د متن او ترجمې تقسیم
⑥ د هر حدیث د صحاح سته وغیره څخه تخریج
⑦ د حل اللغات په عنوان سره د مرقاة المفاتیح څخه د مشکلو لغات حل
⑧ د قوله په عنوان سره د حدیث د هرې مشکلې جملې تشریح
⑨ د هر باب په اول کښې د هغې د احادیثو خلاصه
⑩ د کتاب په اول کښې د علوم الحدیث مفیده مقدمه

خپرنکې

فیصل کتب خانه محله جنګی پیښور

موبائل ۰۳۱۵-۹۵۹۵۷۱۷

اجمالی فہرست

د احادیثو د عنوانانو فهرست

فهرست اختلافِ مذاهب

[۶]بَابُ الْعُطَاسِ وَالتَّثَاؤُبِ]

دا نتروشي او اسویلی کولو بیان

خلاصة الباب

فیه ثلاثة عشر حدیثاً مشتملة علی ست مسائل:

① الذکر وقت العطاس وجوابه: ۱، ۲، ۸،۵، ۹، ۱۰-
② رد التثاؤب ماستطاع: ۱، ۶-
③ تعلق جواب التشمیت بحمد العاطس: ۱،۳،۴-
④ آداب العطاس: ۷-
⑤ النهي عن بعض الأذکار وقت العطاس: ۱۰، ۱۳-
⑥ سقوط جواب العاطس وقت الحرج : ۱۱، ۱۲-

دعطاس لغوی معنی: د عین په ضمې سره ﴿عطاساً﴾ او ﴿عطساً﴾ مصدر دې په معنی د انتروشی کولو.

دتثاؤب لغوی معنی: د طبعي ثقل نه پس د ضعف د لاحق کیدو د وجې نه چه خوله وازه شی هغې ته اسویلې وائی.

دانتوشی څخه روسته دالحمد لله وئیلو وجه: انتروشې کول دَانسان دَ صحت علامت وی دَ دماغو خرابی په دې سره ختمیږی بدن خوشحاله او تازه شی دَ دماغو دروندوالې او بوج کوزیږی په دې وجه دَالله تعالی دَ طرف نه حکم ورکړې شوې دې چه دَ شکردَپاره الحمد لله اووایئې

دتشمیت جواب: اوکوم سړې چه دا واوری په هغه باندې واجب دی چه هغه دې یرحمك الله اووائی دَدې نه پس دَ انتروشی والا دَپاره مستحب دی چه هغه دې یهدیکم الله ویصلح بالکم سره هغه ته دعا اوکړی.که انتروشی والا الحمدالله نه وی وئیلې یائی په مزه اووئیل چا وانوریده نو جواب ورکول به په چاباندې هم واجب نه وی یعنی دا ضروری نه دی چه یرحمك الله ورته اووائی.

که دَانتروشی والا په جواب کښې دَ دلې نه یوسړی هم یرحمك الله اووئیل نودَ ټولودَطرف نه داکافی دی اوکه انتروشی والا بار بار انتروشی کوی نودا زکام اوبیمارئی کښې اخته دې لهذا هرځل جواب ورکول په چا باندې لازم نه دی.بعضې روایاتوکښې الحمدلله علی کل حال الفاظ راغلی دی داډیربهترالفاظ دی اوعام فهم اوآسان دی اسلام چونکه کامل

مکمل بلکه اکمل ضابطه حیات دې په دې وجه هغه د مسلمانانو دټولو مسائلو حل وړاندې کوی والتثاؤب اسویلی ته وائی د دې مسائل هم راځی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۷۳۲] په انتروشی سره رحمن او په اسویلی سره شیطان خوشحالیږی

۴۷۳۲-[۱] ( )[۱]عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ[۲]: "«إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعُطَاسَ وَيَكْرَهُ التَّثَاؤُبَ، [۳]فَإِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ وَحَمِدَ اللّٰهَ [۴]كَانَ حَقًّا عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ سَمِعَهُ أَنْ يَقُولَ لَهُ: يَرْحَمُكَ اللّٰهُ. [۵]فَأَمَّا التَّثَاؤُبُ فَإِنَّمَا هُوَ مِنَ الشَّيْطَانِ، [۶]فَإِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَرُدَّهُ مَا اسْتَطَاعَ، [۷]فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا تَثَاءَبَ ضَحِكَ مِنْهُ الشَّيْطَانُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. [۸]وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ: " فَإِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا قَالَ: هَا، ضَحِكَ الشَّيْطَانُ مِنْهُ "

ترجمه: [۱]حضرت ابوهریره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲]خداي جل جلاله نوړي (انتوشي) کونکی خوښوي او اړمې نه خوښوي [۳]په تاسو کې چې چاته نوړۍ راشي او د الله تعریف وکړي [۴]نو اوریدونکي هرمسلمان باندې حق دې چې د هغه نوړۍ کونکی په جواب کې یرحمك الله [۵]اووائي پاتې شوه د اړږمئ خبره نو د اړږمئ راتلل شیطاني اثر دې [۶]په تاسو کې چې کله چاته اړږمئ راشي نو پکار ده چې بخلپله وسه هغه اړږمئ منعه کړي [۷]واضحه دې وي چې کله په تاسو کې څوك اړږمئ کوي (یعني خوله وازوي) نو په هغه شیطان خاندي (بخاري) [۸]او د مسلم په روایت کې دا الفاظ دې که (ته غواړي نو حتی الامکان هغه اړږمئ منع کړه) ځکه چې په تاسو کې کوم سړي هاء کوي یعني اړږمئ کوي نو په هغه باندې شیطان خاندي

حل اللغات: - ① اَلْعُطَاسَ: انتوشی. پرنجې. ② اَلتَّثَاؤُبَ: آسویلی

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعُطَاسَ-

دانتوشی خوښولو وجه: یعنی الله تعالی انتروشې خوښوی داځکه چه په انتروی سره سړې بیداریږی او چستی او چالاکی پیداکیږی کوم سره چه پوهه او ادراك زیاتیږی پوره بدن تازه شی په دې وجه د الله تعالی داخوښ دې او په اسویلوسره بوج او دروندوالې زیاتیږی خوب غفلت سستی او بدفهمی زیاتیږی په دې وجه داد الله تعالی ناخوښه دې اود شیطان خوښ دې

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب إذا تثاءب فلیضع یده علی فیه (رقم-۶۲۲۶) وابوداود فی کتاب الأدب/باب ما جاء فی التثاؤب (رقم-۵۰۲۸) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء إن الله یحب العطاس ویکره التثاؤب (رقم-۲۷۴۷) واحمد فی المسند:۲/۴۲۸

عطاس او تثاؤب دواړه دَخپل انجام اوخپلې نتیجې په اعتبا سره خوښ اوناخوښ دي دَ اسویلو اوستومانتیا انجام اوثمره شیطان خوښوی اود رحمان ناخوښ دی اودَ عطاس انجام اوثمره دَرحمان خوښ دی اودَ شیطان ناخوښه دی آسیب زده سړي هروخت اسویلی کوی او ستومانتیا کوی

قوله: كَانَ حَقًّا عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ" دَدې لفظ په وجه علماؤ مختلف رائې قائم کړې دی چه دَ انتروشی جواب فرض دې که واجب دې اوکه مستحب دې دَ احنافو په نیز دَ انتروشی جواب واجب على الكفاية دې دَحنابله مسلك هم دغه شان دې دَ شوافع په نیز دَ انتروشی جواب سنت على الكفاية دې.دَمالکیه په نیز مختلف اقوال دی دَ وجوب قول هم دې دَ سنت هم دې اودَمستحب هم دې.دَ غیرمقلدینو حضراتو دَ یوې طبقې په نیز دَ انتروشی جواب فرض دې

بهرحال دَ احناف سره دَ جمهور علماؤ په نیز دَ انتروشی جواب واجب على الكفاية دې مګرهغه شرط به په ځائې وی چه انتروشی والابه په زوره الحمدلله وائی

اسویلی کولوسره متعلق یو آدب دادې چه سړي دې دَخپل لاس شا په خپله خله باندې کیږدی یا څه کپړا دې کیږدی دې دَپاره چه خله ئې پټه شی څکه چه شیطان دَ انسان ښکاره دښمن دې.دَ اسویلی په وخت باندې دَ انسان شکل وران شی نوشیطان خاندی اومسخرې کوی چه دَ ده شکل ته اوګوره هم دَده دَ وجې نه زه مردود ګرځولې شوې یم

[۴۷۳۳]دَانتروشی دَجواب مسنون طریقه

۴۷۳۳—[۲] ()[۱]وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲]" «إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ: الْحَمْدُ لِلهِ، [۳]وَلْيَقُلْ لَهُ أَخُوهُ أَوْ صَاحِبُهُ: يَرْحَمُكَ اللهُ.[۴]فَإِذَا قَالَ لَهُ: يَرْحَمُكَ اللهُ، فَلْيَقُلْ: يَهْدِيكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ» "رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲]هرکله چې په تاسو کې چاته نوږي (انتوشې) راشي نو پکار دي چې هغه الحمد لله اووائي [۳]او د هغه مسلمان ورور یا د هغه دوست ته پکار دي چې هغه نوږی کونکي ته د الحمدلله ویلو په جواب کې یرحمك الله اووائي [۴]او هرکله چې د هغه په جواب کې یرحمك الله اووائي نو نوږي (انتوشې) کونکي ته پکار دي چې داسې اووائي يَهْدِيكُمُ اللهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ یعنی خدای ﷻ دي تاته هدایت وکړي او ستا زړه او ستا احوال دي درست کړي (بخاري)

حل اللغات :- ① بَالَكُمْ: احوال ستاسو

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب إذا عطس کیف یشمت (رقم-۶۲۲۴) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء کیف یشمت العاطس (رقم-۲۷۴۱) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب تشمیت العاطس (رقم-۳۷۱۵) واحمد فی المسند: ۴۱۲/۴

تسهیلات: قوله: إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلِ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ:
نبی علیه السلام دې ته نعمت وئیلی دی نو ددې نه بعد حمد بیانول مسنون دی
قوله: أوصاحبه: راوی ته شک دې چه کوم الفاظ ئې فرمائیلی وو
قوله: فَإِذَا قَالَ لَهُ: يَرْحَمُكَ اللّٰهُ، د "مشمت" د طرف نه ئې ترحم مشروع ګرځولې دې خکه چه هغه د خپل رب رحمت ته نیزدې دې داسې چه هغه د خپل رب تعظیم کړې دې. د خپل رب په نعمت باندې ئې حمد وثناء کړې ده او د خپل رب نعمت قدر ئې پیژاندلې دې
قوله: يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ: په يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ کښې د مخاطب دپاره د جمع صیغه راوړلو مختلف وجوه بیان کړې شوی دی
① دا په اعتبار د غالب دې چه عام طور باندې انتوشی والا سره ډیر خلق وی لهذا مذکوره دعا کښې دا ټول شریکول پکار دی
② مخاطب دپاره جمع صیغه ذکر کول د تعظیم وتکریم دپاره دی.
③ په دې دعا کښې د مخاطب په واسطه ټول امت مرحومه شاملول مراد دی
د جواب تشمیت حکمت: بل کس ته به د رحمت دعا وکړی نو دهٔ ته به پخپله هم د خیر دعا ملاوشی. کوم چه د تالیف قلب باعث دی.

[۴۷۳۳] انتروشی والا که الحمدلله او وائی نوهغه دَجواب مستحق دې

۴۷۳۳–[۳] ()[۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ[۲]: «عَطَسَ رَجُلَانِ عِنْدَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَشَمَّتَ أَحَدَهُمَا وَلَمْ يُشَمِّتِ الْآخَرَ.[۳] فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! شَمَّتَّ هَذَا وَلَمْ تُشَمِّتْنِي[۴] قَالَ: "إِنَّ هَذَا حَمِدَ اللّٰهَ وَلَمْ تَحْمَدِ اللّٰهَ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وایي [۲] چې یوه ورځ رسول الله ﷺ سره ناست د وو سړو ته نوړي (انتوشي) راغلي نو حضور ﷺ په هغوئ کې یو سړي ته د نوړۍ جواب ورکړي یعنی یرحمك الله یي اووئیلو او دویم ته یي د نوړۍ جواب ورنه کې [۳] کوم سړي ته چې یي د نوړي (انتوشې) جواب نه وو ورکړي هغه عرض وکړو یارسول الله څه وجه ده چې تاسو ﷺ دې سړي ته خو جواب ورکړو لیکن ماته مو جواب رانه کې [۴] حضور ﷺ ورته وفرمایل دې سړي د الله ﷻ حمد اووئیلو او تا د الله ﷻ حمد ونه وئیلو نو ته د جواب مستحق نه شوي (بخاري، مسلم)

حل اللغات: -① فَشَمَّتَ: پرنجي اوکړو.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب لا یشمت العاطس إذا لم یحمد الله (رقم-۶۲۲۵) ومسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب تشمیت العاطس، وکراهة التثاؤب (رقم-۵۳ - (۲۹۹۱) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب تشمیت العاطس (رقم-۳۷۱۳) واحمد فی المسند: ۴/۴۱۲

تسهیلات: قوله: فَشَمَّتَ أَحَدَهُمَا وَلَمْ يُشَمِّتِ الْآخَرَ

دویم د تشمیت جواب نه ورکولو وجه: داد تشمیت نه دي دانتروشي والا چه کله الحمدلله وائی اوددي په جواب کښې څوك يرحمك الله وائی نودي جواب ته تشمیت وائی نبي عليه السلام دهغه سړی د انتروشي په جواب کښې يرحمك الله اوفرمائيل کوم چه الحمدلله وئيلي وو اوچاچه نه وو وئيلي هغه ته ئې جواب ورنه کړو هغه شکایت اوکړو دغه شکایت اوددي د جواب بیان په دغه حدیث کښې دي

[۴۷۳۵] انتروشي والا كه الحمدلله اونه والی نوهغه دجواب مستحق نه دي

۴۷۳۵- [۳] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] "«إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَحَمِدَ اللهَ فَشَمِّتُوهُ، [۳] وَإِنْ لَمْ يَحْمَدِ اللهَ فَلَا تُشَمِّتُوهُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوموسی ﷺ وایي ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل [۲] هرکله چې په تاسو کې یو سړي و نوړي (انتوشي) او د الله حمد اووائي یعنی نوړی راتلو باندې الحمدلله اووائي نو هغه ته جواب ورکړه یعنی يرحمك الله ورته اووئیلو [۳] او که هغه د الله حمد ونه وایي نو هغه ته جواب مه ورکوه (مسلم)

حل اللغات: - ① فَشَمِّتُوهُ: د پرونجي کونکی د الحمدلله جواب ورکړئ. يرحمك الله ورته اووایئ

[۴۷۳۶] دزکام وهلي سړی په انتروشي باندې جواب ورکول لازم نه دی

۴۷۳۶- [۵] (۲) [۱] وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّهُ [۲] «سَمِعَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَعَطَسَ رَجُلٌ عِنْدَهُ، فَقَالَ لَهُ: "يَرْحَمُكَ اللهُ" [۳] ثُمَّ عَطَسَ أُخْرَى، فَقَالَ: "الرَّجُلُ مَزْكُومٌ"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ، [۴] وَفِي رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِيِّ أَنَّهُ قَالَ لَهُ فِي الثَّالِثَةِ: "إِنَّهُ مَزْكُومٌ".

ترجمه: [۱] او د حضرت سلمه ابن اکوع ﷺ نه روایت دي [۲] هغه یوه ورځ د رسول الله ﷺ نه د هغه سړي د نوړي (انتوشي) جواب ورکول واوریدل چې هغه وخت حضور ﷺ سره ناست وو نو حضور ﷺ د هغه په جواب کې وفرمایل يرحمك الله [۳] بیا چې هغه ته په دویم ځل نوړی راغلونو حضور ﷺ وفرمایل دا سړي زکام شوي دي د مسلم [۴] او ترمذي په یو روایت کې داسې دي چې حضور ﷺ هغه سړي ته په دریم ځل نوړی باندې دا وفرمایل چې دا سړي زکام شوي دي.

حل اللغات: - ① مَزْكُومٌ: زکام وهلي سړی.

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب تشمیت العاطس، وكراهة التثاؤب (رقم-٥٤ - (٢٩٩٢) واحمد فی المسند: ٤/٤١٢

[2] اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب تشمیت العاطس، وكراهة التثاؤب (رقم-٥٥ - (٢٩٩٣) وابوداود فی کتاب الأدب/باب کم مرة یشمت العاطس (رقم-٥٠٣٧) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء کم یشمت العاطس (رقم-٢٧٤٣) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب تشمیت العاطس (رقم-٣٧١٤)

تسهیلات:

قوله: ثُمَّ عَطَسَ أُخْرَى:

دبار بار انټوشی کونکی د تشمیت د جواب حکم: ددې حدیث تعلق د بل صورت سره دې چه کوم کس ته دوه یا درې ځل انټوشې (پرنجې) راشی یا ددې نه زیات نو بیا ددې جواب ورکول ضروری نه دی.

سوال: په شرح مسلم کښې امام نووی رحمه الله فرمائی چه کله انټوشي والا کس بیمار وی نو ددې دپاره دعا کول پکار دی ځکه چه دا کس د نورو خلقو په نسبت ډیر د دعا مستحق دې؟

جواب: داسی کس ته دعا کول مستحب دی لیکن د انټوشی والا دعا نه علاوه بله دعا دې ورته وکړې شی. مثلاً د عافیت او سلامتئ دعا.

[۴۷۴۷] داسویلې په وخت په خله لاس کیخودل پکار دی

۴۷۴۷-[۶] (۱) [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۲] «إِذَا تَثَاءَبَ أَحَدُكُمْ فَلْيُمْسِكْ بِيَدِهِ عَلَى فِيهِ، [۳] فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوسعید خدري ﷺ نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هرکله چې په تاسو کې یوسړي ته اررمي راشي نو هغه ته پکار ده چې خپل لاس په خوله کیږدي [۳] ځکه چې شیطان که خوله خلاصه پیدا کي نو په هغه کې ننوځي (مسلم)

تسهیلات:

قوله: فَلْيُمْسِكْ بِيَدِهِ عَلَى فِيهِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ:

د شیطان په خله کښې د داخلیدو په مفهوم کښې دوه اقوال:

① په خله کښې د شیطان د داخلیدو څخه مراد حقیقةً داخلیدل دی

② چه کوم کس د اسویلی په وخت کښې خله نه بندوی نو شیطان په هغه باندې خپل اثر کوی او هغه لره په وساوسو او وهمونو کښې مبتلا کولو باندې شیطان قادر شی.

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب تشمیت العاطس، وکراهة التثاؤب (رقم-۵۷ - (۲۹۹۵) وابوداود فی کتاب الأدب/باب ما جاء فی التثاؤب (رقم-۵۰۲۶) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء إن الله یحب العطاس ویکره التثاؤب (رقم-۲۷۴۶) وابن ماجه فی کتاب إقامة الصلاة. باب ما یکره فی الصلاة (رقم-۹۶۸) واحمد فی المسند:۳/۹۶

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۷۳۸] دَ انتروشی په وخت خله پټولو سره آواز ښکته کول پکار دی

۴۷۳۸-[۷] (۱) ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- ② «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ إِذَا عَطَسَ غَطَّى وَجْهَهُ بِيَدِهِ أَوْ ثَوْبِهِ، وَغَضَّ بِهَا صَوْتَهُ». ③ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: ① د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دي ② چې رسول الله ﷺ ته به کله نوږي (انتوشې) راغلونو خپل مخ مبارك به يي په خپلو لاسونو يا څه کپړي وغیره سره پټوي او د خپل نوږی اواز به یي خکته کوي ③ دا روایت ترمذي او ابوداود نقل کړي دي او ترمذي ویلي دي چې دا حدیث حسن صحیح دي.

حل اللغات: - ① غَطّٰى: پټولو به ئې، ② غَضَّ: ښکته کوی.

تسهیلات: قوله: إِذَا عَطَسَ غَطّٰى وَجْهَهُ بِيَدِهِ أَوْ ثَوْبِهِ:

د انتوشی په وخت په خُله باندې لاس کیخودل: دَانتروشی دَ آدابو نه یو ادب دادې چه مخ او خله دې سرې پټوی دې دَپاره چه خراب شکل ئی نه ښکاره کیږی او آواز چه څومره کمیدې شی دومره دې کم کړی.بعضې سرې په ډیر اخلاص سره په آواز کښې دومره تیزه دهماکه پیدا کړی چه خواکې ورسره خلق ویریږی.

[۴۷۳۹] دَ انتروشی دعا او دَهغې مسنون جواب

۴۷۳۹-[۸] (۲) ① وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② «إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ، ③ وَلْيَقُلِ الَّذِي يَرُدُّ عَلَيْهِ: يَرْحَمُكَ اللّٰهُ، ④ وَلْيَقُلْ هُوَ: يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت ابوایوب رضي الله عنه نه روایت دي چی رسول الله ﷺ وفرمایل ② هرکله چې په تاسو کې یو سړي ته نوږي (انتوشې) راشي نو پکار دي چې هغه داسې اووائي الحمد لله علٰي کلّ حالٍ یعنی په هرحال کې د خداي تعالیٰ تعریف دي ③ او کوم سړي چې د هغه جواب ورکوي هغه ته داسې وئیل پکار دي یرحمك الله ④ او بیا د هغه په جواب کې نوږی والا ته داسې وئیل پکار دي: يَهْدِيكُمُ اللّٰهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ یعنی خداي تعالیٰ دي تاسو ته هدایت وکړي او ستاسو زړه یا ستاسو احوال دي درست کړي. (ترمذي اودارمي)

---

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی العطاس (رقم-۵۰۲۹) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی خفض الصوت وتخمیر الوجه عند العطاس (رقم-۲۷۴۵) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب تشمیت العاطس(رقم-۳۷۱۵)

[۲] اخرجه ابوداود فی السنن رقم الحدیث ۵۰۳۳ والترمذی فی السنن رقم الحدیث ۲۷۴۱ وابن ماجة رقم الحدیث ۳۷۱۵ والدارمی فی السنن رقم الحدیث ۲۶۵۹

تسهیلات:

قوله: يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ،

د مذکوره جملې په مفهوم کښې درې اقوال

① الله تعالی دې ستا زړه ښه ساتی دا معنی اخستل هم مناسب دی

② الله تعالی دې ستا ژوند ښه کړی

③ الله تعالی دې ستا حالات ښه کړی دا معنی اخستل زیات بهتر دی

[۴۷۳۰] دَ یهودی د تشمیت جواب

۴۷۳۰ – [۹] ()①وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «كَانَ الْيَهُودُ يَتَعَاطَسُونَ عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③يَرْجُونَ أَنْ يَقُولَ لَهُمْ: يَرْحَمُكُمُ اللَّهُ، ④فَيَقُولُ: " يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه : ①او حضرت ابوهریره ﷺ وايي یهودیان چې به کوم وخت د حضور ﷺ سره ناست وه نو هغوئ به قصداً نوږې (انتوشې) کوې ②په دې امید چې حضور ﷺ به په جواب کې ورته یرحمك الله اووائي ④لیکن حضور ﷺ به د هغوئ د نوږې جواب کې محض دافرمایل یهدیکم الله ویصلح بالکم [یعنی خدای ﷻ دې تاسو ته هدایت وکړي او ستاسو زړونه یا ستاسو د احوال دې اصلاح وکړي.] رواه الترمذي وأبو داود

حل اللغات: - ①يَتَعَاطَسُونَ: پرنجی (انتوشی) به ئې کول، ②يَرْجُونَ: امید ئې لرلو.

تسهیلات:

قوله: كَانَ الْيَهُودُ يَتَعَاطَسُونَ:

یهودیان د نبی علیه السلام د دعا په انتظار: یهود یو منصوبه سازقوم دې دَهغوی منصوبه داوه چه دَاسلام قبلولو نه بغیردَ الله تعالی دَرحمت مستحق جوړ شی اودَ نبي علیه السلام دَ ژبې مبارکې نه ددې اعلان وی په دې وجه به هغوی دَ نبي علیه السلام په مجلس کښې انتروشی کول اودَ نبي علیه السلام دَ طرفه به دَ یرحمك الله په انتظارکښې وو.نبي علیه السلام هغوی ته همیشه دَهدایت دعا کړې ده اودَ ایمان نه اول ئې هغوی ته دَ رحمت دعانه ده کړې "یهدیکم الله" به ئې فرمائیل.

---

[1] اخرجه ابو داود فی کتاب الأدب/باب کیف یشمت الذمی (رقم-۵۰۳۸) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء کیف یشمت العاطس (رقم-۲۷۳۹) واحمد فی المسند: ۴/۴۰۰

[۴۷۴۱] دَا نتروشى په وخت السلام عليكم بانديږ د نبي عليه السلام ﷺ خفګان

۴۷۴۱-[۱۰] () ۱ وَعَنْ هِلَالِ بْنِ يِسَافٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ ۲: كُنَّا مَعَ سَالِمِ بْنِ عُبَيْدٍ، فَعَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ، فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ. ۳ فَقَالَ لَهُ سَالِمٌ: وَعَلَيْكَ وَعَلَى أُمِّكَ. ۴ فَكَأَنَّ الرَّجُلَ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ، ۵ فَقَالَ: أَمَا إِنِّي لَمْ أَقُلْ إِلَّا مَا «قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ عِنْدَ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "عَلَيْكَ وَعَلَى أُمِّكَ، ۶ إِذَا عَطَسَ أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ، وَلْيَقُلْ لَهُ مَنْ يَرُدُّ عَلَيْهِ: يَرْحَمُكَ اللّٰهُ، ۷ وَلْيَقُلْ: يَغْفِرُ اللّٰهُ لِي وَلَكُمْ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت هلال ابن يساف تابعي ﷫ وايي ۲ چې يوه ورځ مونږ د حضرت سالم ابن عبيد ﷛ سره ناست وو چې په مسجد کې يو سړي ته نوږي (انتوشي) راغلواو هغه د الحمد لله په ځاي السلام عليکم وئيل (په دي خيال چې دنوږي نه پس د الحمد لله په ځاي السلام عليکم وئيل هم جائز دي) ۳ حضرت سالم ﷛ د هغه سړي په جواب کې اوويل په تا او ستا په موردي هم سلام وي ۴ هغه سړي ګويا په خپل زړه کې دا الفاظ (او ستا په مور دي هم سلام وي) بد وګڼل ۵ حضرت سالم ﷛ (هغه ناخوښي محسوس ولو سره اوويل (په دې کې دناخوښي څه خبره ده) تاته دي معلومه وي چې ما هغه الفاظ اوويل کوم چې رسول الله ﷺ هغه وخت فرمايلي وو کله چې يوسړي د رسول الله ﷺ مخکې ونوږل، او هغه د الحمد لله په ځاي السلام عليکم ويلي وو نو حضور ﷺ د هغه په جواب کې فرمايلي وو په تا او ستا په موردي هم سلام وي ۶ بيا حضور ﷺ وفرمايل کله چې په تاسو کې يوسړي ته نوږي راشي نو هغه ته پکار دي چې الحمد لله رب العلمين اووائي او جواب ورکونکي ته پکار دي چې يرحمك الله اووائي ۷ او بيا نوږي کونکي ته بطريقه استحباب پکار دي چې داسې اووائي يغفر الله لي ولکم يعنى الله ﷻ دي ځما او ستاسو مغفرت وفرمايي (ترمذي، ابوداود)

تسهيلات:

قوله: فَكَأَنَّ الرَّجُلَ وَجَدَ فِي نَفْسِهِ:

د تشميت په جواب کښې د امک اضافه کول: جد دَ موجدة نه دې دَ سخت غصه کيدو په معنى کښې دې غصه کيدونکې دا سړې صحابى نه وو بلکه تابعى وو دې عاجز په مجلس کښې په انتروشى باندې اووئيل السلام عليکم دَدې په جواب کښې سالم بن عبيد ﷛ صحابى اوئيل وعليك وعلى امك السلام دَ سلام په دې انداز سره دَهغه سړى

[1] اخرجه ابو داود فى كتاب الأدب/باب ما جاء فى تشميت العاطس (رقم-۵۰۳۱) والترمذى فى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء كيف يشمت العاطس (رقم-۲۷۴۰) واحمد فى المسند: ۷/۶

دَمور ذکر په مجلس کښې راغلو په دې وجه دې غصه شو صحابي چه دَهغه غصه محسوس کړه نو بیا ئې ورته اووئیل ته خفه کیږه مه ماچه کوم طریقه اختیارکړې ده دا نبي علیه السلام هم دَیو سړي باره کښې اختیارکړې وه ما په سنت باندې عمل اوکړو.

اشکال: نبي ﷺ دَ انتروشی کونکې سړي په غلطئ باندې دَهغه مور ولې یاده کړه؟

داشکال دوه جوابونه:

① دې سړي سلام بې موقع اوبې محل استعمال کړو نودا هم داسې شوه لکه چه څوک دَ مخاطب په ځائې دَ هغه مور له دَ سلام جواب ورکړی لکه څنګه چه به دغه بې موقع او بې محل وی دغه شان دَ انتروشی په جواب کښې به هم بې موقع او بې محل وی.

② نبي علیه السلام اشاره اوکړه دا څه چه تا نه اوشو دا ستا قصور نه دې بلکه دا ستا دَ مور قصور دې چه هغې تاته صحیح تعلیم نه دې درکړې اوستا صحیح تربیت ئې نه دې کړې په دې وجه ته دَدې آدابو نه محروم پاتې شوې.

د حدیث نه څخه د دوو مسئلو معلومیدل: ① په دې حدیث سره امت ته داتعلیم حاصل شو چه دَ شریعت اصطلاحات او اطلاقات بې ځایه او بې محل استعمالول جائز نه دی کوم حکم چه دکوم مقام دَپاره وی هم په هغې کښې استعمالول پکاردی.

② د حدیث څخه دا تعلیم حاصل شو چه دَ شریعت دَ وضع کړې شوی الفاظو په ځائې نور الفاظ استعمالول جائز نه دی سره دَدې چه دَهغې معنی ډیره ښه وی

[۴۷۴۳] دریو ځلو پورې دَ انتروشی جواب آخری حد دې

۴۷۴۳-[۱۱] ()[۱] وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ رِفَاعَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «شَمِّتِ الْعَاطِسَ ثَلَاثًا [۳] فَإِنْ زَادَ فَشَمِّتْهُ، وَإِنْ شِئْتَ فَلَا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبید ابن رفاعه د رسول اللهﷺ نه نقل کوي چې حضورﷺ وفرمایل [۲] د نږې (انتوشې) کونکي مسلسل دري نوبې پورې جواب دې ورکول شي [۳] او که یوسړي دري ځلي نه زیات نوږی وکړي نوپه دې صورت کې ورته اختیاردې که هغه ته جواب ورکړي او که جواب ورنه کړي دا روایت ابوداود او ترمذي نقل کړي دي او ترمذي ویلي دي چې داحدیث غریب دي.

حل اللغات: - ① شَمِّتِ: د پرنجي کونکی د الحمد لله جواب ورکوه ② الْعَاطِسَ: پرنجی کونکی.

تسهیلات:

قوله: وَإِنْ شِئْتَ فَلَا:

[1] اخرجه ابو داود فی کتاب الأدب/باب کم مرة یشمت العاطس (رقم-۵۰۳۶) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء کم یشمت العاطس (رقم-۲۷۴٤)

یعنی د یو نه زیات انتوشی کولو والا ته په جواب ورکولو کښې اختیار دې که خوښه ئې وی نو هر ځل دې جواب ورکوی او په هر ځل نه ورکولو کښې څه ګناه هم نشته. کمامر

[۴۷۴۳] چې انتروشی دریو ځلو نه زیات شی نو دا زکام دې

۴۷۴۳-[۱۲] ()[۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ[۲]: "«شَمِّتْ أَخَاكَ ثَلَاثًا، فَإِنْ زَادَ فَهُوَ زُكَامٌ»". [۳] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ: لَا أَعْلَمُهُ. إِلَّا أَنَّهُ رَفَعَ الْحَدِيثَ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-.

ترجمه :[۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمایي [۲] تاسو د خپل مسلمان ورور د نوړي (انتوشې) دري ځلي پورې جواب ورکئ که هغه د دې نه زیات نوړي (انتوشې) وکړی نو پوهه شئ چې هغه زکام شوي دي [۳] دا روایت ابوداود نقل کړي دي او ویلي یي دي زه خو پوهیږم چې حضرت ابوهریره رضی الله عنه دا حدیث رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسولي دي

تسهیلات:

قوله: وَقَالَ: لَا أَعْلَمُهُ. إِلَّا أَنَّهُ رَفَعَ الْحَدِيثَ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

امام ابوداود رحمه الله د عبارت مطلب دا دې چه دا حدیث د ابو هریره رضی الله عنه خپل قول نه دې بلکه د نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد مبارک دې ځکه چه حضرت ابو هریره رضی الله عنه د دریو د عدد تعین د شارع علیه السلام نه بغیر نه شی کولې دا کلام د امام ابو داود رحمه الله خپل دې

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۷۴۴] دَ شارع دَ وضع کړې شوی الفاظو پابندی ضروری ده

۴۷۴۴-[۱۳] ()[۱] عَنْ نَافِعٍ: [۲] «أَنَّ رَجُلًا عَطَسَ إِلَى جَنْبِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- فَقَالَ الْحَمْدُ لِلَّهِ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳] قَالَ ابْنُ عُمَرَ: وَأَنَا أَقُولُ: الْحَمْدُ لِلَّهِ وَالسَّلَامُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ، وَلَيْسَ هَكَذَا [۴] عَلَّمَنَا رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أَنْ نَقُولَ: الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه : [۱] او حضرت نافع تابعي رحمه الله وايي [۲] د یوي ورځي واقعه ده چې حضرت ابن عمر رضی الله عنه ناست وو چې یو سړي نوړي (انتوشې) وکړې بیایي اوویل الحمد لله والسلام علی رسول الله، [۳] نو حضرت عمررضي الله عنه هم اوویل الحمدلله والسلام علی رسول الله لیکن داسې نه ده (یعني د دې خو نه حکم ورکول شوي دي او نه دا مستحب دي او نه د ادابو نه دي چې نوړی راتلو باندې الحمدلله سره د سلام الفاظ دي یوځاي شی [۴] بلکې اصل ادب او د حکم نبوي صلی الله علیه وسلم د اتباع تقاضه داده چې نوړی راتلو باندې بغیر څه کمي او

---

[۱]) اخرجه ابو داود في كتاب الخراج والإمارة والفيء/باب في إيقاف أرض السواد وأرض العنوة (رقم-۳۰۳۵)
[۲]) اخرجه الترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يقول العاطس إذا عطس (رقم-۲۷۳۸)

زياتي هغه اووائي] كوم چې رسول الله ﷺ مونږ ته ښودلي دي او هغه دادي چې مونږ داسي اووايو الحمدلله على كل حال [يعنى په هرحال كې الله لره تعريف دي] دا روايت ترمذي نقل كړي دي او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دي

تسهيلات:

قوله: أَنْ نَقُولَ: الْحَمْدُ لِلّٰهِ عَلٰى كُلِّ حَالٍ:

دشريعت به اصطلاحاتو كښې د كمى زياتى عدم جواز: په دې حديث كښې هم هغه خبره ذكر ده كومه چه پورته ليكلې شوې ده چه دَ شريعت دَ اصطلاحاتو اواطلاقاتو خيال ساتل ډير ضروري دی سره دَدې چه يو سړې دَخپل طرف نه ډيرې ښې ښكلې جملې وائى ليكن دا مستقل خبره نه ده په دې باندې دَ شريعت مهر نه دې لگيدلې لهذا دَدې هيڅ اعتبارنشته دې اوس گوره چه دې سړی درود وئيلې دې كوم چه ښكلې جمله ده ليكن دَ بې محل كيدو دَ وجې نه حضرت ابن عمر ﷺ اوفرمائيل چه دا ښه خبرې خو زه هم كولې شم اوجائز هم دی ليكن دې وخت كښې دَدې موقع اومحل نه دې بلكه دابې محل دی په دې وجه دَدې څه اعتبار نشته دې

[۷] بَابُ الضَّحِكِ

دَخندابيان

خلاصة الباب
فيه خمسة أحاديث مشتملة على مسئلتين:
① تبسم النبي صلي الله عليه وسلم: ۱، ۲، ۳،۴-
② ضحك الصحابة: ۳،۵-

دخندا كولو حكم: الله تعالى په انسان كښې دَخندا ماده كيخودې ده لهذا خندل منع نه دی بلكه جائز دی ليكن په دې كښې دَاعتدال دَحدنه تجاوز كول مناسب نه دی ځكه چه په دې سره دَ مخ رونق اووقار ختميږی او په روحانى اعتبارسره زړه مركيږی.

دخندا درې درجې:

① تبسم: دا مسكې كيدو ته وائى دتولو نه ښه تبسم دې

② ضحک: دا داسې خندا ته وائى چې غاښونه ښكاره شى خواوچت آواز ورسره نه وى.

③ قهقه: دا په كړس كړس (ترق ترق) خندا ته وائى دا دټولوڅخه خرابه خندا ده

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۷۴۵] د نبي عليه السلام تبسم (خندا)

۴۷۴۵ - [۱] (¹) ۱عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ۲: «مَا رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُسْتَجْمِعًا ضَاحِكًا۳ حَتَّى أَرَى مِنْهُ لَهَوَاتِهِ۴ إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : ۱بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ۲ما د حضور ﷺ دومره زيات خندا هيڅ کله نه ده ليدلي چې د حضور ﷺ خوله مبارکه خلاصه شوي وي ۳او ماته د حضور ﷺ تالو يا وري په نظر راغلي وي ۴بلکي اکثره دحضور ﷺ خندا به دمُسکي حده پورې وه (بخاري)

حل اللغات : - ① مُسْتَجْمِعًا: په تيز آواز سره خندل. ② لَهَوَاتِهِ: په تالو کښې دننه غوښه.

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① **مُسْتَجْمِعًا ضَاحِكًا**" استجماع په مکمل توګه باندې خندا ته وئيلې شوې ده دکوم نه چه په زوره خندا مراد ده

② **لَهَوَاتِهِ**" دَ حلق اوتالو په مينځ کښې چه کوم دَ غوښې ټکړه زوړندوی هغې ته لهوات وائی مکمل تيزه خندا مراد ده چه نبي عليه السلام کله داسې نه دی کړی

قوله: إِنَّمَا كَانَ يَتَبَسَّمُ"

نوټ: د تبسم سره د خندا نور دوه قسمونه دی د هغې تفصيل د دې باب په اول کښې تيرشوې دې

[۴۷۴۶] دَ نبي عليه السلام ﷺ جرير بن عبدالله سره خصوصي معامله

۴۷۴۶-[۲] (²) ۱وَعَنْ جَرِيرٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ۲: «مَا حَجَبَنِي النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُنْذُ أَسْلَمْتُ، ۳وَلَا رَآنِي إِلَّا تَبَسَّمَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ۱ او حضرت جرير رضي الله عنه وايي ۲ دکوم وخت نه چې زه مسلمان شوي يم رسول الله ﷺ زه هيڅ کله نه يم منع کړي ۳ او کله چې به حضور ﷺ زه وليدم نو مسکي کيدلو به (بخاري، مسلم)

حل اللغات : - ① مَا حَجَبَنِي: نه يم منع کړي.

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب التبسم والضحک (رقم-۶۰۹۲) ومسلم فی کتاب صلاة الاستسقاء /باب التعوذ عند رؤية الريح والغيم، والفرح بالمطر(رقم-۱۶ - (۸۹۹)

[2]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب التبسم والضحک(رقم-۶۰۸۹) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالى عنهم/باب من فضائل جرير بن عبد الله رضی الله تعالى عنه (رقم-۱۳۴ - (۲۴۷۵)واحمد فی المسند: ۳۵۹/۴

تسهيلات:

قوله: مَا حَجَبَنِي النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مُنْذُ أَسْلَمْتُ:

د جرير بن عبدالله حسن: حضرت جرير بن عبدالله بجلي رضی الله عنه دَ نبي عليه السلام دَ وفات نه يو څو ورځې مخکښې مسلمان شوې وو الله تعالى هغه له قدرتي دومره حسن ورکړې وو چه هغوى ته دَ دې امت يوسف وئيلې شوې دې دې دَ خپل خان باره کښې دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَطرف نه دَدوو خصوصياتو ذکرکوی

قوله: مَا حَجَبَنِي النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "يو خصوصيت دا وو چه ما کله هم غوښتل چه نبي عليه السلام سره ملاقات اوکړم هغوى زه کله هم نه يم منع کړې بلکه دَملاويدو اجازت ئې راکړې دې دَدې نه دکور بې پردګی مراد نه ده بلکه دَ نبي عليه السلام سره تعلق او ملاويدل مراد دى دويم خصوصيت دا چه کله هم نبي عليه السلام ماته کتلی دی مسکې شوې دې کيدې شى چه نبي عليه السلام ته دَ حضرت جرير رضی الله عنه په مخ کښې دَ الله تعالى دَ انواراتو اشاره ښکاريدله يا دَالله تعالى دَ قدرت حسين اوجميل نظاره کتلوسره ﴿فَتَبٰرَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخٰلِقِيْنَ﴾ باندې به ئې تبسم فرمائيلو.

[۴۷۴۷] په تيره شوې خبره باندې د خندا جواز

۴۷۴۷-[۳] (¹) [۱] وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَا يَقُومُ مِنْ مُصَلَّاهُ الَّذِي يُصَلِّي فِيهِ الصُّبْحَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، [۳] فَإِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ قَامَ، [۴] وَكَانُوا يَتَحَدَّثُونَ فَيَأْخُذُونَ فِي أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ فَيَضْحَكُونَ، [۵] وَيَتَبَسَّمُ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ» -. [۶] رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِي رِوَايَةٍ لِلتِّرْمِذِيِّ: يَتَنَاشَدُونَ الشِّعْرَ.

ترجمه: [۱] و حضرت جابر ابن سمره رضی الله عنه وايي [۲] چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دامعمول وو چې په کوم مصلي به يې د سهار مونځ وکړو د هغه ځاي نه به ترهغه وخته پورې نه پاڅيدلو ترڅو پورې چې نمر به په ښه شان نه وو راختلي [۳] چې نمر به راوختي او ښه پورته به شو نو حضور صلی الله علیه وسلم به د اشراق مونځ کوي يا کورته تشريف ورلو د پاره به پاڅيدلو [۴] په دې دوران کې به صحابه رضی الله عنهم د مذاق په طور د زمانه جاهليت خبرې کولې او خندل به يې [۵] حضور صلی الله علیه وسلم به هم ورسره مسکې کيدې [۶] (مسلم) او د ترمذي په روايت کې داسې دي چې په دې دوران کې به صحابه رضی الله عنهم اشعار وئيل او په اوريدو کې مشغول وو.

تسهيلات:

قوله: يَتَنَاشَدُونَ الشِّعْرَ "يعنى دَ جائز حده پورې به ئې اشعار وئيل دَ الله تعالى وحدانيت

¹) اخرجه مسلم فى كتاب الفضائل/باب تبسمه صلى الله عليه وسلم وحسن عشرته (رقم-٦٩ - (٢٣٢٢) والترمذى فى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في إنشاد الشعر (رقم-٢٨٥٠)

او د رسول مقبول منقبت او په انسانی حکمت باندې مشتمل اشعار به ئی وئیل دا د زنده دل خلقو نشانی ده او جائز دی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۷۴۸] د نبي عليه السلام زيات تبسم (مسکې کيدل)

۴۷۴۸-[۶] (۱) ①عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ جَزْءٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ②: «مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا مِنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ»- . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : ①حضرت عبد الله ابن حارث ابن جزء ﷛ وايي ②چې ما د رسول الله ﷺ نه هيڅ سړي زيات په مسکا نه دي ليدلي (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: مَا رَأَيْتُ أَحَدًا أَكْثَرَ تَبَسُّمًا:

: حديث الباب حاصل دا دي چه نبی کريم ﷺ کله هم قهقهه او ضحک نه دي کړي او کله چه به هم د خندا موقع راتله نو نبی کريم ﷺ به صرف تبسم کولو او ددې حديث مطلب دا نه دي چه نبي کريم ﷺ به هميشه تبسم کولو بلکه کله چه به د خوشحالئ خبره وه نو تبسم به يې کولو

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۷۴۹] د صحابه کرامو رضی الله عنهم خندل

۴۷۴۹-[۷] (۱) ①عَنْ قَتَادَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ②: «سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ: هَلْ كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَضْحَكُونَ؟ ③قَالَ: نَعَمْ وَالْإِيمَانُ فِي قُلُوبِهِمْ أَعْظَمُ مِنَ الْجَبَلِ. ④وَقَالَ بِلَالُ بْنُ سَعْدٍ: أَدْرَكْتُهُمْ يَشْتَدُّونَ بَيْنَ الْأَغْرَاضِ ⑤وَيَضْحَكُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ، ⑥فَإِذَا كَانَ اللَّيْلُ كَانُوا رُهْبَانًا». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ"

ترجمه : ①ابو قتاده ﷛ وايي ②د حضرت ابن عمر ﷛ نه پوښتنه وشوه آيا د رسول الله ﷺ صحابه ﷢ به خندل ③حضرت ابن عمر ﷛ وفرمايل هو حالانکي د هغوئ په زړونو کې د غره نه هم لوي ايمان وو ④او بلال ابن سعد تابعي ﷫ وايي ما صحابه ﷢ داسې حال کې پيدا کړي دي چې هغوئ به د ورځې د تير اندازي مشق کولو په وخت، د تير د ښنو په منځ کې زغليدل ⑤او د يوبل په خبرو به يې خندل ⑥خو کله چې به شپه راغله نو هغوئ به د الله نه ډير زيات ويرېونکي جوړ شوه (شرح السنة)

---

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/بابٌ فی بشاشة النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۳۶٤۱) واحمد فی المسند:

[2]) اخرجه البغوی فی شرح السنن (۳۱۸/۱۲) رقم ۳۳۵۱).

حل اللغات : ① يَتَنَدَّرُونَ منديې به ئې وهلې. ② الْأَغْرَاضُ: نښې. نښانه. ③ رُهْبَانًا: راهبان. ويريدونكى.

تسهيلات:

قوله :قَالَ: نَعَمْ وَالْإِيمَانُ فِي قُلُوبِهِمْ أَعْظَمُ مِنَ الْجَبَلِ

د خندا دكمال ايمان سره عدم منافات: پوښتنه کونکې تابعى دې چه دحضرت ابن عمر رضي الله عنه صحابى نه تپوس کوى چه آيا صحابه کرامو به خندل هم؟ دَ سائل خيال دا وو چه خندل خويودَ غفلت کار دې اوصحابه کرام دَغفلت نه ډير لرې وو په دې وجه به هغوى نه خندل دَدې په جواب کښې حضرت ابن عمر رضي الله عنه اوفرمائيل او صحابه کرامو به ښه خندل ليکن دَهغوى په زړونو کښې به په خندا سره غفلت نه راتلو بلکه په زړونوکښې به ئې دَ غرېبه شان ايمان وو په دې جمله کښې حضرت ابن عمر رضي الله عنه دَ دغه سړى دَ زړه دَخدشې جواب ورکړې دې اواشاره ئې اوکړه چه دَجائزحده پورې خندل انسانى فطرت دې اوداد ژوندو زړونووالو علامت دې.

ديحى اوعيسى عليهما السلام واقعه:حيات الحيوان کښې ليکلى دى چه يوځل دَ حضرت يحيٰى عليه السلام حضرت عيسىٰ عليه السلام سره ملاقات اوشو دَملاقات په وخت حضرت عيسىٰ عليه السلام اوخندل په کوم چه حضرت يحيٰى عليه السلام اوفرمائيل تا خدائى هيرکړې دې چه خاندې؟ حضرت عيسىٰ عليه السلام اوفرمائيل ولې ته دَالله تعالى نه دومره نااميده شوې؟ په دې باندې دواړو غوښتل چه دَالله تعالى دَ طرف نه څه اشاره ملاؤشى چه په دې دواړو کښې څوك په ښه حالت دې دَالله تعالى دَطرف نه وحى راغله چه تاسو دواړو کښې الله تعالى ته هغه څوك ډير محبوب دې دچااخلاق چه زيات ښهٔ وى يعنى فيصله دَ حضرت عيسىٰ عليه السلام په حق کښې اوشوه

قوله:فَإِذَا كَانَ اللَّيْلُ كَانُوا رُهْبَانًا:

د ورځې خندا د ژړا :زير بحث حديث کښې يوراوى بلال بن سعد تابعى رحمه الله فرمائى چه مااوکتل چه صحابه کرامودَ غشو ويشتلو دَ نښو په مينځ کښې منډې وهلې او په يوبل پورې به ئې خندل ليکن دَ شپې به راهبان جوړشو اوعبادت به ئې کولو يعنى دَ ورځې شهسواران اودَ شپې تهجدګذار وو رهبان الليل وفرسان النهار.

[٨] بَابُ الْأَسَامِي

دَنومونو بیان

خلاصة الباب

فيه ثلاثون حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① النهي عن الإكتناء بكنية النبي صلي الله عليه وسلم والرخصة فيه: ١، ٢، ١٩، ٢٠، ٢١، ٢٢۔

② أحب الأسماء إلى الله تعالى: ٣، ٣٠۔

③ النهي عن بعض الأسماء والأمر بتبديلها: ٤، ٥، ٦، ٧، ٨، ٩، ١٠، ١٧، ٢٤، ٢٥، ٢٨، ٢٩۔

④ النهي عن بعض الألفاظ الموهمة للشرك: ١١، ١٢، ١٣، ١٥، ٢٦، ٢٧۔ ⑤ النهي عن سب الدهر: ١٤۔

⑥ الحكم بتسمية الأسماء الحسنة: ١٨۔

⑦ حكم التكني ببعض الأعمال: ٢٣۔

داسم لغوی تحقیق: الأسامیٓ د یاء په تشدید او تخفیف سره د اسم جمع أسامی او أسام او أسماء راځی په دې باب کښې د نومونو د احکامو بیان دې، چه کوم نوم کیخودل پکار دی او کوم نه دی کیخودل پکار او په کوم نوم سره رابلل پکار دی او کوم نوم ښه دې او کوم بد دې،

په شریعت کښې د نوم کیخودو طریقه: اسلام چونکه کامل مکمل بلکه اکمل ضابطه حیات دې په دې وجه ده دَمسلمانانو په هرځائی کښې لارخودنه کړې ده تردې چه په نوم کیخودو کښې ئی هم لارخودنه کړې ده په دې باب کښې به هغه احادیث راځی په کوم کښې چه دَخو نومونو دکیخودو تعلیم ورکړې شوې دې او دَخرابو نومونو نه دَ ځان ساتلو حکم ورکړې شوې دې یا دَدې دَ بدلولو رهنمائی ئی شوې ده

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۷۵۰] دَنبي علیه السلام ﷺ په کنیت باندې دَخپل کنیت کیخودو حکم

۴۷۵۰-[۱] (١) ١ عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ ٢: «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي السُّوقِ، ٣ فَقَالَ

---

(١) اخرجه البخاری فی کتاب البیوع/باب ما ذکر فی الأسواق (رقم-٢١٢٠) ومسلم فی کتاب الآداب/باب النهی عن التکنی بأبی القاسم وبیان ما یستحب من الأسماء (رقم-١ - (٢١٣١) وابوداود فی کتاب الأدب/بابٌ فی الرجل یتکنی بأبی القاسم (رقم-٤٩٦٥) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب مـ ـاء فی کراهیة الجمع بین اسم النبی صلی الله علیه وسلم وکنیته (رقم-٢٨٤١) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب الجمع بین ـم النبی صلی الله علیه وسلم وکنیته (رقم-٣٧٣٥) واحمد فی المسند: ١٧٠/٣

رَجُلٌ: يَا أَبَا الْقَاسِمِ! [۴] فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۵] فَقَالَ: إِنَّمَا دَعَوْتُ هٰذَا. [۶] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "سَمُّوا بِاسْمِي، وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت انس ﷺ وايي [۲] چې يوه ورځ رسول الله ﷺ په بازار کې وو [۳] يو سړي چاته ابو القاسم ويلو سره اواز وکړو [۴] حضور ﷺ په ګرځيدلو سره د هغه سړي طرف ته وکتل [۵] هغه عرض وکړو حضور ﷺ ما تاسو ته اواز نه دي کړي بلکې هغه سړي ته مي اواز کړي وو او په دي ويلو سره هغه سړي طرف ته يې اشاره وکړله چې هلته موجود وو [۶] په دي اوريدو سره رسول الله ﷺ وفرمايل تاسو ځما په نوم خپل نوم ايږدئ ليکن ځما کنيت باندې کنيت مه مقرر وئ (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① أَبَا الْقَاسِمِ: د نبی ﷺ کنيت دې، ② فَالْتَفَتَ: متوجه شو. ورته ئې اوکتل

تسهيلات:

قوله: وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي:

دنوم باره کښې بعضې اصطلاحات: يو اسم محضه وی چه مورپلار دَخپل اولاد دَپاره دَ پيدائش په وخت ايږدی. يو لقب وی چه په معاشره کښې خلق يو بل ته ورکوی لکه ولی الدين مصلح الدين وغيره. يو کنيت وی يو سړې دَ خپل ځوئی لور يا پلار وغيره په نوم سره خپل ځان متعارف اومشهورکوی لکه ابوبکر، ابوذر، ابوحفص، ابن عباس، ابن مسعود وغيره.

دابوالقاسم کنيت کيخودو عدم جواز: اسلام دکنيت کيخودو اجازت ورکړې دې ليکن په صحيح احاديثوکښې داخبره موجود ده چه دَ نبي عليه السلام کنيت کوم چه ابوالقاسم وو په دې باندې چاته دکنيت کيخودو اجازت نه وو. دَ رسول الله ﷺ دَ يو ځوئی نوم قاسم وو دَ نبي عليه السلام کنيت هم دَهغه دَ وجې نه ابوالقاسم وو.

دنبي عليه السلام په نوم د کنيت دعدم جواز په زمانه کښې مذاهب:

① دَ شوافع او اهل ظواهر په نيزيو سړی له ابوالقاسم کنيت کيخودل جائز نه دی.

② امام محمد رحمه الله فرمائی چه دَ يو سړی دَپاره داخو جائز نه دی چه هغه خپل نوم محمد کيږدی اوکنيت ابوالقاسم کيږدی که چرته جدا جدا کيخودل غواړی نومحمد نوم کيخودل هم جائزدی اوچه نور نوم ئی بل وی نو ابوالقاسم کنيت کيخودل هم جائز دی.

③ امام مالك رحمه الله فرمائی چه نوم اوکنيت ټول جائز دی دَ نبي عليه السلام په حيات طيبه کښې دَهغوی کنيت کيخودلو ممانعت وو اوس ټول جائز دی

④ ائمه احناف دا راجح ګرځولی دی چه دَ نبي عليه السلام په حيات طيبه کښې دَ هغوی په کنيت باندې کنيت کيخودل سخت منع وو اوس اګرچه داسې سخت ممانعت نشته مګريو قسم ممانعت اوس هم شته

دنبی علیه السلام د وفات څخه روسته د ابوالقاسم کنیت کیخود جواز: چنانچه ملاعلي قاري رحمه الله واضحه فیصله کړې ده لیکي چه راجع اوصحیح دغه دی چه دکنیت ممانعت دَ نبي علیه السلام حیات طیبه پورې محدود وو ځکه چه نبي علیه السلام په حیات کښې دَدې لفظ په استعمال سره اشتباه راتله لکه چه حدیث نمبر(۴۷۵۰) کښې تفصیل دې یو سړی اووئیل یا اباالقاسم. نبي علیه السلام چه دَهغه آواز واؤریدو نو مخ مبارك ئې ورواړولو وئی کتل دغه سړی وئیل تاسو نه زه بل یوسړې رابلم دَ کوم کنیت چه ابوالقاسم دې په دې باندې نبي علیه السلام ابوالقاسم کنیت کیخودل منع کړل ځکه چه په دې سره به نبي علیه السلام خفه کیدو بل دَ یهودو په کتابونوکښې دَ نبی آخرالزمان باره کښې دَ ابوالقاسم کنیت کیدې شی چه کافی مشهور وو په دې وجه به یهودو نبي علیه السلام هم دَ ابوالقاسم په کنیت سره رابللو دَدې اشتباه په وجه هم داکنیت ممنوع وو لیکن کله چه دَ نبي علیه السلام انتقال اوشو نودَ کنیت دا ممانعت ختم شو لکه چه دلته انتهاء دَحکم دَ انتهاء دَ علت په وجه اوشو.

[۴۷۵۱]زه خپل رب قاسم(تقسیمونکې) جوړکړې یم

۴۷۵۱-[۲]()۱وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-أَنَّ النَّبِيَّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ:۲"«سَمُّوا بِاسْمِي وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي،۳فَإِنِّي إِنَّمَا جُعِلْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ»".مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱او د حضرت جابر رضي الله عنه نه روایت دې ۲چه رسول الله ﷺ وفرمایل تاسو څما په نوم باندې نوم ایږدئ خو څما کنیت باندې کنیت مه مقرر وئ. ۳ځکه چې زه قاسم ګرځول شوی یم او زه ستاسو په منځ کې تقسیم کوم (بخاري. مسلم)

تسهیلات:

قوله: إِنَّمَا جُعِلْتُ قَاسِمًا أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ:

دنبی علیه السلام د ابوالقاسم کنیت دوه وجوهات:

① د نبی علیه السلام کنیت ابوالقاسم ځکه ووچې د دوی د یوځوی نوم قاسم وو

② قاسم تقسیم کونکی ته وائی دَنبي علیه السلام ابوالقاسم کنیت د دې وجې وو چه هغوی به د مال غنیمت تقسیم کولو.

() اخرجه البخاري في كتاب فرض الخمس/باب قول الله تعالى: {فأن لله خمسه وللرسول} [الأنفال: ٤١] " (رقم-٣١١٤) ومسلم في كتاب الآداب/باب النهي عن التكني بأبي القاسم وبيان ما يستحب من الأسماء (رقم-٣ - (٢١٣٣) والترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية الجمع بين اسم النبي صلى الله عليه وسلم وكنيته (رقم-٢٨٤٢) وابن ماجه في كتاب الأدب/باب الجمع بين اسم النبي صلى الله عليه وسلم وكنيته (رقم-٣٧٣٦) واحمد في المسند: ٣/٣٦٩

[٤٧٥٢] عبدالله او عبدالرحمن د ټولو نه ښه نومونه دي

٤٧٥٢-[١](١) [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«إِنَّ أَحَبَّ أَسْمَائِكُمْ إِلَى اللهِ: عَبْدُ اللهِ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : [١] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] د الله عز وجل په نزد ستاسو په نومونو کې د ټولو نه زيات ښه نوم عبد الله او عبد الرحمن دي (مسلم)

تسهيلات:

قوله : عَبْدُ اللهِ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ :

ددې په شان نومونوکښې په اوچته درجه باندې توحيد اودکمال ددرجې عبديت دې په دې وجه دامحبوب نومونه دی ليکن بعضې علماء وائی چه دا نومونه دانبياء کرامود نومونونه پس خوښ کړې شوی دی لهذا د محمد ﷺ د نوم نه دا دواړه نومونه زيات خوښ کړې شوی نه دی يابه کم تروی يابه اسم محمد سره په خوښيدو کښې برابر وی

[٤٧٥٣] دغلام نوم يسار او افلح کيښودو ممانعت

٤٧٥٣-[٢](٢) [١] وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«لَا تُسَمِّيَنَّ غُلَامَكَ يَسَارًا، وَلَا رَبَاحًا، وَلَا نَجِيحًا، وَلَا أَفْلَحَ، [٣] فَإِنَّكَ تَقُولُ: أَثَمَّ هُوَ؟ [٤] فَلَا يَكُونُ، [٥] فَيَقُولُ لَا» [٦]". رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ، قَالَ: "«لَا تُسَمِّ غُلَامَكَ رَبَاحًا، وَلَا يَسَارًا وَلَا أَفْلَحَ وَلَا نَافِعًا»".

ترجمه : [١] او حضرت سمره ابن جندب رضي الله عنه وايي [٢] چې رسول الله ﷺ وفرمايل د خپل غلام نوم ① يسار ② رباح ③ نجيح او ④ افلح مه ايږدئ [٣] ځکه که تاسو څه وخت د هغه سړي نه پوښتنه وکړئ چې آيا هغه (مثلاً يسار يا رباح) دلته شته [٤] او فرض کړه) هغه هلته نه وي [٥] نو جواب ورکونکي به وايي چې هغه (يسار يا رباح) دلته نشته [٦] (مسلم) او د مسلم په يو روايت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمايل د خپل غلام نوم (رباح يسار افلح او نافع) مه ايږدئ

حل اللغات :- ① يَسَارًا: د يسرنه دې د آسانۍ په معنی کښې. ② رَبَاحًا: د ربح نه د نفع په معنی کښې دې ③ نَجِيحًا: د کاميابۍ په معنی کښې دې ④ أَفْلَحَ: د کاميابۍ په معنی کښې دې

---

[١]) اخرجه مسلم في كتاب الآداب/باب النهي عن التكني بأبي القاسم وبيان ما يستحب من الأسماء (رقم-٢ - (٢١٣٢) كتاب الأدب/بابٌ في تغيير الأسماء (رقم ٤٩٤٩) والترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء ما يستحب من الأسماء (رقم-٢٨٣٣) وابن ماجه في كتاب الأدب/باب ما يستحب من الأسماء (رقم-٣٧٢٨) واحمد في المسند: ٤/٣٤٥

[٢]) اخرجه مسلم في كتاب الآداب/باب كراهة التسمية بالأسماء القبيحة وبنافع ونحوه (رقم-١٠ - (٢١٣٦) وابوداود في كتاب الأدب/بابٌ في تغيير الاسم القبيح (رقم-٤٩٥٨) والترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يكره من الأسماء (رقم-٢٨٣٦) وابن ماجه في كتاب الأدب/باب ما يكره من الأسماء (رقم-٣٧٣٠) واحمد في المسند: ٥/٧

تسهيلات:

قوله: لَاتُسَمِّيَنَّ غُلَامَكَ يَسَارًا،وَلَارَبَاحًا،وَلَانَجِيحًا،وَلَاأَفْلَحَ:

دبعضې نومونو كيخودو ممانعت: رباح نجيح اوافلح هم دَ كاميابئ او خلاصى په معنى كښې دي دَدې حديث مطلب دادې چه داسې نومونه مه ايږدئى دَكوم ظاهرى معنى چه دَ خوصفاتو او كاميابوطرف ته اشاره كوى مثلاً سعددې نجيح اويسارشو كله چه په كوركښې څوك آواز وركوى چه دننه يسار شته افلح شته نوجواب به راځى چه يسار نشته دې افلح نشته دې په دې سره په ظاهره دَ بوخيرنفى كيږى كوم ته چه بدعاونيلى شى په دې وجه نبي عليه السلام دَداسې نومونوكيخودونه منع كړې ده په دې كښې سره ددې چه دَ دې نومونودَ ذات نفى مرادوى ليكن دَ ظاهرى الفاظونه معلوميږى چه په دې نومونوكښې كوم صفات دى دَهغې هم نفى كيږى سره دَدې چه په غيرارادى توګه سره وى په دې وجه به ممانعت راغى ليكن داممانعت دَ مكروه تنزيهى په درجه كښې دې كوم چه خلاف اولى دې او دَ افضل او غيرافضل خبره ده راتلونكې دَحضرت جابر ﷺ روايت نه پخپله په واضحه توګه معلوميږى چه نبي عليه السلام په شروع كښې داحكم فرمائيلې وو مګردَامت په حرج كښې دَ پريوتلوپه رڼاكښې نبي عليه السلام په دې باندې بياخاموشى اختياركړه اومنع ئى اونه كړه.

[٤٧٥٣]اوس افلح او يسار نوم كيخودل جائزدى

٤٧٥٣-[٥]([1])[١]وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ[٢]: «أَرَادَالنَّبِيُّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-أَنْ يَنْهٰى عَنْ أَنْ يُسَمّٰى بِيَعْلٰى وَبِبَرَكَةَ وَبِأَفْلَحَ وَبِيَسَارٍ وَبِنَافِعٍ وَبِنَحْوِ ذٰلِكَ.[٣]ثُمَّ سَكَتَ بَعْدُ عَنْهَا، ثُمَّ قُبِضَ وَلَمْ يَنْهَ عَنْ ذٰلِكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [١]او حضرت جابر ﷺ وايي [٢]چې رسول الله ﷺ دا اراده فرمايلې وه چې يعلي بركة افلح يسار نافع او دغه شان نورو نومونو ايخودلو نه خلق منع كړي [٣]ليكن بيا ما وليدل چې د دې ارادې نه پس حضور ﷺ سكوت وفرمايه ترديې چې حضور ﷺ دې دنيا نه تشريف يوورې او دې نومونو ايخودلو نه يې منع ونه فرمايله (مسلم)

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ سَكَتَ بَعْدُ عَنْهَا:

دبعضې ممنوع نومونو كيخودو اجازت: په دې حديث سره په واضحه توګه معلومه شوه چه

[1]) اخرجه البخاري فى صحيحه رقم ٦٢٠٦) واخرجه مسلم فى كتاب الآداب/باب كراهة التسمية بالأسماء القبيحة وبنافع ونحوه (رقم-١٣ - (٢١٣٨) وابوداود فى كتاب الأدب/بابٌ فى تغيير الاسم القبيح (رقم-٤٩٦٠) والترمذى فى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما يكره من الأسماء (رقم-٢٨٣٦) وابن ماجه فى كتاب الأدب/باب ما يكره من الأسماء (رقم-٣٧٢٩)

هغه سابقه حکم روستو موقوف شو چونکه په دې کښې دَ امت دَپاره لوئې حرج وو په دې وجه نبي علیه السلام روستو په دې باندې خاموشي اختیار کړه ګنې بیا به عبدالله نوم کیخودل هم مشکل کیدل چه په کورکښې دَالله تعالی بنده نشته دې په دې دوه قسم روایاتوکښې هیڅ تعارض نشته دې بلکه دَابتداء اوانتهاء فرق دې په شروع کښې منع کړې شو او په آخره کښې اجازت ورکړې شو.

[۴۷۵۵] قبیح ترین نوم او لقب شهنشاه دې

۴۷۵۵-[۱] (۱) ۞ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۞ "«أَخْنَى الْأَسْمَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عِنْدَ اللّٰهِ رَجُلٌ يُسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ»". ۞ رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ. وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ، قَالَ: "«أَغْيَظُ رَجُلٍ عَلَى اللّٰهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَخْبَثُهُ رَجُلٌ كَانَ يُسَمَّى مَلِكَ الْأَمْلَاكِ ۞ لَا مَلِكَ إِلَّا اللّٰهُ»".

ترجمه: ۞ او حضرت ابوهریره ﷛ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۞ دَ قیامت په ورځ به د خداي ﷻ په نزد بدترین نوم والا هغه سړې وي چې هغه ته شهنشاه نوم ورکول کیدي ۞ (بخاري) او د مسلم په روایت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمایل د قیامت په ورځ به د خداي ﷻ په نز مبغوض ترین او د ټولو نه بدتر هغه سړې وي چې هغه ته د شهنشاه نوم ورکول کیدي ۞ (یادلرئ) د الله نه ما سوا بل څوک بادشاه نشته او د باچاهانو باچا هم یوازې یو الله ﷻ دی (بخاري)

حل اللغات:- ① أَخْنَى: دَ قبیح په معنی کښې دی أغلظ او أخبث هم دغه څیزدې

تسهیلات:

قوله: مَلِكَ الْأَمْلَاكِ:

د ملک الاملاک نوم کیخودو ممانعت: دَدې ترجمه په فارسئی کښې شهنشاه ده په پښتو کښې دَدې ترجمه دَبادشاهانو بادشاه ده چونکه بادشاه علی الاطلاق دَالله تعالی ذات دې نودغه شان نوم کښې دَمخلوق دَپاره په الله تعالی باندې دَ بادشاهئی دعوی لا زم راځی اودا خبره ډیر لوئی جرم دې په دې وجه دا ډیر زیات قبیح ګرځولې شوې دې

د ایران بادشاه دا نوم کیخودې وو بیا دَ معزول کیدونه پس دَ سمندر طرف ته تختیدونکې ښکاریدو یوسپې هغه پسې شوې وو هیڅ یوملك هغه دَ قبلولو دَپاره تیارنه وو په کینسر باندې مړشو په مصرکښې مجبوراً دفن کړې شو اودَ فرعون ګاونډې جوړشو

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب أبغض الأسماء إلی الله (رقم-۶۲۰۶) ومسلم فی کتاب الآداب/باب تحریم التسمی بملک الأملاک. وبملک الملوک (رقم-۲۰ - (۲۱۴۳) وابوداود فی کتاب الأدب/بابٌ فی تغییر الاسم القبیح (رقم-۴۹۶۱) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما یکره من الأسماء (رقم-۲۸۳۷) واحمد فی المسند:۲/۳۱۵

[۴۷۵۶]داسې نوم مناسب نه دې په کوم کښې چه د ځان پاکۍ بيا نول وی

۴۷۵۱-[۷]()[۱]وَعَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲]سُمِّيتُ بَرَّةَ، [۳]فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«لَا تُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ، اللهُ أَعْلَمُ بِأَهْلِ الْبِرِّ مِنْكُمْ، [۴]سَمُّوهَا زَيْنَبَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او بي بي زينب بنت ابي سلمه ﷺ وايي [۲]چې ځما نوم بره (يعني نيکو کاره) کيخودل شوي وو [۳]نو رسول الله ﷺ وفرمايل د خپل نفس تعريف مه کوئ په تاسو کې چې کوم سړي نيکوکاردي خداي ﷻ هغه ښه پيژني [۴]ددې بچې نوم زينب کيږدئ (مسلم)

حل اللغات: - ①بَرَّةَ: نيکوکاره، نيک عمله، ②لَاتُزَكُّوا: ځان پاک مه ګنړئ

تسهيلات:

قوله: لَاتُزَكُّوا أَنْفُسَكُمْ، اللهُ أَعْلَمُ بِأَهْلِ الْبِرِّ مِنْكُمْ، سَمُّوهَا زَيْنَبَ:

د بره نوم بدلولو وجه: داسې نوم کيخودلوکښې دَځان پاك ګنړلو احتمال دي او په دې کښې دَخپل نفس دَتزکيې دعوىٰ هم ده کوم چه مناسب نه دی. په دې وجه دانوم نبي عليه السلام بدل کړو ليکن دا ياد ساتل پکاردی چه لکه څنګه چه يسار اونجيح ممانعت ووبيا اجازت ملاؤشو هم دغه شان دَ بره معامله هم ګنړل پکاردی.

[۴۷۵۷]د نبی عليه السلام بره رضی الله عنها لره نوم بدلول

۴۷۵۲-[۸]()[۱]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ[۲]: "«كَانَتْ جُوَيْرِيَةُ اسْمُهَا بَرَّةَ، [۳]فَحَوَّلَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - اسْمَهَا جُوَيْرِيَةَ، [۴]وَكَانَ يَكْرَهُ أَنْ يُقَالَ: خَرَجَ مِنْ عِنْدِ بَرَّةَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]و حضرت ابن عباس ﷺ وايي د رسول الله ﷺ [د يوي زوجي مطهري بي بي] جويريه ﷺ نوم برّه وو [۳]ليکن رسول الله ﷺ د هغه دانوم بدلولو سره جويريه ﷺ کيخودو [۴]ځکه چې حضور ﷺ دانه خوښول چې يو سړي داسې اووائي چې تاسو ﷺ د بره دخوانه راووتلاست. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: خَرَجَ مِنْ عِنْدِ بَرَّةَ:

دبرة نوم کيخودلو د کراهت وجه: په دې حديث کښې د برة نوم د کيخودلو نه ممانعت اصل وجه دا ده چه که ددې اصل معنىٰ طرف ته نظر وکړې شی يعنى کوم کس چه د برة د

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب تحويل الاسم إلى اسم أحسن منه (رقم-۶۱۹۲) ومسلم فی کتاب الآداب/باب استحباب تغيير الاسم القبيح إلى حسن، وتغيير اسم برة إلى زينب وجويرية ونحوهما (رقم-۱۹ - (۲۱۴۲)) و ابوداود فی کتاب الأدب/بابٌ فی تغيير الاسم القبيح(رقم-۴۹۵۳) واحمد فی المسند:۲/۳۱۵

[2]) اخرجه مسلم فی کتاب الآداب/باب استحباب تغيير الاسم القبيح إلى حسن، وتغيير اسم برة إلى زينب وجويرية ونحوهما (رقم-۱۶ - (۲۱۴۰)) واحمد فی المسند: ۳۱۶/۱

خوانه پاخیدلو او بهر اوتو نو داسی به ونیلي کیږی چه تاسو د برة یعنی د نیکانو خلقو نه د خوا اوتلی ځکه چه د نیکانو خلقو د صحبت نه تلل ښه خبره نه ده

سوال: په دې روایت کښې د برة نوم کیخودلو ممانعت وجه یو خودلې شوې ده او په ماقبل حدیث کښې د ممانعت وجه بله خودلې شوې ده نو په دواړو کښې په ظاهره تعارض معلومیږی؟

جواب: په ظاهره دواړو کښې هیڅ تعارض نشته ځکه چه د یو څیز ډیر اسباب کیدې شی او کیدې شی چه د حضرت زینب رضی الله عنها نوم برة واقعتًا ددوې د نفس د تعریف او د مدح وثناء په وجه کیخودلې شوې وو او د حضرت جویریه رضی الله عنها په حق کښې ددې د ممانعت سبب هم په دی حدیث الباب کښې مذکور دې

[۴۷۵۸] خراب نوم بدلول پکاردی

۴۷۵۸-[۹] (۱) «۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-۲ أَنَّ بِنْتًا كَانَتْ لِعُمَرَ يُقَالُ لَهَا: عَاصِيَةُ ۳ فَسَمَّاهَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- جَمِيلَةَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دې ۲ چې د حضرت عمر فاروق رضی الله عنه یوه لور وه چې هغه ته یې عاصیه (یعني ګنهګاره) ویله ۳ نو رسول الله ﷺ د هغه نوم جمیله کیخودله (مسلم)

حل اللغات: - ① عَاصِيَةٌ: ګناهګاره، ② - جَمِيلَةٌ: ښائسته.

تسهیلات:

قوله: أَنَّ بِنْتًا كَانَتْ لِعُمَرَ يُقَالُ لَهَا: عَاصِيَةُ فَسَمَّاهَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- جَمِيلَةَ:

په جاهلیت کښې د نومونو کیخودو نظریه: په جاهلیت کښې دعربود ستوررو چه هغوی به ویرونکی نومونه کیخودل بل د نافرمانئی او آزادئی طرف ته اشاره کونکی نومونه به ئی کیخودل په دې وجه دهغوی په نومونو کښې جبل، حجر، حرب، صخرة، حمار، اسد. فهداو ددې قسم بارعب نومونه ملاویږی. نبي علیه السلام دداسې نومونواصلاح اوفرمائیله اودائی بدل کړی دی دغه شان هر عالم له کول پکاردی چه دعلاقې د خلقو خراب نومونه دې بدل کړی په قومونو کښې نن صبا دټولو نه ښکلې نومونه د ښګله دیش دخلقو دی اود ټولو نه بې کاره نومونه د سندهیانو پښتنو پنجابیانو دی پښتنو کښې چه کله په آخره کښې د خان نوم راشی نودا کافی دې که اصل نوم هیڅ هم نه وی که د ونې پانړې سره دې دخان نوم اولګولو نو پټې خان یوبهترین نوم دې

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب الآداب/باب استحباب تغییر الاسم القبیح إلى حسن، وتغییر اسم برة إلى زینب وجویریة ونحوهما(رقم-۱۵ - (۲۱۳۹) وابوداود فی کتاب الأدب/بابٌ في تغییر الاسم القبیح(رقم-۴۹۵۲) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلى الله علیه وسلم/باب ما جاء فی تغییر الأسماء (رقم-۲۸۳۸)

[٢٧٥٩] نبي عليه السلام يو ماشوم لره منذر منذر كيښودل

٢٧٥٩-[١٠] (١) ١ «وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ ٢: أُتِيَ بِالْمُنْذِرِ بْنِ أَبِي أُسَيْدٍ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حِينَ وُلِدَ، ٣ فَوَضَعَهُ عَلَى فَخِذِهِ ٤ فَقَالَ: "مَا اسْمُهُ؟" ٥ قَالَ: فُلَانٌ. ٦ قَالَ: "لَا، لَكِنِ اسْمُهُ الْمُنْذِرُ» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت سهل ابن سعد ﷺ وايي ٢ منذر ابن ابي اسيد چې پيدا شو نو هغه د رسول الله ﷺ په خدمت كې راوستل شو ٣ حضور ﷺ هغه په خپل ورون مبارك كيخودو ٤ او پوښتنه يي وكړه چې د ده څه نوم دي ٥ راوستونكي اوويل د ده فلاني نوم دي ٦ حضور ﷺ وفرمايل دا نوم ښه نه دي بلكي د ده نوم منذر دي (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① الْمُنْذِرُ: د ا سم فاعل صيغه ده د انذار نه. يرونكي.

تسهيلات:

قوله: قَالَ: "لَا، لَكِنِ اسْمُهُ الْمُنْذِرُ:

دنبى عليه السلام يوماشوم ته منذر نوم كيخودل: منذر په اصل كښې د إنذار نه مشتق دې او معنى ئي ده د الله تعالى د عذاب نه ويروونكې. د حديث حاصل دا دې چه كله منذر ابن ابى اسيد پيدا شو نو دې د نبى كريم ﷺ خدمت كښې حاضر كړې شو نو نبى كريم ﷺ دې په خپل پتون مبارك باندې كينولو او ابو اسيد هم نيزدې ناست وو نو نبى كريم ﷺ څه كار كښې مشغوله شو نو ابو اسيد خپل څوې د نبى كريم ﷺ د پتون مبارك نه راپاڅولو نو بيا نبى كريم ﷺ په خيال كښې راغلل او وفرمائيل چه هغه ماشوم كوم ځائى كښې دې نو ابو اسيد جواب وركړو چه هغه ماشوم مونږ كور ته اوليږلو نو بيا نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه د هغې نوم څه دې نو په جواب كښې وفرمائيل چه فلانكې نوم ئى دې نو بيا نبى كريم ﷺ اوفرمائيل چه دا نوم ئي نه دې بلكه ددې نوم منذر دې نو ددې ورځ نه ورستو د هغې ماشوم نوم منذر شو.

[٢٧٦٠] خپل غلام اووينځې ته عبدى وأمتى نه دى ونيل پكار

٢٧٦٠-[١١] (٢) ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٢ "لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ عَبْدِي وَأَمَتِي، ٣ كُلُّكُمْ عَبِيدُ اللّٰهِ، وَكُلُّ نِسَائِكُمْ إِمَاءُ اللّٰهِ". ٤ وَلَكِنْ لِيَقُلْ غُلَامِي وَجَارِيَتِي، وَفَتَايَ

(١) اخرجه البخارى فى كتاب الأدب/باب تحويل الاسم إلى اسم أحسن منه (رقم-٦١٩١) ومسلم فى كتاب الآداب/باب استحباب تحنيك المولود عند ولادته وحمله إلى صالح يحنكه. وجواز تسميته يوم ولادته. واستحباب التسمية بعبد الله وإبراهيم وسائر أسماء الأنبياء عليهم السلام (رقم-٢٩ - (٢١٤٩))

(٢) اخرجه البخارى فى كتاب الإجارة/باب كراهية التطاول على الرقيق. وقوله: عبدى أو أمتى (رقم-٢٥٥٢) ومسلم فى كتاب الألفاظ من الأدب وغيرها /باب حكم إطلاق لفظة العبد. والأمة. والمولى. والسيد (رقم-١٥ - (٢٢٤٩)) وابوداود فى كتاب الأدب/باب لا يقول المملوك ربى وربتى (رقم-٤٩٧٥) واحمد فى المسند:٢/٤٩٦

وَفَتَاتِي. ۵ وَلَا يَقُلِ الْعَبْدُ: رَبِّي، وَلَكِنْ يَقُلْ: سَيِّدِي» ". ٦ وَفِي رِوَايَةٍ: " «لِيَقُلْ: سَيِّدِي وَمَوْلَايَ» ۷ ". وَفِي رِوَايَةٍ: " «لَا يَقُلِ الْعَبْدُ لِسَيِّدِهِ: مَوْلَايَ، فَإِنَّ مَوْلَاكُمُ اللَّهُ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ په تاسو کې دي هيڅوک خپل غلام او منځي ته عبدي (خما بنده) او امتي (خما منځه) نه وايي ۳ تاسو ټول سړي د الله بندګان او ستاسو ټولي ښځي د الله منځي دي ۴ بلکي داسې دي وايي چې خما غلام يعنی خما خوي او خما جاريه يعنی خما لور يا خما خادم او خما خادمه ۵ دغه شان هيڅ غلام دي خپل مالك ته خمارب نه وايي بلکي خما سردار وئيل پکار دي ٦ او په يو روايت کښې دی داسې دې وائی زما سردار زما آقا ۷ او په يوروايت کې داسې دي چې هيڅ غلام دي خپل مالك ته خما مولی نه وايي ځکه چې ستاسو مولی صرف الله دي (مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ عَبْدِي وَأَمَتِي:

خپل خان ته د عبد نسبت کولوممانعت: دَجاهليت په دورکښې به عربو خپل غلام ته ياعبدی اي زمابنده وئيلو اووينځې ته به ئې ياأمتی اي زما مملوکې وئيلو. په دې کښې به يوانسان خپل بنده ګڼړلې کيدو حالانکه انسانان ټول دَالله تعالی بنديګان دی دغه شان به ئې امة دَ مملوکه په معنی کښې اخستله حالانکه حقيقی ملکيت خودَالله تعالی دې په دې وجه به دا الفاظ موهم شرك جوړيدل نونبي عليه السلام دَدې ممانعت اوفرمائيلو

اشکال: دعبد اوامة نسبت خو په قرآن کښې موجوددي ﴿مِنْ عِبَادِكُمْ وَاِمَآئِكُمْ﴾ (سورة نور: ۳۲) نو په دې حديث کښې ممانعت څنګه کړې شوې دې؟

داشکال جواب: ممانعت په هغه صورت کښې دې چه يوسړې دَتکبر تجبر غرور اوسرکشئ په توګه داسې اطلاق کوی اوغلطه معنی اخلی لکه دَ عبدی نه خپل بنده مراد اخلی چه ما پيداکړې دې ليکن که يوسړې داسې نه کوی نوبيادااطلاق جائزدې لکه څنګه چه په قرآن اوحديث کښې دی لکه چه دَعبد او امة يومفهوم غلط دې په هغه مفهوم کښې آواز کول جائزنه دی اودويم مفهوم صحيح دې په هغې کښې آواز کول جائزدی.

اسلام چه څنګه دَ آقا اصلاح کړې ده هم دغه شان ئې دَغلامانو او وينځوهم اصلاح کړې ده چه خپل آقا ته رب يا ربی وئيل جائزنه دی په دې کښې هم هغه خبره ده چه دَرب يومفهوم داسې دې چه الله تعالی سره خاص دې په دې صفت يا دې مفهوم سره څوك په

رب سره رابلل جائزنه دی لیکن دَ رب یومفهوم داسې دې چه دهغې اطلاق په غیرالله باندې کیږی هغه صرف دَ مالك اوآقاپه معنی کښې دې په دې وجه دَهغې اجازت دې لهذا دَ ربَ دَ اطلاق نفی هم ده اواثبات هم دې دغه شان لفظ دَ مولی دې دَدې پنځه معنې راځی دَ بعضې معانیو په اعتبارسره یومخلوق ته هم مولی وئیلو سره نه شی رابللې کیدې کوم چه دَخالق اومالك په معنی کښې دې لیکن دَ بعضې معانیو په اعتبارسره په غیرالله باندې دَ دې اطلاق کیدې شی په دې وجه دَنفی اواثبات جدا جدا مواقع دی

[۴۷۶۰] انګوروته دَکرم وئیلو ممانعت

۴۷۶۰ - [۱۳] (¹) [۱] وَعَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] " «لَا تَقُولُوا: الْكَرْمُ، [۳] فَإِنَّ الْكَرْمَ قَلْبُ الْمُؤْمِنِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه دَ رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] دَ انګور وني ته کرم مه وایئ [۳] ځکه چې کرم د مؤمن زړه دي (مسلم)

حل اللغات : - ① الْكَرْمُ: عزت مند.

۴۷۶۲ - (²) [۱] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ: [۲] " «لَا تَقُولُوا: الْكَرْمُ، وَلَكِنْ قُولُوا: الْعِنَبُ وَالْحَبَلَةُ» ".

ترجمه : [۱] او د مسلم په یو بل روایت کې د وائل ابن حجر رضی الله عنه نه داسې منقول دي چې حضور ﷺ وفرمایل [۲] دَ انګورو وني ته کرم مه وایئ بلکې عنب او حبله وایئ

حل اللغات : - ① الْعِنَبُ: انګورو. ① الْحَبَلَةُ: زیلئ، ښاخ،

تسهيلات: **قوله : لَا تَقُولُوا: الْكَرْمُ:**

انګور ته د کرم وئیلو د ممانعت وجه: دَعربوخلقوبه انګوروته ځکه کرم وئیلو چه دَانګورونه به شراب جوړیدل چه کرام الناس به څکل یوحماسی شاعر وائی

إِنَّا مُحَيُّوكِ يَا سَلْمَى فَحَيِّينَا　　　وَإِنْ سَقِيتِ كِرَامَ النَّاسِ فَاسْقِينَا

بهرحال دَ کرم په لفظ کښې دَ شراب پس منظرپروت وو نبي علیه السلام دَدې اطلاق منع کړو چه یونجس څیز کوم چه شراب دی دَهغې ماده اومبدء اوبنیاد دَ کرم په نوم سره ولې یاد کړې شی په دې وجه نبي علیه السلام اوفرمائیل چه کرم مه وایئ عنب ورته وایئ یا حبله وایئ دَ انګورو ونې یا دَدې ښاخ یا جرړې ته حبله وائی

---

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «إنما الكرم قلب المؤمن» (رقم-۶۱۸۳) ومسلم فی کتاب الألفاظ من الأدب وغيرها /باب كراهة تسمية العنب كرمًا (رقم-۷ - (۲۲۴۷) وابوداود فی کتاب الأدب/باب فی الكرم وحفظ المنطق (رقم-۴۹۷۴) واحمد فی المسند:۳۱۶/۲

²) اخرجه مسلم فی کتاب الألفاظ من الأدب وغيرها /باب كراهة تسمية العنب كرمًا (رقم-۱۲ - (۲۲۴۸)

[۴۷۶۳] زماني ته بد ونيل نه دی پکار

۴۷۶۳-[۱۳] (¹) ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "لَا تُسَمُّوا الْعِنَبَ الْكَرْمَ، ۳ وَلَا تَقُولُوا: يَا خَيْبَةَ الدَّهْرِ! ۴ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ الدَّهْرُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ انګورو ته کرم مه وايئ ۳ او مه دا وايئ چې اې د زماني نا اميدي (يعني زماني ته بد مه وايئ) ۴ ځکه چې بلا شبه د الله په اختيار کې زمانه ده (بخاري)

حل اللغات: - ① خَيْبَة: نا أميدی.

تسهيلات: **قوله**: وَلَا تَقُولُوا: يَا خَيْبَةَ الدَّهْرِ! فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ الدَّهْرُ:

اشکال: دَ الله تعالی خومره نومونه دی هغه توقيفي نومونه دی په هغې کښې الدهر نوم نشته دې نو دلته څنګه اووئيلې شو چه الله تعالی دهر دې؟

داشکال جواب: دَدې جواب دادې چه "الله الدهر" په معنی دَ "متصرف في الدهر" يا "الله هو الدهر" يعنی په زمانه کښې تصرف کونکې او په هغې کښې اړول راړول کونکې الله تعالی دې اوس دهر ته دَ بد رد وئيلونه ولې منع کړې شو نو ددې حقيقت دادې چه زمانه خوپخپله هيڅ هم نه شي کولې په زمانه کښې چه کوم څه کيږی هغه ټول الله تعالی کوی دزماني شاته دَ الله تعالی لاس دې نو کوم سړې چه زماني ته کنځلې کوی هغه په حقيقت کښې دَدې شاته مؤثر حقيقی ته په غيرشعوری توګه کنځلې کوی. داکنځلې دَحال متعلقه په اعتبارسره دې په دې کښې دَ فاعل مختار دَبې ادبئ خطره ده په دې وجه منع کړې شو چه زماني ته بدرد مه وايئ. دَدې تفصيل د تسهيلات اول جلد کتاب الايمان کښې تيرشوې دې

[۴۷۶۴] زماني ته د بد رد ونيلو د ممانعت وجه

۴۷۶۴-[۱۴] (²) ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "لَا يَسُبَّ أَحَدُكُمُ الدَّهْرَ، ۳ فَإِنَّ اللّٰهَ هُوَ الدَّهْرُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو هريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ په تاسو کې دې هيڅ سړې زماني ته بد نه وايي ۳ ځکه چې حقيقت کې خداي تعالیٰ زمانه ګرځونکي دي (مسلم)

(¹) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب: لا تسبوا الدهر (رقم-۶۱۸۲) ومسلم في كتاب الألفاظ من الأدب وغيرها /باب النهي عن سب الدهر(رقم-۴ - (۲۲۴۶) واحمد في المسند:۲/۲۵۹

(²) اخرجه مسلم في كتاب الألفاظ من الأدب وغيرها /باب كراهة تسمية العنب كرمًا(رقم-۶ - (۲۲۴۷) وابوداود في كتاب الأدب/بابٌ في الرجل يسب الدهر(رقم-۵۲۷۴) واحمد في المسند:۲/۲۷۲

[۴۷۶۵] خپل ځان ته خبیث مه وایه

۴۷۶۵-[۱۵] (١) [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ: خَبُثَتْ نَفْسِي، [٣] وَلَكِنْ لِيَقُلْ: لَقِسَتْ نَفْسِي» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [٤] وَذُكِرَ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ: "يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ" فِي "بَابِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [١] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] په تاسو کې دې هيڅ سړي (د امتلاء په وخت) داسې نه وايي چې خما نفس خبيث شو. [٣] بلکې لقست نفسي دې وايي يعنی خوامې ډکه شوه (بخاري مسلم) [٤] او د حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت يُؤْذِينِي ابْنُ آدَمَ باب الايمان کې نقل شوي دي.

حل اللغات: - ① خَبُثَتْ: قبيح يا پليت شو، ② لَقِسَتْ: موړ شو.

تسهيلات:

قوله: لَا يَقُولَنَّ أَحَدُكُمْ: خَبُثَتْ نَفْسِي، [٣] وَلَكِنْ لِيَقُلْ: لَقِسَتْ نَفْسِي:

ځان ته دخبث نسبت کولو د ممانعت وجه: "خبثت" او "لقست" دواړ هم معنی دی. د معنی په اعتبار سره په دواړو کښې هيڅ فرق نشته بلکه په عربی ژبه کښې ددې دواړو معنی يوه ده يعنی زړه خرابيدل او طبعيت فاسديدل. ليکن نبی کريم ﷺ "خبثت نفسی" وئيلو ته ناخوښ اوفرمائيل ځکه چه د لفظ "خبثت" په وجه نه صرف دا جمله قبيح کيږی بلکه د مؤمن لفظ د خبث لره خپل نفس طرف ته منسوب کول هم د مؤمن د شان لائق نه دی او په عرف کښې خبيث کنځل او نجس څيز ته وائی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۷۶۶] ابوالحکم کنيت کيښودل مناسب نه دی

۴۷۶۶-[۱۶] (٢) [١] «عَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ، عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - [٢] أَنَّهُ لَمَّا وَفَدَ إِلَى رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مَعَ قَوْمِهِ سَمِعَهُمْ [٣] يُكَنُّونَهُ بِأَبِي الْحَكَمِ، [٤] فَدَعَاهُ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ [٥]: "إِنَّ اللهَ هُوَ الْحَكَمُ، وَإِلَيْهِ الْحُكْمُ، فَلِمَ تُكَنَّى أَبَا الْحَكَمِ؟ [٦]" قَالَ: إِنَّ قَوْمِي إِذَا اخْتَلَفُوا فِي شَيْءٍ أَتَوْنِي فَحَكَمْتُ بَيْنَهُمْ، فَرَضِيَ كِلَا الْفَرِيقَيْنِ بِحُكْمِي. [٧] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا أَحْسَنَ هَذَا، [٨] فَمَا لَكَ مِنَ الْوَلَدِ؟" [٩] قَالَ: لِي شُرَيْحٌ، وَمُسْلِمٌ، وَعَبْدُ اللهِ. [١٠] قَالَ: "فَمَنْ أَكْبَرُهُمْ؟" قَالَ: قُلْتُ: شُرَيْحٌ. قَالَ: "فَأَنْتَ أَبُو شُرَيْحٍ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالنَّسَائِيُّ.

[١]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب لا يقل: خبثت نفسی (رقم-۶۱۷۹) ومسلم فی کتاب الألفاظ من الأدب وغيرها /باب النهی عن سب الدهر (رقم-۲ - (۲۲۴۶) وابوداود فی کتاب الأدب/باب لا يقال خبثت نفسی (رقم-۴۹۷۸) واحمد في المسند: ۲۸۱/۶

[٢]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/بابٌ فی تغيير الاسم القبيح (رقم-۴۹۵۵) والنسائی فی کتاب آداب القضاة/باب إذا حکموا رجلًا فقضی بينهم (رقم-۵۳۸۷)

ترجمه: ⑴ حضرت شريح ابن هاني رضي الله عنه د خپل پلار حضرت هانئ رضي الله عنه نه نقل کوي ⑵ کوم وخت چې هغه يعنې حضرت هاني رضي الله عنه دخپل قوم سره د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو نو حضور ﷺ واوريدل ⑶ چې د هغه قوم هغه د ابو الحکم کنيت په ذريعه ياد وي او مخاطب کوي ⑷ نو رسول الله ﷺ هغه را وغوښتي او ورته يې وفرمايل چې حکم خو صرف الله جل جلاله دي اوحُکم د هغه طرف ته ګرځي بيا تا خپل کنيت ابو الحکم ولي مقرر کړي دي ⑸ حضرت هاني رضي الله عنه عرض وکړو (ځما قوم ما د ابو الحکم کنيت په ذريعه ځکه ياد وي چې) کله ځما قوم په يو معامله کې د اختلآفاتو ښکارسي نو ماته راځي او زه د هغوئ په معامله کې چې کوم حکم (فيصله) وکړم دواړه فريقه ځما هغه فيصله تسليموي ⑹ رسول الله ﷺ په دي اوريدو سره وفرمايل د خلقو په منځ کې تنازعات فيصله کول ډيره ښه خبره ده ⑺ ليکن (دا راته اووئيلو) ستا څو بچي دي او د هغوئ نومونه څه څه دي ⑻ هغه اوويل ځما دري بچي دي د هغوئ نومونه شريح مسلم او عبد الله دي ⑼ حضور ﷺ ځني پوښتنه وکړه دي دريو سره وو کې مشرکوم يودي ⑽ حضرت هاني رضي الله عنه وايي ماعرض وکړي شريح نو حضور ﷺ وفرمايل بياته د نن نه ابو شريح يې (نسائي)

تسهيلات: **قوله**: إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْحَكَمُ، وَإِلَيْهِ الْحُكْمُ، فَلِمَ تُكَنَّى أَبَا الْحَكَمِ؟:

دابوالحکم کنيت د کراهت وجه: دَالله تعالى دَنومونونه يونوم دي.دَدغه سړي کنيت ابو الحکم ووپه کوم کښې چه دَالله تعالى دَ بې ادبئ اړخ راوتلي شو نبي عليه السلام داکنيت ناخوښه کړو اودائى دَ ابوشريح په نوم سره بدل کړو.ابو الحکم يعنى دَ حکم پلار اوحکم دَالله تعالى نوم دي.

[۴۷۶۷] اجدع نوم کيخودل ښه نه دي

۴۷۶۷-[۱۰] (۱) ⑴ «وَعَنْ مَسْرُوقٍ قَالَ ⑵: لَقِيتُ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- فَقَالَ: مَنْ أَنْتَ؟ ⑶ قُلْتُ: مَسْرُوقُ بْنُ الْأَجْدَعِ. ⑷ قَالَ عُمَرُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "الْأَجْدَعُ شَيْطَانٌ"». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ

ترجمه: ⑴ حضرت مسروق تابعي رحمه الله وايي ⑵ کوم وخت چې زه د حضرت عمر رضي الله عنه سره يوځاي شوم نو هغوئ پوښتنه وکړه ته څوک يې؟ ⑶ ماعرض وکړو زه د اجدع ځوي مسروق يم ⑷ حضرت عمر رضي الله عنه ځما د پلار نوم اوريدو سره وفرمايل ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي چې اجدع د شيطان نوم دي (ابوداؤد ابن ماجه)

حل اللغات:- ① الْأَجْدَعُ: غوږ او پوزه پرې کړې شوى سړي

(۱) اخرجه ابوداود فى السنن کتاب الأدب/بابٌ فى تغيير الاسم القبيح(رقم-۴۹۵۷) وابن ماجه فى کتاب الأدب/باب ما يکره من الأسماء (رقم-۳۷۳۱) واحمد فى المسند:۳۱/۱

تسهیلات:

قوله: قُلْتُ: مَسْرُوقُ بْنُ الْأَجْدَعِ:

دمسروق سره دعمورضی الله عنه ظرافت: دَمسروق تاریخ او وجه تسمیه دې ځخه وړاندې د حدیث نمبر(۳۳۳۵)په تسهیل کښې لیکلې شوې ده اجدع غوږ او پوزه پرې کړې شوی سړی ته وائی حضرت عمر ﷛ تفنن اودَظرافت طبع په توګه باندې دااوفرمائیل په کوم کښې چه اشاره وه چه که ستا پلار دغه وخت ژوندې وې نودَهغه نوم به بدلولې شو

[۴۷٦۸]ښه نومونه ایږدئ

۴۷٦۸-[۱۸] () ⓵وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⓶" تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ، ⓷فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⓵ او حضرت ابودرداء ﷛ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ⓶د قیامت په ورځ به تاسو ستاسو دپلرونو په نومونو سره بللي شئ ⓷نو تاسو ښه نوم ایږدئ.(احمد ابوداود)

تسهیلات:

قوله: تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ:

د ښه نومونو کیخودلو حکم: د ماشومانو نوم ښکلې کیخودل پکار دی دې دپاره چه د قیامت په ورځ په خه نوم باندې ورته آواز وکړې شی.

اشکال: ددې روایت نه معلومیږی چه د قیامت په ورځ به د پلارانو په نومونو سره آوازکیږی حالانکه په بل روایت کښې راځی چه د میندو په نوم سره به آواز کیږی، نو په دواړو کښې په ظاهره تعارض نظر ته راځی؟ ددې مختلف جوابات ورکړې شوی دی

داشکال جوابونه:

① کله به د مور په نوم سره آواز کیږي او کله به د پلار په نوم سره آواز کیږی

② د میندو په نوم سره د آواز کولو حکمت وعلت دا دې چه اولاد الزنا (حرامی) په دې صورت کښې د شرمندګی او رسوائی نه بچ شی.

③ د حضرت عیسی ابن مریم د رعایت حال په وجه چه الله تعالی دوی لره بغیر د پلار نه پیدا کړې وو

④ په بعضې مقاماتو کښې به د پلار په نوم سره آواز کیږي او په بعض مقاماتو کښې به د مور په نوم سره آواز کیږی

() اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/بابٌ في تغییر الأسماء(رقم-۴۹۴۸) واحمد فی المسند:۵/۱۹۴

⑤ حديث الباب کښې والد تغليباً ذکر کړې شوي دي لکه څنګه چه مور او پلار دواړو ته ابوين وئيلې کيږی (التعليق الصبيح ج۵، ص۱۵۳)

[۴۷۶۹] د نبي عليه السلام ﷺ نوم او کنيت په يو ځائی د ايښودلو ممانعت

۴۷۶۹-[۱۹] (¹) [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَهَى أَنْ يَجْمَعَ أَحَدٌ بَيْنَ اسْمِهِ وَكُنْيَتِهِ، [۳] وَيُسَمَّى مُحَمَّدٌ أَبَا الْقَاسِمِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي [۲] رسول الله ﷺ د دې خبرې نه منعه فرمايلې وه چې يو سړي دې د حضور ﷺ نوم او کنيت دواړه يو ځاي اختيار کړي [۳] يعنی د چا نوم چې محمد وي هغه ته دې ابو القاسم هم اوويل شي (ترمذي)

مذکوره ترجمه به په دې صورت کښې وی چه کله لفظ "**محمد**" مرفوع او يسمى به صيغه مجهول وی لکه څنګه د ترمذی او شرح السنة او مصابيح اکثر نسخو کښې نقل دی ليکن جامع الاصول او د مصابيح په بعضو نسخو کښې **محمد** په نصب سره نقل کړې شوې دې په دې صورت کښې به يسمى په صيغه معروف سره وی او ترجمه به دا شی چه کوم کس چه د هغه چا ته ابو القاسم وائی کوم کس نوم چه **محمد** وی. د حديث حاصل دا دې چه د کوم کس نوم محمد وی نو هغه دپاره جائز نه دی چه هغه خپل کنيت ابو القاسم مقرر کړی او نه بل کس له پکار دی چه هغه د محمد نوم والا کس په ابو القاسم سره راو بلي ددې مسئلې تفصيل مخکې تير شوې دې.

[۴۷۷۰] يا د نبي عليه السلام ﷺ نوم ايږدئ يا د هغوی کنيت ايږدئ

۴۷۷۰-[۲۰] (²) [۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "إِذَا سَمَّيْتُمْ بِاسْمِي فَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي». [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. [۴] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ، قَالَ: "«وَمَنْ تَسَمَّى بِاسْمِي لَا يَكْتَنِ بِكُنْيَتِي، [۵] وَمَنْ تَكَنَّى بِكُنْيَتِي فَلَا يَتَسَمَّ بِاسْمِي»".

ترجمه: [۱] او د حضرت جابر رضی الله عنه نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] که تاسو خمانوم باندي خپل نوم محمد کيږدئ نو خما کنيت باندې کنيت ابوالقاسم مه مقرروئ [۳] (ترمذي ابن ماجه) او ترمذي ويلي دي دا حديث غريب دي [۴] او د ابوداود په روايت کې داسې دي حضور ﷺ وفرمايل کوم سړي چې خما په نوم نوم کيږدي نو هغه دې خما

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی کراهية الجمع بين اسم النبی صلى الله عليه وسلم وکنيته (رقم-۲۸۴۱) واحمد فی المسند:۲/۴۳۳

²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب من رأى أن لا يجمع بينهما (رقم-۴۹۶۶) والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی کراهية الجمع بين اسم النبی صلى الله عليه وسلم وکنيته (رقم-۲۸۴۱) واحمد فی المسند:۳/۳۶۹

کنيت باندې کنيت نه مقرروي ⑤او کوم سړي چې خپل کنيت باندې کنيت مقرر کړي نو څما په نوم دي نوم نه ايږدي.

تسهيلات: نوټ: د دې حديث تشريح دې څخه وړاندې د حديث نمبر (۴۷۵۰) په تسهيل کښې تيره شوې ده

[۴۷۷۱] دَ نبي عليه السلام دَ نوم او کنيت کيخودو اجازت

۴۷۷۱-[۲۱] (¹) ⑴«عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- أَنَّ امْرَأَةً قَالَتْ⑵: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنِّي وَلَدْتُ غُلَامًا فَسَمَّيْتُهُ مُحَمَّدًا، وَكَنَّيْتُهُ أَبَا الْقَاسِمِ، فَذُكِرَ لِي أَنَّكَ تَكْرَهُ ذٰلِكَ. ⑶فَقَالَ: "مَا الَّذِي أَحَلَّ اسْمِي وَحَرَّمَ كُنْيَتِي؟ ⑷أَوْمَا الَّذِي حَرَّمَ كُنْيَتِي وَأَحَلَّ اسْمِي؟» رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ. وَقَالَ مُحْيِي السُّنَّةِ: غَرِيبٌ.

ترجمه: ⑴او بي بي عائشه ﷝ فرمايي يوه ښځه په بارګاه نبوت کې حاضره شوه عرض يې وکړو ⑵چې يا رسول الله! څما يو ځوي پيدا شوي دي او ما د هغه نوم محمد او کنيت ابو القاسم ايښي دي ليکن ماته ښودل شوي دي چې تاسو ﷺ دا نه خوښوئ (يعني ښوونکي ماته دا ښودلي دي چې تاسو خپل نوم او کنيت په يوځاي اختيارول حرام ګرځولي دي) ⑶حضور ﷺ ورته وفرمايل دا سې څه شي دي چې هغه څما نوم باندې نوم ايخودل خو حلال او جائز کړي دي او څما کنيت باندې کنيت مقررول يې حرام کړي دي ⑷يا دايي وفرمايل دا سې څه شي دي چې څما کنيت باندې کنيت ايخودل خو يې حرام کړي دي او څما په نوم باندې نوم ايخودل يې حلال کړي دي (ابوداؤد) او محي السنه ويلي دي دا حديث غريب دي.

تسهيلات: نوټ: د دې حديث تشريح دې څخه وړاندې د حديث نمبر (۴۷۵۰) په تسهيل کښې تيره شوې ده.

[۴۷۷۲] دَ نبي عليه السلام ﷺ د وفات نه پس دَهغوی د نوم او کنيت کيخودو اجازت

۴۷۷۲-[۲۲] (²) «⑴وَعَنْ مُحَمَّدِ ابْنِ الْحَنَفِيَّةِ، عَنْ أَبِيهِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ⑵قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ أَرَأَيْتَ إِنْ وُلِدَ لِي بَعْدَكَ وَلَدٌ أُسَمِّيهِ بِاسْمِكَ وَأُكَنِّيهِ بِكُنْيَتِكَ؟ ⑶قَالَ: "نَعَمْ» "رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ⑴او حضرت محمد ابن حنفيه ﷫ د خپل پلار بزرګوار (حضرت علي کرم الله وجهه) نه نقل کوي ⑵هغوئ اوويل ما عرض وکړو چې يا رسول الله! ماته وښايه که زه ستاسو ﷺ د وصال نه پس څما [د بي بي فاطمي ﷝ نه يابلې يوې بي بي نه] يو بچي

(¹) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/بابٌ في الرخصة في الجمع بينهما (رقم-٤٩٦٨) والترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في كراهية الجمع بين اسم النبي صلى الله عليه وسلم وكنيته (رقم-٢٨٤٣)

(²) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/بابٌ في الرخصة في الجمع بينهما (رقم-٤٩٦٧) والترمذي رقم ٢٨٤٣) واحمد في المسند ١/٩٥)-

پيدا شي نو آيا زه د هغه نوم ستاسو ﷺ په نوم او د هغه كنيت ستاسو په كنيت ايخودلي شم [۳] حضور ﷺ ورته وفرمايل هو

تسهيلات:

قوله: قَالَ: "نَعَمْ"

ددې حديث نه معلوميږي چه د ممانعت تعلق اول وو نو بيا ورستو منسوخ شو

[۴۷۷۳] د نبی علیه السلام انس رضی الله عنه لره ،، بقله ،، کنیت کیخودل

۴۷۷۳-[۲۳] ()[۱] «وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ[۲]: كَنَّانِي رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِبَقْلَةٍ كُنْتُ أَجْتَنِيهَا». [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَفِي "الْمَصَابِيحِ": صَحَّحَهُ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي [۲] رسول الله ﷺ خما كنيت د هغه سبزي په نوم مقرر كړي وو كوم چې به ما اوخكل (يعنى حضور ﷺ يوه ورخ زه يو ساګ (چې هغه ته په عربي كې حمزه وئيلو) په اوخكلو باندې وليدلم نو په دي مناسبت سره خما كنيت يي ابو حمزه كيخودو) [۳] دا روايت ترمذي نقل كړي دي او ويلي يي دي او د سند په اعتبار سره زمونږ علم دادي چې دا حديث ددي سند نه علاوه (چې جامع ترمذي نقل كړي دي) بل څه سند سره نه پيژنو

حل اللغات: - ① بَقْلَةٍ: سبزی. ② أَجْتَنِيهَا: چه ما راؤښكلو هغه (ساګ).

تسهيلات:

قوله: كَنَّانِي رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِبَقْلَةٍ كُنْتُ أَجْتَنِيهَا:

د كنيت دپاره د اولاد د وجود عدم ضرورت: كوم وابښه او ساګ چه به حضرت انس رضي الله عنه راغونډول د هغې نوم به حمزه وو په دې وجه د هغوی كنيت ابوحمزه كيخودې شو. د دې نه معلومه شوه چه د كنيت ساتلو دپاره دا ضروری نه دی چه د اولاد د وجې نه دې وی بلكه د نورو څيزونو د وجې نه هم كنيت كيخودې شي البته هغې سره تعلق او واسطه ضروری ده لكه ابوهريره ابوحمزه او ابوالكلام وغيره. دغه شان دا هم ضروری نه دی چه سړې دې بالغ وی نو بيا به د هغه كنيت كيخودې شي بلكه دا هم جائز دی چه يو وړوكي ماشوم په كنيت سره ياد كړې شي لكه ابوعمير وړوكي ماشوم وو چه نبي عليه السلام ورله كنيت وركړې وو.

(۱) اخرجه الترمذی فی كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی كراهية الجمع بين اسم النبی صلى الله عليه وسلم وكنيته (رقم-۲۸۴۳) واحمد فی المسند: ۱۲۷/۳)

[۴۷۷۴] بد او خراب نومونه بدلول پکاردی

۴۷۷۴-[۲۴] (¹) [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ [۲]: «إِنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يُغَيِّرُ الِاسْمَ الْقَبِيحَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : [۱] او بي بي عائشه ﷺ فرمايي [۲] چې رسول الله ﷺ به خراب نومونه بدلول (ترمذي)

حل اللغات:- ① الْقَبِيحَ: خراب. بې کاره.

تسهيلات:

قوله: كَانَ يُغَيِّرُ الِاسْمَ الْقَبِيحَ:

د سوء المعنى نوم بدلول: نبی کریم ﷺ به بد (خراب) نومونه بدلول او په روایاتو کښې راځي چه د يو کس نوم اسود وو نو نبی کریم ﷺ د هغه نوم بدل کړو او ابيض نوم ئي ورله کيخودلو.

[۴۷۷۵] نبي عليه السلام ﷺ ډير نومونه بدل کړل

۴۷۷۵-[۲۵] (²) [۱] وَعَنْ بَشِيرِ بْنِ مَيْمُونٍ، عَنْ عَمِّهِ أُسَامَةَ بْنِ أَخْدَرِيٍّ، [۲] «أَنَّ رَجُلًا يُقَالُ لَهُ أَصْرَمُ كَانَ فِي النَّفَرِ الَّذِينَ أَتَوْا رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا اسْمُكَ؟" قَالَ: أَصْرَمُ [۴] قَالَ: "بَلْ أَنْتَ زُرْعَةُ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه : [۱] او حضرت بشير ابن ميمون تابعي ﷺ د خپل تره حضرت اسامه ﷺ ابن اخدري نه نقل کوي [۲] چې يو سړي چې هغه ته اصرم وئيلې کيدو په هغه ډله کښې د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوي وه. [۳] رسول الله ﷺ د هغه نه پوښتنه وکړه ستانوم څه دی؟ هغه اوويل ماته اصرم وايي [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل نه بلکي د نن نه ستا نوم زرعه دي دا روايت ابوداود نقل کړي دي

حل اللغات:- ① النَّفَرِ: ټولګې، جماعت، ② أَتَوْا: راوستلې شوی وو ③ أَصْرَمُ: پريکول (د ونې يا فصل)، ④ زُرْعَةُ: فصل، پټې،

[۴۷۷٦] بعضې هغه نومونه کوم چې نبي عليه السلام بدل کړل

۴۷۷٦-(³) [۱] وَقَالَ: وَغَيَّرَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- اسْمَ الْعَاصِ، وَعَزِيزٍ، وَعَتَلَةَ، وَشَيْطَانٍ، وَالْحَكَمِ، وَغُرَابٍ، وَحُبَابٍ، وَشِهَابٍ، [۲] وَقَالَ: تَرَكْتُ أَسَانِيدَهَا لِلِاخْتِصَارِ.

ترجمه : [۱] او هغه (ابو داود بطريق تعليق) دا هم نقل کړي دي چې رسول الله ﷺ ① عاص

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی تغيير الأسماء (رقم-۲۸۳۹)
²) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/بابٌ فی تغيير الاسم القبيح(رقم-٤٩٥٤)
³) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/بابٌ فی تغيير الاسم القبيح (رقم ٤٩٥٦)-

②عزيز ③عتله ④شيطان ⑤حكم ⑥غراب ⑦حباب ⑧او شهاب نومونه بدل کړي وه
[۲]ابوداود وايي ما د اختصار پيښ نظر هغه روايتونه چې په هغه کې د مذکوره نومونو د بدلولو ذکر دي بغير اسناد نقل کړي دي

حل اللغات: - ①اَلْعَاصِ: سخت. ②عَزِيز: غالب، زورآور. ③عَتَلَة: غليظ شديد اوسرکش ته وائی ④شَيْطَانٍ: ډېرو جرړه، سوزيدل اوهلاك کيدل ⑤ اَلْحَكَمِ: فيصله کونکي، ⑥ غُرَابٍ: کارغه. ⑦ حُبَابٍ: دشيطان نوم، دمار نوم، ⑧شِهَابٍ: هغه ستوری چه شيطان پرې ويشتلي کيږی.

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① أَصْرَمُ داد پرې کولو په معنی کښې دې لکه څنګه چه يوه ونه يا فصل پرې کولې شی دابنه نوم نه ووډې په بدله کښې نبي عليه السلام تعميری نوم زرعه کيخودو کوم چه فصل اوپتی ته وائی عاصی عاص نافرمانی او سرکشئی په معنی کښې دې په دې وجه نبي عليه السلام دا بدل کړو.

②وَعَزِيز داد الله تعالی دنومونونه دې عبدالعزيز خو ښه نوم دې ليکن صرف عزيزمناسب نه دې بل دې په معنی کښې تعلی اوزبردستی ده چه د بندګئی د شان خلاف ده.

③وَشَيْطَانٍ، دانوم په دې وجه کيخودل غلط دی ځکه چه شيطان يا د شط نه جوړدې دکوم معنی چه سوزيدل دی اوهلاك کيدل دی يا شيطان د شطن نه وتلې دې دکوم معنی چه د الله تعالی د رحمت نه وتلې شوې اولرې کيدل دی دواړه معني بيکاره دی اوپخپله شيطان بدکرداردې لهذا دانوم بيکاردې.

④وَالْحَكَمِ، دا د الله تعالی د نومونونه دې کله چه نبي عليه السلام ابوالحکم منع کړو نوصرف حکم نوم کيخودل خو په طريقه اولی باندې ناجائزدې.

⑤ وَغُرَابٍ، کارغه ته غراب وائی چه يومکروه مرغئی ده او مرداره هم ده.

⑥وَحُبَابٍ، دشيطان نوم دې اود مارنوم هم دې په دې وجه د نوم په توګه کيخودل ښه نه دی

⑦ وَشِهَابٍ، په شيطان باندې ويشتونکو ستورو ته شهاب ثاقب وائی که ددې اضافت ددين طرف ته اوشی لکه شهاب الدين نوبيا جائزدې.

[۴۷۷۷] د زعموا لفظ خرابه سورلي او د دروغو پُل دې

٤٧٧٧-[٢٦] ()[۱]«وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ[۲]قَالَ لِأَبِي عَبْدِ اللَّهِ- أَوْقَالَ أَبُوعَبْدِ اللَّهِ لِأَبِي مَسْعُودٍ-: [۳]مَا سَمِعْتَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ فِي (زَعَمُوا) [۴]قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -

[۱]) اخرجه البغوی في شرح السنة رقم (۳۳۹۲) واحمد في المسند(۴/۱۱۹)-

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "بِئْسَ مَطِيَّةُ الرَّجُلِ». [٥]رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَقَالَ: إِنَّ أَبَا عَبْدِ اللّٰهِ حُذَيْفَةُ.

ترجمه : [١]او د حضرت ابو مسعود انصاري ﷺ نه روايت دي [٢]چې هغه د حضرت ابوعبد الله ﷺ نه يا حضرت ابوعبد الله د حضرت ابومسعود انصاري ﷺ نه پوښتنه وکړه [٣]چې تاسو د رسول الله ﷺ نه د لفظ زعموا باره کې څه اوريدلي دي [٤]هغه جواب ورکړو هو ما د رسول الله ﷺ نه دا اوريدلي دي چې دالفظ د سړي خرابه سورلي ده [٥]ابوداود دا روايت نقل کړي دي او ويلي يي دي چې ابوعبد الله د حضرت حذيفه بن ايمان ﷺ کنيت دي چې د اوچتي درجي صحابه ؤ ﷺ نه دي

حل اللغات :- ①زَعَمُوا: زعم گمان او خيال ته وائي ②مَطِيَّةُ: سورلي.

تسهيلاتْ:

قوله: يَقُولُ فِي (زَعَمُوا):

د زعموا لفظ استعمال : يعني دَ زعموا چه کوم لفظ دې دادَ انسان يوبدترين سورلی ده اهل لغت ليکلی دی چه دَ زعم لفظ سره کوم قول اوکړې شی داهغه خبرې اوهغه قول ته وائی په کوم کښې چه پوره اعتماد اوتسلی نه وی سره دَدې چه کله کله زعم لفظ دَ يويقيني خبرې دَپاره هم استعمالولې شی ليکن عام قاعده هم دغه ده چه دا لفظ دَ شك اوگمان په موقع باندې استعمالیږی.

د دروغو دپاره د زعموا لفظ استعمال : زيربحث حديث کښې يوصحابی دَبل نه تپوس اوکړو چه آيا تادَ نبي عليه السلام نه دَ لفظ زعموا باره کښې څه اوريدلی دی صحابی جواب ورکړواو ما اوريدلی دی نبي عليه السلام فرمائيل چه دادَ سړی بدترين سورلی ده مطلب دا چه څنګه يو سړې په څه حيله بهانه باندې خپل منزل ته دَ رسيدودَپاره ذرائع استعمالوی دغه شان که يوسړې يوه دروغ خبره خورول غواړی نوهغه دَ يوثبوت يا سند يا څه نوم نه بغير وائی چه دَ خلقو داسې خيال دې خلق داسې وائی داسې وئيلې کيږی دکلام په دې اندازکښې سړې دَ دې لفظ په آړکښې ډيرزيات دروغ وائی اوخوروی ئی

[٤٧٧٨] دَ فعلی شرك په شان دَ قولی شرك نه بچ کيدل هم ضروری دی

٤٧٧٨-[٢٤] ()[١]وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «قَالَ: [٢]" لَا تَقُولُوا: مَا شَاءَ اللّٰهُ وَشَاءَ فُلَانٌ، [٣]وَلَكِنْ قُولُوا: مَا شَاءَ اللّٰهُ ثُمَّ شَاءَ فُلَانٌ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه : [١]او حضرت حذيفه ﷺ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [٢]خلقو داسې مه وايئ چې هغه به کيږي څه چې الله غواړي او فلاني سړي غواړي [ځکه چې د داسې ويلو مطلب اراده او مشيت کې الله او بنده ته برابره درجه ورکول دي هرکله

() اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب لا يقال خبثت نفسي (رقم-٤٩٨٠) واحمد في المسند: ٣٨٤/٥

چې د يو كار كول يانه كول صرف د الله مشيت او مرضي باندې منحصر دي‌ا [۳]البته د ظاهري اسباب او وسائلو پيش نظر انسان طرف ته د ارادي او مشيت نسبت كول منظور وي نو‌ا بيا داسې وايئ چې هغه به كيږي څه چې الله غواړي او بيا فلاني غواړي (يعني په دي صورت كې د خداي جَلَّ مشيت مقدم كيدل او د بنده مشيت د هغه تابع كيدل به مفهوم وي چې صحيح دي (احمد ابوداود)

تسهيلات:

قوله: قَالَ: "لَا تَقُولُوا: مَا شَاءَ اللّٰهُ وَشَاءَ فُلَانٌ:

د ماشاء الله وشاء فلان ويلوممانعت: يعنی دَ مشيت په الفاظوكښې دَالله تعالی مشيت سره دَ بل چا مشيت اورضا نه دی شاملول پكار چه څوك وائی چه الله او رسول څه غواړی هم هغه به كيږی دغه‌شان يوه جمله جوړول او يوځائی كول جائزنه دی بلكه داسې فاصله كول پكاردی چه كله الله تعالی اوغواړی او بيا فلانكې سړې اوغواړی په دې صورت كښې به دَالله تعالی رضامقدمُ وی اودَ سړی رضابه دَهغې تابع شی دا صورت صحيح دې خلق په داسې خبرو كښې ډيرې غلطيانې كوی حالانكه څنګه چه دَ شرك فعلی نه سړې ډډه كوی دغه شان دَ شرك قول نه هم ځان ساتل ضروری دی.

٤٧٧٩ - (١) [۱]وَفِي رِوَايَةٍ مُنْقَطِعًا قَالَ: [۲] "«لَا تَقُولُوا: مَا شَاءَ اللّٰهُ وَشَاءَ مُحَمَّدٌ، [۳]وَقُولُوا: مَا شَاءَ اللّٰهُ وَحْدَهُ» ". رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه : [۱]او په يوه روايت كې (چې د هغه سلسله متصله نه ده) بطريق انقطاع دا الفاظ نقل شوي دي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲]داسې مه وايئ چې هغه به كيږي څه چې الله غواړي او محمد غواړي [۳]بلكې داسې وايئ هغه به كيږي چې تنها الله يې غواړي [كه يې څوك دويم غواړي يانه غواړي] دا روايت بغوي رحمه الله په شرح السنه كې نقل كړي دي.

تسهيلات:

قوله: وَقُولُوا: مَا شَاءَ اللّٰهُ وَحْدَهُ:

يعنی كه دوئم كس ئې غواړی او كه نه خو هغه به كيږی چې الله اوغواړی د دې اعتبار نه پورته روايت ماشاء الله ثم شاء،فلان جواز ثابتيږي او په دې روايت كې تضاد نه واقع كيږي

[٤٧٨٠] منافق ته سيد (سردار) مه وايئ

٤٧٨٠-[٢٨] (٢) [۱]وَعَنْهُ، «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ[۲]: "لَا تَقُولُوا لِلْمُنَافِقِ سَيِّدٌ، [۳]فَإِنَّهُ إِنْ يَكُ سَيِّدًا فَقَدْ أَسْخَطْتُمْ رَبَّكُمْ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

١) اخرجه البغوي في شرح السنة (٢٦١/١٢) والدارمي رقم ٢٦٩٩) واحمد في المسند (٢٨٩/٤).
٢) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأدب/باب لا يقول المملوک ربی وربتی (رقم-٤٩٧٧) واحمد فی المسند: ٢٤/٤

ترجمه : [۱]او حضرت حذیفه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل منافق ته سید (سردار) مه وایئ [یعنی سردار او آقامه وایي] [۲]ځکه که هغه سید وي (او تاسو هغه ته سید اووئیلو) نو تاسو خپل پروردګار ناراضه کې (ابوداؤد)

حل اللغات :- ①سَیِّدٌ: سردار ،آقا ②أَسْخَطْتُمْ: ناراضه کړو تاسو ،

تسهیلات:

قوله :فَإِنَّهُ إِنْ يَكُ سَيِّدًا فَقَدْ أَسْخَطْتُمْ رَبَّكُمْ:

منافق ته د سردار وئیلو د ممانعت وجه: سردار اوآقا ته سید وائی منافق چونکه دالله تعالی دَ دین او مسلمانانو دښمن وی په ژپه که ئی هرڅه وی خو په قلبی توګه اسلام سره دښمنی لری نو داسې دَالله تعالی دښمن دَ سید او آقا دَ احترام په الفاظوسره یادول جائزنه دی الله تعالی منافقان دَ ذلت خورائی رسوایئی اوبربادئی په الفاظوسره یادکړی دی دَدې باوجودکه یو سړي دَ منافق سړی داسې تعریف اوصفت کوی نوهغه دَالله تعالی کلام دروغ ګڼړی په کوم سره چه الله تعالی ناراضه کیږی.

د فاسقانوفاجرانوحکمرانانو خوشامدې کول:که یوسړې واقعةً دَ خپل خاندان سردار دې یا دَ ملك مشر دې بیاهم هغه ته سردار اوآقا نه دی وئیل پکار ځکه چه هغه په دغه ښکلی الفاظوسره دَ یادولو اهل نه دې نن صبا دَ مسلمانانودَمنافقانو حکمرانانو په تعریف کښې چه کوم خوشامدی خلق دَهغوی مدحې اوقصیدې وائی هغوی له پکاردی چه دې نه منع شی اوخپل رب دې ناراضه کوی نه ګنی دآخرت دَعذاب دَپاره دې تیارشی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۷۸۱]دَبد نوم بد اثر پریوځی

۴۷۸۱-[۲۹]()[۱]«وَعَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ شَيْبَةَ، قَالَ[۲]: جَلَسْتُ إِلَى سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، فَحَدَّثَنِي أَنَّ جَدَّهُ حَزْنًا قَدِمَ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ[۳]: " مَا اسْمُكَ؟ " قَالَ: اسْمِي حَزْنٌ، [۴]قَالَ: " بَلْ أَنْتَ سَهْلٌ "[۵]قَالَ: مَا أَنَا بِمُغَيِّرٍ اسْمًا سَمَّانِيهِ أَبِي. [۶]قَالَ ابْنُ الْمُسَيَّبِ: فَمَا زَالَتْ فِينَا الْحُزُونَةُ بَعْدُ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : [۱]حضرت عبد الحمید ابن جبیر ابن شیبه رحمه الله وایي [۲]چې یوه ورځ زه د حضرت سعید ابن مسیب رحمه الله په خدمت کې حاضروم هغه ماته داحدیث بیان کې چې ځما نیکه چې د هغه نوم حزن وو د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو [۳]حضور ﷺ پوښتنه ترینه وکړه ستا نوم څه دي؟ هغه اوویل ځمانوم حزن دي [۴]په دي اوریدو سره حضور ﷺ ورته وفرمایل حزن څه ښه نوم نه دي بلکي زه ستا نوم سهل ایږدم [۵]ځما نیکه اوویل ځما

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب تحویل الاسم إلی اسم أحسن منه (رقم-۶۱۹۳) وابوداود فی کتاب الأدب/باب فی تغییر الاسم القبیح(رقم-۴۹۵۶)واحمد فی المسند:۴۳۳/۵

پلار چې کوم نوم ایښي دي هغه زه اوس بدلولي نشم [٦] حضرت سعید رحمه الله وفرمایل: هغه وخت نه پس تر اوسه پورې زمونږ په خاندان کې همیشه سختي وي. (بخاري)

حل اللغات: - ① حَزْنٌ: غم. تکلیف. سختي ② سَهْلٌ: آساني.

تسهيلات:

قوله: قَالَ: "بَلْ أَنْتَ سَهْلٌ".

د نوم اثر په مسمی کښې: دا نوې مسلمان صحابی وو کیدې شی چه د نبي علیه السلام کلام ئی د حکم په ځائی اختیاری ګنړلې وو اونوم بدلول ئی خوښ نه کړل لیکن د نوم ترجمه چونکه سختی او مصیبت وو په دې وجه دې نوم اثر د هغه په خاندان باندې پروت وو اوهمیشه د حکمرانانو د طرف نه د مصیبتونو اوتکلیفونو ښکار پاتې شو حضرت سعید بن المسیب جلیل القدر تابعی دې دې افسوس کوی چه کاش زما نیکه د نبي علیه السلام خودلې شوې نوم سهل خپل کړې وې نوزمونږ په خاندان باندې به هم نرمی اوسهولت وې ځکه چه د ښه او بد نوم اثر ضرور پریوځی حزن سخت اومشکل کانړیزې زمکې ته وائی اوسهل نرم مئين اوهوارې زمکې ته وائی.

[۴۷۸۴] ښه اوښکلې نومونه

> ۴۷۸۴-[۳۰] (١) [١] وَعَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجُشَمِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "تَسَمَّوْا أَسْمَاءَ الْأَنْبِيَاءِ، وَأَحَبُّ الْأَسْمَاءِ إِلَى اللَّهِ: عَبْدُ اللَّهِ وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ، [٣] وَأَصْدَقُهَا حَارِثٌ وَهَمَّامٌ، [٤] وَأَقْبَحُهَا حَرْبٌ وَمُرَّةُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت ابو وهب جشمي رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [٢] د انبیاوو په نومونو خپل نومونه ایږدئ او د خداي تعالی په نزد بهترین نوم عبد الله او عبد الرحمن (او دغه شان عبد الرحیم او عبد الکریم وغیره دي) [٣] او زیات رینښتیني نوم حارث او همّام دي [٤] او د ټولو نه خراب نومونه حَرب او مُرّه دي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① حَارِثٌ: زمیندار. کارکسب کونکې. ② هَمَّامٌ: غم او فکرکونکې. ③ حَرْبٌ: جنګ. ④ مُرَّةٌ: تریخ.

تسهيلات:

قوله: تَسَمَّوْا أَسْمَاءَ الْأَنْبِيَاءِ.

د پیغمرانو د نومونو کیخودلو استحسان: یعنی د انبیاءکرامو په نومونوباندې خپل نومونه ایږدئی په دې کښې پته اشاره کیدې شی چه د فرښتو په نومونوباندې خپل نومونه مه ایږدئی. په دې حدیث کښې داخودلې شوی دی چه د جاهلیت د زمانې په طرز

---

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/بابٌ في تغيير الأسماء (رقم-٤٩٥٠) واحمد في المسند: ٣٤٥/٤

باندې بد او ویرونکی نومونه مه ایږدئی لکه حرب یا مره شو مره تریخ اوتریوته وائی دَ ابلیس کنیت هم ابومره دې اوحرب جنگ ته وائی دَ جاهلیت په زمانه کښې به حمار، کلب، عبدالشمس وغیره نومونه هم کیخودې شو داهم قبیح نومونه دی

قوله: وَأَصْدَقُهَا حَارِثٌ وَهَمَّامٌ دَ زمیندارئی کسب اوګټې دپاره دَحارث لفظ استعمالیږی اوس دَ دنیا هرسړې په کسب اوګټه کښې مشغول دې په دې وجه دا ربښتونې نوم دې دغه شان همام اهتمام او قصد او ارادې ته وائی اوهرسړې په څه نه څه اهتمام. قصد اوارادې کښې اخته دې په دې وجه داهم ربښتونې نوم دې

[۹] بَابُ الْبَيَانِ وَالشِّعْرِ

دَ وعظ او تقریر او دَ شعر بیان

خلاصة الباب:

فيه سبعة وعشرون حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① ذم بعض البيان : ۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰-

② مدح بعض البيان : ۱، ۲۰، ۲۱-

③ مدح تنشيد بعض الشعر: ۲، ۴، ۵، ۲۱، ۲۲-

④ ذم تنشيد بعض الشعر:۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰ -

④ الترغيب في تنشيد بعض الشعر: ۷، ۸، ۹، ۱۳-

⑤ تكلم النبي في بالكلام الموزون: ۶، ۱۰، ۱۱-

⑥ ذم بعض الشعر: ۱۲،۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۷-

⑦ النهي عن إنشاد الشعر بالصوت الحسن عند الوقوع في الفتنة: ۲۳-

د لفظ البیان تحقیق:

دبیان لغوی معنی: بیان په لغت کښې وضاحت او دَ مقصود اظهار ته وائی بنایه کښې لیکلی دی چه خپل مقصود په ډیر فصاحت اوبلاغت سره اودَ زړه په زور والی او صفایئی سره پیش کولونوم بیان دې وئیلی شی "فلان أبين من فلان" یعنی دَ فلانکی سړی نه فلانکې سړې دَ خپل مافی الضمیر اظهار په بهترینه طریقه سره کوی اوښه بیان کوی.

د شعر لغوی معنی: په لغت کښې فهم او ذکاوت او هوښیارتوب او دانائیی ته شعر وائی لکه چه دا دَ شعور نه جوړشوې دې کوم چه دَعلم اوفهم په معنی کښې دې

دشعراصطلاحی تعریف: "الشعر هو كلام مقفىً موزون عن قصدٍ" یعنی په قصد او ارادې سره دَ

مقفی اوډ موزون کلام پیش کولونوم شعر دې

په تعریف دعن قصد وضاحت: په دې تعریف کښې ډ قصد اوارادې لفظ قید احترازی دې دې سره هغه موزون کلام خارج شو دکوم ډ وزن چه اراده نه وی کړې شوې لکه چه په قرآن اوحدیث کښې موزون کلام وی دا ددې باوجود چه موزون دې لیکن ددې ډ وزن قصد او اراده نه ده کړې شوې اونه وزن مقصود دې

بل ډ قرآن اوحدیث داموزون کلام ډ شعر ډ قوافی ډ اصولو مطابق هم نه وی اونه داډ شعر ډ قوافی مطابق دې دغه شان په حدیث کښې موزون دعاګانې دی هغه ډ شعر ډ تعریف نه خارج دی ځکه چه ډهغې وزن ډ قصد اوارادې لاندې نه دی

حضور پاک صلی الله علیه وسلم لره د شعر او شاعری نه د لری ساتلو حکمت:

نبي علیه السلام ﷺ الله تعالی ډ شعر اوشاعرئی نه لرې اوساتلو دې دپاره چه څوك دا شك اونه کړی چه دشاعرئی په زور باندې ده په دې نوی طرز باندې داکلام ایجاد کړې دې چنانچه نبي علیه السلام په شعر جوړولوباندې نه پوهیدو بلکه بعضې وخت به ئی په وئیلو کښې هم وراندې روستو کیدو اوډ اصولو اوقواعدو مطابق ئی شعر نه شو وئیلې خو که بغیرډ قصد او اراده ئی کله چرته ډ چا شعر وئیلې وی نوهغې ته شاعری نه شی وئیلې کیدې خلاصه دا چه نبي علیه السلام ﷺ چه په کوم کلام سره ډ عربو ډ فصحاؤ مقابله اوکړه هغه ډ الله تعالی کلام دې اوډ نبي علیه السلام لویه معجزه ده کوم ته چه قرآن وائی

د شعروئیلو حکم:

ډ شریعت په رڼړا کښې دشعر داحکم دې چه دا یو کلام دې که چرې ښه کلام وې نو ښه دې اوکه چرې خراب دې نو بیا خراب دې

درې مشهور صحابه شاعران: ① حضرت حسان بن ثابت رضي الله عنه

② حضرت کعب بن مالك رضي الله عنه

③ حضرت عبدالله بن رواحه رضي الله عنه

په عربو کښې درې لوئی شاعران:

ډ تخلیق آدم علیه السلام نه واخله تر ننه پورې درې لوئی شاعران تیرشوی دی

① امرألقیس چې په مشهور سبعه معلقات کښې ئې یوه معلقه ده

② طرفة بن العبد ځوان کم عمره چه ډ شلو کالو په عمر کښې قتل کړې شو

③ لبید بن ربیعه عامری دحضرت لبید عمر ۱۲۰ کاله وو ۶۰ کاله په کفر کښې پاتې شوې دې او ۶۰ کاله ئی په اسلام کښې تیرکړی دی

دَ موسیقۍ کولو اودَ هغې د اوریدلو شرعی حکم:

په دې آیاتونو کښې دَ موسیقۍ اوگانوبجانو دَحرمت په واضحه توگه ذکرکړې شوې دې دې مسئلې ته مسئلة الغناء وائی دَ ډیرو احادیثو اومذکوره آیاتونو دَ وجې نه دې مسئلې ډیرزیات اهمیت اختیارکړې دې اودَعلماؤ او فقهاؤ په نیز دا یومعرکة الآراء مسئله جوړه شوې ده علماء کرامو دَدې متعلق مستقل کتابونه لیکلی دی او په تولوړو او لویو کتابونو کښې ئې دې ته اهم مقام ورکړې دې "کف الرعاع فی مسئلة الغناء" دَابن حجر هیثمی یومشهور تصنیف دې په کوم کښې چه دا مسئله په ډیر تفصیل سره بیان کړې شوې ده.

مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانامفتی محمدشفیع رحمه الله په خپل عربی تفسیر تفسیر أحکام القرآن کښې موسیقی اوغنا او سماع باندې پوره کلام کړې دې دغه شان عوارف المعارف او نوروکتابونوکښې علماؤ دا مسئله ښه واضحه کړې ده چونکه بعضې ناپوهه خلقو په بعضو روایاتوسره دَ موسیقی دَجائز کولو کوشش کړې ده په دې وجه دَعلماؤ په نیز دَغناء مسئله دَ بحث محل جوړشوې دې اوچونکه نن صبا دا وبا عام شوې ده نودَعاموخلقو په ذهن کښې داخبره پرته ده یاچولې شوې ده چه موسیقی اوغناء خو یو تفریح ده دَدې دَحرام کیدو سره هډو څه تعلق نشته دې.

د موسیقۍ په جواز اوعدم جواز کښې دوه مذاهب:

① د بعضې پیرانو او اهل هوی په نیزموسیقی جائز ده.

② دجمهورو علماء کرامو په نیزموسیقی حرامه او ناجائز ده.

داول فریق دلیل:

داول فریق اول دلیل: ① ﴿وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ﴾ [سورة مائده: ۸۳]

دوی د دې آیت څخه استدلال کوی چه گورئی قرآن ئې واؤریدو نو وئې ژړل او خلق دَ غناء په اوریدو سره هم ژاړی اهل سماع هم دَدې آیت نه دَ سماع په اباحت باندې استدلال کړې دې.

داول فریق داول دلیل جواب: دَ غناءِ دَ اثبات دَپاره دَدې آیت نه استدلال تحریف فی القرآن دې کوم چه حرام دې دلته دَ گانې اوریدو خبره نه ده بلکه دَ حق اوریدو خبره ده باقی دَ سماع خبره وراندې راځی.

داول فریق دویم دلیل ② ﴿تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ﴾ [سورة زمرد:-۲۳] دوی د دې آیت څخه استدلال کوی.

داول فريق د دويم دليل جواب: دا هم په قرآن کښې تحريف دې اودا دَ دغه خلقو ښکاره گمراهي ده دلته ئې دَ گاني اوريدو اثر نه دې خودلې دلته خودَ قرآن اوريدو اثر خودلې شوې دې البته دَ سماع والا ددې نه استدلال کوى چه دَهغې بحث راروان دې

داول فريق دريم دليل: ③ ﴿قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللّٰهِ الخ﴾ [سورة الاعراف: ۳۲]

دوى د دې آيت څخه استدلال کوى اودا وائى چې دلته د زينت څخه موسيقى مراد ده

د اول فريق د دريم دليل جواب: دَ دوى دا استدلال هم غلط دې ځکه چه دَ زينت نه باجې او دوړې مراد نه دى اونه يومفسر داسې تفسير کړې دې نه په حديث کښې څه موجود دى.

د اول فريق څلورم دليل: دَنبي عليه السلام ﷺ په موجودگئى کښې حضرت عائشه رضي الله عنها په کور کښې دوو ماشومانو جينکو گانا وئيله صديق اکبر رضي الله عنه منع کړه نونبي عليه السلام اوفرمائيل «دعهما يا ابابكر فانها ايام عيد» دوى دا وائى چې دلته دوو جينکو گانې وئيلې نبى عليه السلام ورته اجازت ورکړو.

داول فريق د څلورم دليل جواب: دا استدلال کول هم غلط دى ځکه چه دلته دَ ساده شعرونو وئيلو خبره ده. وړې جينکئى دى په دې باندې دَ دوړو او بين باجو دَ گانو قياس کول اودَ بالغ ښځو ډانس دَپاره استدلال کول حماقت دې.

داول فريق پنځم دليل: يوځل جبرائيل امين نبي عليه السلام له راغلو او وئى فرمائيل چه يارسول الله! ستاسو دَ امت فقراء به دَ اغنياؤ نه پنځه سوه کاله مخکښې جنت ته ځى په دې باندې نبي عليه السلام ډير خوشحال شو اووئى فرمائيل څوك گانې والا شته؟ يوباندچى اووئيل چه زه گانا وايم هغه دا شعر اووئيل:

قد لسعت حية الهوي كبدي — فلا طبيب له ولا راقي
إلا الحبيب الذي شغفت به — فعنده رقيتي وترياقي

په دې شعر باندې نبي عليه السلام او صحابه کرام په وجد کښې راغلل دَنبي عليه السلام څادر دَ اوږونه راکوز شو نبي عليه السلام دغه څادر اوشلولو اوځلور سوه ټکړې ئې کړو او صحابه کرامو باندې ئې تقسيم کړو.

داول فريق د پنځم دليل جواب:

داول فريق د پنځم دليل جواب: "كف الرعاع في مسئلة الغناء" دَابن حجر هيمتى رحمه الله او عوارف المعارف کښې دَدې مؤلف داقصه ليکلې ده اوبيائى په دې باندې رد کړې دې چه دَدې قصې نه غنا ثابتول فضول دى. البته دَ سماع والا دا ډيرمخکښې مخکښې کوى اوخوشحاليږى. اوس راشئى او دَ سماع متعلق څه اوگورئى. دلته دَ سماع نه مراد سماع موتى نه ده بلکه دَ ژوندې مدهوش اودَجوش نه ډك دَمست قلندرانودَ محفل سماع مراد

ده چه پخوانئی زمانه کښې زیات وو اونن هم دَدوی وجود دَ اهل بدعت سره ملاویږی په کوم چه دَ قوالئی اطلاق زیات مشهور اومعروف دې.

د دويم فريق دلائل :

د قرآن پاک په رڼړا کښې د موسيقۍ حرمت :

① دَ سورة لقمان آيت کښې ﴿لَهْوَالْحَدِيْثِ﴾لفظ راغلې دې دا لفظ سره دَدې چه بې هوده کلام او قصو دَپاره وئیلې کیږی لیکن فتاوىٰ حمادیه اوعوارف المعارف کښې لیکلی دی چه حضرت ابن عباس او حضرت ابن مسعود رضي الله عنهما دواړو قسم خوړلو سره فرمائیلی دی چه ﴿لَهْوَالْحَدِيْثِ﴾ نه غناء او باجې مراد دی.

② دغه شان دَ سورت نجم په آخره کښې ﴿وَأَنتُمْ سَامِدُوْنَ۝﴾ آيت تفسير په "انتم مغنون" سره کړې شوې دې يعنى تاسو بې هوده ګانې وايئې.

د احاديثو په رڼړا کښې د موسيقۍ حرمت :

① په مشکاة کښې دَحضرت ابوامامه رضي الله عنه د حديث څخه د موسيقۍ حرمت معلوميږی (مشکاة ص: ۴۱۰)

② په مشکاة کښې دَحضرت ابوهريره رضي الله عنه د حديث څخه د موسيقۍ حرمت معلوميږی. (مشکوة شريف ص: ۴۰۹)

③ په مشکاة کښې دَحضرت جابر رضي الله عنه د حديث څخه د موسيقۍ حرمت معلوميږی. (مشکاة ص: ۴۱۱)

④ په مشکاة کښې دَحضرت ابوسعيد خدری رضي الله عنه د حديث څخه د موسيقۍ حرمت معلوميږی. (مشکاة ص: ۴۱۱)

⑤ په يوحديث کښې رسول الله ﷺ فرمائيلی دی چه ما تاسو دَ دوو فاسق آوازونو او دوو احمق آوازونو نه منع کړی يئی يو په مړی باندې دَ وير ژړا کولو دَ آواز نه او بل دَ غناء دآواز نه.

⑥ په مشکاة کښې دَحضرت ابن عمر رضي الله عنهما د حديث څخه د موسيقۍ حرمت معلوميږی. (مشکاة ص: ۴۱۱)

⑦ يوحديث کښې دی چه هم ابليس هغه ړومبې سړې دې چاچه ګانا وئيلې ده او وير ئی کړې دې.

⑧ يوحديث کښې دی چه کله يو سړې ګانا وائی اودَهغه آواز اوچتيږی نو الله تعالی دَهغه طرف ته دوه شيطانان ورليګی. يو شيطان دَهغه په يوه اوږه باندې او بل شيطان په بله اوږه باندې کينی او مسلسل ئی په خپلو خپو باندې وهلو سره دغه سړی ته شاباش

ورکوی تردي چه هغه سرې د دغه ګاني نه پخپله منع شي

⑨ په يو حديث کښې دی چه «الغناء حرام في الأديان كلها» يعنی په ټولو دينونو کښې ګاني بجاني حرام دی

⑩ يو حديث کښې دی چه ګانا اوريدل حرام دی او دې نه خوند اخستل کفر (کفران نعمت) دي او د دې د پاره راجمع کيدل ګناه او فتنه ده

د صحابو د اقوالو په رڼرا کښې د موسيقۍ حرمت:

① حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه فرمائی "الغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء البقل" يعنی موسيقی په زړه کښې داسې نفاق پيدا کوی لکه څنګه چې په اوبو سره سبزی راټوکيږی

② حضرت عثمان رضي الله عنه فرمائی "ما تغنيت ولا تمنيت ولا مسست ذكري بيميني منذ بايعت رسول الله صلى الله عليه وسلم" يعنی ما نه ګانا وئيلې ده او نه مې د دې خواهش کړې او دکله نه چه مې د نبي عليه السلام نه بيعت کړې دې په خپل ښی لاس سره مې ذکر نه دې مسحه کړې.

د تابعينو د اقوالو په رڼرا کښې د موسيقۍ حرمت:

① د بعضې تابعينو طرف ته منسوب دی فرمائی "إياكم والغناء فإنه يزيد الشهوة ويهدم المروءة"

② فضيل بن عياض رحمه الله فرمائی "الغناء رقية الزنا" موسيقی د زنا دم درها ده.

③ علامه ضحاك رحمه الله فرمائی "الغناء مفسدة للقلب مسخطة للرب" موسيقی زړه خرابوی او رب کريم غصه کوی

د فقهاء کرامو د اقوالو په رڼرا کښې د موسيقۍ حرمت:

① امام مالك رحمه الله فرمائی چه که څرته چا وينځه واخستله او هغه مغنيه ښکاره شوه نو دا په دغه سودا کښې عيب دې داسې سودا فسخ کولې شي.

② امام ابو حنيفه رحمه الله هم د غناء د حرمت قائل دې فرمائی زه يو ځل په دې مصيبت کښې راګير شوې وم نو ما صبر اوکړو ليکن چه کله زه مقتدیٰ جوړ شوم او بيا راګير شوم نو د مجلس نه پاسيدم لاړم. واضح دې وی چه ابتلا د حرام د وجې نه کيږی لهذا په دې کلام کښې د غناء د حرمت طرف ته اشاره ده.

③ امام شافعی رحمه الله فرمائی چه کوم سرې زياتې ګانې وائی هغه احمق بې وقوف او مردود الشهادة دې.

بهرحال دا ټول دلائل د غناء په حرمت باندې موجود دی لهذا د دې په حرمت کښې د چا هيڅ اختلاف نه شی کيدې او خواهش پرستی يو بيل څيز دې.

د غناء او سرو حرمت:

دَ غناء حرمت اتفاقي مسئله ده په دې کښې دَ اختلاف ګنجائش نشته دې اونه دَدې اختلاف څه شرعي حيثيت شته څه خلقو ته په بعضې نصوصو کښې شك شوې دې يا دَ فساد باطن دَ وجې نه هغوی دَ نصوصو غلط مطلب بيان کړې دې دا زه څکه دلته ذکرکول غوارم چه يوخواهش پرست سړې عامو خلقو ته دهوکه ورنه کړې شي ګني دلته نه څه دليل شته اونه څه استدلال

د پخوانئ زمانې د محفل سماع په جواز اوعدم جواز کښې دوه مذاهب:

① دَاهل تصوف يومختصرطبقه دَيوڅو شرطونو نه پس دَسماع قائل دی هغه شرطونه دادی.

② جمهور علماء فقهاء اوصلحاء دَ امت مطلقًا دَسماع انکارکوی او په دې باندې ردکوی

د اهل تصوف په نيزد سماع دجواز دپاره شرطونه:

① کله چه بې ږيرې هلکانوسره ګډوډوالې نه وی اونه په هغوی باندې شعرونه وائی
② کله چه صرف وجد اوجوش پيداکونکی اشعار وی.
③ دَ هيڅ قسم دوپړئی باجې ورسره نه وی.
④ په دغه محفل کښې دَ ښځې ذات بالکل وجودنه وی.
⑤ دَ آخرت دَ ياد اودَ حبيب دَ تذکرې دَپاره وی او په هغې کښې قبيح اشعارنه وی
⑥ په اجرت باندې محفل سماع جوړ شوې نه وی اونه ويونکی اجرت اخستونکی وی
⑦ اوريدونکی رياکار نه وی نه ئی دنياوی اغراض وی اونه ئی نيت خراب وی

په تنهائي کښې د وحشت لرې کولودپاره داشعارو وئيلو حکم: مفتی محمد شفيع رحمه الله په احکام القرآن کښې ليکلی دی که يوسړې په ځان له ځائی کښې دَ وحشت اوويرې لرې کولودَ پاره اشعار وائی نوداجائز دی خوشرط دادې چه دې سره دوپړئی او سازونه نه وی سوچ کونکی له سوچ پکاردې چه دَ دغه پورتنو شرائطو وجود په يومحفل سماع کښې تقريبًا ناممکن دې نوسماع ته څنګه جائز وئيلی شی؟

دموجوده قوالۍ حکم: نن صبا خو دَ الله تعالی ذکر سره په تې وی کښې ميوزك شامل دې په هره قوالئی کښې ډهول سرنو سره مجلس ګرمولې شی چرته هغه صالح سماع او چرته دا دَ نن صبا خرافات؟ او نن صباچه کوم نظمونه په جلسو وغيره کښې وئيلی شی کيدې شی چه دَدې نه بعضې مجالس په دغه شرائطو باندې پوره خيژی اوهغه جائز وی.

دسماع باره کښې د شيخ جنيدبغدادی قول: دَ سيد الطائفه شيخ جنيد بغدادی رحمه الله قول

دي فرمائی د سماع ناقص ته اجازت نشته کامل ته ئې ضرورت نشته. دا خبره هم په ذهن کښې ساتل پکار ده چه یو نفس آماره په وجد کښې راځي او خوشحالیږي او کله روح په وجد کښې راځي خلق د روح او د نفس په وجد کښې فرق نه شي کولې مزه خو نفس آماره اخلي کوم چه شهوانیت دې او دا گنړي چه دا د انسان روحانیت دې

د شیخ سعدی د سماع د محفل څخه د منع کیدو قصه: د سماع د اوریدو باره کښې سعدي بابا رحمه الله په خپل کتاب گلستان کښې خپله قصه لیکلې ده چه زه به د سماع په محفلونو کښې شاملیدم زما استاذ ابو الفرج ابن جوزی رحمه الله زه بار بار منع کړم لیکن زه منع نه شوم یو ځل یوه شپه په یو محفل کښې د شرکت د پاره لاړم چنانچه ټوله شپه د یو مکروه آواز والا سړی به محفل کښې اشعار وئیل خلق پریشان وو زه هم پریشان ووم مونږ د سحر کیدو تمنا کوله چه د دغه مصیبت نه مو ځان خلاص شي سحر کیدو سره ما خپل پټکې د دغه گانې ویونکی په سرباندې کیخودو او هغه مې بنکل کړو او لاړم زما دوستانو زه ملامت کړم چه دومره لوئی سړې ئې دا تاخه حرکت او کړو خپل پټکې دې یو ډم له ورکړو ما وئیل چپ شئ دې سړی ماته ډیره فائده اورسوله زه د خپل استاذ په منع کولو سره د محفل سماع نه منع نه شوم لیکن دې ډم شکل او صورت او خراب آواز زه د همیشه د پاره د سماع نه متنفر کړم. دا زما لوئی استاذ جوړ شو په دې وجه مې ورته پټکې په سر کړو.

د دوه انگریزانو د وجد قصه: حکیم الامت حضرت تهانوی رحمه الله په خپل ملفوظاتو کښې یوه قصه لیکلې ده چه یو ځل په هندوستان کښې په یو محفل سماع کښې دوه انگریزان راغله کیناستل په سماع کښې په هغوی ډیر وجد راغلو خلقو وئیل چه واه واه د سماع به څه وایئ په انگریزباندې ئې هم اثر او کړو. کله چه حضرت تهانوی رحمه الله ته معلومه شوه نو وئې فرمائیل د هغوی نفس ته وجد راتلو روح ته نه دا شهوانیت وو نه روحانیت بیا هغوی او فرمائیل چه گورئ کله د مار په مخکښې بین غږولې شي نو هغه څومره خوشحالیږي او ټوپونه وهي دا د هغه روحانیت نه دې بلکه نفسانیت دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۷۸۳] بعضې تقریر او بیان د سحر پشان اثر لري

۴۷۸۳ - (۱)[۱] ۝۱ «عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - ۝۲ قَالَ: قَدِمَ رَجُلَانِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَخَطَبَا، فَعَجِبَ النَّاسُ لِبَيَانِهِمَا، ۝۳ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا"». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الطب/باب: إن من البيان سحراً (رقم-۵۷۶۷) وابوداود في كتاب الأدب/باب ما جاء في الشعر (رقم-۵۰۱۱) والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ماجاء في إن من البيان سحراً (رقم-۲۰۲۸) ومالک في الموطا كتاب الكلام/باب مايكره من الكلام بغير ذكر الله (رقم-۷) واحمد في المسند: ۲۶۳/۴

ترجمه : [۱] حضرت ابن عمر ﷛ وايي [۲] چې يوه ورځ د مشرقي علاقي نه دوه سړي راغلل او خپلو کې ئې فصاحت او بلاغت سره خبري کول يې شروع کړلې خلقو چې د هغوئ خبري واوريدي نو د هغوئ فصيح او بليغ خبرو باندې د حيرت او تعجب اظهاريې وکړو [۳] رسول الله ﷺ وفرمايل بلا شبه بعضې بيان د سحر اثر لري (بخاري)

حل اللغات : ① لسحرا: يعنى بعضې بيان زړه د ځان طرف ته راکخلو کښې د جادو په شان اثر لري.

تسهيلات:

قوله : قَالَ: قَدِمَ رَجُلَانِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَخَطَبَا:

د حديث پس منظر : دا دَهغه وخت قصه ده چه کله دَمشرقى علاقې نه دَبنوتميم يو وفد دَرسول الله ﷺ دربارته راغلو. په دغه وفد کښې دوه فصيح اوبليغ سړى راغلې وو دَ يونوم زبرقان وو اودَ بل نوم عمرو بن هتَم وو. دَ نبي عليه السلام په مجلس کښې دَ صحابه کرامو په ډکه مجمع کښې زبرقان په ډير فصاحت اوبلاغت سره خپل مفاخراوماثر په ډير مؤثر انداز سره پيش کړل اوبيائى اووئيل يا رسول الله ﷺ دا عمرو بن هتَم هم زما بيان کړې شوې خوبيانې پيژنى چه زه څنګه سړې يم او زما څه کارنامې دى. دې نه پس عمرو بن هتم پاسيدو اوهغه دَ زبرقان بيان کړې شوې تولې کارنامې دروغ ثابتې کړې اووئى وئيل په دې سړى کښې هيڅ خوبى نشته دې. دَعمرو دَ بيان انداز هم ډير مؤثر او موزون وو په کوم سره چه خلق دَ زبرقان متعلق په شك کښې پريوتل. دې نه پس زبرقان بيا پاسيدو او په ډير زړه راښکونکې انداز کښې اووئيل چه دَدې سړى زړه پيژنى چه زه څنګه سړې يم ليکن حسد دې په داسې وينا کولوباندې مجبورکړو. دَ صحابه کرامو مجمع چه دَدې دواړو بيانونه واوريدل نودواړولـه ئى شاباش ورکړو اوحيران شو اوتعجب ئى اوکړو. په دې باندې نبي عليه السلام اوفرمائيل

دا دَهغه وخت قصه ده چه کله دَمشرقى علاقې نه دَبنوتميم يو وفد دَرسول الله ﷺ دربارته راغلو. په دغه وفد کښې دوه فصيح اوبليغ سړى راغلې وو دَ يونوم زبرقان وو اودَ بل نوم عمرو بن هتَم وو. دَ نبي عليه السلام په مجلس کښې دَ صحابه کرامو په ډکه مجمع کښې زبرقان په ډير فصاحت اوبلاغت سره خپل مفاخراوماثر په ډير مؤثر انداز سره پيش کړل اوبيائى اووئيل يا رسول الله ﷺ دا عمرو بن هتَم هم زما بيان کړې شوې خوبيانې پيژنى چه زه څنګه سړې يم او زما څه کارنامې دى. دې نه پس عمرو بن هتم پاسيدو اوهغه دَ زبرقان بيان کړې شوې تولې کارنامې دروغ ثابتې کړې اووئى وئيل په دې سړى کښې هيڅ خوبى نشته دې. دَعمرو دَ بيان انداز هم ډير مؤثر او موزون وو په کوم سره چه خلق دَ زبرقان متعلق په شك کښې پريوتل. دې نه پس زبرقان بيا پاسيدو او په ډير زړه راښکونکې انداز کښې اووئيل چه دَدې سړى زړه پيژنى چه زه څنګه سړې يم ليکن حسد

دي په داسې وينا كولو باندې مجبور كړو دَ صحابه كرامو مجمع چه دَدې دواړو بيانونه واوريدل نودواړوله ئې شاباش وركړو اوحيران شو اوتعجب ئې اوكړو په دې باندې نبي عليه السلام دا مذكوره جمله اوفرمائيله

قوله: إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ لَسِحْرًا:

د بيان سحر سره د تشبيه وجه: يعنى بعضې بيان زړونه مائل كولو كښې دَ جادو په شان اثر لرى بعضې محدثينودَ نبي عليه السلام دا كلام دَ بيان په مذمت باندې حمل كړې دې لكه چه نبي عليه السلام داسې وئيل غواړى چه تكلف كولوسره خلق خپل طرف ته مائل كول اوخله وازولوسره عجيبه كلام پيش كول اوخله چلولو سره دَ فصاحت اوبلاغت په سكنجو كښې خلق راګيرول دَ اوورى دَدانې نه غرونه جوړول اودَخبرې نه باتينګړ جوړول حقيرشئ عظيم خودل اوعظيم حقير كول دا ښه كارنه دې بلكه دادَ خالص جادو په شان مدارى توب دې كوم چه قابل نفرت دې ليكن بعضې نورو محدثينوحضراتو دَ نبي عليه السلام داكلام اوتقرير اوبيان په مدح باندې حمل كړې دې چه په ښه اندز اوښه طريقه باندې خپل مافى الضمير دَنورو په مخكښې وړاندې كول اوخلق متاثر كول په ښه طريقې سره خبره پيش كول ډير زيات اثر لرى چه ښكلې اودَ تعريف قابل دې.

[۴۷۸۴]بعضې اشعار د حکمت اودانايئ نه ډکوى

۴۷۸۴-()[۲] [۱] وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةً»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابي ابن كعب ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] بعضې شعر د حكمت حامل وي. (بخاري)

تسهيلات:

قوله: إِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حِكْمَةً:

د حكمة دوه مطلبونه: يعنى بعضې اشعار دَ حكمت نه ډك وى په هغې كښې دَ حق خبره وى اوهغه په صداقت او هوښيارتوب باندې مبنى وى. بعضې شارحينو دلته حكمت دَ نفع په معنى كښې اخستې دې يعنى بعضې شعرونه داسې فائده وركونكى وى چه انسان دِ جهالت اوبې وقوفتيانه منع ساتى اود غلطو كارونونه ئې بندوى. دا په عام توګه دَ شاعرانو هغه شعرونه وى په كوم كښې چه مواعظ مثالونه اودَ هوښيارتوب خبرې وى. حقيقت دادې چه شعرهم دكلام حصه ده په هغې كښې چه كوم ښه دې هغه ښه دې

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب الأدب/باب ما يجوز من الشعر والرجز والحداء وما يكره منه (رقم-۶۱۴۵) وابوداود فى كتاب الأدب/باب ما جاء فى الشعر(رقم-۵۰۱۰) والترمذى فى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء إن من الشعر حكمةً (رقم-۲۸۴۴) وابن ماجه فى كتاب الأدب/باب الشعر (رقم-۳۷۵۵) واحمد فى المسند:۱۲۵/۵

اوچه کوم خراب دي نوهغه خراب دي که چرې او کتلې شي نو ښه شعر سمندر په کوزه کښې د بندولو په شان دې په زړه او دماغو باندې ذهغې اثر د اوږدو خطبو نه زيات اثر کوی بهرحال حکمت دنفع په معنی کښې اخستل بعيد دی لهذا پورته لیکلې شوي مضمون اومفهوم د دې حديث واضح مضمون دې

[۴۷۸۵] په خبروکې مبالغه کول هلاکت او تباهی ده

۴۷۸۵-( ) [۳] ١ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُونَ" قَالَهَا ثَلَاثًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ١ او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ په کلام کې مبالغه کونکي په هلاکت کې راغلل حضور ﷺ دا الفاظ درې ځلې وفرمايله (مسلم)

حل اللغات :- ① الْمُتَنَطِّعُونَ: په خبروکښې مبالغه کونکې. په بناوټ او چالاکئ سره خبرې کونکې

تسهيلات:

قوله : هَلَكَ الْمُتَنَطِّعُونَ :

د لفظ تنطع تحقيق : تنطع دباب تفعل نه دې خله ارتولو سره د مبالغې سره کلام کونکی ته متنطع وائی يعنی د چا په کلام کښې چه تصنع او بناوټ هم وی او بې ځايه چاپلوسی هم وی د خوشامد په غرض سره بې فائدې عبارت هم وی، د الفاظو نمائش هم وی اود تيزو جملو عياشی هم وی دا کار ښه نه دې په دې وجه نبي عليه السلام د دې مذمت اوکړو ښکاره خبره ده دروغ مروغ يوځائی کولو سره دحقيقت خلاف خبره کول او باطل حق ثابتول څه کمال نه دې

[۴۷۸۶] په حقيقت باندې مبنی يو شعر

۴۷۸۶-( ) [۴] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "أَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا الشَّاعِرُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ ٣: أَلَا كُلُّ شَيْءٍ مَا خَلَا اللهَ بَاطِلٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ١ او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ د ټولو نه رينښتيا خبره چې يو شاعر ويلې ده هغه د لبيد رضی الله عنه دا کلام دې ٣ چې خبردار د الله نه ماسوا هرشې فناء کيدونکې دې (بخاري. مسلم)

حل اللغات :- ① مَا خَلَا: ما سيوا . بغير

---

[1] اخرجه مسلم فی كتاب القدر /باب هلک المتنطعون (رقم-۷ - (۲۶۷۰)

[2] اخرجه البخاری فی كتاب الأدب/باب ما يجوز من الشعر والرجز والحداء وما يكره منه (رقم-۶۱۴۷) ومسلم فی كتاب الشعر (رقم-۲ - (۲۲۵۶)والترمذی فی كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی إنشاد الشعر (رقم -۲۸۴۹) وابن ماجه فی كتاب الأدب/باب الشعر (رقم-۳۷۵۷)

تسهيلات:

قوله: أَصْدَقُ كَلِمَةٍ قَالَهَا الشَّاعِرُ كَلِمَةُ لَبِيدٍ:

په حقيقت باندې د حمل وجه: يعنى دټولو ژبو او كلماتونه زياته رښتوني كلمه كه چرې يو شاعر وئيلې وى نوهغه د لبيد دا كلمه ده چه هغه اووئيل خبردار د الله تعالى جل جلاله د ذات نه علاوه ټول فاني اوختميدونكى دى دا معيارى او رښتوني كلمه ده په دې كلمه كښې د قرآن پاك ددې آيت مفهوم ته اشاره ده ﴿كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ﴾ اوددې آيت ته هم اشاره ده ﴿كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۝ وَيَبْقَىٰ وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ﴾ [سورة رحمن: ۲۷-۲۶] د لبيد شاعر متعلق په ابتداء كښې ليكل شوى دى پوره شعر داسې دې:

ألا كل شئى ما خلا الله باطل   وكل نعيم لا محالة زائل

[۴۷۸۷] د علم او حكمت اشعار وئيل او اوريدل جائز دى

۴۷۸۷-()[۵] [۱]«وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ، عَنْ أَبِيهِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] رَدِفْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَوْمًا [۳] فَقَالَ: "هَلْ مَعَكَ مِنْ شِعْرِ أُمَيَّةَ بْنِ أَبِي الصَّلْتِ شَيْءٌ؟" قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: "هِيهِ" [۴] فَأَنْشَدْتُهُ بَيْتًا. فَقَالَ: "هِيهِ" ثُمَّ أَنْشَدْتُهُ بَيْتًا فَقَالَ: "هِيهِ" [۵] حَتَّى أَنْشَدْتُهُ مِائَةَ بَيْتٍ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن شريد رضي الله عنه د خپل پلار نه نقل كوي هغه اووئيل [۲] چې يوه ورځ د سفر په دوران كې رسول الله ﷺ پسې (د حضور ﷺ په سورلۍ) سپور وم حضور ﷺ ماته وفرمايل [۳] آيا تاته د اميه ابن ابي الصّلت څه اشعار ياد دي؟ ما عرض وكړو هو حضور ﷺ وفرمايل ښه دي واوروه [۴] حضور ﷺ ته مايو شعر واوروي حضور ﷺ وفرمايل نور واوروه مابيا يو شعر واوروي حضور ﷺ وفرمايل نور واوروه دغه شان د مزيد اورولو فرمائش يې كوي او ماورته اورول [۵] تر دې چې ماورته سل اشعار واورول (بخاري، مسلم) ومسلم: ۳۰۲/۲]

حل اللغات:- ① هِيهِ: واؤروه. ② بَيْتًا: شعر.

تسهيلات:

قوله: هَلْ مَعَكَ مِنْ شِعْرِ أُمَيَّةَ بْنِ أَبِي الصَّلْتِ شَيْءٌ؟:

د اميه بن ابى الصلت تعارف: د جاهليت په زمانه كښې چه كوم خلقو د بت پرستئى مخالفت كړې وو او د توحيد اجمالى اعلان ئى كړې وو هغه خلق د حنفاء او موحدينو په نوم سره يادولې شو هم د دغه خلقو نه يو اميه بن ابى صلت وو دا ډير لوئى شاعر او ډير لوئى حقيقت خوښونكې سړې وو په خپلو اشعاروكښې به ئى د الله تعالى وحدانيت په

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب الشعر (رقم-۱ - (۲۲۵۵) وابن ماجه فى كتاب الأدب/باب الشعر (رقم-۳۷۵۸)واحمد فى المسند: ۳۹۰/۴

ډیر ښه او مدلل انداز سره بیانولو دهغه په زړه کښې داخیال پروت وو چه کیدې شی نبی آخرزمان هغه جوړ شی کله چه الله تعالی محمد ﷺ رسول جوړولو سره راولیږلو نو امیه مسلمان خونه شو لیکن دنبي علیه السلام مخالفت ئی هم اونه کړو په خاموشنی سره ئی داهرڅه کتل لیکن چه کله د جنګ بدر واقعه پیښه شوه اود کافرانو لوئی لوئی سرداران دوزخ ته اورسیدل نو امیه بن ابی صلت دهغوی په همدردئی کښې اشعار اوونیل اود اسلام او د اسلامی لښکر مذمت ئی اوکړو دغه شان هغه په کفرباندې مړشو

د غیر مسلم په نصیحت باندې مبنی اشعار اوورول او اوریدل جائز دی:

نبي علیه السلام دهغه باره کښې اوفرمائیل دامیه ژبه مسلمانه شوې وه لیکن زړه ئی کفر اوکړو نبی ﷺ د امیه بن ابی صلت په حقیقت باندې مبنی اشعارو تعریف کړې دې دې سره امت ته دا تعلیم ملاؤ شو چه غیرمسلم سړې که څړې څه ښه اونیک کار اوکړی یا د پند اونصیحت شعرونه اووائی یا دمسلمانانو په حمایت کښې څه خبره اوکړی نود هغه د ښه کارتعریف کول جائز دی او په نصیحت باندې مبنی اشعار اوورول او اوریدل جائز دی

[۴۷۸۸] درسول الله ﷺ شعرونیل

۴۷۸۸-()[۱] ①وَعَنْ جُنْدُبٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ②«أَنَّ النَّبِيَّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-كَانَ فِي بَعْضِ الْمَشَاهِدِ وَقَدْ دَمِيَتْ أُصْبُعُهُ③فَقَالَ: "هَلْ أَنْتِ إِلَّا أُصْبُعٌ دَمِيتِ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ مَا لَقِيتِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او حضرت جندب ﷺ وایي ②چې رسول الله ﷺ یو جنګ (یعنې غزوه احد کې) شریك وو چې (د معرکه آرائي په دوران کې) د حضور ﷺ ګوته مبارکه زخمي شوه چې د هغه په وجه هغه خون آلوده شوه ③نو حضور ﷺ (بطور استعاره یادرحقیقت) ګوتې ته تسلي ورکولو د پاره هغه مخاطب کولو سره دا شعر يي وفرمایه.

هَلْ أَنْتِ إِلَّا أُصْبُعٌ دَمِيتِ ــــ وَفِي سَبِيلِ اللَّهِ مَا لَقِيتِ

ترجمه: یعنی ته څه یې یوه ګوته یې خون الوده شوې او بیا تاته چې څه شوي دي د الله په لار کې شوي دي.

حل اللغات: - ①الْمَشَاهِدِ: غزوات او جنګونه.

تسهیلات:

قوله: كَانَ فِي بَعْضِ الْمَشَاهِدِ:

د مشاهد څخه مراد: دمشاهد اطلاق په غزواتو اوجنګونو باندې کیږی. دلته دبعضې مشاهدنه جنګ احد مراددې.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسیر/باب من ینکب فی سبیل الله (رقم-۲۸۰۲)ومسلم فی کتاب الجهاد والسیر /باب ما لقی النبی صلی الله علیه وسلم من أذی المشرکین والمنافقین (رقم-۱۱۲ - (۱۷۹۶)) واحمد فی المسند: ۳۱۲/۴

هل أنت إلا إصبع دميت وفي سبيل الله ما لقيت

یعنی ته یو داسې په وینو ککړه زخمي ګوته ئې کومې ته چه د الله تعالی په لار د جهاد کښې تکلیف رسیدلي دي

اشکال: د نبي علیه السلام باره کښې د الله تعالی فرمان دې چه ﴿وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ وَمَا يَنْبَغِيْ لَهٗ﴾ سورة یسین: ۶۹ دې نه پس نبي علیه السلام دا شعر څنګه اووئیل؟

د اشکال درې جوابونه: ① بعضې علماؤ وئیلي دي چه ﴿وَمَا عَلَّمْنٰهُ الشِّعْرَ﴾ کښې د فن شاعرئ نفي ده یو شعر نیم جوړولو او وئیلو سره سړی ته شاعر نه شي وئیلې

② دا شعر د عبدالله بن رواحه دې یا د ولید بن ولید دې نبي علیه السلام کله کله د یو شاعر شعر په توګه د مثال او امتثال وئیلې دې په دې سره سړې شاعر نه جوړیږي د شاعرئ د پاره لوئي قواعد او ضوابط پکار وي.

③ په دې کلام کښې قصداً د وزن اراده نه ده کړې شوې او د شعر د پاره ضروري دي چه په دې کښې د وزن اراده اوکړې شي لهذا دا یو کلام دې شعر نه دې دا جواب هغه وخت دې کله چه دا اومنلې شي چه دا د نبي علیه السلام خپل کلام دې

د نبی علیه السلام مخه د طرفه بن العبد په شعر کښې غلطی: د مزې خبره داده چه د بل شاعر شعر وئیلو کښې به هم کله کله د نبي علیه السلام نه وزن ماتیدو. چنانچه نبي علیه السلام په توګه د عبرت او مثال د طرفه بن العبد شعر وئیلي دي.

ستبدي لك الأيام ما كنت جاهلا ويأتيك من لم تزود بالإخبار

په دې کښې دویم مصرعه وړاندې روستو شوه او وزن مات شو اصل شعر داسې دې ويأتيك بالأخبار من لم تزود. هم د غه وجه ده چه صدیق اکبر رضی الله عنه نبي علیه السلام ته شعر اوخودلو او اعتراف ئې اوکړو چه واقعي [وما علمناه الشعر وما ينبغي له] د الله تعالی ربښتوني کلام دې الله تعالی نبي علیه السلام ته د شعر فن نه دې خودلې

[۴۷۸۹] د حضرت حسان رضی الله عنه فضیلت او مرتبه

۴۷۸۹-(۱)[۱-] [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَوْمَ قُرَيْظَةَ لِحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ: [۳] "اهْجُ الْمُشْرِكِينَ، فَإِنَّ جِبْرِيلَ مَعَكَ" [۴] وَكَانَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ لِحَسَّانَ: [۵] "أَجِبْ عَنِّي، اللّٰهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت براء رضی الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د قریظه په ورځ حضرت حسان ابن ثابت رضی الله عنه ته وفرمایل [۳] چې ته د مشرکینو هجو (بدګویی) وکړه حضرت جبرائیل علیه السلام

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب بدء الخلق/باب ذکر الملائکة (رقم-۳۲۱۲) ومسلم فی کتاب فضائل الصحابة رضی الله تعالی عنهم/باب فضائل حسان بن ثابت رضی الله عنه (رقم-۱۵۳ - (۲۴۸۶)

ستاسره دي يعنی دمضامينو د القاء او الهام په سلسله کي به هغه ستا مدد کوي ۴ او رسول الله ﷺ چې به د کفارو او مشرکينو هجو او زيدله چې هغوئ د حضور ﷺ په شان کي نازيبا (نامناسبه) خبري کوي او حضور ﷺ په بدو الفاظو سره يادوي نو حضرت حسان رضي الله عنه ته به يي فرمايل ۵ چې ته څما د طرف نه کفارو ته جواب ورکړه او بيابه يي دا فرمايل اي الله! د جبرائيل عليه السلام په ذريعه د حسان مدد وکړي او د هغه ژبي او بيان ته طاقت او قوت ورکړي (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① اهْجُ: بد ونيل، مذمت کول ② أَيِّدْهُ: مدد اوکړي دده.

تسهيلات:

قوله: قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمَ قُرَيْظَةَ لِحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ:

د يوم قريظه پس منظر: دې نه دَ بنوقريظه جنګ مراددي. په مدينه منوره کښې دَ يهودو دري لوئی قبيلي آبادې وې. ① بنوقينقاع ② بنو نضير ③ بنوقريظه دَمکې نه چه نبي عليه السلام هجرت اوکړو نو بنوقينقاع نبي عليه السلام دَ مدينې نه اوويستل او بنونضير او بنوقريظه سره معاهده اوشوه چه دَميثاق مدينه په نوم باندې مشهوره ده بنوقريظه ډير زر بغاوت اوکړو په دې وجه هغوی دَ مدينې نه دَ خيبرطرف ته جلاوطن کړې شو. دې نه پس چه اهل مکه دَ جنګ خندق په موقع باندې دَ مدينې محاصره اوکړه نوبنوقريظه نبي عليه السلام سره کړې شوې وعده ماته کړه اوبغاوت ئې اوکړو دَ جنګ خندق نه چه نبي عليه السلام کله فارغ شو اوغسل ئې کولونو حضرت جبرائيل امين اوفرمائيل چه دَ الله تعالى حکم دې چه په بنوقريظه باندې حمله اوکړئ. چنانچه مسلمانانو تقريبًا دَ يوې مياشت پورې دَ بنوقريظه دَ علاقو محاصره اوکړه اوپه آخره کښې ئې دَهغوی ځوانان قتل اودَهغوی ښځې اوبچې غلامان جوړکړل

قوله: اهْجُ الْمُشْرِكِينَ، فَإِنَّ جِبْرِيلَ مَعَكَ:

د يوم القريظه په موقع باندې د مشرکينو هجوه کولو وجه: دَ جنګ خندق دويم نوم جنګ احزاب دې پنځم هجری کښې دَمکې مشرکانو دَمکې مکرمې دَ اطرافونه ټول قبائل راجمع کړه ۱۲ زره لښکرجرار سره دَمدينې منورې دَ لرشان مسلمانانومحاصره کولو سره ئې په هغوی باندې حمله اوکړه تقريبًا دَ يوې مياشتې پورې دامحاصره جاری وه نبي عليه السلام دَ سلمان فارسی رضي الله عنه په مشوره باندې خندق اوکنستلو او په دې نيک کارکښې ئې پخپله هم حصه واخستله حضرت حسان رضي الله عنه ته نبي عليه السلام هم په دې موقع باندې اوفرمائيل چه مشرکينوپسې شعرونه وايه ځکه چه دَ بنوقريظه دَ بغاوت اصل جرړه مشرکين مکه وو.

قوله: اَللّٰهُمَّ أَيِّدْهُ بِرُوحِ الْقُدُسِ:

د روح القدس مصداق او وجه تسميه: يعنى پاك روح دې نه مراد جبرائيل عليه السلام دې. ده ته روح ځکه ونيلي شي چه ده به انبياء کرامو ته روح اچونکې څيز راوړلو کوم ته چه وحي وائي القدس دپاك په معنى دې يعنى جبرائيل امين دهرقسم عيبونو نه پاك دې د جبرائيل امين د تائيد مطلب دادې چه هغه په القاء د مضامينو کښې د حضرت حسان امداد کوى

[۴۷۹۰] کافرانو ته د بدرد ونيلو حکم

۴۷۹۰-(۱)[۸] ① وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "اهْجُوا قُرَيْشًا، ③ فَإِنَّهُ أَشَدُّ عَلَيْهِمْ مِنْ رَشْقِ النَّبْلِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او د بي بي عائشه رضي الله عنها نه روايت دې ② چې رسول الله ﷺ خپلو شعراوو ته فرمايلي وه چې د قريشو د کفارو هجو (بدگويي) کوئ ③ ځکه دا هجو په هغوئ د تير لګيدو نه هم زياته سخته ده. (مسلم)

حل اللغات:- ① رَشْق: غشي ويشتل. النَّبْل: غشي

تسهيلات:

قوله: اهْجُوا قُرَيْشًا، فَإِنَّهُ أَشَدُّ عَلَيْهِمْ مِنْ رَشْقِ النَّبْلِ:

په جهاد کښې د کافرانو د هجو اجازت:

ځکه چې په کافرانو نبى عليه السلام دغه شان د دوى د صحابه کرامو هجو او مذمت په خپلو اشعارو کښې کولو نو نبى عليه السلام هم خپلو صحابه کرامو ته د هغوى د هجو کولو اجازت ورکړې وو بالخصوص په ميدان جهاد کښې د دې اجازت دائره نوره هم فراخه وه نو ځکه نبى عليه السلام په دې حديث کښې صحابؤ ته حکم کوى چې د قريشو هجو او مذمت کوئ ځکه چې دا په هغوى باندې د غشى څخه زياته بده لګى

قوله: فَإِنَّهُ أَشَدُّ عَلَيْهِمْ مِنْ رَشْقِ النَّبْلِ:

يعنى کافران مادى څيزونو ته ترجيح ورکوى او په روحانى نقصان باندې نه پوهيږى لهذا د هغوى مذمت کولو سره هغوى ته سخت تکليف رسيږى

او دا خپل نقصان ګنړى لکه چه هغوى په غشى باندې ويشتلې شى

د دې حديث نه معلومه شوه چه ميدان جهاد کښې زبانى توګه باندې کافرانو ته بدرد وئيل او کنځلې کول هم جائز دى دا د جهاد حصه ده او د معمول خبره ده

---

۱) اخرجه مسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب فضائل حسان بن ثابت رضى الله عنه(رقم۱۵۷ - ۲۴۹۰)

[۴۷۸۹] د کافرانو په هجوه کولو حسان رضی الله عنه ته د حضور پاک ﷺ فرمان

۴۷۸۹-()[۹] [۱] وَعَنْهَا قَالَتْ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] يَقُولُ لِحَسَّانَ: [۳]" إِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ لَا يَزَالُ يُؤَيِّدُكَ مَا نَافَحْتَ عَنِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ» ". [۴] وَقَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۵]" «هَجَاهُمْ حَسَّانُ فَشَفَى وَاشْتَفَى» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [۲] ما د رسول الله ﷺ نه حسان رضي الله عنه ته دا ونيل واوريدل [۳] هركله چې ته د الله او د هغه د رسول د طرف نه د كفارو مشركينو د هجو مقابله كوې نو حضرت جبرائيل عليه السلام برابر ستا مدد او اعانت كوي [۴] بي بي عائشه رضي الله عنها وايي د رسول الله ﷺ نه مي داهم واوريدل [۵] چې حسان رضي الله عنه د كفارو هجو وكړه نو دي هجو سره يي مسلمانانو ته شفاء وركړله او خپله يي هم شفاء پيدا كړله [يعنى هغه د كفارو د هجو جواب سره وركولو سره مسلمانانو د پاره هم د تسلي او تشفي سامان مهيا كې او خپله يي هم سكون او طمانيت حاصل كې] (مسلم)

حل اللغات: - ① يُؤَيِّدُكَ: ستا مدد او اعانت كوى ② نَافَحْتَ: منافحه او مقابلې او دفاع ته وائى ③ فَشَفَى: دَمسلمانانو زړونه ئې يخ كړل ④ وَاشْتَفَى: دكفارو په غصه كولو ئې خپلو زړونو ته شفا حاصله كړه. يعنى زړه ئې يخ شو.

تسهيلات:

قوله : إِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ لَا يَزَالُ يُؤَيِّدُكَ مَا نَافَحْتَ عَنِ اللَّهِ وَرَسُولِهِ:

يعنى تر كومې پورې چه ته دَ الله تعالى اودَ هغه دَ رسول دفاع كوې اودَمشركانو غلط الزامونو اودَ تهمتونو او اعتراضونو جواب وركوې جبرائيل آمين به يوشان ستا امداد كنې لګياوى اوستا په زړه باندې به دَ مضامينو القاء كوى.

[۴۷۹۰] د جهاد په ميدان كې د حضور ﷺ په ژبه مباركه رجزي كلام

۴۷۹۰-()[۱۰] [۱] وَعَنِ الْبَرَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - [۲] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَنْقُلُ التُّرَابَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ [۳] حَتَّى اغْبَرَّ بَطْنُهُ [۴] يَقُولُ: وَاللَّهِ لَوْلَا اللَّهُ مَا اهْتَدَيْنَا وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا فَأَنْزِلَنْ سَكِينَةً عَلَيْنَا وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا إِنَّ الْأُلَى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا إِذَا أَرَادُوا فِتْنَةً أَبَيْنَا [۵] يَرْفَعُ بِهَا صَوْتَهُ: " أَبَيْنَا أَبَيْنَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : [۱] او حضرت براء رضي الله عنه وايي [۲] چې رسول الله ﷺ د خندق اوخكلوپه ورځ به خپله بنفس نفيس خاوره پورته كولو سره غورځوله يعنى د غزوه احزاب په موقع چې خندق

---

[۱]) اخرجه مسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب فضائل حسان بن ثابت رضى الله عنه (رقم۱۵۷ - ۲۴۹۰)

[۲]) اخرجه البخارى فى كتاب المغازى/باب غزوة الخندق وهى الأحزاب (رقم-۴۱۰۴) ومسلم فى كتاب الجهاد والسير/باب غزوة الأحزاب وهى الخندق (رقم-۱۲۵ - (۱۸۰۳) واحمد فى المسند: ۳۰۲/۴

اوخكلي شو نو سركار دوعالم ﷺ بنفسِ نفيس په تول كار كې شريك وو صحابه ؤ ﷺ سره به خپله يې هم درانه درانه كاڼي پورته كول او خاوره پورته كولو سره به يې غورځوله ۳ تردې چې نس (خيټه) مبارك يې غبار الود شوي وو ۴ او په دې موقع د حضرت عبد الله ابن رواحه ؓ رجزيه كلام به يې وئيلو چې هغه دادې

وَاللهِ لَوْلَا اللهُ مَا اهْتَدَيْنَا **** وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا

فَأَنْزِلَنْ سَكِيْنَةً عَلَيْنَا **** وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا

إِنَّ الْأُوْلٰى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا **** إِذَا أَرَادُوْا فِتْنَةً أَبَيْنَا

يَرْفَعُ بِهَا صَوْتَهُ أَبَيْنَا أَبَيْنَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

وَاللهِ لَوْلَا اللهُ مَا اهْتَدَيْنَا **** وَلَا تَصَدَّقْنَا وَلَا صَلَّيْنَا

قسم په الله. كه دالله هدايت نه واى، نو مونږ سيده لار نه شواى پيداكولى. نه مونږ صدقه وركولي شوه، او نه به مونږ مونځ كولو شو.

فَأَنْزِلَنْ سَكِيْنَةً عَلَيْنَا **** وَثَبِّتِ الْأَقْدَامَ إِنْ لَاقَيْنَا

نو اې الله ﷻ په مونږ وقار او اطمنان نازل كړې، او كله چې د دين د دښمنانو سره زمونږ مقابله وى، نو مونږ ثابت قدم لرى

إِنَّ الْأُوْلٰى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا **** إِذَا أَرَادُوْا فِتْنَةً أَبَيْنَا

بلا شبه دى دمكى كفارو په مونږ زياتوب كړى دى، چې هركله هغوى مونږ په فتنه كى مبتلا كوي. يعنى دكفر طرف ته واپس دتللو اراده كوى، نومونږ ورنه انكار كوو

۵ نبي عليه السلام دا اشعار په پورته آواز سره وئيل، خصوصاً ابينا ابينا باندى به يې آواز زيات بلند كوى (بخارى، ومسلم)

حل اللغات: - ① يَنْقُلُ التُّرَابَ: خاوره ئې چلوله. ② اغْبَرَّ: د خاورو شوه. ③ سَكِيْنَةً: اطمينان. ④ لَاقَيْنَا: مخامخ شو مونږ (دشمن سره) ⑤ الْأُوْلٰى: رومبو خلقو يعنى كافرانو. ⑥ بَغَوْا: ظلم او زياتې ئې كړې دي ⑦ أَبَيْنَا: مونږ ترې انكار اوكړو

تسهيلات:

قوله: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَنْقُلُ التُّرَابَ يَوْمَ الْخَنْدَقِ:

د غزوه خندق وجه تسميه: دَ يوم خندق نه مراد جنگ احزاب دې دې ته جنگ خندق ځكه وائى چه په دې كښې مسلمانانو دَ مدينې منورې دَ دفاع دَپاره دهغې نه گيرچاپيره خندقونه كنستلي وو. دهجرى كښې دَ جنگ احزاب په موقع باندې ۱۲ زره كافرانو دَمدينې محاصره كړې وه نبي ﷺ دَ سختې تنگدستنى په حالت كښې دَ خندقونو كنستلو حكم وركړې وو. سخته يخنى وه وخت هم ډير مختصر وو دَ خوراك دَپاره هم څه نه ملاويدل صحابه كرام به شپه ورځ دَ كنستلو په كاركښې اخته وو بعضو په كښې دَ

اولګي د وجې نه په خيټه پورې کاڼړي تړلي وو نبي عليه السلام پخپله هم په کارکښې مشغول وو او په خپله مبارکه خيټه پورې ئې دوه کاڼړي تړلي وو په دوړو باندې د نبي ﷺ مبارک بدن پټ شوي وو اونبي عليه السلام مذکوره اشعار وئيل

قوله: إِنَّ الْأُلَى قَدْ بَغَوْا عَلَيْنَا:

دا قصرسره دې أولٰٓء کښې يولغت دې کافرانوطرف ته اشاره ده يعنې دغه کافرانو په مونږ باندې سرکشي کولوسره تجاوز کړې دې اوزمونږ نه دَفتنې يعنې شرك مطالبه کوي ليکن مونږ ددوی د مطالبې نه مکمل توګه باندې انکارکوو أبينا الفاظ په اوچت آواز سره نبي عليه السلام بار بار وئيل اوصحابه کرامو به هم دا لفظ په اوچت آواز سره بار بار وئيلو دادَ ميدان جهاد يوه عظيمه ترانه ده چه د حقائقو اوصحيح عقائد په تعليم اوپه بهادرئی اوشجاعت باندې مبنی دی

[۴۷۳] په غزوه خندق کې رجزويونکو صحابه کرامو ته د حضور ﷺ دعا

۴۷۳-()[۱] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ[۲]: «جَعَلَ الْمُهَاجِرُونَ وَالْأَنْصَارُ يَحْفِرُونَ الْخَنْدَقَ وَيَنْقُلُونَ التُّرَابَ[۳] وَهُمْ يَقُولُونَ: نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا عَلَى الْجِهَادِ مَا بَقِينَا أَبَدَا[۴] يَقُولُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَهُوَ يُجِيبُهُمْ: "اللَّهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةْ فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَةْ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا ... عَلَى الْإِسْلَامِ مَا بَقِينَا أَبَدَا

يَقُولُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَآلِهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُجِيبُهُمْ:

اَللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةْ ... فَاغْفِرْ لِلْأَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَةْ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي [۲] هرکله چې د غزوه احزاب په موقع مهاجرينو رضي الله عنهم او انصارو رضي الله عنهم خندق (کنده، ډير لوی جور ډوغل) کنيستي او خاوره پورته کولو سره غورځول شروع کړل [۳] نو هغوئ به په دې دوران کې دا رجز وايه نَحْنُ الَّذِينَ بَايَعُوا مُحَمَّدَا عَلَى الْجِهَادِ مَا بَقِينَا أَبَدَا مونږ هغه خلق يو چې هغوئ د ژوند آخري ساه پورې جهاد کولو د پاره د محمد ﷺ په لاس بيعت کړې دې. [۴] او رسول الله ﷺ به د هغوئ د دې رجز په جواب کې دا دعا فرمايله. اې الله! ژوند خو بس د آخرت ژوند دې ته انصار او مهاجرين وبخښي (بخاري. مسلم)

حل اللغات:- ① يَحْفِرُونَ: کنستلو ئې. ② عَيْشَ: ژوند. زندګی

تسهيلات:

قوله: اَللّٰهُمَّ لَا عَيْشَ إِلَّا عَيْشُ الْآخِرَةْ:

---

[۱]) اخرجه البخاري فى كتاب الجهاد والسير/باب حفر الخندق (رقم-۲۸۳۵)ومسلم فى كتاب الجهاد والسير/باب غزوة الأحزاب وهى الخندق (رقم-۱۳۰ - (۱۸۰۵) واحمد فى المسند:۱۷۲/۳

د نبي عليه السلام صحابه کرامو ته تسلي ورکول: په دي الفاظو سره صحابه کرامو ته تسلي ورکول مقصود دي چه تاسو له پکار دی چه په دي موقع محنت او مشقت برداشت کړئ او په تاسو چه کوم سخت حالات راغلي دی په هغي صبر اوکړئ نو الله تعالي به تاسو ته د دي په بدله کښې نه ختميدونکی انعامات درکړی کقوله تعالی [وَاِنَّ الْاٰخِرَةَ هِيَ دَارُ الْقَرَارِ]، [وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ وَّاَبْقٰى]، [وَالْاٰخِرَةُ خَيْرٌ لِّمَنِ اتَّقٰى] داسي نور ډير آياتونه په دي دلالت کوی.

قوله: فَاغْفِرْ لِلْاَنْصَارِ وَالْمُهَاجِرَةْ:

د جهاد په ميدان کښې د مغفرت دعا کول: دَدي حديث نه معلوميږي چه ميدان جهاد او ميدانِ جنګ په جهادی نظمونو سره ګرمول دَ جهاد حصه هم ده اودَ رسول الملاحم ﷺ مسنون طريقه هم ده.

[٤٧٤٣] هروخت په شعر وشاعرئ کښې د مشغول اوسيدو او د غلط شعرونو مذمت

٤٧٤٣-()[١] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا يَرِيهِ [٣] خَيْرٌ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] ياد لرئ د يو سړي نس (خيټه) د نو (پيپ) نه ډکيدل چې د هغه نس خراب کړي [٣] د دي نه ښه دي چې نس د مذموم اشعارو نه ډک کړي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① يَمْتَلِئَ: ډک شی، ② جَوْفُ: خيټه، ③ قَيْحًا: پيپ، نو. ④ يَرِيهِ: وری يری وريا وعد يعد وعدًا په شان دي. داهغه بيمارئی ته وائی په کوم سره چه خيټه فاسد اوبرباد شي.

تسهيلات:

قوله: لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا يَرِيهِ:

د لفظ يريه تحقيق او د حديث مطلب: دا دَ قيح صفت دي او قيح نه وينه او نو ونه مراد دی مطلب دا چه دَ يو سړی خيټه دَ وينې او نوونونه ډکه شي او خيټه ئی بالکل خرابه کړی دا دَ هغي نه بهتر ده چه هغه خيټه دَ ګنده او پليتو او غليظ شعرونونه ډکه شي په دې حديث کښې دَمذموم اشعارو مذمت دې او په دې کښې اشاره ده چه هغه ګنده اشعار دَ دغه سړی په زړه باندي داسې احاطه اوکړی چه په زړه کښې دَ ذکرالله تلاوت قرآن او علوم شرعيه دَپاره هيڅ ځائی پاتې نه شی ښکاره خبره ده چه دا صورت حال په ګنده اشعارو سره نه بلکه دَ خواشعارو دَ وجې نه هم جائز نه دی.

---

[١]) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب ما يكره أن يكون الغالب على الإنسان الشعر، حتى يصده عن ذكر الله والعلم والقرآن (رقم-٦١٥٥) ومسلم في كتاب الشعر (رقم-٧ - (٢٢٥٧) وابوداود في كتاب الأدب/باب ما جاء في الشعر(رقم-٥٠٠٩)والترمذي في كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء لأن يمتلئ جوف أحدكم قيحًا خير له من أن يمتلئ شعراً (رقم-٢٨٥١) كتاب الأدب/باب ما كره من الشعر (رقم-٣٧٥٩) واحمد في المسند:١٧٥/١

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۷۹۵] جهادي شعرونه وئیل د جهاد باللسان اهمیت لري

۴۷۹۵-()[۱۳] ۱ «عَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - ۲ أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۳ "إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى قَدْ أَنْزَلَ فِي الشِّعْرِ مَا أَنْزَلَ، ۴ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۵ " إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ وَلِسَانِهِ، ۶ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَكَأَنَّمَا تَرْمُونَهُمْ بِهِ نَضْحَ النَّبْلِ». ۷ رَوَاهُ فِي شَرْحِ السُّنَّةِ. وَفِي " الِاسْتِيعَابِ " لِابْنِ عَبْدِ الْبَرِّ: «أَنَّهُ قَالَ ۸: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! مَاذَا تَرَى فِي الشِّعْرِ ۹ فَقَالَ: " إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ وَلِسَانِهِ».

ترجمه: ۱ د حضرت کعب ابن مالک رضی الله عنه نه روایت دي ۲ چې یوه ورځ هغه رسول الله ﷺ ته عرض وکړو ۳ خداي ﷻ چې د شعر وشاعري په حق کې کوم حکم کړي دي هغه د دې آیت نه ښکاره دي کوم چې هغه نازل کړي دي ۴ رسول الله ﷺ د هغه د دې خبرې په جواب کې وفرمایل ۵ حقیقت دادي چې مؤمن خپلې توري سره هم جهاد کوئ او خپلې ژبې سره هم ۶ قسم دي په هغه ذات چې د هغه قبضه کې ځما ساه ده تاسو کافرو ته د اشعارو په ذریعه هغه نقصان رسوئ ځرنګه چې د تیرونو په ذریعه وي ۷ (شرح السنه) او د ابن عبدالبر رحمه الله کتاب په استیعاب کې داسې دي ۸ چې حضرت کعب رضی الله عنه عرض وکړو یارسول الله! د شعرو شاعري متعلق تاسو څه حکم فرمایي داڅه ښه شي دي یاخراب ۹ حضور ﷺ وفرمایل مؤمن په خپلې توري سره هم جهاد کوي او په خپلې ژبې سره هم

حل اللغات: - ① تَرْمُونَهُمْ: چه تاسو اولئ هغوی، ② نَضْحَ: اوبه شیندل، (دلته تري غشی ورول مراد دی) ③ النَّبْلِ: غشی.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى قَدْ أَنْزَلَ فِي الشِّعْرِ مَا أَنْزَلَ:

د ښه اشعارو وئیلو ستائنه: دَ قرآن آیت ﴿وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُنَ﴾ طرف ته اشاره ده حضرت کعب رضی الله عنه دَدې نه اوویریدلو چه چرته ګمراه خلقو کښې دې شامل نه شی په دې وجه ئی سوال اوکړو نبي علیه السلام په جواب کښې اوفرمائیل چه هغه په دې کښې داخل نه دې ځکه چه دَ ګمراهو په کندو کښې ورکید ونکی کافران دی مسلمانان نه دی. دَدین بلکه دین حق دَ دفاع دَپاره اشعار وئیل خودَ مسلمانانو دَپاره دَ جهاد باللسان په حکم کښې دي ځکه چه په دې سره کافران سوزیږی ځکه چه دَژبې زخم دَ غشی دَزخم نه سخت وی.

---

¹) اخرج البغوی فی شرح السن رقم الحدیث ۳۴۰۹- احمد فی المسند: ۴۵۶/۳

جراحات السنان لها التیام ولا یلتام ما جرح اللسان

قوله: لَكَأَنَّمَا تَرْمُونَهُمْ بِهِ نَضْحَ النَّبْلِ:

د اسلام په دفاع کښې د اشعارو تشبیه د غشو سره: نضح او به چنړکاؤکولو ته وائی او نبل غشی ته وائی مطلب دا چه د کافرانو په مذمت کښې ستاسو شعرونه په هغوی باندې داسې سخت لګی لکه چه په هغوی باندې غشی ورولې شی او هغوی په دې سره زخمی کیږی

قوله: إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ وَلِسَانِهِ:

د جهاد باللسان مصداقات: ① په توره سره جهاد کول خو معلوم او معروف دی او دژبې د جهاد نه مراد جهادی نظمونه دی شعرونه او ترانې دی په کوم سره چه جهاد ته فائده رسیږی

② جهاد باللسان هغه وعظ او تقریرته هم شامل دې په کوم کښې چه د جهاد ترغیب وی

③ د جهاد په موضوع باندې څه تالیف او تصنیف وی په کوم سره چه د جهاد فائده وی دا ټول په جهاد باللسان کښې داخل دی.

[۴۷۹] ژبه قابو کښې ساتل او حیاء دواړه د ایمان دوه څانګې دی

۴۷۹-()[۱۳] ① وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② «الْحَيَاءُ وَالْعِيُّ شُعْبَتَانِ مِنَ الْإِيمَانِ، ③ وَالْبَذَاءُ وَالْبَيَانُ شُعْبَتَانِ مِنَ النِّفَاقِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابو امامه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمایل ② شرم وحیاء او ژبه کنټرول کې ساتل د ایمان دوه څانګې دي ③ او فحش ګویې او لاحاصل بکواس د نفاق دوه څانګې دي (ترمذي)

حل اللغات:- ① الْحَيَاءُ: شرم. ② الْعِيُّ: ستړی کیدل او عاجز کیدل، دلته ترې په خبرو کښې احتیاط او کمې خبرې کول مراد دی. ③ الْبَذَاءُ: بې حیائی. خرابې او فحش خبرې. ④ الْبَيَانُ: ډیرې خبرې. بې احتیاطۍ سره خبرې کول

تسهیلات:

قوله: الْحَيَاءُ وَالْعِيُّ شُعْبَتَانِ مِنَ الْإِيمَانِ:

په خبرو کښې احتیاط کول: دلته په حدیث کښې کمې خبرې کول او په خبرو کښې مکمل احتیاط کول مراد دی لکه څنګه مقوله ده «لسان العاقل في قلبه وقلب الجاهل فی لسانه» یعنی هوښیار سړې چې په ژبه باندې کومه خبره کوی نو اول پرې په زړه کښې سوچ وکړی دا کومه خبره زه د خولې څخه راؤباسم د دې نتیجه ښه ده که خرابه که ښه وی نو وې

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی العی (رقم ۲۰۲۷) واحمد فی المسند: ۵/۲۶۹

کړی او که خرابه وی نو خاموشی اختیار کړی اوددې په خلاف د جاهل سړی په زړه کښې چې څه راځی په خُلې باندې ئې کوی د هغې په نتیجه باندې سوچ او فکر نه کوی

د ګناهونو څخه په منع کولو کښې د حیاء کردار: چونکه مسلمان د هغه ایمان د حیاء په کارونو باندې راوچنوی نو هغه د بې حیایئ د ټولو شعبونه ځان ساتی اودغه شان ایمان هغه د کثرت کلام نه رامنع کوی دې دپاره چه د خلې نه ئې غلطه خبره اونه ځی په دې وجه حیاء اوقلت کلام یعنی کمې خبرې د ایمان دوه شعبې ګرځولې شوی دی

قوله: وَالْبَذَاءُ وَالْبَيَانُ شُعْبَتَانِ مِنَ النِّفَاقِ:

فحش اوزیاتې خبرې د نفاق شبعې: والبیان یعنی کثرت کلام. بې احتیاطی دروغ اوبهتان تړل اوبې ځایه دَ ژبې تیزوالې اوډحدنه زیات متکلفانه فصاحت اوبلاغت دا ټولې دَ نفاق شعبې دی.

[۴۷۹۷]بې احتیاطئ او تکبر سره دَ خبرو کولو مذمت

۴۷۹۷-(١)[١٥] [١]وَعَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الْخُشَنِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [٢]" إِنَّ أَحَبَّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبَكُمْ مِنِّي يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [٣]أَحَاسِنُكُمْ أَخْلَاقًا، [٤]وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ إِلَيَّ وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّي [٥]مَسَاوِيكُمْ أَخْلَاقًا، [٦]الثَّرْثَارُونَ، الْمُتَشَدِّقُونَ، الْمُتَفَيْهِقُونَ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [١]او حضرت ابوثعلبه خشني رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢]د قیامت په ورځ به ماته د ټولو نه زیات عزیز ومحبوب او ماته زیات نزدې هغه خلق وي [٣]کوم چې په تاسو کې زیات خوش اخلاقه وي [٤]او څما په نزد په تاسو کې د ټولو نه خراب او زمانه د ټولو نه زیات لرې به هغه خلق وي [٥]کوم چې په تاسو کې بد اخلاقه دي [٦]او د بد اخلاقو نه مراد هغه خلق دي چې ①ډیر جوړولو جوړولو سره خبري کوي ②بغیر احتیاط بك بك كوي ③او تکبر سره خبرې کونکی. دا روایت بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې نقل کړي دي

حل اللغات: - ①الثَّرْثَارُونَ: په تکلف سره خبرې کول. فضول خبرې کول. ②الْمُتَشَدِّقُونَ: په وازه خله خبرې کول یعنی بې احتیاطئ سره دروغ او مسخرې کول ③الْمُتَفَيْهِقُونَ: په قینج قینج سره خبرې کول. فصیح او بلیغ جملې جوړول په غرور او تکبر سره خبرې کول

۴۷۹۸-(٢) [١]وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ عَنْ جَابِرٍ، وَفِي رِوَايَتِهِ [٢]«قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! قَدْ عَلِمْنَا الثَّرْثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ، فَمَا الْمُتَفَيْهِقُونَ؟ [٣]قَالَ: "الْمُتَكَبِّرُونَ"».

---

[١] اخرجه احمد فی المسند: ۱۹۳/٤

[٢] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ماجاء فی معالی الأخلاق (رقم ۲۰۱۸)

ترجمه: [۱] او ترمذي رحمه الله هم د حضرت جابر رضي الله عنه نه دغه شان روايت نقل کړي دي او د ترمذي رحمه الله په يوروايت کې داسې دي [۲] چې صحابه وو دا ارشاد اوريدو سره عرض وکړو چې يارسول الله د ثرثارون او متشدقون معني خو مونږ ته معلومي دي د متفيهقين نه څه مراد دي؟ يعني منفيهق چانه وايي [۳] حضور عليه السلام وفرمايل تکبر کونکي ته وايي

تسهيلات:

قوله قَدْعَلِمْنَا الثَّرْثَارُونَ:

دثرثارون معنى: ثرثره په لغت کښې زياتوخبرو اودخبرو بار بار تکرار ته وائي اوثرثار هغه چا ته وائي چې په تکلف اوتصنع سره زياتې خبرې کوی زياتې خبرې په دې وجه د شريعت په نظر کښې ښه خبره نه ده څکه چې څوک زياتې خبرې کوی نوکناهونه به ئې زيات وی لکه په يوحديث مبارک کښې چې راځی چې جهنم ته به زيات خلق دخپلو ژبو دلاسه ځي.

وَالْمُتَشَدِّقُونَ:

د متشدقون مخلور معاني: ① غير محتاط کلام کولو والا،

② چه مخ واړی او خلقو پسې ټوقي کوی،

③ يا په وازه خُله فحش کلامي او اشعار ويونکي،

④ يا پيغي او نقل کونکي

قوله فَمَا الْمُتَفَيْهِقُونَ؟:

د متفيهقون مخه مراد: خپله لوئی اوعظمت خلقو ته ذخودلو په غرض سره فصيح اوبليغ تيزې جملې جوړول دې دپاره چه خلق دهغه په رعب کښې راشی داټول کارونه د کبرژنو خلقو دی لهذا په حديث کښې د دې لفظ تفسير پخپله نبي عليه السلام ارشاد فرمائيلې دې "قال المتكبرون" يعنى "متفيهقون" نه متکبرين مراد دی.

[۴۰-۹۹] بې ځايه تعريفونه کولوسره پيسه ګټل او پيشه کرځول د قيامت علامه ده

۴۷۹۹-(۱) [۱۲] [۱] وَعَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ [۲] "لَا تَقُومُ السَّاعَةُ [۳] حَتَّى يَخْرُجَ قَوْمٌ- يَأْكُلُونَ بِأَلْسِنَتِهِمْ [۴] كَمَا تَأْكُلُ الْبَقَرَةُ بِأَلْسِنَتِهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه وايي چې رسول الله عليه السلام وفرمايل [۲] قيامت به ترهغه پورې نه قائميږي [۳] ترڅو پورې چې يو داسې جماعت پيدا نشي چې د خپلو ژبو

۱) اخرجه احمد في المسند: ۱/۱۸٤

په ذریعه به داسې خوري [۴] لکه څرنګه چې غوايې په خپلو ژبو سره خوري (احمد)

حل اللغات: - ① أَلْسِنَتِهِمْ: دلسان جمع ده ژبه مراد ده

تسهيلات:

قوله: لَاتَقُوْمُ السَّاعَةُ حَتَّى يَخْرُجَ قَوْمٌ - يَأْكُلُوْنَ بِأَلْسِنَتِهِمْ:

د ياكلون بالسنتهم مطلب: مطلب دادې چه داخلق به ژبه د خوراك څښاك ذريعه جوړوى اوهغه داسې چه د فاسقانو فاجرانو به بې ځايه مدح اوتعريف كوى دهغوى په تعريف كنبې به شعرونه او قصيدې وائى او ژبه تاوولو راتاوولو سره به دهغوى تعريفونه كوى اوپه دې سره به پيسه ګټى او خورى به ئى يا به د يوبې ګناه مذمت كوى اوپيسه ګټلو سره به ئى خورى داخلق د حلالو اوحرامو فرق نه كولو د وچې نه به دهغه څناور او غوا په شان وى چه د خپلې ژبې په ذريعه سره هرقسم اوچ لامده ښه اوخراب واښه راغونډولو سره جمع كوى اوبياد څه فرق كولونه بغيرئى خورى دې نه غلط قسم خطيبان او شاعران مراد دى چه دحق اوباطل حرام اوحلال فرق نه كوى دې پسې راروان حديث تشريح هم دغه شان ده.

[۴۸۰۰] دالله تعالى بې ځايه مبالغه كونكى لره ناخوښه ګڼړل

[۴۸۰۰] () [۱۷] [۱] وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ قَالَ [۲] إِنَّ اللّٰهَ يُبْغِضُ الْبَلِيْغَ [۳] مِنَ الرِّجَالِ الَّذِيْ يَتَخَلَّلُ بِلِسَانِهٖ كَمَا يَتَخَلَّلُ الْبَاقِرَةُ بِلِسَانِهَا. [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُوْدَاوُدَ وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ هٰذَا حَدِيْثٌ غَرِيْبٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت عبد الله ابن عمر ﷠ نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د خداي ﷻ په نزد هغه سړي سخت ناخوښه دي چې په كلام او په بيان كې د حد نه زيات د فصاحت او بلاغت مظاهره كوي په دي طور [۳] چې هغوئ خپله ژبه داسې تاوولو سره خبري كوي څرنګه چې غوايې خپله چاره رانغاړلو سره په تيزى تيزى د خپلې ژبي په ذريعه خوراک كوي [۴] دا روايت ترمذي او ابوداود نقل كړي دي او ترمذي ﷫ ويلي دي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات: - ① يُبْغِضُ: ناخوښه دي، ② اَلْبَلِيْغَ: په خبرو كښې بې ځايه مبالغه كونكې. ③ يَتَخَلَّلُ: اي يلف الكلام بلسانه كما تلف البقرة بلسانها العلف "يعنى ژبه تاوولو راتاوولو سره كلام كونكې داسې دې لكه چه غوا واښه راتاووى او خورى ئى ④ اَلْبَاقِرَةُ: دا دې مفرد بقرة دې جماعت د بقرو مراد دې.

[۱]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب ما جاء فى المتشدق فى الكلام (رقم-۵۰۰۵) والترمذى فى كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الفصاحة والبيان (رقم-۲۸۵۳) واحمد فى المسند: ۲/۱۸۷

تسهيلات:

قوله: إِنَّ اللهَ يُبْغِضُ الْبَلِيغَ مِنَ الرِّجَالِ:

د بليغ څخه مراد: بلاغت او فصاحت کښي تکلف سره بې ځايه مبالغه کونکي مراد دي چه خله ارتولو سره اوژبه تاوولو سره د حق او باطل په مينځ کښي د فرق کولو نه بغير کلام کوي او د شرعي حدنه تجاوز کوي په شرعي حدودو کښي کلام کولو کښي هيڅ قباحت

[۴۸۰۱] د بې عمله خطيبانو او واعظانو عذاب

۴۸۰۱-(١) [١٨] ١ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "مَرَرْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي بِقَوْمٍ ٣ تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيضَ مِنَ النَّارِ، ٤ فَقُلْتُ: يَا جِبْرِيلُ! مَنْ هَؤُلَاءِ؟ ٥ قَالَ: هَؤُلَاءِ خُطَبَاءُ أُمَّتِكَ الَّذِينَ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ». ٦ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ او حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ٢ د معراج په شپه زه په داسي خلقو تير شوم ٣ چې د هغوئ ژبي د اور په قينچيانو سره پريکيدلي ٤ په دي ليدو سره ما د جبرائيل عليه السلام نه پوښتنه وکړه چې داکوم خلق دي؟ ٥ جبرائيل عليه السلام او ويل دا ستا د امت هغه واعظان او خطيبان دي چې داسي خبري يي کولو چې په خپله به يي عمل نه باندي کاوي ٦ ترمذي دا روايت نقل کړي دي او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دي (ترمذي)

حل اللغات:- ① أُسْرِيَ: چه بوتلې شوم. (په شپه د معراج). ② تُقْرَضُ: پريکولې شوې. ③ شِفَاهُهُمْ: شونډي دهغوی. ④ مَقَارِيضَ: د مقراض جمع ده قينچي

تسهيلات:

قوله: مَرَرْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي بِقَوْمٍ تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيضَ مِنَ النَّارِ:

دبې عمله واعظ سزا: دا د قرض نه دي د پرې کولو په معنی دي. مطلب دا چه کوم خطيبان په ژبه سره څه وائي او عمل دهغې خلاف کوي او د شريعت د حدودو خيال نه ساتي

دمعراج په شپه دغه خلق نبي عليه السلام ته اوخودلي شو چه د هغوی شونډي د سزا په توګه په قينچيانو باندي پرې کولې شوې ځکه چه د هغوی باطن د هغوی د ظاهر نه مخالف وو

[۴۸۰۲] په خوشامندی سره د ژبې چلولو سزا

۴۸۰۲-(٢) [١٩] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "مَنْ تَعَلَّمَ صَرْفَ الْكَلَامِ ٣ لِيَسْبِيَ بِهِ قُلُوبَ الرِّجَالِ أَوِ النَّاسِ، ٤ لَمْ يَقْبَلِ اللهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

[١] اخرجه احمد في المسند: ۳/۱۸۰
[٢] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب ما جاء في المتشدق في الكلام (رقم-۵۰۰۶)

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړي چې د دې مقصد د پاره ژبه تاوولو سره د خبرې کولو طريقه زده کوي [۳] چې په هغه د سړو يا خلقو په زړونو قبضه حاصل کړي [۴] نو خداي تعالیٰ به د قيامت په ورځ نه د هغه نفل عبادت قبول کړي او نه فرض. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① صَرْفَ الْكَلَامِ: خبره تاوول راتاوول. ② لِيَسْبِيَ: دَ ضرب يضرب نه دې قيد کولوته وائي ③ صَرْفًا: نفل عبادت، توبه کول، ④ عَدْلًا: فرض عبادت، فديه ورکول.

تسهيلات:

قوله: مَنْ تَعَلَّمَ صَرْفَ الْكَلَامِ:

د صرف الکلام مفهوم: په حديث مبارک کښې د قيامت علاماتو کښې د يو علامت تذکره ده چه خلق به خپلې ژبې صرف او صرف د خوراکونو د پاره استعمالوي. يعنی د چا بې ځايه تعريف يا د بغض و حسد په وجه د چا دروغ مذمت بيانول او په خپل تحرير و تقرير کښې د زبان دانۍ او د فصاحت و بلاغت مظاهره کول دي د پاره چه خلق د فريب په جال کښې راګير کړم.

قوله: لِيَسْبِيَ بِهِ قُلُوبَ الرِّجَالِ أَوِ النَّاسِ:

دخپل باطل غرض دپاره دخلقو د زړونو متاثر کول: د دې جملې مطلب دا دې چه دَ خلقو زړونه دَژبې په زور او مبالغه کولو سره خپل طرف ته مائل کوي. حقيقت پټولو سره دَ ضرورت نه زيات دَ فصاحت اودَ بلاغت مظاهره کوي دې دَپاره چه خلق دَ ده طرف ته متوجه شي اودا سړې خپل مطلب اوويستلې شي.

قوله: لَمْ يَقْبَلِ اللّٰهُ مِنْهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ صَرْفًا وَلَا عَدْلًا:

دصرف اوعدل مفهوم: بعضې علماؤ دَ صرف نه توبه کول مراد اخستې دی اودَعدل نه فديه ورکول مراد اخستې دی. مطلب دا چه دَ داسې سړی عبادت به نه قبليږی. په دې حديث دَ خلې تيزوالې مبالغه کولو اودَ ژبې دَ غوړوالی سخت مذمت کړې شوې دې.

[۴۸۰۳] په تقرير کښې اعتدال کول غوره دي

۴۸۰۳-(۱)[۲۰] [۱] «وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - [۲] أَنَّهُ قَالَ يَوْمًا وَقَامَ رَجُلٌ فَأَكْثَرَ الْقَوْلَ، [۳] فَقَالَ عَمْرٌو: لَوْ قَصَدَ فِي قَوْلِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُ، [۴] سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " لَقَدْ رَأَيْتُ - أَوْ أُمِرْتُ - أَنْ أَتَجَوَّزَ فِي الْقَوْلِ، [۵] فَإِنَّ الْجَوَازَ هُوَ خَيْرٌ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د حضرت عمرو ابن العاص رضي الله عنه نه روايت دي [۲] چې يوه ورځ هغوئ هغه وخت وفرمايل کله چې يو سړي وعظ کولو يا خطبه ورکولو د پاره ودريدلو او د خپل

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب ما جاء في المتشدق في الكلام(رقم-۵۰۰۸)

فصاحت او بلاغت د اظهار د پاره ډیر اوږود تقریر یي وکړو تردي چې اوریدونکي تنګ شوه [۳] نو هغه وخت حضرت عمرو رضی الله عنه هغه سړي ته وفرمایل که تاپه خپل تقریر کې د اعتدال او میانه روي نه کار اخستي وې یعنی مختصر تقریر دي کړي وای نو بیشکه هغه تقریر به د اوریدونکو په حق کې ډیر ښه وو [۴] ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې زه پوهه شوی یم یا دایي وفرمایل چې ماته حکم راکول شوي دي چې زه په تقریر کې د اختصار نه کار اخلم [۵] حقیقت دادي چې مختصر تقریر ښه وي (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① أَتَجَوَّزَ: چه د اختصار نه کار واخلم.

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ عَمْرٌو: لَوْقَصَدَ فِي قَوْلِهِ لَكَانَ خَيْرًا لَهُ:

حضرت عمرو رضی الله عنه د واعظ په تقریر باندې تبصره: یعنی حضرت عمروبن العاص رضی الله عنه دَ دغه واعظ په تقریر باندې تبصره کولو سره اوفرمائیل چه که دې سړی خپل تقریر مختصر کړې وې نوښه به وه ځکه چه تقریر معتدل کیدوسره دکمی زیاتی نه محفوظ پاتې کیږی او په اوریدونکي به دَدې بوج نه پریوتلو بلکه ښه اثر به کیدو. په دې روایت کښې فقال عمرو دَ اعادهٔ بعدَ عهد په توګه مکرر راوړلې شوې دې. چونکه کلام طویل شو په دې وجه اعاده او مکرر راوړل ضروری شوی وو.

قوله: أَتَجَوَّزَ:

په کلام کښې د اختصار استحسان: مطلب داچه ماته حکم دې چه زه دکلام په بیان کښې دَاختصار نه کاروا خلم ځکه چه په دې کښې خیر دې.

ملاعلی قاری رحمه الله په حواله دَ جامع صغیرو حدیث نقل کړې دې دکوم الفاظ چه دادی.

«لقدأمرت أن أتجوزفي القول فأن الجوازفي القول هوخير»

[۴۸۰۳] بعضې تقریر پشان د جادو اثر کوی او بعضې علم جهالت وی

۴۸۰۳-(^)[۲۱] [۱] وَعَنْ صَخْرِبْنِ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [۲] «إِنَّ مِنَ الْبَيَانِ سِحْرًا، [۳] وَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ جَهْلًا، [۴] وَإِنَّ مِنَ الشِّعْرِ حُكْمًا، [۵] وَإِنَّ مِنَ الْقَوْلِ عِيَالًا» . رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت صخر ابن عبد الله ابن بریده رضی الله عنه خپل پلار (حضرت عبد الله) نه او هغه د صخر د نیکه (دادا) حضرت بریده رضی الله عنه نه نقل کوي هغه اوویل ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي [۲] چې بعضې بیان د جادو په شان وي [۳] بعضې علم جهالت وي [۴] بعضې

^) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب ما جاء فی الشعر(رقم-۵۰۱۲)

اشعار فائده مند يعنى د حكمت او د دانايي نه ډك وي ۵ او بعضې قول وكلام دخان دپاره مصيبت وي (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① سِحْرًا: جادو. ② حُكْمًا: حكمت. دانائی. ③ عِيَالًا: بوج. وبال

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ جَهْلًا:

دان من العلم جهلا دوه مطالب: دَدې جملې يو مطلب دادې چه فرض كړه يو سړى بې فائدې علم حاصل كړو مثلاً هغه علم نجوم اوعلم رمل اوجفر زده كړو يا دَ منطق او فلسفې اوږده بحثونه ئې زده كړل يا دَ جديد تعليم وساوس او فضولياتو كښې لګيا شو په كوم كښې چه نه دَهغه څه فائده شته اونه دَامت څه فائده ده بلكه دَ دغه فضولياتو په زده كړه سره دغه كس دَ قرآن اوحديث او شرعى علوم دَ زده كولونه محروم پاتې شو اوكوم څه ئې چه حاصل كړل هغه دا علم ګڼړى حالانكه دغه خو جهالت دې ځكه چه هغه دَ خدائى او رسول ﷺ نه لرې كوى.باباسعدى رحمه الله څه ښه فرمائيلى.

سعدی بشوئے لوح دل از نقش غیر حق　　علمے کہ رہ حق نہ نماید جہالت است

يعنى اې سعدى دَخپل زړه سختى دَ الله تعالى دَ نوم نه علاوه دَ بل هرڅه نه اووينځه ځكه چه كوم علم دَ حق طرف ته لار خودنه نه كوى هغه جهالت دې.دَدې جملې دويم مطلب دادې چه علم حاصلونكې كله په خپل علم باندې عمل نه كوى نوهغه علم دَ ده دَپاره جهالت دې ځكه چه دَعلم اصل مقصد خو عمل دې كله چه دې په خپل علم باندې پخپله عمل نه كوى نولكه چه هغه جاهل دې.

د دې نه علاوه د دې حديث دا مطلب هم كيدې شى چه كوم سړې د علم دعوې كوى او د خپل ګمان مطابق ځان عالم ګڼړى ليكن په حقيقت كښې هغه عالم نه وى نو د ده دا علم چه د كوم هغه دعوې كرې ده علم نه دې بلكه خالص جهالت او نادانى ده

قوله: وَإِنَّ مِنَ الْقَوْلِ عِيَالًا:

عيال دَعين زير سره دې.مطلب دا چه بعضې خبره داسې وى چه اوريدونكې هغه نه خوښوى اونه هغه اوريدل غواړى يا هغه خبره بې موقعې وى نوداسې خبره كول دَ كونكى دَپاره بوج او وبال جان ثابتيږى.يا هغه خبره كوونكې او اوريدونكې دَ دواړو دَ پوهې نه اوچته وى نودَ دواړو دَپاره وبالِ جان جوړيږى.يا وخت تنګ دې او كلام اوږد شو داهم دَ بوج سبب دې.دَدې حديث مخكښې جمله باندې دَدې نه مخكښې كلام شوې دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۸۰۵] دحضرت حسان رضي الله عنه فضيلت

۴۸۰۵-() [۲۲] [١]عَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ[٢]: «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَضَعُ لِحَسَّانَ مِنْبَرًا فِي الْمَسْجِدِ يَقُومُ عَلَيْهِ قَائِمًا، [٣]يُفَاخِرُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَوْيُنَافِحُ. [٤]وَيَقُولُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللّٰهَ يُؤَيِّدُ حَسَّانَ بِرُوحِ الْقُدُسِ [٥]مَا نَافَحَ أَوْفَاخَرَ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه : [١]بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [٢]چې رسول الله ﷺ به په مسجد نبوي کې مشهور شاعرِ اسلام د حضرت حسان رضي الله عنه د پاره منبر کيخودو چې په هغه به دريدی هغه خپل اشعار اوروَل [٣]او په هغه اشعارو کې به يې د رسول الله ﷺ د طرف نه د فخر اظهار کوي يا دا الفاظ دي چې د رسول الله ﷺ د طرف نه (د کفارو د دين مخالف اشعار او هجو) مقابله به يې کوله [٤]او رسول الله ﷺ به فرمايل خداي ﷻ د حضرت جبرائيل عليه السلام په ذريعه د حسان رضي الله عنه تائيد کوي [٥]ترڅو پورې چې هغه د رسول الله ﷺ د طرف نه مقابله کوي يا دا الفاظ دي ترڅو پورې چې هغه د رسول الله ﷺ د طرف نه د فخر اظهار کوي (بخاري)

حل اللغات :- ① يَضَعُ: کيخودو به ئې، ② يُفَاخِرُ: د فخر اظهار به ئې کولو، ③ يُنَافِحُ: مقابله به ئې کوله. ④ يُؤَيِّدُ: امداد او اعانت کوی.

تسهيلات:

قوله: كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَضَعُ لِحَسَّانَ مِنْبَرًا فِي الْمَسْجِدِ:

په صحابه کرامو کښې څلور لوئی شاعران: يعنی نبي عليه السلام به دَ حضرت حسان رضي الله عنه دپاره دَ منبر اهتمام کولو اوحضرت حسان رضي الله عنه به په هغې باندې اودريدلو اودَ نبي عليه السلام په تعريف اومدح کښې به ئی اشعار وئيل اودَ کافرانودَ مذمت جواب به ئی ورکولو. دادَ حضرت حسان رضي الله عنه دَ پاره يولوئی اعزاز وو. هم دغه وجه ده چه هغوی دَ شاعر رسول ﷺ په عظيم لقب سره يادولې شی. هغوی دَ قريشو په کافرانو باندې دَ هغه وخت دَ دستور اورواج مطابق دَ نسب حسب اوچتوالي او دَ کمترئی په اعتبارسره چوټونه لګولې دی چه دَ قريشو کافرانودَپاره ډير سخت وو. دوی انصاری دی دَ غسانی بادشاهانو په مدح کښې ئی زيات وخت اولګيدو دَ ايمان راوړلونه پس په سفر اوحضر کښې نبي عليه السلام سره وو او په نبي عليه السلام باندې قربان وو. په صحابه کرامو

[١]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب ما جاء في الشعر(رقم-٥٠١٥) والترمذی فی كتاب الأدب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في إنشاد الشعر(رقم-٢٨٤٦)واحمد فى المسند:٧٢/٦

كښې څلور لوئې شاعران تيرشوي دي (١) يو حضرت حسان ﷺ دي (٢) دويم حضرت لبيد ﷺ دي (٣) دريم عبدالله بن رواحه ﷺ (۴) او څلورم حضرت كعب بن مالك ﷺ دي حضرت كعب ﷺ به د مكې دقريشو مذهبي حيثيت په نښه كولو خو حضرت حسان بن ثابت ﷺ به دهغوي خانداني حيثيت په نښه كولو

قوله: إِنَّ اللّٰهَ يُؤَيِّدُ حَسَّانَ بِرُوحِ الْقُدُسِ:

دې نه مراد حضرت جبريل دې د روح اضافت قدس ته د دې وجه نه شوي دې چه الله تعالي دا روح پاک پيدا کړې دې بعضې حضرات وائي چه د قدس نه مراد الله تعالي دې نو بيا دا اضافت د تشريف د پاره دې لکه څنګه چه په بيت الله کښې د بيت اضافت الله ته شوي دې باقې دا خبره چه جبريل ته ئې روح ولې وئيلي دي نو دا ځکه چه ده به انبياء کرامو عليهم السلام ته داسې وحې راوړه چه په هغې کښې به حيات ابديه وو ددې وجه نه ورته روح وئيلي شوي دي

[۴۸۰۶] دَحُدِي خواني (لوري) حکم

٤٨٠٦-() [٢٣] ١ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «كَانَ لِلنَّبِيِّ حَادٍ يُقَالُ لَهُ: أَنْجَشَةُ ٣ وَكَانَ حَسَنَ الصَّوْتِ. فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٤ "رُوَيْدَكَ يَا أَنْجَشَةُ لَا تَكْسِرِ الْقَوَارِيرَ» ٥" قَالَ قَتَادَةُ: يَعْنِي ضَعَفَةَ النِّسَاءِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او حضرت انس ﷺ وايي ٢ چې د رسول الله ﷺ يوحدي خوان وو چې د هغه نوم انجشه وو ٣ هغه ډير خوش اواز وو (د يو سفر په دوران کې) رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل ٤، انجشه! اوښان قلار قلار بيايي او شيشې مه ماتوه ٥ حضرت قتاده ﷺ (د حديث راوي) وايي شيشو نه د رسول الله ﷺ مراد ښځې وي (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① حَادٍ: د اسم فاعل صيغه ده. حُدي خواني کونکې. د سورلو تيزولو دپاره په سُر کښې اشعار يا سندرې وئيل. ② أَنْجَشَةُ: دنبي عليه السلام غلام وو ③ رُوَيْدَكَ: لږ شان نرمي اوکړه. مهلت ورکړه زياته تيزي مه بنايه ④ لَاتَكْسِرِ: مه ماتوه. ⑤ الْقَوَارِيرَ: شيشې. ⑥ ضَعَفَةَ: کمزورې،

تسهيلات:

قوله: كَانَ لِلنَّبِيِّ حَادٍ يُقَالُ لَهُ: أَنْجَشَةُ،

د حاد معنی: دا د اسم فاعل صيغه ده دباب نصر ينصر نه حدواً وحدائ حدی خواني ته وائي په سفرکښې چه کله د قافلې د اوښانو رفتار د ستړې کيدو د وجې سستيږي نو په

) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب: المعاريض [ص:٤٧] مندوحةً عن الكذب (رقم-٦٢١١) ومسلم في كتاب الفضائل/باب في رحمة النبي صلى الله عليه وسلم للنساء وأمر السواق مطاياهن بالرفق بهن (رقم-٧٠ - (٢٣٢٣)) واحمد في المسند: ١/٢٧٠

اوچت آواز سره په خاص سُر سره سندره وئیلې کیږی په کوم سره چه اوښان تیزیدو سره منډه وهی هم دغه سندره او شعرونه وئیلوته حدی وائی

د حدی خوانۍ شروع: دَدې شروع په عجیبه طریقه سره شوې ده هغه داسې چه دَبنومضر یو سړې وو هغه دَ قافلې دَ سفر په دوران کښې خپل غلام اووهلو اودَ هغه په لاس ئی چکونه اولګول نوغلام په چغو سره ژړل او وئیلې وایداه وایداه وایداه کله به ئی داسې وئیل دی دی یعنی یدی یدی یدی دَدغه ژړا نه به یو سرود پیدا کیدو دکوم په وجه به چه ستړې ستومانه اوښانو تیزې منډې وهلې په دې باندې آقا غلام ته اووئیل چه اوس هم دغه شان وایه نوهم داسې دَحدی بنیادکیخودې شو اوبیا په دې کښې ترقی اوشوه

دحدی خوانۍ شرعی حکم: دَحدی خوانۍ شرعی حیثیت دادې که په دې کښې باجې او شپیلئی اوډولکی دوپرئی نه وی نوصرف شعرونه وئیل جائز دی دکوم چه فائده هم شته ګنی جائز نه دی

د حدی خوانۍ یو عجیبه قصه: په حدی خوانئی سره اوښ بالکل مستیږی ملاعلی قاری رحمه الله په مرقات کښې یوه قصه لیکلې ده چه یوکلی وال کره یو سړې میلمه شواو هلته ئی اوکتل چه یوتك تور غلام په زنځیرونو کښې تړلې شوې پروت وو دغه غلام دې میلمه ته اووئیل چه دَخدائی دَپاره زما آقاته زما دَ خلاصولو سفارش اوکړه ځکه چه هغه دَمیلمه خبره چرې هم نه ردکوی میلمه سفارش اوکړو نو دَغلام آقا هغه ته اووئیل چه دې غلام یوډیرلوئی جرم کړې دې هغه داسې چه زما لس اوښان وو دې ظالم په یو سفرکښې داسې حدی خوانی اوکړه چه دَ څو شپو سفرپه یوه شپه کښې مکمل شو کله چه اوښان منزل مقصود ته اورسیدل نو په تیز منډو وهلوسره ټول مړه شوصرف یو اوښ پاتې شو لیکن څه تیك ده زه ستا په سفارش سره داغلام پریږدم میلمه چه کله داقصه واورېده نو وئی وئیل چه دې غلام ته اووایه چه مونږ ته دې هم خپله حدی خوانی واوروی هغه غلام ته حکم ورکړو کله چه غلام په خپل خاص انداز سره حدی خوانی شروع کړه نوهلته موجود ټول اوښان دَ صحراطرف ته لاړل اوتختیدل اوهغه میلمه هم دَ لیونو په شان دَ صحراطرف ته اوتختیدو

قوله: لَاتَكْسِرِ الْقَوَارِيرَ:

دښځوشیشې سره د تشبیه وجه: قواریر دَ قارورة جمع ده دَ شیشې بوتل ته وائی دادَ قرار نه دې ځکه چه په دې کښې اوبه وغیره حصاریدوسره قرار نیسی دې نه مراد ښځې دی ځکه چه ښځې هم صنف نازك دی دَدوی کمزورې اونازك بدن اولطیف جوړخ هم دَ شیشې په شان کمزورې وی په دې وجه شیشې سره دَدوی تشبیه ورکړې شوه.

د شیشې نه ماتولوپه مفهوم کښې دوه اقوال: ① په قافله کښې ښځې هم وی ستا په آواز او

اشعارو سره به دهغوی جذبات هم راؤچت شي په هغوی کښې به مستي راشي اوجذبات بې قابو کيدو سره به په فتنه کښې پريوځي په دې وجه په آرام سره حدي خواني کوه. ملاعلي قاري رحمه الله دا مطلب غير مناسب گرځولې دې

④ په حدي خوانئ سره اوښ ذوق شوق اومستئ کښې راتلوسره تيزي منډې وهي د کوم په وجه چه به هغه ډينجقي وهي اوښځې خوکمزورې مخلوق دې پريوبه ځې اومړې به شي په دې وجه په آرام سره حدي خواني کوه. ملاعلي قاري رحمه الله دا مطلب راجح گرځولې دې

[۴۸۰۷] د شعرونود ښه والي اوبدوالي تعلق دهغې مضمون سره دې

۴۸۰۷-(۱) [۲۴] ① وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ②: «ذُكِرَ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- الشِّعْرُ ③فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ④" هُوَ كَلَامٌ، فَحَسَنُهُ حَسَنٌ، وَقَبِيحُهُ قَبِيحٌ». رَوَاهُ الدَّارَقُطْنِيُّ.

ترجمه : ①او بي بي عائشه رضي الله عنها ②يو وخت د رسول الله ﷺ په مخکې يو شعر ذکر کړ يعني دا پوښتنه وشوه چې شعر او شاعري څه ښه شي دي يا خراب ③نو رسول الله ﷺ وفرمايل ④چې شعر هم يو کلام دي نو ښه شعر ښه کلام دي او خراب شعر خراب کلام دي (دارقطني)

۴۸۰۸- وَرَوَى الشَّافِعِيُّ، عَنْ عُرْوَةَ، مُرْسَلًا.

ترجمه : او امام شافعي رحمه الله دا روايت د حضرت عروه رضي الله عنه نه بطريقِ ارسال نقل کړي دي.

تسهيلات:

د حديث الباب حاصل دا دي چه د شعر ښه والي او بد والي دار و مدار د شعر په مضمون باندې دي که د شعر مضمون ښه وي نو شعر هم ښه دي او که د شعر مضمون ښه نه وي نو بيا شعر هم بد دي.

[۴۸۰۹] په شعر اوشاعرئ کښې مشغول اوسيدل ښه کار نه دې

۴۸۰۹-(۲) [۲۵] ① «وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ②: بَيْنَا نَحْنُ نَسِيرُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِالْعَرْجِ ③إِذْ عَرَضَ شَاعِرٌ يُنْشِدُ ④فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⑤" خُذُوا الشَّيْطَانَ، أَوْ أَمْسِكُوا الشَّيْطَانَ، ⑥لَأَنْ يَمْتَلِئَ جَوْفُ رَجُلٍ قَيْحًا خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَمْتَلِئَ شِعْرًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ①او حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي ②مونږ رسول الله ﷺ سره د سفر په دوران کې عرج کې وو ③چې نا څاپه يو شاعر مخې ته ښکاره شو چې په اشعار ويلو کې مشغول وو ④رسول الله ﷺ د هغه په ليدو سره وفرمايل ⑤دا شيطان راونيسئ يا دايي

---

[1] اخرجه الدارقطني في السنن رقم الحديث ۲ من باب الخبر الواحد يوجب العمل-

[2] اخرجه مسلم في كتاب الشعر (رقم-۹ - (۲۲۵۹) واحمد في المسند:۸/۳

وفرمايل چې دا شيطان د شعر ويلو نه منع کړئ [٦] ياد لرئ د انسان خپل نس (خيټه) د نو نه ډکول په هغه کې اشعار ډکولو نه ښه دي. (مسلم)

حل اللغات: - ① الْعَرْج: دَ مکې اومدينې په مينځ کښې دَ يوځائې نوم دې ② عَرَضَ: مخامخ شو. ښکاره شو. ③ يُنْشِدُ: اشعار ئې وئيل ④ يَمْتَلِئَ: چه ډکه کړې. ⑤ قَيْحًا: پيپ، نو.

تسهيلات:

قوله: خُذُوا الشَّيْطَانَ، أَوْأَمْسِكُوا الشَّيْطَانَ:

راوى ته شك شوې دې چه نبي عليه السلام كوم يو لفظ استعمال كړې وو دغه شاعرته نبي عليه السلام يا خو په دې وجه شيطان وئيلې دې چه دې په خپلو شعرونو كښې بالكل ډوب شوې وو نه دَده په مسلمانانو باندې څه پرواه وه او نه دَ خپل احرام دَ حالت خيال ورسره وو. كه چرې هغه دَ حج په سفركښې وو اونه ورته دَ نبي عليه السلام نه څه حيا ورتله بس صرف په خپلو شعرونو كښې ورډوب او مست وو. دَحديث آخرى كلماتو نه دَدې مطلب تائيد هم كيږى. دَ حديث نه دا مطلب هم اخستې شي چه دا سړې په قبيح اومذموم اشعاروكښې مشغول وو چه پخپله دَ هغه دَ پاره هم اودَ عامو مسلمانانودَپاره هم مضروو په دې وجه نبي عليه السلام هغه شيطان اوګرځولو.

[۴۸۰] تنګ تکوراوسندرې په زړه کښې نفاق پيداکوی

> ۴۸۰-()[۳٦] [١] وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [١] او حضرت جابر ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] رباب وغزلي په زړه كې نفاق داسې پيداكوي څرنګه چې اوبه فصل زرغونوي. (بيهقي)

حل اللغات: - ① الْغِنَاءُ: لوبې او ګانې وئيل، ② يُنْبِتُ: رازرغونوى. ③ الزَّرْعَ: فصل

تسهيلات:

قوله: الْغِنَاءُ يُنْبِتُ النِّفَاقَ فِي الْقَلْبِ كَمَا يُنْبِتُ الْمَاءُ الزَّرْعَ:

د سندرو په اوريدوسره په زړه كښې نفاق پيدا كيدل: دَ باران موسم كښې ډيرې زياتې اوبه راوريږى په كوم سره چه ډير زيات شينكې او وابنه پيداكيږى هم دغه حالت دَ سازونو او ګانو بجانو دې چه په دې سره ډير زر او په زيات مقداركښې دَ انسان په زړه كښې نفاق پيداكيږى او په زړه باندې چه كله دَ نفاق قبضه اوشى نو په پوره بدن باندې دَ نفاق كنترول كيږى لكه چه په ګانې بجانې سره انسان په پوره توګه دَ شيطان په قبضه كښې ورځى. دَهغه په زړه اودَ هغه په روح باندې دَ شيطان راج قائم شى. دَدې په مقابله

۱) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۵۱۰۰

كښې د الله تعالى ذكر او د قرآن پاك تلاوت سره د انسان په زړه كښې ايمان پيدا كيږي او راټو كيږي.

علامه نووي رحمه الله په خپل كتاب روضه كښې ليكلي دي چه سازونو او باجو دوپړو او طنبلونو سره ګانا حرام ده او دي اوريدل هم حرام دي دا د شرابيانو شغل دي

دمذكوره مضمون تائيد په بل حديث سره: د ديلمي په روايت كښې دي چه حضرت انس نه د نبي عليه السلام ارشاد داسي نقل شوي دي چه ((إن الغناء واللهو ينبتان النفاق كما ينبت الماء العشب والذي نفس محمد بيده ان القرآن والذكر ينبتان الإيمان في القلب كما ينبت الماء العشب))

ترجمه: چه حقيت دا دي چه د ګاني او لوبي دواړه په زړه كښې نفاق داسي پيدا كوي لكه چه په اوبو سره سبزي راخيژي او قسم په هغه ذات چه د هغه په لاس كښې د محمد عليه السلام ساه ده چه قرآن و ذكرِ الهي دا دواړه په زړه كښې ايمان داسي راخيژئ لكه چه په اوبو سره سبزي راخيژي.

[٤٨١] دَ شپيلئ دَ آواز دَ وجې نه په غوږونو كښې ګوتې ايخودل

٤٨١-()[٢٤] ١ «وَعَنْ نَافِعٍ - رَحِمَهُ اللَّهُ - قَالَ ٢: كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِي طَرِيقٍ، فَسَمِعَ مِزْمَارًا، ٣ فَوَضَعَ أُصْبُعَيْهِ فِي أُذُنَيْهِ وَنَاءَ عَنِ الطَّرِيقِ إِلَى الْجَانِبِ الْآخَرِ، ٤ ثُمَّ قَالَ لِي بَعْدَ أَنْ بَعُدَ: يَا نَافِعُ! هَلْ تَسْمَعُ شَيْئًا؟ قُلْتُ: لَا، ٥ فَرَفَعَ أُصْبُعَيْهِ مِنْ أُذُنَيْهِ، ٦ قَالَ: كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ فَسَمِعَ صَوْتَ يَرَاعٍ، فَصَنَعَ مِثْلَ مَا صَنَعْتُ. ٧ قَالَ نَافِعٌ: فَكُنْتُ إِذْ ذَاكَ صَغِيرًا». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت نافع تابعي رحمه الله وايي ٢ چې يوه ورځ د حضرت ابن عمر رضي الله عنه سره په لار كي وم (يعني مونږ دواړه يوځاى تلو چې په لار كي) حضرت ابن عمر رضي الله عنه د شپيلي تولكي آواز واوريدلو ٣ او سمدستي خپلي دواړي ګوتي يي په خپلو غوږونو كې وركړلي او د لاري نه اخواكيدو سره دويم طرف ته شو (چي د هغه د اواز نه خپل ځان بچ كي) ٤ بيا هغه د لاري نه اخواكيدو نه پس هغوئ زما نه پوښتنه وكړه اي نافع! آيا ته څه اوري يعنى د شپيلي چې كوم اواز راځي هغه اوس هم جاري دي يابند شوي دي ما اوويل. نه (اوس هغه اواز بند شوي دي) ٥ نو هغوئ خپلي دواړي ګوتي د غوږونو نه واوخكلي ٦ او بيا بيان يي وكړو چې يوه ورځ زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره وم چې حضور صلى الله عليه وسلم د شپيلي آواز واوريدلو بيا حضور صلى الله عليه وسلم هغه وكړل څه چې داوقت ما كړي دي ٧ حضرت نافع رحمه الله وايي هغه وخت زه كم عمره هلك وم يعنى كوچني وم (احمد ابوداود)

حل اللغات: - ① مِزْمَارًا: شپيلئ، ② نَاءَ: او اخوا لاړو، جدا شو، ③ يَرَاعٍ: شپيلئ، باجه، ④ إِذْ ذَاكَ: په هغه وخت،

[1]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب كراهية الغناء والزمر (رقم-٤٩٢٤)

تسهيلات:

قوله: كُنْتُ مَعَ ابْنِ عُمَرَ فِي طَرِيقٍ، فَسَمِعَ مِزْمَارًا:

دمزمار لغوي تحقيق: شپيلئى كومه چه دَ بانړس او لرګى نه جوړولې شى. صحيح او راجح هم دغه دى چه دَ شپيلئى اوريدل او بل ته اورول حرام دى. په رواياتو كښې دې ته قضيب او يراع هم وئيلې شوې دې كوم چه دَ بانړس په معنى دې.

قوله: فَكُنْتُ إِذْ ذَاكَ صَغِيرًا:

يوسوال مقدر: دا جمله دَ يومقدر سوال جواب دې. سوال دادې چه كله حضرت ابن عمر ﷺ دَ شپيلئى دَ آواز نه دومره ځان ساتى چه په غوږونو كښې ئى ګوتې وركړې او دَ لارې نه اخوا شو لرې لاړو نو نافع دَ شپيلئى آواز څنګه اوريدو؟ ولې دَ هغه دَ پاره دا اوريدل جائز وو؟ **دسوال مقدر جواب**: دَدې جواب په دې جمله كښې نافع پخپله وركړې دې چه زه هغه وخت نابالغ ماشوم ووم په دې وجه مكلف نه وو. اوس سوال پيدا كيږى چه دَ نبي عليه السلام په مخكښې حضرت ابن عمر ﷺ څنګه دَ شپيلئى آواز واوريدو؟ نو دَدې جواب هم هغه دې چه كيدې شى چه حضرت ابن عمر ﷺ هم هغه وخت نابالغ وى. باقى غوږونو كښې ګوتې وركول دَ احتياط او دَ تقوىٰ په بنياد باندې دى ګنى بغير دَ قصد نه په غوږونو آواز لګيدل قابل مواخذه نه دى ځكه چه دادَ انسان دَ اختيار نه بهر دى او شپيلئى غږونكې سرې كيدې شى چه يهودى وو.

دګانو بجانو حرمت: بهرحال دَدې حديث نه په واضحه توګه ثابتيږى چه آلات دَ لهو لعب ډولكى باجې شپيلئى وغيره سره موسيقى اوريدل حرام دى. علامه قاضى خان په خپله فتاوىٰ قاضى خان كښې ليكلى دى "إما استماع صوت الملاهى كالضرب بالقضيب ونحو ذلك حرام ومعصية لقوله عليه السلام استماع الملاهى معصية والجلوس عليها فسق والتلذذ بها من الكفر". دَغنا په حرمت باندې دَدې باب په شروع كښې پوره بحث ليكلې شوې دې.

[١٠] بَابُ حِفْظِ اللِّسَانِ وَالْغِيبَةِ وَالشَّتْمِ

دَ ژبې دَ حفاظت، او د غيبت او دَ کنځلو بيان

خلاصة الباب

فيه ستون حديثاً مشتملة على ست مسائل:

① فضيلة حفظ اللسان: ١، ٢٥، ٢٦، ٢٧، ٢٨، ٥٠، ٥١، ٥٢، ٥٣، ٥٤، ٥٥، ٥٦۔

② ضرر عدم حفظ اللسان: ٢، ٢١، ٢٢، ٢٤، ٢٩، ٣٠، ٤٢، ٤٣، ٤٤۔

③ قباحة الشتم واللعن والبخل عموماً وخصوصاً: ٣، ٤، ٥، ٦، ٧، ٨، ٩، ١٠، ٣٤، ٣٥، ٣٦، ٣٧، ٣٨، ٤١، ٤٥، ٥٤۔

④ قباحة النمامة والنفاق والمدح: ١١، ١٢، ١٥، ١٦، ٣٣، ٣٩، ٤٦، ٥٦۔

⑤ ذم الكذب: ١٣، ١٤، ٢٠، ٢٣، ٣٠، ٣٢، ٤٧، ٤٨، ٤٩۔

⑥ ذم الغيبة: ١٧، ١٨، ١٩، ٤٠، ٥٨، ٥٩، ٦٠۔

قوله: وَالْغِيبَةِ:

د غيبت تعريف:

دَ غيبت تعريف راتلونکي حديث نمبر (٤٨٢٩) کښې پخپله راغې چه "ذکرك أخاك بما يكره" يعنې په غائبانه توګه دَ يو مسلمان رور داسې تذکره کول چه که دَهغه په مخامخ دغه تذکره اوکړې شي نو هغه دا ناخوښه کړي. دَ غيبت دَپاره دا شرط دې چه عيب په هغه سړي کښې وي او که عيب په هغه کښې نه وي او څوك ئې بنائي نو دا بهتان دې دَ غيبت دَ پاره دَمُغتاب غائب کيدل هم شرط دې. مخامخ دَ عيب بيانول په بده وينا او کنځلو کې راځي

غيبت د حقوق العباد نه دې يا حقوق الله نه دې؟

غيبت دَ حقوق العباد نه دې لهذا ترکومې پورې چه هغه سړې دَ چاچه غيبت شوې وي معاف نه کړي په توبه کولو سره نه معاف کيږي. حضرت تهانوي رحمه الله ليکلي دي غيبت هغه وخت دَ حقوق العباد نه کيږي کله چه مُغتاب سړي ته دَدې خبر اوشي. که چرې خبر نه وي شوې نو دا په حقوق الله کښې داخل دي. والله اعلم. حضرت تهانوي رحمه الله دا هم ليکلي دي که يو سړې خامخا غيبت کول غواړي نو هغه له پکار دي چه دَخپل مور او پلار غيبت اوکړي دې دَپاره چه دَ غيبت کونکي نيکيانې دَ هغه مور پلار ته لاړې شي چرته غير ته لاړې نه شي. دَ حضرت حسن بصري رحمه الله يو سړي غيبت اوکړو نوهغوي پليټ ډك کړو اوتحفه ئې ورا وليګله چه تا په ما باندې احسان کړې دې چه خپلې نيکئې دې ماته راکړې. يو سړي حضرت حسن بصري رحمه الله ته اووئيل ما ستاسو غيبت کړې دې تاسو

زما دپاره دغه حلال کړئ هغوی او فرمائيل چه کوم څيز الله تعالی حرام کړي دي زه هغه څنګه حلالولي شم دَ غيبت نه د بچ کيدو طريقه داده چه په يو مجلس کښې دَ چا تذکره دي اونه کړي شي

قوله: وَالشَّتْمِ: کنځلوته شتم وائي يوسب او سباب دي دَ بدي وينا په معنی کښې دي که هغه کنځلي وی او که په بل څه طريقه وی دَ غيبت په نسبت په شتم کښې عموم دي دا مړ ژوندي. حاضر غائب نيزدي اولرې ټولو ته شامليدي شی چا سره فحش خبرې اترې کول هغه ته بد ونيل هغه سره خله وهل او نامناسب اوغيرې سنجيده الفاظو سره هغه يادول داهرڅه شتم او کنځلو کښې داخل دی.هم په دې وجه دا دَ غيبت نه پس ذکر کړې دي

د باب خلاصه:

په دې باب کښې به داسې احاديث بيانولي شی په کوم کښې چه دَ ژبې دَحفاظت تذکره وی نامناسب او غيرسنجيده الفاظونه ژبه دَ بچ کولو ترغيب به وی.په شرعی عرفی اواخلاقی توګه خرابو خبرونه دَ ژبې دَ بچ ساتلو تعليم به وی.خاص کر چغلی کنځلي اوغيبت نه دَ بچاؤ تعليم ورکړې شوې دې څکه چه غيبت اوچغلی اوکنځلې داسې څيزونه دی چه په معاشره کښې کينه بغض حسد عداوت او نفاق پيدا کوی.په دې وجه شريعت دَ امن او دَ محبت په غرض سره په دې ناخوښه څيزونوباندې پابندی لګولې ده.دَ قرآن پاك دَ سورتونونه سورت حجرات په خاص توګه دَ دغه معاشرتی بدو حوصله شکنی کوی دَ غيبت باره کښې دَ الله تعالی حکم دې ﴿ وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا ۚ أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ ۚ ﴾[سورة الحجرات: ١٢] دا اعلان هم دې ﴿ لَا يَسْخَرْ قَوْمٌ مِنْ قَوْمٍ عَسَىٰ أَنْ يَكُونُوا خَيْرًا مِنْهُمْ وَلَا نِسَاءٌ مِنْ نِسَاءٍ عَسَىٰ أَنْ يَكُنَّ خَيْرًا مِنْهُنَّ ﴾ [سورة الحجرات: ١١] بهرحال په هرمسلمان سړی او ښځه باندې لازم دی چه هغوی دې دَ الله تعالی دَ حکم په وړاندې خپل سرتيټ کړی اود رسول الله ﷺ سنت دې خپل کړی او دَ غيبت نه دې خپل ځان اوساتی

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٤٨١٢] دَژبې او دَ شرمګاه په حفاظت دَ جنت زيرې

٤٨١٢-(١)[١] [١]عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢]"مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ، [٣]أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١]حضرت سهل ابن سعد ﷺ وايي چی رسول الله ﷺ وفرمايل [٢]کوم سړي چې

[١] اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب حفظ اللسان (رقم-٦٤٧٤)

مانه د دې خبرې ضمانت راکړي چې هغه به د خپل هغه شي حفاظت وکړي چې د هغه د دواړو زامو په منځ کې دي يعنی ژبه او غاښونه او د هغه د دواړو پښو په منځ کې دي يعنی عورت ۳ نو زه د هغه د جنت ضمانت اخلم (بخاري)

حل اللغات: - ① مَابَيْنَ لَحْيَيْهِ: د دواړو جامو مينځ (يعنی ژبه) ② مَابَيْنَ رِجْلَيْهِ: د دواړو خپو په مينځ کښې (يعنی شرم گاه)

تسهيلات:

قوله: مَنْ يَضْمَنْ لِي مَابَيْنَ لَحْيَيْهِ:

دجامو په مينځ کښې د اندام څخه مراد: لحييه تثنيه ده دَدې مفرد لحی دې دواړو جامونه وائی په کوم کښې چه غاښونه ښکته پورته لګيدلی وی دَدې دواړو جامو په مينځ کښې ژبه وی.په دې حديث کښې هم دَ ژبې طرف ته اشاره ده دَحديث مطلب دادې چه نبي عليه السلام ﷺ فرمائی چه کوم سړې ماته دَخپلې ژبې دَ حفاظت ضمانت راکړی چه هغه سړې به په خپله ژبه سره کنځلې نه کوی چغلی خوری نه کوی غيبت به نه کوی دروغ به نه وائی اوبيا به په پوره خله سره حرام نه خوری نوزه دغه سړی ته دَ جنت ضمانت ورکوم

قوله: مَنْ يَضْمَنْ لِي......مَابَيْنَ رِجْلَيْهِ

د خپو په مينځ کښې داندام څخه مراد: دَدوو خپو په مينځ کښې ځيزنه مراد شرمګاه ده دَ شرمګاه ضمانت دادې چه دا به په څه بدکارئی اوبدکردارئی کښې نه استعمالوی دحديث خلاصه دا شوه چه کوم سړې دَ قوت بطنيه او دَ قوت شهويه چه دَخلې اوشرمګاه په ذريعه سره حاصليږی دَدې دواړو قوتونو دَحفاظت ضمانت ورکړی نوهغه ته به دَ جنت ضمانت ملاويږی

قوله: أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ:

دژبې اوشرمګاه په حفاظت د جنت ذمه واری: په انسان کښې درې اندامونه داسې دی که يوکس دهغې حفاظت وکړو نو د ډيرو ګناهونو څخه محفوظ پاتې کيږی يعنی ژبه،شرمګاه او دريم اندام خيټه ده لکه څنګه چې په يوبل روايت ورسره د ((ما بين جنبيه)) اضافه هم راغلې ده يعنی چې څوک ماته د خيټې د حرامو څخه دحفاظت ذمه واری راکړی. اودا څکه چې خيټه کله د حرام رزق څخه محفوظ وی.نوانسان د ډيرو ګناهونو څخه محفوظ وی.اوجهنم ته سړې د ګناهونو په وجه باندې ځی نوچې ګناهونه نه وی جنت ته د تلو قابل جوړيږی څکه نبی عليه السلام داسې کس ته د جنت ذمه واری ورکوی

[٣٨٣] ژبه په قابو کښې د ساتلو ضرورت او اهميت

٣٨٣-()[٢] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "إِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ رِضْوَانِ اللَّهِ [٣] لَا يُلْقِي لَهَا بَالًا، [٤] يَرْفَعُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَاتٍ، [٥] وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللَّهِ [٦] لَا يُلْقِي لَهَا بَالًا، [٧] يَهْوِي بِهَا فِي جَهَنَّمَ» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ [٨] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُمَا: " «يَهْوِي بِهَا فِي النَّارِ أَبْعَدَ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ» ".

ترجمه: [١] او حضرت ابو هريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] حقيقت دا دي چې كله بنده د خپلې ژبې نه څه داسې خبره وباسي چې په هغه كې د حق تعالى خوشنودي وي [٣] نو اگرچه د بکه هغه بنده د هغه خبري اهميت نه پيژني [٤] ليكن خداي ﷻ د هغه په سبب د هغه درجات بلند كوي (يعني اگر كه هغه بنده د خپلي هغه خبري د قدر او اهميت نه واقف نه وي او هغه د يوي ډيري معمولي درجي خبره گڼي خو د حق تعالى په نز هغه خبره ډيره بلند پايه او د لوي مرتبي وي) [٥] د غه شان بنده چې څه داسې خبره د خولې نه اوباسي چې دحق تعالى د ناخوښي ذريعه جوړيږي [٦] نو اگر كه هغه بنده د هغه خبري اهميت نه پيژني يعنى هغه خبره ډيره معمولي گڼي او هغه د ژبي نه اوخكلو كې څه حرج نه گڼي [٧] ليكن په حقيقت كې هغه خبره د نتيجي د اعتبار نه دومره هيبتناكه وي چې د هغه په سبب هغه بنده دوزخ كې ولويږي (بخاري) [٨] او د بخاري او مسلم په يو روايت كې دا الفاظ دي چې هغه د هغه په سبب دوزخ كې دومره لري ولويږي چې د مشرق او مغرب درمياني فاصلې نه زيات دي] يعنى هغه چې چيرته په دوزخ كې لويږي هغه دوزخ كوم خاي چې ولويږي د دې دواړو په منځ كې دومره اوږده فاصله ده چې څومره د مشرق او مغرب په منځ كې هم نه ده.]

حل اللغات:- ① بَالًا: پرواه. اهم نه گڼل. ② سَخَطِ: خفگان. ناخوښي. ③ يَهْوِي: غورزيږي به. ④ أَبْعَدَ: ډير لري.

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّ الْعَبْدَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنْ سَخَطِ اللَّهِ لَا يُلْقِي لَهَا بَالًا:

يعنى دغه سړى چه په ژبه سره كومه خبره كړي ده هغه ته دَدې هيڅ پرواه اونه دې دا څه اهم گڼړى اونه په زړه اودماغو كښې دَدې څه پرواه ساتى ليكن دَدې ډير لرې پورې اثرات پريوځى اودَ دغه كلمې په وجه انسان دَ چرته نه چرته رسيږى.

[١] اخرجه البخارى فى كتاب الرقاق/باب حفظ اللسان (رقم-٦٤٧٧) ومسلم فى كتاب الزهد والرقائق/باب التكلم بالكلمة يهوى بها فى النار (رقم-٥٠ - ٢٩٨٨) والترمذى فى كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى قلة الكلام (رقم-٢٣١٩) وابن ماجه فى كتاب الفتن/باب كف اللسان فى الفتنة (رقم-٣٩٦٩) ومالك فى الموطا كتاب الكلام/باب ما يؤمر به من التحفظ فى الكلام (رقم-٥) واحمد فى المسند:٤٦٩/٣ .

د حديث مقصد :

دحديث شريف مطلب دادې چه يو ښه خبره يا خرابه خبره نظرانداز کول نه دی پکار اګرچه هغه خبره بالکل معمولی شان ولې نه وی بهرحال د ژبې حفاظت د يو مسلمان ذمه واری ده چرته داسې اونه شی چه يو طرف ته هغه نيکی کوی اوبل طرف ته هغه ضائع کوی اودې مثل مصداق جوړيږی "چه نيکی کوه اوکوهی کښې ئی غورزه وه" ددې حديث نه مونږ ته داتعليم ملاويږی چه ژبه په قابو کښې ساتل ډير ضروری دی.

[۴۸۳] مسلمان ته د کنځل کولو او دهغه د وژلو انجام

۴۸۳-() [۳] ① وَعَنْ "عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ① او حضرت عبد الله ابن مسعود ﷺ وايي چی رسول الله ﷺ وفرمايل ② چی يو مسلمان ته کنځل کول فسق دي او د يو مسلمان وژل کفر دي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات :- ① سِبَابُ: کنځل، ② فُسُوقٌ: ښکاره ګناه، غټه ګناه، نافرمانی

تسهيلات:

قوله: سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ، وَقِتَالُهُ كُفْرٌ:

اشکال: داهل سنت والجماعت په نيز دګناه کبيره په ارتکاب سره سړې کافرکيږی نه حالانکه دلته په حديث کښې د مسلمان سره جنګ کول يا هغه قتلولو ته کفر وئيلې شوې دې دې نه خود خوارج اومعتزله مسلك ثابتيږی.

داشکال دوه جوابونه: ① دې سړی دومره لويه ګناه اوکړه لکه چه هغه دکفرپه حد راغلو. ددې سړی دايمان کمال ختم شو نودکمال ايمان نفی ده خالص کافرشوې نه دې داسې کلام تشديد تغليظ او تهديد او توبيخ باندې حمل کولې شی.

② په دې حديث کښې تاويل کولی شی هغه داسې چه کوم سړې دمسلمان قتل اوقتال حلال اوجائز ګڼړی داکفر دې ځکه چه هغه حلال حرام اوګرځول کوم چه کفردې.

[1]) اخرجه البخاری فی كتاب الإيمان/باب خوف المؤمن من أن يحبط عمله وهو لا يشعر (رقم-۴۸) ومسلم فی كتاب الإيمان/باب بيان قول النبی صلى الله عليه وسلم: «س كتاب الايمان/باب المسلم فسوقٌ وقتاله كفرٌ (رقم-۱۱۶ - (۶۴) والترمذی فی كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/بابٌ (رقم-۱۹۸۳) والنسائی فی كتاب تحريم الدم/باب قتال المسلم (رقم-۴۱۰۵) وابن ماجه فی كتاب الفتن/باب سباب المسلم فسوقٌ وقتاله كفر (رقم-۳۹۳۹) واحمد فی المسند: ۳۸۵/۱

[۴۸۱۵] مسلمان ته دَ کفر د نسبت کولو انجام

۴۸۱۵-()[۳] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "أَيُّمَا رَجُلٍ قَالَ لِأَخِيهِ كَافِرُ، ۳ فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وایی چی رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ کوم سړي چي خپل مسلمان ورور ته کافر اووئیلو ۳ نو په هغه دواړو کي په یوه باندي کفر راغلو یعني یا خو ویونکي خپله کافر شو یا هغه سړي چې هغه ته کافر وئیل شوي دي[1] بخاري، مسلم.

حل اللغات: - ① بَاءَ: واپس راځی، اخته کیږی،

تسهیلات:

قوله أَيُّمَا رَجُلٍ قَالَ لِأَخِيهِ كَافِرُ، فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا:

د حدیث د مفهوم دوه صورتونه: یعني یو مسلمان یو بل مسلمان رور ته اووئیل ته کافرئی اوس به دا کلمه په یو باندي صادق راځی او دې دواړو کښي به یو سړې ضرور دَدې کفر کلمه سره واپس راګرځی.

① چاته چې ئی کافر وئیلی دی که هغه واقعی کافر وی نو دا کلمه به لاړه شی هم په هغه پوري به اولګی

② چاته چې ئی کافر وئیلی دی که هغه سړې کافر نه وی نو دا کلمه به واپس کیږی او ویونکی پورې به لګی او هغه به پخپله کافر کیږی.

د حدیث په مفهوم کښې څلور توجیهات: دې حدیث ته په کتلو سره علماء په دې حدیث باندې پوهیدل ډیر ګرانو احادیثو کښې شمیری. دَدې وجه داده چه دَ ګناه کبیره په ارتکاب سره دَ اهل سنت په نیز سړې کافر کیږی نه حالانکه دلته هغه ته کافر وئیلې شوې دې؟ علماء کرامو دَدې څو توجیهات بیان کړی دی.

① چه کوم سړی ته کافر اوئیلې شو داسره دَدې چه ډیره لویه ګناه وه لیکن هغه پخپله اقرار اوکړو چه او دا تاماته کافر وئیلی دی تیک ده زه کافر یم نو دَدغه اقرار په وجه داسې کافر کیږی دغه شان د کفر دا کلمه په هغه باندې راوګرځیده او دې کافر شو.

② دَ حدیث مطلوب او مقصود دادې چه یو مسلمان دې بل مسلمان ته کافر نه وائی دا منع دی که چرې څوک داسې وائی نو بیا به کتلې شی چه مخامخ سړې کافر دې نو تیک ده خبره ختمه شوه لیکن که مخامخ سړې کافر نه دې نو دَدې ویونکی ګناه دومره لویه ده

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب من كفر اخاه بغير تأويل فهو كما قال (رقم-۶۱۰٤)ومسلم فی كتاب الإيمان/باب بيان حال إيمان من قال لأخيه المسلم: يا كافر(رقم-۱۱۱ - (۶۰) ومالک فی الموطا كتاب الكلام/باب ما يكره من الكلام (رقم-۱) واحمد في المسند:۴۷/۲

چه لکه دي کافر شو دا په تشدید تهدید، تغلیظ او توبیخ باندي محمول دي

③ چه ویونکي سړي دا عقیده لري چه مسلمان ته کافر وئیل حلال او جائز دی نو بیکاره خبره ده چه کوم سړي اسلام کفر جوړوی هغه پخپله کافر کیږی

④ د دي حدیث مصداق خوارج دی چه هغوی مسلمانانو ته کافر وائي لیکن دا تاویل ډیر ضعیف دي ځکه چه د دي تاویل مطلب به دا وی چه خوارجو ته کافر اوئیلي شي حالانکه د اکثرو علماؤ په نیز ډیره صحیح او قابل قبول قول دا دي چه د خوارجو فرقي سره تعلق لرونکی خلق بي شکه گمراه دی لکه د اهل بدعتو په شان خو دوی نه کافر نه دی وئیل پکار اگرچه ملا علي قاري وضاحت کړي دي چه دي تاویل ته د دوی په حقله ضعیف نه شي ویلي کیدي ځکه چه دوی صرف اهل سنت و الجماعت نه بلکه د کفر اوچتي درجي والا صحابه کرامو په باره کښي نعوذ بالله د کفر عقیده لرونکی دی

[۴۸۳] یو مسلمان ته د فسق د نسبت کولو انجام

۴۸۳-(۱)[د] ۱ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "لَا يَرْمِي رَجُلٌ رَجُلًا بِالْفُسُوقِ، ۳ وَلَا يَرْمِيهِ بِالْكُفْرِ ۴ إِلَّا ارْتَدَّتْ عَلَيْهِ إِنْ لَمْ يَكُنْ صَاحِبُهُ كَذَلِكَ» "رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هیڅ سړي دي چا ته فاسق نه وايي ۳ او نه دي په هغه د کفر تهمت لګوي ۴ ځکه که هغه سړي د فسق یا کفر حامل نه وي نو د هغه وئیل شوي خبره به هغه ته واپس راجع کیږي (بخاري)

حل اللغات: - ① لَا يَرْمِي: نه دي اولی. نشانه دي نه جوړوی. ② ارْتَدَّتْ: راګرځی. راواپس کیږی

د حدیث الباب حاصل دا دي چه هیڅ یو مسلمان ته هم فاسق مه وایه او نه هغه ته د کفر نسبت کوه ځکه که چرته یو کس داسي یو مسلمان ته فاسق اوئیل چه هغه په حقیقت کښي فاسق نه وی نو هغه وئیونکي به پخپله فاسق شی دغه شان یو مسلمان ته د کافر وئیونکی هم حکم دي

[۴۸۴] یو مسلمان ته د الله تعالی د دښمن وئیلو انجام

۴۸۴-(۲)[۲] ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "مَنْ دَعَا رَجُلًا بِالْكُفْرِ، أَوْ قَالَ: عَدُوَّ اللَّهِ ۳ وَلَيْسَ كَذَلِكَ، ۴ إِلَّا حَارَ عَلَيْهِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړي چې چاته د الله دښمن اووایی ۳ او هغه حقیقتاً داسې نه وي ۴ نو د هغه ویلي خبره خپله هغه ته

[۱] اخرجه البخاري فی کتاب الأدب/باب ما ینهی من السباب واللعن (رقم-۶۰۴۵) واحمد فی السند: ۱۸۱/۵

[۲] اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب بیان حال إیمان من رغب عن أبیه وهو یعلم (رقم-۱۱۲ - (۶۱) واحمد فی السند: ۱۶۶/۵

واپس راجع کیږي یعنی ویونکي خپله کافر یا د الله دښمن کیږي (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① حَارَ: را واپس کیږی، راجع کیږی

[۴۸۱۸] د کنځلو کولو ټوله سزا په کنځل شروع کونکی باندې ده

۴۸۱۸-()[۷] ① وَعَنْ أَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ سَلَّمَ - قَالَ: ② "الْمُسْتَبَّانِ مَا قَالَا، ③ فَعَلَى الْبَادِئِ ④ مَا لَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُومُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ① او د حضرت انس رضی الله عنه او ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② که دوه سړي په خپل منځ کې کنځل وکړي ③ نو د هغوئ ټولو کنځلو ګناه به په هغه سړي راځي کوم یو چې مخکې والي کړي وي ④ ترڅو پورې چې مظلوم تجاوز ونه کړي (مسلم)

حل اللغات:- ① الْمُسْتَبَّانِ: دوه کنځل کونکی. ② الْبَادِئِ: مخکښې کیدونکې، شروع کونکې. ③ يَعْتَدِ: اعتداء تجاوز او د حد نه مخکښې کیدو ته وائی.

تسهیلات:

قوله: قَالَ: "الْمُسْتَبَّانِ مَا قَالَا، فَعَلَى الْبَادِئِ مَا لَمْ يَعْتَدِ الْمَظْلُومُ:

مظلوم ته دخپل مظلومیت په اندازه د بدلې اخستلو اجازت: د حدیث مطلب دادې چه په کنځلو کښې چاچه ړومبې والې اوکړو ټوله ګناه به د هغه په ذمه وی ړومبې والې کونکې ظالم دې لهذا مظلوم که صرف جواب ورکوی نو د جواب د ورکولو د حده پورې په هغه باندې څه ګناه نشته دې او که مظلوم ورمخکښې شو او د ظالم نه ئی د یو دوو قدمو وړاندې تلو کوشش اوکړو او په کنځلو کولو کښې تجاوز کولو سره د حد نه وړاندې شو نو اوس دا مظلوم پخپله ظالم جوړ شو او ړومبې والې کونکې مظلوم شو خو د کنځلو د ړومبی والی د وجې نه هغه به هم په دې جرم کښې شریک وی.

[۴۸۲۰] په چا باندې لعنت وئیل د ښو خلقو کار نه دې

۴۸۲۰-()[۸] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "لَا يَنْبَغِي لِصِدِّيقٍ أَنْ يَكُونَ لَعَّانًا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ① او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② صدیق د پاره دا جائز نه دي چې هغه ډیر زیات لعنت کونکي وي (مسلم)

حل اللغات:- ① صِدِّيق: رښتیا ویونکې. ② لَعَّانًا: لعنت کونکې.

[1] اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب النهی عن السباب (رقم-۶۸ - (۲۵۸۷) وابوداود فی کتاب الأدب/باب المستبان (رقم-۴۸۹۴) واحمد فی المسند: ۲/۲۳۵

[2] اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب النهی عن لعن الدواب وغیرها (رقم-۸۴ - (۲۵۹۷) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی اللعن والطعن (رقم-۲۰۱۹) واحمد فی المسند: ۲/۳۳۷

تسهیلات: قوله: لَايَنْبَغِي لِصِدِّيقٍ أَنْ يَكُونَ لَعَّانًا:

د صدیق تعریف: دَ کوم سړي په قول اوفعل کښې چه تضاد نه وي اودَ نبي قول دَ دلیل اوحجت نه بغیر اومني هغه ته صدیق وائي دَ نبي نه پس دَ صدیق درجه وي. په زیر بحث حدیث کښې دا اوخودلې شو دَ صدیق شان سره دا مناسب نه دی چه هغه په خلقو لعنتونه اووائی ځکه چه دَ لعنت یو مطلب دادې چه دا سړې دعاکوی چه یا الله دا سړې دَ خپل رحمت نه لرې کړه. داسې خیرې کول ډیر نامناسب او لوئی بخل دې چه دَ الله تعالی دَ وسیع رحمت نه دَ یو سړی دَ ویستلو کوشش کوی حالانکه هغه له پکار وو چه دَ الله تعالی په رحمت کښې دَ راوستو دعا ئی کړې وه.

دَ لعنت دویم مطلب دادې چه لعنت ویونکې خبر ورکوی چه فلانکې سړې دَالله تعالی دَ رحمت نه خارج شوې دې دا هم لوئی جرم دې ځکه چه دا سړې دَغیب خبره کوی ده ته څه معلومه ده چه فلانکې سړې دَ الله تعالی دَ رحمت نه خارج شوې دې اوکه یو سړې په کفر باندې مړشوې دې نو په هغه باندې لعنت وئیل جائز دی مګر فرض او ضروری هغه هم نه دی

قوله: أَنْ يَكُونَ لَعَّانًا:

دَ لعنت دوه مفهومه: ① یو قسم کافرانو سره خاص دې. هغه دادې چه سړې دَ الله تعالی دَ رحمت نه بالکل اوځی اودَ رحمت نه لرې شی اودَ رحمت نه بالکل ناامیده شی دَدې مفهوم دَ لعنت تعلق صرف کافرانو سره دې. دا قسم لعنت په مسلمان باندې وئیل حرام دی دَ لعنت

② دویم مفهوم دادې چه یوسړې مثلاً دَ الله تعالی دَ رضا نه لرې شی دَ هغه دَ قرب نه لرې شی دَ داسې قسم لعنت نسبت او دَدې بددعا دَهغه مسلمان دَپاره کیدې شی چه دَ یونامناسب کار ارتکاب کوی.

په مړی باندې د لعنت لیږلو دوه صورتونه: دَ صحابه کرامو یاعلماؤ او اولیاؤ په کلام کښې که چرې دَلعنت ذکر راغلې دې نودَهغې نه دَ لعنت هم دغه قسم مراد دې.

① علماؤ لیکلی دی چه دَمرګ نه پس په چاباندې لعنت وئیل دَ هغه په کفرباندې متفرع دی که چرې هغه په یقینی توګه باندې په کفرمړشوې دې نولعنت وئیل ممکن اوجائز دی سره دَدې چه فرض او ضروری نه دی.

② که دَهغه مرګ په یقینی توګه باندې په کفر نه دې شوې نو په هغه باندې دَ مرګ نه پس لعنت نه شی وئیلې کیدې. په یزید باندې دَ لعنت وئیلو مسئله هم دغه شان ده. کله چه دَهغه مرګ په کفرباندې په یقینی توګه باندې نه دې نولعنت هم جائز نه دې. دَ جمهورو هم دغه مسلك دې.

[۴۸۴۱] د لعنت کونکي سزا

۴۸۴۱-(۱)[۹] ۱ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ: ۲ "«إِنَّ اللَّعَّانِينَ لَا يَكُونُونَ شُهَدَاءَ وَلَا شُفَعَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابودرداء ﷺ وايي ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل ۲ کوم خلق چې زيات لعنت کوي هغوئ به د قيامت په ورځ نه ګواه جوړ شي او نه به يې شفاعت وکړل شي (مسلم)

تسهيلات:

قوله إِنَّ اللَّعَّانِينَ لَا يَكُونُونَ شُهَدَاءَ وَلَا شُفَعَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د لعنت ويونکو د قيامت په ورځ د شهادت اوشفاعت څخه محرومتيا: د حديث حاصل دا دي چه د قيامت په روځ به د دي امت خلق د پخوانو امتونو په باره کښې د ګواه په طور پيش کيږي چه د هغوی رسولانو او پيغمبرانو د الله تعالي احکام هغوی ته رسولی دی او هغوي ئي د الله تعالي طرف ته رابللي وو ليکن هغوی د خپلو رسولانو او پيغمبرانو خبره او نه منله لکه چه الله تعالي فرمائيلی دی [وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَٰكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا۟ شُهَدَآءَ عَلَى ٱلنَّاسِ.. الخ] الآية (البقرة: ۱۴۳) په مذکوره حديث کښې د دغي ګواهي متعلق ارشاد دي چه د قيامت په روځ به داسي خلقو ته د ګواه جوړيدو اعزاز نشي ورکيدي چه کوم په نورو خلقو ډير زيات لعنت وائی بلکه داسي خلق به د قيامت په روځ د شفاعت د درجي نه محرومه کړي شی يعني که دا خلق اوغواړی چه مونږ د نورو خلقو د پاره شفاعت اوکړو نو هغه به هم نشی کولي لهذا دا خلق به د قيامت په روځ د دي انعاماتو نه محرومه وی

[۴۸۴۲] چاته دا خروی هلاکت نسبت کول په خپله هلاکيدل دی

۴۸۴۲-(۲)[۱۰] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " إِذَا قَالَ الرَّجُلُ: هَلَكَ النَّاسُ فَهُوَ أَهْلَكُهُمْ» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ که يو سړي دا اووائي چې خلق هلاک شو يعنی د جهنم د اور مستحق شو نو داسې ويونکي د ټولو نه زيات هلاکيدونکي دي (مسلم)

---

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب النهی عن لعن الدواب وغيرها (رقم-۸۵ - (۲۵۹۸) واحمد فی المسند: ۶/۴۴۸

(۲) اخرجه مسلم فی صحيحه رقم الحديث (۲۶۲۳.۱۳۹) وابوداود فی السنن رقم ۴۹۸۳ ومالک فی الموطا رقم ۲ من کتاب الکلام. واحمد فی المسند ۲/ ۳۴۲

تسهيلات:

قوله: إِذَاقَالَ الرَّجُلُ: هَلَكَ النَّاسُ فَهُوَأَهْلَكُهُمْ:

خلقوته د هلاکت نسبت کولوسزا: یعنی ګرم سړی چه دا ووئیل چه ټول خلق هلاك شو نو په حقیقت کښې هغه د ټولو نه زیات هلاك شوې دې ځکه چه دا سړې د نورو خلقو په عیبونو لټولو کښې اخته دې او خپلې نیکوته ګوری دغه شان دې د ځان خوښنی په مرض کښې راګیردې اونورو خلقوته د سپکاوی په نظرکتلو سره داسې وائی لهذا دې د ټولو نه زیات هلاك شوې دې ځکه چه د ده نورو سره همدردي مقصود نه ده او د هغوی په خراب حال باندې ئی افسوس نه دې اونه ئی څه غم اوخیرخواهی ده صرف هغوی ناامیده کول ذلیل کول اوسپك ګنړل مقصوددی اوکه د ده د هغوی د هدایت فکر دې او د هغوی خیرخواهی مقصود ده او د هغوی په خراب حالت باندې افسوس کول مقصود دی او د یو درد اظهار دې نو په دې صورت کښې داسې وئیل به منع نه وی

[۴۸۲۳] د قیامت په ورځ بدترین سړې هغه دې چې دوه مخیزې وی

۴۸۲۳-()[۱۱] ① وَعَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: -② "تَجِدُونَ شَرَّ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ذَا الْوَجْهَيْنِ، ③ الَّذِي يَأْتِي هَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ، وَهَؤُلَاءِ بِوَجْهٍ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ② د قیامت په ورځ به د ټولو نه بد تر سړي هغه وي چې (د فتنه آنګیزي په اعتبار) دوه مخونه لري یعنی د منافق خاصیت اوصفت لري ③ چې یو جماعت ته راشي نو یو څه ورته وايي او چې بل جماعت ته ورسي نو بل څه ورته وايي. (بخاري مسلم)

حل اللغات: - ① ذَاالْوَجْهَيْنِ: دوه مخیزسړې (یعنی منافق).

تسهيلات:

قوله: تَجِدُونَ شَرَّ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ذَاالْوَجْهَيْنِ:

د ذوالوجهين نه څه مراد دی: دا هغه سړې وی چه د حق اوباطل اصول پریږدی او د خلقو په خیالاتو او رجحاناتو باندې روان وی. د هریو د مزاج مطابق خبرې جوړوی لکه چه ذې د راختلی نمر عبادت کونکې دې او د دې شعر مصداق دې:

معشوقِ من بشیوهٔ ہر کس موافق اند   باماشراب خوردو بزاہد نماز کرد

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب ما قيل في ذي الوجهين (رقم-۶۰۵۸) ومسلم في كتاب البر والصلة والآداب/باب ذم ذي الوجهين وتحريم فعله (رقم-۱۰۰ - (۲۵۲۶) وابوداود في كتاب الأدب/باب ما يقال عند الغضب (رقم-۴۷۸۲) والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في ذي الوجهين (رقم-۲۰۲۵) ومالك في الموطا كتاب الكلام/باب ما جاء في إضاعة المال، وذي الوجهين(رقم-۲۱)واحمد في المسند:۴۹۵/۲

لکه چه دَدې دوه مخيز سړی هم و څه عقيده او نظريه يعنی که چرې دَهغه نه څوك تپوس اوکړی "مامذهبك؟" يعنی ستا دين او مذهب کوم يو دې؟ نو هغه جواب ورکوی "في أي بلد؟" يعنی دکوم ښار دَ مذهب تپوس کوې زه خو يهوديانوسره يهودی عيسايانوسره عيسائی. قاديانانوسره قاديانې، بريليانو سره بريلې، ديوبنديانوسره ديوبندی. سنيانو سره سنی او شيعه ګانو سره شيعه يم نه دکوم ځائی باره کښې تپوس کوې؟ نن صبا زيات تر دَدې قسم خلقو زور دې او هم په دې بې عزتئی هغوی فخر کوی نبي عليه السلام داسې خلق بدترين خلائق ګرځولی دی اودوی ته ئې شرارتی او فسادی وئيلی دی

[۴۸۲۳]چغل خور به جنت ته نه داخليږی

۴۸۲۳-()[۱۳] [۱]وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " [۲]«لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ، [۳]وَفِي رِوَايَةِ مُسْلِمٍ: "نَمَّامٌ".

ترجمه : [۱]او حضرت حذيفه ﷺ وايی چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل [۲]چې چغل خور به په جنت کې نه داخليږي يعنی هغه به نجات پيدا کونکو خلقو سره په ابتداء کې په جنت کې نه دا خليږي (بخاري، مسلم) [۳]او د مسلم په يو روايت کې د قتات په ځاي د نمام لفظ دی

حل اللغات :- (۱)قَتَّاتٌ: چغل خور. فساد اچونکی

تسهيلات:

قوله: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ:

د قتات معنیٰ او جنت ته د داخيلدو مطلب: دَ فساد اچولو په غرض سره دَ يو سړی خبره بل سړی ته رسونکې اودَ اخو نه خبره ديخوا اوديخوانه اخوا اوړونکی سړی ته قتات او نمام چغل خور وائی. که چرې دا سړې چغلی خوړل حلال ګڼړی نودې کافر شو نو جنت ته به کله هم نه ځی اوکه چغلی ګناه ګڼړلو باوجود کوی نو بيا به دَ سزا خوړلو نه پس جنت ته ځی نودَحديث مطلب نشته دبه داشی چه بغيردَسزا نه به جنت ته نه داخليږی چا ښه وئيلی دی

وهم نقلوا عني الذي لم أقل به ‏ ‏ ‏ وما آفة الأخبار إلا رواتها

) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب ما يکره من النميمة (رقم-۶۰۵۶) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب بيان غلظ تحريم النميمة (رقم-۱۶۹ - (۱۰۵) وابوداود فی کتاب الأدب/بابٌ فی القتات (رقم-۴۸۷۱) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی النمام (رقم-۲۰۲۶)واحمد فی المسند:۳۷۲/۵

[٤٨٢٥] رښتیا ویل او دَ دروغونه د ځان ساتلو تاکید

٤٨٢٥-()[١٣١] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ٢ «عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ، ٣ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ، ٤ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ صِدِّيقًا ٥ وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ، فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ، ٦ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللهِ كَذَّابًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ٧ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ قَالَ: " «إِنَّ الصِّدْقَ بِرٌّ، وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ. ٨ وَإِنَّ الْكَذِبَ فُجُورٌ، وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النَّارِ» ".

ترجمه: ١ او حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ رينتيا ويل په ځان باندې لازم کئ ځکه چې (هميشه او پابندي سره) رينتيا ويل نيکو کاري طرف ته سړي بيايي (يعني د رينتيا ويلو خاصيت دادي چې د نيکي کولو توفيق پيدا کيږي) ٣ او نيکو کاري (نيکو کار د) جنت (اعلي درجاتو) ته رسوي ٤ او ياد لرئ کوم سړي چې هميشه رينتيا وايي او هميشه دريښتيا ويلو کوشش کوي نو هغه د الله ﷻ په نزد صديق ليکل کيږي ٥ او تاسو خپل ځان د دروغو ويلو نه وساتی ځکه چې دروغ وئيل سړي فسق وفجور طرف ته بيايي (يعني د دروغ ويلو خاصيت دادي چې بديو او بد عملو طرف ته رغبت وي) او فسق وفجور (فاسق او فاجر) د دوزخ اور ته (ورديکه کوي) ٦ او (ياد لرئ) کوم سړي چې ډير دروغ وايي (او زيات نه زيات) د دروغ ويلو کوشش کوي نو هغه د خداي ﷻ په نزد کذاب يعني ډير دروغجن ليکل کيږي (بخاري. مسلم) ٧ او د مسلم په يو روايت کې دا الفاظ دي حقيقت دادي چې رينتيا وئيل نيکي ده او نيکي سړي جنت ته بيايي، ٨ او دروغ وئيل فسق وفجور دي او فسق وفجور يې د دوزخ اورته ورديکه کوي.

حل اللغات:- ① الْبِرّ: نيکی. ② الْفُجُور: دنافرمانئ کارونه، گناهونه. ③ يَتَحَرّٰي: احتياط کوی. خيال ساتی.

تسهيلات:

قوله: وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ:

د رښتيا په وئيلو صديق ليکلې کيدل: يعنی دَ رښتياوئيلو خيال ساتی په خبرو کښې احتياط کوی دَ دروغو نه ځان بچ کوی نودَ الله تعالی په نيز رښتونې ليکلې کيږی په

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب قول الله تعالى: {يا أيها الذين آمنوا اتقوا الله وكونوا مع الصادقين} [التوبة: ١١٩] وما ينهى عن الكذب (رقم-٦٠٩٤) ومسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب قبح الكذب وحسن الصدق وفضله (رقم-١٠٥ - ٢٦٠٧) وابوداود فی کتاب الأدب/بابٌ فی التشديد فی الكذب (رقم-٤٩٨٩) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الصدق والكذب (رقم-١٩٧١) ومالک فی الموطا کتاب الكلام/باب ما جاء فی الصدق والكذب (رقم-١٦) واحمد فی المسند: ٣٩٣/١

علیین او د فرښتو په دفترونو کښې د هغه نوم صدیق لیکلې کیږی او که په خبره خبره کښې د رښتیا وئیلو په ځائې دروغ وائي

قوله: وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ:

د دروغو په وئیلو کذاب لیکلې کیدل: او که پا سیدو کیناستو تلو راتلو کښې هم د دروغو خیال ښخوی نو د داسې سړی نوم د الله تعالی په نیز او د فرښتو په دفترونو کښې کذاب لیکلې کیږی د انسان د بدن اعتبار او اعتماد د زړه او ژبې د وجې قائم پاتې کیږی که ژبه چرې بې اعتباره شی نو د انسان پوره بدن او د هغه پوره ژوندون د خلقو په نظر کښې پریوځی. دنیا هم لاړه او آخرت هم لاړ چا وئیلی دی "الإنسان بأصغريه" یعنی انسان خود دوو وړو اندامونو زړه او ژبې د وجې نه انسان دې.

[۴۸۴۳] د صلح کولو د پاره دروغ وئیل په دروغو کښې نه راځی

۴۸۴۳-()[۱۳۱] [۱] وَعَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ وَيَقُولُ خَيْرًا وَيَنْمِي خَيْرًا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي ام کلثوم رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] هغه سړي دروغجن نه دي ① چې د خلقو په منځ کې صلح او صفايي کوي ② د نیکي خبره کوي او یوبل ته د نیکي خبري رسوي (اګر که صلح او صفائي کولو او د هغه خبري ویلو او رسولو کې د دروغو نه کار واخلي) (بخاري، مسلم)

د راوي مختصر تعارف:

حضرت ام کلثوم بنت عقبه رضي الله عنها: ام کلثوم رضي الله عنها کنیت دې د پلارنوم عقبه بن ابی معیط د مور نوم اروی بنت کریز وو. د هغوی پلار عقبه د مکې په سختو مشرکانو کښې وو د چا چه اسلام نه سخت نفرت وو.

په ۷ کال د هجرت حضرت ام کلثوم رضي الله عنها مدینې طرف ته هجرت اوکړو وروسې د هغې رونړه هم راغلل اوچه کومه صلح نامه لیکلې شوې وه په هغې کښې دا ووچه د قریشو یوسړې د مکې نه مدینې ته راشی نو هغه به واپس کولې شی. په دې وجه حضوراکرم ﷺ ته فکر شو نو د قرآن پاک دا آیت نازل شو. ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا جَاءَكُمُ الْمُؤْمِنَاتُ مُهَاجِرَاتٍ﴾ چه په دې صلح کښې ښځې داخل نه دی.

اول نکاح د هغې حضرت زیدبن حارثه رضي الله عنه سره بیا د هغه د وفات نه پس زبیربن العوام سره بیا عبدالرحمن بن عوف او بیا آخری نکاح د هغې عمرو بن العاص رضي الله عنهما سره اوشوه.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الصلح/باب: لیس الکاذب الذی یصلح بین الناس (رقم-۲۶۹۲) ومسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب تحریم الکذب وبیان ما یباح منه (رقم-۱۰۱ - ۲۶۰۵) واحمد فی المسند: ۶/۴۰۳

مرویات: - دَ هغې نه تقریباً لس احادیث نقل کولې شی.پورتنې حدیث په صحیحینو کښې دې باقی دَ احادیثو په نورو کتابونو کښې دی.

حل اللغات: - ① يَنْمِي: خوروی،

تسهیلات:

قوله: لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ وَيَقُولُ خَيْرًا وَيَنْمِي خَيْرًا:

د اصلاح راوستلو دپاره د دروغو وئیلو جواز: مثلاً دَ دوو مسلمانانو په خپل مینځ کښې جګړه ده یا لریوالې دې او یو دریم سړې دا فتنه فساد او بغض اوبُعد لرې کولودپاره خلافِ واقعه دروغ خبره کوی.مثلاً یو ته وائی چه روره هغه سړې خوستا ډیر خیرخواه دې هغه ستا تعریف کوی تاسره مینه کوی اوستا باره کښې خودهغه ډیرې ښې ارادې دی دغه شان خبرې لاړشی دویم ته کوی په دې کښې سره دَدې چه دروغ وائی لیکن دا دَ انسانانو په مینځ کښې اصلاح او اخلاص باندې مبنی دی لهذا دَ دروغو دَ وعید نه بهر دی.دغه شان دَ ښځې اوخاوند په مینځ کښې نفرت ختمولودپاره داسې خبرې کول دَ دروغو دَوعیدنه بهر دی.دغه شان دَ چادَ بچ کولودپاره دروغ وئیل جائز بلکه بعضې وخت فرض کیږی.مثلاً یو سړې چا پسې وسله اخستې شاته منډې وهی نوچا ورته اووئیل چه یار هغه خو په دې لار نه دې تلې بلکه په فلانکی لار باندې تلې دې داسې غلط بیان کول جائز بلکه ضروری دی.

[۴۸۲۷] دَمدحې کونکو په خُلو کښې د خاورې اچولو حکم

۴۸۲۷-() [۱۵] ①وَعَنِ الْمِقْدَادِ بْنِ الْأَسْوَدِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ②«إِذَا رَأَيْتُمُ الْمَدَّاحِينَ فَاحْثُوا فِي وُجُوهِهِمُ التُّرَابَ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① و حضرت مقداد ابن اسود رضی الله عنه وایي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ②هرکله چي تاسو تعریف کونکي ووینئ نو د هغه په خوله کي خاوري واچوئ.(مسلم)

حل اللغات: - ②الْمَدَّاحِينَ: دَ مداح جمع ده مدح اوتعریف کونکی ته وائی.③فَاحْثُوا: نو واچوئ.

تسهیلات:

قوله: إِذَا رَأَيْتُمُ الْمَدَّاحِينَ فَاحْثُوا فِي وُجُوهِهِمُ التُّرَابَ:

خاورې اچولو نه څه مراد دې؟: دلته بې ځایه دَ ریاکاری مکاری عیاری او دَ دنیاداری په غرض سره دَ دروغو تعریف کونکی خلق مراد دی.په دې حدیث کښې دی چه دَ داسې

---

[1] اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب النهی عن المدح، إذا کان فیه إفراطٌ وخیف منه فتنةٌ علی الممدوح (رقم-۶۹ - (۳۰۰۲) وابوداود فی کتاب الأدب/بابٌ فی کراهیة الرفعة فی الأمور(رقم-۴۸۰۳)والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کراهیة المدحة والمداحین (رقم-۲۳۹۳) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب المدح (رقم-۳۷۴۲) واحمد فی المسند:۵/۶

خلقو په خله باندې خاوره واچوئی اوس د خاورې اچولونه څه مراد دې؟ نوبعضې شارحین وائی چه دا کلام په حقیقت باندې مبنی دې چه واقعی خاوره اوچته کړه او د دغه مداح په خله باندې ئی ورواچوه بعضو ونیلی دی چه په دې کلام کښې مجاز دې مطلب دا چه دغه تعریف کونکی ته څه نه څه ورکړه ځکه چه د نه ورکولو په صورت کښې به هغه ستا مذمت کوی یا دا مطلب دا دې چه ده ته څه نه څه ورکړه، خاورې ورکړه دې د پاره چه بیا رانلوسره ستا بې ځایه تعریف اونه کړی

[۴۸۲۸] مخامخ د چا تعریف کونکی ته د رسول الله ﷺ هدایت

۴۸۲۸-( )[۱۲] ١وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ٢: «أَثْنَى رَجُلٌ عَلَى رَجُلٍ عِنْدَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٣فَقَالَ: "وَيْلَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ أَخِيكَ" ثَلَاثًا" ٤مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مَادِحًا لَا مَحَالَةَ ٥فَلْيَقُلْ: أَحْسَبُ فُلَانًا، وَاللَّهُ حَسِيبُهُ، ٦إِنْ كَانَ يُرَى أَنَّهُ كَذَلِكَ، وَلَا يُزَكِّي عَلَى اللَّهِ أَحَدًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١او حضرت ابوبکره رضی الله عنه وایي ٢یوه ورځ د رسول الله ﷺ په مخکښې چا د یو سړي (ترحدزیات) تعریف شروع کړې او هغه سړي هم هلته موجود وو (د چاچې تعریف کیدې) ٣نو حضور ﷺ تعریف کونکي ته وفرمایل په تا افسوس دې تا د خپل ورور سټ کټ کړي حضور ﷺ دا الفاظ درې ځلې وفرمایل ٤بیایې وفرمایل که په تاسو کې یو سړي د چا تعریف کول ضروري وګڼي نو هغه ته پکار دي ٥چې مثلاً داسې اووائي چې زه د فلاني سړي باره کې داګمان لرم چې هغه یونیک سړي دي باقي د هغه سړي د حقیقي حالت نه الله ﷻ ښه واقف دي او هغه د هغه د اعمالو حساب اخستونکي دي ٦او که تعریف کونکي دا ګمان لري چې هغه د کوم سړي تعریف کړي دي هغه واقعتاً داسې دي نو په هغه صورت کې هم هغه دي د خداي د طرف نه په یو سړي دي یقین سره حکم نه لګوي (بخاري. مسلم)

حل اللغات:- ①أَثْنَى: صفتونه ئې بیان کړل، تعریفونه ئې اوکړل. ②وَيْلَكَ: تباه شې. افسوس دې په تا. ③عُنُقَ: څټ. ④مَادِحًا: تعریف کونکې. ⑤أَحْسَبُ: زه ګمانه کوم

تسهیلات:

قوله: وَيْلَكَ قَطَعْتَ عُنُقَ أَخِيكَ:

د چا په مخامخ د تعریف کولو ممانعت: د چا سټ پرې کول اګرچه هغه لره د ذبح کولو او د هغه د جسماني هلاکت هم معني دی لیکن دلته د سټ پرې کولو نه مراد روحاني هلاکت

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب ما جاء فی قول الرجل ویلک(رقم-۶۱۶۲) ومسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب النهی عن المدح. إذا کان فیه إفراطٌ وخیف منه فتنةٌ علی الممدوح (رقم-۶۵ - (۳۰۰۰)وابوداود فی کتاب الأدب/بابٌ فی کراهیة التمادح (رقم-۴۸۰۵) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب المدح (رقم-۳۷۴۴) واحمد فی المسند:۴۷/۵

دي چه د هغې مطلب دا دي چه کوم کس د چا تعریف کوی نو هغه (ممدوح) خپل تعریف اوریدو سره په غرور کښې مبتلا شی لهذا لکه څنګه چي د چا سټ پرې کول هغه لره دنیاوی طور سره د هلاکولو مرادف دی نو هم دغه شان د چا مخامخ تعریف کولو سره ګویا چه هغه دیني او اخروي طور سره هلاکت کښې اچول دی.او کله کله خو دا تعریف دنیاوي طور د هلاکت سبب هم جوړ یږی لکه چه یو کس خپل تعریف واوری نو دومره زیات مغروره شی چه ناحقه څوک مړ کړی او بیا د عدالت طرف نه ورته د مرګ سزا واورولې شی نو ده د خپله لاسه خپل ځان نه لاس وینځلو

(که تاسو د چا تعریف کول ضروري ګڼړي) د دې مطلب دا دي چه تاسو په چا کښې یو داسي وصف اومندلو چه د هغې په وجه هغه قابل تعریف وی مثلا یو کس ډیر زیات نیک او صالح وی یا یو کس ډیر زیات خه اخلاقو والا وی او ته د هغه تعریف کول غواړې نو په داسي صورت کښې دا ضروری ده چه ته صرف د خپل ګمان تر حده د هغه تعریف اوکړه، د هغه په باره کښې په جزم و یقین سره فیصله مه کوه بلکه داسي اوایه چه زه فلانکي کس داسي ګڼړم یا د فلانکي کس په باره کښې ځما دا ګمان دي.د دې جمله وجه دا ده چه د چا حقیقي حال د الله نه علاوه چا ته هم معلوم نه دي چه په کوم کس په ظاهر خه او نیک ګمان اوکړې شی نو کیدې شی چې د هغې باطني احوال داسي درجه کښې نه چه هغه د الله خوښ وی لهذا چه کوم کس قابل د تعریف وی نو د هغه په تعریف کولو کښې د احتیاط لاره اختیارول پکار دی.د هغه په باره کښې بالکل آخري فیصله نه دی کول پکار چه دا فلانکي کس یقیني خه او نیک او د الله په نیز پسندیده دي.البته د هغه خلقو معامله بالکل بدله ده چه کوم خلق په احادیثو کښې په صراحت سره قابل د تعریف ګرځولي شوی دی او چه د چا په باره کښې دا ثابته شوي ده چه هغه د الله تعالي په نیز یقینا پسندیده دی لکه عشره مبشره وغیره د داسي خلقو نه علاوه د هیڅ یو کس په باره کښې په جزم ویقین سره دا نه دی ظاهرول پکار چه فلانکي کس د الله په نیز خه او نیک دي

دَتعریف صورتونه:

دَ یوسړی دَتعریف کولو درې صورته کیدې شی.

دَ تعریف ① اول صورت دا چه په مخامخ باندې دَ چا تعریف وی دا ناجائز دې اودَدې حدیث رومبې مصداق هم دغه صورت دې.

دَ تعریف ② دویم صورت دا کیدې شی چه تعریف په مخامخ نه وی بلکه پسې شا وی لیکن چه په دې انداز سره وی چه تعریف کونکی ته یقین دې چه دا تعریف به هغه سړی ته اورسیږی.دا صورت هم دَ اول صورت په شان ناجائز دې.\

دَ تعريف ③ دريم صورت دادي چه پښې شا يوسړي دَ بل سړي تعريف او كړو او دا مقصد ئې بالكل نه وي چه دا تعريف دې هغه سړي ته اورسي دَ چا تعريف ئې چه كړې دې او هغه به په دې تعريف سره خوشحال شي دَدې خبرې ئې مطلق اراده نه وي دَ تعريف دا صورت جائز دې ليكن ددې دپاره شرط دادې چه دَ چا تعريف كيږي هغه سړې دَدغه تعريف مستحق وي هسې بې ځايه تعريف نه وي

[۴۸۲۹] دَ غيبت او بهتان تعريف او تفصيل

۴۸۲۹-( )[۱۷] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: " ۲ «أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ؟ " قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. ۳ قَالَ: " ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ ". ۴ قِيلَ: أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ؟ ۵ قَالَ: " إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ، ۶ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ بَهَتَّهُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ. ۷ وَفِي رِوَايَةٍ: " «إِذَا قُلْتَ لِأَخِيكَ مَا فِيهِ فَقَدِ اغْتَبْتَهُ، وَإِذَا قُلْتَ مَا لَيْسَ فِيهِ فَقَدْ بَهَتَّهُ» ".

ترجمه : ۱ او دَ حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت دې چې يوه ورځ رسول الله ﷺ صحابه وُ ﷺ ته وفرمايل ۲ آيا تاسو ته معلومه ده چې غيبت څه ته وايي صحابه وُ ﷺ عرض وكړو الله او دَ هغه رسول ښه پوهيږي ۳ حضور ﷺ وفرمايل غيبت دادې چې تاسو دَ خپل مسلمان ورور ذكر داسې وكړئ كه هغه يې واوري نو ناخوښه به يې كړي ۴ بعضې صحابه وُ ﷺ دا اوريدو سره عرض وكړو چې يا رسول الله دا راته وښايه كه څما په هغه ورور كې چې دَ هغه مابدې سره ذكر كړې دې هغه عيب وي كوم چې مابيان كړې دې نو آيا بيا به هم غيبت وي ايعنی ما دَ يوسړې باره كې دَ هغه پښې شا دا ذكر وكړو چې په هغه كې فلانې خرابي ده هركله چې په هغه كې واقعتاً هغه خرابي شته او ماچې څه ويلي دي هغه بالكل رينښتيا دي او ښكاره ده كه هغه سړي خپل باره كې څما داسې ذكر كول واوري نو يقيناً به خوابدې شي نو آيا څما هغه طرف ته څه داسې خرابي منسوب كول چې په حقيقت كې په هغه كې وي هغه ته به غيبت وئيل كيږي؟! ۵ حضور ﷺ وفرمايل تاچې دَ هغه دَ خرابي كوم ذكر كړې دې كه هغه واقعي په هغه كې موجود وي نو تا دَ هغه غيبت وكړو ۶ او كه په هغه كې هغه خرابي موجوده نه وي نو تا په هغه باندې بهتان (تهمت) ولګوئ يعنی داخو غيبت دې چې ته دَ چا عيب دَ هغه پښې شا بالكل رينښتيا بيان كړې او كه ته دَ هغه عيب بيانولو كې رينښتيني نه يې نو تاچې هغه طرف ته دَ كوم عيب نسبت كړې دې هغه په هغه كې نه وي نو دا افتراء او بهتان دې چې بذاتِ خود يوه ډيره لويه ګناه ده. (مسلم)

۷ او دَ مسلم په يوبل روايت كې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ وفرمايل كه تا دَ خپل

() اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب تحريم الغيبة (رقم-۷۰ - (۲۵۸۹) وابوداود فى كتاب الأدب/بابٌ فى الغيبة (رقم- ۴۸۷۴) والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الغيبة (رقم-۱۹۳۴) و مالك فى الموطا كتاب الكلام/باب ما جاء فى الغيبة (رقم--۱۰)واحمد فى المسند:۲/۳۸۴

بو مسلمان ورور هغه خرابي بيان کړه کومه چې واقعي هغه کې موجود وه نو تا د هغه غيبت وکړو او که تا هغه طرف ته د داسې خرابي نسبت وکړو چې په هغه کې موجود نه ده نو تا په هغه بهتان ولګوي.

حل اللغات: - ① اغْتَبْتَهُ: تا د هغه غيبت اوکړو ② بَهَتَّهُ: تا په هغه بهتان اولګولو

تسهیلات:

قوله: قَالَ: "ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ":

د درې قسمه خلقو غيبت کول جائز دی: دا دَ غيبت تعريف دې کوم چه پخپله په حديث کښې ذکر دې دا ناجائز اوحرام دی البته دَ درې قسمه خلقو غيبت کول جائز دی په دې کښې ① رومبې فاسق مجاهر دې دَ ده غيبت په دې نيت سره جائز دې چه خلق د ده د شرارت اوخباثت نه محفوظ پاتې شی ② دويم دَ ظالم حاکم غيبت کول جائز دی قرآن کښې دی ﴿ لَا يُحِبُّ اللَّهُ الْجَهْرَ بِالسُّوءِ مِنَ الْقَوْلِ إِلَّا مَنْ ظُلِمَ ﴾ [سورة نساء: ۱۴۸] ③ دريم هغه بدعتی دَ چا بدعت چه خوريږی اودَ غيبت کونکی په غيبت سره فائده هم وی اوهغه دَ اصلاح په نيت سره غيبت کوی يا دَ حفاظت په اراده سره ئی کوی که چرې دا فوائد او شرائط نه وی نودَ بدعتی غيبت دَپاره دَ غيبت جائز نه دې.

[۴۸۳۰] فحش خبرې کونکې د قيامت په ورځ بدترين سړې دې

۴۸۳۰ - (۱)[۱۸] ① «وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - ② أَنَّ رَجُلًا اسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③ فَقَالَ: ائْذَنُوا لَهُ، فَبِئْسَ أَخُو الْعَشِيرَةِ" ④ فَلَمَّا جَلَسَ تَطَلَّقَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي وَجْهِهِ وَانْبَسَطَ إِلَيْهِ، ⑤ فَلَمَّا انْطَلَقَ الرَّجُلُ قَالَتْ عَائِشَةُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! قُلْتَ لَهُ: كَذَا وَكَذَا، ثُمَّ تَطَلَّقْتَ فِي وَجْهِهِ، وَانْبَسَطْتَ إِلَيْهِ. ⑥ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَتَى عَاهَدْتِنِي فَحَّاشًا؟ ⑦ إِنَّ شَرَّ النَّاسِ عِنْدَ اللَّهِ مَنْزِلَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ مَنْ تَرَكَهُ النَّاسُ اتِّقَاءَ شَرِّهِ" ، ⑧ وَفِي رِوَايَةٍ: "اتِّقَاءَ فُحْشِهِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او د بي بي عائشه رضي الله عنها نه روايت دې ② چې يوه ورځ يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کې د حاضريدو اجازت وغوښتل ③ نو حضور ﷺ وفرمايل هغه راپريږدئ چې راشي هغه د خپل قوم خراب سړي دي ④ بيا چې هغه سړي راغلو کينا ستو نو حضور ﷺ دهغه سره په خندا سره ملاقات وکړو او په خنداخندا يې هغه سره خبري کولي ⑤ کوم وخت چې هغه لاړلو نو بي بي عائشه رضي الله عنها عرض وکړو يا رسول الله! تاسو ﷺ خو د دې

(۱) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب «لم يكن النبي صلى الله عليه وسلم فاحشًا ولا متفحشًا» (رقم-۶۰۳۲) ومسلم في كتاب البر والصلة والآداب/باب مداراة من يتقى فحشه (رقم-۷۳ - (۲۵۹۱) وابوداود في كتاب الأدب/بابٌ في حسن العشرة (رقم-۴۷۹۲) والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في المداراة (رقم-۱۹۹۶) ومالک في الموطا كتاب حسن الخلق/باب ما جاء في حسن الخلق (رقم-۴)

سړي باره کې داسې ويلي وه يعنى دامو فرمايلي وه چې هغه سړي د خيل قوم خراب سړي دي خو ناسو ﷺ دهغه سره په ډيره خندا سره ملاقات وکړو او په خنداخندا مو ورسره خبرې کولې [٦] حضور ﷺ ورته وفرمايل تازه فحش ګوکله پيدا کړي يم [٧] ياد لره، د قيامت په ورځ به د الله په نزد درجې په اعتبار سره په ټولو کې بدتر سړي هغه وي چې خلق يې د هغه د خرابۍ په وجه پريږدي [٨] او په يو روايت کې دا الفاظ دي چې د هغه فحش ګويۍ نه دويرېدو په وجه خلق د هغه نه پرهيز کوي (بخاري. مسلم)

حل اللغات: - ① ائْذَنُوا: اجازت ورکړئ. ② أَخُو الْعَشِيرَةِ: د قوم قبيلې خراب سړې. ③ تَطَلَّقَ: په روښ تندی. په خندا خوشحالئ سره. ④ انْبَسَطَ: په فراخئ سره. په خوشحالئ. ⑤ انْطَلَقَ: واپس شو. ⑥ عَاهَدْتِنِي: موندلي يم ⑦ فَحَّاشًا: فحش ګويه. خرابې خبرې کونکې.

تسهيلات:

قوله: أَنَّ رَجُلًا اسْتَأْذَنَ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د رجل مصداق: دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَ فاسق مجاهر دَ شرارت او خباثت نه دَ بچ کيدو په غرض دَهغه دَ شرارت تذکره کول جائز دى. دغه شان دَدې حديث نه داهم معلومه شوه چه دَ داسې سړى دَ شرارت نه دَ بچ کيدو دَپاره دَهغه په مخامخ باندې دَ بدې خبرې کولو په ځائې ښه خبره کوه.

او په روحانى اعتبارسره داسې سړې خومره پريوتي وى چه خلق دَ هغه په مخکښې دهغه د اصلاح خبره هم نه شى کولې. دا سړې عيينه بن حصن فزارى وو روستو مرتد شوې وو بيا دَ مرتدينو په جنګ کښې دَ صديق اکبر ؓ فوج هغه راګيرکړو بيا داسړې مسلمان شو اوبيا مړ شو

[۴۸۳۱] خپله ګناه ښکاره کونکې به په ډير سخت عذاب کې وى

۴۸۳۱-(۱)[۱۹] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢] «كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرُونَ، [٣] وَإِنَّ مِنَ الْمَجَانَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ عَمَلًا بِاللَّيْلِ ثُمَّ يُصْبِحَ وَقَدْ سَتَرَهُ اللهُ [٤] فَيَقُولَ يَا فُلَانُ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا، [٥] وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللهِ عَنْهُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [٦] وَذَكَرَ حَدِيثَ أَبِي هُرَيْرَةَ: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ" فِي بَابِ الضِّيَافَةِ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره ؓ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] ځماهر امتي معاف کيدونکي دي علاوه د هغه خلقو نه چې په ښکاره ګناه کوي (يعني ځما د امت هغه ټول ګنهګاران چې د ايمان حالت کې مړه شي) نو د خداي ﷻ سخت عذاب کې به نه مبتلا

[١] اخرجه البخارى فى كتاب الأدب/باب ستر المؤمن [ص:٢٠] على نفسه (رقم-٦٠٦٩) ومسلم فى كتاب الزهد والرقائق/باب النهى عن هتك الإنسان ستر نفسه (رقم-٥٢ - (٢٩٩٠)

کیږي البته هغه خلق به یقنًا سخت ترین عذاب کې اونخلي چې نه صرف ګناه کوي بلکې خپله ګناه دنیا والو ته هم ښکاره کوي ③بلاشبه داخبره د ډیري بې پروایي (بې حسي او بې شرمي) ده چې یو سړي په شپه کې یو خراب کار وکړي او بیا صبا کیدو باندې هرکله چې خداي ﷻ د هغه خراب کار باندې پرده اچولي وه یا د هغه د بدعملي په وجه یې په شپه کې په عذاب کې مبتلا نه کړي تردي چې ورځ کیدو پوري ټیک ټاك وو بیا هغه ګرځي ④خلقو ته وايي چې اي فلاني سړیه! ما د شپې داسې داسې یعنی فلاني خراب کار کړي دي ⑤حالانکې د هغه پروردګار خو د شپې د هغه په ګناه پرده اچولي وه او هغه په صبا کیدو سره د خداي ﷻ پرده وشلوله (بخاري، مسلم) ⑥او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت : من کان یؤمن بالله الخ باب الضیافة کې نقل شوي دي.

حل اللغات :- ① مُعَافَى : دَ باب مفاعله نه دَاسم مفعول صیغه ده.دَعافیت او سلامتیا په معنی یعنی معاف کړې شوی. ② اَلْمُجَاهِرُونَ : ښکاره ګناه کونکی. ③ اَلْمَجَانَةِ : دشپې ګناه کول او د ورځې خلقو ته بیانول. ④ اَلْبَارِحَةَ : تیره شپه.

تسهیلات:

قوله: كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرُونَ:

د الا المجاهرون دوه مطلبونه :

① ملاعلي قاري رحمه الله فرمائی "کل أمتي لایؤاخذون ولایعاقبون عقابا شدیدا الا المجاهرون". یعنی زما دَامت دَ ټولو کسانو به په ګناهونو باندې دومره سخته مواخذه اوسخت عذاب او عقاب نه کیږی لکه څنګه چه به مجاهرین او په ښکاره ګناه کونکو ته کیږی.

② علامه طیبی رحمه الله دَدې حدیث مطلب داسې بیان کړې دې چه نبي علیه السلام فرمائی چه زما دَ امت ټول خلق به دَ غیبت نه محفوظ او مامون وی دَ دوی غیبت جائز نه دې مګر څوك چه په ښکاره باندې ګناه کوی دَهغوی غیبت جائز دې ځکه چه دَ فاسق مجاهر غیبت غیبت نه دې.

ملاعلی قاری رحمه الله د علامه طیبی قول رد کړی دی :

ملاعلي قاری رحمه الله په دې مطلب باندې رد کړې دې اولیکلی ئی دی چه دا حدیث غیبت سره خاص کول دَ سیاق اوسباق منافی دی.لهذا دادَ عام ګناهونودَپاره عام کول پکاردی چه دَ عامو ګناهونو به دومره سخته سزا نه وی څومره چه په ښکاره ګناه کولو باندې مواخذه کیږی. والله اعلم.

قوله: وَإِنَّ مِنَ الْمَجَانَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ عَمَلًا بِاللَّيْلِ:

یعنی دا جنون بې شرمی اوبې حیائی ده چه سړې پټه ګناه دَ شپې کوی او دَورځې دَهغې

دهندوره وهي چه ما فلانكي فلانكي گناه كړي ده حالانكه الله تعالى په هغه باندې ستر اوپرده اچولې وه دې نه مخكښې ليكلې شوى دى چه د درې قسمه خلقو غيبت كول جائز دى (۱) يوظالم حكمران (۲) دويم متعدى مفسد بدعتى (۳) اودريم فاسق مجاهر په دې حديث كښې هم د دغه مجاهرفاسق بيان كړې شوې دې

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۸۳۲] دروغ او دښمنى پريښودل او خپل اخلاق ښائسته كولو ثواب

۴۸۳۲-() [۲۰] ۱ عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۲ «مَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَهُوَ بَاطِلٌ بُنِيَ لَهُ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ، ۳ وَمَنْ تَرَكَ وَهُوَ مُحِقٌّ بُنِيَ لَهُ فِي وَسَطِ الْجَنَّةِ، ۴ وَمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ بُنِيَ لَهُ فِي أَعْلَاهَا» ". ۵ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَكَذَا فِي " شَرْحِ السُّنَّةِ ". وَفِي " الْمَصَابِيحِ ": قَالَ: غَرِيبٌ.

ترجمه: ۱ حضرت انس رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ كوم سړي چې دروغ وئيل پريږدي او هغه دروغ ناحق او ناروا وي نو د هغه د پاره د جنت په غاړه محل جوړول كيږي. ۳ او كوم سړي چې جګړې بحث او تكرار پريږدي باوجود د دې چې هغه په حقه وي نو د هغه د پاره د جنت په منځ كې محل جوړول كيږي ۴ او چا چې خپل اخلاق ښائسته كړل نو د هغه د پاره به د جنت په اوچت ځاى باندې محل جوړول كيږي. ۵ دا روايت ترمذي نقل كړې دې او ويلي يې دي دا حديث حسن دې دغه شان روايت شرح السنه او مصابيح كې هم منقول دې

او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دي

حل اللغات: - ① رَبَضِ: غاړه. ② مُحِقٌّ: د باب افعال نه د اسم فاعل صيغه د ه. په حقه وى.

تسهيلات

قوله: مَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَهُوَ بَاطِلٌ بُنِيَ لَهُ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ:

د جنت مختلفو درجاتو او مقاماتو وركولو بشارت: په دې حديث كښې درې قسم خلقو ته په جنت كښې د مختلفو درجاتو او مقاماتو وركولو زيرې اورولې شوې دې اول قسم د هغه خلقو دې چه دروغ وئيل پريږدى

قوله: وَهُوَ بَاطِلٌ:

يعنى هغه دروغ چه په حقيقت كښې جرم وى داسې دروغ نه وى چه فى الجمله جائز وى لكه د خلقو په مينځ كښې اصلاح يا ميدان جهاد وغيره كښې د دې اجازت وى هم د دغه

---

۱) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى المراء (رقم-۱۹۹۳) وابن ماجه فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم باب اجتناب البدع والجدل (رقم ۵۱)

احتراز دپاره دا قيد لګولي شوي دي دويم قسم هغه خلق دی چه د تواضع او شرافت نفس په بنياد باندې د شرفساد او جنګ جګړې نه شاته کيږی باوجود ددې چه دهغوی دنياوی حق جوړيږی مګر هغه خپل حق پريږدی د شر د دفع کولو په غرض د جګړې نه لاس واخلی او دريم قسم دهغه خلقو دې چه خپل اخلاق ډير ښکلي او ښه ساتی

د اول قسم خلقو انعام "ربض الجنة" دې يعنی د جنت د دننه حصې په ادنی غاړو باندې به دهغوی د پاره محل تيارولې شی ددويم قسم خلقو انعام "وسط الجنة" دې چه د هغوی نه اعلی او افضل دې ځکه چه د جنت په غاړه کښې نه بلکه د جنت په مينځ اومرکزی مقام کښې به د هغوی محل جوړولې شی د دريم قسم خلقو انعام "اعلی الجنة" دې يعنی د جنت په بالا خانو کښې په اوچتو ځايونو باندې به دهغوی محل جوړولې شی داخلق به دټولو نه اعلی وی ځکه چه دهغوی کارنامه لويه ده ځکه چه دروغ پريخودل او د جګړې نه لاس اخستل ټول د خو اخلاقو نتائج دی.

[۴۸۳۲] جنت اودوزخ ته بوتلونکی عملونه

۴۸۳۲-()[۲۱] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «أَتَدْرُونَ مَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ الْجَنَّةَ؟ [۳] تَقْوَى اللَّهِ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ. [۴] أَتَدْرُونَ مَا أَكْثَرُ مَا يُدْخِلُ النَّاسَ النَّارَ؟ الْأَجْوَفَانِ: الْفَمُ وَالْفَرْجُ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه : [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي چی رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] پوهيږئ چې خلق عام طور سره کوم څيز په جنت کې داخلوي (يعني آيا تاسو ته معلومه ده چې کوم څيزونه د خلقو په جنت کې د داخليدو سبب دي په هغه کې کوم څيز د ټولو نه زيات سبب جوړيږي) [۳] هغه (۱) تقوی يعنی د الله نه ويره (۲) او حسن خلق دي [۴] او پوهيږئ خلق عام طور سره کوم څيز دوزخ ته بيايي، [۵] هغه دوه دوه څيزونه دي يعنی (۱) خوله (۲) او عورت (ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات :- (۱) الْأَجْوَفَانِ: دا د جوف تثنيه ده، دوه دوه څيزونه.

تسهيلات: قوله : الْأَجْوَفَانِ: الْفَمُ وَالْفَرْجُ:

د خلې اوشرمګاه په وجه جهنم ته داخليدل: د انسان په بدن کښې يوه خله او دويم شرمګاه ددې څيزونه دی اوهم دغه څيزونه د ټولو ګناهونو جرړې دی د يوتعلق شهوة البطن سره دې اود دويم تعلق شهوة الفرج سره دې د دوزخ په ټولو اسبابو باندې که نظر اوکړې شی نو مخې ته به هم دغه دوه څيزونه راځی.

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی حسن الخلق (رقم-۲۰۰۴) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب ذکر الذنوب (رقم-۴۲۴۶) واحمد فی المسند:۲/۲۹۱

[۴۸۴۳] د ښه خبرې کولو ثواب او د بدې خبرې کولو انجام

۴۸۴۳-(۱)[۲۲] ۱ وَعَنْ بِلَالِ بْنِ الْحَارِثِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «إِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنَ الْخَيْرِ ۳ مَا يَعْلَمُ مَبْلَغَهَا ۴ يَكْتُبُ اللّٰهُ لَهُ بِهَا رِضْوَانَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ. ۵ وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنَ الشَّرِّ ۶ مَا يَعْلَمُ مَبْلَغَهَا ۷ يَكْتُبُ اللّٰهُ بِهَا عَلَيْهِ سَخَطَهُ إِلَى يَوْمِ يَلْقَاهُ». رَوَاهُ "فِي شَرْحِ السُّنَّةِ". وَرَوَى مَالِكٌ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ نَحْوَهُ.

ترجمه: ۱ او حضرت بلال ابن حارث رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ۲ انسان چې يو کلمه خير (د نيکي خبره) خپلې ژبې نه اوباسي؟ ۳ په داسې حال کې چې هغه د هغه د قدر ومنزلت نه آگاه نه وي ۴ ليکن خداي جل جلاله د هغه کلمه خير په سبب د هغه په حق کې هغه ورځې پورې خپله خوشنودي ثابتوي چې هغه خداي جل جلاله سره ملاقات وکړي ۵ او دغه شان يو انسان کلمه شر (يعني يو خرابه خبره) خپلې ژبې نه وباسي ۶ حالانکې هغه د هغه داهميت نه واقف نه وي ۷ خداي جل جلاله د هغه کلمه شر په سبب د هغه په حق کې هغه ورځې پورې خپله خفگان ناراضتيا ثابتوي چې هغه خداي جل جلاله سره ملاقات وکړو (شرح السنه) او امام مالک رحمه الله ترمذي رحمه الله او ابن ماجه رحمه الله هم د دې قسم روايت نقل کړې دې.

حل اللغات:- ① مَبْلَغَهَا: حقيقت او انجام دهغې (خبرې)، ② سَخَطَهُ: خفگان، ناراضگی

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الرَّجُلَ لَيَتَكَلَّمُ بِالْكَلِمَةِ مِنَ الْخَيْرِ:

د کلمه خير او کلمه شر نه څه مراد دی: يعنی انسان په ژبه سره دَالله تعالی دَ رضا او دَ خوشحالئ څه خبره راؤباسی هغه ته پخپله دَ دغه خبرې اهميت معلوم نه وی ليکن دَ الله تعالی دَ طرف نه دغه سړی ته دَ دغه کلمې دَ وجې نه په دنياکښې داسې خوشحالی حاصليږی چه دا خوشحالی سړی سره په عالم برزخ او قبرکښې وی بيا دَقبر نه پاسيدو سره دَمحشر ميدان کښې ورسره وی بيا دَ پل صراط نه تيريدو سره په جنت کښې ورسره وی اوبيا په جنت کښې دَ الله تعالی جل جلاله سره دَملاقات دَ وخت پورې داخوشحالی ورسره وی هم دغه شان دَ شرکلمه ده داهم دَ الله تعالی غضب ته دعوت ورکوی اوبيا هغه غضب هم دغه شان قبر او برزخ اوبيا محشر اودوزخ کښې ورسره وی.

علماء کرامو داهم ليکلی دی چه کلمة الخير نه دَ ظالم بادشاه په مخکښې دَ حق کلمه وئيل مراد دی اودکلمة الشر نه دَ ظالم بادشاه په مخکښې دَهغه تعريف توثيق او تائيد مراد دې خو دَحديث مفهوم عام دې داهم دغه شان عام ساتل پکاردی خاص کول نه دی پکار.

---

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی قلة الکلام (رقم-۲۳۱۹) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب کف اللسان فی الفتنة (رقم-۳۹۶۹) ومالک فی الموطا کتاب الکلام/باب ما يؤمر به من التحفظ فی الکلام (رقم-۵) واحمد فی المسند:۳/۴۶۹

[۴۸۳۵] په دروغو قصو او لطیفو سره د خلقو د خندونکی دپاره هلاکت دې

۴۸۳۵-()[۲۳] ۱ وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «وَيْلٌ لِمَنْ يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ ۳ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ، وَيْلٌ لَهُ، وَيْلٌ لَهُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ بهز ابن حکیم رحمه الله د خپل پلار (حکیم ابن معاویه) نه او هغه د بهزد نیکه (دادا) حضرت معاویه ابن عبده رضی الله عنه نه روایت کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ افسوس په هغه سړي چې خبره کوي نو دروغ وایي ۳ چې د هغه په ذریعه خلق وخاندي افسوس دي په هغه سړي افسوس دي په هغه سړي (احمد ترمذي ابوداود دارمي)

حل اللغات:- ① وَيْلٌ: هلاکت، د دوزخ یوه کنده ده.

تسهیلات:

قوله: وَيْلٌ لِمَنْ يُحَدِّثُ فَيَكْذِبُ لِيُضْحِكَ بِهِ الْقَوْمَ:

د لفظ ویل تحقیق او د حدیث مصداق: یعنی د داسې سړی دپاره هلاکت دې یا په دوزخ کنبې د ټولو نه لاندې طبقه ده. ددې حدیث مصداق هغه خلق دی چه ددروغو قصې او کهانئی اود دروغو فضول لطیفې بیانولو سره خلق خندوی او یا داسې لطیفې او قصې اوروی په کوم سره چه نعوذبالله د شریعت د یوحکم توهین کیږی اکثر کتلې شوی دی چه بعضې مسخرې کونکې خلق دعامو خلقود خندولو دپاره دژبې نه دکفر کلمه هم راوباسی که چرې په قصو او لطیفو کنبې ظرافت وی او په هغې کنبې د طبیعت د خوشحالولو اسباب وی اود یو مکروه یا حرام په دې کنبې دخل نه وی نو داسې لطیفې اوریدل او اورول جائز دی.

[۴۸۳۶] صرف د خندولو په غرض د خبرو کولو او دژبې د لغزش سزا او انجام

۴۸۳۶-()[۲۴] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَقُولُ الْكَلِمَةَ لَا يَقُولُهَا إِلَّا لِيُضْحِكَ بِهِ النَّاسَ، ۳ يَهْوِي بِهَا أَبْعَدَ مَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ، ۴ وَإِنَّهُ لَيَزِلُّ عَنْ لِسَانِهِ أَشَدَّ مِمَّا يَزِلُّ عَنْ قَدَمِهِ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ حقیقت دا دي چې کله بنده یوه خبره کوي او صرف ددي د پاره یي کوي چې د هغه په ذریعه خلق وخندوي ۳ نو هغه د هغه خبري په ذریعه دوزخ کې ولویږي او دومره لرې ولویږي چې د زمکي او

() اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/بابٌ فی التشدید فی الکذب(رقم-۴۹۹۰) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب فیمن تکلم بکلمة یضحک بها الناس (رقم-۲۳۱۵)واحمد فی المسند:۵/۵

() اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۴۸۳۲

آسمان درمیانه فاصلي نه هم زیاته وي [۲] او دا هم حقیقت دي چې بنده د خپلو قدمونو په ذریعه نبویدو نه زیات د خپلې ژبي په ذریعه ښوییږي (بیهقي)

[۴۸۳۷] چپ پاتې کیدل په لکهونو مصیبتونه لرې کوی

۴۸۳۷-(۱) [۲۵] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ صَمَتَ نَجَا» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن عمرو رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] کوم سړی چې خاموش پاتې شو هغه نجات (خلاصون) پيدا کې (احمد، ترمذي، دارمي، بيهقي)

حل اللغات: - ① صَمَتَ: چپ شو. خاموش شو.

تسهیلات: **قوله**: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ صَمَتَ نَجَا»:

په خاموشی کښې کامیابی ده: دژبې استعمال سره بلاګانې تړلې شوی دی چنانچه چه انسان چه په کومو دنیاوی یا اخروی بلاګانو کښې راګیرېږی دهغه ټولو بلاګانو تعلق بالواسطه یابغیردواسطې دانسان ژبې سره دې په دې وجه چه کوم سړې دژبې د لغزشونو نه محفوظ پاتې شو هغه کامیاب شو اوخاموش اوسیدل د دغه کامیابئ جرړه ده

د کلام قسمونه:

امام غزالی رحمه الله فرمائی انسان چه په ژبه سره کوم کلام کوی دهغې څلور قسمونه دی

① هغه کلام خالص هم نقصان او نقصان وی.

② هغه کلام خالص هم خیر اوخیر وی.

③ هغه کلام په نفع اونقصان دواړو باندې مشتمل وی.

④ په هغه کلام کښې نه نفع وی اونه نقصان وی.

فرمائی چه د اول قسم کلام غیرمفید دې دې نه هم خاموشی بهتر ده. دویم قسم کلام ښه اوبهتر دې لهذا د خاموشئ نه کلام ښه دې. دریم قسم کلام نه بچ کیدل افضل دی ځکه چه فائدې سره نقصان لګیدلې دې. څلورم قسم کلام هم د فضولیاتونه دې که ګناه نه هم وی خوبیاهم ژبه محفوظ ساتل پکاردی

حاصل دا شو چه په هر حالت او په هر صورت کښې خاموشي اختیارول غوره او د نجات ذریعه ده ځکه چه د ژبې آفتونه بې شمیره دی او د هغې نه بچ کیدل ډیر ګران دی مګر چه کله ژبه بنده اوساتلې شی نو بیا کیدې شی چا ډیره خه خبره کړې ده:

اللسان جسمه صغیر وجرمه کبیر وکثیر: د ژبې جثه وړه ده خو د دې جرمونه غټ او ډیر دی

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/بابٌ (رقم-۲۵۰۱) واحمد فی المسند: ۱۷۷/۲

[۴۸۳۸]په دنیا اوآخرت کې دَ نجات دَپاره درې اعمال

۴۸۳۸-()[۲۶] [۱]وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ[۲]: «لَقِيتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقُلْتُ: مَا النَّجَاةُ؟ [۳]فَقَالَ: " أَمْلِكْ عَلَيْكَ لِسَانَكَ، وَلْيَسَعْكَ بَيْتُكَ، وَابْكِ عَلَى خَطِيئَتِكَ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : [۱]او حضرت عقبه ابن عامر رضی الله عنه وايي [۲]چې ما درسول الله ﷺ سره ملاقات وکړو او عرض مي وکړو ماته وښايه چې په دنيا او آخرت کې د نجات ذريعه څه ده [۳] حضور ﷺ وفرمايل ①خپله ژبه په قابو کې ساته ②او ستا کوردي ستا کفايت وکړي ③ او په خپلو ګناهونو ژاړه.(احمد ترمذي)

حل اللغات :- ①أَمْلِكْ: قابو کړه، ②وَلْيَسَعْكَ: کافي دې شی تالره، ③بَيْتُكَ:کور ستا

تسهيلات:

قوله :لَقِيتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقُلْتُ: مَا النَّجَاةُ؟:

دآخرت دنجات درې خبرې:

① ژبه قابوکښې اوساته هيڅ قسم کنځلو غيبت اودهوکه اودرغوکښې ژبه مه استعمالوه.

② ستاکوردې ستاسو دَپاره ارت وی يعنی توله ورځ اوتوله شپه خپل کورکښې دَ الله تعالى په ذکر فکر اوعباداتو کښې اوسيږه دَبهر دَمجلسونو اونشستونو او جلسو جلوسونو نه اودَ عامو خلقو دَملاويدو نه خپل ځان جدا اوساته ځکه چه په دې مواقع کښې سړې په قسم قسم فتنوکښې اخته کيږی.

③ په خپلو ګناهونو باندې ستومانه او خپيمانه کيدوسره ښه ژړا کوه اومکمل توبه اوباسه ژړا نه درځی نودَ ژړا صورت جوړکړه.

دنبی عليه السلام جواب علی اسلوب الحکيم:امام طيبي فرمائی چه د نبي عليه السلام دا جواب د اسلوب حکيم په طور دي مطلب دا چه د سائل سوال د نجات د حقيقت په باره کښې وو ليکن جواب کښې د حقيقت نه اعراض اوکړي شو او د نجات سبب طرف ته ئي نشاندهي کړي ده ځکه چه دحقيقت پيژندلو په مقابله کې د سبب پيژندل اهم او اعلي دی

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی حفظ اللسان (رقم-۲٤۰۶)واحمد فی المسند:۵/۲۵۹

[٤٨٣٩] تول اندامونه هره ورځ ژبې ته عاجزي سره درخواست کوي

٤٨٣٩-()[٢٧] [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- رَفَعَهُ قَالَ[٢]: " «إِذَا أَصْبَحَ ابْنُ آدَمَ [٣] فَإِنَّ الْأَعْضَاءَ كُلَّهَا تُكَفِّرُ اللِّسَانَ، [٤] فَتَقُولُ: اتَّقِ اللَّهَ فِينَا، [٥] فَإِنَّمَا نَحْنُ بِكَ، [٦] فَإِنِ اسْتَقَمْتَ اسْتَقَمْنَا، وَإِنِ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابو سعيد خدري ﷺ د حضور ﷺ نه بطريق مرفوع نقل کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [٢] هرکله چې بني آدم سهار کوي نو ټول د جسم اعضاء د ژبې مخکې عاجزي کوي [٤] او وايي چې زمونږ په حق کې د الله نه ويريږه [٥] ځکه چې زمونږ تعلق ستا سره دي [٦] که ته درسته يې نو مونږ به هم درست يو او که ته کږه شې نو مونږ به هم کاږه شو (ترمذي)

حل اللغات:- ① تُكَفِّرُ: عاجزي او انکساري کوي، ② اسْتَقَمْتَ: ته صحيح او درسته شې. ③ اعْوَجَجْتَ کږه شې ته.

تسهيلات:

قوله: فَإِنِ اسْتَقَمْتَ اسْتَقَمْنَا، وَإِنِ اعْوَجَجْتَ اعْوَجَجْنَا:

د ټولو اندامونو صحيح استعمال باره کښې ژبې ته عاجزي کول: يعنې ټول اندامونه د ژبې په وړاندې عاجزي تواضع او انکساري کوي که چرې ته ټيک وې نو مونږ به هم ټيک يو او که ته کګه وې نو مونږ به هم کاګه يو زمونږ انحصار په تاباندې دي.

اشکال: په صحيح حديث کښې د زړه متعلق داسې راغلي دي «ألا إن في الجسد مضغة إذا صلحت صلح الجسد كله» يعنې د زړه په وجه د انسان ټول بدن صحيح کيږي او خرابيږي حالانکه په زير بحث حديث کښې د ژبې باره کښې دي چه د دې په ذريعه سره ټول بدن صحيح کيږي او خرابيږي. دا تعارض دې؟

داشکال جواب: ژبه د زړه ترجمان دې نو د زړه طرف ته نسبت حقيقت دې او د ژبې طرف ته نسبت مجازاً دې په شرح عقائد کښې دا شعر ذکر دي

إن الكلام لفي الفؤاد وإنما جعل اللسان على الفؤاد دليلا

علماؤ ليکلي دي چه "الانسان بأصغريه" يعنې انسان د دوو وړو څيزونو د وجې نه انسان دي يو زړه دي او بل ژبه ده

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في حفظ اللسان (رقم-٢٤٠٧) واحمد في المسند:٩٦/٣

[۴۸۴۰] فضول خبري پريخودل دَ اسلام په محاسنو کښې داخل دي

۴۸۴۰-(۱)[۳۸] ⑴وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⑵"«مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ»". رَوَاهُ مَالِكٌ، وَأَحْمَدُ.

ترجمه: ⑴او حضرت علي رحمه الله ابن حسين رضي الله عنهما يعنى حضرت امام زين العابدين رحمه الله وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ⑵د انسان خوبي داده چې هغه شي پرېږدي کوم چې بې فائدې دي مالك احمد

حل اللغات: - ①لَا يَعْنِيهِ: بې فائدې او فضول خبرې.

تسهيلات:

قوله: مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ:

دبې ضرورته خبرو پريخودل:

د يو كس د اسلام د حسن و خوبي او د ايمان د كامل والى علامت دا دي چه هغه به د داسي څيزونو نه اجتناب او پرهيز كوى چه د كوم څيز اهتمام ځوک نه كوى او چه د كوم څيز سره چه څه غرض نه وى متعلق او چه د كوم څيز دا شان نه وى چه څوک ئي اهتمام اوكړى او د هغې په حصول كښې مشغوله شي.حاصل دا چه هغه څه امر ضرورى نه وى.چنانچه د امرِ لا يعني تعريف او وضاحت هم دا دي.د دي په خلاف چه كوم څيز امرِ ضرورى وى او د هغې خلق اهتمام كوى نو هغه داسي څيز وى چه د هغې سره په دنيا كښې ضروريات زندګي او په آخرت كښې سلامتي او نجات متعلق وى.

دنيا سره متعلق ضروريات:

① غذا ده چه هغه لوږه ختموى

② اوبه دى چه تنده لرې كوى

③جامې چه ستر پټوى

④ ځلورمه ښځه (زوجه) ده چه عفت و پاكدامني د حفاظت ذريعه ده او هم دغه شان نور هغه څيزونه چه نور ضروريات زندګي پوره كوى،

نه كه هغه څيزونه چه د هغې سره صرف د نفس د لذت، د حرص و هوس د پوره والي او د دنياوي محبت سره يئ تعلق وى، دارنګ هغه افعال و اقوال و حركات و سكنات هم نه چه كوم فضول و بې فائدې وى.

آخرت سره متعلق ضروري څيزونه: هم دغه شان هغه څيز چه د كوم سره د آخرت سلامتي او نجات متعلق وى، ايمان، اسلام او احسان چه د هغې وضاحت د دي كتاب په شروع

---

۱) اخرجه مالک فی الموطا کتاب حسن الخلق /باب ما جاء فی حسن الخلق (رقم-۳) واحمد فی المسند:۱/۲۱۱

كښې په حديث جبرئيل كښې ذكر شوي دي حاصل دا چه كوم څيز دنيا و آخرت كښې ضروري وې او چه په كوم د دنيوي و اخروي زندګي انحصار و مدار وى او چه كوم د مولى د رضا سبب وى نو هغه لا يعني نه دې د دي نه علاوه باقي ټول څيزونه لا يعني دي خواه كه د هغې تعلق د عمل سره وى او كه د قول سره.

د لايعنى خبرو مثال: امام غزالي رحمه الله فرمائي چه بې فائدې اولايعنى خبرې هغه دى دكوم په نه كولو سره چه په يو سړي باندې ګناه نه لازميږى او په كولو كښې د لغزش خطره وى مثلاً يو سړې د پخوانئى زمانې د خپل مختلف سفرونو اوريدې قصې اوروى كه چرې دې هغه قصې بيان نه كړى نو هيڅ ضرورى نه دى اوكه بيانوى ئې نو په دې كښې لغزش او د غلطئى خطره شته دا فضول اولايعنى خبرې دى كه لغزش نه هم وى خو بياهم په دې سره قيمتى وخت خو ضائع كيږى امام ابوحنيفه رحمه الله فرمائى دا حديث د اسلام په څلورو حصو كښې څلورمه حصه او ربع الإسلام دي.

۴۸۳۱-()[۱] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهُ،عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ،وَالتِّرْمِذِيُّ،وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" عَنْهُمَا.

ترجمه: [۱] او دا روايت ابن ماجه د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه او ترمذي او بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كې دواړو يعنى حضرت ابوهريره رضي الله عنه او حضرت علي ابن الحسين رضي الله عنه نه نقل كړي دي.

تسهيلات: **قوله:** مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ:

په كلمه د ،، من،، كښې دوه احتمالات:

① امام طيبي فرمائي چه دا من تبعيضيه ده او دا د نبي عليه السلام هغه قول طرف ته اشاره ده چه الإحسان أن تعبد الله كأنك تراه.

② من بيانيه شى نو دي صورت كښې به عبارت داسې شى **تركه ما لا يعنيه هو حسن اسلام المرء** يعني لايعني خبرې پريخودل د انسان د اسلام د خوبيانو نه يوه خوبي ده.

اسلام سره متعلق څلور بنيادى احاديث:

امام نووي فرمائي چه دا حديث په هغه څلورو احاديثو كښې شمارلي كيږى چه په هغه څلورو باندې د اسلام دارو مدار دي.

① حديث نعمان بن بشير: الحلال بين والحرام بين وبينهما مشتبهات لا يعلمهن إلا الله.

② من حسن إسلام المرء تركه ما لا يعنيه.

③ لا يؤمن عبد حتى يحب لأخيه ما يحب لنفسه.

---

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب(رقم-۲۳۱۷، ۲۳۱۸) وابن ما جه في السنن كتاب الفتن/باب كف اللسان في الفتنة (رقم-۳۹۷۶)

⑨ إنما الأعمال بالنيات،

بعضي حضراتو د دريم حديث په ځاي دا حديث ليکلي دي چه ازهد في الدنيا يحبك الله وازهد فيما في أيدي الناس يحبك الناس. خو مشهور رومبني دي (التعليق الصبيح ج ۵ ص: ۱۸۶

[۴۸۳۲] په يقين سره د چا د آخرت فيصله کول مناسب نه دي

۴۸۳۲ -(¹) [۲۹] ①وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ②: «تُوُفِّيَ رَجُلٌ مِنَ الصَّحَابَةِ.③فَقَالَ رَجُلٌ: أَبْشِرْ بِالْجَنَّةِ.④فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَوَلَا تَدْرِي، ⑤فَلَعَلَّهُ تَكَلَّمَ فِيمَا لَا يَعْنِيهِ، أَوْ بَخِلَ بِمَا لَا يَنْقُصُهُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه : ①او حضرت انس رضي الله عنه وايي ②چې يوه ورځ په صحابه وُ رضي الله عنهم کې يو سړي وفات شو ③نو يو دويم سړي مرحوم مړي مخاطب کولو سره اوويل د حضور ﷺ د صحبت له برکته دي تاته د جنت بشارت وي ④رسول الله ﷺ (دي خبري اوريدو سره) هغه سړي ته وفرمايل ته دا خبره څرنګه کوي هرکله چې د حال حقيقت تاته معلوم نه دي ⑤کيدي شي چې دي سړي څه معامله کې ①خپلي ژبي نه داسې الفاظ ويستلي وي چې د هغه د پاره ضرر رسان وي ②يا يو په داسې شي کې يي بخل کړي وي چې په هغه کې کمي نه راځي (ترمذي)

حل اللغات :- ① لَا يَنْقُصُهُ: کمی نه راځی په هغې کښې.

تسهيلات:

قوله: أَوَلَا تَدْرِي، فَلَعَلَّهُ تَكَلَّمَ فِيمَا لَا يَعْنِيهِ، أَوْ بَخِلَ بِمَا لَا يَنْقُصُهُ:

بې ضرورته خبرې کوتکې باندې د جنتی حکم لګولو ممانعت: يعنی دَ چا باره کښې په يقين او جزم سره داسې فيصله نه دی کول پکار چه دا سړې جنتی دې ځکه چه دا دَ غيب معامله ده کومه چه الله تعالی ته حواله ده. تاسوته دَ دغه سړی دَ ظاهری او باطنی ټولو اړخونو علم نشته دې سره دَدې چه په ظاهره دا سړې دَ پاکيزه ژوندون مالك دې بلکه صحابی هم دې ليکن تاسو ته دَ هغه دَ ټولو معاملاتو علم نشته دې ډير ممکن دی چه ده څه بې فائدې خبره کړې وی يا په داسې څيز کښې بخل کړې وی په کوم کښې چه بخل نه دی کول پکار. مثلاً په صدقه کولو کښې ئی سستی کړې وی يا لايعنی خبره ئی کړې وی.

د حديث خلاصه :

د حديث خلاصه : يقين سره داسې فيصله کول دَ يوبنده دَپاره مناسب نه ده دکوم دَ مستقبل باره کښې چه هغه ته علم نه وی. دَ بخل کولو مطلب دادې چه سلام کولو صدقه ورکولو اوعلم خورولو کښې بخل کوی په کوم سره چه دَ يو څيز دَ کميدو خطره.

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب(رقم-۲۳۱۶)

[۴۸۴۳] د ژبې د فتنې نه بچ اوسئ

۴۸۴۳-(۱)[۳۰] [۱] «وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ الثَّقَفِيِّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ [۲]: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَخْوَفُ مَا تَخَافُ عَلَيَّ؟ [۳] قَالَ: فَأَخَذَ بِلِسَانِ نَفْسِهِ وَقَالَ: "هٰذَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَصَحَّحَهُ.

ترجمه: [۱] او حضرت سفیان ابن عبد الله ثقفي ﷺ وايي [۲] يوه ورځ ما عرض وکړو چې يا رسول نشته د بالله! تاسو ﷺ چې خما باره کې د کومو څيزونو نه ويريږي په هغه کې د تولو نه زيات خوفناك شي کوم يودي [۳] حضرت سفيان ﷺ وايي (په دي اوريدو سره) حضور ﷺ خپله ژبه مبارکه ونيوله او وي فرمايل چې داشي [يعنی ستا باره کې ماته د ټولونه زياته ويره دي ژبې نه لګيږي چې د ګناه اکثره خبري دي نه صادر کيږي نو ته د دي ژبې دفتنې نه محفوظ اوسه] ترمذي دا روايت نقل کړي دي اودايي صحيح ګرځولي دي.

د راوي مختصر تعارف:

حضرت سفيان ابن عبدالله ثقفي: د حديث د راوی نوم سفيان، کنيت ئې ابوعمرو يا ابوعمرة دواړه دی د پلار نوم ئې عبدالله دي د طائف د مشهورې قبيلې ثقيف سره تعلق ساتی حضرت عمر ﷺ عثمان بن ابی العاص ﷺ معزوله کړو او د هغوی په ځائې ئې دوی عامل مقرر کړلو. د دوی صرف دا يو روايت دي کوم کو چه د مسلم نه علاوه په ترمذی او ابن ماجه کښې شته.

تسهيل:

قوله ما أخوف: کښې ما استفهاميه او أخوف خبر دي.

قوله: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا أَخْوَفُ مَا تَخَافُ عَلَيَّ؟:

دا ما مضاف اليه دي. ما أخوف کښې ما موصوله ده د دي ضمير د محذوف طرف ته راجع دي أي شيء أخوف أشياء تخاف منها على. امام طيبي فرمائي چه ما يخاف کښې ما موصوله. موصوفه يا مصدريه دريواړه کيدي شي.

قوله قال هذا: هذا کښې دوه ترکيبي احتمالات دی مبتدا يا خبر

[۴۸۴۴] د دروغ ويونکي نه د حفاظت کونکو فرښتو تختيدل

۴۸۴۴-(۲)[۳۱] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ تَبَاعَدَ عَنْهُ الْمَلَكُ مِيلًا مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی إنذار النبی صلى الله عليه وسلم قومه (رقم-۲۴۱۰) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب کف اللسان فی الفتنة (رقم-۳۹۷۲) واحمد فی المسند:۴۱۳/۳

[2]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الصدق والکذب (رقم-۱۹۷۲)

ترجمه : [۱] او حضرت ابن عمرو رضی الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هركله چې يوبنده دروغ وايي نو دهغه پيدا شوي شي ايعنی د دروغو بدبويي په وجه حفاظت كونكي ا فرښتې هغه نه په ميلونو لرې ځي (ترمذي)

حل اللغات : - ① نَتْن : بدبوئی

تسهيلات:

قوله : إِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ تَبَاعَدَ عَنْهُ الْمَلَكُ مِيلًا مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ:

د دروغو د بدبوئي څخه د فرشتو تيښته : يعنی محافظ فرښتې د يو ميل په فاصله بندې د هغه سړی نه لرې تختی كوم سړې چه دروغ وائی ځكه چه دهغه د دروغو وئيلو د وجې نه دهغه د خلې نه ډير زيات سخت بدبوئی راوچتيږی دكوم نه چه فرښتې تختي

[۴۸۴۵] په دروغ اعتماد سره دهوكه وركول ډير لوئي خيانت دې

د۴۸۴-( )[۳۲] [۱] وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ أَسِيدٍ الْحَضْرَمِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ [۲]: " «كَبُرَتْ خِيَانَةً أَنْ تُحَدِّثَ أَخَاكَ حَدِيثًا [۳] هُوَ لَكَ بِهِ مُصَدِّقٌ وَأَنْتَ لَهُ كَاذِبٌ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه : [۱] او حضرت سفيان ابن اسيد حضرمي رضی الله عنه وايي چې ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل. وي فرمايل [۲] دا ډير لوي خيانت دي چې ته خپل (مسلمان) ورور ته يوه خبره وكړي [۳] او هغه په هغه خبره كې تا رېښتيا وګڼي او حال دا چې تا په حقيقت كې هغه ته دروغ ويلي وي (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله : كَبُرَتْ خِيَانَةً أَنْ تُحَدِّثَ أَخَاكَ حَدِيثًا هُوَ لَكَ بِهِ مُصَدِّقٌ وَأَنْتَ لَهُ كَاذِبٌ:

په ظاهری وضع قطع باندې څوک دهوكه كولوعيد : يعنی هغه ملګرې دَدې دهوكه وركونكی شكل او شباهت ته ګوری د هغه معصوم وضع اوقطع ته ګوری دَ هغه شرافت او ظاهری طهارت ته په كتلو سره پوره اعتماد پرې كوی چه دا خو انسان نه بلكه فرښته ده دَ تصوف جُغې اود پټكی په دې جامه كښې دا سړې دهغه دَ پاره ليوه ثابتيږی او هغه ته ډيره خرابه دهوكه وركوی او دروغ وئيلو سره خپل مطلب اوباسی اوتختی ځی دادَ ټولو نه لوئی خيانت دې چه دَ ګډې په شكل كښې ليوه ثابت شو

د سليمان عليه السلام په دربار كښې د مرغو شكايت : بعضې كتابونو كښې ليكلی دی چه بعضې مرغود حضرت سليمان عليه السلام په مخكښې دَ يوښكاری شكايت اوكړو چه دې مونږ

[۱] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/بابٌ في المعاريض (رقم-۴۹۷۱)

ښکارکوی حضرت سلیمان علیه السلام هغه عدالت ته راؤغوښتو اود هغه نه ئې تپوس اوکړو چه دا مرغئې تا نه د ښکارکولو شکایت کوی دغه سړی وئیل اې د الله نبی الله تعالی خو دامرغئې د انسانانو د ښکار د پاره پیدا کړی دی نوزه هم ښکارکوم په دې کښې د شکایت څه خبره ده؟ حضرت سلیمان علیه السلام مرغوته اوفرمائیل چه ددې سړی خبره خو معقول ده تاسو ولې شکایت کوئی؟ مرغو جواب ورکړو اې د الله نبی مونږ دا شکایت نه کوو چه دې زمونږ ښکارکوی بلکه شکایت خو دادې چه دا سړې د ښکاری په شکل کښې نه راځی چه مونږ دې اوپیژنو او د ده نه خان بچ کړو بلکه دې د یوصوفی په شکل کښې چغه اوقبه کښې د یو عابد اوزاهد په صورت کښې راځی او وسله د چغې لاندې پټوی مونږ خیال کووچه دې عبادت له ځی په دې کښې دې توپک راوباسی او مونږ په دهوکه سره اوولی تاسو ده ته حکم ورکړئی چه دې د ښکاری په شکل کښې راځی چه مونږ د بچاؤ انتظام اوکړې شو.

[۴۸۳۶] د دوه مخی منافق بد انجام

۴۸۳۶-()[۳۳] [۱] وَعَنْ عَمَّارٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲] "«مَنْ كَانَ ذَا وَجْهَيْنِ فِي الدُّنْيَا، كَانَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِسَانَانِ مِنْ نَارٍ»". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه : [۱] او حضرت عمار رضی الله عنه وایی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] کوم سړي چې په دنیا کې دو مخې (منافق) وي د قیامت په ورځ به د هغه په خوله کې د اور دوه ژبې وي (دارمي)

حل اللغات :- ① ذَاوَجْهَيْنِ: دوه مخې، منافق.

تسهیلات:

قوله: مَنْ كَانَ ذَاوَجْهَيْنِ فِي الدُّنْيَا كَانَ لَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِسَانَانِ مِنْ نَارٍ:

د قیامت په ورځ د چغلی خورسزاذو وجهین، دوه مخېز اصل کښې منافق ته وئیلی کیږی چه هغه د چا سره هم مخلص نه وی په ژبه یو څه وائی او په زړه کښې یې بل څه وی لیکن دلته مراد هغه کس دې چه چا سره مخامخ خبرې کوی نو داسې وی چه مخاطب پرې ګمان اوکړی چه دا خو ماسره ډیر مخلص دې لیکن چه کله د ده نه پشې شاه خبره کوی نو د ژبې نه داسې الفاظ راوباسې چه ده ته پرې تکلیف رسی بعضې حضراتو وئیلی دی چه ذو وجهین هغه کس ته وئیلی کیږی چه کوم یو د بل سره جنګ کولو کښې هر کس ته د هغه د خوښې خبره کوی چه یو کس ته لاړ شی نو د هغه د مرضې خبره اوکړی او چه هغه بل کس ته ورشی نو د هغه د خوښې خبره اوکړی او دواړه په جنګ کړی.

---

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/بابٌ فی ذی الوجهین (رقم-۴۸۷۳) والدارمی رقم الحدیث ۲۷۶۴

[۴۸۴۷] دَ كمال ايمان سره منافي اعمال

۴۸۴۷-() [۳۴] ١ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ٢ «لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ، ٣ وَلَا بِاللَّعَّانِ، وَلَا الْفَاحِشِ، وَلَا الْبَذِيءِ» " ۴ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ ". وَفِي أُخْرَى لَهُ: " «وَلَا الْفَاحِشِ الْبَذِيءِ» "، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ كامل مؤمن نه خو طعن كونكي وی ٣ نه لعن كونكي او نه فحش ويونكي وي نه زبان درازی كونكي وي ۴ (ترمذي بيهقي) او د بيهقي رحمه الله په روايت کې نه فحش ويونكي زبان دراز الفاظ دي (يعني په دي روايت کې بذي، د فاحش صفت گرځول شوي دي د دې مطلب دادي چې هغه سړي كامل مؤمن نشي كيدي چې د حد نه زيات فحش گووي او ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دي.

حل اللغات:- ① الطَّعَّانِ: دا دَ مبالغې صيغه ده. كثير الطعن يعنی ډير طعن كونكې. ② اللَّعَّانِ: داهم دَ مبالغې صيغه ده كثير اللعن يعنی سخت لعنت ويونكې. ③ الْفَاحِشِ: بدې خبرې يا گنده كونكې. ④ الْبَذِيءِ: فحش خبرې كونكې، بد اخلاقه.

تسهيلات:

قوله: لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالطَّعَّانِ:

دايمان د نفي په مفهوم كښې تاويلات:

① ددې څخه مراد هغه كس دي چې دا څيزونه حلال گنړی او د ,,تحليل الحرام كفر،، قاعده مطابق دا كس كافر دي.

② دَ اسلوب حكيم په توگه دا كلام دي چه دَدې خرابو صفتونو والا خو مومن هډو كيدې نه شي

③ دې څخه كامل مومن مراد دي مطلق مؤمن مراد نه دي.

④ ددې كارونو كونكی ته عدم مؤمن تشديداً تغليظاً تهديداًاوتوبيخاًوئيلې شوې دې.

قوله: وَلَا الْفَاحِشِ، وَلَا الْبَذِيءِ:

دفاحش اوبذي په مينځ كښې فرق: لاالبذي" په باء باندې فتحه ذال باندې كسره ده او په ياء باندې شد دې فحش خبرې اترې كونكې بداخلاق سړی ته وائی

دَ فاحش نه پس دا دوباره راوړلې شو لهذا دَتكرار نه دَ بچ كيدو دَپاره شارحين فرمائی

① ملاعلی قاری رحمه الله البذی دَ الفاحش دَپاره عطف تفسيری گرځولې دې. دَ روايت آخرى

[١] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى اللعنة (رقم ١٩٧٧)واحمد فى المسند: ٤٠٥/١، والبيهقى فى الشعب رقم الحديث ٥١٤٩

حصه دَ دې تائيد كوى ځکه چه په دې کښې عطف تفسيرى موجود دې بهرحال دا افعال دَ ايمان منافى دى لهذا په هرمسلمان باندې لازم دى چه دَ دې نه ځان اوساتى

⑥ چې فاحش په قولى فحاشۍ باندې محمول دې اوبذې په فعى فحاشى كونكې باندې حمل كړې دې

[۴۸۴۸] لعنت كونكې سړې كامل مؤمن نه شى كيدې

۴۸۴۸-(۱) [۳۵] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«لَا يَكُونُ الْمُؤْمِنُ لَعَّانًا". ۳ وَفِي رِوَايَةٍ: "لَا يَنْبَغِي لِلْمُؤْمِنِ أَنْ يَكُونَ لَعَّانًا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هغه سړي كامل مؤمن نشي كيدي كوم سړي ډير زيات لعنت كونكي او د لعنت كولو عادي وي ۳ او په يوبل روايت كې دا الفاظ دي او د هيڅ مؤمن د پاره دا موزون نه دي چې هغه ډير زيات لعنت كونكي وي (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: لَا يَكُونُ الْمُؤْمِنُ لَعَّانًا:

د لعنت وئيلو د كمال ايمان سره منافات: امام طيبي فرمائي چه ته يو مسلمان ته هم دا مه وايه چه په تا دې لعنت وى د الله غضب دې وى يا دوزخ ته لاړه شه يا هغه د الله د رحمت نه مه لرې كوه البته په خاص وصف باندې لعنت كول جائز دى لكه لعنة الله على الكاذبين و اليهود والفاسق وآكل الربوا والزاني والسارق او هم دغه شان هغه كس چه په كفر مړ شوي وى په هغه لعنت كول جائز دى لكه فرعون او ابو جهل وغيره (التعليق الصبيح ج٥ ص:۱۸۸)

[۴۸۴۹] د لعنت وئيلو او دَ خيرو كولو نه ځان اوساتئ

۴۸۴۹-(۲) [۳۶] ۱ وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «لَا تَلَاعَنُوا بِلَعْنَةِ اللّٰهِ، وَلَا بِغَضَبِ اللّٰهِ، وَلَا بِجَهَنَّمَ". ۳ وَفِي رِوَايَةٍ "وَلَا بِالنَّارِ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت سمره ابن جندب رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ په خپل منځ كې يو بل د پاره مه ① خو د خداي ﷻ د لعنت بددعا كوئ ② نه د خداي ﷻ د غضب ③ او نه جهنم ته د تلو بد دعا كوئ (ترمذي، ابوداود)

---

[۱] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى اللعن والطعن (رقم-۲۰۱۹) واحمد فى المسند:۲/۳۶۶

[۲] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/بابٌ فى اللعن (رقم-۴۹۰۶) والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى اللعنة (رقم-۱۹۷۶) واحمد فى المسند:۱۵/۵

تسهيلات:

قوله: لَاتَلَاعَنُوا بِلَعْنَةِ اللّٰهِ:

په مسلمان باندې دلعنت وئيلو ممانعت: د حديث الباب حاصل دا دي چه هيڅ يو مسلمان له دا مناسب نه دی چه په بل مسلمان باندي لعن طعن اوکړی يا هغه ته خيري اوکړی چه خيري کول نا پسنديده دی نو لعن طعن کول خو د هغي نه زيات ناپسنديده دي او هم دغه شان چا له دا جائز نه دی چه هغه بل مسلمان ته اوائي چه په تا دي د الله تعالي لعنت يا غضب وي يا خدائي دي اوکړی چه ته جهنم ته لاړ شي.

[٤٨٥٠] په ناجائزه لعنت ويونکی باندې لعنت واپس راگرځی

٤٨٥٠-()[٣٧] ①وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ: ②" «إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا لَعَنَ شَيْئًا ③صَعِدَتِ اللَّعْنَةُ إِلَى السَّمَاءِ، ④فَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ دُونَهَا، ⑤ثُمَّ تَهْبِطُ إِلَى الْأَرْضِ فَتُغْلَقُ أَبْوَابُهَا دُونَهَا، ⑥ثُمَّ تَأْخُذُ يَمِينًا وَشِمَالًا، ⑦فَإِذَا لَمْ تَجِدْ مَسَاغًا ⑧رَجَعَتْ إِلَى الَّذِي لُعِنَ، ⑨فَإِنْ كَانَ لِذَلِكَ أَهْلًا، ⑩وَإِلَّا رَجَعَتْ إِلَى قَائِلِهَا» "رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت ابودرداء رضي الله عنه وايي ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل ②هرکله چې يوبنده يو شي [يعني يو انسان يا غير انسان] باندې لعنت وايي ③نو هغه لعنت آسمان طرف ته ځي ④او د آسمان دروازي هغه لعنت باندې بندول کيږي، ⑤بيا هغه لعنت زمکې ته راخکته شي نو د زمکې دروازي هم په هغه لعنت بندي شی ⑥بيا هغه لعنت ښي او چپ طرف ته تلل غواړي [خو هلته هم وشړل شي] ⑦هرکله چې هغه هيڅ طرف ته هم لار پيدا نه کې ⑧نو د هغه شي طرف ته متوجه کيږي چې په هغه لعنت شويدي ⑨ تردي که هغه شي د هغه لعنت اهل او سزا وار وي [نو په هغه واقع کيږي] ⑩گينی خپل ويونکي طرف ته واپس واپس کول کيږي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ①صَعِدَتِ: خيجی، پورته ځی. ②فَتُغْلَقُ: نو بندولې شی. ③تَهْبِطُ: راکوزيږی. ④ مَسَاغًا: لار، ځای.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا لَعَنَ شَيْئًا صَعِدَتِ اللَّعْنَةُ إِلَى السَّمَاءِ، فَتُغْلَقُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ دُونَهَا:

د لعنت آسان ته ختل: يعنی دَ الله تعالی دَ نظام لاندې دا لعنت غواړی چه اخوا ديخوا لاړشي ضائع شی يا لرې په چا باندې واقع شی هم دَدې مقصد دَپاره دا آسمان ته خيژی کله چه هلته لار نه ملاويږی نوزمکې ته راشی او ښی طرف او گس طرف ته دَ وتلو

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/بابٌ فی اللعن (رقم-٤٩٠٥)

کوشش کوی. چرته دَ ننوتلو کوشش کوی کله چه هلته لار نه ملاویږی نو دَ بنی او گس طرف ته دَ وتلو کوشش کوی چه کله هلته هم دَ وتلو څه لار نه ملاویږی نو لاړشی او هم هغه سړی پورې دَ اینختو کوشش کوی په چاباندې چه لعنت وئیلې شوې وو که هغه دَدې مستحق وی نو لعنت هم په هغه ځائی پورې اونخلی گنی دَ هغه ځائی نه واپس شی هم په هغه سړی باندې اولگی چاچه بې موقع اوبې محل لعنت کړې وو

[۴۸۵۳]په نورو څیزونو باندې د لعنت وئیلو ممانعت

۴۸۵۳-( )[۱] [۳۸] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- [۲] «أَنَّ رَجُلًا نَازَعَتْهُ الرِّيحُ رِدَاءَهُ فَلَعَنَهَا، [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تَلْعَنْهَا فَإِنَّهَا مَأْمُورَةٌ، [۴] وَإِنَّهُ مَنْ لَعَنَ شَيْئًا لَيْسَ لَهُ بِأَهْلٍ [۵] رَجَعَتِ اللَّعْنَةُ عَلَيْهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه :[۱] او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دي [۲] چې د یوې ورځې واقعه ده چې د یو سړي پټو په هوا کې والوتي نو هغه په هوا لعنت اووئیلو [۳] رسول الله ﷺ ورته وفرمایل په هوا لعنت مه کوه ځکه چې هغه خو د حکم تابع ده [۴] او حقیقت دادې چې کوم سړي یو داسې شي باندې لعنت اووائي چې هغه ذلعنت قابل نه وي [۵] نو هغه لعنت په هغه واپس واقع کیږي (ترمذي ابوداود)

حل اللغات :- ① نَازَعَتْهُ: لرې کړو دهغه نه. ② الرِّيحُ: هوا ، ③ رِدَاءَهُ: څادر دهغه

تسهیلات:

قوله : لَا تَلْعَنْهَا فَإِنَّهَا مَأْمُورَةٌ:

ایا په اجمال سره لعنت وئیلې شی ؟: یعنی هواخو په خپل حکم سره نه چلیږی بلکه دَ الله تعالی په حکم باندې چلیږی انسان له پکاردی چه دا پوره نظام په خیال کښې اوساتی نه دا چه زړه تنگیدو سره په ظاهری سبب باندې حمله اوکړی هوا خو یو ظاهری سبب دې اصل حکم خودَ الله تعالی دَ طرف نه دې چرته داسې اونه شی چه په دې کښې دَ الله تعالی دَ شان بې ادبی او گستاخی اوشی دَ دې حدیث نه معلومه شوه چه دَ انسانانو نه علاوه په نورو څیزونو باندې لعنت وئیل هم منع دی او اجمال سره لعنت وئیلې شی لکه چه اووئیلې شی په غلو دې دَ الله تعالی لعنت وی په شرابیانو باندې دې دَ الله تعالی لعنت وی په قاتلانِ حسین باندې دې دَالله تعالی لعنت وی

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/بابٌ فی اللعن(رقم-٤٩٠٨) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی اللعنة (رقم-١٩٧٨)

[۴۸۵۲] دَ مشرانو په مخکښې دَ خلقو عيبونه ښکاره کولو ممانعت

۴۸۵۲-(۱) [۳۹] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَا يُبَلِّغُنِي أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِي عَنْ أَحَدٍ شَيْئًا [۳] فَإِنِّي أُحِبُّ أَنْ أَخْرُجَ إِلَيْكُمْ وَأَنَا سَلِيمُ الصَّدْرِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] څما صحابه ؤ رضي الله عنهم کې د يو سړي باره کې ماته هيڅ داسې خبره مه رسوئ اچې د هغه نه د هغه بدي ښکاره کيږي يعنې ماته راتلو سره د چا باره کې دا مه وايئ چې فلاني سړي دا بدکار کړي دي يا دا خرابه خبره يې کړي ده يا هغه دي خراب عادت کې مبتلا دي [۳] ځکه چې زه داخوښوم چې زه د کور نه راوتلو سره تاسو ته راسم نو څما سينه دې صفا وي چې څما زړه کې په تاسو کې د هيچا د طرف نه څه نلراضتيا غصه او بغض نه وي (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① سَلِيمُ: روغ او صفا وی. ② الصَّدْر: سينه، زړه.

تسهيلات:

قوله: لَا يُبَلِّغُنِي أَحَدٌ مِنْ أَصْحَابِي عَنْ أَحَدٍ شَيْئًا:

د مشرانو په مجلس کښې د يو مسلمان چغلی غيبت يا بدې خبرې نه دی کول پکار:

يعنې کوم څه چه انسان اوری نو هغه ته څه نه څه خيال ضروری راځي دَ حديث مطلب دا شو چه نبي عليه السلام خپل صحابه دَدې نه منع کړل چه دَهغوی په مخکښې دَ يوصحابی باره کښې څوك څه اونه وائی ځکه چه په دې سره په زړه کښې څه نه څه خيری راځي. اونبي عليه السلام اوفرمائيل چه زه غواړم چه دَدې دنيا نه داسې اوچت کړې شم چه زما زړه دَ هرصحابی دَپاره صفا او راضي وی. دَدې حديث نه دَ صحابه کرامو دَ لوئی شان اندازه کيږی او په دې سره امت ته داتعليم هم ملاؤ شو چه دَ حاکم اومقتداء او دَ مشرانو په مجلس کښې دَ يومسلمان چغلی غيبت يا بدې خبرې نه دی کول پکار په کوم سره چه دَ مشر په زړه کښې خيرې پيدا کيدې شي.

[۴۸۵۳] دَ چا په اندامونو کښې د عيب راويستلو ممانعت

۴۸۵۳-(۱) [۴۰] «وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قُلْتُ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا - تَعْنِي قَصِيرَةً - [۳] فَقَالَ: "لَقَدْ قُلْتِ كَلِمَةً لَوْ مُزِجَ بِهَا الْبَحْرُ لَمَزَجَتْهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

[۱] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/بابٌ في رفع الحديث من المجلس (رقم-۴۸۶۰) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/بابٌ فی فضل أزواج النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۳۸۹۷) واحمد فی المسند: ۳۹۶/۱

[۲] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/بابٌ في الغيبة (رقم-۴۸۷۵) والترمذی فی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/بابٌ (رقم-۲۵۰۲) واحمد فی المسند: ۱۸۹/۶

ترجمه: ۱ او بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي چې يوه ورځ ما رسول الله ﷺ ته دا اوويل ۲ چې بي بي صفيه رضي الله عنها ستاسو ﷺ د پاره دومره كافي ده چې هغه داسې داسې ده دې خبرې نه د بي بي عائشه رضي الله عنها مراد بي بي صفيې رضي الله عنها د قد لنډوالي ذكر كول وو ۳ رسول الله ﷺ (څما داخبره اوريدو سره ناګواري سره بي) وفرمايل چې تا دخپلې ژبې نه يوه داسې خبره وويستله كه هغه درياب كې يوځاې شي نو بلا شبه داخبره به په درياب غالب شي (احمد ترمذي ابوداود)

حل اللغات: - ① قَصِيرَةً: لنډوالي، ② مُزِجَ: ګډ كړې شي.

تسهيلات:

قوله: حَسْبُكَ مِنْ صَفِيَّةَ كَذَا وَكَذَا - تَعْنِي قَصِيرَةً:

د حديث پس منظر: يعنى دَ صفيه دَ معيوب كيدو دَپاره دا كافى دى چه دَهغې قد وړوكې دې حضرت صفيه رضي الله عنها دَ خيبر په مال غنيمت كښې راغلې وه نبي عليه السلام حضرت صفيه رضي الله عنها آزاده كړه او بيائې ورسره نكاح اوكړه چه ام المؤمنين جوړه شوه دَ خيبر دَ لوئى سردار حيى بن اخطب لور وه اودَ اولاد هارو عليه السلام نه وه حضرت صفيه رضي الله عنها په خوراك پخولو كښې ډيره ماهره وه دَ كوم په وجه چه نورو بيبيانو ته خطره وه چه دَنبي عليه السلام توجيه په مكمل توګه دَهغې طرف ته متوجه نه شى په بنوكښې دا يوطبعى امر وى كه بشريت وې نو دا څيزونه نه شى نظرانداز كولې حضرت عائشه رضي الله عنها دَ حضرت صفيه رضي الله عنها باره كښې دَ يو امر واقعى تذكره دَنبي عليه السلام په مخكښې اوكړه چه دَ حضرت صفيه رضي الله عنها قد وړوكې دې دا خبره دَ غيبت په زمره كښې راتله څكه چه كه هم دغه خبره دَ حضرت صفيه رضي الله عنها په مخكښې شوې وې نوهغې به دا نه خوښوله او غيبت هم دَ دغه څيز نوم دې په دې وجه نبي عليه السلام اوفرمائيل چه تا داسې ترخه كلمه اووئيله چه كه دا دې په سمندر كښې واچوله نوهغه به په دې باندې تريخ شى.

قوله: لَوْمُزِجَ بِهَا الْبَحْرُ لَمَزَجَتْهُ:

دغيبت په وجه د سمندراوبه ترخې كيدل: يعنى دا كلمه به سمندر هم بدل كړى اوهغه به دَدې په خراب اثر سره تريخ او بدبودار شى بعضې شارحينو ليكلى دى چه حضرت عائشه رضي الله عنها كذا وكذا په الفاظو سره خپل ليشت طرف ته اشاره اوكړه چه هغه دومره لنډئى ده لكه دا ليشت چه دې.

[۴۸۵۳] بدګوئي د عيب داره کولو او حيا د زينت سبب ګرځي

۴۸۵۳-(۱) [۴۱] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَا كَانَ الْفُحْشُ فِي شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ، [۳] وَمَا كَانَ الْحَيَاءُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په کوم ځيز کې چې بدګويي او سخت کلامي وي هغه عيب دار جوړ وي [۳] او کوم ځيز کې چې حياء او نرمي وي هغه ته زيب وزينت ورکوي. (ترمذي)

حل اللغات: - ① اَلْفُحْشُ: فحش ګوئی، غلطې خبرې، ② زَانَهُ: ښائسته کوی ئې

تسهيلات:

قوله: مَاكَانَ الْفُحْشُ فِي شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ:

د فحش وينا کولو نقصان: دَ فحش اطلاق قول او فعل دواړو ته عام دې فحش خبرې کول دادی چه قبيح امور په صريح الفاظو سره ذکر کړې شي مثلاً دَ شرمګاه نوم اخستل کنځلې وغيره هم په دې کښې داخل دی بلکه داسې کلمات چه دَ هغې په اوريدو باندې عرفًا حيا راځی هغه ټول په فحش کښې داخل دی. فحش فعلی وائی داسې حرکتونه کولو ته کوم ته په کتو چه شرم محسوسيږی بهرحال فحش خبرې او کارونه دواړه خراب دی دَ دې منبع خبث باطن او دنائت دې حضورپاک دَ دې نه دَ بچ کيدو سخت تاکيد فرمائيلې دې فرمائی إياكم والفحش فإن الله تعالى لايحب الفحش ولا الفاحش.

قوله: إِلَّا شَانَهُ:

دفحش په ګډون سره پاک ناپاکه کيدل: ماخوذ من الشين په معنی د معيوب جوړولو دَدې مصلحت دادې چه فحش هر ځيز لره که هغه قول وی که فعل وی معيوب جوړوی که فحش خبرې دی نوداهم دَعيب سبب دې اوفحش فعلی هم انسان لره معيوب جوړولو دَپاره کافی دی.

قوله: وَمَاكَانَ الْحَيَاءُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ

د حياء تعريف: دلته دَ حياء نه مراد دَ فحش مقابل دې يعنی داسې قول اوفعل په کوم کښې چه هيڅ قباحت نه وی داځيز دَ انسان دَ ښائست سبب دې.

بعضې شارحينو دَ فحش نه دَمزاج نشته د بسختی مراد اخستې ده اودَ حيا نه ئی نرمی مراد اخستې ده.

---

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الفحش والتفحش (رقم-۱۹۷۴) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الحياء (رقم-۴۱۸۵) واحمد فی المسند:۳/۱۶۵

[۴۸۵۵] د ګناه نه توبه کونکي ته د پيغور ورکولو سخته سزا

۴۸۵۵-(¹)[۳۲] ① وَعَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ مُعَاذٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «مَنْ عَيَّرَ أَخَاهُ بِذَنْبٍ لَمْ يَمُتْ حَتَّى يَعْمَلَهُ» ". ③ يَعْنِي: مِنْ ذَنْبٍ قَدْ تَابَ مِنْهُ. ④ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ; ⑤ لِأَنَّ خَالِدًا لَمْ يُدْرِكْ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ.

ترجمه: ① او حضرت خالد رحمه الله ابن معدان د حضرت معاذ رضي الله عنه نه نقل کوي هغوئ اوويل چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② کوم سړي چې خپل مسلمان ورور ته يو ګناه باندې عار ورکوي (يعني که د يو مسلمان نه څه ګناه سرزد شي او يو سړي هغه ته شرم او غيرت ورکوي او سرزنش او ملامت کوي يې) نو هغه عار ورکونکي به د مرګ نه مخکې خپله هغه ګناه کې څه ناڅه طريقې سره ضرور مبتلا کيږي ③ د حضور ﷺ مراد هغه ګناه وه چې د هغه نه هغه توبه کاړلې وي ④ ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړي دي او ويلي يې دي چې داحديث غريب دي او د دې سند متصل نه دي ⑤ ځکه چې خالد رحمه الله د حضرت معاذ رضي الله عنه زمانه نه ده پيدا کړې.

حل اللغات:- ① عَيَّرَ: عار او شرم ورکول، ملامته کول.

تسهيلات:

قوله: مَنْ عَيَّرَ أَخَاهُ بِذَنْبٍ لَمْ يَمُتْ حَتَّى يَعْمَلَهُ:

بار بار جرم کولو والا ته پيغور ورکول جائز دی: يعني يو سړی دَ بشری تقاضې دَ وجې نه څه ګناه اوکړه او بيا ئی په کمال اخلاص سره دَ هغې ګناه نه توبه اوکړه مګر يو سړې دَتوبې نه پس هم هغه پسې لګيدلې دې او دَهغه زړې ګناه پيغور ورکوی. په کوم کښې چه بغيردَ تذليل نه نوره هيڅ فائده. نو داسې سړې به ترهغه وخته پورې نه مری ترکومې پورې چه هم په هغه ګناه کښې راګيرنه شی. مطلب دا چه په مخکينې ګناه باندې دَ توبې نه پس يو سړې ملامته کول جائز نه دی که چرې څوك داسې کوی نو سزا به خوری او که دغه ګناهګار توبه اونه کړه اوس هم هغه پخپله هغه پخوانئی ګناه کښې اخته دې نو پيغور ورکول او دَ هغه رټل جائز دی ځکه چه بار بار دَ جرم ارتکاب دَهغه ناموس تار تار کړې دې

په دې شرط چه هغه ته شرم او غيرت ورکول (پيغور ورکول) او ملامته کول د تکبر په طريقه او د تحقير په قصد نه وی بلکه د تنبيه او نصيحت په طريقه او هغه لره د ګناه نه منع کولو په قصد وی.

په دې حديث کښې دا الفاظ (يعني من ذنب قد تاب منه) د امام احمد بن حنبل نه منقول

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/بابٌ (رقم-۲۵۰۵)

دی او دا الفاظ د حدیث په آخر کښې نقل کولي شی.

امام ترمذي دا روایت غریب ګرځولي دې او په حدیث کښې ئي کلام کړې دې لیکن عراقي وائي چه دا روایت احمد و طبراني په صحیح سند سره نقل کړې دې

[۴۸۵۶] دَ چاپه تکلیف باندې دَ خوشحالۍ ښکاره کولو سخته سزا

۴۸۵۶-(۱)(۴۳) [۱] وَعَنْ وَاثِلَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «لَا تُظْهِرِ الشَّمَاتَةَ لِأَخِيكَ [۳] فَيَرْحَمَهُ اللَّهُ وَيَبْتَلِيكَ» ". [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت واثله رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د خپل مسلمان ورور په تکليف دومره خوشحالي مه ښکاره کوه [يعنې که يو داسې مسلمان څه دنياوي يا ديني مصيبت او آفت کې مبتلا ووينې يا ديني مصيبت او آفت کې مبتلا ووينې د چاسره چې ته عداوت لرې نو د هغه په تکليف د خوشحالي اظهار مه کوه] [۳] ځکه کيدي شي چې (ستا د بې ځايه خوشحالي نه ناراضه کيدو سره) خداي ﷻ په هغه خپل رحمت نازل کړي (يعنې هغه ته د هغه مصيبت او آفت نه نجات ورکړي) او تا په هغه آفت او مصيبت کې مبتلا کړي [۴] دا روايت ترمذي رحمه الله نقل کړي دي او ويلي يې دي چې دا حديث حسن غريب دي.

حل اللغات:- ① الشَّمَاتَةَ: دچا په تکليف باندې خوشحاليدل.

قوله: وَعَنْ وَاثِلَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: دا ابن الأسقع الليثي دي. نبي عليه السلام چه کله غزوه تبوک له تلو نو ده هغه وخت اسلام قبول کړو. دي د نبي عليه السلام په خادمانو کښې شمارلي کيږي. چه کله ده اسلام قبول کړو نو دغه وخت د ده عمر ديرش (۳۰) کاله وو او دي د اهل صفه نه هم شمارلي کيږي. دوی د سلو کالو په عمر کښې په بيت المقدس کښې وفات شوي دي.

قوله: لَا تُظْهِرِ الشَّمَاتَةَ لِأَخِيكَ:

أي الفرح ببلية عدوك يعني د چا سره د دشمني په وجه په هغه باندې راتلونکی ازميښت باندې مه خوشاليږه. برابره ده که هغه ازميښت ديني وی او که دنياوی، بدني وی او که مالي ځکه چه دا څه لرې خو نه ده چه الله تعالي په هغه باندې رحم اوکړی او هغه ازميښت په تا باندې راولی بلکه چه څوک په مصيبت کښې اويني نو د عافيت دعا اوغواړه او د خپل رور مرسته اوکړه.

---

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۵۰۶)

[۴۸۵۷] دَ چا نقل کول ناجائز دي

۴۸۵۷-(۱)[۳۴] ۱ وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "۲ «مَا أُحِبُّ أَنِّي حَكَيْتُ أَحَدًا ۳ وَأَنَّ لِي كَذَا وَكَذَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

ترجمه: ۱ او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ زه دا خبره هيڅ کله نه خوښوم چې زه د يو سړي نقل وکړم ۳ اګر که زما د پاره داسې اوداسې وي [يعنى که څوک ماته بې حسابه مال او زر او هرڅومره زياتې روپۍ پيسې هم راکړي نو هم د چا نقل کول به ګوارا نه کړم] ترمذي دا روايت نقل کړي دي او دا يې صحيح ګرځولي دي.

حل اللغات:- ① حَكَيْتُ: دچا نقل کول، پيښې کول.

تسهيلات:

قوله: مَا أُحِبُّ أَنِّي حَكَيْتُ أَحَدًا:

دچا په نقل اختيارولو کښې مذمت: داحکايت نه دې اوحکايت نقل کولو ته وائى مثلاً دَ يوګوډ نقل کولوسره ګوډ ګوډ تلل يا دَيو کانړه سړى نقل کوى. الغرض دَ چا دَ تګ راتګ، کيناستو پاسيدو، کتلو اوخبرو کولو نقل کول منع ګرځولې شوى دى. لهذا نبي عليه السلام اوفرمائيل که چرې ماته دَ چا نقل کولوسره ټوله دنيا هم ملاؤ شي نو زه به بيا هم دَ چا نقل اونه کړم.

[۴۸۵۸] دَالله تعالى فراخه رحمت د محدود کولو ممانعت

۴۸۵۸-(۲)[۳۵] ۱ وَعَنْ جُنْدُبٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «جَاءَ أَعْرَابِيٌّ ۲ فَأَنَاخَ رَاحِلَتَهُ، ثُمَّ عَقَلَهَا، ۳ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلَّى خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۴ فَلَمَّا سَلَّمَ أَتَى رَاحِلَتَهُ فَأَطْلَقَهَا، ثُمَّ رَكِبَ، ۵ ثُمَّ نَادَى: اللّٰهُمَّ ارْحَمْنِي وَمُحَمَّدًا ۶ وَلَا تُشْرِكْ فِي رَحْمَتِنَا أَحَدًا، ۷ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " أَتَقُولُونَ هُوَ أَضَلُّ أَمْ بَعِيرُهُ؟ ۸ أَلَمْ تَسْمَعُوا إِلَى مَا قَالَ؟ " قَالُوا: بَلَى». ۹ رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَذُكِرَ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ " وَكَفَى بِالْمَرْءِ كَذِبًا " فِي " بَابِ الِاعْتِصَامِ " فِي الْفَصْلِ الْأَوَّلِ.

ترجمه: ۱ او حضرت جندب رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ يو باندچي (کليوال) سړي خپل اوښ باندې سپور مدينې ته راغلو ۲ مسجد نبوي ﷺ ته نږدې رسيدو سره خپل اوښ يې کينوي او د هغه پښې يې اوتړلې ۳ بيا مسجد کې داخل شو بيا هغه رسول الله ﷺ پسې مونځ وکړو ۴ اوسلام ګرځولو نه پس يعنى مونځ نه فارغيدو سره خپل اوښ ته راغلو او هغه کهولاؤولو سره په هغه سپور شو ۵ او بيا هغه په اوچت اواز دا اوويل چې اې الله!

---

[۱] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/بابٌ (رقم-۲۵۰۳) واحمد فى المسند: ۱۲۸/۶

[۲] اخرجه ابوداودفى السنن كتاب الأدب/باب من ليست له غيبةٌ (رقم-۴۸۸۵) واحمد فى المسند: ۳۱۲/۴

په ماباندې او محمد ﷺ باندې خپل رحمت نازل کړې ⑥ او زمونږ په رحمت کې بل څوك زمونږ سره شريك مه کړې ⑦ رسول الله ﷺ چې هغه نه داقسم دعا واوريده نو صحابه ؤ ﷺ ته يې وفرمايل تاسو ښودلي شئ چې دا باندچې (کليوال) زيات جاهل دې يا د هغه اوښ؟⑧ تاسو وانه وريدل چې هغه څه اوويل صحابه ؤ ﷺ عرض وکړو چې هو مونږ اوريدلي دي ⑨ (ابوداؤد) او د حضرت ابوهريره ﷺ روايت. كفى بالمرء كذبا الخ باب الاعتصام کې نقل شوي دي.

حل اللغات: - ①فَأَنَاخَ: کينولو (د اوښ کينول مراد دی)، ②عَقَلَهَا: خپې ئې ورله اوترلې. ③ أَطْلَقَهَا: خپې ئې ورله پرانستلې، ④أَضَلُّ: زيات ګمراه، زيات جاهل. ⑤بَعِيرٌ: اوښ

تسهيلات:

قوله: فَلَمَّا سَلَّمَ أَتَى رَاحِلَتَهُ فَأَطْلَقَهَا:

په سلم کښې دوه احتمالات: ① چه کله ئې دَ واپسئې په وخت نبي عليه السلام ته سلام اوکړو اولاړو.

② چه کله ئې دَ مانځه سلام واړولو او په سورلئې باندې راغلو نو دا دعائې اوغوښتله

قوله: اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي وَمُحَمَّدًا وَلَا تُشْرِكْ فِي رَحْمَتِنَا أَحَدًا:

د الله تعالى فراخه رحمت تنګول: دا لفظ دَ أتظنون په معنى کښې دې يعنى ستا څه خيال دې اوته څه وئيلي شې چه دا سړې زيات جاهل دې که دَ ده اوښ زيات جاهل دې؟ ولې تا وانوريده چه ده اوس کومه دعا اوغوښتله. واؤره چه هغه دَ الله تعالى څومره وسيع رحمت رامحدود کړو بلکه دَ نورو مسلمانانو په حق کښې ئې بد دعا اوکړه چه په چاباندې رحم اونه کړې صرف په مونږ دواړو باندې رحم اوکړه بعضې شارحينو ليکلى دى چه دا هم هغه باندچې اوکلى وال دې چا چه دَ جمات په صحن متيازې کړې وې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۸۵۹] دَ فاسق په تعريف باندې الله غصه کيږى

۴۸۵۹-()[۴۶] ① عَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "②«إِذَا مُدِحَ الْفَاسِقُ غَضِبَ الرَّبُّ تَعَالَى ③وَاهْتَزَّ لَهُ الْعَرْشُ»" رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ① حضرت انس ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل② هرکله چې د فاسق مدحه او تعريف کيږي (يعني يو سړي د هغه په حق کې د تعظيم او توقير الفاظ استعمالوي) نو خداي ﷻ مدح او تعريف کونکي باندې غصه کيږي ③ او د هغه د مدحي او تعريف په

() اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۴۸۸۶

وجه عرش رپیږي (بیهقي)

حل اللغات :- ① مُدِحَ: تعریف کولې شی، ② اهْتَزَّ: رپیږی، خوزیږی.

تسهیلات:

قوله: إِذَا مُدِحَ الْفَاسِقُ غَضِبَ الرَّبُّ تَعَالَى:

د فاسق تعریف کولو سره په عرش کښې د زلزلې راتللو وجه: یعنی کله چه د فاسق فاجر تعریف شروع کیږی نو د الله تعالی د غضب په وجه عرش په رچیدو شی د عرش داسې رچیدل یا خو په حقیقت باندې مبنی دی چه واقعةً په عرش کښې زلزله راځی یا داکلام د دې خبرې نه کنایه دې چه د فاسق تعریف دومره لویه ګناه ده دکوم چه تصورنه شی کیدې په دې وجه خو داسې نازك صورت حال پیدا کیږی لکه چه په عرش کښې زلزله راځی د فاسق تعریف دومره لوئی جرم د دې وجې نه دې چه په دې کښې د هغه فسق اوفجور اود هغه د ظلم او زیاتی تائید اوحمایت دې او یوحرام کار لکه چه حلالولې شی په کوم کښې چه د کفر خطره ده.

[٤٨٦٠] په یومسلمان کښې خیانت اودروغ نه شی جمع کیدې

٤٨٦٠-(١)[٣٧] ① وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «يُطْبَعُ الْمُؤْمِنُ عَلَى الْخِلَالِ كُلِّهَا ③ إِلَّا الْخِيَانَةَ وَالْكَذِبَ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : ① او حضرت ابوامامه رضي الله عنه وایی چی رسول الله ﷺ وفرمایل ② مسلمان د دروغ او خیانت نه ③ ماسوا هرشان خصلت باندې پیدا کیږي (احمد)

حل اللغات :- ① الْخِلَالِ: خصلت، خوبی.

٤٨٦١-(٢) ① وَالْبَيْهَقِيُّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ.

ترجمه : ① بیهقي شعب الایمان کې دا روایت د حضرت سعد ابن ابي وقاص رضي الله عنه نه نقل کړي دي

تسهیلات:

قوله: يُطْبَعُ الْمُؤْمِنُ عَلَى الْخِلَالِ كُلِّهَا إِلَّا الْخِيَانَةَ وَالْكَذِبَ:

په مؤمن کښې د دوو بدخصلتونونه جمع کیدل: یعنی مسلمان بزدل کنجوس شرابی کبابی او په هرقسم ګناهونو کښې ککړ کیدې شی لیکن دوه خراب خصلتونه داسې دی چه د یومسلمان د ایمان سره راجمع کیدې نه شی په نورو الفاظو کښې داسې اووایا چه د ایمان روښانه چراغ سره د دروغو او خیانت تورې تیارې یوځائی نه شی پاتې

(١) اخرجه احمد فی المسند:٥/٢٥٢

(٢) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ٤٨٠٩٠

کیدې د کامل مؤمن په هر رګ او هر اندام کښې ایمان وردننه شوې وی هغه په طبعی او تخلیقی توګه باندې د دې دوو خصلتونو نه لرې وی

① یو د خیانت خصلت

② دې او دویم د دروغو.

د حدیث مقصد: د رسول الله ﷺ د دې فرمان مقصد دا دې چه د دې دوو خرابو خصلتونو نه هر مسلمان له په خاص توګه ډډه کول او ځان ساتل پکار دی د دې حدیث نه پس راتلونکې د صفوان روایت کښې دا مضمون په زیات واضح توګه باندې بیان کړې شوې دې په هغې کښې صرف د دروغو ذکر دې.

[۴۸۶۳] مسلمان بزدل او بخیل کیدې شی خو دروغژن نه شی کیدې

۴۸۶۳-() [۳۸] ① وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ، أَنَّهُ «قِيلَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ جَبَانًا؟ قَالَ: "نَعَمْ". ③ فَقِيلَ لَهُ: أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ بَخِيلًا؟ قَالَ: "نَعَمْ". ④ فَقِيلَ: أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ كَذَّابًا؟ قَالَ: "لَا». ⑤ رَوَاهُ مَالِكٌ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" مُرْسَلًا.

ترجمه: او حضرت صفوان ابن سلیم رحمه الله وایی د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه ② چې آیا مؤمن بزدل کیدي شي؟ حضور ﷺ وفرمایل کیدي شي ③ بیا پوښتنه ځیني وشوه آیا مؤمن بخیل کیدي شي؟ حضور ﷺ وفرمایل کیدي شي ④ بیا چې حضور ﷺ نه پوښتنه وشوه چې آیا مومن ډیر دروغجن کیدي شي؟ نو حضور ﷺ وفرمایل چې نه ⑤ دا روایت مالك رحمه الله او بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې بطریق ارسال نقل کړي دي

حل اللغات: - ① جَبَانًا: بزدل، ویریدونکې.

تسهیلات:

قوله: وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ سُلَيْمٍ:

د حضرت صفوان بن سلیم زهری رحمه الله تعارف او فضیلت:

حضرت صفوان بن سلیم زهری رحمه الله د لوئی شان والا تابعی دې. ځلویښت کاله ئی په ناسته ناسته ژوند تیر کړو په زمکه باندې ئی اړخ نه دې لګولې تردې چه مرګ هم ورله په ناسته ناسته راغلو. د ډیرو سجدو د وجې نه ئی په تندی کښې کنده شوې وه. کله ئی د بادشاهانو ورکړه نه وه قبوله کړې. د حضرت انس بن مالك رضي الله عنه نه زیات روایت کوی تابعی دې لهذا دا مذکوره حدیث مرسل دې

---

[۱] اخرجه مالک فی الموطا کتاب الکلام/باب ما جاء فی الصدق والکذب (رقم-۱۹) واحمد فی المسند:۲/۲۸۸

[٤٨٣] شیطان د سړي په شکل کې مسلما نا نوکښې دروغ حدیثونه خوروي

٤٨٣- (١)[٤٩] ① وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: "② «إِنَّ الشَّيْطَانَ لَيَتَمَثَّلُ فِي صُورَةِ الرَّجُلِ، ③ فَيَأْتِي الْقَوْمَ فَيُحَدِّثُهُمْ بِالْحَدِيثِ مِنَ الْكَذِبِ فَيَتَفَرَّقُونَ ;④ فَيَقُولُ الرَّجُلُ مِنْهُمْ: سَمِعْتُ رَجُلًا أَعْرِفُ وَجْهَهُ ⑤ وَلَا أَدْرِي مَا اسْمُهُ يُحَدِّثُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه فرمایي ② کله کله داسې هم کیږي چې شیطان د یو سړي صورت اختیارکړي ③ او یو جماعت ته راشي او هغوئ ته څه دروغ خبر رسوي بیا چې د هغه جماعت خلق اخوا دیخوا منتشرشي ④ نو په هغوئ کې یو سړي وایي ما د یو سړي نه اوریدلي دي چې د هغه صورت خوپیژنم اکه هغه ووینم نو ښودلي شم چې دا هغه سړي دي] ⑤ خو د هغه نوم نه پیژنم هغه داخبره بیانوله. (مسلم)

تسهيلات:

قوله: فَيَأْتِي الْقَوْمَ فَيُحَدِّثُهُمْ بِالْحَدِيثِ مِنَ الْكَذِبِ فَيَتَفَرَّقُونَ:

حضرت ابن مسعود رضی الله عنه د حدیث مقصد: دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه ددې کلام نه مقصود دادې چه حدیث وئیلو او اورولوکښې دډیرزیات احتیاط ضرورت دې ترکومې چه پوره اطمینان او تحقیق نه وی چه دا واقعی حدیث دې دهغه وخته پورې دحدیث په حواله سره داکلام وړاندې نقل کول نه دی پکاردی ځکه چه کله کله ابلیس یا د ابلیس په نوم انسان راځی او په مجمع کښې د دروغو حدیث پریږدی اولاړشی د دې حدیث نه داهم معلومه شوه چه دوعظ اونصیحت کونکی تعارف ضروری دې دې دپاره چه خلقو ته معلومه شی چه څوك دې آیا عالم دې که جاهل دې، انسان دې که شیطان یا ددې شعر مصداق دې

کس نمی داند که بھیا کون ہے
پاؤ ہے یا سیر ہے یا پون ہے

[٤٨٤] په خراب مجلس کې د ناستې نه ځانله کیناستل غوره دی

٤٨٤-(٢)[٥٠] ① وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حِطَّانَ قَالَ: «أَتَيْتُ أَبَا ذَرٍّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- ② فَوَجَدْتُهُ فِي الْمَسْجِدِ مُحْتَبِيًا بِكِسَاءٍ أَسْوَدَ وَحْدَهُ. ③ فَقُلْتُ: يَا أَبَا ذَرٍّ مَا هَذِهِ الْوَحْدَةُ؟ ④ فَقَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ⑤ "الْوَحْدَةُ خَيْرٌ مِنْ جَلِيسِ السُّوءِ، ⑥ وَالْجَلِيسُ الصَّالِحُ خَيْرٌ مِنَ الْوَحْدَةِ ⑦ وَإِمْلَاءُ الْخَيْرِ خَيْرٌ مِنَ السُّكُوتِ، ⑧ وَالسُّكُوتُ خَيْرٌ مِنْ إِمْلَاءِ الشَّرِّ»".

ترجمه: ① او حضرت عمران ابن حطان تابعي رحمه الله وایي چې یوه ورځ زه د حضرت ابوذرغفاري رضی الله عنه په خدمت کې حاضرشوم ② نو هغه مې په مسجد کې پیدا کې هغه وخت

١) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب بیان تحریم إیذاء الجار (رقم-٧٣ - (٤٦) واحمد فی المسند: ٨٩٨/٣
٢) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ٤٩٩٣

هغه يوتور كمبل چاپيره كړي يوازي ناست وو[٣] ماعرض وكړو اي ابوذرا دا يواځې والې دي ولې اختيار كړې دې؟[٤] حضرت ابوذر ﷺ جواب راكې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي[٥] دخرابو هم نشينانو سره د ناستې نه تنها كيناستل ښه دي[٦] او دتنها ناستې نه دنيكو هم نشينانو سره ناسته ښه ده [٧] او چپ اوسيدو نه د نيكي ښودل ښه دي [٨] او بدي خودلو نه چپ اوسيدل ښه دي او ښكاره ده چې كوم ځيز چپ اوسيدو كې مددګار جوړيدي شي هغه ګوشه نشيني او تنهائي ده.

حل اللغات: - ① **مُحْتَبِيًا**: راټول كيناستل چه زنګنونه ولاړوى او لاسونه ئې دخپو نه راتاؤ كړى وى ② **كِسَاءٌ**: څادر، كمبل ③ **إِمْلَاءٌ**: بيانول، نورو ته ښودل.

د حديث الباب حاصل دا دي چه حضرت ابو ذر رضي الله عنه مقصد دا وو چه دي وخت چونكه د هغه خاص رفقاء او ملګرى دلته موجود نه دى چه د هغوي سره پاک صحبت اختيارول پكار دى او په هغوى اعتماد او بهروسه اوكړي شى دي وجې نه ما دا خه اوګڼړل چه څه دلته يواځې او چپ كينم.

قوله في المسجد: مسجد نه مراد دلته مسجد نبوي نه دي بلكه بل جمات مراد دي ځكه چه په مدينه منوره كښې په دغه زمانه كښې د نيكانو خلقو څه كمي نه وو.

[٤٨٦٥] خاموشي اختيارول دَ شپيتو كالو دَ عبادت نه افضل دى

٤٨٦٥-()[٥١] [١] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[٢] «مَقَامُ الرَّجُلِ بِالصَّمْتِ أَفْضَلُ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّينَ سَنَةً»".

ترجمه: [١] او د حضرت عمران ابن حصين ﷺ نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] دچپ اوسيدو په وجه چې سړي ته كومه درجه حاصليږي هغه د شپيتو كالو د عبادت نه ښه ده. **تسهيلات:**

قوله: مَقَامُ الرَّجُلِ بِالصَّمْتِ أَفْضَلُ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّينَ سَنَةً:

خاموشي اختيارولو نه څه مراد دى: يعنى خاموشئى سره په ځان له ځائى كښې كيناستل اودَ الله تعالى دَ شؤونو مراقبه كول دَ هغه شپيتو كالو دَ عبادت نه افضل دې په كوم كښې چه قسما قسم ډيرې خبرې كيږى اودَ ژبې بې احتياطى كيږى بعضې صوفياء كرام ددې نه مراقبه مكاشفه او په كائينات الهيه كښې سوچ اوفكر اوتدبر دَپاره خاموش كيناستل مراد اخستې دې چه په دې مراقبه سره زړه او دماغو كښې انقلاب راځى لهذا دا دَ شپيتو كالو عبادت نه افضل دې بهرحال دَ حديث دا مطلب هم كيدې شى اوكه چرې مراقبه نه هم وى بيا هم خاموشه پاتې كيدو سره صرف ګنګ خاموشه كيدل مراد نه دى.

() اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٤٩٥٣

[۳۸۳۲] حضرت ابوذر غفاري رضی الله عنه ته د نبي علیه السلام یو څو نصیحتونه

۳۸۳۲-(۱)[۵۲] [۱] «وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] فَذَكَرَ الْحَدِيثَ بِطُولِهِ إِلَى أَنْ قَالَ: قُلْتُ: يَارَسُولَ اللَّهِ أَوْصِنِي. [۳] قَالَ: " أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللَّهِ، [۴] فَإِنَّهُ أَزْيَنُ لِأَمْرِكَ كُلِّهِ " قُلْتُ: زِدْنِي. [۵] قَالَ: " عَلَيْكَ بِتِلَاوَةِ الْقُرْآنِ وَذِكْرِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ، [۶] فَإِنَّهُ ذِكْرٌ لَكَ فِي السَّمَاءِ، وَنُورٌ لَكَ فِي الْأَرْضِ

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر رضی الله عنه وايي چې یوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم [۲] د دې نه پس (خپله ابوذر رضی الله عنه نه نقل کونکي راوي) طویل حدیث بیان کې (چې دلته نقل شوی نه دي بلکې د هغه دا آخري جملې نقل شوي دي چې) بیا ابوذر رضی الله عنه بیان وکړو چې ماعرض وکړو چې یا رسول الله! ماته څه نصیحت وفرمایې [۳] نو حضور ﷺ ورته وفرمایل زه تاته د الله نه د ویرېدو نصیحت کوم [۴] ځکه چې تقوي ستا تول دیني اودنیاوي امورو او اعمالو ته ډیر زیات زینت او آراستګي بخښونکي وي [۵] ماعرض وکړو څه نور [۵] حضور ﷺ وفرمایل د قرآن تلاوت او ذکر الله ځان د پاره ضروري وګڼه [۶] ځکه چې دا [د قرآن تلاوت اود الله ذکر] ستا د پاره آسمان کې د ذکر موجب کیږي او په زمکه د نور سبب کیږي [یعنی کله چې ته د قرآن تلاوت او د الله ذکر کې مشغولیت اختیار کړې نو د هغه په سبب آسمانونو کې ملائکي ستا د خیر ذکر کوي بلکې حق تعالی هم تایادوي او په دې دنیا کې ستا د معرفت ویقین او د هدایت د لارې نور ښکاره کیږي]

[۱] ". قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ: " عَلَيْكَ بِطُولِ الصَّمْتِ، [۲] فَإِنَّهُ مَطْرَدَةٌ لِلشَّيْطَانِ [۳] وَعَوْنٌ لَكَ عَلَى أَمْرِ دِينِكَ " [۴] قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ إِيَّاكَ وَكَثْرَةَ الضَّحِكِ، [۵] فَإِنَّهُ يُمِيتُ الْقَلْبَ وَيَذْهَبُ بِنُورِ الْوَجْهِ " [۶] قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ: " قُلِ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا " . [۷] قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ: " لَا تَخَفْ فِي اللَّهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ " . [۸] قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ: " لِيَحْجُزْكَ عَنِ النَّاسِ مَا تَعْلَمُ مِنْ نَفْسِكَ».

ترجمه: [۱] ماعرض وکړو زما د پاره څه نور نصیحت وفرمایه حضور ﷺ وفرمایل طویله اوږده خاموشي په ځان لازمه کړه [۲] ځکه چې خاموشي شیطان لرې تښتوي [۳] او په دیني امورو کې ستا مدد ګار کیږي [۴] ماعرض وکړو زما د پاره څه نور نصیحت وفرمایه حضور ﷺ وفرمایل د ډیرې زیاتي خندا نه پرهیز کوه [۵] ځکه چې زیاته خندا زړه مړ کوي او د مخ نور ختموي [۶] ماعرض وکړو زما د پاره څه نور نصیت وفرمایه حضور ﷺ وفرمایل رینښتیا خبره کوه اګر که هغه ترخه (بغله) وي [یعنی د حق په اظهار کې هیڅ کله مه وروسته کیږه کومه خبره چې رینښتیا وي هغه ضرور کوه اګر که د هغه په وجه خلقوته

(۱) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۴۹۴۲

يا خپله تاته د نفس ناګواري محسوس کيږي[٧] ماعرض وکړو زما د پاره څه نور نصيحت وکړئ حضور ﷺ وفرمايل د الله دين او د الله پيغام ښکاره کولو او د هغه تائيد وتقويت کې د چا ملامت کونکي د ملامت نه مه ويريږه [٨] ماعرض وکړو زما د پاره څه نور نصيحت وفرمايه حضور ﷺ وفرمايل پکار دي چې هغه شي تا د خلقو د عيوبو ښکاره کولو نه منع کړي چې هغه ته د خپل نفس باره کې پيژني

حل اللغات:- ①مَطْرَدَةٌ: شړونکې، پره کونکې، ②عَوْنٌ: مددګار. ③إِيَّاكَ: ځان ساته. بچ اوسيږه. ④مُرًّا: تريخ، ⑤لَوْمَةٌ: ملامتيا، ⑥لَائِمٍ: ملامته کونکې، ⑦لِيَحْجُزْكَ: چه تا منع کړي

تسهيلات:

قوله: أُوصِيكَ بِتَقْوَى اللّٰهِ، فَإِنَّهُ أَزْيَنُ لِأَمْرِكَ كُلِّهِ:

تقوى په ټولو کارونو کښې د ښائست ذريعه: يعنې ما ته د د دين اعتقادي حکم اوکړه برابره ده که د هغې تعلق د قول سره وى يا د عمل سره يا د هغه امور تعلق د دنيا سره وى مطلب دا چه د معاش ذريعه کومه يوه اختيارول پکار دى چه مونږه ښه انجام ته اورسوى.

قوله کله: لأن التقوى بجميع مراتبها من شرك الجلي والخفي ځکه چه د تقوي د هغه مراتبو نوم دې چه په هغې سره د شرک جلي او د شرک خفي نه ځان اوساتلې شي او د کبائرو او د صغائرو نه او د شبهاتو نه ځان اوساتلې شي.

تقوى ته د زينت نسبت کولو کښې وجه: امام طيبي فرمائى چه د زينت نسبت تقوى طرف ته شوې دې لکه چه الله تعالي د لباس نسبت تقوي طرف ته کړې دې ﴿وَلِبَاسُ التَّقْوٰى ۙ ذٰلِكَ خَيْرٌ ؕ﴾ الآية (الاعراف:٢٦)

قوله: عَلَيْكَ بِطُولِ الصَّمْتِ، فَإِنَّهُ مَطْرَدَةٌ لِلشَّيْطَانِ وَعَوْنٌ لَكَ عَلَى أَمْرِ دِينِكَ:

دخاموشۍ فائده: الحاصل دنياوى کلام نه خاموشى اختيارول مراد دى د ذکر الله نه خاموشي مراد نه ده ځکه ٨٠ فيصد ګناهونه د ژبې نه کيږى، چه ژبه بنده وى نو ګناهونه کم کيږى نو د شيطان سازشونه لرې چليږى په خاموشۍ کښې د ذکر و فکر ډيره موقع ميلاويږى ځکه چه ډير خندل زړه غافله کوى، د زړه غفلت د زړه مرګ دي، بيدار زړه. ذاکره ژبه. صابر و شاکر جسم د الله تعالي نعمتونه دى

قوله: قُلِ الْحَقَّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا:

حق وينا کول: مطلب دا چه که د حق خبره په خلقو بده لږى او تا ته د حق وئيلو د وجه نه تکاليفو سره مخامخ کيدل وى نو بيا هم حق وئيل پکار دى د خلقو د يري د وجه نه ښه کلام او ښه کار مه پريږده. په دين باندې په کلکه قائم شه، خلق په عيوبو بانده مه ملامته کوه چه کوم تا کښې هم دى اول خپله اصلاح کوه.

قوله: إِيَّاكَ وَكَثْرَةَ الضَّحِكِ، فَإِنَّهُ يُمِيتُ الْقَلْبَ وَيَذْهَبُ بِنُورِ الْوَجْهِ"

د زیاتې خندا نقصان: یعنې ډیره خنده کول، مسلسل خندل زړه مړ کوي، زړه سختی طرف ته مائله کوی او ی زړه مړ کیدل د الله د ذکر نه غافلیدل دی

قوله: "لَا تَخَفْ فِي اللهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ

د الله تعالی په رضا کښې ملامتیا څخه نه ویریدل: د هیڅ چا د ملامته کونکی د ملامتیا نه مه یریږه ګویا چه دې سره یئ دا حکم اوکړو چه د الله د دین سربلندي د پاره چه کومه فریضه تا باندې عائد کیږی که د هغې په پوره کولو د پاره د دنیاوالو خلقو نه مخ اړول پکار وی نو په هغې کښې هیڅ کمې اونه کړې او دا خبره ضروری اوګڼړه چه په هر حالت کښې د الله د دین سربلندی کول پکار شی نو بیا هم اوکړه

قوله: ". قُلْتُ: زِدْنِي. قَالَ: "لِيَحْجُزْكَ عَنِ النَّاسِ مَا تَعْلَمُ مِنْ نَفْسِكَ:

دبل عیب نه لټول: د دې مطلب دا دې چه کله تا ته د خپلو دننه عیوبو پته اولګی چه ستا نفس په کومو ګناهونو کښې مبتلا دې نو تا له دا بالکل مناسب نه دی چه ته د نورو خلقو په عیوبو باندې نظر اولرې. البته که یو کس کښې هم دا مذکوره عیب وی نو هغه ته امر بالمعروف او نهی عن المنکر کولې شی خو د هغه تذلیل و تحقیر نه شې کولې د نورو په غیبونوپسې لګیدل اوخپل ځان هیرول.

د یو انسان د عیب ژن کیدو د پاره دا کافی ده چه ده کښې درې خصلتونه موجود شی

① د خلقو عیبونو پسې لګیدلې وی او د خپلو عیبونو نه جاهل وی.

② هغوی کښې چه کوم عیبونه دی د هغې نه حیا کوی.

③ خپل ملګری ته تکلیف رسوی (التعلیق الصبیح ج ۵ ص ۱۹۴)

[۴۸۶۷] د خاموشۍ اوښه اخلاقو فضیلت

۴۸۶۷-(۱)[۵۳] ①وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- عَنْ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«يَا أَبَا ذَرٍّ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى خَصْلَتَيْنِ ③ هُمَا أَخَفُّ عَلَى الظَّهْرِ وَأَثْقَلُ فِي الْمِيزَانِ؟ ④" قَالَ: قُلْتُ: بَلَى. قَالَ: "طُولُ الصَّمْتِ، وَحُسْنُ الْخُلُقِ، ⑤ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا عَمِلَ الْخَلَائِقُ بِمِثْلِهِمَا»".

ترجمه: ① او حضرت انس رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② اې ابوذر رضی الله عنه! آیا زه تاته هغه دوه خصلتونه ونه ښایم ③ چې (د مکلف انسان) په شا [یعني د هغه په ژبه] ډیر اسانه دي لیکن د اعمالو په تله کې ډیر درانه دي ④ حضرت ابوذر رضی الله عنه وایي په دې اوریدو سره ماعرض وکړو چې هو ضرور وښایه حضور ﷺ وفرمایل معرفت الهیه او

(۱) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۴۹۴۱

نظام قدرت کې غور وفکر د پاره طویله خاموشي او خوش اخلاقي، ۵ قسم دي په هغه ذات پاك چې د هغه قبضه قدرت کې ځما ساه ده مخلوق د پاره دي دوه خصلتونو نه ښه بل هيڅ کار نشته.

حل اللغات: - ① خَصْلَتَيْنِ: دوه خوبياني، دوه صفتونه. ② أَخَفُّ: ډير سپک، ډير آسان. ③ أَثْقَلُ: ډير درونډ. ④ طُولُ الصَّمْتِ: اوږده خاموشي، اکثر وخت چپ کيناستل

تسهيلات:

قوله: يَا أَبَا ذَرٍّ أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى خَصْلَتَيْنِ هُمَا أَخَفُّ عَلَى الظَّهْرِ وَأَثْقَلُ فِي الْمِيزَانِ:

ابوذر رضي الله عنه ته د دوو خبرو وصيت: دا دوه خصلتونه داسي دی چه په دي کښې هيڅ تکليف نشته بلکه دا خصلتونه په ملا باندي سپک (اسان) دی دارنګ په عمل کښې د ملا دخل هم وی ځکه چه بوج هم په ملا باندي اوچتولي کيږی، هم سپکوالي او درونډوالي او درانه محسوسوی يا د ژبي په شاه باندي سپک وی او په ميزان کښې درانه دی

هغه دوه خبري اودوه عملونه دا دی.

① زياته خاموشي اوچپوالي

② ښه اخلاق اختيارول.

[۴۸۶۸] لعنت ويونکی سړی صديق نه شي کيدلي

۴۸۶۸-()[۵۳] ١ وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: ٢ «مَرَّ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِأَبِي بَكْرٍ وَهُوَ يَلْعَنُ بَعْضَ رَقِيقِهِ، ٣ فَالْتَفَتَ إِلَيْهِ فَقَالَ: "لَعَّانِينَ وَصِدِّيقِينَ؟ ٤ كَلَّا وَرَبِّ الْكَعْبَةِ ٥" فَأَعْتَقَ أَبُو بَكْرٍ يَوْمَئِذٍ بَعْضَ رَقِيقِهِ، ٦ ثُمَّ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: لَا أَعُودُ». ٧ رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الْخَمْسَةَ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ١ اوبي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي ٢ چې يوه ورځ رسول الله ﷺ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه باندې تيريدي نو وي ليدل چې حضرت ابوبکر رضي الله عنه خپل يو غلام باندې لعنت وايي ٣ نو حضور ﷺ هغوئ طرف ته متوجه شو او وي فرمايل آيا تاسو لعنت ويونکي او صديقين هم چيرته ليدلي دي [يعنی آيا تاسو چيرته داسې سړي هم ليدلي دي چې په هغه کې په يو وخت دا دوه صفتونه لعانيت او صديقيت پيداکوي شی حاصل داچې کوم سړي د صديقيت په مقام فائز وي هغه لعنت کونکي نشي جوړيدي ځرنګه چې داحديث تير شوي دي چې لاينبغی لصديق ان يکون لعانًا يعنی صديق د پاره دامناسب نه دي چې هغه لعنت ويونکي وي] ٤ نه د کعبي په رب مې دي قسم وي [دا دواړي خبري په

() اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ٥١٥٤

يو سړي کې هيڅ کله جمع کيدي نشي[۵] نو حضرت ابوبکر ﷺ (دا ارشاد اوريدو سره د
خپل دي تقصير د کفاري په طور) په هغه ورځ خپل بعضې غلامان ازاد کړل[۶] او بيا
(معذرت خواهي د پاره) د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو او عرض يې وکړو چې
زه به آئنده هيڅ کله داسې کار ونه کړم (يعني په جابه لعنت ونه وايم)[۷] د حضرت عمران
ابن حطان د روايت نه واخله دې حديث پورې داپنځه روايتونه بيهقي رحمه الله په شعب
الايمان کې نقل کړي دي

حل اللغات:- ① رَقِيقٌ: غلام، ② اِلْتَفَتَ: متوجه شو. ③ لَعَّانِينَ: لعنت ويونکي. بد رد ويونکي.
④ لَاأَعُوْدُ: دوباره به نه راګرځم. يعني دوباره به داسې کار نه کوم

تسهيلات:

قوله لَعَّانِينَ وَصِدِّيقِينَ:

د مذکوره جملې مفهوم: يعني آيا داسې کيدي شي چه په يو کس کښې دي د صديقيت
صفت هم وى اودا مذکوره صفت هم؟ اوراو اوبه جمع کيدل ممکن دى؟ په دې وجه
حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه په دغه ورځ يو څو غلامان ازاد کړل چه دا د هغه
غلطي کفاره شي چه د هغه نه په لاشعوري کښې شوي وه. دا کمالِ تقوي ده خکه چه نيکو
سره ګناهونه ورانيږي. بيا حضرت ابو بکر صديق رضي الله عنه د نبي عليه السلام په
خدمت کښې حاضر شو او عرض ئي اوکړو چه اي د الله رسوله! خه به بيا داسې کار نه
کوم يعني حضرت ابو بکر خپل فطرت د نبوت په سانچه کښې واچولو چه چرته هم د نبي
قدم وو هلته د صديق قدم وو.

[۴۸۳۹] دَژبې دهلاکتونو په سبب دَ حضرت ابوبکر ﷺ خپله ژبه راښکل

۴۸۳۹-()[۱] (دد) [۱] وَعَنْ أَسْلَمَ قَالَ: إِنَّ عُمَرَ دَخَلَ يَوْمًا عَلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، [۲] وَهُوَ يَجْبِذُ لِسَانَهُ [۳] فَقَالَ عُمَرُ: مَهْ غَفَرَ اللَّهُ لَكَ. [۴] فَقَالَ لَهُ أَبُو بَكْرٍ: إِنَّ هَذَا أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ. رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت اسلم ﷺ وايي چې يوه ورځ حضرت عمر فاروق ﷺ د امير
المؤمنين حضرت ابوبکر صديق ﷺ په خدمت کې حاضر شو[۲] نو وي ليدل چې حضرت
ابوبکر ﷺ خپله ژبه راخکي (يعني د خپلي ژبي په حق کې دومره د غيظ وغضب اظهار
کوي چې هغه يې په ګوتو سره نيولي راخکله او داسې محسوس کيدله چې هغه راخکلو
سره بهر غورخوي)[۳] حضرت عمر ﷺ په دې ليدو سره ورته اوويل داسې مه کوئ خداي
ﷻ دي تاسو ته مغفرت وکړي [۴] حضرت ابوبکر ﷺ وفرمايل دا ژبه د دې سزا لائقه ده
خکه چې دې زه د هلاکت په ځايونو کې غورځولي يم (مالك)

[۱]) اخرجه مالک في الموطا

حل اللغات :- ① يَجْبِذُ: رانبكله ئي، ② مَهْ: مه كوه، ③ أَوْرَدَنِي: غورزولي يم، اخته كړي يم. ④ الْمَوَارِدَ: ډير خايونه. يعنى د هلاكت خايونه او موقعې.

تسهيلات:

قوله: وَهُوَ يَجْبِذُ لِسَانَهُ:

دابوبكر صديق رضى الله عنه خپله ژبه دخُلي څخه راويستل: ژبه د خُلي نه باهر راكارلو نه زجر و توبيخ وو حضرت ابو بكر صديق رضي الله عنه خپله ژبه بطور د سزا رانبكله او تاووله ئي حضرت ابو بكر صديق د الله د ويري د وجه نه داسي كول كنى د ابو بكر صديق ژبې د حق نه علاوه بله خبره نه كوله.

[۴۸۷۰] په شپږ صفاتو باندې نبي كريم ﷺ د جنت ضمانت اخستي دې

۴۸۷۰- ()[۵۶] [۱] وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[۲] «اضْمَنُوا لِي سِتًّا مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَضْمَنْ لَكُمُ الْجَنَّةَ: [۳] اصْدُقُوا إِذَا حَدَّثْتُمْ، [۴] وَأَوْفُوا إِذَا وَعَدْتُمْ، [۵] وَأَدُّوا إِذَا ائْتُمِنْتُمْ، [۶] وَاحْفَظُوا فُرُوجَكُمْ، [۷] وَغُضُّوا أَبْصَارَكُمْ، [۸] وَكُفُّوا أَيْدِيَكُمْ»".

ترجمه : [۱] او حضرت عباده ابن صامت رضي الله عنه روايت كوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] تاسو خلق خپل ځان باره كې ماته د شپږو څيزونو ضمانت راكړئ يعنى شپږو خبرو باندې د عمل كولو عهد وكړئ نو زه دنجات پيدا كونكو او صالحينو سره ستاسو جنت ته د تلو ضامن جوړيږم [۳] ① كله چې خبري كوي نو رينبتيا وايئ [۴] ② وعده چې وكړي نو پوره كوئ يې [۵] ③ امانت چې درسره كيخودل شي نو اداء كوئ يې [۶] ④ د خپل عورت حفاظت كوئ [يعنى د حرام كاري نه ځان ساتئ]، [۷] ⑤ خپل نظر محفوظ ساتئ [يعنى د هغه شي طرف ته نظر پورته كولو نه پرهيز كوئ چې د هغه ليدل جائز نه دي] [۸] ⑥ خپلو لاسونو باندې قابو ساتئ [يعنى خپل لاسونه ناحق وژلو او حرام او مكروه څيزونو نيولو نه منع شاتئ يا داچي خپل ځان د ظلم او تعدي كولو نه منع شاتئ].

حل اللغات :- ① اضْمَنُوا: ضمانت راكړئ، ② ائْتُمِنْتُمْ: تاسو ته امانت دركړې شي، ③ غُضُّوا: ښكته ساتئ. ④ كُفُّوا: بند ساتئ.

تسهيلات:

قوله: اضْمَنُوا لِي سِتًّا مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَضْمَنْ لَكُمُ الْجَنَّةَ:

د شپږو څيزونو په ذمه وارۍ د جنت ضمانت وركول: يعنى تاسو ماله د خپل ځان په باره كښې د شپږو څيزونو ضمانت راكړئ يعني په دې شپږو څيزونو باندې د عمل كولو لوظ اوكړئ نو څه به ستاسو د پاره جنت ته د تلو ضامن شم.

() اخرجه احمد في المسند: ۲۵۷/۱، اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۵۲۵۶ والترمذى رقم الحديث ۱۹۱۹

① رشتيا ونيل

② وعده پوره كول

③ په امانت كښې خيانت نه كول

④ د شرمګاه د زنا څخه حفاظت كول

⑤ د پردو سړو اوښځو څخه د نظرونو حفاظت كول

⑥ په لاس يا په ژبه چا ته ضرر نه رسول

[۴۸۷۱-۴۸۷۲]د خواوبدو خلقو علامات

> ۴۸۷۱-۴۸۷۲-()[۵۷] [۱] وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ غَنْمٍ، وَأَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] «خِيَارُ عِبَادِ اللّٰهِ الَّذِينَ إِذَا رُؤُوا ذُكِرَ اللّٰهُ،[۳] وَشِرَارُ عِبَادِ اللّٰهِ الْمَشَّاؤُونَ بِالنَّمِيمَةِ،[۴] وَالْمُفَرِّقُونَ بَيْنَ الْأَحِبَّةِ،[۵] الْبَاغُونَ الْبُرَآءَ الْعَنَتَ». رَوَاهُمَا أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الرحمن ابن غنم رضي الله عنه اوبي بي اسماء بنت يزيد رضي الله عنها راويان دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د الله ښه بندګان هغه دي چې د هغوئ په ليدو سره سړي ته خداي راياد شي [۳] او د الله بدترين بندګان هغه دي چې په خلقو كې چغل خوري سره ګرځي اچې د هغه نه د هغوئ مقصد د دې نه علاوه نور هيڅ نه وي[۴] چې هغوئ د دوستانو په منځ كې نفاق او جدائي راولي [۵] او د پاكيزه خلقو په لمن د فساد او خرابي او زناكاري خاځكي وا چوي ايعنى د الله چې كوم نيك بندګان د فتنه او فساد ګناه او معصيت او څه عيب نه پاك وي په هغوئ د فتني او فساد او ګناه او معصيت لكه د زناكاري وغيره بهتان لګوي اودغه شان هغوئ هلاكت او مشقت او مشكلاتو كې مبتلا كوي) احمد . بيهقي

حل اللغات:- ① خِيَارُ: غوره. ② رُؤُوا: اوليدلي شي. ③ الْمَشَّاؤُونَ: ګرځي راګرځي. يوبل ته رسوي ④ النَّمِيمَةِ: چغل خوري. ⑤ الْمُفَرِّقُونَ: جدائى راوستونكى. ⑥ الْبَاغُونَ: د باغى جمع ده طلب كونكى. غوښتونكى. ⑦ الْبُرَآءَ: نيكان. بې ګناه ⑧ الْعَنَتَ: فساد . ظلم. ګناه

تسهيلات:

قوله: خِيَارُ عِبَادِ اللّٰهِ الَّذِينَ إِذَا رُؤُوا ذُكِرَ اللّٰهُ:

د دالله تعالى په يادېدو كښې دوه احتمالات: ①يعنى الله والا خو هغه خلق وى چه د چا په كتوسره الله تعالى ياديږى. د چاچه ښائسته چمكدار نوراني اومعصوم مخونه وى. په كوم چه د عبادت نښې هركس اوناكس ته ښكارى.

---

[۱] اخرجه احمد فى المسند: ۲۲۷/۴، والبيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۱۱۱۰۸ وعن اسما اخرج احمد فى المسند ۶/ ۴۵۶

۲ د الله داسي نيک بندګانو ته کتل ګويا چه په ذکر الهي کښې مشغوليدل دی لکه چه علماؤ ليکلی دی چه د عالم دين مخ ته کتل عين سعادت دي او په دې حقيقت کښې هيڅ شبه نشته، چه کله کله د يو نيک سړي او کامل شيخ مخ ته کتلو سره په باطن کښې داسي نورانيت پيدا شی چه هغي سره زړه روښانه شي.

قوله: وَالْمُفَرِّقُونَ بَيْنَ الْأَحِبَّةِ، الْبَاغُونَ الْبُرَآءَ الْعَنَتَ:

د مذکوره جملې په ترکيب کښې دوه احتمالات: ۱ دَدې دويم مفعول دې "البراء" دَباء فتحې سره دَ برئ په معنی کښې مصدر دې

۲ که چرې په باء باندې ضمه وی نو دادَ بريئ جمع ده چه بې ګناه بری الذمه پاکدامن او پاکيزه سړی ته وائی.

دعنت نخخه مراد: دَ فساد فتنه اومصيبت اومشقت په معنی کښې دې يعنی په بې ګناه خلقو باندې بهتان تړل هغوی په فساد ازميښتونو اومشقتونو کښې اچول اوهغوی تنګول دَبدترين خلقو نخښه ده.

[۴۸۴۳] په مونځ او روژه باندې د غيبت کولو اثر

۴۸۴۳-() [۵۸] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - «أَنَّ رَجُلَيْنِ صَلَّيَا صَلَاةَ الظُّهْرِ أَوِ الْعَصْرِ، ۲ وَكَانَا صَائِمَيْنِ، فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الصَّلَاةَ قَالَ: ۳ "أَعِيدَا وُضُوءَكُمَا وَصَلَاتَكُمَا، ۴ وَامْضِيَا فِي صَوْمِكُمَا، وَاقْضِيَاهُ يَوْمًا آخَرَ". ۵ قَالَا: لِمَ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: "اغْتَبْتُمْ فُلَانًا"».

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې يوه ورځ دوو کسانو په رسول الله ﷺ پسې د ماسپښين يا دمازيګر مونځ وکړو ۲ او هغوی دواړه روژه دار وو، کوم وخت چې رسول الله ﷺ مونځ وکړو نو هغه دواړو ته يې وفرمايل ۳ چې تاسو دواړه دوباره اودس وکئ خپل مونځ وکئ ۴ او خپله دا روژه پوره کئ او د دې په بدله کې احتياطًا په دويمه ورځ روژه ونيسئ ۵ هغه دواړو په دې اوريدو سره عرض وکړو چې يارسول الله! داسې ولې [يعنی اودس او مونځ او د روژې دوباره کولو حکم په کوم سبب دې] حضور ﷺ ورته وفرمايل تاسو د فلاني سړي غيبت کړي دي.

حل اللغات: ۱ أَعِيدَا: د تثنيه صيغه ده، راوګرځوئ تاسو دواړه، ۲ امْضِيَا: پوره کړئ، ۳ اغْتَبْتُمْ: تاسو غيبت کړې دي.

تسهيلات:

قوله: أَعِيدَا وُضُوءَكُمَا وَصَلَاتَكُمَا، وَامْضِيَا فِي صَوْمِكُمَا، وَاقْضِيَاهُ يَوْمًا آخَرَ:

په غيبت سره داودس او روژې ماتيدو حکم دَ تثنيه دَپاره دَ جمع صيغه په عربی کښې

() اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۶۷۲۹

استعمالولې شي دلته هم داسې شوی دی د دوو سړو د پاره د جمع صيغه راوړلې شوې ده او په يو روايت کښې أعدا تثنيه هم ده.

د مذکوره جملې مفهوم: ① دا کلام د زجر توبيخ او تهديد او تشديد او په سخت ممانعت باندې محمول دې ځکه چه په علماؤ کښې چا دا فتوی نه ده ورکړې چه په غيبت سره اودس ماتيږی او دا خبره ده چه په غيبت سره د روژې ثواب کميږی او هم دغه شان د اودس ثواب متاثره کيږی نبي عليه السلام هم د دې نقصان پوره کولو د پاره حکم ورکړو چه د نوی سر نه اودس اوکړئ

② بل په دې حکم سره نبي ﷺ د غيبت سختوالې او قباحت ښکاره کول غوښتل

[۴۸۵۳] غيبت د زنا نه بد تره گناه ده

۴۸۵۳-(¹)، ۴۸۷۵-[۵۹] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَجَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَا: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " الْغِيبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا ". [۳] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ الْغِيبَةُ أَشَدُّ مِنَ الزِّنَا؟ [۴] قَالَ: " إِنَّ الرَّجُلَ لَيَزْنِي فَيَتُوبُ، فَيَتُوبُ اللَّهُ عَلَيْهِ " - [۵] وَفِي رِوَايَةٍ: " فَيَتُوبُ فَيَغْفِرُ اللَّهُ لَهُ، [۶] وَإِنَّ صَاحِبَ الْغِيبَةِ لَا يُغْفَرُ لَهُ حَتَّى يَغْفِرَهَا لَهُ صَاحِبُهُ» ".

ترجمه: [۱] او حضرت ابو سعيد ﷺ او حضرت جابر ﷺ دواړه بيان کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] غيبت کول د زنا کولو نه زياته سخته بدي ده [۳] صحابه و ﷺ (په دې اوريدو سره) عرض وکړو چې يا رسول الله! غيبت د زنا نه زياته سخته بدي (خرابي) څرنگه ده؟ [۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل داسې چې کله سړي زنا کوي نو توبه کاږي او خداي ﷻ د هغه توبه قبلوي [۵] او په يو روايت کې دا الفاظ دي چې توبه کاږي او خداي ﷻ هغه بخښي [۶] ليکن خداي ﷻ غيبت والا نه بخښي ترڅو پورې چې هغه سړي يې معاف نه کړي چې د هغه يې غيبت کړي دي [يعنی زناکاري د خداي ﷻ معصيت او نافرماني ده ځکه هغه توبه قبلوي او هغه بخښي هر کله چې غيبت کول حق العباد سره تعلق لري ځکه خداي ﷻ غيبت کونکي تر هغه وخته پورې نه بخښي ترڅو پورې چې هغه سړي يې معاف نه کړي د چاچې يې غيبت کړې دي].

۴۸۷۶-(²) [۱] وَفِي رِوَايَةِ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: " [۲] «صَاحِبُ الزِّنَا يَتُوبُ، [۳] وَصَاحِبُ الْغِيبَةِ لَيْسَ لَهُ تَوْبَةٌ» ". [۴] رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ ".

ترجمه: [۱] او د حضرت انس ﷺ روايت کې دا الفاظ دي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] زنا کونکي توبه کاږي [۳] او غيبت کونکي د پاره توبه نشته [۴] دا دري واړه روايتونه بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړي دي

¹) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۶۷۴۱
²) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۶۷۴۶

تسهيلات:

قوله: وَإِنَّ صَاحِبَ الْغِيبَةِ لَا يُغْفَرُ لَهُ حَتَّى يَغْفِرَهَا لَهُ صَاحِبُهُ:

ظالم بادشاه د غیبت کولو حکم: ظالم بادشاه متعدی بدعتی او دَ فاسق مجاهر غیبت په دې وجه جائز دې چه خلق دَ هغه دَ ظلم فتنې او دَ فساد نه خبرې کړې شی لیکن دَدې دَپاره شرط دادې چه دَ غیبت کونکی نیت خالص وی بل هغه دومره بااثر وی چه دَهغه غیبت سره عامو مسلمانانو ته فائده رسیږی او اثر پرې کیږی که چرې داسې نه وی نو فضول غیبت هم فضول دې

دوان صاحب الغيبة لا يغفر له محمل:

زجاجة المصابيح یعنی مشکوة حنفی کښې لیکلی دی چه غیبت هغه وخت حقوق العباد جوړیږی چه مُغتاب سړی ته دَ هغې خبر اوشی که خبر نه وی شوې نوغیبت دَ حقوق الله نه دې ددې فائده او ثمر به دا راوځی چه ترکومې غیبت په حقوق الله کښې پاتې وی نو صرف په استغفار او توبه سره به معاف شی خوچه کله په حقوق العباد کښې شامل شو نواوس دَ مُغتاب سړی معاف کول ضروری کیږی پخپله په توبه سره نه معاف کیږی هم دغه معنی دَ "لايغفرله" ده.

دَدې باب په شروع کښې دَ غیبت متعلق په ټولو ابحاثو باندې کلام کړې شوې دې یونظر هغه اوګورئی

د ليس له توبة دوه مطلبونه:

"ليس له توبة" دَدې جملې دوه مطلبونه دی. ① اول مطلب دادې چه سړې غیبت معمولی څیز ګڼړی په دې وجه توبه نه کوی نودَ غیبت توبه نشته دې. ② اودویم مطلب دادې چه دَتوبه قبولیت اودَدې دَ صحت مدار دَمُغتاب سړی په معاف کولوباندې موقوف دې لهذا دا وینا کول صحیح ده چه دَغیبت دَپاره توبه نشته دې یعنی مستقل توبه نشته چه دَغیبت کونکی په اختیارکښې وی اوچه کله توبه نشته نو مغفرت هم نشته

[۴۸۷۷] دَ غیبت د کفارې دعا

۴۸۷۷-(۱)[۱](۱۰) وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِنَّ مِنْ كَفَّارَةِ الْغِيبَةِ أَنْ تَسْتَغْفِرَ لِمَنِ اغْتَبْتَهُ [۳] تَقُولُ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلَهُ» ". [۴] رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي " الدَّعَوَاتِ الْكَبِيرِ ". وَقَالَ: فِي هَذَا الْإِسْنَادِ ضَعْفٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وایی چی رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د غیبت کفاره داده

(۱) اخرجه البيهقى فى الدعوات الكبير

چې تـه د هغـه سړي د مغفرت وبخښنې دعـا وغـواړې د چاچې دي غيبت كړي دي ③ او داسې دعا وغواړې چې اې الله! مونږ او هغه سړي (د چاچې ماغيبت كړي دي) وبخښې ④ دا روايت بيهقي رحمه الله خپل كتاب دعوات كبير كې نقل كړي دي او ويلي يې دي چې د دې په سند كې ضعف دي

حل اللغات:- ① كَفَّارَةٌ: فديه، بدله

تسهيلات:

قوله: إِنَّ مِنْ كَفَّارَةِ الْغِيبَةِ أَنْ تَسْتَغْفِرَ لِمَنِ اغْتَبْتَهُ، تَقُولُ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَنَا وَلَهُ:

غيبت كولو كفاره: په دې حديث كښې دَغيبت كونكى سړى دَ غيبت كفاره خودلې شوې. ده چه هغه دې دَمُغتاب دَپاره مستقل استغفار جارى ساتى په دې كښې دَ غيبت كونكى څومره سپكاوې او توهين دې چه دَچا نه هغه نفرت كولو اودَهغه په غيبت كښې لګيا وو بلكه دَهغه په بدوئيلو او غيبت كښې هغه خوند محسوسولو اوس هغه مجبور كولې شى چه دَمُغتاب دَپاره استغفار كوه اودَ هغه دَ پاره دعاګانې غواړه. په دې حديث سره دَهر عقلمند سړى سترګې كولاويدل پكاردى چه هغه نن داسې كار ولې كوى اوداسې كلام ولې اختياروى دكوم دَ معذرت اومعافئى دَپاره چه صبا پوزه مرلې كيږى او ذلت برداشت كولې كيږى.

[١١] بَابُ الْوَعْدِ

دَوعده كولو بيان

خلاصة الباب

فيه سته أحاديث مشتملة على خمس مسائل:

① إيفاء عدة الميت التي وعدها في حياته: ١، ٢.

② وفاء النبي صلى الله عليه وسلم بالوعد: ٣.

③ وجوب من نية الوفاء بالوعد: ٤.

④ كون عدم الوفاء كذباً: ٥.

⑤ عدم لزوم الوفاء بالوعد وقت الصلوة: ٦.

دوعد درې معانى:

① وعده يعد عدة دَ ضرب يضرب نه دې دَ وعده كولو په معنى كښې دې يعنى چاته داسې وئيل چه زه به تاله فلانكى وخت باندې راځم، ستا فلانكې كار به كوم يا به تاته فلانكې څيز دركوم، دا وعده ده.

② دَ وعده لفظ چه کله مطلق اووئیلې شی نو داد خیردَ وعدې دَپاره استعمالیږی
③ که چرې لفظ وعده دَ خیر یا شرسره مقید کړې شی نو په دې کښې دَخیر اوشر دواړه معنې راتلې شی لکه "وعدته خیراوعدته شرا"

دوعدې پوره کولو حکم: امام ابو حنیفه رحمه الله امام شافعی رحمه الله او امام احمدبن حنبل رحمه الله جمهور فقهاء په نیز اګرچه وعده پوره کول مستحب په درجه کښې دی لیکن دَ بعضې نورو فقهاؤ په نیز وعده پوره کول واجب دی دَقرآن اوحدیث تاکیداتو او وعیداتو نه په کتلوسره هم دغه راجح معلومیږی چه وعده پوره کول واجب دی ځکه چه وعده خلافی دَ منافقانو خاص علامت دې بل دَ حضرت عمر بن عبدالعزیز رحمه الله په نیز هم وعده پوره کول واجب دی.

دعذر په وجه د وعده خلافۍ حکم: که یو سړې وعده کوی اوپوره کوشش کوی چه دا پوره کړی لیکن دَ مجبورئی دَ وجې نه دا پوره کولې نه شی نوهغه سړې به دَ قرآن اوحدیث بیان کړې شوې وعید کښې نه راځی.دَاحادیثو دا وعیدونه دَ هغه سړی طرف ته متوجه دی چه وعده کولوسره دَ وعده خلافئی نیت کوی اودا نه پوره کوی او دوستانوته وائی چه څه دې غلوم داد مسلمان کارنه دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۸۲۸] که مشر د وعده پوره کولو نه مخکې مړشی نو جانشین له دهغې پوره کول پکاردی

۴۸۲۸-(¹)[۱] ① عَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: لَمَّا مَاتَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ② وَجَاءَ أَبَا بَكْرٍ مَالٌ مِنْ قِبَلِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَضْرَمِيِّ. ③ فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: مَنْ كَانَ لَهُ عَلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - دَيْنٌ، ④ أَوْ كَانَتْ لَهُ قِبَلَهُ عِدَةٌ فَلْيَأْتِنَا. ⑤ قَالَ جَابِرٌ: فَقُلْتُ: وَعَدَنِي رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَنْ يُعْطِيَنِي هَكَذَا، وَهَكَذَا، وَهَكَذَا. ⑥ فَبَسَطَ يَدَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. ⑦ قَالَ جَابِرٌ: فَحَثَا لِي حَثْيَةً، ⑧ فَعَدَدْتُهَا فَإِذَا هِيَ خَمْسُمِائَةٍ، ⑨ وَقَالَ: خُذْ مِثْلَيْهَا. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت جابر رضی الله عنه وایي هرکله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې دنیا نه تشریف یوړلو ② نو (اول خلیفه) حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ته د علاء بن حضرمي رضی الله عنه د طرف نه مال راغلو (چې حضور صلی الله علیه وسلم د بحرین عامل مقرر کړي وو) ③ نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه اوویل د کوم سړي چې په حضور صلی الله علیه وسلم قرض وي ④ یا کوم سړي سره چې حضور صلی الله علیه وسلم د څه ورکولو وعده کړي وي نو هغه ته پکار دي چې هغه مونږ ته راشي ⑤ حضرت جابر رضی الله عنه وایي (په

---

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الجزیة/باب ما أقطع النبی صلی الله علیه وسلم من البحرین. وما وعد من مال البحرین والجزیة. ولمن یقسم الفیء والجزیة (رقم-۳۱۶۴) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب ما سئل رسول الله صلی الله علیه وسلم شیئًا قط فقال لا وکثرة عطائه (رقم-۶۰ - (۲۳۱۴)

دي اوریدو سره) ما اوویل چې رسول الله ﷺ زما سره د دومره او دومره او دومره راکولو وعده کړي وه ⑥ (په دي ویلو سره) حضرت جابر رضی الله عنه خپل کهولاؤولو سره وخودل [او واضحه یې کړله چې حضور ﷺ زما سره دا وعده کړي وه چې مال راتلو باندې به تاته دري ځلې دواړه لاسونه ډکولو سره درکړم] ⑦ حضرت جابر رضی الله عنه وایي نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه یو وار خپل دواړه لاسونه ډکولو سره ماته (نقد پیسي) عطا کړي ⑧ ما چې هغه شمیر کړل نو هغه تعداد کې پنځه سوه وه ⑨ بیا هغوئ وفرمایل چې دغه شان دوه ځله نور واخله یعنی یو هزار شمیرلو سره نور واخله چې کمي بیشي ونشي (بخاري مسلم)

حل اللغات :- ① دَيْنٌ: قرض، ② عِدَةٌ: وعده، لوظ، ③ فَبَسَطَ: خواره ئې کړل، ④ حَثْيَةً: لپه.

تسهیلات:

قوله: أَوْكَانَتْ لَهُ قِبَلَهُ عِدَةٌ:

په حدیث کښې یو فقهي مسئله: په قاف باندې زیر دې باء اولام باندې فتحه ده دَ عنده په معنی کښې دې یعنی چه نبي علیه السلام هغه سره څه وعده کړې وی یا دَ یو سړی په نبي علیه السلام باندې قرض وی هغه دې ماله راشی زه به ئی ورادا کوم. دَدې حدیث نه معلومه شوه چه یو سړې دَ چا خلیفه یا جانشین جوړشی نو هغه له پکاردی چه هغه دې دَ خپل تیرشوی مشر وعدې او قرضونه پوره کړی. دا مستحب دی که هغه جانشین وارث وی اوکه نه وی. صدیق اکبر رضی الله عنه وارث نه وو لیکن دَ نبي علیه السلام جانشین وو مګر هغوی دَ رسول الله ﷺ دَ وعدو ذمه واری قبوله کړه.

قوله: وَهٰكَذَا: دا دَ لپو ډکولو طرف ته اشاره ده.

قوله: فَحَثَالِي حَثْيَةً: حثیة هم دغه لپو ډکولو ته وائی یعنی حضرت ابوبکر رضی الله عنه دواړه لاسونه ډک کړل درهم ئی ورکړه. کله چه ما اوشمیرل نو په هغې کښې پنځه سوه درهم وو حضرت ابوبکر رضی الله عنه اوفرمائیل چه دَدې هومره دَدې په شان دوه ځل نور واخله دې دپاره چه درې لپې جوړې شی او دَ نبي علیه السلام وعده پوره شی. لکه چه حضرت جابر رضی الله عنه ته پنځلس سوه درهم ملاؤ شو او هم دَدې وعده وه

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۸۷۹] ابوبکر رضی الله عنه او دَ نبي علیه السلام کړې وعده پوره کول

۴۸۷۹-(۱) [۲] ① «عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ قَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَبْيَضَ قَدْ شَابَ، ② وَكَانَ

[1] اخرجه البخاري فی کتاب المناقب/باب صفة النبي صلی الله علیه وسلم (رقم-۳۵۴۴) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب شیبه صلی الله علیه وسلم (رقم-۱۰۷ - (۲۳۴۳)والترمذی فی کتاب الأدب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی العدة (رقم-۲۸۲۶)

الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ يُشْبِهُهُ، ③ وَأَمَرَ لَنَا بِثَلَاثَةَ عَشَرَ قَلُوصًا، فَذَهَبْنَا نَقْبِضُهَا ④ فَأَتَانَا مَوْتُهُ، فَلَمْ يُعْطُونَا شَيْئًا ⑤ فَلَمَّا قَامَ أَبُو بَكْرٍ قَالَ: مَنْ كَانَتْ لَهُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عِدَةٌ فَلْيَجِئْ ⑥ فَقُمْتُ إِلَيْهِ فَأَخْبَرْتُهُ، فَأَمَرَ لَنَا بِهَا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابو جحيفه ﷺ وايي ما رسول الله ﷺ په داسې حال کې وليدلو چې دحضور ﷺ رنګ سرخي مائل سپين وو او په حضور ﷺ بوډاتوب ښکاره شوي وو (اګر که د حضور ﷺ سر او ږيري مبارکي کې سپين ويښته نه وو) ② او حضرت حسن ابن علي ﷺ [د جسم د پورتـه حصي د اعتبار نه] حضور ﷺ سره ډير مشابه وو ③ حضور ﷺ زمونږ جماعت تـه د ديارلسو ځوانو اوښو راکولو حکم فرمايلي وو نومونږ هغه اوښو اخستو لره ورغلو ④ په دي دوران کې مونږ د حضور ﷺ د وفات نه خبر شو او مونږ تـه هيڅ رانه کول شو ⑤ بيا چې حضرت ابوبکر ﷺ اول خليفه مقرر شو او خطبي ورکولو د پاره ودريدلو نو وي فرمايل د چاسره چې حضور ﷺ د څه ورکولو وعده فرمايلي وه هغه ته پکار دي چې مونږ تـه راشي ⑥ دي ارشاد اوريدو سره زه د حضرت ابوبکر ﷺ مخکې ودريدم او هغوئ ته مي په دي باره کې وخودل چې حضور ﷺ مونږ تـه د ديارلس ځوانو اوښو راکولو وعده فرمايلي وه نو حضرت ابوبکر ﷺ مونږ تـه د ديارلس اوښو راکولو حکم وکړو (ترمذي)

حل اللغات: - ① أَبْيَضَ: سپين ② شَابَ: بوډاکيدل، ډير عمروالا کيدل ③ قَلُوصًا: ځوانې او مضبوطې اوښې. ④ عِدَةٌ: دوَعَدَيَعِدُنه مصدر دي، وعده، لوظ.

تسهيلات:

قوله: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - أَبْيَضَ قَدْ شَابَ:

د شيب مراد او معنى: يعنى دَ نبي عليه السلام رنګ ملاحت سره سپين وو دَ شاب مطلب دادې چه نبي عليه السلام دَ زيات عمر خاوندوو دامطلب نه دې چه دَنبي عليه السلام په ويښتوکښې سپينوالې خور شوې وو ځکه چه دَ رسول الله ﷺ په سرمبارك او ږيره مبارکه کښې دَ شلونه زيات ويښته سپين نه وو دَ نبي عليه السلام دَ روښانه مخ مبارك باره کښې دَ هغوى تره ابو طالب په يوه اوږده قصيده کښې دا شعر وئيلې دې

وأبيض يستسقى الغمام بوجهه   ثمال اليتامى عصمة للأرامل

بهرحال دَدې حديث نه اودَې نه وراندې حديث نه دا خبره ثابتـه شوه چه دَمرى وارث يادَ هغه خليفه اووصى دَپاره مستحب دى چه دَ مړى وعده پوره کړى اودَ هغه په ذمه چه کوم قرض وى هغه اداکړى ځکه چه وعده هم قرض اودين کښې شامل دى.

[۴۸۸۰] دَ وعدې دَ پوره كولو عملى نمونه

۴۸۸۰ - ()[۳] [۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي الْحَمْسَاءِ قَالَ: [۲] بَايَعْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَبْلَ أَنْ يُبْعَثَ، [۳] وَبَقِيَتْ لَهُ بَقِيَّةٌ، [۴] فَوَعَدْتُهُ أَنْ آتِيَهُ بِهَا فِي مَكَانِهِ، فَنَسِيتُ، [۵] فَذَكَرْتُ بَعْدَ ثَلَاثٍ، فَإِذَا هُوَ فِي مَكَانِهِ، [۶] فَقَالَ: "لَقَدْ شَقَقْتَ عَلَيَّ، أَنَا هَهُنَا مُنْذُ ثَلَاثٍ أَنْتَظِرُكَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن ابي الحمساء ﷺ وايي [۲] چې د رسول الله ﷺ د نبي كيدو نه مخكې يو وار ما د حضور ﷺ نه څه شي خريد كې [۳] او د هغه د څه حصي ادا كول په ما باقي پاتې شوه [۴] او ما وعده وكړه چې زه به بقيه قيمت اخستو سره هغه ځاي چيرته چې حضور ﷺ تشريف فرماوو يا چيرته چې ما هغه شي خريد كړي وو د حضور ﷺ په خدمت كې حاضرشم ليكن زما نه هغه وعده هيره شوه [۵] بيا په دريمه ورځ خبره رايادہ شوه چې ما د حضور ﷺ سره وعده كړي وه نو هغه بقيه رقم اخستو سره زه د حضور ﷺ په خدمت كې حاضر شوم نو گورم چې حضور ﷺ په هغه ځاي ناست دي [۶] او ځما په ليدو سره يې وفرمايل تازه دير زحمت كې مبتلا كړم زه درې ورځو نه دلته ناست يم ستا انتظار كوم (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① بَقِيَّةٌ: څه حصه، باقي پاتې، ② شَقَقْتَ: مشقت كښې دې واچولم، زحمت دې راباندې اوكړو.

تسهيلات:

قوله: بَايَعْتُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَبْلَ أَنْ يُبْعَثَ:

دنبوت څخه وړاندې د نبى عليه السلام د وعدې پوره كولو واقعه: دَ صحابى دَ كلام مطلب دادې چه دَ نبې عليه السلام هغه سړى سره څه معامله وه او دَ حضوراكرم ﷺ دَ طرف نه دَ هغه سړي په ذمه باندې څه پيسې وركول باقي وو. هغه نبي عليه السلام ته اووئيل چه ته دلته كينه اوزه هغه پيسې راوړم راځم. هغه سړى وئيل چه زه لاړم او ترد ريو ورځو پورې رانه هيرشو په دريمه ورځ راياد شو چه واپس هغه ځائى ته راغلم اومې كتل چه نبي عليه السلام هم په هغه ځائى تشريف فرما دې. نبي عليه السلام دَ وعدې پوره كولو دَ پاره ناست وو دَ دې دَ پاره نه چه نبي عليه السلام دَ خپلو پيسو دَ پاره ناست وو. ياد لرئى دا واقعه دَ نبوت ملاويدو نه دَ مخكښې وخت ده. "قبل أن يبعث" مطلب هم دغه دې.

[۱]) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى العدة (رقم-۴۹۹۶)

[۴۸۸۱] په وعدې پوره کولو کښې که څه عذر راپيښ شي نو ګناهګار نه دې

۴۸۸۱-()[۴] ① وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② «إِذَا وَعَدَ الرَّجُلُ أَخَاهُ وَمِنْ نِيَّتِهِ أَنْ يَفِيَ لَهُ، ③ فَلَمْ يَفِ وَلَمْ يَجِئْ لِلْمِيعَادِ، فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت زيد ابن ارقم رضي الله عنه د حضور ﷺ نه روايت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل ② هرکله چې يو سړي د خپل ورور سره څه وعده وکړي او د هغه وعدې د پوره کولو قصد لري ③ خو د څه عذر په سبب هغه وعده پوره نه کړيسي او مقرره وخت باندې رانشي نو ګنهګار به نه وي. (ابوداؤد ترمذي)

حل اللغات: - ① يَفِيَ: وفا اوکړي، وعده پوره کړي.

تسهيلات:

قوله: فَلَمْ يَفِ وَلَمْ يَجِئْ لِلْمِيعَادِ، فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ:

د ايفاء عهد شرعی حکم: دَدې حديث نه علماؤ دا مسئله راويستې ده چه که شرعی يا عرفی عذر پيښ شي نو دَهغې نه پس وعده پوره کول واجب نه پاتې کيږی. بل دَدې حديث نه دا هم معلومه شوه چه وعده پوره کول دَمکارم اخلاق نه دی څه شرعی واجب نه دی او وعده خلافی کول مکروه تحريمی دی ليکن دَ اکثر علماءُ په نيز وعده پوره کول واجب شرعی دی. بغيرد عذر نه دَ وعدې خلاف کول حرام دی. دَ احاديثو په رڼا کښې هم دغه مسلك راجح معلوميږی. او که چرې وعدې سره يو سړې ان شاء الله اووائی نو بيا هغه آزاد دې دَوعدې پابند نه دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۸۸۲] چه ماشوم سره وعده اوکړئ نو هغه هم پوره کول پکار دی

۴۸۸۲-()[۵] ① «وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَامِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② دَعَتْنِي أُمِّي يَوْمًا وَرَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَاعِدٌ فِي بَيْتِنَا، ③ فَقَالَتْ: هَا تَعَالَ أُعْطِيكَ، ④ فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَا أَرَدْتِ أَنْ تُعْطِيهِ؟" ⑤ قَالَتْ: أَرَدْتُ أَنْ أُعْطِيَهُ تَمْرًا. ⑥ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "أَمَا إِنَّكِ لَوْ لَمْ تُعْطِيهِ شَيْئًا كُتِبَتْ عَلَيْكِ كِذْبَةٌ"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ① او حضرت عبد الله بن عامر رضي الله عنه وايي ② چې يوه ورځ زما مور زه وغوښتم هغه وخت رسول الله ﷺ زمونږ کور کې تشريف فرما وو ③ او زما مور اوويل راشه. زه تاته يوشي درکوم ④ (هرکله چې زما مور ماته اوويل نو) رسول الله ﷺ د هغه نه پوښتنه وکړه

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/بابٌ فی العدة (رقم-۴۹۹۵) والترمذی فی کتاب الإیمان عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی علامة المنافق (رقم-۲۶۳۳)

[۲] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/بابٌ فی التشدید فی الکذب (رقم-۴۹۹۱) واحمد فی المسند: ۴۴۷/۳

تا هغه ته د څه شي د ورکولو اراده کړي وه؟ ⑤ هغه اوویل ما یوه خرما ورکول غوښتل ⑥ «په دي اوريدو سره» رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل ياد لره که تا هغه ته څه نه وای ورکړي نو ستا په عمل نامه کي به يو دروغ ليکل شوي وه. «ابوداؤد بيهقي»

حل اللغات:- ① هَاتَعَالَ: دلته راشه.

تسهيلات:

قوله: فَقَالَتْ: هَاتَعَالَ أُعْطِيكَ:

د ،،ها،، په کلمه کښې دوه احتمالات:

① دا چه دا د تنبيه د پاره ده

② دا چه دا اسم فعل په معني د خذ دي. په دي صورت کښې تعال د دي تاکيد شی تعال د لام په فتحي سره دي په اخره کښې ئې الف نشته

قوله: أُعْطِيكَ:

په اعطک کښې دوه نسخي:

① په يوه نسخه کښې په حذف د يا سره أُعطك دي.

② د سنن ابي داود او شعب الايمان په روايت کښې د ياء په اثبات سره دي يَعنی اعطيک د ثبوت اليا په صورت کښې دوه ترکيبي احتمالات دی

(الف) أُعطيك مرفوع دي دأنا مبتدا محذوف خبر دي. لهذا دا به جمله مستانفه وي. لکه چه د الله تعالي فرمان دي «فَهَبْ لِي مِن لَّدُنكَ وَلِيًّا ۝ يَرِثُنِي» مرفوع دي.

(ب) أُعطيك مجزوم دي جواب امر د وجه نه او ياء د اشباع د پاره ده. بهرحال دا هم يو لغت دي چه په حالت جزمي کښې حرف علت برقرار وی لکه چه دي آيت کريمه کښې دي چه «إِنَّهُ مَن يَتَّقِ وَيَصْبِرْ فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ»

قوله: أَمَا إِنَّكِ لَوْ لَمْ تُعْطِيهِ شَيْئًا:

د مذکوره جملي تقديري عبارت «لولم تعطيه» ياء سره، چونکه دا د کلمه ضمير دي د دي لام کلمه نشته معنوي اعتبار سره تقدير د عبارت داسي شو لولم تنوي بإعطائه شيئا.

قوله: كُتِبَتْ عَلَيْكِ كِذْبَةٌ:

د كذبة کلمي په ضبط کښې دري طريقې:

① دا کاف په فتحي او د ذال په سکون سره په معني د مرة من الكذب (يوځل دروغ)

② په بعضي نسخوکي په کاف د کسري او د ذال په سکون سره نوع من الكذب (يو قسم دروغ)

③ بعضي تصحيح شده نسخو کښې د مصححينو د زعم مطابق د کاف په فتحي او د

ذال په كسرې سره دا ضبط درست نه دي ابن الملک فرمائي دا صحيح نه ده څکه چه د كاف په فتحې او د ذال په كسرې اوتاء سره وي نو داسي كلمه په لغت كې نشي موندلي

قوله: كُتِبَتْ عَلَيْكِ كَذِبَةٌ:

ماشوم ته د دهوكې وركولو حكم: يعنى هغه ماشوم ته د څه وركولو په وعده باندې د راغوښتلو نه پس كه چرته دې څه نه وركول نو په تاباندې ديو دروغو گناه ليكلې كيده دا واقعه دعبدالله بن عامر د ماشوموالى ده د مور پلار وغيره اكثر خلقو دا عادت وى چه دماشوم سره مينه كول يا دهغه د رانيولو په غرض هغه راغواړى ورته وائى چه راشه بچې تاله څه دركوم كله چه ماشوم راشى نو راغوښتونكې هغه ته هيڅ نه وركوى او دا اعمل معمولى گنړلو سره هيركړى حالانكه زير بحث حديث كښې دا وعده گرخولې شوى ده او ددغه وعده مطابق څه وركول پكاردى گنى دا به دروغ جوړشى او د دروغو گناه د دغه سړى په عمل نامه كښې ليكلې شى

[۴۸۸۳] دشرعى عذرپه وجه وعده كې تاخير كيدل گناه نه ده

۴۸۸۳-()[۲] [۱] عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «مَنْ وَعَدَ رَجُلًا فَلَمْ يَأْتِ أَحَدُهُمَا إِلَى وَقْتِ الصَّلَاةِ، [۳] وَذَهَبَ الَّذِي جَاءَ لِيُصَلِّيَ، فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ» . رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [۱] د حضرت زيد ابن ارقم ﷺ نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كه يو سړي د چا سره د يوځاي كيدو ملاقات وعده وكړه او په هغه دواړو كې د يومونځ وخته پورې هلته ونه رسيږي [۳] او هغه سړي مونځ د پاره لاړ شي چې هلته راغلي وو نو هغه به گنهگار نه وي «رزين»

تسهيلات: **قوله**: مَنْ وَعَدَ رَجُلًا فَلَمْ يَأْتِ أَحَدُهُمَا إِلَى وَقْتِ الصَّلَاةِ:

دشرعى يا عرفي عذر په وجه دوعد خلافي حكم: كه دوو كسانو يوځائى ته د رسيدو او ملاويدو وعده يوبل سره اوكړه يوسړې اورسيدو او بل سړې اونه رسيدو نو دا سړې دې د حقيقى عذر لاحق كيدو پورې انتظاراوكړى مثلاً د مونځ وخت شو يا د قضاء حاجت وخت شو يا دخوراك څښاك يا علاج معالجه ضرورت پيښ شو نو اوس دا سړې د نورو انتظاركولو پابندنه دې دشرعى يا عرفى عذر پيښيدو نه پس وعده پوره كول واجب نه پاتې كيږى د جمهور فقهاؤ په نيز وعده پوره كول مستحب دى او د وعدې خلاف كول سخت مكروه دى مگر د بعضې نورو علماؤ قول دې چه وعده پوره كول واجب دى دحضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله هم دغه فتوى ده د قرآن اوحديث نه هم دغه راجح معلوميږى

[1]) رواه رزين

[۱۲] بَابُ الْمُزَاحِ

دَ مزاح یعنی خوش طبعی کولو بیان

خلاصة الباب:

فيه تسعة احاديث مشتملة على أربع مسائل:

① مزاح النبي صلي الله عليه وسلم: ۱، ۲-

② أمثلة المزاح: ۱، ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸-

③ كون المزاح حقاً: ۲-

④ النهي عن المزاح الموذي: ۹-

د مزاح لغوی معنی: مِزاح د میم په کسري سره مصدر دې په معنی د خوش بطعی کولو او د میم په ضمې سره اسم په معنی د خوش طبعۍ،

د مزاح کولودوه صورتونه:

① په مزاح اوخوش طبعۍ کښې چا ته تکلیف رسول نه وی اوپه هغې کښې دروغ هم نه وی نو په دې صورت کښې دا جائز دې.

② که په مزاح او ټوقو کولوکښې چاته تکلیف رسول وی یا په هغې کښې دروغ وی نو بیا دا ناجائز او حرام دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۸۸۳] دَ نبي علیه السلام خوش طبعی

۴۸۸۳-(۱)[۱] ① «عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: إِنْ كَانَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَيُخَالِطُنَا ② حَتَّى يَقُولَ لِأَخٍ لِي صَغِيرٍ: "يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ؟ ③ "كَانَ لَهُ نُغَيْرٌ يَلْعَبُ بِهِ فَمَاتَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① حضرت انس رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ به زمونږ سره اختلاط او خوش طبعي فرمایله ② تردې چې زما کوچني ورور ته به یې (د مذاق پطور) فرمایل ابو عمیر! نغیر چیرته لاړلو؟ ③ حضرت انس رضی الله عنه وایي زما هغه کوچني ورور سره نغیر وو (کشنی مرغي وه) چې په هغه سره به یې لوبي کولي هغه مړ شوي وو. (بخاري، مسلم)

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب الأدب/باب الكنية للصبى وقبل أن يولد للرجل (رقم-۶۲۰۳) ومسلم فى كتاب الآداب/باب استحباب تحنيک المولود عند ولادته وحمله إلى صالح يحنكه، وجواز تسميته يوم ولادته، واستحباب التسمية بعبد الله وإبراهيم وسائر أسماء الأنبياء عليهم السلام (رقم-۳۰ - (۲۱۵۰) وابوداود فى كتاب الأدب/بابٌ فى التشديد فى الكذب (رقم-۴۹۹۱) والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى المزاح (رقم-۱۹۸۹)وابن ماجه فى كتاب الأدب/باب المزاح (رقم-۳۷۲۰) واحمد فى المسند:۱۱۵/۳

حل اللغات: - ① يُخَالِطُنَا: اختلاط او خوش طبعي به نبي فرمائيله ② النُّغَيْرُ: وړوکي مرغۍ. چڼرچڼړه.

تسهیلات:

قوله: يَا أَبَا عُمَيْرٍ مَا فَعَلَ النُّغَيْرُ؟

د حدیث پس منظر: دا وړوکي ماشوم نبي علیه السلام د ابوعمیر په کنیت سره یادکړو دَدې ماشوم نوم کبشه وواودَ حضرت انس ﷛ میرني رور وو دحضرت طلحه ﷛ خوئی وو هغه یوه وړوکي مرغئی ساتلې وه دکومې نوم چه نغیر وو دا دَ چرچڼړې په شان وړه مرغئی وه دي ته په هندئی کښې لال وائی دَدې سر او مخوکه سره وی بعضې علماؤ دي ته بلبل وئیلي دي کله چه دا مرغئی مړه شوه نونبي علیه السلام دَ دغه ماشوم دزړه ساتلودپاره دَ مزاح په توګه اوفرمائیل ابوعمیر هغه نغیر مرغئی څه اوکړه؟ په دې جمله سره دَ نبي علیه السلام دَماشوم تسلي اودَ خوش طبعي مقصود وه

د حدیث نه مستنبط شوی مسائل:

علماؤ دَدې حدیث نه دیرزیات مسائل استنباط کړی دی.

① یوخودا معلومه شوه چه وړوکي ماشوم په کنیت سره یادولې شی.

② بل دا ثابت شو چه مزاح کول جائز دی.

③ دریم دا معلومه شوه چه معمولی شان تکلیف رسیدو سره هم تعزیت کول جائز دی

④ څلورم دا چه مدینه منوره کښې ښکارکول او ساتل جائز دی.

⑤ پنځم دا مسئله معلومه شوه چه په عام توګه په پنجرو کښې مرغۍ بندول اوساتل اودې سره لوبې کول جائز دی په دې شرط چه دَهغوی پالنه ښه ټیک ټاک وی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۸۸۵] دَ نبي علیه السلام مزاح هم په رښتیاو مبنی وو

۴۸۸۵-(۱)[۲] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲]«قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا. [۳] قَالَ: " إِنِّي لَا أَقُولُ إِلَّا حَقًّا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره ﷛ وایي [۲] یوه ورځ صحابه وُ ﷡ عرض وکړو چې یا رسول الله تاسو زمونږ سره خوش طبعي کوئ [۳] حضور ﷺ ورته وفرمایل هو لیکن هغه خوش طبعي کې هم زه رښتیا خبره کوم (ترمذي)

حل اللغات: - ① تُدَاعِبُنَا: دا دَمداعبه نه دي خوش طبعي کول. مزاح کول.

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المزاح (رقم-۱۹۹۰) واحمد فی المسند: ۲/ ۳۴۰

تسهیلات:

قوله: قَالُوا: يَارَسُولَ اللهِ إِنَّكَ تُدَاعِبُنَا:

د صحابه کرامو د تپوس وجه: مطلب دا چه صحابه کرامو تپوس اوکړو یا رسول الله ﷺ تاسو هم مونږ سره د خوش طبعئی په توګه سره مزاح کوئی؟ نبي علیه السلام په جواب کښي اوفرمائیل چه او مزاح زه هم کوم لیکن زما په مزاح کښې صداقت وی زه داسې په احتیاط او حد بندئ سره مزاح کوم چه نور څوك ئی نه شي کولي صحابه کرامو په تعجب سره دا سوال څکه اوکړو چه صحابه کرام د زیاتي خندا او مذاق نه نبی ﷺ منع کړی وو بل په راتلونکی حدیث کښې د "ولاتمازحه" الفاظ هم دی چه خپل رور سره مذاق مه کوه دي څیزونو ته په کتلو سره صحابه کرامو دا سوال اوکړو چه یارسول الله ﷺ تاسو هم مونږ سره مذاق کوئی؟ نبي علیه السلام د مزاح د اباحت طرف ته اشاره اوکړه

[۴۸۸۶] د رسول الله ﷺ د مزاح او خوش طبعۍ واقعه

۴۸۸۶-(۱)[۲] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-«أَنَّ رَجُلًا اسْتَحْمَلَ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-فَقَالَ: [۲] إِنِّي حَامِلُكَ عَلَى وَلَدِ نَاقَةٍ، [۳] فَقَالَ: مَا أَصْنَعُ بِوَلَدِ النَّاقَةِ؟ [۴] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَهَلْ تَلِدُ الْإِبِلَ إِلَّا النُّوقُ؟»». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د انس ﷺ نه روایت دي چې یوه ورځ یو سړي د رسول الله ﷺ نه د سورلي یو حیوان وغوښتي نو حضور ﷺ ورته وفرمایل [۲] زه به ستاسو سورلي د پاره د اوښي بچي درکړم [۳] هغه سړي په حیرانتیا سره اوویل یا رسول الله! زه د اوښي بچي څه کوم [۴] رسول الله ﷺ ورته وفرمایل اوښ خوهم د اوښي نه پیدا کیږي. (ترمذي ابوداود)

حل اللغات: - ① اسْتَحْمَلَ: سین او تاء د طلب د پاره دی یعنی هغه سورلی اوغوښتله ② النُّوقُ: اوښه

تسهیلات:

قوله: وَهَلْ تَلِدُ الْإِبِلَ إِلَّا النُّوقُ؟:

د اوښې باره کښې د نبی علیه السلام توقې: نبی علیه السلام چې کله صحابی ته اوفرمائیل چې زه ته تا د اوښې په بچی باندې سوروم، نو هغه اوګڼل چه ولد ناقة به وړوکي بچي وی چه د سورلئ قابل نه وی نو زه به هغې سره څه کوم؟ نبي علیه السلام د مزاح په توګه ولد الناقة اوونیل او دا حقیقت هم وو څکه چه اوښ څومره هم لوئی شی آخر ولد الناقة خو وی کنه دې نه خارج کیدې نه شی کله چه نبي علیه السلام اوکتل چه دا سړې پریشان کیږی نو بیائی ورته مطلب واضح کړو چه "وهل تلد الخ"

---

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب ما جاء فی المزاح (رقم-۴۹۹۸) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المزاح (رقم-۱۹۹۱) واحمد فی المسند:۳/۲۶۷

په جواب ور کولو کښې سوچ فکر کول: ددې حديث نه داخبره هم معلومه شوه چه يو سړې کومه يوه خبره واؤرې نو يه هغې باندې د اوريدو نه پس غور اوفکر کول ضروري دی دې دباره چه سړې د هغې مطلب اوبيخ ته اورسيږي په نادنی کښې سوال اوجواب نه دی کول بکار که چرې دې سړی لږ شان تامل کړې وې نو اصل حقيقت ته به رسيدلي وو او بريشانی به ورته نه وه

[۴۸۸۷] د خوش طبعی په انداز کښې د چا تعريف کول

۴۸۸۷-(¹) [۳] [١] وَعَنْهُ، «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لَهُ: [٢] " يَا ذَا الْأُذُنَيْنِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او د حضرت انس ﷺ نه روايت دې چې رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل [٢] اې دوو غوږونو والا (ابوداؤد ترمذي)

تسهيلات:

قوله: أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لَهُ: "يَا ذَا الْأُذُنَيْنِ:

د ياذا الاذنين په الفاظو سره د نبی عليه السلام توقه: په دې جمله کښې مزاح دې جرته چه محبت الفت او بې تکلفی وی هلته هم داسې کيږي تول خلق ددوو غوږونو والا وی نبي عليه السلام د مزاح په توګه هغه سړی ته د دوو غوږونو والا اووئيل لکه چه څنګه مونږ په توقو کښې چاته وايو اې غوږو. ددې مزاح په ضمن کښې نبي عليه السلام دهغه سړی تعريف هم اوکړو چه دا سړې د ير فهم والا او په خبره باندې پوهيدونکې دې

[۴۸۸۸] يوې بوډۍ سره د حضور پاک ﷺ خوش طبعی

۴۸۸۸-(²) [۵] [١] وَعَنْهُ، «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لِامْرَأَةٍ عَجُوزٍ: [٢] "إِنَّهُ لَا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَجُوزٌ ". [٣] فَقَالَتْ: وَمَا لَهُنَّ؟ وَكَانَتْ تَقْرَأُ الْقُرْآنَ، [٤] فَقَالَ لَهَا: " أَمَا تَقْرَئِينَ الْقُرْآنَ؟ [٥] {إِنَّا أَنْشَأْنَاهُنَّ إِنْشَاءً - فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا} [الواقعة: ۳۵-۳۶] » [٦] رَوَاهُ رَزِينٌ. وَفِي " شَرْحِ السُّنَّةِ " بِلَفْظِ " الْمَصَابِيحِ ".

ترجمه: [١] او انس ﷺ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي چې ايوه ورځ يوې بوډې ښځې حضور ﷺ ته درخواست وکړو چې ماته د جنت ته د تلو دعاء وکړه نوا حضور ﷺ ورته وفرمايل [٢] چې بوډې به په جنت کې نه داخليږي [٣] نو هغې اوويل چې څه وجه ده چې نه به داخليږي هغه بوډۍ قرآن ويلې وو [٤] حضور ﷺ هغه ته وفرمايل تا په قرآن کريم کې دا نه دي ويلي چې [٥] إِنَّا أَنشَأْنَاهُنَّ إِنشَاءً فَجَعَلْنَاهُنَّ أَبْكَارًا يعنی مونږ به د جنت ښځې پيدا کوو

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب ما جاء فی المزاح (رقم-۵۰۰۲) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی المزاح (رقم-۱۹۹۲) والترمذی فی ۱۲۷/۳

²) اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم ۳۶۰۶

خرنګه چې پيدا کول کيږي، (يعنی مونږ به هغه پيغلې جوړې کړو د دې اعتبار نه دا خوش طبعي مبني برحقيقت وه او د حضور ﷺ دا فرمايل درست شو چې دا بوډۍ ښځه به جنت ته نه ځي ځکه چې واقعتاً هيڅ ښځه په بوډۍ توب سره جنت ته نه ځي)[٦] دا روايت رزين په مذکوره الفاظو سره نقل کړي دي او بغوي خپل دويم کتاب شرح السنه کې هغه الفاظو سره نقل کړي دي کوم چې مصابيح کې مذکور دي

حل اللغات: - ① عَجُوزٌ: بوډۍ، ② أَبْكَارًا: پيغلې،

تسهيلات:

قوله: إِنَّهُ لَا تَدْخُلُ الْجَنَّةَ عَجُوزٌ:

جنت ته د بوډيګانو په نه داخليدو سره د نبی عليه السلام توقه: بوډئی ښځې ته عجوز وائی دې ښځې نبي عليه السلام ته دَ دعا درخواست کړې وو چه ما الله تعالى په جنت کښې داخل کړی په جواب کښې نبي عليه السلام اوفرمائيل بوډئی ښځې به جنت کښې نه داخليږی دې اوريدو سره هغه بوډئی په ژړا شوه او واپس لاړه او وئی وئيل دَ بوډئی ګانو څه قصور دې چه جنت ته به نه ځی نبي عليه السلام هغې پسې شاته کس اوليګلو او ورته ئې اوفرمائيل چه دې ته اووايه چه جنت کښې به ځوانيدو سره ښځې داخليږی بوډئی ګانې به نه وی بيا نبي عليه السلام دَ استشهاد په توګه دَ قرآن آيت تلاوت کړو

[٣٨٨٩] د حضور پاک ﷺ د خوش طبعئ يوه بله واقعه

٣٨٨٩-()[٦١] ① وَعَنْهُ، «أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ كَانَ اسْمُهُ زَاهِرَ بْنَ حَرَامٍ، ② وَكَانَ يُهْدِي لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - مِنَ الْبَادِيَةِ، ③ فَيُجَهِّزُهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْرُجَ، ④ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ زَاهِرًا بَادِيَتُنَا وَنَحْنُ حَاضِرُوهُ". ⑤ وَكَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُحِبُّهُ، وَكَانَ دَمِيمًا، ⑥ فَأَتَى النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمًا وَهُوَ يَبِيعُ مَتَاعَهُ، ⑦ فَاحْتَضَنَهُ مِنْ خَلْفِهِ وَهُوَ لَا يُبْصِرُهُ. ⑧ قَالَ: أَرْسِلْنِي، مَنْ هَذَا؟ فَالْتَفَتَ فَعَرَفَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ⑨ فَجَعَلَ لَا يَأْلُو مَا أَلْزَقَ ظَهْرَهُ بِصَدْرِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - حِينَ عَرَفَهُ، ⑩ وَجَعَلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "مَنْ يَشْتَرِي الْعَبْدَ؟" ⑪ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِذًا وَاللَّهِ تَجِدُنِي كَاسِدًا، ⑫ فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَكِنْ عِنْدَ اللَّهِ لَسْتَ بِكَاسِدٍ» رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: ① او د حضرت انس ﷺ نه روايت دې د ښار نه بهر او سيدونکي (بانډ چي (کليوال)) يو سړي به چې د هغه نوم زاهر ابن حرام ﷺ وو ② رسول الله ﷺ د پاره بطور هديه د ښار د بهر نه څه راوړل (يعني داسې څيزونه چې د ښار نه بهر په جنګل کې پيدا کيږي لکه ساګ سبزي ميوه ګلونه وغيره) ③ او کله چې به هغه د مدينې نه بهر خپل د

[١] اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم ٣٦٠٤، واحمد فی المسند ٣/ ١٦١

سکونت ځاي ته تلو نو رسول الله ﷺ به هغه ته د ښار څه سامان ورکوي ۴ رسول الله ﷺ به د هغه باره کې فرمايل چې زاهر ﷺ زمونږ د بهر ګماشته دي (چي هغه زمونږ د پاره د بهر څیزونه راوړي) او مونږ د هغه د ښار ګماشته يو چې مونږ هغه ته د ښار څيزونه ورکوو ۵ او رسول الله ﷺ به زاهر ﷺ سره ډير محبت او تعلق ساتي هسي هغه يو کمزورشکل سړي وو ۶ چې يوه ورځ رسول الله ﷺ بازار ته تشريف يووړي نو وي ليدل چې هغه خپله سودا خرڅوي ۷ نو حضور ﷺ د وروسته نه هغه نه داسې غيږه ګه کړله چې هغه حضور ﷺ نه شوليدلو ايعنی حضور ﷺ د هغه بي خبري کې د هغه وروسته کينا ستلي او خپل لاس مبارك يي د هغه د دواړو بغلونو لاندي نه را ځکلو سره د هغه سترګي يي پټې کړلې چې هغه يي ونه پيژندي شي ۸ زاهر ﷺ اوويل ماپرېږده دا سړي څوك دي بيا هغه کوشش کولو سره د سترګو دبغلونه وليدلو او رسول الله ﷺ يي وپيژندي ۹ بيا هغه د پيژندو نه پس خپله شا د رسول الله ﷺ سيني مبارکي سره د منبلولو پوره کوشش شروع کې چې زيات نه زيات برکت حاصل کړي ۱۰ اخوا رسول الله ﷺ دا آواز شروع کې کوم سړي د ا غلام اخلي؟ ۱۱ هغه عرض وکړو يارسول الله قسم په خداي بياخوبه تاسو ماناکاره پيداکي [يعنی بالکل آرزان او بي کاره مال] ۱۲ رسول الله ﷺ وفرمايل ليکن ته د خداي په نزد ناکاره نه يي. (شرح السنة)

حل اللغات :- ① يُهْدِي: هديه ئي راوړله، ② يُجَهِّزُهُ: څه سامان به ئې ورکولو ③ بَادِيَتُنَا: زمونږ د کلو (باندو) ④ دَمِيمًا: کمزوري، ⑤ فَاحْتَضَنَهُ: په غيږه کښې ئې واخستلو ، ⑥ لَا يَأْلُو: پرواه ئې نه کوله. موقع ئې نه ضايع کوله، ⑦ أَلْزَقَ: پيوسته کوله ئې، ⑧ كَاسِدًا: بې کاره، کوټه،

تسهیلات:

قوله : أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الْبَادِيَةِ كَانَ اسْمُهُ زَاهِرَ بْنَ حَرَامٍ:

يو باندېچى صحابى: يعنی يو صحرانشين اوباديه نشين سړی وو دکوم نوم چه زاهر وو. نبي عليه السلام دَهغه باره کښې فرمائيلی وو چه دا سړې زمونږ صحرائی دې اومونږ دَ ده ښاريان يو. يعنی دې دَ صحرا نه دَ هغه ځائی مناسبت تحفې راوړی مونږ ته ئې راکوی اومونږ دَ ښار مناسب تحفې ده ته ورکو. بيا نبي عليه السلام هغه ته دَ مزاح په توګه غلام اوفرمائيل ځکه چه ټول خلق په حقيقت کښې دَ الله تعالی غلامان دی.

قوله : وَجَعَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "مَنْ يَشْتَرِي الْعَبْدَ؟:

اصيل او آزاد سړي د غلام په نوم يادولو کښې د نبی عليه السلام توقه : يعنی دا غلام څوك اخلی؟ دَ يو څيز تذکره په توګه دَ استفهام کول چه دا څوك اخلی دا واقعی دَ خرڅولو او اخستلو دَپاره نه وی دلته دَ مزاح په توګه داسې شوی دی. بيا هم علماؤ ليکلی دی چه که

نبی چرته یو آزاد سړي خرخول غواړی نو هغه دې خرخولې شی

د لفظ کاسد معنی:

قوله: لَكِنْ عِنْدَ اللهِ لَسْتَ بِكَاسِدٍ:

یعنی که په بازارکښې زما قیمت لګیدل شروع شی نوزه به بې قیمت او بې کاره ثابت شم وئیلی شی چه دا صحابی بنائسته نه وو په دې وجه هغه داسې اووئیل ددې په جواب کښې نبي علیه السلام اوفرمائیل د بازار خبره پریږده د الله تعالی په نیز ستاقیمت ډیرزیات دې بهرحال چه کوم څیز په بازارکښې نه خرخیږی هغې ته کاسدوائی

بعضې علماؤ د "من یشتری العبد" ترجمه اومفهوم داخودلې دې چه ددې غلام د مقابلې یو غلام که چاسره وی نو هغه دې راولی پیش دې کړی دامعنی ډیره لرې ده بعضې تفصیلی روایاتوکښې دی چه نبي علیه السلام د شانه راغلو اود هغه په سترګو ئې دواړه لاسونه کیخودل هغه دا وئیل چه څوك ئې ما پریږده. کله چه هغه د رسول الله ﷺ لاسونو مبارکوسره لاس اولګولو او معلومه شوه چه داخو نبي علیه السلام دې نوورسره اونختلو نوبیا نبي علیه السلام اوفرمائیل چه دده داخستلو والا څوك شته؟

[۴۸۹۰] د حضورپاك ﷺ د صحابه کرامو سره بې تکلفي

۴۸۹۰-()[۴][۱] «وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ قَالَ: [۲] أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ، [۳] وَهُوَ فِي قُبَّةٍ مِنْ أَدَمٍ، فَسَلَّمْتُ، فَرَدَّ عَلَيَّ، [۴] وَقَالَ: "ادْخُلْ" فَقُلْتُ: أَكُلِّي يَا رَسُولَ اللهِ؟ [۵] قَالَ: "كُلُّكَ" فَدَخَلْتُ. [۶] قَالَ عُثْمَانُ بْنُ أَبِي الْعَاتِكَةِ: إِنَّمَا قَالَ: أَدْخُلُ كُلِّي مِنْ صِغَرِ الْقُبَّةِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت عوف ابن مالك اشجعي ﷺ وایي [۲] د غزوه تبوك په دروان کې یوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرشوم [۳] او هغه وخت حضور ﷺ د څمړی خیمه کې تشریف فرماوو ما حضور ﷺ ته سلام اووئیلو حضور ﷺ د سلام جواب راکي [۴] او وي فرمایل دننه راځه ما (د مزاح په طور) عرض وکړو یا رسول الله زه ټول دننه راشم ایعنی ټول جسم سره دننه راشم[۵] حضور ﷺ وفرمایل هو ټول بدن سره دننه راشه نو زه په خیمه کې دننه داخل شوم [۶] حضرت عثمان ابن ابي عاتکه (چي د دې حدیث راوي دي) وایي چې حضرت عرف ﷺ دا خبره چې زه ټول دننه راشم په دې مناسبت سره کړي وه چې خیمه کوچني وه. (ابو داؤد)

حل اللغات: - ① قُبَّة: خیمه. ② أَدَم: څرمن. ③ أَكُلِّي: آیا زه ټول (دننه درشم). ④ صِغَر: وړه.

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب ما جاء فی المزاح (رقم-۵۰۰۰) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب أشراط الساعة (رقم-۴۰۴۲) واحمد فی المسند: ۲۲/۶

تسهيلات:

قوله: فَقُلْتُ: أَكُلِّي يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟:

دصحابی د توقې جواب په توقې سره ورکول: دَغـزوه تبوك په موقعه دَمزاح دا واقعه پیښیـه شوې ده رسول الله ﷺ پـه یوخیمـه کښې تـشریف فرمـا وو خیمـه وړه وه او دننه ځائی کم وو اونبي علیه السلام هغه ته دننه دَ راتلودَپاره اوفرمائیل نو صحابی په جواب کښې اوفرمائیل یارسول الله! پوره راشم که دَ بدن څه حصه بهر پریخودو سره دننه راشم ځکه چه ځائی کـم دې پـه دې لفظ کښې دَ مزاح اړخ دې پـه دې بانـدې حـضوراکرمﷺ اوفرمائیل چه پوره راشه هیڅ حصه بهرمه پرېږده دننه راشه.

[۴۸۹] دَ حضوراکرم ﷺ دَ مزاح او خوش طبعئ یوه بله واقعه

۴۸۹-(۱)[۸] [۱] وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲]«اسْتَأْذَنَ أَبُوبَكْرٍ عَلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَسَمِعَ صَوْتَ عَائِشَةَ عَالِيًا، [۳] فَلَمَّا دَخَلَ تَنَاوَلَهَا لِيَلْطِمَهَا وَقَالَ: [۴] لَا أَرَاكِ تَرْفَعِينَ صَوْتَكِ عَلَى رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَجَعَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَحْجُزُهُ، [۵] وَخَرَجَ أَبُوبَكْرٍ مُغْضَبًا، فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- حِينَ خَرَجَ أَبُوبَكْرٍ: [۶] "كَيْفَ رَأَيْتِنِي أَنْقَذْتُكِ مِنَ الرَّجُلِ؟". [۷] قَالَتْ: فَمَكَثَ أَبُوبَكْرٍ أَيَّامًا، [۸] ثُمَّ اسْتَأْذَنَ فَوَجَدَهُمَا قَدِ اصْطَلَحَا، [۹] فَقَالَ لَهُمَا: أَدْخِلَانِي فِي سِلْمِكُمَا كَمَا أَدْخَلْتُمَانِي فِي حَرْبِكُمَا، [۱۰] فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "قَدْ فَعَلْنَا، قَدْ فَعَلْنَا». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت نعمان ابن بشیر ﷺ وایي [۲] چې یوه ورځ حضرت ابوبکر صدیق ﷺ د رسول اللهﷺ په خدمت کې حاضریدو د پاره دروازه باندې ودریدی اوحضور ﷺ نه کور ته د راتلو اجازت طلب کړو چې هغوئ د بي بي عائشه ﷺ آواز واوریدلو چې په زوره زوره لګیاوه [۳] بیا چې هغوئ په کورکي داخل شوه نو د بي بي عائشه ﷺ لاس یي ونیولو او د بي بي عائشه ﷺ د وهلو اراده یي وکړله او هغوئ اوویل [۴] (خبردار آئنده) زه تـا د رسول اللهﷺ د اواز نـه پورتـه اواز کـونکي ونـه وینـم اخـوا رسـول اللهﷺ حضرت ابوبکر ﷺ د بي بي عائشه ﷺ د وهلو نه منع کول شروع کړل [۵] بیا حضرت ابوبکر ﷺ د قهر په حالت کې وتلو سره لاړلو رسول اللهﷺ د حضرت ابوبکر ﷺ د تلو نه پس بي بي عائشه ﷺ تـه وفرمایـل [۶] تـا ولیـدل ماتـه د هغـه سړي یعنـی د حضرت ابوبکر ﷺ د لاس نه څرنګه وساتلي [۷] بي بي عائشه ﷺ وایي د دې نه پس حضرت ابوبکر ﷺ زما نـه د خفه کیدو په وجه یا د حضورﷺ نه د شرمندګي په وجه څو ورځو پورې د حضورﷺ په خدمت کې رانغلي [۸] بیا یوه ورځ دروازه باندې حاضـریدو سره دننه د راتلو اجازت وغوښتل او دننه راغلونو وي لیدل چې دواړه یعنی حضورﷺ او بي بي عائشه ﷺ په

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب ما جاء فی المزاح (رقم-۴۹۹۹)

خپلو کې د صلح حالت کې دي [۹] هغوئ دواړه مخاطب کولو سره ورته اوویل چې تاسو دواړه ما خپلې صلح کې هم شریك کړئ څرنګه چې تاسو خپل جنګ کې زه شریك کړې وم [۱۰] حضور ﷺ په دې اوریدو سره وفرمایل بیشکه مونږ داسې وکړل بیشکه مونږ داسې وکړل (یعنی تاسو موخپلې صلحې کې شریك کړلی (ګویا حضور ﷺ خپله خبره مؤکد کولو د پاره دا جمله دوه ځله وفرمایله) (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① عَالِيًا: په اوچت آواز، ② تَنَاوَلَهَا: اوئې نیوله، ③ لِيَلْطِمَهَا: دَمضارع صیغه ده. چه څپیړه ورکړی، ④ يَحْجُزُهُ: منع کولو ئې هغه، ⑤ أَنْقَذْتُكِ: چه ته مې خلاصه کړې. ⑥ سِلْمِكُمَا: په روغه کښې، په صلحه کښې

تسهیلات:

قوله: كَيْفَ رَأَيْتِنِي أَنْقَذْتُكِ مِنَ الرَّجُلِ؟:

پلار ته د سړی نسبت کولو کښې د نبی علیه السلام توقه کول: په دې عبارت کښې د نبی علیه السلام د "من ابيك" لفظ دَ مزاح په توګه دَ رجل لفظ استعمال کړې دې د دې حدیث وضاحت دا دې چې په طبعی توګه دَ حضرت عائشه ﷺ په آواز کښې اوچتوالې وو هم په دغه طبعی انداز کښې دَهغې آواز دَ نبي علیه السلام په مخکښې اوچت شو لیکن صدیق اکبر ﷺ برداشت نه کړې شو او په حضرت عائشه ﷺ باندې ئې لاس اوچتول غوښتل چه نبي علیه السلام مینځ ته شو اوحضرت عائشه ﷺ ئې دَ صدیق اکبر ﷺ نه بچ کړه حضرت صدیق اکبر ﷺ لاړو نو نبي علیه السلام دَمزاح په توګه اوفرمائیل "كيف رأيتني الخ" په پښتو کښې دَدې مطلب دې "څنګه مې دَدې سړی نه ته خلاصه کړې" په دې کښې دَ رسول الله ﷺ دَ طرف نه مزاح وو دَدې نه پس په یو موقع باندې صدیق اکبر ﷺ اوفرمائیل څنګه چه تاسو دواړو په خپل جنګ کښې زه داخل کړې ووم اوس ما په خپله صلح کښې هم داخل کړئ په دې جمله کښې دَ صدیق دَ طرف نه مزاح وو.

[۴۸۹۳] چاته د تکلیف رسولو تر حده پورې توقې کول له دې پکار

۴۸۹۳-(¹) [۹] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «لَا تُمَارِ أَخَاكَ وَلَا تُمَازِحْهُ [۳] وَلَا تَعِدْهُ مَوْعِدًا فَتُخْلِفَهُ». [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس ﷺ دنبی کریم صلی لله علیه وسلم څخه روایت کوی، چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] تاسو د خپل مسلمان ورور سره جنګ مه

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء في المزاح (رقم-۱۹۹۵)

کوی، مه دهغه سره داسی توقي کوی، چی په هغه سره هغه ته تکلیف ورسیږي، [۳] او مه ورسره داسی وعده کوی، چی هغه پوره کولی نه شی. [شیخ عبد الحق محدث دهلوی دا ترجمه کړی ده، تاسو چې د چاسره داسې وعده مه کوئ څرنګه چې وعده کول کیږي، چې تاسو وعده خلافي ونه کړي یعنی که وعده وکړي نو هغه پوره کوئ یا د سره وعده مه کوئ او د وعدي لار بنده کئ چې د وعدي خلافي وبال کې د پریوتو درته ویره پاتي نشي] [۴] دا روایت ترمذي رحمه الله نقل کړي دي او ویلي یي دي چې دا حدیث غریب دي.

حل اللغات: - ① لَا تُمَارِ: جنګ، جګړه مه کوه، د مراء نه دې، ② لَا تُمَازِحْهُ: داسې مذاق مه کوه چه هغه ته پرې تکلیف اورسیږی، ③ مَوْعِدًا: خاص وعده،

تسهیلات:

قوله: قَالَ: "«لَا تُمَارِ أَخَاكَ وَلَا تُمَازِحْهُ..الخ:

اشکال: په مخکنی احادیثو کښې د نبی علیه السلام د توقو کولو ګڼړ روایات ذکر شول خو په دې حدیث کښې نبی علیه السلام د توقو کولو څخه منع فرمائی دا تعارض دې

د اشکال جواب: دا حدیث په هغه صورت محمول دی په کوم کښې چې چاته تکلیف رسی نو حدیث مطلب دا شو چې داسې مذاق نه دی کول پکار په کوم سره چه یو انسان ته تکلیف او درد اورسی.

نوټ: په دې باب کښې فصل الثالث نشته دې.

[۱۳] بَابُ الْمُفَاخَرَةِ وَالْعَصَبِيَّةِ

په یو بل د فخر کولو او د عصبیت بیان

خلاصة الباب

فيه ثمانية عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① حرمة المفاخرة بالحسب: ۱، ۲، ۷، ۹، ۱۸.

② المفاخرة بالنسب ثبوتاً ونفياً: ۳، ۷، ۱۰، ۱۱.

③ مدح التواضع: ۴، ۵، ۶، ۸.

④ ذم نصرة القوم عصبية في غير: ۱۲، ۱۳، ۱۵، ۱۶، ۱۷.

⑤ نصرة القوم في حق: ۱۴.

قوله: بَابُ الْمُفَاخَرَةِ وَالْعَصَبِيَّةِ:

د لفظ مفاخره معنی او شرعی حیثیت:

دَباب مفاعله نه دې.دَ دوو سرو په خپل مینځ کښې په یو بل باندې فخر کول او په نازونخره کښې دَ برابرئی دَ دعوې اظهارته مفاخره وائی.لږ شان په واضحه الفاظو کښې داسې اوګنړئی چه خپل حسب نسب خپل خاندان او قبیله یا دَ خپل قوم اوجماعت یا خپل علم او اخلاق یا په خپله مالدارئی او طاقت باندې ناز کول او په هغې باندې غرور اوفخر کول دامفاخره ده.په ناحقه معامله کښې اوهم دغه شان په تکبر اونفسیات کښې دا تفاخر او مفاخره حرام ده لیکن دَ حق حفاظت اوهم دَدې حمایت اوخپل دینی غیرت او قومی ثقافت باندې فخرکول او په هغې باندې متمسك پاتې کیدل عین ایمان او اسلام دې.

د عصبیت تعریف او شرعی حیثیت:

قوله: وَالْعَصَبِيَّةِ: دَعصبیت معامله هم دَ مفاخره په شان ده.چنانچه دَ خپل مسلك او نظریه بې خایه حمایت دَپاره دَخپل قوم او خپل جماعت شان او شوکت دَ اوچتوالی دَپاره دَهغوی دَ باطل موقف حمایت اوحفاظت دَپاره ړندیدو سره اودریدو ته تعصب او عصبیت وائی دا شرعاً مذموم دې لیکن که دا تعصب اوعصبیت دَحق دَحمایت دَپاره وی او په دې کښې ظلم اوتعدی نه وی بلکه اعتدال وی نودا تعصب مستحسن دې.

ابن خلدون چه کله هم دَ یوبادشاه دَدیندارئی ذکر په خپل کتاب کښې کړې دې نو هغه لیکلی دی چه هغه به څنګه دیندار نه وی څکه چه هغه دَخپل دین باره کښې په تعصب باندې قائم وو لکه چه دادَ حق دَمضبوط حمایت نوم دې کوم چه جائز اومطلوب دې.البته داخبره یاد ساتل پکاردی چه فخر اوافتخار اوعصبیت او تعصب الفاظ په عام توګه

دَ مذموم مقاصدو دَپاره استعمالیږی مګر په دې کښې دَ خير اړخ هم وی لکه څنګه چه پورته په تفصیل کښې خبره راغلې ده.هم دَدې اصولولاندې سلف صالحين کښې نه بعضو دَخپلو مفاخر تذکرې کړی دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۸۹۳] دَ ذاتی او خاندانی شرافت بنالست په علم دين سره دې

۴۸۹۳-()[۱] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: [۲] «سُئِلَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-أَيُّ النَّاسِ أَكْرَمُ؟ [۳] قَالَ: "أَكْرَمُهُمْ عِنْدَ اللّٰهِ أَتْقَاهُمْ". [۴] قَالُوا: لَيْسَ عَنْ هَذَا نَسْأَلُكَ. [۵] قَالَ: "فَأَكْرَمُ النَّاسِ يُوسُفُ نَبِيُّ اللّٰهِ ابْنُ نَبِيِّ اللّٰهِ ابْنِ خَلِيلِ اللّٰهِ". [۶] قَالُوا: لَيْسَ عَنْ هَذَا نَسْأَلُكَ [۷] قَالَ: "فَعَنْ مَعَادِنِ الْعَرَبِ تَسْأَلُونِي؟" قَالُوا: نَعَمْ. [۸] قَالَ: "فَخِيَارُكُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُكُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقُهُوا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، [۲] چې د رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه کوم سړی زيات معزز او مکرم دی، [۳] رسول الله ﷺ وفرمايل، د الله په نز د په ټولو کې زيات معزز او مکرم سړی هغه دی چې د ټولو نه زيات پرهيزګار او متقي وی، [يعني که ستاسو د سوال مطلب دا وي چې خانداني عظمت، د پلار نيکه لوئي او خپل فضائل او د نېه عادت نه قطع نظر ذاتي بزرګي او کرامت يو څيز وي نو پوهه شئ، چې هغه تقوی ده، نو کوم سړی چې په خلقو کې د ټولو نه زيات متقي او پرهيزګار وي، هغه د ټولو نه زيات معزز او مکرم دی، که هغه خپل حسب او نسب، خانداني عظمت، وجاهت او خپل اوصاف او خصائلو د اعتبار نه کم وي يا زيات] [۴] صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو، زمونږ د سوال مطلب دانه دی [۵] حضور ﷺ وفرمايل (که تاسو د ذاتي بزرګي او کرامت باره کې پوښتنه نه کوي بلکې د حسب او نسب د بزرګي او شرافت باره کې پوښتنه کوي نو ددې اعتبار نه) په انسانانو کې د ټولو نه زيات شريف او برزګ حضرت يوسف عليه السلام دی چې د الله نبي وو. او د الله د نبي (حضرت يعقوب عليه السلام) ځوی دی، د الله د نبي (حضرت اسحٰق عليه السلام) لمسی او د الله د دوست (حضرت ابراهيم عليه السلام) کړوسی دی [يعني حضرت يوسف عليه السلام کې څو څيزونه دبزرګي راجمع وه چې خپله هم نبي دی، او د هغوئ په دريو پشتو کې نبوت راغلی دی. د هغه وَر نيکه ته د خليل الله لقب حاصل دی، چې الله هغه خاص دوست ګرځولی دی. بيا هغوئ علم او دانائي حسن وجمال عفوه اوکرم، اخلاق واحسان، عدل وانصاف ديني اودنياوي سرداري او حکمراني اوصافو سره هم متصف وو. نو په دې اعتبار سره هغه په انسانانو کې د ټولو نه برزګ او شريف انسان وو] [۶]

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب قوله: {لقد کان فی يوسف وإخوته آياتٌ للسائلين} [يوسف: ۷] (رقم-۴۶۸۹) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب من فضائل يوسف عليه السلام (رقم-۱۶۸ - (۲۳۷۸) واحمد فی المسند:۴۸۵/۲

صحابه ﷺ عرض وکړو ، ستاسو نه زمونږ د سوال دا مطلب هم نه دی، ⑦ رسول الله ﷺ وفرمايل، آيا تاسو د عربو د خانداني شرف او ذات وحسب اعلی خصوصيات د اعتبار نه پوښتنه کوي اچې اهل عرب چې خپل او د خپل کارنامو، ذاتي بزرگي او عزت او دغه شان د نورو اوصافو په ذريعه د يو بل مخکې اظهار فخر کوي، او د خپلې بزرگی او لوئي دعوی کوي، او هغه په خپلو کې د يو بل د عزت او شرافت معيار د تقوی او نسب په ځای مذکوره اوصاف او خصوصيات گرځوي، نو په هغوئ کې واقعتاً دټولو نه زيات معزز او مکرم څوك دی؟) صحابه ؤ ﷺ عرض وکړو، چې هو، زمونږ د سوال مطلب دادی، ⑧ حضور ﷺ ورته وفرمايل، (نو واورئ) کوم خلق چې په زمانه دجاهليت کې د ټولو نه ښه وه، هغه په اسلام کې هم د ټولو نه ښه دي، هرکله چې هغه فقيه وي يعنی په تاسو کې چې کوم خلق په زمانه دجاهليت کې خپل خانداني شرافت، شريف النفسي. بهادري او سرداري او د ښو اخلاقو او عاداتو د اعتبار نه د ټولو خوښ او د ټولو نه ښه وي، د اسلام په زمانه کې هم هغه خلق د ټولو نه زيات خوښ او د ټولو نه ښه دی، په شرط د دې چې هغوئ اسلامي احکام او شرائع بانـدې پوهيدونکی او د دين دعلم حاصلونکی وي (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① أَكْرَمُ: زيات عزت والا، ② خِيَارُكُمْ: غوره په تاسو کښې، ③ فَقُهُوا: چه هغوی پوهيدونکې وی.

تسهيلات:

قوله: فَخِيَارُكُمْ فِي الْجَاهِلِيَّةِ خِيَارُكُمْ فِي الْإِسْلَامِ إِذَا فَقُهُوا:

اعرابی او مفهومی تشريح: صحابه کرامو د نبی ﷺ په ټولو کښې د افضل تپوس اوکړو.نو نبی ﷺ ورته په اعتبار د عمل سره د افضل او غوره جواب ورکړو.چه د عمل په اعتبار په ټولو کښې الله تعالی ته.خوښ او غوره پرهيزگار دے.لکه قرآن پاك کښې چه الله تعالی فرمائي.[ان اکرمکم عندالله اتقاکم] يعنی د الله تعالی په نزد په تاسو کښې دټولو نه غوره او افضل پرهيزگار دے.کله چه صحابوً عرض اوکړو. چه مونږ د عمل په اعتبار سره د افضل تپوس نه کوو.نو نبی ﷺ ورته د نسب په اعتبار سره د افضل خودنه اوکړه.چه د نسب په لحاظ په ټولو کښې غوره يوسف ﷺ دے. ځکه چه دے په خپله پيغمبر د ده پلار يعقوب ﷺ پيغمبر او د هغه پلار ابراهيم خليل الله هم پيغمبر وو.او دغه شان الله تعالی يوسف ﷺ ته د خوبونو علم هم ورکړې وو.او لا زياتی دا چه دنياوی بادشاهی ئے ورته هم ورکړې وه.چه داهل دنيا په نظر کښې هم دعزت او شرافت مالك وو. کله چه نبی ﷺ ته دوی دا عرض اوکړو.چه مونږ د دې په باره کښې تپوس نه کوو.نو نبی ﷺ د دوی په مراد پوهه شو.چه دوی په عربو کښې د ټولو نه غوره او بهتر يادوی.نو وے

فرمائیل.آیا تاسو د عربو د کانونو یعنی قبیلواو خاندانونو په باره کښې تپوس کوئ.چه عرب پرې په خپلو کښې په یو بل باندې فخرکوی.نو په زمانه دجاهلیت کښې چه څوك د مرتبے خاوند وو.هغه به نن هم د شرافت مالك وی.خو صرف شرط دا دې چه دوی ته د دین پوهه حاصله وی(۲)

د کانونو سره تشبیه: نبی ﷺ ددغه خاندانو تشبیه د کانونو سره د دې وجے ورکړله.لکه څنګه چه کانونه دجواهر او لعلونو لوښی دی.نو دغه شان دا خاندانونه هم د عزت او شرافت لوښی دی.(۳)

په جاهلت اواسلام کښې افضل: صحابه کرامو د نبی ﷺ په ټولو کښې د افضل تپوس اوکړو.نو نبی ﷺ ورته په اعتبار د عمل سره د افضل او غوره جواب ورکړو.چه د عمل په اعتبار په ټولو کښې الله تعالی ته خوښ او غوره پرهیزګار دے.لکه قرآن پاك کښې چه الله تعالی فرمائی.[ان اکرمکم عندالله اتقاکم] یعنی د الله تعالی په نزد په تاسو کښې دټولو نه غوره او افضل پرهیزګار دے.کله چه صحابو عرض اوکړو.چه حضرت مونږه د عمل په اعتبار سره د افضل تپوس نه کوو.نو نبی ﷺ ورته د نسب په اعتبار سره د افضل خودنه اوکړه.چه د نسب په لحاظ په ټولو کښې غوره حضرت یوسف ﷺ دے.څکه چه دے په خپله پیغمبر د ده پلار حضرت یعقوب ﷺ پیغمبر او د هغه پلار حضرت ابراهیم خلیل الله هم پیغمبر وو.او دغه شان الله تعالی حضرت یوسف ﷺ ته د خوبونو علم هم ورکړې وو.او لا زیاتی دا چه دنیاوی بادشاهی ئے ورته هم ورکړې وه.چه داهل دنیا په نظر کښې هم دعزت او شرافت مالك وو.کله چه نبی ﷺ ته دوی دا عرض اوکړو.چه حضرت مونږه د دې په باره کښې تپوس نه کوو.نو نبی ﷺ د دوی په مراد پوهه شو.چه دوی په عربو کښې د ټولو نه غوره او بهتر یادوی.نو وے فرمائیل.آیا تاسو د عربو د کانونو یعنی قبیلوخاندانونو په باره کښې تپوس کوئ.چه عرب پرې په خپلو کښې په یو بل باندې فخرکوی.نو په زمانه دجاهلیت کښې چه څوك د مرتبے خاوند وو.هغه به نن هم د شرافت مالك وی.خو صرف شرط دا دې چه دوی ته د دین پوهه حاصله وی(۱)

دکانونو سره د تشبیه وجه: نبی ﷺ ددغه خاندانو تشبیه د کانونو سره د دې وجے ورکړله.چه لکه څنګه چه کانونو دجواهر او لعلونو لوښی دی.نو دغه شان دا خاندانونه هم د عزت او شرافت لوښی وو.(۲)

د شرافت مرتبې- ① د ټولونه اوچته مرتبه دا ده.چه یو سړې به جاهلیت کښې هم د شرافت خاوندوی.او په اسلام کښې هم د عزت صاحب اوګرځی.او لازیاتی دعلم په صفت

---

(۱) فتح الباری). (۲) فتح الباری). (۳) مسلم فی الذکر والدعاء باب أکثرأهل الجنة الفقراء الخ رقم. ۴۹۲۵، وکذا تر.فی الفتن.۲۱۱۷.وجه فی الفتن رقم.۴۹۹۰، وحم. باقی مسند المکثرین رقم. ۱۷۰۱۶). (۴)شرح نووی)

هم موصوف شي. ② ور پسې دهغه چا مرتبه ده چه په جاهليت كښې د عزت مالك وو او په اسلام كښې ورته هم شرافت ملاؤ شو خو د علم دصفت نه محرومه وي. ③ ور پسې هغه څوك دے چه په جاهليت كښې د شرافت خاوند نه وو خو په اسلام كښې ورته الله تعالى عزت وركړو او دعلم په جوهر باندې هم ښائسته شو.

[٤٨٩٣] دَ ټولو نه زيات شرافت والا څوك دي؟

٤٨٩٣-(١) [٢] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "② «الْكَرِيمُ ابْنُ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ، ③ يُوسُفُ بْنُ يَعْقُوبَ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ② كريم ابن كريم ابن كريم ابن كريم كه څوك كيدي شي، ③ نو هغه حضرت يوسف عليه السلام ابن يعقوب عليه السلام ابن اسحاق عليه السلام ابن ابراهيم عليه السلام دى. (بخاري)

تسهيلات:

قوله: الْكَرِيمُ ابْنُ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ ابْنِ الْكَرِيمِ:

بنى اسرائيلو د نبيانو سلسله: دَ حضرت ابراهيم عليه السلام دوه ځامن ښكاره او مشهور وو يو حضرت اسماعيل وو دَهغه په اولاد كښې يو نبى در يتيم خاتم النبيين محمد ﷺ راغلي دي دويم ځوئى دَحضرت اسحاق عليه السلام ځوئى يعقوب عليه السلام وو اودَ حضرت يعقوب عليه السلام ځوئى حضرت يوسف عليه السلام وو. دَ حضرت يوسف عليه السلام نه دَبنى اسرائيلو دَ ټولو انبياء كرامو سلسله جارى شوې ده. حضرت يوسف عليه السلام دَ بنواسرائيل دَ ټولو انبياء كرامو دَپاره مركز وو. بيا الله تعالى هغوى ته حسن وركړې وو اوعظيم كمال ئى وركړې وو. دَ خبرو طريقه اودَ خوبونو دَ تعبير علم اوانصاف او هوښيارتوب ئى وركړې وو. دغه شان هغوى لره الله تعالى ډيره زياته پاكبازى اوعفت نفس اومعصوميت سره سرفراز كړې وو. نبي عليه السلام اوفرمائيل چه دَ پورته نه ترښكته پورې په هرلحاظ سره مكرم معظم حضرت يوسف عليه السلام وو.

[٤٨٩٥] د كفارو په مقابله كښې د خاندانى شرافت اظهار كول

٤٨٩٥-(٢) [٣] ① وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ② «فِي يَوْمِ حُنَيْنٍ كَانَ أَبُو سُفْيَانَ بْنُ الْحَارِثِ آخِذًا بِعِنَانِ بَغْلَتِهِ -يَعْنِي بَغْلَةَ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ③ فَلَمَّا غَشِيَهُ الْمُشْرِكُونَ، نَزَلَ فَجَعَلَ يَقُولُ: "

---

(١) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب قوله عز وجل: {ونبئهم عن ضيف إبراهيم إذ دخلوا عليه} [الحجر: ٥٢](رقم-٣٣٧٢) والترمذي في كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/بابٌ: ومن سورة يوسف (رقم-٣١١٦) واحمد في المسند:٢/٩٦

(٢) اخرجه البخاري في كتاب الجهاد والسير/باب من قال: خذها وأنا ابن فلان (رقم-٣٠٤٢) ومسلم في كتاب الجهاد والسير/بابٌ في غزوة حنين (رقم-٧٨ - (١٧٧٦) واحمد في المسند:٤/٢٨٠

۴ أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ" ۵ قَالَ: فَمَا رُئِيَ مِنَ النَّاسِ يَوْمَئِذٍ أَشَدُّ مِنْهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت براء ابن عازب رضي الله عنه وايي. ۲ چې د غزوه حنين په ورځ د رسول الله ﷺ د قچرې (غاترې) واګې سفيان ابن حارث رضي الله عنه نيولې وې. (چې د حارث ابن عبد المطلب ځوى کيدو په وجه د حضور ﷺ د تره ځوى وو. او د عربو په زورورو نامتو ځوانانو کې يو بهادر ځوان وو) ۳ د جنګ په دوران کې چې مشرکينو د ځلور طرف نه حضور ﷺ را ونيوى، نو حضور ﷺ د خپل قچر نه را ښکته شو. او دا رجز (جنګ کې د مراني شعرونه ويل) يې شروع کړل. ۴ زه نبي يم، په دې کې هيڅ دروغ نشته. او زه د عبد المطلب فرمانبردار ځوى يم. ۵ د راوي بيان دى، په هغه ورځ د حضور ﷺ نه زيات بهادر او زړه ور څوك ونه ليدل شو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ۱ عِنَانٍ: واګې، ۲ بَغْلَةَ: قچر. ۳ غَشِيَهُ: راګير ئې کړو. ۴ رُئِيَ: اوليدلې شو

تسهيلات:

قوله: أَنَا النَّبِيُّ لَا كَذِبْ أَنَا ابْنُ عَبْدِ الْمُطَّلِبْ:

د حديث مختصر پس منظر: دَ فتح مکه نه يو څو ورځې پس دَغزوه حنين معرکه پېښه شوه. په شروع کښې مسلمانانو ته عارضى ماتې اوشو ليکن نبي عليه السلام په استقامت سره ميدان کښې دکافرانو مقابلې ته ولاړ وو. هغوى يو قدم هم شاته شوي نه وو بلکه دَ جنګ دوران کښې په نبي عليه السلام باندې دَ څلورو واړو طرفونه دکافرانو دَ حملې باوجود نبي عليه السلام په وړاندې تلو. حضرت عباس رضي الله عنه او حضرت ابوسفيان بن حارث هغوى سره وو. نبي عليه السلام دَخپل سپين قچر نه راکوز شو او په ډير استقلال سره دَعظمت دا جملې ئې ارشاد اوفرمائيلې "أنا النبي لا كذب أنا ابن عبد المطلب" يعنى زه دَعبد المطلب په شان دَ اوچتو صفاتو والا سردار ځوئى يم دَدې خاندانى شرافت او عظمت تقاضا داده چه زه دَجنګ په ميدان کښې يو قدم هم شاته نه شم اوزه دَ الله تعالى رښتوني نبى يم اودَ نبوت دَعظمت تقاضا داده چه زه دَ جهاد په ميدان کښې په خائى دَ شاته کيدو وړاندې لاړشم.

نبي عليه السلام په دې رجزيه کلماتو کښې دکافرانو په مقابله کښې خپل خاندانى شرافت اوچت همت اوبهادرى اوشجاعت اودَ رښتوني نبوت طرف ته اشاره اوکړه چه په حقيقت باندې مبنى وو. په دې کښې دَدينى غيرت او حميت اظهار وو په کافرانو باندې رعب کينول مقصود وو اودَ دين اسلام دَ شوکت اظهار وو چه هغه وخت ضرورى وو دَدې په مقابله کښې يو دروغژن مدعى دَ نبوت مسيلمه کذاب ته لږ شان اوګورئى چه دَ يمامه په جنګ کښې کله هغه حديقة الموت کښې په خپله قلعه کښې دَ مسلمانانو په

ګیره کښې راغلو نوخپلو ملګرو ته ئې اووئیل زما رونړو دلته نبوت وغیره هیڅ نشته دَخپل عزت په خپله دَ بچ کولو کوشش اوکړئ "لعنة الله على المفتري الكذاب".

[۴۸۹۶]دَ خير البرية نه څوک مراد دی؟

۴۸۹۶-(۱)[۳] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ۲ «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: يَا خَيْرَ الْبَرِيَّةِ. ۳ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "ذَاكَ إِبْرَاهِيمُ"». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او د حضرت اخیتي نه روایت دی. ۲ چې یوه ورځ یو سړی د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرید و سره حضور ﷺ داسي مخاطب کی اې هغه سړیه، چې په ټولو مخلوقاتو کې ښه یې، ۳ حضور ﷺ ورته وفرمایل، کوم سړی چې په ټول مخلوق کې ښه وو هغه حضرت ابراهیم علیه السلام دی. (مسلم)

حل اللغات:- ① خَيْرَ الْبَرِيَّةِ: په کائنات کښې دَ ټولو نه افضل نبی علیه السلام دي.

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "ذَاكَ إِبْرَاهِيمُ":

اشكال: نبي عليه السلام على الإطلاق خير البرية او سيد الاولين والآخرين دي. بيا دلته دَخپل ذات نفی اوحضرت ابراهیم علیه السلام دَپاره دَ ثابتولو څه مطلب دې؟

داشكال جواب: حضرت ابراهیم علیه السلام دَنبي عليه السلام جدامجد دي نونبي عليه السلام تواضعًا اوفرمائيل چه په اصل کښې خو خير البرية زما جدامجد وو زه چرته يم. محاوره دكلام هم دغه شان وی. دويم جواب دادې ممکن ده چه دا دَ نبوت دَ شروع واقعه وی اودَ نبي عليه السلام سيادت اوقيادتِ عامه دَوحی په ذريعه تردغه وخته پورې واضح شوې نه وی روستو په ذريعه دَوحی نبيِ عليه السلام ته دا مرتبه ملاؤ شوې وه نواول ئې انکار اوکړو بيائی روستو اقرار اوکړو.

[۴۸۹۷]دَرسول الله ﷺ په تعريف اومنقبت کښې دَ شريعت خيال ساتل پکار دی

۴۸۹۷-(۲)[۵] ۱ وَعَنْ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ۲ "«لَا تُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ، ۳ فَإِنَّمَا أَنَا عَبْدُهُ، فَقُولُوا: عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او د حضرت عمر رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل، ۲ تاسو خلق څما مدح او تعریف کې د حد نه زیات تجاوز مه کوئ څرنګه چې نصاری د ابن مریم

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الفضائل/باب من فضائل إبراهيم الخليل صلى الله عليه وسلم (رقم-۱۵۰ - (۲۳۶۹)) واحمد فی المسند:۱۷۸/۳

[۲] اخرجه البخاری فی کتاب أحاديث الأنبياء/باب قول الله {واذكر فی الكتاب مريم إذ انتبذت من أهلها} [مريم: ۱۶] (رقم-۳۴۴۵) واحمد فی المسند:۲۳/۱

حضرت عيسىٰ) تعريف کې د حد نه تجاوز کړې دی، (چې هغه د بشريت نه خيژولو سره الله او د الله ځوی ورته وئيل شروع کړي دي)۞ زه د الله بنده يم، نو تاسو ما ته د الله بنده او د هغه رسول وايئ (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① لَاتُطْرُونِي: دَباب افعال نه اطراء بې ځايه مدح او په مدح او تعريف کښې مبالغې او غلو اوتجاوز ته وائی

تسهيلات:

قوله: لَاتُطْرُونِي كَمَا أَطْرَتِ النَّصَارَى ابْنَ مَرْيَمَ:

لفظ لاتطرونی تحقيق: په اصل کښې "لاتطرِيون" دي.دَ حديث مطلب دا دي چه نبي عليه السلام فرمائی زما تعريف ثنا اومدح اومنقبت کښې داسې تجاوز اوغلطه طريقه مه اختياروئی څنګه چه نصارئ دَحضرت عيسىٰ عليه السلام باره کښې اختيارکړې ده چه دَالله تعالى دغه بزرګ بنده ئی دَ بندګئی اودَ عبوديت مقام نه اوچت کړودَ معبوديت مقام باندې راوستلو ويدرولو اوهغه ته ئی دَ عبدالله په ځائی ابن الله اووئيل يا ئی ورته الله اووئيل، يائی ورته په دريو کښې دريم اووئيل.تاسوداسې مه کوئی دومره وينا کول په مدح او ثناکښې کافی دی چه ما ته دَ الله تعالى بنده اورسول اووايئی دَ الله تعالى په بندګئی کښې ډير لوئی اعزاز دي کماقيل:

لاتدعني إلا بيا عبدها فانه أفضل أسمائيا

دغه شان دا ويناکول چه زه دَ الله تعالى رسول يم دادَ تعريف آخری حد دې ځکه چه رسول په هغه مقام باندې وی دکوم نه پس چه دَ الله تعالى شان شروع کيږی، په دې وجه دَعبديت او نبوت دَاعزاز سره زما تعريف کافی دې.دَالوهيت په مقام سره زما تعريف مه کوئی څنګه چه نصارئ اوکړو.علامه بوصيری رحمه الله څه ښه وينا کړې ده:

فإن فضل رسول الله ليس له حد فيعرب عنه ناطق بفم

بهرحال دَ شرعی حدود نه وتلو سره دَ نبي عليه السلام مدح او ثنا دَ نبي عليه السلام تعريف نه دې بلکه نبي عليه السلام ناراض کول دی دَ مدح اوتمدح په ميدان کښې بريلوی حضرات دَ خطرناك حده پورې تجاوز کوی او نبي عليه السلام دَ الوهيت او معبوديت مقام ته رسوی.دَهغوی دا وينا چه نبي عليه السلام نور الله دې.دَدې مطلب په غلی الفاظو کښې هم دغه راوځی چه نبی عليه السلام ابن الله دی.نصارئ هم دغه شان په ګول مول الفاظو کښې حضرت عيسىٰ عليه السلام ته ابن الله اووئيل.بريليانو نبي عليه السلام ته المدد يا رسول الله وئيلو سره راؤبللو دادَ الوهيت او معبوديت مقام دې.زير بحث حديث هم دَ بريليانودَ ترديددَپاره دې که چرې په دې سره هم دَدغه خلقو سترګې کولاؤ نه شوې نوبيا

د مړه کیدو نه پس او د سترګو بندیدو نه پس به کولو یږي شیعه او روافض له هم دغه خیال کول پکار دي هغوی خپلو دوولسو امامانو ته هم دغه شان د معبودیت درجه ورکوي د دې حدیث اعلان دې چه بریلوی روافض هوشیار باش.

[۴۸۹۸] د فخر د اظهار کولو ممانعت

۴۸۹۸-(۱)[۱] وَعَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ الْمُجَاشِعِيِّ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ:[۲] "«إِنَّ اللَّهَ أَوْحَى إِلَيَّ: أَنْ تَوَاضَعُوا[۳] حَتَّى لَا يَفْخَرَ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ،[۴] وَلَا يَبْغِي أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عیاض رضی الله عنه ابن حمار مجاشعي نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. [۲] الله د وحي په ذریعه ماته حکم کړی دی. چې عاجزي او عاجزي اختیار کړه. [۳] تردې چې هیڅ سړی دې په چا فخر نه کوي. [۴] او نه دې یو سړی په چا ظلم او زیاتی کوي. (مسلم)

حل اللغات: - ① تَوَاضَعُوا: عاجزي اختیار کړئ، ② لَا يَفْخَرَ: فخر او نه کړي.

تسهیلات:

قوله: تَوَاضَعُوا حَتَّى لَا يَفْخَرَ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ:

په یو بل باندې د فخر کولو حرمت: د دې حدیث نه معلومه شوه چه داسې فخر کول چه د تکبر او غرور په طریقه وی دا حرام دی. په حدیث کښې فخر و ظلم دواړه یو ځائې ذکر کولو کښې هم دې ته اشاره ده چه دا دواړه خبرې د تکبر نتیجه ده ځکه چه متکبر خپل ځان د ټولو نه اعلي تصور کوي او هغه د چا هم تابعداری نه کوي.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۸۹۹] پلار نیکه او خاندان باندې د فخر کولو ممانعت

۴۸۹۹-(۲)[۲] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-عَنِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ:[۲] "«لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ يَفْتَخِرُونَ بِآبَائِهِمُ الَّذِينَ مَاتُوا،[۳] إِنَّمَا هُمْ فَحْمٌ مِنْ جَهَنَّمَ،[۴] أَوْ لَيَكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللَّهِ مِنَ الْجُعَلِ[۵] الَّذِي يُدَهْدِهُ الْخِرَاءَ بِأَنْفِهِ[۶] إِنَّ اللَّهَ قَدْ أَذْهَبَ عَنْكُمْ عُبِّيَّةَ الْجَاهِلِيَّةِ، وَفَخْرَهَا بِالْآبَاءِ[۷] إِنَّمَا هُوَ مُؤْمِنٌ تَقِيٌّ، أَوْ فَاجِرٌ شَقِيٌّ[۸] النَّاسُ كُلُّهُمْ بَنُو آدَمَ، وَآدَمُ مِنْ تُرَابٍ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. [۲] خلق دې په هغه پلار نیکه باندې فخر کول پریږدي کوم چې مړه شوي وي [۳]

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب الصفات التی یعرف بها فی الدنیا أهل الجنة وأهل النار (رقم-۶۴ - (۲۸۶۵) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب البراءة من الکبر والتواضع (رقم-۴۱۷۹)

[۲] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی التفاخر بالأحساب (رقم-۵۱۱۶) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۳۹۵۵) واحمد فی المسند: ۲/۳۶۱

او د هغوئ حقيقت د دې نه علاوه نور هيڅ نه دي چې هغوئ د دوزخ سکاره جوړ شوي دي، ۴ (که فخر کولو نه منع نشي نو) هغوئ به د الله په نز د گندګي د چينجي نه هم زيات ذليله او خوارشي، ۵ چې گندګي د خپلي پوزي سره لري کوي، ۶ بلاشبه الله ﷻ ستاسو نه د جاهليت غرور او په پلار نيکه باندې د فخر کولو عادت لري کړی دی ۷ ياد لرئ که سړی په ايمان او تقوي سره مالا مال دی، نو هغه پخپله قابل د تکريم او معزز دی، [په دې صورت کې هغه ته څه ضرورت دی چې په خپل پلار نيکه فخر کولو سره د خپل حيثيت د زياتولو کوشش کوي]، او که يو سړی فاجر او بدکار وی، نو هغه د الله ﷻ په نز ذليل او خوار دی، [په دې صورت کې د هغه څه حق دی چې تکبر او غرور وکړي] ۸ ټول انسانان د آدم عليه السلام اولاد دی، او آدم عليه السلام د خاوري نه پيدا شوی دی او خاوره يوډير کمتر او بې حيثيته څيز دی، نو خاوري نه جوړ شوی [انسان ته مناسب نه دی چې د خپل عظمت او لوئي دعوی وکړي، او په غرور او تکبر کې اونخلي] (ترمذي، ابوداود)

حل اللغات:- ① لَيَنْتَهِيَنَّ: خامخا دې منع شي خلق، ② يَفْتَخِرُونَ: چه دوی فخر کوی. ③ فَحْمٌ: سکاره، د دوزخ خشاک، ④ أَهْوَنَ: زيات ذليله، سپک، ⑤ الْجُعَلِ: د گندګئ چينجي. ګونګټ. ⑥ يُدَهْدِهُ: چه لرې کوی، ⑦ الْخِرَاءَ: گندګی، غلاظت، ⑧ بِأَنْفِهِ: خپلې پوزې سره. ⑨ عُبِّيَّةَ: کبر. غرور.

تسهيلات:

قوله: لَيَكُونُنَّ أَهْوَنَ عَلَى اللَّهِ مِنَ الْجُعَلِ الَّذِي يُدَهْدِهُ الْخِرَاءَ بِأَنْفِهِ:

په پلار نيکه باندې د فخر کولو ممانعت: جعل حشرات الارض کښې يو چينجی ته وائی کوم ته چه ګبريلا وئيلی شی او پښتو کښې دې ته ګونګټ وائی. دغه ګونګټ دَ انسانی او حيوانی غلاظت ته ښه ګوله جوړوی او بيا دَ خلې په ذريعه هغې له مخکښې ديکه ورکوی اوړی. که دَ سوړې برابر ګوله وی نو دننه ئې يوسی ګنی افسوس سره ئې بهر پريږدی. دغه شان انسان حب جاه او دَ منصب ګندګی او چتوی ليکن په قبر کښې دَ داخليدو په وخت دغه ټول کبر او لوئی هم دغه شان پاتې شی او انسان خپل عمل سره قبر ته لاړ شی.

[۴۹۰۰] حضوراکرم ﷺ ته دَ سردار ويلو حکم

۴۹۰۰-( )[۸] ۱ «وَعَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: ۲ قَالَ أَبِي: انْطَلَقْتُ فِي وَفْدِ بَنِي عَامِرٍ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ۳ فَقُلْنَا: أَنْتَ سَيِّدُنَا، فَقَالَ: "السَّيِّدُ اللَّهُ" ۴ فَقُلْنَا وَأَفْضَلُنَا فَضْلًا، وَأَعْظَمُنَا طَوْلًا. ۵ فَقَالَ: "قُولُوا قَوْلَكُمْ، أَوْ بَعْضَ قَوْلِكُمْ، وَلَا يَسْتَجْرِيَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَأَبُو دَاوُدَ.

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب /باب فی کراهية التمادح (رقم-۴۸۰۶) واحمد فی المسند: ۲۵/۴

ترجمه: [۱] او حضرت مطرف ابن عبد الله ابن شخير وايي، [۲] چي خما پلار حضرت عبد الله صحابي ﷺ بيان وکړی چې د بنو عامر کوم وفد د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوی وو. اپه هغوئ کې زه هم شريك وم، نو کوم وخت چې مونږ د رسول الله ﷺ په خدمت کې راورسيدو [۳] نو مونږ عرض وکړو چې تاسو ﷺ زمونږ سردار يې رسول صلي الله عليه وسلم وفرمايل چې ..سيد.. خو الله تعالى دي [۴] مونږ وويل چې د خير او بهترۍ د مخه په مونږ کې دټولو نه بهترين او د بخشش د اعتبار نه په مونږ کې ټولو نه بزرگ او برترېي. [۵] حضور ﷺ وفرمايل. هو داسې وايي بلکې د دې نه هم د کم درجې الفاظ استعمالوي ايعنى خما تعريف او مدح کې مبالغه آرائي نه کار مه اخلئ. او هغه صفات زما طرف ته مه منسوب کوي، کوم چې صرف د حق تعالى ذات سره مخصوص دي. تاسو چې په آخر کې کومه خبره کړې ده، زيات نه زيات هغه حد پورې خما تعريف کولی شي. بلکې خما په هکله هغه نه هم د کمې درجې تعريف کوي، نو زياته نبه ده! او گورۍ شيطان دي تاسو خپل وکيل جوړنه کړي اوتاسو دې په بل طرف بونه زي (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① اِنْطَلَقْتُ: زه راغلم. ② طَوْلًا: برتر، اوچتې مرتبې والا. ③ لَايَسْتَجْرِيَنَّكُمْ: داد جرى نه دې اوجرى دلته د وکيل په معنى کښې دې چه دخپل مؤکل په ځائی اوجاری مجری وی

تسهيلات:

قوله: فَقُلْنَا: أَنْتَ سَيِّدُنَا، فَقَالَ: "السَّيِّدُ اللهُ:

اشكال: د سيد د لفظ اطلاق مختلف احاديثو کښې په مخلوق باندې شوي دي دا د دې خبرې دليل دې چې غير الله ته هم سيد وئيلې شی نوبيا په دې حديث کښې ولې نبي عليه السلام خپل ځان دپاره د سيد د استعمال ممانعت وکړو؟

داشكال جواب: دلته د دغه انکار وجه داوه چه دې خلقو دې لفظ سره دخطاب کوم انداز خپل کړې وو هغه داسې وو لکه چه نبي عليه السلام ئې د دنيا د سردارانو نه يو سردار گرځولې وو حالانکه دنبي عليه السلام خصوصيت خودهغوی نبوت اورسالت وو د دنيا د سردارنو به شان سرداری نه وه په دې وجه نبي عليه السلام اوفرمائيل چه سردار يعنی مشکل کشا. حاجت روا صرف يو د الله تعالى ذات دې

قوله: وَلَا يَسْتَجْرِيَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ:

د يستجرينكم دوه مطلبونه: مطلب داچه د حدنه تجاوز مه کوئی چرته په دغه بې ځائه تجاوزات کښې شيطان تاسو خپل وکيل جوړنه کړی يا دا لفظ د جرات نه جوړ دې يعنی شيطان تاسو زما په بې ځايه تعريف کښې جری اوبهادرنه کړی چه تاسو بې ځايه تعريفونه شروع کړئی. دامعنى زيات واضح اومناسب ده.

[۴۹۰۱] اصل افضليت په پرهيزګارئ دي

۴۹۰۱-(۱)[۹] ① وَعَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "② «الْحَسَبُ: الْمَالُ، وَالْكَرَمُ: التَّقْوَى»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت حسن رضي الله عنه د حضرت سمره نه روايت کوي. چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ② حسب مالداري ده او کرم د پرهيزګاري نوم دی (ترمذي. ابن ماجه)

حل اللغات: - ② الْحَسَبُ: مال دولت والا. ③ الْكَرَمُ: عزت او شرافت.

تسهيلات:

قوله: الْحَسَبُ: الْمَالُ، وَالْكَرَمُ: التَّقْوَى:

دالله تعالى په نيز د برترۍ محيز: يعنې دَعامو خلقو په نيزخو دَحسب نسب مالك او چت شان والا. مکرم معظم او بزرګ هغه سړې دي چاسره چه مال وی هم دَهغه عزت او عظمت وی او هم هغه خلق خوش قسمت او کامياب ګڼړی اودَ الله تعالى محبوب ئی ګڼړی چانه وينا کړې ده چه

رأيت الناس قد مالوا الى من عنده مال ومن لا عنده مال فعنه الناس قد مالوا

دادَ خلقو معامله ده ليکن دَالله تعالى په نيز مکرم معظم هغه سړې دي چه متقی او پرهيزګار وی. دَ الله تعالى په نيز دَ لوئی وړوکی کيدو مدار په تقویٰ باندې دي ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللّٰهِ أَتْقَاكُمْ﴾ (سورة الحجرات).

[۴۹۰۲] په خپل پلار نيکه باندې دَ فخر کونکی عذاب

۴۹۰۲-(۲)[۱۰] ① وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② "«مَنْ تَعَزَّى بِعَزَاءِ الْجَاهِلِيَّةِ ③ فَأَعِضُّوهُ بِهَنِ أَبِيهِ وَلَا تُكَنُّوا»". رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: ① او حضرت أبي بن كعب وايي، ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل ② چې کوم سړی د زمانه جاهليت نسبت سره ځان منسوب کړي، ③ نو هغه ته د پلار شرمګاه ورياده کړئ يعنی بد رد ورته اووايئ، او په دي کې د اشاره کنايه نه کارمه اخلئ (شرح السنه)

حل اللغات: - ① عَزَاء: نسبت کول. منسوب کول. ② فَأَعِضُّوهُ: په غاښونو سره نيول او پرې کول. ③ هَن: شرمګاه. ④ لَا تُكَنُّوا: کنايه او اشاره پکښې مه کوئ.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الحجرات (رقم-۳۲۷۰) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الورع والتقوى (رقم-۴۲۱۹) واحمد فی المسند: ۱۰/۵

[۲] اخرجه البغوی فی شرح السنة رقم ۳۵۴۱ واحمد فی المسند: ۱۳۶/۵

تسهيلات:

قوله: مَنْ تَعَزَّى بِعَزَاءِ الْجَاهِلِيَّةِ، فَأَعِضُّوهُ بِهَنِ أَبِيهِ:

د حديث دوه مطلبونه: عزاء نسبت ته وائي ① مطلب دا چه کوم سړي دَ جاهليت دَ رسمونو عادتونو بدعتونو اوموختـه وي اوهغـه خوښـوي اوهغـه ژونـدى كولوسره چلوي نوهغه ته په صفاتوكه دَ مور پلار كنځل واوره وه چه دا طريقه دَاسلام نه ده بلكه دَجاهليت طريقه ده. او په جاهليت كښې به ستا پلار داگنده كارونه كول هغه دَ اوچتې درجې فاسق اوفاجرسړي وو دَهغه ذكر په كومه خله كوې؟ دَدې جملې ② دويم مطلب دادې چه مثلاً يو سړې دَ جاهليت دَزمانې په شان فحش خبرې اترې كوى اوخراب كنځل كوى نوته هغه ته ښه بربنډ كنځل اوكړه چه شرم اوكړه دَ جاهليت په شان كنځلي كوې ستا پلار خو فاسق فاجر بدكار اوبدكردار او زناكار سړې وو. دغه شان به هغه بدويونكې سړې تاته دكنځلونه منع شي.

قوله: فَأَعِضُّوهُ بِهَنِ أَبِيهِ: مطلب دا چه دغه سړى ته اووايه چه په غاښونو باندې دَ خپل پلار اندام مخصوصه پرې كړه.

[۴۹۰۳] دزمانه جاهليت په تعلق باندې فخر كول نه دي پكار

۴۹۰۳-(۱)[۱] ⓵ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي عُقْبَةَ، عَنْ أَبِي عُقْبَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- ⓶ وَكَانَ مَوْلًى مِنْ أَهْلِ فَارِسَ قَالَ: ⓷ «شَهِدْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- أُحُدًا، فَضَرَبْتُ رَجُلًا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، ⓸ فَقُلْتُ: خُذْهَا مِنِّي وَأَنَا الْغُلَامُ الْفَارِسِيُّ. ⓹ فَالْتَفَتَ إِلَيَّ فَقَالَ: "هَلَّا قُلْتَ: ⓺ خُذْهَا مِنِّي وَأَنَا الْغُلَامُ الْأَنْصَارِيُّ؟"». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⓵ او حضرت عبد الرحمٰن ابن ابي عقبه د حضرت عقبه ﷺ نه نقل كوي ⓶ چې د يو انصاري فارس نژاد غلام وو، هغه بيان وكى. ⓷ چې زه په جنگ احد كې درسول الله ﷺ سره شريك وم، د جنگ په دوران كې مشركينيو كې يو سړى مي (په توره يانيزه) ووهى. ⓸ او ورته مي اوويل، چې واخله يو گذار خما د طرف نه هم وخوره، زه يوفارسي غلام يم ايعني فارس نژاد يم، چې زړه ور او وژونكى دي!. ⓹ رسول الله ﷺ چې خما دا جمله واوريده، نو زما طرف ته متوجه شو، او وي فرمايل، تاداسي ولې ونه وئيل ⓺ زمانه هم يو گذار وخوره چې زه يو انصاري غلام يم. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① مَوْلًى: آزاد كړې شوې غلام. ② فَالْتَفَتَ: نو متوجه شو.

---

[۱] اخرجه ابوداؤد فى السنن كتاب الأدب/باب فى العصبية (رقم-۵۱۲۳) وابن ماجه فى كتاب الجهاد/باب النية فى القتال (رقم-۲۷۸۴)

تسهيلات:

قوله: فَقُلْتُ: خُذْهَا مِنِّي وَأَنَا الْغُلَامُ الْفَارِسِيُّ:

د فارسي په ځائې انصاري ته د نسبت کولو ترغيب: داسړې پخپله تابعي دې دَ ده پلار ابوعقبه صحابي رضي الله عنه دې. دا سړې دَ مولی الموالات ځنې وو دَمولی العتاقه ځنې نه وو. دَ يو انصاري سره ئې عقد موالات وو په دې وجه ورپورې انصاري نسب اولګيدلو ګڼلې دې دَ انصارو څخه نه وو. بهرحال دوی په ځائې دَ انصاري خپل پلار فارس طرف ته منسوب کړو چه يو دَ اور عبادت کونکې قوم وو. دا دَ هغه دَپاره مناسب نه وو بلکه دَاسلامي رواياتو مطابق دَ انصارو طرف ته نسبت ښه وو. په دې وجه نبي عليه السلام تنبيه ورکړه چه دَفارس طرف ته فارسي نسبت ختم کړه دَ انصارو طرف ته انصاري نسبت خپل کړه

[٤٩٠٣] دَ خپل قوم په ناحقه حمايت کونکي مثال

٤٩٠٣-( )[١٢] ١ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-عَنِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: "٢«مَنْ نَصَرَ قَوْمَهُ عَلَى غَيْرِ الْحَقِّ فَهُوَ كَالْبَعِيرِ الَّذِي رَدَى، ٣فَهُوَ يُنْزَعُ بِذَنَبِهِ»". رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل، ٢ کوم سړی چې د خپل قوم ناحق حمايت کوي، هغه د هغه اوښ په شان دی، چې په کوهي کې ولويږي، ٣ او بيا د هغه دلکۍ په نيولو سره هغه را خکل کيږي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① الْبَعِيرُ: اوښ، ② رَدَى: چې په کوهي کې ولويږي، ③ يُنْزَعُ: راويستلې کيږی ④ بِذَنَبِهِ: دَدې جمع أذناب ده. لکۍ ته وائی.

تسهيلات: **قوله**: مَنْ نَصَرَ قَوْمَهُ عَلَى غَيْرِ الْحَقِّ فَهُوَ كَالْبَعِيرِ الَّذِي رَدَى:

د کالبعير تشبيه وضاحت: دا يوه تشبيه ده دَدې تشبيه وضاحت داسې دې چه مثلاً يو قوم په تعصب باندې راغلو کوم چه تباه شو. اوس دَهغوی مثال دَ يو مردار اوښ په شان دې چه په يو ګنده کوهی کښې پريوتلې وی. دکوهی نه دَ هغه راويستل ډير ګران دی ليکن يو سړې هغه دَ لکئی نه نيولو سره دکوهی نه بهردَ راويستلو کوشش کوی. اوس دا يو ناممکن او لاحاصل سعی ده بلکه حماقت دې ځکه چه دَ لکئی په شان کمزورې حصه نه دومره وزن دار اوښ څنګه بهر راويستلې کيدې شی.

بالکل هم دغه شان هغه سړې دې چه دَ تعصب په بنياد باندې دَ قوم حمايت کوی اودَ هغوی هرناجائز حرکت ته جائز وائی. په دغه تعصب سره هغه دا هلاك شوې قوم نه شی بچ کولې او کوم کوشش چه کوی هغه بې فائده دې اوسعی لاحاصل ده.

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/بابٌ في العصبية (رقم-٥١١٨)

[۴۹۰۵] د عصبيت تعريف

۴۹۰۵-(۱)[۱۳] ۱ «وَعَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، مَا الْعَصَبِيَّةُ؟ ۲ قَالَ: "أَنْ تُعِينَ قَوْمَكَ عَلَى الظُّلْمِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ حضرت واثله ابن اسقع رضي الله عنه وايي، ما عرض وكړو، چې يا رسول الله عصبيت (يعني جاهليت) څه څيز دی، ۲ وي فرمايل: عصبيت دادی، چې ته په ظلم باندې د خپل قوم او جماعت حمايت وكړې. (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: أَنْ تُعِينَ قَوْمَكَ عَلَى الظُّلْمِ:

دعصبيت يو عمل: د دې حديث نه معلومه شوه چه د حق په معامله كښې د خپل جماعت او د قوم حمايت او رعايت كول دا خه خبره ده او عصبيت به هله جوړيږی چه كله د خپل قوم په ناجائزه كښې حمايت اوكړې شی او په ګناه كښې د هغوی مرسته اوكړې شی او په ګناه كښې مرسته كول حرام او جرم دې.

[۴۹۰۶] خپل قوم نه ظلم لرې كونكې غوره سړې دې

۴۹۰۶-(۲)[۱۴] ۱ وَعَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: خَطَبَنَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: ۲ "«خَيْرُكُمُ الْمُدَافِعُ عَنْ عَشِيرَتِهِ مَا لَمْ يَأْثَمْ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت سراقه ابن مالك ابن جعشم رضي الله عنه وايي (يوه ورځ) رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ په مخكې خطبه وركولو كې وفرمايل، ۲ په تاسو كې بهترين سړی هغه دی چې د خپل قوم او جماعت د خلقو ظلم زياتي دفع كړي، ترڅوپورې چې د هغه دفعيه په وجه د ظلم دګناه خپله مرتكب نشي (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① الْمُدَافِعُ: دفع كونكې. لرې كونكې. ② عَشِيرَتِهِ: خپل قوم. خپل خاندان.

تسهيلات:

قوله: خَيْرُكُمُ الْمُدَافِعُ عَنْ عَشِيرَتِهِ مَا لَمْ يَأْثَمْ:

په جائز څيزونو كښې د خپل قوم د دفاع ستائنه: دحديث مطلب دادې چه يو سړې مثلاً خپل قوم اوخپلوانو نه څه ظلم دفع كوی نو دا ډير ښه عمل دې ځكه چه په دې كښې د مظلوم نصرت هم دې او د اقارب صله پالل هم دی ليكن ددې حمايت او دفاع دپاره شرط دادې چه سړې پخپله ظالم جوړنه شی مثلاً كه په ژبه سره هغه ظلم لرې كيدې شی نو هلته

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأدب/بابٌ فی العصبية(رقم-۵۱۱۹)وابن ماجه فی كتاب الفتن/باب العصبية (رقم۳۹۴۹)

[۲] اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأدب/بابٌ فی العصبية (رقم-۵۱۲۰)

په لاس او چتول او وهل ظلم وی کومه چه گناه ده او که په وهلو تکولو سره ظلم لرې کیدې شی نو دَ مظلوم په حمایت کښې دَ ظالم قتل کول پخپله ظلم دې. خلاصه دا چه په شرعی حدودو کښې دننه ظلم دفع کړی که دَ شرعی حد نه ئې تجاوز او کړو نو پخپله به ظالم جوړیدو سره گناهگار شی.

[۴۹۰۷] دَ عصبیت ممانعت

۴۹۰۷-(۱)[۱۵] ۱ وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "۲ «لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ، ۳ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ قَاتَلَ عَصَبِيَّةً، ۴ وَلَيْسَ مِنَّا مَنْ مَاتَ عَلَى عَصَبِيَّةٍ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او د حضرت جبیر ابن مطعم رضي الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل. ۲ هغه سړی زمونږ نه، نه دی (یعني زمونږ اهل ملت یا زمونږ اهل طریقه نه نه دی) چې خلقو ته دعصبیت دعوت ورکړي، [یعنی خلق په یوناحقه معامله کې حمایت کولو باندې آماده کړي]. ۳ نه هغه سړی زمونږ نه دی چې د عصبیت په سبب جنګ وکړي. ۴ دغه شان هغه سړی هم زمونږ نه نه دی چې د عصبیت په حالت کې مړ شی. (ابو داؤد)

حل اللغات: - ① عَصَبِيَّة: په ناحقه معامله کښې د رشتې او تعلق طرفداری کول، یعنی تصعب کول.

تسهیلات: قوله: لَيْسَ مِنَّا مَنْ دَعَا إِلَى عَصَبِيَّةٍ:

د لیس منا جملې درې مطلبونه: ① دَدې جملې مطلب دادې چه په دې معامله کښې دا سړې زمونږ دَ مسلمانانو په طریقه نه دې اګرچه په باقی دین باندې دې.

② دویم مطلب دادې چه که دا حلال ګڼړی نودا سړې مسلمان نه پاتې کیږی.

③ دریم مطلب دادې چه دا اسلوب حکیم په توګه باندې دې ځکه چه مسلمان داسې وعید اوریدو سره فوری ګناه پریږدی.

④ څلورم مطلب دادې چه دا تشدیداً تغلیظاً تهدیداً او توبیخًا وئیلی شوی دی.

[۴۹۰۸] یو څیز سره محبت بنده لره روند او کونړ جوړوی

۴۹۰۸-(۲)[۱۶] ۱ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ " «حُبُّكَ الشَّيْءَ يُعْمِي وَيُصِمُّ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابودرداء رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي، چې حضور ﷺ وفرمایل، ۲ د یو شي سره محبت کول تا ړوند او کوڼ جوړ وي (ابو داؤد)

حل اللغات: - ① يُعْمِي: ړندوی، ② يُصِمُّ: کونړ کوی

(۱) أخرجه أبو داؤد فی السنن ۵/ ۳۴۳، الحدیث، رقم: (۵۱۲۱).
(۲) أخرجه أبوداؤد فی السنن ۵/ ۲۴۶، الحدیث رقم (۵۱۳۰)، وأحمد فی المسند ۵/ ۱۹۴.

تسهیلات:

قوله: حُبُّكَ الشَّيْءَ يُعْمِي وَيُصِمُّ:

د يو څيز محبت د ړوندوالي او کوڼ والي سبب: مطلب دا چه د يو څيز په محبت کښې کله سړې راګير شي نو د محبت دا جذبه سړې ړوند کړي هغه ته د خپل نصب العين د حمايت نه بغير هيڅ هم نه ښکاري هغه سره نه د حق او باطل معيار باقي پاتې کيدې شي او نه د حق ميزان باقي پاتې کيدې شي بس هغه خپل خواهش ته د رسيدو نه بغير د يو څيز د اوريدو د پاره تيار نه وي او نه د کتو د پاره تياروي شاعر ښنتيا وئيلي دي.

فعين الرضا عن كل عيب كليلة   ولكن عين السخط تبدي المساويا

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۹۰۹] عصبيت څه ته وائي؟

۴۹۰۹-() [۱۷] ① وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ كَثِيرٍ الشَّامِيِّ، مِنْ أَهْلِ فِلَسْطِينَ، ② فِي امْرَأَةٍ مِنْهُمْ يُقَالُ لَهَا فَسِيلَةُ، أَنَّهَا قَالَتْ: ③ سَمِعْتُ أَبِي يَقُولُ: «سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ③ قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ أَمِنَ الْعَصَبِيَّةِ أَنْ يُحِبَّ الرَّجُلُ قَوْمَهُ؟ ④ قَالَ: "لَا، وَلَكِنْ مِنَ الْعَصَبِيَّةِ أَنْ يَنْصُرَ الرَّجُلُ قَوْمَهُ عَلَى الظُّلْمِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت عباده ابن کثير شامي رحمه الله (چې د هغه تعلق د فلسطين سره وو) ② د خپلو خلقو کې د يوې ښځې نه (چې د هغه نوم فسيله وو) نقل کوي، هغه ښځه بيان کوي. ③ ما د خپل پلار نه واوريدل چې ما رسول الله ﷺ ته عرض وکړو ③ چې يا رسول الله: آيا عصبيت دې ته وايي چې يو سړی خپل قوم او جماعت عزيز لري ④ حضور ﷺ وفرمايل نه. بلکې عصبيت دې ته وايي، چې يو سړی د ظلم په معامله کې د خپل قوم او جماعت حمايت او مدد وکړي. (احمد، ابن ماجه)

تسهیلات:

قوله: مِنَ الْعَصَبِيَّةِ أَنْ يَنْصُرَ الرَّجُلُ قَوْمَهُ عَلَى الظُّلْمِ:

په ظلم کښې د خپل قوم مدد کول: مثلاً د خپل خاندان يو سړې په دې وجه حمايت کوي چه هغه د ده خاندان دې که هغه ظالم ولې نه وي فاسق فاجر او جابر ولې نه وي. دې سره څه کار نه لري او دې ته هم نه ګوري چه د لته حق کوم طرف ته دې او باطل کوم طرف ته دې. د هرڅه نه ځان ړوند کړي او صرف د خپل خاندان خيال ساتي دا عصبيت دې. د جاهليت خلقو به داسې وئيل "انصر أخاك ظالما أو مظلوما".

---

[۱] اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الفتن/باب العصبية (رقم-۳۹۴۹) واحمد فى المسند: ۴/۱۰۷

د اصرف تعصب دي کوم چه حرام دي دجاهلیت خلقو به دا هم وئیل "إن لم تنصر أخاك ظالماً لا تنصره مظلوماً"

[۳۹۰] په خپل حسب او نسب باندې غرور کول نه دي پکار

۴۹۰-(۱) [۱۸] ① وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "② «أَنْسَابُكُمْ هَذِهِ لَيْسَتْ بِمَسَبَّةٍ عَلَى أَحَدٍ، ③ كُلُّكُمْ بَنُو آدَمَ طَفُّ الصَّاعِ بِالصَّاعِ لَمْ تَمْلَأُوهُ، ④ لَيْسَ لِأَحَدٍ عَلَى أَحَدٍ فَضْلٌ إِلَّا بِدِينٍ وَتَقْوَى، ⑤ كَفَى بِالرَّجُلِ أَنْ يَكُونَ بَذِيًّا فَاحِشًا بَخِيلًا» ". ⑥ رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ ".

ترجمه: ① او حضرت عقبه ابن عامر رضی الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② نسب څه داسې شی نه دی چې د هغه په سبب تاسو چاته بد اووايئ، يا عار ورکړئ ③ تاسو ټول د آدم علیه السلام اولاد يي څرنګه چې يو صاع د دويم صاع برابر وي، چې تاسو ډکه کړی نه وي. ④ چاته په چا څه فضيلت او ترجيح نشته، علاوه ددين او تقوی نه ⑤ د سړي دبدۍ د پاره بس دومره کافي ده چې هغه زبان دراز، فحش ګو، فضول خبري کونکی او بخيل وي. ⑥ دا روايت احمد او بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړی دی.

حل اللغات: - ① أَنْسَابُكُمْ: د نسب جمع ده، رشته داری، ② مَسَبَّةٍ: کنځل کول. بد وئيل. ③ طَفُّ: برابر وی، ④ الصَّاعِ: يوه خاص پيمانه ده. ⑤ لَمْ تَمْلَأُوهُ: چه ډکه شوې نه وی. ⑥ بَذِيًّا: بد رد ويونکې. ⑦ فَاحِشًا: بدګويه، بدعمله، ⑧ بَخِيلًا: کنجوس.

تسهیلات:

قوله: كُلُّكُمْ بَنُو آدَمَ طَفُّ الصَّاعِ بِالصَّاعِ لَمْ تَمْلَأُوهُ:

دمذکوره حدیث مطلب: صاع پيمانه ته وائی په کوم سره چه غله پيمانه کولې شی "ب" دملابست دپاره ده د طف لفظ په لغت کښې دکمی اونقص دپاره استعماليږی هم ددې څخه تطفيف دې او هم ددې څخه ﴿وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ﴾ دې

دطف څخه مراد: دلته د طف څخه هغه پيمانه مراد ده چه ډکيدو ته نيزدې وی مګر ډکه نه شی بلکه هم ناقص پاتې شی. فخر او مباهات کښې دانسانانو موازنه کړې شوې ده او خودلې شوی دی چه ديو انسان په بل انسان باندې داسې فضيلت نشته چه د هغه پيمانه ډکه شوې وی او د بل ناقص پاتې شوې وی بلکه په نقص اونقصان کښې دواړه برابر دی نه دې پوره دې او نه هغه پوره دې. ټول د يو پلار حضرت آدم علیه السلام اولاد دې او ټول د خاورې نه پيدا دی. او تقوی پرهيزګاری او نيک عمل داسې څيز دې چه يو سړې فضيلت

[۱] اخرجه احمد فی المسند: ۱۴۵/۴، والبيهقی فی شعب الايمان رقم ۵۱۴۶

كنبې د بل سړی نه بازی اوري شی دخاوري ګوډاګې خو هم دخاورې دې [الكاشف: ۹ / ۱۷۰]

قوله: كَفَى بِالرَّجُلِ أَنْ يَكُونَ بَذِيًّا فَاحِشًا بَخِيلًا:

بد کرداره سړی بد صفتونه: اي كفى الرجل مسبة وعارا ونقصانا دا تميز محذوف دی مطلب دا شو چه د يو سړی د بدکيدو او شرم دپاره داکافی دی چه هغه بد ژبانه وی اوبې هوده، «فحش» خبرې کونکې وی يعنی فاحشا د بذی ترجمه ده د بخيل نه هغه کنجوس او د مج نه کوچ ويستونکې سړې مراد دې چه په واجبی حقوقو کښې د بخل د وجې هم کوتاهی کوی

[۱۴] بَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ

دَ نيکئی او صله رحمئ بيان

خلاصة الباب
فيه ستة وثلاثون حديثا مشتملة على أربع مسائل:
① الأمر بالبر والحث عليه والزجر بعقوق الوالدين: ۱، ۲، ۳، ۵، ۶، ۷، ۱۵، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۳، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۱، ۳۳، ۳۴، ۳۵.
② الحث على صلة الرحم والزجر للقاطع: ۴، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۲۰، ۲۱، ۲۴، ۲۵، ۲۶.
③ طريق عفو العقوق بعد موت الوالدين: ۳۲.
④ حق الأخ الكبير: ۳۶.

قوله: بَابُ الْبِرِّ وَالصِّلَةِ:

دبر تعريف: نيکئی ته او الصلة صله رحمئی ته وائی دَ لفظ بر اطلاق سره دَدې چه په عام نيکئی باندې کولې شی ليکن په حقيقت کښې دا لفظ مورپلار سره ښه سلوك. ښيګړه. نيکی. احسان او اطاعت دَپاره استعماليږی

دصلة لغوی معنی: د صله لغوی معنی ملاوول او پيوند لګول دی

او صلة اصطلاحی تعريف: دَ خپل خپلوانوسره احسان کول. هغوی سره دَ ښه سلوك معامله کول. دَهغوی دَحقوق خيال ساتل. هغوی له ورکړه کول اوهغوی سره هرقسم تعاون کول دَهغوی په تکليف باندې صبر کول اوهغوی ته هرقسم راحت اوفائده رسول صله رحمی ده. دغه شان عام مسلمانانو سره جوړ پيداکول او بائيکاټ نه کولوته هم دَ صله لفظ شامل دې

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۰۳] په اولاد باندې دَمور حقوق د پلار په نسبت زیات دی

۴۰۳-()[۱] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَحَقُّ بِحُسْنِ صَحَابَتِي؟ [۳] قَالَ: "أُمُّكَ" قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "أُمُّكَ". قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "أُمُّكَ" قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "أَبُوكَ"». [۴] وَفِي رِوَايَةٍ قَالَ: "«أُمَّكَ، ثُمَّ أُمَّكَ، ثُمَّ أُمَّكَ، [۵] ثُمَّ أَبَاكَ، ثُمَّ أَدْنَاكَ أَدْنَاكَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي، [۲] يو سړي عرض وکړو، چې يا رسول الله. ځما د ښه ملګرتيا (يعني ځما د طرف نه د حسنِ سلوك او احسان او خدمت ګذاري) د ټولو نه زيات مستحق څوك دی، [۳] حضور ﷺ ورته وفرمايل ستا مور هغه عرض وکړو. بيا څوك حضور ﷺ ورته وفرمايل، ستامور، هغه عرض وکړو بيا څوك حضور ﷺ ورته وفرمايل، ستا مور، هغه عرض وکړو، بياڅوك حضور ﷺ ورته وفرمايل ستا پلار [۴] په يو روايت کې داسې دی، چې حضور ﷺ د هغه سړي د سوال په جواب کې وفرمايل. ستا مور بيا ستا مور، بيا ستا مور، [۵] بيا ستا پلار، بيا ستا هغه عزيز چې نزدې قرابت (خپلوي) لري او بيا ترهغه وروسته چې کوم نزدې وي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- (۱) حُسْنِ صَحَابَتِي: زما دښه سلوک، زما د احسان کولو. (۲) أَدْنَاكَ: چه (په رشته کښې) تاته نزدې وی.

تسهیلات:

قوله: قَالَ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "أُمُّكَ":

د پلار په نسبت د مور د حق زيادت: دَ سائل دَ سوال مقصد دا وو چه مور پلار کښې دَ چا حق زيات دې يا په ټولو انسانانو کښې دَ ټولو نه زيات حق دَ چا دې؟ دَ سائل دَدې سوال په جواب کښې نبي عليه السلام دَ مور حق دَ ټولو نه زيات اوخودلو يا دَ دغه سړی اراده وه چه دَ پلار د حقوق تعين اوشی په دې وجه ئی بار بار سوال کړې دې نبي عليه السلام په څلورم ځل کښې دَ پلار دَحق ذکر اوکړو.

دحديث مفهوم: دحديث مطلب دادې چه دَټولو نه زيات حق دَ مور دې بيا دَ پلار دې اوبيا دَ باقی رشته دارانو درجه په درجه حق دې لکه چه دَ مور حق دَ پلار په مقابله کښې درې چنده زيات دې ځکه چه دَ بچی په پيدائش کښې اودَ هغه په پاللوکښې دَ پلار نه دَمور کردار زيات دې نهه مياشتې په خيټه کښې اوچتول او ګرځول بيا دَهغه خيرول دی دې نه پس په هغه باندې پيئی ځکول او پوره خيال ساتل دا درې لوئی مرحلې دی چه

---

[۱]) اخرجه البخاری فی صحیحه ۱۰/ ۴۰۱ الحدیث رقم: ۱۹۷۱، ومسلم فی ۴/ ۱۹۷۴، الحدیث رقم (۱- ۲۵۴۸) وابن ماجه فی السنن ۲/ ۱۲۰۷، الحدیث رقم (۳۶۵۸).

مور ئې سر تـه رسوی پـه دې وجـه دهغې حق د پـلار نـه درې چنده زيـات دې. دالله تعالی ارشاد دې ﴿وَقَضٰى رَبُّكَ اَلَّا تَعْبُدُوْۤا اِلَّاۤ اِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ اِحْسَانًا﴾ [سورة بنی اسرائيل: ٢٣]

دمورپلار په خدمت دوه دنياوي فائدې حاصليدل:

① په عمر کښې برکت راځي

② په عزت او عظمت کښې او مال کښې اضافه کيږي.

دوالدينو د اختلاف په صورت کښې د اولاد دپاره تعليم: دعلماء کرامو په دې باندې اتفاق دې چه دمور پلار حقوق اداکولو کښې که چرې د مور پلار مينځ کښې جګړه پيداشي چه پلار دخپل حقوق مطالبه کوی او وائی چه دمور حق مه اداکوه زما ادا کوه نو په اولاد باندې لازم دی چه احترام اوتعظيم کښې پلار مخکښې کړی او په خدمت او اطاعت کښې دمور حق مقدم کړی يعنی د مور حق دخدمت په حوالې سره مقدم دې او د پلار حق د ادب او احترام اوتعظيم اوتکريم په حوالې سره مقدم دې.

[٣٠٣] دموريلار خدمت نه کونکی پاره کښې د حضور ﷺ بد دعا

٣٠٣ ـ (١) [٢] ١ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ـ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "٢ «رَغِمَ أَنْفُهُ، رَغِمَ أَنْفُهُ، رَغِمَ أَنْفُهُ". ٣ قِيلَ: مَنْ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ؟ قَالَ: "مَنْ أَدْرَكَ وَالِدَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ، أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا ٤ ثُمَّ لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهريره ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ٢ د هغه سړي پوزه دې په خاوره ککړه شي، د هغه سړي پوزه دې په خاوره کې ککړه شي د هغه سړي پوزه دې په خاوره کې ککړه شي [يعنی حضور ﷺ درې ځلي دا بد دعا وفرمايله، چې هغه سړی دې ذليل او خوار شی] ٣ پوښتنه وشوه، يارسول الله، هغه سړی څوك دی. [چې د هغه په حق کې بد دعا فرمايلی شي]. حضور ﷺ وفرمايل، هغه سړی چې دخپل والدين کې يو يا دواړه د بوډا توب په حالت کې ووينې، ٤ او بيا په جنت کې داخل نه شي. [يعنی د کوم سړي مور پلار يا دواړو کې چې يو بوډاسي، او هغه سړی يې خدمت کولو سره راضي نه کړي. نو هغه انتهائي بدقسمته دی، ځکه چې خصوصيت سره د بوډا مور پلار خدمت کول د لوی اجر خبره ده. او په جنت کې د داخليدو سبب دی]. (مسلم)

حل اللغات: - ① رَغِمَ: د رغام نه دې خاورې تـه وائی يعنی پـه خـاورو دې ککړه شـی. ② الْكِبَرِ: بوډاتوب.

---

١) أخرجه مسلم فی صحيحه ٤/ ١٩٧٨، الحديث رقم (٩/ ٢٥٥١). وأبوداؤد فی السنن ٢/ ٣٠٧، الحديث رقم ١٦٦٨، والترمذی فی ٥/ ٥٥٤، الحديث رقم (٣٥٤٥). وأحمد فی المسند ٢/ ٣٤٦.

تسهيلات:

قوله: رَغِمَ أَنْفُهُ، رَغِمَ أَنْفُهُ، رَغِمَ أَنْفُهُ:

د لفظ رغم تحقيق: په راء باندې فتحه او غين باندې كسره ده. مطلب دا چه دَ داسې سړى پوزه دې په خاورو باندې ككړه شى يعنې دې دې خوار او ذليل شى يا دا جمله اخباريه ده يعنى داسې سړې ذليل او خوار شو

قوله: ثُمَّ لَمْ يَدْخُلِ الْجَنَّةَ:

يعنى دَ مور پلار خدمت كولو سره دَهغوى په دعاګانو سره دا سړې په جنت كښې داخل نه شو نو دا سړې دې خوار او ذليل شى

[٤٣] مشرك مور پلار سره هم د ښه سلوك كولو هدايت

٤٣-()[٣] [١] «وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَتْ: [٢] قَدِمَتْ عَلَيَّ أُمِّي وَهِيَ مُشْرِكَةٌ فِي عَهْدِ قُرَيْشٍ، [٣] فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ أُمِّي قَدِمَتْ عَلَيَّ وَهِيَ رَاغِبَةٌ أَفَأَصِلُهَا؟ [٤] قَالَ: "نَعَمْ صِلِيهَا"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او بي بي اسماء بنت ابي بكر ﷺ وايي، [٢] چې څما مور د شرك په حالت كې (مكې نه مدينې ته) راغله څه وخت چې د قريشو سره د صلح زمانه وه، (يعني مدينې ته څما د مور د راتلو واقعه د هغه زماني ده، چې د صلح حديبيه په صورت كې: حضور ﷺ او قريش مكه په منځ كې د جنګ نه كولو معاهده شوي وه. او څما والده هغه وخته پورې په اسلام نه وه مشرفه شوي) [٣] نو ما عرض وكړو، يارسول الله! څما مور ما ته راغلي ده. او هغه د اسلام نه بيزاره ده، آيا زه د هغې سره نيك سلوك وكړم. [٤] حضور ﷺ وفرمايل هو د هغې سره نيك سلوك وكړه. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① رَاغِبَةٌ: رغبت لرى، شوق لرى، ② أَفَأَصِلُهَا؟: آيا زه دهغې سره سلوك اوكړم؟

تسهيلات:

قوله: إِنَّ أُمِّي قَدِمَتْ عَلَيَّ وَهِيَ رَاغِبَةٌ أَفَأَصِلُهَا؟:

وهى راغبة د جملې په مطلب كښې اقوال: دَدې جملې مطلب بيانولو كښې دَعلماؤ مختلف اقوال دى ① بعضې وئيلى دى چه مطلب دادې چه هغه اسلام قبلول كښې رغبت لرى او دَمكې نه ماله مدينې ته راغلې ده تر او سه پورې مشركه ده زه دَهغې خدمت كولې شم او دَ هغې حقوق په ځائى راوړلې شم؟

② دَدې قول په مقابله كښې تفصيلى روايت كښې دويم قول دادې چه "راغبة عن الإسلام" يعنى دَ اسلام نوم اوريدل نه غواړى دَدې په قبلولو كښې دلچسپى نه اخلى په

---

[١] اخرجه البخاري في كتاب الجزية/باب(رقم-٣١٨٣) ومسلم في كتاب الزكاة/باب فضل النفقة والصدقة على الأقربين والزوج والأولاد. والوالدين ولو كانوا مشركين (رقم-٤٩ - (١٠٠٣) واحمد في المسند:٦/٣٤٤

خپل کفرباندي قائمه ده آیا زه د داسي کافرې ښځي خدمت کولي شم؟ نبي علیه السلام د خدمت اجازت ورکړو ځکه چه د دي تعلق انسانیت سره دي د ایمان او کفر سره نه دي د تفصیلي روایاتو نه معلومیږی چه د حضرت اسماء رضي الله عنها مورد اسلام نه کرکه کوله دلچسپي ئی نه لرله دا قول راجح دي ځکه چه د خدمت د اجازت سوال کول د دي خبري دلیل دي چه هغې د اسلام نه نفرت کولو. د حضرت اسماء رضي الله عنها مور جدا ده او د حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها مور جدا ده. د حضرت عائشه رضي الله عنها مور ام رومان رضي الله عنها مسلمانه وه

[۲۴۳] د صله رحمي برقرار ساتلو اهمیت

۲۴۳-(۱)[۳] ① وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② " «إِنَّ آلَ أَبِي فُلَانٍ لَيْسُوا لِي بِأَوْلِيَاءَ، ③ إِنَّمَا وَلِيِّيَ اللّٰهُ وَصَالِحُ الْمُؤْمِنِينَ، ④ وَلَكِنْ لَهُمْ رَحِمٌ أَبُلُّهَا بِبَلَالِهَا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت عمرو ابن العاص رضي الله عنه وایي، چې ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل. ② د ابو فلان اولاد خما دوست نه دی ③ زما دوست یا خو الله دی یا نیک بخت مؤمنین ④ البته د خلقو سره خما قرابت داري ده، چې زه یي لوندو خیزونو سره لوندول غواړم یعنی صلهٔ رحمي برقراره ساتم. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① وَلِيِّيَ: ولیان زما، دوستان زما، ② رَحِمٌ: قرابت، رشته داری، ③ أَبُلُّهَا: لمدوم ئې. یعنی رشته پالل ④ بِبَلَالِهَا: په لوندو خیزونو دهغې سره.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ آلَ أَبِي فُلَانٍ:

دال ابی فلان نوم نه اخستلو کښې دوه اقوال: ① په دې کنیت کښې تصریح چه دا سړې څوك وو لکه چه په کنیت کښې کنایه ده د دې باره کښې علماؤ لیکلی دی چه نبی کریم ﷺ د دغه نوم تصریح اونه کړه ځکه چه د نوم تصریح کولو کښې د فتنې او چتیدو خطره وه ② بعضې علماؤ لیکلی دی نبي علیه السلام نوم اخستې وو لیکن د راوی نه نوم هیرشوې

د آل ابی فلان په مصداق کښې درې اقوال: بیا علماؤ د دې د تعین باره کښې لیکلی دی ① کیدې شی د ابولهب اولاد مراد وی

[۱] اخرجه البخاري فى كتاب الأدب/باب تبل الرحم ببلالها (رقم-۵۹۹۰) ومسلم فى كتاب الإيمان/باب موالاة المؤمنين ومقاطعة غيرهم والبراءة منهم (رقم-۳۶۶ - (۲۱۵) والترمذى فى كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/ومن سورة الشعراء (رقم-۳۱۸۵) والنسائى فى كتاب الوصايا/باب باب: إذا أوصى لعشيرته الأقربين (رقم-۳۶۴۴) واحمد فى المسند: ۵۱۹/۲

۲ کيدې شی دَ ابوسفيان اولاد مراد وی
۳ کيدې شی دَ حکم بن العاص اولاد مراد وی.

قوله: لَيْسُوا لِي بِأَوْلِيَاءَ:

يعنی زما دوستان نه دي ماته دَنورو نه زيات محبوب نه دي زما بالکل خوښ نه دي هغه سره مالی تعاون کول دَ څه دينی او روحانی تعلق په بنياد باندې نه دې نشته دي بلکه

قوله: وَلَكِنْ لَهُمْ رَحِمٌ أَبُلُّهَا بِبَلَالِهَا:

دمذکوره جملې مطلب: بلل د لوند او تر کولو په معنی کښې دې يعنی زه دا خپلولی لمدوخيزونو سره لمدووم.دَ حديث مطلب دادې چه زه دغه خلقوسره کوم مالی تعاون کوم نو دا دَهغوی دَ محبوب کيدو په بنيادباندې نه دې بلکه هغوی سره دَخپلولئی او رشتې په بنياد تعاون کوم ګنی زما دوستان خو صالح مؤمنان مثلاً ابوبکر عمر عثمان اوعلی ﷺ اودَدوی په شان خلق دی.

[۴۹۱۵] شپږ لوئې ګناهونه

۴۹۱۵-()[۵] ١ وَعَنِ الْمُغِيرَةِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«إِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ عُقُوقَ الْأُمَّهَاتِ، ٣ وَوَأْدَ الْبَنَاتِ، ٤ وَمَنَعَ وَهَاتِ. ٥ وَكَرِهَ لَكُمْ قِيلَ وَقَالَ، ٦ وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةَ الْمَالِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ او حضرت مغيره ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ٢ الله ﷻ په تاسو دا امر حرام ګرځولی دی چې د مور نافرماني کولو سره د هغه زړه دي خفه شي، ٣ جنۍ دي ژوندی ښخه کړل شي، (څرنګه چې په زمانه جاهليت کې به خلقو د فقرو فاقي، محتاجي، او عار وخوف نه جنۍ ژوندي دفن کولي) ٤ او بخيلي او ګدائي اختيار شي، ٥ او مکروه يې ګرځولی دی ستاسو دپاره قيل وقال، ٦ د سوال زياتي او مال ضائع کول يې (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ١ عُقُوقَ: نافرمانی، ٢ وَأْدَ الْبَنَاتِ: جينکئ (لونړه) جوندئ ښخول. ٣ مَنَعَ: دې نه مراد بخل اوکنجوسی ده.يعنی منع کول د جائز حق. ٤ وَهَاتِ: هات اسم فعل دې په معنی د راکړه. يعنی دخلقو نه غوښتل او مطالبه کول. ٥ إِضَاعَةَ الْمَالِ: اضاعة مصدر دې د باب افعال نه. يعنی ضائع کول د مال،

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب: عقوق الوالدين من الکبائر (رقم-۵۹۷۵) ومسلم فی کتاب الأقضية/باب النهی عن کثرة المسائل من غير حاجة. والنهی عن منع وهاتٍ. وهو الامتناع من أداء حق لزمه. أو طلب ما لا يستحقه (رقم-۱۲-۵۹۳)واحمد فی المسند: ۴/۲۶۴

تسهيلات:

قوله عُقُوقَ الْأُمَّهَاتِ:

د مور و پلار ځخه په امهات تعبير کولو کښې نکته: عقوق نافرماني ته وائي اود امهات نه مراد مور پلار دی ليکن د امهات ذکر ځکه اوکړې شو چه ددوی حقوق زيات دی د حقوق د زياتوالي طرف ته اشاره مقصود ده

قوله وَمَنْعًا وَهَاتِ:

د مذکور کلماتو مفهوم: مطلب دا چه د نورو د حقوق خو بالکل انکار اوکړی اود نورو نه د داسې حقوق مطالبه کوی دکوم ادا کول چه په هغوی باندې واجب نه وی خلاصه دا چه جائز حق نه ورکوی او ناجائز حق غواړی ګرځی

قوله وَكَرِهَ لَكُمْ قِيلَ وَقَالَ،

دقيل اوقال ځخه مراد: وقيل وقال "يعنی داسې بحث مباحثه اوداسې په خبرو اترو کښې ليګياوی په کوم کښې چه نه ددين فائده وی اونه د دنيا څه فائده وی لايعنی او فضول خبرې کوی بې فائدې سوالات او جوابات کوی بغير د څه فائدې حجت او تکرار کښې خيل قيمتی وخت ضائع کوی

ولم نستفد من بحثنا طول عمرنا سوا أن جمعنا قيل وقالوا

يعنی ټول عمر مونږ خپل ژوند په دې اوږدو بحثونو کښې د قيل او قال نه سوا هيڅ هم حاصل نه کړل

قوله وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ:

د کثرت سوال په مفهوم کښې درې اقوال:

① دخپل علم او کمال اوچتوالي ثابتولو دپاره په نورو باندې سخت او درانه اشکالات کوی اود امتحان په توګه دهغوی نه سخت امتحانی سوالات کوی اوبې فائدې مباحثه مناظره او علمی سوالات کولو سره خپل علم په خلقو باندې خرڅوی

② دې ځخه د صحابه کرامو جماعت مراد دې ځوک چه دنبي عليه السلام نه د زياتو سوالونو کولو نه منع کړې شوې وو

③ دخلقو په احوال کښې دهغوی په اموال او معاملات کښې بې ځايه مداخلت کوی اوپه هغې کښې تجسس او کوشش کوی اوډيرزيات تپوس پوښتنه کوی دا منع دی په کوم سره چه دنفرت عداوت او غيبت دروازه کولاويږی

قوله وَإِضَاعَةَ الْمَالِ:

د مال ضائع کولو مفهوم: يعنی چه په مال کښې فضول خرچی اوکړی يا بدانتظامی

او کړي کوم ځائې چه شريعت حکم ورکړې دې هلته خرڅ نه کوي او چرته چه ئې منع کړې وي هلته خرچه کوي

[۳۹۲] خپلو والدينو ته کنځل کول

۳۹۲-()[۲] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "۲ «مِنَ الْكَبَائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ وَالِدَيْهِ". ۳ قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ، وَهَلْ يَشْتُمُ الرَّجُلُ وَالِدَيْهِ؟ ۴ قَالَ: "نَعَمْ، يَسُبُّ أَبَا الرَّجُلِ، فَيَسُبُّ أَبَاهُ، ۵ وَيَسُبُّ أُمَّهُ، فَيَسُبُّ أُمَّهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت عبد الله ابن عمر ﷠ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ خپل مور پلار ته کنځل کول د کبيره ګناهونو نه دي. ۳ صحابه وو (په دي اوريدو سره) عرض وکړو، يارسول الله، آيا داسې سړی هم شته چې خپل مور پلار ته کنځل کوي. ۴ حضور ﷺ وفرمايل، هو (ولي نه کله کله خو په حقيقت کي هم يو يا بل سړی خپل مور پلار ته کنځل کوي، او دا خو اکثره کيږي، چې خلق خپل مور پلار ته اګر که حقيقتًا خپله کنځل نه کوي، خو هغوئ ته د کنځلو کولو سبب ضرور جوړيږي. او هغه داسې چې يو سړی د چا پلار ته کنځل کوي، نو هغه د هغه پلار ته کنځل کوي، او که يو سړی د چا مورته کنځل کوي، نو هغه د هغه مورته کنځل کوي. (بخاري)

حل اللغات: - ۱ شَتْمُ: کنځل، ۲ يَسُبُّ: کنځل کوی.

تسهيلات:

قوله: مِنَ الْكَبَائِرِ شَتْمُ الرَّجُلِ وَالِدَيْهِ:

خپل مور پلار ته د کنځلو کولو صورت: د حديث الباب حاصل دا دي چه خپلو والدينو ته کنځل کول ګناه کبيره ده هم دغه شان چه يو کس خپل والدينو ته د کنځلو کولو سبب جوړ شی نو دا هم ګناه کبيره ده مثلا يو کس د بل چا والدينو ته ردي بدي اووائي نو هغه کس د دي په جواب کښې د ده والدينو ته ردي بدي اووائي د دې وجه نه ابتداء کونکې د خپلو والدينو ته د کنځلو کولو سبب جوړ شو نو ګويا چه هغه پخپله هغوی ته کنځل اوکړه او والدينو ته کنځل کول به د عقوق الوالدين (نافرماني) په شان شی بعضي حضراتو وئيلی دی چه دا په کبائرو کښې هله شمارلي کيږی چه کله څوک داسې کنځل اوکړی چه په هغې سره حد واجبيږی مثلاً زاني يا کافر وئيل شو ملا علي قاري فرمائي چه بعض صورتونه ګناه کبيره دی لهذا په کبائرو کښې شمارل درست دی

۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/ ۴۰۳، الحديث رقم (۵۹۷۳، ومسلم في ۱/ ۹۲، الحديث رقم (۱۴۶- ۹۰). وأبو داؤد في السنن ۵/ ۳۵۲، الحديث رقم ۵۱۴۱ والترمذي في السنن ۴/ ۲۷۶، الحديث رقم ۱۹۰۲، وأحمد في المسند ۲/ ۱۶۴.

[۴۹۷] دَپلار دوستانو سره دَ حُسن سلوک او نیکئ کولو اهمیت

۴۹۷-( )[۷] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ- رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِنَّ مِنْ أَبَرِّ الْبِرِّ ③ صِلَةَ الرَّجُلِ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ بَعْدَ أَنْ يُوَلِّيَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ② د تولو نه په اعلی نيکيو کې يوه اعلی نيکي داده ③ چې يو سړی د خپل پلار د مرګ نه پس يا د هغه غير موجودګی کې د هغه د دوستانو سره احسان او نيک سلوک وکړی. (مسلم)

حل اللغات: - ① أَبَرّ الْبِرّ: د ټولو نه اعلی نيکی، ② صِلَةَ: حسن سلوک، احسان کول. ③ أَهْلَ وُدِّ: دوستان. ④ يُوَلِّيَ: غائب شو، انتقال ئې اوشو.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ مِنْ أَبَرِّ الْبِرِّ صِلَةَ الرَّجُلِ أَهْلَ وُدِّ أَبِيهِ بَعْدَ أَنْ يُوَلِّيَ:

دپلار د وفات څخه روسته دهغه د دوستانو سره تعلق ساتل: يعنی دَ پلار انتقال ئې اوشو يا ذکورنه غائب شو. په دې صورت کښې دَ پلار دوستانو سره احسان اومروت کول دَ پلار د صله حق دې اودَهغې تقاضا ده. په حديث کښې دَ پلار ذکر دې علماؤ ليکلی دی چه مور دَ ملګرو سره حسن سلوک او احسان کول هم دغه حکم لری اودَ مور دَ صله هم دغه تقاضا ده چه دَهغې دَ مرګ نه پس دَ هغې دَ ملګرو خيال اوساتلې شي.

[۴۹۸] صله رحمی پاللو سره رزق او عمر زياتيږی

۴۹۸-( )[۱] ① وَعَنْ أَنَسٍ- رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ ③ وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ؟ ④ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ② کوم سړی چې غواړي چې د هغه په رزق کې دي وسعت او فراخي وی ③ او د هغه په مرګ کې دي تاخير وشي. [يعنی د هغه عمر دي دراز اوږد شي]. ④ نو هغه ته پکار دی چې هغه د خپلو رشته دارانو سره حسن سلوک او احسان وکړي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① يُبْسَطَ: فراخي اوشي. ② يُنْسَأَ: تاخير اوکړې شي. ③ أَثَرِهِ: دَهغه په مرګ کښې. اثر دَقدمونونشاناتوته وائی ④ فَلْيَصِلْ: صله رحمی دې کوی. تعلق دې ورسره جوړ ساتی.

---

[۱] اخرجه مسلم فی كتاب البر والصلة والآداب/باب صلة أصدقاء الأب والأم، ونحوهما (رقم-۱۳ - (۲۵۵۲) وابوداود فیکتاب الأدب/باب فی بر الوالدين (رقم-۵۱۴۳) والترمذی فی كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی إكرام صديق الوالد (رقم-۱۹۰۳) واحمد فی المسند: ۸۸/۲

[۲] اخرجه البخاری فی كتاب الأدب/باب: عقوق الوالدين من الكبائر (رقم-۵۹۷۶) ومسلم فی كتاب البر والصلة والآداب/باب صلة الرحم وتحريم قطيعتها (رقم-۲۱ - (۲۵۵۷) وابوداود فی كتاب الزكاة/باب فی صلة الرحم (رقم-۱۶۹۳)

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ؟:

اشكال: دَ رزق اودغه شان دَانسان دَعمر تعلق تقدير الهي سره دې نوصله رحمی تقدير ځنګه بدلولې شی؟

داشكال جواب: يو تقدير مبرم دې دويم تقدير معلق دې پـه دې دويم قسم كښې چونكه تعليق كيږی چه مثلاً دغه سړی كه چرته صله رحمی قائم كړه اودائی بوخائی كړه نودَ هغه عمر به ۹۰كاله وی ګنی ۷۰كاله دې دغه شان صله رحمی پاللوسره الله تعالی دَ انسان په مال كښې اضافه كوی مثلاً زړه ئی نه غواړی مګر صله رحمئی او خپلولئی دَ وجې نه رونړو ترونو اودَ تره ځامنو سره احسان كوی هم ددې پـه وجـه دَ دغـه سړی مال زياتيږی تجربه ګواه ده چه داسې كيږی څوك دې ازميښت اوكړی اودې ګوری ډيرځل ازميښت كړې دې اوهم دغه شان مو ليدلې

[۲۹۰۹] د خپلولی ساتلو مقام او عظمت

۲۹۰۹ - (۱)[۱] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "②«خَلَقَ اللّٰهُ الْخَلْقَ، ③فَلَمَّا فَرَغَ مِنْهُ قَامَتِ الرَّحِمُ ④فَأَخَذَتْ بِحَقْوَيِ الرَّحْمٰنِ فَقَالَ: مَهْ، ⑤قَالَتْ: هٰذَا مَقَامُ الْعَائِذِ بِكَ مِنَ الْقَطِيعَةِ. ⑥قَالَ: "أَلَا تَرْضَيْنَ أَنْ أَصِلَ مَنْ وَصَلَكِ، ⑦وَأَقْطَعَ مَنْ قَطَعَكِ؟ ⑧قَالَتْ: بَلَى يَا رَبِّ! قَالَ: فَذَاكِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ② الله ﷻ مخلوقات پيدا كړل، [يعنی الله ﷻ ټول مخلوقات د هغوئ د پيدائش نه مخكې په هغه صورتونو سره خپل علم ازلي كې مقرر كړه، چې په هغه به هغه پيدا كېږيا]. ③ هركله چې د هغه نه فارغه شو، نو رحم يعنی صلهٔ رحمي ودريده، ④ او د پروردګار ملا (شا) يي ونيوله. پروردګار ورته وفرمايل، مه، وايه څه غواړي، ⑤ رحم عرض وكړو. د دې پريكيدلو د خوف نه ستا د پناه د طلبګار د ودريدو ځای دی [يعنی زه ستا مخامخ ولاړه يم. او ستا د عزت او عظمت طرف ته د سوال لاس مي اوږد كړی دی]، ستا نه د دې امر پناه غواړم، كه يوسړی ماكټ كړي، [او څما د لمن پيوسته كولو په ځای هغه تار تاركړي] ⑥ پروردګار ورته وفرمايل، آيا ته په دې راضي نه يې، چې كوم سړی [ارشته دارو او عزيزانو سره د حسن سلوك په ذريعه] تاقايم او برقرار وساتي نو هغه زه هم [دخپل احسان او انعام او د اجر او بخشش په ذريعه] قائم او برقرار وساتم، ⑦ او كوم

[۱]) اخرجه البخاری فی صحيحه ۱۰/ ۴۱۷، الحديث رقم (۵۹۸۷)، ومسلم فی ۴/ ۱۹۸۰، الحديث رقم (۱۶- ۲۵۵۴)، واأحمد فی المسند ۱/ ۱۹۱.

سرى چې ادرشته داري او تعلق حقوق پائمال کولو په ذريعه) تا منقطع کړی کټ کړي زه هم اد خپل احسان او انعام) تعلق د هغه نه منقطع کړم.[۸] رحم عرض وکړي پروردگاره، بيشکه زه په دي راضي يم، پروردگار وفرمايل. بنه دی دا وعده ستا د پاره ثابت او برقرار ده (بخاري. مسلم)

حل اللغات:- ① الرَّحِمُ: صله رحمی. ② بِحَقْوَيْ: حَقْوَ ملا ته وائی خاص کر د نرئ ملا د پاره ونيلی شی ③ مَهْ: مه کوه. ④ الْعَائِذِ: پناه غوښتونکي. ⑤ الْقَطِيعَةِ: رشته او تعلق پريکول

تسهيلات:

قوله: فَلَمَّا فَرَغَ مِنْهُ قَامَتِ الرَّحِمُ فَأَخَذَتْ بِحَقْوَيِ الرَّحْمٰنِ:

د حقوى معنى او مراد: دَ انسانانو دَ پوهه کولو د پاره دا لفظ ونيلي شوي دي گنی الله تعالى خود جسم اوتجسم نه مبرا او منزه دې اود انسانی تصور نه وراء الوراء دي.

اے برتر از قیاس و گمان و وہم ز ہر چہ گفتہ اند و شنیدم و خواندیم
دفتر تمام گشت و بپایان رسید عمر ما ہم چنیں در اول وصف تو ماندیم

دا کلام دَ متشابهات نه دي. سلف صالحين دَ دي ترجمه "مايليق بشانه" سره کوی او هم دغه راجع دی دَ هيڅ تاويل ضرورت نشته دي. دَ حديث مطلب دا دي چه رشته اوخپلولی کله الله تعالى خوښه کړه نودا اودريده او الله تعالى ئی دَ شانه اونيولو

قوله: هٰذَا مَقَامُ الْعَائِذِ بِكَ مِنَ الْقَطِيعَةِ:

يعنی دَ صله دَ ماتولونه دَ بچاؤ دَ پاره دا مقام په توګه دَ پناه دَ خائی دي دَ دي دَ ويرې نه چه کوم سرې هم پناه غواړی نو په دې مقام باندې راتلو سره به پناه حاصلوی

[۴۳۰] رشته ماتونکی د الله تعالى د رحمت مستحق نه دي

۴۳۰-(۱)[۱۰] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲]«الرَّحِمُ شِجْنَةٌ مِنَ الرَّحْمٰنِ. [۳] فَقَالَ اللّٰهُ مَنْ وَصَلَكِ وَصَلْتُهُ، [۴] وَمَنْ قَطَعَكِ قَطَعْتُهُ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي. چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل. [۲] د رحم لفظ، د رحمٰن د لفظ نه وتلی دی. [۳] الله جل جلاله رحم (يعني صلۀ رحمي) ته وفرمايل کوم سري چی ناجوړ (پيوست) کړي (يعنی ستا د حق لحاظ وساتي). زه به هم هغه خپل رحمت سره جوړ (پيوست) کړم [۴] او کوم سرى چې تامات کړي. زه به هم هغه مات کړم. يعنی د خپل رحمت نه به يي محروم کړم (بخاري)

حل اللغات:- ① شِجْنَةٌ: دَ ښاخ او ريشه په معنی کښې راځی

(۱) أخرجه البخاري في صحيحه ۱۰/ ۴۱۷، الحديث رقم ۵۹۸۸ والترمذي في ۴/ ۲۸۵، الحديث رقم ۱۹۲۴، و احمد في المسند ۲/ ۱۶۰.

تسهيلات:

قوله: الرَّحِمُ شِجْنَةٌ مِنَ الرَّحْمٰنِ:

په نوم كښې د اشتراك اثر هم وى: دَ غرفة په شان دَ فاء په كلمه باندې دريواړه حركات جائز دى. جيم ساكن دې په نون فتحه ده. شجنة" مطلب دا چه رحم دَ رحمان نباخ دې هم دَدې نه مشتق هم دې اوهم دَدې ريشه هم ده. دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَنوم دَاشتراك هم اثر وى اودَدې اعتبار هم دې. دلته دَ رحمان او رحم ماده مشترك ده

[۴۹۲۱] صله رحمى كونكى ته دعا اونه كونكى ته خيرې

> ۴۹۲۱-()[۱۱] ⓵ وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⓶ " «الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَقُولُ: ⓷ مَنْ وَصَلَنِي وَصَلَهُ اللّٰهُ ⓸ وَمَنْ قَطَعَنِي قَطَعَهُ اللّٰهُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵ او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ⓶ صلهٔ رحمي. د عرش سره زوړند ده، او بطريق دعا يا د خبر وركولو په طور وايي، ⓷ كوم سړى چې ماجوړ وي هغه به الله جل جلاله د خپل رحمت سره يوځاى كړي، ⓸ او كوم سړى چې ما ماتوي هغه به الله جل جلاله خپل رحمت نه لري كړي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① الرَّحِمُ: صله رحمى، رشته او تعلق، ② مُعَلَّقَةٌ: رازوړند وى.

تسهيلات: قوله: الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ:

د الله تعالى په دربار كښې د صله رحمى عاجزى: يعنى دَ عرش خپې سره رشته اوخپلولى زوړنده شوې دى. دې رشته او خپلولئ دَ عرش خپه نيولې ده اودا اعلان كوى چاچه زه يوځائى كړم رحمان به هغه يوځائى كړى اوچاچه زه پرې كړم رحمان به هغه پرې كړى.

[۴۹۲۲] رشته پريكونكى به جنت ته نه ځى

> ۴۹۲۲-()[۱۲] ⓵ وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ⓶ " «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵ او حضرت جبير ابن مطعم رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ⓶ رحم قطع كونكى به په جنت كې نه داخليږي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① قَاطِعٌ: صله رحمى ماتونكې. رشته اوتعلق پريښودونكې

---

[1] اخرجه البخاري في صحيحه ١٠/ ٤١٧، الحديث رقم ٥٩٨٩، ومسلم في ٤/ ١٩٨١، الحديث رقم (١٧- ٢٥٥٥) وأحمد في المسند ٦/ ١٦٠.

[2] اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب إثم القاطع (رقم-٥٩٨٤) ومسلم في كتاب البر والصلة والآداب/باب صلة الرحم وتحريم قطيعتها (رقم-١٨ - (٢٥٥٦) وابوداود في كتاب الزكاة/باب في صلة الرحم (رقم-١٦٩٦) والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صلة الرحم (رقم-١٩٠٩) واحمد في المسند: ٤/ ٨٠

تسهيلات:

قوله: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ:

د لا يدخل الجنة دوه مطلبونه: ① كوم سړي چه صله رحمي مانول جائز ګڼرى هغه سړى حرام ته حلال اووئيل په دې وجه كافر شو لهذا جنت ته به نه ځى بلكه هميشه به په دوزخ كښې وى ② يا د دخول نه مراد دخول اول دې چه په شروع كښې به جنت ته نه ځى د سزا خوړلونه پس به ځى

[۴۳۳] كامل صله رحمي كونكې څوك دې؟

۴۹۳۳-( )[۳] ① وَعَنِ ابْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ، ③ وَلٰكِنَّ الْوَاصِلَ الَّذِي إِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.[1]

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② كامل صله رحمي كونكى هغه سړى نه دى، چې بدله پوره كړي، ③ بلكې كامل صله رحمي كونكى هغه دى، چې د هغه قرابت قطع شي نو هغه يې قائم وساتي (بخاري)

حل اللغات:- ① اَلْوَاصِلُ: صله رحمي كونكې، ② اَلْمُكَافِئُ: بدله پوره كونكې

تسهيلات:

قوله لَيْسَ الْوَاصِلُ بِالْمُكَافِئِ، وَلٰكِنَّ الْوَاصِلَ الَّذِي إِذَا قُطِعَتْ رَحِمُهُ وَصَلَهَا:

دصله رحمي ساتلو تعريف: صله رحمي دې ته نه وائي چه ښه سلوك كونكي سره ښه سلوك اوكړي شي دا خو ادله بدله او احسان ختمول دى البته كه ده يو داسي كس سره صله رحمي اوكړه چه هغه ده سره د احسان معامله نه وى كړي نو بيا دا صله رحمي ده ځكه چه په دې صورت كښې د ادل بدل څه شبه موجود نه ده نبي عليه السلام په خپل عمل سره هم صله رحمي ثابته كړي ده او خپل قول سره هم أحسن إلى من أساءك د دې نه معلومه شوه چه د صله رحمي كامل ترين درجه دا ده چه د هغې بنياد په بدله خلاصولو نه وى بلكه د زياتي نه پس ئې معاف هم كړي او په ظالم باندې څه احسان هم اوكړي د دې وجه نه علماؤ ليكلي دى چه بهادر سړي هغه دې چه هغه خپل حق د چا نه نه طلب كوى او پخپله د بل حق ادا كوى دا د كمالِ اخلاق او د عمده صفاتو دليل دې

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب: ليس الواصل بالمكافئ (رقم-۵۹۹۱) وابوداود في كتاب الزكاة/باب في صلة الرحم (رقم-۱۶۹۱) والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في صلة الرحم (رقم-۱۹۰۸) واحمد في المسند: ۲/۱۶۰

[۴۹۲۴] صله رحمي کونکي سره د الله مدد او نصرت وي

۴۹۲۴-() [۳] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ،[۲] إِنَّ لِي قَرَابَةً أَصِلُهُمْ وَيَقْطَعُونِي،[۳] وَأُحْسِنُ إِلَيْهِمْ وَيُسِيئُونَ إِلَيَّ،[۴] وَأَحْلُمُ عَنْهُمْ وَيَجْهَلُونَ عَلَيَّ.[۵] فَقَالَ: "لَئِنْ كُنْتَ كَمَا قُلْتَ فَكَأَنَّمَا تُسِفُّهُمُ الْمَلَّ،[۶] وَلَا يَزَالُ مَعَكَ مِنَ اللَّهِ ظَهِيرٌ عَلَيْهِمْ مَا دُمْتَ عَلَى ذَلِكَ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه:[۱] او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی، چې یو سړي عرض وکړو. یارسول الله.[۲] زما څه خپلوان داسې دي چې زه خو هغوئ سره نیك سلوك کوم، لیکن هغوئ زما سره نیك سلوك نه کوي،[۳] زه د هغوئ سره احسان کوم، او هغوئ زما سره بدي کوي.[۴] زه د هغوئ سره د حلم اوبردباري او درګزرویه اختیاروم، او هغوئ زما سره دجهالت نه کاراخلي، [یعنی ماته بدرد وايي، او په ما د غیظ وغضب اظهار کوي][۵] (د هغه په دي خبري اوریدو سره) حضور ﷺ وفرمایل، که ته داسې يې، څرنګه چې تابیان وکی، نو ګویا ته په هغوئ ګرمي ایري اچوي[۶] او ستا سره د الله د طرف نه همیشه مدد او نصرت دی، چې د هغوئ د ایذاء او شر نه ستا محافظ دی، ترڅوپوري چې ته په دي صفت قائم يې (مسلم)

حل اللغات: - ① يُسِيئُونَ: هغوی بد کوی، ② أَحْلُمُ: زه حلم او بردباری کوم، برداشت کوم. ③ تُسِفُّهُمْ: وراچوې، ورشیندې په هغوی باندې، ④ الْمَلَّ: ګرمې ایرې، ⑤ ظَهِيرٌ: مدد او نصرت.

تسهیلات:

قوله: لَئِنْ كُنْتَ كَمَا قُلْتَ فَكَأَنَّمَا تُسِفُّهُمُ الْمَلَّ:

د لفظ الملّ معنی او د حدیث مطلب: الملّ ګرمې ایرې ته وائی اوتسف دَ باب إفعال نه دې په خله کښې ایره پوکل او اچول مرا دی یعنی که چرې واقعه هم داسې دې نوبیا خوستادا احسان لکه چه دَهغه په خله کښې ګرمه ګرمه ایره ده کومه چه ته وراچوې څکه چه نه هغه خلق ستا دَاحسان بدلـه درکـوی نـه تـذکره کـوی اونـه شـکریه اداکـوی بلکـه التـه دې تنګوی. لکه چه تا دغه خلق داسې ذلیل کړل چه دَ هغوی په خلو کښې دې ایره ورپوکوهله.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۹۲۵] صله رحمي کولو سره عمر زیاتیږي

۴۹۲۵-()[۱۵] [۱] عَنْ ثَوْبَانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «لَا يَرُدُّ الْقَدَرَ إِلَّا الدُّعَاءُ،[۳] وَلَا يَزِيدُ فِي الْعُمْرِ إِلَّا الْبِرُّ،[۴] وَإِنَّ الرَّجُلَ لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب صلة الرحم وتحريم قطيعتها (رقم-۲۲ - (۲۵۵۸) واحمد فی المسند: ۲/ ۳۰۰

[۲]) اخرجه ابن ماجه فی السنن ۳/ ۱۳۳۴، الحديث رقم ۴۰۲۲، وأحمد فی المسند ۵/ ۲۷۷.

ترجمه: [۱] حضرت ثوبان رضی الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] تقدير الهي لره د دعا نه بغير بل شى نه شي بدلولي، [۳] او عمر د راز كونكى هيڅ شى نشته، علاوه د والدينو او قرابتدارو سره د حسن سلوك نه، [۴] او (ياد ساته) انسان چې په كوم سبب د روزي نه محروم كېږي، هغه صرف ګناه ده، چې د هغه هغه مرتكب كېږي (ابن ماجه)

تسهيلات:

قوله: لَا يَرُدُّ الْقَدَرَ إِلَّا الدُّعَاءُ:

ددعا په وجه د تقدير بدليل: دې نه هم هغه تقدير معلق مراد دي د كوم فيصله چه اټله نه ده بلكه مشروط ده دې نه قضامبرم مراد نه ده ځكه چه په هغې كښې وړاندې كيدل روستو كيدل محال وى

قوله: لَيُحْرَمُ الرِّزْقَ بِالذَّنْبِ يُصِيبُهُ:

اشكال: ډير زيات كافران مالداران او په عيش او عشرت كښې وى هغوى ګناه څه چه په كفر او شرك كښې پراته وى نو ددې حديث د خارج واقعاتى حقائقو سره تعارض دې ددې څه جواب دې؟

داشكال دوه جوابونه: ① يو رزق دې او يو د رزق ثمره او نتيجه ده اصل مقصود رزق نه بلكه ددې ثمره او نتيجه مقصود وى د رزق ثمره اطمينان سكون او راحت او فرحت وى كافران سره ددې چه په ظاهره مالداران وى ليكن هغوى ته د مال نتيجه كوم چه اطمينان سكون او راحت او فرحت دې هغه حاصل نه وى بلكه پخپله هم دغه مال د هغوى دپاره وبال جان وى او هغوى په ژوند كښې د دغه مال د وجې نه په سخت عذاب كښې راګيروى نو په حقيقت كښې هغوى د معصيت د وجې نه د رزق د اصل فائدې نه محروم پاتې شو دا جواب كافرانو شيطانانو فاسقانو او فاجرانو ټولو ته شامل دې

② د رزق نه محروم كيدلو د كومې سزا په دې حديث كښې ذكر دې دا د مسلمانانو په حق كښې ده چه د هغوى دپاره امتحان دې د كافرانو باره كښې دا حديث نه دې

[۴۹۲۶] د مور پلار د خدمت مقام

۴۹۲۶-()[۱۶] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «دَخَلْتُ الْجَنَّةَ فَسَمِعْتُ فِيهَا قِرَاءَةً [۳] فَقُلْتُ: مَنْ هَذَا؟ قَالُوا: حَارِثَةُ بْنُ النُّعْمَانِ، [۴] كَذَلِكُمُ الْبِرُّ، كَذَلِكُمُ الْبِرُّ". [۵] وَكَانَ أَبَرَّ النَّاسِ بِأُمِّهِ». [۶] رَوَاهُ فِي " شَرْحِ السُّنَّةِ "، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ ". [۷] وَفِي رِوَايَتِهِمَا: قَالَ: " «نِمْتُ فَرَأَيْتُنِي فِي الْجَنَّةِ» " بَدَلَ: " دَخَلْتُ الْجَنَّةَ ".

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضی الله عنها وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] زه جنت ته لاړم، نو

() اخرجه البغوي في شرح السنة رقم ۳۴۱۸، واخرجه احمد في المسند: ۶/۱۵۱

ماهلته د قرآن ويلو اواز واوريدى،[٣] ما د (فرشتو) نه پوښتنه وکړه، داسړى څوك دى، چې د قرآن تلاوت کې مشغول دى، نو فرشتو راته وخودل، چې دا حارثه بن نعمان رضي الله عنه دى اصحابه رضي الله عنهم چې داخبره واوريده نو په زړه کې خواهش پيدا شو، چې حارثه رضي الله عنه د خپل کوم عمل په سبب دافضيلت حاصل کې، چې حضور صلى الله عليه وسلم په جنت کې د هغه د قرآن ويلو اواز واوريدى، نو حضور صلى الله عليه وسلم د حارثه رضي الله عنه د دې فضيلت سبب دې الفاظو کې بيان کې ا.[٤] چې دا هغه فضيلت او ثواب دى، چې مور پلار سره نيکې کولو باندې حاصليږي،[٥] او حارثه رضي الله عنه بن نعمان د خپلې مور سره ډير ښه سلوك کونکې وو.[٦] دا روايت بغوي رحمه الله په شرح السنه کې او بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې نقل کړى دى.[٧] او د بيهقي په يو روايت کې داسې دى، چې حضور صلى الله عليه وسلم د(زه جنت ته ولاړم) په ځاى دا وفرمايل، چې زه اوده شوى وم، نو په هغه حالت کى گورم. چې زه په جنت کې يم الخ

حل اللغات:- ① أَبَرَّ: ډير زيات حسن سلوك او احسان کونکې. ② نِمْتُ: زه اوده شوم

تسهيلات:

قوله: كَذَلِكُمُ الْبِرُّ، كَذَلِكُمُ الْبِرُّ:

دمذكور كلام په قائل كښې درې اقوال: ① امام طيبي فرمائي چه نبي عليه السلام دا خوب ليدلي وو نو خپلو صحابه كرامو ته ئي واورولو او د خوب د اورولو په مينځ كښې چه كله د حارثه بن نعمان ذكر راغلي نو يوه تنبيه ئي اوكړه چه دغه شان اعلي درجات د والدينو سره د حسن سلوك د وجې ميلاويږي.

① ملا علي قاري فرمائي چه دا څه بعيده نه ده چه دا هم د فرشتوكلام شى او د دې كلام مخاطب نبى عليه السلام وى او اسم اشاره راوړل د تعظيم وجه نه وى د دې نه مراد د نبي عليه السلام صحابه كرام دى.

[٤٢٧] كه د الله تعالى رضا غواړې نو مور پلار خوشحاله ساته

٤٢٧-(١)[١٠] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"[٢] «رِضَا الرَّبِّ فِي رِضَا الْوَالِدِ،[٣] وَسُخْطُ الرَّبِّ فِي سُخْطِ الْوَالِدِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:[١] او حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل[٢] د پروردگار رضامندي او خوشنودي د پلار په رضامندي او خوشنودي کې ده،[٣] او د پروردگار ناخوښي او ناراضگي، د پلار په ناخوښي او ناراضگي کې ده (ترمذي)

حل اللغات:- ① سُخْطُ: ناراضگى، خفگان.

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء من الفضل فى رضا الوالدين (رقم-١٨٩٩)

تسهیلات:

قوله: وَسُخْطُ الرَّبِّ فِي سُخْطِ الْوَالِدِ:

په حدیث کښې عجیبه فصاحت: په کښترانو باندې د مشرانو د غضب د پاره د سخط لفظ استعمالولې شی په دې حدیث کښې عجیبه فصاحت او د مورپلار د مقام عجیبه اوچتوالې او عظمت طرف ته اشاره ده هغه داسې چه د مورپلار د خفګان سره د الله تعالی خفګان او ناراضګی یوځائی کړې شوې ده دائی نه دی وئیلی چه د مورپلار په نافرمانئی سره الله تعالی ناراض کیږی بلکه دائی فرمائیلی دی چه مورپلار ناراض وی نو الله تعالی به ناراض وی یعنی که یوخوئی نه د هغه پلار ناراض او خفه وی نو الله تعالی به هم ناراض وی دلته د پلار ذکردې مګر مور هم مراد ده د دواړو حکم یو شان دې که چرې د والد نه "من له الولد" مراد واخستې شی نو بیا به په دغه لفظ کښې مور او پلار دواړه مقصود شی

[۴۳۸] د مورپلار حکم ته د ښځې په محبت باندې ترجیح حاصل ده

۴۹۳۰-()[۱۸] ① «وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ رَجُلًا أَتَاهُ، فَقَالَ: ② إِنَّ لِي امْرَأَةً وَإِنَّ أُمِّي تَأْمُرُنِي بِطَلَاقِهَا، ③ فَقَالَ لَهُ أَبُو الدَّرْدَاءِ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ④ "الْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ، ⑤ فَإِنْ شِئْتَ فَحَافِظْ عَلَى الْبَابِ أَوْ ضَيِّعْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او د حضرت ابودرداء رضی الله عنه نه روایت دی، چې یو سړی د هغه په خدمت کې حاضریدو سره عرض وکړو، ② زه ښځې والایم، او څما مور غواړي چې زه هغه ته طلاق ورکړم. ③ ابودرداء رضی الله عنه هغه ته اوویل ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي ④ چې پلار د جنت د منځ د دروازو نه دی (یعني د پلار د رضامندي او خوشنودي په هرحالت کې لحاظ کول په جنت کې د داخلیدو سبب دی. ځکه کوم سړی چې غواړي چې په جنت کې داخلیدو د پاره هغه دروازه اختیار کړي کومه چې بهترینو دروازو نه ده، نو هغه ته پکار دی چې د پلار د رضامندي او خوشنودي په هرحالت کې لحاظ وساتي) ⑤ نو تاته اختیار دی. که غواړې د دې دروازې محافظت وکړه او که غواړې ضائع یې کړه (ترمذي، ابن ماجه)

تسهیلات:

قوله: إِنَّ لِي امْرَأَةً وَإِنَّ أُمِّي تَأْمُرُنِي بِطَلَاقِهَا:

خپلې ښځې ته د طلاق ورکول حکم: که په ښځه کښې شرعی قباحت هم وی او د مورپلار حکم هم وی چه طلاق ورکړه نو په خوئی باندې واجب دی چه طلاق ورکړی لیکن که په

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء من الفضل فی رضا الوالدین (رقم-۱۹۰۰) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب بر الوالدین (رقم-۳۶۶۳) واحمد فی المسند:۵/۱۹۶

بنځه کښې شرعی قباحت نه وی اودَ مورپلار حکم وی چه طلاق ورکړه نوبیا به طلاق ورکول مستحب وی واجب به نه وی په راتلونکی حدیث نمبر(۴۹۳۰) کښې هم دا مسئله راروانه ده.

دوالد نه څه مراد دی:

قوله: الْوَالِدُ أَوْسَطُ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ:

حضرت ابودرداء ﷺ چه دغه سړی ته کوم جواب ورکړې دې په هغې کښې د والد نه "من له الولد" مراد اخستې دې په کوم کښې چه مور پلار دواړه شریك دی حضرت ابودرداء ﷺ هم دغه فیصله ورکړه چه جنت دَ مورپلار په قدمونو کښې دې اوداد جنت مرکزی دروازې دی که چرې دَ دوی حکم دې اومنلونودروازه به کولاؤ شی گنی دروازه به بنده وی

[۴۹۳۹]مورد نیك سلوك زیاته حقداره ده په نسبت د پلار

۴۹۳۹-()[۱۹] ① «وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- ② قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَبَرُّ؟ قَالَ: "أُمَّكَ" قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "أُمَّكَ"، ③ قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ؟ قَالَ: "أُمَّكَ". قُلْتُ: ثُمَّ مَنْ قَالَ: "أَبَاكَ، ④ ثُمَّ الْأَقْرَبَ فَالْأَقْرَبَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت بهز ابن حکیم د خپل پلارنه او هغه دبهز دنیکه (حضرت معاویه ابن صده ﷺ) نه نقل کوي، ② هغه اوویل ما عرض وکړو، چې یارسول الله. زه د چا سره نیك سلوك وکړم، حضور ﷺ وفرمایل، خپلې مور سره ما عرض وکړو، بیا د چا سره. حضور ﷺ وفرمایل، د خپلې مور سره ③ ما عرض وکړو، بیا د چا سره. حضور ﷺ وفرمایل. خپلې مورسره، ما عرض وکړو، بیا د چاسره، حضور ﷺ وفرمایل. د خپل پلار سره. ④ بیا د هغه سره چې مور پلار نه پس ستا نزدې ته عزیز وي. الکه وروړ او خور او بیا هغه سره چې ورور، خور نه پس چې نورو ته زیات نزدې رشته دار وي. لکه ترهٔ او ماما او د دې ترتیب مطابق د ترهٔ او ماما اولاد وغیره) (ترمذي. ابوداود)

حل اللغات: - ① أَبَرُّ: ډیر زیات حسن سلوك او احسان کونکې.

تسهیلات:

قوله: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَنْ أَبَرُّ؟ قَالَ: "أُمَّكَ:

درې ځله د مور د حق بیانولو نکته: د دې نه مخکښې هم دغه شان حدیث په ضمن کښې تیر شوی دی چه د مور حق د پلار د حق نه مقدم دې او د مور حق درې چنده دې ځکه چه د هغې درې احسانات دی.

() اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی بر الوالدین (رقم-۵۱۳۹) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی بر الوالدین (رقم-۱۸۹۷) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب بر الوالدین (رقم-۳۶۶۱)

① مور د بچي وزه په خپل رحم کښې ساتي او ډېر مشقت برداشت کوي. ((حملته أمه كرهاً))
② مور د بچي د زيږولو تکليف برداشت کوي. ((ووضعته كرهاً))
③ مور د بچي د پي ورکولو تکليف برداشت کوي. ((وحمله وفصاله))

قوله: قَالَ: "أَبَاكَ، ثُمَّ الأَقْرَبَ فَالأَقْرَبَ:

د اقرب فالاقرب مفهوم: په دي کښې قرابت نسبي هم مراد دې يعني اول د قريبي رشته دارو حق دي چه څومره قرب ډير وی نو هم هغه وومره به د هغه زيات حق وی لکه د سکه رور او خور وغيره حق ډير دي بيا د ماما بيا د ترور بيا د تره بيا د پهوپهو وغيره او هم دغه شان قرابت عمومي هم مراد کيدي شی لکه خواخي اوخې وغيره دوی سره به هم صله رحمي حق وی.

[۴۹۳۰] دَرشته ساتونکی او رشته پريکونکی حکم

۴۹۳۰-()[۲۰] ① وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ: ② " «قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: أَنَا اللّٰهُ، وَأَنَا الرَّحْمٰنُ، ③ خَلَقْتُ الرَّحِمَ وَشَقَقْتُ لَهَا مِنِ اسْمِي، ④ فَمَنْ وَصَلَهَا وَصَلْتُهُ، وَمَنْ قَطَعَهَا بَتَتُّهُ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الرحمٰن ابن عوف رضی الله عنه وايي، ما د رسول الله نه واوريدل، ② الله بزرگ وبرتر ارشاد فرمايي، زه الله يم، زه رحمٰن يم (يعني صفت رحمت سره متصف يم) ما رحم يعنی صله رحمي پيدا کړي ده، ③ او ما د هغه د نوم لفظ دَ خپل نوم يعنی د رحمٰن د لفظ نه اوخکلی دی. ④ نو کوم سړی چې صله رحمي جوړ وي، يعنی د صله رحمي حقوق اداکوي. زه به هم هغه خپل رحمت سره پيوست کړم، او کوم سړی چې رحم ماتوي، يعنی د صله رحمي حقوق نه اداکوي. زه به هم هغه د خپل رحمت نه جدا کړم (ابو داؤد).

تسهيلات:

قوله: قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: أَنَا اللّٰهُ، وَأَنَا الرَّحْمٰنُ:

د الله تعالی د اسم ذات او صفت ذکر کولو وجه: زه الله يم يعني زه واجب الوجود يم. زما ذات پاک دي. په هيڅ يو کار کښې د هيڅ چا محتاج نه يم. دا جمله په اصل کښې د را رواني جملي د پاره بطور تمهيد ده او په دي تمهيد کښې ئې اول اسم خاص ذکر کړو او بيا ئې خپل صفت رحمن ذکر کړو چه د هغي لفظي ماده اشتقاق هم هغه ده چه کومه د رحم ده يعني الله تعالي رحم د خپل نوم نه جوړ کړې دې هم د دي وجې ئې د دي د يوځائ کولو حکم کړي دي حاصل دا چه څوک د رشته دارانو حقوق ادا کوی نو الله تعالي هغه د

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الزكاة/باب في صلة الرحم (رقم-۱۶۹۴) والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في قطيعة الرحم (رقم-۱۹۰۷) واحمد في المسند: ۱/۱۹٤

خپل رحمت سره نیزدې کړي او چه څوک د رشته دارانو حقوق نه ادا کوي نو هغه لره به الله تعالی د خپل رحمت نه لرې کړي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۴۳۱] رشته پرېکونکي والا قوم هم د الله تعالی د رحمت نه محروم دې

۴۳۱-(١)[٢١] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ٢ «لَا تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ عَلَى قَوْمٍ فِيهِمْ قَاطِعُ الرَّحِمِ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ١ او حضرت عبد الله ابن اوفی وایي، ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل. ٢ په هغه قوم رحمت نه نازلیږي چې په هغوئ کې رشته ماتونکی وي. (بيهقي)

حل اللغات: - ① قَاطِعُ: رشته او تعلق پرېښودونکې، ② الرَّحِمِ: رشته، تعلق.

تسهیلات:

قوله: لَا تَنْزِلُ الرَّحْمَةُ عَلَى قَوْمٍ فِيهِمْ قَاطِعُ الرَّحِمِ:

په حدیث کښې د رحمت نه څه مراد دی: یعنی خپلولی پرېخودل او صله پرې کولو سره د الله تعالی د طرف نه آسمانی رحمت بندیږی. ممکن دی چه د دې رحمت نه عام رحمت مراد وی یا خاص باران رحمت مراد وی او ښکاره خبره ده چه کله د رحمت نزول بند شو نو د عذاب نزول به کیږی. لهذا په داسې قوم باندې د اجتماعی عذاب نزول کیدې شی په کوم کښې چه خپلولی او صله ماتونکی موجود وی او پوره قوم د صله پرې کولو په جرم باندې خاموش پاتې وی او د امنع کوی نه بلکه د دې حمایت هم کوی. شارحینو لیکلی دی چه د قوم نه مراد صرف هغه خلق دی چه د صله ماتونکی سره حمایت کوی او هغه منع کوی نه پوره قوم مراد نه دې. نن صبا چه په کوم سرحدی علاقو کښې په دې کلونو کښې تباه کونکې زلزلې راغلی دی. د خپلولو پرېخودو گناه دلته ډیره عام وه

[۴۳۲] بغاوت کونکی او رشته پرېکونکی ته به په دنیا کښې هم عذاب ورکولې شی

۴۳۲-(٢)[٢٢] ١ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٢ " «مَا مِنْ ذَنْبٍ أَحْرَى أَنْ يُعَجِّلَ اللّٰهُ لِصَاحِبِهِ الْعُقُوبَةَ فِي الدُّنْيَا، ٣ مَعَ مَا يَدَّخِرُ لَهُ فِي الْآخِرَةِ ٤ مِنَ الْبَغْيِ وَقَطِيعَةِ الرَّحِمِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوبکره رضي الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. ٢ هیڅ گناه د دې خبرې نه زیاته لائقه نه ده چې الله تعالی د هغه ارتکاب کونکې ته په دنیا کې هم د هغه سزا

(١) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم ٧٩٦٢

(٢) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی النهی عن البغی (رقم-٤٩٠٢) والترمذی فی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٢٥١١) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب البغی (رقم-٤٢١١)

ورکړي، [۳] او مرتکب ته په آخرت کې هم ورکولو د پاره هغه سزا وساتي، [۴] هو، دوه ګناهونه بیشکه د دې خبرې لائق دي. یو خو د امام وخت خلاف بغاوت کول. او دویم رشته ماتول (ترمذي، ابوداود)

حل اللغات: - ①أَحْرَى: زیاته لائقه. ②الْعُقُوبَةَ: سزا، عذاب. ③يَدَّخِرُ: ذخیره اوساتی. ④الْبَغْي: بغاوت کول. ⑤قَطِيعَةِ: رشته ماتول. ⑥الرَّحِمِ: رشته، تعلق.

تسهیلات:

قوله: مَعَ مَا يَدَّخِرُ لَهُ فِي الْآخِرَةِ، مِنَ الْبَغْيِ وَقَطِيعَةِ الرَّحِمِ:

د صله رحمی په کټ کولو په دنیا او آخرت کښې د عذاب ملاویدل: یعنې د آخرت عذاب به هم وی د دې ذخیره به هم جمع کیږی او د دنیا عذاب به هم ورته د پیشګی په توګه ملاویږی دا دوه چنده عذاب به دوه قسمه بدبختانو ته ملاویږی یو قسم هغه خلق چه د امام برحق او اسلامی خلافت د سربراه خلاف بغاوت اوکړی او دویم هغه خلق چه د صله ماتولو جرم اوکړی دا دواړه ګناهونه دومره سخت دی چه د دې سره پوره معاشره تباه کیدو سره د اسلام جرړې خوزیږی په دې وجه په خاص توګه د دې ذکر کړې شوې دي.

[۴۹۳۳] دا درې قسمه خلق به جنت کښې نه داخلیږی

> ۴۹۳۳-( )[۲۳] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " [۲] «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنَّانٌ، [۳] وَلَا عَاقٌّ، [۴] وَلَا مُدْمِنُ خَمْرٍ» ". رَوَاهُ النَّسَائِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن عمرو رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] جنت ته به نه هغه سړی داخلیږي چې د چاسره نیکي کولو سره په هغه احسان اچوي [۳] نه هغه سړی چې د مور پلار نافرماني کوي [۴] او نه هغه سړی چې همیشه شراب نوشي کوي [او بغیر توبې مړ شي احسان اچول دیونیکۍ په برابرکی دهغه اجر باطلوی متعال الله ﷻ فرمایی ﴿وَلَا تُبْطِلُوا صَدَقَاتِكُمْ بِالْمَنِّ﴾ په احسان کولو او ایذاء ورکولو سره خپل خیرات مه ضائع کوی]

حل اللغات: - ①مَنَّانٌ: احسان اچونکې، نیکی زباتل. ②عَاقٌّ: د مور پلار نافرمان. ③مُدْمِنُ خَمْرٍ: همیشه شراب څکونکې

تسهیلات:

قوله: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنَّانٌ:

دعدم دخول په مفهوم کښې درې اقوال: ①که چرې دغه خلقو دامحرمات حلال اوګنړل نو کافران به شی جنت ته به نه ځی

---

[۱] اخرجه النسائی فی السنن كتاب الأشربة/باب الرواية في المدمنين في الخمر (رقم-۵۶۷۲)

⑥ دَ دخول جنت نه دخول اولی مراد ده نودَ سزا تیرولو نه پس به جنت ته داخلیږی
⑦ داحکم تشدیداً تغلیظاً دې

[۴۳۴]رشته ساتلو سره په مال اوعمر کښې برکت راځی

۴۳۴-()[۲۴] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲]«تَعَلَّمُوا مِنْ أَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُونَ بِهِ أَرْحَامَكُمْ، [۳]فَإِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِي الْأَهْلِ [۴]مَثْرَاةٌ فِي الْمَالِ، مَنْسَأَةٌ فِي الْأَثَرِ» ". [۵]رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه:[۱]او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل.[۲] تاسو په خپلو نسبونو کې دومره قدري زده کړي، چې د هغه په ذریعه خپل رشته دارو سره حسن سلوک وشي،[۳] ځکه چې رشته دارو سره حسن سلوک کول اقرباء کې د باهمي محبت سبب.[۴] مال کې د کثرت او برکت ذریعه او د عمر د اوږدوالی باعث جوړیږي.[۵] ترمذي دا روایت نقل کړی دی، او ویلي یې دی چې دا حدیث غریب دی.

حل اللغات: - ① صِلَةٌ: حسن سلوک، ② الرَّحِمِ: رشته، تعلق. ③ مَثْرَاةٌ: دَ ثروة نه دي دَمال کثرت ته وائی. ④ مَنْسَأَةٌ: تاخیر راوستونکې، ⑤ الأَثَرِ: مرګ، اثر دَقدمونو نشاناتو ته وائی

تسهیلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① مَحَبَّةٌ: صله ساتلو سره خپل مینځ کښې محبتونه زیاتیږی داخو مجرب او مشاهده شوې عمل دې.

② مَثْرَاةٌ: مطلب دادې چه که یو سړې په خپله صله کښې احسان کوی اوصله ساتی هغوی خوشحاله ساتی نو په دې سره په مال کښې زیاتوالې کیږی

③ مَنْسَأَةٌ فِي الْأَثَرِ: مطلب دادې چه صله ساتلو سره عمر اوږدیږی.

[۴۳۵]ترور سره صله رحمی کول مور سره د صله رحمی برابر ده

۴۳۵-()[۲۵] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- «أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۲]فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَصَبْتُ ذَنْبًا عَظِيمًا، فَهَلْ لِي مِنْ تَوْبَةٍ؟ [۳]قَالَ: "هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ؟" قَالَ: لَا [۴]قَالَ: "وَهَلْ لَكَ مِنْ خَالَةٍ؟" قَالَ: نَعَمْ قَالَ: "فَبِرَّهَا"». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:[۱]او د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی. چې یو سړي د حضور صلی الله علیه وسلم په خدمت

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی تعلیم النسب (رقم-۱۹۷۹) واحمد فی المسند: ۳۷٤/۲

[2]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی بر الخالة (رقم-۱۹۰٤) واحمد فی المسند: ۱٤/۲

کې حاضر شو۲ او هغه اوويل يا رسول الله، ما نه يوه لويه ګناه شوي ده څما توبې دپاره څه شي شته. يعنې څه داسې عمل راته وښايې، چې هغه اختيارولو سره د الله رحمت خان طرف ته متوجه کړې شم، او ګناه مې معاف شي.۳ حضور ﷺ ورته وفرمايل. ستا مور شته، هغه وويل، نه ۴ بيايې ورته وفرمايل. ستا خاله (ترور) شته. هغه وويل. هو نو ورته يې وفرمايل، د هغه سره نيک سلوک کوه. [يعنې د هغه خدمت. اطاعت او نګراني کوه، او د خپل حيثيت مطابق د هغه مالي مدد او اعانت کوه] (ترمذي)

حل اللغات:- ① فَبِرَّهَا: دا د امر صيغه ده يعنې هغې سره ښه سلوک کوه احسان او انعام کوه

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ: يَارَسُوْلَ اللهِ، إِنِّي أَصَبْتُ ذَنْبًا عَظِيْمًا:

صله رحمي په وجه ګناه کبيره معاف کيږي: رسول الله ﷺ د هغه سړي نه تپوس اوکړو ستا مور ژوندئ ده؟ هغه وئيل نه. تپوس ئې اوکړو ماسې دې شته؟ هغه وئيل او ماسې مې شته دې نبي عليه السلام اوفرمائيل چه هغې سره حسن سلوک ساته ستا ګناه به معاف شي د دې حديث نه معلومه شو چه صله ساتل او د صله خدمت کولو سره کبيره ګناه هم معاف کيږي ځکه چه د صله والا هم د هغه د مغفرت دعا غواړي اودا سړې پخپله هم دمغفرت په غرض سره خدمت کوي نو کبيره هم معاف کيږي. يا ممکن دی چه د ويرې د وجې نه دې سړي دا کبيره ګناه ګنړلې وي او په حقيقت کښې دا کبيره نه وه نو د صله په خدمت سره صغيره ګناه معاف شوه يا کيدې شي چه دا حديث د هغه سړي د معاملې سره خاص وي او د ټولو مسلمانانو دپاره عام نه وي. لهذا د هغه سړي لويه ګناه د صله په خدمت سره معاف شوه دا د هغه خصوصيت وو د هر سړي کبيره ګناه به نه معاف کيږي

[۴۹۳۶] د والدينو نه پس مور پلار سره د احسان بعضې صورتونه

۴۹۳۶-(۱)[۲۶] ۱ وَعَنْ أَبِي أُسَيْدٍ السَّاعِدِيِّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُوْلِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذْ جَاءَ رَجُلٌ مِنْ بَنِي سَلَمَةَ، ۳ فَقَالَ: يَا رَسُوْلَ اللهِ هَلْ بَقِيَ مِنْ بِرِّ أَبَوَيَّ أَبَرُّهُمَا بِهِ بَعْدَ مَوْتِهِمَا؟ ۴ قَالَ: "نَعَمْ، الصَّلَاةُ عَلَيْهِمَا، وَالْاِسْتِغْفَارُ لَهُمَا ۵ وَإِنْفَاذُ عَهْدِهِمَا مِنْ بَعْدِهِمَا، ۶ وَصِلَةُ الرَّحِمِ الَّتِي لَا تُوْصَلُ إِلَّا بِهِمَا، ۷ وَإِكْرَامُ صَدِيْقِهِمَا» ". رَوَاهُ أَبُوْ دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو اسيد ساعدي وايي، ۲ چې يوه ورځ مونږ خلق د رسول الله ﷺ سره ناست وو. ناڅاپه يو سړی د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو (قبائل انصار نه د يو قبيله) بنو سلمه سره تعلق لرې. ۳ هغه سړي عرض وکړو. يا رسول الله، څما د مور

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب في بر الوالدين (رقم-۵۱۴۲) وابن ماجه في كتاب المناسك/باب فضل المدينة (رقم-۳۱۱۴) واحمد في المسند:۳/۴۹۷

پلار د حسن سلوك څه حصه لا اوس باقي ده چې زه يې د هغوئ د وفات نه پس پوره كړم؟، ايعني ما به د خپل مور پلار ژوند كې هغوئ سره حسن سلوك كوى، اوس هغوئ مړه شوي دي، نو آيا د هغوئ د وفات نه پس هم د هغوئ په حق كې د حسن سلوك كولو څه صورت شته] ،[۴] حضور ﷺ وفرمايل هو، د هغوئ په حق كې دعا كول (چې په هغه كې د جنازې مونځ هم شامل دی) هغوئ د پاره استغفار كول،[۵] د هغوئ د مرګ نه پس د هغوئ وصيت پوره كول[۶] د هغوئ رشته دارو سره حسن سلوك كول. چې د هغوئ سره حسن سلوك كول محض د مور پلار سبب دی، [يعني د مور پلار هغه عزيز واقارب خپلوان چې د هغوئ سره محض په دې وجه حسن سلوك كولی شي. چې د مور پلار خوشنودي حاصله شي، چې څه بل غرض پكې نه وي][۷] او د مور پلار د تعلق دارو عزت او تعظيم كول؛ (داهغه صورتونه دي، چې هغه اختيارولو سره د مور پلار د وفات نه پس د هغوئ سره د حسن سلوك سلسله جاري ساتل كيدې شي) (ابوداؤد، ابن ماجه)

حل اللغات: - ① إِنْفَاذُ: نافذ كول، پوره كول. ② صِلَةُ الرَّحِمِ: حسن سلوک كول د رشته دارانو سره

تسهيلات:

قوله: بَيْنَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذْ جَاءَ رَجُلٌ:

ديو صحابي د نبي عليه السلام څخه پښتنه كول: يعني هم په دغه وخت اوساعت كوم وخت چه مونږ دَ رسول الله ﷺ په مجلس كښې ناست وو ناڅاپې يو سړې راغلو اوهغه سوال اوكړو چه دَمورپلار دَ وفات نه پس هغوى سره دَاحسان څه صورت كيدې شى كوم چه زه اختياركړم؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل:

دبعضې مشكلو جملو وضاحت:

① قَالَ: "نَعَمْ، الصَّلَاةُ عَلَيْهِمَا: يعنى دَهغوى په حق كښې دعا كوه په كوم كښې چه په هغوى باندې دَ جنازې مونځ كول هم داخل دى دا يوصورت دې

② وَإِنْفَاذُ عَهْدِهِمَا مِنْ بَعْدِهِمَا: يعنى هغوى كه چرته چاسره وعده كړې وى اودَ پوره كولو نه مخكښې مړه شوى دى هغه وعده پوره كول داهغوى سره دَاحسان دويم صورت دې

③ وَصِلَةُ الرَّحِمِ الَّتِي لَا تُوصَلُ إِلَّا بِهِمَا: يعنى دَهغه خپلولئى اورشتو خيال ساتل كومې چه صرف دَ مور پلاردَ وجې نه قائمولې شى دې دَپاره چه هغوى خوشحال شى دَمور پلار دَ خپلولئى نه علاوه هغه خلقو سره نور څه تعلق نه وى دا دَاحسان كولو دريم صورت دې.

④ وَإِكْرَامُ صَدِيقِهِمَا: يعنى دَ مورپلار دَ دوستانو اودهغوى تعلق دارو اكرام اواحترام كول دادَ احسان څلورم صورت دې.دَدې څلورو واړو صورتونو په ذريعه سره سړې دَخپل مړه شوى مورپلار سره دَ حسن سلوك معامله كولې شى.

[۴۹۳۷] دَرسول الله ﷺ خپلې رضاعی مور حلیمه سعدیه سره حسن سلوک

۴۹۳۷-(۱)[۲۷] [۱] وَعَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «رَأَيْتُ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقْسِمُ لَحْمًا بِالْجِعْرَانَةِ [۳] إِذْ أَقْبَلَتِ امْرَأَةٌ حَتَّى دَنَتْ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۴] فَبَسَطَ لَهَا رِدَاءَهُ، فَجَلَسَتْ عَلَيْهِ. [۵] فَقُلْتُ مَنْ هِيَ؟ [۶] فَقَالُوا: هِيَ أُمُّهُ الَّتِي أَرْضَعَتْهُ.» رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو طفیل رضی الله عنه وايي، [۲] په جعرانه کې ما وليدل. چې حضور ﷺ غوښه تقسیموله، [۳] ناڅاپه يوه ښځه راغله، رسول الله ﷺ ته چې را ورسیده. [۴] نو حضور ﷺ د هغه د پاره خپل څادر وغوړوی هغه په هغه کيناسته. [۵] ما د هغه سره: حضور ﷺ داحسن سلوك وليدئ نو خلقو نه مي پوښتنه وکړه، داخاتون بي بي څوك ده؟ [۶] هغوئ راته وخودل، چې دا د حضور ﷺ هغه مورده، چې حضور ﷺ ته يې شو ده ورکړي دی (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① الْجِعْرَانَةِ: د يو ځائي نوم دي، ② دَنَتْ: نزدې شوه، ③ بَسَطَ: خور ئې کړو. ④ رِدَاءَ: څادر. ⑤ أَرْضَعَتْهُ: پئ (شوده) ئې ورکړی دی هغه ته (يعنی حضور ﷺ ته).

تسهيلات:

قوله: فَبَسَطَ لَهَا رِدَاءَهُ، فَجَلَسَتْ عَلَيْهِ:

دنبی علیه السلام د حلیمې سعدیه دپاره خپل څادر خورول: دَ جنګ حنين او اوطاس نه پس نبي علیه السلام دَغنائم دَتقيسم دَ پاره جعرانه کښې تشريف فرما وو هم په دغه موقع د نبي علیه السلام رضاعی مور بی بی حلیمه سعدیه تشريف راوړو نبي علیه السلام خپل څادر هغې ته لاندې خور کړو په کوم چه هغه کيناستله خلقو تپوس اوکړو دا څوك ښځه ده؟ دَچاچه نبي علیه السلام داسې احترام اوکړو جواب ورکړې شو دادَ نبي علیه السلام رضاعی مور ده دکومې نوم چه حليمه وو اودَ سعد قبيلې سره دَهغې تعلق وو

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۹۳۸] د نیکو اعمالو په وسیلې سره دعا غوښتل

۴۹۳۸-(۱)[۲۸] [۱] عَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «بَيْنَمَا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ يَتَمَاشَوْنَ أَخَذَهُمُ الْمَطَرُ، [۳] فَمَالُوا إِلَى غَارٍ فِي الْجَبَلِ، [۴] فَانْحَطَّتْ عَلَى فَمِ غَارِهِمْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ، [۵] فَأَطْبَقَتْ عَلَيْهِمْ، [۶] فَقَالَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ: انْظُرُوا أَعْمَالًا عَمِلْتُمُوهَا لِلَّهِ صَالِحَةً، [۷] فَادْعُوا اللَّهَ بِهَا لَعَلَّهُ يُفَرِّجُهَا،

ترجمه: [۱] د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ د يوقوم دا واقعه بيان

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی بر الوالدين(رقم-۵۱۴۴)

(۲) اخرجه مسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب قصة أصحاب الغار الثلاثة والتوسل بصالح الأعمال (رقم-۱۰۰ - (۲۷۴۳))واحمد فی المسند:۲/۱۱۶

کړه، ۲ چې يو وخت دري سړي يو ځاى روان وه، په لار کې سخت باران هغوئ راګير کړه، ۳ د باران نه دځان ساتلو د پاره هغوئ د يوغره په غار کې ننوتل ۴ په دي کې د غر نه يوغټ کاڼي (ګټ) رالويدو سره د غار په خوله راولويدى ۵ او په هغه دريو سړو بهرته د وتلو لار بند کړله. ۶ هغوئ دريو سړو په (دي صورت حال نه سخت پريشان کيدو سره او هغه غار نه د وتلو څه لار ورته په نظر رانغله نو) خپلو کې يي اوويل. چې اوس تاسو په خپل اعمال نظر واچوى چې تاسو (د څه دنياوي فائدي د ارزو او د نام ونمود د جذبي نه بغير) محض د الله ﷻ د رضا او خوشنودي د پاره څه کړى دي. ۷ او د هغه اعمالو په ذريعه د الله ﷻ نه دعا وغواړي، شايد الله ﷻ زمونږ د نجات (خلاصون) لار خلاصه کړي.

حل اللغات: - ① يَتَمَاشَوْنَ: روان وو، ② الْمَطَرُ: باران، ③ مَالُوا: ورغلل. داخل شو. ④ انْحَطَّتْ: راورغړيدو. ⑤ صَخْرَةٌ: لويه ګټه، غټ کاڼړي. ⑥ أَطْبَقَتْ: بنده ئې کړه.

۱ فَقَالَ أَحَدُهُمْ: اللَّهُمَّ إِنَّهُ كَانَ لِي وَالِدَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ، ۲ وَلِي صِبْيَةٌ صِغَارٌ كُنْتُ أَرْعَى عَلَيْهِمْ، ۳ فَإِذَا رُحْتُ عَلَيْهِمْ فَحَلَبْتُ ۴ بَدَأْتُ بِوَالِدَيَّ أَسْقِيهِمَا قَبْلَ وَلَدِي، ۵ وَإِنَّهُ قَدْ نَأَى بِي الشَّجَرُ، فَمَا أَتَيْتُ حَتَّى أَمْسَيْتُ، ۶ فَوَجَدْتُهُمَا قَدْ نَامَا، فَحَلَبْتُ كَمَا كُنْتُ أَحْلُبُ، ۷ فَجِئْتُ بِالْحِلَابِ، فَقُمْتُ عِنْدَ رُؤُوسِهِمَا أَكْرَهُ أَنْ أُوقِظَهُمَا، ۸ وَأَكْرَهُ أَنْ أَبْدَأَ بِالصِّبْيَةِ قَبْلَهُمَا ۹ وَالصِّبْيَةُ يَتَضَاغَوْنَ عِنْدَ قَدَمَيَّ، ۱۰ فَلَمْ يَزَلْ ذَلِكَ دَأْبِي وَدَأْبَهُمْ حَتَّى طَلَعَ الْفَجْرُ، ۱۱ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذَلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ، ۱۲ فَافْرُجْ لَنَا فُرْجَةً نَرَى مِنْهَا السَّمَاءَ. ۱۳ فَفَرَجَ اللَّهُ لَهُمْ حَتَّى يَرَوْنَ السَّمَاءَ.

ترجمه: ۱ نو په هغوئ کې يوه اوويل، اي الله! ځما مورو پلار ډير بوډاګان وو. ۲ او ځما يوڅو واړه بچي هم وو، او مابه بزي (چيلئ) څرولي، چې (دهغوئ د شيدو ذريعه) د هغه تولو (د مور پلار او بچو دنس مړولو انتظام وکړم. ۳ نو ماښام ته چې کوروالاوو ته به واپس ورغلم، او بزي (چيلئ) به مي ولوشلي ۴ نو خپل مور پلار نه به مي ابتداء کوله. او هغوئ ته به مي د خپل اولاد نه مخکې شو ده ورکولي. ۵ يوه ورځ داسي وشوه، چې بزي (چيلئ) څرولو کې زه ډير لري ووتلم، تردي چې ماښام شو، او زه کورته واپس رانغلم ۶ بيا چې شپه څه تيريدو سره کورته راورسيدم نو مور پلار مي اوده شوى وه. د خپل معمول مطابق شو ده اولوشل ۷ او د شودو ډك لوښي سره مور پلار ته ورغلم. او د هغوئ سرته ودريدم. ځکه چې ما داخوښه نه کړه، چې هغوئ راويښ کړم. ۸ او نه مي دا خوښه کړه چې د هغوئ نه مخکې خپلو بچو ته شو ده ورکړم. ۹ هرکله چې هغه بچي ځما په پښو خکلو لګړيدل او د لوږي نه يي ژړل ۱۰ زه او هغوئ ټول خپل حال باندي قائم وو. تردي چې سحر شو. (يعني پوره شپه په دي حالت کې ما د شيدو لوښي اخستى د مور پلار سرته ولاړ وم. او هغوئ دواړه اوده وه. او ځما بچو د لوږي نه بيتابه کيدو سره ژړل) ۱۱ نو اي الله! تاته معلومه ده، چې که ما داکار محض ستا د رضا او خوشنودي طلب کې

کړې دي.۱۲ (نو زه په دي عمل واسطه درکولو سره تاته التجاء کوم چي) ته زمونږ نه داکاڼی دومره اخواکړي چې د هغه د خلاصوالي په ذريعه مونږ آسمان ووينو.۱۳ نو الله ﷻ (د هغه دعا قبوله کړه، او) هغه کاڼی يي دومره اخواکی، چې هغوئ ته آسمان په نظر رالی.

حل اللغات: ⑦ شَفَعَانِ: بوږ اګان. ⑧ رُحْتُ: ماښام به راغلم. ⑨ نَأْيٌ: لرې لاړم. ⑩ أُوقِظُهُمَا: چه رابيدار کړم دواړه ⑪ يَتَضَاغَوْنَ: دباب تفاعل نه دي په سلګوسلګو ژړلو ته وائی ⑫ دَأْبِي: حال زما.

۱ قَالَ الثَّانِي: إِنَّهُ كَانَتْ لِي بِنْتُ عَمٍّ أُحِبُّهَا كَأَشَدِّ مَا يُحِبُّ الرِّجَالُ النِّسَاءَ، ۲ فَطَلَبْتُ إِلَيْهَا نَفْسَهَا، فَأَبَتْ حَتَّى آتِيَهَا بِمِائَةِ دِينَارٍ، ۳ فَسَعَيْتُ حَتَّى جَمَعْتُ مِائَةَ دِينَارٍ، فَلَقِيتُهَا، ۴ فَلَمَّا قَعَدْتُ بَيْنَ رِجْلَيْهَا، قَالَتْ: يَا عَبْدَ اللهِ ۵ اتَّقِ اللهَ وَلَا تَفْتَحِ الْخَاتَمَ، فَقُمْتُ عَنْهَا. ۶ اللّٰهُمَّ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ، ۷ فَافْرُجْ لَنَا مِنْهَا، فَفَرَجَ لَهُمْ فُرْجَةً.

ترجمه: ۱ او دويم سړی داسې ووېل، چې اې الله! زما د ترۀ يوه لوروه، زما دومره خوښه وه، څومره چې د يو سړي يوه ښځه خوښيدی شی، ۲ هرکله چې ماهغې ته خپل ځان ماته د حواله کولو خواهش وکی، نو هغه دي ويلو سره زما د خواهش منلو نه انکار وکی چې څو پورې سل دينار ورته پيش نه کړم، زما جنسي خواهش به نه پوره کېږي. ۳ ما محنت مشقت کولو سره سل ديناره جمع کولو نه پس هغې ته ورسيدم هغه خپل شرط پوره کيدو باندې زما په خواهش راضي شوه ۴ هرکله چې زه جنسي فعل د پاره د هغه د دواړو پښو په منځ کې کينا ستم، نو هغه ووېل، اې د الله بنده! ۵ د الله نه ويريږه، او زما مهر امانت ماتولو نه منع شه، يعنی هغه ماته د الله خوف راکولو سره درخواست وکړی چې زما عزت مه اخله، او په حرام طور سره ازاله بکارت سره زما پرده ناموس، چې د چا امانت دی داسې تار تار مه کوه زه په دي اوريدو سره د الله د خوف نه په رپيدو شوم. او د خپل نفس په ګمراهي شرمسار کيدو سره د هغې نه ولاړشوم، ۶ نو اې الله! تاته معلومه ده چې زما دافعل يعنی قابو حاصليدو باوجود د هغه نه لرې کيدل او خپل نفس خوارول، محض ستا د رضا او خوشنودي طلب کې وو، ۷ نوزه د خپل دي عمل واسطي سره تاته سوال کوم چې داکاڼی زمونږ د لاري نه لرې کړي، نو الله ﷻ د هغه سړي دعا هم قبوله کړه، او هغه کاڼی د خپل ځای نه لږ اخواشو.

حل اللغات: ⑬ أَبَتْ: انکار ئې اوکړو. ⑭ فَرَقٍ: يوه پيمانه ده. ⑮ أَرُزٍّ: وريجې. ⑯ لَا تَهْزَأْ: توقې مه کوه.

۱ وَقَالَ الْآخَرُ: اللّٰهُمَّ إِنِّي كُنْتُ اسْتَأْجَرْتُ أَجِيرًا بِفَرَقِ أَرُزٍّ ۲ فَلَمَّا قَضَى عَمَلَهُ قَالَ: أَعْطِنِي حَقِّي، ۳ فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَقَّهُ، فَتَرَكَهُ وَرَغِبَ عَنْهُ، ۴ فَلَمْ أَزَلْ أَزْرَعُهُ حَتَّى جَمَعْتُ مِنْهُ بَقَرًا وَرَاعِيَهَا، ۵ فَجَاءَنِي فَقَالَ: اتَّقِ اللهَ وَلَا تَظْلِمْنِي وَأَعْطِنِي حَقِّي، ۶ فَقُلْتُ: اذْهَبْ إِلَى ذٰلِكَ الْبَقَرِ وَرَاعِيهَا، ۷ فَقَالَ: اتَّقِ اللهَ وَلَا تَهْزَأْ بِي، ۸ فَقُلْتُ: إِنِّي لَا

أَجْرَ أَبِكَ فَخُذْ ذٰلِكَ الْبَقَرَ وَرَاعِيَهَا. ⑨ فَأَخَذَهُ فَانْطَلَقَ بِهَا، ⑩ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنِّي فَعَلْتُ ذٰلِكَ ابْتِغَاءَ وَجْهِكَ، ⑪ فَافْرُجْ مَا بَقِيَ فَفَرَجَ اللّٰهُ عَنْهُمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① بيا دريم سړي داسې وئيل شروع کړه، اې الله! ما يو مزدور د يوفرق يوه پيمانه وريجو چاول په عوض کې په مزدورۍ ولګوی، ② هرکله چې هغه خپل کار پوره کړی، نو مطالبه يې وکړه، چې ځما مزدوري ماته راکړه، ③ ماورته اجرت پيش کړو، خو هغه بې نيازي سره هغه پريخودلو سره لاړو، ④ بيا ماهغه وريجې چاول خپل زراعت کې ولګولي، او کرونده مې وکړی، تردې چې د هغه وريجو چاولو په ذريعه ماخاص سرمايه جوړه کړه او هغه سره مې غويان (بيل) او د هغه غويانو غوبانه چرواهې، جمع کړه ⑤ بيا ډيره موده وروسته هغه مزدور ماته رالی، او هغه راته وويل، الله نه ويريږه، په ماظلم مه کوه، او ځما حق چې ماستاسره پريښې دی ما ته يې واپس راکړه، ⑥ ماورته اوويل بيشکه ستا حق په ماواجب دی دا غويان او غوبانه خپله قبضه کې واخله داټول ستا حق دی، ⑦ هغه په دې خبري اوريدو سره ډير په حيرت سره ماته وکتل، او هغه وويل، د الله نه ويريږه زماسره ټوقې مه کوه، ⑧ ماورته اوويل ځما خبره دروغ مه ګڼه، زه ستاسره ټوقې مذاق نه کوم، ورسه، دغه غويان او غوبانه د ځان سره بوځه، ⑨ د دې نه پس هغه هغې ټولو باندې قبضه وکړه، او اخستو سره لاړو، ⑩ نو اې الله! ته ښه پوهيږې چې ځما هغه عمل محض ستا د رضا او خوشنودي په طلب کې وو، ⑪ نو زه د دې عمل واسطه درکولو سره تاته سوال کوم چې داکانی ځومره باقي پاتې شوی دی، داهم لرې کړه، نو الله ﷻ د هغه سړي دعاهم قبوله کړه او د غار د خولي باقي حصه هم خلاصه شوه (بخاري، ومسلم)

تسهيلات:

قوله: بَيْنَمَا ثَلَاثَةُ نَفَرٍ يَتَمَاشَوْنَ أَخَذَهُمُ الْمَطَرُ:

د درې کسانو د اخلاص عمل واقعه: دا يو اوږد حديث دې په کوم کښې چه دَ دريو کسانو اوږده قصه ذکر ده چه په يو غار کښې ناست وو کانړې راؤرغړيدو اودَغار خله ئې بنده کړه. دريوارو کښې هريو کس خپل دَټولو نه مقبول عمل دَ الله تعالى په مخکښې دَ وسيلې په توګه پيش کړو اومقصودئې حاصل شو. دَدې نه معلومه شوه چه نيک اعمال دَ مضراتودَ دفع کولودَپاره بهترين وسيله ده. عام مفسرين اوعام سلف صالحين دَاعمالو وسيله بغيردَ څه خلاف نه قبوله کړې ده.

قوله: اَللّٰهُمَّ إِنَّهُ كَانَ لِي وَالِدَانِ شَيْخَانِ كَبِيرَانِ:

د والدين خدمت: ① په دوی کښې يوکس اووئيل. زما مور او پلار وو. چه ډير بوداګان

وو. او ما به هغوی باندې د خپل بال بچ نه وړاندې د ماښامے پئ څکول. یوه ورځ د لرګو په تلاش کښې په ما باندې ناوخته شو. او په خپل وخت راو نه رسیدم تر دې چه هغوی دواړه اوده شوی وو. ما د خپل معمول مطابق د هغوی دپاره پئ اولوشل. خو چونکه هغوی دواړه اوده شوی وو. نو ما دا بده اوګنړله. چه راویخ ئې کړم. او زه د هغوی نه وړاندې خپل بال بچ ته پئ ورکړم. نو ما د هغوی د بیداریدو انتظار کولوتر دې چه صبا شو. اوزماماشومان د لوږې د وجے زما په پښو کښې لوغړیدل. خو ما بیا هم هغوی ته پئ نه ورکول. څکه چه د مور پلار حق راته ډیر لوئے ښکاریدو آخر دا چه دا دواړه رابیدار شول. او خپل خپل پئ ئے اوڅکل. نو اوس په دې سخت او مشکل وخت کښې تا ته خپل دغه عمل وسیله کوم چه اې الله که ما دغه کارستادرضا دپاره کړې وی. نو زمونږ نه دا مصیبت لرے کړه. چه مونږ په کښې ګیریو. چه د غار په خوله کښې) دا ګټ دے. چه هغه خپل دا نیك عمل الله تعالی ته وسیله کړو.نوګټ دغار دخولے نه اخوا شو.خو دومره نه وو اخوا شوې چه دوی ترے نه بهرته راوتلې وے.

قوله: قَالَ الثَّانِي: إِنَّهُ كَانَتْ لِي بِنْتُ عَمٍّ أُحِبُّهَا كَأَشَدِّ مَا يُحِبُّ الرِّجَالُ النِّسَاءَ:

د زنا څخه پرهیز کول : ② دویم اووئیل. اې الله زما د تره لور وه. چه په ټولو خلقو کښې زما زیاته خوښه وه. او په یو روایت کښې دی. چه زما هغه دومره زیاته خوښه وه. لکه څنګه چه د ټولو نه زیاته مینه سړی د ښځو سره کوی. نو ما د هغې د نفس اراده اوکړه چه زنا ورسره اوکړم. او خپل خواهش پوره کړم خو هغه د دې کار نه) منع شوه او خپل ځان ئے زما نه بچ کړو) تر دې چه یو کال په هغې باندې قحط راغې. او ډیره تنګه شوه. نو هغه ماته د روپو غوښتلو دپاره راغله. ما ورته شپږ شلے روپئ په دې شرط ور کړې. چه زه او هغه به د زنا او بدفعلئ کولو دپاره ځان له کیږو. هغه مجبوره وه. او مجبوری په انسان هره لوبه کوی. نو غاړه ئے کیخودله او هم داسې ئے اوکړل. چه ما سره ځان له شوه کله چه ما په هغې باندې ښه قدرت بیا موندو. چه خپل خواهش ترے نه پوره کړم. او نفس خوشحاله کړم او په یو روایت کښې داسې دی. چه کله زه د هغې د دواړه پښو په مینځ کښې کیناستم. نو عین په دغه موقع کښې راته هغې او وئیل د الله نه او یریږه. په ناحقه زما د بکارت اوفرج مهر مه ماتوه. او زنا راسره مه کوه څکه ما سره دا کار کول د خاوند حق دےاو ته زما خاوند نه ئې نو چه ته ماسره دا کار کوې. دا ښکاره زنا ده نو زه د هغې نه منع شوم. او داسې هم نه وه. چه په دغه وخت کښې ما په هغې کښې څه عیب او نقص اولیدو او د هغې د وجې مے ترے نه زړه مات شو. بلکه هغه ما ته په دغه وخت کښې هم د ټولو خلقو نه زیاته خوښه وه. او زیاتی مے ورسره دا احسان اوکړو. چه کوم شپږ شلے د سرو زرو دینارونه مے ورته ورکړی وو. هغه مے ورته پریخودل. اې الله که ما

دغه کار ستا درضا او ستا د یرے نه کړې وی. نو زمونږ نه دا مصیبت لرے کړه. په کوم کښې چه مونږ بندیوان یو. او د غر نه دا ګټ لرے کړه چه کله هغه دا دعا اوکړه نو) د غه ګټ د دغې تلې خولے نه لرے شو. خو دومره نه وو. چه دوی په هغې د غار نه) بهرته راوتلی وے.

قوله اللّٰهُمَّ إِنِّي كُنْتُ اسْتَأْجَرْتُ أَجِيرًا بِفَرَقِ أَرُزٍّ،فَلَمَّا قَضَى عَمَلَهُ قَالَ: أَعْطِنِي حَقِّي:

دامانت خیال ساتل: ③ دریم او وئیل. یا الله ما په مزدورئ مزدوران نیولی وو.او هغوی نه به مے مزدوری ورکوله. صرف یو سړې داسې وو. چه خپله مزدوری نے پریخے وه. او تلے وو. نو ما د هغه مزدوری زیاته کړه. تر دې چه د هغې نه ډیر مالونه جوړ شو. نو څه موده پس هغه ماته راغې او راته ئې‌او وئیل. اې د الله بنده ما ته زما مزدوری راکړه

قوله فَقُلْتُ: اذْهَبْ إِلَى ذٰلِكَ الْبَقَرِ وَرَاعِيهَا:

مزدوری ته دمختلفو څناورو رمې ورکول: نو ما ورته او وئیل. ا ته چه څه اوبنان غواګانې ګډے او مریان وینې. دا ټوله ستا مزدوری ده.هغه راته او وئیل. اې د الله بنده ما پورې ټوقې مه کوه. ما ورته او وئیل. زه په تا پورې ټوقے نه کوم. بلکه دا ټول هر څه هم ستا دی. هغه دغه ټول هر څه واخستل. او شړل ئې. او په دغې کښې ئې هیڅ څیز هم پرې نه خودو. اې الله که ما دا کار ستا د رضا دپاره کړې وی. نو زمونږ نه هغه مصیبت لرے کړه. په کوم کښې چه مونږ بندیوان یو. نو هغه ګټه لرے شوه. او هغوی د هغې غار نه رابهر شو. او په خپله لاره روان شو.

[۴۹۳۹] دَمورډَ قدمونو لاندې جنت دې

۴۹۳۹-()[۲۹] ① وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ جَاهِمَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - ②«أَنَّ جَاهِمَةَ جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ، ③ أَرَدْتُ أَنْ أَغْزُوَ وَقَدْ جِئْتُ أَسْتَشِيرُكَ، ④ فَقَالَ: هَلْ لَكَ مِنْ أُمٍّ؟ قَالَ: نَعَمْ. ⑤ قَالَ: فَالْزَمْهَا، فَإِنَّ الْجَنَّةَ عِنْدَ رِجْلِهَا». رَوَاهُ أَحْمَدُ". وَالنَّسَائِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ① او د حضرت معاویه ابن جاهمه رضی الله عنه نه روایت دی، ② یوه ورځ حضرت جاهمه رضی الله عنه د حضور ﷺ په خدمت کې حاضر شو، عرض یې وکی، یارسول الله، ③ زه جهاد ته تلل غواړم. او دا وخت په دې سلسله کې تاسو ﷺ نه مشوره اخستو د پاره حاضر شوی یم، ④ حضور ﷺ ورته وفرمایل، آیا ستا مور ژوندی ده، هغه اوویل، هو، ⑤ نو حضور ﷺ ورته وفرمایل، بیا ته د هغه خدمت ضروري وګڼه، ځکه چې جنت د مور په قدمونو کې دی. (احمد، نسائي، بیهقي)

حل اللغات: - ① أَسْتَشِيرُكَ: مشوره درنه اخلم، ② الْزَمْهَا: ضروری اوګڼره خدمت دهغې.

¹) اخرجه النسائی فی السنن کتاب الجهاد/باب: الرخصة فی التخلف لمن له والدة (رقم-۳۱۰۴) واحمد فی المسند:۴۲۹/۳

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّ الْجَنَّةَ عِنْدَ رِجْلِهَا:

الجنة عند رجلها مطلب او د يو وهم ازاله: يعني جنت دَ مور قدمو سره خواكي دي. مطلب داچه هغې خدمت اوكړه هغه دَخدمت محتاجه ده بل څوك ئې دَخدمت نشته دي. دَهغې خدمت اوس ستا په ذمه فرض عين شوې دې. دغه صحابي لره دَدې مخصوص احوال اودَدې مجبورو او ضرورتونو دَ وجې نه نبي عليه السلام دَمور دَخدمت دَپاره مقرر كړو او په جهاد كښې دَوتلو ثواب هغه ته په دغه خدمت سره دَحاصليدو اشاره ئې اوكړه. دَدې حديث مطلب دانه دې چه دَ چامور موجود وي هغه به جهاد له نه ځي لكه بعضې حضرات چه دا وړاندې كوي. دا استدلال ځكه غلط دې چه صحابه كرام دَ زرګونو په تعداد كښې جهاد ته تلي دي نوولې دَ دغه ټولو ميندې مړې شوې وې نو ځكه جائز شو؟ دَ الله تعالى نه اوويريږئ اودَ جهاد نه انكار مه كوئ.

[٣٣٠] د مور پلار په حكم ښځې ته دَطلاق وركولو حكم

٣٣٠-()[٢٠١] ① «وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: كَانَتْ تَحْتِي امْرَأَةٌ أُحِبُّهَا، ② وَكَانَ عُمَرُ يَكْرَهُهَا، ③ فَقَالَ لِي: طَلِّقْهَا، فَأَبَيْتُ، ④ فَأَتَى عُمَرُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ، ⑤ فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- طَلِّقْهَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي، څما نكاح كې يوه ښځه وه، چې څما ډيره خوښه وه. ② ليكن څما پلار حضرت عمر رضي الله عنه هغه نه خوښوله. ③ نو هغوئ يوه ورځ ماته وويل. چې ته دې ښځې ته طلاق وركړه ما انكار وكړ. ④ بيا حضرت عمر رضي الله عنه د حضور صلى الله عليه وسلم په خدمت كې حاضر شو. او د دې خبرې ذكر يې ورسره وكړ. ⑤ نو حضور صلى الله عليه وسلم ماته وفرمايل. چې هغه ښځې ته طلاق وركړه (ترمذي. ابوداود)

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ لِي: طَلِّقْهَا، فَأَبَيْتُ:

دعمر رضى الله خپل ځولې د ښځې د طلاق حكم كول: حضرت عمر رضي الله عنه به دا نه خوښول حضرت عمر رضي الله عنه حكم وركړوچه دې ته طلاق وركړه. علماء كرام فرمائي چه دَ دې ښځې نه به حضرت عمر رضي الله عنه ته تكليف رسيدلې وي او څه معقول وجه به وه په دې وجه حضرت عمر رضي الله عنه دَ طلاق اوفرمائيل او حضوراكرم صلى الله عليه وسلم هم اوفرمائيل چه طلاق وركړه

اشكال: حضرت ابن عمر رضي الله عنه دَخپل پلار خبره ولې اونه منله تردې چه حضرت عمر رضي الله عنه ته

---

[١] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب في بر الوالدين(رقم-٥١٣٨) وابن ماجه في كتاب النكاح/ هل تحد المرأة على غير زوجها (رقم-٢٠٨٥)

دَ حضور ﷺ په وړاندې دَ ویناکولو نوبت راغلو؟

داشکال جواب: حضرت عبدالله بن عمر ﷠ به په دې ترددکښې اخته وو چه یوطرف ته دَ پلار حکم بل طرف ته دَ طلاق مبغوض کیدو باره کښې دَ حضوراکرم ﷺ ارشادات. حضرت عمر فاروق ﷠ چه په کوم حیثیت سره دَ طلاق وینا کوله هغه وجه دَهغه په نظرکښې دَبی بی دَمحبت په وجه راوچته شوې وه خوچه کله حضور ﷺ اوفرمائیل نو بیانی زر طلاق ورکړو.

دموریا پلار په حکم ښځې ته د طلاق ورکولو حکم: ددې حدیث نه خو په ظاهره دا معلومه شوه. چه کله پلار یا مور خپل ځوی ته د ښځې د طلاق حکم اوکړی.نوهغه به ورته طلاق ورکوی.خو دا حکم عام نه دې. بلکه دا په هغه وخت کښې دې. چه ښخه ئې داسې وی.چه ددین په اعتبار سره په کښې کمے وی.او په وعظ او نصیحت سره هم هغه کمے نه پوره کیږی.او د خاوند په کښې دینی نقصان وی.لکه هغه ترې نه داسې مطالبے کوی.چه هغه د شریعت نه خلاف وی.یا په کښې داسې څه خویونه اوصفتونه وی.چه هغه په معاشره کښې دبدنامۍ سبب ګرځی.نو په دې صورت کښې خو ئې د خپل مور یا پلار په حکم خپلې ښځے ته طلاق ور کولې شی.

بغیرڅه شرعی عذرد طلاق ورکولوممانعت: خو که بغیر د څه قصور او وجې نه ورسره د سخر خواخے طبیعت نه لګی.او په هغې کښې څه دینی کمزوری نه وی.او په کښې داسې عیب نه وی.چه هغه په معاشره کښې دسړی دبدنامۍ سبب ګرځی.نو په دې صورت کښې خاوند ته د دې اجازت نشته. چه دې د مور یا پلار په وینا سره خپلې بی بی ته طلاق ورکړی.او د دې مسئلے بیا د پښتنو په معاشره کښې ډیر خیال ساتل پکار دی.ځکه چه پښتانه د خپلې لور خور په طلاق ډیر خفه کیږی.ډیر کرتے د طلاق د وجې نه دښمنۍ جوړے شوی دی.نو په طلاق ورکولو کښې ډیر احتیاط پکار دې. او هسې هم په شریعت کښې طلاق ته ابغض المباحات وئیلے شوې دې. یعنی په مباحو کارونو کښې الله تعالی ته د ټولو نه ناخوښه څیز طلاق دې.

دمذکوره حدیث توجیه: باقی پاتې شو دا حدیث چه په دې کښې حضرت عمر رضی الله عنه د خپل ځو ئې نه د طلاق مطالبه کوله.او بیا نبی ﷺ هم د حضرت عمر رضی الله عنه ملګرتیا اوکړه.او عبدالله ته ئې د ښځې د طلاق حکم ورکړو. نو خامخا به په هغې کښې داسې څه صفت وو.چه دهغې ښکاره کول په ښه نه وی.او د شریعت په نظر کښې به هغه بد ګڼړلے شو. ځکه ورته نبی ﷺ د پلار د تابعدارۍ حکم ورکړو. که داسې نه وه. نو نبی ﷺ خو په خپل امت مهربانه وو. دهغوی دپاره د امت یوه معمولی ښځه هم د قابل صد همدردۍ او رحم لائقه وه.نو په دې حدیث دې څوك د خپل ځان دپاره د ښځے د

طلاق لاز نه لتیوی.([1])

[۴۳۱] اولاد دَپاره مور او پلار یا جنت دي یا دوزخ

۴۳۱-(۱) [۳۱] ① وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ② مَا حَقُّ الْوَالِدَيْنِ عَلَى وَلَدِهِمَا؟ ③ قَالَ: "هُمَا جَنَّتُكَ وَنَارُكَ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابو امامه رضی الله عنه وایي، یو سړي عرض وکړو، چې یارسول الله، ② په اولاد باندې د مور پلار څه حق دی؟ ③ حضور ﷺ ورته وفرمایل ستا مور پلار ستا د پاره جنت هم دی او دوزخ هم. (ابن ماجه)

تسهیلات:

قوله: قَالَ: "هُمَا جَنَّتُكَ وَنَارُكَ":

مورپلار د اولاد جنت: که چرې اولاد دَمورپلار دَ اطاعت حکم منلو اوخوشحالولو پوره پوره خیال اوساتلو اوهرقسم خدمت ئی اوکړو نودا والدین دَ اولاد دَ پاره جنت دي دَهغوی په رضاکېنې به اولاد ته جنت ملاویږی ګنی په بل صورت کېنې به هم دغه مورپلار دَ اولاد دَپاره دَ دوزخ او جهنم اور ثابت شي او اولاد به دوزخ ته اورسیږی.

[۴۳۲] دَمورپلار نافرمان څوک دهغوی د ناراضګئ وبال څنګه لرې کولی شي؟

۴۳۲-(۲) [۳۲] ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "② «إِنَّ الْعَبْدَ لَيَمُوتُ وَالِدَاهُ أَوْ أَحَدُهُمَا ③ وَإِنَّهُ لَهُمَا لَعَاقٌّ، ④ فَلَا يَزَالُ يَدْعُو لَهُمَا وَيَسْتَغْفِرُ لَهُمَا ⑤ حَتَّى يَكْتُبَهُ اللَّهُ بَارًّا»".

ترجمه: ① حضرت انس رضی الله عنه وایي، چی رسول الله ﷺ وفرمایل، ② هرکله چې د یو داسي سړي مور پلار مړه شي یا په دواړو کې یو مړشي، ③ چې د هغوئ نافرماني یې کوله. ④ او بیا د هغوئ د مرګ نه پس د هغوئ د پاره دعا او استغفار کوي ⑤ نو الله جل جلاله هغه نیکو کار لیکي

حل اللغات: - ① عَاقٌّ: د مور اوپلار نافرمان. ② بَارًّا: نیکوکار

تسهیلات:

قوله: فَلَا يَزَالُ يَدْعُو لَهُمَا وَيَسْتَغْفِرُ لَهُمَا حَتَّى يَكْتُبَهُ اللَّهُ بَارًّا:

د مړو خفه مور پلار د راضی کولو طریقه: یعنی دانافرمان خوئی به فرمانبردار اولیکلی شي په دې حدیث کېنې دَنافرمان بنده فرمانبردار جوړیدو ترتیب خودلې شوې دې هغه داسې چه مثلاً که دَ یوسړی مور پلار دَهغه نه خفه تلی دی اوس دَمرګ نه پس دغه سړی

[1]) بستان الصالحین)
[2]) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الأدب/باب بر الوالدین (رقم-۳۶۶۲)
[3]) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم ۷۹۰۲

له يكاردي چه هغه د خپل موريلار دپاره په كثرت سره استغفار اوكړي : هغوى دپاره دعاګانې اوغواړي دغه شان به داسې دنافرمانئ نه خارج شي بيه وبيلى شوى دي رحمت حق بهانه مى جويد "كني د مورپلار د مرګ نه پس دژوندي نافرمان خوئى دمعافئى تصور ځوك كولې شي سبحان الله الله تعالى څومره مهربان دي

قوله : فَلَا يَزَالُ يَدْعُو لَهُمَا وَيَسْتَغْفِرُ لَهُمَا :

دپلارقبر ته مسلسل دحاضريدو فائده : بعضې علماؤ وئيلى دي كه يونافرمان ځوئى د خپل پلار په قبرباندې مسلسل اووه جمعه پورې دجمعه په ورځ حاضريږى اودهغوى دپاره استغفار اودځان د پاره دعا غواړى نوالله تعالى به دا ځوئى د مور پلار په فرمانبرداره اولادكښې شامل كړي

[٣٤٣] د مورپلار اطاعت د الله اطاعت او دهغوى نافرمانى د الله نافرمانى ده

٣٤٣-() [٣٣] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "٢ «مَنْ أَصْبَحَ مُطِيعًا لِلَّهِ فِي وَالِدَيْهِ ٣ أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوحَانِ مِنَ الْجَنَّةِ، ٤ وَإِنْ كَانَ وَاحِدًا فَوَاحِدًا، ٥ وَمَنْ أَمْسَى عَاصِيًا لِلَّهِ فِي وَالِدَيْهِ ٦ أَصْبَحَ لَهُ بَابَانِ مَفْتُوحَانِ مِنَ النَّارِ ٧ إِنْ كَانَ وَاحِدًا فَوَاحِدًا" قَالَ رَجُلٌ: وَإِنْ ظَلَمَاهُ؟ ٨ قَالَ: "وَإِنْ ظَلَمَاهُ، وَإِنْ ظَلَمَاهُ، وَإِنْ ظَلَمَاهُ»".

ترجمه : ١ حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ كوم سړى چې په داسې حالت كښې صبا كړى چې هغه د مور پلار په حق كښې د الله جل جلاله فرمانبرداري كونكى وى (يعني هغه د مور پلار حقوق اداكولو سره د الله جل جلاله د حكم اطاعت كړى وى) ٣ نو هغه به په داسې حال كې صباكوي، چې د هغه د پاره د جنت دوه دروازې خلاصې وي. ٤ او كه د هغه مور پلار كې يو ژوندى وي، چې د هغه يې اطاعت او فرمانبرداري كړي ده، نويوه دروازه خلاصه وي. ٥ او كوم سړى چې په داسې حال كې صبا كړى. چې هغه د مور پلار په حق كې نافرمانى كوونكى وى (يعنى هغه د مور پلار د حقوق ادائيګى كې كوتاهي او تقصير كولو سره د الله جل جلاله د حكم نافرماني كړي وه) ٦ نو هغه په داسې حال كې صباكوي، چې د هغه د پاره د دوزخ دوه دروازې خلاصې وي. ٧ او كه په مور پلار كې يوژوندى وي، چې د هغه يي نافرماني كړي وي، نو د هغه د پاره يوه دروازه خلاصه وي (په دې ارشاد اوريدو سره) يوسړي عرض وكړو. چې يارسول الله اګر كه مور پلار په هغه ظلم وكى، ٨ حضور ﷺ وفرمايل. هو اګر كه مور پلار په هغه ظلم كړى وي، اګر كه مور پلار په هغه ظلم كړى وي، اګر كه مور پلار په هغه ظلم كړى وي.

() اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم ٧٩١٦

تسهيلات:

قوله: لله: وئيلو كښې اشاره ده چه د والدينو خدمت كول دا د الله تعالي حكم دي په دې وجه چه د والدينو خدمت سره په رزق كښې د بركت راځي نو په دې نيت او غرض سره د هغوی خدمت نه دی كول پكار بلكه د الله د حكم په وجه د والدينو اطاعت پكار دي او لا طاعة لمخلوق من معصية الخالق په وجه سره په جائز امورو كښې اطاعت كول پكار دی خو په ناجائزو كښې نه دی كول پكار د دواړو دروازو ذكر كول د فرمانبردار اولاد د عزت افزائي د پاره دی ګني جنت ته د دخول د پاره خو يوه دروازه هم كافي ده د دې نه معلوم شوه چه د مور خدمت ځان له دي او د پلار خدمت ځان له دي او ممكنه ده چه په دواړو دروازو كښې د درجاتو هم فرق وی.

قوله: وان ظلماه: نبي عليه السلام دا جمله دري ځلي اوئيله په دې كښې د والدينو د اطاعت او د فرمانبرداري اهميت ښكاره كوی او د هغوی د حقوقو د ادا كولو تاكيد ئې ډير زيات په شدت سره بيانول مقصد دي.ظلم نه مراد دنياوی نا انصافي ده ديني ګناه مراد نه ده مثلا يو پلار د خپل اولاد كښې د يو سره د لرې مينې كولو د وجه نه په هغه باندې بل بچې ته ترجيح وركوی يا د څه حق نه ئې محرومه كوی نو دا مظلوم ځوي بيا هم د خپل پلار د خدمت نه بې پرواه كيدې نشي.

[٣٣٣] مورپلار ته د رحمت په نظر سره كتل د قبول شوی حج ثواب لری

٤٩٣٣-(١) [٣٣] ١ وَعَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "٢ «مَا مِنْ وَلَدٍ بَارٍّ يَنْظُرُ إِلَى وَالِدَيْهِ نَظْرَةَ رَحْمَةٍ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ بِكُلِّ نَظْرَةٍ حَجَّةً مَبْرُورَةً". ٣ قَالُوا: وَإِنْ نَظَرَ كُلَّ يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ؟ ٤ قَالَ: "نَعَمْ، اللهُ أَكْبَرُ وَأَطْيَبُ»".

ترجمه: ١ او حضرت ابن عباس ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ٢ چې د مور پلار سره نيكي كونكی كوم هلك چې خپل پلار يا مورته د محبت او احترام په نظر وګوري. ٣ نو الله ﷻ د هغه د هر نظر په بدله كې د يو مقبول نفلي حج ثواب ليكي. ٤ صحابه ﷺ عرض وكړو. يا رسول الله. اګر كه په ورځ كې سل ځله ورته وګوري. ٥ حضور ﷺ وفرمايل هو. الله ﷻ ډير لوی او ډير پاك دی يعني ستاسو په ګمان كې چې داخبره ده چې د هر نظر په بدله كې د يو مقبول نفلي حج ثواب څرنګه ليكل كيږي. [نو دا اجر او انعام د الله ﷻ د شان او وسعت رحمت د نسبت نه هيڅ هم لرې نه دی، كه هغه وغواړي، نو د دې نه لوی اجر وركولي شي]

حل اللغات: - ① بَارٌّ: نيكي كونكې. ② مَبْرُورَةٌ: مقبول.

(١) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم ٧٨٥٦

تسهيلات:

قوله: قَالُوا: وَإِنْ نَظَرَ كُلَّ يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ:

دصحابه کرامو د تپوس کولو وجه: دا حديث نبي عليه السلام د خلقو دَ حيرانتيا لرې کولو دپاره بيان کړې دې خلق حيران شو چه کله چرې په يو نظر د شفقت سره دَ يو حج ثواب ملاويږى نو که يو سړې سل ځل دَ شفقت په نظرسره مورپلار ته ګورى نو دَ سل قبول شوو حجونو ثواب به ملاويږى نبي عليه السلام اوفرمائيل دَ الله تعالى رحمت وسيع دې هلته هيڅ تنګى نشته دې علماؤ ليکلى دى چه په دې نظر دَ شفقت سره دَ قبول شوى حج اصل ثواب ملاويږى زياتى ثواب خو به هم هغه سړى ته ملاويږى چه محنت اوکړى اوحج له لاړشى خرچ هم اوکړى او وخت هم ورکړى اومشقت هم اوچت کړى.

[۴۳۵] دَ مورپلار دَ نافرمانئ سزا په دنيا کښې هم ملاويږى

۴۳۵-()[۳۵] [۱] وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- " [۲] «كُلُّ الذُّنُوبِ يَغْفِرُ اللَّهُ مِنْهَا مَا يَشَاءُ إِلَّا عُقُوقَ الْوَالِدَيْنِ، [۳] فَإِنَّهُ يُعَجِّلُ لِصَاحِبِهِ فِي الْحَيَاةِ قَبْلَ الْمَمَاتِ» ".

ترجمه: [۱] او حضرت ابوبکره ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] د شرک نه علاوه ټول ګناهونه داسې دي، چې الله ﷻ په هغه کې څومره غواړي بخښي، خو د مور پلار د نافرماني کونکي ګناه نه بخښي، [۳] بلکي الله ﷻ د مور پلار نافرماني کونکي ته د مرګ نه مخکي د هغه په ژوند کې سزا ورکوي.

حل اللغات: - ① عُقُوقَ: نافرمانى د مور اوپلار.

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّهُ يُعَجِّلُ لِصَاحِبِهِ فِي الْحَيَاةِ قَبْلَ الْمَمَاتِ:

د حديث دوه مطلبونه: ① دَ حديث مطلب دادې چه کوم سړې دَ مورپلار دَ نافرمانئ ګناه کوى نو الله تعالى په دې دنيا کښې دَمرګ نه مخکښې هغه ته سزا ورکوى ② دَدې حديث مطلب داهم کيدې شى چه دَمورپلار په ژوند کښې الله تعالى هغه سړې په عذاب کښې راګيرکړى او مورپلار ورته ګورى دواړه احتمالات دى او دَ آخرت سزا به په خپل ځائى وى لکه چه په دې حديث کښې اعلان دې چه مور پلار ته کوم سړى هم تکليف اورسولو دَهغه سړى سزا نقد وى هغه به هم په دنيا کښې سزا خورى.

) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم ۷۸۹۰

چې څه کړې هغه به ریبې: چنانچه یوه قصه لیکلې شوې کتلې ده چه یوځوئی خپل بوډا پلار په سمندر کښې د غورزولو د پاره کله غاړې ته راؤرسیدو او هغه ئې غورزول غوښتل نو پلار ئې په خندا شو ځوئی د خندا د وجې تپوس اوکړو نو پلار ئې ونیل ماته په دې باندې خندا راغله چه ما هم خپل پلار هم د دې ځائې نه سمندر کښې غورزولې وو لیکن تا زه یوڅو قدمه وړاندې د هغه ځائې نه راوړلې یم په دې خندا راغله چه تا سره به څه کیږی ما چه څه کړی دی او ما سره څه اوشو نوما اولیدل

[۴۹۳۶] مشر رور په شان د پلار وی

٤٩٣٦-( )[٣٦] ① وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "② «حَقُّ كَبِيرِ الْإِخْوَةِ عَلَى صَغِيرِهِمْ حَقُّ الْوَالِدِ عَلَى وَلَدِهِ» ". ③ رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الْخَمْسَةَ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ ".

ترجمه: ① او حضرت سعید بن العاص رضی الله عنه وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② په کشرانو وروڼو د مشر ورور هغه حق دی کوم چې په ځوی د هغه د پلار وي. ③ دا پنځه روایتونه بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې نقل کړی دی.

تسهیلات:

قوله: حَقُّ كَبِيرِ الْإِخْوَةِ عَلَى صَغِيرِهِمْ:

دمشر وررو په کشر ورور لکه د پلار حق: د عامو خلقو خیال وی چه رور خو بس رور وی که هغه مشر وی اوکه کشر وی په دې حدیث کښې نبي علیه السلام اوخودل چه د مشر رور احترام او اکرام داسې دې لکه چه د پلار وی که چرې پلار مړشی نو مشر رور د کشرانو د پاره شفقت اورحمت اوهمدردئی کښې د پلار په شان کیدل پکاردی او په کشرانو باندې لازم دی چه هغوی دې مشر رور د پلار په شان اوګڼی

---

[1]) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم ۷۹۲۹

[۱۵] بَابُ الشَّفَقَةِ وَالرَّحْمَةِ عَلَى الْخَلْقِ

په مخلوق خدا باندې د شفقت او رحمت بيان

خلاصة الباب:

فيه خمسة وخمسون حديثاً مشتملة على سبع مسائل:

① الزجر لمن لا يرحم: ۱، ۲، ۱۶، ۱۷، ۲۲، ۲۴، ۳۷، ۴۵، ۴۶، ۴۹، ۵۳.

② الترغيب في الترحم على الناس: ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۲۰، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۲، ۴۱، ۴۳، ۴۴، ۴۷، ۴۸، ۵۰، ۵۱، ۵۲، ۵۴.

③ تخصيص من يليق لهم الرحم: ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۱۰، ۱۱، ۱۸، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۲، ۳۳، ۴۱، ۴۴، ۴۵، ۴۶، ۴۸، ۵۴، ۵۵.

④ تحريم تحزين المسلم: ۱۹.

⑤ الترغيب في تأديب الأولاد: ۳۰، ۳۱، وهذا من قبيل الشفقة.

⑥ المدافعة عن المؤمنين: ۳۴، ۳۵، ۳۶، ۳۷، ۳۹، ۴۰.

⑦ السترعلى المؤمنين: ۱۲، ۳۸، هذا من قبيل الرحمة.

دشفقة لغوي معنی: د شفقت معنی مهرباني او د اشفاق معنی د مهربانۍ په وجه د يو سړي يا يو څيز متعلق ويره كول اود دې په صله كښې (على) راځي
د لغت امام جوهري فرمائي چې نرمی والی اومهربانۍ ته وائي.

د رحمت په تعريف دوه اقوال::

① ((الرحمة هي رقة تقتضي الإحسان إلى المرحوم)) يعنی رحمت هغه نرم والي دې چې زړه په چا باندې نرم شی نوهغه ته خير رسول غواړي.

② ((الرحمة هي رقة في النفس تبعث على سوق الخيرلمن تتعدى إليه)) يعنی رحمت د نفس هغه نرموالي دې چې په چا باندې دا نرموالي راشی نوهغه ته خير رسول غواړي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۴۳۷] څوک چه په خلقو رحم نه کوي الله تعالی په هغه رحم نه کوي

۴۳۷-(۱)[۱] ① عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "②«لَا يَرْحَمُ اللهُ مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب التوحيد/باب قول الله تبارک وتعالى: {قل ادعوا الله أو ادعوا الرحمن أيا ما تدعوا فله الأسماء الحسنى} [الإسراء: ۱۱۰] (رقم-۷۳۷۶) ومسلم في كتاب الفضائل/باب رحمته صلى الله عليه وسلم الصبيان والعيال وتواضعه وفضل ذلک (رقم-۶۶ - (۲۳۱۹) والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في رحمة المسلمين (رقم-۱۹۲۲) وابن ماجه في كتاب الأدب/باب بر الوالد. والإحسان إلى البنات (رقم-۳۶۶۵)واحمد في المسند: ۳۵۸/۴

ترجمه: [١] حضرت جرير بن عبد الله رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [٢] الله تعالى به هغه سړي رحم نه کوي، يعنى هغه د خپل خاص او کامل رحمت مستحق نه ګرځوي. کوم چې په خلقو باندې رحم نه کوي (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: لَا يَرْحَمُ اللّٰهُ مَنْ لَا يَرْحَمُ النَّاسَ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه احتمالات: ① ملا علي قاري فرمائي چه د حديث نه ظاهر ښخه معلوميږي چه دا إخبار دې يعنى نبى عليه السلام خپل امت ته خبر ورکوى چې څوک چې په خلقو باندې رحم نه کوى نو الله تعالى په هغه باندې هم رحم نه کوى دامام طيبى رحمه الله د قول مطابق دا احتمال په حقيقت محمول دى

② دا جمله بد دعائيه ده په دې صورت کښې معنې دا ده چه په رحمت کامله باندې به دې نه کاميابيږى او نه به په سابقين اولين مسلمانانو کښې دده شمار کيږى. دامام طيبى رحمه الله د قول مطابق دا احتمال په مجاز محمول دى.

[٤٣٣٨] ماشوما نو سره مينه ګول رحمت دې

٤٣٣٨-() [٢] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [٢] «جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: [٣] أَتُقَبِّلُونَ الصِّبْيَانَ؟ فَمَا نُقَبِّلُهُمْ، [٤] فَقَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "أَوَأَمْلِكُ لَكَ أَنْ نَزَعَ اللّٰهُ مِنْ قَلْبِكَ الرَّحْمَةَ؟» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي، [٢] يوه ورځ د رسول الله ﷺ په خدمت کښې يو باندچي (کليوال) (باندچي (کليوال)) حاضر شو (او کوم وخت چې هغه صحابه رضي الله عنهم وليدل. چې صحابه رضي الله عنهم بچى مچوي او مينه ورسره کوي) [٣] نو هغه وويل. آيا تاسو خلق بچى ښکلوي مونږ خو بچى نه ښکلو. [٤] رسول الله ﷺ (په دې اوريدو سره) ورته وفرمايل. آيا زما په وس کښې دا خبره ده چې الله تعالى ستا د زړه نه کوم رحم او شفقت ويستلى دى. هغه را وګرځوم؟ (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① أَتُقَبِّلُونَ: آيا ته ښکلوې. مچى کوې. ② نَزَعَ: ويستلې دې.

تسهيلات:

قوله: أَتُقَبِّلُونَ الصِّبْيَانَ؟ فَمَا نُقَبِّلُهُمْ:

دماشومانو د ښکلولو استحسان: ماشومان ښکلول د رب ه رحمت اثر دې نو چه کله الله

(١) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب رحمة الولد وتقبيله ومعانقته (رقم-٥٩٩٨) ومسلم في كتاب الفضائل/باب رحمته صلى الله عليه وسلم الصبيان والعيال وتواضعه وفضل ذلك (رقم-٦٤ - (٢٣١٧) وابن ماجه في كتاب الأدب/باب بر الوالد. والإحسان إلى البنات (رقم-٣٦٦٥)

تعالي ستا زړه د رحمت او شفقت نه خالي کړي دي نو دا خبره خو زما په وس کښې نه ده چه ستا په زړه کښې د اولاد مينه واچوم دا معني به په هغه صورت کښې وی چه کله ان نزع کښې په همزه باندې فتحه اوونيلی شي او که د ان نزع په همزه باندي کسره اوونيلي شي نو بيا به معني دا وی چه زه څه کولي شم چه کله الله تعالي ستا د زړه نه د رحم جذبه ويستلی ده دواړو صورتونو کښې مطلب يو دي خو د إعراب فرق دي

[۴۹۳۹] دَ جينکو دَ پالنې خاص فضيلت

۴۹۳۹-( )[۳] [۱] وَعَنْهَا، قَالَتْ: «جَاءَتْنِي امْرَأَةٌ وَمَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا تَسْأَلُنِي، [۲] فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي غَيْرَ تَمْرَةٍ وَاحِدَةٍ، فَأَعْطَيْتُهَا إِيَّاهَا، [۳] فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا، [۴] وَلَمْ تَأْكُلْ مِنْهَا، ثُمَّ قَامَتْ فَخَرَجَتْ، [۵] فَدَخَلَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُهُ، [۶] فَقَالَ: "مَنِ ابْتُلِيَ مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ [۷] كُنَّ لَهُ سِتْرًا مِنَ النَّارِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي، يوه ورځ ماته يوه ښځه راغله. هغې سره د هغه دوه وړې لوڼه هم وې، هغه زما نه سوال وکړ يعني زما نه يې څه وغوښتل [۲] ليکن هغه وخت زما سره د يوې خرما نه علاوه بل هيڅ نه وه، ما هغه يوه خرما هغې ته ورکړه. [۳] نو هغې هغه خرما دوه ټکړې کړه، او په دواړو لوڼو کې نيمه نيمه تقسيم کړه. [۴] او خپله يې هيڅ ونه خوړل بيا واپس ولاړه او ووتله. [۵] په دې کې رسول الله ﷺ کورته تشريف راوړی. ما ورته د هغه ښځې واقعه بيان کړه، [۶] نو حضور ﷺ وفرمايل. څوك چې د خپلې يوې يا دوو يا زياتو لوڼو په وجه ابتلاء او آزمائش کې واچول شي، او هغه هغه لوڼو سره احسان او نيك سلوك وکړي، [۷] نو هغه لوڼو سره نيکي به د هغه د پاره د دوزخ د اور نه پرده جوړه شي (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① سِتْرًا: پرده.

تسهيلات:

قوله: مَنِ ابْتُلِيَ مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ بِشَيْءٍ فَأَحْسَنَ إِلَيْهِنَّ..الخ:

دجينکو په تربيت د فضيلت وجه: جينکو سره متعلق دَدې فضيلت وجه داده چه جينکۍ لوئې شي نودَ نورو خدمت کوي. دَمور پلار په کارراځی لکه چه مورپلار پنځلس شل کالو پورې دا اوپالی نودَ نورودَ فائدې دَ پاره ئې پالی دا صرف همدردی رحمت اوشفقت دې هيڅ دنياوی اغراض او مقاصد ئې مقصود نه وی په دې وجه دَ جينکو په پاللو دا ثواب ملاويږی پاتې شو هلکان نو دَهغوی په پاللو کښې دنياوی مقاصد وی چه هغوی

---

[1]) اخرجه البخاری رقم ۵۹۹۵ ومسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب فضل الإحسان إلی البنات (رقم-۱۴۷-۲۶۲۹) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی النفقة علی البنات والأخوات (رقم-۱۹۱۵) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب بر الوالد، والإحسان إلی البنات (رقم-۳۶۶۸) واحمد فی المسند:۶/۳۳

لوئی شی نو د پلار کار په ځائی کوی په دې وجه دهغوی په پاللو باندې دا ثواب نه ملاویږی او په کوموعلاقو کښې چه جينکۍ خرڅولې شی او پيسې اخستې شی کيدې شی چه هلته دا ثواب نه ملاويږی بلکه برعکس عذاب به وی د شريعت د اصولو نه هم دا شان معلوميږی

د جينکو په پيدائش د امتحان د اطلاق وجه: په دې حديث کښې د جينکو پيدائش امتحان او ازمينښت گرځولې شوې دې لهذا دا ثواب جينکو سره خاص دې او صرف دهغوی په پالنه به دا ثواب ملاويږی دلته چه دا واقعه اوکتلې شی اود مور شفقت اورحمت ته اوکتلې شی چه پخپله هيڅ نه خوری ليکن په لونړو باندې خوراك کوی دا د الله تعالی د رحمت يو نظاره ده. د الله تعالی د سلو رحمتونو نه صرف يو رحمت په دنيا کښې اثر ښائی د باقی رحمتونو ښکاره کيدل به په قيامت کښې کيږی

[٣٩٥٠] د لونړو د پرورش فضيلت

٣٩٥٠-()[٣] ① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ②((مَنْ عَالَ جَارِيَتَيْنِ حَتَّى تَبْلُغَا ③ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَنَا وَهُوَ هَكَذَا، ④ وَضَمَّ أَصَابِعَهُ)). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت انس ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ② کوم سړی چې د خپلو دوو لونړو پرورش او نگرانی وکړي، تردې چې هغه د بلوغ حد ته ورسي (يا د واده نه پس خپل خاوند ته لاړې شي) ③ نو هغه سړی به د قيامت په ورځ داسې راځي چې زه او هغه به يو بل ته داسې نزدې يو، ④ په دې ويلو سره حضور ﷺ خپلې گوتې يو ځای کولو سره وخودل (مسلم)

حل اللغات:- ① عَالَ: پرورش اوکړی. ② جَارِيَتَيْنِ: د دوه جينکو. ③ تَبْلُغَا: اورسيږی حد دبلوغ ته. بالغې شی ④ ضَمَّ: يوځائې کړې. جختې ئې کړې.

تسهيلات:

قوله: أَنَا وَهُوَ هَكَذَا، وَضَمَّ أَصَابِعَهُ:

جنت کښې نبی عليه السلام سره د يوځائې کيدو په مفهوم کښې دوه اقوال:

① په دې حديث کښې د لونړو پرورش په خوشحالی سره کول مراد دی نبي عليه السلام خپل او د والدينو په مينځ کښې کمال قرب او اتصال ظاهرولو د پاره د شهادت او مينځنې گوته په خپلو کښې يوځای کړه او وي فرمائيل چه تاسو دا گوتې څنگه د يو بل سره يوځائې وينئ نو هم دغه شان به د قيامت په ورځ زه او د دوؤ شومانو پرورش

¹) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب فضل الإحسان إلى البنات (رقم-١٤٩ - (٢٦٣١) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی النفقة علی البنات والأخوات (رقم-١٩١٤)

کونکی والدین یو بل سره نیزدي یو او په محشر کښې به هم مونږ یوځائې یو
② دویم مطلب دا هم کیدې شی چه هغوی به د قیامت په ورځ زما سره جنت ته داخلیږي.

[۴۹۵۱] د کونډو او مسکینانو د خدمت ثواب

۴۹۵۱-()[۵] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - "۲ «السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالسَّاعِي فِي سَبِيلِ اللَّهِ ۳ وَأَحْسِبُهُ قَالَ: كَالْقَائِمِ لَا يَفْتُرُ وَكَالصَّائِمِ لَا يُفْطِرُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. ۲ د کونډې ښځې او مسکیني خبر ګیري کونکی د هغه سړي په شان دی چې د الله په لار کې سعي کوي، یعنی کوم سړی چې د کونډې ښځې او مسکیني خبر ګیري کوي، او د هغوئ ضروریات پوره کولو سره د هغوئ سره حسن سلوک کوئ، نو د هغه ثواب د هغه برابردی. کوم چې د الله په لار کې جهاد کونکی او حج کونکي ته حاصلیږي. ۳ او ځما ګمان دی چې هغوئ داهم وفرمایل چې د کونډې ښځې او مسکیني خبرګیري کونکی د هغه سړي په شان دی، چې مونځ او عبادت د پاره شب بیداري کوي، او خپلې شب بیداري کې نه څه سستي کوي، او نه څه فتور او نقصان ګواراکوي، او د هغه سړي په شان دي چې د ورځې کله افطار نه کوي، چې صائم الدهر ورته وئیل کېږي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① السَّاعِي: کوشش کونکې، خبرګیری کونکې، ② الْأَرْمَلَةِ: کنډه ښځه. ③ لَا يَفْتُرُ: نقصان نه کوی،

تسهيلات:

قوله: السَّاعِي عَلَى الْأَرْمَلَةِ وَالْمِسْكِينِ كَالسَّاعِي فِي سَبِيلِ اللَّهِ:

په کونډو د صدقې کونکو ثواب: ارمله که فقیره وی نو ساعی د هغې خرچه هم اوکړی او د هغې ساتنه هم اوکړی او که ارمله غني وی نو ساعی به د هغې ساتنه اوکړی لهذا د داسې ساعی ثواب د مجاهد في سبیل الله سره برابر دي

قوله: وَأَحْسِبُهُ قَالَ: "كَالْقَائِمِ لَا يَفْتُرُ وَكَالصَّائِمِ لَا يُفْطِرُ:

داحسبه په قائل کښې درې احتمالات: ① بعضې حضراتو د دې قائل عبد الله بن سلمه خودلې دې کوم چې د بخاری او مسلم شیخ دې او د دې حدیث روایت کونکې دې او هغوی د امام مالک نه روایت کړې دې.د دې خبر صراحت امام بخاری کړې دہ.په دې الفاظ سره حضرت عبد الله بن سلمه مطلب دا دې چه زما ګمان دا دې چه د دې حدیث

() اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب الساعی علی المسکین (رقم-۶۰۰۷) ومسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب الإحسان إلی الأرملة والمسکین والیتیم (رقم-۴۱ - (۲۹۸۲) والترمذی فی کتاب المناسک، باب موضع الوقوف بعرفة (رقم-۱۹۱۹) والنسائی فی کتاب الزکاة/باب فضل الساعی علی الأرملة (رقم-۲۵۷۷) وابن ماجه فی کتاب التجارات /باب الحث علی المکاسب (رقم-۲۱۴۰) واحمد فی المسند:۳۶۱/۲

اصل راوی امام مالک دا الفاظ ''كالقائم لا يفتر'' نقل کړي دي

② که د بخاري مذکوره صراحت نه وی نو د مصابیح او د مشکات د ظاهری الفاظو نه معلومیږی چه دا جمله د ابو هریره دی او حضرت ابو هریره په دې جملې سره دا بیان کول غواړی چه زما په ګمان نبی علیه السلام كالقائم الفاظ وئیلی دی

③ په دې کښې د راوی شک وی چه نبی علیه السلام كالساعي في سبيل الله الفاظ وئيلی دی او که كالقائم لا يفتر الفاظ ئې وئیلی دی چنانچه د جامع الصغير ديو روايت څخه هم د دې تائيد کوی کیږی چه هغه امام احمد ، شيخين، امام ترمذی او ابن ماجه نقل کړی دی دهغې الفاظ داسې دی الساعي على الأرملة والمساكين كالمجاهد في سبيل الله والقائم الليل الصائم النهار

[۴۹۵۲] دَ يتيم دَ پرورش ثواب

۴۹۵۲-(۱)[۲] ① وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "② «أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ لَهُ وَلِغَيْرِهِ، فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا" ③ وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى ④ وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت سهل ابن سعد رضی الله عنه وایي، چی رسول الله ﷺ وفرمایل ② زه او د یتیم پرورش کونکي که هغه یتیم د هغه وي، یا د بل چا، په جنت کې داسې یوځای یو.
③ په دې ویلو سره حضور ﷺ د شهادت ګوتي او درمیاني ګوتي په ذریعه اشاره وکړه.
④ او د دواړو په منځ کې یې لږ شان کشادګي وساتله. (بخاري)

حل اللغات:- ① كَافِلُ: کفالت کونکې، ② السَّبَّابَة: مسواکه ګوته، دشهادت ګوته.

تسهيلات:

قوله: أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ لَهُ وَلِغَيْرِهِ، فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا:

دیتیم ددرې اطلاقات: ① یتیم هغه نابالغ هلک او جینئ ته وائی چه د هغوی والد وفات شوي وی

② په څناورو کښې یتیم هغه وړوکی بچی ته وئیلي کیږی چه د هغې مور مړه شوي وی

③ موتی (ملغلره) هغه یتیم چه په خپله سیپئ کښې یواځي وی

په حدیث کښې د یتیم څخه مراد: دلته د یتیم نه مراد انسان دي. د دې نه معلومه شوه چه د مطلق یتیم د کفالت او پرورش کولو فضیلت دي که هغه قریبي وی او که قریبي نه وی

---

[۱] اخرجه البخاری فی كتاب الأدب/باب فضل من يعول يتيمًا (رقم-۶۰۰۵)ومسلم فی كتاب الزهد والرقائق/باب الإحسان إلى الأرملة والمسكين واليتيم(رقم-۴۲ - (۲۹۸۳) وابوداود فی كتاب الأدب/باب فی من ضم اليتيم (رقم-۵۱۵۰) والترمذی فی كتاب المناسک. باب الخطبة على المنبر بعرفة (رقم-۱۹۱۸) ومالک فی الموطا كتاب الشعر باب السنة في الشعر (رقم-۵) واحمد فی المسند:۳۷۵/۲

قوله: وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا:

نبی علیه السلام سره نژدیکت: بیا نبي علیه السلام د شهادت او مینځني ګوتي سره اشاره اوکړه چه جنت کښې به زما او د یتیم پرورش کونکی په مینځ کښې به دومره قریبي علاقه او تعلق وی چه څومره د دي ګوتو په مینځ کښې دي. دا رنګ دي طرف ته هم اشاره ده چه د نبوت مرتبه چه هغه د ټولو نه اعلي درجه ده د هغې او د سخاوت په مینځ کښې څه ډیره فاصله نشته.

[۴۹۵۳] ټول مسلمانان دَیو بدن په شان دی

۴۹۵۳-()[۷] [۱] وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ [۳] كَمَثَلِ الْجَسَدِ الْوَاحِدِ [۵] إِذَا اشْتَكَى عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت نعمان ابن بشیر ﷺ وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [۲] (ای مخاطبه) ته به مؤمنان په خپلو کې یو بل سره د رحم معامله کونکی، یو بل سره محبت او تعلق لرونکی او یوبل سره د مهربانی او معاونت سلوك کولو کې داسې پیدا کې، [۴] څرنګه چې د بدن حال دی، [۵] چې د ټول بدن څه عضو خوږیږي، نو د بدن باقي اعضاء د هغه یو عضو په وجه یوبل ته نارې وهي، او بیداري او بې آرامي او درد او تکلیف کې ټول جسم ورسره شریك وي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① تَرَاحُمِهِمْ: خپل منځ کښې رحم کونکی، ② تَوَادِّهِمْ: یوبل سره محبت کونکی، ③ تَعَاطُفِهِمْ: یوبل سره مهربانی کونکی، ④ تَدَاعَى: رابلی یوبل، دعوت ورکوی، ⑤ السَّهَر: شب بیداری، شپه رونړول، ⑥ الْحُمَّى: تبه، درد اوتکلیف.

تسهیلات:

قوله: كَمَثَلِ الْجَسَدِ الْوَاحِدِ إِذَا اشْتَكَى عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ:

د مسلمانانو دپاره د اسلام د طرف نه په عالمی سطح باندې یو دستاویزی معاهده:

دَمسلمانانو دَپاره دَاسلام دَ طرف نه په عالمی سطح باندې یو دستاویزی شرعی معاهده ده چه یورنګ نسل ملك وطن ژبه دَخاندان روابطو نه بغیر به یو مسلمان دَ بل مسلمان دَ پاره همدرد اورحمت جوړیږی. کوم مسلمان چه دَبل مسلمان دَپاره داسې جذبه نه لری هغه مسلمان خوڅه چه دَانسان وئیلو مستحق نه دې. شیخ سعدی بابا فرمائی

بنی آدم اعضائے یک دیگر اند　　که در آفرینش زیک جوہر اند

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب رحمة الناس والبهائم (رقم-۶۰۱۱) ومسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب تراحم المؤمنین وتعاطفهم وتعاضدهم (رقم-۶۶ - (۲۵۸۶) واحمد فی المسند: ۲۹۸/۴

چوں عضو بدرد آورد روزگار — دیگر عضوها را نماند قرار

یو حدیث کښې راغلی دی چه ((من لم یهتم بأمور المسلمین فلیس منا)) یو بل حدیث کښې راغلی دی ((المسلمون ید علی من سواهم))

په اسلام کښې دزات هیڅ اعتبار نشته:

دَمسلمانانو دَ خپل مینځ دې همدردئی دَپاره صرف اسلام او مسلمان کیدل شرط دې. دَ ذات او حسب نسب نه جدا دَ مسلمانانو دَپاره ضروری دی چه هغوی دې دَ اوسپنې دَ دیوال په شان او دَ زنځیر دَ کړو په شان متحد او متفق وی. که هغوی لرې وی او که نیزدې وی په مشرق کښې وی او که په مغرب کښې. اقبال وئیلی:

درویش خدامست نہ شرقی ہے نہ غربی — گھر اس کا نہ دلی نہ صفاہاں نہ سمرقند

دَمسلمانانو دا اتحاد او اتفاق ماتونکې هرخیز الحاد او زندقه دې. دا اتفاق او اتحاد دَخپل مینځ تعلق او عملی کردار سره قائم دې.

ہے زندہ فقط وحدت افکار سے ملت — وحدت ہو فنا جس سے وہ الہام بھی الحاد

وحدت کی حفاظت نہیں بے قوت و بازو — آتی نہیں کچھ کام یہاں عقل خداداد

قرآن او حدیث او اسلام ټول مسلمانان خپل مینځ کښې رونړه رونړه ګرځوی او دَهغوی دَخپل مینځ تعلقات مضبوط کونکې هر کلام او سلام او تحفه تحائف ته دَقدر په نظر سره ګوری قرآن پاك مسلمانان دَعقیدې په یوه اتفاقی نقطه باندې راجمع کوی او بیائی دَ یو بل غمخوار او رور جوړه وی. لیکن نن صبا دَ ټولې دنیا مسلمانان دَ نظریاتو او افکار دَ انتشار ښکار دی. هغوی په علاقو قومونو جدا جدا حکومتونو او بلاکونو کښې تقسیم شوی دی. دَدې بنیادی وجه هم دغه ده چه دَ اتحادی نقطې تعارفی نښان "المسلمون" مرکز کمزورې کړې شوې دې

دې وخت کښې زه دَ بیت الله مخامخ رمضان ۱۴۲۶ھ ۳۰ تاریخ باندې دا کرښې لیکم آخری رمضان دې په لاکهونو انسانان جمع دی لیکن په سوچ او فکر کښې ټول ګډوډ دی دَ چا سترګې په امریکه باندې لګیدلې دی نو دَ چا سترګې دَ چین طرف ته اوچتې دی څوك هندو خوشحالوی نو څوك دَ کمیونستانو طرف ته تیټ دې. ناست په مکه یا مدینه کښې دې مګر نه ئی مکې ته اوکتل او نه ئی مدینې ته اوکتل حالانکه مسلمانان خو دَ یو وجود په شان دَ یو بل همدرد وی او دَهغوی نظر هم په خپل مرکز باندې وی

درویش خدامست نہ شرقی ہے نہ غربی — گھر اس کا نہ دلی نہ صفاہاں نہ سمرقند

[۴۹۵۳] د يو مسلمان په تکليف باندې ټولو مسلمانانو له خفګان پکار دې

۴۹۵۳-(۸)[۱] ① وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "②«الْمُؤْمِنُونَ كَرَجُلٍ وَاحِدٍ، ③ إِنِ اشْتَكَى عَيْنُهُ اشْتَكَى كُلُّهُ، ④ وَإِنِ اشْتَكَى رَأْسُهُ اشْتَكَى كُلُّهُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت نعمان ابن بشير ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② (ديو الله يورسول يودين منلو په وجه) ټول مسلمانان د يو سړي (د اعضاء او جسم) په شان دی. ③ که د هغه سترګه درديږي، نو ټول جسم بې آرامه او مضطرب وي، ④ که د هغه سر درد کوي، نو ټول بدن تکليف، محسوس کوي، دغه شان د يو مسلمان تکليف د ټولو مسلمانانو تکليف محسوس کول پکار دی. (مسلم)

حل اللغات: - ① اشْتَكَى: شکايت کوی، درديږی،

تسهيلات:

قوله اشتکى عينه: عينه مرفوع دي او په يوه نسخه کښې منصوب دي هم دغه اختلاف وروستونو مرفوعاتو کښې هم دي.

[۴۹۵۵] دَ مسلمانانو مثال دَ يو مضبوط ديوال په شان دې

۴۹۵۵-(۹)[۲] ① وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«الْمُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ ③ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا»"، ثُمَّ شَبَّكَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او د حضرت ابوموسیٰ نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ② مسلمان د مسلمان د پاره د يو بنياد په مثل دی، (يعني ټول مسلمانان مضبوطي او طاقت حاصلولو د اعتبارنه دهغه مکان په شان دی) ③ چې د هغه يوه حصه دويمه حصه مضبوطوي. په دې ويلو سره حضور ﷺ د يولاس ګوتې د دويم لاس په ګوتو کې داخل کړې (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① الْبُنْيَانِ: بنياد، مکان. ② يَشُدُّ: مضبوطوی.

په دې حديث کښې نبي عليه السلام د مسلمان تشبيه د يو داسې مکان سره ورکړې ده چه د هغې ټول اجزاء او ټولې حصې د يو بل سره يوځائې شي او ټول مکان مضبوط و پوخ شي هم دغه شان مسلمانان هم دنياوی او ديني کار د يوبل سره په شريکه مکمل کوی. بيا نبي عليه السلام د مثال ورکولو د پاره د يو لاس ګوتې د بل لاس په ګوتو کښې

[1] اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب تراحم المؤمنين وتعاطفهم وتعاضدهم (رقم-۶۷ - (۲۵۸۶) واحمد فى المسند: ۴/۲۸۶

[2] اخرجه البخارى فى كتاب الأدب/باب تعاون المؤمنين بعضهم بعضاً (رقم-۶۰۲۶) والنسائى فى كتاب الزكاة/باب أجر الخازن إذا تصدق بإذن مولاه (رقم-۲۵۶۰) واحمد فى المسند: ۴/۴۰۴

تنباسلي او دائي اوخودل چه ټول مسلمانان داسي اوسيږي او د يو بل سره محبت او موانست اولري نو يو ناقابل تسخير طاقت به جوړ شي.

[۴۹۵۶] د جائز سفارش فضيلت

۴۹۵۶-() [۱۰] ۱ وَعَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ۲ «أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَتَاهُ السَّائِلُ أَوْ صَاحِبُ الْحَاجَةِ قَالَ: ۳ "اشْفَعُوا فَلْتُؤْجَرُوا ۴ وَيَقْضِي اللَّهُ عَلَى لِسَانِ رَسُولِهِ مَا شَاءَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوموسى ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت كوي. ۲ كله چې به حضور ﷺ ته يو سائل يا حاجتمند راغلو، نو صحابه ﷺ ته به يي فرمايل. ۳ ماته د دې سړي سفارش وكړئ، چې تاسو ته د سفارش ثواب حاصل شي. ۴ او الله ﷻ چې د خپل رسول په ژبي سره كوم حكم غواړي جاري كوي يې. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① اشْفَعُوا: سفارش كوئ.

تسهيلات:

قوله: قَالَ: "اشْفَعُوا فَلْتُؤْجَرُوا:

په سفارش كولو د اجر ملاويدل: كله چه دَ يو حاجت مند دَچاطرف ته څه حاجت وى او هغه ته دَ ده رسيدل نه كيږى نو هغه مقام ته دغه حاجت مند رسول او سفارش كول ضرورى هم دى اودَ ثواب كارهم دي. دَزير بحث حديث مطلب هم دغه دي. بل دَدي حديث مصداق هغه صورت هم دي مثلاً يو سړي دَ يو كار اهل هم دي اولائق اومستحق هم دي هغه ته مناسب مقام ته رسيدوكښي مشكلات دى چا دَهغه سفارش اوكړو اوهغه ئى دَهغه مناسب مقام ته اورسولو اودا هم ممدوح اودَ ثواب كاردي.

ناجائز شفارش: دَدې برعكس يونالائق په يو مقام باندې كينولو دَپاره سفارش كول دَ قيامت دَعلامونه دى. «إذاوسد الأمر إلى غير أهله فانتظر الساعة».

دغه شان دَالله تعالى يوحكم بندولو دَپاره سفارش كول منع اوحرام دى اودغه شان دَ اشرار اومفسدينو دَپاره سفارش كول جائزنه دى. بهرحال جائز سفارش دَ ثواب كاردې كه سفارش قبول شى اوكه قبول نه شى سفارش كونكى ته ثواب ملاويږى. نن صباچونكه اكثرسفارشونه ناجائزشروع شوى دى په دې وجه لفظ دَ سفارش دَ رشوت دَ لفظ په شان بدنى سره مشهورشوي دي.

[۱] اخرجه البخاري في كتاب التوحيد/باب في المشيئة والإرادة: {وما تشاءون إلا أن يشاء الله} (رقم-۷۴۷۶) وابوداود في كتاب الأدب/باب في الرجل يستعيذ من الرجل (رقم-۵۱۰۸) والترمذي في كتاب الجهاد، باب في قتل النساء (رقم-۲۶۷۲) والنسائي في كتاب الزكاة/باب الشفاعة في الصدقة (رقم-۲۵۵۷) واحمد في المسند: ۴/۴۰۰

[۴۹۵۷] دَ ظالم سره د مدد کولو طريقه

۴۹۵۷-(۱)[۱۱] ① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ② "«انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا"، ③ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَنْصُرُهُ مَظْلُومًا، ④ فَكَيْفَ أَنْصُرُهُ ظَالِمًا؟ ⑤ قَالَ: "تَمْنَعُهُ مِنَ الظُّلْمِ، فَذٰلِكَ نَصْرُكَ إِيَّاهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ② د خپل مسلمان ورور مدد کوئ، برابره خبره که هغه ظالم وي يا مظلوم. ③ يو صحابي رضي الله عنه دا ارشاد اوريدو سره عرض وکړو، يارسول الله کوم مسلمان چې مظلوم وي. د هغه مدد خو کول يکار دي او زه پوهيږم، چې د هغه مدد څرنګه کيدي شي ④ ليکن زه د هغه مسلمان مدد څرنګه کولی شم کوم چې ظلم کوي. ⑤ حضور ﷺ ورته وفرمايل. ته هغه د ظلم نه منع کړه او د هغه د ظلم نه منع کول د هغه په حق کې ستا مدد دی. څکه چې هغه د ظلم نه منع کول ګوياهغه ته نفس او شيطان باندې قابو پيدا کولو کې مدد ورکول دي (بخاري. مسلم)

تسهيلات:

قوله: انْصُرْ أَخَاكَ ظَالِمًا أَوْ مَظْلُومًا:

ظالم سره د مدد کولو مفهوم: دا جمله به په جاهليت کښې خلقو استعمالوله او نور به ئې وئيل که تا دَ ظالم امداد اونه کړو نو دَ مظلوم امداد به څنګه اوکړې شي؟ دا دَ هغه معاشرې جاهليت او بربريت وو. کله چه دَ اسلام تعليم عام شو اونبي عليه السلام دا جمله ارشاد اوفرمائيله نو دَ صحابه کرامو فرشته صفت طبعيتونو دا دَ اسلامي اخلاق منافي اوګنړله په دې وجه نبي عليه السلام نه ئې سوال اوکړو چه دَ مظلوم امداد کولو باندې خو سرې پوهيږي دا دَ ظالم امداد څنګه کيدې شي؟ نبي عليه السلام اوفرمائيل چه کله تول يو ځائې شي او دَ ظالم لاس ئې دَ ظلم نه بند کړو او هغه د ظلم نه منع شو نو دا هغه سره دَ هميشه امداد دې چه دَ آخرت دَعذاب نه به بچ شي

[۴۹۵۸] دمسلمانانو په خپل مينځ کښې د تعلق ساتلو دپاره هدايات

۴۹۵۸-(۲)[۱۲] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، ③ لَا يَظْلِمُهُ، ④ وَلَا يُسْلِمُهُ، ⑤ وَمَنْ كَانَ فِي حَاجَةِ أَخِيهِ كَانَ اللهُ فِي حَاجَتِهِ، ⑥ وَمَنْ فَرَّجَ عَنْ مُسْلِمٍ كُرْبَةً ⑦ فَرَّجَ اللهُ عَنْهُ كُرْبَةً مِنْ كُرُبَاتِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ، ⑧ وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا ⑨ سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الإكراه/باب يمين الرجل لصاحبه: إنه أخوه [ص:۲۲]. إذا خاف عليه للقتل أو نحوه (رقم-۶۹۵۲) ومسلم في كتاب البر والصلة والآداب/باب نصر الأخ ظالمًا أو مظلومًا (رقم-۶۲ - (۲۵۸٤) والترمذي في كتاب الطلاق/ باب في اللعان (رقم-۲۲۵۵) واحمد في المسند: ۹۹/۳

[۲] اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب: لا يظلم المسلم المسلم ولا يسلمه (رقم-۲٤٤۲) ومسلم في كتاب البر والصلة والآداب/باب تحريم الظلم (رقم-۵۸ - (۲۵۸۰) والترمذي في كتاب الصلاة.باب القنوت في الوتر(رقم-۱٤۲۶)

ترجمه: ١ او د حضرت ابن عمر ﷺ نه روایت دی رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ هر مسلمان د دویم مسلمان دیني ورور دی [یعني ټول مسلمانان به په خپل منځ کې د دین اخوت تعلق لري، او د دې اعتبار نه شریعت ته هغه مقام حاصل دی، کوم چې مورته حاصل دی، او شارع ﷺ د ټول مسلمانانو دیني پلار دی، نو د دې دیني اخوت تقاضه ده چې] ٣ یو مسلمان دې په بل مسلمان ظلم نه کوي، [او هغه دې په څه هلاکت کې نه مبتلا کوي] ، ٤ او نه دې یو مسلمان بل مسلمان د هغه د دښمن په لاسونو کې پرېږدي، [بلکې د دښمن په مقابله کې دې د هغه مدد کوي] ٥ او یاد لره کوم سړی چې د یو مسلمان ورور په حاجت روائي کښې سعي او کوشش کوي، نو الله ﷻ د هغه حاجت روائي کوي. ٦ او کوم سړی چې د یو مسلمان ورور غم لري کوي [که هغه غم او تکلیف زیات وي یا کم] ٧ نو الله ﷻ به د قیامت په ورځ په غمونو کې د یولوی غم نه هغه ته نجات ورکړي. ٨ او کوم سړی چې د یو مسلمان ورور بدن یا د هغه عیب پټوي، ٩ نو الله ﷻ به د قیامت په ورځ د هغه عیب پټ کړي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① لَايُسْلِمُهُ: نه دې سپاري (دشمن ته). ② فَرَّجَ: لرې کړی، دفع کړی، تنګی لرې کړی ③ كُرْبَةً: مصیبت، تکلیف، ④ سَتَرَ: پرده.

تسهیلات:

قوله: اَلْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ:

اسلام د قومیت بنیادمقرر کول: که چرته مونږ دنیا ته اوګورو نو خلقو په مختلفو حیثیتونو سره د قومیت نعره پورته کړې ده چا د ژبې په نوم چې پښتون یو قوم دې چا د جغرافیې په لحاظ چې پاکستانانیان یو قوم دې، چا د رنګ په لحاظ سره سپین جدا قوم دې لکه څنګه چې په امریکه کښې دی، په دې ټولو نظریو کښې یوه نظریه هم داسې نه ده چې د ټولې دنیا خلق یو قوم حساب شي قربان شم د نبی علیه السلام څخه هغوی اسلام د قومیت بنیاد اوګرځول او دا ئې اوفرمائیل چا چې هم کلمه اووئیله هغه د نورو مسلمانانو ورور شو اوس په دې نظریه د ټولې دنیا مسلمانان یو قوم دې اګرچې تور او سپین وی اګرچې عربی او عجمی وی اګرچې پاکستاني او افغاني وی.

قوله: لَايَظْلِمُهُ، وَلَايُسْلِمُهُ:

په مسلمان ظلم نه کول او دشمن ته نه سپارل: یعنی مسلمان په خپل رور مسلمان باندې نه پخپله ظلم کوی او نه دَ ظلم دَپاره هغه کافرته حواله کوی. داحدیث یو دستاویزی معاهده ده. یو هغه وخت ووچې چا هغه وخت وو چې د هندوستان د یوې مسلماني خورپه فریاد عربو څخه یو اسلامی جرنیل محمدبن قاسم په سندهه باندې حمله کوی. اودلته اسلامی جندا او بیرغ لګوی لیکن نن صبا مسلمانان دې حد ته راورسیدل چې د امریکه په وینا

بعضې حکمرانان د افغانستان طالبان امریکې ته حواله کوي او دهغې په عوض د الرې اخلي قربان د ملا عمر څخه چې د افغانستان اسلامی امارت ئې قربان کړل خو اسامه مجاهد ئې امریکې ته حواله نکړل.

قوله: وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

په مسلمان پرده اچول: دَ مثال په توګه يو شريف باحياء اونيك سړې دې په هغه کښې څه عيب دې ياد بدقسمتئی نه دَهغه نه څه ګناه اوشی نودَهغې دَ پټولو ترغيب دې ځکه چه دَهغې دَ رابنکاره کولو سره به هغه سړې تباه شي او پټولو سره به دَهغه اصلاح اوشی اوهغه ته به نوې ژوند ملاؤشی. دَ حديث حکم هم دَداسې خلقو دَپاره دې

په عادی مجرمانو پرده نه اچول: دَ اشرار مفسدين اودَ عادی مجرمانو متعدی جرائم پټول جائز نه دی بلکه دَهغې بنديز کول پکاردی اودَ ختمولو فکرئی کول پکاردی. اول پخپله خبرداري ورکړه که په دې سره منع نه شي نودَ وخت حکمرانانو ته خبر ورکړه مګر نن صبا مسلمان حکمران چرته دي؟

[۴۹۵۹] يو مسلمان دې بل مسلمان سپک نه ګنړی

۴۹۵۹-()[۱۳] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "۲ «الْمُسْلِمُ أَخُو الْمُسْلِمِ، لَا يَظْلِمُهُ، وَلَا يَخْذُلُهُ، ۳ وَلَا يَحْقِرُهُ، ۴ التَّقْوَى هٰهُنَا". وَيُشِيرُ إِلَى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مِرَارٍ "۵ بِحَسْبِ امْرِءٍ مِنَ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ، ۶ كُلُّ الْمُسْلِمِ عَلَى الْمُسْلِمِ حَرَامٌ: ۷ دَمُهُ وَمَالُهُ وَعِرْضُهُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ هرمسلمان د بل مسلمان ديني ورور دی، نو يو مسلمان دي په بل مسلمان باندې ظلم نه کوي د هغه مدد او اعانت دي نه ترک کوي ۳ او هغه دي ذليل او حقير نه ګني، ۴ بيا حضور ﷺ خپلي سيني مبارکي ته دري ځلي اشاره کولو سره وفرمايل چې پرهيزګاري په دي ځای کې ده، ۵ او وي فرمايل د مسلمان د پاره دومره بدي کافي ده چې هغه خپل مسلمان ورور ذليل او حقير کړي (يعني د يومسلمان ورور ذليل او حقير کول په خپله دومره لويه خرابي ده، که هغه څه بله ګناه ونه کړي، نو د دې يوي ګناه په وجه به د مواخذي مستوجب وي) ۶ او ياد لره په مسلمان د مسلمان ټول څيزونه حرام دي، ۷ لکه د هغه وينه، د هغه مال او د هغه عزت او ابرو. (مسلم)

حل اللغات: -① لَا يَخْذُلُهُ: نه دې ذليل کوی ② لَا يَحْقِرُهُ: سپک دې نه ګنړی، ③ عِرْضُهُ: عزت او آبرو دهغه،

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب تحريم ظلم المسلم. وخذله. واحتقاره ودمه. وعرضه. وماله (رقم-۳۲ - (۲۵۶٤) وابوداود فی کتاب الأدب/باب فی الغيبة (رقم-٤۸۸۲) والترمذی فی کتاب المناسک. باب الصلاة بجمع (رقم-۱۹۲۷)واحمد فی المسند:۴۹۱/۳

تسهیلات:

قوله: اَلتَّقْوٰى هٰهُنَا". وَيُشِيْرُ إِلٰى صَدْرِهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ:

دتقوی محل: یعنی تقویٰ یو پټ امر دې دکوم تعلق چه زړه سره دې په دې وجه یو عاجز خراب حال والا کمزورې اومحتاج اوفقیر مسلمان سپک نه دی ګنړل پکار ځکه چه کیدې شی ذهغه باطن ستانه په لاکهونودرجو سره ښه او روښانه وی اوتاته ذهغې علم نه وی.دا جمله په حقیقت کښې ذدې نه ذ وړاندې جملې تاکید دې په کوم کښې چه خودلې شوی دی چه یو مسلمان سپک نه دی ګنړل پکار.

[۴۹۶۰] درې جنتیان اوپنځه دوذخیان

> ۴۹۶۰-( ) [۱۳] ⑴ وَعَنْ عِيَاضِ بْنِ حِمَارٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- "⑵ «أَهْلُ الْجَنَّةِ ثَلَاثَةٌ: ⑶ ذُوْ سُلْطَانٍ مُقْسِطٌ مُتَصَدِّقٌ مُوَفَّقٌ، ⑷ وَرَجُلٌ رَحِيْمٌ رَقِيْقُ الْقَلْبِ لِكُلِّ ذِيْ قُرْبٰى وَمُسْلِمٍ، ⑸ وَعَفِيْفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُوْ عِيَالٍ.

ترجمه: ⑴ او حضرت عیاض ابن حمار وایي، چی رسول الله ﷺ وفرمایل، ⑵ د جنتي خلقو درې قسمونه دي (یعني کوم اهل ایمان چې د دې لائق وي، چې سابقین او مقربین سره په جنت کې داخل شي، هغه په درې قسمه دی) ⑶ ① یوخو هغه حاکم دی چې عدل انصاف او د خلقوسره احسان کونکی وي، [او هغه ته د نیکو او خیرونو توفیق ورکول شوی وي] ⑷ ② دویم هغه سړی چې [په کوچنیانو اولویانو باندې] مهربانه وي، او قرابتدارو او مسلمانانو د پاره رقیق القلب یعنی نرم دل (نرم زړه والا) وي، (یعني هغه خپل پردې هریوسره د نرمي او مروت او مهرباني سلوك کونکی وي) ⑸ ۳: او دریم هغه سړی چې غیر حلال څیزونو نه ځان ساتونکی، د غیر الله په مخکې سوال کولو نه پرهیز کونکی او د اهل وعیال باره کې په الله توکل کونکی وي (یعني د اهل وعیال د محبت او د هغوئ د رزق خوف هغه په الله باندې توکل کولو نه نه منع کوي، د خلقو مخکې د سوال لاس دراز کولو او حرام او ناجائز مال حاصلولو باندې نه مجبوره وي، او نه هغه د خپل اهل وعیال په وجه علم وعمل کې مشغولیدو نه غافل کیږي)

حل اللغات:- ① ذُوْسُلْطَانٍ: د سلطنت اوحکومت مالک، بادشاه. ② مُقْسِطٌ: عادل، انصاف والا. ③ مُتَصَدِّقٌ: صدقه ورکونکې. ④ مُوَفَّقٌ: توفیق ورکړې شوې دې. ⑤ رَقِيْقٌ: نرم زړه والا. ⑥ ذِيْ قُرْبٰى: رشته دار. ⑦ عَفِيْفٌ: د حرام او حلال فرق ساتی. ⑧ مُتَعَفِّفٌ: ځان ساتونکې (د سوال نه).. ⑨ ذُوْعِيَالٍ: اهل وعیال والا.

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب الصفات التی یعرف بها فی الدنیا أهل الجنة وأهل النار (رقم- ۶۳ - (۲۸۶۵)واحمد فی المسند: ۴/۲۶۱

[۱] وَأَهْلُ النَّارِ خَمْسَةٌ: [۲] الضَّعِيفُ الَّذِي لَا زَبْرَ لَهُ، [۳] الَّذِينَ فِيكُمْ تَبَعٌ لَا يَبْغُونَ أَهْلًا وَلَا مَالًا، [۴] وَالْخَائِنُ الَّذِي لَا يَخْفَى لَهُ طَمَعٌ [۵] وَإِنْ دَقَّ إِلَّا خَانَهُ، [۶] وَرَجُلٌ لَا يُصْبِحُ وَلَا يُمْسِي إِلَّا وَهُوَ يُخَادِعُكَ عَنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ، [۷] وَذَكَرَ الْبُخْلَ أَوِ الْكَذِبَ. [۸] وَالشِّنْظِيرُ: الْفَحَّاشُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د دوزخي خلقو پنځه قسمونه دي، ايعنی هغه خلق چې د خپل بد افعال وبال کې ځملاستلو سره سره د عذاب مستوجب کېږي، هغوئ په پنځه قسمه وي، گويا دلته د هغه افعال بد او د خراب خصلتونو خرابي بيانول او د هغه سختي او شدت ښکاره کول مقصود وي، کوم چې د دوزخ د عذاب باعث دی څرنګه چې مخکې د هغه ځيزونو تعريف او مدح بيان شوی ده، کوم چې جنت ته بوتلونکي دي‌ا [۲] ① يوخو کمزور عقل والا چې د هغه د عقل کمزوری هغه د نازيبا امورو نه منع نه کړي (يعني هغه سړی چې خپل عقل باندې نفساني خواهشات او د خود غرض جذباتو غالب راتلو په وجه ثبات او استقامت ترک کوي، او گناهونو او خرابو خبرو نه منع کيدو باندې نه قادر کېږي) [۳] هغه خلق چې ستا تابع او ستا خادم دي، هغوئ ته نه د ښځې خواهش وي. او نه د مال پروا [يعنی کوم خلق چې ستاسو مالدارو او مقتدرو مخکې گرځنده په نظر راځي. او د هغوئ د خدمت او اطاعت سره ساه اخلي گرځي، د هغوئ نظر نه خو د خير ښيگړې او دوستی وي، او نه هغوئ ته واقعتًا خدمت او اطاعت سره څه غرض وي. بلکې هغوئ خو محض د خپل نفساني خواهشاتو او خود غرضي تابع وي، د هغوئ اصل مقصد ښه ښه طعامونو نه نسونه (خيټې) ډکول، د اعلیٰ درجې لباس او نور ځيزونه حاصلول وي، نه خو د خپلې ښځې پروا کوي چې د هغه په ذريعه خپل جنسي خواهش جائز طور سره پوره شي، او نه هغوئ ته د مال وزر طلب وي، چې حلال ذرائع، جائز وسائل او د محنت او مشقت په ذريعه حاصليږي، بلکې هغوئ بدکاري، حرام خوري، اجنبي ښځو او حرام او مشتبه اسبابوکي خوشحاله اوسئ. او داشی هم د انساني عقل کمزوري او د مرضمير باندې دلالت کوي. ځکه چې حلال او پاك ځيزونو نه مخ اړول او حرام او مشتبه ځيزونه مطلوب او مقصد گرځول نه خو د عقل تقاضه کيدي شي او نه د ضمير مطابق وي‌ا [۴] ② دويم سړی چې خاين او بد ديانت دی چې د هغه طمع څه پټ شی هم د هغه د لاس نه نه اوباسي. اچې هغه په هغه کې بد ديانته وسي،[۵] که هغه هرڅومره وړوکې او کمتر شی وي [يعني د هغه طمع او حرص هغه په هيڅ حال کې آرام سره ناستي ته نه پريږدي] تردې چې هغه پټ ځيزونه هم تلاش کوي، اوهرکله چې هغه ځيزونه د هغه لاس ته ورسي، نو په هغه کې هم بد ديانتي کوي، (که هغه هرڅومره بې وقعت او کمتر وي) او بعضې حضرات دا وايي، چې خفا د ظهور په معنیٰ کې هم استعماليږي، ځکه د (لَا يَخْفَى لَهُ طَمَعٌ) معنیٰ دا هم

کیدي شي چې خاین په هغه شي کې هم خیانت کوي چې د هغه مخکې نه وي، او نه د دې قابل وي چې د هغه طمع او حرص دی وشي[٦]. ③ او دریم هغه سړی دی چې سهار ماښام ستا اهل وعیال کې د دهوکه ورکولو په چکر کې وي یعنی کوم سړي ته چې ته د خپل کور والاوو حفاظت او د خپل مال و اسباب نگراني سپاري یا کوم سړی چې خپله ستا سره لګیدلی وي، او خپل عفت او پاکدامني ښکاره کولو سره دا تاثیر ورکوي چې هغه ستا د کور بار او اهل خانه حفاظت او نګراني کې مصروف دی، لیکن په حقیقت کې هغه هره لمحه ستا اهل خانه او ستا مال او اسباب باندې خراب نظر لري[٧] ④ او حضور ﷺ د بخیل او دروغجن ذکر اوکړو[٨] ⑤ او د بد خُلقو فحش ګو ذکریې وکړلو (مسلم)

حل اللغات:- ⑩زَبْرَ: عقل، رائې، هوښیارتوب. ⑪تَبَعٌ: تابع وی، پیروکار. ⑫لَا يَخْفَى: نه پټیږی. ⑬دَقَّ: معمولی، کمتر څیز. ⑭خَانَهُ: خیانت پکښې کوی. ⑮الشِّنْظِيرُ: على وزن الخِنزير بد اخلاقه. ⑯الفَحَّاشُ: بد ګویه.

تسهیلات: قوله: ذُوسُلْطَانٍ مُقْسِطٌ مُتَصَدِّقٌ مُوَفَّقٌ،

عادل حکمران او جنت: یعنی دَحکومت او سلطنت هغه مشر چه عدل او انصاف کوی او رعایاسره حسن سلوك او دَ احسان معامله ساتی اودَ الله تعالی دَ طرف نه هغوی ته دَ صحیح فیصلې کولو توفیق ورکړې شوې وی. دَهغوی هره فیصله کښې هغوی سره دَ الله تعالی توفیق امداد نصرت او اعانت شامل حال وی اودَ انجام په اعتبارسره دَ هغه فیصله مثلاً دَچا تقرر کارآمد او مفید ثابت وی. دغه شان سلطان مقسط، متصدق اوموفق به دَ اهل جنت کښې شامل وی.

قوله: وَعَفِيفٌ مُتَعَفِّفٌ ذُوعِيَالٍ

د سوال څخه ځان ساتونکې: دریم هغه سړی چې غیر حلال څیزونو نه ځان ساتونکی، د غیر الله په مخکې سوال کولو نه پرهیز کونکی او د اهل وعیال باره کې په الله توکل کونکی وي (یعني د اهل وعیال د محبت او د هغوئ د رزق خوف هغه په الله باندې توکل کولو نه نه منع کوي، د خلقو مخکې د سوال لاس دراز کولو او حرام او ناجائز مال حاصلولو باندې نه مجبوره وي، او نه هغه د خپل اهل وعیال په وجه علم وعمل کې مشغولیدو نه غافل کېږي)

قوله: الضَّعِيفُ الَّذِي لَا زَبْرَ لَهُ:

عقل بیکاره کونکې دګمراهانو تابعدار: یعنی دکمزوری عقل والا سړې دَهغه کمزورې عقل هغه دَ نامناسب حرکاتو نه نه شی منع کولې. پخپله معتوه وی دَ نورو تابع اوسیږی

او په دې كښې به قاعدګى كوى به لاروى كوى خپله څه رائې نه لرى.بس صاحب اقتدارپسې مخكښې روستوكيږى.چمچه ګيرې كښې وخت تيره وى.دَنفسانى خواهشاتو تابع اوسيږى.دَخودغرضئى په غرض سره دَهرڅه كولودپاره تياريږى.

قوله: اَلَّذِينَ فِيكُمْ تَبَعٌ:

دنكاح باوجودزنا كونكې: يعنى هغه معتوه اوبې عقل خپلې حلالې ښځې سره دَ تعلق قائمولو سوچ هم نه كوى بلكه هغه دَناجائز اوحرام په ذريعه سره خپل جنسى خواهشات پوره كولوپه فكر كښې لګيدلې وى.

قوله: لَايَبْغُونَ أَهْلًا وَلَا مَالًا:

د مذكوره جملووضاحت: يعنى دَهغه دافكر هم نه وى چه دحلال مال دګټلو څه اهميت دې اودَهغې څه قدر اوقيمت دې.بس دا بې وسه صرف خوراك اوڅښاك پيژنى مخكښې ورسره دَحلال فكرنه وى بلكه دَحرام په ګټې زيات خوشحاليږى نوداسې معتوه كم عقل خواهش پرست او چمچه ګيرى كونكې سړې دوزخى دې.

داسلام تقاضا: اسلام غواړى چه دَ ده پيروكار خود دار وى دَعزت نفس مالك وى اوپه خپلو خپوباندې په كلك اعتماد سره ولاړ وى اوهوښيار متيقظ بيدار دماغو والا وى.

قوله: وَالْخَائِنُ الَّذِى لَا يَخْفَى لَهُ طَمَعٌ وَإِنْ دَقَّ إِلَّا خَانَهُ:

خيانت ګردوزخى: مطلب دا چه داسې خائن دې چه دَهغه په نظركښې دَ وړوكى نه وړوكې څيز هم وى چه هغه دې حاصل كړي.كله چه ده ته هغه مطلوب ملاويږى نوفورى توګه په هغې كښې خيانت كوى.لكه چه دَ خيانت په شعبه كښې تباه حال سړې دې حسن بصرى رحمه الله فرمائيلى دى "الطمع فسادالدين والورع صلاحه"

قوله: وَرَجُلٌ لَا يُصْبِحُ وَلَا يُمْسِي إِلَّا وَهُوَ يُخَادِعُكَ عَنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ،

چاته دهغه د اهل وعيال په باره كښې دهوكه وركونكې: هغه سړى دى چې سهار مابنام ستا اهل وعيال كې د دهوكه وركولو په چكر كې وي يعنى كوم سړي ته چې ته د خپل كور والاوو حفاظت او د خپل مال و اسباب نګراني سپاري يا كوم سړى چې خپله ستاسره لګيدلى وي، او خپل عفت او پاكدامني ښكاره كولو سره دا تأثر دركوي چې هغه ستا د كور بار او اهل خانه حفاظت او نګراني كې مصروف دى، ليكن په حقيقت كې هغه هره لمحه ستا اهل خانه او ستا مال او اسباب باندې خراب نظر لري

قوله: وَذَكَرَ الْبُخْلَ أَوِ الْكَذِبَ.

د ,,او،، كلمه نوعيت: صحابى ته دَ رسول الله ﷺ دَ ژبې مباركې الفاظ يادنه وو په دې وجه ئى وذكر اوفرمائيل چه نبي عليه السلام دَ بخل او كذب ذكرهم كړې دې

[۴۹۶۱] خپل رور د پاره هم هغه څيز خوښ کړه کوم چې د ځان د پاره خوښوې

۴۹۶۱-()[۱۵] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ [۳] لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل، [۲] قسم دی په هغه الله چې د هغه د قدرت په لاس کې ځما ساه ده، [۳] هيڅ بنده تر هغه وخته پورې کامل مؤمن کيدی نشي. تر څو پورې چې هغه د خپل مسلمان ورور د پاره هغه شی خوښ نه کړي. کوم چې ځان د پاره خوښوي (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: حَتَّى يُحِبَّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ: اي مثل مايحب لنفسه:

د ما يحب لنفسه مطلب او مفهوم: دا مطلب نه دې چه خپل خوښ کړې شوې څيزدې بل ته ورکړي بلکه دا مطلب دې چه دَ خپلې خوښې دَ څيزپه شان دې دَخپل رور دَپاره خوښ کړي په دې کښې همدردی ده يعنی پخپله عالم دې نو چه داسې علم دې دَ بل دَپاره هم خوښ کړی پخپله دَ ښه ګاډی او ښه ګهړئی مالك دې نودغه شان ګاډې اوګهړئی دې خپل مسلمان رور دَپاره هم خوښ کړی اودَ زړه نه دې دا خواهش اوکړی چه ده سره دې هم داسې راشی

[۴۹۶۲] مسلمان دې خپل ګاوندی ته تکليف نه رسوی

۴۹۶۲-()[۱۶] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ، وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ، وَاللّٰهِ لَا يُؤْمِنُ» " [۳] قِيلَ: مَنْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ قَالَ: الَّذِي لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَايِقَهُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل، [۲] قسم دی په الله د هغه سړي ايمان (کامل) نه دی. قسم دی په الله د هغه سړي ايمان (کامل) نه دی، [۳] [کوم وخت چې حضور صلى الله عليه وسلم وضاحت ونه کی]، نو صحابه ؤ رضي الله عنهم پوښتنه وکړه، يارسول الله. هغه کوم سړی دی چې د هغه ايمان کامل نه دی، او د هغه پاره کې ستاسو دا ارشاد دی. حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل. هغه سړی چې د هغه ګاونډي د هغه د بديو او شر نه محفوظ او مامون نه وي (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① جَارُهُ: ګاوندی دهغه. ② بَوَايِقَهُ: د شرارتونو دهغه نه.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الإيمان/باب: من الإيمان أن يحب لأخيه ما يحب لنفسه (رقم-۱۳) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب الدليل على أن من خصال الإيمان أن يحب لأخيه المسلم ما يحب لنفسه من الخير (رقم-۷۲ - (۴۵) والنسائی فی کتاب الإيمان وشرائعه/باب علامة المؤمن (رقم-۵۰۳۹) واحمد فی المسند:۲۵۱/۳

[۲] اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب إثم من لا يأمن جاره بوايقه (رقم-۶۰۱۶)

تسهيلات:

قوله الَّذِي لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ:

ګاونډي سره د تعلق دوه درجې: ① محدثين حضرات فرمائي ګاونډي سره د تعلق چه اوچته درجه دا ده چې د هغه عزت کوي او هغه سره احسان کوي لکه څنګه چې په دې حديثينو کښې راځي ((فليکرم جاره)) (١) او((فليحسن الی جاره)) (٢)

② دويمه درجه دا ده چه ګاونډيانو باندې ظلم نه کوي. اوهغه دده د ضرر اوتکليف څخه محفوظ وي

يوشاعر وائي:

سب کی تکليف ہے اپنی تکليف ہر بدن اپنا بدن ہو جیسے

ترجمه:- دَ ټولو تکليف به دې خپل تکليف وي خوکه دهر چا بدن دې خپل بدن اوګڼړلو.

[٤٩٦٣] ګاونډي ته تکليف رسونکي به جنت ته نه ځي

٤٩٦٣-()[٤٧] ① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "② «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل، ② هغه سړی نجات يافته او سابقينو سره په جنت کې داخليدی نشي، چې د هغه ګاونډي د هغه د بديو او شر نه محفوظ او مامون نه وي.

تسهيلات:

قوله: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ:

دګاونډي حقوق: دَ اجمال په توګه دګاونډي يوځو حقوق دي.

① هغه ته په سلام کولو کښې ړومبې والې کول.

② هغه سره خبرې نه اوړدول.

③ باربار دَهغه دَ حال تپوس نه کول.

④ که بيمارشي نودَ هغه تپوس کول.

⑤ دَ مصيبت په وخت کښې هغه سره همدردي ښکاره کول.

⑥ دَهغه په غم کښې شريک کيدل.

⑦ دَ هغه په خوشحالئي باندې خوشحاليدل.

(١) بخاري ومسلم.(٢) بخاري ومسلم.
() اخرجه مسلم في كتاب الإيمان/باب بيان تحريم إيذاء الجار (رقم-٧٣ - (٤٦))واحمد في المسند:٢/١٣٧٣

⑧ دَ هغه د غلطو نه تجاوز كول

⑨ په ديوال يا دَ چت نه دَ هغه كورته نه كتل

⑩ دَ هغه په ديوال باندې خپل لرګى نه كيخودل

⑪ دَ هغه په صحن كښې دَ اوبو ناله تيرولو سره هغه ته تكليف نه وركول

⑫ دَ هغه دَ كور لاره نه تنګول

⑬ كه هغه لره يو څيز دَخپل كورنه په اوړلو اووينى نو هغه پسې لتون نه كول

⑭ دَ هغه په عيبونو پرده اچول

⑮ كه هغه ته څه حادثه مخې ته شي نو دَ امداد ئې كول

⑯ دَ هغه په غير موجودګئى كښې دَ هغه امداد كول

⑰ دَ هغه دَ ښځې او بال بچ خبر اخستل

⑱ دَ هغه بدى نه كول او نه اوريدل

⑲ دَ هغه دَ ښځې اووينځې نه نظر ښكته ساتل

⑳ دَ هغه ماشوم سره دَ شفقت او مهربانئى معامله كول

㉑ كه هغه دَ څه ديني يا دنياوى نقصان طرف ته قدم اوچتوى نو هغه منع كول او په صحيح لار باندې ئې اچول. دا ټول حقوق دَ رواياتونه ثابت دى كوم چه دَ احاديثو په كتابونو كښې موجود دى.

[٤٩٦٣] ګاونډي سره د ښه سلوک کولو اهميت

٤٩٦٣ - ( )[١٨] [١] وَعَنْ عَائِشَةَ وَابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] "«مَازَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ، [٣] حَتَّى ظَنَنْتُ أَنَّهُ سَيُوَرِّثُهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او بي بي عائشه ﷺ او ابن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت كوي [٢] چې حضور ﷺ وفرمايل حضرت جبرائيل ﷺ به ماته هميشه د ګاونډي د حق لحاظ ساتلو حكم راكوى. [٣] تردې چې زما سره خيال پيدا شو، چې حضرت جبرائيل ﷺ (د حكم الهي مطابق بذريعه وحي دا خبره راوړي) چې ډير نزدې ګاونډي ګان د يوبل وارث وګرځوي (بخاري، مسلم)

[١]) اخرجه البخاري فى كتاب الأدب/باب الوصاة بالجار (رقم- ٦٠١٥، ٦٠١٤) ومسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب الوصية بالجار والإحسان إليه (رقم- ١٤٠ - (٢٦٢٤) و ١٤١ - (٢٦٢٥) وابوداود فى كتاب الأدب/باب فى حق الجوار (رقم-٥١٥٢) والترمذى فى كتاب المناسک. باب التعجيل من جمع (رقم-١٩٤٢) وابن ماجه فى كتاب الأدب/باب حق الجوار (رقم-٣٦٧٣) واحمد فى المسند: ٥٢/٦ و ٨٥/٢

تسهيلات:

قوله: مَازَالَ جِبْرِيلُ يُوصِينِي بِالْجَارِ:

دګاونډي دحقوقو باره کښې دجبريل عليه السلام وصيت: حضرت جبرئيل عليه السلام به هميشه نبي عليه السلام ته د ګاونډيانو د حقوقو باره کښې حکم راوړو تر دي چه نبي عليه السلام دا خيال اوکړو چه ګيدي شی چه جبرئيل عليه السلام به په نيزدي وخت کښې دا وحي راوړی چه ګاونډيان په خپل مينځ کښې د يو بل وارثان دی دلته که د نبي عليه السلام د وراثت معامله وی نو بيا جواب دا دي چه دا د هغي وحي نه مخکښې خبره ده په کومي کښې چه د دي اطلاع ورکړي شوي وه چه مونږ انبياء کرام وراثت نه پريږدو او چه څه پريږدو نو هغه صدقه وی

[۴۹۶۵] دريو کسانو کښې دې دوه کسان خپل مينځ کښې پټې خبرې نه کوی

۴۹۶۵-()[۱۹] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الْآخَرِ [۳] حَتَّى تَخْتَلِطُوا بِالنَّاسِ، مِنْ أَجْلِ أَنْ يُحْزِنَهُ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن مسعود رضی الله عنه وايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل. [۲] که تاسو دری سړی يو ځای يي ، نو دوه سړي دي په غوږ کې داسې خبري نه کوي. چې دريم سړی يي اوريدلی نه شي، [۳] تردي چې ډير سړی ورسره يوځای شي. دا ممانعت په دي وجه دی. چې د هغه دوو سړو دافعل (يعني خپلو کې په غوږ کې خبري کول) به هغه دريم سړی غمجن کوي. (يعني هغه چې خپل مخکې هغه خلق خپل په غوږ کې خبرو کولو باندې ويني. نو خيال به کوي، چې دا دواړه شايد څما بدي بيانوي. يا څما خلاف مشوره کوي) (مسلم)

حل اللغات: - ① لَايَتَنَاجَى: پټې خبرې دې نه کوی. ② يُحْزِنَهُ: خفه کوی او غمجن کوی هغه لره

تسهيلات: قوله: إِذَا كُنْتُمْ ثَلَاثَةً فَلَا يَتَنَاجَى اثْنَانِ دُونَ الْآخَرِ:

په درې کسانو کښې د دوو خپل مينځ کښې د پټو خبرو کولو ممانعت: مثلاً په سفر کښې ياځان له ځائی کښې درې کسان يوځائی په سفر کښې دی يا مقيم دی نودا جائز نه دی چه دوه کسان دي ځان له اوږدې مشورې شروع کړی ځکه چه په دې سره به هغه سړې اوويريږی چه دا دواړه زما خلاف څه منصوبه تياروی او کله چه آبادئ ته راشی او خلقو سره ملاؤشی نو بيا دې ځان له مشورې کوی ځکه چه په دې کښې به هغه ته څه پريشانی نه وی.

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الاستئذان/باب إذا کانوا أکثر من ثلاثة فلا بأس بالمسارة والمناجاة (رقم-۶۲۹۰) ومسلم فی کتاب السلام/باب تحريم مناجاة الاثنين دون الثالث بغير رضاه (رقم-۳۷ - (۲۱۸٤) والترمذی فی کتاب الضحايا/باب ما جاء فی ذبيحة المتردية (رقم-۲۸۲۵)

[۴۹۶۶] دین اسلام ټوله خیرخواهي ده

۴۹۶۶-()[۲۰] ①وَعَنْ تَمِيمٍ الدَّارِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«الدِّينُ النَّصِيحَةُ" ثَلَاثًا. ③ قُلْنَا: لِمَنْ؟ قَالَ: "لِلَّهِ، وَلِكِتَابِهِ، وَلِرَسُولِهِ، وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ، وَعَامَّتِهِمْ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: او د حضرت تمیم داري ﷺ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② دین نصیحت دی، (یعنې نصیحت او خیر خواهي په اعمال دین کې افضل ترین عمل دی. یا نصیحت او خیرخواهي د دین یومهتم بالشان نصب العین دی) حضور ﷺ دا خبره چې دین نصیحت دی، دری ځله وفرمایل، ③ نو مونږ (یعنې صحابه ﷺ) پوښتنه وکړه دا نصیحت او خیر خواهي د چا د پاره ده حضور ﷺ وفرمایل، د الله د پاره د الله کتاب د پاره، د مسلمانانو امامانو (یعنې د اسلامي حکومت سربراهانو او علماء) د پاره او ټول مسلمانانو د پاره (مسلم)

حل اللغات:- ① النَّصِيحَةُ: خیر خواهي.

تسهیلات:

قوله: الدِّينُ النَّصِيحَةُ"......."لِلَّهِ:

د الله تعالی د پاره خیر خواهي مطلب: دَ الله تعالی دَ پاره خیرخواهي داده چه دَ هغه دین قبول کړې شي. دَ هغه په ذات او صفات کښې څوك شریك نه کړې شي. دَهغه دَ وحدانیت داسې اقرار اوکړې شي لکه څنګه چه دَ قرآن اعلان دې. دَ هغه په اوامر او نواهي باندې پوره عمل اوکړې شي او په دې کائنات او مابعد الکائنات باندې دَ هغه بادشاهي اومنلې شي اودَ هغه دَنعمتونو شکریه اداکړې شي.

قوله: وَلِكِتَابِهِ،

د الله تعالی د کتاب دپاره د خیر خواهي مطلب: دکتاب نه مراد قرآن کریم دې دَدې په حق کښې خیرخواهي داده چه دادَ الله تعالی دَ طرف نه نازل کړې شوې آخری کتاب اومنلې شي دَهرقسم تغیر تبدل اوتحریف نه دا محفوظ اومنلې شي. دَدې په احکامات او تعلیمات باندې مکمل عمل اوکړې شي اوداد ټولو انسانانودَپاره لار خودونکې کتاب اومنلې شي اودَ هرې زمانې دَپاره ددې تعلیمات مؤثر کافی اوشافی اومنلې شي.

قوله: وَلِرَسُولِهِ:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دپاره د خیر خواهي مطلب: دَ رسول نه مراد محمد رسول الله ﷺ دې. دَ رسول الله ﷺ په حق کښې خیرخواهي داده چه هغوی دَ الله تعالی رښتونې

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب بیان أن الدین النصیحة (رقم-۹۵ - (۵۵) والترمذی فی کتاب المناسک. باب الصلاة بجمع (رقم-۱۹۲۶) والنسائی فی کتاب البیعة/باب النصیحة للإمام (رقم-۴۱۹۹)

او آخری رسول اومنلي شي.هغوی سره محبت اوعقیدت اوساتلي شي.اودهغوی ﷺ تابعداری اوکړي شي دنبي علیه السلام په راوړلې شوی شریعت باندي عمل اوکړي شي دنبي علیه السلام پیغام دَدنیا دَ تولو پیغامونونه اوچت تصور کړي شي نبي علیه السلام دَ خپل ځان اوخپلو انو نه زیات محبوب اومنلي شي اودَ نبي علیه السلام اهل بیت او صحابه کرامو سره عقیدت اومحبت اوساتلي شي.دَنبي علیه السلام باره کښې دا عقیده اوساتلي شي چه کوم امانت او رسالت الله تعالی نبي علیه السلام ته حواله کړي وو هغوی په احسن طریقې سره هغه امانت انسانانوته اورسولو نبي علیه السلام دَ الله تعالی ډیر عزت دار رسول دي اودَ نورو رسولانو په شان دَدې دارفاني نه دار بقاء طرف ته تشریف ئې اوړلې دې.

قوله: وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِينَ:

د حکمرانانو په حق د خیر خواهی مطلب:دَ مسلمانانو دَ امامانو او حکمرانانو په حق کښې خیرخواهی داده چه په تولو جائز امورو کښې دَهغوی تابعداری اوکړي شي دَهرقسم بغاوت او سرکشئی نه ځان اوساتلي شي.دَهغوی دَ دیني حالت دَبهترئی دَپاره هر ممکن کوشش اوکړي شي اوهغوی په ښه دعاګانو سره یاد کړي شي.

قوله: وَعَامَّتِهِمْ:

د عام مسلمانو دپاره د خیر خواهی مطلب:یعني دَ عامو مسلمانانودَپاره دین خیرخواهي اونصیحت دي چه دَعامو مسلمانانو خیرخواهي غواړي.مطلب دادي چه سړي دَهغوی دَ دیني او دنیاوی ښیګړې طالب شي هغوی ته دَدین تعلیمات اورسوی اودَ ښیګړې دعوت عام کړي.هغوی ته دَتکلیف رسولو نه ځان اوساتي اوهغوی دَ هرقسم نقصان نه دَ بچ کولو کوشش اوکړي.هغوی سره بهتر سلوك اوساتي اودَ فائده رسولو په کوشش کښې دې لګیاوی.

[۴۹۶۷]هرمسلمان سره خیر خواهی پکار ده

۴۹۶۷-(۱)[۲۱] [۱] وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ:[۲]«بَايَعْتُ رَسُولَ اللهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-عَلَى إِقَامِ الصَّلَاةِ،[۳]وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ،وَالنُّصْحِ لِكُلِّ مُسْلِمٍ».مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱]او حضرت جریر ابن عبد الله وایي،[۲]ما د رسول الله ﷺ نه په دي خبره بیعت وکی، چې پابندي سره به مونځ کوم،[۳]زکاة به اداکوم، او د هرمسلمان په حق کې به خیرخواهي کوم.

حل اللغات:- ①النُّصْحِ: خیر خواهی،

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الشروط/باب ما يجوز من الشروط في الإسلام والأحكام والمبايعة (رقم-۲۷۱۵) ومسلم في كتاب الإيمان/باب بيان أن الدين النصيحة (رقم-۹۷ - (۵۶)

تسهيلات:

قوله: وَعَنْ جَرِيرِبْنِ عَبْدِاللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: «بَايَعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د حضرت جرير بن عبدالله رضی الله عنه بیعت:

حضرت جريربن عبدالله دَ حضوراكرم ﷺ دَ وفات نه يوځو مياشتې مخكښې اسلام راوړلي وو نبي عليه السلام هغه ته دَ هرمسلمان دَ خيرخواهئ تاكيد اوكړو هغوى په دې باندې بيعت اوكړو او په دې باندې ئى دومره عمل اوكړو چه دنيائى حيران كړه هم دَدوى يوه عجيبه قصه ده هغوى دَ يو سړي نه په درې سوه درهم باندې يو اس واخستلو اوبيائى دغه سړى ته اووئيل چه دا اس دَدريو سوو درهمونه دَ زيات قيمت دې آيا ته دا په څلور سوه درهم باندې خرڅوې؟ هغه سړى وئيل دا ستاسو مرضى ده بيا حضرت جرير ﷛ اوفرمائيل چه ستا اس دَ څلور سوا درهم نه هم دَ زيات قيمت دې ته به دا په ما باندې په پنځه سوه درهم باندې خرڅ كړې؟ هغه وئيل ستاسو مرضى ده دغه شان حضرت جرير ﷛ دَ اس قيمت پخپله زياتولو تردې چه په نهه سوا درهم باندې ئى واخستلو چا وئيل دا تاسو څه اوكړه؟ پخپله دې پيسې زياتې كړې. هغوى اوفرمائيل م نبي عليه السلام سره په دې باندې بيعت كړې دې چه دَهرمسلمان خيرخواهى به كوې دا سړې دَ اس په قيمت نه پوهيدلو نوما دَهغه خيرخواهى اوكړه. حضرت جرير بَجَلى ﷛ ډيرزيات ښائسته وو دَدې امت دَ يوسف په لقب سره به يادولې شو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٣٩٦٨] دَبدبخت سړى د زړه نه نرمى اوځى

٣٩٦٨-(١) [٢٢] [١] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ الصَّادِقَ الْمَصْدُوقَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [٣] "«لَا تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلَّا مِنْ شَقِيٍّ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] حضرت ابوهريره ﷛ وايي، [٢] ما د ابو القاسم ﷺ نه رجي صادق او مصدوق دى، واوريدل [٣] چې رحمت يعنى مخلوق خدا باندې د رحم او شفقت كولو جذبه د چا د زړه نه نشي اوخكلى خو د بدبخت سړي زړه د دې جذبې نه خالي وي (احمد، ترمذي)

حل اللغات: - ① الصَّادِقَ: رښتيا ويونكې. ② الْمَصْدُوقَ: رښتيا منلې شوې. ③ لَاتُنْزَعُ: نه ويستلې كيږى. ④ شَقِيٍّ: بدبخت.

[١] اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الأدب/باب فى الرحمة (رقم-٤٩٤٢) والترمذى فى كتاب المناسک. باب الصلاة بجمع(رقم-١٩٣٢) واحمد فى المسند:٢/٤٤٢

تسهيلات:

قوله: سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ الصَّادِقَ الْمَصْدُوقَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د مصدوق په مفهوم كښې دوه اقوال: ① هغه كس چه خلقو هغه رشتيني تسليم كړي وی ② هغه كس چه د هغه د رشتينوالی گواهی پخپله الله تعالي وركړي وی. دا دواړه لقبونه د نبي عليه السلام صفات دی نبي عليه السلام رشتيني وو تر دي چه كافرانوهم نبي عليه السلام الصادق الأمين تسليم كړي وو بلكه الله تعالي دهغه د رشتينوالی خبر وركړي دي لكه څنگه چې الله تعالى فرمائيلی دی «وَالنَّجْمِ إِذَا هَوٰى».

قوله: لَا تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلَّا مِنْ شَقِيٍّ:

دمذكوره جملې مفهوم: د دي جملې مفهوم دا دي چه كافر د خپل كفر او فاسق د خپل فسق او فجور د وجه نه خپل زړه دومره سخت كړي وی چه په هغه كښې هغه انساني جذبه بالكل ختمه شوي وی كومه چه يو انسان لره په بل انسان باندې په رحم او شفقت كولو باندي اماده كوی.

[٤٦٩٩] زمكې والو باندې تاسو رحم اوكړئ نو آسمان والا به په تاسو رحم اوكړی

٤٦٩٩-()[٢٣] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢] «الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمٰنُ، [٣] ارْحَمُوا مَنْ فِي الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت عبد الله ابن عمر ﷺ وايي چی رسول الله ﷺ وفرمايل، [٢] مخلوق خدا باندې رحم او شفقت كونكو باندې د رحمٰن رحمت نازليږي، [٣] تاسو په زمكې والاوو رحم او شفقت كوئ، چې په تاسو باندې هغه رحم وكړي چې په آسمان كې دي (ابوداؤد، ترمذي)

تسهيلات:

قوله: ارْحَمُوا مَنْ فِي الْأَرْضِ:

د زمكې په ټول مخلوق د رحم كولو مطلب: د دي نه د زمكي ټول ساه لرونكی مراد دی كه نيک وی كه بد. د بدو خلقو سره به د شفقت والا معامله په داسي صورت كښې وی چه هغه د بدئي او گناه نه منع كړي شی لكه چه ماقبل حديث كښې تير شو چه ظالم سره اعانت دا دي چه هغه د ظلم نه بند كړي شی.

---

[١] اخرجه ابو داود في السنن كتاب الأدب/باب في الرحمة (رقم-٤٩٤١) والترمذی في كتاب المناسک، باب التعجيل من جمع (رقم-١٩٤١) (رقم-١٩٤٢)

قوله: يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ:

دمن في السماء په مصداق کښې دوه احتمالات: ① د دې څخه الله تعالي مراد دي چه د هغه کمال قدرت او د هغه سلطنت په اسمان کښې دې او د هغه امر په اسمان او زمکه کښې نافذ دي

② ددې څخه فرښتې مراد دی په دی دې صورت کښې مطلب دا دي چه تاسو زمکه والو باندي د رحم و شفقت اوکړي نو اسمان کښې اوسیدونکی ملائکې به په تاسو رحم اوکړی او ستاسو په حق کښې دهغوي رحم دا دي چه هغوي به ستاسو دشمنانو او شیطانانو او د جناتو نه ستاسو حفاظت اوکړي او د شریر انسانانو نه به ستاسو حفاظت اوکړی او د الله په دربار کښې به ستاسو د پاره دعا و استغفار طلب کړی.

دآسمان په ذکر کولو کښې درې وجوهات:

① د اسمان خصوصی ذکر د شرافت د وجې کړې دي.

② چې د اسمان ذکرئي وکړو نو زمکه په کښې بطریق اولي شامله ده

③ اسمان زمکې ته هم شامل دي او زمکه د اسمان په مقابله کښې هم داسې ده لکه چه په مینځ کښې یوه کرې پرته وی.د حقارت د وجې ئي د زمکې ذکر او نه کړو.

[۴۹۷۰] په ماشومانو شفقت او د مشرانو دعزت په نه کولو زورنه

۴۹۷۰-()[۲۲] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيرَنَا، [۳] وَلَمْ يُوَقِّرْ كَبِيرَنَا، [۴] وَيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوفِ، وَيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ». [۵] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

توجه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل [۲] چې هغه سړی زمونږ د اتباعو نه نه دی چې زمونږ په کشرانو باندې رحم او شفقت نه کوي [۳] او زمونږ د مشرانو عزت نه کوی [۴] دنیکی اوښیګنې حکم ورنه کړي او د بدی وخرابې نه منع ونکړي [۵] دا روایت ترمذي نقل کړی دی او ویلي یي دي چې دا حدیث غریب دی.

حل اللغات: - ① لَمْ يُوَقِّرْ: عزت نه کوی. ② كَبِيرَ: مشر. ③ الْمَعْرُوفِ: نیکی، ④ الْمُنْكَرِ: بدی، ګناه.

قوله: لَيْسَ مِنَّا: ای من خواصنا یعني دا د براءت نه کنایه ده من لم یرحم صغیرنا و لم یوقر ای لم یعظم یعني چه څوک د مشرانو تعظیم اونه کړی.کبیرنا دا لفظ لوئي، ځوان او بوډا تولو دپاره استعمالیږی، دلته ئي د اهتمام شان د وجه نه د ورو سره د رحمت ذکر اول اوکړو اود توقیر الکبیر حکم ټولو مسلمانانو ته شامل دي بعضو وئیلی دی چه دا وعید غیر مسلمو د پاره نه دي څکه چه په هغوی کښې نه شفقت وی او نه د مشرانو عزت.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناسک. باب الدفعة من عرفة (رقم-۱۹۲۱)

[۴۹۷۱] د خپلو مشرانو د عزت نه کولو نغده سزا

۴۹۷۱-()[۲۵] [١] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «مَا أَكْرَمَ شَابٌّ شَيْخًا مِنْ أَجْلِ سِنِّهِ [٣] إِلَّا قَيَّضَ اللّٰهُ لَهُ عِنْدَ سِنِّهِ مَنْ يُكْرِمُهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت انس ﷜ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [٢] کوم خلمی چې د يو سړي د بوډاتوب په سبب تعظيم او تکريم کوي، [٣] نو الله ﷻ به د هغه د بوډاتوب په وخت يو داسي سړی مقرر کړي، چې د هغه تعظيم او خدمت به کوي (ترمذي)

حل اللغات: - ① شَابٌّ: ځوان، ② شَيْخًا: بوډا، ③ قَيَّضَ: مقرر به کړي

تسهيلات:

قوله: مَا أَكْرَمَ شَابٌّ شَيْخًا مِنْ أَجْلِ سِنِّهِ:

کشر ته د مشر د عزت بدله ملاويدل: يعنی کوم کس د بوډا سړي تعظيم کوي يا د هغه خدمت کوي نو د هغه کس به هم تعظيم و خدمت کيږي او چه کوم خلق د خپلو بوډاګانو تعظيم نه کوی بلکه د بوډاګانو تحقير کوی نو هغوی په خپله بوډاوالی کښې د خپلو کشرانو د طرف نه د تحقير او تذليل باعث جوړيږي ګويا چه په حديث شريف کښې دي طرف ته اشاره مقصود ده چه په خدمت سره د هغه ځوان عمر کښې فراخي راځی کوم چه د خپلو مشرانو او بوډاګانو تعظيم کوی.

[۴۹۷۲] د دري قسمه خلقو تعظيم کول

۴۹۷۲-()[۲۶] [١] وَعَنْ أَبِي مُوسَى قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢] «إِنَّ مِنْ إِجْلَالِ اللّٰهِ إِكْرَامُ ذِي الشَّيْبَةِ [٣] وَحَامِلِ الْقُرْآنِ غَيْرِ الْغَالِي فِيهِ [٤] وَلَا الْجَافِي عَنْهُ [٥] وَإِكْرَامُ السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [١] او حضرت ابوموسی ﷜ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [٢] د بوډا مسلمان عزت او توقير کول [٣] اود حامل قرآن [يعنی حافظ او مفسر او د قرآن خوان احترام او اکرام کول] هرکله چې هغه په قرآن کې زياتی کونکی نه وی [٤] او د هغه نه پس کيدونکی نه وي. [٥] او د عادل بادشاه، تعظيم کول منجمله د خداوندي د تعظيم نه دی (ابوداؤد، بيهقي)

حل اللغات: - ① إِجْلَالِ: تعظيم، عظمت شان، ② ذِي الشَّيْبَةِ: سپين ږيري، بوډا، ③ حَامِلُ الْقُرْآنِ: حافظ قرآن، عالم، ④ الْغَالِي: غلو کونکي، زياتي کونکي، ⑤ الْجَافِي: اعراض کونکي، هيرونکي، ⑥ الْمُقْسِطِ: عادل، انصاف کونکي.

---

(١) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب المناسک، باب الإقامة بمکة (رقم-٢٠٢٢)

(٢) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأطعمة/باب فی الفأرة تقع فی السمن (رقم-٣٨٤٣)

تسهيلات:

قوله غَيْرَ الْغَالِي فِيهِ:

دغالي مفهوم: يعنی دَ قرآن په معانيو او الفاظو کښې دَشرعي حد نه تجاوزنه کوی بل نه دې کښې شك کوی او نه خيانت کوی اونه دَ څه وسوسې ښکاروی اونه دَ اهل بدعت په شان باطل تاويلونه کوی.

قوله: وَلَا الْجَافِي عَنْهُ

د جافي مطلب: يعنی دَ قرآن احکاماتو اودَ دې تعليماتو نه اعراض کونکې اولرې تخښيدونکې نه وی اونه قرآن هيرونکې وی.

شرح السنه کښې دَ حضرت طاؤس رحمه الله نه يوروايت نقل دې په هغې کښې دَتعظيم کونکو فهرست کښې څلورم سړې هم شامل کړې شوې دې کوم چه پلاردې.

[۴۹۷۳] يتيم سره د ښه سلوك باره کې بهترين او بدترين کور

۴۹۷۳ - () [۲۷] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ، ③ وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ② دَ مسلمانانو په کورونو کې بهترين کور هغه دی چې په هغه کې يويتيم وي، او دهغه سره حسن سلوك وشي ③ او د مسلمانانو په کورنو کې بدترين کور هغه دی، چې په هغه کې يو يتيم وي او د هغه سره خراب سلوك کيږي. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① يُحْسَنُ: ښه سلوك کولې شی. ② يُسَاءُ: بدسلوك کولې شی

تسهيلات:

قوله: خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ:

يتيم څخه د ښه سلوك ترغيب: يعنی بهترين کورْ هغه دې په کوم کښې چه يتيم سره ښه سلوك کيږی اوبدترين کور هغه دې په کوم کښې چه يتيم سره بد سلوك کيږی.

قوله: وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ:

يتيم څخه د بد سلوك کولو ترهيب: د يتيم بچی سره د ناکاره سلوك مطلب دا دې چه د يتيم ده کور کسان دده د ژوند د ضرورتو په کفالت کښې غفلت او کوتاهي اوکړي، هغه ماشوم سره داسې سلوك اوکړي چه هغه ته د خپلې کمزوری او بې چارګي احساس اوشی دارنګ هغه بلا وجه اووهلې شی او تکليف ورکړې شی البته د تعليم او تربيت په

[1]) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الأدب باب حق اليتيم (رقم-۳۶۷۹)

وجه وهل يا بله سزا ورکول په بد سلوکۍ کښې نه شمارلي کيږي بلکه د تاديب په طور وهل په احسان او حسن سلوک کښې شمارلي کيږي

[۴۹۷۳] يتيم سره ښه سلوک کونکي به جنت کې د رسول الله ﷺ ملګري وي

۴۹۷۳-(۱)[۲۸] ۱ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «مَنْ مَسَحَ رَأْسَ يَتِيمٍ لَمْ يَمْسَحْهُ إِلَّا لِلَّهِ، ۳ كَانَ لَهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ تَمُرُّ عَلَيْهَا يَدُهُ حَسَنَاتٌ، ۴ وَمَنْ أَحْسَنَ إِلَى يَتِيمَةٍ أَوْ يَتِيمٍ عِنْدَهُ ۵ كُنْتُ أَنَا وَهُوَ فِي الْجَنَّةِ كَهَاتَيْنِ» وَقَرَنَ بَيْنَ أُصْبُعَيْهِ». ۶ رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو امامه رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ کوم سړی چې د څه غرض نه بغير محض د الله تعالى رضا او خوشنودي د پاره د يويتيم بچي (هلك يا جنۍ) په سر (د ميني محبت او شفقت) لاس راتير کړي، ۳ نو د هغه د پاره د يتيم د هغه ويښتانو په عوض کې (چې د هغه په لاس باندې لګيدلي وي) نيکۍ ليکل کيږي ۴ او کوم سړی چې يو يتيم (هلك يا جنۍ) سره چې د هغه پرورش او تربيت کې وي. ښه سلوك کوي (که هغه يتيم قرابتي وي يا بيګانه) ۵ نو هغه سړی او زه به په جنت کې داسې يوځای يو. او په دې ويلو سره حضور ﷺ خپله د شهادت او منځنۍ ګوتې يوځای کولو سره وخودل، چې څرنګه دا ګوتې يوبل ته نژدې دي، دغه شان زه او هغه سړی به په جنت کې يوبل ته نژدې يو، ۶ دا روايت احمد رحمه الله او ترمذي نقل کړی دی او ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: - ① شَعْرَةٍ: ويښته، ② قَرَنَ: يوځای ئې کړې.

حسنات: د دې په باره کښې علماؤ ليکلي دي چه نيکۍ د کميت او د کيفيت په اعتبار سره د مختلفو درجو وی او د دې فرق او اختلاف مدار په حسن نيت باندې دي **من احسن الى يتيمة اويتيم عنده:** د دې مطلب دا دې چه کوم کس د يتيم سره د شفقت او مهرباني سلوک اوکړی، د هغه تعليم او تربيت ته توجه ورکړی نو داسې کس به د قيامت په روځ ماسره دومره نيزدې وی لکه د دې دوه ګوتو په مينځ کښې چه څومره قرب دې، د دې نه مقصود انتهائي قرب دی.

قوله: وَمَنْ أَحْسَنَ إِلَى يَتِيمَةٍ أَوْ يَتِيمٍ عِنْدَهُ:

بعضو وئيلی دی چه او د تنويع د پاره راغی او د شک دپاره هم دلته د شک دپاره دي چه راوی ته شک اوشو چه نبي عليه السلام **يتيمة** لفظ وئيلې وو او که د **يتيم**. الحاصل د يتيم سره شفقت کونکي او خه سلوک اختيارونکی په باره کښې چه کوم د تحسين الفاظ

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في رحمة اليتيم وكفالته (رقم-۱۹۱۷) واحمد في المسند:۵/۲۶۵

استعمال شوی دی په هغې کښې د هغه کس د حسن خاتمه بشارت هم دی

[۴۹۷۵] د یتیم یا د خور او لور د پرورش کولو فضیلت

۴۹۷۵-()[۲۹] ①وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"«مَنْ آوَى يَتِيمًا إِلَى طَعَامِهِ وَشَرَابِهِ ③أَوْجَبَ اللَّهُ لَهُ الْجَنَّةَ أَلْبَتَّةَ، ④إِلَّا أَنْ يَعْمَلَ ذَنْبًا لَا يُغْفَرُ. ⑤وَمَنْ عَالَ ثَلَاثَ بَنَاتٍ أَوْ مِثْلَهُنَّ مِنَ الْأَخَوَاتِ ⑥فَأَدَّبَهُنَّ وَرَحِمَهُنَّ حَتَّى يُغْنِيَهُنَّ اللَّهُ أَوْجَبَ اللَّهُ لَهُ الْجَنَّةَ". ⑦فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَاثْنَتَيْنِ؟ ⑧قَالَ: "أَوِ اثْنَتَيْنِ" ⑨حَتَّى لَوْ قَالُوا: أَوْ وَاحِدَةً؟ لَقَالَ: وَاحِدَةً" ⑩وَمَنْ أَذْهَبَ اللَّهُ بِكَرِيمَتَيْهِ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ". ⑪قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَمَا كَرِيمَتَاهُ؟ قَالَ: "عَيْنَاهُ»". رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: ①حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ②کوم سړی چې خپل خوراك، څښاك کې يو يتيم شريك کړي، ③نو الله جل جلاله (د خپلې وعدې مطابق) هغه سړی بلاشك شبهې د جنت مستحق ګرځوي، ④خو دا چې هغه څه داسې ګناه وکړي چې د بخښلو قابله نه وي، ⑤او کوم سړی چې د دريو لونو يا دغه شان د دريو خوندو پرورش وکړي، ⑥او بيا د هغوئ تربيت وکړي، او د هغوئ سره د محبت او شفقت سلوك کوي تردې چې الله جل جلاله هغوئ بې پروا کړي هغوئ لوی شي او واده شي نو الله جل جلاله هغه د جنت مستحق ګرځوي. ⑦په دې اوريدو سره يو صحابي عرض وکړو آيا د دوو لونو يا د دوو خوندو په پرورش باندې هم دا اجر حاصليږي؟ ⑧حضور ﷺ وفرمايل، هو دوو باندې هم دا اجر حاصليږي. ⑨(راوي وايي) که صحابه رضی الله عنهم د يوې لور يا يوې خور باره کې هم پوښتنه کړې وې. نو حضور ﷺ به هم دا جواب ورکوی چې هو، په يوې باندې هم دا اجر حاصليږي. ⑩بيا حضور ﷺ وفرمايل، الله جل جلاله چې کوم سړي نه دوه خوارۀ خيزونه واخلي. نو هغه هم د جنت مستحق ګرځوي. ⑪پوښتنه وشوه يا رسول الله! دوه خوارۀ خيزونو نه څه مراد دی. وي فرمايل د هغه دوه سترګې (شرح السنه)

حل اللغات:- ①آوَى: ځائ ئې ورکړو. شريک ئې کړو. ②أَلْبَتَّةَ: خامخا. ③يُغْنِيَهُنَّ: بې پرواه کړی هغوی. ④كَرِيمَتَاهُ: دوه عزت مند. خوارۀ خيزونه.

تسهيلات:

قوله: مَنْ آوَى يَتِيمًا إِلَى طَعَامِهِ وَشَرَابِهِ أَوْجَبَ اللَّهُ لَهُ الْجَنَّةَ أَلْبَتَّةَ، إِلَّا أَنْ يَعْمَلَ ذَنْبًا لَا يُغْفَرُ:

نه معاف کيدونکې دوه قسمه اعمال:

①ددې نه مراد شرک دې ځکه چې شرک هم الله تعالى نه معاف کوی نوکه يومشرک ديتيم سره ډيرښه سلوک کوی نو الله تعالى به په دنيا کښې د هغې بدله ورکوی خو په آخرت کښې به د شرک او کفر په وجه محروم وی

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی رحمة اليتيم وکفالته (رقم-۱۹۱۷)

② حقوق العباد ترې هم مراد دی. ځکه چې الله تعالی د شرک څخه علاوه خپل نور حقونه معاف کوی خوحقوق العباد د بندګانو حق دې ددې وجې حقوق العباد نه معاف کوی

قوله: حَتَّى لَوْقَالُوا: أَوْوَاحِدَةٌ؟ لَقَالَ: وَاحِدَةٌ:

د ,,او،، په کلمه کښې درې احتمالات: ① او د د تنويع دپاره دې

② او د ,,بل،، په معنی دې.

③ او په معني د واو دې

④ او په حکم کښې د شرکت دپاره دې.

اشکال: دلته نبی علیه السلام په یووخت د نبی علیه السلام د درې لونړو یا خویندو په تربیت دجنت خوخبری بیانوی اوبیا هم په دغه وخت کښې د دوو لونړو یا خویندو په تربیت د جنت خوشخبری بیانوی ترې چې صحابی فرمائی که دیوباره کښې ترې تپوس شوې وو ،نو په دې به ئې هم زیرې ورکړې وو. اشکال دا دې چې په یووخت کښې دا حکم څنګه بدلیږی رابدلیږی د اول څخه به نبی علیه السلام د یوې یا دوو ذکرکړې وو؟

داشکال دوه جوابونه: ①دراجح مذهب مطابق الله تعالي نبي عليه السلام ته د بعضو احکامو تفويض ورکړي وو چه تاسو څنګه غواړئ حکم اوکړئ او چه څوک غواړئ منع ئې کړئ او د چا دپاره چه غواړي تخصيص اوکړي.

② رسول کريم صلي الله عليه و سلم ته د احکامو تفويض نه وو ورکړي شوي بلکه د هر سوال نه پس به د مقصود مطابق نزولِ وحي کيده.

[٤٩٧٦] د خپلو بچو ښه تربيت کول دَصدقه کولو نه غوره دی

٤٩٧٦-() [٣٠] ①وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ②«لَأَنْ يُؤَدِّبَ الرَّجُلُ وَلَدَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ» ". ③رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَنَاصِحٌ الرَّاوِي لَيْسَ عِنْدَ أَصْحَابِ الْحَدِيثِ بِالْقَوِيِّ.

ترجمه: ①او حضرت جابر ابن سمره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل. ②چې ديوانسان خپل ځوی ته د اَدَب يوه خبره ښودل، د يو صاع غله خيرات کولو نه ښه دی، ③ترمذي دا روايت نقل کړی دی، او ويلي يي دي، چې دا حديث غريب دی. او د دې يوراوي ناصح رحمه الله د محدثينو په نيز د (دحفظ او ضبط د اعتبار نه) قوي يعنی قابلِ اعتماد نه دی.

تسهيلات:

---

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی أدب الولد (رقم-١٩٥١) واحمد فی المسند:٩٦/٥

قوله: لَأَنْ يُؤَدِّبَ الرَّجُلُ وَلَدَهُ خَيْرٌ لَهُ مِنْ أَنْ يَتَصَدَّقَ بِصَاعٍ:

دخپلو بچو دتربيت د صدقې کولو څخه افضليت: دلته د تاديب نه مراد د آداب شرعيه تعليم دي چه هغه قولاً او فعلاً کيږي د دي حديث نه معلومه شوه چه د شريعت په نظر کښي د ماشومانو د صحيح تعليم او تربيت ډير زيات اهميت دي لهذا د والدينو ذمه داري دا ده چه هغوی دي خپل اولاد ته صحيح تعليم ورکړی چه هغه ديني. اخلاقي او د شرعي ادابو په قواعدو مشتمل وی

د تربيت د صدقې ورکولو څخه د افضليت درې وجوهات:

① تاديب افاده علميه ده او تصدق افاده ماليه

② د تاديب نتيجه طويل البقاء او د تصدق نتيجه سريع الفناء ده

③ ترک تاديب د عقاب باعث دي او ترک تصدق د عقاب باعث نه دي (مرقاة ج۹ ص۲۳۱)

قوله وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَنَاصِحٌ الرَّاوِي لَيْسَ عِنْدَ أَصْحَابِ الْحَدِيثِ بِالْقَوِيِّ:

دامام ترمذی د قول مطلب: يعنی دا حديث ضعيف دي ليکن دا خبره واضحه ده چه په فضائل اعمال کښي په ضعيف حديث باندي عمل کول جائز دی څنګه چه د محدثينو متفقه فيصله ده خوچې نورو نصوصو څخه متعارض نه وی.

[۴۹۷۷] بچوته د ښه ادب خودلو نه زيات بل ښه شی نشته

۴۹۷۷-(۱)[۳۱] [۱] وَعَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۲] "«مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدَهُ مِنْ نُحْلٍ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ " [۳] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا عِنْدِي حَدِيثٌ مُرْسَلٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ايوب رحمه الله ابن موسی دخپل پلار (حضرت موسی رحمه الله) نه او هغه د ايوب د نيکه (حضرت ابن سعيد رحمه الله) نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هيڅ پلار خپل خوی ته د نيک ادب او صحيح تربيت نه ښه شی نه ورکوي (ترمذي. بيهقي) [۳] ترمذي ويلي دي څما په نز د دا حديث مرسل دی

حل اللغات: - ① نَحَلَ: عطيه هديه او تحفه

تسهيلات:

قوله: مَا نَحَلَ وَالِدٌ وَلَدَهُ مِنْ نُحْلٍ أَفْضَلَ مِنْ أَدَبٍ حَسَنٍ:

بچوته د ټولو څخه ښه تحفه اودالی: هرسړې غواړی چه دخوشحالئی په موقع باندې خپلو

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی أدب الولد (رقم-۱۹۵۲) واحمد فی المسند:۵/۹۶

بچو ته تحفې او تحائف ورکړي چنانچه خلق مختلف قسم تحفې راوړي مګر په دې حديث کښې خودلې شوي دي چه د ورو ماشومانو بهترينه تحفه او ورکړه هغوی ته ادب خودل دي وجه داده چه ادب يوداسې کالې دې چه په هره زمانه اوهرعمر کښې خپل ښائست او زيبائش اوخپل ښکلا ښائي.

[۴۹۷۸]دَ بچو ښه تربيت کونکې ښځه به په جنت کې د حضور پاک ﷺ سره نزدې وی

۴۹۷۸-()[۳۲] [۱]وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]" «أَنَا وَامْرَأَةٌ سَفْعَاءُ الْخَدَّيْنِ كَهَاتَيْنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ". [۳]وَأَوْمَأَ يَزِيدُ بْنُ ذُرَيْعٍ إِلَى الْوُسْطَى وَالسَّبَّابَةِ " [۴]امْرَأَةٌ آمَتْ مِنْ زَوْجِهَا، ذَاتُ مَنْصِبٍ وَجَمَالٍ، حَبَسَتْ نَفْسَهَا عَلَى يَتَامَاهَا [۵]حَتَّى بَانُوا أَوْمَاتُوا» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱]او حضرت عوف ابن مالك اشجعي رحمه الله وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲]زه او هغه ښځه چې د هغه اننګي (د خپل اولاد د پرورش، نګراني، محنت، مشقت او ترك زينت او ارائش په وجه) تور شوی وي، د قيامت په ورځ به داسې يو. [۳]د حديث راوي يزيد ابن ذريع رحمه الله دا الفاظ بيانولو نه پس د شهادت ګوتي طرف ته اشاره کولو سره وفرمايل، چې څرنګه دا دواړي ګوتي يوبل ته نزدې وي، دغه شان د قيامت په ورځ به حضور ﷺ او هغه کونډه ښځه نزدې نزدې وي) او د تور آننګو والا ښځي [شرح کولو سره وي ښودل] [۴]چې د دې نه مراد هغه ښځه ده، چې د خپل خاوند د مرګ نه پس يا د هغه د طلاق ورکولو په وجه کونډه شوي وي، او هغه د حسين وجميل او جاه وعزت والا کيدو باوجود محض د خپل يتيم بچو د پرورش او د هغوئ د خير ښيګړې د خاطره دويمي نکاح نه ځان وساتي [۵]تردې چې هغه بچې ځيني جدا شي، يعنی لوی شي او بالغ کيدو په وجه د مور محتاج پاتي نشي، يامرګ د هغوئ په منځ کې جدائي راولي (ابوداؤد)

حل اللغات: -①سَفْعَاءُ: تور شوی وی، ②الْخَدَّيْنِ: دواړه اننګی. ③آمَتْ: کونډه شوې وی. ④ذَاتُ مَنْصِبٍ: عزت والا. عهده لرونکې. ⑤يَتَامَى:د يتيم جمع ده. ⑥بَانُوا: جدا شو.

د حديث الباب حاصل دا دي چه هغه ښځه چه د هغې واړه واړه بچې وی او خاوند ئي مړ شي يا ورله خاوند طلاق ورکړی او هغه صرف د بچو د تربيت د وجه نه دويم واده اونه کړی بلکه د بچو تربيت کښې اخته شي نو د داسې حوصله منده او صبر ناکې ښځه په باره کښې نبي عليه السلام فرمائي چه دا به د قيامت په روځ ماسره دومره نيزدې وی لکه دا دوه ګوتې. د دينه معلومه شوه چه کونډه يا مطلقه ښځه د بچو د تربيت په خاطر د عفت او پاکدامنې سره دويم واده اونه کړی نو د دې ډير زيات فضيلت راغلې دې. هان البته که

۱) اخرجه ابو داود في السنن كتاب الأدب/باب في فضل من عال يتيمًا (رقم-۵۱۴۹) واحمد في المسند: ۷۸/٤

یوه ښځه د خپل عفت او پاکدامنئ خیال نشی ساتلې نو هغه دي دویم واده اوکړی (مرقاة)

[٤٩٧٩] پلار دې خوئی له په لور باندې ترجیح نه ورکوی

٤٩٧٩-(١)[٣٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«مَنْ كَانَتْ لَهُ أُنْثَى فَلَمْ يَئِدْهَا وَلَمْ يُهِنْهَا، [٣] وَلَمْ يُؤْثِرْ وَلَدَهُ عَلَيْهَا -يَعْنِي الذُّكُورَ- أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. [٢] د کوم سړی چې لور یا خور وي، او هغه ژوندی درګور نکړي (لکه څرنګه چې په زمانه د جاهلیت کې رواج وو، چې خلقو به د فقر د خوف نه جینکئ پیدا کیدو سره ژوندی دفن کولی) نه خو هغه ذلت او حقارت سره وساتي، [٣] او نه ورکړه وغیره کې خپل ولد یعنی څوی ته په هغه باندې ترجیح ورکړي نو الله جل جلاله به هغه سابقین او صلحاء سره په جنت کې داخل کړي (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① أُنْثَى: لونړه، ② لَمْ يَئِدْهَا: ژوندئ ئې ښخې نه کړی، ③ لَمْ يُهِنْهَا: سپکوالي او حقارت ئې اونه کړی، ④ لَمْ يُؤْثِرْ: نه ترجیح ورکړې شی،

تسهیلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① أُنْثَى: أي بنت وأخت دانثي نه مراد لور او خور دواړو ته شامل دي. فلم يئدها أي لم يدفنها حية یعني هغه ئې ژوندې ښخه نه کړه لکه څنګه چه به ئې د جاهلیت په زمانه کښې د شرم د وجه نه خپلې لونړه ژوندې خخولې.

② وَلَمْ يُهِنْهَا: أي من الإهانة دا د الله تعالي دې قول طرف ته اشاره ده و إذا بشر احدهم بالأنثي ظل وجهه مسودا و هو كظيم الايه. د قام د طرف نه د خوشخبرئ د اوریدو د ویرې نه به ئې ژوندې خخولې

③ وَلَمْ يُؤْثِرْ: أي من الإيثار یعنې په محبت او سهولیاتو او تادیب وغیره کښې په لور باندې څوئي له ترجیح ورنه کړی.

[٤٩٨٠] د مسلمان رور غیبت کولکی رور لره منع کول پکار دی

٤٩٨٠-(٢)[٣٤] [١] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [٢] "«مَنِ اغْتِيبَ عِنْدَهُ أَخُوهُ الْمُسْلِمُ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى نَصْرِهِ فَنَصَرَهُ، [٣] نَصَرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ. [٤] فَإِنْ لَمْ يَنْصُرْهُ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى نَصْرِهِ؛ أَدْرَكَهُ اللَّهُ بِهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ»". رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

[١] اخرجه ابو داود فی السنن کتاب الأدب/باب فی فضل من عال یتیمًا (رقم-٥١٤٦) واحمد فی المسند: ١/٢٢٣

[٢] اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم ٣٥٣٠

ترجمه: ۱ او حضرت انس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، ۲ د کوم سړي مخکې چې د هغه د مسلمان ورور غیبت وشي، او هغه د هغه مسلمان ورور مدد وکړي، په شرط د دې چې مدد کولو باندې قادر وي، ۳ نو الله جل جلاله به په دنیا اوآخرت کې دهغه مدد وکړي، ۴ او که هغه مدد کولو باندې د قادرکیدو باوجود د هغه مدد ونه کړي، نو الله جل جلاله به په دنیا او آخرت کې د هغه مواخذه کوي (شرح السنه)

حل اللغات: - ① اغْتِيبَ: غیبت اوکړې شي

تسهیلات:

قوله: مَنِ اغْتِيبَ عِنْدَهُ أَخُوهُ الْمُسْلِمُ وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى نَصْرِهِ فَنَصَرَهُ، نَصَرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ:

غیبت کونکې د غیبت څخه د منع کولو ترغیب: غیبت کونکې کس د غیبت نه منع کول د هغه سره نصرت کول دی لهذا د غیبت نه منع کونکی کس سره به الله پاک دنیا او آخرت کښې مدد اوکړی. د غیبت کونکی په نصرت باندې د قدرت لرو باوجود ئی که منع نه کړی نو بیا به په دنیا او آخرت کښې د ده مواخذه کیږی.

[۴۹۸] دَیو مسلمان رور غیبت کونکی لره منع کونکی دپاره دَ دوزخ اور حرامیږی

۴۹۸-() [۳۵] ۱ وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ۲ «مَنْ ذَبَّ عَنْ لَحْمِ أَخِيهِ بِالْمَغِيبَةِ ۳ كَانَ حَقًّا عَلَى اللَّهِ أَنْ يُعْتِقَهُ مِنَ النَّارِ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ ".

ترجمه: ۱ او بي بي اسماء بنت یزید رضی الله عنها وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، ۲ کوم سړی چې د خپل مسلمان ورور د هغه د غوښې خوړلو نه منع کړي (یعنې د هغه مخکې د یو مسلمان ورور غیبت کېږي او هغه دې حرکت نه منع کړي) ۳ نو د هغه په الله داحق دی چې هغه د دوزخ د اور نه آزاد کړي (بیهقي)

حل اللغات: - ① ذَبَّ: اوشړی، منع کړی، ② الْمَغِيبَةِ: غیبت کول، ③ يُعْتِقَهُ: آزاد کړی

تسهیلات:

قوله: مَنْ ذَبَّ عَنْ لَحْمِ أَخِيهِ بِالْمَغِيبَةِ:

دیو کس دغیبت څخه په منع کولو د جنت زیری: یعنی غائبانه توګه باندې دَخپل مسلمان رور دَغیبت نه بل مسلمان منع کول چه ګوره روره دې وخت کښې هغه موجودنه دې زما په مخکښې دَهغه غیبت مه کوه. دې نه مخکښې دَحضرت انس رضی الله عنه دَ حدیث مطلب هم دغه شان دې. او دې نه پس راتلونکی یوڅو احادیثو مفهوم اومضمون هم دغه شان دې.

قوله: عَنْ لَحْمِ أَخِيهِ:

[۱] اخرجه احمد فی المسند: ۴۶۱/۶

د غیبت غوښې خوړلو سره د تشبیه وجه: چه کوم کس د چا غیبت کوی نو لکه چه دې د هغه غوښه خوری قرآن پاک کښې د دې بدی بیان شوې ده الله تعالی په قرآن کښې فرمائی «أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ» د غیبت کولو تشبیه ئې د غوښې خوړلو سره ورکړې ده ددې سبب دا دې چه در اصل د هغه مغتاب له (چه د چا غیبت کیږی) بې عزتی اوشوه او چونکه خپل عزت او حیا د ځان نه هم محبوبه وی اوس چه یو کس د خپل مسلمان رور د غیبت په وجه بی عزتي اوکړه نو لکه چه ده هغه هلاک کړو او د هغه غوښه ئې اوخوړه.

قوله: كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ يُعْتِقَهُ مِنَ النَّارِ:

د جهنم نه د نجات په موندلو دوه احتمالات:

① دا کس به د شروع نه د اور نه نجات موندونکې اوګرځولې شی

② هغه کس د خپلو ګناهونو د وجه نه دوزخ ته داخل شو بیا به د عذاب پوره کیدو نه پس د جهنم نه راوباسلې شی او جنت ته به داخل کړې شی.

[۴۹۸۲] یو مسلمان رور لره د غیبت نه د منع کولو ثواب

۴۹۸۲-()[۳۶] [۱] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "[۲] «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَرُدُّ عَنْ عِرْضِ أَخِيهِ [۳] إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ يَرُدَّ عَنْهُ نَارَ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» ". [۴] ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: ﴿وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ﴾ [الروم: ۴۷]. رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] او حضرت ابودرداء رضی الله عنه وایي، ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل، [۲] کوم مسلمان چې یو خپل مسلمان ورور د بي عزتي کولو یعنی د هغه غیبت کولو نه منع کړي، [۳] نو په الله باندې د هغه حق دی چې د قیامت په ورځ هغه د دوزخ د اور نه یې لرې کړي [۴] بیا حضور ﷺ خپل قول کَانَ حَقًّا ثابتولو د پاره دا آیت اووئیلو، «وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِينَ» ترجمه الله ﷻ فرمایي چې د مؤمنانو مدد کول په مونږ واجب دی. (شرح السنه)

حل اللغات: - ① عِرْضٍ: عزت.

تسهیلات:

قوله: مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَرُدُّ عَنْ عِرْضِ أَخِيهِ إِلَّا كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ يَرُدَّ عَنْهُ نَارَ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

دیو مسلمان د عزت بچ کولو فضیلت: ددې نه مراد عزت او آبرو ده دَ عرض تخصیص په دې وجه اوکړې شو چه عموماً خلق په معمولی خبرو باندې سپکاوی پسې لګي او په دې سلسله کښې احتیاط کم کوی. دارنګ عزت دَ تولو نه لوئی دولت دې تردې چه انسان

---

[۱] والترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الذب عن عرض المسلم (رقم ۱۹۳۱) واحمد فی المسند: ۴۵۰/۶

د خپل خان او مال نه هم د دې زيات حفاظت کوي.
فائده: په دې روايت سره د مسلمانانو په خپل مينځ کښې د معاملاتو تعاون او تعاضد، مضرت لرې کول او جلب منفعت او د خيرخواهئ فضيلت معلوم شو چه دا ټول امور د جنت د داخلې ذريعه او د جنهم د أور نه د حفاظت ذريعه ده

[۴۹۸۳]مسلمان رور لره د غيبت نه د منع کولو او د نه منع کولو نتيجه

۴۹۸۳-(۱)[۳۷] ⑴وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ⑵ «مَا مِنِ امْرِءٍ مُسْلِمٍ يَخْذُلُ امْرَأً مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ يُنْتَهَكُ فِيهِ حُرْمَتُهُ، وَيُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ ⑶ إِلَّا خَذَلَهُ اللَّهُ تَعَالَى فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ، ⑷ وَمَا مِنِ امْرِءٍ مُسْلِمٍ يَنْصُرُ مُسْلِمًا فِي مَوْضِعٍ يُنْتَقَصُ فِيهِ مِنْ عِرْضِهِ، وَيُنْتَهَكُ فِيهِ مِنْ حُرْمَتِهِ ⑸ إِلَّا نَصَرَهُ اللَّهُ فِي مَوْطِنٍ يُحِبُّ فِيهِ نُصْرَتَهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⑴ او د حضرت جابر ﷺ نه روايت دى، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ⑵ کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور په هغه موقع مدد ونه کى، او د غيبت کونکى د غيبت نه منع کړي چيرته چې د هغه بې حرمتي کيږي، ⑶ نو الله ﷻ به هم په دنيا او آخرت کې په هغه موقع د هغه مدد ونه کړي چيرته چې هغه د الله مدد خوښوي، ⑷ او کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور په هغه موقع مدد وکړي چيرته چې د هغه بې عزتي کيږي. ⑸ نو الله به هم په هغه موقع د هغه سړي مدد وکړي، چيرته چې د هغه د الله مدد خوښوي (ابوداؤد)
حل اللغات: - ① يَخْذُلُ: بې يارو مددګار پريښودل، يعنى شرموى ئې ② يُنْتَهَكُ: سپکوالې او بې عزتى ئې کيږى. ③ يُنْتَقَصُ: کموالې او نقصان ئې کيږى، ④ عِرْضٍ: عزت.
تسهيلات:
نوټ: د حديث د ترجمې ځخه مطلب ښکاره دې د مزيد تفصيل څه خاص ضرورت نشته

[۴۹۸۴]يو مسلمان لره د بل مسلمان عيب پټول پکار دى

۴۹۸۴-(۲)[۳۸] ⑴وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⑵ «مَنْ رَأَى عَوْرَةً فَسَتَرَهَا ⑶ كَانَ كَمَنْ أَحْيَا مَوْءُودَةً». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ.

ترجمه: ⑴ او حضرت عقبه ابن عامر ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ⑵ کوم سړى چې د يو مسلمان څه عيب ويني، او هغه پټ کړي ⑶ نو د هغه درجه به د هغه سړي برابر وي چې ژوندى دفن کړي جنۍ بچ کړي احمد او ترمذي دا روايت نقل کړى دى، او دا يې صحيح ګرځولى دى.

(۱) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الأدب/باب من رد عن مسلم غيبةً (رقم-٤٨٨٤) واحمد فى المسند: ٤/٣٠
(۲) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الأدب/باب فى الستر على المسلم (رقم-٤٨٩١) والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الستر على المسلم (رقم-١٩٣٠) واحمد فى المسند: ٤/١٤٧

حل اللغات: - ① عَوْرَةً: د بدن هغه ځاى چه دهغې په ښکاره کېدو انسان شرم محسوسوى. عيب.
② مَوْءُودَةً: ژوندئ خښه کړې شوې لور

تسهيلات:

قوله: كَـانَ كَمَنْ أَحْيَا مَوْءُودَةً:

د تشبيه وجه: دَدې تشبيه وجه داسې ده چه مثلاً يو شريف سړې دې بدقسمتئ سره دَهغه نه څه ګناه اوشوه. اوس دَ شرم دوجې نه هغه دا خواهش کوى چه افسوس زما دا عيب ښکاره نه شى او افسوس چه زه مړشم چه دَدې رسوائئ نه بچ شم. په داسې صورت کښې که څوک دَ هغه عيب پټ کړى نولکه چه ده هغه سړې راژوندې کړو ځکه چه دَهغه عيب ښکاره کېدل دَهغه دَپاره دَ مرګ برابر وو. نو په دغه پرده ساتلو کښې ثواب دې مګر ياد لرئ که يو سړې دَ يو ګناه عادت دې بار بار ګناه کوى اودَهغه دا جرم متعدى کېږى هم نودا ښکاره کول ضرورى دى پټول جائز نه دى.

[۴۹۸۵] يو مسلمان دَبل مسلمان دَپاره آئينه ده

۴۹۸۵-()[۳۹] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِنَّ أَحَدَكُمْ مِرْآةُ أَخِيهِ، ③فَإِنْ رَأَى بِهِ أَذًى فَلْيُمِطْ عَنْهُ»". ④رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَضَعَّفَهُ. ⑤وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ وَلِأَبِي دَاوُدَ: ⑥ "«الْمُؤْمِنُ مِرْآةُ الْمُؤْمِنِ، وَالْمُؤْمِنُ أَخُو الْمُؤْمِنِ، ⑦يَكُفُّ عَنْهُ ضَيْعَتَهُ، وَيَحُوطُهُ مِنْ وَرَائِهِ»".

ترجمه: ①او حضرت ابوهريره ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ②په تاسو کې هرسړى د خپل مسلمان ورور په حق کې د هينداري په شان دى، ③که تاسو په هغه کې څه عيب ووينئ نو هغه ختمي لرې کړي (يعني که په يومسلمان کې څه معيوبه خبره ووينې يا په غلط لاره يي ووينې نو په سيده لار د راوستو يي هم مخکې کوشش کوي او نرمي او شفقت سره که د زجر او تنبيه په ذريعه که هغه معيوب کولو سره وي، غرض د اصلاح او نصيحت چې کوم شرائط او قواعد دى، د هغه مطابق چې څرنګه کېدي شي هغه د بدى نه د منع کولو کوشش کوي) ④ترمذي دا روايت نقل کړى دى، او دايي ضعيف ګرځولى دى. (يعني د هغه په نزد دا حديث مذکوره الفاظ کې روايت کول د ضعف نه خالي نه دى) ⑤او د ترمذي يودويم روايت او د ابوداود په روايت کې داسې دى، ⑥چې حضور ﷺ وفرمايل يومسلمان د بل مسلمان هنداره ده، او يومسلمان د بل مسلمان ورور دى، ⑦چې هغه د هغه نه هغه عيب لرې کوي، چې په هغه کې د هغه د پاره نقصان او هلاکت دى، او د هغه په عدم موجودګى کې هم د هغه د حقوق او مفاداتو

---

[1]) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الأدب/باب فى النصيحة والحياطة (رقم-۴۹۱۸) والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى شفقة المسلم على المسلم (رقم-۱۹۲۹)

تحفظ کوي.

حل اللغات:- ①مِرْآةُ: آئینه. شیشه، ②أَذًى: تکلیف، عیب. ③فَلْيُمِطْ: نو لرې دې کړي. ④يَكُفُّ: بندوی، ⑤ضَيْعَتَهُ: ضاع نه دې ضائع کیدلو نقصان او خسارې ته وائی ⑥يَحُوطُهُ: حفاظت کوی دهغه. خیرخواهی کوی دهغه، ⑦مِنْ وَرَائِهِ: دهغه پشی شا. دهغه په غیرموجودګئ کښې.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ أَحَدَكُمْ مِرْآةُ أَخِيهِ:

د شیشې سره د تشبیه مطلب: مومن چونکه دَبل مومن رور دې نودواړه په ګټه او تاوان کښې شریك دی. که چرته په یوکښې څه عیب اونقصان وی اوبل ئی اووینی نوهغه دې فوری خبر کړي دې دَپاره چه هغه خپل ځان دَدغه عیب نه پاك کړی ځکه چه یومومن دَ بل مومن دَپاره دَ آئینې په شان دې.

د شیشې سره د تشبیه ورکولو وجه: په آئینه کښې چه کله سړې ګوری نوهرېولوئی او وړوکې عیب ورته ښکاری. نومسلمان رور له هم دَ بل مسلمان دَپاره حساس کیدل پکاردی اودَ نقصان خسران او هلاکت نه هغه بچ کول پکاردی. قاعده داده چه سړې کله خپل مخ په آئینه کښې ګوری نوکه هغه ته په مخ باندې څه داغ وغیره ښکاری نوهغه دَدې فوری ختمولو کوشش کوی. دغه شان چه کله یومومن رور بل ته دَ هغه عیب اوخودلو نوهغه له فوری دَ دغه عیب دَختمولو کوشش کول پکاردی.

قوله: وَالْمُؤْمِنُ أَخُو الْمُؤْمِنِ، يَكُفُّ عَنْهُ ضَيْعَتَهُ:

یعنی دَهغه تباهی اوهلاکت منع کوی ځکه چه دواړه په خپل مینځ کښې رونړه رونړه دی لهذا دَ یو نقصان دَ بل نقصان دې.

[۴۹۸۶] مؤمن دَمنافق دَشر نه دبچ ساتلو اودَ نه ساتلو نتیجه

۴۹۸۶-(١)[٣٠] [١] وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «مَنْ حَمَى مُؤْمِنًا مِنْ مُنَافِقٍ [٣] بَعَثَ اللهُ مَلَكًا يَحْمِي لَحْمَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ نَارِ جَهَنَّمَ، [٤] وَمَنْ رَمَى مُسْلِمًا بِشَيْءٍ يُرِيدُ بِهِ شَيْنَهُ حَبَسَهُ اللهُ عَلَى جِسْرِ جَهَنَّمَ حَتَّى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ» . رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت معاذ ابن انس ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [٢] کوم سړی چې د یومسلمان عزت د منافق د شر نه وساتي، [٣] الله ﷻ د هغه د پاره یوه فرښته رالیږي چې د قیامت په ورځ به یي د دوزخ د اور نه وساتي، [٤] او کوم سړی چې په یومسلمان باندې داسې تهمت لګوي، چې د هغه په ذریعه د هغه مقصد هغه مسلمان عیب دار جوړول او د ده حیثیت ته نقصان رسول وي نو الله ﷻ به هغه د دوزخ په پل قید کړي،

(١) اخرجه ابو داود فی السنن رقم ۴۸۸۳ واحمد فی المسند ٣/ ٤٤١

تردي چې هغه د هغه تهمت لګولو د وبال نه ووځي (ابو داؤد)

حل اللغات: - ① حَمٰى: حفاظت اوکړي، ② مَلَكًا: فرشته، ③ رَمٰى: اولي، تهمت يا بهتان اولګوي. ④ شَيْنَ: عيب، شرمول، ⑤ جِسْر: پُل،

تسهيلات:

قوله: مَنْ حَمٰى مُؤْمِنًا مِنْ مُنَافِقٍ:

د منافق نه څه مراد دی: دلته دَمنافق نه غيبت کونکې مسلمان مراد دې ځکه چه منافق مخامخ ډير خوږ وی مګر پشی شا دښمن وی دغه شان منافق په ژبه سره دَ دوستئ مظاهره کوی مګر په زړه کښې دښمنی لري. دَغيبت کونکی مسلمان معامله هم دَدغه منافق په شان ده په دې وجه په دې حديث کښې هغه دَ منافق په لفظ سره ياد کړې شوې دې

قوله: حَتّٰى يَخْرُجَ مِمَّا قَالَ:

د پاک کيدلو صورتونه: يعنی ترکومې پورې چه دَ دغه ګناه نه پاکيږی نه په پل صراط باندې به ولاړ وی ① دَ پاکيدو صورت دادې چه صاحب حق راضی کړی ② يا په سزا تيرولو سره به پاك شی ③ يا به دَ چرته نه دَهغه شفاعت اوشی نو بيا به دَ دغه ګناه نه بهر شی او جنت ته به لاړ شی.

[۴۹۸۶] ښه دوست او ښه ګاونډی هغه دې چه خير خواه وی

۴۹۸۶ - (١) [٣١] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [٢] «خَيْرُ الْأَصْحَابِ عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرُهُمْ لِصَاحِبِهِ، [٣] وَخَيْرُ الْجِيرَانِ عِنْدَ اللّٰهِ خَيْرُهُمْ لِجَارِهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ، [٤] وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١] و حضرت عبد الله ابن عمرو رضی الله عنهما وايي چی رسول الله ﷺ وفرمايل، [٢] دَ الله په نز د ثواب او فضيلت د اعتبار نه په دوستانو کې بهترين دوست هغه دی چې د خپلو دوستانو بهترين خير خواه وي [٣] او د الله په نزد په ګاونډيانو کې بهترين ګاونډي هغه دی چې د ګاونډيانو بهترين خيرخواه وي. ترمذي دارمي، [٤] ترمذي ويلي دي دا حديث حسن غريب دی.

حل اللغات: - ① الْجِيرَانِ: د جار جمع ده. ګاونډی.

تسهيلات:

---

(١) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی حق الجوار (رقم-١٩٤٤) واحمد فی المسند:١٦٨/٢

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① خَيْرُ الْأَصْحَابِ: أي أكثرهم ثوابا، عِنْدَ اللّٰهِ: أي في حكمه الذي هو المعتبر عند الكل

② خَيْرُهُمْ لِصَاحِبِهِ: أي أكثرهم احسانا ولو بالنصيحة: يعني د الله په نيز بهترين دوستان هغه خلق دی کوم چه د احسان په اعتبار د خپلو دوستانو سره بهترين وی اگر چه د نصيحت سره دې ولې نه وی.

[۴۹۸۸] ځان باره کښې دَ خلقوڅخه دَ الله تعالى اعلان اوکنړه

۴۹۸۸-()[۳۲] ① وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ ②: «قَالَ رَجُلٌ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! ③ كَيْفَ لِي أَنْ أَعْلَمَ إِذَا أَحْسَنْتُ أَوْ إِذَا أَسَأْتُ؟ ④ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا سَمِعْتَ جِيرَانَكَ يَقُولُونَ: قَدْ أَحْسَنْتَ؟ ⑤ فَقَدْ أَحْسَنْتَ، ⑥ وَإِذَا سَمِعْتَهُمْ يَقُولُونَ: قَدْ أَسَأْتَ فَقَدْ أَسَأْتَ» "رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه وايي، ② يو سړی رسول الله ﷺ ته عرض وکړو، چې يارسول الله! ③ زه خپله نيکوکاري يا بدکاري څرنګه معلومولی شم، يعنی که زه داسې کار وکړم، چې د هغه شرعًا نيکي بدي نه ملعوميږي نو داسې کومه ذريعه ده چې په هغه سره زه دا معلومه کړم چې د هغه په کولو سره زه نيکو کار جوړ شم، يابدکار. ④ حضور ﷺ ورته وفرمايل هرکله چې ته د خپل کار باره کښې خپلو ګاونډيانو نه دا واوري، چې تا ښه کار کړي دی، ⑤ نو ستا کار ښه دی، ⑥ او هرکله چې د ګاونډيانو نه دا واوري، چې تا بد کار کړی دی، نو ستا هغه کار بد دی يعنی ستا نيکو کار يا بد کار کيدل به ستا د ګاونډيانو د شاهدی په ذريعه معلوميږي.(ابن ماجه)

حل اللغات: - ① أَحْسَنْتُ: نيک کار اوکړم، ② أَسَأْتُ: بدکار اوکړم ③ جِيرَانَكَ: د ګاونډی خپل نه.

تسهيلات:

قوله: إِذَا سَمِعْتَ جِيرَانَكَ يَقُولُونَ: قَدْ أَحْسَنْتَ؟:

د جيران نه کوم ګاونډی مراد دي: يعنی چه ته کله واورې چه ستا ګاونډی تاته ښه سړې وائی نو پوهه شه چه ته ښه سړې ئی او که چرې ګاونډی دې وائی چه خراب سړې دې نو پوهه شه چه ته خراب سړې ئی. دلته دَ جيران نه دوه څلور سړی مراد نه دی بلکه عام ګاونډی مراد دي. شيخ عبدالحق رحمه الله ليکلی دی چه دَ ګاونډيانو نه مراد هغه ګاونډی دي دکوم تعلق چه اهل حق سره وی او هغوی انصاف والا او پوهه خلق وی. چه نه دَ هغه سړی نيزدې دوست وی او نه بالکل دښمن وی. دَ حضرت قول هم دَدې حديث ترجمانی کوی. فرمائی "أَلْسِنَةُ الْخَلْقِ أَقْلَامُ الْحَقِّ" هغه دَ اردو محاوره ده "زبان خلق نقارهٔ خدا" يو شاعر

---

[1]) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الزهد/باب الثناء الحسن (رقم-۴۲۲۲) واحمد في المسند: ۱/۴۰۲

وائي: [اشعة اللمعات]

بُرا کہے جسے عالم اسے برا سمجھو زبانِ خلق کو نقارۂ خدا سمجھو

يعني چه كوم سړى ته عالم خراب او وائي هغه هم خراب او ګڼړئي ځکه چه دَمخلوق دَخلې نه وتلې خبره دَالله تعالى اعلان او ګڼړئي.

[۴۹۸۹] هر چا سره دَهغه د مرتبې مطابق معامله کوه

۴۹۸۹ - () [۳۳] ① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهَا - أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ② "«أَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ» "رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او د بي بي عائشه ﷞ نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ② هر سړى د هغه په درجه کې ساته يعنى د هر سړى سره د هغه د مرتبى مطابق معامله کوه. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① أَنْزِلُوا: ښکته کړه، يعني ورکړئ حيثيت. ② مَنَازِلَهُمْ: مرتبه او درجه دهغوى

تسهيلات:

قوله: أَنْزِلُوا النَّاسَ مَنَازِلَهُمْ:

په حديث کښې د فرق المراتب تعليم او اهميت: دَدې حديث نه دَمرتبو او درجو په مينځ کښې دَفرق تعليم ملاويږى چه دَخادم درجه يو وى او دَمخدوم مقام بل وى فاضل او غير فاضل کښې فرق دې يو سړې په اس باندې سور وى خپل خادم سره راځى نو دَ اس مقام يو دې او دَ خادم مقام بل دې او دَ په اس سور آقا مقام بل دې يو روايت کښې دى "أكرموا كريم قوم" او س مثلاً يو سړى په ژوند کښې يو قسم ډيره ښکلې او مزيدار خوراك نه دې کړې مثلاً هغه چپاتى نه دى ليدلى نو که هغه ته چپاتى پيش کړې نو هغه به څه کوى دَهغه مخې ته خوړ جوارو پيړه روټئى کيږده دې دَپاره چه دَهغه خيټه ډکه شي او يو سړى تول ژوند نرم خوراك کړې دې چه هغه ته دَ جوارو روټئى پيش کړې هغه به وائى دا دَ سيمټو روټئى ده بهرحال تعظيم او تکريم کښې يو شان والې او مساوات قائمول او فرق مراتب ختمول دَعرفى او شرعى قواعدو نه خلاف دې په جمهوريت دې لعنت وى دې خو دَ سړى او نه سړى مقام ختم کړو.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۴۹۹۰] د الله او دهغه د رسول دمحبت دعوى کونکى دې دا اعمال کوى

---

۱) اخرجه ابو داود فى السنن كتاب الترجل /باب ما جاء فى خاتم الذهب (رقم-۴۲۲۲)

۴۹۹۰-()[۴۴] [۱] عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي قُرَادٍ [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَوَضَّأَ يَوْمًا، فَجَعَلَ أَصْحَابُهُ يَتَمَسَّحُونَ بِوَضُوئِهِ، [۳] فَقَالَ لَهُمُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَا يَحْمِلُكُمْ عَلَى هَذَا؟ [۴]" قَالُوا: حُبُّ اللَّهِ وَرَسُولِهِ. [۵] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۶] "مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُحِبَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ أَوْ يُحِبَّهُ اللَّهُ وَرَسُولُهُ فَلْيَصْدُقْ حَدِيثَهُ إِذَا حَدَّثَ، وَلْيُؤَدِّ أَمَانَتَهُ إِذَا أُؤْتُمِنَ، وَلْيُحْسِنْ جِوَارَ مَنْ جَاوَرَهُ» ".

ترجمه: [۱] د حضرت عبد الرحمن ابن ابي قراد رضی الله عنه نه روایت دی [۲] چې یوه ورځ رسول الله ﷺ اودس وکی، نو صحابه کرامو رضی الله عنهم د رسول الله ﷺ د اودس اوبه په خپل جسم مږل شروع کړه، [۳] رسول الله ﷺ په دې لیدو سره وفرمایل تاسو چې داخه کوي د دې سبب څه دی [۴] هغوئ عرض وکړو، د الله او د هغه د رسول محبت د دې باعث دی. [۵] رسول الله ﷺ وفرمایل، [۶] کوم سړی چې داخوښوي، چې الله او د هغه رسول هغه سره پوره محبت وساتي، یاکوم سړی داغواړي چې الله او د هغه رسول هغه سره محبت وکړي نو هغه ته پکار دی ① چې کله خبره کوي نو رښتیا وایي. ② که امانت ورسره کیخودل شي هغه اداکړي، ③ او د ګاونډیانو سره د ښه ګاونډي ثبوت ورکړي

حل اللغات: - ① يَتَمَسَّحُونَ: مږلې ئې. ② يَحْمِلُكُمْ: راپورته کوي یا راپاره کوي تاسو. ③ سَرَّهُ: خوښی ئې. ④ حَدِيثَهُ: خبره خپله، ⑤ حَدَّثَ: خبره کوي. ⑥ وَلْيُؤَدِّ: او ادا کوي دې. ⑦ جِوَارَ: ګاونډي توب. ⑧ جَاوَرَهُ: چه دده سره ئې ګاونډی توب وی،

تسهیلات:

قوله: مَا يَحْمِلُكُمْ عَلَى هَذَا؟" قَالُوا: حُبُّ اللَّهِ وَرَسُولِهِ:

د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د جواب خلاصه: صحابه کرامو رضی الله عنهم به د نبي علیه السلام د چاراندام نه پاتې شوې اوبه په خپلو لاسونو او مخونو باندې مږلې نبي علیه السلام د وجې تپوس اوکړو نووئی فرمائیل الله تعالی او د هغه رسول ﷺ سره مو محبت دې په دې وجه داسې کوو رسول الله ﷺ چه په جواب کښې څه اوفرمائیل د هغې خلاصه داده چه کوم کارونه په نفس باندې سخت نه لګی او په هغې کښې ډیر مشقت نه وی د عشق اومحبت په میدان کښې د هغې هیڅ حیثت نه وی بلکه د دغه دعوی د پاره ضروری دی چه الله تعالی او د هغه رسول ﷺ د کوم اوامر او نواهی حکم ورکړې دې چه په هغې باندې په مکمل توګه باندې سرې عمل اوکړی او د حقوق الله او حقوق العباد پوره پوره خیال اوساتی او په دغه لارکښې د هرمشقت د پاره تیارشی د پیئو مجنون جوړنه شی بلکه د دینې ورکونکې مجنون جوړشی

(۱) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم ۱۵۳۳

[۴۹۹] مومن له د ګاونډی خیال ساتل پکار دی

۴۹۹ - ()[۳۵] [۱]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ[۲]: «لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالَّذِي يَشْبَعُ وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ». رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱]او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وايي، ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل [۲]چې هغه سړی کامل مؤمن کيدی نشي، چې په ډک نس (خيټه) طعام وخوري، حالانکې د هغه په خواکې ګاونډي وږی وي دواړه روايتونه بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړی دی

حل اللغات:- ① جَائِعٌ: اوږي.

تسهیلات:

قوله: لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالَّذِي يَشْبَعُ وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ:

د مذکوره جملې مطلب: جاره دا جمله حاليه ده او د يشبع ضمير ذو الحال دي مطلب دا چه هغه کس کامل مومن نه دي چه پخپله خو په مړه خيټه خوراک اوکړي او د خپل ګاونډی د اضطراری حالت نه خبر نه وی.

دکمال ايمان نفی: هغه کس د ايمان د درجې يو حيثيت ته څنګه رسيدي شی چه پخپله خو په مړه خيټه خوراک اوکړی او د ده ګاونډی اوږي اوده شی يا پخپله خو د آرام او سکون ژوند تيروی او د ګاونډی د تکليف په باره کښې تپوس هم نه کوی دا لا څنګه ژوند دې نن صبا په ښاريو کښې هم دغه شان کيږی چه په خوا کښې کور کښې جنزه پرته وی او ګاونډيان ئې په خپله مستئ کښې مست وی.

[۴۹۷] ګاونډيانو ته د تکليف ورکونکې ښځې عذاب

۴۹۷-()[۳۶] [۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ[۲]: «قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنَّ فُلَانَةَ تُذْكَرُ مِنْ كَثْرَةِ صَلَاتِهَا وَصِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا، [۳]غَيْرَ أَنَّهَا تُؤْذِي جِيرَانَهَا بِلِسَانِهَا. [۴]قَالَ: "هِيَ فِي النَّارِ". [۵]قَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! فَإِنَّ فُلَانَةَ تُذْكَرُ قِلَّةَ صِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا وَصَلَاتِهَا [۶]وَإِنَّهَا تَصَدَّقُ بِالْأَثْوَارِ مِنَ الْأَقِطِ وَلَا تُؤْذِي بِلِسَانِهَا جِيرَانَهَا [۷]قَالَ: "هِيَ فِي الْجَنَّةِ"». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي، [۲]يوه ورځ په مجلس نبوي ﷺ کې يو سړي عرض وکړو. چې يارسول الله! د فلانې ښځې د زيات مونځ روژې او کثرت صدقه او خيرات په وجه لويه چرچه ده. (يعني خلق وايي، چې هغه ښځه ډير زيات عبادت کوي، کثرت صدقه او خيرات کوي، [۳]ليکن هغه د خپلې ژبې په ذريعه خپلو ګاونډيانو ته تکليف رسوي) [۴]په دې اوريدو سره حضور ﷺ وفرمايل هغه به دوزخ ته ځي (هغه ښځه

() اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم ۵۶۶، واحمد فى المسند ۱/ ۵۵
() اخرجه احمد فى المسند: ۲/ ۴۴۰

د خپلې بدزبانۍ او کنځلو په ذریعه خپلو ګاوندیانو ته تکلیف رسوي ځکه هغه به دوزخ کې اچول کیږي، باوجود د دې چې هغه مونځ روژه او صدقه او خیرات چې افضل ترین عبادات اداکوي، لیکن د هغه داعبادتونه هم د هغه د ګناه کفاره کیږي نه، ⑤هغه سړي عرض وکړو چې یارسول الله د فلانې ښځې باره کې وئیل کیږي چې هغه ډیرې کمې روژې نیسي، ډیر کم صدقه خیرات کوي، او ډیر کم مونځ کوي. ⑥او حقیقت دادی چې د هغه صدقه او خیرات د قروط د ټوټکړو نه زیات نه وي. لیکن هغه د خپلې ژبې په ذریعه خپل ګاوندیانو ته تکلیف نه رسوئ، ⑦حضور ﷺ وفرمایل. هغه به جنت ته ځي. (احمد، بیهقي)

حل اللغات:- ①تُؤْذِي: تکلیف رسوی، ②جِيرَانَهَا: خپل ګاوندی ته. ③بِالْأَثْوَارِ: دادَ ثور جمع ده دَ پنیر ټکړو ته وئیلی شي. ④الْأَقِطِ: پنیر.

تسهیلات: قوله: غَيْرَأَنَّهَا تُؤْذِي جِيرَانَهَا بِلِسَانِهَا:

د نفلي عبادت کښې مشغولیدو سره د حرامو ارتکاب کولو نتیجه:

یعنی دَژبې په ذریعه ګاوندیانو ته تکلیف رسوی ګنی په عبادت کښې ډیره وړاندې ده نفل مونځونه کوی او روژې ساتی. نبي علیه السلام اوفرمائیل دا قسم ښځه به دوزخ ته ځی. دَداسې ښځې عبادت قبول نه دې. ملاعلی قاري رحمه الله لیکلی دی نفلی عبادت کښې مشغولیدو سره دَحرامو ارتکاب دَ سړی دَپاره تباه کونکې دې ځکه چه په مستحب کښې لګیاکیدل اوپه حرام کښې دَ پریوتلو نه بچ کیدل تلبیس ابلیس دې

قوله: قَالَ: "هِيَ فِي النَّارِ":

دمستحب عمل په ځائې د ګناه ځخه ځان ساتل: یعنی دغه ښځې یو مستحب کار اختیارکړو دکوم پریخودل چه مباح وو اودَ ګاوندیانو په تکلیف رسولو کښې واقع شوه کوم چه حرام عمل وو په دې وجه دوزخ ته لاړه.

نیکۍ چې بدۍ ګرځی: ملاعلی قاري رحمه الله لیکلی دی چه دَدې قسم په شان هغه اعمال هم دی په کوم کښې چه خلق واقع کیږی

① بیت الله کښې داخلیدو په وخت ګنړه جوړولو سره تکلیف رسوی

② رکن یمانی او حجراسودباندې رش جوړولو سره تکلیف ورکوی.

③ دغه شان دَظالمانو اوحرام خورو هغه حرام مال دې په کوم سره چه هغوی مساجد او مدارس جوړه وی اوپه خلقو باندې ئې خیرات کوی.

[۴۹۴۳] په تاسو کې غوره اوبدتره سړی څوک دې؟

۴۹۹۳-()[۴۷] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: «إِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَقَفَ عَلَى نَاسٍ جُلُوسٍ فَقَالَ [۲]: "أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِكُمْ مِنْ شَرِّكُمْ؟" [۳] قَالَ: فَسَكَتُوا فَقَالَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ [۴] فَقَالَ رَجُلٌ: بَلَى يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَخْبِرْنَا بِخَيْرِنَا مِنْ شَرِّنَا [۵] فَقَالَ: "خَيْرُكُمْ مَنْ يُرْجَى خَيْرُهُ، وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ، [۶] وَشَرُّكُمْ مَنْ لَا يُرْجَى خَيْرُهُ، وَلَا يُؤْمَنُ شَرُّهُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ". وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو هریره ﷺ وايي، يوه ورځ رسول الله ﷺ د ناست صحابه ﷺ مخکې په ودريدو سره وفرمايل [۲] آيا زه تاسو ته دا ونښايم چې په تاسو کې نيک ترين او بدترين سړی کوم يودی او ستاسو بهترين سړی ستاسو د بدترينو سړو نه جدا کولو سره درته ونښايم [۳] حضرت ابو هريره ﷺ وايي، په دي اوريدو سره صحابه ﷺ خاموش شوه ځکه چې هغوئ سره داخوف شو چې حضور ﷺ عام مفهوم او عنوان کُلي طور سره خودلو په ځای د يوسړی نوم اخستو سره ونښايي، چې فلانی نيک دی او فلانی بد. نو د دې نه لوی ذلت او رسوايي به نوره څه وي، تردي چې حضور ﷺ مذکوره ارشاد درې ځلي وفرمايه [۴] نو يوصحابي ﷺ عرض وکړو، چې هو، يارسول الله موږ ته يې ونښايه. او زموږ نيک سړی زموږ بد سړو نه جدا ونښايي، [۵] حضور ﷺ وفرمايل، واورئ په تاسو کې بهترين سړی هغه دی چې د هغه نه خلق د خير اميد ساتي، او د شر نه يې محفوظ او مامون وي، [۶] او بدترين سړی هغه دی چې د هغه نه خلق د خير اميد نه ساتي. او د شر نه يې محفوظ او مامون نه وي، (بيهقي، ترمذي) او ترمذي ويلي دي دا حديث حسن صحيح دی.

حل اللغات:- ① لَا يُرْجَى: اميد نه ساتلې کيږي.

تسهيلات:

قوله: أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِكُمْ مِنْ شَرِّكُمْ؟" قَالَ: فَسَكَتُوا:

دصحابه کرامو د چپوالی وجه: امام قرطبي فرمائي چه صحابه کرام د رسوائي د ويرې چپ پاتې شول تر دې چه نبي عليه السلام خپل سوال درې ځل اوکړو بيا نبي عليه السلام په جواب کښې داسې اسلوب اختيار کړو چه په هغې کښې د چا رسوائي نه وی.

قوله: خَيْرُكُمْ مَنْ يُرْجَى خَيْرُهُ، وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ:

دبهترين اوبدترين: د بهترين او بدترين کس پيژندګلو دا ده کومه چه په حديث کښې اوونيلې شو باقي دا خبره چه د کوم کس نه د خلقو د خير طمع وی خو د هغه د شر نه محفوظ او مامون نه وی يا هغه کس چه د هغه د شر نه خلق محفوظ او مامون وی خو د هغه نه د خير طمع نه ساتی نو داسې کس ته دې نه ښه اوئيلې شي او نه بد.

[۴۹۹۴] د دنيا دولت ښه او بد ټولو ته ملاويږی خو دين صرف ښه خلوته ملاويږی

() اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم (رقم-۲۲۶۳) واحمد فی المسند:۲/۳۶۸

-()[٣٨] [١]وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢]«إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَخْلَاقَكُمْ كَمَا قَسَمَ بَيْنَكُمْ أَرْزَاقَكُمْ، [٣]إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى يُعْطِي الدُّنْيَا مَنْ يُحِبُّ وَمَنْ لَا يُحِبُّ، [٤]وَلَا يُعْطِي الدِّينَ إِلَّا مَنْ أَحَبَّ، [٥]فَمَنْ أَعْطَاهُ اللّٰهُ الدِّينَ فَقَدْ أَحَبَّهُ، [٦]وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُسْلِمُ عَبْدٌ حَتَّى يُسْلِمَ قَلْبُهُ، وَلِسَانُهُ، [٧]وَلَا يُؤْمِنُ حَتَّى يَأْمَنَ جَارُهُ بَوَائِقَهُ»".

ترجمه: [١]رسول الله ﷺ وفرمایل، [٢]الله ﷻ ستاسو په منځ کې اخلاق داسې تقسیم کړي دي، لکه څرنګه چې ستاسو رزق يې تقسیم کړی دی، [٣]او حقیقت دادی چې الله خو دنیا هغه سړي ته هم ورکوي چې د الله ﷻ خوښ وی او هغه چاته هم چې هغه دوست نه لري ,لکه فرعون وغیره) دوست نه لري [٤]لیکن دین یعنی د نیك اخلاقو دولت صرف هغه سړي ته عطا کوي، چې هغه دوست لري، (حاصل داچې الله ﷻ دنیاوي مال ودولت او اقتدار خوهرسړي ته عطا کوي، که هغه دوست وي که نه وي، لیکن د نیك اخلاقو او احوالو د نعمت مستحق صرف هغه سړی دی چې محبوب خداوندي وي) [٥]نو د الله ﷻ یوسړي ته دین ورکول د دې خبري علامه ده چې هغه يې دوست کړی دی [٦]قسم دی په هغه ذات چې د هغه د قدرت په لاس کې ځما ساه ده چې هیڅ بنده ترهغه وخته پورې کامل مؤمن نشی کیدې ترڅو پورې چې دهغه زړه اوژبه (دغلطو عقیدو او بد اخلاقو څخه) پاکه نه وی. [٧]هیڅ بنده ترهغه وخته پورې کامل مومن کیدی نشي ترڅوپورې چې د هغه ګاونډي د هغه د شر نه محفوظ نه وي.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى يُعْطِي الدُّنْيَا مَنْ يُحِبُّ وَمَنْ لَا يُحِبُّ:

دنیا نیک اوبد دواړو ته ملاویدل: د بعضو عارفینو نه منقول دی چه تصوف د خُلق نوم دې چنانچه چه د کوم کس اخلاق حسنه کښې ستا نه اوچت دی نو هغه په تصوف کښې هم ستا نه اوچت دي دا وهم صحیح نه ده چه کوم کس دنیاوی ارزاقو او دیني اخلاقو لره جمع کونکي دې. نو هغه د هغه کس څخه چه د دین سره متصف وی او بقدر کفایت دنیا هم ورسره وی افضل دې. لکه چه بعضې خلق وائې داسې ټیک نه ده ځکه چه حدیث کښې راغلي دی

دمالدارۍ اوښه اخلاقوپه مینځ کښې عدم تلازم: مقصود دی چه کوم رزق د خُلق مقابل دې د هغې دین سره هیڅ نسبت نشته او اخلاق حمیده هم دین دې لکه چه د الله تعالی ارشاد دې ((وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ۝)) په حدیث کښې ئی د زړه او د ژبې خصوصي ذکر د دې وجه نه اوکړو چونکه د انسان ټول داراو مدار هم په دې دوؤ څیزونو دې.

[١] اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم ٥٥٢٤، واحمد في المسند: ٣٨٧/١

دخلاصه: د زړه اسلام دا دي چه زړه د باطل عقائدو او نظرياتو نه پاک اوساتلې شي او د ژبې اسلام دا دي چه ژبه د لايعنی خبرو نه محفوظ اوساتلې شي ليکن صحيح خبره دا ده چه د مسلمانيدو نه مراد تصديق او اقرار دي چه د ايمان بنياد دې ګويا چه دې سره دې طرف ته اشاره کول مقصود دی چه د ظاهر او باطن يو کيدل د ايمان او د اسلام کمال دليل دي

[۴۹۹۵] مسلمانانو سره محبت د ايمان علامت دي

۴۹۹۵-(۱)[۴۹] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«الْمُؤْمِنُ مَأْلَفٌ [۳] وَلَا خَيْرَ فِيمَنْ لَا يَأْلَفُ وَلَا يُؤْلَفُ»" [۴] رَوَاهُمَا أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] مسلمان د الفت او محبت مقام ومخزن دی، [۳] او په هغه سړی کې خير نشته چې الفت نه کوي. او نه د هغه سره الفت کيږي. يعنی کوم سړی چې داسې دی چې نه خو د مسلمانانو سره الفت او محبت کوي، او نه مسلمانان د هغه سره محبت او الفت کوي، نو هغه د هيڅ کار نه دی.
[۴] دا دواړه روايتونه احمد رحمه الله او په شعب الايمان کې بيهقي رحمه الله نقل کړي دی

حل اللغات: - ① مَأْلَفٌ: دمحبت ځائې، چه محبت ورسره کولې شی. ② لَا يَأْلَفُ: چه بل سره محبت نه کوی. ③ وَلَا يُؤْلَفُ: اونه ورسره څوک محبت کوی.

تسهيلات: قوله: الْمُؤْمِنُ مَأْلَفٌ وَلَا خَيْرَ فِيمَنْ لَا يَأْلَفُ وَلَا يُؤْلَفُ:

د مالف په ترکيب اومعنی کښې درې احتمالات:

① مألف مصدر ميمی دې د اسم فاعل او د اسم مفعول په معنی کښې استعمال شوی دې ګويا چه دا لفظ د مفهوم په اعتبار سره داسې دې چه **يألف ويولف** يعنی د مومن شان دا دې چه هغه د بل سره الفت لری او بل کس د ده سره الفت لری.

② مالف مصدر بطريق مبالغه وی لکه چه وئيلی کيږی رجل عدل، دې صورت کښې به معنې دا وی چه مومن الفت کونکې وی

③ مالف اسم ظرف مکان دې په دې صورت کښې دې ته اشاره ده چه مسلمانان خپل مينځ کښې د يو بل سره د محبت او موانست سره د اتفاق غونډې دولت حاصلولې شی که هغوی په خپل مينځ کښې د الفت او محبت روح ختم کړی نو بيا به د دوی په مينځ کښې تفرقه راشی او د انتشار ښکاره به شی لکه چه الله تعالی فرمائی

«وَاذْكُرُوا نِعْمَةَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا»[۱] الاية

[۱] اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم ۸۱۱۹ واحمد فی المسند: ۲/۴۰۰

[۴۹۹۶] د یو مسلمان د حاجت پوره کولو فضیلت

۴۹۹۶-(۱)[۵۰] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ قَضَى لِأَحَدٍ مِنْ أُمَّتِي حَاجَةً [۳] يُرِيدُ أَنْ يَسُرَّهُ بِهَا فَقَدْ سَرَّنِي، وَمَنْ سَرَّنِي فَقَدْ سَرَّ اللَّهَ، [۴] وَمَنْ سَرَّ اللَّهَ أَدْخَلَهُ اللَّهُ الْجَنَّةَ»".

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] کوم سړی چې څما په امت کې د يو سړي ديني اودنياوي حاجت او ضرورت پوره کړي. [۳] او د هغه نه يې مقصد د هغه خوشحالول وي، نو هغه زه خوشحاله کړم. او چاچې زه خوشحاله کړم. نو هغه الله خوشحاله کی، [۴] او چاچې الله خوشحاله کی، نو الله به يې په جنت کې داخل کړي.

حل اللغات: - ① قَضَى: پوره کړی، ② سَرَّ: خوشحاله کړی.

تسهیلات:

قوله: مَنْ قَضَى لِأَحَدٍ مِنْ أُمَّتِي حَاجَةً:

په حديث الباب کښې نبي عليه السلام ارشاد اوفرمائيلو چه کوم کس د خپل مسلمان رور يو حاجت او ضرورت پوره کړو نو هغه زه او الله پاک خوشحاله کړو ظاهره ده چه ما لره او الله پاک لره خوشحاله کونکې جنتي وی.

[۴۹۹۷] دَ مسلمان فرياد رسی کولو باندې دري اويا (۷۳) بخششونه ملاوېږی

۴۹۹۷-(۲)[۵۱] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ أَغَاثَ مَلْهُوفًا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ ثَلَاثًا وَسَبْعِينَ مَغْفِرَةً، [۳] وَاحِدَةٌ فِيهَا صَلَاحُ أَمْرِهِ كُلِّهِ، [۴] وَثِنْتَانِ وَسَبْعُونَ لَهُ دَرَجَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»".

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] کوم سړی چې د مظلوم فرياد رسي کوي نو الله تعالى د هغه د پاره دريو اويا ۷۳ بخششونه ليکي. [۳] او په هغه کې يو بخشش هغه دی، چې د هغه د ټول ديني او اخروي امورو ضامن جوړيږي. [۴] او باقي دوه اويا ۷۲ بخششونه به د قيامت په ورځ د هغه د درجاتو د بلندی سبب وي.

تسهیلات:

قوله: مَنْ أَغَاثَ مَلْهُوفًا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ ثَلَاثًا وَسَبْعِينَ مَغْفِرَةً:

د پريشان حال مدد کول: حيران يا په نورو الفاظو کښې د کمزوری (مظلوم) او د پريشان پريشانی لرې کونکی د پاره مذکوره فضيلت دې.

---

[1] اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم ۷۶۳۵

[2] اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم ۷۶۷۰

قوله: کتب الله له ثلاثاً وسبعین مغفرة

د دري اويا مغفرتونو د شمار په حکمت کښې دوه اقوال:

① د دي عدد حکمت هم صاحب وحي ته معلوم دي

② دا د کثرت طرف ته اشاره ده لکه چه الله تعالى فرمائی ان تستغفر لهم سبعين مرة

قوله: وَاحِدَةٌ فِيهَا صَلَاحُ أَمْرِهِ كُلِّهِ:

د يومغفرت په وجه ټول ګناهونه معاف کيدل: په دي جملي سره يو بشارت خفيه طرف ته اشاره ده چه يومغفرت به د ده د ټولو ګناهونو دپاره کافي شی. او د مغفرت د باقي اعدادو

[۴۹۹۸] ټول مخلوق دَالله تعالى خاندان دي

> ۴۹۹۸-()و۴۹۹۹() [۵۲] -[۱]وَعَنْهُ، وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَا: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]" «الْخَلْقُ عِيَالُ اللّٰهِ، [۳]فَأَحَبُّ الْخَلْقِ إِلَى اللّٰهِ مَنْ أَحْسَنَ إِلَى عِيَالِهِ» ". [۴]رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱]حضرت انس رضی الله عنه او حضرت عبد الله رضی الله عنه دواړه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲]مخلوق د الله خاندان دی، [۳]او د الله په نزد په مخلوق کې بهترين سړی هغه دی چې د الله جل جلاله د خاندان سره يعنی دالله دمخلوق سره احسان او حسن سلوك کوي.

[۴]دا دري سره روايتونه بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې نقل کړي دي.

حل اللغات:- ① عِيَالُ: خاندان، ټبر.

تسهيلات:-

قوله: الْخَلْقُ عِيَالُ اللّٰهِ:

د عيال معنی او د حديث مطلب: دَ عيال معنی دَ يو سړی دَهغه متعلقينو ده دَ چا خوراك څښاك جامه او کور وغيره چه دَ هغه په ذمه باندې وی. په دې اعتبار سره دَ عيال نسبت غير الله طرف ته مجازی دې. اصلی رازق خو الله تعالى دې دَچا په ذمه چه دَ مخلوق رزق دې په دې اعتبارسره ټول مخلوق دَ الله تعالى عيال او ټبر دې. اوس کومو سړي چه دَ الله تعالى مخلوق سره احسان کوی نولکه چه هغه دَ الله تعالى عيال او ټبرسره احسان او ښيګړه کوی. په دې سره الله تعالى ډير زيات خوشحاليږی لکه څنګه چه يو انسان دَهغه سړی نه ډير خوشحاليږی څوك چه دَهغه دَ اهل وعيال سره احسان کوی.

[۱] اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم ۷۶۷۰

[۲] اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم ۷۴۴۷، ۷۴۴۸

[۵۰۰۰] دَټولو نه اول به په قيامت کښې دَ دوو ګاونډيانو مقدمه پيش کيږي

۵۰۰۰-(۱)[۵۳] [۱] وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«أَوَّلُ خَصْمَيْنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ جَارَانِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او حضرت عقبه ابن عامر رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د قيامت په ورځ به د ټولو نه مخکې دوه جګړه کونکي دوه ګاونډي ګان به وي (احمد)

حل اللغات: - ① خَصْمَيْنِ: دوه جګړه کونکي، ② جَارَانِ: دوه ګاونډيان.

تسهيلات:

قوله: أَوَّلُ خَصْمَيْنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ جَارَانِ:

اشکال: په يو حديث کښې دي چه دَقيامت په ورځ به دَ ټولو نه مخکښې دَمانځه مقدمه پيش کيږي بل حديث کښې دي چه دَ قيامت په ورځ به دَ ټولو نه مخکښې دَ قاتل او مقتول مقدمه پيش کيږي مګر په ذکرشوی حديث کښې دَ دوو ګاونډيانو دَ مقدمې خبره ده په ظاهره دا تعارض دې دَدې جواب څه دې؟

داشکال دوه جوابونه: ① اول اوثاني دا اضافي امور دی نو په اضافي نسبت سره هر يو ته اول وئيلې کيدې شي هيڅ تضاد نشته دې.

② په حقوق الله کښې به دَ ټولو نه مخکښې دَمونځ مسئله اوچتولې شي او په حقوق العباد کښې دَ ټولو نه مخکښې دَوينې او قتل مسئله اوچتولې شي په کوم کښې چه يوخالص ظالم او دويم خالص مظلوم وی ليکن که څه خلق داسې وی چه په حقوق العبادکښې دواړو څه نا څه ظلم په يو بل باندې کړې وی. هر يو څه ظالم اوڅه مظلوم دې نو په داسې خلقوکښې به دَټولونه مخکښې دَ دوو ګاونډيانو معامله اوچتولې شي. نودَ ګاونډيانو معامله هم دَحقوق العباد ده ليکن دَحقوق العباداسې صورت دې چه دَقاتل اومقتول نه مختلف دې هلته يو ظالم وو او دويم مکمل مظلوم وو زير بحث حديث کښې دواړه دَ يوبل دَپاره څه نا څه ظالمان دی. دَداسې خلقو مقدمه به دَ ټولو مخکښې اوچتولې شي

[۵۰۰۱] يتيم او مسکين سره په ښيګړه کولو زړه نرميږي

۵۰۰۱-(۲)[۵۴] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-[۲] «أَنَّ رَجُلًا شَكَا إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَسْوَةَ قَلْبِهِ [۳] فَقَالَ: "امْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيمِ، وَأَطْعِمِ الْمِسْكِينَ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی، [۲] چې يو سړی رسول الله ﷺ ته د خپل

(۱) اخرجه احمد في المسند: ۱۵۱/۴

(۲) اخرجه احمد في المسند: ۲۶۳/۲

زړه د سختوالي شکايت وکی، او د هغه د علاج پوښتنه يي وکړه، [۲] حضور ﷺ ورته وفرمايل د يتيم په سرلاس راتيرکړه او په مسکيني باندې طعام وخوروه (احمد)

تسهيلات:

قوله رأس اليتيم: د يتيم په سر لاس لاخکلو ذکر ئې ددې وجه نه اوفرمائيلو چه کله دا کس د يتيم په سر لاس راکاږی نو ده ته به مرګ رایاد شي او هغه به ژوند غنيمت اوګنړی ځکه چه د زړه سختی د غفلت د وجه نه پيدا کيږی.

قوله: وَأَطْعِمِ الْمِسْكِينَ: أي أثار نعمة الله عليك حيث أغناك په مسکين باندې د روټي خوړلو حکم ئې ځکه ورکړو چه تا د الله د نعمتونو اثار اوينې چه ته ئې څنګه مالداره کړې په حديث کښې د يتيم او مسکين د دواړو خاص کولو وجه دا ده چه په ورو او مشرانو باندې رحم کول د الله رحمت واجبوی او د زړه سختي لرې کوی.

[۵۰۰۲] ذکونډې لور کفالت کول افضله صدقه ده

۵۰۰۲-() [۵۵] [۱] وَعَنْ سُرَاقَةَ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ [۲]: " «أَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى أَفْضَلِ الصَّدَقَةِ؟ [۳] ابْنَتُكَ مَرْدُودَةً إِلَيْكَ لَيْسَ لَهَا كَاسِبٌ غَيْرُكَ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او د حضرت سراقه ابن مالک ؓ نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] آيا زه تاسو ته د بهترينې صدقې باره کې وښايم، [۳] او هغه صدقه خپلې لور سره حسن سلوك كول دي. چې تاته واپس راليږل شوي ده، او د هغه ستا نه علاوه بل څوك ګټې والا نشته (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① مَرْدُودَةً: واپس راليږلې شوې، واپس کړې شوې. ② كَاسِبٌ: کارکسب کونکې.

تسهيلات:

قوله: ابْنَتُكَ مَرْدُودَةً إِلَيْكَ:

دمذکوره حديث مصداق: يعنی که ستا لور ته خاوند طلاق ورکړی وي او د هغه سره څه داسې ذريعه نه وي چې د خپل ژوند ورځي په پوره کي، او نه څه داسې څوی يې وي، او نه څوك خبر اخستونکی يې وي چې د خپلې ګټې په ذريعه هغه ته د وخت تيرولو د پاره سامان فراهم شي، بلکې صرف ته د هغه واحد سهارا جوړيدی شي، او هغه دومره لاچاره وي چې ستا کورته راغلې وی، نو ستا د طرف نه د هغه کفالت او د هغه سره حسن سلوك يوه بهترينه صدقه ده[1]

[1] اخرجه ابن ما جه في السنن كتاب الأدب/باب بر الوالد، والإحسان إلى البنات (رقم-۳۶۶۷) واحمد في المسند: ۴/۱۷۵

[١۶] بَابُ الْحُبِّ فِي اللّٰهِ وَمِنَ اللّٰهِ

دَالله تعالى دَپاره د محبت كولو بيان

خلاصة الباب

فيه اثنان وعشرون حديثاً مشتملة على ست مسائل.

① فضيلة الحب في الله: ٣، ۴، ۵، ٨، ٩، ١٠، ١١، ١٣، ١٧، ١٨، ٢٠، ٢١، ٢٢۔
② كون تآلف القلوب وتناكرها من الأزل: ١۔
③ فضيلة حب الله تعالى والرسول صلى الله عليه وسلم: ۶۔
④ ثمرات حب الله العبدَ: ٢۔
⑤ آداب الحب فى الله: ١٢، ١٣،
⑥ من يستحق الحب والمصاحبة: ٧، ١۴، ١۵، ١٩۔

قوله: الْحُبِّ:

دالله تعالى دپاره د محبت كولو مفهوم: دَ الله تعالى دَ پاره دَمحبت كولو دَ بيان مطلب دادې چه يو بنده سره دَتعلق اومحبت كومه رشته هم قائم كړې شي نو چه هغه صرف دَ الله تعالى دَ رضادَپاره وى. په هغې كښې څه دنياوى غرض نه وى نه په كښې څه لالچ وى بلكه دا محبت صرف په دې بنياد باندې وى چه دا سړې دَ الله تعالى نيك بنده دې ددې په محبت سره الله تعالى راضى اوخوشحاليږى او انسان ته دَهغه رضا حاصل شى

قوله: فِي اللّٰهِ وَمِنَ اللّٰهِ:

دمذكوره جملې تركيب: دلته په عنوان كښې "من" سببيه اجليه ده. "اي لأجل رضاء الله ولوجهه الكريم".

دعبادت مقصود حاصلولو نسخه: انسان چه دَ الله تعالى عبادت كوى نو دَهغه عبادت نه فائده او اصل مقصود ترهغه وخته پورې نه شى حاصليدلې تركومې چه دَ الله تعالى اودَهغه رسولانو سره محبت نه وى. دَ عبادت دَ قبليدو دَپاره ضرورى دى چه دَالله تعالى اودَ هغه دَرسول ﷺ محبت هم دَ عبادت حصه جوړه شى. كه محبت نه وى نوصرف دَ بوج اوتكليف والا عبادت نه به څه حاصل شى.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵٠٠٣] په دنيا كښې دَاتحاد او اختلاف سبب

۵٠٠٣-()[1] ① عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«اَلْأَرْوَاحُ جُنُوْدٌ مُجَنَّدَةٌ، ③ فَمَا تَعَارَفَ مِنْهَا ائْتَلَفَ، ④ وَمَا تَنَاكَرَ مِنْهَا اخْتَلَفَ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[1]) اخرجه البخارى فى كتاب احاديث الأنبياء/باب: الأرواح جنود مجندة (رقم-٣٣٣۶)ومسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب الأرواح جنود مجندة(رقم-١۵٩ - (٢۶٣٨) وأبوداود فى كتاب الأدب/باب من يؤمر أن يجالس (رقم-۴٨٣۴) واحمد فى المسند:٢٩۵/٢

ترجمه: ① بي بي عائشه رضي الله عنها وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ② روحونه په جسمونو کې د داخليدو نه مخکې د لښکر په شان (يوځاى) مجتمع وو، او بيا هغوئ جدا جدا کولو سره به يو يو جسم کې داخل شو، ③ نو په جسمونه کې د داخليدو نه مخکې چې کوم روحونه (د يوبل صفاتو سره مناسبت او مشارکت لرلو په وجه) په خپلو کې مانوس او متعارف وو. (په جسمونو کې رسيدو نه پس به په دې دنيا کې هم) د يوبل سره محبت او الفت لري. ④ او کوم روحونه چې د يوبل نه نامانوس وو. هغه په دې دنيا کې هم په خپلو کې اختلاف لري (بخاري)

٥٠٠٣-(¹) وَرَوَاهُ مُسْلِمٌ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: د دې حديث روايت امام مسلم د ابوهريره رضى الله عنه څخه کړې دي

حل اللغات: - ① جُنُودٌ: لښکرې ② مُجَنَّدَةٌ: يوځاى کښې راجمع کړې شوې. ③ تَعَارَفَ: پيژل ئې يو بل. ④ ائْتَلَفَ: محبت کوى د يوبل سره ⑤ تَنَاكَرَ: نه ئې پيژندل يو بل. ⑥ اخْتَلَفَ: مخالف به وى د يوبل

تسهيلات:

قوله: الْأَرْوَاحُ جُنُودٌ مُجَنَّدَةٌ:

دجنود مجندة مفهوم: قيامت پورې چه څومره انسانان پيدا کيږى دَهغوى ارواح اول پيدا شوى دى دا ټول روحونو الله تعالى دَ ازل په ورځ په عالم ارواح کښې رايوځائى کړل او دَ ټولو نه ئى دَخپل ربوبيت اقرار واخستلو ټولو اقرار اوکړو

قوله. فَمَا تَعَارَفَ مِنْهَا ائْتَلَفَ، وَمَا تَنَاكَرَ مِنْهَا اخْتَلَفَ:

ددنياوى محبت اونفرت بنياد: په دنيا کښې کوم نيکان خلق نور نيکان خلق خوښوى او بې دينه کسان نه خوښوى دغه شان چه کوم فاسقان نور فاسقان اوفاجران خوښوى اودينداران نه خوښوى نودا خوښى اوناخوښى دَ عالم ارواح او دَروز ازل دَ خوښې اوناخوښې مظهردې کوم څه چه هلته اوشو هغه هم د لته کيږى

[٥٠٠٥] الله تعالى چې چا سره محبت کوى هغه په خلقو کښې هم محبوب شى

٥٠٠٥-(²)[٢] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِنَّ اللهَ إِذَا أَحَبَّ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَقَالَ ③: إِنِّي أُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ، قَالَ: فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ، ④ ثُمَّ يُنَادِي فِي السَّمَاءِ فَيَقُولُ: إِنَّ اللهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ، ⑤ فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ، ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي الْأَرْضِ، ⑥ وَإِذَا أَبْغَضَ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ

¹) اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب الأرواح جنود مجندة(رقم-١٥٩ - (٢٦٣٨)

²) اخرجه البخارى فى كتاب بدء الخلق/باب ذكر الملائكة (رقم-٣٢٠٩) ومسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب إذا أحب الله عبداً حببه لعباده (رقم-١٥٧ - (٢٦٣٧) ومالك فى الموطا كتاب الشعر باب ما جاء فى المتحابين فى الله (رقم ١٥) واحمد فى المسند:٢/٢٦٧

فَيَقُولُ: إِنِّي أُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضْهُ. ۞فَيُبْغِضُهُ جِبْرِيلُ، ثُمَّ يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ: ۞إِنَّ اللّٰهَ يُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضُوهُ. ۞قَالَ: فَيُبْغِضُونَهُ، ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۞او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي، چی رسول الله ﷺ وفرمایل ۞هر کله چې الله جل جلاله د یوبنده سره محبت کوي، (یعني هغه خپلو بنده ګانو کې یوبنده سره د خپلې خوشنودي او محبت اظهار کولو اراده لري) نو جبرائیل علیه السلام ته فرمایي، ۞زه د فلانـي بنده سره محبت کوم، ته هم د هغه سره محبت کوه، حضور ﷺ وفرمایل نو بیا جبرائیل علیه السلام هم د هغه سړي سره محبت کوي ۞او جبرایل علیه السلام د الله جل جلاله په حکم سره په آسمان کې دا اعلان کوي، چې الله جل جلاله د فلاني بنده سره محبت کوي نو تاسو ټول هم دهغه سره محبت کوئ.
۞نو آسمان والا هم د هغه سره محبت کول شروع کړي، او بیا د هغه بنده د پاره په زمکه کې هم قبولیت کیږي، (یعني د زمکي والا په زړونو کې د هغه محبت کول شروع کوي)
۞او کله چې الله جل جلاله د یوبنده نه نفرت کوي، نو جبرائیل علیه السلام ته فرمایي، زه د فلانی سړي نه نفرت کوم، ته هم دهغه نه نفرت کوه، ۞حضور ﷺ وفرمایل، بیا جبرائیل علیه السلام هم د هغه سړي نه نفرت کوي اود الله جل جلاله په حکم سره په آسمان کې دا اعلان کوي، ۞چې الله جل جلاله د فلاني بنده سره بغض کوي نوتاسو هم د هغه نه نفرت کوئ. ۞نو آسمان والا هم د هغه نه نفرت کول شروع کړي تردي چې د هغه سړي د پاره په زمکه کې عداوت او نفرت شروع شي، چې د هغه په وجه ټول جن او انس د هغه سړي نه نفرت کوي. (مسلم)

حل اللغات: - ① الْبَغْضَاءُ: بغض او نفرت، کینه.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ اللّٰهَ إِذَا أَحَبَّ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ:

په زمکه کښې د مقبولیت او مبغوضیت معیار: الله تعالی چه کوم بنده خوښوی نوفرښتې هم هغه خوښوی.په آسمان کښې دَ دغه سړی دَ خوښوالی چرچې کیږی بیا دا مقبولیت زمکې ته راځی او دَزمکې والا هغه خوښوی.دغه شان هغه سړې مقبول الکل جوړشی
دَدې برعکس که چرته الله تعالی یو سړې په آسمانونوکښې مبغوض ګرځوی نو په فرښتوکښې اعلان کیږی فرښتې هم هغه مبغوض ګڼړی بیا دا مبغوضیت دَ زمکې طرف ته راځی اوخلق دا سړې مبغوض ګڼړی.دلته په دې خبره باندې ځان پوهه کول پکاردی چه په زمکه کښې دَ دغه مبغوضیت اومقبولیت معیار هغه خلق دی کوم چه دیندار متقی پرهیزګار دی ګڼی دَ فساقو اوفجارو په نیز هم هغه سړې ښه دوست او محبوب وی چه د اوچتې درجې فاسق فاجر او ذلیل اوکمینه وی.لهذا دَ قبولیت په دې انتخاب کښې دارومدار په ښه او دیندار خلقو باندې دې.دَهغوی رائې اوخیال معیار اومعتبر دې.

[۵۰۰۶] خپل مینځ کښې دَ الله تعالی دَ رضا دَپاره دَ محبت لرونکو نتیجه

۵۰۰۶-(١) [۳] ①وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"«إِنَّ اللّٰهَ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِي؟ ③اَلْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّي»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهریره ﷺ وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل ②الله ﷻ به د قیامت په ورځ (د ټولو خلقو په مخکې د خپلو بعضو بنده ګانو د عظمت او بزرګۍ ښکاره کولو د پاره) وفرمایي، هغه خلق چیرته دي چې ځما د لویي داظهار او ځما دتعظیم دخاطر په خپلو کې محبت کوی (یا چیری دی هغه خلق چې ځماد رضا او خوشنودي د خاطره او د حصولِ ثواب په خاطر په خپلو کې یي محبت او تعلق لری) ③نن زه هغه خلقوته په خپله سایه (سورې) کې پناه ورکوم په داسې ورځ کې چې ځما د سایې نه علاوه بله څه سوری نشته (مسلم)

حل اللغات:- ① جَلَالِي: عظمت اوبزرګی زما، ② ظِلّ: سورې، سایه.

تسهیلات:

قوله: اَلْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّي:

دسوری په مفهوم کښې دوه اقوال: ① یعنی نن به زه هغوی په خپل خاص سوری کښې ساتم د دې سوری نه مراد دَمحشرمیدان کښې دَ عرش سورې دې لکه چه بعضې روایاتوکښې تصریح هم ده.

② دَ سوری نه دَ الله تعالی رحمت او حفاظت مراد دې لکه "السلطان ظل الله فی الارض" لهذا دَ سوری نه دَ قیامت دَ رحمتونو نعمتونو او راحتونوطرف ته اشاره ده. په عربی کښې دَ ظل لفظ دَ نعمتونودپاره استعمالیږی.

[۵۰۰۷] دَ الله تعالی دَ رضا دَپاره دَمحبت کولو فضیلت

۵۰۰۷-(٢) [۴] ①وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"«أَنَّ رَجُلًا زَارَ أَخًا لَهُ فِي قَرْيَةٍ أُخْرَى، ③فَأَرْصَدَ اللّٰهُ لَهُ عَلَى مَدْرَجَتِهِ مَلَكًا قَالَ أَيْنَ تُرِيدُ؟ ④قَالَ: أُرِيدُ أَخًا لِي فِي هٰذِهِ الْقَرْيَةِ. قَالَ: هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِعْمَةٍ تَرُبُّهَا؟ ⑤قَالَ: لَا غَيْرَ أَنِّي أَحْبَبْتُهُ فِي اللّٰهِ، ⑥قَالَ: فَإِنِّي رَسُولُ اللّٰهِ إِلَيْكَ بِأَنَّ اللّٰهَ قَدْ أَحَبَّكَ كَمَا أَحْبَبْتَهُ فِيهِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهریره ﷺ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي ②چې یو سړی د خپل مسلمان ورور د ملاقات د پاره روان شو چې په یوې بلې آبادي کې اوسیدی، ③الله ﷻ

---

(١) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب فی فضل الحب فی الله (رقم-٣٧ - (٢٥٦٦) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الحب فی (رقم-٢٣٩٠) ومالک فی الموطا کتاب الشعر باب ما جاء فی المتحابین فی الله (رقم-١٥) واحمد فی المسند:٢/٣٣٨

(٢) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب فی فضل الحب فی الله(رقم-٣٨ - (٢٥٦٧)

د هغه په لار کې د هغه په انتظار کې يوه فرشته کېنوله هرکله چې هغه سړی هغه ځای ته اورسيدی نو فرشتې پوښتنه ځينې وکړه چې چيرته دې د تلو اراده ده ④هغه سړي وويل: زه د خپل يو مسلمان ورور ملاقات ته ځم، چې هغه په بله آبادۍ کې او سيږي. ⑤فرشتې پوښتنه ځيني وکړه چې آيا ستا په هغه څه حق نعمت شته چې د هغه حاصلولو د پاره هغه ته ورځي، يعني ته چې کوم سړي ته ورځې، آيا هغه يو داسې سړی دی چې هغه تا ته څه نعمت درکړی وو، او اوس د هغه بدله حاصلولو د پاره هغه ته ورځي ⑥هغه سړي اوويل نه زه محض د الله ﷻ د رضا او خوشنودي حاصلولو د پاره هغه سره محبت او تعلق لرم. ⑦فرشتې ورته اوويل نو بيا واوره زه الله ﷻ تا ته راليږلی يم، چې تا ته دا بشارت درکړم چې الله ﷻ ستا سره محبت کوي، ځرنګه چې ته محض د الله ﷻ د خاطره د هغه سړي سره محبت او تعلق لري. (مسلم)

حل اللغات: - ①أَرْصَدَ: په انتظار کښېنو ئې کېنوله، په شيش کښې کيناستو ته رصد وائی ②مَدْرَجَتِهِ: په لار دهغه کښې، ښکاره آسمان ته مدرجه وائی. ③تَرُبُّهَا: چه ته دهغې شکريه د کوې. بدله پوره کوی، رب يرب پاللو او لويولو ته وائی

تسهيلات:

قوله: أَنَّ رَجُلًا زَارَ أَخًا لَهُ فِي قَرْيَةٍ أُخْرَى:

بې لالچه محبت دالله تعالى دمحبت ذريعه: دادَ پخوانو امتونو نه دَ چا واقعه نبي عليه السلام بيان کړې ده. هغه خلقو سره به دَ انسان په شکل کښې فرښتې ملاويدلې اوس دا سلسله بنده شوې ده. دَحديث خلاصه داده چه يو سړې دَ يو الله والا دَ زيارت دَپاره روان شو نو په لاره کښې هغه ته فرښته ملاؤ شوه. فرښتې دَ هغه نه تپوس اوکړو چرته روان ئې؟ هغه ورته اووئيل په دې ښار کښې زما يو دينی رور دې دَهغه دَ زيارت دَپاره ځم څه دنياوي اغراض او مقاصد نشته دې صرف دَ الله تعالى دَ رضا او خوشحالئی دَپاره ورځم. فرښتې ورته اووئيل زه الله تعالى تاله راليږلې يم دې دَپاره چه زه تاته دا زيرې واؤروم چه الله تعالى تا سره محبت ساتی لکه څنګه چه ته دَالله تعالى بنده سره محبت ساتې

قوله: هَلْ لَكَ عَلَيْهِ مِنْ نِعْمَةٍ تَرُبُّهَا؟:

دتربها په مفهوم کښې دري اقوال: ①يعنی دَ څه احسان غرض دې دکوم دَپوره کولو دَپاره چه ځې يعنی آيا هغه ستا غلام دې يا خوئی دې يا داسې رشته دار دې په چا باندې چه خوراك څښاك ستا ذمه واری ده او ته دَهغې دَ پوره کولو دَپاره ځې؟

② بعضې نسخو کښې دی "هل له عليك من نعمة تربها" يعنی دَهغه په تا باندې څه احسان دې دکوم دَ شکريه دَ ادا کولو دَپاره چه ته روان ئې؟

③ علامه طيبي رحمه الله فرمائي مطلب دادې چه آيا په دغه سړي باندې ستا څه احسان دې دكوم بدله اخستلو دپاره چه ته هغه له ورځې ورځې دې دپاره چه ستا د احسان نه دهغه سړي بدله زياته ملاؤ شي دا مطلب ډير ښكلې دې ـ

[٥٠٠٨] څوک چه دچا سره محبت کوي په قيامت کښې به هم د هغوی سره وي

٥٠٠٨ -() [٥] ①وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! كَيْفَ تَقُولُ فِي رَجُلٍ أَحَبَّ قَوْمًا وَلَمْ يَلْحَقْ بِهِمْ؟ فَقَالَ: "الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ①او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه وايي، چې يوه ورځ د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خدمت کې يو سړی حاضر شو، ②او عرض يې وکړ چې يارسول الله د هغه سړي باره کې تاسو څه فرمايي چې يو جماعت يعنی علماء او صلحاء او بزرګان دين سره محبت او عقيدت لري. ليکن د هغوئ صحبت هغه ته نه وي حاصل شوی، يا هغه د هغوئ علم وعمل ته نه وي رسيدلي حضور صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل، هغه سړی دهغه سره دي څوك چې محبوب لري (بخاري. مسلم)

حل اللغات: - ① لَمْ يَلْحَقْ: چه نه وی يوځائې شوي،

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ: "الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ:

د المرأ مع من احب په مفهوم كښې دوه اقوال: ① يعنی کوم سړي چه علماؤ صلحاؤ او بزرګانو سره عقيدت او محبت لري او په خپلو اعمالو سره د شريعت په رڼا کښې د هغوی متابعت او موافقت کوی نو هغه سړې به هم دغه حضراتو سره په حشر کښې پاسی او هغوی سره به وی اودغه شان په جنت کښې به هغوی سره ملاقات کيږی يوځائی به وی؛ او چتو درجوو الا به د خپل ځايونونه وتلوسره د هغوی له به راځی او ملاقات به کيږی

② په جنت کښې به يو ځائی وی مګر د دې يوځائی کيدو باوجود به د خپلو درجو موافق به د جنت د نعمتونو خوندونه محسوسوی نبي عليه السلام او حضرت عائشه رضي الله عنها به په يوځائی خوری څکی مګر حضرت عائشه رضي الله عنها به د خپلې درجې موافق نعمت حاصلوی.

دملاعلی قاري تبصره: ملا علی قاری رحمه الله په مرقات کښې ليکلی دی چه دا حديث عام

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب علامة حب الله عز وجل (رقم-٦١٦٩) ومسلم في كتاب البر والصلة والآداب/باب المرء مع من أحب (رقم-١٦٥ - (٢٦٤٠) وابوداود في كتاب الأدب/باب إخبار الرجل الرجل بمحبته إياه (رقم-٥١٢٦) والترمذي في كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن المرء مع من أحب (رقم-٢٣٨٧)واحمد في المسند:١/٣٩٢

دي لهذا كوم سړي چه ديندارخوښوي هغه به هغوی سره وي او كوم سړي چه بد كاران خوښوي په قيامت كښې به هغه هم هغوی سره او چتيږي.

دملاعلی قاري رحمه الله د تبصرې تائيد: ملا علي قاري رحمه الله د دي تائيد دحضرت عائشه صديقه رضي الله عنها د روايت نه هم نقل كړي دي چه حضرت عائشه رضي الله عنها فرمائي چه يو ځل د نبي عليه السلام په خدمت كښې يو صحابي حاضر شو او عرض ئې اوكړو چه اې د الله رسوله حقيقت دا دي چه زه د خپل ځان، اهل خانه او بچو نه هم زيات تاسو سره محبت كوم، چه كله زه كور كښې يم نو هم ستاسو په تصور كښې اخته يم، چه كله ستاسو ياد مي ډير تنګ كړي او ستاسو مخ مبارک د زيارت دپاري بې چينه شم نو ستاسو په خدمت كښې حاضر شم او د زړه تسكين راته حاصل شي او چه كله ما ته خپل او ستاسو د مرګ خيال راشي او د دي دنيا نه ستاسو د رخصت كيدلو تصور او سوچ اوكړم چه تاسو به په جنت كښې په اعلى درجو كښې د انبياؤ سره ئي او كه خدائي زه جنت ته داخل هم كړم نو ما ته ويره ده چه زه به ستاسو د زيارت نه محرومه يمه.نبی عليه السلام د دې صحابی دا خبره واوريده خو څه جواب ئي ور نكړو تر دي چه دا ايت نازل شو چه **ومن يطع الله والرسول فأولئك مع الذين انعم الله عليهم من النبيين والصديقين و الشهداء والصالحين** (النساء: ۶۹)

دمعيت څخه مراد: اوس دا خبره چه د معيت نه څه مراد دی؟ خلاصه دا چه اعلي درجو والو به هغه خلقو له راځی چه كوم د لاندې درجو والا دی او بيا به دا ټول د جنت په باغونو كښې يوځائي شی هلته به د يو بل زيارت او ملاقات كوی او درجات عاليه والا به د خپلو نعمتونو تذكره اوكړی چه كوم به هغوی ته د الله د طرف نه بطور انعام حاصل شوی وی بيا به د الله تعالى حمد و ثنا اوكړی بيا به د كمو درجو والا خاطر تواضع او اكرام اوكړی او په منډه منډه به هر هغه څيز راوړی او دوی له به ئی وركړی چه د كومو به دا خلق خواهش و طلب كوی.الحاصل چه د كومې درجې معيت او د كومې درجې حسن معامله وی نو هم د هغه درجې معيت او ملاقات به ورته نصيب شی

[۵۰۰۹] رسول الله ﷺ سره په محبت ساتلو د صحابؤ خوشحالي

۵۰۰۹-()[۲] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! مَتَى السَّاعَةُ؟ [۳] قَالَ: "وَيْلَكَ! وَمَا أَعْدَدْتَ لَهَا؟". [۴] قَالَ: مَا أَعْدَدْتُ لَهَا إِلَّا أَنِّي أُحِبُّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ. [۵] قَالَ: "أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ" [۶] قَالَ أَنَسٌ: فَمَا رَأَيْتُ الْمُسْلِمِينَ فَرِحُوا بِشَيْءٍ بَعْدَ الْإِسْلَامِ فَرَحَهُمْ بِهَا». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب ما جاء في قول الرجل ويلك (رقم-۶۱۶۷) ومسلم في كتاب البر والصلة والآداب/باب المرء مع من أحب (رقم-۱۶۱ - (۲۶۳۹) واحمد في المسند:۳/۱۶۸

ترجمه: [۱] او د حضرت انس ﷺ نه روایت دی، [۲] چې یوه ورځ یو سړی دا سوال وکړ.
یارسول الله! قیامت به کله وي، [۳] حضور ﷺ ورته وفرمایل په تا افسوس دی. تا د قیامت د پاره څه تیار کړي دی؟ (په ظاهره دا معلومیږي ګویا په حضور ﷺ باندې دا سوال ښه ونه لګیدی. او حضور ﷺ ته ګمان وشو. چې هغه سړی ښه اعتقاد ساتلو سره د خودي د مخه (اوراه خودي) دا سوال نه دی کړی، بلکې د قیامت راتلل یوه لږې خبره ګڼلو سره د لاپروائي په طور دا سوال کوي. نو حضور ﷺ هغه ته جواب هم په هغه انداز کې ورکړی چې داځه پوښتنه کوي چې قیامت به کله راځي، ته خپله عقیده او عمل درست ساته او نیک کار کوه، کله چې د قیامت ورځ راځي نو رابه شي. [۴] لیکن هرکله چې هغه سړي عرض وکړو ما خو څه تیاري کړی نه ده، البته زما سره یو دولت ضرور شته.
او هغه داچې الله او د هغه رسول سره محبت ضرور لرم نو حضور ﷺ پوهه شو. چې د هغه سړي مذکوره سوال د یومخلص او کامل مؤمن د اعتقاد مظهر او د خوف د مخه دی. څه لاپرواه نه دی [۵] نو حضور ﷺ ورته وفرمایل ته په دنیا او آخرت کې د هغه چاسره یې د چاسره چې محبت لري، [۶] حضرت انس ﷺ وایي، ما د مسلمانانو داسلام نه پس بل په هیڅ شي سره دومره زیاته خوشحالي ونه لیدل لکه څومره چې هغوئ د حضور ﷺ په دي ارشاد سره خوشحاله شو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① وَيْلَكَ: افسوس دې په تا، ② أَعْدَدْتَ: تیاري کړې دې تا،

تسهیلات:

قوله: أَنِّي أُحِبُّ اللهَ وَرَسُولَهُ:

صرف د الله اورسول سره په محبت کولو بسوالی درې وجوهات:

دې کس صرف د الله او د هغه د رسول سره د محبت ذکر اوکړو لیکن د بدني قلبي او مالي عبادتونو هیڅ ذکر ئې اونه کړو د دې درې وجهې دی

① د عجز و انکسارئ اظهار او د خپلې د عبودیت د مرتبې اخفاء مقصود وه چه دا د یو مخلص مومن شان دې

② الله او د هغه د رسول سره محبت اصل خیز دي او ټول عبادتونه هم د دې محبت شاخونه او د دې لازمي اثر وی ځکه چه هم محبت په اطاعت باندې اماده کول کوی لهذا چه د کوم کس قلب د الله او د هغه د رسول د محبت نه ډک شی نو طاعت او عبادت د هغه عادت ثانیه جوړ شی.

③ محبت بذات خود د ټولو نه اعلی مرتبه ده ځکه چه کوم کس د الله تعالي سره محبت ساتي نو د الله هم ده سره محبت وی يحبهم ويحبونه الايه بهر حال د معیت ساتلو دپاره اول شرط دا دې چه د هغه د اطاعت نه مخالفت نه وی.

تعصی الاله وأنت تظهر حبه　　هذا لعمری فی القیاس بدیع
لوکان حبك صادقا لأطعته　　ان المحبت لمن یحب مطیع

ترجمه: ته دخدائي نافرمانی کوې حالانکه ته د هغه د محبت دعوی کوی زما دې په خپل خان قسم وی چه دا څیزپه قیاس کښې ډیر ناآشنا دې که تا د الله تعالی سره رشتني محبت کولې نو تا به د هغه اطاعت هم کولې ځکه چه محبت کونکې په حقیقت کښې د خپل محبوب فرمانبردار وی.

[۵۰۱۰] دَ ښه او بد ملګری مثال

۵۰۱۰-()[۷] [۱] وَعَنْ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَثَلُ الْجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالسَّوْءِ، كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ، [۳] فَحَامِلُ الْمِسْكِ إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً، [۴] وَنَافِخُ الْكِيرِ إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا خَبِيثَةً»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوموسی رضی الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د نیك او بد همنشین مثال د مشك لرونکی او د اور وهونکی په شان دی، [۳] مشك لرونکی خوبه یادرته مشك مفت درکړي، یاته به یي د هغه نه وا خلي، یا (که په هیڅ صورت کې د هغه مشك تاته په لاس رانشي، نو کم از کم) د هغه خوشبو خوبه ضرور تاته حاصله شي (دغه شان نیك او صالح همنشین نه چې څه فیض یا څه خاص نعمت تاته حاصل شي. نو داڅه کمه خبره ده، چې څو ساعتونو د پاره دده په صحبت کې سکون او طمانیت سره ورته ناسته نصیب شي) [۴] او د اور په بټی کې پوکی وهونکی به یاخو ستا کپړي وسوزي، یا د هغه نه به تاته دماغ خرابونکی بوی یعنی لوګي حاصل شي (دغه شان بدکار همنشین اول خو د دین دنیا دواړو نقصان رسوي، وخت ضائع کوي، او د حصول سعادت صلاحیت او استعداد بیکاره کوي، او که دانه وي نو د هغه په صحبت کې کم از کم دومره خو ضرور وي چې د ژوند هغه قیمتي لمحات د زړه او دماغ خرابیدو او د لاحاصل صحبت په ناخوشګواري کې صرف کېږي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① حَامِلِ الْمِسْكِ: مشکو والا. ② نَافِخِ الْكِيرِ: اور پوک وهونکې. ③ يُحْذِيَكَ: مفت به درکړی تاته. تحفه به درکړی تاته. ④ تَبْتَاعَ: ته به واخلې. ⑤ تَجِدَ: ته به حاصله کړې. ⑥ يُحْرِقَ: اوبه سوزوی. ⑦ خَبِيثَةً: خراب.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الذبائح والصید/باب المسک (رقم-۵۵۳۴) ومسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب استحباب مجالسة الصالحین، ومجانبة قرناء السوء (رقم-۱۴۶ - (۲۶۲۸))وابوداود فی کتاب الأدب/باب من یؤمر أن یجالس (رقم-۴۸۲۹) واحمد فی المسند: ۴۰۸/۴

تسهیلات:

قوله: كَحَامِلِ الْمِسْكِ وَنَافِخِ الْكِيرِ:

دنافخ الکیر وضاحت: دَ دوو مشکونونه لوهار یو مشکیزه جوړه وی کوم چه په کوټله کښې دَ اور تیزولو دپاره استعمالولې شی په دې کښې په دواړو لاسونو سره هوا ډکولې شی او بیا په اور کښې ورپریخودې شی. دې سره دَ اوسپنې دَ بهټۍ نه بخرې او چتیرې او بدبونې هم وی د نن صبا زمانه کښې په دې فن کښې ترقی راغلې ده بهرحال هرمسلمان له پکاردی چه هغه کم نه کم دا اوګوری چه دَهغه دَ روزمره تعلقات چاسره او دَ کوم قسم خلقو سره دی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۰۱۱] دَالله تعالی دَرضا دَپاره تعلقاتو لرونکو سره الله تعالی محبت کوی

۵۰۱۱-()[۸] [۱] عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [۲] "«قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: وَجَبَتْ مَحَبَّتِي لِلْمُتَحَابِّينَ فِيَّ، [۳] وَالْمُتَجَالِسِينَ فِيَّ، [۴] وَالْمُتَزَاوِرِينَ فِيَّ، [۵] وَالْمُتَبَاذِلِينَ فِيَّ» ". رَوَاهُ مَالِكٌ. [۶] وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ، قَالَ: " «يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: [۷] الْمُتَحَابُّونَ فِي جَلَالِي لَهُمْ مَنَابِرُ مِنْ نُورٍ [۸] يَغْبِطُهُمُ النَّبِيُّونَ وَالشُّهَدَاءُ»

ترجمه: [۱] حضرت معاذ بن جبل ﷛ وایي، چې ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل، [۲] الله ﷻ فرمایي. د هغه خلقو سره ځما محبت کول یو فیصله شوی امر دی، چې محض ځما د رضامندي او خوشنودي د خاطره په خپلو کې میل محبت ساتي، [۳] محض ځما د رضا او خوشنودي د خاطره او ځما حمد او ثناء کولو د پاره د یوبل سره کیني، [۴] محض ځما د رضا او خوشنودي د خاطره یوبل سره ملاقات کوي، [۵] او محض ځما د رضا او خوشنودي د پاره خپل مال خرچ کوي، (مالك) [۶] د ترمذي ﷫ روایت کې داسې دی. حضور ﷺ وفرمایل. الله ﷻ فرمایي. [۷] کوم خلق چې ځما د عظمت او جلال په سبب په خپلو کې محبت کوي د هغوئ د پاره به په آخرت کې د نور ممبرونه وي [۸] چې په هغه به انبیاء او شهداء هم رشك کوي، یعنی ورته خاندي به.

حل اللغات: - ① لِلْمُتَحَابِّينَ: خپل مینځ کښې محبت لرونکی، ② الْمُتَجَالِسِينَ: یوبل سره کینی، ③ الْمُتَزَاوِرِينَ: دیوبل سره ملاقات کوی. ④ الْمُتَبَاذِلِينَ: په یوبل باندې خرچ کوی، دا دَ بذل نه دې دَخرچ کولو په معنی کښې دې ⑤ يَغْبِطُهُمْ: رشك به کوی په دوی.

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الحب فی (رقم-۲۳۹۰) ومالك فی الموطا کتاب الشعر باب ما جاء فی المتحابین فی الله (رقم-۱۶) واحمد فی المسند:۲۴۷/۵

تسهیلات:

قوله: يَغْبِطُهُمُ النَّبِيُّونَ وَالشُّهَدَاءُ:

اشکال: دَ انبیاء کرامو درجه به دَ قیامت په ورځ ډیره اوچته وی د شهیدانو درجې به هم ډیرې لوئې وی دَ دې حضراتو دَ یوځام سرې درجه باندې پسخیدل په بوهه کښې نه راځي دویمه خبره دا هم ده چه په دې سره ددغه سرې د انبیاؤ او شهداؤ نه د افضل کیدو وهم پیدا کیدې شی کوم چه شرعاً جائز نه دې؟

داشکال دوه جوابونه: ① یو مفضول سره څه ښکلې څیز وی او فاضل دهغې خواهش ښکاره کړو نو په دې سره دَمفضول درجه دَ فاضل نه نه زیاتیږی اکثر د مفضول ښکلې څیز فاضل ته خوښیږی او هغه غواړی چه که دا څیز ماسره وې نوخومره به ښه وه ددې دا مطلب نه دې چه هغه سره داسې نعمت موجود نه دې بلکه مطلب دادې چه دا ښکلې څیز هم که دَ هغوی په کمالاتو کښې شامل وې نوخومره به ښه وه په دې سره د افضل یا غیر افضل مسئله نه پیدا کیږی.

② داکلام په فرض باندې مبنی دې یعنی فرض کړه که چرې انبیاء اوشهداء په څه څیزباندې غبطه کوله یعنی پسخیدلې نودَدې دوو سړو په درجه باندې به ئې کولو لیکن هغوی به نه پسخیږی.

[۵۰۱۳] دَالله تعالی دَرضا دَپاره د تعلقاتو ساتلو ثواب

―-()[۹] [۱] وَعَنْ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِنَّ مِنْ عِبَادِ اللّٰهِ لَأُنَاسًا مَا هُمْ بِأَنْبِيَاءَ وَلَا شُهَدَاءَ، [۳] يَغْبِطُهُمُ الْأَنْبِيَاءُ وَالشُّهَدَاءُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِمَكَانِهِمْ مِنَ اللّٰهِ [۴]» قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! تُخْبِرُنَا مَنْ هُمْ؟ [۵] قَالَ: «هُمْ قَوْمٌ تَحَابُّوا بِرُوحِ اللّٰهِ، عَلَى غَيْرِ أَرْحَامٍ بَيْنَهُمْ، وَلَا أَمْوَالٍ يَتَعَاطَوْنَهَا، [۶] فَوَاللّٰهِ إِنَّ وُجُوهَهُمْ لَنُورٌ، وَإِنَّهُمْ لَعَلَى نُورٍ، [۷] لَا يَخَافُونَ إِذَا خَافَ النَّاسُ، وَلَا يَحْزَنُونَ إِذَا حَزِنَ النَّاسُ [۸]» وَقَرَأَ الْآيَةَ: ﴿أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ [یونس: ۶۲]». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. [۲] د الله په بنده ګانو کې څه خلق (یعني اولیاء الله) داسې دي، اګر که نبي او شهید نه وي. [۳] لیکن د قیامت په ورځ د الله په نزد دهغوئ مراتب او درجات لیدو سره انبیاء او شهداء به هم په هغوئ رشک کوي. [۴] صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو، یارسول الله، مونږ ته ونښایي هغه کوم خلق دي. [۵] حضور ﷺ ورته وفرمایل هغه، هغه خلق دي، چې د الله روح یعنی قرآن کریم په سبب په خپلو کې میل محبت لري. حالانکي د هغه په منځ کې نه څه رشته وي (چې د هغه تقاضه هغوئ د یوبل سره محبت باندې مجبوره کړي) او نه د مال ودولت دورکړې راکړې

(۱) اخرجه ابوداود في السنن أبواب الإجارة/باب في الرهن (رقم-۳۵۲۷) واحمد في المسند:۳۴۳/۵

معامله وي، حاصل داچي د هغوئ باهمي محبت او په خپلو کي د تعلق بنياد څه دنياوي غرض او وسيله باندې نه وي، بلکې محض د الله ﷻ رضا او خوشنودي او د تعليمات قرآني اتباع باندې وي. [۶]نو قسم دی په الله د قيامت په ورځ به د هغوئ مخونه نوراني وي يا هغوئ به مجسم نور وي. او هغوئ به د نور په منبرونو (يانفس نور باندې) متمکن وي. [۷]هغه خلق به هغه وخت هم خوف زده نه وي، کله چې نور خلق په خوف کې مبتلا وي. او هغوئ به هغه وخت هم غمجن نه وي څه وخت چې نور خلق غمجن وي. [۸]بيا حضور ﷺ د داسې خلقو د الله دوست کولو او هغوئ نه د خوف او حزن نفي کولو د پاره بطور دليل دا آيت شريف تلاوت کی ﴿أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ﴾ آګاه شئ چې د الله په دوستانو خوف نه راځي، او نه هغوئ غمجن کيږي

٥٠٣-()وَرَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" عَنْ أَبِي مَالِكٍ بِلَفْظِ "الْمَصَابِيحِ" مَعَ زَوَائِدَ وَكَذَا فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: او په شرح السنه کښې ئې دابومالک څخه د مصابيح په لفظ سره نقل کړې دې اودغه شان په شعب الايمان کښې هم شته.

حل اللغات: - ① يَغْبِطُهُمْ: رشک به کوی په دوی، ② رُوحِ اللهِ: دالله روح يعنی قرآن کريم. ③ أَرْحَام: رشته داری. ④ يَتَعَاطَوْنَهَا: چه يوبل ته ئې ورکوی.

تسهيلات:

قوله: هُمْ قَوْمٌ تَحَابُّوا بِرُوحِ اللهِ:

خپل مينځ کښې دالله تعالی دپاره محبت ساتونکی: دَدنيا خلق دَمال دولت او دنياوی مفاداتو دَ وجې نه يوبل سره محبت کوی حالانکه دا ناپائيدار څيزونه دی هم په دنياکښې به پاتې شی دَمحبت دَپاره خو اصل څيز اسلام او قرآن دې کوم چه پائيدار دې او دَ کوم محبت چه پائيدار دې په دې وجه په دې حديث کښې اوفرمائيلې شو چه په قيامت کښې دَ پسخيدو قابل هغه خلق دی چه دَ دينی رشتې په بنياد باندې خپل مينځ کښې محبت لری

د روح الله څخه مراد او وجه تسميه: دَ روح الله نه شارحينو قرآن کريم مراد اخستې دې ځکه چه قرآن هم دَمړو بدنونو دَپاره حيات او روح دې اودَدې په وجه سره خپل مينځ کښې محبت، مضبوطه دينی رشته ده چه په قيامت کښې به ضرور په کار راځی

[٥٠٣]دَ مسلمانانو خپل مينځ کښې محبت ساتل دَ ايمان مضبوطه کړئ ده

٥٠٣-()[۱۰] [۱]وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لِأَبِي ذَرٍّ:

() اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم ۳۴۶۸ والبيهقی فی شعب الايمان رقم ۸۹۹۸
() اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم ۹۵۱۴

[۲] يَا أَبَا ذَرٍّ! أَيُّ عُرَى الْإِيمَانِ أَوْثَقُ؟ [۳] " قَالَ: اللّٰهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [۴] قَالَ: " الْمُوَالَاةُ فِي اللّٰهِ، وَالْحُبُّ فِي اللّٰهِ، وَالْبُغْضُ فِي اللّٰهِ ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس ﷠ وايي، چې رسول الله ﷺ حضرت ابوذر ﷠ ته وفرمايل [۲] اي ابو ذره! پوهيږې چې د ايمان كومه كړۍ زياته مضبوطه ده. [۳] حضرت ابوذر ﷠ جواب وركړو، الله او د هغه رسول ښه پوهيږي. [۴] نو حضور ﷺ ورته وفرمايل، د الله رضا او خوشنودي د پاره په خپلو كې د يوبل سره ميل محبت ساتل او د الله رضا او خوشنودي د پاره د چاسره دوستي كول. او د الله رضا او خوشنودي د پاره د چاسره بغض او نفرت كول (بيهقي)

حل اللغات: - ① عُرَى: كړۍ، بند، ② أَوْثَقُ: زيات مضبوط، ③ الْمُوَالَاةُ: يوبل سره محبت كول

تسهيلات: قوله: أَيُّ عُرَى الْإِيمَانِ أَوْثَقُ:

د اسلام مضبوطه كړۍ: د الله د پاره په خپل مينځ كښې دوستي كول. د الله د پاره محبت كول، او د الله د پاره چا سره بغض كول د ايمان مضبوطه كړۍ ده دارنګ د مذكوره محبت دوه طرفه كيدل هم ضروري نه دی لكه چه ډير د الله والو سره زمونږ محبت شته خونه مونږ هغوی ليدلی دی او نه هغوی مونږ ليدلی يوه

[۵۰۱۵] دَ مسلمان رورد بيمارپُرسۍ (پوښتنې) ثواب

۵۰۱۵-()[۱] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] " «إِذَا عَادَ الْمُسْلِمُ أَخَاهُ أَوْ زَارَهُ [۳] قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ، وَتَبَوَّأْتَ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْزِلًا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷠ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] يو مسلمان چې د خپل مسلمان ورور پوښتنې د پاره يا د ملاقات د خاطره هغه ته ورسي. [۳] نو الله ﷻ (بلا واسطه يادرباني فرشتوپه واسطه) فرمايي، چې (دنيا او په آخرت كې) ستا ژوند ښه شو. ستا تلل مبارك شو. (چې په تلو سره دلته راغې) په هرقدم باندې تاته ثواب حاصل شو. او تاته په جنت كې يولوی او عالي مرتبه ځاى حاصل شو. دا روايت ترمذي نقل كړی دی. او ويلي يي دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: - ① عَادَ: عيادت، پوښتنه اوكړی، ② زَارَهُ: زيارت. ملاقات اوكړی. ③ طَابَ: ښه شو، ④ مَمْشَاكَ: تلل ستا، أي صارمشيك سبب طيب عيشك ⑤ وَتَبَوَّأْتَ: او تاځان له ځاىٔ جوړكړو، يعنى تاته حاصل شو. ⑥ مَنْزِلًا: مقام. ځاى.

[۱] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى زيارة الإخوان (رقم-۲۰۰۸) وابن ماجه فى كتاب الجنائز. باب ما جاء فى ثواب من عاد مريضاً (رقم-۱۴۴۳) واحمد فى المسند: ۳۴۴/۲

تسهیلات:

قوله: طبت أي صرت طيب العيش في الاخرة یا دي کې دا هم احتمال دي چه دا جمله دعائیه وی

قوله: قَالَ اللّٰهُ تَعَالَى: طِبْتَ وَطَابَ مَمْشَاكَ:

دالله تعالی د رضا دپاره د یومسلمان په زیارت کولو د فرشتو دعا: یعنی ستا دا راتلل د ثواب باعث دي په دنیا کښې چه په ژوند کښې خوشحالی او اطمینان ملاویدو تعلق کومو څیزونو سره دي هغه دا دی چه د قناعت او توکل دولت د چا نصیب شی. د رضائي الهی سعادت ملاو شی، په رزق کښې برکت، په زړه کښې وسعت او حوصله او د علم او عمل توفیق حاصلیدل **طبت وطاب ممشاك** یا خو دا دریواړه الفاظ خبر دي نو په دې صورت کښې معنی دا ده چه تا ته دي خه ژوند ملاو شی، ستا لاره دې عمده شی. ستا ځکانه دي جنت شی په دې عمل باندی د دومره لوئې اجر و ثواب ملاویدو سبب دا دي چه د یو مومن زړه خوشحالول د عبادت ثقلین نه أفضل دي اګرچه عیادت کول وی کوم نه چه فرض کفایه دي.په دې حدیث کښې وعظ و عبرت هم دې او تذکیر او تنبیه هم ده چه صحت. ژوند . فراغت او غمونه لرې کیدل غنیمت اوګڼړئ

[۵۰۱۶]څوک چې چا سره محبت ساتی نو هغه دې خبر کړی

۵۰۱۶-()[۱۳] [۱]وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۲]«إِذَا أَحَبَّ الرَّجُلُ أَخَاهُ فَلْيُخْبِرْهُ أَنَّهُ يُحِبُّهُ» " رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱]او حضرت مقدام ابن معدیکرب ﷛ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي. چې حضور ﷺ وفرمایل. [۲]هرکله چې یو سړی د خپل مسلمان ورور سره دوستي او محبت ساتي نو پکار ده چې هغه مسلمان ته وښایي چې هغه ورسره دوستي او محبت ولري (ترمذي)

تسهیلات:

قوله: فَلْيُخْبِرْهُ أَنَّهُ يُحِبُّهُ:

دا حکم په دې وجه ورکړې شوې دې چه کله دې مسلمان ته معلومه شی چه فلانکې کس ما سره د الله د پاره دوستی کوی نو هغه به هم ده سره محبت او دوستی ساتی او د دوستی حقوق به ادا کوی دارنګ د هغه باره کښې به دعا کونکې او د هغه خیر خواه به وی

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأدب/باب إخبار الرجل الرجل بمحبته إياه (رقم-٥١٢٤) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في إعلام الحب (رقم-٢٣٩٢)واحمد فی المسند: ١٣٠/٤

[۵۰۱۷] چاسره د محبت کولو اجر او ثواب

۵۰۱۷ -(١) [١٣] ١ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «مَرَّ رَجُلٌ بِالنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَعِنْدَهُ نَاسٌ. ٣ فَقَالَ رَجُلٌ مِمَّنْ عِنْدَهُ: إِنِّي لَأُحِبُّ هَذَا لِلَّهِ. ٤ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَعْلَمْتَهُ؟". ٥ قَالَ: لَا. قَالَ: " قُمْ إِلَيْهِ فَأَعْلِمْهُ ". ٦ فَقَامَ إِلَيْهِ فَأَعْلَمَهُ ٧ فَقَالَ: أَحَبَّكَ الَّذِي أَحْبَبْتَنِي لَهُ. ٨ قَالَ: ثُمَّ رَجَعَ. فَسَأَلَهُ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَأَخْبَرَهُ بِمَا قَالَ. ٩ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ، وَلَكَ مَا احْتَسَبْتَ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ ". وَفِي رِوَايَةِ التِّرْمِذِيِّ: " «الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ وَلَهُ مَا اكْتَسَبَ» ".

ترجمه: ١ او حضرت انس رضي الله عنه وايي، ٢ چې يوه ورځ د رسول الله ﷺ په مخکې يو سړی تير شو، د حضور ﷺ سره ډير خلق ناست وه، ٣ په هغوئ خلقو کې يو سړي اوويل داسړی چې اوس تير شو زه ورسره محض د الله رضا او خوشنودي د پاره محبت کوم ٤ رسول الله ﷺ په دي اوريدو سره وفرمايل، آيا تا هغه ته ښودلی دی چې ته د هغه سره محبت کوي، ٥ هغه سړي اوويل نه حضور ﷺ ورته وفرمايل، لاړشه هغه ته ورشه ورته اووئيلو چې زه ستاسره محبت کوم، ٦ نو هغه سړی د مجلس نبوي ﷺ نه په اوريدو سره هغه ته ورغلی او ورته وې ښودل چې زه ستاسره محبت کوم، ٧ هغه سړي په (جواب کې بطور دعا) ورته وويل، چې هغه ذات (يعني الله جل جلاله) دي ستاسره محبت وکړي، چې د هغه د رضا او خوشنودي د خاطره ته زماسره محبت کوي، ٨ حضرت انس رضي الله عنه وايي بيا هغه سړی واپس راغلو، رسول الله ﷺ پوښتنه ځيني وکړه، هغه سړي په جواب کې څه ويلي دي، هغه حضور ﷺ ته هغه جواب وښوو، کوم چې هغه سړي ورکړی وو. ٩ نو حضور ﷺ ورته وفرمايل، په آخرت کې به د هغه سړي سره يې د چاسره چې محبت ساتي، او ته به د محبت ساتلو بلکي هر هر عمل کې به د هغه شي اجر پيدا کې، چې هغه د الله جل جلاله د پاره نيت کوي، (بيهقي) او د ترمذي روايت کې دا الفاظ دي، چې سړی به د هغه سره وي د چاسره چې محبت ساتي، او هغه ته به د هغه شي اجر حاصليږي، چې هغه يي د ثواب په نيت اختيار وي.

تسهيلات:

قوله: أَنْتَ مَعَ مَنْ أَحْبَبْتَ، وَلَكَ مَا احْتَسَبْتَ:

دالله تعالى په محبت کښي د ثواب نيت کول: د احتساب معنی ده د الله تعالى نه د ثواب اميد لرل او حسبه د دې لفظ اسم دې او اصل کښې دا لفظ د حساب نه راوتي دې چه د

---

[1] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب إخبار الرجل الرجل بمحبته إياه (رقم-٥١٢٥) والترمذي في كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن المرء مع من أحب(رقم-٢٣٨٦) واحمد في المسند:١٥٠/٣

هغې معنی شمارل دی الحاصل د الله د رضا او خوشحالول په خاطر د چا سره محبت کول داسی فعل دې چه که چرې د ثواب په نیت وی نو هغه نیکی شمارلې کیږی او په هغې ثواب مرتب کیږی الله تعالی هغه محبت کونکی ته د هغه د نیت مطابق ثواب ورکوی

[۵۰۱۸] د نیکانو خلقو سره تعلق قائم ساته

۵۰۱۸ - (۱)[۱۳] [۱]وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲]" «لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا [۳]وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱]او د حضرت ابو سعید رضی الله عنه نه روایت دی هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا واوریدل. [۲]د مسلمان نه علاوه بل څوك (کافر او مشرك) خپل همنشین او دوست مه جوړوی. یا دا مراد دی چې د نیکو کار مسلمان نه علاوه یو فاسق او د بدکار سره دوستي مه کوی. (د دي نه مراد هغه جمله ده چې مخکې یي فرمایلي ده) [۳]او ستا طعام دی پرهیز کار او نیکو کار نه علاوه بل څوك نه خوري (ترمذي، ابوداود، دارمي)

حل اللغات: - ① لَاتُصَاحِبْ: دوستی، ملګرتیا مه کوه.

تسهیلات:

قوله: لَاتُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا:

د خرابو خلقو سره د ملګرتیا او دوستی نه منع کیدو وجه: یعنی د خرابو خلقو د ملګرتیا دوستی او هغوی سره نساتې پاستې نه ځان بچ کړه ځکه چه دا ستا د پاره د لستوڼی ماران دی ستا د بدن په ځائی به ستا ایمان او روح له تیك ورکړی تا به په شرك او بدعاتو کښې اخته کړی او تاته به بداخلاقی او بدکرداری ښائی په دې وجه مؤمنانو سره دوستی او تعلق ساته

قوله: وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ:

یعنی ستا حلاله نوړئی ده په دې وجه مناسب دی چه دا نیك او متقی سړې او خوری مطلب دا چه د فاسق فاجر په تابندې داسې څه احسان کیدل نه دی پکار چه صبا ته مجبورا په هغه باندې خوراکونه کوې بلکه ستا معامله نیکانو خلقو سره کیدل پکاردی او د مجبورئی صورت جدا دې

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب من یؤمر أن (رقم-۴۸۳۲) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی صحبة المؤمن (رقم-۲۳۹۵)واحمد فی المسند:۳۸/۳

[۵۰۱۹] د دوست جوړولو په وخت او ګوره چې ته څوک دوست جوړوې

۵۰۱۹-(۱)[۱۵] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«الْمَرْءُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ [۳] فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ»". [۴] رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَقَالَ النَّوَوِيُّ: إِسْنَادُهُ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] انسان د خپل دوست په دين وي (يعني کوم سړی چې څوك دوست جوړوي. نو عام طور سره د هغه عقائد او نظريات او د هغه عادات او اطوار اختيار وي او قبلوي. [۳] نو دا ضروري دی چې کله په تاسو کې څوك دوست جوړوي. [۴] احمد، ترمذي، ابوداود، او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن غريب دی، او نووي رحمه الله ويلي دي د دې روايت اسناد صحيح دی

حل اللغات: - ① يُخَالِلُ: دَدې دوستئی نه مراد دَزړه محبت دې

تسهيلات:

قوله: فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ:

د خلة معنى او تحقيق: قلبي دوستي او قلبي محبت فاسق فاجر او بدکردار سړی سره ساتل نه دی پکار او ظاهري رواداري اومدارات جائز دی.

با دوستاں تلطف با دشمناں مدارا

داحديث بعضې علماؤ مثلاً سراج الدين قزويني موضوع ګرځولې دې په دې وجه صاحب مشکوة ترمذی او نووی په حوالوسره ذکر کړو چه هغوی دا حديث حسن او صحيح ګرځولي دې لهذا دې ته موضوع وئيل صحيح نه دی.

[۵۰۲۰] څوک چې چاسره تعلق ساتل غواړي نو دهغه نوم او نسب دې معلوم کړي

۵۰۲۰-(۲)[۱۶] [۱] وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ نَعَامَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«إِذَا آخَى الرَّجُلُ الرَّجُلَ، [۳] فَلْيَسْأَلْهُ عَنِ اسْمِهِ وَاسْمِ أَبِيهِ، وَمِمَّنْ هُوَ؟ [۴] فَإِنَّهُ أَوْصَلُ لِلْمَوَدَّةِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت يزيد ابن نعامه رضی الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل، [۲] هر کله چې يو سړی د چاسره ورور ولي قائموي، [۳] نو پکار ده چې د هغه او د پلار نوم معلوم کړي، او پوښتنه څيني وکړي چې هغه دکومې قبيلې سره تعلق لري. [۴] ځکه چې دا معلومول د دوستي او تعلق ډير زيات مضبوط جوړولو ذريعه وي.

حل اللغات: - ① أَوْصَلُ: مضبوط جوړونکې، ② الْمَوَدَّةِ: محبت.

[1]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب من يؤمر أن (رقم-۴۸۳۳) والترمذى فى كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۳۷۸) واحمد فى المسند:۲/۳۰۳

[2]) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى إعلام الحب (رقم-۲۳۹۲)

تسهیلات:

قوله: يَزِيدَ بْنِ نَعَامَةَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ:

د یزید بن نعامه تعارف: ابن عبد البر د په صحابه کښې شمار کړې دې او جمهورو حضراتو دې په تابعینو کښې شمار کړې ابن ابي حاتم وائي چه ده ته د نبي علیه السلام صحبت نه دې حاصل شوې ابن عبد البر وائي چه په غزوه حنین کښې دې مشرک وو او د هغې نه پس ئې اسلام قبول کړې دې

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۰۳] دَالله تعالی دَ رضا دَپاره محبت او دشمنی الله تعالی ته خوښ عملونه دی

۵۰۳-(۱) [۱۷] [۱] عَنْ أَبِي ذَرٍّ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ[۲]: «خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: [۳]" أَتَدْرُونَ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ تَعَالَى؟ [۴]" قَالَ قَائِلٌ؟ الصَّلَاةُ وَالزَّكَاةُ. وَقَالَ قَائِلٌ الْجِهَادُ. [۵] قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ أَحَبَّ الْأَعْمَالِ إِلَى اللهِ تَعَالَى الْحُبُّ فِي اللهِ [۶] وَالْبُغْضُ فِي اللهِ» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ الْفَصْلَ الْأَخِيرَ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوذر رضی الله عنه وايي، [۲] چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د خپلې حجرې مبارکې نه وتی او مسجد نبوي ﷺ ته يې زمونږ خواته تشریف راوړی [۳] او وې فرمايل چې تاسو پيژنی الله پاك ته د ټولو نه زيات خوښ عمل کوم يو دی، [۴] يو ويونکې دا وئيل چې مونځ يا زكاة او يو ويونکې وئيل چې جهاد، [۵] حضور ﷺ چې دا واوريدل نو وې فرمايل د الله ﷻ په نزد باندې د ټولو نه خوږ عمل د الله د رضا د پاره د چا سره محبت کول [۶] او د الله د رضا د پاره د چاسره بغض او نفرت کول دي، احمد، او ابوداود په خپل روايت كې د حديث آخري حصه يعنى ان احب الاعمال الخ نقل كړى دی

تسهیلات:

قوله: وَقَالَ قَائِلٌ الْجِهَادُ:

اشکال: "حب فی الله" او "بغض فی الله" دَ مونځ روژې زکوة او جهاد څخه ولې افضل او ګرځولې شوحال دادې چه دا اعمال فرض دی؟

داشکال جواب: ① دَباقی ټولو فرائضو پوره کولو نه پس "الحب فی الله" او "البغض فی الله" افضل عمل دې مطلقًا نه دې یعنی دَ مونځ روژه زکوة او جهاد دَتکمیل نه پس حب فی الله افضل عمل دې بعضې روایاتو کښې دَدې تاویل تصریح هم ده لکه طبرانی دَحضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړی دی «أحب الأعمال إلى الله بعد الفرائض إدخال السرور في قلب المؤمن».

۱) اخرجه احمد فى المسند: ۱۴۶/۵ واخرج ابوداود الفصل الاخير فى السنن رقم ۴۵۹۹

② په قلبی اعمالو کښې حب فی الله افضل عمل او بدنی اعمالو کښې مونځ روژه زکوة حج او جهاد افضل ترین اعمال دی جدا جدا حیثیت دي.

[۵۰۲۲] چاسره دَالله تعالی دَ رضادَپاره محبت کول د الله تعالی تعظیم کول دی

۵۰۲۲-(^١)[۱۸] ١ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«مَا أَحَبَّ عَبْدٌ عَبْدًا لِلهِ ٣ إِلَّا أَكْرَمَ رَبَّهُ عَزَّ وَجَلَّ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ١ او حضرت ابو امامه ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ٢ کوم بنده چې د کوم بنده سره محض د الله د رضا او خوشنودي په خاطر محبت او دوستی وساتي، ٣ نو هغه په حقيقت کښې د خپل پروردګار عز وجل تعظيم او تکريم وکی.

[۵۰۲۳] په تاسو کښې غوره کوم خلق دی؟

۵۰۲۳- (^٢)[۱۹] ١ وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ ٢ أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ ٣ قَالُوا بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ ٣ قَالَ خِيَارُكُمُ الَّذِينَ إِذَا رُءُوا ذُكِرَ اللهُ. رَوَاهُ ابْنُ مَاجَةَ.

ترجمه: ١ او د حضرت اسماء بنت يزيد ﷺ نه روايت دی، چې هغوئ د رسول الله ﷺ نه دا فرمايل واوريدل، ٢ آيا زه تاسو ته اووايم چې په تاسو کې بهترين خلق څوک دي؟ ٣ صحابه ﷺ عرض وکړو چې هو ا ضرور اووئيلو ٤ حضور ﷺ وفرمايل په تاسو کې بهترين خلق هغه دي چاته چې وګوري الله درياد شي.

حل اللغات: - ① خِيَارُكُمْ: غوره په تاسو کښې، ② رُءُوا: چه او کتلې شی هغوی،

تسهیلات:

قوله: خِيَارُكُمُ الَّذِينَ إِذَا رُءُوا ذُكِرَ اللهُ:

تسهیلات:

نوټ: ددې حديث د مضمون تشريح د حديث نمبر(۴۸۷۱) په تسهيل کښې تيره شوې ده

[۵۰۲۴] د الله د پاره په خپل مينځ کې د محبت ساتلو فضيلت

۵۰۲۴-(^٣)[۲۰] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«لَوْ أَنَّ عَبْدَيْنِ تَحَابَّا فِي اللهِ عَزَّ وَجَلَّ، ٣ وَاحِدٌ فِي الْمَشْرِقِ وَآخَرُ فِي الْمَغْرِبِ ; ٤ لَجَمَعَ اللهُ بَيْنَهُمَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ. ٥ يَقُولُ: هَذَا الَّذِي كُنْتَ تُحِبُّهُ فِيَّ»".

ترجمه: ١ حضرت ابو هريره ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ که دوه بندګان محض د الله رضا او خوشنودي د خاطره په خپلو کې محبت ساتي، ٣ برابره خبره ده که

^١) اخرجه احمد في المسند: ۲۵۹/۵
^٢) اخرجه ابن ماجه في السنن ۲/ ۱۳۷۹، الحديث رقم ۴۱۱۹.
^٣) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم ۹۰۲۲

یو دهغوئ په مشرق کې وي او بل په مغرب کې وي [۴] نو بلاشبه الله ﷻ به یې د قیامت په ورځ یوځای کړي، (چې د یوبل شفاعت وکړي. یا په جنت کې د یوبل سره وي) او الله ﷻ به (د فرښتي په ژبه یا براه راست خپله) په هغوئ کې هریوه ته وفرمایي. دابنده هغه دی چې د ده سره تاخما د خاطره محبت کوی

[۵۰۲۵] د دنیا او آخرت د خیر حاصلولو اعمال

۵۰۲۵-(^1)[۲۱] [۱] وَعَنْ أَبِي رَزِينٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ قَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲]: أَلَا أَدُلُّكَ عَلَى مِلَاكِ هَذَا الْأَمْرِ الَّذِي [۳] تُصِيبُ بِهِ خَيْرَ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ؟ [۴] عَلَيْكَ بِمَجَالِسِ أَهْلِ الذِّكْرِ، [۵] وَإِذَا خَلَوْتَ فَحَرِّكْ لِسَانَكَ مَا اسْتَطَعْتَ بِذِكْرِ اللَّهِ، [۶] وَأَحِبَّ فِي اللَّهِ وَأَبْغِضْ فِي اللَّهِ، [۷] يَا أَبَا رَزِينٍ! هَلْ شَعَرْتَ أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا خَرَجَ مِنْ بَيْتِهِ زَائِرًا أَخَاهُ، [۸] شَيَّعَهُ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ، كُلُّهُمْ يُصَلُّونَ عَلَيْهِ [۹] وَيَقُولُونَ: رَبَّنَا إِنَّهُ وَصَلَ فِيكَ، فَصِلْهُ، [۱۰] فَإِنِ اسْتَطَعْتَ أَنْ تُعْمِلَ جَسَدَكَ فِي ذَلِكَ فَافْعَلْ".

ترجمه: [۱] او د حضرت ابو رزین رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل. [۲] زه تا نه د دې امر (یعني دین) ریښې او بنیاد و نه ښایم [۳] چې د هغه په ذریعه ته د دنیا او آخرت خیر حاصل کړې، (نو واوره) دا څیزونه ته په ځان لازم کړه، [۴] د اهل ذکر په مجالس کی ناسته کوه، (چې ستا هم د ذکر الله توفیق او سعادت نصیب شي) [۵] هرکله چې تنها (ځان ته) یې نو څومره چې ممکنه وي، د ذکر الله په ذریعه خپله ژبه په حرکت کې ساته. یعنی د خلقو سره په کیناستو سره هم ذکر کوه، او په تنهائي کې هم د الله په یادکي مشغول اوسه [۶] او که ته څوک دوست ساتي نو محض د الله رضا او خوشنودي د پاره یې دوست ساته. او که د چاسره بغض دښمني لري، نو خاص د الله رضا او خوشنودي د پاره د هغه سره بغض ساته (یعني) د چاسره ستا د دوستي او دښمني معیار ستا د خپل ذات خواهشات یاځه دنیاوي نفع نقصان کیدل نه دي پکار، بلکې د الله رضا او خوشنودي معیار جوړکړه. د دې مطلب دادی، چې هغه سرې خپل دوست جوړ کړه، چې د هغه دوستي سره الله خوشحالیږي. او هغه سرې سره دښمني ساته. چې د هغه دښمني سره د الله خوشنودي حاصلیږي [۷] او اې ابو رزین رضی الله عنه! ایا تاته معلومه ده چې کله یو سرې د خپل مسلمان وررور زیارت او ملاقات په اراده د کور نه وځي. او هغه مسلمان ته ورځي نو اویا زره فرښتي هغه پسې وروسته وروسته ځي. او هغه ټولي فرښتي د هغه د پاره دعاء استغفار کوي، [۹] او وایي اې زمونږ پروردگاره! دي سړي محض ستا د رضا او خوشنودي د خاطره یو مسلمان وررور سره ملاقات کړی دی، نو دي د خپل رحمت او مغفرت سره منسلك کړه، [۱۰] نو اې ابو رزین رضی الله عنه! که ستا د پاره په دې مذکوره څیزونو

^1) اخرجه البیهقي في شعب الایمان رقم ۹۰۲۴

کښې خپل ځان لګول يعنې په هغه عمل کول ممکن وي نو داشيان ضرور اختيار کړه

حل اللغات: - ① مِلَاكِ: بنياد، ② خَلْوَتَ: تنها او ځانله ئې، ③ هَلْ شَعَرْتَ: آيا تاته معلومه ده. ④ يَنْغَهُ: ورپسې روسته ځی، ⑤ وَصَلَ: تعلق ساتلې دې.

تسهيلات:

قوله: عَلَيْكَ بِمَجَالِسِ أَهْلِ الذِّكْرِ:

د مجالس ذکر د جنت باغونه سره تشبيه ورکول: چه مجالس ذکر لازم اونيسه چونکه د ذکر مجالس در حقيقت د جنت باغونه دی دې وجه دا لازم نيولو حکم دې کما في الحديث اذا مررتم برياض الجنة فارتعوا قال وما رياض الجنة قال الذکر (ترمذی)

[۵۰۳۶] دَالله تعالى دَپاره دَ محبت حاصلولو فضيلت

۵۰۳۶ - ()[۲۲] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ ②: «كُنْتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ④ "إِنَّ فِي الْجَنَّةِ لَعُمُدًا مِنْ يَاقُوتٍ ⑤ عَلَيْهَا غُرَفٌ مِنْ زَبَرْجَدٍ، ⑥ لَهَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ تُضِيءُ كَمَا يُضِيءُ الْكَوْكَبُ الدُّرِّيُّ". ⑦ فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! مَنْ يَسْكُنُهَا؟ ⑧ قَالَ: "الْمُتَحَابُّونَ فِي اللّٰهِ، وَالْمُتَجَالِسُونَ فِي اللّٰهِ، وَالْمُتَلَاقُونَ فِي اللّٰهِ» ⑨ "رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، ② چې يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ سره ناست وم، ③ حضور ﷺ وفرمايل ④ په جنت کې د ياقوت ستني دي، ⑤ چې په هغه د زمرودو بالاخاني جوړي وي، ⑥ د هغه دروازي خلاصي دي، او هغه بالاخاني او دروازي داسې روښانه او ځلانده (ښائسته) دي، لکه ځرنګه چې روښانه ستوري ځليږي، ⑦ په دي اوريدو سره صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو، يارسول الله په هغه کې به کوم خلق اوسيږي، ⑧ حضور ﷺ ورته وفرمايل کوم خلق چې د الله د رضا او خوشنودئ په خاطر په خپلو کې محبت ساتي او د الله د رضا او خوشنودي د خاطره خپلو کې ملاقات کوي، ⑨ دا دري سره روايتونه بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې نقل کړی دی

حل اللغات: - ① عُمُدًا: ستنې، ② غُرَفٌ: بالاخانې، ③ مُفَتَّحَةٌ: پرانستې، خلاصې، ④ تُضِيءُ: ځليږی، روښانه دی، ⑤ الْكَوْكَبُ: ستوری، ⑥ الدُّرِّيُّ: روښانه، ⑦ الْمُتَلَاقُونَ: خپلو کښې ملاقات کونکی،

تسهيلات:

قوله: لَهَا أَبْوَابٌ مُفَتَّحَةٌ تُضِيءُ كَمَا يُضِيءُ الْكَوْكَبُ الدُّرِّيُّ:

په دې کښې کمال امن طرف ته اشاره ده يا دې ته اشاره ده چه دا کور والا په انتظار کښې دی او متلاقون نه مراد په خپل مينځ کښې د يو بل زيارت کول او د يو بل سره مصافحه کول دی.

[1] اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم ۹۰۰۲

[۱۷] بَابُ مَا يُنْهَى عَنْهُ مِنَ التَّهَاجُرِ وَالتَّقَاطُعِ وَاتِّبَاعِ الْعَوْرَاتِ]

دَ ممنوع څيزونو يعنى ملاقات او تعلق پريخودل او دخلقو د عيب لټولو بيان

خلاصة الباب

فيه خمسة وعشرون حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① حرمة تهاجر المسلم فوق ثلاثة أيام: ۱، ۷، ۸، ۱۰.
② المنع عن إتباع عورات المسلمين وقباحته: ۲، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰.
③ قباحة التهاجر والتحاسد والأضرار بالمسلمين: ۳، ۴، ۸، ۱۰، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۲۲، ۲۴.
④ فضيلة دفع التهاجر والإجتهاد في إصلاح المسلمين: ۱، ۵، ۶، ۱۱.
⑤ فضيلة حسن الظن بالله وبالمسلمين: ۲۱، ۲۳، ۲۴.

ترجمة الباب د الفاظو تشريح: يعنى دا يوځو ممنوع څيزونه دى په كوم كښې چه ترك ملاقات په خپل مينځ كښې هجران او تعلق پريخودل او عيب لټول شامل دى.

قوله: مِنَ التَّهَاجُرِ:

دتهاجر لغوى معنى:

تهاجر باب افتعال دي يو بل سره تعلق پريخودلو ته وائى.

قوله: "تقاطع" دا لفظ د قطع څخه ماخوذ دي يعنى كټ كول، مراد ترې مسلمانانو سره تعلق كټ كول دى

قوله: وَاتِّبَاعِ الْعَوْرَاتِ:

دعورة لغوى معنى: دادَ عورة جمع ده په لغت كښې عورت هغه څيزته وائى دكوم په ښكاره كيدو سره چه سړي شرم محسوسوى او په زړه كښې غوارى چه هغه څيز دې پټ پاتې وى

دعورات څخه مراد: دلته دَ عورات نه پټ عيبونه مراد دى يعنى دَ خلقو پټو عيبونو پسې لګيدل ښه خبره نه ده بلكه منع دى.

الْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۰۲۷] مسلمان سره دَ دريو ورځو څخه زيات د ترك تعلق عدم جواز

۵۰۲۷-(۱)[۱] عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]«وَلَا

[۱]) اخرجه البخاري فى كتاب الأدب/باب الهجرة (رقم-۶۰۷۷) ومسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب تحريم الهجر فوق ثلاث بلا عذر شرعى (رقم-۲۵ - (۲۵۶۰) وابوداود فى كتاب الأدب/باب فيمن يهجر أخاه المسلم (رقم-۴۹۱۱) والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية الهجر للمسلم (رقم-۱۹۳۲) ومالك فى الموطا كتاب حسن الخلق/باب ما جاء فى المهاجرة (رقم-۱۳) واحمد فى المسند: ۱۷۶/۱

يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ ۳ يَلْتَقِيَانِ فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا، ۴ وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.»

ترجمه: ۱ او حضرت ابو ايوب انصاري رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل، ۲ دا د هيچا د پاره حلال نه دي، چې هغه د دريو ورځو نه زيات د خپل مسلمان ورور سره راشه درشه پريږدي، ۳ او صورت داوي چې هرکله يوبل ته مخې ته راشي، نو دې خپل مخ يوطرف ته وګرځوي، او هغه خپل مخ بل طرف ته وګرځوي، (يعني دواړه د يوبل د سلام کلام او ملاقات نه پرهيز وکړي) ۴ او په دې دواړو کې ښه سړى هغه دى چې د خفګان لرې کولو د پاره او تعلقات بحال کولو د خاطره په سلام کې مخکې شي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ۱ يَهْجُرَ: پريږدي، ۲ يُعْرِضُ: اوګرځوي مخ خپل،

تسهيلات:

قوله: أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ:

د فوق ثلاث قيد فائده: يعنى دَدريو ورځونه زيات ترک تعلق دَچاد پاره هم حلال نه دې په دې حديث کښې دَ دريو ورځو قيدلګولونه معلومه شوه چه انسانى طبع غصه او غضب ته نظر کولو په وجه دَدريو ورځوپورې دَ يوسړى دَپاره دَ ترک تعلق او بائيکاټ ګنجائش شته دَ غيرت او حميت دَ وجې نه انسان دريو ورځو پورې دَخپل غضب دَ جذباتودَ وجې نه معذور دې ځکه چه دَ مزاج تيزى اودَ بې صبرئى ماده درې ورځې په جوش کښې وى لهذا دريوورځو پورې به معذوره ګنړلې شى. دَ دريوورځونه زيات قطع تعلق دَ مزاج مغلوبيت نه دې بلکه شرارت دې نوځکه حرام دې. دريو ورځوپورې معذوره ګنړلو وجه هم په پوهه کښې راځى ځکه چه انسان مدنى الطبع دې دَ عام تعلق دَ وجې کله کنځلې اورى کله غيبت اوچغلى اورى. دَ روز مره دَدې خپل مينځ دَمعاملاتودَ وجې نه دَ جنګ جګړې صورت پيدا کيدې شى په دې وجه دَ دريو ورځو پورې دَ قطع تعلق ګنجائش شته دې زيات نشته.

علامه سيوطى رحمه الله په دې خبره باندې دَ علماؤ اتفاق نقل کړې دې که چرته يوسړى ته دا ويره وى که فلانکى سړى سره ملاقات کوم يا عامو خلقو سره تعلق ساتم نو په دې سره ماته دَدينى او دنياوى نقصان رسيدو خطره ده او زما قيمتى وخت هم ضائع کيدې شى نودَ داسې سړى دَپاره جائز دى چه هغه دَ خلقو نه ځان غاړې ته کړى اودَملاويدو او تعلق ساتلونه ځان اوساتى ليکن چه هغه په دې ځان غاړې ته کولوسره دَ خلقو غيبت اونه کړى دَهغوى بدى اونه کړى اوهغوى سره کينه اوحسد اونه کړى

هم دغه شان دَدينى حميت دَ وجې نه اودَ دينى غيرت په بنيادباندې دَ دين دَ فائدې دَپاره

دَ دريو ورځونه زيات دَترك تعلق ګنجائش شته ځکه چه دا ترك موالات دَدين دَپاره هم مفيد دى او دَ دغه سړى دَپاره هم مفيد دى كوم سره چه ترك تعلق كړې شوې دې چنانچه حضرت كعب بن مالك، هلال بن اميه او حضرت مراره رضی الله عنهم سره اهل مدينه او دَ الله تعالى پيغمبر عليه السلام پنځوس ورځې مكمل قطع تعلق كړې وو. حضورپاك حضرت زينب رضی الله عنها سره تقريباً پاؤكم درې مياشتو پورې قطع تعلق كړې وو حضرت ابن عمر رضی الله عنهما خپل خوئى حضرت بلال رحمه الله سره ټول عمرقطع تعلق كړې وو. حضرت عائشه رضی الله عنها دَ يوې مودې پورې حضرت عبد الله بن زبير سره قطع تعلق كړې وو. غرض دا چه كله دَنفس خواهش نه وى كينه اوحسد نه وى صرف دَدينى غيرت اوحميت دَپاره قطع تعلق وى نودا جائز دې دغه شان اهل بدعت او اهواء سره دَهغوى دَبدعت دَ وجې نه قطع تعلق ضرورى دې اودَ نورو بدعقيدو خلقو هم دغه حكم دې.

دَ تهاجر او بائيكاټ په صورت كښې چاچه په سلام كښې رومبې والې اوكړو هغه به دَ هغه بل نه افضل او اعلى جوړيږى. كه چرې په وخت دَ قطع تعلق يو سلام اوكړو او بل جواب ورنه كړو نواوس دَ تقاطع دګناه نه هغه سلام كونكې بهرشو او هغه بل به په دې كښې پروت وى.

د پوره بحث خلاصه: دَدې پوره بحث خلاصه دا راووتله چه دَ قبيح كار دَ كولو نه پس دَ ادب رتنه توبيخ اوتنبيه او دَ اصلاح په غرض سره كه دَدريو ورځونه زيات تهاجر جائز دې او صرف دَ بغض عناد او كينې اوحسد په بنيادباندې حرام دې په دې بيان سره به په ټولو احاديثو كښې تطبيق راشى.

[۵۰۲۸] دبعضې معاشرتى خرابيا نوځخه ممانعت

۵۰۲۸-(۱)[۳] ١ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "٢ «إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ، ٣ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ، ٤ وَلَا تَحَسَّسُوا، وَلَا تَجَسَّسُوا ٥ وَلَا تَنَاجَشُوا وَلَا تَحَاسَدُوا، ٦ وَلَا تَبَاغَضُوا، وَلَا تَدَابَرُوا، ٧ وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا» ". ٨ وَفِي رِوَايَةٍ: "وَلَا تَنَافَسُوا". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل ٢ د بدګمانۍ كولو نه پرهيز وكړئ. ٣ ځكه چې بدګماني د خبرو د ټولو نه بدتر دروغ دي ٤ (د غير متعلق امورو او بلا ضرورته) د نورو د احوالو په لټون كې مه لګيږئ، د چا جاسوسي مه كوئ ٥ د چاسودا ګاني مه خرابوئ، په خپلو كې حسد مه كوئ، ٦ د يو بل سره بغض مه ساتئ

۱) اخرجه البخاری فی كتاب الأدب/ باب {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا} [الحجرات: ۱۲] ومسلم فی كتاب البر والصلة والآداب/باب تحريم الظن، والتجسس، والتنافس، والتناجش ونحوها (رقم-۲۸ - (۲۵۶۳) وابوداود فی كتاب الأدب/باب فيمن يهجر أخاه المسلم (رقم-۴۹۱۰) كتاب حسن الخلق/باب ما جاء فی المهاجرة (رقم-۱۴) واحمد فی المسند:۳/۱۱۰

د يوبل غيبت مه کوئ، ⑦ او ټول مسلمانان د الله بندګان او د يوبل ورو نه جوړيدو سره اوسيږي، ⑧ او په يو روايت کې دا الفاظ هم دي، چې په خپلو کې ديوبل د شي حرص مه کوئ (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① إِيَّاكُمْ: ځان اوساتئ. ② لَاتَحَسَّسُوا: دَ چا دَ احوالو په شيش کښې مه پريوځئ او دَ نورو خلقو دَ خبرو په لټون کښې مه اوسيږئ ③ لَاتَجَسَّسُوا: دَ چا جاسوسي مه کوئ ④ لَاتَنَاجَشُوا: دَ چا سودا (بيعه) مه ورانه وه ⑤ لَاتَدَابَرُوا: دَيوبل پسې شاته غيبت او بدې مه وايئ ⑥ لَاتَنَافَسُوا: دَ حرص اولالچ کولو سره د دنيا په ځيزونو کښې دلچسپي اخستو سره دَ يوبل نه مه وړاندې کيږئ

تسهيلات:

قوله: إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ ; فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ،

د غلط ګماني څخه د ځان ساتلو حکم: يعني دَبد ګمانئ نه ځان بچ کړئ بل دَ ګمان او مفروضو په بنيادباندې خبرې بيانولو نه ځان بچ کړئ ځکه چه دغه شان فرضي خبرې او اوريدلې خبرې ډير بدترين دروغ دی او "كفى بالمرء كذبا أن يحدث بكل ما سمع" حديث سره دامنع کړې شوی دی.

قوله: وَلَا تَحَسَّسُوا، وَلَا تَجَسَّسُوا:

د تحسس او تجسس په فرق کښې دوه اقوال: ① تجسس هغه لټون او کوشش ته وائی چه دَ نورو په امداد او تعاون سره وی او تحسس هغه دې چه دَ چا په امداد او واسطې سره نه وی بلکه خپل مدد په خپله دَ خپلو حواسو په بنيادباندې وی مګر چه په پټه طريقه وی لکه چه دَ غوږ کيخودلو سره کوشش اوکړی يا پټه طريقه په سترګو سره معلوم کړی ② دا دواړه مترادف الفاظ دی معنی ئی هم يوه ده

قوله: وَلَاتَنَاجَشُوا:

دتناجش مفهوم: تناجش دالفظ په اصل کښې ښکار راپاره کولو او تختولو دَپاره استعمالولې شی بيا دَ دې اطلاق په هغه مصنوعی خريدار باندې کيدل شروع شو چه په ګاهك باندې دَ قيمت زياتولو دَپاره مصنوعی بيع لګوی. دَدې جملې لفظی ترجمه داده چه دَ چا سودا مه ورانه وه.

قوله: وَلَاتَحَاسَدُوا:

د حسد تعريف: يعنی حسد مه کوئی دَ حسد تعريف دادې چه دَ بل دَ نعمت دَ ختمولو خواهش اوکړی که هغه ده ته ملاؤ شی اوکه ملاؤ نه شی مګر چه دَ هغه بل نه ختم شی

قوله: وَلَاتَدَابَرُوا:

د ولا تدابروا په مفهوم کښې دوه اقوال: ① ملاعلی قاری رحمه الله دا بيان کړې دې چه کله دوه

مسلمانان ملاویړی نوډ قطع تعلق د وجې نه یو بل ته مه شا کوئی لکه چه عام عادت دې دوه خفه ملګری د یوبل نه مخ اړوی اوشا کولوسره ددې کوی دامطلب زیات واضح دې

② د یوبل پسې شاته غیبت اواود یو بل بدې مه کوئی

قوله وَكُونُوا عِبَادَ اللّٰهِ إِخْوَانًا:

دورنړو پشان ژوند تیرول: یعنی ټول په ټول دینی مسلمانان رونړه جوړشئی دا جمله د نتیجې اوخلاصې په توګه ده ځکه چه پورته بیان کړې شوې مکروه کارونه چه کله نه وی نوخپل پخپله به مسلمانان رونړه رونړه جوړشی ځکه چه د ټولورب یو دې نبی ئی یو دې کتاب ئی یو دې قبله ئی یوه ده او مکمل اتحاد دې.

قوله وَلَا تَنَافَسُوا

په دنیا کښې د سیالۍ کولوځخه ممانعت: یعنی د حرص اولالچ کولو سره دنیاوی شکلې خیزونوکښې دلچسپی اخستو سره د یوبل نه مه وړاندې کیږئی. په یوروایت کښې دا جمله موجود ده اوس زیات واضح دادی چه دا جمله د ولاتحاسدوا نه پس وی.

[۵۰۲۹] په خپل مینځ کښې د دښمنۍ ساتلو وبال

۵۰۲۹-()[۳] ١ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "٢«تُفْتَحُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ ٣ فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لَا يُشْرِكُ بِاللّٰهِ شَيْئًا ٤ إِلَّا رَجُلٌ كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ ٥ فَيُقَالُ: أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایې، چې رسول الله ﷺ وفرمایل ٢ د ګل او زیارت (دوشنبې پنجشنبې) په ورځ د جنت دروازې خلاصې شي ٣ او بیا د هرهغه بنده بخشش کیږي چې د الله سره څوك شریك نه جوړ وي ٤ البته هغه سړی د دې بخشش نه محروم وي. چې د خپل یو مسلمان وړور سره عداوت لري، ٥ او فرشتو ته ونیل کیږي دې دواړو نه چې په خپلو کې عداوت او دښمني لري مهلت ورکړئ چې په خپلو کې صلح صفائي وکړي (مسلم)

حل اللغات:- ① شَحْنَاءُ: سخته دشمني. ② أَنْظِرُوا: د باب افعال نه د امر صیغه ده د انتظار اومهلت ورکولو په معنی کښې دې

(۱) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب النهی عن الشحناء والتهاجر (رقم-۳۵ - (۲۵۶۵) وابوداود فی کتاب الأدب/باب فیمن یهجر أخاه المسلم (رقم-۴۹۱۶) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المتهاجرین (رقم-۲۰۲۳) ومالک فی الموطا کتاب حسن الخلق/باب ما جاء فی المهاجرة (رقم-۱۷) واحمد فی المسند:۲۶۸/۲

تسهيلات:

قوله: إِلَّا رَجُلٌ كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ:

د لفظ شحناء وضاحت: په خپل مينځ کښې د يرخراب قسم عداوت ته شحناء وائي. دا دَ انسان دَپاره دومره لويه تباهي ده چه دَ شرك نه علاوه لوئي لوئي گناهونه معاف کيږی مگر داگناه نه معاف کيږی دَ پير اوزيارت په ورځ دَ جنت دروازې کولاويږی اودَ الله تعالى رحمت عام کيږی ليکن دا دوه کسان کوم چه په خپل مينځ بغض اوعداوت ساتی دَدوی داگناه نه معاف کيږی اودَ الله تعالى دَ طرف نه فرښتوته حکم کيږی چه ترکومې پورې دا دواړه خپل مينځ کښې صلح اومعافی تلافی اونه کړی دوی ته به دَ پير اوزيارت په ورځو کښې هم معافی اونه کړم.

قوله: فَيُقَالُ: أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا: دَ صلح کولو په معنی کښې دې. دې پسې روايت کښې "يفيئا" دې چه دَ رجوع په معنی کښې دې يعنی دوی روستو کولو سره پريږده ترکومې پورې چه پخپله صلح نه وی کړې زه به ئی نه معاف کوم.

[۵۰۳۰] خپل مينځ کښې د دشمنی کونکو انجام

۵۰۳۰-() [۳] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «تُعْرَضُ أَعْمَالُ النَّاسِ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّتَيْنِ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَيَوْمَ الْخَمِيسِ، [۳] فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ إِلَّا عَبْدًا بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ، [۴] فَيُقَالُ: اتْرُكُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَفِيئَا» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل [۲] په هره هفته کې دوه ځله د دوشنبي او پنجشنبي په ورځ د پروردګار په دربار کې د خلقو اعمال پيش کېږي. [۳] نو د هر مؤمن بنده مغفرت بخښنه کېږي، علاوه د هغه بنده نه چې خپل يومسلمان ورور سره عداوت لري، [۴] د هغوئ باره کې وئيل کېږي، چې هغه دواړو ته مهلت ورکړئ چې رجوع وکړي، او دعداوت نه منع شي (مسلم)

تسهيلات:

قوله: تُعْرَضُ أَعْمَالُ النَّاسِ فِي كُلِّ جُمُعَةٍ مَرَّتَيْنِ:

انبياء عليهم السلام ته اعمال په کومه ورځ پيش کيږی؟: په دې باره کښې ملا علي قاري يو روايت نقل کړې چه **وفي رواية الحكيم عن والد عبد العزيز ولفظه تعرض الأعمال** اعمال الله

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب النهی عن الشحناء والتهاجر (رقم-۳۶ - (۲۵۶۵) وابوداود فی کتاب الصوم/باب فی صوم الاثنين والخميس (رقم-۲۴۳۶) والترمذی فی کتاب الصوم عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی صوم يوم الاثنين والخميس (رقم-۷۴۷) ومالک فی الموطا کتاب حسن الخلق/باب ما جاء فی المهاجرة (رقم-۱۸) واحمد فی المسند: ۲/۲۶۸

تعالی ته د پیر او د جمعرات روځ باندې پیش کیږي او انبیاؤ ته د خپلو امتونو اعمال د جمعې په روځ پیش کیږي هم دغه شان والدینو ته د جمعې په روځ اعمال پیش کیږي چه په هغې باندې هغوی خوشحالیږي او د هغوی مخونه د خوشحالۍ نه پرقیږي هم دې وجه نه وئیلی شوي دي فاتقوا الله ولا تؤذوا موتاكم دې حدیثونو نه د دریو ورځو نه د زیات خفه کیدلو نه د منع کولو حکمت ظاهر شو چه کیدې شي د دې کس ناراضګي په دې ورځو کښې راشي نو دا به د ثواب نه د محرومۍ سبب جوړ شي

[۵۰۳۱] په کومو صورتونو کې دروغ وئیل جائز دي؟

۵۰۳۱-(¹) [۵] [۱] وَعَنْ أُمِّ كُلْثُومٍ بِنْتِ عُقْبَةَ بْنِ أَبِي مُعَيْطٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "[۳] «لَيْسَ الْكَذَّابُ الَّذِي يُصْلِحُ بَيْنَ النَّاسِ وَيَقُولُ خَيْرًا وَيَنْمِي خَيْرًا". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. [۴] وَزَادَ مُسْلِمٌ قَالَتْ: وَلَمْ أَسْمَعْهُ - تَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يُرَخِّصُ فِي شَيْءٍ مِمَّا يَقُولُ النَّاسُ كَذِبٌ [۵] إِلَّا فِي ثَلَاثٍ: الْحَرْبُ، وَالْإِصْلَاحُ بَيْنَ النَّاسِ، [۶] وَحَدِيثُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ وَحَدِيثُ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا».

ترجمه: [۱] او بي بي ام کلثوم ﷞ بنت عقبه ابن ابي معیط وايي، [۲] چې ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل، [۳] هغه سړی دروغجن نه دی چې (د خپل د دروغو خبرو په ذریعه) خلقو په منځ کې صلح کوي، (یعنی په خپلو کې د عداوت لرونکو په منځ کې صلح او صفائي کوي. (په خپلو کې دښمني لرونکو کې هریوه ته) نیکه خبره کوي، چې د صلح باعث جوړه شي. او د هریو طرف نه بل ته نیکه خبره وررسوي، (بخاري، مسلم) [۴] او د مسلم ﷫ په روایت کې دا الفاظ مزید نقل شوي دي چې بي بي ام کلثوم ﷞ وویل. ما د هغه ذات ګرامي (یعنی رسول الله ﷺ نه داسې هیڅ خبره نه ده اوریدله، چې د هغه نه دا ثابتیږي. چې حضور ﷺ د هغه نه څه داسې خبرې اجازت ورکړی وي، کوم ته چې خلق دروغ وايي. یعنی حضور ﷺ په هیڅ معامله کې د دروغ ویلو چاته اجازت نه دی ورکړی.) [۵] علاوه د دریو خبرو نه چې په هغه کې د دروغ ویلو اجازت عطا کړی دی یو خو د جنګ په حالت کې، دویم د خلقو په منځ کې صلح صفائي کولو کې. [۶] او دریم هغه وخت چې خاوند خپلې ښځې ته خبرې کوي. او ښځه خپل خاوند ته خبرې کوي،

۵۰۳۲-(²) [۱] وَذُكِرَ حَدِيثُ جَابِرٍ: "إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ" فِي "بَابِ الْوَسْوَسَةِ".

ترجمه: [۱] او د حضرت جابر ﷛ دا روایت إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ أَيِسَ الخ باب الوسوسه کې نقل شوي دي

حل اللغات:- ① يَنْمِي: خوروي. ② يُرَخِّصُ: اجازت ئې ورکولو

¹) اخرجه البخاري في كتاب الصلح/باب: ليس الكاذب الذي يصلح بين الناس (رقم-۲۶۹۲) ومسلم في كتاب البر والصلة والآداب/باب تحريم الكذب وبيان ما يباح منه (رقم-۱۰۱ - (۲۶۰۵))واحمد في المسند:۶/۴۰۳
²) مسلم في صحيحه ۴/ ۲۱۶۶. الحديث رقم (۶۵- ۲۸۱۲).

تسهيلات:

قوله: يُرَخِّصُ فِي شَيْءٍ مِمَّا يَقُولُ النَّاسُ كَذِبٌ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ: الْحَرْبُ:

د جهاد احکام عجیبه دی: د دې حرب نه عام جنګ مراد نه دې بلکه مقدس جنګ جهاد مراد دې دَ جهاد احکام عجيبه دی يو څيز په نورو ميدانونو کښې حرام وی ليکن دَ جهادپه ميدان کښې جائز او حلاليږی.شاعر وائی:

تفردبالأحكام في أهله الهوي　　　فأنت جميل الخلف مستحسن الكذب

دَحديث مطلب دادې چه دَجهاد ميدان کښې دَ ضرورت په وخت دَخلاف واقعه خبرو دَ استعمال اجازت دې دکوم خبرو تعلق چه دَمسلمانانو طاقت او دَ لښکر دَ اوچتوالی دَ اظهارسره وی مثلاً دا وينا کول چه زمونږ دَ طاقت به څه وايئی مونږ دښمن تباه کړې دې هغه مو دَمخ دَ زمکې نه ختم کړو يا اوس دَهغوی طاقت ختم شوې دې.زمونږ نور تازه فوج راغلې دې دښمن دَ تختيدودَپاره تيار ولاړدې يا مخامخ دښمن ته دَحيلې اوخداع په توګه وائی چه ګورئی ستاسو شاته څومره لوئی لښکر راروان دې.کله چه هغوی شاته اوګوری نو مجاهدين خپل کار پوره کوی.دا ټولې خبرې دَ جهاد په ميدان کښې استعمالول جائز دی."الحرب خدعة"هم دَدې نوم دې.

قوله: وَالْإِصْلَاحُ بَيْنَ النَّاسِ: دَ خلقو په مينځ کښې دَ اصلاح دَپاره داسې قسم خلاف واقعه خبره کول جائز دی مثلاً وائی روره هغه سړې خوستا ډير تعريف کوی اوستا ډيره مدح وائی او په تا عاشق دې.

قوله: وَحَدِيثُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ وَحَدِيثُ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا: مثلاً خاوند خپلې ښځې ته وائی ستابه څه وايئی ستا په شان حسن خو په دنياکښې چرته هم نشته.ستا دَ خوبيانو به څه وايئی ستا مثال خو په دنياکښې نشته ته بې نظير اوبې مثال ئې.اوستا هنراو کمال او حسن او جمال خولاجواب دې اوزما کمالات خودَ شمير نه بهر دی زما دکارناموبه څه وايئی زما په شان طاقت خودَ دنيا په يوکس کښې هم نشته او زما دَخوبيانو خو په دنياکښې مقابل نشته دې.

د استشهاد په توګه يوه عجيبه واقعه:

په حيوة الحيوان کښې يوه قصه ليکلې ده يو چرچنړ خپله ښځه چرچنړه دَ قابولو کولو کوشش کولو اوهغه اخوادېخوا تختيدله نو چرچنړ اووئيل چه ته مانه تختې حالانکه په ماکښې دومره طاقت شته چه زه دَ حضرت سليمان عليه السلام محل اوچت کړم او سمندرکښې ئې غورزولې شم دَدې بې ادبئی او ګستاخئی شکايت مرغودَ حضرت سليمان عليه السلام په دربارکښې اوکړو چرچنړدَ شاهی حکم لاندې حاضر کړې شو حضرت سليمان عليه السلام په

غصه كنبي او فرمائيل اې چرچنړه! ته يوه چهيتاكې نى او چهيتاكې وزن دې دې ته زما محل او چتولو سره څنګه سمندر كنبي غورزولي شې؟ چرچنړ وزرې خوزولو سره اوونيل چه جي حضور تاسو ته بنه معلومه ده چه محبوب او معشوق قابوكولو د پاره داسې دهركې كولې شي. داهم دَدې په شان يوه حيله وه دې د پاره چه معشوقه مې لاس ته راشي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۰۳۳] په دريو صورتونو كښې دروغ وئيل جائز دى

۵۰۳۳-()[۱] [۱] عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲]«لَا يَحِلُّ الْكَذِبُ إِلَّا فِي ثَلَاثٍ: [۳]كَذِبُ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ لِيُرْضِيَهَا، [۴]وَالْكَذِبُ فِي الْحَرْبِ، [۵]وَالْكَذِبُ لِيُصْلِحَ بَيْنَ النَّاسِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] بي بي اسماء بنت يزيد رضي الله عنها وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] دروغ وئيل جائز نه دي علاوه د دريو ځايو نه [۳] يو د خاوند خپلي ښځي ته دروغ وئيل، چې په هغه سره هغه خوشحاله كړي، [۴] دويم د كفارو سره د جنګ په حالت كې [۵] او دريم په دې مقصد سره دروغ وئيل چې د خلقو په منځ كې صلح او صفايي وكړي. (احمد، وترمذي)

[۵۰۳۴] دَ دريو ورځو نه زيات تعلق پريخودل جائز نه دى

۵۰۳۴-()[۲] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "[۲]«لَا يَكُونُ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ مُسْلِمًا فَوْقَ ثَلَاثٍ [۳]فَإِذَا لَقِيَهُ سَلَّمَ عَلَيْهِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ [۴]كُلَّ ذٰلِكَ لَا يَرُدُّ عَلَيْهِ فَقَدْ بَاءَ بِإِثْمِهِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] او د بي بي عائشي رضي الله عنها نه روايت دى چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] د هيڅ مسلمان د پاره مناسب نه دي چې هغه د دريو ورځو نه زيات د يو مسلمان ورور سره تعلق پريږدي، [۳] چې د هغه مسلمان سره چيرته يو ځاى شي، كوم چې د ده نه خوابدى دى. او هغه ته دري ځلي سلام واچوئ، [۴] او هغه يو وار هم جواب ورنه كي. نو هغه جواب نه وركونكي به د هغه د ګناه وبال اخستو سره د هغه ځاى نه واپس ځي (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① يَهْجُرَ: تعلق پريږدى. ② بَاءَ: واپس كيږى.

تسهيلات:

قوله: كُلَّ ذٰلِكَ لَا يَرُدُّ عَلَيْهِ فَقَدْ بَاءَ بِإِثْمِهِ:

دمذكوره جملې په مفهوم كښې دوه اقوال: ① يعني چه دوه كسانو خپلو كښې جنګ كړې وو، نو بيا يو كس جنګ ختم كړو او هغه بل ته سلام اوكړو او هغه د سلام جواب ورنكړو

(۱) اخرجه الترمذى فى السنن رقم ۱۹۳۹ واحمد فى المسند ۶/ ۴۶۱

(۲) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فيمن يهجر أخاه (رقم-۴۹۱۳)

نو اوس به د دې ترک ملاقات ګناه په دې سړي وي (چه کوم د سلام جواب نه دې ورکړې)
④يعنې چه د سلام جواب نه ورکول، د دې ګناه به هم په هغه وي.[1]

د شرعي عذر په وجه د ترک تعلق حکم: چه ښکاره ګناه کښې اخته وي يا هغه بدعت ته رواج ورکوي، اود پوهولو نه باوجود هغه نه منع کيږي نو داسې سړي سره قطع تعلق ساتل بهتر دي چه هغه منع شي.[2]

[٥٠٣٥]د ترک تعلق په حالت کښې د مرکيدونکي سړي سزا

٥٠٣٥-( )[١][٨] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "[٢]«لَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثٍ،[٣]فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه :[١]او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢]د هيڅ مسلمان د پاره حلال نه دی چې هغه د خپل مسلمان ورور سره د دريو ورځو نه زيات ترک تعلق وکړي، [٣]نو کوم سړی چې د دريو ورځو نه (که يو ساعت هم) زيات تعلق پريږدي. او هغه په دې حالت کې بغير د توبې نه مړ شي نو دوزخ ته به ځي.

تسهيلات:

قوله: فَمَنْ هَجَرَ فَوْقَ ثَلَاثٍ فَمَاتَ دَخَلَ النَّارَ:

امام توربشتي د دې جملې دا مطلب بيان کړې ګويا چه ده اور په خپل ځان باندې واجب کړو يا په ګناه کښې اخته کيدل داسې دی لکه چه ده خپل ځان په سزا کښې واچولو اوس د الله خوښه ده چه ده ته عذاب ورکړي او که او غواړي نو معاف ئې کړي

[٥٠٣٦]پوره کال تعلق پريخودل د قتل د ګناه برابر ده

٥٠٣٦-( )[٩] [١]وَعَنْ أَبِي خِرَاشٍ السُّلَمِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "[٢]«مَنْ هَجَرَ أَخَاهُ سَنَةً[٣]فَهُوَ كَسَفْكِ دَمِهِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه :[١]او د حضرت ابوخراش سلمي رحمه الله نه روايت دی، هغه د رسول الله ﷺ نه واوريدل [٢]کوم مسلمان چې په (ناراضګي سره) د خپل مسلمان ورور سره تر يو کال پورې تعلق پريږدي، [٣]هغه ګويا د هغه خون وکی، (يعنې تر اوږدې مودې پورې د ترک ملاقات ګناه او د ناحق قتلولو ګناه نږدې نږدې ده). (ابوداؤد)

حل اللغات :- ①سَفْكِ: توييول (د وينې).

([1]) مظاهر حق : ٤/٥٨١.(٢) نزهة المتقين)- (٣) البخاري في الإستيذان باب لا يتناجى إثنان دون الثالث ومسلم في السلام باب تحريم مناجات الإثنين دون الثالث).

( ) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب فيمن يهجر أخاه (رقم-٤٩١٣) واحمد في المسند: ٤/٢٠٠

( ) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب فيمن يهجر أخاه (رقم-٤٩١٥) واحمد في المسند: ٤/٢٢٠

تسهیلات:

قوله: أَبُو خِرَاشٍ السُّلَمِيّ:

د راوی حالات: د ده نوم خدرد بن ابي حدرد السلمي دي مؤلف هم دغه بيان کړې دې ملا علی قاری په مرقات کښې د میرک په حواله لیکلی دی چه صحیح دا ده چه دا الاسلمی دي منذري وائی چه د ده نوم ابو خراش حدرد بن ابي حدرد اسلمي دي گویا چه دلته د کاتبینو نه غلطي شوې ده ځکه چه دا لفظ سلمی نه بلکه اسلمی دې صحابی دې ده نه صرف یو روایت نقل دې.

قوله: مَنْ هَجَرَ أَخَاهُ سَنَةً فَهُوَ كَسَفْكِ دَمِهِ:

یو کال پورې د مسمان سره د ترک تعلق وعید: یعنی یو کاله پورې د مسلمان سره تعلق پریخودل داسې دی د چا وینه تویول داسې ده لکه چه د چا په ناحقه وینه توبې کړې شی

د ترک تعلق دوینې تویولو سره د تشبیه وجه: امام طیبي فرمائی چه د قطع تعلق تشبیه د سفك دماء بطور سره مبالغه ده لکه چه وئیلې کیږی چه زید کالاسد. زید ئې د شیر سره ملحق کړو حالانکه زید انسان او شیر حیوان دې لیکن دلته ئې زید ته د بهادرئ د وجه نه شیر وئیلی شوی دی دارنگ د دې حدیث نه معلومه شوه چه درې روځو نه زیات ناراضگي اختیارول حرام دی نو چه کله ددې نه هم زیات وخت تیرېږی نو گناه به زیاتیږی دې وجه نه د کال تخصیص ئې اوکړو او دا هم ممکنه ده چه د کال تخصیص کول په څلورو موسمونو باندې مشتمل کیدو د وجه نه وی ځکه چه کال کښې څلور موسمونه وی او چه د چا مزاج د موسم په بدلیدو سره هم بدل نه شی نو د هغه نه د رجوع امید ختم شی دې وجه نه د هغه سزا د ویني تویولو په شان ده

[۵۰۳۷] دریو ورځو نه پس خفګان ختمول پکار دی

۵۰۳۷-(۱)[۱۰] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۲ «لَا يَحِلُّ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَهْجُرَ مُؤْمِنًا فَوْقَ ثَلَاثٍ، ۳ فَإِنْ مَرَّتْ بِهِ ثَلَاثٌ فَلْيَلْقَهُ، فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ، ۴ فَإِنْ رَدَّ عَلَيْهِ السَّلَامَ فَقَدِ اشْتَرَكَا فِي الْأَجْرِ، ۵ وَإِنْ لَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ فَقَدْ بَاءَ بِالْإِثْمِ ۶ وَخَرَجَ الْمُسْلِمُ مِنَ الْهِجْرَةِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابو هریره رضی الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ دا د هیڅ مؤمن د پاره حلال نه دی چې هغه د یو مومن سره د دریو ورځو نه زیات تعلق پریږدي، ۳ هر کله چې په ناراضګي درې ورځې تیرې شي، نو پکار دی چې د چاسره یې راسه درسره پرېښې وي د هغه سره یو ځای شي، او هغه ته سلام وکړی، ۴ که هغه جواب ورکړو، نو بیا هغوئ

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فیمن یهجر أخاه (رقم-۴۹۱۲) ومالک فی الموطا کتاب حسن الخلق/باب ما جاء فی المهاجرة (رقم-۱۳)

دواړه به په ثواب کې شريك وي. (ځکه چې مخکښي ته به خو په سلام کې د مخکې کيدو او ناراضګي ختمولو په وجه ثواب حاصليږي او دويم به د سلام جواب ورکولو او د تعلقات د بحالی پيشکش قبلولو په وجه د ثواب حقدار وي)[۵] او که هغه د سلام جواب ورنه کی، نو په دي صورت کې به (د سلام جواب نه ورکونکی) به خپله ګناه وي. (يعني به هغه به د ترك ملاقات او د سلام جواب نه ورکولو ګناه وي)[۶] او سلام کونکی به د ترك ملاقات د ګناه نه بري شي (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: وَإِنْ لَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ فَقَدْ بَاءَ بِالْإِثْمِ:

داثم په مصداق کښې درې احتمالات:

① د ترک تعلق ناه مراد ده

② هجران او ترک سلام دواړه مراد دی

③ دهجران ګناه د مسلمان ويني تويولو ته قريب ده لهذا هم دا مراد ده

[۵۰۳۸] دَ صلح کولو ثواب د روژې او صدقې نه افضل دې

۵۰۳۸-()[۳] [۱] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّدَقَةِ وَالصَّلَاةِ؟[۳] قَالَ: قُلْنَا: بَلَى.[۴] قَالَ: "إِصْلَاحُ ذَاتِ الْبَيْنِ، وَفَسَادُ ذَاتِ الْبَيْنِ هِيَ الْحَالِقَةُ»". [۵] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ".

ترجمه: [۱] او حضرت ابودرداء رضي الله عنه وايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمايل.[۲] ايا زه تاسو ته يوداسي عمل ونه ښايم، چې د هغه د ثواب درجه د روژې، صدقې او مونځ د ثواب نه زياته وي [۳] ابودرداء رضي الله عنه وايي، په دې اوريدو سره مونږ عرض وکړو، چې هو، ضرور، [۴] نو حضور ﷺ وفرمايل په خپلو کې دښمني لرونکو د دوو سړو په منځ کې صلح کول (ددې نه پس يې وفرمايل چې) هو د دوو سړو په منځ کې فساد او نفاق پيداکول يوداسې خصلت دی، (يعني د هغه خصلت په وجه د مسلمانانو په معاملاتو او دين کې نقصان او خلل پيداکيږي). [۵] دا روايت ترمذي رحمه الله، او ابوداود نقل کړی دی، او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: - ① ذَاتِ الْبَيْنِ: د دوؤ کسانو په مينځ کښې. ② الْحَالِقَةُ: خريونکې دې (ختمونکې دې ايمان لره).

---

[۱] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب في إصلاح ذات البين (رقم-٤٩١٩) والترمذي في كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٥٠٩) كتاب حسن الخلق/باب ما جاء في حسن الخلق (رقم-٧) واحمد في المسند:٦/٤٤٤

تسهيلات: قوله: أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلَ مِنْ دَرَجَةِ الصِّيَامِ وَالصَّدَقَةِ وَالصَّلَاةِ؟:

دخلقو په مينځ كښې د روغې راوستلو په مختلفو عباداتو افضليت: يعنې د مونځ روژې او د صدقې مجموعه عبادتونو نه اصلاح ذات البين افضل عمل دې بعضې علماؤ د مونځ روژې او صدقې نه نفلي عبادات مراد اخستي دي چه ددې نفلي عبادتونو نه اصلاح ذات البين افضل دې ليكن ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي چه راجح دادې چه ددې اعمالو نه فرض اعمال مراد دي اودا خبره ښكاره ده چه مثلاً دوه كسان په خپل مينځ كښې سخت مخالف دي يو بل قتل كړو په كوم سره چه لوئې لوئې فتنې پيدا شوې اود نورو فتنو پيدا كيدو امكان دې نو په داسې صورت كښې ددغه دوو مخالفينو په مينځ كښې صلح كول د فرائضو نه زيات اهم دې ځكه چه كه فرض ساقط شې نود هغې تدارك او قضاء كول ممكن دې ليكن كه وينه توئې شي او سرې مړ شي نود هغې هيڅ علاج نشته

[۵۰۳۹] دبغض او حسد ممانعت

۵۰۳۹-(۱) [۱۳] ۱ وَعَنِ الزُّبَيْرِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «دَبَّ إِلَيْكُمْ دَاءُ الْأُمَمِ قَبْلَكُمُ الْحَسَدُ، ۳ وَالْبَغْضَاءُ هِيَ الْحَالِقَةُ، لَا أَقُولُ: تَحْلِقُ الشَّعْرَ، وَلَكِنْ تَحْلِقُ الدِّينَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت زبير رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل ۲ ستاسو نه د مخكې امتونو ناروغې په تاسو كې سرايت كړې دى، او ناروغې حَسَد ۳ او بغض چې د بيخه اوخكل كوي او دې نه ځما مراد ويښته د بيخه اوخكل نه دي، بلكې دين د بيخه اوخكل دي. (يعنې بغض يا حسد دومره خراب خصلت دى، چې د دې په وجه د انسان دين او اخلاق تباه او برباد كيږي) بلكې دا خصلت د دين او دنيا د دواړو د پاره نقصاني دى (احمد. ترمذي)

حل اللغات: - ① دَبَّ: په مزه مزه تللو ته وائي يعنى راننوځي. سرايت كوى. ② دَاءُ: بيمارياني. ③ الْأُمَمِ: د مخكينو امتونو. ④ تَحْلِقُ: خريوى. ختموى

تسهيلات:

د بعضې مشكلو الفاظو وضاحت:

① **دَبَّ إِلَيْكُمْ دَاءُ الْأُمَمِ قَبْلَكُمُ الْحَسَدُ: دب اليكم أي نقل اليكم وسرى ومشى بخفية** نقل كول. سرايت كول په پټه طريقې سره تلل، په مزه مزه تلل

② **وَالْبَغْضَاءُ هِيَ الْحَالِقَةُ: والبغضاء: أي العداوة في الظاهر الحالقة أي القاطعة للمحبة والألفة والصلة**

---

[1]) اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم ۲۵۱۰) واحمد في المسند: ۶۷/۲

[۵۰۴۰] حسد نیکئ داسې خوری لکه اُور چې خشاک خوری

۵۰۴۰-(¹)[۱۳] ①وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "②«إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهریره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چې حضور ﷺ وفرمایل② د حسد نه خپل ځان محفوظ ساتئ، ځکه چې حسد نیکي داسې خوري لکه څرنګه چې اور لرګی خوري.(ابوداؤد)

حل اللغات:- ① الْحَطَبَ: لرګی، خشاک.

تسهیلات: قوله: فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ

دمعتزلو استدلال: دَدې حدیث نه معتزلو بې ځایه استدلال کړې دې چه بداعمالو سره نیک اعمال ضائع کیږي اودَ ګناه په ارتکاب سره نیك اعمال بلکه ایمان ختمیږي.

داستدلال څخه درې جوابونه: ① حاسد چه کله حسد کوی نوهغه ته پخپله دَ نیکو اعمالو توفیق نه ملاویږي بلکه دَ نیکو اعمالو کولو نه محروم پاتې کیږي لکه چه حسد دَ هغه استعداد خراب کړو یا داسې لکه چه حسد دَ هغه ټول نیك اعمال اوځل دا جواب نه دې.

② حسد دَ نیکو حسن او دَهغې کمال ختموی اصل اعمال نه ختموی.

③ دَ حسد او شرارت دَ وجې نه به دَ قیامت په ورځ دَحاسد نیك اعمال محسود ته ورکولې شی لکه چه حسد دَهغه اعمال اوخوړل.دا مطلب ئی نه دې چه په دنیاکښې دَ اعمال نامه نه به دَهغه اعمال ختم شی.که چرې داسې اوشوه نوبیا په قیامت کښې دَحساب کتاب څه مطلب شو فیصله خو په دنیاکښې اوشوه.

[۵۰۴۱] د دوو کسانو په مینځ کې د دښمنی اچولو مذمت

۵۰۴۱-(²)[۱۴] ①وَعَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ②قَالَ: "«إِيَّاكُمْ وَسُوءَ ذَاتِ الْبَيْنِ; ③فَإِنَّهَا الْحَالِقَةُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ①او حضرت ابوهریره رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي،② حضور ﷺ وفرمایل تاسو خپل ځان د دوو سړو په منځ کې د بدي اچولو د خصلت نه منع کړی،③ ځکه چې دا خصلت دبیخه کښونکی یعنی دین تباه کوونکی دی.(ترمذي)

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الحسد (رقم-۴۹۰۳)
²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۵۰۸)

تسهیلات:

قوله: إِيَّاكُمْ وَسُوءَ ذَاتِ الْبَيْنِ:

د ذات لغوی تحقیق: په معنی د شئ یعنی نفس شئ دَ ذات اطلاق دَ یوشئ په حقیقت باندې کیږی او ددې څخه نفس طرف ته منسوب کیدونکی څیزونه مراد وی لکه چه وئیلی شی اصلاح ذات البین یعنی دَهغه احوالو اصلاح کوم چه د خلقو په مینځ کښې راپیښیږی

دحالقة تحقیق: حالقه په اصل کښې د حلق څخه ماخوذ دې د کومې معنی چې وینته خریئل دی اوحالقه وښتو خریونکی ته وائی ددې لفظ څخه مراد تباه اوبربادونکې اود موند څخه ویستونکی ده.مطلب دا دې چې د خلقو په مینځ کښې افتراق اوبیتون راوستل اوپه هغوی کښې بغض کینه پیدا کول داسې بد خصلت دې.کوم چې دین تباه کوی اود ثواب حاصلول بیخی ختموی.لکه څنګه چې پتری (بلیډ)په کوم باندې چې وینته کټ کولی شی) وینته د ویخ څخه اوباسی دغه شان دا خصلت نیکی ختموی په حدیث کښې د خلقو په مینځ کښې صلح او روغې راوستلو ترغیب دې.اود دې بیان دې چې د دوی په مینځ کښې بغض کینه حسد اودشمنی پیدا کول ډیره لویه ګناه ده

[۵۰۴۲] څوک چې مسلمان ته ضرر رسوی نو الله به هغه ته نقصان اورسوی

۵۰۴۲-() [۱۵] [۱] وَعَنْ أَبِي صِرْمَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " [۲] «مَنْ ضَارَّ ضَارَّ اللَّهُ بِهِ، [۳] وَمَنْ شَاقَّ شَاقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوصرمه رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] کوم سړی چې یو مسلمان ته بلاوجه شرعي څه ضرر او نقصان رسوي، نو الله تعالیٰ به هغه ته نقصان ورسوي یعنی هغه ته به د خپل بدعملي سزا ورکړي، [۳] او کوم سړی چې یومسلمان په مشقت او تکلیف کې اچوي، نو الله تعالیٰ به هغه په مشقت او تکلیف کې مبتلا کوي (ابن ماجه) او ترمذي ویلي دي چې دا[۱] حدیث غریب دی.

حل اللغات: - ① ضَارَّ: نقصان رسوی، ② شَاقَّ: مشقت او تکلیف کښې اچوی.

تسهیلات:

قوله: وَمَنْ شَاقَّ شَاقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① امام طیبی فرمائی چه شاق مشتقت څخه

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأقضية/باب من القضاء (رقم-۳۶۳۵) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الخیانة والغش (رقم-۱۹۴۰) وابن ماجه فی کتاب الأحکام/ باب من بنی فی حقه ما یضر بجاره (رقم-۲۳۴۲) واحمد فی المسند:۴۵۳/۳

هم ماخوذ کيدې شي په دې صورت کښې به ددې مطلب دا وی چه خپل ملګری له داسې تکليف ورکول چه د هغې د برداشت کولو طاقت په هغه کښې نه وی.

② د دې يوه معنی دا هم بيان شوې ده چه کوم کس د يو مسلمان سره عداوت اومخالفت لرى الله تعالى به د ده سره عداوت او مخالفت لرى يعنى دې به په عذاب کښې مبتلا کړى.

شاق او ضار کښې فرق: ضار د مال په ضائع کيدو کښې استعماليږى او شاق د طاقت نه زيات اذيت بدنى دپاره استعماليږى ليکن اظهره دا ده چه ضرر بدنى. مالى. دنياوى او اخروى ټولو ته شامل دي او مشاقه هغه مخالفت ته وئيلى شى چه کوم مفضى الى المنازعة و المحاربةوى.

[۵۰۴۳] مسلمان ته ضرر رسونکي ملعون دې

۵۰۴۳-(¹) [۱۶] ١ وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ٢ «مَلْعُونٌ مَنْ ضَارَّ مُؤْمِنًا ٣ أَوْ مَكَرَ بِهِ» ". ٤ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوبکر صديق ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ٢ هغه سړى ملعون (لعنتي) دى چې هغه يو مسلمان ته ضرر ورسوي، ٣ يا د هغه سره مکر ودهوکه وکړي، ٤ دا روايت ترمذي ﷫ نقل کړى دى، او ويلې يې دى چې دا حديث غريب دى.

حل اللغات: - ① مَكَرَ: دهوکه ورکړى.

تسهيلات:

قوله: مَلْعُونٌ مَنْ ضَارَّ مُؤْمِنًا أَوْ مَكَرَ بِهِ:

د دې مطلب دا دې چه يو مسلمان ته نقصان رسولو والا ملعون دې او د خير نه محروم دې خواه که نقصان ظاهرى طور سره وى او که پوشيده.

[۵۰۴۴] مسلمان ته د پيغور ورکولو او د هغه د عيب لټولو سزا

۵۰۴۴-(²) [۱۷] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: ٢ «صَعِدَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْمِنْبَرَ، فَنَادَى بِصَوْتٍ رَفِيعٍ فَقَالَ: ٣ " يَا مَعْشَرَ مَنْ أَسْلَمَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يُفْضِ الْإِيمَانُ إِلَى قَلْبِهِ! ٤ لَا تُؤْذُوا الْمُسْلِمِينَ وَلَا تُعَيِّرُوهُمْ، وَلَا تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ ; ٥ فَإِنَّهُ مَنْ يَتَّبِعْ عَوْرَةَ أَخِيهِ الْمُسْلِمِ يَتَّبِعِ اللَّهُ عَوْرَتَهُ، ٦ وَمَنْ يَتَّبِعِ اللَّهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ وَلَوْ فِي جَوْفِ رَحْلِهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن عمر ﷛ وايي، ٢ چې يوه ورځ رسول الله ﷺ په منبر باندې

¹) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الخيانة والغش (رقم-۱۹۴۱)

²) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى الغيبة(رقم-۴۸۸۰)والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى تعظيم المؤمن (رقم-۲۰۳۲) واحمد فى المسند: ۴۲۱/۴

ودریدی او خلق یي په اوچت اواز سره داسې مخاطب کړل،[۳] اې هغه خلقو! چې په ژبې سره مو اسلام راوړی دی، او د هغوئ زړه ته ایمان نه دی رسیدلی [۴]تاسو آگاه شئ چې تاسو هغه مسلمانانو ته اذیت مه ورکوئ (کوم چې کامل مسلمانان دي. په دي طور چې هغوئ په ژبې سره هم اسلام قبول کړی دی، او د هغوی زړونه هم د ایمان په نور سره منور دی) هغوئ ته عار مه ورکوئ، او مه د هغوئ عیب لټوئ.[۵] یادلرئ! کوم سړی چې د خپل مسلمان ورور عیب تلاش کوي، الله ﷻ به د هغه عیب تلاش کړي. [۶]او د چا عیب چې الله ﷻ ولټوي، نو د هغه رسوا کیدل یقیني دی، اگر که هغه د خلقو د نظر نه بچ کیدو سره په خپل کورکي پټ وی (ترمذي)

حل اللغات:- ①صَعِدَ: اوختلو، ②لَمْ یُفْضِ: نه دي کوز شوې، نه دي رسیدلي. ③لَاتُؤْذُوا: تکلیف مه رسوئ. ④لَاتُعَیِّرُوهُمْ: شرم مه ورکوئ، پیغور مه ورکوئ ⑤لَاتَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ: دهغوی عیبونه مه لټوئ. ⑥عَوْرَةً: د بدن هغه ځائ چه دهغې په ښکاره کیدو انسان شرم محسوسوی. عیب. ⑦یَفْضَحُهُ: اوبه شرموی هغه لره، ⑧جَوْفِ رَحْلِهٖ: د خپل سامان په مینځ کښې (یعنی خپل کور او اهل وعیال کښې)

تسهیلات:

قوله: یَا مَعْشَرَ مَنْ أَسْلَمَ بِلِسَانِهٖ وَلَمْ یُفْضِ الْإِیْمَانُ إِلٰی قَلْبِهٖ:

د یامعشر المسلمین مخاطب څوک دی: دَ رسول الله ﷺ په خطاب کښې منافقان هم راغله اوهغه مسلمانان هم راغله چه سره دَ ایمان نه په فسق اوفجورکښې راگیروی.علامه طیبی ﷫ داخطاب صرف منافقانو سره خاص کړې دې.مگر دَحدیث ظاهری مفهوم اوسیاق اوسباق نه تخصیص نه بلکه عموم معلومیږی.

قوله: لَاتُؤْذُوا الْمُسْلِمِیْنَ وَلَاتُعَیِّرُوهُمْ: ولاتعیروهم" مطلب دادې چه مثلاً یوسړی گناه اوکړه اوبیائی توبه اوکړه اونیك جوړشو.اوس یو یوپیغورکونکې هغه ته پیغور ورکوی او مخکینې عیب ورته یادولوسره هغه ذلیل کوی داناجائز دی.اوکه چرې هغه سړې عادی مجرم دې اوموجوده هم په هغه پخوانئی گناه کښې ککړپروت دې اوگناه هم متعدی ده نوبیا دَ اصلاح په غرض سره تنبیه زجر او توبیخ اوپیغور ورکول جائز دی.

قوله: یَتَّبِعِ اللّٰهُ عَوْرَتَهٗ: یعنی کوم سړې چه دَ خپل یومسلمان رور په عیب لټولو کښې اخته وی نوالله تعالی به هم دَ هغه عیبونو ښکاره کولو کښې لگیاشی اوهغه به معاف کوی نه بلکه دَ عامو انسانانو په مخکې به دَ هغه یو یوعیب راښکاره کولو سره هغه رسوا کوی سره دَدې چه هغه سړې دَ پټیدو په غرض سره دَخپلې کیجاوې په بیخ کښې ورتلوسره پټ شی.

(باق) [د سود] دَ مسلمان د بې عزته کولو گناه

د سود-( ) [٢١] ١ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ٢ " «إِنَّ مِنْ أَرْبَى الرِّبَا ٣ الِاسْتِطَالَةُ فِي عِرْضِ الْمُسْلِمِ بِغَيْرِ حَقٍّ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ١ او حضرت سعید ابن زید ﷺ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي. چې حضور ﷺ وفرمایل. ٢ د ټولو نه زیات سود دادی چې ٣ د یو مسلمان عزت او آبرو په ناحقه خرابولو دپاره زبان درازی وسي (ابوداؤد، بیهقي)

حل اللغات: - ١ أَرْبَى: زیات سود، غټ تجاوز. ٢ الرِّبَا: ربوا په لغت کښې زیاتوالی او تجاوز په معنی ك ښې استعمالیږی ٣ الِاسْتِطَالَةُ: زبان درازی کول. ٤ عِرْضِ: عزت.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ مِنْ أَرْبَى الرِّبَا الِاسْتِطَالَةُ فِي عِرْضِ الْمُسْلِمِ:

داربی الربوا په مفهوم کښې دوه اقوال: ١ علامه طیبی ﷫ فرمائي په دې حدیث کښې د مبالغې په توگه عزت اوناموس په مال کښې داخل کړې شوې دې بیا د ربا دوه قسمونه جوړولوسره بیان کړې شوی دی. اول قسم خوهم هغه معروف شرعی ربا ده هغه دا چه د مدیون نه په مالی معامله کښې د عوض نه بغیر زیات مال واخستې شی دویمه غیرمعروف ربا ده هغه دا چه د یومسلمان په عزت اوناموس کښې ژبه اوچلولې شی او تجاوز اوکړې شی. په دې حدیث کښې د ربا د دغه دوو قسمونونه بدترین قسم ربا هغې ته وئیلې شوې ده کومه چه د ژبې د چلولو د وجې نه وی. [والکاشف: ٩/٢٥۴]

٢ د ملاعلی قاری ﷫ د قول مطابق دلته ربوا ناجائز زیاتوالی او ناجائز زیادت په معنی کښې استعمال شوې دې. مطلب دا چه هرناجائز تجاوز گناه ده لیکن د یومسلمان عزت اوناموس کښې ژبه چلول او زیاتې کول د ټولونه زیاته خرابه او لویه گناه ده ځکه چه دعاقلانو په نیز د مال د حفاظت نه د عزت حفاظت زیات اهم وی.

دحدیث مطلب: د دې حدیث مطلب دا شوچه د یوشرعی مصلحت نه بغیر ناروا طریقې سره د یو مسلمان باره کښې د خپلې ژبې نه خراب الفاظ ویستل، د هغه غیبت کول هغه سره د تکبر معامله کول او خپله لوئی خودلو د پاره د هغه سپکاوې کول د هغه عزت او ناموس د خپو لاندې کول داسې گناه ده چه د مالی سود نه په شناعت او قباحت کښې زیاته ده

قوله: الِاسْتِطَالَةُ فِي عِرْضِ الْمُسْلِمِ بِغَيْرِ حَقٍّ:

د بغیر حق قید فائده: په حدیث کښې ناحقه ژبه چلولو قید لگولې شوې دې. د دې نه په

---

١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب في الغيبة(رقم-۴٨٧٦)واحمد في المسند: ١/١٩٠

حق باندې ژبه چلولو د اجازت ګنجائش راوځي مثلاً مالداره مقروض د قرض په اداکولو کښې ټال متهول کوی په هغه باندې ژبه چلول جائز دی یا په ګواهانو باندې جرح ده یا د حدیث په راویانو باندې د اصحاب الجرح والتعدیل د سخت تنقید معامله ده یا په داسې بدعتی سری باندې د تنقید معامله ده د چا د بدعت شرارت چه متعدی وی یا یو فسادی اوفتنه بازته په فتنه اوفساد باندې تنبیه کول وی داسې قسم ژبه چلول ممنوع نه دی.

[۵۰۴۶] په ناحقه دچا بې عزتی او غیبت باندې سخت عذاب

۵۰۴۶-() [۱۹] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۲ «لَمَّا عُرِجَ بِي مَرَرْتُ بِقَوْمٍ لَهُمْ أَظْفَارٌ مِنْ نُحَاسٍ ۳ يَخْمِشُونَ وُجُوهَهُمْ وَصُدُورَهُمْ، ۴ فَقُلْتُ: مَنْ هٰؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ؟ ۵ قَالَ: هٰؤُلَاءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ وَيَقَعُونَ فِي أَعْرَاضِهِمْ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت انس رضی الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ۲ کوم وخت چې الله تعالی زه (د معراج په شپه) پورته بوتلم، نو (عالم بالا کې) زه په داسې خلقو تیر شوم، چې د هغوئ نوکان د تانبې وه. ۳ او هغوئ به خپلو نوکونو سره مخونه شلول. ۴ د هغوئ د داحالت په لیدو سره ما پوښتنه وکړه، اې جبرائیل علیه السلام! داڅوك دی؟ ۵ هغه جواب راکی. دا هغه خلق دي، چې د خلقو غوښې خوري (یعني د خلقو غیبت کوي) او د هغوئ عزت او ابرو پسې لګیدلي وي. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① عُرِجَ: پورته بوتلې شوم (دمعراج په شپه)، ② أَظْفَارٌ: نوکان، ③ نُحَاسٍ: د تانبې، اوسپنې. ④ يَخْمِشُونَ: شکول هغوی، ⑤ يَقَعُونَ: لګیدلي وو، اخته وو یعنی غیبت کوی، بې عزتی کوی.

تسهیلات:

قوله: هٰؤُلَاءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ:

دمسلمانانو بې عزته کولو اخروی سزا: په حدیث الباب کښې د حضرت جبرائیل علیه السلام د وینا مقصد دا وو چه دا هغه خلق دی کوم چه د خلقو غیبت کوی او د هغوی په حق کښې بد او خراب الفاظ په ژبه استعمالوی او د خلقو بې عزتی کوی او ددې خلقو خپلو مخونو او سینی ګرولو کښې دې طرف ته اشاره کول دی چه دوې د خپل مسلمان ورور بې عزتی اوکړه او په دې بې عزتی باندې خوشحاله شو او د خپل مسلمانانو ورونړو سینی او مخونه ئې مجروح او مغموم کړل لهذا ددوې د بد عمل سزا هم دغه ده چه دوې دې خپل مخونه او سینی په خپلو لاسونو باندې پخپله زخمی کړی.

۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الغیبة (رقم-۴۸۷۸) واحمد فی المسند: ۳/ ۲۲۴

[۵۰٤۷] د یو مسلمان د عزت کولو ثواب او د بې عزتۍ کولو سزا

۵۰۴۷-()[۲۰] ⑴ وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ⑵ قَالَ: "«مَنْ أَكَلَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ أُكْلَةً ⑶ فَإِنَّ اللّٰهَ يُطْعِمُهُ مِثْلَهَا مِنْ جَهَنَّمَ، ⑷ وَمَنْ كُسِيَ ثَوْبًا بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ: فَإِنَّ اللّٰهَ يَكْسُوهُ مِثْلَهُ مِنْ جَهَنَّمَ، ⑸ وَمَنْ قَامَ بِرَجُلٍ مَقَامَ سُمْعَةٍ وَرِيَاءٍ: ⑹ فَإِنَّ اللّٰهَ يَقُومُ لَهُ مَقَامَ سُمْعَةٍ وَرِيَاءٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ⑴ او حضرت مستورد رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي. ⑵ چې حضور ﷺ وفرمایل کوم سړی چې د یو مسلمان غیبت کوی یا د زنا وغیره تهمت لګولو په ذریعه د هغه بې عزتي کولو سره یوه نوړۍ وخوري، ⑶ نو الله ﷻ به په هغه د هغه نمړۍ په شان د دوزخ اور وخوروي، ⑷ او کوم سړی چې د یو مسلمان سړي د تحقیر او اهانت سپکاوي کپړه چاته وا چوي، نو الله ﷻ به هغه ته د هغه کپړي په شان د دوزخ د اور کپړه وا چوي. ⑸ او څوك چې یو سړی چاته اورولو او خودلو د پاره ودروي، ⑹ نو د قیامت په ورځ به الله ﷻ هغه اورولو او خودلو د پاره خپله ودریږي (ابو داؤد)

حل اللغات:- ① أُكْلَةً: غیبت کول، ② كُسِيَ: ورته وا به غوستلې شی. ③ سُمْعَةٍ: د آورولو د پاره. یعنی د ریا په طور تعریف خوښول ④ رِيَاءٍ: د ښودنې د پاره.

تسهیلات:

په دې حدیث کښې یو څو جملې دی په کوم وباندې چه پوهیدل او بل پوهه کول ډیر ضروری دی.

قوله: مَنْ أَكَلَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ أُكْلَةً:

د مذکوره جملې مطلب: د یو سړی بل سړی سره نه لګی په مینځ کښې یو دریم سړې راشي په هغوی کښې د یو په مخکښې د هغه بل بد بیانوی د هغه غیبت کوی او د دغه عیبونو بیانولو او غیبت په وجه د هغه نه خوراك حاصلوی او خوری او هغه ئې هم پرې ښه خوروی څکه چه د هغه د مخالف ښه بد بیانیږی نو د دغه خوراك په بدله کښې الله تعالی دغه بد بیانونکی باندې د دوزخ نه خوراك خوری. "برجل" کښې باء حرف د سببیت د پاره ده.

قوله: وَمَنْ كُسِيَ ثَوْبًا بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ:

په کسی کښې دوه اعرابات او د هر یو معنی: ① که کسي صیغه د مجهول شی نو ترجمه به داسې شی چه کوم سړې ته د یو مسلمان رور سپکاوی او توهین په بدله کښې کپړا واغوستلې شی نو هغه ته به الله تعالی په دوزخ کښې کپړا ورواغوندی. دا ترجمه او مطلب زیات واضح دې. "برجل" کښې باء حرف د سببیت د پاره ده.

) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الغیبة (رقم-۴۸۸۱) واحمد فی المسند: ۴/۲۲۹

① که کسی صیغه معلومه شی نود دې ترجمه او مطلب به داشي چه د مسلمان د سپکاوی او اهانت په بدله کښې اهانت کونکی ته کپړا واغوندی نو الله تعالی به دغه تحقیر کونکی ته د دوزخ لباس واغوندوی

برجل په باره کښې دوه احتمالات او دوه مطلبونه :

② **قوله :** وَمَنْ قَامَ بِرَجُلٍ مَقَامَ سُمْعَةٍ وَرِيَاءٍ: په دې کښې حرف باء د سببيت د پاره هم کیدې شي او د تعدیت د پاره زائده هم کیدې شي. که د سببيت د پاره وی نو مطلب به داشي چه یو سړې پخپله د ځان خودلو په مقام باندې اودریدو خپل تعریف ئې کولو تقوی او صلاح ئې خودله او لکه د طوطي ئې په خپله خله خپل تعریف کولو او دا د دې د پاره چه هغه څوك مالدار سړې وینی او د هغه عقیدت مند جوړشی او هغه ته د دغه مالدار نه مال او عزت ملاؤ شی الله تعالی به داسې سړې د قیامت په ورځ د رسوائیی په مقام باندې اودروی عربی عبارت به داسې شی "من قام مقام السمعة والرياء لأجل رجل صاحب مال" او که چرې باء زائده وی او صرف د تعدیت د پاره وی نو مطلب به داسې شی چه کوم سړی څوك نوم او ځان خودلو په مقام باندې اودرولو او پخپله ئې د هغه تعریف شروع کړو چه: سړې دومره لوئی بزرګ دې فلانکې دې او فلانکې دې ده سره د اصلاح تعلق قائم کړئی د ده مریدان جوړشئی داسې تعریف کولو کښې د دې په شا خپله دنیا جوړوی لکه څنګه چه نن صبا کیږی چه:

پیراں نمی پرند مریداں می پرانند

د دې حدیث دا مطلب شیخ مظهر رحمه الله بیان کړې دې کوم چه ملاعلی قاری رحمه الله نقل کړې دې عربی عبارت به داسې وی "ومن أقام رجلا مقام السمعة" بهرحال د دې جملې څو مطالب بیانولې شی خلاصه دا چه یو سړې خپل تعریف پخپله کوی د دې د پاره چه د دنیادارونه مال حاصل کړی دا هم تباه حال دې یا د یو بزرګ د وجې خپل دکان پر قوی داسړې هم تباه حال دې یا بل څوك په خپل تعریف کولو کښې اخته کوی دا هم تباه حال دې یا د یو عالم محدث یا یو پیر فقیر جامه اچولو سره لوئی بزرګ جوړیږی راځی او مال راغونډوی دا ټول د دنیا طالب او ځان خودونکی دی مطلوب ئې صرف دنیا ده رنګونه ئې جدا جدا دی هغه چا بنه ویناکړې ده.

وما الرزق إلا طائر أعجب الوري فمدت له من كل فن حبائل

یعنی د دنیا مال او متاع یو ښائسته ښکاریدونکې مرغئی ده کومې چه ټول خلق حیران کړی دی نو د هغې د نیولو د پاره هرقسم جالونه خواره کړې شوی دی.

[۵۰۴۸] ښه ګمان ساتل هم يو عبادت دي

۵۰۴۸-(۱)[۲۱] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «حُسْنُ الظَّنِّ مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه :[۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل[۲] نيک ګمان ساتل منجمله د بهترين عباداتو نه دی (احمد، ابوداود)

تسهيلات:

قوله: حُسْنُ الظَّنِّ مِنْ حُسْنِ الْعِبَادَةِ:

د حسن الظن من حسن العباده مطلبونه: دَدې حديث ① يو مطلب خو دادې چه الله تعالى سره متعلق ښه ګمان قائمول په ښه عبادتونو کښې بهترين عبادت دې.ښه ګمان دادې چه عبادت کولو سره دَ مغفرت ګمان وی دَالله تعالى دَ رحمت او مهربانئی ښه يقين وی دا مطلب نه دې چه عبادت پريخودوسره دَ الله تعالى متعلق داګمان پخوی چه الله تعالى غفوررحيم دې معاف به مو کړی.دادَ شيطان دهوکه ده بهرحال دَ حديث دامطلب يواحتمال دې په ظاهرحديث کښې داسې تفصيل نشته دې ② دويم مطلب دادې چه دَ الله تعالى دَ بنديګانو متعلق ښه ګمان قائمول اودَ بدګمانئی نه بچ کيدل دا بهترين عبادت دې.

شيخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله اوعلامه طيبی رحمه الله هم دغه مطلب بيان کړې دې علامه طيبی رحمه الله فرمائی "يعنی اعتقادالخيروالصلاح فی حق المسلمين عبادة" دَ حديث دامطلب ډير واضح دې بلکه متعين معلوميږی.[الکاشف: ۲۵۷/۹اشعة اللمعات]

[۵۰۴۹] دَ حضرت زينب رضي الله عنها نه په يوه ناخوښه خبره د حضور ﷺ خفګان

۵۰۴۹-(۲)[۲۲] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: [۲] «اعْتَلَّ بَعِيرٌ لِصَفِيَّةَ وَعِنْدَ زَيْنَبَ فَضْلُ ظَهْرٍ، [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِزَيْنَبَ: "أَعْطِيهَا بَعِيرًا" [۴] فَقَالَتْ: أَنَا أُعْطِي تِلْكَ الْيَهُودِيَّةَ؟! فَغَضِبَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۵] فَهَجَرَهَا ذَا الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمَ وَبَعْضَ صَفَرٍ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. [۶] وَذُكِرَ حَدِيثُ مُعَاذِ بْنِ أَنَسٍ: "مَنْ حَمَى مُؤْمِنًا" فِي "بَابِ الشَّفَقَةِ وَالرَّحْمَةِ".

ترجمه :[۱] او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي،[۲] يو وخت د بي بي صفيي اوښ ناجوړه شو ، هغه وخت بي بي زينب رضي الله عنها سره د هغه د ضرورت نه زياته سورلي وه (يعني د هغې سره يو اوښ د ضرورت نه زيات وو) [۳] حضور ﷺ بي بي زينب رضي الله عنها ته وفرمايل، ته خپل هغه اوښ (چې ستا د ضرورت نه زيات دی) بي بي صفيه رضي الله عنها ته ورکړه [۴] بي بي زينب رضي الله عنها جواب

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی حسن الظن (رقم-۴۹۹۳) واحمد فی المسند: ۴۰۷/۲

(۲) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب السنة/باب ترک السلام علی أهل الأهواء (رقم-۴۶۰۲) واحمد فی المسند: ۲۶۱/۶

ورکړو، يا زه هغه يهوديه ته خپل اوښ ورکړم (يعني هغه بي بي صفيي رضي الله عنها ته يوازې د اوښ ورکولو نه انکار ونه کی، بلکي د هغه باره کې يې نازيبا الفاظ هم د ژبې نه واوخکل) [۵] نو رسول الله ﷺ د هغې نه سخت ناراضه شو. تردې چې د ذي الحجه او محرم (پوره مياشتې) او د ماه صفر څو ورځو پورې د هغه سره يوځاى کيدل او هغه ته ورتلل يې پريخودل (ابوداؤد) [۶] او د حضرت معاذ ابن انس رضي الله عنه روايت من حمى مؤمن الخ باب الشفقة والرحمة کې نقل شوى دى

حل اللغات: - ① اعْتَلَّ: بيمار شو. ② فَضْلُ: زياتى (دحاجت نه) ③ ظَهْرٍ: شا ته وانى دلته ترې سورلى مراد ده

تسهيلات:

قوله: اعْتَلَّ بَعِيرٌ لِصَفِيَّةَ وَعِنْدَ زَيْنَبَ فَضْلُ ظَهْرٍ:

د حديث پس منظر: حضرت صفيه رضي الله عنها په جنګ خيبر کښې دَ مسلمانانو لاس ته راغلې وه حضورپاك هغه آزاده کړه او ورسره ئې نکاح اوکړه دا دَ خوراك پخولو کښې ښه ماهره وه په دې وجه دَ نورو ازواج مطهرات دَ طرف نه وخت په وخت څه نا څه کلمات اوريدو دَ پاره ملاويدل حضرت صفيه، دَ حيي بن اخطب يهودي لور وه او دَ ابوالحقيق يهودي ښځه وه او دَ حضرت هارون عليه السلام دَ اولاد نه وه. هم په دې وجه هغې ته دَ يهوديت پيغور ملاؤ شو او حضورپاك ناراض شو. په يوه موقع حضورپاك حضرت صفيه رضي الله عنها ته اوفرمائيل چه ته دَ دغه پيغور دا جواب ورکړه چه زه دَ يونبى لوريم او دَ بل نبى ښځه يم تاسو کښې کومه يوه زما مقابله کولې شي؟ "فضل ظهر" يعنى زياتى سورلى وه چه فارغ وه

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۰۵۰] دَ الله تعالى دَ نوم په قسم باندې اعتبار پکار دې

۵۰۵۰- ( ) [۲۳] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «رَأَى عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ رَجُلًا يَسْرِقُ [۳] فَقَالَ لَهُ عِيسَى: سَرَقْتَ؟ [۴] قَالَ: كَلَّا، وَالَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ. [۵] فَقَالَ عِيسَى: آمَنْتُ بِاللَّهِ وَكَذَّبْتُ نَفْسِي» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي. چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] يو خل حضرت عيسى ابن مريم عليهما السلام يو سړى په غلا کولو وليدى. [۳] نو هغه سړي ته يې وويل، تا غلا وکړه [۴] هغه سړي اوويل هيڅ کله نه، په هغه پاك ذات مې دي قسم وي چې د هغه نه سوا بل معبود نشته ما غلا نه ده کړي، [۵] حضرت عيسى عليه السلام چې د هغه دغه شان قسم اخستل واوريدل نو اوويل ما په الله ايمان راوړى دي او خپل نفس دروغجن ګرځوم (مسلم)

---

[۱] اخرجه مسلم في كتاب الفضائل/باب فضائل عيسى عليه السلام (رقم-۱٤۹ - (۲۳۶۸) واحمد في المسند: ۲/۳۱٤

تسهيلات:

قوله: فَقَالَ عِيسَى: آمَنْتُ بِاللهِ وَكَذَّبْتُ نَفْسِي:

د حديث نه مستنبط شوى مسئله: حضرت عيسى علیه السلام چه كله دَ غل دَ خلي نه دَ الله تعالى تعريف اوبيا دَ هغه بزرګ او اوچت بادشاه دَ نوم قسم واؤريدو نو دَ خپلي مشاهدې نه شاته شو اودَ الله تعالى دَ نوم احترام ئى اوكړو دَدې نه معلومه شوه چه كه يو سړې دَ دروغو قسم هم اوخوري نو اوريدونكى له پكاردي چه دَ الله تعالى دَ نوم احترام كولو سره دَ هغه قسم اعتبار اوكړي.

[۵۰۵۱] لوږه او حسد لوئى امتحان دې

۵۰۵۱-(١)[٢٤] ١ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "٢ «كَادَ الْفَقْرُ أَنْ يَكُونَ كُفْرًا، ٣ وَكَادَ الْحَسَدُ أَنْ يَغْلِبَ الْقَدَرَ» ".

ترجمه: ١ او حضرت انس رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ٢ فقر او افلاس نزدې دى، چې د كفر حد ته (سړى) ورسوي، ٣ او حَسَد نزدې دى، چې تقدير باندې غالب راشي.

تسهيلات:

قوله: كَادَ الْفَقْرُ أَنْ يَكُونَ كُفْرًا:

د ان يكون كفرا مطلب: يعنى نيزدې ده چه فقر اوفاقه سړې كفرته اورسوى دا لوئى ازميښت دې ځكه چه دَ فقر اواولګې دَ وجې نه دا احتمال دې چه بې صبرى اودَ الله تعالى ناشكرى اوشى غلا اوشى حرام خورى اوشى په الله تعالى باندې يقين كم شى او په الله تعالى باندې اعتراض اوشى نودغه شان به دا فقراو اولګه سړې كفر ته اورسوى. اوكه چرې صبر اوشكروى دَ الله تعالى په قضاء باندې رضا وى يقين او اعتبارصرف په الله تعالى باندې وى قناعت وى نو په دغه اعتبار سره دَ فقر او فاقه لوئى فضيلت راغلې دې. «الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر».

[۵۰۵۲] دَ مسلمان د عذر نه قبلولو وبال

۵۰۵۲-(٢)[٢٥] ١ وَعَنْ جَابِرٍ عَنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "٢ «مَنِ اعْتَذَرَ إِلَى أَخِيهِ فَلَمْ يَعْذِرْهُ، أَوْ لَمْ يَقْبَلْ عُذْرَهُ ٣ كَانَ عَلَيْهِ مِثْلُ خَطِيئَةِ صَاحِبِ مَكْسٍ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ " وَقَالَ: الْمَكَّاسُ: الْعَشَّارُ.

(١) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم ۶۶۱۲
(٢) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم ۸۳۳۸

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه نقل کوي، چې حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل. [۲] کوم سړی چې خپل مسلمان ورور ته (خپل څه قصور باندي) عذر خواهي وکړي او هغه مسلمان سړی هغه معذور ونه ګرځوي (يعني هغه عذر ناقابل قبول تسليم کړي او اووائي چې تاته هيڅ عذر لاحق نه دی، بلکي د عذر خواهي په نوم دروغ وايي) يا د هغه عذرقبول نه کړي (يعني داسې اووائي، چې ته عذر خو لري، خو ستا عذر نه قبلوم) [۳] نو هغه به د دې درجې ګنهګار وي د کومي درجي چې صاحب مکس وي (چې د خلقو مالونه په ظلم اخلي). دا دواړه حديثونه بيهقي رحمه الله (په شعب الايمان کې نقل کړی دی. او ويلي يې دی. چې مکاس عشر اخستونکي ته وايي).

حل اللغات:- ① اِعْتَذَرَ: عُذر ئې اوکړو، ② صَاحِبِ مَكْسٍ: د خلقومالونه په ظلم اخستونکې. ③ اَلْمَكَّاسُ: عُشر. محصول او چونګی وغيره وصولونکی ته وائی. ④ اَلْعَشَّارُ: عُشر وصولونکې.

تسهيلات:

قوله: كَانَ عَلَيْهِ مِثْلُ خَطِيئَةِ صَاحِبِ مَكْسٍ:

دعذر نه قبلونکی د ګناه تشبيه د ټيکس وصولنکی سره: محصول او چونګی ته مکس وائی د دې وصولونکی ته مکاس صاحب مکس او پټواری اوعشار ورته وائی دا سړې هم څه عذر نه قبلوی په دې وجه دَعذر نه قبلونکی کس دَ ګناه تشبيه صاحب مکس سره ورکړې شوې ده په يو حديث کښې دی چه دَمسلمان عذر نه قبلونکې کس به حوض کوثر ته هم لا نه شی لهذا دَدې حديث تعليم دادې چه دَمسلمان رور عذر قبلول پکار دی

والعذر عند كرام الناس مقبول   ومن دق باب كريم فتح

[۱۸] بَابُ الْحَذَرِ وَالتَّأَنِّي فِي الْأُمُورِ

په معاملاتو کښې احتیاط او د سنجیدګۍ بیان

خلاصة الباب:

فيه خمسة عشر حديثاً مشتملة على خمس مسائل:

① فضيلة الحذر والتأني: ۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴.
② فضيلة الإناة والأمر لها: ۲، ۳، ۵، ۶، ۷، ۱۲، ۱۳، ۱۴.
③ مقدار الحلم والتأني: ۴.
④ فضيلة الاقتصاد في الأمور كلها: ۷، ۸، ۱۵
⑤ فضيلة الأمانة: ۹، ۱۰، ۱۱.

قوله: باب الحذر والتأني في الامور:

د الحَذَرِ لغوی معنی: بیدار او حاضردماغ اوسیدو په معنی کښې دې کوم چه د غفلت کسل او حماقت ضد دې.

د التَّأني لغوی معنی: اخیر اوروستو کیدل او په ښه شان غورکولو معنی کښې دې کوم ته چه وقار او سنجیدګی هم وائی چه د تادئی ضد دې.

د باب دعنوان مطلب: انسان له پکاردی چه هغه د زمانې د شر اوفساد او د خلقو د آفاتو اوبلیاتو نه خپل ځان بچ اوساتی اوهروخت په خپلو معاملاتو کښې بیدار حاضردماغ وی دې د پاره چه نه هغه ته څوك دهوکه ورکړې شی اونه هغه چاته دهوکه ورکړی لکه چه یوصحابی د حضرت عمرفاروق ﷺ باره کښې د یوغیرمسلم بادشاه د سوال په جواب کښې اووئیل چه "اَمِيْرُنَا لَا يَخْدَعُ وَلَا يُخْدَعُ" یعنی زمونږ امیر نه چاته دهوکه ورکوی اونه د چانه دهوکه خوری.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۰۵۳] مؤمن په هوښیاروی

۵۰۵۳-(۱) [۱] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "②«لَا يُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب: لا يلدغ المؤمن من جحر مرتين (رقم-۶۱۳۳) ومسلم في كتاب الزهد والرقائق/باب لا يلدغ المؤمن من جحر مرتين (رقم-۶۳ - (۲۹۹۸) وابوداود في كتاب الأدب/باب في الحذر من الناس (رقم-۴۸۶۲) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب العزلة فيما يستطيع الإنسان (رقم-۴۱۸۹) واحمد في المسند:۲/۳۷۹

ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] مؤمن د يوي غاري نه دوه ځله نشي چيچل کيدی. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① لَايُلْدَغُ: نه شي چيچلي کيدي (يعنى نه شى دهوکه کيدي). ② جُحْر: سوړه. سوراخ

تسهیلات:

قوله لَايُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ:

د حديث پس منظر او شان ورود: يعنى مومن د يوې سوړې نه دوه ځل نه شي تکوهلي ددې ارشاد مبارك پس منظر داسې دې چه د جنګ بدر په قيديانو کښې يو شاعرهم ګرفتاريدو سره مديني منورې ته راوستلې شوې وو د چانوم چه ابوعزه جمحي وو هغه د حضورپاك نه معافى کولو او مفت کښې د پريخودلو درخواست اوکړو. حضورپاك هغه په دې شرط باندې معاف کړو چه بيا به نه د مسلمانانو خلاف جنګ ته راځي او نه به د خپلو شعرونو په ذريعه د هغوى مذمت کوي هغه وعده اوکړه ليکن د ابوسفيان په وينا کولو سره دا شاعر بيا راؤچت شو اود خپلو اشعارو په ذريعه ئې د عربو قبائل د مسلمانانو خلاف جنګ ته تيار کړل او پخپله د کافرانو لښکر سره جنګ احد ته راغلو هلته بيا ګرفتار شو. کله چه د حضورپاك مخې ته راوستلې شو نو هغه بيا د معافئي درخواست اوکړو. په دې باندې حضورپاك اوفرمائيل داسې نه شي کيدې چه ته به بيا د مکې خلقو سره لاړشې او بريت به تاووې او وايې به چه ما محمد دوه ځل دهوکه کړو. مسلمان د يو ځائى او يوې سوړې نه دوه ځل نه شى تکوهلې. دې وينا کولو سره حضورپاك د هغه د قتل حکم ورکړو نو هغه بدبخت دوزخ ته اورسيدو. په دې حديث سره مسلمانانو ته د خارجه او داخله پاليسئى د پاره دغه د شان جنګ او صلح د پاره بې شميره حکيمانه اصول حاصليږى خوافسوس چه څوك غور اوکړى او داخپل کړى.

[۵۰۵۳] د حلم او بردبارئ فضيلت

۵۰۵۳-[1] (۲) [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَشَجِّ عَبْدِ الْقَيْسِ [۳] إِنَّ فِيكَ لَخَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللَّهُ: [۴] الْحِلْمُ وَالْأَنَاةُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دی [۲] چې رسول الله ﷺ د قبيله عبد القيس سردار اشج رضي الله عنه ته وفرمايل، [۳] په تاکي چې کوم دوه خويونه دي، الله هغه ډيري خوښوي، که هغه په هر چا کښې وي [۴] يو خو حلم او بردباري، او دويم توقف او آهستګي (په کار کښې تلوار نه کول). (مسلم)

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب الأمر بالإيمان بالله ورسوله، وشرائع الدين، والدعاء إليه(رقم-۲۵ - (۱۷) والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ماجاء فى التأنى والعجلة(رقم-۲۰۱۱)واحمد فى المسند:۲۳/۳

حل اللغات: - ① أَشَجّ: زخم نه وائی (دا د عبد القیس لقب دې) ② الحِلْمَ: بُردباری. ③ الأَنَاةَ: آهستګی. تلوار او جلتی نه کول

تسهیلات: قوله: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِأَشَجِّ عَبْدِ الْقَيْسِ:

د حدیث شان ورد او اشج وجه تسمیه:

نوټ: د وفد عبد القیس مکمل تشریح د تسهیلات اول جلد حدیث نمبر (۱۷) په تسهیل کښې تیره شوې ده

قوله: الحِلْمَ:

دحلم معنی: دَ ظالم نه بدله اخستو کښې دې سړې دَ صبر نه کار واخلی کوم ته چه بردباری وائی نو بردباری او سنجیدګئی دوه جدا جدا صفات دی

قوله: إِنَّ فِيكَ لَخَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللهُ: الحِلْمَ وَالأَنَاةَ:

دأناة په معنی کښې څلور اقوال:

① تاخیر او روستو والې کول.

② په طاعاتو باندې ثابت قدمی.

③ دَ مستقبل باره کښې بهتر سوچ کول.

④ وقار او سنجیدګی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۰۵۵] د حلم او بردبارۍ فضیلت او د جلد بازۍ مذمت

۵۰۵۵-() [۳] [۱] عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۲] «الْأَنَاةُ مِنَ اللهِ [۳] وَالْعَجَلَةُ مِنَ الشَّيْطَانِ» ". [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. [۵] وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ فِي عَبْدِ الْمُهَيْمِنِ بْنِ عَبَّاسٍ الرَّاوِي مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ.

ترجمه: [۱] د حضرت سهل ابن سعد ساعدي رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل. [۲] په یو کار کې آهستګي او بردباري د الله تعالی د طرف نه ده (یعني دا خوبي دالهام خداوندي په ذریعه یو انسان ته حاصلیږي) [۳] او جلد بازي د شیطان خصلت دی. [۴] دا روایت ترمذي رحمه الله نقل کړی دی، او ویلي یې دی چې دا حدیث غریب دی، [۵] او بعضي محدثینو د دې حدیث د راوي عبد المهیمن ابن عباس رضي الله عنه د یاداشت باره کې کلام کړی دی (یعني هغوئ ویلي دي، چې د عبد المهیمن رضي الله عنه حافظه زیاته ښه نه وه، اګر که د هغه عدل او ثقه کیدو کي څه شبه نشته)

حل اللغات: - ① الأَنَاةَ: آهستګی. تلوار نه کول ② العَجَلَةُ: جلتی کول

(۱) اخرجه الترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التأنی والعجلة (رقم-۲۰۱۲)

تسهیلات:

قوله: وَالعَجَلَةُ مِنَ الشَّيطَانِ:

په دنیاوی کارونو کښې جټی (تلوار) کول: جلد بازی د شیطان عادت او خوې دې. ددې مطلب دا دې چه په دنیاوی کار کښې غور وفکر نه کول او ددې په خاتمه باندې بغیر د غور او فکر نه زر زر شروع کول ځکه چه شیطان په دې کښې مختلف قسمه وسوسې اچوی کوم سره چه د شیطان مقصد دا کار خرابول وی او په پریشانی کښې واقع کول وی نو ددې وجهې نه دا مذموم دې،

د زیربحث حدیث څخه د دینی کارونو استثنا: د زیربحث حدیث څخه هغه دینی کارونه مستثنی دی کوموته چه په مخکې والې کښې ثواب دې، الله تعالی فرمائی "وسارعون فی الخیرات،وسارعواالی مغفرة".

په دینی امورو کښې د جلتی کولو دوه صورتونه:

ملا علی قاری رحمه الله فرمائي چه په طاعاتو او عباداتو کښې د جلدی دوه صورتونه دی ① دطاعت اوعبادت د ادا کولو طرف ته سرعت او جلدی اختیارول. دا صورت ممدوح دې

② د عبادت او طاعت په ادا کولو کښې جلد بازی کول.

په دواړو صورتونو کښې فرق: یو د مونځ دپاره جلدی کول دی او دویم دا چه په مونځ کښې دننه جلدی کول یعنی رکوع، سجده وغیره زر زر کول او د مونځ نه ځان فارغول نو په دې کښې اولنې صورت ممدوح دې او دویم صورت مذموم دې.

عبدالمهیمن:

دعبدالمهیمن راوی تضعیف: دا راوی کامل مومن او متقی پرهیزګار وو او عادل اوثقه وو لیکن بعضی حضراتو په ده باندې دا طعن لګولې دې چه دا ثقه راوی نه دې ځکه چه دده حافظه کمزورې وه.

[۵۰۵٦] تجربو سره سړې کامل حکیم جوړیږی

۵۰۵٦-(¹)[٣] [١]وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢]«لَا حَلِيمَ إِلَّا ذُو عَثْرَةٍ،[٣]وَلَا حَكِيمَ إِلَّا ذُو تَجْرِبَةٍ» "[٤]رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [١]او حضرت ابوسعید خدري رضی الله عنه وايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل[٢] هیڅ سړی کامل بردبار کېږي نه، ترخوپورې چې خطا نه وي ورنه شوي، [٣]او هیڅ سړی کامل حکیم

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التجارب (رقم-٢٠٣٣) واحمد فی المسند:٣/٦٩

کېږي نه ترڅو پورې چې تجربه ورته حاصله شوي نه وي،[۴] دا روایت احمد رحمه الله او ترمذي نقل کړی دی، او ویلي یې دي چې دا حدیث غریب دی.

حل اللغات: - ① حَلِيمَ: بردبار، ② ذُوعَثْرَةٍ: عثرهٔ لغزش او تندك په معنی کښې دې. یعنی خطا کونکې، ③ حَكِيمَ: دانا، هوښیار.

تسهیلات:

قوله: لَاحَلِيمَ إِلَّا ذُوعَثْرَةٍ:

دمذکوره جملې مطلب: یعنی دَحلم لحاظ اودَ مروت ماده په هغه سړی کښې راځی چاچه دهوکه خوړلې وی.لغزش سره مخامخ شوې وی.په خپلو معاملاتوکښې ئی ځائی په ځائی نقصان اوچت کړې وی.دَهغه مشرانو دې معاف کړې وی.دَداسې سړی په مزاج کښې دَ خپلو کشرانودَپاره بلکه دَ پوره معاشرې دَپاره دَحلم او دَ بردبارئی جذبه پیدا کیږی او هغه دَهرښکته پورته انجام باندې پوهیږی په دې وجه په هغه کښې دَ برداشت مادهٔ پیدا کیږی هم دا په حدیث کښې دَحلیم په نوم سره یاد کړې شوې دې

قوله: وَلَاحَكِيمَ إِلَّا ذُوتَجْرِبَةٍ:

دحکیم په مصداق کښې دوه اقوال:

① دَدې څخه طبیب مراد دې.

② هوښیار چه دَ معاملاتو په انجام باندې نظرساتی.دا قول راجح دې

غرض دا چه دَ څوك چه تجرباتو سره مخ شوې وی هم هغه اصل حکیم دې لکه چه وئیلی شوی دی "سل المجرب ولاتسأل الحکیم". یعنی د تجربه کار څخه تپوس کول د حکیم څخه تپوس مه کوه.

[۵۰۵۷] دکارا نجام ته کتل او په سوچ اوفکرسره لې کول

۵۰۵۷-(۱)[۵] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- «أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] أَوْصِنِي. فَقَالَ: "خُذِ الْأَمْرَ بِالتَّدْبِيرِ، [۳] فَإِنْ رَأَيْتَ فِي عَاقِبَتِهِ خَيْرًا فَأَمْضِهِ، [۴] وَإِنْ خِفْتَ غَيًّا فَأَمْسِكْ"». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] او د حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی، چې یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړو، [۲] حضرت! ماته څه داسې وصیت وفرمایه، چې په هغه زه خپل کارونو او معاملاتو کې عمل کوم، او د هغه په وجه څما کار او عمل خراب نشي حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل ته چې کله د څه کار اراده وکړي، نو تدبر اختیار کړه (یعني آنجام باندې نظر اچوه، او د هغه ټول مصالح او مفاسد باندې په ښه شان غور او فکر وکړه) [۳] او بیا که د هغه کار انجام کې (دیني اودنیوي) خیر درته په نظر راشي، نو هغه وکړه، [۴] او که د هغه

(۱) اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم ۳۶۰۰

په انجام کې (څه دیني یا دنیاوي) ګمراهي او اخروي خوف محسوس کړې نو هغه پریږده (شرح السنه)

حل اللغات:- ① التَّدْبِيرِ: غور او فکر، انجام باندې نظر ساتل. ② أَمْضِهِ: اوئې کړه. ③ غَيًّا: سرکشي، ګمراهي. ④ أَمْسِكْ: منع شه، مه ئې کوه.

تسهیلات:

د بعضې مشکلو الفاظو وضاحت:

① خُذِ الْأَمْرَ بِالتَّدْبِيرِ: بالتدبير، "أي بالتفكر في دبره والتأمل في مصالحه ومفاسده" په خاتمه باندې غور او فکر کول او ددې په مصلحت او مفاسدو کښې غور وفکر کول

② فَإِنْ رَأَيْتَ فِي عَاقِبَتِهِ خَيْرًا: "أي نفعًا دنيويا أو أخرويًا" که ددې نفع دنیاوی وی او که دینی وی مطلب دا دې چه د هر کار د شروع کولو نه مخکې ددې په خاتمه باندې سوچ او فکر کول پکار دی، نو که په خاتمه کښې څه دینی یا دنیاوی خرابی وی نو دا کار مه شروع کوی او که شروع کړی دې وی نو پریږدئی.

[٥٠٥٨] دَ آخرت په اعمالو کښې تاخیر مه کوئ

٥٠٥٨-(٦)[١] ١ وَعَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ، ٢ قَالَ الْأَعْمَشُ. لَا أَعْلَمُهُ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ٣ قَالَ: "«التُّؤَدَةُ فِي كُلِّ شَيْءٍ خَيْرٌ ٤ إِلَّا فِي عَمَلِ الْآخِرَةِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ١ او حضرت مصعب ابن سعد رحمه الله د خپل پلار (حضرت سعد رضي الله عنه) نه روایت نقل کړې دی ٢ دهغه باره کې (د حدیث راوي) حضرت اعمش وايي زه بنه پوهیږم چې دا حدیث حضرت سعد رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه نقل کړی دی او هغه داسې دی ٣ چې حضور صلى الله عليه وسلم وفرمایل، توقف او تاخیر په هرعمل کې بنه دی، خو د آخرت په عمل کې نه. (ابوداؤد)

حل اللغات:- ① التُّؤَدَةُ: تاخیر او توقف کول

تسهیلات:

قوله: التُّؤَدَةُ فِي كُلِّ شَيْءٍ خَيْرٌ:

د لفظ التؤده تحقیق: أَلتُّؤَدَةُ: ملاعلی قاری رحمه الله لیکلی دی چه په دې لفظ کښې په تاء باندې ضمه ده او همزه باندې فتحه ده تاخیر او توقف ته وائی. لکه څنګه چه اناة دی دغه شان تؤدة دې. مطلب دا چه په هرکار کښې تاخیر او توقف بهتر دې لیکن د آخرت په کارکښې بنه نه دې څکه چه د هر راتلونکی وخت د پاره د هغی مناسب څه کاروی لهذا

[١] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب باب فى الرفق (رقم-٤٨١٠)

دغه نیك كارنه به پاتې شي نوتادي كوئي. قرآن كښې دی چه (فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ) اسورة البقرة: ۱۴۸ا په نیكئ كښې تادي كوئي

[۵۰۵۹] بعضې اعمال د نبوت د څلورويشتمې حصې نه يوه حصه ده

۵۰۵۹-(۱)(۷) [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَرْجِسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "[۲] «السَّمْتُ الْحَسَنُ وَالتُّؤَدَةُ وَالِاقْتِصَادُ [۳] جُزْءٌ مِنْ أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] د حضرت عبد الله ابن سرجس رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. [۲] ښه خوئ، په یو كاركي آهستګي او غور وفكر د پاره تاخیر كول. او میانه روی [۳] هغه خوبیاني دي چې د نبوت د څلورويشتو اجزاوو نه یو جزء دی (ترمذي).

حل اللغات:- ① السَّمْتُ: ښه اخلاق، ښه عادات. ② التُّؤَدَةُ: تاخير او توقف كول ③ الِاقْتِصَادُ: ميانه روی كول.

تسهیلات:

قوله: وَالِاقْتِصَادُ جُزْءٌ مِنْ أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ:

د اقتصاد نه څه مراد دی: الاقتصاد په خرچ كولو كښې میانه روی كولو ته اقتصاد وائی ليكن دلته په هرڅيز كښې اقتصاد اوميانه روی مراد ده. يعنی اعمالو، افعالو، اقوالو، عباداتو، اخلاقياتو، خرچ او اخراجاتو غرض په ټولو احوالو كښې ميانه روی اختيارول ښه خصلت دي چه سړې دَ ظلم اسراف، تجاوز اوبغاوت نه محفوظ پاتې شی افراط اوتفريط يعنی كمې زياتې په يوڅيزكښې هم ښه نه دې.

قوله: جُزْءٌ مِنْ أَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ: دا هم ممكن دی چه ذكرشوی دريواړه څيزونه يوځائې كيدوسره دَ نبوت دَ ۲۴ اجزاؤ نه دَيوجزء درجه لری اودا هم ممكن دی چه دهريوڅيزدَ ۲۴ اجزاء نه يوجزء وی. دَدې جمله مطلب دادې چه دا څيزونه دَ انبياء كرامو دَ مبارك عاداتو نه وو اودا دَ هغوی فضائل كښې داخل وو. تاسو له هم پكاردی چه تاسو دَ انبياء كرامو په دې څيزونو اوفضائلو كښې تابعداری او اقتداء اوكړئی دَدې حديث دامطلب نه دې چه په چاكښې دا خصلتونه راغلو نوهغه نبی جوړشو څكه چه نبوت متجزی نه وی.

باقی دَ ۲۴ چه كوم عدد بيان كړې شوې دې دادَ تكثيردَپاره دې دَ تحديد دَپاره نه دې. چنانچه په بل روايت كښې دَ ۲۵ عدد ذكردې. يا داسې اوګڼرئی چه دَعدد بيانول دَ شارع عليه السلام په علم اوحكمت باندې موقوف دې مونږ نه په دې كښې څه دخل كولې شو او نه څه رائې قائمولې شو.

---

(۱) اخرجه الترمذی فی كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی التأنی والعجلة (رقم-۲۰۱۰)

[۵۰۶۰] بعضي اعمال د نبوت د پنځويشتمي حصې نه يوه حصه ده

۵۰۶۰-(۱)[۸] ۱ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - أَنَّ نَبِيَّ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "۲ «إِنَّ الْهَدْيَ الصَّالِحَ وَالسَّمْتَ الصَّالِحَ وَالِاقْتِصَادَ ۳ جُزْءٌ مِنْ خَمْسٍ وَعِشْرِينَ جُزْءًا مِنَ النُّبُوَّةِ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او د حضرت ابن عباس ﷠ نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ۲ نيک سيرت، ښه خوئ او ميانه روی ۳ هغه خوبياني دي چې د نبوت د پنځويشتو اجزاء وو نه يو جزء وي (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① الْهَدْيَ الصَّالِحَ: نيك سيرت، ② السَّمْتَ: ښه اخلاق. ښه عادات، ③ الِاقْتِصَادَ: ميانه روی کول.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْهَدْيَ الصَّالِحَ وَالسَّمْتَ الصَّالِحَ:

هدي صالح او سمت صالح کښې فرق: د هدی تعلق د انسان د باطنی احوالو سره دې نو ددې وجهې نه ددې ترجمه په نيک سيرت سره کيږی کوم ته چه نيک خوبی هم وئيلې کيږی او د سمت تعلق د انسان د ظاهری احوالو او کردار سره دې ددې وجهې نه ددې ترجمه په نيکې طريقې سره کيږی او دې ته نيک عادت (چلن) هم وئيلې کيږی

سوال: په دې حديث کښې پنځويشت خوبيانی بيان شوی دی او په ماقبل حديث کښې څلورويشت خوبيانی بيان کړې شوی دی، نو په ظاهره تعارض دې؟

جوابات: ① بعضی حضراتو فرمائيلی دی چه په دې احاديثو کښې تفاوت او فرق د کوم راوی په وهم او خطا کښې مبتلا کيدلو په بناء باندې راغلې دې

② نبی کريم ﷺ په يو موقع باندې څلورويشت ذکر کړی وو او په بله موقع باندې ئې پنځويشت ذکر کړی وو ③ بنی کريم ﷺ اول دا فرمائيلی وو چه دا خوبيانې د نبوت د څلورويشت حصو نه يوه حصه ده بيا نبی کريم ﷺ د مهربانی په توګه يوه حصه بله هم زياته کړه او وفرمائيل چه دا خوبيانې د نبوت د پنځويشت حصو نه يوه حصه ده.

[۵۰۶۱] د راز خبره هم امانت دې

۵۰۶۱-(۲)[۹] ۱ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "۲ «إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ الْحَدِيثَ ثُمَّ الْتَفَتَ، ۳ فَهِيَ أَمَانَةٌ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ۱ او حضرت جابر ابن عبد الله ﷠ د نبي کريم ﷺ نه روايت کوي ۲ حضور ﷺ

---

(۱) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی الوقار (رقم-۴۷۷۶) واحمد فی المسند:۲۹۶/۱

(۲) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی نقل الحديث (رقم-۴۸۶۸) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء أن المجالس أمانة (رقم-۱۹۵۹)واحمد فی المسند: ۳۷۹/۳

وفرمایل، هرکله چې یو سړی څه داسې خبره وکړي (چې هغه پټه ساتل غواړي) او بیا هغه پاسي [۲] نو د هغه خبره امانت ده. (ترمذي، ابوداود)

حل اللغات: - ① حَدَّثَ: خبره اوکړی، ② اِلتَفَتَ: اخوا دیخوا اوګوری.

تسهیلات:

قوله: إِذَا حَدَّثَ الرَّجُلُ الحَدِيثَ ثُمَّ التَفَتَ فَهِيَ أَمَانَةٌ:

دمذکوره جملې مطلب: کوم کس بل کس ته داسې خبره وکړی کومه چه هغه پټه ساتل غواړی نو اوریدنکی له پکار دی چه هغه خبره بل کس ته ونکړی بلکه ځان سره دې پټه اوساتی او امانت دې اوګنړی، لکه څنګه چه د امانت حفاظت ضروری دې نو هم دغه شان ددې حفاظت هم ضروری دې.

[۵۰۶۳] چا نه چه مشوره واخستې شی هغه به هم امانت داروی

۵۰۶۳-()[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ لِأَبِي الهَيْثَمِ بْنِ التَّيِّهَانِ: "[۳] هَلْ لَكَ خَادِمٌ؟ فَقَالَ: لَا. [۴] قَالَ: " فَإِذَا أَتَانَا سَبْيٌ فَأْتِنَا. [۵] فَأُتِيَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِرَأْسَيْنِ، [۶] فَأَتَاهُ أَبُو الهَيْثَمِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اخْتَرْ مِنْهُمَا. [۷] فَقَالَ: يَا نَبِيَّ اللّٰهِ! اخْتَرْ لِي [۸] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ المُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ. [۹] خُذْ هَذَا فَإِنِّي رَأَيْتُهُ يُصَلِّي، [۱۰] وَاسْتَوْصِ بِهِ مَعْرُوفًا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوهریره ﷛ نه روایت دی [۲] چې یوه ورځ رسول الله ﷺ یو صحابي حضرت ابو الهیثم ابن تیهان ﷛ نه پوښتنه وکړه، [۳] آیا ستا څوك خادم شته. هغه عرض وکړو یا . [۴] حضور ﷺ ورته وفرمایل، هرکله چې مونږ ته د یو ځای نه غلامان راشي نو ته راسه (زه به تاته یو غلام درکړم) [۵] نو څه موده وروسته چې رسول الله ﷺ ته دوه غلامان راوستل شوه، [۶] نو ابوالهیثم ﷛ د حضور ﷺ په خدمت کې حاضرشو. رسول الله ﷺ هغه ته وفرمایل دا دوه غلامان دي، په دي دواړو کښې یو ځان د پاره خوښ کړه. [۷] ابوالهیثم ﷛ عرض وکړو، یانبي الله، تاسو زما د پاره یو غلام خوښ کړي [۸] حضور ﷺ وفرمایل، کوم سړي نه چې مشوره واخستل شي هغه ته آمین کیدل پکار دی، (یعني مشیرته پکار دی چې دمشوره غوښتونکی د خیر ښیګنې بهرصورت لحاظ وساتي، او هغه مشوره ورکړي، کومه چې د هغه په حق کې ښه وي) ګویا حضور ﷺ د دي ارشاد په ذریعه ابوالهیثم ﷛ باندې واضحه کړه، چې هرکله تا دانتخاب حق ماته وسپاری او زما نه مشوره غواړي نو زه تاته هغه غلام درکوم کوم چې ستا د پاره ښه او

---

[1] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب فی المشورة (رقم-۵۱۲۸) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی معیشة أصحاب النبی صلی الله علیه وسلم (رقم-۲۳۶۹) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب المستشار مؤتمن (رقم-۳۷٤۵) واحمد فی المسند: ۱۷۲/٤

مناسب دی، ځکه [٩] حضور ﷺ په هغه دوو غلامانو کې یو غلام طرف ته اشاره کولو سره وفرمایل، چې دا غلام د ځان سره بوځه، ځکه چې دی ما په مونځ کولو لیدلی دی. (یعني داغلام مونځ گذار او دینداره دی، ځکه ستا په حق کې به ډیر ښه وي.[١٠] او د ده سره نیک سلوك او خير ښيگڼه اختيارولو کې څما په وصيت هميشه عمل کوه (ترمذي)

حل اللغات: - ① الْمُسْتَشَارُ: مُشير. یعنی دچا نه چه مشوره واخستلې شی ② مُؤْتَمَنٌ: امانتدار. ③ اسْتَوْصِ: زما وصيت پوره کړه.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْمُسْتَشَارَ مُؤْتَمَنٌ:

په مشوره کښې امانت: نبی کریم ﷺ د مشورې په باره کښې د همیشه دپاره یوه قاعده ارشاد اوفرمائیله چه مشوره غوښتونکی ته دې خلاف مصلحت مشوره ورنکړې شی او خلاف مصلحت مشوره ورکول خیانت دې اگرچه مشوره غوښتونکې مخالف هم ولی نه وی.

قوله: خُذْ هَذَا فَإِنِّي رَأَيْتُهُ يُصَلِّي:

مونځ د ظاهری نیکۍ علامت: یعنی کار کولو دپاره دې مسلمان مونځ کونکې ملازم وساتلې شی. مونځ کونکې سړې متقی او پرهیزگار وی او مونځ نه کونکې چه د الله تعالی نه نه ویریږی نو هغه به بنده نه او د بنده حق خوړلو نه څه ویریږی.

قوله: وَاسْتَوْصِ بِهِ مَعْرُوفًا:

غلامانوسره دښه سلوک کولو حکم: حضرت ابو الهيثم ﷺ دا غلام کور ته راوستو او خپلې ښځې ته ئې اوفرمائیل چه نبی کریم ﷺ ما ته دا غلام را کړې دې او دی سره ئې د ښه سلوک او خیگړې نصیحت کړې دې نو هغوی ښځې اوفرمائیل چه په دې نصیحت باندې به مونږ پورا عمل ونکړې شو، نو دی غلام سره ښه سلوک او خیگړه دا ده چه دا غلام مونږ آزاد کړو

[٥٠٦٣] دا دری خبرې ښکاره کول د امانت دارۍ خلاف نه دی

٥٠٦٣-(¹) [١١] [١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [٢] «الْمَجَالِسُ بِالْأَمَانَةِ إِلَّا ثَلَاثَةَ مَجَالِسَ: [٣] سَفْكُ دَمٍ حَرَامٍ، أَوْ فَرْجٌ حَرَامٌ، أَوِ اقْتِطَاعُ مَالٍ بِغَيْرِ حَقٍّ» ". [٤] رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ. وَذُكِرَ حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ: "إِنَّ أَعْظَمَ الْأَمَانَةِ" فِي "بَابِ الْمُبَاشَرَةِ" فِي "الْفَصْلِ الْأَوَّلِ".

ترجمه: [١] او حضرت جابر ﷺ وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [٢] مجلسونه د امانت سره وابسته دي (يعني په یو مجلس کې که داسې خبره واوریدل شي چې دهغه خورول

---

¹) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى نقل (رقم-٤٨٦٩) والترمذى فى كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن المجالس أمانة (رقم-١٩٥٩) واحمد فى المسند:٣٤٢/٣

مناسب نه وي، نو د هغه خبري حفاظت کوئ، يعنې مه هغه چيرته نقل کوئ، او مه چاته د هغه چغل خوري کوئ، البته دري مجلسونه يعنې دري ځيزونه داسې دي چې د هغه باره کې چيرته څه خبره وشي نو نوروته د هغه رسول ضروري دی، (اګرکه ويونکې هغه خبروته اهم راز اووائي) [۳] او هغه دري مجلسونه دادی، ۱ کوم خون چې ناحق بهېول حرام دی هغه بهېوي، يعنې د چا د ناحق قتلولو د مشوري او ارادي خبره. ۲ حرام کاري يعنې د زنا کولو د مشوري او ارادي خبره. ۳ د چا مال په ناحقه د اخستو د مشوري او ارادي خبره [۴] (ابوداؤد) او د حضرت ابوسعيد رضي الله عنه دا روايت (انّ أعظمَ الأمانة) باب المباشرة مخکنې فصل کې ذکر شوی دی.

حل اللغات: - ① سَفكٌ: تويول، بهيول. ② اقْتِطَاعٌ: په زوره اخستل.

تسهيلات:

قوله: الْمَجَالِسُ بِالْأَمَانَةِ:

دري خبرې په راز کښې ساتل جائز نه دی: يعنې دَمجالسو دارومدار په امانت او ديانت باندې دې دا دَ هغه وخت خبره ده چه دَ مجلس خبره هم دَ مجلس دَ حدپورې محدودنه وی نودَ مجلس خبره بهرويستلې شی. اوکه چرې په مجلس کښې دَ راز هم څه خبره وی لېکن هغه په درې قسم خبرو کښې وی نوهغه په راز کښې ساتل جائز نه دی بلکه ښکاره کول ضروری دی. اول خبره دا ده چه په مجلس کښې دَ چا دَ ناحق قتل خبره شوې وی نو دا راز ښکاره کول ضروری دی. دويمه خبره دا چه په يومجلس کښې دَ څه زناکارئی منصوبه جوړولې شی نودا راز ښکاره کول ضروری دی. دريمه خبره دا چه په يومجلس کښې دَ چا مال په ناجائز طريقه دَ خوړلو خبره کيږی نودا راز ښکاره کول جائز بلکه ضروری دی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۰۶۳] دالله تعالى د حکم وراندې د عقل تابعداری

۵۰۶۳-() [۱۲] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[۲] «لَمَّا خَلَقَ اللَّهُ الْعَقْلَ قَالَ لَهُ: قُمْ فَقَامَ، [۳] ثُمَّ قَالَ لَهُ: أَدْبِرْ فَأَدْبَرَ، [۴] ثُمَّ قَالَ لَهُ: أَقْبِلْ فَأَقْبَلَ، ثُمَّ قَالَ لَهُ: اقْعُدْ فَقَعَدَ، [۵] ثُمَّ قَالَ: مَا خَلَقْتُ خَلْقًا هُوَ خَيْرٌ مِنْكَ وَلَا أَفْضَلُ مِنْكَ وَلَا أَحْسَنُ مِنْكَ، [۶] بِكَ آخُذُ، وَبِكَ أُعْطِي، [۷] وَبِكَ أُعْرَفُ، وَبِكَ أُعَاتِبُ، وَبِكَ الثَّوَابُ، وَعَلَيْكَ الْعِقَابُ» ". وَقَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه روايت کوي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل، [۲] هرکله چې الله جل جلاله عقل پيدا کې، نو هغه ته يې وفرمايل، ودريږه نو هغه ودريدلو [۳] بيايي ورته اوويل شا وګرځوه، نو هغه شا وګرځوله، بيايي ورته وفرمايل زما

() اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ٤٦٣٣

طرف ته مخ کړه، نو هغه د الله طرف ته مخ کی، ۴ بیایي ورته وفرمایل، کینه نو هغه کینا ستی، ۵ بیایي ورته وفرمایل ماهیڅ مخلوق داسې نه دی پیدا کړی، چې ستا نه ښه وي، په فضل او کمال کې ستا نه زیات وي، او په خوبیانو کې ستا نه ښه وي، ۶ ستا سبب سره د بنده ګانو مؤاخذه کوم (یعني ستا د راهنمایي په ذریعه بنده ګان زما په باره کې کوتاهي کوي اوځما نافرماني کوی، نو هغوی ځما په غضب کې مبتلا کیدلو سره زما د انعاماتو نه محرومیږي، زه ستا په سبب بنده ګانو ته ثواب او درجات ورکوم، یادا چې کوم بنده ته نعمت ورکوم، ستا په واسطه یې ورکوم، چې چا ستا د پاره محنت او مشقت اختیار کی، هغه د اجر او انعام مستحق ګرځوم، ۷ زه ستا په سبب پیژندی شم، زه ستا په سبب غضبناك کیږم، ۸ ستا په سبب ثواب ورکوم، ستا په سبب عذاب ورکوم، (حاصل دا چې دي دنیا او آخرت کې د انسان احکام خداوندي مکلف او مخاطب جوړیدل د الله د رضا او خوشنودي او د هغه د فیض وغضب مورد جوړیدل او د ثواب او عذاب مستحق ګرځیدل، د دې ټولو مدار عقل باندې دی) بعضې علماء د دې حدیث په صحیح کیدو کې کلام کړی دی، او ویلي یې دي چې داحدیث موضوعي دی.

حل اللغات:- ① أَدْبِرْ: شا اوګرځوه، ② أَقْبِلْ: مخ راواړوه، ③ أُعْطِي: ورکوم (ثواب)، ④ أُعَاقِبُ: سزا ورکوم.

تسهیلات:

قوله: وَقَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ بَعْضُ الْعُلَمَاءِ:

دمذکوره حدیث باره کښې د محدثینو اقوال:

① دَ صاحب مشکوة دَ طرزکلام نه معلومیږی چه زیر بحث حدیث ضعیف دې موضوع نه دې

② علامه سخاوی په مقاصد حسنه کښې لیکلی دی چه داحدیث په اتفاق سره کذب او موضوع دې

③ ابوجعفر عقیلی رحمه الله ابوحاتم، دارقطنی او ابن جوزی دا حدیث موضوع او کذب ګرځولې دې

④ شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله دَدې حدیث متعلق لیکلی دی چه "هوکذب موضوع عند اهل المعرفة بالحدیث".

⑤ علامه محمدبن یعقوب فیروزآبادی خپل کتاب المختصر کښې دې حدیث ته ضعیف وئیلې دې

نوټ: دَ صاحب مشکوة په ټول کتاب کښې همدغه یوحدیث موضوع دې.

[۵۰۶۵] دَ قيامت په ورځ به بدله دَعقل مطابق ملاويږي

۵۰۶۵-()[۱۳] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۲ إِنَّ «الرَّجُلَ لَيَكُونُ مِنْ أَهْلِ الصَّلَاةِ وَالصَّوْمِ وَالزَّكَاةِ وَالْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ ". ۳ حَتَّى ذَكَرَ سِهَامَ الْخَيْرِ كُلَّهَا: "۴ وَمَا يُجْزَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا بِقَدْرِ عَقْلِهِ»".

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عمر ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ۲ يو سړي چې د مونځ كونكو نه وي، روژه ساتونكو نه وي، زكوة وركونكو نه وي، حج او عمره كونكو نه وي، ۳ تردې چې حضور ﷺ دغه شان د نيكي او بدي متعلق د ټولو لويو لويو څيزونو ذكر وكړ، ۴ نو وي فرمايل چې هغه ته به د خپل عقل مطابق جزا وركول كېږي

حل اللغات:- ① سِهَامَ: د سهم جمع ده، حصې يعنې اقسام.

تسهيلات: **قوله**: وَمَا يُجْزَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا بِقَدْرِ عَقْلِهِ:

دانساني عقل عظمت: دَ عقل نه مراد هغه اعلى جوهردې دكوم په ذريعه چه انسان دَ اسبابو اوڅيزونو په حقيقت باندې پوهيږي اودَ كوم په وجه چه انسان دَانسانيت په دائره كښې اوسيږي.لكه چه دادَ انسان دَپاره دګاډي دَ بريك په شان دې كه چرې دا فيل شي نوانساني وجود بې قابو كيږي.اوس چه په كوم سړي كښې دَ عقل جوهرڅومره كامل اومكمل وي هم هغه هومره به دَ هغه كار اوچت او اعلى وي.

دعقل په بنياد د جزاء اوسزا وركولو وجه: هم دَدې په وجه په دې حديث كښې اوفرمائيلې شو چه په كوم سړي كښې چه څومره عقل وي هغه ته به دَهغې مطابق بدله وركولې شي.ځكه چه دَ الله تعالى دَ طرف نه انعام اواكرام به دَ قيامت په ورځ دَ عباداتو دَ مقدار په وجه نه وي بلكه دَعبادت دَ حسن اودكمال دَ وجې نه به وي.اودا خبره واضح ده چه په عباداتو اوطاعاتو كښې دَحسن اوكمال مدار هم په دې عقل باندې دې په دې وجه اوفرمائيلې شو چه دَقيامت په ورځ به جزا اوسزا دَعقل په بنياد باندې وركولې شي.

[۵۰۶۶] عقل دَتدبير برابر نه دې

۵۰۶۶-()[۱۴] ۱ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۲ «يَا أَبَا ذَرٍّ! لَا عَقْلَ كَالتَّدْبِيرِ ۳ وَلَا وَرَعَ كَالْكَفِّ، ۴ وَلَا حَسَبَ كَحُسْنِ الْخُلُقِ»".

ترجمه: ۱ او حضرت ابوذر ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل. ۲ اې ابوذره ﷛! پوه سه، چې عقل د تدبير برابر نه دى، ۳ ورع يعنې پرهيزګاري د احتياط برابره نه ده، ۴ او حسب او فضيلت د خوش اخلاقي برابره نه ده.

() اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۴۶۳۷

() اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الزهد/باب الورع والتقوى (رقم-۴۲۱۸)

حل اللغات:- ① التَّدْبِيرُ: غور اوفکر، انجام باندې نظر ساتل. ② وَرَعٌ: تقوی... ③ الكَفُّ: پرهيز

تسهیلات:

قوله: لَا عَقْلَ كَالتَّدْبِيرِ:

تدبير د عقل نتيجه: په انجام باندې غور اوفکر کول تدبير دي لهذا اعلی او اولی عقل هم تدبير دي په دې وجه اوفرمائيلې شو چه دَ بهتر تدبير په شان هيڅ يو عقل نه دې هم تدبير يو بهترين عقل دي

قوله: وَلَا وَرَعَ كَالْكَفِّ:

دمذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① کوم سړي چې خلقوته دَ تکليف رسولوځنه ځان ساتي دَهغه په شان دَ چاتقوىٰ نه شي کيدې دا اعلی تقوىٰ ده دا مفهوم نبه معلوميږی ځکه چې ډير خلق مونځونه روژې وغيره عبادات نبه په کثرت سره کوی ليکن بل طرف ته د حقوق العباد خيال نه ساتي. بندګانوته تکليف ورکوی دهغوی حقوق غصب کوی خودا ورته ګناه هم نه ښکاری. الله تعالی دې زمونږ په حالت باندې رحم اوکړی

② دَ پرهيز په شان څه تقوىٰ نشته دې. تقوىٰ خودَ محرماتو نه دَ بچ کيدلو اوظاهراً اوباطناً ښيله معامله ښپل رب سره دَ صفا ساتلونوم دې. نوچه کوم سړي په هره لمحه کښې ځان دَ هرناجائزنه بچ کوی دَ هغې نه زياته تقوىٰ څه کيدې شی؟ يو سړي عبادت کوی خو ورسره دګناه ارتکاب هم کوی نودې دَ تقوىٰ مقام ته چرته رسيدې شی ليکن چه کوم سړې عبادت سره دګناهونونه پرهيز کوی اصل متقی خوهم دغه دې. ددې مثال داسې دې چه يو سړې دوائی خوری ليکن دې نه پس پرهيزنه کوی بلکه بدپرهيزی کوی نوده ته دوائی فائده نه شي ورکولې

قوله: وَلَا حَسَبَ كَحُسْنِ الْخُلُقِ: دَ حسب نسب مطلب هم دغه دې چه سړې دَاعلی خاندان سره تعلق لري اودَ اعلی خاندان خلق دَ اوچتو اخلاقو مالکان وی ځکه چه هغوی شريفان وی نتيجه دا راؤوتله چه دَخو اخلاقو مالك کيدل دَدې خبرې دليل دې چه دَدې سړی تعلق دَ اعلی خاندان سره دې په دې وجه اوفرمائيلې شو چه دَ خو اخلاقو په شان هيڅ حسب نسب نه شي کيدې

[۵۰۶۷] په خرچ کښې ميانه روی دَژوند نيمه سرمايه ده

۵۰۶۷—(¹) [۱۵] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ② «الِاقْتِصَادُ فِي النَّفَقَةِ نِصْفُ الْمَعِيشَةِ، ③ وَالتَّوَدُّدُ إِلَى النَّاسِ نِصْفُ الْعَقْلِ، ④ وَحُسْنُ السُّؤَالِ نِصْفُ الْعِلْمِ» ⑤ رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الْأَرْبَعَةَ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

¹) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۶۵۶۸

ترجمه : [۱] او حضرت ابن عمر ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] په اخراجاتو کې ميانه روی اختيارول نيم معيشت دی. [۳] د انسانانو سره دوستي نيم عقل دی. [۴] او په خوبي سره سوال کول نيم علم دی. [۵] دا څلور روايتونه بيهقي ﷫ په شعب الايمان کې نقل کړی دی.

حل اللغات :- ① الِاقْتِصَادُ: ميانه روی، اعتدال. ② النَّفَقَةِ: خرچه. ③ الْمَعِيشَةِ: معيشت او گذران. ④ التَّوَدُّدُ: تعلقات ساتل، دوستي کول. ⑤ الْعَقْلِ: دانشمندی، هوښيارتوب

تسهيلات:

قوله : الِاقْتِصَادُ فِي النَّفَقَةِ نِصْفُ الْمَعِيشَةِ:

د نصف المعيشه کيدلو وجه : يعنی په خرچ کښې ميانه روی اختيارول نصف معيشت او نيم گزران دې. دَ انسان دَمعاشی ژوند مدار په دوو څيزونودې يودَ هغه گټه ده اوبل دَهغه خرچ دې. په دې دواړو کښې توازن په څائی ساتل دَ خوشحالئی علامت او دَمعيشت استحکام دې. لهذا لکه څنګه چه دَ ګټې توازن اورانيدل دَخوشحالئی منافی او دَمعيشت دَعدم استحکام سبب دې دغه شان چه دَ اخراجاتو توازن وران شی نوخوشحالی به هم څی اودَ معيشت تړوله ډهانچه به تباه بربادشی. لهذا په مصارفو کښې اعتدال اوخرچ کولو کښې ميانه روی اختيارول دَمعيشت نيمه حصه ده لکه چه دَدې حديث نه معلومه شوه.

قوله : وَالتَّوَدُّدُ إِلَى النَّاسِ نِصْفُ الْعَقْلِ: يعنی خوخلقو سره تعلقات ساتل هغوی سره دوستی کول دادَعقل نيمه حصه ده کوم چه دَ حسن معاشرت ضامن دې. لکه چه پوره عقل دادې چه انسان په جائز طريقه سره محنت اوکړی پخپله ګټه اوکړی او خلقو سره دَمحبت جذبات هم قائم کړی.

قوله : وَحُسْنُ السُّؤَالِ نِصْفُ الْعِلْمِ:

د حسن السؤال نيم علم کيدلو وجه : يعنی ښه سوال نيم علم دې څکه چه نيم علم دَ ښه سائل په سوال کولوسره راغلو اونيم علم دَ جواب ورکونکی په جواب کښې راغلو. لهذا په طريقې سره سوال کول دَ علم دَ زياتی سبب دې کوم چه نصف علم دې دَښه سوال چه ښه جواب راشی نودَ سائل نصف علم به په جواب سره پوره شی اودَ مسؤل نصف علم به دَ سائل په سوال سره پوره شی. نوښه سوال دَ سائل اومسؤل دواړو دَ پاره نصف علم دې.

[۱۹] بَابُ الرِّفْقِ وَالْحَيَاءِ وَحُسْنِ الْخُلُقِ

دَ نرملی او حیاء او خوا اخلاقو بیان

خلاصة الباب

فيه ثلاثون حديثاً مشتملة على اربع مسائل:

① فضيلة الرفق: ۱، ۲، ۹، ۱۶، ۱۸، ۲۰، ۲۹، ۳۰۔

② فضيلة الحياء: ۳، ۴، ۵، ۱۰، ۲۱، ۲۲۔

③ فضيلة حسن الخُلُق: ۶، ۷، ۸، ۱۱، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۷، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸۔

④ قبا حة سوء الخلق: ۱۲۔

قوله: بَابُ الرِّفْقِ:

د رفق مفهوم: نرمئی ته وائی چه دَ "عُنف" او دَ سختئی ضد دې. عاجزی او انکساری اختیارول او دَ خپلو ملګرو دَپاره مهربان او نرم خوئی کیدل رفق دې.

قوله: وَالْحَيَاء:

نوټ: دحیاء باره کښې پوره تفصیل د تسهیلات اول جلد حدیث نمبر(۵) په تسهیل کښې تیرشوې دې. خودا بحث ډیر مخکښې تیرشوې دې کیدې هیرشوی وی نودلته ئې دوباره ذکر کوم

د حیاء دوه غټ قسمونه: ① حیاءِ ایمانی. ② حیاءِ طبعی.

دحیاء ایمانی په تعریف کښې درې اقوال: ① ددې یو تعریف داشان دې. ،،هوخلق يمنع الشخص من الفعل القبيح بسبب الإيمان،، یعنی حیاء دهغه ملکې او خلق نوم دې کوم چې یو کس د ایمان په وجه دَ قبیح فعل څخه منع کوی، لکه بربنډیدل، د خلقو په وړاندې فحش حرکات، زناکول، وغیره وغیره، ددې څیزونو څخه ایمانی شرعی حیاء منع کوی

② دریم تعریف داسې شوې دې. ،،الحياءأن لايراك حيث نهاك،، ددې تعریف پیش نظر حیاء بعینه د احسان مقام دې. په حدیث حدیث جبریل علیه السلام کښې اجمالاً ددې ذکر دې

③ جنید بغدادی رحمه الله د ایمانی حیاء تعریف داسې کړې دې،،د الله تعالی دنعمتونو نظاره کولو نه پس خپل تقصیرات او کوتاهیانې کتلو سره چې کوم کیفیت پیدا کیږی هم دا حیاء ده،،

د حیاء طبعي تعریف: د حیاء طبعی تعریف داسې شوې دې ،،هو تغيروانكسار يعتري المؤمن

من خوف ما يلام عليه،، مطلب دادي چې قابل د ملامت کار کولو سره د يو کس اندامونه او بدن باندې انقباض راځي هم دا طبعي حياء ده

په حديث کښې د حياء مصداق: په دې حديث کښې چې د کومې حياء ذکر دې هغه ايماني حياء ده طبعي حياء نه ده

د حياء درې قسمونه:

① **حياء جنايت**: لکه چې د حضرت آدم علیه السلام حياء وه چې تيښته ئې په جنت کښې منډه ګرځيدل. الله تعالى ترې تپوس اوکړو چې ولې منډې وهې؟ وې فرمائيل چې حياء منك يا الله

② حياء حشمت لکه حضرت علي رضی الله عنه د مذى متعلق مسئله د حشمت و حجاب په وجه پخپله د حضرت نبی کريم ﷺ څخه اونه پوښتله بلکه د حضرت مقداد رضی الله عنه وغيره په واسطه ئې سوال کړې وو.

③ حياء إجلال چې د جلال په وجه حياء راځي، لکه ,,تسربل إسرافيل بجناحيه حياء من الله لإجلاله،، شعب ايمان باندې ډيرو علماء کرامو تصانيف کړي دي.

اشکال: که چرته حياء په يو کافر کښې وي نو آيا هغه ته به هم مسلمان وايئي ځکه چه په حديث کښې حياء دَ ايمان علامت ګرځولې شوې دې؟

دَاشکال جواب: دَحياء معامله دَ باب فتح يفتح په شان دې چه چرته دَ فتح باب وي دَ حرف حلقي کيدل به ضروري وي مګر دا ضروري نه دی چه په کوم باب کښې حرف حلقي راشي هغه به دَ فتح يفتح باب وي لکه سمع يسمع کښې حرف حلقي دې ليکن فتح يفتح نه دې.هم دغه شان دَمسلمانانو معامله ده چرته چه مسلمان دې هلته به حياء لازم وي ليکن دا ضروري نه ده چه چرته حياء وي هلته دَ مسلمان کيدل لازم وي

قوله: وَحُسْنِ الْخُلُقِ:

دحسن خلق په تعريف کښې شپږ اقوال:

دَ اکابرينو دَ طرفه دَحسن خلق په تعريف مختلف اقوال راغلی دی.

① قال الحسن البصري رحمه الله حسن الخلق بسط الوجه وبذل الندي وكف الأذي.

② وقال اللواسطي رحمه الله هو أن لا يخاصم ولا يخاصم من شدة معرفته بالله

③ وقال ايضًا هو ارضاء الخلق في السراء والضراء

④ وقال سهل رحمه الله أدنى حسن الخلق الاحتمال وترك المكافاة والرحمة للظالم والاستغفار له

⑤ حسن خلق دادې چه په يو وخت سرې دَ خالق اومخلوق حقوق په ځائې کړی په کوم سره چه خالق هم راضي اومخلوق هم راضي کړی.په نورو الفاظو کښې دَ شريعت احکام په ځائې کول دَ يو مسلمان دپاره دَ ټولو نه اوچت اخلاق دی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۰۶۸] د شفقت او مهربانۍ فضیلت

۵۰۶۸-(۱)[۱] [۱] عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[۲]«إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ، [۳] وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ، وَمَا لَا يُعْطِي عَلَى مَا سِوَاهُ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضی الله عنها نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. [۲] بلا شبه الله جل جلاله نرمي کونکي او مهربانه دی، داسې امورو کې نرمي خوښوي (یعني الله جل جلاله خپلو بنده ګانو باندې خپله هم نرم او مهربانه دی، او هغوئ د داسې امورو مکلف نه ګرځوي. چې د هغوئ د قوت برداشت نه بهر وي، او د هغه په وجه هغوئ مشکلاتو کې مبتلا شي او هغه د بنده ګانو نه هم داخبره خوښوي او هغوئ نه راضي کېږي، چې په خپلو کې هم نرمي او مهرباني کوي، او یو بل تکلیف او سختي کې نه مبتلا کوي) [۳] ځکه هغه نرمي او مهرباني باندې هغه شی عطا کوي، کوم چې سختي باندې نه عطا کوي، او کوم چې د نرمي او مهرباني نه علاوه بل شی باندې نه عطا کوي. (مسلم)

حل اللغات:- ① رَفِيقٌ: نرمي کونکی، مهربانه، ② الْعُنْفِ: سختي.

[۱] وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ: قَالَ لِعَائِشَةَ: "[۲] عَلَيْكِ بِالرِّفْقِ، وَإِيَّاكِ وَالْعُنْفَ وَالْفُحْشَ، [۳] إِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ، وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ»".

ترجمه: [۱] او د مسلم په یو روایت کې دا الفاظ دي، چې حضور ﷺ بي بي عائشې رضی الله عنها ته وفرمایل. [۲] ته نرمي اختیار کړه، او د سختي او بې حیایي نه ځان بچ ساته، [۳] ځکه چې په کوم ځیز کې چې نرمي وي، هغه ښائسته وی، [۴] او د کوم ځیز نه چې نرمي ختمه شي. هغه عیب جن کیږي

حل اللغات:- ① الْعُنْفَ: سختي. ② الْفُحْشَ: بدګوئي، بې حیائي. ③ زَانَهُ: ښائسته کوی ئې. ④ يُنْزَعُ: اوخی. ختمه شي. ⑤ شَانَهُ: بدرنګه ئې کړی، عیب جن ئې کړی.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ:

دالله تعالی نرمي لره خوښول: په دې حدیث کښې اوخودلې شو چه الله تعالی نرمي خوښوی لکه چه په دې کښې دَ الله تعالی مخلوق ته تعلیم ورکړې شوې دې چه تاسو په

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب فضل الرفق (رقم-۷۷ - (۲۵۹۳) وابوداود فی کتاب الأدب/باب فی الرفق (رقم-۴۸۰۷)والترمذی فی کتاب الاستئذان والآداب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی التسلیم علی أهل الذمة (رقم-۲۷۰۱)وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب الرفق (رقم-۳۶۸۸) ومالک فی الموطا کتاب الاستئذان/باب ما یؤمر به من العمل فی السفر (رقم-۳۸) واحمد فی المسند:۱۷۱/۶

ډېر مینځ کښې نرمئی او مهربانئی سره پیش کیږئی په دې سره به ستاسو دنیا او آخرت دواړه جوړشی ځکه چه د ټولو برکتونو تعلق نرمئی او مهربانئی سره دی سختئی او تریخوالی کښې هیڅ هم نشته دې بلکه چه په کوم څیز کښې نرمی او مهربانی وی په هغې کښې به زینت پیدا کیږی سختی او تریخوالې هرڅیز بدرنګه او عیب والا جوړولو سره پریږدی په نرمئی سره ناممکن کار ممکن جوړیږی او سختئی سره ممکن کار ناممکن کیږی

[۵۰۶۹] څوک چې د نرمئی نه محروم وی هغه د هر خیر نه محروم وی

۵۰۶۹-(¹)[۲] [۱] وَعَنْ جَرِيرٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-عَنِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۲] قَالَ: "«مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ يُحْرَمِ الْخَيْرَ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جریر ﷛ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي. [۲] چې حضور ﷺ وفرمایل کوم سړی چې نرمي او مهرباني نه محروم کول کیږي هغه ګویا د نیکي نه محروم کول کیږي. (مسلم)

حل اللغات: - ① الرِّفْقَ: نرمی، مهربانی

تسهیلات:

قوله: مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ يُحْرَمِ الْخَيْرَ:

د نرمۍ نه د محرومتیا نقصان: په جامع صغیر کښې د "الخیر" سره "کله" لفظ هم ذکر دې نو په دې صورت کښې به د حدیث مطلب دا شي چه کوم کس د نرمی او د مهربانی والا صفت نه خالي او قاصره وی هغه د ټولو خیرونو نه محروم کیږی، هم دغه شان په کوم کس باندې چه الله تعالی مهربانه شی نو هغه زړه نرم کړی او چه کوم کس نه الله تعالی ناراضه شی نو هغه زړه سخت کړی. هم دغه وجه ده چه په سخت زړه باندې وعظ هم اثر نه کوی.

[۵۰۷۰] حیاء د ایمان یوه حصه ده

۵۰۷۰-(²)[۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-[۲] «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-مَرَّ عَلَى رَجُلٍ مِنَ

---

¹) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب فضل الرفق (رقم-۷۴ - (۲۵۹۲) وابوداود فی کتاب الأدب/باب فی الرفق (رقم-۴۸۰۹) وابن ماجه فی کتاب الأدب/باب الرفق (رقم-۳۶۸۷)واحمد فی المسند: ۳۶۲/۴

²) اخرجه البخاری فی کتاب الإیمان/باب: الحیاء من الإیمان (رقم-۲۴) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب شعب الإیمان (رقم-۵۹ - (۳۶) وابوداود فی کتاب الضحایا/باب ما یستحب من الضحایا(رقم-۲۷۹۵)والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی العی (رقم-۲۰۲۷) والنسائی فی کتاب الإیمان وشرائعه/باب الحیاء (رقم-۵۰۳۳)وابن ماجه فی کتاب فی الإیمان وفضائل الصحابة والعلم/باب باب فی الإیمان (رقم-۵۸) ومالک فی الموطا کتاب حسن الخلق /باب ما جاء فی الحیاء (رقم-۱۰)واحمد فی المسند: ۱۴۷/۲

الْأَنْصَارِ [۲] وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۴] دَعْهُ، فَإِنَّ الْحَيَاءَ مِنَ الْإِيمَانِ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی [۲] چې يوه ورځ رسول الله ﷺ يو صحابي رضي الله عنه باندې تيريدی. [۳] چې خپل وررورته يي د حياء باره کې نصيحت کوی رسول الله ﷺ وفرمايل. [۴] ده ته هيڅ مه وايه. ځکه چې حياء د ايمان يو ښاخ دی (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: وَهُوَ يَعِظُ أَخَاهُ فِي الْحَيَاءِ:

د وعظ معنی: وعظ هغه بيان اونصيحت ته وائی په کوم کښې چه دَ زړه دَنرمولو خبرې وی په کوم سره چه دَ الله تعالی ويره پيدا کيږی اودَ آخرت ياد تازه کيږی ليکن دلته په حديث کښې دَ وعظ نه ويرول دهرکه کول اوعتاب او رټل مراد دی دې صحابی خپل ملګرې دَ حياء نه ويرولو چه که حياء دې او کړه نوهيڅ به هم حاصل نه کړې دَعلم نه به هم محروم پاتې شې اودَ رزق نه به هم محروم پاتې شې نه به دَ دنيا پاتې شې اونه به دَ آخرت شې حضورپاك دغه رټل کونکې منع کړو او وئې فرمائيل داسې مه کوه ځکه چه حياء خودَ ايمان دَ اجزاؤ نه يواهم جزء دې دې سره کاميابئی ملاويږی ناکامئی نه ملاويږی

اسلام د شرم، حياء او عزت درس ورکوی:

ددې حديث نه معلومه شوه چه اسلام دَ شرم اوحياء اوعزت اوعظمت درس ورکوی چنانچه ددې منونکو کښې دا ښځونه په ښکاره توګه باندې موجود دی او اسکول کالج د بې حيائی بداخلاقئی رذالت او قباحت درس ورکوی چنانچه دَدې په حاصلونکو کښې دا ښځونه ښکاره وی د کالج يوهلك ته په ۱۹۷۴ء کښې مااووئيل چه څه شرم اوحياء خوکوه هغه وئيل ما حياء دَ کالج دَ ډيسك لاندې دفن کړې ده.

چلتے چلتے ایک صاحب یہ نصیحت کر گئے　　گوشت گر ملتا نہیں تو دال کھایا کیجئے

کالجوں نے آپ کو خچر بنا ڈالا تو آپ　　ملک کے اصطبل میں ہنہنایا کیجئے

يعنی په لار روان يو صاحب دا نصيحت اوکړو چه غوښه نه ملاويږی نو دال هم خوره ځکه چه تاته خو کالجونو قچر خرجوړکړې دې نوته اوس دَملك دَ اسونو په ځائی کښې هنړيږه

[۵۰۷۱] حياء ټول خير دی

۵۰۷۱-(۱) [۳] [۱] وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «الْحَيَاءُ لَا يَأْتِي إِلَّا بِخَيْرٍ". [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: "الْحَيَاءُ خَيْرٌ كُلُّهُ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب الحياء (رقم-۶۱۱۷) ومسلم فی کتاب الإيمان/باب شعب الإيمان (رقم-۶۰-(۳۷) واحمد فی المسند: ۴/۴۲۷

ترجمه: [۱] او حضرت عمران ابن حصين ؓ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] حياء د نيکي او خير نه علاوه بله خبره نه پيدا کوي. [۳] او په يو روايت کې دادي. چې د حياء ټول صورتونه ښه دي (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: الْحَيَاءُ لَا يَأْتِي إِلَّا بِخَيْرٍ:

اشکال: بعضې وخت د حياء د وجې نه حق خبره کول هم پاتې کيږي. امر بالمعروف نه سړې منع کيږي نوځنګه اوفرمائيلې شو چه حياء خير راوړي؟

داشکال جواب: هغه خوهډو حياء نه ده چه سړې د حق خبرې کولو نه منع کړي بلکه دا خو بزدلي ده. په حديث کښې د حياء د فضيلت بيان دې د بزدلئى نه دې. اصل حياء خو هغه ده چه سړې د دغه کارونو نه بچ شي کوم ته چه شريعت بد وئيلى دى. شريعت چه کوم امور خوښ کړي دي هغه ټول هم د خير دي. نو په دې حديث کښې د الابخير نه شرعي امور مراددي

[۵۰۷۲] کله چه ته بې حيائي نو څه چه غواړې کوه ئې

۵۰۷۲-() [۵] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ الْأُولَى: [۳] إِذَا لَمْ تَسْتَحِي فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن مسعود ؓ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] خلقو چې مخکنيو انبياء وو باندې نازليدونکى کلام کې کومه خبره پيدا کړي ده، هغه داده. [۳] چې هرکله ته بې شرم شي، نو بيا څه چې دې زړه غواړي هغه کوه. (بخاري)

حل اللغات: - ① اصْنَعْ: د امر صيغه ده، کوه،

تسهيلات:

قوله: إِنَّ مِمَّا أَدْرَكَ النَّاسُ مِنْ كَلَامِ النُّبُوَّةِ الْأُولَى:

د انبياء د خبرو يوه نمونه: په پخوانو انبياء کرامو باندې نازليدونکى کلام کښې چه کومه خبره خلقو ته د ورثه په توګه ملاؤ ده اوکومه چه ثابته غيرمنسوخ راروانه ده هغه دا چه کله په تا کښې حياء باقي پاتې نه شي او ته بې شرم شوئې نو بيا چه څه غواړې کوه.

قوله: إِذَا لَمْ تَسْتَحِي فَاصْنَعْ مَا شِئْتَ:

د فاصنع په صيغه کښې دوه احتمالات: ① دا د امر صيغه ده مګر په توګه د توبيخ او تهديد

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الأدب/باب إذا لم تستحي فاصنع ما شئت (رقم-۶۱۲۰) وابوداود في كتاب الأدب/باب في الحياء (رقم-۴۷۹۷) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب الحياء (رقم-۴۱۸۳) واحمد في المسند: ۱۲۱/۴

ده يعنى چه څه كوې نو كوه ليكن ياد لره چه يو نه يو ورځ به د حساب راخى د هغې د پاره تيار او سيره.

④ دا د امر صيغه ده ليكن په دې سره حكم وركول يا د يو څيز طلب كول مراد نه دى بلكه دا امر انشاء په معنى د خبر دې يعنى انسان قابو كونكې او د بدو حركتونو نه منع كونكې څيز حياء ده چه چا كښې شرم او حياء پاتې نه شوه او بې حيائى طريقه جوړه كړه نو چه هغه څه غوارى كوى دې

[٥٠٧٣] نيكى او گناه څه ته وائى؟

٥٠٧٣-( )[٢] ①وَعَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: ②«سَأَلْتُ رَسُولَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-عَنِ الْبِرِّ وَالْإِثْمِ ③فَقَالَ: "الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ ④وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ ⑤وَكَرِهْتَ أَنْ يَطَّلِعَ عَلَيْهِ النَّاسُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①او حضرت نواس ابن سمعان ﷛ وايي ②چې ما د رسول الله ﷺ نه: نيكي او گناه باره كې پوښتنه وكړه چې نيكي څه ده او بدي څه ده ③نو حضور ﷺ وفرمايل نيكي د خوش اخلاقي نوم دى (يعني د نيكي ښه صورت خوش اخلاقي ده) ④او گناه هغه كار دى، چې ستا په زړه كې تردد پيدا كړي، ⑤او ته دا خبره نه خوښوي چې هغه خلق ستا د هغه كار نه خبر شي. (مسلم)

حل اللغات:- ① حَاكَ: تيرشى، تردد او شک پيدا شى

تسهيلات:

قوله: وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ:

د گناه پيژندلو دوه نښې: ① يعنى د گناه پيژندگلو داده چه د دې عمل په كولو سره د سړى په زړه كښې يوه كركه او تردد پيدا كيږى چه شايد دا د گناه كار دې چه په زړه كښې دې شك وى او تردد وى چه دا څه زه كوم ښه نه دى نو پوهه شه چه دا گناه ده ② دويمه پيژندگلو ئى داده چه دا كار د عامو خلقو په مخكښې د ښكاره كولو جرات ئى نه وى بلكه د دې د پټولو كوشش كوى ليكن دا خبره د هغه خلقو ده د چا زړه چه د شيشې په شان صفا وى هغوى ته دا تردد او شك پيدا كيږى گنى د بې دينه خلقو په زړونو كښې د گناه د وجې نه هيڅ شك او تردد نه پيدا كيږى بلكه هغوى ښه په ښكاره جاره باندې گناه كوى.

---

[١] اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب تفسير البر والإثم (رقم-١٤ - (٢٥٥٣) والترمذى فى كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى البر والإثم (رقم-٢٣٨٩)واحمد فى المسند: ١٨٤/٤

[۵۰۷۴] خوش اخلاقي كونكي حضور پاك ﷺ ته ډير خوښ دي

۵۰۷۴-(۱)[۷] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۲] «إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن عمرو رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] په تاسو كې هغه سړي ماته ډير خوښ دی كوم چې د نيكو اخلاقو حامل وي (بخاري)

تسهيلات:

قوله: إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا:

خوش اخلاقه دنبی عليه السلام په نظر كښې: مطلب دا دې چه په تاسو كښې ما ته هغه كس ډير زيات نزدې او عزيز او محبوب دې كوم چه د ښه عادت او د نبې طريقې خاوند وی او حقوق الله او حقوق العباد هم په ښه شان پورا كوی.

[۵۰۷۵] غوره سړې هغه دې دچا چې اخلاق ښه وی

۵۰۷۵-(۲)[۸] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «إِنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن عمرو رضي الله عنهما وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] په تاسو كې ښه سړی هغه دی چې د هغه اخلاق ښه وي. (بخاري، مسلم)

تسهيلات:

قوله: إِنَّ مِنْ خِيَارِكُمْ أَحْسَنَكُمْ أَخْلَاقًا:

د حسن خلق حقيقت: په دې باره كښې حضرت حسن رحمه الله فرمائی چه حسن الخلق نه مراد دا دی چه مخ فراخ وی (رون تندې) او هيڅ يو كس ته اذيت نه وركوی، حضرت واسطی رحمه الله فرمائی چه كوم كس ته د الله معرفت حاصل شی نو بيا هغه نه چا سره جهګړه كوی او نه هغه سره څوک جهګړه كوی، او هم دغه شان تنګی او آسانی كښې يعنی په هر حال كښې د الله تعالی نه راضی كيدل هم حسن خلق دی دا رنګ حقيقت الخلق هغه كيفيت ته وائي كوم چه د يو كس په نفس كښې مضبوط شی چه افعال ترينه په آسانی سره صادريږی او كه هغه كيفيت داسی وی چه د هغې نه د ښه افعالو صدور كيږی عقلاً هم او

[۱]) اخرجه البخاری فی كتاب المناقب/باب مناقب عبد الله بن مسعود رضی الله عنه (رقم-۳۷۵۹) والترمذی فی كتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی معالی الأخلاق (رقم-۲۰۱۸)واحمد فی المسند: ۱۸۹/۲

[۲]) اخرجه البخاری فی كتاب المناقب/باب صفة النبی صلی الله عليه وسلم (رقم-۳۵۵۹) ومسلم فی كتاب الفضائل/باب كثرة حيائه صلی الله عليه وسلم (رقم-۶۸ - (۲۳۲۱))والترمذی فی كتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الفحش والتفحش(رقم-۱۹۷۵) واحمد فی المسند: ۱۹۳/۲

شرعاً هم نو دې ته خلق حسن وئیلې کیږي، او که د قبیح افعالو صدور ترې کیږي نو دې ته بد اخلاق وئیلې کیږي، هم ددې وجهې نه وئیلې کیږي چه فلانکې سړې حسن خلق والا دې او حسن خلق والا هغې کس ته وئیلې کیږي کوم چه د ظاهر او باطن په اعتبار سره ښه وی، د ظاهر ښه کیدلو نه مراد د انسان حسن او جمال دې او د باطن ښه کیدلو نه مراد دا دې چه د انسان بد صفاتو باندې ښه صفات غالب شي نو په حدیث الباب کښې د حسن خلق نه مراد هغه حسن خلق دې کوم چه باطني وی (التعلیق الصبیح ج۵، ص۲۸۵)

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۰۷۶] دَ نرمئ نه محروم سړې دَ دنیا او دآخرت د خیر نه محروم دې

۵۰۷۶-()[۹] [۱] عَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عنها- قَالَتْ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «مَنْ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ أُعْطِيَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ، [۳] وَمَنْ حُرِمَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ حُرِمَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ». رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: [۱] بي بي عائشه رضي الله عنها وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [۲] کوم سړي ته چې د نرمي نه حصه ورکول شوه هغه ته ګویا د دنیا او آخرت د ښیګڼو نه حصه ورکول شوه، [۳] او کوم سړی چې د نرمي نه محرومه شو هغه ګویا د دنیا او آخرت د ښیګڼو د خپلې حصې نه محرومه شو (شرح السنه)

حل اللغات: - ① حَظّ: حصه دهغه، ② الرِّفْق: نرمی.

تسهیلات:

قوله: وَمَنْ حُرِمَ حَظَّهُ مِنَ الرِّفْقِ حُرِمَ حَظَّهُ مِنْ خَيْرِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ:

د نرمي نه د محرومتیا نتیجه: نرمی ډیر ښکلې صفت دې کوم چه د حسن خلق او د سلامتئ طبع په نتیجه کښې پیدا کیږي نرمی په هرحال کښې د حسن خلق ثمره ده چونکه حسن خلق هغه وخت حاصلیږي کله چه دَ غضب او شهوت قوت معتدل وی او هم په دې سره نرمی پیدا کیږي.

دنرمي فضائل د احادیثو په رڼړا کښې: ① إذا أحب الله أهل بيت أدخل عليهم الرفق (احمد) الله تعالی چې یو خاندان سره محبت کول غواړي نو هغه د نرمي په صفت موصوف کړي

② إن لله أعطى على الرفق مالا يعطى على الخلق (جهالت) الله تعالی چې په نرمي باندې کوم انعامات او ثوابونه ورکوی په ښه اخلاقو کښې په بل صفت هغه انعامات نه ورکوی

③ وإذا أحب الله عبداً أعطاه الله الرفق ما من أهل بيت يحرمون الرفق إلا حرموا المحبة الله تعالى (طبراني کبیر)

[۱] اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم الحدیث ۴۹۵۱ واحمد فی المسند: ۱۵۹/۶

کله چې الله تعالی د یو بنده سره محبت کوی نوهغه د نرمۍ په صفت باندې موصوف کړی اوکه یو کور چې د نرمۍ څخه محروم شو نود الله تعالی د محبت څخه محروم شو.

④ إن الله رفيق يحب الرفق ويعطي عليه مالا يعطي على العنف (سختی) (مسلم)
الله تعالی په خپله هم نرمی کونکې دې او نرمی خوښوی اوپه نرمۍ باندې هغه ثوابونه ورکوی کوم چې په بل څه نه ورکوی.

⑤ ياعائشة عليك بالرفق لايدخل في شئ الازانه ولاينزع من شئ الا شانه (مسلم) عائشې نرمی خپله کړه ځکه چې نرمی په کوم څیزکښې هم داخل شو نو هغه ښائست کړی اوچې د کوم څیز څخه اوځی نوهغه سپیرَ کړی.

د نرمۍ فضیلت د سفیان ثوری د قول په رڼړا کښې: سفیان ثوری دَخپلو دوستانونه تپوس اوکړو پوهیږئ چه رفق څه څیز دې بیائی هم پخپله اوفرمائیل هریوکارد هغې په موقع اصول کښې دَ ساتلونوم رفق دې که ضرورت وی نو سختی کوه او که موقع وی نونرمی کوه ځکه چه اکثر طبیعتونه عنف وحدت طرف ته ډیر قائل وی په دې وجه دَ نرمئی دَ ترغیب ډیر ضرورت دې.بهرحال نرمی یوښه صفت دې او په اکثرو حالاتوکښې دَ دې ډیر ضرورت وی یعنی دَ سختئی ضرورت چرته کله کله راځی.کامل انسان هم هغه دې چه دَ نرمئی اوسختئی په موقعوکښې دَ فرق کولو صلاحیت لری.بصیرت او شعور نه محروم سرې دا فرق نشی کولې.

[۵۰۷۷] حیاء د جنت داخلیدو ذریعه

۵۰۷۷-()[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «الْحَيَاءُ مِنَ الْإِيمَانِ، وَالْإِيمَانُ فِي الْجَنَّةِ. [۳] وَالْبَذَاءُ مِنَ الْجَفَاءِ، [۴] وَالْجَفَاءُ فِي النَّارِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] حیاء (یعنې خراب کارونو نه حجاب کول) د ایمان جزء دی، او ایمان (یعني مؤمن) به جنت ته ځي [۳] او بې حیایي چې د هغه په وجه د فحش او خرابو خبرو ارتکاب کېږي د بدی جزء دی. [۴] او بد به د دوزخ اور ته ځي.(احمد، ترمذي)

حل اللغات: - ① الْبَذَاءُ: بې حیائی او فحش خبرې ② الْجَفَاءُ: خرابی اوجهالت ته جفاء وائی.

تسهیلات:

قوله: وَالْجَفَاءُ فِي النَّارِ:

د بې حیاء دپاره وعید: مطلب دا چه جڼ کیدل شار جاهل کیدل بده وینا کونکې

---

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الحیاء (رقم-۲۰۰۹)واحمد فی المسند:۲/۵۰۱

بد اخلاق او فحش خبرې اترې کونکې سړي به دوزخ ته ځي. اوس که چرې دغه سړې اعتقادي منافق دې نو همیشه به په دوزخ کښې وی او که چرې عملی منافق وی نو دَ سزا خوړلو نه پس به خلاص شي

[۵۰۷۸] خوش اخلاقي دَ الله تعالی دَ طرف نه یوه بهترین ورکړه ده

۵۰۷۸-() [۱] ۱ وَعَنْ رَجُلٍ مِنْ مُزَيْنَةَ، قَالَ: ۲ «قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! ۳ مَا خَيْرُ مَا أُعْطِيَ الْإِنْسَانُ؟ ۴ قَالَ: "الْخُلُقُ الْحَسَنُ"» رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ۱ او د قبیله مزینه یو سړي بیان وکړ ۲ چې صحابه کرامو رضی الله عنهم عرض وکړو، یارسول الله! ۳ کوم څیزونه چې انسان ته ورکړي شوی دی، په هغه کې بهترین شی څه دی. ۴ حضور ﷺ وفرمایل خوش اخلاقي، دا روایت بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې نقل کړی دی

۵۰۷۹-() ۱ وَفِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" عَنْ أُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ.

ترجمه: ۱ او په شرح السنه کې بروایت د اسامه ابن شریک رضی الله عنه نه منقول دی.

تسهیلات:

قوله: الْخُلُقُ الْحَسَنُ:

دَ اخلاق حسنه حقیقت: لکه څنګه چه حسن خلق په فتح دَ خاء یعنی د ظاهری صورت دَ حسن دَ پاره د ټولو اندامونو سترګې پوزي شونډو او د اننګو وغیره موزونیت ضروری دي دغه شان دَ حسن خلق بالضم دَ پاره هم د څلورو ارکانو موزونیت ضروری دي

① **قوت علم:** دومره علم وی چه په اقوالو کښې دَ صدق اوکذب، په اعتقاداتو کښې دَ حق اوباطل او په افعالو کښې دَ حسن او د قبیح فرق اوکړې شی کله چه قوت علم دې درجې ته اورسی نودَ دې بدله به دَ حکمت په شکل کښې ورکړې شی. قال الله تعالی ﴿يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ ۚ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا ۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ﴾

② **قوت غضب:** دا قوت په هرانسان کښې فطرتی طور موجود وی دا څه قبیح صفت نه دي بلکه ددې د استعمال چې په کوم ځایې ضرورت وی هلته غصه کیدل پکار دی او په کوم ځائې کښې چې د دې برداشت کول پکار وی نو هلته صبرکول پکار دی.

③ **قوت شهوت:** په هرانسان کښې الله تعالی قوت شهوانی پیدا کړې دې اوهم دا د دې د امتحان سبب هم دې اودې سره ډیر دنیوی اواخروی فائدې تړلې شوی دی. مثلاً که په یو

[۱] اخرجه احمد فی المسند: ۲۷۸/۴ والبیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۷۹۹۲

[۲] اخرجه احمد فی المسند: ۲۷۸/۴

کښ کښې شهوت نه وونود ده به نه نکاح ته زړه کیدلو اونه د د نیا نور شهوانی څیزونو
نه اوقوت غضب اوقوت شهوت دواړه قوتونه چه دَ دې درجې وی چه انسان دَ دې دواړو
په ذریعه دَعقل اوشریعت په اشارو لاړشی

④ **قوت عدل**: داهم دَ دې درجې وی چه دَ شهوت او غضب قوت لره معتدل جوړکړی
په کوم انسان کښې چه دا څلورواړه خبرې وی نوهغه ته به دَ حکمت، شجاعت، عفت او
عدل غوندې بې بها صفات د کمال حاصل شی اوداسې سړې به په اخلاق حسنه سره
مزین او ښائسته شی حکمت یعنې د قوت عقلی د اعتدال سره به حسن، تدبیر، جودت،
ذهن، اصابت رائې دَ نفس مخفی آفات اودَ اعمالو په باریکوباندې خبرداری حاصل شی
اودَ شجاعت په سره اعتدال سره به کرم، بهادری، شهادت، کسر نفسی، حلم،
استقامت، کظم غیظ، وقار او سنجیدګی پیدا شی اودَ عفت په اعتدال به سخاوت حیا
صبر چشم پوشی قناعت تقوی لطافت اوچته حوصله وسعت ظرفی دَ طمع کمې غوندې
فضائل او اخلاق حاصل شی په قوت عدل سره به په دې ټولو قوتونو کښې اعتدال قائم
شی ګنی د کمی زیاتی په صورت کښې به دَ دې فضائل حمیده په ځائې اخلاق ذمیمه
پیداشی.

بهرحال دَ روایت حاصل دادې چه حضورپاک فرمائیلی دی په تاسو کښې دَ ټولونه بهتر
هغه سړې دې چاته چه اخلاق حسنه حاصل وی دَ اخلاق حسنه اختیارلو ترغیب ورکړې
شوې دې دَحضورپاک متعلق بیان کړې شو چه نه هغوی فاحش وو اونه متفحش یعنې نه
به فحش خبرې دَ هغوی په ژبه مبارکه باندې بلاتکلف جاری کیدې او نه به په تکلف په
ارادې سره ښکاره کیدلې یعنې نه فاحش جبلی وو او نه فاحش کسبی.

[۵۰۸۰] دَبدکلامئ اوبد اخلاقئ مذمت

۵۰۸۰-()[۱۳] ① وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "②«لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظُ وَلَا الْجَعْظَرِيُّ» ③قَالَ: وَالْجَوَّاظُ: الْغَلِيظُ الْفَظُّ ④رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ فِي "سُنَنِهِ" وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" وَصَاحِبُ "جَامِعِ الْأُصُولِ" فِيهِ عَنْ حَارِثَةَ. ⑤وَكَذَا فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ" عَنْهُ، وَلَفْظُهُ: قَالَ: "«لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظُ الْجَعْظَرِيُّ»". ⑥يُقَالُ: الْجَعْظَرِيُّ: الْفَظُّ الْغَلِيظُ

ترجمه: ①او حارثه ابن وهب ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل② په جنت کې به نه سخت کلام والاداخليږي او نه بد خُلق، ③او راوي وايي، د جواظ معنٰی ده سخت کلام والااو بد خلق، ④دا روايت ابوداود ﷫ په خپل سنن کې او بيهقي ﷫ په شعب الايمان کې نقل کړی دی او صاحب جامع الاصول هم جامع الاصول کې دا روايت د حضرت

[۱]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب في حسن الخلق (رقم-۴۸۰۱)

حارثه رضي الله عنه نه نقل كړې دی. ⑤ او دغه شان دا روايت په شرح السنه كې د حضرت حارثه رضي الله عنه نه په دې الفاظو كې نقل شوی دی، چې په جنت كې به جواظ جعظري نه داخليږي، گويا په دې الفاظو كې جعظري د جواظ صفت گرځول شوی دی، ⑥ او وئيل شوي دي چې د جعظري معنى ده بدخلق او بد كلام (يعني د دې روايت مطابق د جواظ او جعظري يوه معنى ده)

حل اللغات:- ① الْجَوَّاظُ: يعنى چه مال جمع كوی خو سائل ته هيڅ نه وركوی. ② الْجَعْظَرِيُّ: يعنی بد اخلاقه او سخت زړه والا ③ الْفَظُّ: سخت زړه والا.

① وَفِي نُسَخِ " الْمَصَابِيحِ " عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ وَهْبٍ وَلَفْظُهُ ② قَالَ: وَالْجَوَّاظُ: الَّذِي جَمَعَ وَمَنَعَ. ③ وَالْجَعْظَرِيُّ: الْغَلِيظُ الْفَظُّ..

ترجمه: ① او د مصابيح په بعضو نسخو كې دا روايت د حضرت عكرمه ابن وهب رضي الله عنه نه منقول دی، په هغه كې داسې بيان شوی دی ② چې راوي ويلي دي جواظ هغه سړي ته وايي. چې مال ودولت جمع كوي ليكن سائل ته هيڅ نه وركوي، ③ او جعظري هغه سړي ته وايي چې سخت كلام او بد خلق وي.

حل اللغات:- ① الْجَوَّاظُ: الَّذِي جَمَعَ وَمَنَعَ: يعنى چه مال جمع كوی خو سائل ته هيڅ نه وركوی. ② الْجَعْظَرِيُّ: أَيِ الْغَلِيظُ الْفَظُّ: يعنی بد اخلاقه او سخت زړه والا.

تسهيلات:

قوله: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ الْجَوَّاظُ الْجَعْظَرِيُّ:

د جواز او جعظری په معنى كښې دوه اقوال:

① جواظ هغه سړي ته وايي. چې مال ودولت جمع كوي ليكن سائل ته هيڅ نه وركوي. او جعظري هغه سړي ته وايي چې سخت كلام او بد اخلاقه.

② د الجواظ معنى بد اخلاقه او د جعظری معنى سخت زړه ده.

د مذكوره صفاتو په موصوف كښې دوه احتمالات: ① كه د دې څخه اعتقادی منافق مراد وی نو په دې صورت كښې به دې هميشه په دوزخ كښې وی

② د دې څخه مراد عملی منافق دې په دې صورت كښې به دې د سزا نه پس جنت ته ځی

[۵۰۸۱] په تله د نيكۍ كښې خوش اخلاقی ډير وزنی عمل دې

۵۰۸۱-()[۱۳] ① وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " ② «إِنَّ أَثْقَلَ شَيْءٍ يُوضَعُ فِي مِيزَانِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُلُقٌ حَسَنٌ، ③ وَإِنَّ اللَّهَ يُبْغِضُ الْفَاحِشَ الْبَذِيءَ» ". ④ رَوَاهُ

) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الأدب/باب فی حسن الخلق (رقم-۴۸۹۹) والترمذی فی كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی حسن الخلق (رقم-۲۰۰۲) واحمد فی المسند:۴۴۲/۶

التِّرمِذِيُّ وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَرَوَى أَبُو دَاوُدَ الْفَصْلَ الْأَوَّلَ.

ترجمه: ① او حضرت ابودرداء ﷺ د حضور ﷺ نه روایت کوي، حضور ﷺ وفرمایل، ② د قیامت په ورځ د مؤمن میزانِ اعمال کې ایښوونکو څیزونو کې ډیر وزني شی حسن خلق دي، ③ او الله ﷻ فحش ویونکی او بیهوده ګوسره سخت نفرت او دښمني لري، ④ دا روایت ترمذي نقل کړی دی، او ویلې یې دي چې دا حدیث حسن صحیح دی. او ابوداود هم د دې روایت حصه یعنی خُلقٌ حَسَنٌ پوره نقل کړي ده

حل اللغات: - ① أَثقَلَ: درونه، وزنی، ② الْفَاحِشَ: بدګویه، بد زبانه، ③ الْبَذِيءَ: فحش خبري، بد اخلاق

تسهیلات:

قوله: يُوضَعُ فِي مِيزَانِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ خُلُقٌ حَسَنٌ:

د نیکوتلې په درنولو کښې د ښه اخلاقو کردار: یعنی ښه عادتونه به د نیکو په چابړی کښې کیخودلې شی، ځکه چه په قیامت کښې به د هر یو څیز شکل وی او هغې په وزن هم وی یا به د ښه عادتونو ثواب د نیکو په چابړی کښې کیخودلې شی او الله تعالی ته ښه عادتونه خوښ دی نو ددې وجهې نه د الله تعالی د رضا په وجه به د نیکو وزن زیات شی ددې وجهې نه مسلمان چه کوم عبادت په اخلاص سره اوکړی نو د هغې وزن به زیات وی او ریا کاری والا عبادت به سپک وی، او د کفارو د عبادت به هیڅ وزن به نه وی

کما في القرآن "فلا نقيم لهم يوم القيامة وزناً" هم دغه شان د بخاری شریف آخری حدیث دې **"كلمتان حبيبتان الى الرحمن خفيفتان على اللسان ثقيلتان في الميزان سبحان الله وبحمده سبحان الله العظيم"** په دې سره د مذکوره دواړو جملو تقابل واضح کیږی.

او په ګناهونو کښې به زیات وزن د الله تعالی د ناراضګی په وجه وی یعنی د الله تعالی ناراضګی چه څومره هم زیات وی نو د ګناهونو وزن به هم هغه هومره زیات وی، الله تعالی دې زمونږ حفاظت وکړی.

قوله: وَإِنَّ اللّٰهَ يُبْغِضُ الْفَاحِشَ الْبَذِيءَ:

د بذی په معنی کښې دوه اقوال: ① ددې یو معنی فضول خبرې کول دی

② ملا علی قاری رحمه الله ددې ترجمه بد خلق نقل کړې ده او لیکلی ئی دی چه دا معنی د موقع مناسب ده، ځکه چه بد خلقی او بد زبانی سره الله تعالی ناراضه کیږی ددې وجې بدخلقی اوبدزبانی به د ګناهونو په چابړی کښې کیخودلې شی او د الله تعالی د ناراضګی په وجه به ددې وزن زیات وی او د قیامت په ورځ به د اعمالو وزن کیږی

دنبی علیه السلام د اعمالو عدم توزین: د نبی کریم ﷺ د اعمالو وزن به نه کیږی لکه

څنګه چه زمونږ د زماني ترازو اوتلي د سمندر اوبه د ډير والى په وجه نه شى تللي نو هم دغه شان دقيامت ترازوهم د نبى كريم ﷺ اعمالو لره ډير وزنى كيدو په وجه نشى تللي

[۵۰۸۳] خوش اخلاقئ سره سړى ته د روژه دار او عبادت ګذار مرتبه حاصليږى

۵۰۸۳-(١)[١٣] ① وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا - قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "② «إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ قَائِمِ اللَّيْلِ وَصَائِمِ النَّهَارِ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او بي بي عائشه ﷞ وايي، ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل ② مؤمن (يعني كامل مؤمن چې عالم باعمل دى) د خوش اخلاقي په سبب هغه درجه او مرتبه حاصلوي. كومه چې عبادت او ذكر الهي د پاره شب بيدار او هميشه د ورځي روژه نيونكي ته حاصليږي (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَيُدْرِكُ بِحُسْنِ خُلُقِهِ دَرَجَةَ قَائِمِ اللَّيْلِ:

په ښه اخلاقو سره د تهجدګذار درجې ته رسيدل: مومن كامل ته د خپلى خوش خلقى په وجه د نفلى عباداتو ثواب ملاويږى، حضرت سهيل رحمه الله فرمائى چه د خوش خلقى تولو نه كمه درجه دا ده چه د خلقو طرف نه كوم تكليف ملاويږى هغه برداشت كول او د بدلې اخستلو نه ځان ساتل او ظالم ته نه صرف ظلم معاف كول بلكه د بخشش دعا ورته هم كول او دا اعلى درجه ده

[۵۰۸۴] خلقو سره په خوش اخلاقئ سره معامله كوئ

۵۰۸۴-(٢)[١٥] ① وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "② «اتَّقِ اللّٰهَ حَيْثُمَا كُنْتَ، ③ وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا، ④ وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابودرداء ﷛ وايي. چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل ② د الله نه ويريږه هرچيرته چې يې. ③ كه ستا نه څه بدي اوسي نو د هغه نه پس نيك كار ضرور كوه. چې هغه نيكي هغه بدي دفع كړي. ④ او د خلقو سره په خوش اخلاقي سره معامله كوه (احمد . ترمذي. دارمي)

حل اللغات: - ① تَمْحُهَا: ختم به ئې كړى. وران به ئې كړى ② خَالِقِ: اخلاق ساته. ③ خُلُقٍ: اخلاق

(١) اخرجه ابوداود فى السنن كتاب الأدب/باب فى حسن الخلق (رقم -٤٨٩٨) ومالک فى الموطا كتاب حسن الخلق/باب ما جاء فى حسن الخلق (رقم-٦) واحمد فى المسند:٦/٩٠

(٢) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى معاشرة الناس (رقم-١٩٨٧) واحمد فى المسند:٥/١٥٣

تسهيلات:

قوله: اتَّقِ اللّٰهَ حَيْثُمَا كُنْتَ:

د تقوی تعریف: په دې جمله کښې په حقیقت کښې دَ تقویٰ تعریف دې یعنی ظاهراً اوباطنًا خپله معامله خپل رب سره صفا اوساتلې شی نودا تقویٰ ده

په حدیث کښې د جمله ثانی محل:

په دویمه جمله کښې دی چه که چرې گناه اوشی نودَهغې نه پس فوری نیك عمل اوکړه چه هغه نیکی دغه بدی ختمه کړی ځکه چه دا ضابطه ده ﴿إِنَّ الْحَسَنٰتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّاٰتِ﴾ یادلرئی په دې سره حقوق الله کښې تقصیرمعاف کیږی لیکن دَحقوق العباد تقصیر معاف کیږی نه.بل دا دَ صغائر خبره ده دکبائر دَپاره توبه ده.په دریمه جمله کښې دی چه خلقو سره په خو اخلاقو سره پیش کیږه.

[۵۰۸۳] نرم مزاج او نرم خوئی سړی با ندې اور حرام دې

٥٠٨٣-()[١٦] ١ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " ٢ «أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَنْ يَحْرُمُ عَلَى النَّارِ ٣ وَبِمَنْ تَحْرُمُ النَّارُ عَلَيْهِ؟ ٤ عَلَى كُلِّ هَيِّنٍ لَيِّنٍ قَرِيبٍ سَهْلٍ» ". ٥ رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ او حضرت عبد الله ابن مسعود ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ آيا زه درته وښايم هغه سړی څوك دی چې په اور باندې به حرام وي، ٣ او په هغه به اور حرام وي ٤ نو واورئ د دوزخ اور به په هر هغه سړي باندې حرام وي کوم چې نرم مزاج، نرم طبيعت، خلقوته نزدې او نرم خو وي، ٥ دا روايت احمد ﷫ او ترمذي ﷫ نقل کړی دی او ترمذي ﷫ ويلي دي چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات:- ①هَيِّنٍ: نرم مزاج، ②لَيِّنٍ: نرم خوئی، ③قَرِيبٍ: نزدې، ④سَهْلٍ: آسان،

تسهيلات:

قوله: عَلَى كُلِّ هَيِّنٍ لَيِّنٍ قَرِيبٍ سَهْلٍ:

په مذکور جمله کښې تاکيد: دَ اورپه انسان باندې حرام کيدل اودَ انسان په اور باندې حرام کيدل په دې جمله کښې لوئی تاکيد او مبالغه ده.دَدواړو جملو مآل او مفهوم هم يو دې چه داسې سړې دَهرمصيبت نه آزاد دې.حضورپاك دَ سوال دَ جواب انتظاراونه کړو بلکه هم پخپله ئی جواب ورکړو.دَهين اولين دواړو هم يوه معنی ده يعنی نرم مزاج اونرم خوئی سړې دَدوزخ په اور باندې حرام دې.

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٤٨٨)واحمد في المسند:٤١٥/١

د لاندینو الفاظو مصداقات: ددې دریوارو الفاظ اوقات حالات اومواقع مختلف کیدې شي
① دهین مصداق چې په چاباندې بوج نه جوړیږی، بې تکلفه وی.
② د لین مصداق دَ عام اخلاقو په اعتبارسره چې دنرم طبیعت مالك وی.
③ دَ سهل مصداق د دې تعلق د ممکن الحصول څیز سره کیدې شي

[۵۰۸۵] د مؤمن او بدکاره سړی صفتونه

۵۰۸۵-()[۱۷] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«الْمُؤْمِنُ غِرٌّ كَرِيمٌ، ③ وَالْفَاجِرُ خِبٌّ لَئِيمٌ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷛ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي، چې حضور ﷺ وفرمایل. ② نیکو کار مؤمن ډیر ساده او شریف وي. ③ هرکله چې بدکار ډیر مکار او بخیل او کمینه وي (احمد، ترمذي، ابوداود)

حل اللغات: - ① غِرٌّ: ساده، ② کَرِیمٌ: شریف، ③ خِبٌّ: مکار، بخیل، ④ لَئِیمٌ: رزیل، کمینه.

تسهیلات:

قوله: الْمُؤْمِنُ غِرٌّ كَرِيمٌ:

دغر کریم معنی: غِرٌّ: بکسرالغین وتشدید الراء په معنی د سیدا ساده چه مکراوفریب نه پیژنی او په خلقو باندې ښه گمان کوی کریم په معنی د شریف الطبع حسن الخلق.

دمؤمن په مصداق کښې دوه اقوال: ① دَ مومن مراد کامل مومن مراد دې.
② دمومن څخه عام مؤمن مراد دې

قوله: وَالْفَاجِرُ خِبٌّ لَئِيمٌ:

دخب لئیم معنی: یعنی فاسق سړې دهوکه ورکونکې کمینه (رذیل) وی
د فاجر په مصداق کښې دوه اقوال: ① دَ فاجر څخه مراد عام فاسق دې.
② دَ فاجر څخه مراد کافر دې

په حدیث باندې اشکال: په روایت کښې وارد دی لایلدغ المؤمن من جحر واحدمرتین بل داوارد دی اتقوافراسة المؤمن فانه ینظر بنورالله دَ دې تقاضا ده چه مومن تجربه کار وی او هغه ته نور او فراست حاصل وی هغه دَ چاپه دهوکه کښې نه راځی اودَ مؤمن غرکریم نه په ظاهره دا معلومیږی چه هغه دومره ساده وی چه دَ خلقو نه دهوکه خوری؟

د اشکال درې جواب: ① دَ روایت چه کومه معنی پورته بیان کړې شوې ده دَهغې

---

[1] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/باب في حسن العشرة (رقم-۴۷۹۰) والترمذي في كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في البخيل (رقم-۱۹۶۴) واحمد في المسند: ۲/۳۹۴

تقاضاداده چه په خلقو باندې ښه ګمان لرى چاته دهوکه نه ورکوى اونه چاسره په مکراوفريب سره مخ کيږى په دې سره دانه لازميږى چه هغه هميشه دَ خلقو په مکر او فريب کښې راځى اوکه کله دهوکه هم خورى نو صرف دَ ښه ګمان په وجه لهذا په رواياتوکښې هيڅ تعارض نشته.

⑥ بعضي حضرات فرمائى المؤمن غركريم معنى فى أموردنياه ده اودَ لايلدغ معنى فى أمورآخراه ده.

⑦ بعضي حضرات فرمائى لايلدغ نهى او انشاء ده او المؤمن غركريم اخبار دې فلامنافاة.

فائده: داحديث المؤمن غركريم والفاجر خب لئيم علامه سراج الدين قزوينى موضوع ګرځولې دې مګر صلاح الدين العلائى جوابًا فرمائيلى دى چه دَ بشر بن رافع احمدبن احنبل تضعيف کړې دې مګر ابن معين دَ هغه باره کښې فرمائى لاباس به.بل ابن عيسى فرمائى لم أرله حديثًا منكرًا دَ بشر بن رافع متابعت کونکى حجاج بن فراصفيه دى دَ چا د روايت تخريج چه بيهقى کړې دې اودَ حجاج باره کښې ابن معين فرمائى لاباس به اوابن حبان هغه په ثقات کښې ذکرکړې دې.

[۵۰۸٦] دَ مؤمن بعضې صفات

۵۰۸٦–() [۱۸] ۱ وَعَنْ مَكْحُولٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۲ «الْمُؤْمِنُونَ هَيِّنُونَ لَيِّنُونَ ۳ كَالْجَمَلِ الْآنِفِ إِنْ قِيدَ انْقَادَ، وَإِنْ أُنِيخَ عَلَى صَخْرَةٍ اسْتَنَاخَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه: ۱ او حضرت مکحول رحمه الله وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ۲ ايمان لرونکي خلق بردبار نرم خو او فرمانبردار دي، ۳ د هغه اوښ په شان چې د هغه په پوزه کې پيزوان لګيدلى وي چې هغه راخکلو سره راځي، او که په کاڼي کينول شي نو په کاڼي کيني، داحديث ترمذي رحمه الله بطريق ارسال نقل کړى دى.

حل اللغات: - ① هَيِّنُونَ: بردبار، نرم مزاج والا، ② لَيِّنُونَ: نرم خوئى والا، ③ الْجَمَلِ الْآنِفِ: هغه اوښ چه په پوزه ئې پيزوان وى، ④ إِنْ قِيدَ: که راښکلې شى، ⑤ انْقَادَ: راځى، تابعدارى وى، ⑥ إِنْ أُنِيخَ: که کينولې شى، ⑦ صَخْرَةٍ: کاڼړې، ⑧ اسْتَنَاخَ: کينى.

تسهيلات:

قوله: الْمُؤْمِنُونَ هَيِّنُونَ لَيِّنُونَ:

مؤمن دوه صفتونه: يعنى دَمؤمن شان داوى چه هغه فرمانبردار تابعدار صاحب انکسار عاجز اونرم خوئى وى.څنګه چه دَ اوښ په پوزه کښې پيژوان پروت وى اوهغه دَمالك په

() اخرجه ابو نعيم فى الحليه ۵/ ۱۸۰

لاس کښې وی نو که غواړی هغه په راښکو سره بوخې یا هغه په کانړی باندې کینوی دَهر حالت دَ قبلولو دَپاره تیاروی.

[۵۰۸۴] دَ خلقو په تکلیفونو باندې د صبر کولو اجر او ثواب

۵۰۸۴-()[۱۹] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[۲] «الْمُسْلِمُ الَّذِي يُخَالِطُ النَّاسَ وَيَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ [۳] أَفْضَلُ مِنَ الَّذِي لَا يُخَالِطُهُمْ وَلَا يَصْبِرُ عَلَى أَذَاهُمْ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ نه روایت کوي، [۲] چې حضور ﷺ وفرمایل کوم مسلمان چې د خلقو سره ربط او اعتماد ساتي، او د هغوئ اذیتونو باندې صبر کوي، [۳] هغه د اجر او ثواب د اعتبار نه افضل دی، د هغه سړي نه کوم چې دخلقو سره ربط او اختلاط نه ساتي، او د هغوئ اذیتونو باندې صبر نه کوي. (ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① يُخَالِطُ: میل جول ساتی، تعلق ساتی، ② أَذَاهُمْ: په تکلیفونو د خلقو.

تسهیلات:

قوله: الْمُسْلِمُ الَّذِي يُخَالِطُ النَّاسَ:

دجلوت په خلوت مشروط فضیلت: کوم سړې چه خلقو سره تعلق ساتی او دَهغوی نګرانی کوی دَ هغوی لارخودنه کوی او امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی او په دې کارونو کښې دَخلقو دَ طرف نه تکلیفونه او چتوی هغه برداشت کوی نو دا سړې دَهغه ځان له ګوټ کښې ناست سړی نه بهتر دې چه ځان له عبادت کوی او دَ خلقو نه جدا او ځان له او سیږی دَهغوی په هیڅ معامله کښې دلچسپی نه اخلی.

په دواړو مؤمنانو کښې فرق: په دواړو کښې فرق دادې چه اولنې سړې خالق او مخلوق دواړه راضی کوی کوم چه کامل اخلاق دې په دې وجه افضل دې او دویم سړې صرف دَخالق دَ رضا کوشش کوی مخلوق ئې هیر کړې دې کوم چه نقص دې په دې وجه دا مفضول دې.

انصافی خبره: دا یاد ساتئ چه دا دوه نظریئې او دوه مختلفې رویې په خپله خپله زمانه کښې جدا جدا مقاماتو، جدا جدا حالاتو او مختلفو اقوالو دَخصوصی مفاداتو دَ وجې نه چلیږی دَ بعضې عوامو دَ خصوصی احوال دَ وجې نه به اولنې نظریه کامیاب وی او بعضې سره به دویمه نظریه بهتر وی. دَدواړو دارومدار به دَدین او دنیا په فائده باندې وی. یو الله والا په خپله زمانه کښې او وئیل زما مقام دَامام احمدبن حنبل رحمه الله نه

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم ۲۵۰۷) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب الصبر على البلاء (رقم-۴۰۳۲) واحمد فی المسند: ۴۳/۲

زیات وو لیکن هغه د مرتبې په لحاظ زمانه مخکښې شو ځکه چه هغه واده کړې دې د بچو پلار دې اوزما واده نشته ځان له یم او په مجرد او غیرمجرد کښې فرق وی.

[٥٠٨٨] په غصه باندې د قابو موندلو فضیلت

٥٠٨٨-()[٢٠] [١]وَعَنْ سَهْلِ بْنِ مُعَاذٍ، عَنْ أَبِيهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [٢]«مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَى أَنْ يُنْفِذَهُ [٣]دَعَاهُ اللَّهُ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ [۴]حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الْحُورِ شَاءَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَأَبُو دَاوُدَ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه :[١]او حضرت سهل بن معاذ د خپل پلار (حضرت معاذ) نه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢]کوم سړی چې خپله قهر وزغمي باوجود د دې چې هغه په غصه باندې د عمل کولو قدرت لري، [٣]نو د قیامت په ورځ به الله ﷻ هغه د مخلوق روبرو راولي، [۴]او هغه ته به دا اختیار ورکړي چې کومه حوره غواړي هغه خوښه کړه دا روایت ترمذي رحمه الله او ابوداود نقل کړی دی، او ترمذي ویلي دي چې داحدیث غریب دی

حل اللغات :- ①كَظَمَ: برداشت کړی، اوزغمی، ②يُنْفِذَهُ: نافذ کړی دا (غصه یعنی انتقام اخستلې شی)، ③يُخَيِّرَهُ: اختیار به ورکړې شی هغه ته.

٥٠٨٩-()[١]وَفِي رِوَايَةٍ لِأَبِي دَاوُدَ، عَنْ سُوَيْدِ بْنِ وَهْبٍ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَبْنَاءِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ أَبِيهِ قَالَ: " [٢]«مَلَأَ اللَّهُ قَلْبَهُ أَمْنًا وَإِيمَانًا» ". [٣]وَذُكِرَ حَدِيثُ سُوَيْدٍ: " «مَنْ تَرَكَ لِبْسَ ثَوْبِ جَمَالٍ» " فِي كِتَابِ اللِّبَاسِ ".

ترجمه :[١]او د ابوداود په یوبل روایت کې چې هغه د سوید بن وهب نه او هغه د نبي کریم ﷺ د یو صحابي د زوی نه نقل کړی دی، [٢]د هغه دا الفاظ دي چې حضور ﷺ د قیامت په ورځ به الله ﷻ هغه د مخلوق په مخکې راوبلي الخ په ځای داسې وفرمایل چې الله ﷻ به د هغه سړي زړه د امن وامان نه معموره کړي کوم چې قهر وزغمي [٣]او د حضرت سوید رضی الله عنه دا روایت من ترک لبس ثوب جمال الخ، په کتاب اللباس کې نقل شوی دی.

تسهیلات:

قوله: دَعَاهُ اللَّهُ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د غصې زغمونکو د قیامت په ورځ لوئې اعزاز : الله تعالی به ده لره د مخلوق په مخامخ راؤبلي، ددې مطلب دا دې چه الله تعالی به د قیامت په ورځ د ټول مخلوق په وړاندې ده

---

١) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب من کظم غیظًا(رقم-٤٧٧٧) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الحلم (رقم-٤١٨٦) واحمد فی المسند:٣/٤٤٠

٢) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٢٤٨١)

ته عزت ورکړی او ددې تعریف اوتوصیف به اوکړی، او دې صفت ته د دومره اوچت مقام ورکولو وجه دا ده چه غصه په اصل کښې د نفس اماره د جوش والا کیفیت نوم دې او کوم کس چه غصه اوخکله نو هغه نفس اماره د خپو لاندې کړو، ددې وجې نه په غصه باندې د قابو ساتونکو تعریف الله تعالی په دغه الفاظو سره کړې دې

د عفوکونکې مقم د کاظم الغیض څخه اوچت: ملا علی قاری رحمه الله فرمائي چه دومره غټ اجر صرف دغصې څکلو په وجه ملاویږی نو بیا د هغه کس مقام او مرتبه به څه وي کوم چه د غصې څکلو سره د عفو او احسان معامله وکړې، امام نووی رحمه الله فرمائي چه اصل احسان دا دې چه ته "أحسن الی من أساءك" په وجه په هغه کس باندې احسان وکړې کوم چه تا سره بد وکړی څکه چه کوم کس تا سره احسان وکړو او ته هم هغه سره احسان وکړې نو دا خو به تجارت شي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٥٠٠] په اسلامی تعلیماتو کښې د حیاء امتیازی شان

٥٠٠ - (١)[٣١] [١] عَنْ زَيْدِ بْنِ طَلْحَةَ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [٢] «إِنَّ لِكُلِّ دِيْنٍ خُلُقًا [٣] وَخُلُقُ الْإِسْلَامِ الْحَيَاءُ» ". رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا.

ترجمه: [١] او حضرت زید بن طلحه ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [٢] په هردین او مذهب کې یوخلق دی (یعني په هرمذهب والاوو کې یوداسي صفت او خصلت وي، چې د هغوئ په ټولو صفتونو غالب او د هغوئ د ټولو خصلتونو نه اعلی وي) [٣] او د اسلام هغه خلق حیاء ده، دا روایت مالك ﷺ بطریق ارسال نقل کړی دی، څکه چې زید ﷺ صحابي نه دی، بلکي تابعي دی

٥٠٩-(٢)، ٥٠٢-(٣) [١] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيْمَانِ" ، عَنْ أَنَسٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ.

ترجمه: [١] او ابن ماجه او په شعب الایمان کې بیهقي دا روایت د حضرت انس او حضرت ابن عباس نه نقل کړی دی.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ لِكُلِّ دِيْنٍ خُلُقًا:

داسلام په خصلتونو کښې غالب خصلت: یعنی دَ هرآسمانی دین یو غالب مزاج پاتې وو اودَ هغې یو بنیادی مقصد پاتې دې اودَ هغې یوخاص رجحان پاتې وو اودَهغې یوښکاره

---

[١] اخرجه مالک فی الموطا کتاب حسن الخلق /باب ما جاء فی الحیاء (رقم-٩)

[٢] اخرجه ابن ما جه فی السنن کتاب الزهد/باب الحیاء (رقم-٤١٨٢،٤١٨١)

[٣] اخرجه ابن ما جه فی السنن کتاب الزهد/باب الحیاء (رقم-٤١٨٢،٤١٨١)

صفت پاتې وو چه هغه په باقي اوصافو باندې غالب پاتې وو. په اسلام کښې هغه صفت او طبعیت، میلان او رجحان حیاء ده سره دَدې چه په نورو مذاهبو کښې هم دَحیاء حکم وو لیکن دَاسلام غالب مزاج حیاء ده هم دَدې وجې نه حضورپاك دَخپل بعثت مقصدتکمیل دَمکارم اخلاق گرځولی دی په کوم کښې چه حیاء دَ ټولو نه وړاندې ده.حضورپاك فرمائیلی ((إنما بعثت لأتمم مکارم الأخلاق)) یوحدیث پاك کښې رسول الله ﷺ ارشاد فرمائیلی ((استحیوا من الله حق الحیاء))

خلاصه داچه حیاء دَانسانی گاډی دَپاره په منزله دَ بریك تائر او راډ دې که چرې بریك فیل شو نو نه ده معلومه چه گاډې به کوم کوم ځائی کښې ټکرې خوری اوتباه برباد به شی.نن صبا په دنیاکښې دَټولو نه زیات فحاش او بې حیاء قوم یهود اونصاری دی چه فحاشی په توګه دَمذهب استعمالوی او نورو قوموته ئی ورلیږی.

[۵۰۳] ایمان اوحیاء یوبل سره لازم اوملزوم دی

۵۰۳ -()[۲۲] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[۲]«إِنَّ الْحَيَاءَ وَالْإِيمَانَ قُرَنَاءُ جَمِيعًا، [۳] فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الْآخَرُ»".

ترجمه : [۱] او د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] حیاء او ایمان د یوبل سره یوځای شوی دی، [۳] که څوك په دې دواړوکې د یوه نه محروم شي، نو دویم نه هم محروم کول کیږي، (یعنی کوم سړی چې د ایمان نه محروم شی هغه دحیاء نه هم محروم کول کیږي، او په چا کې چې حیاء نه وي په هغه کې ایمان هم نه وي)

حل اللغات :- ① قُرَنَاءُ: یوبل سره نزدې دی، ② رُفِعَ: لرې کړې شی،

۵۰۴ -()[۱] وَفِي رِوَايَةِ ابْنِ عَبَّاسٍ: " [۲]«فَإِذَا سُلِبَ أَحَدُهُمَا تَبِعَهُ الْآخَرُ» ".رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه : [۱] او په یو دویم روایت کې چې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما نه منقول دی، [۲] داسې دی چې په دې دواړو کې یولیرې شي، نو دویم نه پاتې کېږي.(بیهقي)

تسهیلات: قوله: إِنَّ الْحَيَاءَ وَالْإِيمَانَ قُرَنَاءُ جَمِيعًا:

د ایمان او حیاء خپلو کښې تعلق : دا "قرین" جمع ده په معنی د ملګری په دې اعتبار سره دا لفظ د هغه خلقو دلیل دې کوم چه دا وائي چه د أقل جمع اطلاق په دوؤ باندې کیږی، د حدیث الباب حاصل دا دې چه حیا او ایمان لازم اوملزوم دی په دې کښې چه کله یو هم زائل شی نو دویم هم زائل کیږی.

---

(۱) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۷۷۲۷
(۲) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۷۷۲۶

[۵۰۹۵] خلقو سره د خوش اخلاقئ اختیار ولو اهمیت

۵۰۹۵-(١)[٢٣] [١] وَعَنْ مُعَاذٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: «كَانَ آخِرُ مَا وَصَّانِي بِهِ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٢] حِينَ وَضَعْتُ رِجْلِي فِي الْغَرْزِ أَنْ [٣] قَالَ: "يَا مُعَاذُ! أَحْسِنْ خُلُقَكَ لِلنَّاسِ». رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: [١] او حضرت معاذ ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ چې ماته د کومو خبرو نصيحت او وصيت وفرمايه، په هغه کې د ټولو نه آخري وصيت [٢] حضور ﷺ هغه وخت وفرمايه هرکله چې ما په آس باندې سوريدو د پاره خپله پښه په رکاب کې اېښې وه. [٣] هغه دا اوويل معاذ! خلقوته د تعليم وتربيت د پاره خوش اخلاقي اختيار کړه. (مالك)

حل اللغات:- ① الْغَرْز: رکاب، پائدان،

تسهیلات:

قوله: أَحْسِنْ خُلُقَكَ لِلنَّاسِ:

معاذ رضی الله عنه ته د ښه اخلاقو حکم: حضرت معاذ ﷛ حضورپاك دَيمن ګورنرمقرر کړې وو. دَ هغه دَرخصت کولو په وخت حضورپاك خلاف معمول هغه سره داسې معامله اوکړه دکوم چه مثال نه ملاويږي. پخپله حضورپاك پيدل روان دې او هغه ئې په اس باندې سورکړې دې او په روانه روانه هغه ته هغه نصيحتونه ارشاد فرمائي دکوم چه مثال نه ملاويږي. اوس لا حضرت معاذ ﷛ پوره سورشوې هم نه وو. خپه ئې په رکاب باندې کيخودې ده او حضورپاك يو ډير نادر نصيحت اوفرمائيلو اې معاذ! خلقو سره دَتعليم اوتربيت دَپاره خپل اخلاق ښه ساته. دلته دَ خلقو نه مراد هغه خلق دې چه نصيحت قبلونکې وي ياد هغې اميد کيدې شي. ليکن چه کوم خلق نصيحت اوغورزوي اود حق دعوت مسترد کړي هغوی سره به دَتورې په ذريعه خبره کيږي. اوس به هم توره هغوی پوهه کوي اودَهغوی تربيت به دَ جهاد په ميدان کښې کيږي. چنانچه جهاد چه څنګه دَمسلمانانودَپاره رحمت دې دغه شان دکافرانودَپاره هم رحمت دې څکه چه په دې سره کافرانوته هدايت ملاويږي او مسلمانانوته ثواب او صالح معاشره ملاويږي اودنيا ته امن ملاويږي لکه څنګه چه دَ اخلاقو په ځائې توره استعمالول مناسب نه دې دغه شان دَتورې په ځائې اخلاق استعمالول مناسب نه دې يوشاعر هم دا خبره کړې ده:

فوضع الندي في موضع السيف بالعلی قبيح كوضع السيف في موضع الندي

يعنې دَ تورې دَ استعمالولو په موقع کښې احسان کول داسې بد دې لکه څنګه چه دَاحسان په ځائې توره استعمالول بد دې.

١) اخرجه مالک فی الموطا کتاب حسن الخلق/باب ما جاء فی حسن الخلق (رقم-١)

[۵۰۹۶] بنه اخلاق دَ رسول الله د بعثت مقصد

۵۰۹۶-()[۲۴] [۱] وَعَنْ مَالِكٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[۲] «بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ حُسْنَ الْأَخْلَاقِ»". رَوَاهُ فِي "الْمُوَطَّأ".

ترجمه: [۱] او د امام مالك رحمه الله نه منقول دی، هغوئ ته دا حديث رسيدلی دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] زه د ښو اخلاقوو د تکميل د پاره راليږل شوی يم. يعنی په دي دنيا کي خما د راليږلو يوعظيم مقصد دادی چې انساني اخلاق او اوصاف بيان کړم او هغه درجه کمال ته ورسوم، موطا امام مالك رحمه الله

۵۰۹۷-()وَرَوَاهُ أَحْمَدُ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.

ترجمه: او احمد دا روايت د حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه نقل کړی دی

تسهيلات:

قوله: بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ حُسْنَ الْأَخْلَاقِ:

دنبی عليه السلام دبعثت په مقاصدو کي عظيم مقصد: مطلب دا دې چه انبياء کرامو به خپلو امتونو ته د اخلاقو د تعليم ورکولو دپاره تشريف راوړلو، څه خو آخری نبی يم او زما د ذات د وجهې نه چه څنګه د دين تکميل شوې دې هم دغه شان زما د ذات د وجهې نه د اخلاقو تعليم مکمل شو، مطلب دا چه زما نه مخکی خلقو نه چه په اخلاق ابراهيی کښې کوم کمی پاتی شوې وو نو څه د هغې د تکميل دپاره راغلې يم، لهذا د حديث الباب مطلب دا شو چه حياء او ايمان لازم او ملزوم دی او دا چه په کوم زړه کښې وی نو دواړه به وی او که نه وی نو دواړه به نه وی لهذا مومن بے حياء نشی کيدې او کافر حياء دار نشی کيدې.

[۵۰۹۸] په آيينه کښې د کتلو په وخت د خواخلاقو دعا غوښتل

۵۰۹۸-()[۲۵] [۱] وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا نَظَرَ فِي الْمِرْآةِ قَالَ: "[۳] الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي حَسَّنَ خُلُقِي وَخَلْقِي، [۴] وَزَانَ مِنِّي مَا شَانَ مِنْ غَيْرِي» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ" مُرْسَلًا.

ترجمه: [۱] او حضرت جعفر ابن محمد خپل پلار بزرګوار امام باقر رحمه الله نه نقل کوي، هغوئ بيان وکی [۲] چې رسول الله ﷺ به هنداره کتله نو فرمايل به يي [۳] ټول تعريفونه د الله د پاره دی چې زه يي په بهترين تخليق سره ښائسته کړم، خما اخلاق او کردار يي ښه

[۱] اخرجه مالک فی الموطا کتاب حسن الخلق /باب ما جاء فی حسن الخلق (رقم-۲)
[۲] اخرجه احمد فی المسند: ۲/۳۸۱
[۳] اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۴۴۵۹

جوړ کی، [۴] او په ماکي هغه خیزونه آبنبي کړه چې خما د عیب او نقصان باعث دی، دا روایت بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې بطریق ارسال نقل کړی دی.

حل اللغات:- ① زَانَ: ښائسته ئې کړو. ② شَانَ: د شین نه دې په معنی د عیب سره.

تسهیلات:

قوله: الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي حَسَّنَ خُلُقِي وَخَلْقِي:

انسان چه کله په خپل تخلیق باندې نظر اوکړی نو د خپل رب شکریه د ادا کړی:

انسان الله تعالی پیدا کړې دې او دې ئی اشرف المخلوقات جوړ کړې او دې ئی په احسن تقویم کښې ساتلو سره ښائسته کړې دې. دَدې تقاضا داده چه انسان کله په خپل تخلیق باندې نظر اوکړی نو چه دَخپل رب او پیدا کونکی شکریه ادا کړی. په آئینه کښې دَمخ کتلو په وخت پیغمبر اسلام چه امت ته دَ کومې دعا تعلیم ورکړې دې په هغې کښې هم دا حقیقت ښکاره کړې شوې دې چه انسان دَ خپل مخ دکتلو په وخت نه خو تکبر اوکړی او نه دَتخلیق پس منظر هیر کړی.

دَدې حدیث سره راتلونکی حدیث کښې هم یوه دعا ذکرده په هغې کښې هم حضورپاك امت ته تعلیم ورکړې دې چه داسې دعاغوارئی. دَدې مطلب دانه دې چه حضورپاك دَخپل خان دَپاره دعاغواړی بلکه دَامت دَتعلیم دَپاره ئی الفاظ استعمال کړی دی. دَ راتلونکی حدیث تشریح اوتوضیح هم دغه شان ده کومه چه پورته لیکلې شوې ده.

[۵۰۹۳] د ښه صورت او ښه اخلاقو دعا

۵۰۹۳- ()[۲۶] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " [۲] اللَّهُمَّ كَمَا حَسَّنْتَ خَلْقِي فَأَحْسِنْ خُلُقِي». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او بي بي عائشه رضی الله عنها وایي، چی رسول الله ﷺ به دا دعا ویله [۲] اې الله! تا خما جسماني تخلیق ښه جوړ کړی دی، نو خما اخلاق هم ښه جوړ کړي. (احمد)

تسهیلات:

قوله: اللَّهُمَّ كَمَا حَسَّنْتَ خَلْقِي فَأَحْسِنْ خُلُقِي:

دښه اخلاقو دعا غوښتل: دا دعا به نبی کریم ﷺ مطلق وقت کښې کوله یا په آئینه (شیشه) کښې خپل صورت کتلو په وخت کښې به ئی کوله، او د نبی کریم ﷺ دا دعا د امت د تعلیم اوتلقین دپاره وه چه د امت خلق دې په خپل حق کښې دغه شان دعا غواړی یا ددې دعا تعلق خپله د نبی کریم ﷺ د ذات مبارک سره وو نو په دې صورت کښې د

[۱]) اخرجه احمد في المسند: ۶/۶۸

نبي كريم ﷺ مراد گويا چه د ډيروالي د طلب كولو درخواست وو چه ياالله خپل دين په ما باندې كامل او خپل نعمتونه په ما باندې پورا كړه.

[۵۰۰] ښه اخلاقو والا بهترين خلق دى

۵۰۰-(۱)[۲۷] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ۲ «أَلَا أُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ؟ " ۳ قَالُوا: بَلَى ۴ قَالَ: " خِيَارُكُمْ أَطْوَلُكُمْ أَعْمَارًا، وَأَحْسَنُكُمْ أَخْلَاقًا» " رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ اصحابو رضي الله عنهم ته وفرمايل. ۲ آيا زه تاسو ته ونښايم چې په تاسو كې بهترين كوم خلق دي. ۳ صحابه ؤ رضي الله عنهم عرض وكړو چې هو ضرور ونښايه ۴ نو حضور ﷺ ورته وفرمايل، په تاسو كې بهترين خلق هغه دي چې اوږد عمر والا وي او د هغوئ اخلاق ډير ښه وي. (احمد)

تسهيلات:

قوله: خِيَارُكُمْ أَطْوَلُكُمْ أَعْمَارًا:

د اوږد عمر فضيلت چا دپاره دې: دَاوږد عمر فضيلت دَهغه خلقودَپاره دې دَچا اعمال چه ښه وى. ځومره چه عمر اوږدوى ښه اعمال به ئې زيات وى دادَ فائدې خبره ده ليكن دكومو خلقو اعمال چه بد وى كه دَهغوى عمر اوږد وى نو په هغې كښې به دَ فائدې په ځائې نقصان وى. بهرحال ښه اخلاق دَ خو اعمالو يوه حصه ده.

[۵۰۱] خو اخلاقو والا كامل مؤمنان دى

۵۰۱-(۲)[۲۸] ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ په ايمان كې كامل ترين خلق هغه دي د كوم چې اخلاق ښه وي. (ابوداؤد، دارمي)

تسهيلات:

قوله: أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا:

ښه اخلاق د كامل ايمان معيار: داخبره ياد ساتل پكاردى چه په احاديثو كښې چه دَخو اخلاقو ځومره فضيلتونه راغلى دى دَ هغې برعكس به دَبد اخلاقو هم دومره مذمت كيږى سره دَدې چه دَمذمت ذكر نه هم وى ځكه چه عالمان وائى: وبضدها تتبين الأشياء

---

[۱] اخرجه احمد فى المسند: ۲/۳۶۸

[۲] اخرجه ابوداود فى السنن كتاب السنة/باب فى التخيير بين الأنبياء عليهم الصلاة والسلام (رقم-۴۶۷۲) واحمد فى المسند: ۲/۲۵۰

[۵۰۰۲] د فضيلت او اهميت والا دري اعمال

۵۰۰۲-()[۲۹] ۱ وَعَنْهُ ۲ «أَنَّ رَجُلًا شَتَمَ أَبَا بَكْرٍ، وَالنَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- جَالِسٌ يَتَعَجَّبُ وَيَتَبَسَّمُ، ۳ فَلَمَّا أَكْثَرَ رَدَّ عَلَيْهِ بَعْضَ قَوْلِهِ، ۴ فَغَضِبَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَامَ فَلَحِقَهُ أَبُو بَكْرٍ، ۵ وَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ كَانَ يَشْتُمُنِي وَأَنْتَ جَالِسٌ، ۶ فَلَمَّا رَدَدْتُ عَلَيْهِ بَعْضَ قَوْلِهِ غَضِبْتَ وَقُمْتَ. ۷ قَالَ: كَانَ مَعَكَ مَلَكٌ يَرُدُّ عَلَيْهِ، فَلَمَّا رَدَدْتَ عَلَيْهِ وَقَعَ الشَّيْطَانُ".

ترجمه: ۱ او حضرت ابو هريره ﷺ وايي چې يوه ورځ رسول الله ﷺ د صحابه و ﷺ سره تشريف فرماوو. ۲ چې يو سړي حضرت ابوبکر صديق ﷺ ته بدرد وئيل شروع کړه حضور ﷺ (د هغه سختي خبري اوريدو سره) حيرت کوي او مسکی کيدی ۳ تردي چې هغه سړي بدرد ويلو کې د حد نه تير شو، نو حضرت ابوبکر صديق ﷺ هم د هغه د بعضي خبرو جواب ورکړو (يعني هغوئ هم ورته په جواب کې څه بدرد وويل) ۴ په دي باندي رسول الله ﷺ ناراضه شو، او د هغه ځای نه ولاړشو، ابوبکر ﷺ هم پسي روان شو. ۵ او په خدمت اقدس کې يې عرض وکړو چې يارسول الله! هغه سړي چې ماته بدرد ويل، نو تاسو ﷺ هلته ناست وئ، ۶ ليکن کله چې ما د بعضي خبرو جواب ورکړو (او د هغه الفاظو کې پابل انداز کې هغه ته مي بدرد وويل) نو تاسو ﷺ ناراضه شوئ او د هغه ځای نه پا څيدئ (په دي کې تاسو ﷺ په نزد څه حکمت وو) ۷ حضور ﷺ ورته وفرمايل (اصل خبره داده چې ترڅو پوري ته خاموش وي نو) ستا سره فرشته موجوده وه، هغه به ستا د طرف نه هغه ته جواب ورکوی نو کله چې تا خپله جواب ورکړو (او د غسې دنفس د خواهش د عمل دخل وشو) نو شيطان په منځ کې راودانګل

۸ ثُمَّ قَالَ: "يَا أَبَا بَكْرٍ! ثَلَاثٌ كُلُّهُنَّ حَقٌّ: ۹ مَا مِنْ عَبْدٍ ظُلِمَ بِمَظْلِمَةٍ فَيُغْضِي عَنْهَا لِلَّهِ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا أَعَزَّ اللَّهُ بِهَا نَصْرَهُ، ۱۰ وَمَا فَتَحَ رَجُلٌ بَابَ عَطِيَّةٍ يُرِيدُ بِهَا صِلَةً إِلَّا زَادَ اللَّهُ بِهَا كَثْرَةً، ۱۱ وَمَا فَتَحَ رَجُلٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ يُرِيدُ بِهَا كَثْرَةً إِلَّا زَادَ اللَّهُ بِهَا قِلَّةً»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۸ بيا يي وفرمايل اې ابوبکره ﷺ! دري خبري دي او هغه ټولي حق دي. ۹ يو خوداچي کوم بنده ديو ظلم ښکار شي او محض د الله د رضا او هغه دثواب د طلب د پاره نه چې د خپل عجز په وجه يابنودلو، اوروليو د پاره هغه ظالم نه چشم پوشي کوي (سترګي پټوي) يعنی هغه ته معافي کوي او بدله اخستل ترک کوي يا د هغه معامله ته سپارلو سره په دنيا کې د هغه نه څه مطالبه نه کوي، يا داچي هغه مطلق معاف کوي نو الله ﷻ د هغه ظلم په سبب يا د هغه د وصف چشم پوشي په بناء دنيا او آخرت کې د خپل مدد په ذريعه هغه بنده مضبوط او قوي جوړ وي، ۱۰ دويم داچي کوم بنده د خپلي

[1]) اخرجه احمد فی المسند: ۲/۴۳۶

ورکړي او بخشش دروازه خلاصه کړي چې د هغه په ذريعه خپل قرابتدارو او مسکينانو سره احسان او نيک سلوك وکړي (يعني د هغه مالي امداد او اعانت وکړي نو الله ﷻ به د هغه د ورکړي او بخشش په سبب د هغه مال ودولت کې د ظاهري او باطني خير او برکت په صورت کې) اضافه کوي ⑪او دريم داچي کوم سړی د سوال او ګدايي دروازه خلاصه کړي چې د هغه په ذريعه خپل دولت زيات کړي (يعني د هغه د خلقو مخکې د سوال لاس اوږدول د حاجت او ضرورت په بناء نه وي. محض د خپل مال ودولت د اضافي په خاطر وي) نو الله ﷻ د هغه د ګدائي په سبب د هغه مال ودولت نور کموي، که په ظاهري طور سره د هغه مال او دولت نقصان او بربادي سره مخ کوي يا د هغه د خير او برکت نه يي داسې محروم کوي چې هغه هروقت په خپل مال کې کمی او نقصان محسوسوي. (احمد)

حل اللغات:- ①فَلَحِقَهُ: ورغې ورپسې، ②يُغْضِي: چشم پوشي کوی، سترګې پټوی. (يعني بدله ترې نه آخلی)

تسهيلات:

قوله: وَالنَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- جَالِسٌ يَتَعَجَّبُ وَيَتَبَسَّمُ:

دنبی عليه السلام د تعجب اوتبسم وجه: د تعجب کولو او د خندلو تعلق يا خو د هغه کس د بد زبانی او په هغې کښې د شرم او حجاب د کمی په وجه وو يا د حضرت ابوبکر صديق ﷺ صبر او تحمل او د باوقار رويه په وجه وو او د تبسم کولو تعلق د هغه فرق سره وو کوم چه نبی کريم ﷺ ددې دواړو په مينځ کښې ليدلو دارنګ نبی کريم ﷺ په دې دواړو باندې چه کومه نتيجه مرتب کيدله هغه ئي هم ليدله چه هغه کس د خپلی بد کلامی په وجه د عذاب مستحق کيدلو او حضرت ابوبکر صديق ﷺ د صبر او تحمل په وجه د نزول رحمت مستحق کيدلو، حضرت ابوبکر صديق ﷺ هم ددې د بعضې خبرو جواب ورکړو ګويا چه حضرت ابوبکر صديق ﷺ په دې موقع باندې په جواب ورکولو سره او په رخصت او اجازت باندې ئي عمل وکړو، کوم چه د عام کس دپاره مناسب دې او هغه عزيمت ئي ترک کړو کوم چه د خواصو د مرتبې او شان سره عين مطابق دې لکه الله تعالی فرمائي "وجزاء سيئة سيئة مثلها فمن عفا وأصلح فأجره على الله" بل آيت کښې دی "وان عاقبتم فعاقبوا بمثل ما عوقبتم به ولئن صبرتم لهو خير للصابرين" نو ابوبکر صديق ﷺ د بعضو خبرو بدله واخستله او په بعضو خبرو باندې ئي صبر اختيار کړو ګويا د دواړ اړخونو رعايت ئي وکړو چونکه نبی عليه السلام جواب ورکول د شان صديقی لائق اونه ګڼړل ددې وجه نه نبی کريم ﷺ چه کله دا خبره وليدله نو خفا شو او د مجلس نه لاړو

قوله: فَلَمَّا رَدَدْتَ عَلَيْهِ وَقَعَ الشَّيْطَانُ:

دابوبکر په جواب ورکولو د شیطان مداخلت: شیطان ددوی په مینځ کښې راغلو یعنی کله چه تا پخپله جواب ورکړو نو شیطان دخل اندازی شروع کړه او کومی فرښتی چه ستا طرف نه جواب ورکولو هغه آسمان ته لاړه او تا ته پته هم شته چه کله په یوه معامله کښې شیطان مینځ ته راشی نو د الله تعالی رحمت او مدد اوچت شی نو ددې وجهې نه څه هم لاړم.

[۵۰۰۳] د نرمئ فائده او د سختئ نقصان

٥٠٠٣ – (١) [٣٠] ١ وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "٢ «لَا يُرِيدُ اللّٰهُ بِأَهْلِ بَيْتٍ رِفْقًا إِلَّا نَفَعَهُمْ، ٣ وَلَا يَحْرِمُهُمْ إِيَّاهُ إِلَّا ضَرَّهُمْ» "رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ١ او بي بي عائشه ﷞ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ٢ الله ﷻ چې کوم کورونو د پاره نرمي او مهرباني خوښوي، د هغه په ذريعه هغوئ ته نفع رسوي، ٣ او کوم کورونه چې د نرمۍ او مهربانۍ نه محرومه کوي، د دې په ذريعه هغوئ ته نقصان رسوي. (بيهقي)

تسهیلات:

قوله: وَلَا يَحْرِمُهُمْ إِيَّاهُ إِلَّا ضَرَّهُمْ:

د نرمۍ فضیلت اوسختۍ مذمت: د حدیث الباب مطلب دا دې چه الله تعالی په کومو کسانو باندې مهربانی وکړی نو دهغوی په زړونو کښې نرمی واچوی نو کله چه هغوي په خلقو باندې نرمی کوی نو په خلقو کښې د هغوی عزت نور هم زیاتیږی او په کومو خلقو باندې چه الله تعالی ناراض شی نو ددوې زړونه د نرمی نه محرومه کړی نو کله چه ددوې زړونه سخت شی نو ددوی د خلقو سره په دنیاوی معاملاتو کښې په سختی سره پیش کیږی کوم سره چه د خلقو په زړونو کښې د دوی نفرت هم زیات شی.

[1]) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ٨٤١٨

[۲۰]بَابُ الْغَضَبِ وَالْكِبْرِ

دغصې او دتکبر بیان

خلاصة الباب

فيه تسعة عشر حديثاً مشتملة على ثلاث مسائل:

① النهي عن الغضب وقباحته: ۱، ۳، ۱۰، ۱۵۔

② فضيلة كظم الغضب وطريق إطفائه: ۲، ۳، ۱۰، ۱۱، ۱۳، ۱۴، ۱۷، ۱۸۔

③ قباحة الكبر: ۳، ۴، ۵، ۶، ۷، ۸، ۹، ۱۲، ۱۶، ۱۹۔

دغضب تعریف: غضب او غصه دَ هغه شیطانی اغوا او راپارولو نوم دې دکوم په وجه چه انسان په ظاهری او باطنی اعتبار سره خپل طبعی مزاج او حدودو دَ اعتدال نه بهر کیږی.

د غصې علامات:

① دَ غضب او غصې اثر دَهغه سړی په مخ باندې هم ظاهریږی او دَ هغه مخ سور شی

② دَ غاضب د سټ رګونه او پړسیږی.

③ بعضې وخت دَاجنونی کیفیت دومره زیاتیږی چه سړې مر کیږی.

د غصې په انسانی فطرت کښې موجودتیا: غصه فی نفسه څه خراب خصلت نه دې چه دې ته اصلاً قبیح او وئیلې شی بلکه غضب خودَ انسانی کمال یوه حصه ده.بلکه د غصې وجود په انسان پکار دې.هغه سړې الله تعالی هم نه خوښوی چا ته چې په څه باندې هم غصه نه ورځی.

دغصې دوه قسمونه:

① غضب محمود: کله چې د الله تعالی په شان کښې ګستاخی کولې شی یا په شعائر الله کښې د یو توهین کولی شی یا د انسان په عزت باندې څوک لاس پورته کوی.نو په داسې مقاماتو کښې غصه کول ضروری دی که سړې غصه نه کوی.نو دا بزدل او ډرپوک دې.

② غضب مذموم: کله چې په ناجائزه طریقه د خپلې غصې اظهار کولې شی نو دا مذموم دې مثلاً زیدعمرو ته څه معمولی غوندې خبره وکړه او عمرو راپاسیدلو هغه ئې قتل کړلو.یا په معمولی معمولی خبره باندې یوبل سره جګړه کول کنځل کول وغیره دا ټول مذموم کښې راځی.

قوله: وَالْكِبْرِ:

دتکبر تعریف: په اصل کښې دکبر معنی لوئی ده یعنی خپل ځان داسې لوئی ګنړل په کوم سره چه په زړه اودماغو کښې ځان خوښی ځان لیدل اوعُجب پیداشی دکوم په نتیجه

کښې چه سړې نور خلق حقیر اوذلیل ګنړی اوډ حق په پریخودلو باندې راشی.
دتکبر د لوئې ګناه کیدو وجه: په انسان کښې ذاتی اوحقیقی لوئی نشته دې په دې وجه هغه ډ کبر تکبر اوشیخی خودلو نه منع کړې شوې دې بلکه ده ته د عاجزی حکم شوې دې اوالله تعالی جل جلاله ډ ذاتی کبریائی مالك دې هغه "المستجمع لجمیع صفات الکمال" دې په دې وجه کبریائی او لوئی هغه سره خاص ده.هم په دې وجه ئې انسان دتکبر کولو څخه منع کړې شوې دې اوهغه ته دتواضع او عاجزئی تعلیم ورکړې شوې دې.
د غصې سړولو علاج: ډ نبی پاك په تعلیماتو کښې ډ غصې یخولو علاج هم موجود دې چه غصه کښې راګیرسړې دې غسل اوکړی یا دې اودس اوکړی یا دې یخې اوبه استعمال کړی یا دې اعوذبالله اووائی اوکه ولاړ وی نو کیدینی که ناست وی نو سمدیلی یا دې ډ دې عکس اوکړی څکه چه حالت بدلیدو سره غصه ځی.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۰۰۳] د حضور پاك ﷺ وصیت دې چې غصه مه کوه!

۵۰۰۳-()[۱] [۱]عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-[۲]«أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْصِنِي. [۳]قَالَ: "لَا تَغْضَبْ". [۴]فَرَدَّدَ ذَلِكَ مِرَارًا[۵]قَالَ: "لَا تَغْضَبْ».رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱]او حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی [۲]چې یو سړې رسول الله ﷺ ته عرض وکړو. یارسول الله! ماته څه نصیحت وفرمایه، (چې په هغه عمل کولو سره د دین دنیا خیر حاصل کړم) [۳]حضور ﷺ ورته وفرمایل، غصه مه کوه، [۴]هغه سړي داخبره (چې تاسو ﷺ ماته څه نصیحت وفرمایه) څو ځله وکړه، [۵]او حضور ﷺ به ورته هروار دافرمایل. چې غصه مه کوه (بخاري)

حل اللغات:- (۱) مِرَارًا: بار بار. څوڅو ځله.

تسهیلات:

قوله: قَالَ: "لَا تَغْضَبْ:

باربار د غصې نه کولو حکم کولو وجه: دغه سړی ته رسول الله ﷺ بار بار هم دغه اوفرمائیل غصه مه کوه.ډدې نه معلومیږی چه په دغه سړی کښې ډ صبر کمزوری وه اوډ غضب ماده په کښې زیاته وه.دې سړی بار بار درخواست کولو اې ډ الله تعالی رسول! ماته وصیت اونصحیت اوکړه مګر حضورپاك بار بار تاکید کولو چه غصه مه کوه څکه

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب الحذر من الغضب (رقم-۶۱۱۶) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی کثرة الغضب(رقم-۲۰۲۰) ومالک فی الموطا کتاب حسن الخلق/باب ما جاء فی الغضب (رقم-۱۱) واحمد فی المسند:۲/۱۷۵

چه په حقيقت کښې غضب دَعقل دَمغلوبيت نوم دې او کله چه عقل مغلوب شي نو دا يو بدی نه ده بلکه دبدو جرړه ده. کله چه عقل مغلوب شي نو باقي پاتې څه شو؟ لکه چه دَدغه سړی دَ پاره لوئی نصيحت دا وو چه غصه مه کوه ته چه کله غصه نه کوې نو دَدين او دنيا دواړو فائدې به حاصلې کړې شې.

[۵۰۰۵] اصل پهلوان هغه دې چې ځان قابو کې اوساتي

۵۰۰۵-()[۲] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «لَيْسَ الشَّدِيدُ بِالصُّرَعَةِ، [۳] إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] طاقتور او پهلوان سړی هغه نه دی چې خلق را غوځاروي، [۳] بلکې طاقتور او پهلوان سړی هغه دی چې د قهر په وخت خپل نفس راغوځار کړي، او خپل ځان منع کړي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① الشَّدِيدُ: طاقور، پهلوان، ② الصُّرَعَةِ: راپرځونکې، راغوځارونکې. ③ الْغَضَبِ: غصه، قهر.

تسهيلات:

قوله: إِنَّمَا الشَّدِيدُ الَّذِي يَمْلِكُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ:

دحقيقي پهلوان تعريف: دا هيڅ کمال نه دې چه څوك په کُشتئی کښې راگذار کړې شي يا پهلوانئی کښې غلبه حاصله کړې شي او ده ته دَ پهلوانئی تمغه ملاؤ شي. ليکن دَ غصې اوغضب په وخت هغه سړې مغلوب الحال جوړيدو سره دَ خپل کنټرول نه بهر شي او گډې وډې وئيل شروع کړي او جنگ شروع کړي. دَ پهلوانئی په زور لگولو کښې خو هغه مضبوط پاتې شو مگر دَغصې دَلاسه ئې ماتې اوخوړله.

د سعدی بابا يوه عجيبه قصه:

په گلستان سعدی کښې سعدی بابا رحمه الله يوه قصه ليکلې ده چه يو پهلوان دَ غصې نه مغلوب کيدو سره په گډو وډو باندې سرشوې وو سترگې ئې سرې شوې وې دَ ستې رگونه ئې پړسيدلې وو او مخ ئې سور شوې وو. باباسعدی تپوس اوکړو دا سړې څوك دې او په ده څه شوی دی؟ خلقو اووئيل پهلوان دې چاغصه کړې دې په دې وجه ئې دا حالت شوې دې. باباسعدی وئيل چه عجيبه پهلوان دې پهلوانئی کښې خو ثابت قدم وی ليکن دَژبې په يو ذره شان خبره په شا پريوتلو سملاستو.

---

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الأدب/باب الحذر من الغضب (رقم-۶۱۱۴) ومسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب فضل من يملک نفسه عند الغضب وبأی شیء يذهب الغضب(رقم-۱۰۷ (۲۶۰۹) وابوداود فی کتاب الأدب/باب من کظم غيظًا (رقم-۴۷۷۹) ومالک فی الموطا کتاب حسن الخلق/باب ماجاء فی الغضب (رقم-۱۲)(رقم-۱۱) واحمد فی المسند:۲/۲۳۶

په دې حديث کښې حضورپاك دَ ظاهري قوت په ځائې باطني قوت اصل ګرځولې شوې دې. او دَدنياوي قوت په ځائې دَدين قوت اصل ګرځولې دې "

[٥٠٠٦] جنتيان څوك دي او دوزخيان څوك دي؟

٥٠٠٦-()[٣] ①وَعَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "②«أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ الْجَنَّةِ؟ ③كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهُ. ④أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَهْلِ النَّارِ؟ ⑤كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ⑥وَفِي رِوَايَةٍ: "كُلُّ جَوَّاظٍ زَنِيمٍ مُتَكَبِّرٍ".

ترجمه: ①او حارثه بن وهب رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل، ②آيا زه تاسو ته جنتيان ونښايم (يعني چې کوم خلق جنتيان دي، نو واورئ) ③هرهغه ضعيف سړی جنتي دی چې خلق يې کمزور او حقير ګڼي (او د هغه د کمزورۍ او شکسته حالي په وجه هغه سره د جبر او تکبر معامله کوي) حالانکې د حقيقت د اعتبار نه هغه ضعيف او کمزور د الله په نزد دومره پورته درجه لري، که هغه د الله په بهروسه په څه خبره قسم واخلي نو الله جل جلاله د هغه قسم رښتيا کوي ④او آيا زه تاسو ته هغه خلق ونښايم کوم چې دوزخيان دي ⑤نو واورئ هرهغه سړی دوزخي دی، چې دروغ او لغو خبرو باندې سخت ګويې کونکی او جګړه والا وي، مال جمع کونکي بخيل وي او تکبر کونکی وي (بخاري، مسلم) ⑥او د مسلم په يو روايت کې دا الفاظ دي، چې هرهغه سړی دوزخي دی چې مال جمع کونکی، حرامزاده او تکبر کونکی وي.

حل اللغات:- ①مُتَضَعِّفٍ: کمزورې، ②لَأَبَرَّهُ: برى به ئې کړي، قسم به ئې رښتيا کړي، ③عُتُلٍّ: سخت سرکش. جګړمار ④الْجَوَّاظُ: اَلَّذِي جَمَعَ وَمَنَعَ: يعنى چه مال جمع کوی خو سائل ته هيڅ نه ورکوی. ⑤مُتَكَبِّرٍ: تکبر او غرور کونکې، ⑥زَنِيمٍ: بدنام او ولدزناته زنيم وائی. په شر کښې چه مشهوروی هغه ته هم وائی.

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

①كُلُّ ضَعِيفٍ مُتَضَعِّفٍ: ضعيف خو کمزوری ته وائی ليکن متضعف هغه ته وائی چه پخپله کمزورې نه وی ليکن خلق هغه سپك او کمزورې ګڼری. مطلب چه څوك کمزورې او ورك ژوند تيرونکې وی نه دکبروالا وی اونه دَغرور والا وی داسې جنتی دې.

---

[١] اخرجه البخاري في كتاب تفسير القرآن/باب {عتل بعد ذلك زنيم} [القلم: ١٣] (رقم-٤٩١٨) ومسلم في كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها/باب النار يدخلها الجبارون والجنة يدخلها الضعفاء (رقم-٤٦ - (٢٨٥٣) والترمذي في كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٦٠٥) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب من لا يؤبه (رقم-٤١١٦) واحمد في المسند: ٣٠٦/٤

④لَوْأَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهُ: یعنی که هغه په څه خبره باندې قسم اوخوری چه داکاربه داسې وی نو الله تعالی دَ هغه دَ قسم خیال ساتی.څنګه چه حضرت انس رضی الله عنه قسم خوړلې وو چه دَهغه دَترور غاښونه به نه ماتیږی بیا هم دغه شان اوشو.

⑤كُلُّ عُتُلٍّ جَوَّاظٍ مُسْتَكْبِرٍ: جواظ: دَدې یوه تشریح داهم ده چه "اي جمع ومنع"متکبر اوسخت متکبرمراد دي مخکښې تشریح شوې ده.

[۵۰۷] چې ذره برابر تکبرئې زړه کې وی نو جنت کښې به نه داخلیږی

۵۰۷-()[۳] ①وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "②«لَا يَدْخُلُ النَّارَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ إِيمَانٍ. ③وَلَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَحَدٌ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ مِنْ كِبْرٍ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ①د ابن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی فرمائی رسول الله ﷺ وفرمایل ②هغه سړی به همیشه دپاره په دوزخ کې نه داخلیږي چې د هغه په زړه کې د سپلنی د داني برابر ایمان وي ③او همیشه د پاره به هغه سړی په جنت کې نه داخلیږي چې د هغه په زړه کې د سپلنی د داني برابرهم تکبر وي.(مسلم)

حل اللغات:- ①مِثْقَالُ: ذره برابر، معمولی، ②حَبَّةٍ: دانه، ③خَرْدَلٍ: د سپلنی دانه یعنی تخم، د غوښت دانه،

تسهیلات: قوله: لَا يَدْخُلُ النَّارَ:

د حدیث دوه مطلبونه: ① دَدې مطلب دادې چه که دَ یو سړې په زړه کښې یو ذره برابرهم ایمان وی نوهغه به دَدوزخ نه راوځی دکافر په شان به همیشه دوزخ کښې نه وی.دغه شان چه دَ یو سړی په زړه کښې یو ذره برابر تکبر وی هغه سړې به جنت کښې نه داخلیږی.دَدې جملې مطلب دادې چه کبر اوتکبر نه دلته کفر اوشرك مراد دې لکه چه راتلونکی حدیث نمبر(۵۰۸) کښې راځی چه کبر "بطر الحق وغمط الناس" په معنی کښې دې.یعنی حق غورزول اوخلق سپك اوذلیل ګڼړل.ښکاره خبره ده چه کوم سړې حق غورزوی هغه چرته مسلمان پاتې کیدې شی.

دَدې حدیث ② دویم مطلب دادې چه دلته دکبر نه کفر مراد نه دې بلکه ځان خوښی غرور اوځان خودل مراد دی.نودَدې حاصل دا شو چه داسړې ګناه ګاردې اول ځل دخول کښې به جنت کښې نه داخلیږی البته دَ سزا خوړلونه پس به جنت ته ځی.

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب تحریم الکبر وبیانه (رقم-۱٤۸ - (۹۱) وابوداود فی کتاب اللباس/باب ما جاء فی الکبر (رقم-٤۰۹۱) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الکبر (رقم-۱۹۹۸) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب البراءة من الکبر والتواضع (رقم-٤۱۷۳) واحمد فی المسند:٤۱۲/۱

[۵۰۰۸] تکبر څه ته وائی؟

۵۰۰۸-()[۵] ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۲ «لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ". ۳ فَقَالَ رَجُلٌ: إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنًا. ۴ قَالَ: "إِنَّ اللهَ تَعَالَى جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ. ۵ الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النَّاسِ»" رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن مسعود ﷺ وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، ۲ هغه سړی به په جنت کې نه داخلیږي چې د هغه په زړه کې یوه ذره تکبر وي، ۳ په دي اوریدو سره یو سړي عرض وکړو، یا رسول الله که یو سړی داخوښوي چې د هغه لباس دي ښه وي او د هغه څپلې دي ښه وي، او هغه د څپلي خوښي ښه لباس اغوندي، او ښه څپلي استعمالوي نو آیا دي ته به هم تکبر وئیل کېږي، ۴ حضور ﷺ ورته وفرمایل. الله ﷻ جمیل یعنی ښه او آښي دی، او جمال یعنی ښه والی او آراستګی خوښوي. ۵ او تکبر دادی چې حقه خبره ونه منل شي او خلق حقیر او ذلیل وګڼل شي. (مسلم)

حل اللغات:- ① بَطَرُ الْحَقِّ: حق خبره نه منل، ② غَمْطُ النَّاسِ: خلق سپک او ذلیل ګڼړل.

تسهیلات:

قوله: إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ حَسَنًا:

دښه لباس اوښه پیزار اغوستلو حکم: دَسائل مطلب دا ووچه ښه کپړې ښه څپلئی اوښه اغوستل اوښه اوسیدل هرمسلمان خوښوی نو آیا دا هم دَ تکبر په دائره کښې راځی؟ حضورپاك په جواب کښې اوفرمائیل نه. داخو زینت اوښائست دې اوجمال خودَ الله تعالی خوښ دې. تکبر دادې چه یو انسان حق اوغورزوی اوخلق سپك اوذلیل ګڼړلو سره پره کړی یعنی اصل تکبر دَ هغه غرور اوځان خوښئی نوم دې چه انسان دَحق نه اخوا کړی اود نیغې لارې نه ئی واړوی

قوله: إِنَّ اللهَ تَعَالَى جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ:

جمال او حسن کښې معنوی فرق: باطنی خوبیانو اوښه صفاتو دَ پاره دَ جمال لفظ وئیلې شی لکه چه د جمال تعلق دَ باطنی خوبیانوسره دې په دې وجه دَدې اطلاق په الله تعالی باندې کیږی "الله جمیل" وئیلې شی لیکن دَحسن تعلق ظاهری بدنی اعضا په تناسب سره دې په دې وجه دَدې اطلاق په الله تعالی باندې نه کیږی او "الله حسین" وئیل جائز نه دی.

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب تحریم الکبر وبیانه(رقم-۱۴۷ - (۹۱) وابوداود فی کتاب اللباس/باب ما جاء فی الکبر (رقم-۴۰۹۱) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الکبر (رقم-۱۹۹۹) واحمد فی المسند: ۳۹۹/۱

[۵۰۰۹] درې بدبخته كسان به د الله تعالى د رحمت او توجو نه محروم وي

۵۰۰۹-()[۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲]«ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ". [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: "وَلَا يَنْظُرُ إِلَيْهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ: [۴] شَيْخٌ زَانٍ، وَمَلِكٌ كَذَّابٌ، وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] درې سړي دي چې د هغوئ سره به الله جل جلاله د قيامت په ورځ كلام ونه كړي. (يعني ياخو د رضا او خوشنودى كلام ونه كړي، يا مطلق هيڅ كلام به ورسره ونه كړي) او نه به د هغوئ تعريف او ستائش وكړي [۳] او په يوه روايت كې دا الفاظ هم دي، چې نه به د هغوئ طرف ته (د رحمت او عنايت نظر سره) وګوري، او د هغوئ د پاره به دردناك عذاب وي [۴] يو زناكار بوډا دويم دروغجن بادشاه او دريم تكبر كونكى مفلس. (مسلم)

حل اللغات: - ① شَيْخٌ: بوډا، ② زَانٍ: زناكار، ③ عَائِلٌ: عيالدار غريب. محتاجه غريب. ④ مُسْتَكْبِرٌ: تكبر او غرور كونكې

تسهيلات:

قوله: ثَلَاثَةٌ لَا يُكَلِّمُهُمُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

دقيامت په ورځ درې كسانو سره دالله تعالى خبرې نه كول: يعنى درې قسمه خلق داسې دى چه الله تعالى به دَ قيامت په ورځ نه هغوى سره كلام كوى اونه به په نظرد رحمت دَهغوى طرف ته ګورى بلكه دَهغوى دَپاره به دردناك عذاب وى. چه الله تعالى اووينى او هغوى سره كلام اوكړى ليكن هغوى به دَ رحمت دَ دغه ميدان نه لرې ساتلې شى.

قوله: شَيْخٌ زَانٍ:

د بوډا زنا كار ګناه به ولې زياته وى؟: په دې دريوارو خلقو كښې به يو قسم خلق هغه وى چه پخپله به بوډا ګان شوى وى مګربيابه هم په زناكښې اخته وى دَبوډا زناكار ګناه به ځكه زياته وى چه په ځوانئى كښې دَ شهوت زياتوالې اوليونتوب وى جوش جذبه او مردانه طاقت ئى مجبوره كوى نوسره دَدې چه په ځوانئى كښې هم زناكول ګناه ده مګر څه مجبورى هم ده. ليكن په بوډاوالى كښې قوت شهويه كمزورې كيږى او په بوډا بوډئى كښې جنسى خواهش هم غالب نه وى قبر هم نيژدې وى په داسې حالت كښې زناكول

---

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب الإيمان/باب بيان غلظ تحريم إسبال الإزار، والمن بالعطية، وتنفيق السلعة بالحلف، وبيان الثلاثة الذين لا يكلمهم الله يوم القيامة، ولا ينظر إليهم، ولا يزكيهم ولهم عذاب أليم (رقم-۱۷۲ - (۱۰۷) وابوداود فى أبواب الإجارة/باب فى منع الماء (رقم-۳۴۷۵) والترمذى فى كتاب السير عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى نكث البيعة (رقم-۱۵۹۵) والنسائى فى كتاب البيوع/باب المنفق سلعته بالحلف الكاذب (رقم-۴۴۵۸) وابن ماجه فى كتاب التجارات/باب ما جاء فى كراهية الأيمان فى الشراء والبيع (رقم-۲۲۰۷) واحمد فى المسند:۲/۴۸۰

صرف خباثت نفسي دي نه چه غلبه جنسي.

قوله : وَمَلِكٌ كَذَّابٌ: دروغ وئيل دَ هرسړي دَپاره گناه ده ليکن دَ بادشاه دَ پاره دَنورو نه زياته گناه څکه ده چه دَ بادشاه دَ وجې نه به رعايا په دروغو کښې لگيا شي. بله خبره دا ده چه دَ بادشاه دَپاره څه مجبوري نشته هغه خود مختار دې هغه ته هيڅ ضرورت نه وي باوجود دَ خود مختيار کيدو او نه مجبور کيدو بغير دَ ضرورت نه دروغ وئيل دَعام گناه نه لوئي خباثت دې.

قوله : وَعَائِلٌ مُسْتَكْبِرٌ: عائل صاحب عيال فقيرته وائي اوس يو سړې فقيرهم دې او عيال دارهم دې او دَدې مجبورو او محتاجو نه باوجود هغه دَ زکوة صدقات اخستلو نه انکارکوي. خپل ځان او خپل عيال په هلاکت کښې اچوي او دا هرڅه دَ داسې تکبر په وجه باندې کوي کوم ځائې چه دَتکبر کولو گنجائش نشته دې. په دې وجه دا گناه دَ داسې نورقسم گناهونو نه زياته ده. سوال کولو او زکوة اخستلو نه خپل ځان بچ کول يو ښه عمل دې ليکن دَداسې محتاج کيدو باوجود خپل حاجت تکبر او غرور په وجه پټول نوره گناه ده په دې وجه دَ هغه گناه زياته ده. اولگه تنده دَ الله تعالى دَ طرف نه ده او زکوة هم دَدې فقيرانو حق دې بيا په دې کښې تکبر کول ډير خراب کار دې.

[۵۰] لوئي او كبرائي صرف دَ الله تعالى شان سره مناسب دى

> ۵۰-() [۷] ① وَعَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "② «يَقُولُ اللَّهُ تَعَالَى: الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي، وَالْعَظَمَةُ إِزَارِي، ③ فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا أَدْخَلْتُهُ النَّارَ". ④ وَفِي رِوَايَةٍ: "قَذَفْتُهُ فِي النَّارِ»؟ رَوَاهُ مُسْلِمٌ[1]

ترجمه : ① او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل، ② الله تعالى فرمايي چې ذاتي بزرگي (گويا ستاسو د اعتبار نه) څما څادر دى، او صفاتي عظمت (گويا ستاسو د اعتبار نه) څما لنگ دى، ③ نو څوک چې څما ذات او صفاتو کې د شرك ارتکاب کوي، زه به هغه عذاب ورکونکى په اور کې داخل کړم، ④ او په يو روايت کې دا الفاظ دي، چې زه هغه په اور کې وغورځوم. (مسلم)

حل اللغات :- ① الْكِبْرِيَاءُ: ذاتي بزرگي او لوئي، ② رِدَاءٌ: څادر، عزت، ③ إِزَارٌ: لنگ، ④ قَذَفْتُهُ: او به ئې غورځوم.

تسهيلات:

قوله : الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي:

په لفظ الكبرياء او عظمت كښې فرق : يعنى دا زما ذاتي حق دې نو چه کوم سړې زما سره

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب تحريم الكبر (رقم-١٣٦ - (٢٦٢٠) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب البراءة من الكبر والتواضع (رقم-٤١٧٤) واحمد فى المسند:٤١٤/٢

په دې كښې مقابله كوى او زما په ذاتى اوچتوالى او صفاتى عظمتونو كښې دخل كوى نوزه به هغه دوزخ كښې واچوم په دې حديث كښې يو لفظ دَ الكبرياء دې دويم دَ العظمة دې بعضې علماؤ دا مترادف الفاظ گرځولو سره هم په يو معنى باندې حمل كړې دى ليكن بعضې نور علماء لكه دَملاعلى قارى رحمه الله او علامه طيبى رحمه الله فرمائى چه الكبرياء هغه لوئى ته وائى دكوم تعلق چه ذات سره وى او مخلوق هغه كماحقه نه پيژنى او عظمت هغه بزرگئى ته وائى چه دَالله تعالى دَ صفت سره متعلق وى او مخلوق هغه پيژنى چنانچه دَ الله تعالى لوئى دَدې كائنات دَ وجودنه تړول مخلوق پيژنى هم دَدې فرق په رڼا كښې دكبريا نسبت څادر طرف ته اوكړې شو اودَ عظمت نسبت دَ لنگ طرف ته اوكړې شو او څادر په نسبت دَ لنگ اعلى او اوچت وى "رداء"او "إزار"الفاظ دَمتشابهاتو نه دى دَدې ترجمه به دَ ما يليق بشانه سره كيږى.

قوله: فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا:

دمذكوره جملې مطلب: يعنى كوم سړې چه زما ذاتى يا اضافى لويو كښې دَ شريكيدو كوشش كوى او راكاږى ئې نوزه به هغه دوزخ كښې واچوم.

دالله تعالى په متشابه صفاتو په مفهوم كښې دوه اقوال:

① دا حديث دَمتشابهاتو دَقسم نه دې دَ سلف صالحين په نيز به دَالفاظو هم هغه ترجمه وى كومه چه ده ليكن ما يليق بشانه لگولو سره به حقيقت هم دَالله تعالى په حواله كولې شى

② متاخرين عالمان دَځه تاويلاتو څخه كار اخستې دې اوپه داسې صفاتو كښې ئې تاويلات كړى دى.په دې غرض چې دا چې د اعتراض موقع په لاس ورنشى چې په قرآن پاک كښې داسې كلمات هم نشته چې مسلمانان پرې هم نه پوهيږى

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۳۰] تكبر كونكې به د سركشانو په فهرست كې شاملولې شي

٥٠٣٠-()[١] ① عَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "② «لَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَذْهَبُ بِنَفْسِهِ ③ حَتَّى يُكْتَبَ فِي الْجَبَّارِينَ، ④ فَيُصِيبَهُ مَا أَصَابَهُمْ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① حضرت سلمه ابن اكوع رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل. ② يو سړى خپل ځان برابر د مسلمانانو نه كاږي او ځان غټ گڼي، ③ تردې چې د هغه نوم سركشانو (يعني د ظالمانو او متكبرو خلقو په فهرست كې ليكل كيږي. ④ او بيا كوم شى د دنيا او آخرت آفت او بلا هغه سركشانو ته رسيږي، هغه هغه سړي ته رسيږي (ترمذي)

حل اللغات: - ① الْجَبَّارِينَ: سركشى كونكى، مغروره خلق،

---

[١] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الكبر(رقم-٢٠٠٠)

تسهیلات:

قوله: لَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَذْهَبُ بِنَفْسِهِ حَتَّى يُكْتَبَ فِي الْجَبَّارِينَ:

په متکبرو خلقو کښې دشماریدو طریقه: مطلب دادې چه داسړې یو شان په ځان خوښئ کښې اخته دې غرور اوتکبر چه دې چرته بوتله غواړې بوځې ئې دغه شان هغه په ځان خوښئ او لوئئ کښې دَ حدنه وړاندې کیږی نودَ الله تعالی په نیز هغه دَمتکبرینو او سرکش خلقو په فهرست کښې لیکلې کیږی بیا الله تعالی هغه په دوزخ کښې اچوی معلومه شوه چه ځان خوښئ غرور او تکبر لویه تباهی ده.

[۵۰۳] تکبر کونکي خلق به دَقیامت په ورځ دَ سرو میږو په شان ذلیل وی

۵۰۳-()[۱] ۱ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ۲ «يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ أَمْثَالَ الذَّرِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۳ فِي صُوَرِ الرِّجَالِ يَغْشَاهُمُ الذُّلُّ مِنْ كُلِّ مَكَانٍ ۴ يُسَاقُونَ إِلَى سِجْنٍ فِي جَهَنَّمَ يُسَمَّى: بُولَسَ، ۵ تَعْلُوهُمْ نَارُ الْأَنْيَارِ، ۶ يُسْقَوْنَ مِنْ عُصَارَةِ أَهْلِ النَّارِ طِينَةَ الْخَبَالِ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت عمرو بن شعیب خپل پلار او هغه د خپل نیکه (دادا) نه او هغه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي، چې حضور ﷺ وفرمایل ۲ د قیامت په ورځ به تکبر کونکی د کوچنیو سرو میږیانو په شان ۳ د سړو په صورت کې په یوځای جمع شي (یعني د هغوئ شکل او صورت خوبه د سړو په شان وي، لیکن جسم او جوثه به یي د میږو په شان وي) او هر طرف نه به ذلت او خواري هغوئ پوره طور سره راګیر کړی وي، ۴ بیابه هغوئ د جهنم یوي قیدخاني طرف ته چې د هغه نوم بولس دی وشړل شي ۵ هلته به اور په هغوئ خور شي (ځرنګه چې یو دوبیدونکی باندې د پاسه پورې او به خورول کیږي) ۶ او د دوزخیانو خلاصه یعنی د دوزخیانو د بدن نه بهیدونکي وینه او زوی به وربانندی څکل کیږي. چې د هغه نوم طینت الخبال دی (ترمذي)

حل اللغات:- ① الذَّرِّ: واړه سره میږی. ② صُوَرِ: شکل وصورت. ③ يَغْشَاهُمُ: پټ کړی به وی دوی لره. ④ الذُّلُّ: ذلت. خواری. ⑤ يُسَاقُونَ: شړلې به شی. ⑥ سِجْنٍ: قید خانه. ⑦ بُولَسَ: د جهنم یوه قید خانه ده. ⑧ تَعْلُوهُمْ: راپورته به شی په دوی. ګیربه کړی دوی لره. ⑨ الْأَنْيَارِ: د نارٌ جمع ده یعنی اوررونه. ⑩ يُسْقَوْنَ: څکلې به شی په دوی. ⑪ عُصَارَةِ: دَ دوزخیانودَ بدنونو نچوړ یعنی پیپ او وینې زوې. ⑫ طِينَةَ الْخَبَالِ: دجهنمیانو وینو زوو ته وائی.

---

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۴۹۲) والترمذی فی ۱۷۹/۲

تسهیلات:

قوله: يُحْشَرُ الْمُتَكَبِّرُونَ أَمْثَالَ الذَّرِّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فِي صُوَرِ الرِّجَالِ:

د قیامت په ورځ د متکبرو خلقو د حقارت منظر: وړو میږو ته الذر وائی کوم خلق چه په دنیاکښې تکبرکوی هغوی په حقیقت کښې خپل ځان لوئی ګڼړی لهذا داسې متکبرین به دقیامت په ورځ ذلیل او خوارولو سره دومره واړه کړې شي لکه په زمکه باندې ګرځیدونکی واړه سره قسم میږی چه وی دا جزا او سزا دهغوی د فعل بالکل مناسب ده مونږ یوه قصه اوریدلې ده په هندوستان کښې یودیر بنائسته ځوان وو چا هغه اولیدلو نو حیران شو چه دا دومره بنائسته څنګه دې چنانچه هغه ده ته اووئیل چه ستا دشکل بنائست ته په کتلو سره زه حیران او په تعجب کښې شوم دغه ځوان دتکبر په توګه اووئیل که ته حیرانیږې نو په دې کښې د تعجب څه دی زما شکل ته په کتلو سره الله تعالی هم په تعجب کښې کیږی دا وینا کول وو چه الله تعالی هغه دغه وړوکی میږی برابر ورکوتې کولوسره ذلیل اوخوار کړو. (دالله تعالی پناه)

داخبره د یاد ساتلو ده چه میدان حشرکښې او دوزخ کښې به مختلف احوال وی دعذاب اوسزا داصورت به هم کله راځی اوکله به بدن غټیږی هم په دې کښې هیڅ تعارض نشته دې.

قوله: يُسَاقُونَ إِلَى سِجْنٍ فِي جَهَنَّمَ يُسَمَّى: بُولَسَ:

دجهنم د جیل نوم: باء باندې ضمه اوفتحه دواړه دی په دوزخ کښې د یوخاص جیل خانې او کوټې نوم دې ددې لفظ لغوی مفهوم نا امیدی اوحیرانیدل دی دشیطان نوم ابلیس هم د دغه مادې نه مشتق دې.

[۵۱۳] په ناحقه غصه د شیطان اثر دې

۵۱۳-(۱)[۱۰] (۱) وَعَنْ عَطِيَّةَ بْنِ عُرْوَةَ السَّعْدِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "(۲) «إِنَّ الْغَضَبَ مِنَ الشَّيْطَانِ، (۳) وَإِنَّ الشَّيْطَانَ خُلِقَ مِنَ النَّارِ، (۴) وَإِنَّمَا يُطْفَأُ النَّارُ بِالْمَاءِ، (۵) فَإِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: (۱) او حضرت عطیه ابن عروه سعدي ﷛ وایي چې رسول الله ﷺ وفرمایل (۲) (ناحق) قهر شیطاني اثر دی. یعنی ناحق قهر (غصه) کول د شیطان د مشتعل کولو او د هغه دهوکه کې د راتلو نتیجه وي، (۳) او شیطان د اور نه پیدا شوی دی. (۴) او اور په اوبو سره وژل کېږي، (۵) ځکه چې کله په تاسو کې چاته قهر راشي نو هغه ته پکار دی چې اودس وکړي. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① الْغَضَبُ: قهر او غصه، ② يُطْفَأُ: مړکولې شي.

(۱) اخرجه ابوداود في السنن کتاب الأدب/باب ما يقال عند الغضب(رقم-۴۷۸۴) واحمد في المسند: ۴/۲۲۶

تسهیلات:

قوله: فَإِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ:

يخې اوبه استعمالولو سره غصه يخيږي: يخې اوبه استعمالولو سره غصه يخيږي ځکه چه غضب د وينې د ګرمانش اثر دې لهذا اوبه ځکل يا په سربانديې اچول يا د نور قسم استعمال هم دغه خاصيت دې ليکن د اسلام په نظرکښې يخوالې حاصلولو بهترين صورت دادې چه سړې دې اودس اوکړی او بيا دې دوه رکعته نفل اوکړی. د غصې په علاج کښې د تولو نه ښکلې طريقه اعوذبالله وئيل دی. که چرې په دې سره اونه شی نو بيا دې اودس اوکړی که په دې سره هم اونه شی نو بيا دې مونځ اوکړی. يو علاج ئې داهم دې چه حالت دې بدل کړی لکه څنګه چه په راتلونکی حديث کښې دی.

[۵۱۴] د غصې ختمولو يو نبوی علاج

۵۱۴- (¹)[۱۱] ① وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "② «إِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ قَائِمٌ فَلْيَجْلِسْ، ③ فَإِنْ ذَهَبَ عَنْهُ الْغَضَبُ وَإِلَّا فَلْيَضْطَجِعْ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او د حضرت ابوذر رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ② هر کله چې په تاسو کې چاته قهر راشي، او هغه وخت ولاړ وي نو سمدستي دي کيني ③ که قهر لاړ شی خو ډيرښه ګيني بيادي په اړخ پريوځي. (احمد، ترمذي)

حل اللغات: - ① فَلْيَضْطَجِعْ: په اړخ دې څملی.

(باق) [۵۱۵] د بدترين سړی بعضې علامتونه

۵۱۵- (²)[۱۲] ① وَعَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ عُمَيْسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ② " «بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَخَيَّلَ وَاخْتَالَ، ③ وَنَسِيَ الْكَبِيرَ الْمُتَعَالِ، ④ بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَجَبَّرَ وَاعْتَدَى، ⑤ وَنَسِيَ الْجَبَّارَ الْأَعْلَى،

ترجمه: ① او بي بي اسماء بنت عميس رضی الله عنها وايي، ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل ② چې خراب بنده هغه دی چې هغه خپل ځان دنورو نه ښه ګڼي او تکبر کوی، ③ او خداوند بزرګ وبرتريي هير کی [يعنی هغه دا هير کړه چې بزرګی اوبلندی اوبرتری صرف الله تعالی دپاره مخصوص ده يا دا يې هير کړه چې هغه په دنيا کې داحتياط اوتقوی لار پريښودو سره کومه خرابه لار اختيار کړی ده، په آخرت کی به ورته دهغه پوښتنه کيږي اوهلته به دالله تعالی عذاب تيرول وی]، ④ او خراب بنده هغه دی چې هغه په خلقو جبر او سرکشي وکړی، اوظلم اوفساد ريزی کی دحدنه واوړی، ⑤ او خداوند جبار اوقهار هير

¹) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الأدب/باب ما يقال عند الغضب(رقم-٤٧٨٢) واحمد فی المسند: ١٥٢/٤
²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٤٤٨)

کي چې دهغه قدرت اوعزت دتولو نه بلندی دی،

حل اللغات:- ① تَخَيَّلَ: ځان دنورو نه بنه گنړی، ② اخْتَالَ: تکبر کوی، ③ الْمُتَعَالِ: برتر، بزرگ، ④ تَجَبَّرَ: ظلم ئې اوکړو ⑤ اعْتَدَى: تجاوز ئې اوکړو، ⑥ سَهَى: هیر ئې کړو، غافله شو،

[۱] بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ سَهَى وَلَهَى، [۲] وَنَسِيَ الْمَقَابِرَ وَالْبِلَى، [۳] بِئْسَ الْعَبْدُ - عَبْدٌ عَتَى وَطَغَى، [۴] وَنَسِيَ الْمُبْتَدَأَ وَالْمُنْتَهَى، [۵] بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدُّنْيَا بِالدِّينِ، [۶] بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدِّينَ بِالشُّبُهَاتِ، [۷] بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ طَمَعٌ يَقُودُهُ، [۸] بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ هَوًى يُضِلُّهُ، [۹] بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ رَغَبٌ يُذِلُّهُ» [۱۰] "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ". وَقَالَا: لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ أَيْضًا: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] اوخراب بنده هغه دی چې ددین کارونه یې هیر کړه اوصرف دنیاداری کی مشغول شو، [۲] او مقبرو او خاورو سره د یوځای کیدونکي جسم کهنگي اوبو سیدگي (وروستیدل) یي هیر کړه، [یعني هغه د دې خبري نه څه عبرت وانه خستی چې د دې دنیا ځومره خلق په زرگونو منه خاورو لاندي دفن شو، او د هغوئ جسم د چنجو خوراك شو، یا مقبرې هیرول د مرگ هیرولو نه کنایه ده، یعنی هغه داهیر کړه چې یوه ورځ د مرگ پنجه به یي د مرئ راونیسي، او د هغه وخت د پاره به د مخکې نه همیشه همیشه ژوند د پاره تیاري کول دي] [۳] او خراب بنده هغه دی، چې هغه فتنه او فساد راپورته کی، او د حد نه یي تجاوز وکی [۴] او خپله ابتداء او انتهایي هیره کړه [یعني نه خویي دا یاد ا وساتل چې هغه د ځومره حقیر ځیز نه پیدا شوی دی او په ابتداء کې هغه ځومره عاجز او ناتوان وو، هغه ته خپل آنجام یاد شو چې اوس لاهغه ته څه مخې ته راتلونکی دی، او آخر د زمکي سره پیوند کیدل دي، او د فتنې او فساد پیداکولو او د جورو جفا ژوند اختیارولو په ځای د الله ﷻ اطاعت او عبادت او د مخلوق خدا خدمت کول یي هیر کړه] [۵] او خراب بنده هغه دی، چې د دین په ذریعه دنیا حاصله کړي [یعني دنیا حاصلولو د پاره دین وسیله جوړه کړي یا دا معنٰی ده، چې د بزرگانو په شان صورت او شکل اختیارولو سره او د دین جامه اغوستلو سره اهل دنیاته دهوکه ورکړي، چې د هغه معتقد او مداح شي، او د هغوئ نه مال او جاه حاصل کړي] [۶] خراب بنده هغه څوک دې خپل اودَ بل دین په قسماقسم شکونو اوشبهاتوسره خراب کړی او په حرام کړې شوو ځیزونو کښې داسې تاویلونه اوکړی په کوم سره چه دا معلومیږی چه دا ځیزونه حلال دی یعنی چه دین گډوډ پیش کړی. [۷] او خراب بنده هغه دی چې د مخلوق نه طمع او امید ساتي او د دې د پاره د دنیا دارو په دروازه چکر وهي، [۸] او خراب بنده هغه دی چې د خواهش غلام وی اوخواهش هغه گمراه کوی [۹] د حصول دنیا حرص او د کثرت مال وجاه هوس یي ذلیل او خوار کوي او د دین آبرو ریزي کوي، [۱۰] دا روایت ترمذي او بیهقي رحمهما الله په شعب الایمان کې نقل کړی دی، او دواړو ویلي دي، چې د دې حدیث اسناد قوي نه

دی او ترمذي دا هم ويلی دی، چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: -⑦لَهَى: مشغوله شو په لهولعب کښې، ⑧الْبِلَى: زړيدل، وروست کيدل. ⑨عَتَى: نافرمانی، فتنه اوفساد راپورته کړی، ⑩طَغَى: سرکشی او د حد نه تجاوز اوکړی. ⑪يَخْتِلُ: دهوکه ورکوی. ⑫طَمَعٌ: لالچ. ⑬يَقُودُهُ: راکاږی ئې، بوځی ئې. ⑭هَوًى: خواهش د نفس. ⑮رَغَبٌ: حرص، لالچ. ⑯يُذِلُّهُ: ذليل کوی ده لره.

د دين په ذريعې سره دنيا حاصلولو دوه مطلبونه:

تسهيلات:

قوله: بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَخَيَّلَ وَاخْتَالَ، وَنَسِيَ الْكَبِيرَ الْمُتَعَالِ:

تکبر کونکې انسان: ① هغه سړې چه خپل ځان دَ نورو خلقو نه غوره اوبهتر اوګڼړی او نور کمتر او سپك ګڼړی يعنی تکبر اوکړی. داسې سړې بد اوخراب دې ځکه چه هغه دَ الله تعالی صفت او کبريائی خپل ځان دَ پاره ثابت کړې ده. اوهغه دا خبره هيره کړې ده چه هرقسم لوئی عظمت او کبريائی هم دَ الله تعالی صفت دې.

قوله: بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ تَجَبَّرَ وَاعْتَدَى، وَنَسِيَ الْجَبَّارَ الْأَعْلَى:

ظالم انسان: ② کوم سړې چه دَ کبر اوغرور په وجه په نورو باندې ظلم اوزياتې کوی اوخپل رب هيرکړی چه هغه زبردست غالب او هرلحاظ سره اوچت دې.

قوله: بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ سَهَى وَلَهَى، وَنَسِيَ الْمَقَابِرَ وَالْبِلَى:

په دنيا مئين انسان: ③ هغه سړې چه دَ دنيا په کارونو کښې دومره مشغول شی چه دَ الله تعالی اطاعت او دينی کارونه هيرکړی او په لوبو توقو کښې مشغول شی قبر اوپه هغې کښې دَ هډوکو سخاکيدل اوفناکيدل هيرکړی يعنی دَ مرګ تياری اونه کړی.

قوله: بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ عَتَى وَطَغَى، وَنَسِيَ الْمُبْتَدَأَ وَالْمُنْتَهَى:

فسادی انسان: ④ هغه سرکش چه دَ شرافت حدود نه واوړی او په زمکه کښې فتنه اوفسادخورکړی اوخپله ابتداء او انتهاء هيره کړی يعنی چه دې خبرې ته نه ګوری چه دَهغه پيدائش په کومه طريقه شوې دې دَ يوناپاکه اوګنده اوبونه او انتهاء دا چه آخربه دې د زمکې لاندې قبرته ځی اوخاورې کيږی به. معنی دا چه دَ چا داسې شروع اوخاتمه وی نوهغه له خود الله تعالی جل جلاله اطاعت ضرور کول پکاردی. دَ الله تعالی دَ اطاعت نه مخ اړول په هيڅ شان هغه سره مناسب نه دی.

قوله: بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدُّنْيَا بِالدِّينِ،

په دين سره د دنيا ګټلو په مفهوم کښې دوه اقوال: ① مطلب دې چې صالحان او زاهدان اودَ بزرګانو په جامه کښې دَ ديندارئی شکل سره خلقوته دهوکه ورکړی اومال اوګټې

اوبيائى اوخورى خـتـل هم دَ دغه قسم دهوكي نوم دي.

④ مطلب دا دي چې دَ ديـن پـه ذريعـه دنيا اوګټي اوديـن دَدنيا دَ ګټلو وسيله او ذريعه جوړه کړي

قوله: بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ يَخْتِلُ الدِّينَ بِالشُّبَهَاتِ،

په دين کښې فساد پيدا کونکې انسان: دلته يختل دَفساد پـه معنى کښې دي يعنى پـه دين اسلام کښې شکوك اوشبهات اچولوسره په دې کښې فساد پيدا کوی اودغه شان مال ګټي.

قوله: بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ طَمَعٌ يَقُودُهُ،

لالچى انسان: ملاعلى قارى رحمه الله فرمائي که دَعبد اضافت دَ طمع طرف تـه اوکړې شي نودَدې جملې ترجمه به آسانه شي يعنى دَ لالچ اوطمع بنده دې.

دَ جملې ترکيب: دَاضافت په صورت کښې يقوده جملـه بـه دَ طمع صـفت شي اومطلب به داشي چه دادَدې قسم طمع اولالـچ دې چه چرتـه دغـه لالچي سړې راښکلوسره غواړي بوځي به ئې.

قوله: بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ هَوًى يُضِلُّهُ،

دخواهش بنده: دَ خواهش بنده: هوى "خواهش دَنفس تـه وائي دَ اضافت پـه صورت کښې دَعبد اضـافت هـوى طـرف دې اودَ "يـضله هـوي" صفت دې اي "عَبْدُ طَمَعٍ وَعَبْدُ هَوًى" دواړو جملوکښې مبالغه ده چه دا بنده دَ سختې طمع او سخت خواهش دَ نفس دَ وجې نه لکه چه پخپـله مجموعـه دَ طمـع اومجموعـه دَ هـوى جوړشو. مطلب دا چـه طمـع او لالـچ دا سـړې دَدنيادارو طرف ته راکاږي اودَ هغوی په دروازوکښې ئې تاووی راتاووي.

قوله: بِئْسَ الْعَبْدُ عَبْدٌ رَغَبٌ يُذِلُّهُ:

دَ دنيا عاشق: هغه سړې هم ډير خراب وى چه دَ مال اودولت دَ کثرت لالـچ هرقسم ذلت او رسـوائي سـره مـخ کـړى دَ دنيـادارو پـه دروازو بانـدې هغـه ګرځـوى دې دَ پـاره چـه مـال اودلوت دَ زيات نه زيات حاصل کړي.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٥٨٦] غصه څکل دَ الله تعالى په نزد ډير افضل عمل دې

٥٨٦-(١)(١٣) ① عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "②«مَا تَجَرَّعَ عَبْدٌ أَفْضَلَ عِنْدَ اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ مِنْ جُرْعَةِ غَيْظٍ ③ يَكْظِمُهَا ابْتِغَاءَ وَجْهِ اللّٰهِ تَعَالَى»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

[1] اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الزهد/باب الحلم (رقم-٤١٨٩) واحمد فى المسند:١٢٨/٢

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر رضی الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [۲] بنده د څه شي داسې غرپ نه تیروي چې د الله په نز د قهر د غرپ نه ښه وي، [۳] چې هغه سرې يې د الله تعالیٰ د خوشنودي د پاره تیرکړي. (احمد)

حل اللغات: - ① مَاتَجَرَّعَ: په غرپ نه تیروی، ② جُرْعَةٍ: دَ اوبو کوټ ته جرعة وائی. ③ يَكْظِمُهَا: څکی ئې، تیروی ئې.

تسهیلات:

قوله: مِنْ جُرْعَةِ غَيْظٍ:

د غیظ معنی: غیظ غصې اوغضب تـه وائـی. دَ قـرآن پـاك آيت دي ﴿وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ﴾ [سورت آل عمران: ۱۳۴] سینې چه دَخلې پورې دَغصې نه ډکه وی او سرې صبر اوکړی نو دې ته کظم وائی.

د اقا او غلام يوه قصه: علماؤ يوه قصه بيان کړې ده چه دَ يو غلام نه څه کار خراب شو نو آقا ډير غصه شو. غلام دا آيت اووئيلو ﴿وَالْكٰظِمِيْنَ الْغَيْظَ﴾ آقا جواب ورکړو کظمت غلام اووئيل ﴿وَالْعَافِيْنَ عَنِ النَّاسِ﴾ نو آقا اوئيل قد عفوتك غلام اووئيل ﴿وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ﴾ آقا اووئيل ماته آزاد کړې دا دَ صحابه کرامو دَ دور واقعه ده.

دعبدالقادر جیلانی او دهغه دوينځې قصه: وئیلی شی چه دَ شیخ عبد القادر جیلانی رحمه الله دَ پاره يو سړی دَ هدیې په توګه دَ چين يوه ډير ښکلې آئينه راوړلې وه. دَ شيخ عبد القادر جيلانی رحمه الله وينځې هغه صفا کوله چه ناڅاپی آئينه پريوتله اوماته شوه. هغه وينځه ډيره اوويريدله او راتلوسره ئې دَ فارسئ يوه مصرعه اووئيله: از قضا آئينهٔ چيني شکست

يعنی تقدير الهی دَوجې نه دَ چين نه راوړلې شوې آئينه ماته شوه. شيخ صاحب فوری دويمه مصرعه جوړه کړه او جواب ئې ورکړو: خوب شد اسباب خود بيني شکست يعنی ډير ښه اوشو چه دَ ځان دکتلو او دَ ځان دَخوښولو اسباب مات شو

[۵۰۷] صبر او عفوه کولکی خلق دَ آفتونو نه محفوظ وی

۵۰۷-(۱)[۱۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ﴾ [المؤمنون: ۹۶] قَالَ: [۲] الصَّبْرُ عِنْدَ الْغَضَبِ [۳] وَالْعَفْوُ عِنْدَ الْإِسَاءَةِ [۴] فَإِذَا فَعَلُوا عَصَمَهُمُ اللّٰهُ [۵] وَخَضَعَ لَهُمْ عَدُوُّهُمْ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ قَرِيبٌ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ تَعْلِيقًا.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د الله تعالیٰ د دې ارشاد (اِدفع بالّتي هي اَحسَن) نه

۱) اخرجه البخاری فی کتاب تفسير القرآن/باب سورة حم السجدة/ وقال طاوس: عن ابن عباس. {ائتيا طوعًا او كرهًا} [فصلت: ۱۱]: أعطيا. {قالتا أتينا طائعين} [فصلت: ۱۱]

بدي د نيكي په ذريعه دفع كړه، په تفسير كې فرمايي، [۲] چې د قهر په وخت صبر كول [۳] او د بدی په وخت عفوه او درګزر كول، د دې ارشاد الهي مراد دی. [۴] هر كله چې خلق صبر او عفو كوي، نو الله ﷻ هغوئ د نفس او د مخلوقات د آفتونو نه محفوظ كوي، [۵] او د هغوئ دښمن داسې پست كوي لكه چې هغه دښمن نه وي، بلكې نزدې دوست وي، دا روايت بخاري رحمه الله بطريق تعليق نقل كړی دی.

حل اللغات:- ① الْإِسَاءَةِ: بدی، ② خَضَعَ: پست كوی، ذليل كوی، ③ وَلِيٌّ: دوست، ④ حَمِيمٌ: ګرم دوست، نزدې دوست.

تسهيلات:

قوله: ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ:

د احسن نه مراد: په آيت كريمه كښې احسن نه مراد صبر كول دی نو صبر كول د بدله اخستلو نه ښه دې، ددې وجهې نه ئې دې ته احسن فرمائيلي دې او د خلقو بد معاف كول د سزا وركولو نه افضل دی نو ځكه ئې دې ته هم احسن اوفرمائيل دا خبره دې واضح وی چه په ذاتی معاملاتو كښې معافی كولو ته احسن اووئيلي شو ملكی، قومی دينی معاملاتو كښې معافی كول په دې كښې داخل نه دی لهذا حديث الباب دې حديث پاك سره معارض نه دې كوم كښې چه ذكر دی چه نبی كريم ﷺ غل ته معافی نه وه كړې. حضرت ابن عباس رضي الله عنه ددې آيت په تفسير كښې فرمائی چه بد په خه ذريعه سره دفع كولو نه مراد دا دې چه كله غصه راشی نو صبر وتحمل اختيارول او د چا طرف نه چه څه تكليف دراورسيږي نو عفوودرګزر كول.

[۵۰۸] غصه ايمان خرابوی

۵۰۸-()[۱۵] [۱] وَعَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«إِنَّ الْغَضَبَ لَيُفْسِدُ الْإِيمَانَ كَمَا يُفْسِدُ الصَّبِرُ الْعَسَلَ»".

ترجمه: [۱] او حضرت بهز بن حكيم د خپل پلار نه او هغه د بهز د نيكه حضرت معاويه بن حيدة القشيري رحمه الله نه روايت كوي، [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل، قهر ايمان داسې خرابوي لكه څرنګه چې مرغونی عسل (شهد) خرابوي.

حل اللغات:- ① الصَّبِرُ: ايلوا، مرغونې، يوقسم بوټې دې.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ الْغَضَبَ لَيُفْسِدُ الْإِيمَانَ كَمَا يُفْسِدُ الصَّبِرُ الْعَسَلَ:

ايمان ته په نقصان رسولو كښې د غصې كردار: صبر دَ يوې شيرې نوم دې كوم ته چه ايلوا

[۱] اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۸۲۹۴

وائی سخته ترخه وی ددې په یو څو څاخکو سره شات خرابیږی. دلته د ایمان د فساد نه د کمال ایمان فساد مراد دې او داخطره هم ده چه مکمل ایمان لا ړ شی بعضې وخت سړی د پنځو مینتو د بې صبرئی او غصه دوجې نه قتل په شان لوئی جرم کولو سره ټول عمر په جیل کښې ذلتونه برداشت کوی او د آخرت عذاب ئی لا ځانله دې

[۵۱۱۹] د عاجزئ فضیلت او تکبر مذمت

۵۱۱۹ - ()[۱۲] [۱] «وَعَنْ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ: [۲] يَا أَيُّهَا النَّاسُ! تَوَاضَعُوا فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "[۳] مَنْ تَوَاضَعَ لِلَّهِ رَفَعَهُ اللَّهُ، [۴] فَهُوَ فِي نَفْسِهِ صَغِيرٌ، وَفِي أَعْيُنِ النَّاسِ عَظِيمٌ، [۵] وَمَنْ تَكَبَّرَ وَضَعَهُ اللَّهُ، [۶] فَهُوَ فِي أَعْيُنِ النَّاسِ صَغِيرٌ، وَفِي نَفْسِهِ كَبِيرٌ، [۷] حَتَّى لَهُوَ أَهْوَنُ عَلَيْهِمْ مِنْ كَلْبٍ أَوْ خِنْزِيرٍ»".

ترجمه: [۱] او د حضرت عمر نه روایت دی چې یوه ورځ هغوئ په منبر باندې په ودریدو سره خطبه وفرمایل، [۲] نو وې وئیل خلقو! تواضع او عاجزي اختیار کړئ. ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلی دی، [۳] کوم سړی چې د الله ﷻ رضامندي او خوشنودي حاصلولو د پاره خلقو سره تواضع او عاجزي اختیار وي، نو الله ﷻ د هغه مرتبه پورته کوي. [۴] هغه خپل په نظر کې خو حقیر وي (ځکه چې هغه خپل نفس ته د ذلت او حقارت په نظر سره ګوري لیکن د خلقو په نظر کې بلند مرتبه وي) [۵] او کوم سړی چې د خلقو سره تکبر او غرور کوي. نو الله ﷻ د هغه مرتبه خکته کوي، [۶] نو هغه د خلقو په نظر کې خو حقیر وي. [۷] لیکن په خپل نظر کې ځان بلند مرتبې والاګڼي، تردې چې هغه د خلقو نظر کې د سپي یا خنزیر نه هم بد تر شي

تسهیلات:

قوله: مَنْ تَوَاضَعَ لِلَّهِ رَفَعَهُ اللَّهُ:

عاجزی سبب د عزت: کوم کس خپل ځان د الله رضا د پاره مسلمانانو سره نرم کړی او د مسلمانانو په مخکې په تواضع سره پیش شی نو الله تعالی د خلقو په زړه کښې هغه عزت زیاتوی هم په دې وجه نبی کریم ﷺ یو دعا تعلیم فرمائیلې ده "اللهم اجعلنی فی نفسی صغیرا وفی اعین الناس کبیرا"

[۵۱۲۰] د طاقت باوجود د معاف کولو فضیلت

۵۱۲۰ - ()[۱۷] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «قَالَ مُوسَى بْنُ عِمْرَانَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: يَا رَبِّ! [۳] مَنْ أَعَزُّ عِبَادِكَ عِنْدَكَ؟ [۴] قَالَ: مَنْ إِذَا قَدَرَ غَفَرَ»".

---

[۱] اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۸۱۴۰

[۲] اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۸۳۲۷

ترجمه : [۱] او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي، چی رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] حضرت موسى ابن عمران علیه السلام عرض وکړو، اې خما پروردګاره! [۳] ستا په بنده ګانو کې کوم بنده تاته زيات عزيز دی، [۴] پروردګار ورته وفرمايل، هغه بنده چې د قادر کيدو باوجود درګذراو معافي وکړي.

حل اللغات :- ① قَدَرَ: قادر وی، ② غَفَرَ: درګذر او معافی اوکړی

[۵۰۳] دغصې قابو کولو فضيلت

۵۰۳-()[۱۸] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[۲] «مَنْ خَزَنَ لِسَانَهُ سَتَرَ اللّٰهُ عَوْرَتَهُ، [۳] وَمَنْ كَفَّ غَضَبَهُ كَفَّ اللّٰهُ عَنْهُ عَذَابَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، [۴] وَمَنِ اعْتَذَرَ إِلَى اللّٰهِ قَبِلَ اللّٰهُ عُذْرَهُ» ".

ترجمه : [۱] او د حضرت انس رضی الله عنه نه روايت دی، چی رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] کوم سړی چې خپله ژبه بنده لري، نو الله ﷻ د هغه عيبونه پټوي (يعني کوم سړی چې د خلقو عيبونه او خرابي پټوي او د بيانولو نه يې خپله ژبه بنده ساتي، کوم چې د هغه په علم کې وي، نو الله ﷻ به د هغه عيوب او ګناهونه د خلقو د نظر نه يا د اعمال ليکونکي فرشتو نه يا دواړو نه پټوي) [۳] او کوم سړی چې خپله غصه ضبط کوي (او بدل اخستو نه منع کيږي) نو الله ﷻ به يې د قيامت په ورځ د خپل عذاب نه بچ کړي، [۴] او کوم سړی چې (خپلي ګناه او تقصير باندې نادم کيدو سره) د الله ﷻ نه عفوه غواړي نو الله ﷻ د هغه عفوه خواهي قبلوي.

حل اللغات :- ① خَزَنَ: بنده ساتی، ② كَفَّ: کنټرول کړی، بنده ئې اوساتی.

تسهيلات:

قوله: مَنْ خَزَنَ لِسَانَهُ سَتَرَ اللّٰهُ عَوْرَتَهُ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① کوم کس چه د خپلې ژبې حفاظت کوی د "من صمت نجا" پيش نظر اکثر خاموش وی نو ددې عيبونه به پټ وی ځکه چه عيبونه هم په ژبه ظاهريږی.

② کوم کس چه په خپلې ژبې د خلقو عيب نه بيانوی بلکه د خلقو په عيبونو باندې پرده اچوی نو الله تعالى به د دغه کس عيبونه په دنيا او آخرت کښې د خلقو د نظرونو نه يا د اعمال ليکونکی فرښتو نه به پټ کړی.

قوله: وَمَنْ كَفَّ غَضَبَهُ كَفَّ اللّٰهُ عَنْهُ عَذَابَهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د مجرم د عذر قبلولو فائده: کوم کس چه خپل ذاتی معاملاتو کښې د يو مجرم عذر قبول

[۱]) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۸۳۱۱

کړي او معاف ئې کړي نو الله تعالی به د معافی کونکی کس ګناهونه معاف کړي او توبه به ئې قبلوله کړي.

[٥٠٣٢] درې د نجات او درې د هلاکت څیزونه

٥٠٣٢-()[١٩] [١]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[٢]«ثَلَاثٌ مُنْجِيَاتٌ، وَثَلَاثٌ مُهْلِكَاتٌ؛ [٣]فَأَمَّا الْمُنْجِيَاتُ: فَتَقْوَى اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ، [٤]وَالْقَوْلُ بِالْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالسُّخْطِ، [٥]وَالْقَصْدُ فِي الْغِنَى وَالْفَقْرِ. [٦]وَأَمَّا الْمُهْلِكَاتُ: فَهَوًى مُتَّبَعٌ، وَشُحٌّ مُطَاعٌ، [٧]وَإِعْجَابُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهِ، وَهِيَ أَشَدُّهُنَّ»". رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الْخَمْسَةَ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: [١]او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٢]درې څیزونه نجات ورکونکی دی، او درې څیزونه په آخرت کې هلاك کونکی دی. [٣]کوم څیزونه چې نجات ورکونکی دی، په هغه کې یو خو ظاهر او باطن کې د الله نه ویریدل دي (یعنی جلوت او خلوت په هرحالت کې او د هرحرکت او عمل په وخت د الله خوف په ده باندې غالب وي، یا داچې دبنده ظاهرهم د خوف خدا د احساس مظهر وي، او د هغه باطن هم خوف الله نه معمور وي)[٤] دویم شی خوښې او ناخوښې په هرحالت کې حقه خبره کول دي، [٥]او دریم څیز دولتمندي او فقیري دواړو حالتونو کې میانه روی اختیارول دي. [٦]او کوم څیزونه چې هلاکونکی دي، په هغه کې یوخو خواهشِ نفس دی. چې د هغه پیروي وشي، دویم شی حرص او بخل دی چې انسان د هغه غلام جوړ شي، [٧]او دریم څیز د سړي خپل نفس باندې غرور کول دي، یعنی د یو سړي خپل ځان نیك او ښه ګڼل او د خپل اوصافو خپله مدح کول، چې د هغه نه کبر پیدا کېږي، او کبر نه غرور او تکبر وجود کې راځي او دا دریم څیز دي ټولو نه بدتر خصلت دی، مذکوره بالا پنځه روایتونه بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې نقل کړي دی.

حل اللغات:- ①مُنْجِيَاتٌ: نجات او خلاصې ورکونکی څیزونه، ②مُهْلِكَاتٌ: هلاکونکی څیزونه. ③السُّخْطِ: ناخوښی، خفګان. ④الْغِنَى: مالداری، ⑤هَوًى: خواهش دنفس، ⑥مُتَّبَعٌ: چه دهغې اتباع کولې شی. هغې وړپسې روان وی. ⑦شُحٌّ: بخل، شومتیا، ⑧مُطَاعٌ: چه دهغې پسې روان وی، ⑨إِعْجَابٌ: عُجب کول، ځان خوښی کول.

تسهیلات:

دبعضې مشکلو جملو وضاحت:

①فَتَقْوَى اللهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ: یعنی ظاهراً او باطنًا خپله معامله خپل رب سره صفا ساتل تقویٰ ده.

---

١) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ٧٢٥٢

④وَالْقَوْلُ بِالْحَقِّ فِي الرِّضَا وَالسُّخْطِ: يعني چه حالات څنګه هم وي واقعات څنګه چه هم وي که څوك خوشحاليږي او که څوك خفه کيږي په ژبه سره حق خبره کول او په حق باندې اودريدل سبب دَ خلاصي دې.

③وَالْقَصْدُ فِي الْغِنَى وَالْفَقْرِ: يعني که سړې مالدار وي او که غريب وي چه څه هم وي مګر هغه ميانه روی نه پريږدی په هر حالت کښې دَ کمی زياتی نه ځان پاك ساتی اودَ اسراف تبذير اقتار اوکنجوسئی نه لرې اوسيږی دا خبره دَ خلاصی سبب دې.

④وَأَمَّا الْمُهْلِكَاتُ: فَهَوًى مُتَّبَعٌ: يعني هروخت دَ خپلو خواهشاتو پوره کولو پسې لګيدلې وی اوهم دَهغې پيروی کوی بس خواهش هغه خپل معبود جوړکړې دې.دکوم طرف نه چه کومه اشاره ملاويږی په هغې باندې دَ عمل کولودَپاره ورټوپ کوی.

⑤وَشُحٌّ مُطَاعٌ: يعني دَبخل اوکنجوسئی غلام جوړشوې دې په کوم کښې چه ډير ممکن دی چه په يو وخت کښې دا سړې دَ زکوة او واجبی حق نه انکاراوکړی اوهلاك شی

⑥وَإِعْجَابُ الْمَرْءِ بِنَفْسِهِ،وَهِيَ أَشَدُّهُنَّ: يعني ځان خوښی کبر اوعجب ځان ته کتل اوخپل ځان په خپله ستائيل داداسې بيماری ده چه په انسان کښې دَ داخليدو نه پس دَوتلونوم نه اخلی.تردې چه هغه تباه کوی په دې وجه دادَ ټولو نه سخت اوخودلې شوه.

[۲۱]بَابُ الظُّلمِ

دَظلم بيان

خلاصة الباب
فيه عشرة أحاديث مشتملة على خمس مسائل:
①قباحة الظلم: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۸، ۱۰، ۱۱، ۱۴-
②النهي عن الظلم: ۲-
③ بيان أعظم أنواع الظلم: ۹-
④ الاتقاء عن دعوة المظلوم: ۱۲-
⑤ منع إعانة الظالم: ۱۳-

قوله:الظُّلمِ:

د ظلم تعريف او مفهوم: هووضع شئ في غيرموضعه"يعني يو څيزدَهغې دَاصل مقام په ځائی په بل مقام کښې دکيخودو نوم ظلم دې.دَ ظلم دَدې تعريف دا مفهوم هرهغه څيزته شامل دې په کوم کښې چه تعدی اوتجاوز وی.

د شریعت په نظر کښې ظلم: دَ شریعت په رنړا کښې دَ ظلم تعریف کښې به دا خیال ساتل وی چه شرعی اصطلاحی ظلم هغه دې په کوم کښې چه دَشرعی امورو دَحدودو نه تجاوز کړې شوې وی.

دعرف په نظر کښې ظلم: په عرف عام کښې ظلم دَخلقو په هغه حقوقو کښې تجاوز او زیاتی ته وائی دکوم تعلق چه دَخلقو مال اوځان اوعزت ناموس سره وی یعنی دَ خلقو ځان مال عزت ناموس کښې تجاوز اوزیاتې کولو نوم ظلم دې.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۰۳۳] ظلم به دَقیامت په ورځ دَتیارو په شکل کښې وی

۵۰۳۳-( )[۱] ۱ عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-أَنَّ النَّبِيَّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: "۲«اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ د حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ ظلم کول به د قیامت په ورځ د تیارو باعث وي. (بخاري، مسلم)

تسهیلات:

قوله: اَلظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

د قیامت په ورځ د ظلم نقصانات: یعنی دَ ظلم دَ وجې نه به په داسې تیارو کښې راګیر وی چه دَخلقو وارو طرفونه به ئې راګیر کړې وی اودې ظالم سره به هیڅ رنړا نه وی دَ ظلم دا تیارې به یو نه بلکه په مختلفو شکلونو کښې وی اودا ظالم به په هغې کښې چرته ورک ګرځي خو مسلمانانو سره به دَایمان نور وی دکوم په امداد چه به هغوی په آسانتیا سره دَ یوځائی نه بل ځائی ته ځی. دَدې حدیث نه معلومیږی چه دَ ظلم دَجرم په ضمن کښې نورهم دَ ډیرو جرمونو هم ارتکاب کیږی په دې وجه به په قیامت کښې یو نه بلکه ډیرې تیارې جوړیږی.

[۵۰۳۴] الله تعالی ظالم ته اول مهلت ورکوی بیا ئې رانیسی

۵۰۳۴-( )[۲] ۱ وَعَنْ أَبِي مُوسَى-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "۲«إِنَّ اللّٰهَ لَيُمْلِي لِلظَّالِمِ حَتَّى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ" ۳ ثُمَّ قَرَأَ: ﴿وَكَذَٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرَىٰ وَهِيَ ظَالِمَةٌ﴾ [هود: ۱۰۲]

[1]) اخرجه البخاری فی کتاب الإجارة/باب: الظلم ظلمات یوم القیامة (رقم-۲۴۴۷)ومسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب تحریم الظلم (رقم-۵۷ - (۲۵۷۹) والترمذی فی کتاب البر والصلة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الظلم (رقم-۲۰۳۰) واحمد فی المسند: ۱۳۷/۲

[2]) اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب قوله: {وكذلك أخذ ربك إذا أخذ القرى وهي ظالمة إن أخذه أليم شديد} [هود: ۱۰۲] (رقم-۴۶۸۶) ومسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب تحریم الظلم (رقم-۶۱ - (۲۵۸۳) کتاب الفتن/باب العقوبات (رقم-۴۰۱۸)

»الآيَةَ. مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوموسى رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [٢] بلاشبه الله تعالى ظالم ته مهلت ورکوي (يعني په دنيا کې د هغه عمر ډېره وي چې هغه د خپل ظلم پيمانه ډکه کړي، او په آخرت کې سخت عذاب کې اونخلي) تردې چې هغه را ونيسي چې بيا پرېږدي يې نه (او هغه ظالم به د هغه د عذاب نه بچ کېږي نه) [٣] د دې نه پس حضور ﷺ د دليل په طور دا آيت اووئيلو (وَكَذٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرٰى وَهِيَ ظَالِمَةٌ) او د دې آيت آخري الفاظ دادي: (إِنَّ أَخْذَهُ أَلِيمٌ شَدِيدٌ) (بخاري، مسلم) وَكَذٰلِكَ، تا أَلِيمٌ شَدِيدٌ ترجمه داده. اوهم دارنګه دي نيول درب ستا چې کله ظالم کلي والا نيسي، بيشکه د هغه نيول دردناک او سخت دی.

حل اللغات:- ① يُمْلِي: مهلت ورکوی، ② لَمْ يُفْلِتْهُ: نه ئې پرېږدی.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ اللّٰهَ لَيُمْلِي لِلظَّالِمِ حَتّٰى إِذَا أَخَذَهُ لَمْ يُفْلِتْهُ:

دالله تعالى ظالم ته مهلت ورکول: په حديث الباب کښې مظلوم خلقو ته تسلی ورکړې شوې ده چه په دوې باندې کوم ظلمونه کيږی او دوې پرې صبر او استقامت اختيار کړی او هغه ورځې انتظار دې وکړی کله چه به د قانون قدرت مضبوط لاسونه د ظالم په څټ باندې وی او هغه ته به د ظلم سخته سزا ورکړې شی او دې ظالمانو ته سخت وعيد دې چه دوې دې د ډهيل په وجه نه مغروره کيږی الله تعالى به ددوې سخته مواخذه اوکړی او دوی به د خپل ظلم سزا اوخوری.

قوله: وَكَذٰلِكَ أَخْذُ رَبِّكَ إِذَا أَخَذَ الْقُرٰى:

د قرى نه مراد: آيت کريمه کښې "قرى" نه مراد د کفارو هغه کلي دې چه ددې اوسيدونکو ته اول ډهيل ورکړې شو بيا اچانک په عذاب کښې ګير کړې شو او هلاک کړې شو.

[٥٠٣٥] د هلاک شوو قومونو په کنډراتو د تيريدو په وخت کې ژړل

٥٠٣٥-(١)[٣] [١] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - [٢] «أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لَمَّا مَرَّ بِالْحِجْرِ [٣] قَالَ: "لَا تَدْخُلُوا مَسَاكِنَ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَنْفُسَهُمْ [٤] إِلَّا أَنْ تَكُونُوا بَاكِينَ، أَنْ يُصِيبَكُمْ مَا أَصَابَهُمْ [٥]" ثُمَّ قَنَّعَ رَأْسَهُ وَأَسْرَعَ السَّيْرَ حَتّٰى اجْتَازَ الْوَادِيَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[١] اخرجه البخارى فى كتاب المغازى/باب نزول النبى صلى الله عليه وسلم الحجر(رقم-٤٤١٩) ومسلم فى كتاب الزهد والرقائق/باب لا تدخلوا مساكن الذين ظلموا أنفسهم. إلا أن تكونوا باكين (رقم-٣٩ - (٢٩٨٠) واحمد فى المسند: ٦٦/٢

ترجمه : [۱] او د حضرت ابن عمر رضی الله عنه نه روایت دی ، [۲] کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په مقام حجر باندې تیریدی [۳] نو صحابه رضی الله عنهم ته یې وفرمایل تاسو د دې خلقو مکانات کې مه داخلیږئ، (چې کفر اختیارولو سره او د الله رالیږلي پیغمبر دروغجن ګڼلو سره) خپله ځان ظلم کړی دی، [۴] خو داچې تاسو ژړیدونکې یې (یعني که تاسو د دې کنډراتو صورت کې د دې بدنصیب قوم المناك انجام لیدو سره او د دې خلقو بدعملي یادولو سره عبرت حاصلول غواړئ نو داخل لیدی شی او تاسو دې ځای نه په غفلت او لاپروایي سره مه تیریږئ) داسې نه چې په تاسو هم هغه مصیبت نازل شي ، کوم چې په هغوئ نازل شوی وو خکه چې داسې ځایونو باندې غفلت او بې پروایي سره تیریدل او عبرت نه حاصلول د زړه د سخت والي او د خوف خدا د نشت والي (فقدان) علامه ده، او داشی د عذاب الهي د نازلیدو باعث جوړیدی شي، یا دا مراد دی، چې تاسو دلته د الله نه خوف وکړئ او عبرت ونیسئ، داسې نه چې تاسو نه هم هغه اعمال صادریدل شروع شي، کوم چې د هغه قوم طریقه وه، او بیا تاسو ته هم سزا خوړل راخي، [۵] د دې نه پس حضور صلی الله علیه وسلم خادر سره خپل سرمبارك پټ کړو، او په تیزی د هغه علاقې نه تیر شو (بخاري ، مسلم)

حل اللغات :- ① اَلْحِجْر: د قوم ثمود علاقې، مقام حِجر، وادی القری ② بَاكِيْنَ: ژړا کونکی. ③ قَنَّعَ پټ ئې کړو . ④ اَجَازَ: تیرشو ،واوړیدل.

تسهیلات:

د حدیث پس منظر :

قوله : أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَمَّا مَرَّ بِالْحِجْرِ: حضورپاك په ۹ھ کښې د جهاد په غرض سره د رومیانو د مقابلې د پاره د تبوك طرف ته روان شوي وو. حضورپاك سره د صحابه کرامو ۳۰ زره نفوس قدسیه باندې مشتمل لښکرجرار وو. په لاره کښې د هغوی تیریدل د قوم ثمود په هغه علاقو باندې اوشو کوم ځائی چه په قوم ثمود باندې یو خطرناك عذاب راغلي وو.

قوله : اَلْحِجْرُ: هم د هغه ځائی نوم دې چرته چه په قوم ثمود باندې عذاب نازل شوي وو دا یو تاریخي وادي ده کومې ته چه وادی القری هم وائی حجر د تبوك نه تقریبًا خلور سوا میله د مدینې طرف ته واقع دې په دې علاقو کښې هغه کانړې هم دې د کوم نه چه د صالح علیه السلام اوښه راوتلې وه د غه ځائی ته فج الناقة وائی او پوره علاقې ته مدائن صالح هم وائی د غزوه تبوك په موقع باندې حضورپاك هم په دغه لارتلې وو حضورپاك د قوم ثمود په علاقو کښې د اوبو څکلو نه منع کړې وه بلکه هر یو څیز کښې ئی د استعمال نه منع کړې وه نوچاچه په دغه اوبو سره اوړه اخلې وو حضورپاك د هغه اوړو د استعمال نه هغوی منع کړې وو بلکه حکم ئی ورکړې وو چه په اوښانو باندې ئی اوخورئ حضورپاك

صحابه کرامو ته اوفرمائیل په دې علاقه کښې دَ عذاب اثرات اوس هم دی په دې وجه په ژړا ژړا زر زر دَدې علاقونه تیرشئ.
حضورپاك پخپله هم په سربانده څادر اچولې په ژړا سره تیر شو.دَدې نه معلومه شوه چه چرته دَ الله تعالی عذاب راغی دَهغې اثرات دَ صدو پورې باقی وی.دَ ثمود هلاکت څو زره کاله پخوانې وو مګر اثرات ئی دغه وخته پورې هم وو.نن صبا چه په پاکستان کښې ۸اکتوبر ۲۰۰۵ء کښې یوه تباهی راوړونکې زلزله راغلې ده هغه هم دَالله تعالی دَعذاب نه څوك اویستلې نه شی داهم دَالله تعالی عذاب دې.دکوم اثرات چه په علاقو او انسانانو باندې بلکه دَهغوی په بدنونو باندې هم دی.په چاباندې چه په دغه زلزله کښې زخم لګیدلې دې اوس دَهغوی دَپاره دَ ا جتماعی توبه او استغفار ضرورت دې.دَدې عذاب دَ وجې نه زمونږ مسلمانانوله پکاردی چه سحرماښام یا هفته کښې اجتماعی دعاسره اجتماعی توبه اواستغفار کوی اودګناهونونه دَ این جی اوز اودَهغوی دَ امدادنه ځان اوساتی

[۵۱۲۶] دَظالم نه به دَقیامت په ورځ دَظلم بدله څنګه اخستې شی؟

۵۱۲۶-()[۳] [۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]«مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلِمَةٌ لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ أَوْ شَيْءٍ [۳]فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ لَا يَكُونَ دِينَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ، [۴]إِنْ كَانَ لَهُ عَمَلٌ صَالِحٌ أُخِذَ مِنْهُ بِقَدْرِ مَظْلِمَتِهِ، [۵]وَإِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَاتٌ أُخِذَ مِنْ سَيِّئَاتِ صَاحِبِهِ فَحُمِلَ عَلَيْهِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

توجمه : [۱]و حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل ، [۲]په کوم سړی چې د خپل یو مسلمان ورور څه حق وي ، او هغه حق که (د غیبت کولو یا روحاني او جسماني ایذاء رساني وغیره په صورة کې) د ابرو ریزي وي یا د څه بل شی متعلق وي (لکه څه مالي مطالبه او معامله یاناحق خون وغیره) [۳]نو هغه ته پکار دی چې هغه حق ادا کړی، نن ورځ (یعني په دې دنیا کې) په معاف کړي د دې نه مخکې چې هغه ورځ راشي (یعني د قیامت ورځ) چې په هغه کې به هغه نه درهم لري او نه دینار (چې د هغه حق د بدلې په طور ورکول شي) [۴]که هغه خپل حق باندې معاف شو، نو ښه ده، ګینې بیابه د ظالم اعمال نامه کې چې کومې نیکې وي، هغه نه به د هغه د ظلم برابر یا دا واجب حق په قدر نیکې واخستل شي، او مظلوم یاحقدار ته به ورکول شي [۵]او که هغه هیڅ نیکي نه لري، نو په دې صورت کې د هغه مظلوم یاحقدار ګناهونو نه به د هغه د حق په قدر ګناه اخستو سره په ظالم بوج شي (بخاري)

حل اللغات :- ① مَظْلِمَةٌ: د ظلم په طور څه حق، ② عِرْضِهِ: عزت او عظمت. ③ فَلْيَتَحَلَّلْهُ: نو معافی غوښتلو سره دې خپل حق معاف کړی، ④ حُمِلَ: بار کولې به شی،

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الإجارة/باب من كانت له مظلمة عند الرجل فحللها له، هل يبين مظلمته (رقم-۲۴۴۹)واحمد في المسند:۲/۲۰۶

تسهیلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

①مَنْ كَانَتْ لَهُ مَظْلِمَةٌ لِأَخِيهِ مِنْ عِرْضِهِ:

یعنی دَ دغه حق تعلق که دَمظلوم عزت او عظمت سره وی یا دَ بل څه وجې نه وی چه هغه ته ئې کنځلې کړې وی یا دَ قول او فعل په ذریعه ئې هغه ته تکلیف رسولې وی

②أَوْشَيْءٍ: یعنی دَچا مال ئې په زور اخستې وی یائې پټ کړې وی یا ئې قبضه کړې وی.

قوله: فَلْيَتَحَلَّلْهُ مِنْهُ الْيَوْمَ قَبْلَ أَنْ لَا يَكُونَ دِينَارٌ وَلَا دِرْهَمٌ:

دمرګ نه مخکښې دحقونو ادا کول: که چا په چا ظلم کړې وی نو دَهغه نه دې معافی غوښتو سره دَقیامت نه مخکښې دَ هر قسم حق معاف کړی. که چرې مالی معامله وی نو معاوضه دې ادا کړی یا دې پرې هسې معاف کړی. که چرې زبانی معامله وی نو معافی تلافی دې ترې اوکړی ځکه چه هم وی مګر په دنیا کښې دې پرې معاف کړی ګنی دَ قیامت په ورځ به نه دینار وی او نه درهم هلته به دا مظلوم دَ ظالم نه دَهغه نیکئی وصولوی. که نیکئی ختمې شوې نو بیا به دَ مظلوم بدئی او ګناهونه په هغه ظالم باندې اچولې شی لکه چه په وړاندې حدیث کښې بیان کړې شوی دی.

[۵۳۷] دَقیامت په ورځ دَټولو نه لوئی فقیر

۵۳۷-(۱) [۵] ⟦۱⟧وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ⟦۲⟧ «أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ؟». قَالُوا: الْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ. ⟦۳⟧فَقَالَ: «إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي مَنْ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ، ⟦۴⟧وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا، وَقَذَفَ هَذَا، وَأَكَلَ مَالَ هَذَا، وَسَفَكَ دَمَ هَذَا، وَضَرَبَ هَذَا، ⟦۵⟧فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ، ⟦۶⟧فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ ⟦۷⟧أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ، ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ⟦۱⟧او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه رضی الله عنهم ته وفرمایل. ⟦۲⟧تاسو ته معلومه ده چې مفلس څوك دی ، بعضې صحابه رضی الله عنهم عرض وکړو، په مونږ کې مفلس هغه سړی دی چې د هغه سره درهم او دینار (روپی پیسې) نه وي ، او نه سامان او اسباب (یعني هغوئ مفلس هغه سړي ته اوویل چې مال وزر او روپو پیسو نه خالي وي ځکه چې عام طور سره دنیا والاکښې) د صحابه رضی الله عنهم ذهن دې طرف ته ولاړ نه ری، چې د حضور صلی الله علیه وسلم مراد دنیاوي طور سره د مفلس سړي باره کې پوښتنه کول نه دي ،

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب تحریم الظلم (رقم-۵۹ - (۲۵۸۱) والترمذی فی کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی شأن الحساب والقصاص (رقم-۲۴۱۸)واحمد فی المسند: ۳۰۳/۲

بلكي د حضور ﷺ د پوښتني تعلق هغه سړي سره دى، چې د آخرت د اعتبار نه مفلس وي ۳نو حضور ﷺ وفرمايل، زما امت مرحومه كې مفلس سړى درحقيقت هغه دى چې د قيامت په ورځ په ميدانِ حشر كې دنيا نه مونځ، روژه، زكاة او نور مقبول عبادتونه راوړلو سره راشي، ۴خو حال به يې داوي، چې هغه به چا ته كنځل كړي وي، په چابه يې تهمت لګولي وي، څوك به يې ناحق وهلي وي غرض چيرته چې هغه ټول مالي او بدني عبادتونه كړي وي هلته به هغه دبدو مرتكب شوى هم وي ۵نو د هغه د نيكو نه به مخكې يومظلوم او صاحب حق ته د هغه د حق په قدر نيكي وركول شي، دغه شان هغه چې په دنيا كې د چاسره ظالمانه سلوك كړى وي، او څوك څوك يې ناحق ازارولى وي، هغه ټولو ته به جدا جدا د خپل حق په قدر د هغه د نيكيو نه وركول شي، ۶تردي چې د هغه د ګناهونو د فيصله كيدو نه مخكې د هغه ټولي نيكي به ختمي شي، يعنى كه د هغه ټولي نيكي د هغه ټولو د حق وركولو نه پس هم د حقوق العباد د ضائع كولو سزا پوره نشي، ۷نو د هغه حقدارو او مظلومانو ګناه چې هغوئ په دنيا كې كړي وي، هغه آخستو سره په هغه سړي به بار شي او بيا به هغه دوزخ كې واچول شي. (مسلم)

حل اللغات:- ①اَلْمُفْلِسُ: غريب، محتاجه، ②شَتَمَ: كنځل ئې كړې دى، ③قَذَفَ: تهمت ئې لګولي وى. ④سَفَكَ: تويه كړې به ئې وى، ⑤فَنِيَتْ: فنا شى، ختم شى، ⑥طُرِحَتْ: اچولې به شى. ⑦طُرِحَ واېه چولي شى او به غورځولي شى.

تسهيلات:

د شارح په نظر كښې اصل او حقيقى مفلس:

قوله: أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ؟:دَدنيا په عرف كښې خودَ مفلس هم هغه تعارف وو كوم چه صحابه كرامو دَ حضورپاك دَ سوال په جواب كښې ذكر كړو ليكن دَ شارع ﷺ په نظركښې اصل او حقيقى مفلس هغه دې چه په ميدان محشركښې به دآخرت مفلس وى خكه چه دَهغه دكتې امكان به ختم شى په دې وجه حضورپاك دَهغې بيان اوكړو

قوله: أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ: يعنى چه كله دَ خلقودَ ظلمونو په مقابله كښې دَ ظالم نيكئ ختمې شى نوبيا به دَخلقو بدئى او ګناهونه په ظالم باندې اچولې شى.

قيامت په ورځ د اعمالو متجسد كيدلو صورتونه:

قوله: فَطُرِحَتْ:دَ الفاظونه معلومه شوه چه دَقيامت په ورځ به اعمال متجسد وى اودَ اچولو قابل به وى.① دَدې خو يو صورت دا كيدې شى چه دا اعمال دَ قيامت په ورځ دكاغذ رجسترډ او دستاويز په شكل كښې وى.② دويم صورت داهم ممكن دې چه الله تعالى هرعمل ته په قيامت كښې جثه وركړى نوبيا به تلل او يا په چاباندې اچول ممكن

شي. ④ دریم صورت دا کیدې شي چه دَهغه خاتي تله به دَدنیا دَ کړې تللو دَ تلې په شان نه وي. په هغې خو به اعراض هم تلې شي. هسې دَ اعراضو تللو اعتراض په یوه زمانه کښې کیدلو نن صبا خو په جدید ټیکنالوجي سره اعراض په آسانئ سره تللې شي. دَهوائي جهاز ارتفاع او انخفاض عرض دې تللې شي. دَ موسم حرارت او هوا تللې شي قوت باصره او سامعه تللې شي. اوس خودا اعتراض چه اعراض او کیفیات به څنګه تللې شي مهمل شان پاتې شوی دی.

قوله: ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ: معلومه شوه چه حقوق العباد دَبنده دَمعاف کولو نه بغیر معاف کیدې نه شي دوزخ ته به ځي. او که الله تعالى مظلوم ته په عوض کښې ورکړه او کړي او هغه راضي کړي نو بیا ممکن ده. بهرحال دوزخ ته دا سړې دَ نورو دَ ګناهونو دَ وجې نه نه دې تلې بلکه په حقیقت کښې دا مظالم او حقوق دَده خپل کړي شوي جرائم دي دکوم په وجه چه دوزخ ته لاړو. لهذا دا حدیث دَ قرآن آیت ﴿وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرٰى﴾ سره متصادم اومتعارض نه دې.

[۵۰۳۸] په آخرت کښې به دَهر ظالم نه دبل د حق حساب اخستې شي

۵۰۳۸-()[۲] ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «لَتُؤَدُّنَّ الْحُقُوقُ إِلَى أَهْلِهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ ۳ حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَذَكَرَ حَدِيثَ جَابِرٍ: «اتَّقُوا الظُّلْمَ» فِي "بَابِ الْإِنْفَاقِ".

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل، ۲ د قیامت په ورځ به حقدار ته د هغوئ حقوق ادا شي، ۳ تردې چې بې ښکرو بزې (چیلۍ) قصاص بدله به د ښکر والا بزي (چیلۍ) نه واخستل شي (مسلم) او دحضرت جابر رضی الله عنه نه روایت اتقو الظلم باب الانفاق کې، ذکر شوی دی

حل اللغات:- ① لَتُؤَدُّنَّ: خامخا به اداکولې شي. ② يُقَادَ: د قَوَد نه دې. قصاص ته وائي. يعنى بدله به اخستلې شي ③ الْجَلْحَاءِ: دَ کوم حیوان ښکرې چه پیدائشي توګه باندې نه وي ④ الْقَرْنَاءِ: ښکرو والا.

تسهیلات:

قوله: حَتَّى يُقَادَ لِلشَّاةِ الْجَلْحَاءِ مِنَ الشَّاةِ الْقَرْنَاءِ:

د بې ښکرو چیلۍ د ښکرو چیلۍ څخه بدله اخستل: بغیر دَ ښکرو والا مظلومه چیلئی دَ ښکرو والا ظالمې چیلئی نه به قصاص او بدله اخستې شي. مطلب دا چه کوم څناور په

[1]) اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب تحريم الظلم (رقم-۶۰ - (۲۵۸۲) والترمذى فى كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى شأن الحساب والقصاص (رقم-۲۴۲۰) واحمد فى المسند:۴۱۱/۲

بل خناورباندې په دنیاکښې ظلم زیاتې او تجاوز اوتعدی کړې وی نودَ هغه ظالم نه به بدله اخستې شی یعنی دَ الله تعالی دَ عدل اوانصاف به دومره ظهوراوشی چه دَ انسانانو نه علاوه به په ځناورو کښې هم دَ عدل ظهور اوشی حالانکه ځناور غیرمکلف وی.اوس سوال دادې چه ځناور خو غیرمکلف دی دَهغوی نه دَ قصاص او بدله اخستلو څه مطلب دې.

دې جواب دادې چه الله تعالی ﴿ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ ﴾ [سورت بروج: ۱۶] دې ﴿ لَا يُسْـَٔلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْـَٔلُوْنَ ﴾ [سورت الانبیاء: ۲۳] په او چت صفت سره متصف دې هغه چه دَچانه هم بدله اخلی هغه مختارعلی الاطلاق دې.دَ ځناوروپه معامله کښې که چرته انسان په ځناور باندې ظلم کړې وی نودَ هغه نه به هم قصاص اخستې شی

دکافرانود خاورې کیدو تمنا کول:او بیا به دَ ځناورو باره کښې فرمائی کونواتراباً ټول خاورې شئی نو ټول به خاورې شی.په دې موقع باندې به کافران وائی ﴿يٰلَيْتَنِيْ كُنْتُ تُرٰبًا﴾ [سورت النبا: ۴۰] افسوس چه زه هم خاورې شوې وم.دویم جواب دادې چه په حدیث کښې دَ ښکرو والا دَ چیلئی نه ظالم انسان مراد دې.اودَ بې ښکرو چیلئی نه مظلوم انسان مراد دې.اودغه شان متل هم جاری دې.په دې حدیث کښې دا واضح کړې شوچه په قیامت کښې به دَ ذرې ذرې حساب کیږی.دَ ظالم نه به دَ مظلوم پوره پوره حساب اخستې شی.فرض کړه که غیرمکلف حیوان هم ظالم شوې وی دَهغه نه به هم بدله اخستې شی نو اې انسانه ته دَ حساب نه څنګه بچ کیدې شې؟

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۱۲۹] دَبدئی بدله په بدئ مه ورکوئ

۵۱۲۹-()[۷] [۱] عَنْ حُذَيْفَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «لَا تَكُوْنُوْا إِمَّعَةً تَقُوْلُوْنَ: إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَحْسَنَّا، وَإِنْ ظَلَمُوْا ظَلَمْنَا، [۳] وَلٰكِنْ. وَطِّنُوْا أَنْفُسَكُمْ إِنْ أَحْسَنَ النَّاسُ أَنْ تُحْسِنُوْا، وَإِنْ أَسَاءُوْا فَلَا تَظْلِمُوْا» . رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت حذیفه رضی الله عنه وایې، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [۲] تاسو امعه مه جوړیږئ یعنی دا مه وایئ، که خلق زمونږ سره نیکي کوي، نومونږ به هم د هغوئ سره نیکي کوو، او که خلق زمونږ سره ظلم کوي نومونږ به هم د هغوئ سره ظلم کوو، [۳] بلکي تاسو خپل ځان په دي امر قائم ساتئ، که خلق ستاسو سره نیکي کوي نو تاسو هم ورسره نیکي کوئ او که خلق درسره بدي کوي، نو تاسو ورسره ظلم مه کوئ، دا روایت ترمذي رحمه الله نقل کړی دی.

حل اللغات:- ① إِمَّعَةً: دا هغه چاته وائی چه هغه وائی چه چا راسره څنګه سلوک کولو زه به هم ورسره هغسې کوم. ② أَسَاءُوْا: د سوء نه دې بدی کول، تکلیف رسول.

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب البر والصلة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی الإحسان والعفو (رقم-۲۰۰۷)

تسهيلات:

قوله: لَاتَكُونُوا إِمَّعَةً:

د امعة تعريف: امعه هغه سړی ته وائی چه خپله څه رائې نه لري بلکه بغیرد سوچ اوفکر نه وائی اوګرځی

دامعة څخه مراد: دَ امعه نه مراد هغه سړي دي چه وائی ما سره چه خلقو کوم سلوك ساتلي دي زه به هغوی سره هم هغه سلوك کوم که خلق ماسره ښه وو نو زه به هم خلقو سره ښه یم اوکه خلق خراب شو نوزه به هم بدی کوم.نورسول الله ﷺ فرمائی چه داسې امعه مه جوړيږه بلکه که خلق احسان کوی نوته هم احسان کوه اوکه خلق دَ بدئی معامله کوی نوته دَ احسان معامله کوه او "تخلقوابأخلاق الله" نمونه جوړ شه.

قوله: وَإِنْ أَسَاءُوا فَلَا تَظْلِمُوا:

د فلا تظلموا مطلبونه: ① دَدې جملې ترجمه داده چه بدله واخله مګر ظلم اوزياتې مه کوه دا ادنی مومن درجه خودلې شوې ده. ② دوئم مطلب دادې چه بدی کونکو سره صرف دَ بدئی کولو سوچ مه کوه بلکه دَمعاف کولو خيال هم کوه دادَ دويمې درجې دَمتوسط مومن درجه خودلې شوې ده. ③ دريم مطلب دادې چه بدی کونکی سړی سره نيکی کوه دادَ اعلی مومن درجه خودلې شوې ده."فلاتظلموا" جمله کښې لکه چه دَ درې قسمه مسلمانانو دَدريو درجو ذکر دې.ادنی، متوسط او اعلی درجې مومن.

[٥٣٠] د الله رضامندی او خوشحالی حاصلول پکار دی

٥٣٠-(١) [٨] ١ «وَعَنْ مُعَاوِيَةَ، أَنَّهُ كَتَبَ إِلَى عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - ٢ أَنِ اكْتُبِي إِلَيَّ كِتَابًا تُوصِينِي فِيهِ وَلَا تُكْثِرِي. ٣ فَكَتَبَتْ: سَلَامٌ عَلَيْكَ، أَمَّا بَعْدُ: فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ ٤: وَمَنِ الْتَمَسَ رِضَا اللَّهِ بِسَخَطِ النَّاسِ كَفَاهُ اللَّهُ مُؤْنَةَ النَّاسِ، ٥ وَمَنِ الْتَمَسَ رِضَا النَّاسِ بِسَخَطِ اللَّهِ وَكَلَهُ اللَّهُ إِلَى النَّاسِ" وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت امير معاويه ﷺ نه روايت دی، هغه ام المؤمنين بي بي عائشه ﷺ ته وليکل ٢ تاسو ماته يوه نصيحت نامه ليکلې راوليږئ (چې په هغه زه عمل وکړم او ستاسو هغه نصيحت خما ديني او دنياوي امورو کې زما د پاره د فلاح او سعادت باعث وي) او هغه نصيحت نامه اوږده نه وي (بلکې مختصر او جامع وي) ٣ نو بي بي عائشه ﷺ ورته داکلمات ليکلي وليږل، په تا دې سلامتيا وي، د دې نه پس ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي، ٤ که يوسړی داسې کار کوي چې د الله ﷻ د رضامندي او خوشنودي باعث

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-٢٤١٤)

وي او د خلقو د ناراضګي او ناخوښي سبب جوړ شي، نو الله جل جلاله د هغه کار په وجه هغه نه خوشحالیږي او آخر الامر مخلوق هم د هغه نه راضي او خوشحاله کوي، او د خلقو د شر او فساد نه محفوظ ساتي، [۵] او کوم سړی چې د خلقو رضامندي او خوشنودي مدّ نظر ساتي، او د الله جل جلاله د خفګان او ناراضګی نه بې پروا کېږي، نو الله جل جلاله یې هغه خلقو ته حواله کوي، او په تادي سلامتیا وي (ترمذي)

حل اللغات: - ① لَاتُكْثِرِي: کثرت او زیات والی مه کوه، ② سَخَطِ: ناراضګی، خفګان، ③ مُؤْنَةَ: ضرورت، محنت اومشقت، ④ اَلْتَمَسَ: لټول، نظرکښې ساتل.

تسهیلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① تُوصِينِي فِيهِ وَلَا تُكْثِرِي: یعنی چه اوږد مضمون او اوږده الفاظ نه وی بلکه مختصر او جامع نصیحت اولیکه.

② وَكَلَهُ اللّٰهُ إِلَى النَّاسِ: یعنی کوم سړي چه الله تعالی پرېږدی اودَخلقو دَ راضی کولو کوشش کوی الله تعالی به هغه سړې خلقو ته حواله کړی بیا به خلق دَهغه بوټئی راؤشو کوی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۱۳۱] په آیت کې دَ لفظ (ظلم) تشریح

٥١٣١-()[٩] [١] عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ «لَمَّا نَزَلَتْ: ﴿الَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ﴾ [الأنعام: ٨٢] . [٢] شَقَّ ذَلِكَ عَلَى أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [٣] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! أَيُّنَا لَمْ يَظْلِمْ نَفْسَهُ؟ [٤] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " لَيْسَ ذَاكَ؟ إِنَّمَا هُوَ الشِّرْكُ، [٥] أَلَمْ تَسْمَعُوا قَوْلَ لُقْمَانَ لِابْنِهِ: ﴿يَابُنَيَّ لَا تُشْرِكْ بِاللّٰهِ إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾ [لقمان: ١٣] . [٦] وَفِي رِوَايَةٍ: " لَيْسَ هُوَ كَمَا تَظُنُّونَ، إِنَّمَا هُوَ كَمَا قَالَ لُقْمَانُ لِابْنِهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] حضرت ابن مسعود رضی الله عنه وایي، کوم وخت چې دا آیت (اَلَّذِينَ آمَنُوا وَلَمْ يَلْبِسُوا إِيمَانَهُمْ بِظُلْمٍ) نازل شو، [٢] نو د دې سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه رضی الله عنهم ته ډیر بوج محسوس شو ځکه چې هغوئ دا ګمان وکړ چې د ظلم نه مراد مطلق ګناه ده [٣] نو هغوئ عرض وکړو، یارسول الله په مونږ کې داسې کوم سړی دی چې هغه په ځان ظلم نه وي کړی، [٤] رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل، داخبره نه ده (یعني ظلم نه مراد هغه نه دی، کوم چې تاسو ګڼلی، یعنی مطلق ګناه) بلکې ظلم نه شرک مراد دی، [٥] آیا تاسو د لقمان علیه السلام هغه نصیحت نه دی اوریدلی،

() اخرجه البخاری فی کتاب تفسیر القرآن/باب {ولم یلبسوا إیمانهم بظلم} [الأنعام: ٨٢] (رقم-٤٦٢٩) ومسلم فی کتاب الإیمان/باب صدق الإیمان وإخلاصه (رقم-١٩٧ - (١٢٤))

چې هغه خپل مؤمن خوی ته کړی وو (او هغه داچې) اې خما خویه! د الله سره هیڅوك مه شریکوه (یعني ایمان بالله او هغه ټول څیزونو کې چې په هغه ایمان راوړل واجب دي د شرك آمیزش مه کوه) ځکه چې شرك یقینًا ډیر لوی ظلم دی. [۶] او په یوه روایت کې دا الفاظ دي، چې حضور ﷺ وفرمایل د ظلم نه هغه مراد نه دی. کوم چې تاسو ګمان کړی دی. بلکې د دې نه هغه مراد دی چې لقمان علیه السلام خپل خوی ته کړی وو (بخاري . مسلم)

حل اللغات: - ① لَمْ يَلْبِسُوا: خلط شوې نه دي. ② شَقَّ: ګرانه شوه، بوج محسوس شو.

تسهیلات:

قوله: شَقَّ ذَٰلِكَ عَلَىٰ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ:

په صحابه کرامو باندې د آیت مفهوم ګرانیدل: چه دا آیت کله نازل شو نو دَ دې مطلب په صحابه کرامو باندې ډیر ګران پریوتلو ځکه چه صحابه کرامو خیال اوکړو چه دَ ظلم د لفظ نه مراد ګناه ده اودا خبره ښکاره ده چه دَ انبیاء کرامو نه علاوه دَ ګناهونو نه څوك پاك کیدې شی په دې وجه هغوی سوال اوکړو "أينا لم يظلم؟" دا دَ هغوی دَ پریشانئ ډیر لوئ اظهار وو حضورپاك دَ دې په جواب کښې اوفرمائیل دَ ظلم نه مراد دَ کامل درجې ظلم دې کوم چه شرك دې ځکه چه دَ سورت لقمان یو آیت کښې دی ﴿إِنَّ الشِّرْكَ لَظُلْمٌ عَظِيمٌ﴾ (سورت لقمان: ۱۳) دلته دَ دې ظلم نه مراد عام ګناه نه ده بلکه یو خاص قسم ګناه مراد ده کوم چه شرك دې مطلب دا شو چه کومو خلقو ایمان کفر سره ګډوډ نه کړو یعنی انسان منافق پاتې نه شو دَ چا په ژبه خو چه ایمان وی او په زړه کښې شرك پروت وی.

[۵۰۳۲] دَ بل دَ دنیا دَ پاره خپل آخرت مه خرابوئ

۵۰۳۲-( )[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] قَالَ: "«مِنْ شَرِّ النَّاسِ مَنْزِلَةً عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَبْدٌ [۳] أَذْهَبَ آخِرَتَهُ بِدُنْيَا غَيْرِهِ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او د حضرت ابوامامه رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د قیامت په ورځ به د مرتبې د اعتبار نه بدترین سړی هغه وي، [۳] چې د دنیا په سبب آخرت ضائع کړي (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① مَنْزِلَةً: مرتبه. ② أَذْهَبَ: بوخی، ضائع کړی.

تسهیلات:

قوله: مِنْ شَرِّ النَّاسِ مَنْزِلَةً عِنْدَ اللهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَبْدٌ أَذْهَبَ آخِرَتَهُ بِدُنْيَا غَيْرِهِ:

دقیامت په ورځ بدترین انسان: مطلب دا دې چه که یو سړې دَ خپلې دنیاوی فائدې او مقصد دَ پاره خپل آخرت بربادوی نودا هم سخت جرم دې لیکن دا جرم هغه وخت نور

---

[۱]) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الفتن/ باب إذا التقی المسلمان بسیفیهما (رقم-۳۹۶۶)

سخت شي كله چه دبل چاد دنيا جوړولو دپاره وي مثلاً يو سړي دخپل مفاداتو دپاره نه بلكه د نورو د مفاداتو دپاره په چا باندې ظلم شروع كړي او په هغې كښې استعماليږي لكه څنګه چه په سركاري او غير سركاري ادارو كښې ډيرزيات خلق د نورو خلقو دخوشحالولو دپاره په عامو خلقو باندې ظلم كوي دا د غيرو ددنيا د جوړولو دپاره خپل آخرت برباد ول دي لكه نن صبا چه پرويز مشرف دامريكه دخوشحالولو دپاره خپل مسلمانان په نښه كوي.

[۵۴۲] په قيامت كښې درې قسمه اعمال نامې

۵۳۴-(۱) [۱] ١ وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«الدَّوَاوِينُ ثَلَاثَةٌ: دِيوَانٌ لَا يَغْفِرُهُ اللهُ: الْإِشْرَاكُ بِاللهِ. يَقُولُ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: ﴿إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ﴾ [النساء: ۴۸] ٣ وَدِيوَانٌ لَا يَتْرُكُهُ اللهُ: ظُلْمُ الْعِبَادِ فِيمَا بَيْنَهُمْ حَتَّى يَقْتَصَّ بَعْضُهُمْ مِنْ بَعْضٍ، ٤ وَدِيوَانٌ لَا يَعْبَأُ اللهُ بِهِ ظُلْمُ الْعِبَادِ فِيمَا بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ اللهِ، فَذَاكَ إِلَى اللهِ: إِنْ شَاءَ عَذَّبَهُ وَإِنْ شَاءَ تَجَاوَزَ عَنْهُ»".

ترجمه: ١ او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ٢ دفتر يعنې اعمال نامې په درې قسمه وي، يو خو هغه اعمال نامه ده چې الله جل جلاله يې نه بخښي، او دا هغه اعمال نامه ده چې په هغه كې د الله جل جلاله سره څوك شريك كړى وي، (يعنې د كفر او شرك ګناه چې كوم نامه اعمال كې وي، د هغه بخښش ممكن نه دى) لكه الله جل جلاله فرمايي، چې الله شرك نه بخښي بل هغه اعمال نامه ده چې الله جل جلاله يې دغه شان نه پريږدي بلكې د هغه باره كې به ضرور حكم كوي ٣ او هغه اعمال نامه هغه ده چې په هغه كې د بنده ګانو په خپلو كې مظالم درج دي، نو هغه به د الله جل جلاله د حكم مطابق يو بل نه بدله اخلي (يعنې الله جل جلاله به مظلوم ته د ظالم نه د هغه د ظلم بدله وركوي، يا دا چې الله جل جلاله په چا خپل فضل كول غواړي، هغه به د صاحب حق د مطالبې نه بري كړي، په دې طور چې هغه به صاحب حق ته د خپلې خزانې درحمت نه د هغه د حق په قدر يا د هغه نه زيات نعمتونه وركولو سره راضي كړي، او ورته به فرمايي، چې اوس ته هغه معاف كړه، چې هغه په تا ظلم كړى وو يا ستا څه حق يې غصب كړى وو نو هغه به راضي او خوشحاليدو سره هغه سړى معاف كړي، او دغه شان به د الله جل جلاله هغه نعمتونه د هغه د حق بدله او دنيا ګې د ديت (خون بها) قائم مقام شي، ٤ او دريمه اعمال نامه هغه ده، چې د هغه به الله جل جلاله ته هيڅ پروانه وي، (يعنې كه هغه غواړي نو د هغه اعمال نامې مطابق به د سزا او عذاب فيصله صادر كړي، او كه غواړي، نو په هغه به څه كار وايي نه كوي) او هغه اعمال نامه هغه ده، چې په هغه كې د بنده ګانو الله سره ظلم كول يعنې د هغوئ د طرف نه حقوق الله كې د تقصير او كوتاهي

[۱] اخرجه احمد في المسند: ۶/ ۲۴۰ والبيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۷۴۷۳

مرتکب کیدل درج دي نو دا اعمال نامه د الله جل جلاله په مرضي موقوف ده، که غواړي هغه به بنده ته د هغه د عمل مطابق سزا ورکړي، او که غواړي، هغه سره به درګذر معافي معامله وکړي، او هغه ته به څه سزا ورنه کړي

حل اللغات:- ① الدَّوَاوِيْنُ: دَ ديوان جمع ده ديوان دفترته وائی، رجسټر. ② يُقْتَصُّ: بدله او قصاص به واخلی. ③ لَا يَعْبَأُ: هيڅ پرواه به نه وی.

تسهيلات: قوله: الدَّوَاوِينُ ثَلَاثَةٌ:

د قيامت په ورځ درې قسمه فيصلې: مطلب دا چه دَ قيامت په ورځ به دَ خلقو فيصلې په درې قسمه دفترونو کښې کيږی.دا ديوانی کيس به په دريو جدا جدا سيکشنونو کښې چليږی دا دفترونه سيکشن او مرحلې به په حقيقت کښې دَخلقو اعمال نامې دی نو د مختلف خلقو به مختلف عمل نامې وی دکومې چه به په جدا جدا ځايونو کې فيصلې وی اول ديوان دَشرك دي کوم ځائی چه به دَ ټول شرك ريکارډ جمع وی هغه به الله تعالی نه معاف کوی اودا خلق به دوزخ ته ځی.دويم دَحقوق العباد ديوان دي چرته چه به په يوبل باندې دَ ظلمونو ريکارډ او اعمال نامې وی.دغه خلق به ترهغه وخته پورې الله تعالی نه معاف کوی ترکومې چه دَدغه خلقو پوره پوره بدله يوبل ته ورنه کړې شی او که چرته دَدوی نه مظلوم الله تعالی په قيامت کښې دَخپل طرف نه راضی کړی او هغه ته دَخپل طرف نه انعام ورکړی او هغه ظالم معاف کړی نو دا سې کيدې شی.دريم ديوان دَ حقوق الله دي چرته چه به دَ انسانانو دَ اعمالو هغه اعمال نامې وی دکوم تعلق چه حقوق الله سره وی دغه انسانانو په حقوق الله کښې کوتاهئی کړې وی دَهغوی حکم او عام فيصله به دا سې وی که چرته الله تعالی ئی معاف کول غواړی نو معاف به ئی کړی او که سزا ورکول غواړی نو سزا به ورکړی

[٥٠٣٢] دَمظلوم دَبددعا او خيرو نه ځان ساتئ

٥٠٣٢-(١)[١٢] [١] وَعَنْ عَلِيٍّ -رضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] «إِيَّاكَ وَدَعْوَةَ الْمَظْلُومِ، فَإِنَّمَا يَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى حَقَّهُ [٣] وَإِنَّ اللهَ لَا يَمْنَعُ ذَا حَقٍّ حَقَّهُ».

ترجمه: [١] او حضرت علي رضی الله عنه وايي، چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل، [٢] خپل ځان د مظلوم د بد دعا نه وساتی (يعني په چا ظلم مه کوه، چې هغه ستا په حق کې بد دعا وکړي) ځکه چې هغه د الله جل جلاله نه صرف خپل حق غواړي [٣] او الله جل جلاله صاحبِ حق د هغه د حق نه نه محرومه کوي (يعني هرحقدار ته د هغه حق ضرور ورکوي)

حل اللغات:- ① إِيَّاكَ: ځان بچ ساته. ② دَعْوَةَ الْمَظْلُومِ: د مظلوم د بد دعا نه. خيرو نه

(١) اخرجه احمد فی المسند: ٣٤٣/٢ والبيهقي فی شعب الايمان رقم الحديث ٧٤٦٤

تسهيلات:

قوله: إِيَّاكَ وَدَعْوَةَ الْمَظْلُومِ:

د مظلوم د خيرو څخه د ځان ساتلو تاکيد: مظلوم چه کله داالله تعالی په مخکښې دظالم فرياد کوی نو په حقيقت کښې دې د الله تعالی نه خپل حق غواړی او الله تعالی دېو صاحب حق حق منع کوی نه په دې وجه دمظلوم بد دعا فوری لګی او د الله تعالی د طرف نه دهغې استقبال کيږی چا وئيلی دی.

[٥٣٥] دظالم مدد کونکی د کامل ايمان نه محروميږی

٥٣٥-()[١٣] ⑴ وَعَنْ أَوْسِ بْنِ شُرَحْبِيلَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ⑵ "«مَنْ مَشَى مَعَ ظَالِمٍ لِيُقَوِّيَهُ ⑶ وَهُوَ يَعْلَمُ أَنَّهُ ظَالِمٌ فَقَدْ خَرَجَ مِنَ الْإِسْلَامِ».

ترجمه: ⑴ او د حضرت اوس ابن شرحبيل رضی الله عنه نه روايت دی، هغه د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه واوريدل، ⑵ کوم سړی چې د يوظالم تقويه او د تائيد د پاره د هغه سره روان شي يعنی د هغه موافقت او حمايت وکړي، ⑶ او هغه په دي پوهيږي چې (د کوم سړي مدد او تاکيد کوي) هغه يوظالم انسان دی نو هغه سړی د اسلام نه خارج کيږي، يعنی هغه د کمال ايمان نه محروم کيږي.

حل اللغات: - ⑴ مَشَى: روان شو، تلل ئې اوکړل، ⑵ لِيُقَوِّيَهُ: چه قوت ورکړی هغه ته، تائيد ئې اوکړی.

تسهيلات:

قوله: مَنْ مَشَى مَعَ ظَالِمٍ لِيُقَوِّيَهُ:

دظالم په مرسته د اسلام څخه خارجيدل: چه کوم سړی د يوظالم په ظلم کښې دهغه داسې تائيد او امداد اوکړو چه ظالم په ظلم کښې مضبوط شو دا تائيد کونکې ته پته وی چه دا سړې ظالم دې په دې صورت کښې دا تائيد کونکې داسلام نه خارجيږی

اشکال: دګناه کبيره ارتکاب سره يو سړې د اهل سنت په نيز داسلام نه خارج کيږی نه نو دلته د "فقد خرجه من الإسلام" څه مطلب دي؟

داشکال دري جوابونه: ⑴ د اسلام نه مراد کامل اسلام دې نو دا سړې دکمال اسلام نه اوځی هسې به په اسلام کښې وی.

⑵ دا حکم تشديداً تغليظاً تهديداً او زجراً او توبيخاً دې

⑶ که د ظالم نصرت او امداد کونکې ددغه ظالم ظلم حلال ګڼری نو حرام حلال ګڼرونکې

[1]) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ٧٦٧٥

کافرکیږی لهذا داسړې دَاسلام نه خارج شو لکه څنګه چه نن صبا مسلمانان حکمرانان دَامریکه په ظلم کښې دَهغوی امداد لازم ګڼړی

[۵۳۶] دَظالم دَظلم سپیره توب عام دې

۵۳۶-() [۱۳] ۱ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ سَمِعَ رَجُلًا يَقُولُ: ۲ إِنَّ الظَّالِمَ لَا يَضُرُّ إِلَّا نَفْسَهُ. ۳ فَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: بَلَى وَاللَّهِ، ۴ حَتَّى الْحُبَارَى لَتَمُوتُ فِي وَكْرِهَا هُزْلًا لِظُلْمِ الظَّالِمِ. رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الْأَرْبَعَةَ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه : ۱ او د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت دی ، هغه د یوسړي نه واوریدل . ۲ چې ظالم په حقیقت کې خپل خان ته نقصان رسوي نورو ته د هغه د ظلم اثرات نه رسیږي ۳ حضرت ابوهریره رضی الله عنه په دې اوریدو سر وفرمایل، بیشکه ظالم خپل ظالمانه حرکتونو سره خپل خان ته نقصان رسوي ۴ لیکن د هغه نحوست یعنی سپیره والی نور خلق هم متاثر کوي؛ تردي چې حبارئ (زانرې) خپله جاله کې د ظالم د ظلم په سبب کمزوري او مرشي ، دا څلور سره روایتونه بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړی دی

حل اللغات :- ۱ الْحُبَارَى: سرخاب، زانرې، ۲ وَكْرِهَا: خپله جاله کښې، ۳ هُزْلًا: کمزوری

تسهیلات:

قوله : حَتَّى الْحُبَارَى لَتَمُوتُ فِي وَكْرِهَا هُزْلًا لِظُلْمِ الظَّالِمِ: حباری.

دحباری پیژندګلو : دَ یوې مرغئی نوم دې کوم ته چه په اردو کښې سر خاب وائی او په پښتو کښې ورته شترمرغ وائی دا مرغئی دَ اوبو په لښون کښې ماهره ده او په سوونو میلونو لرې تلو سره اوبه حاصلوی مګر دَ ظالم دَ ظلم اثر دومره منحوس دې چه دَ اوچ کالئی دَ وجې نه سرخاب هم په خپله جاله کښې تږې مره کیږی حالانکه دا مرغئی اوبو حاصلولو کښې خپل مثال پخپله ده حضرت ابوهریره رضی الله عنه دا کلام دَ یو سړی په جواب کښې ارشاد فرمائیلې وو هغه سړی وئیل چه دَ ظالم دَ ظلم اثر صرف دَهغه دَنفس پورې خاص وی او بل چاته نقصان نه رسوی حضرت ابوهریره رضی الله عنه او فرمائیل چه ولې نقصان نه رسوی؟ ګورئی حباری غوندې مرغئی دَ تندې دَ وجې نه مره کیږی څکه چه دَ ظالم دَ ظلم دَ وجې نه باران بندیږی نو اوبه ختمیږی حضرت ابوهریره رضی الله عنه به کیدې شی څه حدیث اوریدلې وی دکوم مضمون ئی چه بیان کړې دې

[۱]) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۷۶۷۹

[۲۲] بَابُ الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ

دَامر بالمعروف بیان

خلاصة الباب:

فیه ثمانیة عشر حدیثاً مشتملة علی سبع مسائل:

① مراتب الأمر بالمعروف: ۱، ۱۵-
② ضرورة الأمر بالمعروف و فوائده: ۲و ۴، ۵، ۸، ۹-
③ الزجر لمن یأمربالمعروف ولایعمل بنفسه: ۳، ۱۳-
④ عقوبة ترك الأمربالمعروف والنهي عن المنكر: ۴، ۶، ۷، ۱۰، ۱۱، ۱۲، ۱۶-
⑤ زمن رخصة ترك الأمربالمعروف والنهی عن المنكر: ۸، ۱۷-
⑥ عقوبة من إنهمك في المعاصي: ۱۴-
⑦ البشارة للآمرین بالمعروف ولزوم المنكرمع صاحبه یوم القیامة: ۱۸-

قوله: الْأَمْرِ بِالْمَعْرُوفِ:

اشکال: په قرآن او حدیث کښې تقریبًا هرځائی امربالمعروف سره دَ نهی عن المنکر لفظ یوځائی کړې شوې دې خودلته صاحب مشکوة عنوان ترلوسره دا لفظ ولې پریخودې دې؟

داشکال درې جوابونه: ① احد الضدین دلته ذکرکړې شوې دې اودویم مقابل نهی دَ منکر ئی دَ سامع دَ فهم په بنیادباندې پریخودې دې. اوداسې په فصیح کلام کښې کیږی لکه چه دَ الله تعالی ارشاد دې ﴿وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ﴾ [سورت نحل: ۸۱. دلته والبرد دَ سامع په فهم باندې پریخودلې شوې دې.

② معروف دَ ماعرفه الشرع په معنی کښې دې کوم چه منکر ته هم شامل دې. چنانچه علامه ابن اثیر رحمه الله په نهایه کښې لیکلی دی چه طاعات الله او تقرب الی الله او احسان الی الناس اوهر هغه څیز دَ کوم طرف ته چه شریعت رابلل کړی دی یا ئی منع کړې ده تولوته دَمعروف لفظ شامل دې.

③ کیدې شی بعضې ناسخینو او لیکونکونه په لیکلو کښې دا لفظ پاتې شوې وی اوبیا هم دغه شان رواج روان شوی وی دا جواب زیات واضح دې.

دمعروف اومنکر څخه مراد: دمعروف لفظ اشنا او پیژندګلو په معنی کښې دې نوچه کوم ته شریعت معروف وئیلې دې شرعًا هم هغه معروف دې اوکوم چه شریعت منکرګرځولې دې شرعاً هم هغه منکرْدې.

دامر بالمعروف اونهی عن المنکر دوه اړخونه: ① په امر او نهی کښې یو اړخ دَ شریعت

ایجابی اړخ دې دې ته ماموراتو او اوامر وائی دا اړخ نرم دې

④ دویم اړخ سلبی دې دې ته نواهی او منهیات وائی دا اړخ ګرم دې

دامر بالمعروف اونهی المنکر عمومیت: دَ المعروف لاندې دَ ادنٰی نه ادنٰی نیکئی نه واخله ترد اعلی نه اعلی نیکی داخله ده دغه شان دَالمنکر لاندې دَ لوئی نه لوئی او دَ وړې نه وړه ګناه داخل ده په دې کښې دَهیڅ تخصیص ګنجائش نشته دې.

دامر بالمعروف اونهی عن المنکر دتلازم مثال: لکه څنګه چه په بجلئی کښې یو تار ګرم وی او یو تار یخ وی دواړه یوځائی کولو سره بجلی روښانه شی دَ دواړو یوځائی کولو نه بغیر رڼړا نه راځی نه یوازې ګرم تار فائده ورکوی او نه یخ په دواړو کښې تلازم دې دَامر اونهی هم دغه حیثیت دې دادَ یوبل نه جدا کولې نه شی لکه څنګه چه بعضې خلق کوی اوس نتیجه دا راووتله چه امرمعروف سنن او مستحباتو ته هم شامل دی او فرائض او واجباتو ته هم شامل دی. اومنکر مکروهاتو ته هم شامل دی او حرام قطعی ته هم شامل دی.

دادنی او اعلی مثالونه: دَمثال په توګه منکر واخله په ولاړه په ګس لاس باندې اوبه څکل چې څنګه دَمنکر ادنی درجه ده اودَدې نه منع کول نهی عن المنکر دې دغه شان کفر او شرك اوبدعت اوزندقه هم دَمنکر اعلی درجه ده اودَدې نه منع کول هم نهی عن المنکر دې.

دامرپه تعریف کښې اقوال:

① الأمر طلب الفعل وموجبه عند الجمهور الإلزام والنهي قول القائل لغيره على سبيل الاستعلاء لاتفعل (حسامی) ② الأمر هو قول القائل لغيره على سبيل الاستعلاء "افعل" (اصول الشاشی نور الانوار)

③ الأمر أمرته إذا كلفته أن يفعل شيئًا (مفردات القرآن)

د مذکوره تعریفاتو خلاصه: أمر دَحکم په معنی کښې دې په کوم کښې چه غیرته حکم ورکولې شی چه دا کار اوکړه هغه له به دَدې کول وی. په دې کښې په رضاکارانه توګه باندې اپیل اوالتماس او درخواست نه کیږی بلکه نیغ په نیغه حکم وی چه داکار اوکړه که اودې نه کړو نودَ سزا دَپاره تیارشه.

اَلْفَصْلُ الْأَوَّلُ

[۵۱۳۷] د نهي عن المنکر درې درجې

۵۱۳۷-(۱)[۱] ① عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الإیمان/باب بیان کون النهی عن المنکر من الإیمان، وأن الإیمان یزید وینقص، وأن الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر واجبان(رقم-۷۸ - (۴۹)، وابوداود فی کتاب الترجل /باب الأمر والنهی (رقم-۴۳۴۰) والترمذی فی کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی تغییر المنکر بالید أو باللسان أو بالقلب (رقم-۲۱۷۲) والنسائی فی کتاب الإیمان وشرائعه/باب تفاضل أهل الإیمان (رقم-۵۰۰۸) واحمد فی المسند:۳/۲۰

«مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ، [۳] فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ، [۴] فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ، [۵] وَذٰلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوسعید خدري ﷺ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي حضور ﷺ وفرمایل، [۲] په تاسو کې چې کوم سړی خلاف شرع امر ووینی (یعني کوم شی چې د شرع خلاف وګني) نو هغه ته پکار دی چې هغه شی په خپل لاسونو سره بدل کړي (یعني د طاقت په ذریعه هغه شی نیست او نابود کړي مثلاً باجي سرودونه او آلات لهو ولعب نو هغه دي مات کړي، نشه او مشروبات دي ضائع کړي او هرپ شوی دی د هغه مالك ته حواله کړي وغیره وغیره) [۳] او که هغه خلاف شرع ا مر کونکی د زیات قوي کیدو په وجه د لاسونو په ذریعه د هغه امر انجام کولو طاقت نه لري، نو د ژبې په ذریعه دي هغه امر انجام کړي، [یعنی د خلاف شرع امورو باره کې دي آیتونه او احادیث واوري، د الله د عذاب نه دي وبیر وي، پندو نصیحت دي ورته وکړي او که په سمه طریقه ونه مني نو سختي خبري دي ورته وکړي] [۴] او که د ژبې په ذریعه هم د هغه امر انجام کولو طاقت نه لري، نو بیا د زړه په ذریعه دي هغه امر انجام کړي، [یعنی هغه دي زړه سره بد ومني قلبي نفرت دي ورسره ساتي، او په دي عزم او اراده دي قائم وي چې کله هم د لاس یا ژبې په ذریعه د هغه امر انجام کولو طاقت ورته حاصل شي نو خپله ذمه واري به ضرور پوره کوي] ، [۵] او د هغه امر مرتکب دی هم بدګني او دهغه نه دي کناره کشي اختیارکړي) او دا آخري درجه د ایمان د ټولو نه کمزوري درجه ده. (مسلم)

تسهیلات:

قوله: مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا:

د امر متوجه کیدو پاره د رؤیت شرط: اول ځیزخو بدی په خپلو سترګوسره لیدل دي. ترکومې پورې چه یو سړې منکر ګوری نه نوهغه وخته پورې دَ هغه طرف ته دَ بدئی ازاله متوجه کیږی نه. اوکله چه هغه بدی اولیدله نو دَ قدرت په صورت کښې په لاس سره دَهغې ازاله کول اوختمول فرض دی خو په دې شرط چه دَ څه لوئی فتنې خطره نه وی.

دانکار کونکی دپاره د جائزاوناجائزپیژندګلو: "منکم" په لفظ سره اشاره کړې شوې ده چه دَ امربالمعروف اونهی عن المنکر ذمه واری په هغه حضراتو باندې ده چه معروف اومنکر پیژنی. اوهغه خلق متفق علیها او مختلف فیها مسائلوکښې فرق کولې شی. هغوی ناسخ اومنسوخ پیژنی اوپه مکی اومدنی نصوصو کې فرق کولې شی. ﴿وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ﴾ کښې من تبعیضیه نه هم دَدې حقیقت طرف ته اشاره کړې شوې ده

قوله: فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ:

په لاس سره د منکر منع کول: یعنی په لاس سره دې بدی منع کړی او دَدې خلاف مسلح کوشش دې او کړی دا دَ ټولو نه اعلی درجه ده په دې کښې دَ مټو دَ طاقت دَا ستعمالولو ترغیب ورکړې شوې دې چه په حقیقت کښې جهاد کول او دې نه علاوه دَ منکراتو دفاع ته شامل دی. بهرحال دلاس په طاقت سره نافذ کونکی احکاماتو تعلق دَحکمرانانو سره دې

د حدیث یوه غلطه توجیه: دَمټو دَطاقت طرف ته اشاره ده. بعضې حضرات وائی دَدې حدیث مطلب دا دې چه دَمنکر او بدئی ازاله او شی. صرف ازاله مقصود ده که هغه په ژبه سره وی او یا په بل څه حکمت سره وی لهذا دَ نهی عن المنکر ضرورت نشته دې

د توجیه تغلیط: دادَ دغه حضراتو دَ غلط سوچ نتیجه ده ځکه چه دلته "بیده" لفظ موجود دې که چرې په لاس سره دَ منع کولو او دَ ید لفظ ذکرنه وې نو بیا دَهغوی خبره اوریدو قابل وه. لیکن چه په لاس سره دَ بندولو تصریح موجود ده نودې نه پس دویمه معنی اخستل دَحدیث نه اعراض یا په دې باندې دَ اعتراض مترادف دې په کوم کښې چه دَ تحریف خطره ده.

قوله: فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ:

په ژبې سره د منکر منع کول: په ژبه سره دَمنکر دَ ازالې مطلب دا دې چه حق ښکاره بیان کړې شی. په واضح الفاظو سره په ژبه دَحق اعلان او کړې شی او بیا دغه حق نورو ته اورسولې شی. په دې کښې په ژبه سره تهدید او تغلیظ هم وی دَ موقع او محل مناسب ګرمی هم وی او نرمی هم وی ترغیب هم وی او ترهیب هم وی.

په ژبې سره د نهی عن المنکر پوره کونکی حضرات: ① نن صبا دا فریضه امامان په جماتونو کښې د جمعې د خطبو په ذریعه پوره کوی.

② مدرسین په مدارسو کښې دَتدریس په ذریعه سره پوره کوی.

③ مجاهدین ئې چه په میدان دَ جهاد کښې په کافرانو او اغیارو باندې مجاهدانه چغو او دَ جهادی اشعار او حملو په ذریعه پوره کوی.

④ مصنفین او مؤلفین ئې په خپل تصنیفاتو او جرائدو او رسائلو کښې دَ تحریر په ذریعه پوره کوی.

⑤ دَتبلیغی جماعت دوستان ئې د چلو او ګشتونو په ذریعه پوره کوی. خود دوی طریقه کارزیات تر په نرمی سره وی نو ددوی په کارکښې د نهی عن المنکر په مقابله کښې د امر بالمعروف اړخ زیات غالب دې. خوبهرصورت دا به اووایو چې دتبلیغیانو حضراتو په دې اصولو عمل جاری دې،، مالایدرك كله لايترك كله،، یعنی اوس به صرف په

امربالمعروف عمل کوو چې وس مو اوشي نو بيا به نهی عن المنکرته وراندې شو. والله اعلم بالصواب.

قوله: فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ:

په زړه سره منکر بدګڼل: دَدې مطلب دادې چه په زړه کښې دَ دغه منکر نه نفرت وی دَ هغې په کونکی باندې غصه وی او په زړه کښې پخه اراده وی چه کله موقع ملاویږی نو زه به په لاس باندې دا منکرختموم. دادَ ایمان ادنٰی درجه ده که چرې په زړه کښې داجذبه هم نه وی نوبيائی په زړه کښې هيڅ هم نشته دې.

قوله: وَذٰلِكَ أَضْعَفُ الْإِيمَانِ:

داضعف ايمان کيدو وجه: يعنی دَ ايمان دَثمراتو دا کمزورې ثمره ده اودَ ايمان په حواله دا سړې دَ آخری درجې مسلمان دې دې نه پس به هغه مسلمان پاتې نه شی ځکه چه کوم سړې په بدئی اونيکئی کښې فرق نه منی هغه دَخپل شريعت او قرآن اوحديث دَ اوامر اونواهی نه انکارکوی اودا کفردې. ځکه چه دَحرام نه نهی واجب ده دَ مکروهاتو نه نهی مستحب ده. داکس په ايمان کښې دَ ټولو نه کمزورې ځکه اوګرځولې شو چه هغه دَ طاقت اولنئی دوه درجې پرېخودې.

فائده: علامه زندیسی رحمه الله ليکلی دی چه امر باليد دَحکامو کاردې امر باللسان دَ علماؤ کاردې او امر بالقلب دَ عوام الناس کاردې.

دامر بالمعروف کولو پنځه شرطونه: فتاوىٰ عالمګيری کښې دَ امربالمعروف دَپاره پنځه شرائط دی:

① دَداعی عالم کيدل

② دَ الله تعالی رضاء او اعلاء کلمة الله ئی مقصود وی

③ چاته چه دعوت ورکوی په هغوی باندې شفقت او نرمی کول

④ په هرمشقت باندې صبر کول

⑤ داعی چه څه وائی په هغې باندې به پخپله هم عمل کوی.

د نهی عن المنکر درجات: زجاجة المصابيح کښې ليکلی دی

① که دَامر کونکی آمر غالب رائې وی چه خلق به دَ هغه خبره قبوله کړی اودَمنکرنه به منع شی. نوهغه وخت نهی عن المنکرواجب دې

② که چرې دا ګمان ئی وی چه خلق به اونه منی کنځلې به کوی بلکه وهل به کوی نوهغه وخت نهی عن المنکرترک کول افضل دی.

دغه شان که چرې دَ لوئی فتنې دَ راؤچتيدو خطره وی نوهغه وخت هم نهی عن المنکرترک

کول جائز دی

④که چرې داعی او امر کونکې سرې تـول مشقتونه برداشت کولې شی نو بیا نهی عن المنکر کول افضل دی او سرې مجاهد دې.

[۵۳۸] د امر بالمعروف او نهی عن المنکر پرېخودلو عذاب

۵۳۸-()[۲] ①وَعَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ②"«مَثَلُ الْمُدَاهِنِ فِي حُدُودِ اللَّهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا مَثَلُ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا سَفِينَةً، ③فَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَسْفَلِهَا، وَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَعْلَاهَا، ④فَكَانَ الَّذِي فِي أَسْفَلِهَا يَمُرُّ بِالْمَاءِ عَلَى الَّذِينَ فِي أَعْلَاهَا فَتَأَذَّوْا بِهِ، ⑤فَأَخَذَ فَأْسًا، فَجَعَلَ يَنْقُرُ أَسْفَلَ السَّفِينَةِ، ⑥فَأَتَوْهُ فَقَالُوا: مَا لَكَ؟ ⑦قَالَ: تَأَذَّيْتُمْ بِي وَلَا بُدَّ لِي مِنَ الْمَاءِ. ⑧فَإِنْ أَخَذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَنْجَوْهُ وَنَجَّوْا أَنْفُسَهُمْ، ⑨وَإِنْ تَرَكُوهُ أَهْلَكُوهُ وَأَهْلَكُوا أَنْفُسَهُمْ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.[۱]

ترجمه: ①او حضرت نعمان بن بشیر رضی الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، ②د الله مقرر کړه حدودو کې غفلت او سستي کونکی او د هغه په حدودوکي غورځیدونکی یعنی د ګناه ارتکاب کونکی شان د هغه خلقو په شان دی چې قرعه اچولو سره کشتۍ کې ناست وي لکه یوې سورلی کې یوځای د سفر کونکو دا عادت کوي چې د قرعه وغیره په صورت کې د هرسړی ځای متعین مقرر کول کیږي او د کوم سړي چې کوم ځای مقرر شي، هغه په ځای کیني، ③نو په هغوئ کې بعضې خلق د کشتۍ لاندي حصه کې وي، او بعضې د پاسه حصه کې، ④بیا کوم خلق چې د کشتۍ لاندي حصه کې وي، هغوئ چې اوبو څکلو د پاره پورته حصې ته راشي، نو په هغه حصه کې ناست خلق د هغه سړي د راتلو په وجه تکلیف محسوس کول شروع کړي، کوم چې اوبو اخستو د پاره پورته راشي، او د هغه خلقو په منع کې تیریږي، ⑤نو لاندي حصې والاوو کې یوسړی د پورته والاوو تکلیف او ناګواري لیدو سره دا وکړي، چې تبر اخستو سره د کشتۍ لاندي سطح ماتول شروع کړي، ⑥بیا پورته والا خلق هغه ته راشي او ورته وايي، تاته څه شوي دي، یعنی ته داڅه بې بیګتی کار کوي، چې د کشتۍ لاندي سطح ماتوي او د کشتۍ والاوو ټولو خلقو ژوند تباه کولو پسې لګیدلی یې ⑦په دې هغه سړی دا جواب ورکړي، هرکله چې زه اوبو راوړلو د پاره پورته درځم نو ستاسو په منځ کې تیریږم نو تاسو تکلیف او ناګواری محسوسوی او زه اوبه حاصلولو باندې مجبوره یم او د کشتۍ سطح ماتولو سره د اوبو را اوخکلو ځای جوړوم، ⑧په داسې حالت کې دوه صورتونه مخې ته کیدي شي، یا خو داچې د هغه سړي لاس ونیسي یعنی هغه کشتۍ ماتولو ته پرې نه ږدي چې هغه هم او خپل ځان هم د غرقیدو

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب الشهادات/باب القرعة في المشكلات (رقم-۲۶۸۶) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲۱۷۳) واحمد في المسند: ۲۷۳/۴

او هلاکت نه بچ کړي ۹یا هغه په خپل حال پریږدي یعنی کشتئ ماتولو نه هغه منع نه کړي او یا هغه هم هلاکت کې واچوي، او ځان هم هلاك کړي (بخاري)

حل اللغات: - ①الْمُدَاهِنِ: د ناجائز کار په مقابله کښې غفلت او سستي کونکی، ②اسْتَهَمُوا: قرعه او خسنړي ئې واچول، ③سَفِينَةً: کشتئ، ④فَأْسًا: تبر، ترخذ

تسهیلات:

قوله: مَثَلُ الْمُدَاهِنِ فِي حُدُودِ اللّٰهِ وَالْوَاقِعِ فِيهَا:

د مداهن تعریف: کوم سړې چه منکرته ګوری مثلاً زنا کیږی، شراب څکلې شی. غلاګانې کیږی، ډاکې وهلې کیږی، خیانتونه کیږی، د ګډاګانو او سرودونو محفلونه بنائسته کولې شی اودا سړې دَدې په بندولوباندې قدرت هم لری مګر د چا د رعایت د وجې نه یا د طمع او لالچ د وجې نه څه نه کوی بلکه ټول هرڅه په خوشحالئی سره برداشت کوی دا مداهنت دې کوم چه حرام دې اودا سړې مداهن دې اوهم دَده دَپاره دا وعید دې.

د مدارات تعریف: دَمداهنت په مقابله کښې مدارات دی دا د هغه نرمئی نوم دې چه یوسړې دَخپلو حقوقونه لاس واخلی د شر او ضرر نه دَ بچ کیدو په غرض دَ نفس دَ شرافت دَ وجې نه دَخلقو تکلیفونه برداشت کوی اودَ نرمئی سلوك کوی هم دې ته وئیلی شوی دی چه "دارهم مادمت فی دارهم" یعنی ترکومې چه دَ هغه په کورکښې او په ګاونډ کښې وې هغوی سره تعلق ساته

د نرمئ باره کښې قیمتی خبره: حضرت اشرف علی تهانوی رحمه الله ملفوظاتو کښې لیکلی دی چه مسلمان له دَ ریښم په شان کیدل پکار دی چه ریښم ډیر زیات نرم وی لیکن که څوك ئی ماتول غواړی نونه ماتیږې. یعنی حق خبره کوه لیکن لهجه دَ ریښمو په شان نرمه ساته او حق مه پریږده دَ ریښمو په شان په هغې باندې مضبوط اوسیږه. خلاصه دا چه مداهنت کښې دَ شخصی او ذاتی مفاداتو خیال ساتلې شی اوپه مدارات کښې دَ شریعت اودَ هغې دَ قواعدو خیال ساتلې شی څکه چه په دې کښې دَ دین عمومی فائده ده

قوله: مَثَلُ قَوْمٍ اسْتَهَمُوا سَفِينَةً:

د خسنړی اچولو جواز: په دې خبره باندې ځان پوهه کول ضروری دی چه په سمندری جهازکښې دَ کیناستو دَپاره مختلف حصې وی او په ټولو کښې دَ راحت او آرام په اعتبارسره فرق وی.

د خسنړی اچولوپس منظر: دَ ټولو نه پورته حصې ته عرشه وائی کومه چه دَ ټولو نه زیاته ښکلې وی. پخوانئی زمانه کښې په جهاز کښې دَ کیناستو په اعتبارسره په ټکټ کښې هیڅ فرق نه وو دَ ټولو درجو ټکټ به هم دَ یوقیمت وو. په دې وجه په هغه زمانه کښې دَ

نه خني او خراب خني به تقسيم کښي د جګړي ختمولو دپاره به خسرېي اچولي شو دي
د بره چه څه ګيله او شکايت نه وي نن صبا د قيمت او ټکټ اعتبار دي که ګران ټکټ ني
اخستي وي نو نه خاني به ورته ملاويږي کوم ته چه فرسټ کلاس واني ګني په سيکنډ
او تهرډ کلاس کښي به کيناستل وي او ديکي به خوړل وي په دي حديث کښي د قرعه
نه زني يعني خسرېي کوم ذکر دي هم ددي پس منظر په رنړاکښي دي

قوله: فَصَارَ بَعْضُهُمْ فِي أَسْفَلِهَا:

په سمندري جهاز کښي د کيناستو کيفيت: پخوانني زمانه کښي د سمندري جهاز قانون دا
وو چه اوبه به پورته په عرشه کښي ملاويدلي لهذا لاندي ناست خلق به پاس ختل او
اوبه حاصلولو سره به ئي لاندي راوړلي اکثر وختونو کښي به د دي تيريدونکو خلقو د
وجي نه دهغه ځائي خلقو تکليف محسوسولو نوهغوی به دوی ته وئيل چه په مونږ باندي
مه تيريږئي مونږ مه تنګوئي پخپله دځپلو اوبو بندوبست اوکړئي په دي حديث کښي دی
فرض کړه که چرې داسي صورت پيدا شي اود ښکته ځائي خلقو تېر راواخستو او د
لاندينئي حصي ماتولو ئي شروع کړه دي دپاره چه دسمندرنه اوبه حاصلي کړی اوس که
دغه پورتنو خلقو د ددي منکر دبندولو کوشش اوکړو نوبياخو به ټول بچ شي ليکن که
هغوی منع نه کړل نو په سوری کولوسره به اوبه دننه راشي جهاز به د اوبو نه ډک شي
اوبيا به غرق شي

دمثال مقصد: دا مثال دي د امر معروف اونهي منکر که چرې په منکرباندي انکار په
معاشره کښي کيږي نومعاشره به بچ شي ليکن که دمنکر انکار ختم شو نود اجتماعي
عذاب په راتلو سره به ټوله معاشره تباه اوبرباد شي لهذا په مسلمانانو اودهغوی په
حکمرانانو باندي فرض دی چه هغوی دي د الله تعالی د حدودو خيال اوساتی ګني ټول به
تباه شي

[۵۱۳۹] دبې عمله واعظ عذاب

۵۱۳۹-(۱)[۳] [۱] وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«يُجَاءُ بِالرَّجُلِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيُلْقَى فِي النَّارِ [۳] فَتَنْدَلِقُ أَقْتَابُهُ فِي النَّارِ فَيَطْحَنُ فِيهَا كَطَحْنِ الْحِمَارِ بِرَحَاهُ، [۴] فَيَجْتَمِعُ أَهْلُ النَّارِ عَلَيْهِ فَيَقُولُونَ أَيْ فُلَانُ! [۵] مَا شَأْنُكَ؟ أَلَيْسَ كُنْتَ تَأْمُرُنَا بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَانَا عَنِ الْمُنْكَرِ؟ [۶] قَالَ: كُنْتُ آمُرُكُمْ بِالْمَعْرُوفِ وَلَا آتِيهِ، وَأَنْهَاكُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ وَآتِيهِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[۱]) اخرجه البخاري في كتاب بدء الخلق/باب صفة النار، وأنها مخلوقة " (رقم-۳۲۶۷) ومسلم في كتاب الزهد والرقائق/باب عقوبة من يأمر بالمعروف ولا يفعله، وينهى عن المنكر ويفعله (رقم-۵۱ - (۲۹۸۹)واحمد في المسند:۲۰۵/۵

ترجمه: [۱]او حضرت اسامه رضي الله عنه بن زید رضي الله عنه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [۲]د قیامت په ورځ به د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د مقدماتو د فیصلې په وخت یوسړی راوستل شي چې هغه مستوجب دعذاب ګرځیدلو سره په اور کې به واچول شي، [۳]او اور ته رسیدو سره د هغه کولمې به سمدستي بهر راووځي او هغه به خپلې کولمې داسې میده کوي، څرنګه چې د ژرندې خر دخپلې ژرندې په ذریعه وړه میده کوي یعنی څرنګه چې ژرنده کې ګرځیدونکی خر خپلې ژرندې نه چاپیره چکر وهي، دغه شان هغه سړی به د خپلو کولمو نه چاپیره چکر وهي او هغه به د خپلو پښو لاندې میده کوي، [۴]نو هغه سړی په دې حالت کې لیدو سره دوزخیان یعنی د هغه زماني فاسق او فاجر خلق به د هغه نه راچاپیره شي، او ورته به وايي، اې فلانیه! [۵]دا ستا څه حال دی، تاخو به مونږ ته د نیک کار تلقین او نصیحت کوی، او بدکار نه به دې منع کولو، [۶]نو هغه به جواب ورکړي، بیشکه ماتاسو ته د نیک کار تلقین کوی، خو خپله به مې هغه نیک کار نه کوی، او تاسو به مې د بدکار نه منع کولئ، خو خپله به هغه بدکار نه نه منع کیدم. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ①فَتَنْدَلِقُ: اندلاق دَ شلیدو او زر زر بهر راوتو په معنی کښې دې، ②أَقْتَابُ: دا جمع ده اودَدې مفرد "قتب" دې کولموته وائی. ③فَيَطْحَنُ: غنم اوړه کول، ④رَحَاهُ: د الرّحٰی نه دې میچن ته وائی.

تسهیلات:

قوله: فَيَطْحَنُ فِيهَا كَطَحْنِ الحِمَارِ بِرَحَاهُ:

دمذکوره عبارت ترکیب: دلته طحن مصدردې چه مضاف الی الفاعل دې اومفعول محذوف دې او "برحاه" کښې باء دَ اسعانت دَپاره ده. اصل عبارت داسې دې "کطحن الحمار الدقیق باستعانة الرحی". (طیبی) [الکاشف: ۳۱۳/۸]

په حدیث کښې دتشبیه وضاحت: علامه طیبی رحمه الله فرمائی چه دلته تشبیه المرکب بالمرکب ده کوم ته چه تمثیل وائی. په کوم کښې چه یو هیئت سره دویم هیئت ته تشبیه ورکولې شي. دلته په ارهټ باندې تړلې شوې خر یامیچن سره تړلې شوې خر اودَ هغه تاویدل اودَ میچن تاویدل اودَ اوړو اوړه کیدل دا یو کیفیت اوهیئت دې او امر معروف کولوسره دَبدعمل واعظ دوزخ ته تلل اودَ خیټې نه ئې تول ځیزونه راوتل او دهیرې کیدل اودَ هغه سړی په هغې دَ پاسه تاویدو سره دَخپو لاندې کول اودَ کولمو وغیره اوړه کیدل دویم کیفیت دې. دې دواړو ته یو بل سره تشبیه ورکړې شوې ده. بهرحال دې سړی ته به دا سزا دَعمل نه کولو دَ وجې نه ملاویږي په دې وجه نه چه هغه دعوت ولې ورکولو. [الکاشف: ۳۱۳/۹]

الفصل الثاني

[۵۰۳۰] دامربالمعروف اونهی عن المنکر په ترک کولو باندې وعید

۵۰۳۰-(¹) [۴] [۱] عَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ [۳] أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ عِنْدِهِ [۴] ثُمَّ لَتَدْعُنَّهُ وَلَا يُسْتَجَابُ لَكُمْ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت حذیفه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي، حضور ﷺ وفرمایل. [۲] قسم دی په هغه پاك ذات، چې د هغه په لاس کې زما ساه ده، تاسو به خامخا د امر بالمعروف او نهي عن المنكر فريضه آنجام کوي، [۳] یا ډیر نزدې الله جل جلاله به په تاسو خپل عذاب نازل کړي [۴] بیا به تاسو الله جل جلاله نه دعا هم غواړی خو ستاسو دعا به نه قبلیږي. دا روایت ترمذي نقل کړی دی.

حل اللغات: - ① لَيُوشِكَنَّ: دَ افعال مقاربه نه دې دَ قریب او نزدې په معنی کښې دې. ② تَدْعُنَّهُ: تاسو ټول به دعاګاني غواړئ.

تسهیلات: **قوله:** أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِنْ عِنْدِهِ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې اقوال: ① دَ مسند بزار او طبرانی په یو حدیث د دې حدیث مطلب واضح کیږی. هغه مطلب داسې دې چه حضرت ابوهریره رضی الله عنه دَ رسول الله ﷺ نه نقل کوی چه حضورپاك اوفرمائیل په دوو خبروکښې دَ یوې خبرې کیدل ضروری دی یابه تاسو یقیناً امر بالمعروف اونهی عن المنکر کوئی یا به دا دواړه فریضې ترك کولوباندې یقیناً الله تعالی په تاسو باندې خراب خلق مسلط کړی بیا به ستاسو نیکان خلق (دَ خرابو خلقو دَ هلاکت دَ پاره) دعا کوی مګر دَ هغوی دعابه نه قبلیږی. (طبرانی اوسط)

② یعنی تاسو امر دَ معروف اونهی دَ منکر کوئی کنی په تاسو باندې به دَ الله تعالی عذاب نازل شی بیابه تاسو دَ دغه عذاب دَ لرې کیدو دَ پاره دعاګانې غواړئی لیکن دعابه مو نه قبلیږی.

[۵۰۳۱] ګناه بده نه ګڼرل په هغې کښې دَ شرکت کولو په شان دی

۵۰۳۱-(²) [۵] [۱] وَعَنِ الْعُرْسِ بْنِ عَمِيرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۲] قَالَ: "«إِذَا عُمِلَتِ الْخَطِيئَةُ فِي الْأَرْضِ [۳] مَنْ شَهِدَهَا فَكَرِهَهَا كَانَ كَمَنْ غَابَ عَنْهَا، [۴] وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا كَانَ كَمَنْ شَهِدَهَا» ". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

¹) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الأمر بالمعروف والنهی عن المنكر (رقم-۲۱۶۹) وابن ماجه فی كتاب الفتن/باب الأمر بالمعروف والنهی عن المنكر (رقم-۴۰۰۴) واحمد فی المسند:۵/۳۸۸

²) اخرجه ابوداود فی السنن كتاب الترجل /باب الأمر والنهی (رقم-۴۳۴۵)

ترجمه: [١] او حضرت عرس بن عميره رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه روايت كوي. [٢] حضور ﷺ وفرمايل هركله چې په زمكه گناه كول كيږي، [٣] نو كوم سړي چې هغه گناه بده وگڼي، هغه د هغه سړي په شان دی، چې هلته موجود نه وي او د هغه گناهونو وقوع نه پيژني [٤] او كوم سړی چې هلته موجود نه وي او د هغه گناهونو واقع كيدل ورته معلوم وي او هغه گناه بده نه گڼي، نو هغه د هغه سړي په شان دی، چې هلته موجود وي . او هغه گناه بده نه گڼي (ابوداؤد)

تسهيلات:

قوله: وَمَنْ غَابَ عَنْهَا فَرَضِيَهَا كَانَ كَمَنْ شَهِدَهَا:

په گناه د راضي كيدو حكم: ښكاره خبره ده چه يو سړې دَ يوې گناه باره كښې اورې اوهغه دَخلې نه ورته اوبه ښاخي چه افسوس زه هم په دې كښې وې اومزه مې اخستې وې او دَخوشحالئى سامان پيدا شوې وې اومزې مې كړې وې نودغه سړی گناه سره موافقت اوكړو نفرت ئې اونه كړو. نودې سره دَدې چه دَ دغه گناه نه په زرگونو ميلونو لرې وی دې به په دغه گناه كښې شريك گڼړلې شی ليكن يو سړې مثلاً دَ گناه مجلس او دَهغې علاقه كښې دې گناه وينی مگر په زړه سره ترينه دَدې نه نفرت كوی او بده ئې گڼړی دا سړې داسې دې لكه چه هغه نه گناه كړې اونه ئې دا ليدلې ده.دَدې وجه داده چه دَانسان دَ ايمان ادنی اوآخری درجه په زړه سره بد گڼړل دی.چاچه بد اوگڼړل كامياب شو اوچاچه بد اونه گڼړل هغه ناكام شو اودَ قرب او بعد اعتبار نشته دې.

[٥٣٢] د گناهونو دَ ختمولو كوشش نه كولو سره د عذاب ويره ده

٥٣٢-() [٦] [١] وَعَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] يَا أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هَذِهِ الْآيَةَ: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ﴾ [المائدة: ١٠٥] [٣] فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "«إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوْا مُنْكَرًا فَلَمْ يُغَيِّرُوهُ [٤] يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللّٰهُ بِعِقَابِهِ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَصَحَّحَهُ. [٥] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي دَاوُدَ: "«إِذَا رَأَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللّٰهُ بِعِقَابٍ»". [٦] وَفِي أُخْرَى لَهُ: "«مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي، ثُمَّ يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا، [٧] ثُمَّ لَا يُغَيِّرُونَ إِلَّا يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللّٰهُ بِعِقَابٍ»". وَفِي أُخْرَى لَهُ: "«مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي أَكْثَرُ مِمَّنْ يَعْمَلُهُ»".

ترجمه: [١] او حضرت ابوبكر صديق رضی الله عنه نه روايت دی يوه ورځ يې وفرمايل، [٢] اې خلقو!

[١]) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب الأمر والنهي (رقم-٤٣٣٨) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في نزول العذاب إذا لم يغير المنكر (رقم-٢١٦٨) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب الأمر بالمعروف والنهي عن المنكر (رقم-٤٠٠٥) واحمد في المسند:٢/١

تاسو دا آیت وایئ: يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا عَلَيْكُمْ أَنفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُم مَّن ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ اې مؤمنانو، تاسو خپل نفسونه لازم ونیسئ، کوم سړی چې گمراه شوی دی هغه تاسو ته ضرر نه شي رسولای. هرکله چې تاسو هدایت یافته یې ، نو حضرت ابوبکر رضی الله عنه مسلمانانو ته وفرمایل، تاسو د دې آیت تلاوت کوي او د دې معنی عموم او اطلاق باندې محمول کولو سره داگنئ. چې امر بالمعروف او نهي عن المنکر واجب نه دی ، حالانکې ستاسو داگنل صحیح نه دی [۳] ما د رسول الله ﷺ نه دا اوریدلي دي ، هرکله چې خلق یو خلاف شرع امر ووینې . او د هغه اصلاح او سرکوبي د پاره کوشش ونه کړي ، او خلق د هغه نه منع نه کړي ، [۴] نو نزدې ده چې الله جل جلاله هغوئ خپل عذاب کې مبتلا کړي ، دا روایت ابن ماجه او ترمذي نقل کړی دی. او دایې صحیح گرځولی دی ، [۵] او د ابوداود په روایت کې داسې دي. چې حضور ﷺ وفرمایل، هرکله چې خلق څوك په ظلم کولو ووینې او د هغه لاس ونه نیسي یعنی هغه د ظلم نه منع نکړي نو نزدې ده چې الله جل جلاله هغوئ ټول د خپل عذاب گرفت (نیوکه) کې واخلي او د ابوداود یو بل روایت دا الفاظ دي ، حضور ﷺ وفرمایل، کوم قوم کې چې گناه او معاصي کیدل شروع شي ، او د هغه قوم خلق د لاس او ژبې په ذریعه د هغوئ د اصلاح او بندولو قدرت لري لیکن د دې باوجود د هغه اصلاح او سرکوبي کوشش ونه کړي. نو نزدې ده چې الله جل جلاله هغوئ ټول عذاب کې مبتلا کړي ، [۶] د ابوداود په یو بل روایت کې دا الفاظ دي ، چې حضور ﷺ وفرمایل ، کوم قوم کې چې گناه او معاصر شروع شي ، او هغه قوم کې د هغه خلقو تعداد زیات وي کوم چې گناه او معاصي نه کوي ، [۷] لیکن د دې باوجود خپل گنهگار خلق د گناه نه منع نه کړي نو الله جل جلاله هغه ټول خپل عذاب کې گرفتار کړي.

حل اللغات:- ① عِقَابٍ: عذاب.

تسهیلات:

قوله : إِنَّكُمْ تَقْرَءُونَ هَذِهِ الْآيَةَ:

د مذکوره د ظاهر څخه غلط مطلب اخستل: دَدې آیت دَ ظاهری الفاظو نه معلومیږی که چرې خلق گمراه شی نو تاسو خپل ځانی بچ کړئی. دَخپل نفس فکر کوئی گمراه خلق تاسو ته ضرر اونقصان نه شی رسولې په دې شرط چه تاسو په هدایت باندې یئی. کیدې شی د صدیق اکبر رضی الله عنه نه څه خلقو تپوس کړې وی چه اوس دَ امر اونهی وخت پاتې نه شو لهذا مونږ دا پریږدو او په خپل فکر کښې کیناستل غواړو دې دَپاره چه پخپله دَگمراهئی نه بچ شو. په دې باندې صدیق اکبر رضی الله عنه عوامو ته عمومی خطاب کولو سره پوهه کړل. کیدې شی چه هغوی دَ جمعه په خطبه کښې یا په بل عام مجمع کښې داخبره کړې وی. دَهغوی د اعلان مطلب اومقصد دادې چه اوس هغه وخت نه دې راغلې چه دَدې آیت دَارشاد مطابق

تاسو دَ امراونهی عمل پریخودوسره اوس خو تاسو له مخکښې تلل دی او پـه دنیاباندې خوریـدل دی دَحـضورپاك دَ ارشـاد مطـابق کـه دې وخـت کـښې امـر اونهـی تـرك کـوئی نونیزدې ده چه په تاسو باندې عمومی او اجتماعی عذاب راشی ځکه چه دَلاس دَ قدرت باوجود اودَ افرادو دَ کثرت باوجود امر اونهی ترك کول موجب ذلت دی.

قوله: يُوشِكُ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللهُ بِعِقَابِهِ:

د عذاب راتلو دوه صورتونه: ① کله چې نهی عن المنکربندشی نوهم دغه منکر اومعصیت به دومره عام شی چه ټول خلق به پـه پخپلـه قبضـه کـښې واخلـی.دَ ګناه داسې عـام کيـدل پخپله یو عذاب دې مثلاً قتل به عام شی، زنابه عام شی، رشوت اوخیانت بـه عـام شـی، دروغ او دَ وعدې خلاف کول به عـام شـی نودَ شـریف انسـان دَپـاره بـه ژونـد تيـرول سـخت شی هم دغه عذاب دې.

② یعنی نیزدې ده چـه الله تعـالی عمـومی او احتمـاعی عـذاب نـازل کـړی.دَ دغـه عمـومی عذاب یو صورت داکیدې شی چه کافرقومونـه راشـی او پـه مسـلمانانوباندې قـابض شـی اوهغـوی پـه قـسم قـسم ذلتونوکـښې واچـوی.چنانچـه نـن صـباپه هرځـائی کـښې مـسلمانانوسره هم دغـه شـان کيـږی.دا اول لیکلې شـوی دی چـه دَامـر اونهـی پـه مـصداق کښې اول مصداق جهاددې.

قوله: مَا مِنْ قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي أَكْثَرُ مِمَّنْ يَعْمَلُهُ: یعنی ګناه نـه کـونکی بـه دَ ګنـاه کونکونه زیات وی یعنی خیربـه غالـب وی مغلوب بـه نـه وی.دَ خوخلقـو پـه لاس کـښې بـه قدرت اواختیار وی او بیابه هم نهی عن المنکرنه کوئی نوټول به عام عذاب راګیرکړی.

[۵۳۳] دَ قدرت باوجود دَ ګناه نه منع کول دَ عذاب سبب دې

۵۳۳-()[۷] [۱]وَعَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [۲] «مَا مِنْ رَجُلٍ يَكُونُ فِي قَوْمٍ يُعْمَلُ فِيهِمْ بِالْمَعَاصِي، [۳]يَقْدِرُونَ عَلَى أَنْ يُغَيِّرُوا عَلَيْهِمْ [۴]وَلَا يُغَيِّرُونَ، إِلَّا أَصَابَهُمُ اللهُ مِنْهُ بِعِقَابٍ قَبْلَ أَنْ يَمُوتُوا». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱]و حضرت جریر بن عبد الله وایي ، مـا د رسول اللهﷺ نـه دا واوریـدل ، [۲]د کـوم قوم یو سړی چې ګناه او د معاصي ارتکاب کوي ، [۳]و د هغـه قـوم خلق پـه دې قـدرت لـري ، چې د لاس یـا ژبې پـه ذریعـه د هغـه ګنـاه اصـلاح وکـړي ، او هغـه سـړي بانـدې قـابو پيـدا کـي [۴]لیکن د دې باوجود د هغه اصلاح نه کوي نو الله ﷻ پـه هغـه خلقـو د خپـل طرف نـه عـذاب نازلوي ، مخکې د دې نه چې هغوئ مړه شي .(ابوداؤد ، ابن ماجه)

---

[1]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب الأمر والنهی (رقم-۴۳۳۹) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر (رقم-۴۰۰۹) واحمد فی المسند:۳۶۴/۴

تسهیلات:

قوله: إِلَّا أَصَابَهُمُ اللهُ مِنْهُ بِعِقَابٍ قَبْلَ أَنْ يَمُوتُوا:

دامر بالمعروف اونهی عن المنکر د نه کولو په وجه د عمومی عذاب راتلل: د حدیث الباب نه دا معلومیږي چه امر المعروف او نهی عن المنکر د ترک په وجه په دنیا کښې هم عذاب راځی او د آخرت عذاب باقی پاتی وی کوم چه آخرت کښې ملاویږی. شیخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله فرمائي چه بدی نه منع کولو کښې کوتاهي کول د نورو جرمونو په مقابله کښې ډیر سخت دي د نورو جرمونو سزا به په آخرت کښې ملاویږی لیکن د بدی نه د نه منع کولو سزا به په دنیا کښې هم ملاویږی او په آخرت کښې به هم ملاویږی

[۵۱۴۴] دامر بالمعروف او نهی عن المنکر حکم دَ کومې زمانې پورې دې؟

۵۱۴۴-()[۸] [۱] وَعَنْهُ أَبِي ثَعْلَبَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - «فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: ﴿عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ﴾ [المائدة: ۱۰۵]. [۲] فَقَالَ: أَمَا وَاللهِ لَقَدْ سَأَلْتُ عَنْهَا رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] فَقَالَ: " بَلِ ائْتَمِرُوا بِالْمَعْرُوفِ، وَتَنَاهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ، [۴] حَتَّى إِذَا رَأَيْتَ شُحًّا مُطَاعًا، وَهَوًى مُتَّبَعًا، وَدُنْيَا مُؤْثَرَةً، وَإِعْجَابَ كُلِّ ذِي رَأْيٍ بِرَأْيِهِ، [۵] وَرَأَيْتَ أَمْرًا لَا بُدَّ لَكَ مِنْهُ فَعَلَيْكَ نَفْسَكَ، وَدَعْ أَمْرَ الْعَوَامِّ، [۶] فَإِنَّ وَرَاءَكُمْ أَيَّامَ الصَّبْرِ، فَمَنْ صَبَرَ فِيهِنَّ قَبَضَ عَلَى الْجَمْرِ، [۷] لِلْعَامِلِ فِيهِنَّ أَجْرُ خَمْسِينَ رَجُلًا يَعْمَلُونَ مِثْلَ عَمَلِهِ ". [۸] قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْهُمْ؟ قَالَ: أَجْرُ خَمْسِينَ مِنْكُمْ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو ثعلبه رضی الله عنه نه د الله جل جلاله د ارشاد عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إِذَا اهْتَدَيْتُمْ. په تفسیر کې منقول دی [۲] هغه وویل، پوهه شئ، قسم په الله ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه د دې آیت باره کې پوښتنه وکړه، چې آیا زه د دې آیت مطابق د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د فریضي انجام کولو نه منع شم، [۳] حضور صلی الله علیه وسلم وفرمایل، هیڅ کله نه ته د دې فریضي اداکولو نه مه منع کیږه، بلکې دنیکو حکم ورکوه [۴] تر دې چې ته خواهشات نفس ووینې چې خلق د دې غلام جوړ شوی دی، هرکله چې دنیا ووینې، چې خلق د دې غلامان شوی دی. هرکله چې دنیا ووینې چې خلق دې ته په آخرت ترجیح ورکوي هرکله چې ته ووینې چې هرعقل مند او د یومسلك والاخپل عقل او خپل مسلك د ټولو نه ښه او خوښ ګڼي. (چې نه خو کتاب وسنت او اجماع امت او قیاس طرف ته نظر کوي او نه علماء او اهل حق طرف ته رجوع کوي) بلکې محض خپل نفس د ټولو نه لوی حاکم او مفتي ګڼي [۵] او هرکله چې ته یوداسې شی ووینې، چې د هغه نه علاوه ستا د پاره څه چاره نه وي، نو

---

[۱]) اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب الأمر والنهی (رقم-۴۳۴۱) والترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب: ومن سورة المائدة (رقم-۳۰۵۸) وابن ماجه فی کتاب الفتن /باب قوله تعالی: {یا أیها الذین آمنوا علیکم أنفسکم} [المائدة: ۱۰۵] (رقم-۴۰۱۵)

په دي تولو صورتونو کې ته خپل ځان لازم ونیسه یعني خپل ځان د ګناهونو نه محفوظه ساته او د عوامو معاملاتو سره هیڅ تعلق مه ساته، بلکي د هغوئ نه ګوشه نشیني کونج کې ناسته اختیار کړه، ⑥ځکه چې ستا مخکې په آخره زمانه کې داسې ورځې راتلونکې دی، چې په هغه کې صبر کول ضروري دی، او د هغه ورځو ابتداء د خلفائي راشدینو نه پس شوي ده او دا حال او هغه سلسله جاري ده، نو کوم سړی چې په هغه ورځو کې صبر وکی (یعني په هغه سخته زمانه کې په دین د عمل کولو مشقت یي برداشت کی) نو د هغه حالت به داوي، چې ګویا هغه په خپل لاس کې سکروټه انګار آخستي دي، ⑦او په هغه ورځو کې چې کوم سړی د دین شریعت احکامو باندې عمل کوي، هغه ته به د هغه پنځوس خلقو د عمل برابر ثواب حاصلیږي کوم چې د هغه سړي په شان عمل کوي او د هغوئ تعلق به نه دهغه سختو ورځو سره وي او نه به هغوئ ته دین باندې د عمل کولو په سلسله کې هغه تکالیف او مصائب برداشت کول وي، کوم چې هغه سړي ته برداشت کول دي، ⑧په دي اوریدو سره اصحابو ﷺ عرض وکړو، یا رسول الله، آیا د هغه پنځوس خلقود عمل به اعتبار وي چې ددوي د زماني سره تعلق لري رسول الله ﷺ وفرمایل په تاسو کې د پنځوسو سړو اجر اوثواب (ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات:- ①شُحًّا: بخل، شومتیا، ②مُطَاعًا: چه دهغې پسې روان وی. ③هَوًى: خواهش دنفس، ④مُتَبَعًا: چه دهغې اتباع کولې شی، هغې وریسې روان وی، ⑤مُؤْثَرَةً: چه ترجیح ورکولې شی. ⑥إِعْجَابَ: عُجب کول، ځان خوښی کول ⑦الْعَوَامِ: عام خلق، ⑧الْجَمْر: سکروټه. ⑨الْعَامِلِ: عمل کونکې،

تسهیلات: قوله: عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ لَا يَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ:

دپنځوکارونوشروع کیدو په وخت د امر بالمعروف د پریخودلو جواز: دې آیت سره متعلق سوال دَحضرت ابوثعلبه ﷺ نه هم شوې وو دَ سائل مقصد دا وو چه کیدې شی چه دَ امر اونهی زمانه ختمه شوه اوس دا تول پریخودو سره کورکښې چپ چاپ کیناستل پکاردي. حضرت ابوثعلبه ﷺ داسې جواب ورکړو ځنګه چه صدیق اکبر ﷺ ورکړې وو چه ما دَدې آیت متعلق دَحضورپاك نه پخپله سوال کړې وو هغوی اوفرمائیل چه اوس خودَ امر اونهی وخت دې اوچه کله پنځه کارونه شروع شی نوبیا تاسو خپل ځان بچ کړئ اوعوام پریږدئ. هغه پنځه کارونه دادي:

① کله چه تاسو اوګورئ چه خلق دَ بخل اوکنجوسئ اتباع کوی

② کله چه خواهشات نفسانیه اوګورئ چه خلق دَدې غلامان جوړشوی دی

③ کله چه تاسو اوګورئ چه خلق دَ دنیا غلامان جوړیدوسره دې ته په دین باندې ترجیح ورکوی.

④ کله چه تاسو اوګورئی چه هريو عقل مند په خپله رائې باندې فخر کوی او کتاب الله او سنت رسول الله هيره وی

⑤ او کله چه تاسو اوکتل چه اوس پخپله په ګناه کښې د راګيريدو خطره پيدا شوه ګناه په سرباندې داسې تاويږی چه اوس دَدې نه بچ کيدل ګران شوی دی نو دغه وخت د عوامو معامله په هغوی باندې پريږدئی ځکه چه اوس دامر اونهی د دعوت وخت پاتې نه شو د ځان د بچ کولو دپاره چرته چه کيدې شی اوتخته ځکه چه اوس خو تولې ختمې دی د خوئيدو خطره ده

[٥١٣٥] د حضور پاک ﷺ جامع او اوږده خطبه

٥١٣٥-(١)[٩] ⓵ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ⓶ قَامَ فِينَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- خَطِيبًا بَعْدَ الْعَصْرِ، ⓷ فَلَمْ يَدَعْ شَيْئًا يَكُونُ إِلَى قِيَامِ السَّاعَةِ إِلَّا ذَكَرَهُ، حَفِظَهُ مَنْ حَفِظَهُ، وَنَسِيَهُ مَنْ نَسِيَهُ، ⓸ وَكَانَ فِيمَا قَالَ: "«إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ، وَإِنَّ اللّٰهَ مُسْتَخْلِفُكُمْ فِيهَا، فَنَاظِرٌ كَيْفَ تَعْمَلُونَ، ⓹ أَلَا فَاتَّقُوا الدُّنْيَا وَاتَّقُوا النِّسَاءَ"

ترجمه : ⓵ او حضرت ابوسعيد خدري رضی الله عنه وايي، ⓶ يوه ورځ مازيګر نه پس حضور ﷺ زمونږ مخکې ودريدی، او خطبه يې ارشاد وفرمايله ، ⓷ په خطبه کې د متعلقات دين نه داسې هيڅ ضروري خبره يې پرې نه ښودله چې ترقيامته پورې پيښ راتلی شی . حضور ﷺ هغه خبري ذکر کړي ، او ياد لرونکو ياد کی، او هيرونکی هيري کی (يعنې هغه خبري دومره تفصيل او همه ګيری سره بيان شوې) چې بعضې خلقو ته خو يادسوی، او د بعضې خلقو حافظو هيري کړي ، ⓸ حضور ﷺ چې هغه وخت څه وفرمايل ، په هغه کې داهم وو. چې دنيا ډيره شيرينه او تکه شنه ده ، او يقينًا الله جل جلاله تاسو په دې دنيا کې خليفه جوړ کړی يې ، هغه ګوری، چې تاسو څرنګه عمل کوئ، ⓹ نو خبردار، تاسو د دنيا نه ځان ساتی ، او د زنانو څخه ځان اوساتئ.

حل اللغات :- ① حُلْوَةٌ: خوږه .مزيداره. ② خَضِرَةٌ: اي ناعمة طرية سرسبزه. ښائسته. ③ مُسْتَخْلِفُكُمْ: خليفه ګان ئې جوړ کړی يئ تاسو .

⓵ وَذَكَرَ: "إِنَّ لِكُلِّ غَادِرٍ لِوَاءً يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِقَدْرِ غَدْرَتِهِ فِي الدُّنْيَا، ⓶ وَلَا غَدْرَ أَكْبَرُ مِنْ غَدْرِ أَمِيرِ الْعَامَّةِ، يُغْرَزُ لِوَاؤُهُ عِنْدَ اسْتِهِ". ⓷ قَالَ: "وَلَا يَمْنَعَنَّ أَحَدًا مِنْكُمْ هَيْبَةُ النَّاسِ أَنْ يَقُولَ بِحَقٍّ إِذَا عَلِمَهُ ⓸" وَفِي رِوَايَةٍ: "إِنْ رَأَى مُنْكَرًا أَنْ يُغَيِّرَهُ" فَبَكَى أَبُو سَعِيدٍ، ⓹ وَقَالَ: قَدْ رَأَيْنَاهُ فَمَنَعَتْنَا هَيْبَةُ النَّاسِ أَنْ نَتَكَلَّمَ فِيهِ،

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الفتن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء ما أخبر النبی صلى الله عليه وسلم أصحابه بما هو كائن إلى يوم القيامة (رقم-٢١٩١) وابن ماجه فی كتاب الفتن/باب فتنة النساء (رقم-٤٠٠٠) واحمد فی المسند:٦١/٣

ترجمه: [۱] حضور ﷺ داهم وفرمايل د قيامت په ورځ به هرعهد شكن (وعده ماتونكي) د پاره يونښان علامه جنډه ودرول شي. چې په دنيا كې د هغه د عهد شكنۍ په قدر به وي، يعنى كوم سړى چې په دنيا كې څومره زياته عهد شكني كړي وي . د هغه هغه نښان به هغه قدري اوچت (او نما يان وي) چې په ميدانِ حشر كې هغه په عام طور سره وپيژندل شي. چې د عهد شكنۍ مرتكب دى ، او ده څومره زياته عهد شكني كړې ده . او دغه شان علامه (نښان) به هر صاحب باطل د پاره وي ، چې ديوبل نه امتياز كولو سره وپيژندل شي، څرنګه چې په دې دنيا كې امراء او مقتدرين دخان سره يو علامه نښه ساتي. [۲] او هيڅ عهد شكني به داميرِ عامه د عهد شكنۍ نه زياته لويه نه وي، د هغه نښان به د هغه د مقعد نزدې ودرول شي، چې د هغه زياته رسوايي وشي. [۳] حضور ﷺ داهم وفرمايل. په تاسو كې دې هيڅوك خوف ومصيبت د حقي خبرې كولو نه منع نه كړي، هركله چې هغه د حق خبرې نه واقف وي، داسې سړى دې كلمه حق په ويلو كې د چا خوف او لحاظ نه كوي. بلكې هغه دې برملا (په ډاګه) وايي، هو، كه د هغه په وجه د سر تلو خوف وي، نو معذوري ده، اګر كه په دې صورت كې هم هغه ته حق ونيل اولى دى، [۴] او په يوه روايت كې يوخاى **وَلَا يَمْنَعَنَّ أَحَدًا مِنْكُمْ هَيْبَةُ النَّاسِ أَنْ يَقُولَ بِحَقٍّ**، په خاى دادى چې هركله په تاسو كې يو سړى څه خلاف شرع امر ووينې، نو د خلقو خوف او هيبت دې هغه د خلاف شرع امر د اصلاح او سركوبۍ نه منع نه كړي دابيان كولو سره حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه په ژړا شو [۵] او هغه اوويل . مونږ خلاف شرع امر خپلو سترګو سره وليدى او د خلقو د خوف نه مونږ د هغه باره كې هيڅ ونه ونيل شوه ،

حل اللغات: ③غَادِرٍ: دهوكه وركونكى، لوظ ماتونكې. ⑤لِوَاءٌ: جهنډا . ⑨يُغْرَزُ: اودرولې به شي. ⑥هَيْبَةُ: ويره.

> [۱] ثُمَّ قَالَ: " أَلَا إِنَّ بَنِي آدَمَ خُلِقُوا عَلَى طَبَقَاتٍ شَتَّى، [۲] فَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ مُؤْمِنًا، وَيَحْيَا مُؤْمِنًا، وَيَمُوتُ مُؤْمِنًا، [۳] وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ كَافِرًا، وَيَحْيَا كَافِرًا، وَيَمُوتُ كَافِرًا، [۴] وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ مُؤْمِنًا، وَيَحْيَا مُؤْمِنًا، وَيَمُوتُ كَافِرًا، [۵] وَمِنْهُمْ مَنْ يُولَدُ كَافِرًا، وَيَحْيَا كَافِرًا، وَيَمُوتُ مُؤْمِنًا"

ترجمه: [۱] د دې نه پس حضرت خدري رضي الله عنه بيان وكى حضور ﷺ دا هم وفرمايل. پوهه شئ، چې د آدم عليه السلام اولاد مختلف جماعتونو او متضاد اقسامو او مراتبو سره پيدا شوى دى، [۲] په دوئ كې بعضې هغه دې، چې هغه مؤمن پيدا كيږي چې سنِ تميز نه واخله آخر عمر پورې ګويا ټول عمر د ايمان په حالت كې ژوندى وي، او په ايمان د هغوئ خاتمه كيږي، [۳] او په دوئ كې بعضې هغه دي، چې كافر پيدا كيږي، چې د كفر په حالت كې ټول عمر ژوندى وي، او په كفر د هغوئ خاتمه كيږي [۴] او په هغوئ كې بعضې هغه دي، چې مؤمن پيدا كيږي، هغوئ ټول عمر د ايمان په حالت كې وي، ليكن د هغوئ خاتمه په كفر

وي. [۵] او په دوئ کې بعضې هغه دي، چې کافر پيدا کېږي، هغوئ د کفر په حالت کې ټول عمر تيروي، ليکن د هغوئ خاتمه په ايمان کېږي،

حل اللغات: ⑧طَبَقَاتٍ: ډلې ډلې، مراتبو والا، ⑨شَتَّى: مختلف.

[۱] قَالَ: وَذَكَرَ الْغَضَبَ [۲] "فَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ سَرِيعَ الْغَضَبِ سَرِيعَ الْفَيْءِ فَإِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرَى، [۳] وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ بَطِيءَ الْغَضَبِ بَطِيءَ الْفَيْءِ فَإِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرَى، [۴] وَخِيَارُكُمْ مَنْ يَكُونُ بَطِيءَ الْغَضَبِ سَرِيعَ الْفَيْءِ، [۵] وَشِرَارُكُمْ مَنْ يَكُونُ سَرِيعَ الْغَضَبِ بَطِيءَ الْفَيْءِ". [۶] قَالَ: "اتَّقُوا الْغَضَبَ، فَإِنَّهُ جَمْرَةٌ عَلَى قَلْبِ ابْنِ آدَمَ، أَلَا تَرَوْنَ إِلَى انْتِفَاخِ أَوْدَاجِهِ؟ وَحُمْرَةِ عَيْنَيْهِ؟ [۷] فَمَنْ أَحَسَّ بِشَيْءٍ مِنْ ذَلِكَ فَلْيَضْطَجِعْ وَلْيَتَلَبَّدْ بِالْأَرْضِ"

ترجمه: [۱] حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي، په دي موقع حضور صلى الله عليه وسلم د غضب او غصې قسمونه هم ذکر کړه، [۲] وي فرمايل بعضې سړيان ډير زر غضب ناك کېږي، ليکن د هغوئ غضب او غصه هم زر ختميږي يعنى څه خلق داسې وي، چې هغوئ ته په معمولي خبره زر غصه راځي، او د هغوئ غصه چې څومره تيزى سره راځي دغه شان تيزى سره ختميږي. نو په دي دواړو کې هر يو د دويم بدل جوړيږي، يعنى زر غصه راتلل خراب خصلت دى. او د غصې زر تلل نيك خصلت دى، کوم سړى کې چې دا دواړه خصلتونه وي، نو په هغه کې چې کوم خصلت ښه دى، هغه د خراب خصلت مکافات کوي کمي پوره کوي دغه شان په دي باره کې هغه سړى نه خو د مدح او تحسين مستحق دى، او نه د خرابي مستوجب دى. بلکې د دواړو خصلتونو د حامل کيدو په وجه بين بين منځ منځ کې دى، په دي اعتبار سره د هغه متعلق نه دا وئيل کيدل چې په هغه خلقو کې ښه سړى دى او نه دا وئيل کيدي شي. چې هغه خلقو کې بدتر سړى دى، [۳] او بعضې سړى داسې وي چې هغه ته غصه په خند راځي. او په خند خني ځي، داسې سړى هم يوښه خصلت لري، او يوخراب خصلت، اګر که د غصې په خند راتلل ښه دى، ليکن د هغه په خند تلل بد دى، نو داسې سړى هم منځ منځ کې دى، چې هغه ته نه بهترين سړى وئيل کيدي شي او نه بدترين، [۴] نو په تاسو کې بهترين خلق هغه دي چې هغوئ ته غصه په خند راځي او زر ختميږي، [۵] او په تاسو کې بدترين سړى هغه دى، چې هغه ته غصه زر راځي، او ډير وخت وروسته خني غصه ولاړه شي، [۶] د دې نه پس حضور صلى الله عليه وسلم وفرمايل، تاسو د غصې نه بچ شئ يعنى داسې کار مه کوئ. چې د هغه په وجه غصه راشي. يا دا مطلب دى، چې د غصې نه د الله پناه غواړئ، ځکه چې غصه د ابن آدم په قلب يوه ګرمه سکروټه انګار ده يعنى غصه د اور د سکروټې په شان حرارت غريز يه او حرارت جلبيه لري، چې د نفس انګيتمي کې دباو شوي ده او هرکله چې خواهشِ نفس هغه راوپاروي نو د هغه حرارت او تيزي قلب باندې غالب راځي او عقل خپل تصرف کولو نه عاجزه پاتې شي، د هغه نتيجه داشي، چې داسې سړى د خپلې غصې په اور (آګ) کې نور خلق خو سوزي، ليکن خپله هم سوزي، آيا تاسو نه وينئ،

چې هركله يوسړى غضب ناك شي، نو د هغه د څټ رغاړې رګونه وپړسيږي، او سترګې يې سرې (سرخ) شي، يعنې داشيان دراصل د هغه غصې د حرارت غريزيه او بخارات غليظه د راپورته کيدو اثر وي، دغه شان دغضب ناك ظاهر ګويا د هغه د باطن غماز کيږي.
۷ هركله چې يوسړى دا محسوس کړي چې اوس غصه راځي نو هغه ته پکار دي، چې هغه سمدستي په ارخ پريوځي او د زمکې سره ونخلي.

حل اللغات: ⑩سَرِيعَ: تيز. ⑪الْفَيْء: واپس کيږي، ختميږي. ⑫بَطِيء: په قلار، صبرناک. ⑬جَمْرَةٌ: سکروټه. ⑭انْتِفَاخِ: پړسيدل. ⑮أَوْدَاجِ: رګونه. ⑯الْمُتَلَبِّدُ: اودې اينخلي.

۱ قَالَ: وَذَكَرَ الدَّيْنَ فَقَالَ: " مِنْكُمْ مَنْ يَكُونُ حَسَنَ الْقَضَاءِ، وَإِذَا كَانَ لَهُ أَفْحَشَ فِي الطَّلَبِ، فَإِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرَى، ۲ وَمِنْهُمْ مَنْ يَكُونُ سَيِّئَ الْقَضَاءِ، وَإِنْ كَانَ لَهُ أَجْمَلَ فِي الطَّلَبِ، فَإِحْدَاهُمَا بِالْأُخْرَى. ۳ وَخِيَارُكُمْ مَنْ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ الدَّيْنُ أَحْسَنَ الْقَضَاءِ، وَإِنْ كَانَ لَهُ أَجْمَلَ فِي الطَّلَبِ،

ترجمه: ۱ او حضور ﷺ د قرض هم ذکر وکړ يعنې قرض، قرضدار او د قرض خواه احوال او اقسام يې هم بيان کړه، حضور ﷺ وفرمايل، په تاسو کې بعضې سړي داسې وي. چې هغه د قرض ادائيګۍ کې خوښه وي، ليکن خپل قرض وصولولو کې سختي کوي. يعنې که په هغه د چا قرض وي، نو د هغه اداء کولو کې د صفايي معامله او دخوبې ثبوت ورکوي. ليکن کله چې د هغه په چا قرض وي نو د هغه قرضدار نه وصولولو کې ورسره سختي کوي، په دې طور چې د مطالبې او تقاضې په وخت د هغه قرضدار څه ادب او لحاظ نه کوي او د سختۍ او بدکلامۍ په ذريعه هغه ته تکليف رسوي، دغه شان په هغه کې د قرض خوبي سره د اداکولو هم خصلت وي او وصولې قرض کې د بدۍ اختيارولو هم خصلت وي، نو په دې دواړو خصلتونو کې هريو د دويم بدل شي، ۲ او بعضې سړي داسې وي. چې هغه قرض اداکولو کې خو ډير خراب ثابتيږي، د بل چا نه خپل قرض وصولولو کې ښه ثابتيږي، دغه شان په هغه کې هم يو ښه او يو خراب خصلت وي، د هغه د دې دواړو خصلتونو نه هريو د دويم بدل کيږي ۳ نو په تاسو کې بهترين خلق هغه دي، چې د چا قرض اداکولو کې هم ښه وي، او د چا نه خپل قرض وصولولو کې هم ښه وي،

۱ وَشِرَارُكُمْ مَنْ إِذَا كَانَ عَلَيْهِ الدَّيْنُ أَسَاءَ الْقَضَاءَ وَإِنْ كَانَ لَهُ أَفْحَشَ فِي الطَّلَبِ ". ۲ حَتَّى إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ عَلَى رُءُوسِ النَّخْلِ وَأَطْرَافِ الْحِيطَانِ فَقَالَ: ۳ " أَمَا إِنَّهُ لَمْ يَبْقَ مِنَ الدُّنْيَا فِيمَا مَضَى مِنْهَا إِلَّا كَمَا بَقِيَ مِنْ يَوْمِكُمْ هَذَا فِيمَا مَضَى مِنْهُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ او په تاسو کې بدترين خلق هغه دي چې د چا قرض اداکولو کې هم خراب وي، او د چا نه خپل قرض وصولولو کې هم خراب وي، ۲ حضور ﷺ په خپله خطبه کې دا نصيحتونه وفرمايل، تردې چې د نمر رڼا صرف د کجورو د ونو په څوکو او د ديوالونو په غاړو پاتې شوه يعنې څه وخت چې د ورځې آخره شوه ۳ نو حضور ﷺ دا وفرمايل، ياد

لري؛ د دې دنيا چې کومه زمانه تيره شوي ده، د هغه په نسبت اوس صرف دومره بقي پاتې شوي ده، څومره چې د نن ورځ د تيري شوی حصې په نسبت دا آخري وخت دی يعنی څرنګه چې د نن ورځ نژدې نژدې پوره حصه تيره شوي ده، او اوس ډيره قليله موده بقي پاتې شوي ده همداسي د دنيا مثال دي (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: قَامَ فِينَا رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- خَطِيبًا بَعْدَ الْعَصْرِ:

د خطبې خلاصه: دَ حضورپاك دَ ژوند مبارك دَ اوږدو خطبو نه دا يوه خطبه ده په کومه کښې چه حضورپاك دَ دنيا دَ بې ثباتئ او ناپائيدارئ بيان کړې دي او دَ انسانو مختلف طبائع او معاملات او نفسيات او دَ هغې ابتداء او انتهاء ئې بيان کړې دی

قوله: إِنَّ الدُّنْيَا حُلْوَةٌ خَضِرَةٌ:

شينکې سره د دنيا د تشبيه وجه: يعنی شنه تازه آباد چمن او ګلزار دې عرب شينکې ډير زيات خوښوی دنيائی دَ چمن په شان او ګرځوله څکه چه شينکی باندې ډير زر زوال راځي نو دنيا هم دغه شان ده.

قوله: وَلَا غَدْرَ أَكْبَرُ مِنْ غَدْرِ أَمِيرِ الْعَامَّةِ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① چه يو باغی سړې دَ بغاوت جهنډا اوچته کړی او دَ عوام الناس متفقه امير خلاف دَ بغاوت اعلان اوکړی.

② چه يو ظالم غاصب متغلب حاکم راشی او دَ چا په جائز حکومت باندې قبضه اوکړی نه شوری وی نه مشوره وی نه دَ چا مرضی وی بلکه په زبردستئ سره په اقتدار باندی قابض شی دَ داسې غدار په شاکښې به اوږده جهنډا دَ قيامت په ورځ خښولې شی څکه چه هغه دَ عوامو دَ عام اميرالمومنين خلافت باندې قبضه اوکړه او غداری ئې اوکړه

قوله: أَلَا إِنَّ بَنِي آدَمَ خُلِقُوا عَلَى طَبَقَاتٍ شَتَّى:

د هدايت او ضلالت په اعتبار سره د انسانی تخليق څلور مراتب:

① کامياب انسان

② ناکام انسان

③ په شروع کښې کامياب او په آخره کښې ناکام

④ په شروع کښې ناکام او په آخره کښې کامياب

قوله: قَالَ: وَذَكَرَ الْغَضَبَ:

د غصې راتلو په اعتبار سره د انسانانو څلور قسمونه: ① يو هغه سړې دې چه ډير زر غصه کيږی ليکن زر راضی کيږی. دا برابر سرابر دي "فاحداهما بالاخرى" هم دغه مطلب دي

④ دغه شان یو سړي ډیر وخت پس غصه کیږي مګر د غصې نه پس تر ډیره وخته پورې غصه باقي وي دا هم برابر سرابر دی.

③ یو سړي داسې دې چه ډیر وخت پس غصه کیږي لیکن ډیر زر راضي کیږي دا د ښولو نه ښه صفت والا سړي دې.

⑥ یو سړي داسې دې چه ډیر زر غصه کیږي اوبیا د راضي کیدو نوم نه اخلي دا سړې بدترین صفت والا دي.

قوله: وَذَكَرَ الدَّيْنَ فَقَالَ:

د قرض اخستلو او اداکولو په اعتبار د انسانانو څلور قسمونه:

① یو سړي داسې دې چه که هغه مدیون دې او په بهتر طریقه سره قرض ادا کوي لیکن په قرض اخستو کښې نورو سره سختي کوي. د افحش مطلب هم دادې چه سختي کوي او غلیظ انداز اختیاروي دا هم برابر سرابر دې.

② یو هغه سړې دې چه په قرض ورکولو کښې خو ښه نه دې لیکن په غوښتلو کښې ډیر نرم او ښه دې دا هم برابر سرابر دې.

③ یو هغه سړې دې چه د قرض په ادا کولو کښې هم ښه او نرم دې او په قرض غوښتلو کښې هم نرم او ښه دې. دا د بهترین خصلت سړې دې.

④ یو هغه سړې دې چه قرض ورکولو کښې ډیر خراب دې او که د هغه په چا باندې قرض وي نو په غوښتو کښې هم ډیر خراب دې. دا بدترین سړې دې.

قوله: حَتَّى إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ عَلَى رُءُوسِ النَّخْلِ:

د دنیا د عمر ختمیدل: دغه وخت د نمر د ډوبیدو وخت شوي وو نو حضورپاک اوفرمائیل چه د دنیا عمر ختم شوي دې بس دومره باقي دې څومره چې د پوره ورځې یو ذره وخت اوس باقي دې.

[٥٣٦] د ګناهونو ډیروالی سره قومونه تباه کیږي

٥٣٦-(١) [١٠] ①وَعَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ، عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "«لَنْ يَهْلِكَ النَّاسُ ③حَتَّى يُعْذِرُوا مِنْ أَنْفُسِهِمْ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: ①او حضرت ابو البختري د رسول الله ﷺ د صحابه ﷺ نه د یو سړي نه روایت کوي د هغه بیان دی، ②چې رسول الله ﷺ وفرمایل، خلق به هغه پورې هیڅ کله نه هلا کیږي او بربادیږي، ③تردي چې دهغوئ نه ډیر زیات ګناهونه او بدي صادریدل شروع شي (ابوداؤد)

---

(١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب الأمر والنهى (رقم-٤٣٤٧) واحمد في المسند: ٢١٠/٤

تسهیلات:

قوله: لَنْ يَهْلِكَ النَّاسُ حَتَّى يُعْذِرُوا مِنْ أَنْفُسِهِمْ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① اوس داخلق دَخپلو ګناهونو پخپله هم معذرت نه کوي بلکه دګناه اقرار هم کوی او په ښکاره باندې سرعام ګناه هم کوی نوهلاکیږی. دَدې جملې دریم مطلب دادې چه عذرونه مخې ته ساتلوسره باطل تاویلونه کوی اوګناه ته قانونی شکل ورکوی. داعلمی غلطی ده په کوم سره چه سرې ګمراه کیدوسره هلاکیږی ځکه چه دغه شان دَګناهونو کثرت کیږی او هغې کښې قومونه غرقیږی.

② دا إعذار دَباب افعال نه دی او دَسلب مأخذ دَپاره دې دکوم مطلب چه به داشی دغه خلقو دومره ګناهونه اوکړل چه اوس دَهغوی دَطرف نه عذر معذرت هم ختم شو اوس داخلق پخپله خپل ځان صاحب عذر نه ګنړی نودَ الله تعالی کوره پرې لګی.

[۵۰۳۷] دَقدرت باوجود منکر نه نه منع کول اجتماعی عذاب ته دعوت ورکول دی

۵۰۳۷-()[۱۱] ①وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ عَدِيٍّ الْكِنْدِيِّ قَالَ: حَدَّثَنَا مَوْلًى لَنَا ②أَنَّهُ سَمِعَ جَدِّي -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- يَقُولُ: ③سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "«إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَا يُعَذِّبُ الْعَامَّةَ بِعَمَلِ الْخَاصَّةِ ④حَتَّى يَرَوُا الْمُنْكَرَ بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ وَهُمْ قَادِرُونَ عَلَى أَنْ يُنْكِرُوهُ فَلَا يُنْكِرُوا، ⑤فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَذَّبَ اللَّهُ الْعَامَّةَ وَالْخَاصَّةَ»". رَوَاهُ فِي "شَرْحِ السُّنَّةِ".

ترجمه: ① و حضرت عدي بن عدي کندي وايي، مونږ ته زمونږ يو آزاد کرده غلام بيان وکی ②چې هغه خما د نیکه (دادا حضرت عميره کندي) نه واوريدل، ③هغه ويل. ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل الله ﷻ د يوقوم بعضې افراد د اعمال بد په سبب، د هغه اکثره افراد که د بد عملو او د احكام خداوندي نافرمانو کې مبتلا وي، نو د هغه په بدله کې نور خلق په عذاب کې نه مبتلا کوي، ④خو که د هغه قوم خلق دا ووينی، چې د هغوئ په منځ کې د بعضې افرادو په وجه خلاف شرع امور کېږي، او د هغه اصلاح او سرکوبي نه کوي، په شرط د دې چې د هغه د اصلاح او سرکوبي قدرت لري، ⑤او په دې صورت حال يعنی د قدرت لرلو باوجود سکوت او سستي اختيارولو کې د قوم اکثره خلق اونخلي نو بيا الله ﷻ خاص او عام ټول په عذاب کې مبتلا کوي. (شرح السنه)

حل اللغات: - ① بَيْنَ ظَهْرَانَيْهِمْ: ددوی په مینځ کښې يعنی ددوی په موجودګئ کښې.

---

[۱]) و مالک فی الموطا کتاب الکلام/باب ما جاء فی عذاب العامة بعمل الخاصة(رقم-۲۳) واحمد فی المسند: ۴/۱۹۴

تسهیلات:

قوله: إِنَّ اللَّهَ تَعَالَى لَا يُعَذِّبُ الْعَامَّةَ بِعَمَلِ الْخَاصَّةِ:

د گناهونو په وجه د عذاب د راتلودوه صورتونه: ① کله چه بعضې افراد د قوم په مخکې کبائر کول شروع کړي او قوم د طاقت او قوت لرلو باوجود هم دوې منع نه کړي نو په دې صورت کښې به ټولو ته عذاب ملاویږي یعنې کبائر کونکو ته به د جرم په وجه عذاب ملاویږي او نورو خلقو ته به د بدۍ نه د نه منع کولو په وجه عذاب ملاویږي.

② د آیت مبارکه "ولا تزر وازرة وزر أخرى" پیش نظر کله چه د قوم یو څو افراد کبائر کول شروع کړي نو ددې عذاب به صرف هم دغه کبائر کونکوته ملاویږي او د قوم نورو افرادو ته به ددې عذاب نه ملاویږي

[۵۳۸] دَ نهي عن المنكر د پریخودو په وجه د بني اسرائیلو عذاب

٥٣٨-()[١] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] "«لَمَّا وَقَعَتْ بَنُو إِسْرَائِيلَ فِي الْمَعَاصِي نَهَتْهُمْ عُلَمَاؤُهُمْ فَلَمْ يَنْتَهُوا، [٣] فَجَالَسُوهُمْ فِي مَجَالِسِهِمْ، وَآكَلُوهُمْ وَشَارَبُوهُمْ، [٤] فَضَرَبَ اللَّهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ، فَلَعَنَهُمْ عَلَى لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى بْنِ مَرْيَمَ [٥] ذَلِكَ بِمَا عَصَوْا وَكَانُوا يَعْتَدُونَ. [٦] قَالَ: فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-وَكَانَ مُتَّكِئًا [٧] فَقَالَ: " لَا وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ حَتَّى تَأْطِرُوهُمْ أَطْرًا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَأَبُو دَاوُدَ [٨] وَفِي رِوَايَتِهِ قَالَ: " «كَلَّا وَاللَّهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ، [٩] وَلَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدَيِ الظَّالِمِ، وَلَتَأْطِرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا، وَلَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْرًا، [١٠] أَوْ لَيَضْرِبَنَّ اللَّهُ بِقُلُوبِ بَعْضِكُمْ عَلَى بَعْضٍ، ثُمَّ لَيَلْعَنَنَّكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ» ".

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن مسعود رضي الله عنه وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] بني اسرائیل چې کوم وخت زنا، د خالي په ورغ ښکار کولو او د دې نه نورو ګناهونو کې مبتلا شو، نو د هغوئ علماوو هغوئ منع کړه، هر کله چې هغوئ منع نه شو یعنی هغوئ د خپلو علماؤ خبره ونه منله، او ممنوع څیزونه یې ترک نه کړل [۳] نو د هغوئ علماء هم د هغوئ په مجلسونو کې ورګډ شو، او د هغوئ هم خیال او هم پیاله شو. یعنی د هغوئ علماء مخکې خو هغوئ د بد عمل او د ګناهونو لار اختیارولو نه منع کړه، لیکن کوم وخت چې هغه خلق د خپل حرکتونو نه منع نه شوه، او د بدۍ په لار ټینګ پاتې شو، نو بیا هغه علماء هم هغه بد عملو او ګنهکار وخلقو سره خلط ملط شوه، او سکوت او سستي یې اختیار کړه، [۴] نو الله ﷻ هغوئ ټول خلط ملط کړه، او د هغوئ زړونه یې

[۱] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الترجل /باب الأمر والنهی (رقم-۴۳۳۷) والترمذی فی کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: ومن سورة المائدة (رقم-۳۰۴۷) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر (رقم-۴۰۰۶) واحمد فی المسند:۳۹۱/۱

خپلو کې د یوبل زړونو سره یوځای کړه بیا الله ﷻ د هغه بني اسرائیلو ګنهګار خلقو او هغوئ سره مصاحبت او مجالست لرونکو او سستي اختیارونکو باندې د حضرت داود علیه السلام او حضرت عیسی بن مریم د ژبي په ذریعه لعنت وکړ. ⑤او دا لعنت وربانديې ځکه شوی وو، چې هغه خلقو ګناه کولو کې د حد نه تجاوز کړی وو. (یعني هغوئ محض ګناه کولو او سستي اختیارولو باندې اکتفاء ونه کړه بلکي د حد نه تجاوز کولو سره کفر ته رسیدلی وو، په دې طور چې خلاف شرع امور یې حلال او جائز ګڼل شروع کړه. په ګناهونو رضامندي ظاهرول او ګنهګار ښه ګڼل یې شروع کړه) ⑥حضرت ابن مسعود رضي الله عنه وایي، رسول الله ﷺ چې هغه وخت (خپل اړخ یا شا سره) تکیه لګولي ناست وو (مذکوره بالا خبرې ارشاد فرمایلو نه پس) سیده کینا ستی (یعني حضور ﷺ تکیه پریخودله. او داسې کینا ستی، لکه چې د څه اهمې خبرې د فرمایلو یې اراده وې) ⑦نو وې فرمایل. په هغه ذات مې دې قسم وې، د چا په قبضه کې چې څما ساه ده، تاسو هغه وخته پورې عذاب الهي نه نجات نشې پیدا کوی، ترڅو پورې چې ظالمان د هغوئ د ظلم نه او فاسقان د هغوئ د ګناه نه منع نه کړې، (ترمذي، ابوداود) ⑧او د ابوداود په یوه روایت کې داسې دي چې حضور ﷺ وفرمایل، ستاسو داګمان دی، چې د سکوت او سستی باوجود تاسو به د عذاب الهي نه نجات پیدا کی، نو داسې هیڅ کله نه ده بلکي قسم په الله ستاسو د پاره ضروري ده، چې خلقو ته د نیکي د لاړ اختیارولو حکم ورکوئ او هغوئ د بدی د لاړ نه منع کوئ، ⑨د ظالم لاس نیسئ هغه حق طرف ته مائل کوئ. او هغه د حق او انصاف په لاړ قائموي، ⑩که تاسو داسې نه کوئ، نو پوهه شئ، چې بیا به الله ﷻ ستاسو د ګنهګارو او هغوئ سره د سکوت او سستي کونکو زړونه هم خپلو کې د یوبل زړه خلط ملط کړي. او بیابه په تاسو لعنت وفرمایي، څرنګه چې بني اسرائیلو باندې د هغوئ د ګناهونو په وجه لعنت فرمایلی وو.

حل اللغات:- ①تَأْطِرُوهُمْ: اطرأ دَدې مصدردې دَ بندولو او منع کولو په معنی کښې دې. ②أَطْرًا: بندول.

تسهیلات:

قوله: فَضَرَبَ اللّٰهُ قُلُوبَ بَعْضِهِمْ بِبَعْضٍ:

دنهی عن المنکرنه کولو په وجه د عذاب راتلل: یعنی کله چه علماؤ بنی اسرائیل ښه منع کړل مګر هغه خلق دګناهونونه رامنع نه شو نوعلماء هم هغوی سره په ګناهونو کښې شریك شو. په دې سره په هغوی باندې اجتماعی عذاب راغلو اودهغوی نوم اونښه ئی ختمه کړه. "فضرب الله قلوب بعضهم" مطلب هم دا دې چه تول یوځائی شو اوپه ګناه کښې اخته شو نو الله تعالی اول دهغوی زړونه تور کړل اوپه دې کښې یوبل سره ګډوډ شو بیا

دهغوی زړونه په اجتماعي توګه باندې سخت کړې شو په کوم سره چه هغوی د الله تعالی نه لرې شو اوس هغوی دد دې قابل پاتې نه شو چه حق قبول کړې شي په دې وجه مسخ کیدو سره څه خنزیران جوړشو او څه بیزوګان شو ددې بیان نه پس حضورپاك په اهتمام سره کیناستو او بنکلې ارشادات ئې د مجمع مخې ته بیان کړل په کوم کښې چه دا ارشاد ورچه په الله تعالی قسم! تاسوله د ظالم لاس نیولو سره دمنکرنه منع کول دي ګنی ستاسو زړونه به هم دهغوی د زړونو په شان شي

قوله: وَلَتَأْطِرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْرًا:

دګناهونوڅخه د منع کولو تاکید:دا لفظ د ضرب اونصر دواړو نه راخی اطراً ددې مصدردې د بندولو او منع کولوپه معنی کښې دې یعنی په تاسوباندې لازم دی چه ګناهګارو او ظالمانو او فساد کونکو لاسونه اونیسئ اود ګناه نه ئې منع کړئی که چرې هغوی منع نه شو نو تاسو دهغوی نه جدا شئی اوځان ترې غاړې ته کړئی هغوی سره ناسته مه کوئی په هغوی باندې خوراك مه کوئی اومه دهغوی نه خوراك څښاك کوئی یوروایت کښې دی "ولتأطرنه علی الحق اطراً"ددې تشریح هم دې سره لګیدلې ده "اي لتقصرنه علی الحق قصرا"ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی "اي لتمنعن الظالم باللسان عند العجزعن أخذ اليد باليد علی الحق أي علی اجبارہ علی الحق وانکارہ علی الباطل اطراً اي منعا ظاهرا ليس فيه لومة لائم"

[٥٣٩] دبې عمله واعظ اوبې عمله عالم سزا

٥١٣٠-()[١٣] ١وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢" «رَأَيْتُ لَيْلَةَ أُسْرِيَ بِي رِجَالًا تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيضَ مِنْ نَارٍ، ٣قُلْتُ: مَنْ هَؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ؟ قَالَ: هَؤُلَاءِ خُطَبَاءُ مِنْ أُمَّتِكَ يَأْمُرُونَ النَّاسَ بِالْبِرِّ وَيَنْسَوْنَ أَنْفُسَهُمْ» ". ٤رَوَاهُ فِي " شَرْحِ السُّنَّةِ " وَالْبَيْهَقِيُّ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ " ٥وَفِي رِوَايَتِهِ قَالَ: " «خُطَبَاءُ مِنْ أُمَّتِكَ الَّذِينَ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ، وَيَقْرَءُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَلَا يَعْمَلُونَ» ".

ترجمه : ١او حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل. ٢ما د معراج په شپه څني خلق ولیدل، چې د هغوئ شونډي د اور په قینچیانو کټ کول کیدی. ٣ما پوښتنه وکړه، اې جبرائیل علیه السلام! دا کوم خلق دي، هغه ویل، دا ستاسو د امت هغه علماء، واعظین او مشائخ دي، چې خلقوته به یې د نیکي تلقین کوی. خو خپل ځان به یې هیروی. یعنی خپله به یې عمل نه کوی، لیکن نورو ته به یې د عمل تلقین او نصیحت کوی، ٤دا روایت بغوي رحمه الله شرح السنه کې او بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې نقل کړی دی، ٥او د بیهقي رحمه الله په یوه روایت کې دا الفاظ دي چې حضرت جبرائیل علیه السلام جواب ورکړو، چې داخلق ستاسو صلی الله علیه وسلم د امت هغه واعظان او خطیبان دي چې هغه وایي.

()اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم الحدیث ٤١٥٩ والبیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ١٧٧٣، واحمد فی المسند ٣/ ١٢٠

كوم چې خپله نه كوي، چې كتاب الله به يې وئيلو، ليكن عمل به يې باندې نه كوی

حل اللغات: - ① تُقْرَضُ: پريكولې به شی، ② شِفَاهُهُمْ: شونډې دهغوی، ③ مَقَارِيضَ: د مقراض جمع ده، قينچی،

تسهيلات:

قوله: رِجَالًا تُقْرَضُ شِفَاهُهُمْ بِمَقَارِيضَ مِنْ نَارٍ: دا دَ بې عمله وعظ او بې عمله عالم دَپاره سخت وعيد دې په يوبل حديث كښې دی «ويل للجاهل منه وللعالم سبع مرات» په يوبل حديث كښې دی «اشد الناس عذابا يوم القيامة عالم لم ينفعه الله بعلمه» يو شاعر وئيلی دی

فساد كبير عالم متهتك   وأكبر منه جاهل متنسك

[٥٥٠٠] د خيانت په مسخ كيدل

٥٥٠٠-() [۱۳] [۱] وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«أُنْزِلَتِ الْمَائِدَةُ مِنَ السَّمَاءِ خُبْزًا وَلَحْمًا، [۳] وَأُمِرُوا أَنْ لَا يَخُونُوا وَلَا يَدَّخِرُوا لِغَدٍ، [۴] فَخَانُوا وَادَّخَرُوا وَرَفَعُوا لِغَدٍ، فَمُسِخُوا قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمار بن ياسر رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل، [۲] د حضرت عيسىٰ عليه السلام په قوم د اسمان نه د روټۍ او غوښوخيزونه نازل شو [۳] او هغوئ ته يې حكم وركړو، چې نه خو دې په هغه كې خيانت كوی او نه دې راتلونكي ورځې د پاره ذخيره كوي، يعنی د دې نعمتِ الهي باره كې هغوئ ته خاص طور سره دوه حكمه وركول شوه. يو خوداچې هيڅ سړی دې په دې كې خيانت نه كوي، يعنی داسې دې نه كوي، چې دا خيزونه د چا قبضه كې راشي، خپله دې ښې ښه ښه وخوري يا نورو نه دې زيات وخوري او نورو خلقو ته دې خراب ياكم طعام حاصل شي او دويم حكم دا وو، چې كوم څيزونه نازل شي، هغه بچ كولو سره دويمې ورځې د پاره كيږدي، [۴] ليكن هغوئ خيانت هم وكړ او ذخيره يې هم وكړه چې دويمې ورځې د پاره يې وساتلې، نو هغوئ د شادوګانو او خنزيرانو په شكل كې بدل شوه. (ترمذي)

حل اللغات: - ① خُبْزًا: روټۍ. دوډۍ، ② لَحْمًا: غوښه، ③ فَمُسِخُوا: مسخ كړې شو، شكلونه ئې وران شول ④ قِرَدَةً: بيزوګان.

تسهيلات:

قوله: فَمُسِخُوا قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ:

دتاركين امر بالمعروف هغه شادوګان او خنزيران جوړيدل: دَخيانت صورت دا وو چه دَادئی په ځائی ئی اعلیٰ دَ اجازت نه بغير واخستل يا دَنورو خلقو څيز ئی اوچت

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم /باب: ومن سورة المائدة (رقم-۳۰۶۱)

کړو "قردة وخنازیر" دا سې معلومیږي چه دَ بوډاګانو شکلونه وران شو په بیزوګانو کښې بدل شو او دَ ځوانانو شکلونه په خنزیرانو کښې بدل شو

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٥١٥١] دظالم بادشاه د ظلم برداشت کولو فضیلت

٥١٥١ -() [١٥] ١ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٢ "«إِنَّهُ تُصِيبُ أُمَّتِي فِي آخِرِ الزَّمَانِ مِنْ سُلْطَانِهِمْ شَدَائِدُ، ٣ لَا يَنْجُو مِنْهُ إِلَّا رَجُلٌ عَرَفَ دِينَ اللّٰهِ، ٤ فَجَاهَدَ عَلَيْهِ بِلِسَانِهِ وَيَدِهِ وَقَلْبِهِ، فَذَلِكَ الَّذِي سَبَقَتْ لَهُ السَّوَابِقُ، ٥ وَرَجُلٌ عَرَفَ دِينَ اللّٰهِ، فَصَدَّقَ بِهِ، ٦ وَرَجُلٌ عَرَفَ دِينَ اللّٰهِ فَسَكَتَ عَلَيْهِ، ٧ فَإِنْ رَأَى مَنْ يَعْمَلُ الْخَيْرَ أَحَبَّهُ عَلَيْهِ، وَإِنْ رَأَى مَنْ يَعْمَلُ بِبَاطِلٍ أَبْغَضَهُ عَلَيْهِ، فَذَلِكَ يَنْجُو عَلَى إِبْطَانِهِ كُلِّهِ»".

ترجمه: ١ حضرت عمر ابن خطاب ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ٢ خما د امت په آخري زمانه کې به د خپلو حکمرانانو د طرف نه (ديني يادنياوي) سختي او بلاګاني زغمل راځي ٣ او هغه وخت به هغه بلاګانو او سختيو نه د نجات (خلاصون لاره) پيدا کيدونکی يو سړی خو هغه وي، چې د الله په دين به پوهيږي، يعنی علم او عمل دواړه به په کې وي د معرفت او يقين د دولت په ذريعه خپله به هم کمال درجې ته رسيږي، او نور به هم کامل کوي، او دغه شان مخکې خو به هغه د الله د دين د اصولو او جزئياتو دتفصيل نه په ښه شان واقف او آګاه وي، او خپل نفس به د عمل په غالب کې اچوي او صرف مشروع څيزونه به اختيار وي، چې د هغه په وجه به په هغه کې د ظلم او بي انصافی خلاف سعي او د جد وجهد کولو عزم او حوصله پيدا کيږي ٤ تو هغه سړی به د الله دين سربلند کولو د پاره خپلې ژبې، خپل لاس او د خپل زړه په ذريعه جهاد کوي يعنی بطريق وعظ اونصيحت د ژبې په ذريعه هم د ظلم او بدی خلاف به جد وجهد کوي او که د دې طاقت ورته حاصل نه وي نو مجبوراً په زړه کې د هغه ظلم او خرابي خلاف نفرت او عداوت لرلو باندې اکتفاء کوي، نو دا به هغه سړی وي چې کمال ايمان، ثواب او د دنيا او آخرت سعادتونو کښې به مخکې ورسيږي، ٥ او يو سړی به هغه وي، چې د الله په دين خو به پوهيږي، خو د مخکې سړي نه يوه درجه کم، نو هغه سړی به د دين تصديق کوي او هغه به ښه ګني، يعنی هغه سړی به د ظلم او بدی خلاف صرف د زړه او ژبې په ذريعه جهاد کوي، د لاس قوت نه به کار نه اخلي، دا مطلب ددی قريني نه معلوميږي، چې د دې سړي باره کې د تصديق لفظ استعمال شوی دی، او ښکاره ده، چې د تصديق تعلق زړه سره وي، چې د هغه ترجماني ژبه کوي، ٦ او يو سړی به هغه وي،

---

١) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ٧٥٨٧

چې د الله په دين به لږ ډير پوهيږي. نو هغه سړی به سکوت خاموشي اختيار کړي او صرف د قلب په ذريعه به جهاد کوي يعنی ظلم او بدي به محض زړه سره بد ګڼلو باندې اکتفا کوي ⑦ نو د دې سړي حالت به داوي. چې کله څوك نيك کار کونکی وينې. نو هغه به دوست لري او که څوك غلط کار کولو باندې وينې، نو هغه نه به نفرت کوی او د هغه سره به هم پټ طور نيکې سره د محبت او ګناه سره د نفرت لرلو په سبب نجات پيدا کې

حل اللغات: - ① السَّوَابِقُ: مخکښې کيدونکی. ② أَبْغَضَهُ: بغض به کوی د هغه سره. ③ إِبْطَانِهِ: پټ ساتل. د زړه پټه جذبه.

تسهيلات:

قوله: إِنَّهُ تُصِيبُ أُمَّتِي فِي آخِرِ الزَّمَانِ مِنْ سُلْطَانِهِمْ شَدَائِدُ:

په آخره زمانه کښې د بادشاهانو څخه امت ته تکليفونه رسيدل: دَ وخت دَ ظالم بادشاه د طرف نه اهل حق او اهل خير او ايمان ته به سخت دنياوی او دينی تکليفونه رسيږی لکه چه دَ يزيد او حجاج بن يوسف نه مسلمانانو ته تکليف اورسيدو دَ هلاکوخان او چنګيرخان دَ طرف نه اورسيدو او نن صبا دَعرب او عجم دَ ظالمانو حکمرانانو دَ طرف نه د حق او اهل حق خلاف دَ طاقت استعمال کيږی. نن دَ حکومت وقت ټول فوجی صلاحيتونه حق او نظام حق او علماء حق او مدارسو او مساجدو خلاف استعماليږی رحمان بابا صحيح وئيلی دی

په سبب دَ ظالمانو حاکمانو
اور او کور او پيښور درېواړه يو دی

قوله: لَا يَنْجُو مِنْهُ إِلَّا رَجُلٌ عَرَفَ دِينَ اللّٰهِ:

عرف دين الله" يعنی پخپله هم کامل عارف او عالم دې او نورخلق هم کمال دين باندې راولی اول پخپله دَدين اصول جزئيات او دَدې قواعد او فروعات پيژنی بيا دَهغې په رڼا کښې نور هم په نيغه لار راولی او چلوی ئی لکه چه کامل عالم، عامل، عارف بالله به وی نو بيا به د دغه وخت دَفتنونه بچ کيدې شی هغه هم څکه چه هغه جهاد باليد جهاد باللسان او جهاد بالقلب کوی په درېواړو طريقو سره دَ دين حق خدمت کوی.

قوله: فَذَلِكَ الَّذِي سَبَقَتْ لَهُ السَّوَابِقُ:

يعنی دينی او دنياوی سعادتونو او برکتونو ته به دَ ټولو نه مخکښې اورسيږی. دې نه پس دَدويمې درجې سړې هغه دې چه په دين باندې پوهيږی او دَدې تصديق کوی او په ژبه سره امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوی ليکن په لاس سره دَنهی عن المنکر طاقت نه لری په دې وجه هغه دَ دويمې درجې مسلمان دې او په دويم نمبر باندې به کاميابيږی. دريم هغه سړې دې چه په دين باندې به لږ ډير پوهيږی يعنی زيات عالم به نه

وی هغه چه کله نیکی گوری نو هغه به دَ زړه نه خوښوی او چه کله بدی گوری نو نو دَ هغه په زړه ښه نه لګی مګر په ژبه او لاس باندې ئی د بندولو طاقت نه لری د اسې به هم دَ خپل زړه دَ جذبې په وجه کامیاب وی

قوله: فَذٰلِكَ يَنْجُو عَلَى إِبْطَانِهِ كُلِّهِ:

یعنی دَ دغه دزړه دَ پټې جذبې دَوجې نه هغه هم کامیاب دې داحدیث لکه چه دَهغه حدیث په شان دې کوم چه دَدې باب اولنې حدیث دې په کوم کښې چه «من رأي منكم منكرا فليغيره بيده الخ» درې درجې بیان کړې شوې دی.

[۵۵۳] د بد عمله خلقو سره نیکان هم په عذاب کښې تباه کیږی

۵۵۳-()[۱] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «أَوْحَى اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ إِلَى جِبْرِيلَ عَلَيْهِ السَّلَامُ: أَنِ اقْلِبْ مَدِينَةَ كَذَا وَكَذَا بِأَهْلِهَا، [۳] قَالَ: يَا رَبِّ! إِنَّ فِيهِمْ عَبْدَكَ فُلَانٌ: لَمْ يَعْصِكَ طَرْفَةَ عَيْنٍ". [۴] قَالَ: "فَقَالَ: اقْلِبْهَا عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ، [۵] فَإِنَّ وَجْهَهُ لَمْ يَتَمَعَّرْ فِيَّ سَاعَةً قَطُّ» ".

ترجمه: [۱] او حضرت جابر ﷺ وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. [۲] الله ﷻ حضرت جبرائیل علیه السلام ته حکم وکی، چې فلانی ښارکی چې د هغه حالات داسې دي، هغه دوسیدونکو سره په بل طرف واړوه، [۳] حضرت جبرائیل علیه السلام عرض وکړو. اې خما پروردگار! په دې ښار کې ستا هغه فلانی بنده هم دی چې دیوي لمحې د پاره یې هم هیڅ کله ستا نافرماني نه ده کړي [۴] حضور ﷺ فرمایي، کوم وخت چې جبرائیل علیه السلام داسې وویل. نو الله ﷻ ورته وفرمایل ته دا ښار تولو باشندګانو باندې هم او هغه سړي باندې هم واړوه. [۵] ځکه چې خما دخوشنودي او خما د دین په محبت کې د هغه سړي د مخ رنګ «د ښار والاوو ګناهونه لیدو سره» یوساعت د پاره هم بدل نه شو

حل اللغات: - ① اقْلِبْ: دَباب ضرب نه دَ امر صیغه ده. همزه وصلیه دې دَ اولټه کولو معنی کښې دې ② طَرْفَةَ عَيْنٍ: د سترګو رپ. یعنی لږ ساعت. ③ يَتَمَعَّرْ: تمعر دَباب تفعل نه دې دَ مخ هغه بدلیدوته وائی چه کله څوك څه مکروه کار اووینی یعنی د خفګان اثرات.

تسهیلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① أَنِ اقْلِبْ مَدِينَةَ كَذَا وَكَذَا بِأَهْلِهَا: یعنی الله تعالی حضرت جبرائیل علیه السلام ته حکم ورکړو چه فلانکې ښار دَ هغې دَ اوسیدونکو سره اولټه کړه دا قصه دَپخوانو قومونو نه دَ یوقوم ده چه په فسق اوفجور کښې اخته وو په کوم چه دَهغوی دَ هلاکت فیصله اوکړې شوه.

② فُلَانٌ: لَمْ يَعْصِكَ طَرْفَةَ عَيْنٍ: یعنی دغه عابد اوزاهد سړی یوساعت هم ستا نافرمانی نه

[۱] اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۷۵۹۵

ده کړې د ښار په اولته کولو سره به دې هم مړشي حالانکه دا بې ګناه دي ددې نه معلوميږي چه بعضې وخت دنيکانو خلقو د وجې نه الله تعالی نافرمانه خلق د عذاب نه بچ کوی فاسقانو فاجرانو له پکاردی چه هغوی دې دخو خلقو قدر کوی اوهغوی دې دخپل بقاء ذريعه ګڼړی

③فَقَالَ: اَقْلِبْهَا عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ: په دې جملې کښې لويه مبالغه ده چه اول په دغه عابد باندې ښار اولټه کړه دهغې نه پس ئې په فاسقانو فاجرانو باندې اولټه کړه

④فَإِنَّ وَجْهَهُ لَمْ يَتَمَعَّرْ فِيَّ سَاعَةً قَطُّ: يعنې د ګناهونو په دغه بدتميز طوفان کښې ددغه سړی په مخ باندې د غم اوغصې د وجې نه د الله تعالی د رضاء د پاره په تندی باندې ګونجه هم نه ده راغلې

دنهی عن المنکرنه په غفلت سره د عذاب استحقاق: معلومه شوه که يو سړې يو خال هم نهی د منکر اوکړی نو بياهم بچ کيدې شی مګرد دغه سړی د ايمان پاره لکه چه ختمه شوې وي او اوس دغه وخت په هغه کښې د بدئی نه دنفرت کولونوم هم باقی پاتې نه وو په دينی حميت اوحمايت کښې د هغه دغيرت رګ چرته پړق هم نه وهې په دې وجه دا سړې د الله تعالی د عذاب دنورو په نسبت زيات مستحق شو.

دهرمؤمن څخه د دين د نصرت مطالبه: ددې حديث نه معلومه شوه چه الله تعالی دخپل ذات دعبادت سره د انسان نه دخپل دين حمايت هم غواړی الله تعالی دا نه غواړی چه يو سړې دې بس د يو سوداګر په شان ذهن لری چه دالله تعالی نه صرف هم داخستلو په فکر کښې وی او د ورکولو هيڅ څه فکر نه وی حالانکه دالله تعالی ارشاد دې ﴿إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ﴾ [سورت محمد: ۷] يعنې که تاسو دالله تعالی امداد کوئی نو بيابه الله تعالی ستاسو امداد کوی اول تاسو دالله تعالی د دين خدمت اوحمايت اوکړئی دې نه پس د الله تعالی نه انعام وصول کړئی. په دې حديث کښې دا سړې صرف د الله تعالی نه داخستلو په فکرکښې سوداګرناست وو اود الله تعالی د دين د ختميدو نه هغه ته څه درد وو نه غم وو نه فکر وو او دکوتې پرې کولو نه بغيرد شهيد مرتبه حاصلولو د پاره په اميد کښې ناست وو دا د پيڼو مجنون وو د وينې ورکولو مجنون نه وو د ليلې حاصلول د ده مقصود نه وو بلکه صرف پيڼې څکل ئې مقصد وو.

حکايت: د مثال په توګه چادا حکايت بيان کړې دې چه يو سړې وو دهغه درې خامن وو هغه ډير نيکان وو. يو په کښې آزد خيال وو. يوه ورځ چا ددغه خامنو پلار د ګريوان نه اونيولو او وهل ئې شروع کړه. د هغه په خامنو کښې عابد خوئی په هغه تيريدو چه وئې کتل دهغه پلار يو سړې وهی. د اشراق وخت وو خوئی چپ اوغلې جمات ته لاړو او مونځ

ئې شروع کړو. څه وخت پس ئې دويم څوئې راغلو اوپلارئې په دې حالت کښې اوليدلو نوونې وئيل دا سړې ښه نه کوی چه زما پلار وهی دومره خبره کولو سره هغه هم جمات ته لاړو اومونځ ئې شروع کړو. څه وخت پس هغه آزاد خيال څوئې راغلو هغه چه کله اوکتل چه پلارئې چاد ګريوان نه نيولې اووهی ئې نودغه څوئې فوری په هغه سړی باندې حمله اوکړه اوپلارئې راخلاص کړو. پلارئې کورته راغلو فيصله ئې اوکړه چه زما صرف هم دغه يو څوئې دې چاچه زه د دښمن نه راخلاص کړم دا باقی دوه زما څامن نه دی اوزما د مال نه محروم دی.

بالکل هم دغه نقشه ده کوم خلق چه امر بالمعروف اونهی عن المنکر نه کوی او په عبادت کښې لګيادی. دا ګوری چه د حضورپاك ګريوان کښې فاسقانو اوفاجرانو لاسونه اچولی دی او د حضورپاك سنت او طريقې ختموی بلکه دين ختموی اودوی خاموش ناست دې تماشه کوی. دوی نه به حضورپاك څومره خفه وی دا ښکاره خبره ده. د دوی په نسبت چه کوم خلق نهی عن المنکر کوی حضورپاك به د هغوی نه څومره خوشحال وی داهم ښکاره خبره ده.

[۵۱۵۳] د خپلې کوتاهۍ الله تعالی ته اقرار کول

۵۱۵۳-() [۱۷] ۱ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ " «إِنَّ اللّٰهَ عَزَّوَجَلَّ يَسْأَلُ الْعَبْدَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، فَيَقُولُ: ۳ مَا لَكَ إِذَا رَأَيْتَ الْمُنْكَرَ فَلَمْ تُنْكِرْهُ؟ ۴ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَيُلَقَّى حُجَّتَهُ، ۵ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ! خِفْتُ النَّاسَ وَرَجَوْتُكَ» ". رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي " شُعَبِ الْإِيمَانِ ".

ترجمه: ۱ و حضرت ابوسعيد خدري رحمه الله وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ۲ الله جل جلاله بزرګ وبرتر به د قيامت په ورځ بنده نه پوښتنه کولو سره وفرمايي، ۳ تاته څه شوي وه. چې کله تا څه خلاف شرع کار وليدی نو ژبې يا د لاس په ذريعه د هغه د بيخ کنې فريضه دې آنجام نه کړه. ۴ رسول الله ﷺ فرمايي، که الله جل جلاله د هغه بنده د معاف کولو اراده وفرمايي، نو پوښتنه سره به هغه ته هغه تاويل او دليل وخودل شي، چې د هغه په ذريعه هغه د هغه فريضي د ترك کولو معذرت وکړي، ۵ نو هغه به عرض وکړو، اې څما پروردګاره! زه د خلقو د ظلم او زياتی نه ويرېدم، او ستا د طرف نه د عفو او درګذر او مغفرت او بخشش اميد مې لرې، دا درې سره روايتونه بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې نقل کړی دی.

حل اللغات: - ۱ يُلَقَّى: القاء به ورته اوشی. زړه کښې به ورته واچولې شی. ۲ رَجَوْتُكَ: په تا مې اميد وو.

[1] اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الفتن/باب قوله تعالى: {يا أيها الذين آمنوا عليكم أنفسكم} [المائدة: ۱۰۵] (رقم-۴۰۱۷)

تسهیلات:

قوله: فَیُلَقَّی حُجَّتَهُ:

بنده ته د الله تعالی د طرفه د معافی چل خودل: دا د باب تفعیل څخه د مجهول صیغه ده د غورزولو په معنی کښې دې لکه (وَمَا يُلَقّٰهَآ اِلَّا الَّذِيْنَ صَبَرُوْا) یعنی هغه سړی ته به د حجت دلیل او بچ کیدو تاویل ورکولې شی مطلب دادې چه کله الله تعالی هغه سړې معاف کول غواړی نو هغه ته به د جواب ورکولو تاویل کولو او دلیل پیش کولو طریقه اوبنائی نو هغه به وائی اې زما مولا ستاد بندیګانو نه اویریدلم او ستا په وسیع رحمت او مغفرت باندې مې نظر لرلو الله تعالی به هغه معاف کړی څکه چه د خلقو نه ویریدل یو طبعی مجبوری ده بیا دې سړی په صفا صفا الفاظو کښې نیغ په نیغه جواب ورکړو د کوم چه حقیقت سره ژور تعلق دې نو رحمت حق په جوش کښې راغلو څکه چه

رحمت حق بہانہ می جوید، بہانہ می جوید

لعل رحمة ربی حین یقسمها تأتی علی حسب العصیان فی القسم

[٥٠٥٣] امر بالمعروف او نهی عن المنکر به په قیامت کښې دَ انسان په شکل کښې راځی

٥٠٥٣- ( )[١١] ① وَعَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ إِنَّ الْمَعْرُوفَ وَالْمُنْكَرَ خَلِيقَتَانِ، ③ تُنْصَبَانِ لِلنَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ④ فَأَمَّا الْمَعْرُوفُ فَيُبَشِّرُ أَصْحَابَهُ وَيُوعِدُهُمُ الْخَيْرَ، ⑤ وَأَمَّا الْمُنْكَرُ فَيَقُولُ: إِلَيْكُمْ إِلَيْكُمْ ⑥ وَمَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُ إِلَّا لُزُومًا». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ① او حضرت ابوموسی اشعري ﷜ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② په هغه ذات پاك مې دي قسم وي. چې د هغه په قبضه کې د محمد ساه ده، د قیامت په ورځ به مشروع عمل او غیر مشروع عمل د سړو په شکل وصورت کې پیدا شي. ③ او هغه به د هغه خلقو په مخکې ودرول شي. چا چې هغه اعمال په دنیا کې اختیار کړی وي. ④ نو مشروع د شرعي مطابق عمل به خپلو خلقوته خوشخبري اوروي، او د انجام د خیر وعده به ورسره کوي. ⑤ هر چې غیر مشروع عمل دي هغه به خپلو خلقو ته وايي. چې زما نه لرې شئ. زما نه لري شئ ⑥ لیکن هغه خلق به هغه بد عمل نه د جدا کیدو طاقت نه لري بلکې هغوئ پورې به نختي وي (احمد، وبیهقي)

حل اللغات: - ① خَلِيقَتَانِ: اي مخلوقتان: دواړه به راپیدا شی ② تُنْصَبَانِ: دواړه به اودرولې شی. رابښکاره به کړې شی. ③ يُوعِدُهُمْ: وعده به کوی د هغوی سره

---

[١] اخرجه احمد فی المسند: ٣٩١/٤ والبیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ١١١٨

تسهیلات:

قوله: إِنَّ الْمَعْرُوفَ وَالْمُنْكَرَ خَلِيقَتَانِ، تُنْصَبَانِ لِلنَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

په معروف اومنکر کښې دوه احتمالات: ① امربالمعروف اونهی عن المنکر دواړه به په قبرکښې اودَ قیامت په ورځ به دَ سړو په شکل کښې پیدا کیدو سره راشي.
② دَانسان ټول نیك اوبد اعمال مرادوی ملاعلی قاري رحمه الله دَ دواړو طرف ته اشاره کړې ده.

قوله: تُنْصَبَانِ لِلنَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

په قبریا قیامت کښې د نیک اوبد عمل متشکل کیدل: دَ خلقو په مخکښې به ښکاره کړې شي معروف به دَ ښکلي اوښائسته انسان په شکل کښې وی او منکر به دَ بد او خراب صورت انسان په شکل کښې وی معروف به دَ ښه انجام زیرې ورکوی اودَ خو عواقبو وعده به کوی او بد عمل الیکم الیکم زما نه لرې شه لرې تخته آواز به کوی لیکن خلق به دغه بدعمل پورې اونخلی اولرې کیدی به نه شي لهذا دَ دغه بدو عملونو بد انجام سره به دغه خلق مخامخ کیږی اودَ ښه عمل والا به جنت الفردوس ته په خوشحالئی خوشحالئی سره ورځی اودَ عیش اوعشرت سره به مزې کوی.

[۲۶] كِتَابُ الرِّقَاقِ

دَرقاق بیان

خلاصة الباب:

فيه ثلاثة وسبعون حديثاً مشتملة على أربع مسائل:

① الترغيب إلى الأعمال الصالحة والآخرة والمشقة في الدنيا: ۱، ۵، ۶، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۸، ۲۰، ۴۱، ۴۲، ۴۵، ۵۳، ۶۳، ۶۴، ۶۵، ۶۶، ۶۷، ۶۸، ۷۰، ۷۱۔

② حقيقة الغنى: ۱۶، ۱۷۔

③ تذليل الدنيا وفضيلة الزهد: ۲، ۳، ۷، ۸، ۹، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۲۱، ۲۲، ۲۳، ۲۴، ۲۵، ۲۶، ۲۷، ۲۸، ۲۹، ۳۰، ۳۳، ۳۵، ۳۸، ۳۹، ۴۰، ۴۲، ۴۴، ۴۶، ۴۷، ۴۸، ۴۹، ۵۰، ۵۱، ۵۲، ۵۴، ۵۵، ۵۶، ۵۷، ۵۸، ۵۹، ۶۰، ۶۱، ۶۹، ۷۲، ۷۳۔

④ فضيلة الكفاف والقناعة: ۱۰، ۱۱، ۱۹، ۲۹، ۳۰، ۳۱، ۳۴، ۳۶، ۳۷، ۴۳، ۴۸، ۵۲، ۶۲۔

قوله: الرِّقَاقِ: جمع ده دَدې مفردرقیق دې څنګه چه صغارجمع ده او مفرد ئې صغیردې اوکبار جمع ده مفرد ئې کبیردې رقائق هم جمع ده دَدې مفرد رقیقة دې دَ دواړو مفهوم هم یو دې یعنی دَ زړه نرم کونکې خبرې دلته دَرقاق نه هغه کلمات مراد دی دکوم په

اوریدو سره چه دَ سړی زړه نرمیږی او زړه د دنیا نه بې رغبت شی او دَ آخرت طرف ته راغب شی.
دَ رقاق په نوم سره دَ احادیثو په کتابونوکښې اوږده ابواب ملاویږی په دغه ابوابو کښې محدثین هغه احادیث بیانوی په کوم سره چه زړه متاثرکیږی او دَ موم په شان نرمیږی صاحب مشکوة هم دَعامو محدثینو اتباع کولو سره دکتاب الرقاق ذکر فرمائیلې دې او په دې کښې ئې دَ فضل الفقراء نه واخله دکتاب الفتن پورې اته ابواب ذکرکړی دی دَ رقاق دَعنوان لاندې ئې خوخالص هم دَ رقاق سره متعلق ۱۷۴احادیث درج کړی دی اوبیا ئې دَ اتو ابوابو مختلف عنواناتو لاندې رقاق حکمت او موعظت باندې مبنی احادیثو یو لویه ذخیره رایوځائی کړې ده. که یوانسان په سینه کښې دکاڼړی په ځائی غوښې زړه لری نوهغه به دَدغه احادیثو اوریدو او وئیلوسره اوبه اوبه کیږی او که چرې داسې نه وی نوبیا به په هغه باندې دَ یو څیز اثرکیدل محال وی. یوشاعر وائی.

لا ینفع الوعظ قلبا قاسیا أبدا وهل یلین بقول الواعظ الحجر

یعنی سنګ دل انسان ته کله هم نصیحت فائده نه ورکوی آیا دَ یو وعظ کونکی په وعظ سره چرته کاڼړې نرم کیدې شی؟ نه

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۵۵] دوه دَ قدر قابل نعمتونه

۵۰۵۵ - ( )[۱] ۱عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲" «نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: ۳الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱حضرت ابن عباس رضی الله عنه وایې، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، ۲دوه نعمتونه دي. چې د هغه په معامله کې ډیر خلق په دهوکه او په خساره کې دی. ۳او هغه دواړه نعمتونه تندرستي او فراغت دی (بخاري)

حل اللغات: - ۱مَغْبُونٌ: د غَبِنَ يَغْبِنُ دَ باب نَصَرَ يَنْصُرُ نه دې دَنقصان اوخساره په معنی کښې دې

تسهیلات:

قوله: نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ:

د مغبون په مفهوم کښې دوه احتمالات: ۱مغبون دَ باب سمع نه هم راځی چه دَ غلطئی اودهوکه خوړلوپه معنی کښې دې دا معنی هم مراد کیدې شی

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب: لا عیش إلا عیش الآخرة (رقم-۶۴۱۲) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: الصحة والفراغ نعمتان مغبون فیهما کثیر من الناس (رقم-۲۳۰۴)وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الحکمة (رقم-۴۱۷۰) واحمد فی المسند:۱/۳۴۴

④ مغبون خاص کرد تجارتی معاملاتو د خساره د پاره وئیلی شی دا معنی هم مراد کیدې شي.

قوله: الصِّحَّةُ:

دمذکوره جملې مطلب: یعنی دا دې چه ډیرزیات خلق داسې دی چه د بدنی صحت هیڅ قدر نه کوی اوددې دواړو نعمتونوباره کښې دهوکه غلطئی او خساره کښې پراته دی د بدن د صحت په وخت د بدن نه جسمانی کار نه اخلی چه دا په عبادت کښې اولګوی

قوله: وَالْفَرَاغُ:

دمذکوره جملې مطلب: یعنی ډیرزیات خلق داسې دی چې د مشاغلواو مصائبونه فارغ وختونو کښې کارنه کوی چه کمال حاصل کړی او اوزګاروخت غنیمت نه ګنړی چه دا په کارکښې راولی بیا چه کله فراغت ختم شی اوپه دنیاوی مشاغلو کښې راګیرشی نوبیا هغوی ته فارغو وختونو د فرصت قدر راشی

لکه چه عاقلانو چې وئیلی دی: "اَلنِّعْمَةُ إِذَا فُقِدَتْ عُرِفَتْ"

یعنی د نعمت قدر هله معلوم شی چې ختم شی.خو اوس تیرشوی حالاتوا ولمحاتوباندې لاسونو مروړلو(مړلو) څخه سوا نور هیڅ په لاس نه ورځی څکه چه مناسب موقع باندې هغه نه عبادت اوکړو اونه ئی آخرت جوړکړو او نه ئی د دنیا کاراوکړو نو اوس به د خپیمانتیانه څه حاصلیږی.

نوټ: د وخت د قدر په باره کښې زما احقرشاه فیصل کتاب ((د وخت قدر او زمونږ غفلت)) مطالعه کړئ.

په جنت کښې دوخت په ضائع کیدو د جنتیانوافسوس: په یوحدیث کښې حضورپاك داسې ارشاد فرمائیلې دې چه جنتیان به په جنت کښې په یوڅیز باندې افسوس اوارمان نه کوی مګر صرف په هغه لمحاتو باندې به افسوس کوی کوم چه په دنیاکښې د الله تعالی د یاد نه بغیرتیرشوی وی

[۵۱۵۲] دَدنیا او آخرت مثال

۵۱۵۲-(۱)[۲] [۱]وَعَنِ الْمُسْتَوْرِدِ بْنِ شَدَّادٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: [۲]" «وَاللّٰهِ مَا الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا [۳]يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ أُصْبُعَهُ فِي الْيَمِّ فَلْيَنْظُرْ بِمَا يَرْجِعُ»؟". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱]او حضرت مستورد ابن شداد ﷛ وایي، ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل [۲]قسم په الله! د آخرت د زماني او هلته د نعمتونو په مقابله کې د دنیا زمانه او د دې د

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب فناء الدنیا وبیان الحشر یوم القیامة (رقم-)۵۵ - (۲۸۵۸) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه (رقم-۲۳۲۳) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب مثل الدنیا (رقم-۴۱۰۸) واحمد فی المسند: ۴/۲۲۹

نعمتونو مثال داسې دی ③لکه څرنګه چې په تاسو کې یو سړی خپله ګوته سمندر کې ډوبه کړي او بیا وګوري، چې د هغه ګوته څه شی اخستو سره واپس راغلي ده یعنی څومره اوبه پرنختي دي (مسلم)

حل اللغات:- ①اَلْيَمِّ: دریاب، سمندر

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

①وَاللّٰهِ: دلته قسم دَ مبالغې په توګه راغلي دې نورئی هیڅ مقصد نشته دې

②مَا الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ: کښې لفظ مادَنفی په معنی کښې دې

③فِي الْآخِرَةِ: دې کښې فی لفظ دَمقابلې او بدلیت په معنی کښې دې

قوله: مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ أُصْبُعَهُ فِي الْيَمِّ:

د دنیا اوآخرت د نعمتونوموازنه: دَ حدیث مطلب دادې چه دَدنیانعمتونه اوسازوسامان دَآخرت دَهمیشه نعمتونو په مقابله کښې داسې دی دې لکه چه یو سړې دَخپل لاس دَټولو نه وړه ګوته په دریاب او سمندرکښې وردوبه کړی اوبیا اوګوری چه دَسمندرډَ ډیرو اوبو په مقابله کښې دَهغه ګوتې پورې څومره اوبه لګیدلې دی.دغه شان دَدنیا کمتر او حقیرنعمتونه دی چه ختمیدونکی دی بلکه ډیر زر ختمیدونکی دی.دَآخرت دَ همیشه او زیات مقدارِدَنعمتونو مخې ته دَهغې څه حیثیت دې؟ دا مثال هم دَ پوهه کولودَپاره دې ګنی دَ عارضی اوفانی دنیا حقیقت دَ همیشه آخرت په مخکښې هیڅ هم نه دې لهذا انسان له پکاردی چه هغه دَ دنیا فانی نعمتونو باندې دآخرت دائمی نعمتونه قربان نه کړی بلکه هروخت دې داسوچ کوی چه دنیا دآخرت پټې دې دلته فصل کرل او هلته په آخرت کښې میوه خورل دی

قوله: فَلْيَنْظُرْ بِمَا يَرْجِعُ:

د ینظرپه ضمیر کښې د نسخو اختلاف: دَدې ضمیردَ إصبع طرف ته راګرځی او دې ته مذکراومؤنث دواړه ضمیرونه راګرځولې کیدې شی په یوه نسخه کښې "ترجع" مؤنث سره دې هغه نسخه زیاته بهترده

[۵۱۵۷] د الله په نزد دنیا هیڅ حیثیت نشته

۵۱۵۷-(¹)[۳] ①وَعَنْ جَابِرٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- ②أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- «مَرَّ بِجَدْيٍ أَسَكَّ مَيِّتٍ ③قَالَ: "أَيُّكُمْ يُحِبُّ أَنَّ هٰذَا لَهُ بِدِرْهَمٍ؟ ④فَقَالُوا: مَا نُحِبُّ أَنَّهُ لَنَا بِشَيْءٍ! ⑤قَالَ: فَوَاللّٰهِ لَلدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ

¹) اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق(رقم-۲ (۲۹۵۷) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/ باب ما جاء فی هوان الدنیا علی الله عز وجل (رقم-۲۳۲۱) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب مثل الدنیا (رقم-۴۱۱۱)

مِنْ هٰذَا عَلَيْكُمْ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : [۱]او حضرت جابر رضي الله عنه نه روايت دی، [۲]يو ځل رسول الله ﷺ د يوي بزي (چيلئ) يومړ بچي باندې تير شو، چې د هغه غوږونه ډير کوشني وو، يا کټ شوی وو، يا د هغه غوږونه نه وه، [۳]نو حضور ﷺ هغه ليدو سره صحابه رضي الله عنهم ته وفرمايل، په تاسو کې داسې څوك شته، چې د امړ بچي د يودرهم په عوض اخستل خوښ کی، [۴]صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو، مونږ خو دا د هيڅ شي په عوض اخستل نه شو خوښولی، [۵]حضور ﷺ ورته وفرمايل، دا دنيا خپلو ټولو لذتونو او آسائشونو سره د الله په نز د دې نه زياته بې وقعته او کمتره ده، څرنګه چې ستاسو په نظر کې دا مړ بچي ذليل او حقير دی (مسلم)

حل اللغات :- ① بِجَدْيٍ :دَ چليئ وړوکی بچې، ② أَسَكَّ: دَ چليئ بچې چه غوږونه ئې نه وی يا واړه وی. ③ أَهْوَنُ : سپکه، بې عزته او بې وقعته،

تسهيلات:

قوله :مَرَّ بِجَدْيٍ أَسَكَّ مَيِّتٍ:

د اسک لغوی معنی : أَسَكَّ :كاف باندې شد دې دَ چيلئ هغه بچی ته وائی دکوم غوږونه چه بالكل پرې شوې وی يا بالكل نه وی يا واړه واړه وی.دادَ هغې دَ بې حقيقت اوذلت اوحقارت طرف ته اشاره ده خصوصًا چه کله دغه بچې مړشوې مردارهم وی.

قوله: فَوَاللّٰهِ لَلدُّنْيَا أَهْوَنُ عَلَى اللّٰهِ مِنْ هٰذَا عَلَيْكُمْ:

د دنيا د حقارت مثال: رسول الله ﷺ په دې مثال سره دَ دنيا دَ حقارت بې ثباتئی بې حيثيت او بې حقيقت کيدو طرف ته انسانان متوجه کړی دی چه دَ ژوند مقصود آخرت دې داهيرول نه دی پکار اودَ دنيا دَ محبت نه اجتناب کول پکاردی ځکه چه په يوحديث کښې دی «حب الدنيا رأس كل خطيئة» او يو قول دې چه «ترك الدنيا رأس كل عبادة» دَدې وجه داده چه دَدنيا په محبت کښې دَ راګيرسړی هرکاردَ خودغرضئی او لالچ په بنياد باندې وی.اهل الله او اهل معرفت وئيلی دی چه دکوم سړی په زړه کښې دَ دنيامحبت کيناستو نودَ ټولې دنيا اولياء الله اومرشدين هغه په نيغه لار نه شی راوستې اوکوم سړی چه دنيا دَ زړه نه اوويستله نودَ ټولې دنيا مفسدان هغه ګمراه کولې نه شی.

[۵۰۵۵] دنيا دَ مؤمن دَپاره قيدخانه ده

۵۰۵۵-(۱) [۳] [۱]وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲]" «الدُّنْيَا

[۱]) اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق(رقم-۱ - (۲۹۵۶) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن الدنيا سجن المؤمن وجنة الكافر (رقم-۲۳۲۴) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب مثل الدنيا (رقم-۴۱۱۳)واحمد فی المسند: ۳۲۳/۲

سجن المؤمن وجنة الکافر». رواه مسلم.

ترجمه: [۱] و حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] دنیا د مؤمن د پاره بندی خانه ده، او د کافر د پاره جنت دی (مسلم)

حل اللغات: - ① سجن: جیل، قید خانه،

تسهیلات:

قوله: الدنیا سجن المؤمن:

دمذکوره جملې په مفهوم کښې اقوال:

① دنیا دمؤمن دپاره قید خانه ده ځکه چه هره یوه لمحه مؤمن په دې دنیا کښې په احتیاط سره تیره وی قدم په قدم د هغه دپاره پابندئی دی اوهغه د ډیرې پابندئی ژوند تیره وی لکه چه دا دنیا دهغه دپاره قیدخانه ده اوهغه په دې کښې د قیدی په شان ژوند تیره وی ددې برعکس کافر په دې دنیاکښې د هیڅ پابندئی قائل نه دې اونه پابند دې دونیا هرجائز او ناجائز خوند نه مزې اخلی

ملاعلی قاری رحمه الله لیکلی دی چه دا مفهوم ډیر واضح دې اود حدیث مطابق دې ددې تائید دمشهور بزرگ فضیل بن عیاض رحمه الله د قول نه هم کیږی هغوی فرمائی "من ترك لذات الدنیا وشهواتها فهو فی سجن فأما الذی لا یترك لذاتها وتمتعاتها فأي سجن علیه؟".

② دنیا دمؤمن دپاره د قیدخانې په شان ده مطلب دادې چه دمؤمن دپاره الله تعالی په آخرت کښې کوم عظیم نعمتونه او لوئی ثوابونه او اجرونه تیارکړی دی دهغې په مقابله کښې د مؤمن دپاره د دنیا ژوند د قیدخانې په شان دې سره ددې چه هغه په دنیاکښې د آرام ژوند تیره وی دغه شان دکافردپاره په آخرت کښې چه کوم قسم قسم عذابونه تیار کړې شوی دی دهغې په مقابله کښې د کافر دپاره ددنیا ژوند داسې دې لکه چه هغه په جنت کې او سیږی سره ددې چه هغه ته دلته تکلیف هم وی او په مصیبت کښې پروت وی

دحسن رضی الله عنه او یهودی واقعه: هم ددې حقیقت په رڼا کښې یوځل یوغریب یهودی حضرت حسن رضی الله عنه ته اووئیل چه ستا د نیکه دا قول چه دنیا دمؤمن دپاره قید خانه ده او د کافردپاره جنت دې زما او ستا په حالت باندې ځنګه صادق راتلې شی ځکه چه ته په اس باندې سورلی کوې اود عیش عشرت ژوند تیره وې او زه د مصائبو سختو او تکلیفونو او د بیمارو نه ډك ژوند تیروم؟

ددې په جواب کښې حضرت حسن رضی الله عنه د پورتنی حدیث هم دغه مفهوم بیان کړو چه د آخرت د مصیبتونو په مقابله کښې تاسو دلته په دنیاکښې په جنت کښې ئی

[۵۱۵۹] مسلمان ته په ښه کارونو بدل په دنيا او آخرت دواړو کښې ملاويږي

۵۱۵۹-()[۵] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مُؤْمِنًا حَسَنَةً يُعْطَى بِهَا فِي الدُّنْيَا وَيُجْزَى بِهَا فِي الآخِرَةِ، [۳] وَأَمَّا الْكَافِرُ فَيُطْعَمُ بِحَسَنَاتِ مَا عَمِلَ بِهَا لِلّٰهِ فِي الدُّنْيَا، [۴] حَتَّى إِذَا أَفْضَى إِلَى الآخِرَةِ لَمْ يَكُنْ لَهُ حَسَنَةٌ يُجْزَى بِهَا» رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷜ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] الله ﷻ د مؤمن د نيکي اجر نه ضائع کوي، چې هغه د دې نيکي په سبب هغه ته په دنيا کې هم خير ښيګڼي ورکول کيږي، [۳] او په آخرت کې به هم هغه ته اجر او ثواب ورکول کيږي او کافر د الله د خوشنودي د پاره چې کوم نيک کار کوي هغه باندې د دغه نيکيو بدله کې خوراك څکاك ورکول کيږي (يعني هغه د هغه نيك کارونو په وجه چې د کوم خير ښيګڼي مستحق وي. هغه د نعمتونو او راحتونو په صورت کې دي دنيا کې هغه ته ورکول کيږي. [۴] تر دې چې هغه آخرت ته ورسيږي نو د هغه عمل نامه کې هيڅ داسې نيکي نه وي چې د هغه په وجه هغه ته هلته اجر او ثواب ورکول شي.(مسلم)

حل اللغات: - ① أَفْضَى: اورسيږي،

تسهيلات:

قوله: إِنَّ اللّٰهَ لَا يَظْلِمُ مُؤْمِنًا:

دالله تعالى چا سره ظلم نه کول: يعنى الله تعالى به دَ يو مسلمان دَنيکئى ثواب او اجر نه ضائع کوى او دَهغه دَنيکئى بدله به صرف دنيا پورې محدود نه ساتى بلکه سه دنيا کښې به دَهغې اجر ملاويږى او په آخرت کښې به دَهغې ثواب ملاويږى.

مسلمان ته د نيک عمل بدله په دنيا او آخرت کښې ملاويدل: الله تعالى هريو انسان ته دَهغه په نيکئى او ښه کار باندې بدله ورکوى ليکن دَآخرت دَ اجر او ثواب دَپاره دَ ايمان او توحيد صحيح عقيده موجود کيدل ضرورى دى. کله يو مؤمن څه نيك کار کوى نوعقيده صحيح کيدودَ وجې نه هغه ته دَ دغه نيکئى بدله په دنيا کښې هم ملاويږى او په آخرت کښې هم ملاويږى.په دنيا کښې داسې چه الله تعالى دَهغه په جان مال کښې برکت اچوى دَهغه جان او مال دَ ظاهرى او باطنى آفاتو او بلياتو نه محفوظ ساتى او هغه ته په دنيا کښې دَ سکون او آرام ژوند ورکوى اودَ آخرت بدله داسې ورکوى چه کله دَمرګ نه پس مؤمن هلته لاړشى نو هغه ته به دَ هغه په دغه نيکئى باندې الله تعالى په خپل فضل او کرم سره جنت اودَ جنت ټول نعمتونه ورکوى

¹) اخرجه مسلم فى كتاب صفة القيامة والجنة والنار/باب جزاء المؤمن بحسناته فى الدنيا والآخرة وتعجيل حسنات الكافر فى الدنيا (رقم-۵۶ - (۲۸۰۸) واحمد فى المسند:۱۲۳/۳

کافر ته د ښه عمل بدله په دنیا کښې ملاویدل: دَدې برعکس که چرته یو کافر نیک کار کوی مثلاً خدمت خلق کښې لګیا وی فلاحی اورفاهی کارونو کښې امداد کوی دَ خلقو د اصلاح کوشش کوی دَعدل اوانصاف قائمولو کوشش کوی نوچونکه دَکافر عقیده او ایمان نه وی په دې وجه هغه دَ آخرت دَ بدلې نه محروم دې او دَ هغه په هریو ښه کار بانډې الله تعالی په دنیا کښې بدله ورکوی مثلاً بدنی صحت ورکوی فراخ رزق ورکوی حکومت ورکوی اودَدنیا دَعارضی نعمتونو نه هغه ته دَ مزې اخستو موقع ورکوی اوکله چه مړشی نو په آخرت کښې هغه ته بغیردَ سزا نه اودَعذاب نه نور هیڅ هم نه ملاویږی پاتې شو هغه مؤمن چه په دنیا کښې ګناه کوی نو کله کله الله تعالی هغه ته هم په دنیا کښې دَهغې بدله دَ سزا په توګه ورکوی اودَ آخرت دَپاره ئې پاکوی

[۵۰۰۰] جنت اودوزخ په څوموڅوموڅیزونوکښې پټ دې؟

۵۰۰۰-()[۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ، [۳] وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. إِلَّا أَنَّ عِنْدَ مُسْلِمٍ: (حُفَّتْ) بَدَلَ (حُجِبَتْ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ وایې، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [۲] دَ دوزخ اور په شهوتونو یعنی خواهشاتو او لذاتو کې پټ شوی دی، [۳] او جنت سختیو او مشقتونو کې پټ شوی دی، دا روایت بخاري ﷫ او مسلم نقل کړی دی، لیکن د مسلم روایت کې د حجبت (پټ شوی) په ځای یې حُفَّتْ (یعني ګیر شوی) لفظ دی.

حل اللغات:- ① حُجِبَتِ: دَ حجاب نه دې دَ پردې او پټولو په معنی کښې دې ② الْمَکَارِهِ: تکلیفونه. مشقتونه.

تسهیلات:

قوله: حُجِبَتِ النَّارُ بِالشَّهَوَاتِ:

په ګناهونوکښې لذت: په یوه نسخه کښې دَحفت لفظ دې هغه دَ پټولو په معنی کښې دې یعنی لکه څنګه چې دَ جنت او دوزخ په حقیقت کښې ډیر لوئی فرق دې دغې ته دَ رسیدو په اسبابو کښې هم لوئی فرق دې ځکه چه دَ هریومخې ته پردې دی دغه پردو باندې به تیریدل وی نو دوزخ چه په کوموپردو کښې پټ کړې شوې دې هغه دَ انسان خواهشات دی کوم ته چه په نورو الفاظوکښې آزاد ژوند وائی کله چه انسان دَ حلال او حرام تمیز ختم کړی اودَ نفس اوخواهشاتو مطابق آزاد ژوند تیره وی زنا شرابو اوکبابو

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب: حجبت النار بالشهوات (رقم-۶۴۸۷) ومسلم فی کتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها (رقم-۱ - (۲۸۲۲) والترمذی فی کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء حفت الجنة بالمکاره وحفت النار بالشهوات (رقم-۲۵۵۹) والنسائی فی کتاب الأیمان والنذور/باب الحلف بعزة الله تعالی (رقم-۳۷۶۳) واحمد فی المسند:۲/۳۸۰

کښې لګيدلې وی نه عبادت کوی او نه د خه ګناه نه ځان ساتی نو لکه چه د دوزخ په پيړو او ښائسته پردو کښې سفر کوی څنګه چه دا پردې ختمې شی مخامخ دوزخ او د هغې اور دې په هغې کښې دا انسان راګيرېږی لکه چه په دغه پردو کښې د دوزخ اور پټ کړې شوی دی

قوله: وَحُجِبَتِ الْجَنَّةُ بِالْمَكَارِهِ:

په طاعاتو کښې زحمت: دغه شان د جنت معامله ده چه هغه په امور تکليفيه شرعيه کښې پټ کړې شوې دې په قدم قدم باندې شرعی پابندئی دی حلال حرام او جائز او ناجائز حدبندئی عبادتونه او اوامرشرعيه مشقتونه برداشت کول دی او د نواهي او خواهشاتو نه ځان ساتي په نفس باندې داځيزونه سخت دی په يخو هواګانو کښې يخو او بوسره سحروختی د مونځ د پاره اودس جوړول څومره ګران دی د مشقتونو د دې پردو شاته جنت دې څنګه چه دا پردې ختمې شی مخامخ جنت ښکاری.

[۵۰۳۱] د مال او جاه لالچ کولو مذمت

۵۰۳۱-(۱) [۷] ۱ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ۲ «تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ وَعَبْدُ الْخَمِيصَةِ، ۳ إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ، ۴ وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ، ۵ تَعِسَ وَانْتَكَسَ، ۶ وَإِذَا شِيكَ فَلَا انْتُقِشَ. ۷ طُوبَى لِعَبْدٍ آخِذٍ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللهِ، ۸ أَشْعَثَ رَأْسُهُ، مُغْبَرَّةٍ قَدَمَاهُ، ۹ إِنْ كَانَ فِي الْحِرَاسَةِ كَانَ فِي الْحِرَاسَةِ، ۱۰ وَإِنْ كَانَ فِي السَّاقَةِ كَانَ فِي السَّاقَةِ، ۱۱ إِنِ اسْتَأْذَنَ لَمْ يُؤْذَنْ لَهُ، ۱۲ وَإِنْ شَفَعَ لَمْ يُشَفَّعْ»). رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوهريره رضی الله عنه وايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل. ۲ هلاك دي شی هغه سړی چې د دينار غلام وي، د درهم غلام وي، او د څادر غلام وي. [يعنی هغه سړی د پاره اخروي هلاکت او تباهي مقدر ده، چې هغه مال و دولت حاصلول د خپل ژوند مقصد جوړ کړی. دنياوي عيش او تمول ته د معبود او جبار رضا او خوشنودي باندې ترجيح ورکوي. او د طلب مال او حصول زرپه لار کې ناجائز او حرام وسايل او ذرائع اختيارولو نه نه منع کېږي، او بيا څه چې ګټي هغه د بخل د مخه جمع کوي. چې نه د هغه مال حقوقو اداکوي او نه د الله په لار کې. او د الله د خوشنودي د پاره هغه خرچ کوي. او د هغه سره د خپل شان وشوکت او لويي خودلو د پاره ښائسته لباسونه اغوندي او په ناروا طور سره زيب وزينت کې مبتلا وي. او د داسې سړی علامه داده. چې] ۳ هرکله هغه ته مال ودولت او لباس فاخره حاصل شي. نو خوشحاله او راضي وي. ۴ او که حاصل نشي نو ناراضه وي. ګويا د هغه د طبيعت ميلان هميشه د خلقو د مال وزر طرف ته وي. او هروقت دي په دي حرص کې مبتلا وي چې فلانی سړي نه فلانی شی حاصل

---

[1] اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير/باب الحراسة فی الغزو فی سبيل الله (رقم-۲۸۸۷) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب فی المکثرين (رقم-۴۱۳۵)

شي، که دخلقو د طرف نه د هغه د حرص او طمع تکمیل نه کېږي، نو هغوئ نه ناراضه وي، او داهم ممکنه ده چې د دې ورکولو یا نه ورکولو تعلق الله ﷻ سره وي، یعنی که الله ﷻ د هغه د خواهش مطابق هغه ته مال ودولت او د عیش سامان عطا کوي، نو هغه نه خوشحاله وی او که الله ﷻ د هغه خواهش او حرص نه پوره کوي نو هغه د الله ﷻ نه خپله ناراضګي ظاهروي، داسې سړي ته د دې مذموم خصلت په وجه ګویا حضور ﷺ مکرر بد دعا کړي ده! [۵] چې هلاک دی شی اوسرکوزې دې شی [۶] او کله چې د دې سړي پښه کې ازغی ننوځي، نو څوك دې ورنه ونه باسي [ګویا دتنبیه اوتهدید په طور دداسې سړي په حق کې مسلمانان آګاه کول مقصوددي یعنی که داسې مذموم خصلت والا په څه آفت یاپریشانۍ کې مبتلاسي نو هیڅوك دي دهغه مدد او اعانت نه کوي دنیا دارو اودحرص وطمع دغلام خلقو ددې بدحالئ ذکر کولو نه پس حضور ﷺ وغوښتل چې دهغوی مقابله کې دهغه طالبان دین، اوددنیا پرېخودنکو هم ذکر وفرمایي کوم چې آخرت حاصلولو اودد دین سربلند کَولو دپاره محنت اومشقت اوجهاد په ذریعه دالله په لار کې مشغول اوسېږي دنیانه بې نیازي کوي ظاهري زینت اوارائش نه لرې اوسېږي اوداهل دنیا طور طریقونه خپل ځان جدا ساتئ اوپه دې وجه ظاهر پرستوپه نظر کې ډیر کمتر اوحقیر معلومېږي نو] [۷] حضور ﷺ وفرمایل سعادت اوخوش بختي ده هغه سړي دپاره چې دالله په لار کې جهاد کولو دپاره دخپل آس واګي نیولي ولاړ وي [۸] دهغه دسر ویښته بِرَ اوقدم غبار آلود وي [۹] که هغه دلښکر (دمخکي صفونو) په نګهباني مامور کول کېږي نوپوره طور سره نګهباني کوي [اوهیڅ وخت دخپلي ذمه واري دسرته رسولو نه نه غافل کېږي اونه اوده کېږي بلکي هروقت پوره چستی سره نګهباني کوي] [۱۰] اوکه هغه دلښکر وروسته ساتل کېږي نوپه لښکر پسې وي [یعنی هغه دامیر لښکر اودمسلمانانو پوره تابعداري کوي چې هغه کوم ځای ماموره کول کېږي هلته خپل فرض سرته رسوي اوهغه ته چې څه وئیل کېږي په هغه پوره طور عمل کوي تکبر ضد او اصرار نه کوي اودالله په نزد دخپلي دې مرتبې اوسعادت باوجود خپله معاشره کې دومره سادګي جاه ومال اوشان وشوکت نه دومره بې نیازي دومره تواضع اوانکساري سره اوسېږي چې دنیا دار هغه ته څه وقعت او اهمیت نه ورکوي تردې] [۱۱] که هغه دخلقو محفلونو کې شریکېدل غواړي نوهغه ته دشرکت اجازت نه ورکوي [۱۲] اوکه دڅا سفارش کوي نودهغه سفارش نه قبلېږي. (بخاري).

حل اللغات: – ① تَعِسَ: بد دعا ده، یعنی ناکام او نامرادیا هلاک دې شی، ② الْخَمِيصَة: نقش والا تور څادر اوکپړې ته خمیصه وائی. ③ سَخِطَ: خفه کېږي، ④ وَانْتَكَسَ: انتکاس سرښکته کولو په معنی کښي دې ذلیل کېدل مراد دی. ⑤ شِيكَ: شوكة ازغی ته وائی. ⑥ انْتَقَشَ: انتقاش په خپه کښي خښ

شوي ازغي راويستلو دپاره تلاش او لټون په معنى كښې دي ⑦عَنَاب: واكي. ⑧أَنْعَثْ: ګدوډ ويښتو والا، ببر سري. ⑨الْحِرَاسَةِ: چوكيداري. ⑩السَّاقَةِ: دَ لښكر آخرى حصې ته ساقه وائي

تسهيلات:

قوله: تَعِسَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَعَبْدُ الدِّرْهَمِ وَعَبْدُ الْخَمِيصَةِ:

د مذكوره څيزونود غلامي مطلب: په حديث شريف كښې راغلى دى چه د دينار، درهم او خميصه غلام هلاك شونودَ دې مطلب دا شو چه سړې دَ دې څيزونو حاصلولو او طلب دَ پاره هروخت په كوشش كښې وى، الله تعالى اودَ هغه احكامات هيركړى اودَ هغه ټول كوشش هم دَ مال زياتى كښې تيرشى نو لكه چه هغه دَ مال، دينار او درهم غلام دې اوهم دَ دې څيزونو په حاصلولوكښې داسې مصروف دې لكه چه هغه بنده اودا څيزونه دَ ده رب دى اودَ دواړو په مينځ كښې دَ آقاأو غلام تعلق دې.(١)

بيا دلته چه دا په حديث كښې دَ دينار، درهم، خميصه او قطيفه ذكر راغلې دې نودَ دې څيزونو تخصيص مراد نه دې بلكه مطلقاً مال مراد دې.

قوله: إِنْ أُعْطِيَ رَضِيَ، وَإِنْ لَمْ يُعْطَ سَخِطَ،

د مذكوره جملې مطلب: كه هغه له وركړيشى نو راضى كيږى او كه ورنه كړيشى نو خفه كيږى. مطلب دا چه دَ حقيقى خالق دَ طرف نه داسې سړى ته انعام وركړيشى. هغه ته به مال دولت وركړيشى نو راضى او خوشحاله اوسيږى او كه هم دَ دغه خالق دَ طرف نه ورته كله ناكله دَ ده په رزق كښې تنګى پيدا كړيشى نو دَ خپل خالق نه ناراض كيږى.

په مذكوره كس د عبد د اطلاق صحت: دَ داسې سړى متعلق دا وينا كول چه دَ دينار او درهم غلام دې بالكل صحيح او درست ده. اوپه داسې صورت كښې دَ داسې سړى دَ پاره دَ هلاكت دعا كول هم ضرورى دى ځكه چه هغه په خپل اعمالودَ فانى دنيا حصول مرقوف اوساتل اودَ آخرت دَ هميشه پاتې كيدونكى ژوندپاره ئې دَ نعمتونو حاصلولو كوشش پريخودو اودَ هغې دَ پاره ئې عمل كول پريخودل.(٢)

دالله تعالى څخه ګيله اوزمونږ اعمال، كه غورسره اوكتې شى نو زمونږ په زمانه كښې هم دَ داسې خلقو كمې نشته چه دَ الله تبارك وتعالى دَ طرف نه لږغوندې تكليف او مشقت باندې سخت غصه كيږى، تقدير ته خيرې كوى نو دَ كافرانو نه خو ګيله كول بې ځايه دى، زمونږ دَ اكثرو مسلمانانو دا حال دې، اوپه دې كښې هم زمونږ خپل قصور دې. اعمال داسې دى چه په كتلو ورته شرم راځى. اوبيا دالله تعالى دَ نصرت اودَهغه دَطرف نه دَ رزق دَزياتوالى هم اميدواريو. فإلى الله المشتكى.

---

١) (شرح ابن بطال (ج٥ص٨٣)-

٢) (شرح ابن بطال (ج٥ص٨٣) وعمدة القارى(ج٤ص١٧٢)-

قوله: تَعِسَ وَانْتَكَسَ،

دلالچی انسان دپاره خیري: په دې جمله کښې دَ داسې سړی دَ پاره خیرې دی چه دَ مال او دولت غلام جوړشی او هم دَ هغې شی او خپل خالق او مالك ئې هیرکړو نوداسې سړې هلاك او برباد دې.

قوله: وَإِذَا شِيكَ فَلَا انْتُقِشَ:

د انتقاش په مفهوم کښې دوه اقوال: ① بیا دلته نبی اکرم ﷺ دَ تاکید په توګه دَ هغه سړی دَپاره دا جمله هم دَ خیرو په توګه ارشاد اوفرمائیله چه که هغه کښې چرته ازغې خښ شی نو هغه ته په نوسی (دَ ازغی دَ راویستلو آله) باندې دَ راویستلو توفیق دې نه وی. چه هغه دَ دینارونو او درهمونو دَ طلب او سعی نه منع شی.(١)

② کله انتقاش دَ استعارې په توګه دَ توبې دَ پاره هم استعمالیږی، په دې صورت کښې به دَ مذکوره جملې مطلب دا وی چه داسې سړی ته دې دَ توبې توفیق نه وی.(٢)

قوله: طُوبَى لِعَبْدٍ آخِذٍ بِعِنَانِ فَرَسِهِ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ،

د طوبی په مصداق کښې دوه اقوال: ① دَ طوبی نه مراد جنت دې

② دا دَ جنت دَ یوې ونې نوم دې

قوله: مُغْبَرَّةٌ قَدَمَاهُ:

د راحت خیال نه ساتل: یعنی دَ چا خپې چه دَدوړو وی مطلب دا چه مکمل محنت اومشقت سره دَ الله تعالی په لارکښې جهاد کوی دَعیش او آرام هیڅ نوم او نښه نه غواړی ورك ژوند تیره وی دَ امیر دَ اطاعت پابند دې.چرته چه حکم کیږی هم هلته وردانګی لکه چه هغه دَ الله تعالی په لار کښې یومست درویش دې دَ رنګ نسل زمکې اووطن پابند نه دې

قوله: إِنْ كَانَ فِي الْحِرَاسَةِ......إِنْ كَانَ فِي السَّاقَةِ:

تقدیری عبارت: دا خایونه دَ داسې مواضعو نه دی چه چرته شرط او جزاء متحد دی لیکن معنی دَ هریو دَ بل نه مختلف ده او تقدیر عبارت داسې دې..إن كان المهم في الحراسة كان فيها،وإن كان المهم في الساقة كان فيها..(٣) یعنی که دَ لښکر څوکې او پهره ورکولو دَ وخت تقاضا او مهم وی نو هم په هغې کښې وی او که مهم او ضروری دَ لښکر په آخری حصه کښې موجودګی وی نو هم هلته وی.

١) (حواله بالا واعلام الحدیث للخطابی (ج٢ص١٣٨٨) وتاج العروس (٤ص٣٥٩) مادة نقش-
٢) (مصباح اللغات (٩٠٢)مادة نقش-
٣) (حواله بالا-

دمذکوره جملې په مطلب کښې اقوال: ①علامه عینی فرمائی چه مطلب دا دې چه هغه سړی ته دَ کوم کار حکم ورکولې شی هغه پوره کوی او چه کوم ځائ دې هم اودرولو دَ خپل ځائ نه نه خوزیږی کلك ولاړ وی.که هغه ته دَ مقدمة الجیش حفاظت ورکړیشی نو هم هلته به وی او که دَ لښکر دَ روستونئی حصې دَ خیال ساتلو ورته اوونیلې شی نو دَ هغې نه هم انکار نه کوی.(۱)

② علامه ابن جوزی رحمه الله فرمائی چه مطلب دا دې چه هغه دَ مشهورتیانه بچ کیږی،دَ رفعت او اوچتوالی غوښتونکې نه وی، خپل کار سره کار لری، نولکه چه دَ نبی اکرم ﷺ مقصد دا دې که هغه په څوکئی کښې وی نو په هغې کښې مشغول اوسی او که دَ لښکر په روستونئ حصه کښې هغه اولګولې شی نو هم هلته وی یعنی په هر حال کښې خوشحاله وی او چه کومه ذمه واری هم هغه ته حواله کړیشی هغه پوره کوی.(۲)

دَ مقدمة الجیش او مؤخرالجیش دَ تخصیص بالذکر وجه: په حدیث کښې دَ شارحینو مطابق حراست نه مراد مقدمة الجیش یعنی دَ لښکر دَ وړاندینئی حصې څوکئی ده، او دَ ساقه نه مراد دَ لښکر آخری حصه ده.(۳)

نودلته صرف دَ لښکر په دوو حصو باندې اکتفاء شویده او دا دواړه ئې په خاص توګه ذکر کړې نودَ دې تخصیص وجه علامه طیبی رحمه الله او علامه عینی رحمه الله وغیره دا ذکر فرمائیلې دی چه دَ دې دواړو حصو په ساتنه کښې مشقت او تکلیف ډیر دې، اول خو هغه وخت وی چه کله مسلمان دَ میدان جنګ نه اوځی نو ښکاره خبره ده چه هم په دې وختونوکښې لښکر ته ډیره خطره وی.(۴)

قوله: إِنِ اسْتَأْذَنَ لَمْ يُؤْذَنْ لَهُ،وَإِنْ شَفَعَ لَمْ يُشَفَّعْ

د مذکوره جملې مقصد: په دې جمله کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چه دا سړې دَ دنیا او دَ دنیا دَ خلقو طرف ته څه التفات او توجه نه ورکوی، هغه خپل نفس بالکل فنا کړې دې نه دَ هغه دَمال طلب دې اونه دَ خلقو دَ نزدیکت او شان او شوکت خواهش مند دې.بلکه دَ هغه شان او شوکت خو الله تعالی سره دې، خلق خودَ چا باره کښې دَ هغه سفارش هم نه قبلوی لیکن دَ الله تعالی په نزد دَ هغه دا حیثیت دې چه دَ هغه شفاعت هم قبلولې شی اودَ هغه باره کښې هم سفارش قبلولې شی.(۵)

دَ حراست فی سبیل الله فضیلت باره کښې نورحواحادیث: دَ الله تعالی په لارکښې

---

۱) (عمدةالقاری (ج ١٤ص١٧٢)-
۲) (فتح الباری (ج۶ص۸۳)-
۳) (شرح الکرمانی (ج۱۲ص۱۵۶)-
٤) (عمدة القاری (١٤ص١٧٢) وشرح الطیبی (ج۹ص۲۸۸)-
۵) (عمدة القاری (١٤ص١٧٢)-

حفاظت او پاسبانی کولو فضیلت په نورو احادیثوکښې هم وارد شویدې کوم چه دَ امام بخاری رحمه الله په شرطونو خو نه دی البته صحیح ضرور دی. کوم نه چه یو څومونږ په ذیل کښې نقل کوو:

① دَ حضرت عثمان رضی الله عنه مرفوع روایت دې ((حرس ليلة في سبيل الله تعالى أفضل من ألف ليلة، يقام ليلها ويصام نهارها))(۱) دَ الله تعالی په لارکښې یوه شپه څوکنی کول دَ زرو شپوورځونه بهتراوغوره دی، په کومو شپوکښې نفلونه اداکړیشی اودَ هغې په ورځوکښې روژې اوساتلې شی.

② حضرت ابوریحانه رضی الله عنه نه مرفوعًا مروی دی ((حرمت النار على عين سهرت في سبيل الله))(۲) یعنی دَ دوزخ اُور په هغه سترګه حرام دې چه دَ الله تعالی په لارکښې رونړه شوې وی.

③ دَ حضرت ابن عباس رضی الله عنهما مرفوع حدیث دې: ((عينان لا تمسهما النار: عين بكت من خشية الله، وعين باتت تحرس في سبيل الله)) (۳) یعنی دَ دوزخ اُور به دوو سترګوسره نه لګی. یوه هغه سترګه چه دَ الله تعالی دَ ویرې ژړیدلې وی او دوئمه هغه سترګه کومې چه دَ الله تعالی په لارکښې دَ حفاظت او پاسبانئی فریضه پوره کولوسره شپه رونړه کړې وی.

④ حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه مرفوع روایت دې چه نبی کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو ((ألا أنبئكم بليلة أفضل من ليلة القدر حارس حرس في أرض خوف لعله أن لا يرجع إلى أهله)) (۴) آیا زه تاسو ته دَ داسې شپې باره کښې اونه ښائم چه دَ لیلة القدر نه هم غوره وی. هغه دَ هغه څوکنی کونکی (شپه ده) څوك چه په خطرناکه زمکه باندې دَ سرحدونودَ حفاظت فریضه پوره کوی. کیدیشی چه هغه خپل بال بچ طرف ته واپس رانشی.

[۵۶۳] دمال حق ادا کولو ستائینه

۵۶۳-(۰)[۸] ١ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ "«إِنَّ مِمَّا أَخَافُ

---

۱) (مسند الإمام احمد (ج۱ص۶۱و۶۵)الترغيب للمنذری (ج۲ص۲۵۰).
۲)(مسند الإمام احمد (ج٤ص۱۳٤) والمستدرک (ج۲ص۸۳) وقال الذهبی فی تلخيصه للمستدرک: صحيح
۳) (الجامع للترمذی. أبواب فضائل الجهاد. باب ماجاء فی فضل الحرس فی سبيل الله رقم (۱۶۳۹).
٤) (المستدرک للحاکم (ج۲ص۸۰) کتاب الجهاد باب من رابط يوما وليلة. وکنزالعمال (ج۳ص۳۲۳) ومن أراد الاستزادة فليراجع الترغيب والترهيب للمنذری (ج۲ص۲٤۸) کتاب الجهاد باب الترغيب فی الحراسة فی سبيل الله تعالی.
۵) اخرجه البخاری فی کتاب الزکاة/باب الصدقة علی اليتامی (رقم-۱٤۶۵) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب تخوف ما يخرج من زهرة الدنيا (رقم-۱۲۳ - (۱۰۵۲) والترمذی فی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب(رقم-۲٤۶۳)

عَلَيْكُمْ مِنْ بَعْدِي ③ مَا يُفْتَحُ عَلَيْكُمْ مِنْ زَهْرَةِ الدُّنْيَا وَزِينَتِهَا" ④ فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَوَيَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ؟ ⑤ فَسَكَتَ حَتَّى ظَنَنَّا أَنَّهُ يُنَزَّلُ عَلَيْهِ، ⑥ قَالَ فَمَسَحَ عَنْهُ الرُّحَضَاءَ وَقَالَ: "أَيْنَ السَّائِلُ؟ ⑦ وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ

ترجمه: ① او حضرت ابوسعيد رضي الله عنه نه روايت دى، يوه ورځ رسول الله صلى الله عليه وسلم صحابه رضي الله عنهم او د هغوئ په ذريعه عام مسلمانان مخاطب كولو سره وفرمايل. ② د خپل وفات نه پس ستاسو باره كې چې ماته د كوم څيزونو خوف دى، (چې تاسو به په هغه كې مبتلا شئ) ③ په هغه كې يو شى د دنيا ترو تازګي او زينت هم دى چې (د ملكي فتوحاتو او اقتدار په صورت كې) تاسو ته به حاصل شي ④ په دې اوريدو سره يو سړي عرض وكړو. يا رسول الله، آيا نيكي به دځان سره بدي هم راولي. (يعني د ملكي فتوحاتو او اقتدار په وجه مونږ مسلمانانو ته چې كوم مالِ غنيمت او ساز وسامان حاصليږي. هغه خو به زمونږ په حق كې د الله نعمت وي، او هسې هم جائز وسائل او ذرائع سره د حاصليدونكي مال ودولت او رزق وغيره وسعت او فراخي يوښه شى دى. نو داڅرنګه ممكنه ده. چې د الله وركړې شوى نعمت او ښه شى زمونږ د پاره د بدي او فتنې او ترك طاعات سبب او ذريعه جوړه شي) ⑤ نو حضور صلى الله عليه وسلم خاموش شو تردې چې زمونږ دا ګمان شو چې د الله تعالى د طرف نه وحي راځي، ⑥ حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه وايي، لږ ساعت وروسته حضور صلى الله عليه وسلم د خپل مخ مبارك نه خوله (پسينه) اوچه كړه (چې د نزول وحي په وخت به باندې راتله) بيا يې وفرمايل، هغه سړى چيرته دى. چې هغه پوښتنه كړې وه ⑦ ګويا حضور صلى الله عليه وسلم د سوال تحسين وفرمايه [ځكه چې حضور صلى الله عليه وسلم پوهيدى، چې هغه سړي كوم سوال كړى دى، او اوس چې د هغه كوم جواب وركول كيږي، د هغه نه به خلقو ته فائده ورسيږي] ، او د دې نه پس يې وفرمايل،

فَقَالَ: ⑧ إِنَّهُ لَا يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ، ⑨ وَإِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ ⑩ مَا يَقْتُلُ حَبَطًا أَوْ يُلِمُّ، ⑪ إِلَّا آكِلَةَ الْخَضِرِ أَكَلَتْ ⑫ حَتَّى امْتَدَّتْ خَاصِرَتَاهَا، ⑬ اسْتَقْبَلَتْ عَيْنَ الشَّمْسِ فَثَلَطَتْ ⑭ وَبَالَتْ ثُمَّ عَادَتْ فَأَكَلَتْ. ⑮ وَإِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ، ⑯ فَمَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ، ⑰ وَوَضَعَهُ فِي حَقِّهِ فَنِعْمَ الْمَعُونَةُ هُوَ، ⑱ وَمَنْ أَخَذَهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ كَانَ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ، ⑲ وَيَكُونُ شَهِيدًا عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⑧ حقيقت دا دى، چې نيكي د ځان سره بدي نه راولي. (يعني جائز ذرائعو سره مال ودولت حاصلول او رزق كې وسعت او فراخي او د خوشحالي نصيب كيدل د خيرونو نه يو خير دى) او په دې وجه څه بدي نه پيښيږي بلكې په اصل كې د بدى بدخيرى پيښيدل د هغه عوارضو په وجه وي چې د دولتمندى او خوشحالي سره لاحق كيږي لكه بخل او اسراف او حدّ اعتدال نه تجاوز كول ⑨ او د سپرلى (د موسم په) نباتاتو كښې هغه دى چې د خپل ذات په اعتبار سره نه خو. ښه او فائده مند وي، (خو) خيټه خرابوى (يعني هاضمه نه راځي) اوخوړونكې هلاكت ته نزدې كوى ⑩ البته د هغه نه ضرر او

نقصان هغه وخت رسیږي کله چې یو څاروې شینکې اوخروي اوبنه ئې اوخوري [۱۲] تر دې دې د ډیر خوراک په وجه یې دواړي تشي او پړسیږي [۱۳] نو هغه د نمر طرف ته اوږدو سره وغزیدي [څرنګه چې د څناورو عادت وي، چې کله د بدهضمی په وجه د هغه خیټه وپړسیږي، نو هغه نمر (دهوپ) کې پریوزي، او د هغه خیټه ګرمي پیدا کیدو سره نرمه شي او په هغه کې چې څه وي، بهر راووځي.] [۱۴] او بیا چې هغه نرم خاشنړه او متیازي کولو سره خیټه یي سپکه شي، نو بیا دوبنو (چراګاه) طرف ته لاړ شي. او په سبزه کې څرند شروع کړي، [۱۵] او حقیقت دادی، چې د دنیا دا مال وزر ډیر سرسبز، تروتازه. نرم او دلکش دی، [چې په ظاهره په سترګو او طبیعت بنه لګیږي. چې د هغه په وجه زړه غواړي چې زیات نه زیات حاصل کړي] [۱۶] نو کوم سړی چې د دنیا مال وزر په حق سره. [یعنی به وخت ضرورت او جائز وسائل او ذرائعو سره] حاصل کړي. [۱۷] او هغه د هغه په حق کې یعنی بنه مصارفو کې [که واجب وي، یا مستحب] خرچ کړي، نو هغه مال وزر د هغه په حق کې د دین بهترین مددګار ثابتیږي، [۱۸] او کوم سړی چې هغه مال وزر د حق نه بغیر یعنی ناجائز طور سره حاصل کړي، نو هغه د هغه سړي په شان وي، چې خوري څکي. خو خیټه یي نه مړیږي، [۱۹] او هغه مال وزر به د قیامت په ورځ دهغه په خلاف: هغه د اسراف او د هغه د حرص وطمع ګواه وي. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① الزُّهْرَة: هغه خوله کومه چه دَ تبې دَ وجې نه په مخ کومه راځی ② الرَّبِیعُ: د بهار موسم. سپرلې. ③ حَبَطًا: د زیات خوراک په وجه بدهضمی سره هلاکیدل. ④ يُلِمُّ: ألمیلم نیزدې کیدو په معنی کښې دې یعنی چه هلاکت ته نیزدې شی. ⑤ الْخَضِرِ: سبزه، شنه واخه. ⑥ امْتَدَّتْ: اوپړسیږی. ⑦ خَاصِرَتَاهَا: خاصرة: ډډې ته یعنی تشی ته وائی. ⑧ فَثَلَطَتْ: سوتې اومتیازې چه کله نرمې او نرئی شی او دست ترې جوړشی نوهغې ته ثلط وائی. ⑨ بَالَتْ: متیازې اوکړی.

تسهیلات:

قوله: فَقَالَ رَجُلٌ: يَارَسُولَ اللهِ! أَوَيَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ؟

دسائل د تپوس مطلب: دَدې سړی دَ سوال مقصد دادې چه قرآن عظیم کښې الله تعالی مال ته دَ الخیر نوم ورکولوسره یاد کړې دې سورت عادیات کښې دی ﴿وَإِنَّهُ لِحُبِّ الْخَيْرِ لَشَدِيدٌ﴾ [سوة عادیات:۸] کله چه دَ دنیامال خیردې نودا دَ خوف سبب دَ شر سبب او دَ ضرر سبب څنګه جوړیږی؟

قوله: فَسَكَتَ حَتّٰى ظَنَنَّا أَنَّهُ يُنْزَلُ عَلَيْهِ،

د خاموشۍ وجه: دَ وحی دَ نازلیدو په انتظارکښې حضورپاک خاموش شو دې دَپاره چه دَ الله تعالی دَ طرف نه دَ دغه سوال جواب راشی.

قوله: وَكَأَنَّهُ حَمِدَهُ

د مذکوره جملې مطلب: یعنی حضورپاك دَ دغه سړی سوال خوښ کړو ځکه چه دا علمی سوال وو کوم چه دَ امت دَپاره فائده مند وو "انه" دا ضمیرشان دې

قوله: إِنَّهُ لَا يَأْتِي الْخَيْرُ بِالشَّرِّ:

في نفسه دمال عدم کراهت: یعنی حضورپاك اوفرمائیل چه نیکی بدی نه راوړی یعنی بنفسه مال سره دَدې چه زیات وی دا دَخپل ذات په اعتبارسره بدی نه راوړی په دې کښې که چرې بدی راځی نوهغه دَ عارض او خارج دَ وجې راځی چه سړې دَ اعتدال دَ حد نه اوځی بخل حرص لالچ او په اسراف کښې پریوځی.بیا مال نقصان کوی.

قوله: وَإِنَّ مِمَّا يُنْبِتُ الرَّبِيعُ:

د مال تشبیه د سپرلی سره: نبی علیه السلام د مثال په رنړا کښې د سائل د پوهولو کوشش کوی.اوفرمائی چې دَ الله تعالی قدرت او ارادې سره دَ سپرلی موسم کښې چه کله زمکه قسم قسم واښه راپیدا کوی او څاروی دَ دې دَ خوراك طرف ته متوجه کیږی اوواښه ښکلې ګنړلوسره دَ اعتدال دَحد نه زیات خوری نودَ بدهضمئی دَ وجې نه دَهغې خیټه پړسیږی بلکه کولمې ئی شلیږی اوڅاروی په حقیقت کښې مړه کیږی یا که چرې واقعةً نه مړه کیږی نومرګ ته نیزدې کیږی.نوځنګه چه دلته دَ سپرلی دَ موسم څه قصور نشته دې بلکه دَ اعتدال دَ حد نه زیاته اندازه کښې واښه خوړونکې دَ ځناور قصور دې هم دغه شان معامله دَ دنیا دَ مال او انسان هم ده که چرې انسان مال داسې راجمع کوی چه دَهغې حق نه اداکوی او دَ حلال اوحرام فرق نه کوی

یا دَمال دَ کثرت دَ وجې نه ډیرزیات عیش اوعشرت او عیاشئی اوغفلت کښې ژوند تیره وی نودغه شان به هغه په اخلاق رذیله کښې راګیرشی او هلاك به شی دلته قصوردَمال نه دې بلکه دَ هغې دَ غلط استعمال دې.

قوله: مَا يَقْتُلُ حَبَطًا أَوْيُلِمُّ،الخ

دبدهضمئ په وجه د څاروی هلاکت: حبط دَ هلاکت په معنی کښې دې مګر هغه هلاکت چه دَ یوڅیز دَ خوراك سره په خیټه کښې بدهضمی پیدا کیدو دَ وجې نه وی اوخوراك کونکې فوری مړشی.

قوله: إِلَّا آكِلَةَ الْخَضِرِ:

د مذکوره جملې په ترکیب کښې درې اقوال: ① علامه طیبی رحمه الله دا لیکلی دی چه دا استثناء منقطع ده چه دَ لکن په معنی کښې ده.نوې کلام دې دادیر آسان دې

② علامه طیبی رحمه الله فرمائی آکلة منصوب دې اودا یقتل دَپاره مفعول به دې اواستثناء

مفرغ ده عبارت داسې دي "إن مما ينبت الربيع ما يقتل آكله إلا آكل الخضر"

③ ملا علی قاري رحمه الله داسې عبارت راوړ باسی "إن مما ينبت الربيع ما يقتل أو يلم كل آكلة إلا آكل الخضر" دا عبارت په مستثنی متصل باندې هم حمل کولې شی

قوله: استقبلت عين الشمس فثلطت وبالت:

نمر ته د مخامخ کيدو فائده: دَ څناور خيته چه کله دَ زياتو واښو په خوړلو سره اوپړسيږی نو هغه دَنمر مخې ته اودريږی يا کينی دې دَپاره چه دَ نمر په تاؤ سره په خيټه کښې دننه هرڅه هضم شی.

دعلامه طيبي په نيز په حديث کښې څلور مثالونه: ① اول مثال خودَ هغه کافر دې چه دَ دنيا دَ زهرژن واښو په خوړلو سره هلاکيږی. په "ما يقتل حبطاً" کښې دې مثال طرف ته اشاره ده.

② دويم مثال دَهغه ظالم مسلمان دې چه په ګناهونو کښې ککړ کيدو سره هلاکت ته ورنيزدې شی. په "أو يلم" کښې دې مثال طرف ته اشاره ده.

③ دريم مثال دَ درميانه مسلمان دې چه کله ګناه او کله نيکی کوی

په "آكلة الخضر" کښې دې مثال طرف ته اشاره ده

④ څلورم مثال سره دَدې چه په دې حديث کښې نه دې ذکر مګر په دويم حديث کښې دې چاچه دنيا ترك کړه اوعقبیٰ ئی اختيارکړه کوم ته چه سابق بالخيرات وائی په قرآن پاك کښې الله تعالى دا ذکرکړې دې.

دعلامه ازهری په نيز په حديث کښې دوه مثالونه: ① په حديث کې دَهغه لالچی سړی دې چه په ناجائز اوحرام طريقې سره مال راجمع کوی اودَهغې حقوق نه اداکوی دا دَ زهرژن واښو په شان دې دَدې باره کې ئی اوفرمائيل چه "ما يقتل حبطاً" دا مال دغه سړې هلاکوی

② په حديث کښې دَ هغه درميانه سړی مثال دې کوم چه "إلا آكلة الخضر" سره حضورپاك بيان کړې دې. دا مال دَ زهرژن واښو په شان نه دې بلکه دَ ژمی دَ موسم دَ واښو په شان دې کوم چه دَ خوراك قابل دی سره دَدې چه دَ حرص او لالچ دَ وجې نه دغه سړی دَ دې په جمع کولو کښې دَ اعتدال دَ حد نه تجاوز اوکړو او اسراف ئی اوکړو ليکن ډير زر دغه سړې خبردار شو توبه ئی اوکړه اودَحرص نه منع شو. لکه څنګه چه دَ دغه څناور مثال دې کوم چه واښه زيات اوخوړل مګر زر ئی خپل علاج هم اوکړو نو بچ شو.

دمذکوره تسهيل خلاصه: دَ حديث چه څومره حصه تيره شوې ده دَهغې مطلب اوخلاصه دا راووتله چه مال خير دې اوخير شر نه راوړی مګر کله کله دغه مال په غلطه طريقه سره حاصلولې شی او دَهغې حقوق هيرولې شی کوم چه انسان هلاکوی څنګه چه زهرژن واښه

څناور هلاکوی نو مال صالح کیدل پکاردی په زهرو ککړ نه دی کیدل پکار دغه شان کله کله مال صالح وی مګرد اعتدال د حد نه زیات استعمال سره نقصان کوی څنګه چه ښکلي وابښه وی مګر کله چه څناور دا زیات خوری نو په دې سره بدهضمی پیدا کیږی اودست راځی نوچه دنیاکله زیاته شی نوداهم انسان په دستونوکښې اخته کوی یو الله والا اوونیل دَدنیامثال دَ زهریلا مار دې کـه دَ مـار منتریاندې پوهیږي نومار به دې په قابوکښې وی ګنی تك لګولوسره به دې هلاك کړی. اودَ دغه مار منترداد دې چه دَ دنیا مال په جائز طریقې سره حاصل کړې شی او په جائز طریقه استعمال کړې شی

قوله: وَإِنَّ هَذَا الْمَالَ خَضِرَةٌ حُلْوَةٌ

د دنیا دلفریبی: دې جملې سره حضورپاك دَدنیا محبت کښې دَ خلقو مختلف احوال بیان کړی دی. چنانچه اوفرمائیلې شو چه دا دنیا دَ زیب اوزینت په اعتبار سره شنه آباده زړه راښکونکې اوخوږه ده. طبعًا دَ هرسړی خوښه ده

قوله: فَمَنْ أَخَذَهُ بِحَقِّهِ، وَوَضَعَهُ فِي حَقِّهِ فَنِعْمَ الْمَعُونَةُ هُوَ:

نیک عمله انسان اودنیا: نوچا چه دا په صحیح اوجائز طریقه حاصله کړه او په جائز طریقه ئی خرچ کړه نودا دَ یو صالح انسان دَ خو مقاصدو دَپاره بهترین معاون او مددګاره ده

قوله: وَمَنْ أَخَذَهُ بِغَيْرِ حَقِّهِ كَانَ كَالَّذِي يَأْكُلُ وَلَا يَشْبَعُ،

بدعمله انسان اودنیا: اوکوم سړی چه دا مال اودنیا ناجائز طریقې سره حاصل کړه او ناجائز کارونوکښې ئی خرچ کړه نودا دَ هغه دَ پاره دَ ځان دښمن ده. دکوم په وجه سره چه به دغه سړې په لاعلاج بیمارئی کې اخته شی. هغه به دَدنیا غلام جوړیدوسره دَ دې څوکیدار جوړشی اودَ هغه مثال به دَ جوع البقر والا مریض په شان شی چه خوراك کوی لیکن اولږه ئی نه ختمیږی یا دَ استقاء دَ بیمار په شان شی چه اوبه به څکی خو تنده به ئی نه ماتیږی

قوله: وَيَكُونُ شَهِيدًا عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د قیامت په ورځ دمال ګواهی ورکول: هم دغه نه بلکه دَقیامت په ورځ به دا مال دَهغه خلاف اودریږی اودا ګواهی به ورکوی چه دا سړې ډیر حرص کونکې لالچی حرام خوراو غل وو.

[۵۱۳] دمال ډیروالی دَ خطرې سبب دی

۵۱۳-(۱)[۹] ۱ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «فَوَاللَّهِ لَا الْفَقْرَ أَخْشَى عَلَيْكُمْ، ۳ وَلَكِنْ أَخْشَى عَلَيْكُمْ أَنْ تُبْسَطَ عَلَيْكُمُ الدُّنْيَا كَمَا بُسِطَتْ عَلَى مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ،

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب المغازی/باب (رقم-۴۰۲۵) ومسلم فی کتاب الزهد والرقائق (رقم-۶ - (۲۹۶۱) والترمذی فی کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۴۶۲) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب فتنة المال (رقم-۳۹۹۷)

[۴] فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا، وَتُهْلِكَكُمْ كَمَا أَهْلَكَتْهُمْ» "مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمرو ابن عوف ﷺ فرمايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] قسم په الله زما سره ستاسو د فقر او افلاس هيڅ ويره نشته. ځکه د فقر او افلاس په حالت کې د دين د سلامتيا امکان غالب وي، او داشې ستاسو په حق کې زيات شودمند دی، [۳] بلکي زه د دې نه ويريږم، چې دنيا به تاسو باندې کشاده شي او تاسو به د مالدارو طور طريقه اختيارولو سره د مختلف قسم آفتونو او بلاګانو په ذريعه هلاکت او تباهي کې مبتلا شئ، څرنګه چې په هغه خلقو دنيا کشاده شوي وه، کوم چې ستاسو نه مخکې تير شوی دی او هغوئ د مال ودولت د بې حده رغبت او محبت په وجه فقراء او مساکينيو باندې رحم نه کوی او د هغوئ د مدد نه به تښتيدل، د هغوئ نتيجه دا شوه. چې هغوئ تباه او برباد شوه، [۴] که تاسو دنيا طرف ته رغبت کوئ، يعنی دنيا اختياروئ او هغه طرف ته رغبت ساتي، چې يوبل نه مال ودولت او جاه وحکومت حاصلولو د پاره جنګ جګړې شروع کوئ څرنګه چې ستاسو نه مخکې خلقو دې طرف ته رغبت کړی وو. او بيا دا دنيا به تاسو داسې تباه او برباد کړي، څرنګه چې هغوئ يې تباه او برباد کړي وه (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① أَخْشَى: زه ويريږم، ② تُبْسَطَ: فراخه به کړې شی، ③ فَتَنَافَسُوهَا: دَ نفيس خيز طرف ته دَ زړه ميلان ته تنافس وائی. مراد رغبت دې. يعنی د يوبل نه وړاندې کيدل.

تسهيلات:

قوله: فَتَنَافَسُوهَا كَمَا تَنَافَسُوهَا: اي فتتنافسوا فيها دَ يو بل نه وړاندې کيدو سره دَدنيا دَ حصول دَپاره چه منډې وهې او دَدې په جمع کولو کښې لګيا شئ په دې کښې حرص کونکې شې بيا دَ کثرت دَ وجې نه تکبر او تجبر او بغاوت کښې پريوځی نو دَ آخرت په اعتبار سره به هلاك شئ يا دَ دنيا خلقو سره به عداوتونه شروع شی نو هغه به تا هلاك کړی دا دَ دنيا هم هلاکت دې او دَ آخرت هم هلاکت دې. دَ ريښمو دَ چينجی په شان چه دَخپل بدن نه دَ ريښمو تار ويستلو سره هم په خپل بدن باندې راتاووی او په آخره کښې هم په دې کښې خښيدو سره مرشی. يا دَ سوتو دَ چينجی ګونګټ په شان چه دَ ګندګئ ګوله جوړلو سره په خپله سوړه کښې دَ داخلولو کوشش کوی مګر دَ سوړې دَتنګوالی دَ وجې نه هغه پريږدی او دننه ځی. انسان هم هرڅه پريخودو سره قبر کښې يوازې داخليږی.

جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے   یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

بهرحال دَمال په کثرت کښې هلاکت دا هم دې چه مال کله سړې راګير کړی نو هغه بزدل جوړيدو سره دَ جهاد نه ويريږی نو دښمن راځی او ده لره هلاکوی.

[۵۰۴۳] دَ رزق باره کښې د حضور پاک ﷺ دعا

۵۰۴۳-()[۱۰] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] " «اللَّهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوتًا» ". [۳] وَفِي رِوَايَةٍ: (كَفَافًا). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى، چې رسول الله ﷺ دا دعا فرمايله، [۲] اې الله ته آلِ محمد ته بقدر قوت، رزق وركړې، [۳] او په يوه روايت کښې د «قوت په ځاى» د كفاف، لفظ دى. «بخاري، مسلم»

حل اللغات: - ① قُوتًا: په اندازه د قوت. د ګذارې روزى، ② كَفَافًا: كافى كيدونكې،

تسهيلات:

قوله: اللَّهُمَّ اجْعَلْ رِزْقَ آلِ مُحَمَّدٍ قُوتًا:

د رزق د سوال كولو مختلف درجات: ① دَ حضورپاك دَ خپل ذات مبارك دَ پاره دامعيار مقرروو چه خپل ځان سره به ئى هيڅ هم جمع نه ساتل. دَ خپل اهل بيت دَپاره ئى دامعيار ووچه په اندازه د كفاف يعنى ګذارې او قوت لايموت مقدار پورې دَ ساتلو اجازت ئى وركولو

② دَ عام امت دَپاره ئى دا معيار ساتلې وو چه رزق حلاله ګټه او دَ صحيح استعمال اجازته ئى وركړې دې.

دكفاف مدار د اشخاصو په اعتبار: علامه طيبى رحمه الله ليكى دى چه دكفاف حكم او مفهوم دَ اشخاصو دَ احوالو په اختلاف سره مختلف كيږى.

① بعضې خلق پوره هفته كښې يو ځل خوراك كوى دَهغوى دَپاره دغه كفاف دې

② بعضې خلق په ورځ كښې يو ځل يا دوځل خوراك كوى دَهغوى دَپاره دغه كفاف دې

③ بعضې خلق بال بچه دار وى نودَهغوى كفاف هم دومره دې چه دَهغوى دَ بچودَپاره كافى شى

④ بعضې خلق كم بال بچه دار وى دَهغوى دَپاره لږ خوراك كفاف دې خلاصه دا چه دكفاف معين مقدار نشته بلكه په اندازه دَ كفايت كفاف دې دې دَپاره چه په طاعاتو كښې طاقت وى او بې ځايه اشتغال هم نه وى. [الكاشف: ۹/۳۲۶]

---

[1] اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب: كيف كان عيش النبي صلى الله عليه وسلم وأصحابه، وتخليهم من الدنيا (رقم-۶۴۶۰) ومسلم في كتاب الزهد والرقائق (رقم-۱۸ - (۱۰۵۵) والترمذي في كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۴۶۱) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب القناعة (رقم-۴۱۳۹) واحمد في المسند: ۲/۴۴۶

[۵۱۶۵] څوک کامیاب سړي دي؟

۵۱۶۵-(۱)[۱۱] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَسْلَمَ وَرُزِقَ كَفَافًا، [۳] وَقَنَّعَهُ اللّٰهُ بِمَا آتَاهُ»). رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبدالله ابن عمرو ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] هغه سړی فلاح اونجات ته ورسيدی چاچي اسلام قبول کی (يا أسلمُ نه مراد دادی چې هغه دقضاء وقدر مخکې خپل سر خکته کړي هغه ته حلال او جائز ذرائعو سره) بقدر کفاف رزق ورکړل شو (يعني بس هغه ته دومره رزق حاصل شو چې دهغه دضروريات ژوند دپاره کافي شو او هغه دغير مخکې دلاس غزولو ضرورتمند پاتي نه شو) [۳] او الله تعالیٰ هغه په هغه شي چې هغه ته ورکړل شوي دي قناعت او بخښلی (او هغه تقدير باندې راضي او مطمئن شو) (مسلم).

حل اللغات: - ① أَفْلَحَ: پوره کامياب شو. ② أَسْلَمَ: چه اسلام ئې راوړو، خان ئې تابع کړو. ③ قَنَّعَهُ: قناعت يعنی صبر به ورکړی هغه ته.

تسهيلات:

د حديث الباب حاصل دا دي چه کوم کس ته ايمان، تقویٰ بقدر ضرورت مال او په قليل مال باندې صبر او قناعت حاصل شی نو هغه به په دنيا کښې هم کامياب وی او په آخرت کښې به هم کامياب وی.

[۵۱۶۶] دَانسان اصل مال درې قسمه دي

۵۱۶۶-(۲)[۱۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «يَقُولُ الْعَبْدُ: مَالِي، مَالِي. [۳] وَإِنَّ مَا لَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ: [۴] مَا أَكَلَ فَأَفْنَى أَوْ لَبِسَ فَأَبْلَى أَوْ أَعْطَى فَاقْتَنَى [۵] وَمَا سِوَى ذَلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لِلنَّاسِ»). (رَوَاهُ مُسْلِمٌ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] بنده وايي خما مال خما مال (يعني کوم سړی چې مالدار او دولتمندوي هغه خپل مال ودولت باندې فخر کوي او نورو ته ددي خودلو کوشش کوي چې زما سره مال ودولت دي [۳] او حقيقت دادي چې هغه ته هغه مال ودولت نه څه حاصليږي هغه في الجمله درې څيزونه دي (او هغه درې څيزونو کې هم صرف يو شی داسې دی چې هغه دپاره حقيقي نفع بخش او باقي پاتي

---

[۱] اخرجه مسلم فى كتاب الزكاة/باب فى الكفاف والقناعة (رقم-١٢٥ - (١٠٥٤)) والترمذى فى كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الكفاف والصبر عليه (رقم-٢٣٤٨) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب القناعة (رقم-٤١٣٨) واحمد فى المسند:٢/١٦٨

[۲] اخرجه مسلم فى كتاب الزهد والرقائق (رقم-٤ - (٢٩٥٩)) والترمذى فى كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-٢٣٤٢)

كيدونكي دي اوبقيه دوخيزونه داسې دي چې دهغه تعلق دنيا سره دي اوفناكيدونكي دي) [۴] يوخو هغه شى چې هغه اوخوړلو اوختم يي كى اودويم هغه شى چې هغه واغوستى اوبوسيده (زوړ) يي كى يعنى اوخكلو سره وي غورخول اودريم هغه شى چې هغه دالله په لار كې وركى او آخرت دپاره ذخيره يي كى [۵] ددي دري خيزونونه علاوه نورخه چې دي لكه زمكه څاروي نوكر روپي پيسي اونور قيمتي څيزونه هغه ټول داسې دي چې هغه خلقو دپاره پريخودلو سره (ددي دنيانه) تلونكي دي (مسلم).

حل اللغات:- ① أَفْنَى: ختم شى، هضم شى، ② أَبْلَى: زړه ئې كړه، ③ فَاقْتَنَى: اى جعله قنية وذخيرة للعقبى يعنى دَ آخرت دپاره ئې ذخيره كيخوده.

تسهيلات:

د بعضې مشكلو جملو وضاحت:

① **وَإِنَّ مَالَهُ مِنْ مَالِهِ ثَلَاثٌ**: ماموصوله په معنى دَ الذى دې او دَ له حرف حصل سره متعلق دې اومن ماله هم دې سره متعلق دې اوثلاث خبر دې.

② **وَمَا سِوَى ذَلِكَ فَهُوَ ذَاهِبٌ وَتَارِكُهُ لَكَ**:

يعنى هغه بنده تلونكې دې اومال دَ خلقودپاره په توګه دَميراث پريخودونكې دې

درې څيزونه دانسان اصلى مال: يعنى دَ انسان اصل مال كوم چه دَهغه په كارراغلو هغه په درې قسمه دې.

① كوم چه هغه اوخوړلو دا مال دې.

② كوم ئې چه واغوستلو دغه دَده مال دې.

③ كوم چه ئې دَ الله تعالى په نوم وركړو دادَ هغه مال دې دكوم اجر چه به په آخرت كښې ملاويږى.دې نه علاوه وبال دې نه چه دَ هغه مال دې

[۵۱۶۷] انسان سره به قبر ته صرف دَهغه عمل ځى

۵۱۶۷-(١)[۱۳] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲](«يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ: فَيَرْجِعُ اثْنَانِ، وَيَبْقَى مَعَهُ وَاحِدٌ: [۳] يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ، فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ، وَيَبْقَى عَمَلُهُ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي، چى رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] مړي سره قبر پورې درې څيزونه ځي، په هغه كې دوڅيزونه خو هغه يوازې پريخودلو سره واپس راځي، او يوشى هغه سره پاتې كيږي، [۳] دَ هغه متعلقين لكه اولاد ، عزيز وآقارب، دوست او

---

١) اخرجه البخارى فى كتاب الرقاق/باب سكرات الموت (رقم-۶۵۱۴) ومسلم فى كتاب الزهد والرقائق (رقم-۵ - ۲۹۶۰) والنسائى فى كتاب النكاح/ يحرم من الرضاع ما يحرم من النسب (رقم-۱۹۳۷) واحمد فى المسند:۳/۱۱۰

احباب او د پیژند گلو خلق او د هغه اموال (لکه نوکر، پلنګ څاروي، ګاډي وغیره او د هغه (اسباب) او د هغه اعمال هغه سره ځي، دغه دریو سرو کې متعلقین او مال خو هغه تنها پریخودلو سره ځني واپس راشي، او د هغه اعمال هغه سره پاتې شي (مسلم)

تسهیلات:

قوله: فَيَرْجِعُ اثْنَانِ، وَيَبْقَى مَعَهُ وَاحِدٌ:

قبر کښې پاتې کیدونکې څیز: کله چې انسان مړ شي نو قبر ته د تللو نه پس خپل خپلوان او دوستان، مال او دولت ټول ملګرتیا پریږدي او د هغه سره صرف هغه اعمال پاتې شي کوم اعمال چه هغه په دنیا کښې کړي وي، هم په دې وجه دا ونیلې شوي دي "القبر صندوق العمل" قبر د عمل صندوق دې بیا یا خو د دوزخ کنده ده یا د جنت باغ دې

[۵۰۶۸] خپل مال د آخرت ذخیره جوړول پکار دي

> ۵۰۶۸-() [۱۳] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُوْدٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ۲ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيُّكُمْ مَالُ وَارِثِهِ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِهِ؟» ۳ قَالُوْا: يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ! مَا مِنَّا أَحَدٌ إِلَّا مَالُهُ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِ وَارِثِهِ. ۴ قَالَ: «فَإِنَّ مَالَهُ مَا قَدَّمَ وَمَالَ وَارِثِهِ مَا أَخَّرَ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن مسعود رضی الله عنه وایي، ۲ یوه ورځ رسول الله ﷺ اصحاب رضی الله عنهم مخاطب کولو سره ورته وفرمایل، په تاسو کې کوم سړی دی چې خپل مال نه زیات د خپل وارث مال خوښوي، (یعني آیا په تاسو کې څوک داسې سړی شته چې دا خبره خوښوي چې د هغه مال او روپۍ پیسې خپله د هغه د پاره نه وي، بلکې د هغه وارثانو د پاره وي) ۳ صحابه رضی الله عنهم عرض وکړو، یارسول الله، په مونږ کې هیڅ سړی داسې نشته چې خپل مال نه زیات د خپل وارث مال خوښوي، ۴ حضور ﷺ وفرمایل واورئ په حقیقت کې د هغه مال هغه دی، چې هغه د صدقې او خیرات وغیره د ثواب په صورت کې مخکې لیږلی دی. او د هغه د وارث مال هغه دی، چې هغه د ځان نه پس پریښې دی

تسهیلات:

قوله: أَيُّكُمْ مَالُ وَارِثِهِ أَحَبُّ إِلَيْهِ مِنْ مَالِهِ:

د نبی علیه السلام یو عجیبه تپوس: یعنی په تاسو کښې څوک داسې سړې دې چاته چه د خپل مال نه دَ خپل وارث مال زیات محبوب وی؟ صحابه کرامو اوفرمائیل داسې څوک هم نشته دې چاته چه دَخپل مال په ځائی دَ وارث مال زیات محبوب وی. حضورپاک اوفرمائیل لږ شان سوچ اوکړئی چه کوم مال دَمړی نه پاتې کیږی هغه دَ ده دَوارثانو دې

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب ما قدم من ماله فهو له (رقم-۶۴۴۲) واحمد في المسند: ۳۸۲/۱

او کوم مال چه دَخپل مرګ نه وړاندې اول دَ الله تعالى په لار کښې خرچ کوی هغه په حقیقت کښې دَهغه خپل مال دې حالانکه دغه سړي دا مال دَ خرچ کولو په ځائی شاته دَ وارثانو دَپاره پريږدی نو په حقيقت کښې دا سړې دَ خپل مال په ځائی دَ وارث دَمال زيات خيال ساتی چه سراسر دَعقل، مشاهدې او دَ تجربې خلاف دی

[۵۱۶۹] دَ سړی اصل مال هغه دې چې هغه تړې فائده واخسته

۵۱۶۹-(۱)[۱۵] ۱ وَعَنْ مُطَرِّفٍ، عَنْ أَبِيهِ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: ۲ «أَتَيْتُ النَّبِيَّ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-وَهُوَ يَقْرَأُ ﴿أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ﴾ [التكاثر: ۱] ۳ قَالَ: (يَقُولُ ابْنُ آدَمَ: مَالِي، مَالِي. ۴ قَالَ: (وَهَلْ لَكَ يَا ابْنَ آدَمَ! إِلَّا مَا أَكَلْتَ فَأَفْنَيْتَ، أَوْ لَبِسْتَ فَأَبْلَيْتَ، أَوْ تَصَدَّقْتَ فَأَمْضَيْتَ»)؟ رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت مطرف (تابعي رحمه الله) خپل پلار بزرګوار (حضرت عبد الله ابن شخير رضي الله عنه) نه نقل کوي، هغه وويل، ۲ يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضرشوم. نو هغه وخت حضور ﷺ أَلْهَاكُمُ التَّكَاثُرُ سورة وئيلو، د دې معنی داده، چې اې خلقو تاسو خپلو کې په خپل ثروت او امارت باندې فخرو ناز کولو په سبب د آخرت د خوف نه بې پرواسوی يې، ۳ نو حضور ﷺ د تکاثر يعنی خپلو کې ثروت او امارت باندې د فخر کولو وضاحت کې وفرمايل، چې ابن آدم ځما مال، ځما مال وايي (يعني د چاسره چې زيات مال وي، هغه په خلقو فخرکوي، چې زه دومره مالداريم، زماسره دومره زيات دولت دی، ۴ بيا رسول الله ﷺ وفرمايل، د خلقو خپل مال او متاع باندې فخر کول بالکل بې حقيقته خبره ده، واقعه داده، چې اې ابن آدم! تاته چې د خپل مال نه څه حاصليږي، او ته چې څومره فائده ورنه اخلې، هغه خو بس دومره ده، چې کوم څيزونه خوري، او هغه ختموي، کوم څيزونه اغوندي، او هغه زړوي (بوسيده کوي) او کوم څيزونه چې د الله په لار کې خرچ کوي، او هغه د آخرت د پاره ذخيره جوړ وي (مسلم)

حل اللغات:- ① أَلْهَاكُمُ: هلاکت کښې واچولئ تاسولره. ② التَّكَاثُرُ: زيادت دمال. ③ أَفْنَيْتَ: فنا دې کړه. هضم دې کړه. ④ أَبْلَيْتَ: زړه دې کړه، ⑤ أَمْضَيْتَ: ذخيره دې جوړه کړه

[۵۱۷۰] حقيقی مالداری د زړه مالداری ده

۵۱۷۰-(۲)[۱۶] ۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «لَيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ، ۳ وَلَكِنَّ الْغِنَى غِنَى النَّفْسِ»). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

[1]) اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق (رقم-۳ - (۲۹۵۸) واحمد فی المسند: ۲۴/۴

[2]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب الغنى غنى النفس (رقم-۶۴۴۶) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب ليس الغنى عن کثرة العرض (رقم-۱۲۰ - (۱۰۵۱) والترمذی فی کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۳۳۷۳) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب القناعة(رقم-۴۱۳۷) واحمد فی المسند: ۲۶۱/۲

ترجمه : [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. [۲] اصل دولتمندي دانه ده، چې سړي سره ډیر مال ومتاع وي، [۳] بلکې حقیقي مالداري او دولتمندي چې د کوم څیز نوم دی، هغه د نفس یعنې زړه مالدارکیدل او غني کیدل دي (بخاري، مسلم)

حل اللغات :- ① الْغِنَى : مالداری، ② الْعَرَضِ : مال و اسباب.

تسهیلات:

قوله: لَيْسَ الْغِنَى عَنْ كَثْرَةِ الْعَرَضِ:

د غنی النفس په مفهوم کښې دوه اقوال: ① اصل غنی دا نه ده چه انسان سره مال او دولت راشی بلکه د زړه غنی ده او هغه دا ده چه کوم څیز حاصل وی په هغې باندې قناعت وکړی دمال اودولت او مالداری نه بے پروائی اختیارکړی او د اچتې حوصلې او د عالی همت مالک وی،نه خو په حرص اوپه طمع کښې واقع کیږی اونه دچانه سوال کوی
② غنی النفس څخه مراد دا دی چه انسان ته داسی علمی کمالات حاصل وی کومو نه بغیر چه د انسان روحانی اخلاقی ژوند نه خو محفوظ پاتې کیږی او نه ورته آرام اوعظمت حاصلیږی،

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۱۷۱] د حضورپاک ﷺ د پنځو خبرو نصیحت

۵۱۷۱-(۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ [۲]: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ((مَنْ يَأْخُذُ عَنِّي هَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ [۳] فَيَعْمَلُ بِهِنَّ أَوْ يُعَلِّمُ مَنْ يَعْمَلُ بِهِنَّ؟)) [۴] قُلْتُ: أَنَا يَا رَسُولَ اللهِ! فَأَخَذَ بِيَدِي فَعَدَّ خَمْسًا، [۵] فَقَالَ: (اتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ، [۶] وَارْضَ بِمَا قَسَمَ اللهُ لَكَ تَكُنْ أَغْنَى النَّاسِ، [۷] وَأَحْسِنْ إِلَى جَارِكَ تَكُنْ مُؤْمِنًا، [۸] وَأَحِبَّ لِلنَّاسِ مَا تُحِبُّ لِنَفْسِكَ تَكُنْ مُسْلِمًا، [۹] وَلَا تُكْثِرِ الضَّحِكَ ; فَإِنَّ كَثْرَةَ الضَّحِكِ تُمِيتُ الْقَلْبَ)). رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه : [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ وایي، [۲] یوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمایل کوم سړی دی چې زما نه پنځه خبري زده کړي، [۳] او بیا په هغه عمل وکړي یا هغه سړي ته یي وښايي، چې په هغه عمل کوونکی وي [۴] حضرت ابوهریره په دي اوریدو سره، [۵] وایي ما عرض وکړو، یارسول الله هغه سړی زه یم. حضور ﷺ (په دي اوریدو سره) څما لاس ونیوی. او پنځه یي وشمارل او هغه یي داسې بیان وفرمایه ① ته هغه څیزونو نه څان

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب: من اتقی المحارم فهو أعبد الناس (رقم ۲۳۰۵) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الورع والتقوی (رقم-٤٢١٧) واحمد فی المسند۲/۳۱۰

وساته، کوم چې شریعت حرام گرځولي دي، که ته د هغه نه بچ شي، نو ته به په خلقو کې د ټولو نه زیات عبادت گذار بنده یې، [٦] ④ ته په هغه شي راضي او شاکر سه، کوم چې الله ﷻ ستا په قسمت کې لیکلي دي، که ته تقدیر الهي باندې راضي او مطمئن یې، نو ستا شمیر به توانگر دولتمند خلقو کي وي، یعنی کله چې بنده خپل قسمت باندې راضي او مطمئن شي، او د طمع او حرص نه پاکیدو سره د زیات طلبي پروا نه لري. نو هغه مستغنی او بي نیازه کېږي او د توانگری دولتمندي اصل مفهوم هم دادی.[٧] ③ ته خپل گاوندي سره نیك سلوك کوه، اگر که هغه ستاسره بد سلوك کوي، که ته داسې کوي نو کامل مؤمن به گڼل کېږي، [٨] ④ ته د دنیا او آخرت خیرونو سره متعلق چې کوم شی خان د پاره خوښوي، هغه نورو خلقو د پاره هم خوښوه، که ته داسې کوي نو کامل مسلمان به گڼل کیږی، [٩] ⑤ او ته زیاتي خندا نه پرهیز کوه، ځکه چې زیاته خندا زړه مړ او د الله د یاد نه غافل کوي که ته زیاتي خندا نه پرهیز کوي نو ستا زړه به روحاني تروتازگي او د نور نه ډك شي، او د ذکر الله په ذریعه به درته ژوند او طمانیت نصیب شي. دا روایت احمد او ترمذي نقل کړی دی او ترمذي ویلي دي، دا حدیث غریب دی.

حل اللغات: - ① عَدَّ: شمار ئې کړل، ② اَلْمَحَارِمَ: حرام کړې شوی څیزونه.

قوله: اتَّقِ الْمَحَارِمَ تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ: د "محارم" په مفهوم کښې هر یو ممنوع څیز اختیارول او د کومو څیزونو د اختیارولو چه حکم کړې شوې دې هغه ترک کول شامل دی لهذا ته د محارم یعنی د هغه څیزونو نه ځان بچ کړه، کوم چه شریعت حرام کړی دی ددې مطلب دا شو چه نه صرف د ممنوع او حرام څیزونونه اجتناب اوکړه بلکه شریعت چه د کومو څیزونو د اختیارولو حکم کړې دې دهغې ترک کولو نه هم اجتناب کړو.

قوله: تَكُنْ أَعْبَدَ النَّاسِ: محارم نه اجتناب کولو والا ته د ټولو نه زیات عبادت گزار بنده په دې اعتبار سره وئیلې شوې دې چه د محارم نه اجتناب کول گویا چه هغه فرائض پورا کول دی کوم چه الله تعالی په ذمه اچولی و او ظاهره ده چه د فرائضو پورا کولو نه افضل یو عبادت هم نشته بلکه عام خلق فرائض ترک کوی یا ددې طرف ته کمه توجه ورکوی او په کثرت نوافل کښې مشغوله وی نو دغه شان گویا چه هغوی اصول او بنیاد خو ضائع کوی او فروعات اوفضائل اختیاروی.

قوله: وَارْضَ بِمَا قَسَمَ اللّٰهُ لَكَ: په تقدیر الهی باندې راضی او مطمئن کیدل او په خپل تقسیم باندې صبر او شکر کول، یعنی کله چه بنده په خپل تقسیم باندې راضی او مطمئن شی او د طمع او حرص نه پاک شی نو بیا هغه مستغنی او بے پرواه شی او د غنٰی اصل مفهوم

هم دغه دي

[۵۱۷۲] كه د پريشانو نه نجات غواړې نو عبادت ته دپاره ځان فارغ كړه

۵۱۷۲ -() [۱۸] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «إِنَّ اللّٰهَ يَقُولُ: ابْنَ آدَمَ! تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلَأْ صَدْرَكَ غِنًى وَأَسُدَّ فَقْرَكَ، [۳] وَإِنْ لَا تَفْعَلْ مَلَأْتُ يَدَكَ شُغْلًا وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ»). رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل. [۲] الله تعالى فرمايي، اې ابن آدم! ځما عبادت د پاره ته خپل زړه په ښه شان مطمئن او فارغ كړه، زه به ستا سينه (زړه) د استغناء نه ډكه كړم يعني ستا زړه به د علوم او معارف د دولت نه مالا مال كړم، چې د هغه په سبب به ته د غير الله نه بي نيازه او مستغني شئ او ستا د پاره به د فقر او افلاس لار بند كړم، [۳] كه تا داسي ونه كړه (يعني كوم حكم چې ما دركړى دى چې دنيا نه بي پروايي اختيارولو سره د خپل رب عبادت طرف ته متوجه اوسه، چې داشى دنيا او آخرت دواړه ځايه فائده رسوي، كه تاددي حكم نه مخ واړولو، او خپل قوتونه فكر او عمل دي ځما په عبادت كې د مشغول ساتلو په ځاى صرف دنياوي امور او د خپل خواهشاتو تكميل كې مشغول وساتل) نو زه به ستا لاسونه او نور قوتونه عمل د قسم قسم تفكراتو او مشاغلو نه ډك كړم، او ستا فقر او احتياج به لري نه كړم. (احمد، وابن ماجه)

حل اللغات:- ① أَمْلَأْ: زه به ډكه كړم، ② غِنًى: مالداري، بي پرواهي، ③ أَسُدَّ: بند به كړم.

تسهيلات:

قوله: ابْنَ آدَمَ! تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي: دَدې حديث مطلب دادې چه الله تعالى انسان ته لارخودنه كوى چه اې انسان ته زما دَ عبادت اوطاعت دپاره ځان فارغ كړه زه به ستا ټول ضرورتونه پوره كړم اودَ فقر اوفاقې لارې به دربانديږ بنديږ كړم او ستا زړه به دَ استغناء نه ډك كړم بس ته دَ آخرت په فكركښې اخته شه زه به ستا دنيا جوړه كړم

قوله: وَإِنْ لَا تَفْعَلْ مَلَأْتُ يَدَكَ شُغْلًا: يعنى كه چرې ته داسې نه كوې نوزه به ستالاسونه دَ دنيا په مشاغلو. مادى تفكراتو او دَ زمانې دَ مشكلاتونه ډك كړم بيا به سرهولې بروهلې ګرځې او در په در به ټكرې خورې نه به په لاس څه درځى او نه به دې زړه مستغنى وى. "كونوا أبناء الآخرة ولاتكونوا أبناء الدنيا" يعنى دَ آخرت بنديګان جوړشئ دَ دنيا بنديګان مه

[۱] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۴۶۶) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب الهم بالدنيا (رقم-۴۱۰۷)

جوړيږي "ابن آدم" دا منادیٰ دي دلته حرف ندا محذوف دي اصل عبارت "يا ابن آدم".

[٥٠٤٣] دَ تقویٰ برابر هيڅ عبادت نشته

٥٠٤٣-()[١٩] [١] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «ذُكِرَ رَجُلٌ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِعِبَادَةٍ وَاجْتِهَادٍ، [٣] وَذُكِرَ آخَرُ بِرِعَةٍ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٤] (لَا تَعْدِلْ بِالرِّعَةِ). (يَعْنِي الْوَرَعَ») رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت جابر ﷺ وايي. [٢] د رسول الله ﷺ په مخکې د يو سړي ذکر وشو چې کثرت سره عبادت او طاعت کې مشغول وي، او په دي کې ډير زيات کوشش کوي. اګر که هغه ګناهونو نه ډير کم پرهيز کوي [٣] او د يو دويم سړي باره کې ذکر وشو. چې پرهيزګاري اختياروي نو حضور ﷺ نه پوښتنه وشوه. چې مخکنی سړی افضل دی یا دويم سړی نو رسول الله ﷺ ورته وفرمايل [٤] چې پرهيزګاري نه بغير کثرت عبادت او طاعت او په هغه کې کوشش کول د پرهيزګاري برابر مه ګرځوئ اګر که د هغه د پرهيزګارۍ سره د عبادت او طاعت دومره کثرت او کوشش شامل نه وي

حل اللغات: - ① الرِّعَةِ: يَعْنِي الْوَرَعَ: دَ عدة په وزن باندي دي، ورع تقویٰ ته وائی.

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① ذُكِرَ رَجُلٌ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِعِبَادَةٍ وَاجْتِهَادٍ: يعنی دَحضورپاك په مخکښې چادَ يو سړی تذکره اوکړه چه هغه ډير زيات عبادت کوی مګر دګناهونو نه بچ کيدو کښې لږ کمزوري دي.

② وَذُكِرَ آخَرُ بِرِعَةٍ: په راء کسره دَه او عين باندي زبر دي دا دَ ورع په معنی کښې دي او ورع تقویٰ ته وائی اوتقویٰ دَ ګناهونونه بچ کيدو ته وائی يعنی دَ يو بل سړی تذکره دَحضورپاك په مخکښې داسې اوشوه چه هغه دَ ګناهونونه دَ بچ کيدو ډير زيات کوشش کوی سره دَدي چه په کثرت سره عبادت نه کوی.

قوله: لَا تَعْدِلْ بِالرِّعَةِ:

په مذکوره صيغه کښې دوه احتمالات: ① دا نهی دَ معروف صيغه دَه حضورپاك جواب ورکړو چه کثرت عبادت دَ تقویٰ اوګناهونونه دَ بچ کيدو برابر مه ګرځوه

② دا مجهول هم کيدې شی. يعنی په تاء باندې ضمه وی او په دال به فتحه وی او صيغه

---

١) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٥١٩)

به دَنفی وی په دې صورت کښې به مطلب دا وی. چه په شریعت کښې هیڅ یو خصلت د تقوی مقابله نه شی کولې دَتقوی خصلت دَ ټولو نه اوچت دې

دَ تقوی تعریف: ورع او تقوی هم یو څیزدې ددې دواړو یوڅو تعریفونه دی وئی ګورئی علامه میر سید سند شریف جرجانی خپل کتاب التعریفات کښې د تقوی او ورع تعریف داسې فرمائی

① التقوى في اللغة بمعنى الاتقاء وعند أهل الحقيقة هو الاحتراز بطاعة الله عن عقوبته.

② وقيل محافظة آداب الشريعة.

③ وقيل مجانبة كل ما يبعدك عن الله.

④ وقيل ترك حظوظ النفس ومباينة النهي.

⑤ وقيل أن لا ترى في نفسك شيئا سوى الله.

⑥ وقيل أن لا ترى نفسك خيرا من أحد.

⑦ وقيل الاقتداء بالنبي قولاً وفعلاً.

⑧ والورع هو اجتناب الشبهات خوفا من الوقوع في المحرمات.

⑨ وقيل هو ملازمة الأعمال الجميلة (تعريفات ص:۵۷ وص:۲۲۴)

⑩ وقال الراغب الأصفهاني الورع في عرف الشرع عبارة عن ترك التسرع الى تناول أعراض الدنيا وذلك ثلاثة أضرب (الف) واجب وهو الاحجام عن المحارم وذلك للناس كافة. (ب) وندب وهو الوقوف عن الشبهات وذلك للأوساط من الناس. (ج) وفضيلة وهو الكف عن كثير من المباحات والاقتصار على أقل الضرورات وذلك للنبيين والصديقين والشهداء والصالحين.

پورتنی ټول تعریفونه ما په عربی کښې نقل کړی دی دَ پوهیدو نکو دَپاره ذخیره ده اوس دوه تعریفونه په پښتو کښې اوګورئی. حضرت عمر رضی الله عنه یو ورځ دَ یو سړی نه تپوس اوکړو دَ تقوی مفهوم څه دې. نو دغه سړی اووئیل چه دَ تقوی مفهوم داسې دې چه مثلاً یو سړې په ازغنه لار تیریږی مګر هغه خپلې کپړې اوخپل بدن دَ جهاړو او ازغنو نه بچ کولو سره تیریږی دا دَ تقوی تصور دې. بعضې احادیثو نه دَتقوی مفهوم داسې راوځی چه سړې ظاهراً اوباطناً خپله معامله خپل رب سره صفا اوساتی

[۵۱۷۴] پنځه څیزونه د پنځو څیزونو نه مخکښې غنیمت اوګڼره

۵۱۷۴ — (۱) [۲۰] ⃞ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ مَيْمُونٍ الْأَوْدِيِّ قَالَ: ⃞ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِرَجُلٍ وَهُوَ يَعِظُهُ: ⃞ «اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: ⃞ شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ، وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سَقَمِكَ، وَغِنَاكَ قَبْلَ فَقْرِكَ»

[۱] اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم الحدیث ۴۰۲۱

[۵] وَفَرَاغَكَ قَبْلَ شُغْلِكَ، وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ مُرْسَلًا.

ترجمه : [۱] او حضرت عمرو ابن ميمون (تابعي) رحمه الله وايي، [۲] رسول الله ﷺ يو سړي ته نصيحت كولو سره وفرمايل، [۳] پنځخيزونه د پنځه څيزونو نه مخكې غنيمت وګڼه، يعنى پنځه حالتونه دا سې دى، چې ترڅوپوري هغه موجود وي، نو هغه پنځه حالتونه غنيمت وګڼه مخكې د هغه حالتونونه كوم چې آئنده زمانه كې پيښيدونكي دي. [۴] ① بوډاتوب د ځواني نه مخكې، يعنى خپله دا زمانه غنيمت وګڼه، او د دې نه پوره فائده واخله، چې په هغه كې تاته د عبادت او طاعت پوره موقع ده او د الله د دين د خورولو طاقت او همت حاصل وي، قبل د دې نه چې ستا د جسماني زوال زمانه راشي او ته د عبادت او طاعت وغيره كولو كې ضعف او كمزوري محسوسول شروع كړې. ② بيماري نه مخكې صحت، يعنى ايمان نه پس چې كوم شى د ټولو نه لوى نعمت دى، هغه صحت او تندرستي ده، نو د خپل صحت او تندرستى په زمانه كې اګر كه د بوډاتوب دور كې وي، خپل ديني او دنياوي خير او بهتري د پاره چې څه كولاي شى هغه كوه. ③ فقر او افلاس نه مخكې توانګري اوخوشحالي، يعنى تاته چې كوم مال ودولت نصيب دى، قبل د دې نه چې هغه ستا دلاس نه ووځي، يا د مرګ پيښنه تا د هغه نه جدا كړي، ته هغه عبادتِ ماليه او صدقات او خيرات كې خرچ كوه، او دا دولتمندي او خوشحالي يو داسې د غنيمت موقع وګڼه، چې په هغه كې ته خپل اخروي فلاح او سعادت د پاره ډير څه كولاي شى، [۵] ④ مشاغل او تفكراتو كې مبتلا كيدو نه مخكې د وخت فراغت او اطمينان، ⑤ د مرګ نه مخكې ژوند، دا روايت ترمذي رحمه الله بطريق ارسال نقل كړى دى.

حل اللغات :- ① اغْتَنِمْ: غنيمت اوګڼړه، ② شَبَابَ: ځوانى، ③ هَرَم: بوډاتوب. ④ سَقَم: بيمارى.

تسهيلات:

د بعضې جملو وضاحت :

① اغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ: دا د "اغتنام" نه مشتق دې چه معنى ئې مال غنيمت ده او غنيمت په اصل كښې هغه مال ته وائى كوم چه د كفارو سره د جنګ نه بعد مسلمانانو ته حاصل شى،

② شَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ: "أي زمان قوتك على العبادة قبل كبرك وضعفك عن الطاعة" يعنى د ځوانى عبادت غنيمت اوګڼړه د بوډها والى او د كمزورى په وخت كښې اطاعت او عبادت كولو نه ځكه چه الله تعالى ته محبوب او خوښ هغه عبادت دې كوم چه د قوت او د ځوانى په حالت كښې وكړې شي، ددې وجهې نه په احاديثو كښې ددې فضائل بيان شوى دى.

③ وَحَيَاتَكَ قَبْلَ مَوْتِكَ: "ولوفي الكبر المقرون بالهرم والمرض والفقر" ژوند غنيمت اوګڼړه اګر كه

هغه په بوډها والی کښې د بیماری او فقر سره ولی نه وی، یعنی څومره ژوند چه باقي دي هغه د الله تعالی په یاد کښې تیرول پکاردی. (التعلیق الصبیح ج۶، ص۱۷)

[۵۱۷۵] د مرګ د پاره هر وخت تیار اوسیدل

۵۱۷۵-(¹) [۲۱] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«مَا يَنْتَظِرُ أَحَدُكُمْ إِلَّا غِنًى مُطْغِيًا، [۳] أَوْ فَقْرًا مُنْسِيًا، [۴] أَوْ مَرَضًا مُفْسِدًا، [۵] أَوْ هَرَمًا مُفَنِّدًا، [۶] أَوْ مَوْتًا مُجْهِزًا، [۷] أَوِ الدَّجَّالَ، فَالدَّجَّالُ شَرُّ غَائِبٍ يُنْتَظَرُ، [۸] أَوِ السَّاعَةَ، وَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ»" رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ د نبي کریم ﷺ نه روایت کوي، رسول الله ﷺ وفرمایل، [۲] په تاسو کې یوسړی د توانګرې انتظار کوي، چې ګنهګارونکی [او د امر او نهي د حدودو نه متجاوز کوونکی] دی، [۳] د فقر او افلاس انتظار کوي، چې طاعت حق هیرونکی دی [یعنی فقر او افلاس کې مبتلا کیدونکی سړی د لوږې او ښکاره مصائبو کې ګرفتاریدو سره او د ضروریات ژوند دحصول په چکر کې منبتو سره د الله عبادت او طاعت نه غافل کېږي]، [۴] یا د بیماري انتظار کوي، چې [د خپلې سختی او شدت په وجه بدن یا د کمزوری یاسستی په سبب دیني ژوند] تباه کونکی دی. [۵] یا د سخت بوډاتوب انتظار کوي، چې [بې عقل او بدحواس او بیهوده ګو] یې جوړوي، [۶] یا د مرګ انتظار کوي، چې ناګهانه کار یې تول کی، [چې بعضې وخت د توبې کولو موقع هم پیدا نه‌کې]. [۷] یا د دجال انتظار کوي، [چې په آخره زمانه کې به راوځي او خلق به ګمراهي او فتني کې مبتلا کړي] نو هغه بدخصلت دجال خو لا اوس ښکاره شوی نه دی، د هغه انتظار کېږي. او هغه به په آخره زمانه کې ښکاره کېږي، [۸] یا د قیامت انتظار کوي، چې حوادثو او آفاتو کې د ټولو نه زیات سخت او شدید دی. (ترمذي، نسائي)

حل اللغات:- ① غِنًى: مالداری. ② مُطْغِيًا: سرکشه کونکې، نافرمانه کونکې. ③ مُنْسِيًا: هیرونکې، غافل کونکې. ④ هَرَمًا: بوډاتوب. ⑤ مُجْهِزًا: زر، ناڅاپي. ⑥ أَدْهَى: ډیر سخت، خطرناک. ⑦ أَمَرُّ: تریخ، ناخوښه.

تسهیلات:

قوله: مَا يَنْتَظِرُ أَحَدُكُمْ

دنیکو اعمالو دپاره د امت راپیداړول: دا کلام دَ زجر، توبیخ او رټنې په انداز کښې دې په دې سره په عبادت کښې سستی کونکی بیدارولې شی مطلب دادې چه اې سستی کونکو مسلمانانو تاسو به دَخپل رب عبادت کله کوئی؟ د کوم څیز انتظار دې؟

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی المبادرة بالعمل (رقم-۲۳۰۶)

دحدیث د بعضې جملو وضاحت:

① **أَوْغِنًى مُطْغِيًا**: یادَ داسې مالدارئی په انتظار یئی کوم چه په طغیان او سرکشئی کښې راګیرونکې وی.

② **أَوْمَرَضًا مُفْسِدًا**: داسې مرض چه دَ خپل سختوالی په وجه سره بدن بې کاره کړی یا په دین کښې سستی یا کمزوری پیدا کړی.

③ **هَرَمًا مُفَنِّدًا**: ماخوذ من الافناد دې نه مراد داسې بوډاوالې دې چه په عقل کښې خرابوالې او خلل پیدا کړی او چه سړې په صحیح خبروکولو باندې هم قادر نه وی او ذی رائې هم پاتې نه شی.

④ **مَوْتًا مُجْهِزًا**: بالجیم والزاء من الاجهاز بمعنی الاسراع مراد داسې مرګ چه ناڅاپې راشی او دَتوبه او وصیت موقع هم ورنه کړی.

⑤ **أَوِالدَّجَّالَ**: یا دَهغه دجال انتظار دې کوم چه هم شر اوشردې دَکوم چه انتظارکولې شی

⑥ **أَوِالسَّاعَةَ فَالسَّاعَةُ أَدْهَى وَأَمَرُّ**: ادهی په معنی اشد الدواهی یعنی دَ سخت مصیبت والا قیامت - امر: ای اکثرمرارة زیات تریخ.

[۵۱۷۶] دنیا ټوله ملعونه ده خو بغیر دَ ذکر الله عالم او متعلم نه

۵۱۷۶-(۱)[۱][۲۲] وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ مَلْعُونٌ مَا فِيهَا، [۳] إِلَّا ذِكْرُ اللّٰهِ وَمَا وَالَاهُ، [۴] وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷜ نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [۲] یادلرئ! دنیا ملعونه ده [یعنی دنیا د بارګاه الهي نه شړل شوي ده، ځکه چې داخلق د الله ﷻ نه لرې ساتئ] او کوم شی چې په دنیا کې دننه دی، هغه هم ملعون دی، [یعنی د دنیا کوم ځیزونه چې انسان د ذکر الله نه غافل کوي، هغه هم راندهٔ درګاه او شړل شوی ګرځول شوی دی] [۳] البته ذکر الله د الله خوښ ځیزونه [۴] عالم او متعلم [هغه ځیزونه دي، چې بارګاه رب العزت کې مقبول ګرځول شوی دی] (ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: - ① **مَلْعُونَةٌ**: لعنت کړې شوې. ② **مَاوَالَاهُ**: کوم چه ددې سره نزدې وی

تسهیلات:

دحدیث د بعضې جملو وضاحت:

قوله: أَلَا إِنَّ الدُّنْيَا مَلْعُونَةٌ: دَدنیا چه کوم ځیزونه دَ الله تعالی په نیزباندې ملعون دی دَهغې

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه (رقم-۲۳۲۲) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب مثل الدنیا (رقم-٤١١٢)

نه مراد حرام او ناخوښه څیزونه دی مطلب دا چه د هغه ناجائز امورو نه اجتناب او کړئی چه دَ الله تعالی په نیز قابل د لعنت او نفرت دی

قوله : إِلَّا ذِكْرُ اللهِ: یعنی کوم څیزونه چه د الله تعالی په نیز مقبول او خوښ کړې شوی دی هغه خپل کړئی لکه دَ الله تعالی ذکر، تعلیم او تعلم، طاعات او عبادات شو ددې په خپلو لوسره به تاسو دَ الله تعالی په دربار کښې مقبول جوړشئی ځکه چه دا څیزونه دَ الله تعالی په نیز مقبول او محبوب دی

قوله : وَمَا وَالَاهُ، وَعَالِمٌ أَوْ مُتَعَلِّمٌ: وَالَاهُ

دموالات په مفهوم کښې درې اقوال :

① محبوب او خوښ کړې شوې مطلب به دا شی چه دَ الله تعالی ذکر الله تعالی ته محبوب او مقبول دې دَ ذکر الله نه علاوه چه کوم ښه اعمال دی هغه هم الله تعالی ته محبوب او مقبول دی

② تابع او لازم مطلب دا چه الله تعالی ته ذکر الله ډیر خوښ دې او دَ دې لوازمات او مقتضیات او توابع هم ورته ډیر خوښ دی چه هم دَ ذکر الله دَ قسم نور اقسام دی

③ قرب او نیزدیکت مطلب دا چه الله تعالی ته ذکر الله ډیر خوښ دې او کوم څیزونه چه ذکر الله ته نیزدې نیزدې دی یعنی دَ انبیاء کرامو او اولیاء عظامو تذکرې او دَ هغوی دَ نیکو اعمالو تابعداری وغیره.

[۵۰۷۷] د الله په نزد د دنیا حیثیت د مچ د وزر برابر هم نه دې

۵۰۷۷-(۱) [۲۳] ① وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② «لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ ③ مَا سَقَى كَافِرًا مِنْهَا شَرْبَةَ مَاءٍ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَه.

ترجمه : ① او حضرت سهل ابن سعد رضي الله عنه وایي، چی رسول الله ﷺ وفرمایل. ② که دې دنیا د الله په نز د ماشي د وزر برابر هم وقعت لرلی. ③ نو الله جل جلاله به د دې نه کافر ته یو غرپ او به هم نه وې ورکړې (احمد، ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات :- ① تَعْدِلُ : برابر. ② جَنَاحَ : وزر. ③ بَعُوضَةٍ : ماشي. ④ شَرْبَةَ مَاءٍ : د اوبو ګوټ.

تسهیلات:

قوله : لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَعْدِلُ عِنْدَ اللهِ جَنَاحَ بَعُوضَةٍ:

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب ما جاء فی هوان الدنیا علی الله عز وجل (رقم-۲۳۲۰) (رقم-۲۳۲۱) وابن ماجه فی کتاب الزهد /باب مثل الدنیا (رقم-۴۱۱۰)

دالله تعالی په نیز د دنیا د حقارت مثال: یعنی دَ دنیا وقعت اوقدر اوقیمت دَ الله تعالی په نیز دَ ماشی دَ وزر برابر هم نه دې دا یو بې معنې او بې حقیقته څیز دې ځکه که چرې کافرته هم دنیا حاصله شی نوهیڅ حرج نه دې که دَ الله تعالی په نیزدَ دنیا معمولی شان هم قدر اوقیمت وې نو په دنیاکښې به کافرانو ته یو ګوټ اوبه هم نه ملاویدې لهذا دَدې بې حقیقته اوعارضی متاع نه دې کافران هم فائده اوچته کړی دَدې حدیث په اوریدو هرمسلمان له دا عقیده لرل پکاردی چه دَدنیا زیاتوالې دَ انسان دَ مقبولیت علامت نه دې بلکه دادَ ذمه وارئی او مسؤلیت علامت دې. الله تعالی دنیا مسلمان اوکافر دواړو ته ورکوی مګر دین او علم صرف مسلمان ته ورکوی.

[۵۰۷۸] دنیا کښې دپوره مشغولیدو مذمت

۵۰۷۸-() [۱] [۲۳] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«لَا تَتَّخِذُوا الضَّيْعَةَ [۳] فَتَرْغَبُوا فِي الدُّنْيَا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابن مسعود ﷛ وایي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل. [۲] معاش وتجارت وغیره داسې مه اختیاروئ، [۳] چې هغه دنیا طرف ته د رغبت سبب جوړ شی (ترمذي. بیهقي)

حل اللغات: - ① الضَّيْعَةَ: جائیداد جوړولو ته ضیعة وائی. مثلا زمکې اخستل. کارخانې اوتجارت اوکاروبار اوجائیداد جوړول، دا ضیعة دې ② تَرْغَبُوا: رغبت یعنی مینه محبت به پیدا شی ستاسو.

تسهیلات:

قوله: لَا تَتَّخِذُوا الضَّيْعَةَ فَتَرْغَبُوا فِي الدُّنْيَا:

دآخرت څخه غافله کونکی دنیا پرستۍ ممانعت: دَحدیث مطلب دادې چه داسې جاګیرونه مه جوړوئی په دې سره به دَ قناعت او دَ صبر په ځائی نورپه حرص اولالچ اودَ دنیا په محبت راګیرشئی بیابه داسې مقام ته اورسئی چه واپس به راؤ نه ګرځیدې شئی اوهم دَدنیا به شئی. آخرت اودَ آخرت اعمال به درنه پاتې شی تجربه ګواه ده چه هم دغه شان کیږی.

ددنیا دَ ګټلو جواز: دَدې حدیث دامطلب نه دې چه دَدنیا جائز کاروبار مه کوئی. دَ حلالې ګټې نه اسلام منع نه کوی بلکه دَهغه کاروبار نه ویره ورکړې شوی ده دکوم په وجه چه

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه (رقم-۲۳۲۸) واحمد فی المسند: ۳۷۷/۱

سرې دَ عبادت او طاعت نه غافل شي اوبيا دَ مالي حقوقو دَ ادا کولو نه هم پاتې شي ښکاره خبره ده چه دا هم تباهي ده په حديث کښې دی «كونوا أبناء الآخرة ولا تكونوا من أبناء الدنيا» دا واضح اعلان دي

[۵۱۷۹] دنيا سره زيات محبت آخرت ته نقصان ورکوي

۵۱۷۹-()[۱][۲۵] وَعَنْ أَبِي مُوسَى-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«مَنْ أَحَبَّ دُنْيَاهُ أَضَرَّ بِآخِرَتِهِ [۳] وَمَنْ أَحَبَّ آخِرَتَهُ أَضَرَّ بِدُنْيَاهُ [۴] فَآثِرُوا مَا يَبْقَى عَلَى مَا يَفْنَى»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابوموسیٰ رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] کوم سړی چې خپله دنيا دوست لري «دومره دوست لرل چې د الله په محبت باندې غالب شي» نو هغه خپل آخرت ته نقصان رسوي [يعني په آخرت کې خپله درجه کموي ځکه چې د دې دنيا محبت باندې غالب شي، نو د هغه ظاهر او باطن هروقت دنياوي امورو کې مشغول وي. او د هغه په وجه هغه امورِ آخرت او طاعتِ الٰهي د پاره فراغت او موقع نه محروم وي]. [۳] او کوم سړی چې خپل آخرت دوست ساتي، هغه خپلې دنيا ته نقصان رسوي. [ځکه چې هغه هر وخت په امورِ اخرت کې مشغوليدو په وجه دنياوي امورو طرف ته متوجه نه پاتې کېږي، هرکله چې تاسو په دې پوهه شوئ، چې دنيا او آخرت دوستي يوبل سره جمع کيدی نشي]، [۴] نو [تاسو ته پکار دی] چې کوم شی فاني کيدونکی دی، يعنی دنيا په دې هغه شي ته ترجيح ورکړي، کوم چې باقي پاتې کيدونکی دی، يعنی آخرت (احمد، بيهقي)

حل اللغات: - ① أَضَرَّ: نقصان رسوی. ② آثِرُوا: ترجيح ورکړئ. ③ يَفْنَى: چه فنا کيږی.

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَحَبَّ دُنْيَاهُ أَضَرَّ بِآخِرَتِهِ:

د دنيا نزديکت د آخرت بُعديت: کوم څيز سره چه محبت وی دَ هغې تذکره په کثرت سره کيږی. او دَ کوم څيز تذکره چه په کثرت سره کيږی سړې هم په هغې کښې مشغول او مصروف کيږی. دَ بل طرف نه غفلت کښې راځي. اوس که په زړه باندې دَ محبت دا کيفيت چرته دَ دنيا راغلو نو آخرت خولاړو او که چرې آخرت لاړو نو دنيا دې هم لاړه ځکه چه دنيا

[۱] اخرجه احمد فی المسند: ۴۱۲/۴ والبيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۳۳۷

او آخرت دوه بنې دی چه یوه بن راضی کیږی نو دویمه بـه ناراضه کیږی او څوك چه الله تعالی بېچ کول غواړی هغه بېچ شی حضورپاك پـه آخره کښې ترغيب ورکړو چه دنيا ناپائيداره ده ددې محبت بې کاره دې آخرت باقی او پائيدار دې لهذا هم دا اختيارکړئی

يار ناپائيدار دوست مدار دوستی راشايد اين غدار

[٥١٨٠] د مال دولت غلام جوړيدو نکی با ندې د حضور پاک ﷺ لعنت

٥١٨٠-() [١] [٢٦] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [٢] " «لُعِنَ عَبْدُ الدِّينَارِ وَلُعِنَ عَبْدُ الدِّرْهَمِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه د حضور ﷺ نه روایت کوي. حضور ﷺ وفرمایل، [٢] کوم سړی چې د دینار او درهم غلام جوړ شي، هغه ملعون دی (یا دامعنی ده چې کوم سړی د دینار او درهم غلام جوړ شي، په هغه دي لعنت وي) (ترمذي)

تسهیلات:

په دې حدیث کښې د لعنت تذکره ده، الحاصل کوم کس چه د درهم او دینار عبادت کونکې وی او هر کار د دنیا دپاره کوی نو هغه ملعون دې.

[٥١٨١] د جاه او مال محبت دَ دين دَپاره ډير نقصان دې

٥١٨١-() [٢٧] [١] وَعَنْ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [٢] " «مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ أُرْسِلَا فِي غَنَمٍ [٣] بِأَفْسَدَ لَهَا مِنْ حِرْصِ الْمَرْءِ عَلَى الْمَالِ وَالشَّرَفِ لِدِينِهِ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت کعب رضی الله عنه ابن مالك خپل پلار نه نقل کوي، هغه ووېل، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [٢] دوه اوږي شرمخان که د بزوپه رمه (ریوړ) کې پریخودل شي، [٣] نو دومره نقصان نه رسوي، څومره چې د انسان حرص چې د مال وجاه په حقله د هغه دين ته نقصان رسوي (ترمذي، دارمي)

حل اللغات: - ① ذِئْبَانِ: دوه شرمخان. ② جَائِعَانِ: چه اوږی وی دواړه. ③ غَنَم: چیلئ.

تسهیلات:

قوله: مَا ذِئْبَانِ جَائِعَانِ:

د جان اومال د هلاکت تشبیه د شرمخانو سره: شرمخ هسې هم یوجذباتی او ناڅاپی حمله کونکې ناترسه ځناور دې لیکن چه کله سخت اوګې هم وی نو په حمله کولوکښې هغه

[١] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٣٧٥)
[٢] اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٣٧٦) واحمد فی المسند: ٤٦٠/٣

بالكل پاګل كيږي. د دوو ليوه ګانو شرمخانو تذكره كيدې شي د دې وجې نه شوې وى چه په فساد خورولو كښې دا كامل اومكمل وى ځكه چه دوه جوړه شى نو ښه مسابقت سره به د چيلو رمه اوشلوى. په دې حديث كښې يوطرف ته د هغه فساد اونقصان صورت پيش كړې شوې دې اوخودلې شوى دى چه د دوو شر مخانو نقصان د چيلو د پاره د هغه نقصان نه كم تر دې كوم نقصان چه د سړى دين ته د حب مال اوحب جاه د وجې رسيږى دا د يو هيئت تشبيه د دويم هيئت سره ده كوم ته چه علم معانى اوعلم بيان كښې د تمثيل نوم وركړې شوې دې

[۵۱۸۲] د ضرورت نه زيات په آبادئ باندې د پيسو خرچ كولو ممانعت

۵۱۸۲-( )[۲۸] ① وَعَنْ خَبَّابٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② " «مَا أَنْفَقَ مُؤْمِنٌ مِنْ نَفَقَةٍ إِلَّا أُجِرَ فِيهَا، ③ إِلَّا نَفَقَتَهُ فِي هَذَا التُّرَابِ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت خباب رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل كوي. حضور ﷺ وفرمايل. ② مسلمان د خپل معيشت مصارفو كې چې څه خرچ اخراجات كوي هغه ته د هغه ثواب وركول كيږى ③ علاوه د هغه خرچ نه چې هغه په خاوره كې كوي (ترمذي. ابن ماجه)[1]

د راوي مختصر تعارف:

حضرت خباب بن ارت: نوم خباب، كنيت ابوعبدالله، د پلار نوم ارت بن جندله وو. ند جاهليت په زمانه كښې غلام جوړ كړې شوې وو او په مكه كښې خرڅ شوې وو (۲)

دخباب بن ارت مقام:- خباب بن ارت ځكه نبى عليه السلام ته د الله تعالى نه د عا او مدد غوستلو درخواست اوكړو. چه د الله تعالى په دين كښې دنور صحابو پشان دوى ته هم ډير تكليفونه رسيدلى وو. مولانا زكريا رحمه الله فرمائى. حضرت خباب بن ارت په اولنو ورځ كښې د پنځو شپږو سړو نه پس ايمان ر راوړې وو. ځكه ئې ډير وخته پورې تكيفونه برداشت كول. د كافرانو به ورته د اوسپنے زغره واغوستله. او په تكنړه غرمه كښې به ئې په شګلنه زمكه به واچولو. چه خولے به ترے نه بهيدلے. په زياتو وختونو كښې به ستونى ستغ په ګرمو شګو واچولو. چه د هغې په وجه به ئې د ملا غوښه ورسته شوه. او او به غورځيدله. د ے د يو ے ښځې غلام وو. هغې ته چه خبر اورسيدو. چه د ے نبى عليه السلام ته ورځى. نو د دې په سزا كښې به ئې اوسپنه ګرمه كړه. او په سر به ئې ورته داغ وركولو. حضرت عمر په خپل دور خلافت كښې د حضرت خباب بن ارت نه د هغې تكليفونو تپوس اوكړو. چه ده ته د كافرانو دوحے رسيدلى وو. چه د هغې څه تفصيل راته بيان كړه. دوى ورته عرض اوكړو. زه به درته څه يوه يوه واقعه بيانوم. زما د ملا نه قميص اوچت كړئ. او اوګورئ. چه زما ملا

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الغنى غنى النفس (رقم-۲۳۷۳) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب فى البناء والخراب (رقم-۴۱۶۳) واحمد فى المسند:۵/۱۱۰

درته په زبان حال سره گويا شي.چه ما ته د الله په دين کښې دومره تکليفونه اومصيبتونه رسيدلي دي.چه حضرت عمر ئے ملا ښکاره کړه.او وے کتله.نو ټوله داغي داغي وه.په دغه وخت کښې حضرت عمر دا اقرار او اعتراف کوي.چه د کوم وخت نه پيدا شوې يم. ډيرے ملاګانې مے ليدلي دي.خو داسې داغداره او سوے لوے ملا خو ما د چا نه دهليدلې.بيا ورته دوی په خپله گويا شو.او ورته ئې عرض اوکړو.اې د مسلمانانو خليفه زه به د اسلام د حمايت او د ايمان راوړو په سزا کښې په گرمو سروټکو باندې واچولې شوم.او په هغې به ئې راخکلم.تردې چه زما د ملا په وازګو او وينو به هغه بلے سروټکے مرے شوې.پکار خو دا وه.چه د هغوی زړه مطمئن وو.چه دومره تکيفونه مے د الله د دين د خاطره برداشت کړی د ی.الله تعالى به راته جنت راکوی.خو داسې نه وه.بلکه چه کله د اسلامي فتوحاتو دروازه پرانستے شوه.او دنياوی نعمتونه زيات شو.نو حضرت خباب به په دې ژړل.چه هسې نه زمونږ د تکليفونو بدله مونږه ته به دنيا کښې ملاو شي.او بيا په آخرت کښې د ابدی او لازواله نعمتونو نه محرومه شو.حضرت خباب د ديرشو کالو په عمر کښې په کوفه کښې وفات شو.او هم هلته کښې دفن شو.څه موده پس حضرت علي د خباب په قبر تيريدو.نو داسې ئے اوفرمائيل.الله تعالى دے په خباب رحم اوکړ ی.په خپل شوق سره مسلمان شو.او په خوشحالئ ئے هجرت اوکړو.او په جهاد کښې ئې ژوند تير کړو.او مصيبتونه ئې اوزغمل.مبارك دے هغه کس وی.چه قيامت ياد ساتي.او د حساب کتاب تياري کوی.او په لږ مال صبر کوی.او خپل مالك راضي کوی.(۳)

حل اللغات: - ① أجر: ثواب ورکولې شي.

تسهيلات:

قوله: إِلَّا نَفَقَتَهُ فِي هٰذَا التُّرَابِ:

د مذکوره حديث مصداق: خپل ضرورياتو باندې مال خرچ کول. کور جوړول دا به ضرورياتو د ژوند کښې شامل دی، د کور په جوړولو کښې چه کومې روپې خرچ شي هغه نه ضائع کيږی ليکن که د ضرورت نه زيات کورونه جوړ کړې شي يا په عمارت کښې فضول نقش ونګار کول نو دا صحيح نه دې په حديث کښې هم دغه د ضرورت نه زيات تعمير مراد دې.

[۵۸۳] بې ضرورته په آبادئ باندې مال خرچ کولو کښې هيڅ خير نشته

۵۸۳-(۱)[۲۹] ① وَعَنْ أَنَسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«النَّفَقَةُ كُلُّهَا فِي

(۱) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في معيشة أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم (رقم-۲۳۷۲)

سَبِيلِ اللّٰهِ [۳] إِلَّا الْبِنَاءَ فَلَا خَيْرَ فِيهِ» ". [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] د ضروريات ژوند ټول اخراجات د الله په لار کې د خرچ کولو برابر دی، ايعنی انسان چې خپل خان او د خپل متعلقينو ضروورياتو باندې څه خرچ کوي، د هغه ورته ثواب ورکول کېږي، په شرط د دې چې د تقرب الٰهي نيت سره يې خرچ کړي! ، [۳] البته ضرورريات او حاجت نه زيات تعمير باندې خرچ کول څه نيکي او ثواب نه لري، [۴] دا حديث امام ترمذي رحمه الله نقل کړی دی. او ويلې يې دی چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: - ① الْبِنَاءَ: آبادی، تعمير،

تسهيلات:

قوله: النَّفَقَةُ كُلُّهَا فِي سَبِيلِ اللّٰهِ إِلَّا الْبِنَاءَ فَلَا خَيْرَ فِيهِ:

د مذکوره آبادئ څخه مراد: په حديث الباب کښې ذکر دی چه داسی عمارت د مالک دپاره د قيامت په ورځ د وبال او د سختی سبب جوړيږی. دا خبره د واضح وی چه دا حکم د هغه عمارت دپاره دې کوم چه د ضرورت نه زيات وی او د شان وشوکت د اظهار او خان خودلو دپاره جوړ کړې شوې وی گنی چه کوم عمارت د ضرورت او د خير خيگړی او د مساجد ومدارس دپاره جوړکړې شوې وی د هغې دا حکم نه دې.

[۵۸۳] په بې ضرورته عمارت جوړولو باندې عذاب

۵۸۳-(۱) [۳۰] وَعَنْهُ [۱] أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - «خَرَجَ يَوْمًا وَنَحْنُ مَعَهُ، [۲] فَرَأَى قُبَّةً مُشْرِفَةً، فَقَالَ " مَا هٰذِهِ؟ " [۳] قَالَ أَصْحَابُهُ: هٰذِهِ لِفُلَانٍ رَجُلٍ مِنَ الْأَنْصَارِ، [۴] فَسَكَتَ وَحَمَلَهَا فِي نَفْسِهِ، حَتّٰى إِذَا جَاءَ صَاحِبُهَا [۵] فَسَلَّمَ عَلَيْهِ النَّاسُ فَأَعْرَضَ عَنْهُ، [۶] صَنَعَ ذٰلِكَ مِرَارًا، [۷] حَتّٰى عَرَفَ الرَّجُلُ الْغَضَبَ فِيهِ وَالْإِعْرَاضَ عَنْهُ،

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي، يوه ورځ رسول الله ﷺ يو ځای تلو د پاره بهر ووتی. زمونږ صحابه رضي الله عنهم يو جماعت هم په حضور ﷺ پسي پسي وو [۲] حضور ﷺ په لار کې يوه بلنده قُبه وليده (د تحقير او نفرت لهجه کي) وفرمايل، دا څرنگه قبه ده؟ (يعني دا ناخوښه عمارت چا جوړکړی دی) [۳] صحابه رضي الله عنهم عرض وکړو، دا قبه فلاني سړي جوړه کړي ده، چې يو انصاري دی، [۴] حضور ﷺ (په دې اوريدو سره) خاموش شو او (څه يې ونه فرمايل. ليکن) دا خبره يې د ناخوښی او غصي په طور په خپل زړه کې وساتله، تردې چې د هغه قبې مالك د حضور ﷺ په خدمت کې حاضرشو، [۵] او هغه د خلقو موجودگی کې حضور ﷺ ته سلام اووئيلو، نو حضور ﷺ خني مخ مبارك واړولو [يعني يا خو حضور ﷺ د هغه د سلام جواب ورنه کی يا جواب خو يې ورکی، ليکن هغه نه يې

(۱) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الأدب/ كتاب الأدب/باب ما جاء في البناء (رقم-۵۲۳۷) واحمد في المسند: ۳/ ۲۲۰

مخ مبارك واړولو او هغه طرف ته يي هيڅ توجه ونه كړه، چې هغه ته سبق حاصل شي، او نورو خلقو ته هم تنبيه اوشي]، [۶] حضور ﷺ داسي څو ځله وكړل، [چې هغه سړي به ورته سلام كوى، او حضور ﷺ به جواب نه وركوى، او هغه نه به يي مخ مبارك اړويا]، [۷] آخر هغه سړي د حضور ﷺ په مخ مبارك دغصي اثار محسوس كړه، او د حضور ﷺ مخ مبارك ګرځولو سره د حضور ﷺ نفرت يي معلوم كى.

حل اللغات: - ① قُبَّةٌ: بالاخانه، ② مُشْرِفَةٌ: اوچته وه، ③ حَمَلَهَا فِي نَفْسِهِ: په زړه كښي ئې پټه اوساتله

[۱] فَشَكَا ذٰلِكَ إِلَى أَصْحَابِهِ وَقَالَ: [۲] وَاللّٰهِ إِنِّي لَأُنْكِرُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [۳] قَالُوا: خَرَجَ فَرَأَى قُبَّتَكَ. [۴] فَرَجَعَ الرَّجُلُ إِلَى قُبَّتِهِ فَهَدَمَهَا حَتَّى سَوَّاهَا بِالْأَرْضِ. [۵] فَخَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ذَاتَ يَوْمٍ، فَلَمْ يَرَهَا [۶] قَالَ: "مَا فَعَلَتِ الْقُبَّةُ؟" [۷] قَالُوا: شَكَا إِلَيْنَا صَاحِبُهَا إِعْرَاضَكَ، فَأَخْبَرْنَاهُ، فَهَدَمَهَا. [۸] فَقَالَ: "أَمَا إِنَّ كُلَّ بِنَاءٍ وَبَالٌ عَلَى صَاحِبِهِ إِلَّا مَا لَا، إِلَّا مَا لَا" [۹] يَعْنِي إِلَّا مَا لَا بُدَّ مِنْهُ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [۱] نو هغه سړي د هغه صحابه ﷺ ته [چې د حضور ﷺ خاص مصاحب او همنشين وو]، د دې امر شكايت كولو سره يي وويل، [۲] په الله قسم زه داسي وينم لكه چې رسول الله ﷺ زما نه نا اشنا وي، [يعنی زه د رسول الله ﷺ په مخ مبارك د اسي دغضب او غصي آثار وينم، چې هغه ما مخكې هيڅ كله نه وو ليدلی، او ماته د دې سبب هم معلوم نه دی چې حضور ﷺ ولي دومره سخت ناراضه دی] [۳] هغه صحابه ﷺ ورته وخودل چې يوه ورځ رسول الله ﷺ ستا طرف ته تشريف وړی، هلته يي ستا قبه وليده. نو ناراضه شو [۴] هغه سړی په دې اوريدو سره سمدستي خپلي قبي طرف ته ورغلی او هغه يي وغورځوله، تردي چې د زمكي سره يي برابره كړه [۵] د دې واقعي نه پس حضور ﷺ بيا هغه طرف ته تشريف يووړی او قبه يي هلته ونه ليده، [۶] نو معلومات يي وكړل. چې هغه قبه څه شوه، [۷] صحابه ﷺ عرض وكړو، چې قبه جوړونكى ستاسو ﷺ د بي توجهي او ناراضګي مونږ ته شكايت كړي وو، او د هغه سبب يي د ريافت كى نو مونږ د صورت حال نه آګاه كى [چې حضور ﷺ ستا نه څكه ناراضه دی، چې تا د دې قبي په صورت كې يو ناخوښه تعمير كړی دی]، نو هغه سړي هغه قبه خرابه كړي ده، [۸] بيا حضور ﷺ د هغه عمارت د نا خوښئ او خپلي ناراضګي سبب بيانولو سره وفرمايل، چې يادلرئ، دا عمارت به دخپل جوړونكي د پاره په آخرت كې د وبال يعنی عذاب سبب جوړيږي، إِلَّا مَا لَا إِلَّا مَا لَا [۹] يعنی علاوه د هغه څيز نه چې د هغه نه بغير څه چاره نه وي. (ابو داؤد)

حل اللغات: - ④ هَدَمْهَا: ورانه ني كره. ⑤ وَبَالٌ: عذاب. ⑥ مَالَا: يَعْنِي إِلَّا مَا لَا بُدَّ مِنْهُ: يعني علاوه د هغه څيز نه چې د هغه نه بغير څه چاره نه وي

تسهيلات:

نوټ په آبادۍ باندې د پيسو لګولو وضاحت وراندې د حديث نمبر(۵۱۸۲) په تسهيل كښې تيرشوې دې

[۵۱۸۵] د كفايت او قناعت يعني د ګذارې كولو نصيحت

۵۱۸۵ -(۱) [۳۱] ① وَعَنْ أَبِي هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «عَهِدَ إِلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ③ " إِنَّمَا يَكْفِيكَ مِنْ جَمْعِ الْمَالِ خَادِمٌ وَمَرْكَبٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ» ④ " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. ⑤ وَفِي بَعْضِ نُسَخِ (الْمَصَابِيحِ) عَنْ أَبِي هَاشِمِ بْنِ عَتْبَدَ، بِالدَّالِ بَدَلَ التَّاءِ، وَهُوَ تَصْحِيفٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهاشم ابن عتبه رضي الله عنه وايي، ② چې رسول الله ﷺ ماته وصيت كولو سره وفرمايل، ③ د دنيا د ټول مال نه څه چې ستا د پاره كافي دى، هغه د دې نه علاوه نورهيڅ نه دى، چې ستاسره يو خادم وي، او يوه سورلى وي، چې د الله په لار كې په كار راځي. ايعنى كه ته په دنياوي څيزونو كې څه ځان سره ساتل غواړې نو بس دا دوڅيزونه ساته. چې د سورلى د ځناورو په ذريعه جهاد، حج او حصول علم د پاره سفر وشي. او خادم هغه سفر كې ستا خدمت كوي، د دنيا داموالو نه د دې دوو څيزونو نه زيات هيڅ مه ساته. بلكې صرف يې كړه، حاصل داچې د دې ارشاد مقصود د دې امر تلقين كول دي. چې بقدر ضرورت مال او اسباب باندې اكتفاء او قناعت وشي او په هغه كې هم هغه څيزونه اختيار شي. چې د آخرت د لارې تړبنه ويا ④ داروايت احمد رحمه الله، ترمذي. نسائي او ابن ماجه نقل كړى دى ⑤ او د مصابيح بعضې نسخوكې د حديث سند. عن ابي هاشم ابن عتبد منقول دى، يعنى عتبة كې د تاء په ځاى دال دى. او دا غلط دى. چې د يو راوي د سهو نتيجه ده ګويا صحيح هاشم ابن عتبة دى

حل اللغات: - ① مَرْكَبٌ: سورلى

تسهيلات:

قوله: إِنَّمَا يَكْفِيكَ مِنْ جَمْعِ الْمَالِ خَادِمٌ وَمَرْكَبٌ فِي سَبِيلِ اللَّهِ:

دخادم او سورلى ضرورت اصليه كښې داخليدل: ددې مطلب دا دې چه خادم او سورلۍ دې هم د الله رضا دپاره د وساتلې شى. محض د نفسانى خواهشاتو يا نمائش دپاره دې

---

(۱) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۳۲۷) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب الزهد فى الدنيا (رقم-۴۱۰۳) واحمد فى المسند:۲۹۰/۵

اونه ساتلې شي، يعني ددې نه مقصود بالذات ديني فوائد وي دنياوي فوائد بالتبع وي. ددې وجې چه كوم كس ځان سره سورلي، خادمان، او مال په دې نيت اوساتي چه كله هم ضرورت شي نو دا به ددينې فوائدو دپاره استعمالولې نو بيا دا صحيح دى ځكه چه دا نيت خير دې لهذا د حديث الباب هرګز دا مطلب نه دې چه د سورلئ او خادم نه علاوه دې هيڅ يو څيز ځان سره اونه ساتلې شي بلكه مطلب دا دې چه بغير د ضرورت نه دا څيزونه ځان سره ساتل نهٔ دى پكار.

[۵۱۸۶] دَژوند دپاره دَضروري څيزونو حد

۵۱۸۶-()[۳۲] ١ وَعَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ٢ "«لَيْسَ لِابْنِ آدَمَ حَقٌّ فِي سِوَى هَذِهِ الْخِصَالِ: ٣ بَيْتٌ يَسْكُنُهُ، ٤ وَثَوْبٌ يُوَارِي بِهِ عَوْرَتَهُ، ٥ وَجِلْفُ الْخُبْزِ ٦ وَالْمَاءِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت عثمان رضي الله عنه نه روايت دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل. ٢ ابن آدم ددې څيزونو نه علاوه په بل شي خپل حق نه لري. ٣ يو خو كور چې په هغه كې استوګنه اختيار كړي، [يعني داسې كور چې د رهائشي ضرورياتو په قدروي. چې د يخنئ اوګرمئ نه يې محفوظ وساتي] ، ٤ دويم كپړه چې په هغه سره ستر پټ شي. ٥ دريم بغير سالن خشكه روټۍ چې د هغه سره خپله لوږه دفع كې، ٦ او څلورم اوبهٔ چې د هغه سره خپله تنده مړه كي. (ترمذي)

حل اللغات: - ① الْخِصَالِ: د خصلة جمع ده، خوئي. ② يُوَارِي: چه پټ كړي. ③ جِلْفُ اوچه روټۍ. روټۍ بغير د سالن نه.

تسهيلات:

قوله: وَجِلْفُ الْخُبْزِ وَالْمَاءِ: يعني دتركارئ نه بغير روټئ يا هغه روټئ كومه چه زړه وي سخته او اوچه شوې وي دا دواړه مطلبونه په هغه وخت اخستې شي كله چه جلف كښې په جيم باندې كسره وي ليكن كه په جيم باندې زبر وي نو هغه وخت به دا دجلفة جمع وي كوم چه د روټئ او چې ټكړې ته وائي.

[۵۱۸۷] دَالله تعالى اودَ انسانانو په نيز دَمحبوب جوړيدو نسخه

۵۱۸۷-()[۳۳] ١ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ «جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! ٣ دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا أَنَا عَمِلْتُهُ أَحَبَّنِي اللَّهُ وَأَحَبَّنِي النَّاسُ. ٤ قَالَ: "ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللَّهُ، ٥ وَازْهَدْ فِيمَا عِنْدَ النَّاسِ يُحِبَّكَ النَّاسُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ١ او سهل ابن سعد رضي الله عنه وايي، ٢ يو سړى (دربار رسالت كې) حاضريدو سره

---

(١) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-٢٣٤١)واحمد في المسند: ١/٦٢
(٢) اخرجه ابن ما جه في السنن كتاب الزهد/باب الزهد في الدنيا (رقم-٤١٠٢)

عرض وکړو ، یارسول الله.[۳] ما ته څه داسې عمل وښايي، چې هغه اختيار کړم. نو الله زما سره محبت وساتي او خلق هم زما سره محبت کوي.[۴] حضور ﷺ ورته وفرمايل. دنيا نه زهد اختيار کړه ايعنى د دنيا محبت کې مه گرفتاريږه، د دې د فضولياتو نه مخ واړوه. اود امور آخرت طرف ته متوجه شه. که ته داسې وکړې، نو گويا ته به هغه شي نه نفرت کونکی شی کوم نه چې الله ﷻ نفرت کوي]، او د دې په وجه به الله ﷻ ستاسره محبت کوي.[۵] او هغه شي طرف ته رغبت مه کوه، څه چې خلقو سره وي. يعنى جاه ودولت نو خلق به هم ستاسره محبت کوي (ترمذي، وابن ماجه)

حل اللغات: - ① ازْهَدْ: بې رغبتي اختيار کړه.

تسهيلات:

قوله: ازْهَدْ فِي الدُّنْيَا يُحِبَّكَ اللهُ:

د زهد تعريف: زهد هغه څيز ترک کولو ته وائي کوم چه د الله تعالى د ياد نه علاوه په بل څيز کښې مشغوله کونکې وی.

د دنيا بې رغبتي د الله تعالى د محبت سبب: د حديث مطلب دا دې که د الله تعالى د محبت طلبګار ئې نود دنيامحبت د زړه څخه اوباسه نوهله به درته د الله تعالى محبت ملاويږي ځکه چې دنيا الله تعالى ته مبغوض ده.اوځوک چې د چا سره محبت کوی نو دمحبوب خوښ به ئې خوښ وی اودهغه ناخوښه به ئې ناخوښه وی.

[۵۱۸۸] د دنيا په عيش اوآرام کښې دَ حضورپاک ﷺ نمونه

۵۱۸۸-(١) [٣٠] [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- نَامَ عَلَى حَصِيرٍ، [٢] فَقَامَ وَقَدْ أَثَّرَ فِي جَسَدِهِ [٣] فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ يَا رَسُولَ اللهِ: [٤] لَوْ أَمَرْتَنَا أَنْ نَبْسُطَ لَكَ وَنَعْمَلَ [٥] فَقَالَ: "مَا لِي وَلِلدُّنْيَا؟ وَمَا أَنَا وَالدُّنْيَا [٦] إِلَّا كَرَاكِبٍ اسْتَظَلَّ تَحْتَ شَجَرَةٍ، [٧] ثُمَّ رَاحَ وَتَرَكَهَا» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی، حضور ﷺ بوري باندې اوده شوي وو .[۲] او اوده کیدو نه پس څنې ولاړ سو نو د حضور ﷺ په جسم مبارک د بوري نښاني لګيدلي وي.[۳] دهغه په ليدو سره حضرت ابن مسعود رضي الله عنه عرض وکړو يارسول الله، [۴] تاسو ﷺ مونږ ته اجازت وکړئ، چې مونږ ستاسو د پاره نرمه بستره جوړه کړو ، او د بنو کپړو انتظام درته وکړو [چې تاسو ﷺ سختي بوري باندې څملاستلو سره بې آرامي محسوس نه کړي].[۵] حضور ﷺ ورته وفرمايل، څما د دې دنيا آرام سره او د دې دنيا

١) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٣٧٧)وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب مثل الدنيا (رقم-٤١٠٩)

زما سره څه کار؟ څما او د دنیا مثال خود اسې دی،[۶] څرنګه چې یو سوار د یوې ونې لاندې د سایې په تلاش کې راشي، او هلته څه وخت د پاره سایې نه فائده پورته کولو نه پس په خپله سورلی لاړ شي،[۷] او هغه وُنه هلته پریخودلو سره خپل منزل (پړاو) طرف ته روان شي. (احمد، ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: - ① حَصِيرٍ: پوزکې، د میزرې نه جوړشوې ټاټ، ② أَثَّرَ: اثرات او نشانات ئې جوړ کړی وو، ③ نَبْسُطَ: مونږ به خورکړو، ④ اسْتَظَلَّ: سورې او سایه تلاش کوي، ⑤ رَاحَ: روان شي

تسهیلات: **قوله: مَا لِي وَلِلدُّنْيَا؟:**

په دې کښې حرف ما د نفی دپاره دې او مطلب ئې دا دې چه نه زما ددې دنیا سره څه محبت شته او نه ددې دنیا زما سره څه محبت شته چه زه ددې دنیا رغبت اوغواړم او ددې عیش وآرام اوغواړم او ددې د بے آرامی نه بچ کیدلو دپاره ددې نرمی بستری استعمال کړم.

"مالی" کښې ما صرف استفهامیه هم مراد اخستلې شی نو په دې صورت کښې به د جملې مطلب دا شی چه زما ددې دنیا سره څه تعلق دې او کوم محبت مې دې یا ددې دنیا طرف ته زما رغبت اومیلان ولې وی یا زما ددې دنیا سره د محبت کولو په وجه به ما ته څه نفع مند څیز حاصل شی ځکه چه زه خو د آخرت طلبګار یم او دنیا د آخرت بنه او ضد دې چه یو اخلې نو بل خفا کیږی.

[۵۱۸۹] دَ پسخیدو قابل صفات

۵۱۸۹-(¹) [۳۵] [۱] وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] «أَغْبَطُ أَوْلِيَائِي عِنْدِي لَمُؤْمِنٌ خَفِيفُ الْحَاذِ، [۳] ذُو حَظٍّ مِنَ الصَّلَاةِ، [۴] أَحْسَنَ عِبَادَةَ رَبِّهِ، [۵] وَأَطَاعَهُ فِي السِّرِّ، [۶] وَكَانَ غَامِضًا فِي النَّاسِ، [۷] لَا يُشَارُ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ، [۸] وَكَانَ رِزْقُهُ كَفَافًا، فَصَبَرَ عَلَى ذَلِكَ [۹]» ثُمَّ نَقَدَ بِيَدِهِ فَقَالَ: [۱۰] «عُجِّلَتْ مَنِيَّتُهُ، [۱۱] قَلَّتْ بَوَاكِيهِ، [۱۲] قَلَّ تُرَاثُهُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو امامه ﷺ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي، حضور ﷺ وفرمایل، [۲] څما په نزد (یعني څما د دین او مذهب د اعتبار نه) څما په دوستانو (ټول مؤمنانو) کې ډیر قابلِ رشك [د پسخیدو قابل یعني د اموالو د اعتبار نه د ټولو نه ښه او د مال ودولت د اعتبار نه د ټولو نه افضل] هغه مؤمن دئ، چې سپك بوج وی، [۳] مانځه نه ډیر زیات حصه اخستونکي وي، [۴] او د خپل رب ټول عبادتونه په ښه شان کوي، [۵] او [څرنګه چې په ظاهر کې عبادت کوي، دغه شان] مخفي طور سره خلوت کې هم طاعت الهي کې

---

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الکفاف والصبر علیه (رقم-۲۳۴۷) واحمد فی المسند:۵/۲۵۲

مشغول وي، ⑥ په خلقو کې ګمنام وي. ⑦ چې هغه طرف ته په ګوتو سره هم اشاري نه کېږي، ایعنی د خپل علم وعمل په سبب خلقو کې مشهور او معروف نه وي. بلکې ډیري بې نفسی سره ګوشه نشیني اوګمنامي کې پاتې کیدو سره د علم وعمل په ذریعه د دین وملت خدمت کوي] ⑧ او د هغه روزي (یعني د ضروریات ژوند خرچ) بقدر کفایت وي. او په هغه صابر او قانع وي. ⑨ په دې فرمایلو سره حضور ﷺ د خپلو دواړو لاسونو مبارکو د ګوتو په ذریعه ټك ورکولو سره وفرمایل. ⑩ د هغه مرګ بس داسې یودم خپل کار زر پوره کوي. ⑪ او د هغه په مرګ ژړا کونکې ښځې هم کمې وي ⑫ او د هغه ترکهٔ میراث هم ډیره مختصر یعنی د نه کیدو برابر وي (احمد، ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات:- ① أَغْبَطُ: دا د غبطه نه دې کوم چه د پسخیدو په معنی کښې دې ② خَفِيفُ الْحَاذِ: حاذ ملا اوشاته وانی یعنی دکم مال والا اوسپك بوج والا وی ③ ذُوحَظٍّ: پوره حصه ئې وی ④ الْبَيِّنَ: په پټه. ⑤ غَامِضًا: هیرکړې شوې وی په خلقو کښې مشهورنه وی. ⑥ نَقَدَ: ګوتو له ئې ټق ورکړو. ⑦ مَنِيَّتُهُ: مرګ دهغه. ⑧ قَلَّتْ بَوَاكِيهِ: ژړیدونکې پرې کم وی، ⑨ قَلَّ تُرَاثُهُ: میراث او ترکه ئې کمه وی

تسهیلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① أَغْبَطُ أَوْلِيَائِي عِنْدِي لَمُؤْمِنٌ خَفِيفُ الْحَاذِ: یعنی زما مسلمانانو دوستانو اومحبوبانو کښې د ټولو نه زیات د پسخیدو قابل کس هغه مسلمان دې. "أي أحق أحباءو أنصاري بأن يغبط به" [الکاشف: ۳۵۲/۹]

② لَا يُشَارُ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ: یعنی په ګوتو او لاسونو سره د هغه طرف ته اشارې نه کیږی یعنی مشار الیه بالبنان نه وی دا د غامضًا تفصیل اوتفسیر دې

قوله: ثُمَّ نَقَدَ بِيَدِهِ فَقَالَ:

د مذکوره جملې وضاحت: عام رواج دې چه د یو کار زرکیدو طرف ته چه کله خلق اشاره کوی نودوه ګوتې یوبل سره یوځائی کړی اوټق ترې اوباسی په کوم سره چه آواز اوځی د نبی لاس غټه ګوته او مینځنئی ګوتې بندونه یوبل سره زوره یوځائی کړی او کله چه جدا کوی نودهغې نه یوآواز اوځی هم دغه په "نقدبیده" سره تعبیرکړې شوې دې دکوم نه مراد چه زر پاسیدل اوتلل دی لکه چه دا سړې د دنیا نه بې تعلق کیدوسره د الله تعالی په عبادت کښې لګیا شو د دنیا د لانجونه پاك اوصفا وتلوسره د ورك کس غوندې حالت کښې ډیر زر خپل رب سره لاړو ملاؤ شو اود دنیا د لانجو نه آزاد وو ځکه ئې نه څوك ژړا کونکې وونه مال اونه د میراث جګړې وې نه تقسیم وو نه حساب اونه کتاب وو.

[۵۰۹۰] د دنیا نه د حضورپاک ﷺ بې رغبتی

۵۱۹۰-(¹)[۳۶] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «عَرَضَ عَلَيَّ رَبِّي لِيَجْعَلَ لِي بَطْحَاءَ مَكَّةَ ذَهَبًا [۳] فَقُلْتُ: لَا، يَا رَبِّ! وَلٰكِنْ أَشْبَعُ يَوْمًا وَأَجُوعُ يَوْمًا، [۴] فَإِذَا جُعْتُ تَضَرَّعْتُ إِلَيْكَ وَذَكَرْتُكَ، [۵] وَإِذَا شَبِعْتُ حَمِدْتُكَ وَشَكَرْتُكَ» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو امامه رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] خما رب خما مخکې دا امر ظاهر کړ، چې هغه زما د پاره د مکې شګلنه زمکه سره زر (سونا) جوړ کړي [۳] ليکن ما عرض وکړو، اې خما پروردګاره! (ماته د داسې شي قطعًا خواهش نشته، زه خو بس دا غواړم چې يوه ورځ په ډکه خيټه وخورم، او يوه ورځ اوږی يم. [۴] چې کله اوږی يم، نو ستا په حضور کې زاری عاجزي بيان کړم، او تا ياد کړم [۵] او کله چې په خيټه موړ يم، نو ستا حمد او تعريف وکړم، او ستا شکر اداء کړم (احمد، وترمذي)

حل اللغات: - ① عَرَضَ: پيش کړل، را وړاندې کړل، ② بَطْحَاءَ: د مکې شګلنه علاقه ده، ③ أَشْبَعُ: موړ يم. ④ أَجُوعُ: اوږې يم

تسهیلات:

قوله: عَرَضَ عَلَيَّ رَبِّي لِيَجْعَلَ لِي بَطْحَاءَ مَكَّةَ ذَهَبًا:

نبی علیه السلام دپاره د مکې خوړونه سره زر ګرځول: په حديث الباب کښې نبی کريم ﷺ اوفرمائيل چه الله تعالى ما لره اختيار راکړې دې چه په دې دنيا کښې زه اوغواړم نو وسعت او د رزق فراخي خوښه کړم او چه اوغواړم نو د دنيا نه بې رغبتی اختيار کړم او د آخرت دپاره ځه توښه جمع کړم لهذا ما دنيا پريښودله او آخرت مې خوښ کړو.

دحديث مفهوم: په يو بل حديث کښې داسې دی چه تاسو د مکې غرونه په سرو زرو سره بدل کړی نو د حديث د آخرې جملو حاصل دا دې چه د الله تعالى د طرف نه زما دپاره د دنياوی وسعت او فراخي او خوشحالی پيش کش کولو باوجود ما د دنيا مال پريخودلو او فقر مې اختيار کړو چه يو ورځ موړ يم او بله ورځ اوږې يم دې دپاره چه د صبر او شکر فضيلت حاصل کړم

[۵۱۹۱] دَدنيا اصلی نعمتونه

۵۱۹۱-(²)[۳۷] [۱] وَعَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ مِحْصَنٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [۲] «مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ [۳] مُعَافًى فِي جَسَدِهِ، [۴] عِنْدَهُ قُوتُ يَوْمِهِ [۵] فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا بِحَذَافِيرِهَا» [۶] " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

¹) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الكفاف والصبر عليه (رقم-۲۳۴۷) واحمد في المسند: ۵/۲۵۴

²) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۳۴۶)

ترجمه: [۱] او حضرت عبيد الله ابن محصن رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] په تاسو کې چې کوم سړی داسې حال کې صباکړي، چې هغه د خپل ځان د طرف نه بې خوفه وي. [۳] ظاهري طور سره هم او باطني طور سره هم د هغه بدن درست او باعافيت وي. [۴] او د هغه سره په حلال ذريعې سره حاصل کړې د يوې ورځې بقدر ضرورت د خوراک سامان وي. [۵] نو ګويا د هغه د پاره د ټولې دنيا قيمتونه جمع شوي دي. [۶] دا روايت ترمذي رحمه الله نقل کړی دی، او ويلي يې دي، چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات:- ① سِرْبِهِ: دَ دې نه مراد دَهغه سړی ځان او ذات دې. ② حِيزَتْ: راجمع کړې شوی دی.
③ حَذَافِيرِ: ټول په ټوله. ټول انواع او اقسام.

تسهيلات:

قوله: مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمْ آمِنًا فِي سِرْبِهِ:

دمذکوره جملې په مفهوم کښې درې اقوال: ① که په سين باندې کسره شي نو په دې دې صورت کښې دَدې لفظ اطلاق په جماعت باندې هم کيږي. مطلب به داشي چه دا سړې په خپل بال بچ کښې امن سره او سيږي.

② چې هم په سين باندې کسره شي نود دې دا معنى هم ده يعنى چه دَ خپل ځان باره کې بې ويرې وی نه ئې دَ دښمن څه ويره وی اونه ئې څه بدنی ويره وی بلکه فارغ البال وی

③ بعضې شارحينو په سين باندې دَ زبر قول کړې دې کوم چه دَ کور په معنى کښې دې خاص کر چه کوم کور دَ زمکې لاندې په سورنګ کښې وی لکه چه دَ لومبړې او ګيدړې دَ زمکې لاندې کور وی

د حديث د بعضې جملو وضاحت:

① فَكَأَنَّمَا حِيزَتْ لَهُ الدُّنْيَا: دا دَ حاز يحوز نه دَمجهول صيغه ده دَ جمع کولو او جمع کيدلو په معنى کښې دې لکه چه پوره دنيا دَ ده نه چاپيره جمع کړې شوې ده.

② بِحَذَافِيرِهَا: دا دَ حذفور جمع ده لکه عصافير چه دَعصفور جمع ده او جماهير دَ جمهور جمع ده طرفونه او جانبونه ترې مراد دی اي بتمامها وبجميع أطرافها.

[۵۱۴۲] زيات نه زيات څومره طعام خوړل پکار دی

۵۱۴۲-(¹)[۳۸] [۱] وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ مَعْدِي كَرِبَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: [۲] "«مَا مَلَأَ آدَمِيٌّ وِعَاءً شَرًّا مِنْ بَطْنٍ، [۳] بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ أُكُلَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ، [۴] فَإِنْ كَانَ لَا مَحَالَةَ

¹) اخرجه الترمذى فى السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى كراهية كثرة الأكل (رقم-۲۳۸۰) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب القناعة (رقم-۴۱۴۰) واحمد فى المسند: ۴/۱۳۲

فَثُلُثٌ طَعَامٌ۵وَثُلُثٌ شَرَابٌ، وَثُلُثٌ لِنَفَسِهِ» "رَوَاهُ التِّرمِذِيُّ وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او حضرت مقدام ابن معدیکرب رضی الله عنه وايي، ما د رسول الله ﷺ نه واوريدل.۲ که انسان خپل نس (خيټه) د حد نه زياته ډك کړي، نو هغه د خيټي نه بدتر هيڅ لوښي ډك نه کی (ځکه چې خيټه زياته ډکولو سره چې کومي خرابي پيدا کيږي د هغه څه شمير نشته) ۳ ابن ادم د پاره بس څو نمړئ کافي دي، چې د هغه د ملاهډوکي سيده او ولاړ و ساتي اچې هغه د اطاعت الٰهي په ځای راوړل او بقدر ضرورت خپل معاشي جد وجهد جاري ساتل و باندې قادر پاتې شي] ۴ خو که ضروري وي [يعني څوك نس (خيټه) ډکول غواړي، او د خوراك کم مقدار کفايت باندې قناعت نشي کولی] نو هغه ته پکار دی چې د خيټي دري حصي کي، يوه حصه خوراك د پاره وي، ۵ يوه حصه اوبو د پاره وي. ۶ او يوه حصه ساه اخستو (يعني د ساه تلو راتلو) د پاره خالي پريږدي. [چې د ساه بنديدو په وجه په هلاکت کې مبتلا نشي] (ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: - ①وِعَاءً: لوښي، ②أُكُلَاتٌ: يوڅو نوړئ، ③يُقِمْنَ: ولاړ ساتی، مضبوطوی. ④صُلْب: ملا، شا.

تسهيلات:

قوله: بِحَسْبِ ابْنِ آدَمَ أُكُلَاتٌ يُقِمْنَ صُلْبَهُ:

دضرورت مطابق خوراک کول: يعنی دَانسان دَپاره په خوراك کښې يو څو نمړئی کافی دی چه دَ هغه ملا پرې نيغه وی.

د کم خوراک لس فائدې: امام غزالی رحمه الله دَ کم خوراك او اولګې لس فائدې ليکلی دی مختصراً ئی اوګورئی.

① زړه ئی صفا او طبيعت ئی بيدار وی.

② زړه ئی نرم وی.

③ په انسان کښې عاجزی راځی اوتکبر ترې نه ځی.

④ دَ الله تعالی ويره او دَ هغه عذاب ته ئی خيال وی.

⑤ دَټولو ګناهونو خواهشات ئی مړه کيږی.

⑥ دَ ډير خوب نه خلاصيږی.

⑦ په عبادت باندې ورته مداومت حاصليږی.

⑧ دَ مرضونونه خلاصې او بدنی صحت ورته حاصليږی

⑨ دَزيات مال جمع کولو دَمشقتونونه پرې سرې محفوظ پاتې کيږی.

⑩ دَ الله تعالی دَ مخلوق دَپاره دَ قربانئی اوهمدردئی جذبه په کښې پيدا کيږی.

[۳۰] د زیات خوراک نقصان

۳۰-(١)[٣٩] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- سَمِعَ رَجُلًا يَتَجَشَّأُ ٢ فَقَالَ: "أَقْصِرْ مِنْ جُشَائِكَ ٣ فَإِنَّ أَطْوَلَ النَّاسِ جُوعًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَطْوَلُهُمْ شِبَعًا فِي الدُّنْيَا» ٣". رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ). وَرَوَى التِّرْمِذِيُّ نَحْوَهُ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن عمر ﷺ نه روایت دی، رسول الله ﷺ د یو سړی اډرقي (ارړي) واوریدی. ٢ نو هغه ته یې وفرمایل خپل ارړي بند کړه (یعني دومره مه خوره چې اوړده اوړده ارړي شروع کړي) ٣ ځکه چې د قیامت په ورځ به خلقو کې د ټولو نه زیات اوږدې هغه وي چې په دنیا کې هغوئ د ټولو نه لویي خیټې والاوو (یعنی کوم سړی چې په دې دنیا کې ډیر زیات خوراك کونکی وي نو هغه ته به د قیامت په ورځ د ټولو نه زیاته لوږه راځي چې د هغه په وجه به هغه په ډیري پریشاني کې مبتلا وي) ۴ بغوي او ترمذي هم دغه شان روایت نقل کړی دی.

حل اللغات: - ① يَتَجَشَّأُ: ارړمی ئې وکړو ② أَقْصِرْ: کم کړه، بند کړه، ③ شِبَعًا: لوږه،

تسهيلات: **قوله:** سَمِعَ رَجُلًا يَتَجَشَّأُ فَقَالَ..الخ:

د مذکوره رجل نوم: په حدیث کښې چه د کوم صحابی ذکر دې ددو نوم وهب ابن عبدالله وو او ددوي شمیر په هغه کم عمر والا صحابه کرامو کښې کیږي کوم چه د نبی کریم ﷺ په زماني کښې بالغ شوی نه وو

د زیات خوراک په وجه د اډرقی راتلل: دوي خپله بیان کوی چه یو ورځ ما د غوښې ثریه اوخوړلو او ارړمې مې کولو او د نبی کریم ﷺ په خدمت کښې حاضر شوم نو نبی کریم ﷺ وفرمائیل چه ته دا څه کوی زمونږ طرف ته ارړمی مه کوه او خپل ارړمی دې بند کړه نو دارنګ د ارړمی نه منع کول د ډیر خوراک نه منع کول دی بیا ئې مذکوره الفاظ ارشاد اوفرمائیل ددې نه مقصود ماشومانو ته په ورکوتوالی کښې تربیت ورکول دی او ارړمې کول شرعًا څه مکروه نه دي

[۳۱] د دې امت فتنه د مال ډیروالي دي

۳۱-(٢)[۴٠] ١ وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عِيَاضٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ٢ "«إِنَّ لِكُلِّ أُمَّةٍ فِتْنَةً ٣ وَفِتْنَةُ أُمَّتِي الْمَالُ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

---

[1] والترمذی فی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٤٧٨)وابن ماجه فی کتاب الأطعمة/باب الاقتصاد فی الأكل، وكراهة الشبع (رقم-٣٣٤٩) واحمد فی المسند: ١٣٢/٤

[2] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ومن سورة ويل للمطففين (رقم-٣٣٣٦)واحمد فی المسند: ١٦٠/٤

ترجمه: [۱] او حضرت کعب ابن عیاض رضی الله عنه وایي، ما د رسول الله ﷺ نه واوریدل [۲] چي حق تعالی د طرف نه هرامت د پاره (څه نه څه) فتنه او آزمائش وي (چي په هغه کي هغه امت مبتلا کولو سره ازمینبت کول کیږي) [۳] او څما امت د پاره چي کوم څیز فتنه او آزمائش دی، هغه مال او دولت دی، (یعنی الله ﷻ څما امت ته مال او دولت ورکولو سره دا ازمائیل غواړي چي هغوئ په صراطِ مستقیم او حدّ اعتدال باندې قائم پاتې کیږي یانه) (ترمذي)

تسهیلات:

دمال دوه حیثیتونه: دَ مال دوه اړخونه شوخیر او شر او په دې دواړو اړخونو کښې فرق کول ډیر مشکل دی په دې وجه د دې څخه په فتنه او امتحان سره تعبیراوکړې شو قال تعالی﴿ إِنَّمَا أَمْوَالُكُمْ وَأَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ﴾ مثلاً

① که مال وی نودَ دې دَ آفتونونه محفوظ کیدل هم سخت دی

② که مال نه وی نوفقر دې چه ډیر خلې سرې کفر ته رسوی.

په مال کښې فتنې لس صورتونه:

① دَ مالدار دَ پاره مال دَ سرکشئی ذریعه ده.

② که مالدارمال خرچ نه کړی نودَ بخل اوکنجوسیا په صفت موصوف کیږی.

③ که خرچ کوی ئې نو فضول خرچئی او اسراف کښې اخته کیږی.

④ مال سړې دَ گناه په لارو باندې اچوی

⑤ په مال سره مباحاتوکښې تنعم پورې نوبت رسی بلکه اکثر که په حلال مال باندې دَ تنعم تقاضې پوره نشی نو مشکوک او حرام ذرائع اختیارولو باندې مجبورشی دې دَ پاره چه دَهغه دَ دنیا نظام دَ هغه دَ خوښې مطابق شی دَ هغه په تنعم کښې کمې رانشی

⑥ چاسره چه مال زیات وی هغه ته دَ خلقو ډیر حاجت وی بیا هغه خپل کار ویستو کښې منافقانه لارې اختیاروی اودَ هغوی رضا حاصلولو کښې دَ الله تعالی دَ نافرمانئی نه هم مخ نه اړوی

⑦ د مال په وجه د انسانان دشمنان هم پیدا کیږی زمونږ په ملک کښې چې څوک مالدار شی نوبعضې وخت اغوا کړې شی اود پیسو مطالبه ترې کولې شی په دې لنډو ورځو کښې په افغانستان کښې د مزار ښار یو صراف اغوا (اوتختولې)کړې شوې اود یوکروړ امریکنی ډالرومطالبه ترې کولې شی

⑧ دَ مال په گټلو اودَ دې په حاصلولوکښې دَ الله تعالی دَ یاد نه دَ غافل کیدو قوی

امکان وی او ښکاره خبره ده چه کوم څیز دَ الله تعالی دَ یاد نه غافل کونکې وی هغه یوه خساره ده دَ کومې تلافی چه په هیڅ قسم ممکن نه ده.
⑨ دمال دحفاظت دپاره انسان مختلف ذرائع استمالوی. اودې د بې فکرۍ د ژوند څخه محروم وی
⑩ د مالدارو خلقو ملګری اکثرفضول اوعبث خلق وی. د دوی څخه خپل مفادات حاصلولو دپاره د دوی خوشامندې کوی. اودې په غرور اوتکبرکښې اخته کوی

[۵۰۸۵] په مالی حقونوکښې د کوتاهی وعید

۵۰۸۵-()[۳۱] ① وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② " «يُجَاءُ بِابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَأَنَّهُ بَذَجٌ ③ فَيُوقَفُ بَيْنَ يَدَيِ اللَّهِ، ④ فَيَقُولُ لَهُ: أَعْطَيْتُكَ وَخَوَّلْتُكَ وَأَنْعَمْتُ عَلَيْكَ، فَمَا صَنَعْتَ؟ ⑤ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ! جَمَعْتُهُ وَثَمَّرْتُهُ وَتَرَكْتُهُ أَكْثَرَ مَا كَانَ، ⑥ فَارْجِعْنِي آتِكَ بِهِ كُلِّهِ. ⑦ فَيَقُولُ لَهُ: أَرِنِي مَا قَدَّمْتَ. ⑧ فَيَقُولُ: رَبِّ! جَمَعْتُهُ وَثَمَّرْتُهُ وَتَرَكْتُهُ أَكْثَرَ مَا كَانَ، ⑨ فَارْجِعْنِي آتِكَ بِهِ كُلِّهِ. ⑩ فَإِذَا عَبْدٌ لَمْ يُقَدِّمْ خَيْرًا ⑪ فَيُمْضَى بِهِ إِلَى النَّارِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَضَعَّفَهُ.

ترجمه: ① او حضرت انس رضی الله عنه د رسول الله ﷺ نه نقل کوي، حضور ﷺ وفرمایل ② د قیامت په ورځ به ابن اٰدم داسې (حقارت او ذلت سره) پیش شي، ګویا چې هغه د بزي (چیلئ) بچی دی، ③ بیا به هغه د الله تعالی په مخکې ودرول شي، ④ او الله تعالی به [د فرښتې په وساطت سره یا خپله براه راست (زبانِ قال یازبانِ حال سره)] هغه ته وفرمایي، چې ما په دنیا کې تاته ژوند، علم او دانش، صحت او تندرستي او د امن او عافیت پشان نعمتونه درکړی وو، [او د مال ودولت، جایداد او خادمانو او جاه وعزت په شان د نعمتونو مالک مې جوړ کړی وې، او د ټولو نه لوی نعمت مې درته درکړی وو، چې خپل کتاب مې نازل کی، خپل رسول ﷺ مې راولیږلو او د هدایت او راستی نور مې خورکی]، نوتا څه کار وکی، [آیا تا د دې څیزونو حقوق اداء کړه، او د دې ټولو نعمتونو شکَردي اداء کی]. ⑤ ابن اٰدم به عرض وکړو، اې څما پروردګاره ماخوبس دا وکړل، چې د تجارت او کارو بار په ذریعه مال ودولت مې جمع کوی او د هغه زیاتولو کې لګیدلی وم، او د مړکیدو پر وقت مې دهغه نه زیات مال پریخودلو سره راغلم، څومره چې څما د ژوند په ورځو کې مخکې زما سره وو، ⑥ او اوس مې دنیاته دوباره ولیږه، چې زه هغه ټول مال ودولت ستا په لار کې خرچ کړم، او د هغه ثواب آخستو سره ستا په خدمت کې حاضرشم، ⑦ الله تعالی به ورته فرمایي، [داخو ممکن نه ده، چې ته دې دنیا ته دوباره ولیږل شي، او تاچې په دنیا کې کوم مال پریښی دی، هغه اوس ستا د پاره کار ګر (په کار راتلونکي) نه دی]،

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه (رقم-۲٤۲۷)

خو که تا د هغه [مال او دولت نه څه حصه هم صدقه او خیرات کولو د ثواب په صورت کې] مخکې دلته آخرت د پاره رالیږلی وي نو ماته هغه وښایه، [لیکن هغه خوبه د هغه مال او دولت نه هیڅ حصه هم د آخرت په کارونو کې خرچ کړی نه وي، نو هغه به د الله ﷻ په دي ارشاد سخت شرمنده شي، او څرنګه چې دمجرمانو عادت دی، چې هغوئ به په خپل جرم کې ونیول شي، او خپلي صفایي کې څه معقول عذربیان نه کي، نو بار بار دغه یوه خبره چې مخکې یې ویلي ده کوي نو ابن آدم به یوخو په دي وجه او دویم د خپلي خبري جواب نه پیدا کیدو په وجه] ⑧ دوباره عرض کوي، چې زه خوبس مال ودولت جمع کولو او د هغه زیاتولو کې لګیدلی وم، او هغه مې په دنیا کې د هغه نه زیات پریخودلو، څومره چې مخکې راسره وو، ⑨ او اوس ما دنیا ته دوباره ولیږه، چې زه هغه مال او دولت اخستو سره ستا په خدمت کې حاضر شم. ⑩ دغه شان [دا به ښکاره شي، چې هغه ته په دنیا کې کوم مذکورڅیزونه ورکول شوي وه] په هغه کې یې هیڅ هم د خیر کار مخکې آخرت د پاره نه دی لیږلی، ⑪ نو د هغه به دوزخ ته د لیږلو حکم ورکول شي. دا روایت ترمذي رحمه الله نقل کړی دی، او اسناد یې ضعیف ګرځولي دي، اګر که د معنی د لحاظ نه بالکل صحیح دی.

حل اللغات :- ① بَذَجٌ: دَ ګډې وړوکی بچې. ② خَوَّلْتُكَ: أي جعلتك ذاخول یعنی تاته مې شان او شوکت درکړې وو، ③ ثَمَّرْتُهُ: زیات کړې مې وو دا (مال).

تسهیلات:

قوله: أَعْطَيْتُكَ وَخَوَّلْتُكَ:

دخولت په مفهوم کښې دوه اقوال:

① یعنی تاته مې په ژوند کښې بدنی نعمتونه درکړی وو.

② ستا دپاره مې یاران دوستان پیدا کړی وو.

③ **وَأَنْعَمْتُ عَلَيْكَ، فَمَا صَنَعْتَ؟:**

الله تعالی ته دناشکر انسان جواب: یعنی دَدې دَ پاسه مې ستادَ هدایت دَپاره کتاب نازل کړو اودَ شان والا رسول په رسالت سره مې ته پوره کړې نوتادَ دې څه حق اداکړو؟ دا ناشکر انسان جواب ورکوی ما مال جمع کړو او ښه مې زیات کړو اوشاته مې پریخودې راغلې یم. ته ماته اجازت راکړه چه زه واپس دنیا ته لاړشم تول ستا مخکې کښې حاضر کړم. کله چه فرښتې اوګوری چه ده مالی حقوق نه دی اداکړی نو هغوی به دې واخلی او په دوزخ کښې به ئې ورواغورزوی.

[۵۰۹۶] قیامت کښې به دچولو نه اول دَ کومو نعمتونو سوال کیږی؟

۵۰۹۶-(۱)[۳۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲]«إِنَّ أَوَّلَ مَا يُسْأَلُ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنَ النَّعِيمِ أَنْ يُقَالَ لَهُ: [۳] أَلَمْ نُصِحَّ جِسْمَكَ وَنُرْوِكَ مِنَ الْمَاءِ الْبَارِدِ؟» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] د قيامت په ورځ به د ټولو نه مخکې د نعمتونو باره کې چې کومه پوښتنه کېږي، هغه به داوي. [۳] آيا مونږ ستا بدن ته تندرستي نه وه درکړې، او ته موپه يخو اوبو سره نه وې اوبه کړې (ترمذي)

حل اللغات: - ① أَلَمْ نُصِحَّ: آيا مونږ صحت نه وو درکړې، ② نُرْوِكَ: اوبه کړې او سيراب کړې مې وې. ③ الْبَارِدِ: يخې (اوبه).

تسهيلات:

قوله: إِنَّ أَوَّلَ مَا يُسْأَلُ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: "ما يسأل" کښې "ما موصوله أي أول شئ يحاسب به في الاخرة".

قوله: إِنَّ أَوَّلَ مَا يُسْأَلُ الْعَبْدُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ:

اشکال: په ډيرو احاديثو کښې راځي چه د قيامت په ورځ به د ټولو نه مخکې د بنده نه د مونځ متعلق سوال کيږي او په بعضې رواياتو کښې راځي چه د بنده نه به د ټولو مخکې د قتل متعلق سوال کيږي، او په دې حديث کښې ذکر دی چه د بنده نه به د ټولو نه مخکې د نعمت په باره کښې سوال کيږي نو ددې رواياتو نه په ظاهر تعارض معلوميږي؟

داشکال جواب: په حقوق الله کښې به د ټولو نه مخکې د مونځ او په حقوق العباد کښې به د ټولو نه مخکې د قتل متعلق سوال کيږي او په مخلوقاتو کښې چه د نورو څيزونو متعلق سوال کيږي نو هغه به د نعمتونو متعلق سوال وی او په نعمتونو کښې به د ټولو نه مخکې د اوبو متعلق سوال کيږي. (کمامر)

او په حديث کښې د تندرستی او د اوبو دواړو نعمتونو يو ځائې ذکر کولو کښې دې طرف ته اشاره کول مقصود دی چه دا دواړه دومره عظيم الشان او اهم نعمتونه دی چه ټول ملک او سلطنت يو طرف ته او دا نعمتونه بل طرف ته.

[۵۰۹۷] قيامت کښې به د پنځو څيزونو تپوس کيږي

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ومن سورة ألهاکم التکاثر (رقم-۳۳۵۸)

۵۰۸۷-() [٣٣] ١ وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ٢ "«لَا تَزُولُ قَدَمَا ابْنِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ: ٣ عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ، ٤ وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلَاهُ، ٥ وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ، وَفِيمَا أَنْفَقَهُ، ٨ وَمَاذَا عَمِلَ فِيمَا عَلِمَ؟»" ٩ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ او حضرت ابن مسعود ﷛ د رسول الله ﷺ نه روايت كوي. حضور ﷺ وفرمايل، ٢ د قيامت په ورځ به د انسان پښې به د خپل ځاى نه نه ښوري، او هغه به بارګاه رب ذوالجلال كې هغه وخته پورې ولاړ وي، ترڅوپورې چې د هغه نه د پنځه خبرو جواب وانه خستل شي، ٣ هغه نه به پوښتنه كېږي، چې خپل عمر يې كوم كار كې صرف كى، ٤ بالخصوص داچې هغه خپله ځواني كوم كار كې تيره كړه [يعنى ځواني ګويانوي لباس دي چې په قلاره قلاره زړيږي هغه مال ځرنګه وګټى، ٥ بالخصوص هغه په دنيا كې چې كوم مال ودولت، روپى پيسي وګټلي، هغه حلال وسائل او ذرائعو سره يې حاصلې كړي يا حرام ذرائعو سره هغه مال كوم ځاى خرچ كى [يعنى خپل مال وزر، روپى پيسي يې نيك كارونو كې صرف كړي، يا خراب كارونو كې يې ولګولي] ٨ او داچې هغه كوم علم حاصل كړى وو، د هغه مطابق يې عمل كړى وو، يانه ٩ ترمذي دا روايت نقل كړى دى او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دى.

حل اللغات: - ① أَفْنَاهُ: ختم ئې كړو، تير ئې كړو، ② أَبْلَاهُ: زړه ئې كړه،

تسهيلات:

قوله: وَمَاذَا عَمِلَ فِيمَا عَلِمَ؟:

دعمل اوجهل باره كښې تپوس: د حضرت ابو الدرداء ﷛ په باره كښې منقول دى چه دوې حضرت عويمر ﷛ ته اوفرمائيل چه عويمر ستا به د قيامت په ورځ څه كيفيت وى كله چه تا نه سوال وكړې شى چه ته عالم وې كه جاهل ؟نو كه تا دا جواب وركړو چه زه عالم ووم نو بيا ستانه به پوښتنه اوكړى شى چه تا په دې علم باندې څومره عمل كړې وو او كه ته دا جواب وركړى چه زه جاهل ووم نو بيا به ستا نه دا پوښتنه اوكړې شى چه ستا د جاهل پاتې كيدو څه وجه وه او تا علم ولې نه وو حاصل كړې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۰۸۸] ذا انسان افضليت صرف په تقوىٰ سره دي

---

[1] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فى القيامة (رقم-٢٤١٦)

۵۰۹۸-(۱)[۳۴] [۱](عَنْ أَبِي ذَرٍّ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ لَهُ:[۲] "«إِنَّكَ لَسْتَ بِخَيْرٍ مِنْ أَحْمَرَ وَلَا أَسْوَدَ[۳] إِلَّا أَنْ تَفْضُلَهُ بِتَقْوَى»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه:[۱] حضرت ابوذر رضي الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ هغه ته وفرمايل[۲] اې ابوذره رضي الله عنه! ته نه خو د سور رنګ والا نه بهتر يې او نه تور رنګ والا نه،[۳] خو داچې ته په دې دواړو کې دچا نه د تقوىٰ د اعتبار نه افضل شې.(احمد)

تسهيلات:

قوله: إِنَّكَ لَسْتَ بِخَيْرٍ مِنْ أَحْمَرَ وَلَا أَسْوَدَ:

دانسانی فضيلت معيار: مطلب دا دې چه انسانی فضيلت اوکاميابی په ظاهری شکل اوصورت او په رنګ اونسل او په حسب نسب باندې موقوف نه دې بلکه ددې مدار د دينی او د اخلاقی کردار په عظمت او تقوىٰ باندې دې.

قوله: أَحْمَرَ وَلَا أَسْوَدَ إِلَّا أَنْ تَفْضُلَهُ بِتَقْوَى:

دانسانی فضيلت کښې د تقوى کردار: امام طيبی رحمه الله فرمائي چه دلته د احمر نه مراد اهل عرب او اسود نه مراد اهل عجم دی. ځکه چه په هغې زمانه کښې به اهل عرب عجمو ته احمر وئيل ځکه چه ددوی رنګونه به سرخی طرف ته مائل وو او اهل عجم به عربو ته اسود وئيل ځکه دهغوې رنګونه تورالی طرف ته مائل وو يا د سور نه مراد مولی دې او د تور نه مراد غلام دې يا د سور نه مراد مالدار دې او د تور نه مراد غريب دې دارنګ ددې دوه رنګونو ذکر ئې ځکه وکړو چه عمومًا په انسانانو کښې دا دوه رنګونه وی. مطلب دا دې چه ته د مال وغيره په وجه د نورو نه افضل کيدې نه شی بلکه د تقوی په ذريعه افضل کيدې شی،

شيخ عبد الحق رحمه الله فرمائي چه د حديث معنی دا ده چه يو تور لره په سپين باندې او يو سپين لره په تور باندې څه فضيلت حاصل نه دې بلکه فضيلت والا هغه دې کوم چه په تقوی او پرهيزګاری کښې مخکې وی. کما في القرآن: ان اکرمکم عند الله اتقاکم.

[۵۰۹۹] دَدنيا نه دبې رغبتی فضيلت

۵۰۹۹-(۲)[۳۵] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲] "«مَا زَهِدَ عَبْدٌ فِي الدُّنْيَا إِلَّا أَنْبَتَ اللّٰهُ الْحِكْمَةَ فِي قَلْبِهِ،[۳] وَأَنْطَقَ بِهَا لِسَانَهُ،[۴] وَبَصَّرَهُ عَيْبَ الدُّنْيَا وَدَاءَهَا وَدَوَاءَهَا[۵] وَأَخْرَجَهُ مِنْهَا سَالِمًا إِلَى دَارِ السَّلَامِ»". (رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي شُعَبِ الْإِيمَانِ).

[۱]) اخرجه احمد فی المسند:۵/۱۵۸

[۲]) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۵۳۲

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر رضی الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] کوم بنده چې (په دنيا کې د ضرورت او حاجت نه زيات دنياوي مال وجاه نه زهد) يعنی بې رغبتي اختيار کړي، الله تعالیٰ د هغه په زړه کې حکمت [يعنی د معرفت او يقين دولت] پيدا کوی. [۳] د هغه ژبه په هغه حکمت سره ګويا کوي، [۴] او هغه د دنيا د عيوب نه (لکه کثرت غم ورنج، قلت غناء، سرعت فناء او ذکرالهی نه د زړه غفلت وغيره د يقين سترګو سره ليدونکی کی. او د دې دنيا بيماري (يعني د دنياوي محبت علّت او سبب) او (علم وعمل، صبر وقناعت او دنيا نه اجتناب او بې رغبتي اختيارونکی او تقدير الهي باندې د راضي کيدو، توفيق بخښلو سره) د هغه بيماري علاج هم ورته وښووی. [۵] او دې دنيا نه اعراض کولو او عقبیٰ طرف ته د متوجه کيدو په سبب حق تعالیٰ هغه د دنيا د آفاتو او بلياتو نه سلامتيا سره دار السلام ته ورسوی. (بيهقي)

حل اللغات: - ① زَهِدَ: بې رغبتی ئې اوکړه، ② أَنْبَتَ: زرغون به کړی، پيدا به کړی. ③ أَنْطَقَ: ګويا به کړی، ④ بَصَّرَهُ: ليدونکې به ئې کړی.

تسهيلات:

قوله: وَأَخْرَجَهُ مِنْهَا سَالِمًا إِلَى دَارِ السَّلَامِ:

په حديث کښې مذکور دارالسلام نه مراد جنت دې او په دې حديث کښې دې خبرې طرف ته اشاره ده چه ټوله حقيقی سلامتی به په آخرت او جنت کښې حاصليږی، ددې حديث نه دا معلومه شوه چه دنيا طرف ته رغبت لرونکو انجام به ددې برعکس وی.

[۵۲۰۰] دَ کاميابۍ راز په خالص ايمان کې دې

۵۲۰۰ - (¹) [۳۶] [۱] وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: [۲] "«قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَخْلَصَ اللَّهُ قَلْبَهُ لِلْإِيمَانِ [۳] وَجَعَلَ قَلْبَهُ سَلِيمًا [۴] وَلِسَانَهُ صَادِقًا [۵] وَنَفْسَهُ مُطْمَئِنَّةً [۶] وَخَلِيقَتَهُ مُسْتَقِيمَةً [۷] وَجَعَلَ أُذُنَهُ مُسْتَمِعَةً [۸] وَعَيْنَهُ نَاظِرَةً [۹] فَأَمَّا الْأُذُنُ فَقَمِعٌ [۱۰] وَأَمَّا الْعَيْنُ فَمُقِرَّةٌ لِمَا يُوعِي الْقَلْبُ [۱۱] وَقَدْ أَفْلَحَ مَنْ جَعَلَ قَلْبَهُ وَاعِيًا» " رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر رضی الله عنه نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] هغه سړی کامياب شو. چې د هغه زړه الله تعالیٰ (د نفاق د آميزش نه پاکولو سره) ايمان د پاره يې خالص او مخصوص کی [يعنی هغه ته يې ايمان خالص ورکړيا]، [۳] د هغه زړه يې [د بغض وحسد او ټول خراب کارونو او خراب احوالو لکه د دنيا محبت او مولی او عقبیٰ نه بې پروايي وغيره نه] محفوظ او سالم وساتی، [۴] او خپله ژبه رښتينې اوګرځوی. [۵] د

¹) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۸ واحمد في المسند: ۱۴۷/۵

هغه نفس يي د الله ذکر او د هغه د محبت په ذريعه مطمئن کی او هغه يي د حق مطيع جوړکی۔ ⑥ د هغه خلقت او طبيعت (کوږوالی او باطل طرف ته مائل کيدو او افراط وتفريط کې مبتلا کيدو نه بچ کولو سره) مستقيم او سيده وساتی۔ ⑦ د هغه غوږونه يي (حقه خبره) اوريدونکي جوړ کړه۔ ⑧ او د هغه سترګي يي (د وحدانيت دلائل او مشاهدات او د پروردګار د نظام قدرت او صنعت) ليدونکی جوړي کړي۔ ⑨ نو غوږ خوتيل دان دي (يعني دغوږ په ذريعه خبره زړه ته خکته کيږي) ⑩ او سترګه هغه شی قائم او ثابت ساتونکي ده چې زړه يي محفوظ کوي۔ ⑪ او په دي کې هيڅ شك نشته. چې هغه سړی کامياب شو، چې د هغه زړه الله يا خپله هغه سړی خپل زړه د حقي خبري او برحق څيزونو محافظ جوړکی. (احمد ، بيهقي)

حل اللغات:- ① أَخْلَصَ: خالص او مخلص ئې کړو، ② مُسْتَقِيمَةً: نيغ، سيدها، ③ مُسْتَمِعَةً: اوريدونکې، ④ قَمِعٌ: دَقيف په معنى کنبي دې او قيف پيک ته وائی کوم سره چه په بوتل کنبي تيل وغيره اچولې شی، ⑤ مُقِرَّةً: برقرار او قائم او ثابت ساتونکې دې، ⑥ وَاعِيًا: محفوظ ساتونکې.

تسهيلات:

قوله : قَدْ أَفْلَحَ مَنْ أَخْلَصَ اللهُ قَلْبَهُ:

د زړه د اخلاص نتيجه: يعنی دکوم سړی په زړه او دماغو کنبي چه الله تعالی خالص ايمان کينولي دې اودَ هغه زړه ئې دَ بغض اوحسد ، دَ دنيادَ محبت، رذيل اخلاقو اودَ شيطاني وسوسو نه پاکه کړو او په قول اوقرار کنبي ئې هغه له ربنتونی ژبه ورکړه اودَ الله تعالی طاعت اودَ الله تعالی په ذکر کنبي دَ هغه نفس ته اطمينان اوتسلی ئې ورکړه اودَ هغه طبيعت او مزاج ئې دَ زياتی اوکمی نه پاك او په حق باندې قائم پاتې کيدونکی جوړکړو دَ هغه غوږونه ئې دَ حق اوريدو او سترګې ئې دَ حق کتو قابلې جوړې کړې.

د بعضې مشکلو جملو وضاحت :

① **فَأَمَّا الأُذُنُ فَقِمَعٌ: قِمَعٌ:** په قاف باندې زبر اوزير دواړه وئيلی شی اوميم ساکن دې. که په قاف باندې زبر اووئيلې شی او په ميم باندې زير اووئيل نو داهم صحيح دې.

② **قِمَعٌ:** دَ قيف په معنى کنبې دې او قيف هغه آلې ته وائی دَ کوم په ذريعه چه دَتنګې خلې والا لوښې مثلاً بوتل وغيره کنبې تيل وغيره اچولې شی. دې آلې سره نلکه لګيدلې وی. پاس خله ئی کولاؤ وی دغه نلکه د تنګې خلې په لوښی کنبې کيخودلې شی اوبيا په هغې کنبې تيل وغيره اچولې شی. مطلب دا چه غوږونه ئی دَ حق اوريدو دَپاره قيف جوړ کړې دې. ددې په ذريعه حق زړه اودماغو ته رسيدو سره په هغې کنبې ورپيوست کيږی او

زړه او دماغ هغه قبلوي

③وَأَمَّا الْعَيْنُ فَمُقِرَّةٌ: يعني سترګه دغه څيز برقرار ثابت او قائم ساتي مطلب دا چه سترګو يو څيز اوليدلو اودَ هغې نقش او صورت ئې زړه ته اورسولو او زړه دغه څيز محفوظ کړو لکه چه اوريدونکې حقائق غوږونو زړه ته اورسول او په نظر راتلونکې څيز سترګو زړه ته اورسولو. زړه بادشاه دې او حواس ظاهره دَ هغې دَپاره جاسوس او خادمان دی هرخادم چه په کوم کار باندې مقرردې هغه هم دغه پوره کوي.

④مَنْ جَعَلَ قَلْبَهُ وَاعِيًا: دا جمله دَ مخکينو جملودَپاره په توګه دَ نتيجې ده چه زړه ته کوم اطلاعات وراورسولې شو زړه هغه برقرار اوساتل. خلاصه دا ده چه هغه سړې کامياب دې دَ چا زړه چه الله تعالى دَ حق او دَ صداقت محافظ جوړکړو.

[۵۰۴] دګناهونوباوجود ګناهګارته دنياوي نعمتونه ورکول

۵۰۴-()[۳۶] ① وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«إِذَا رَأَيْتَ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ يُعْطِي الْعَبْدَ مِنَ الدُّنْيَا عَلَى مَعَاصِيهِ مَا يُحِبُّ ③ فَإِنَّمَا هُوَ اسْتِدْرَاجٌ". ④ ثُمَّ تَلَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⑤ ﴿فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ ⑥ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ ⑦ حَتَّى إِذَا فَرِحُوا بِمَا أُوتُوا ⑧ أَخَذْنَاهُمْ بَغْتَةً فَإِذَا هُمْ مُبْلِسُونَ﴾ [الأنعام: ٤٤] » رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① او حضرت عقبه ابن عامر ﷛ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي، حضور ﷺ وفرمايل، ② هرکله چې ته ووينې چې الله ﷻ يوبنده ته د هغه ګناه او معصيت کې د مبتلاکيدو باوجود د هغه محبوب ترين څيزونه (يعني دنياوي مال ودولت او جاه ومرتبت وغيره) ورکوي، ③ نو پوه شه، چې هغه [يعني هغه ته د هغه محبوب ترين څيزونو ورکول] استدراج دی. ④ د دې نه پس حضور ﷺ د استشهاد په طور دا آيت تلاوت وفرمايه. ⑤ هرکله چې دوې الهی هدايات هيرکړل ⑥ نو مونږ ورباندې دآسمان نه دنعمتونو دروازې خلاصې کړې ⑦ کله چې دوی خوشحاله شول په هغوئ نعمتونو چې مونږورله ورکړې وو ⑧ ناڅاپه موپه خپل ګرفت کې ونيول چې بيا دهرې خوا نه امداد نه مايوس وو (احمد)

حل اللغات: - ① اسْتِدْرَاجٌ: درجه په درجه مرحله وار څوك يوڅائې ته رسول، ② فَرِحُوا: خوشحاله شول، ③ بَغْتَةً: ناڅاپه، ④ مُبْلِسُونَ: مايوس او نا اُميده شول

تسهيلات:

قوله: فَإِنَّمَا هُوَ اسْتِدْرَاجٌ:

---

[۱] اخرجه احمد فی المسند: ۱۴۵/۴

داستدراج تعریف: په لغت کښې استدراج درجه په درجه مرحله وار څوك یوځائی ته رسول او اوړلوته وائی لکه چه څوك دَ پاوړئی په ذریعه پاتکې په پاتکی باندې خیژولې شی کوم نه چه په نورو الفاظو کښې وخت ورکولو او مهلت ورکولوسره تعبیر کیږی.

دحدیث مفهوم: په دې دنیاکښې الله تعالی یوفاسق فاجر یاکافرته دَ هغه دَمقصود مطابق دَدنیا شان او شوکت ورکوی نودا دَ هغه سره دَ الله تعالی په نیزدَ قبولیت نښه نه ده بلکه دا یو استدراج ډهیل او مهلت دې کله چه دَهغه دَ ګناهونو پیمانه ډکه شی او هغه په پوره سرکشئی کښې راشی نوکله الله تعالی هم په دنیاکښې په هغه باندې لاس اچوی او کله په آخرت کښې دَ هغه سخته راګیرونه کیږی. لهذا په ګناهونو کښې ککړسړی له دا خیال کول پکاردی چه آیا هغه په راحت کښې دې او که په مصیبت کښې دې. [احمد: ۲۵۲/۵]

[۵۲۰۳] دزاهدانو دپاره څان سره دنیا ساتل

۵۲۰۳-()[۲۸] ۱ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - «أَنَّ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الصُّفَّةِ تُوُفِّيَ وَتَرَكَ دِينَارًا، ۲ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَيَّةٌ" ۳ قَالَ: ثُمَّ تُوُفِّيَ آخَرُ فَتَرَكَ دِينَارَيْنِ، ۴ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَيَّتَانِ"». رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ۱ او حضرت ابوامامه رضی الله عنه وایي، اصحاب صفه کې یوسړی وفات شو، او دیو دینار په صورت کې خپله ترکه میراث پریخودله ۲ رسول الله ﷺ چې هغه دینار ولیدی نو وي فرمایل. چې دا دینار د هغه سړي [په تندي، شا او اړخ باندې] یوداغ دی. ۳ حضرت ابوامامه رضی الله عنه وایي. بیا څه ورځي وروسته صفه والاوو کې یوبل سړی وفات شو. او هغه خپل ترکه کې دوه دیناره پریخودله، ۴ رسول الله ﷺ هغه دینار لیدو سره وفرمایل. دا دوه دیناره دوه داغونه دي (احمد وبیهقي)

حل اللغات:- ① كَيَّةٌ: بدن باندې د ګرمې اوسپنې داغ ته وائی.

تسهیلات:

د مذکوره حدیث په مفهوم کښې دوه اقوال: ① ملاعلی قاری رحمه الله دَدې حدیث مطلب داسې بیان کړې دې چه کله دَ صفې دا دواړه صحابه کرام فقیران او مسکینان وو نو خلقوبه په زکوة او صدقاتو سره دَهغوی امداد او اعانت کولو. چونکه هغوی سره دوه دینار وو نو په هغې باندې زکوة نه لګیدلو کله چه دوی دَ زکوة مستحق نه وو او بیائی هم دَ زکوة اوصدقاتو طرف ته لکه دَ سوال لاس وراندې کولو نو دا ناجائز وو په دې وجه سخت وعید واؤرولې شو

---

(۱) اخرجه احمد فی المسند: ۲۵۸/۵ والبیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۶۹۶۴

۞ یو کس دَمال حق اداکړی اومړشي او یو یا دوه یا دې نه زیات دینار دَمړګ نه پس کورکښې پریږدی نودا عمل خو شرعاً جائز دې خونبی علیه السلام دَ عام امت دَپاره اود خپلو صحابه کرامودَپاره دَ دنیا جمع کولو اوعبادت کولو جدا جدا معیار ساتلی وو دغه شان حضورپاك دَخپل اهل بیت دَپاره هم جدا معیار ساتلې وو اودَ خپل ځان دَپاره ئی هم په عملی میدان کښې جدا معیار ساتلې وو لهذا یو عمل داسې وی چه دَعام امت دَپاره جائز وی مګر دَ صحابه کرامو شان اوچت وی هغه عمل دَهغوی شان سره مناسب نه وی دلته دَ اصحاب صفه هغه دوو کسانوته هم دَدې په تناظرکښې وعیداوروليې شوې دې چه دا دنیا پریخودونکی زاهد او درویش خپل شاته مال بریږدی دا ښه خبره نه ده.خلق دوی زاهدان ګنړی په دوی باندې خرچ کوی او دوی خپل شاته میراث کښې دینار پریږدی دادَ هغوی دَ اوچت شان منافی دی

[۵۰۳] دنیاوی مال اواسباب نه پرهیز پکار دې

۵۰۳-()[۳۹] ۱«وَعَنْ مُعَاوِيَةَ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - أَنَّهُ دَخَلَ عَلَى خَالِهِ أَبِي هَاشِمِ بْنِ عُتْبَةَ يَعُودُهُ ۲ فَبَكَى أَبُو هَاشِمٍ، فَقَالَ: مَا يُبْكِيكَ يَا خَالِ؟ ۳ أَوَجَعٌ يُشْئِزُكَ أَمْ حِرْصٌ عَلَى الدُّنْيَا؟ ۴ قَالَ: كَلَّا وَلَكِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَهِدَ إِلَيَّ عَهْدًا لَمْ آخُذْ بِهِ ۵ قَالَ: وَمَا ذَلِكَ؟ قَالَ: سَمِعْتُهُ يَقُولُ: "إِنَّمَا يَكْفِيكَ مِنْ جَمْعِ الْمَالِ خَادِمٌ وَمَرْكَبٌ فِي سَبِيلِ اللّٰهِ" ۶ وَإِنِّي أَرَانِي قَدْ جَمَعْتُ». رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالنَّسَائِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ۱ او حضرت معاویه ابن ابي سفیان ﷠ نه روایت دی، هغه یوه ورځ د خپل ماما ابوهاشم ابن عتبه ﷠ پوښتني ته ورغلی، ۲ نو ابوهاشم هغه لیدو سره په ژړا شو حضرت معاویه ﷠ ځني پوښتنه وکړه، ماماجي، تاسو ولې ژاړئ ۳ آیا د ناروغی شدت تاسو په پریشاني کې مبتلا کړي یي، یاد دنیا حرص او ارزو ، ۴ هغه وویل. اې عزیزه داسې هیڅ کله نه ده د پریشانی باعث دادی، چې رسول الله ﷺ مونږ صحابه ﷡ ته یو وصیت کړی وو . او زه په هغه د عمل کولو نه قاصر پاتې شوم. ۵ معاویه ﷠ ځني پوښتنه وکړه، هغه وصیت څه وو . هغه وویل، ما د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل. چې ستا دپاره د دنیا د مال نه دومره قدري جمع کول کافي دی چې ستا سره یوخادم وي. او د الله په لار کې دجهاد کولو د پاره یوه سورلی وي. ۶ او څما خیال دی. چې ما دي دواړو څیزونو نه څه زیات مال واسباب ځان سره جمع کړی دی (احمد ،ترمذي،نسائي،ابن ماجه)

حل اللغات:- ۱ يَعُودُ: عیادت او بیمار پُرسی ته کوله. ۲ خَالِ: ماما. ۳ وَجَعٌ: د بیمارئ درد او تکلیف. ۴ يُشْئِزُكَ: أي يقلقك يعنی بدنی درد تا پریشانه کوی ۵ مَرْكَبٌ سورلی. ۶ أَرَانِي: زه

---

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم باب (رقم-۲۳۲۷) والنسائی فی کتاب الزینة/باب اتخاذ الخادم والمرکب (رقم-۵۳۷۲) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الزهد فی الدنیا(رقم ۴۱۰۳)

وينم. زما خيال دي

تسهيلات:

قوله: يُشْئِزُكَ: اشناز د باب افعال نه دي قلق او اضطراب په معنى كښي دي په اصل كښي كانړيژنه لار باندي د تلو تكليف ته وائي.

[۵۰۰۴] څوک چي مال نه جمع كوي هغه به د آخرت په منزلونو په آساني تيريږي

۵۰۰۴ - ()[۱] «[۵۰۱] ① وَعَنْ أُمِّ الدَّرْدَاءِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - قَالَتْ: قُلْتُ لِأَبِي الدَّرْدَاءِ: ② مَا لَكَ لَا تَطْلُبُ كَمَا يَطْلُبُ فُلَانٌ؟ ③ فَقَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ④ "إِنَّ أَمَامَكُمْ عَقَبَةً كَؤُودًا ⑤ لَا يَجُوزُهَا الْمُثْقَلُونَ". ⑥ فَأُحِبُّ أَنْ أَتَخَفَّفَ لِتِلْكَ الْعَقَبَةِ».

ترجمه: ① او بي بي ام درداء رضي الله عنها وايي، يوه ورځ ما خپل خاوند ابودرداء رضي الله عنه ته وويل. ② تاته څه شوي دي چي ته حضور ﷺ نه يا صحابه وُ رضي الله عنهم نه مال واسباب او منصب نه غواړي څرنګه چي فلانی فلانی يي غواړي ③ حضرت ابودرداء رضي الله عنه په دي اوريدو سره. اوويل ازه د چا نه د مال ودولت، خواهش كولو او د هغه د جمع كولو نه ځكه پرهيز كوم چي[ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي ④ ياد لره ستا مخكي يو دشوار ګذار سخت كندو دي ⑤ د دي نه هغه خلق په آساني او سهولت سره نشي تيريدی چي ګران بارو الاوي [يعنى چا سره چي ډير مال وي]] ، ⑥ نو زه داخوښوم چي مال ودولت نه ډډه كولو سره او كم نه كم دنياوي مال واسباب باندي صبر او قناعت كولو سره سپك يم چي دي كندو نه آساني او سهولت سره تيرشم.

حل اللغات: - ① عَقَبَةٌ: دَ غر اوچتي غونډئ وائي، ② كَؤُودًا: دَ باب فتح نه مصدر دي چه دَ سختئ او مشقت په معنى كښي دي ③ الْمُثْقَلُونَ: دَ باب افعال نه دي، دروند بوج اوچتونكي خلق.

تسهيلات:

د بعضي مشكلو جملو وضاحت:

① عَقَبَةً كَؤُودًا: دلته دَ دغه مشكل غونډئ نه دَ مرګ سختي او دَ قبر احوال او دَ ميدان محشر مصيبتونه مراد دي.

② لَا يَجُوزُهَا الْمُثْقَلُونَ: دلته دَ حب دنيا او حب جاه درونډ بوج اوچتونكي خلق مراد دی. هم په دي وجه وئيلی شوی دی "فاز المخفون وهلك المثقلون".

[۵۰۰۵] د دنيادارد ګناه څخه د بچ كيدو كم امكان

[۱]) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۴۰۸

٥٠٠٥-()[٥١] ⑴ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "⑵«هَلْ مِنْ أَحَدٍ يَمْشِي عَلَى الْمَاءِ إِلَّا ابْتَلَّتْ قَدَمَاهُ؟ ⑶". قَالُوا: لَا، يَا رَسُولَ اللهِ! ⑷ قَالَ: "كَذَلِكَ صَاحِبُ الدُّنْيَا لَا يَسْلَمُ مِنَ الذُّنُوبِ»" ⑸ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ⑴ او حضرت انس ﷺ وايي، يوه ورځ مجلس نبوي کې موجود صحابه ﷺ نه رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه، ⑵ آيا يو سړی اوبو باندې داسې تلی شي چې د هغه پښې لندې نشي، ⑶ صحابه وو ﷺ عرض وکړو يارسول الله داسې خو ممکن نه دي، ⑷ رسول الله ﷺ ورته وفرمايل، داحال د دنيا دار دی، چې هغه د ګناهونو نه محفوظ او سلامت نشي پاتې کيدی، ⑸ دا دواړه روايتونه بيهقي ﷺ په شعب الايمان کې نقل کړی دی.

تسهيلات:

قوله: كَذَلِكَ صَاحِبُ الدُّنْيَا لَا يَسْلَمُ مِنَ الذُّنُوبِ:

د دنيا دار د ګناه څخه د بچ کيدو کم امکان: يعنی په سمندرباندې يا چرته په اوبوباندې تيريدونکې سړې دَ اوبو دَ لوندوالی نه بچ کيدې نه شی. دغه شان په دنيا کښې پريونکې سړې دَ ګناهونونه محفوظ نه شی پاتې کيدې.

[٥٠٠٦] د نبی عليه السلام شان عبادت

٥٠٠٦-()[٥٢] ⑴ وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ مُرْسَلًا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⑵ "«مَا أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ أَجْمَعَ الْمَالَ وَأَكُونَ مِنَ التَّاجِرِينَ، ⑶ وَلَكِنْ أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ: سَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَكُنْ مِنَ السَّاجِدِينَ ⑷ ﴿وَاعْبُدْ رَبَّكَ حَتَّى يَأْتِيَكَ الْيَقِينُ﴾ [الحجر: ٩٩]» ⑸ رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ) وَأَبُو نُعَيْمٍ فِي (الْحِلْيَةِ) عَنْ أَبِي مُسْلِمٍ.

ترجمه: ⑴ او جبير ابن نفير (تابعي ﷺ) بطريق ارسال روايت کوي، رسول الله ﷺ وفرمايل ⑵ په ماباندې دا وحي نه ده نازله شوي، چې زه مال ودولت جمع کړم، او تاجر جوړ شم، ⑶ بلکي په ماباندې دا وحي نازله شوي ده، چې ته د خپل پروردګار حمد او تعريف سره د هغه پاکي بيانوه او سجده کونکو (يعني مونځ ګذارو) نه جوړ شه، ⑷ او د خپل رب عبادت کې مشغول اوسه، تردې چې ستا ددنياوي ژوند آخري وخت راشي، ⑸ دا حديث بغوي ﷺ په شرح السنه کې او ابونعيم کتاب حليه کې د ابومسلم نه نقل کړی دی.

حل اللغات: - ① الْيَقِينُ: د ژوند آخری وخت يعنی مرګ،

تسهيلات:

قوله: مَا أُوحِيَ إِلَيَّ أَنْ أَجْمَعَ الْمَالَ:

---

[1]) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ١٠٤٥٧

[2]) اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم الحديث ٤٠٣٦

د نبی علیه السلام د ژوند مقصد: یعنی زما د ژوند مقصد تجارت او مال جمع کول نه دی بلکه زما د ژوند مقصد دعوت او تبلیغ او د الله تعالی اطاعت دې لهذا د نبی کریم ﷺ د ضرورت په اندازه خپل ځان سره مال ساتل هم اطاعت خداوندی دپاره وو

[۵۲۰۷] په جائزه طریقه د مال ګټلو فضیلت

۵۲۰۷-() [۵۳] ⟦۱⟧ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ⟦۲⟧ «مَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلَالًا ⟦۳⟧ اسْتِعْفَافًا عَنِ الْمَسْأَلَةِ، ⟦۴⟧ وَسَعْيًا عَلَى أَهْلِهِ، ⟦۵⟧ وَتَعَطُّفًا عَلَى جَارِهِ، ⟦۶⟧ لَقِيَ اللَّهَ تَعَالَى يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَوَجْهُهُ مِثْلُ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ. ⟦۷⟧ وَمَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلَالًا، ⟦۸⟧ مُكَاثِرًا، مُفَاخِرًا مُرَائِيًا ⟦۹⟧ لَقِيَ اللَّهَ تَعَالَى وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ». ⟦۱۰⟧ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ)، وَأَبُو نُعَيْمٍ فِي (الْحِلْيَةِ).

ترجمه: ⟦۱⟧ او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ⟦۲⟧ کوم سړی چې جائز وسائل او ذرائع سره د دنیا مال واسباب حاصل کړي، ⟦۳⟧ چې د چا په مخکې د لاس غزولو د ذلت نه بچ شي، ⟦۴⟧ او دخپل اهل وعیال ضروریات ژوند پوره کړي شی ⟦۵⟧ او خپل ګاونډي سره احسان کولو د خاطره [مال حاصل کړي] ، ⟦۶⟧ هغه به د قیامت په ورځ الله سره داسې حال کې یوځای شي، چې د هغه مخ به د (کمال نور او ډیر مسرت او سرور په وجه) د څوارلسمې شپې د سپوږمی په شان روښانه او منور وي ⟦۷⟧ او کوم سړی چې جائز وسائل او ذرائعو سره هم د دنیا مال واسباب حاصل کړي، ⟦۸⟧ خو په مال ودولت کې اضافه کولو (خپل امارت او دولت مندی په ذریعه غرباء او فقراء باندې) فخر کولو او محض خپل اثر او رسوخ قائمولو د پاره [صدقه او خیرات او داد ودهش صورت کې نام ونمود دپاره. حرام وسائل او ذرائع خو جدا دي] ، ⟦۹⟧ نو هغه به الله ﷻ سره په داسې حال کې یوځای شي. چې الله ﷻ به په هغه غضبناک وي، ⟦۱۰⟧ دا روایت بیهقي رحمه الله په شعب الایمان کې او ابونعیم خپل کتاب حلیه کې نقل کړی دی.

تسهیلات:

قوله: مَنْ طَلَبَ الدُّنْيَا حَلَالًا..الخ:

د ګټلو درې مقاصد:

① خپل ذات دپاره دا واجب دی.

② د خپل اهل وعیال د حقوقو ادا کولو دپاره دا هم واجب دی.

③ د ګاونډیانو د حقوقو ادا کولو دپاره. دا مستحب دی.

قوله: وَوَجْهُهُ مِثْلُ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ:

[1] اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۱۰۳۷۵

دمالي حقوقو ادا كونكى اعزاز: يعنى د الله تعالى د رحمت او د زړه د خوشحالى په وجه به د هغې مخ منور وى، ددې حديث نه دا معلومه شوه چه د دنيا جمع كولو په غرض مال ګټل جائز نه دى او د خير په نيت سره دنيا ګټل عبادت دې بد كار نه دې ځكه چه مال خير د ډيرو عباداتو ذريعه ده

قوله: لَقِيَ اللّٰهَ تَعَالٰى وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ:

په غلطو اغراضودپاره د دنيا ګټلو وعيد: يو كس د غرور او تكبر دپاره حلال مال جمع كول هم بد دى نو حرام مال په غلط نيت سره جمع كول په طريق اولى بد دې او د قيامت په ورځ به د ذلت او رسوائى باعث وى.

[۵۲۰۸] د خير او شر خزانې او دهغې كنجيانې

۵۲۰۸-(۱)[۵۳] ① وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«إِنَّ هٰذَا الْخَيْرَ خَزَائِنُ، ③ لِتِلْكَ الْخَزَائِنِ مَفَاتِيحُ، ④ فَطُوبَى لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللّٰهُ مِفْتَاحًا لِلْخَيْرِ ⑤ مِغْلَاقًا لِلشَّرِّ ⑥ وَوَيْلٌ لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللّٰهُ مِفْتَاحًا لِلشَّرِّ ⑦ مِغْلَاقًا لِلْخَيْرِ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت سهل ابن سعد رضي الله عنه نه روايت دى رسول الله ﷺ وفرمايل ② دا خير (يعني مال ودولت) خزاني دي، ③ او دي خزانو د پاره كنجياني دي، [يعني الله چې خپل كوم نيك او مخير بندګان مال ودولت سره نوازي، هغوئ ګويا د هغه الله خزانو كنجياني دي چې د هغوئ د مالي عطيات او صدقه او خيرات په ذريعه فقير، مفلس او ضرورت مند بندګانِ خدا ته فائده رسوي] ④ نو [د دنيوي كاميابي، ترقي او د اخروي فلاح وسعادت] بشارت دي وي، هغه بنده ته چې د خير كنجي جوړ شو ⑤ او د شر قلف جوړ شو ⑥ اوتباهي دي وي هغه سړى ته چې دخير قلف جوړ شو ⑦ اود شر كيلي جوړه شو. (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① خَزَائِنُ: خزاني، ② فَطُوبَى: خوشحالى او زيرې دې وى، ③ مِفْتَاحًا: چابى. كنجى. ④ مِغْلَاقًا: قلف، تاله. ⑤ وَيْلٌ: تباهى ده.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ هٰذَا الْخَيْرَ خَزَائِنُ، لِتِلْكَ الْخَزَائِنِ مَفَاتِيحُ:

دمذكوره جملې تركيب: دادَ خزانة جمع ده خزانه جمع كړې شوى مال ته وائى اودا لفظ دَ "إنّ" دَپاره خبر دې او "هذا الخير" دَدې اسم دې. "لتلك الخزائن" اسم اشاره اومشاره اليه دواړه خبرمقدم دې اومفاتيح دَدې دَپاره مبتداء مؤخرده

د خير نه مراد: دَخيرنه مراد دَ مال خزانې او انبارونه دى كوم چه انسان راجمع كړى دى

[۱] اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم باب من كان مفتاحًا للخير (رقم-۲۳۸)

او الله تعالى پيدا كړی دی علامه طيبي رحمه الله ليكي چه په مال باندې د خير اطلاق هغه صورت كښې كيږی كله چه هغه زيات او كثير وی

قوله: فَطُوبَى لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللهُ مِفْتَاحًا لِلْخَيْرِ مِغْلَاقًا لِلشَّرِّ:

ديندار مالدار كه د نيكئ كنجي: دا اموال كثيره د خزانو په صورت كښې دی كوم چه الله تعالى پيدا كړی دی اود الله تعالى د طرفه د هغه بنديگان په دغه خزانو باندې مقرر او وكيلان دی لكه چه د دغه خزانو په كولاوولو اوبندولو كښې د كنجيانو په شان دی نو هغه بنده د مباركئ مستحق دې چالره چه الله تعالى په هره نيكئ كښې يعنی د مال خرچ كولو د پاره كنجی جوړ كړې دې چه د دې خزانې مال په نيكئ او د ښيگړې په كاركښې خرچ كوی اودې الله تعالى د شر اود فساد دروازه د بندولو كنجی جوړ كړې دې چه دا مال په غلطه طريقه نه خرچ كوی اود بخل او كنجوسئ نه كار نه اخلی.

قوله: وَوَيْلٌ لِعَبْدٍ جَعَلَهُ اللهُ مِفْتَاحًا لِلشَّرِّ مِغْلَاقًا لِلْخَيْرِ:

گناهگار مالدار كه د گناه كنجي: اود هغه بنده د پاره دې هلاكت وی څوك چه الله تعالى د شر او فساد خورولو د پاره كنجی جوړ كړې دې اود نيكئ د دروازوې بندولو د پاره ئی كنجی جوړ كړې دې يعنی دا مالونه د خير په لاركښې نه خرچ كوی اود شر په لاروكښې ئی ښه په كولاؤ زړه سره خرچه كوی. د دې حديث نه معلومه شوه چه د انسان گټلې شوې مال د جنت او دوزخ دواړه د پاره يوه لويه پرده ده. دا مال د دوزخ د اور د پاره هم پرده جوړيدې شی چه د دې په ذريعه ثواب اوگټلې شی اوهم دغه مال د جنت د پاره هم پرده جوړيدې شی چه د دې په ذريعه سره گناه اوگټلې شی او دوزخ ته لاړ شی.

[۵۲۰۹] د بې بركته مال علامت

۵۲۰۹ -(¹) [۵۵] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ تَعَالَى عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "إِذَا «لَمْ يُبَارَكْ لِلْعَبْدِ فِي مَالِهِ [۳] جَعَلَهُ فِي الْمَاءِ وَالطِّينِ»".

ترجمه: [۱] حضرت علي رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل، [۲] هركله چې د يو بنده مال ودولت كې بركت ورنه كړې شي [يعني هغه ته خپل مال او روپی پيسي د خير ښيگڼې امورو اود عقبٰی ښائسته كونكو خيزونو كې د خرچ كولو توفيق نه نصيب كيږي] [۳] نو هغه. هغه مال اوبو او خاوروكي يو ځاى كوي، [يعنی خپل دولت د ضرورت نه زيات عمارتونو جوړولو او د هغه زينت او آرائش كې خرچ كړي].

حل اللغات: - ① الطِّين: خاوره، خته.

¹) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۷۱۹

تسهیلات:

قوله: إِذَا لَمْ يُبَارَكْ لِلْعَبْدِ فِي مَالِهِ...الخ:

په آبادئ کښې د پيسو لګولو كراهت: د حديث الباب مطلب دا دې چه مال په دنيا او آخرت کښې د ذلت او رسوائی سبب جوړيږی نو په دنيا کښې د فقر ذلت او په آخرت کښې د بے صبری او بې شکری په وجه د جهنم عذاب او ددې ذلت اعاذنا الله من ذالك.

[۵۳۱۰] په تعمير كولو كښې د حرام مال نه پرهيز كول پكار دي

۵۳۱۰-(۱)[۵۲] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«اتَّقُوا الْحَرَامَ فِي الْبُنْيَانِ; ③ فَإِنَّهُ أَسَاسُ الْخَرَابِ»" ④ رَوَاهُمَا الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما نه روايت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل. ② اې خلقو! تاسو عمارتونو کښې حرام مال خرچ كولو نه پرهيز وكړئ، ③ ځكه چې عمارتونو کښې حرام مال لګول ددين يا د هغه عمارت د خرابې بنياد او ويخ دی، ④ دا دواړه روايتونه بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کښې نقل کړی دی.

حل اللغات: - ① اَلْبُنْيَانُ: آبادی، عمارتونه، ② أَسَاسُ: بنياد، اصل، ③ الْخَرَابِ: بې كاره

تسهیلات:

د بعضې مشكلو جملو وضاحت:

① **اتَّقُوا الْحَرَامَ فِي الْبُنْيَانِ:** ددې جملې يو مطلب دادې چه په تعميراتو کښې حرام مال لګولو نه ځان اوساتئ دا معنی بعيده ده. دويمه معنی داده چه په تعميراتو کښې داسې د حد نه تجاوز مه كوئ چه هغه تعمير د حرام په زمره کښې راشی. دا مطلب زيات واضح دې

② **فَإِنَّهُ أَسَاسُ الْخَرَابِ:** دا جمله ماسبق مفهوم باندې متفرع ده چه د تعميراتو انجام خو خرابې دې نو دا بې ځايه تكليف ولې كوئ؟

[۵۳۱۱] مال او دولت جمع كول د بې عقلو خلقو كار دې

۵۳۱۱-(۲)[۵۳] ① وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ② "«الدُّنْيَا دَارُ مَنْ لَا دَارَ لَهُ، ③ وَمَالُ مَنْ لَا مَالَ لَهُ، ④ وَلَهَا يَجْمَعُ مَنْ لَا عَقْلَ لَهُ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ① او بی بی عائشه رضی الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روايت كوي، حضور صلی الله علیه وسلم وفرمايل، ② دنيا د هغه سړی كور دی، چې د هغه د پاره (په آخرت کښې) كور نه وي، ③ او مال د هغه

(۱) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۷۲۲

(۲) اخرجه احمد فى المسند: ۷۱/۶ والبيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۶۳۸

سړي دی، چې د هغه د پاره (په آخرت کې) مال نه وي،[۳] او مال ودولت هغه کس جمع کوي، چې د هغه عقل نه وي (احمد ، بیهقي)

تسهیلات:

قوله: الدُّنْيَا دَارُ مَنْ لَا دَارَ لَهُ:

د موضوع عنوان: امام طیبی رحمه الله فرمائي چه د اول دار نه مراد دنیاوی کور دې کوم کښې چه انسان په عیش او عشرت سره اوسیږی یعنی دنیا لره د عیش ځائی هم هغه کس ګڼړی د کوم په مقدر کښې چه د آخرت عیش نه وی ځکه چه دینا دارالعمل دې لهذا کوم کس چه په دنیا کښې کور (عیش وعشرت) اختیار کړو نو دغه کس دپاره په آخرت کښې کور نشته. "لقوله تعالٰی "وان الدار الاخرة لهی الحیوان لوکانوا یعلمون.(الایة)

قوله: وَمَالُ مَنْ لَا مَالَ لَهُ:

ددنیا مالداری د بل چا دپاره: ددې مطلب دا دې چه د کوم کس سره د دنیا مال او اسباب وی او هغه دا د الله تعالی په لاره کښې خرچ نه کړی بلکه دا د دنیا په عیش او عشرت کښې خرچ کړی نو ګویا چه دده مال د مالیت حکم نه خارج دې لهذا دا د هغه کس په شان شو کوم سره چه بالکل مال نه وی، د مشکوة په بعضې حواشی کښې لیکلی دی چه ددې ارشاد مبارک مطلب دا دې چه د دنیا کور او د دنیا مال ډیر زر فناء کیدونکې دې او ددې هیڅ حیثیت او وقعت نشته ددې وجهې نه دې ته کور او مال نه دې وئیل پکار

قوله: وَلَهَا يَجْمَعُ مَنْ لَا عَقْلَ لَهُ:

د دنیا دپاره عمل د غافل کار: ددې مطلب دا دې چه کوم کس خالص ددې دپاره مال او دولت جمع کوی چه ده ته دنیا ډیره خوښه وی او دا مال همیشه دپاره ځان سره د ساتلو نیت لری یا خالص دنیاوی لذت وخواهشات دده په نظر کښې وی نو داسی کس ته عقل مند او دانش مند وئیل صحیح نه دی، ددې نه معلومه شوه چه غافل سړي د دنیاوی عیش او آرام دپاره مال جمع کوی او مومن د آخرت دپاره مال جمع کوی لهذا غافل بے قوف شو او مومن عقل مند شو. په ددې وجه نه ئي اوفرمائیل چه عقل مند هغه دې کوم چه د مرګ نه وړاندې د مرګ دپاره تیاری وکړی او بے وقوف هغه دې کوم چه د خپلو خواهشاتو تابعداری کوی او بیا هم د الله تعالی نه امید لری.

[۵۲۳] شراب د ټولو ګناهونو مجموعه ده

۵۲۳-(¹)[۵۸] [۱] وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: «سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ فِي

¹) رواه رزين

خُطْبَتِهِ[۲] "اَلْخَمْرُ جِمَاعُ الْإِثْمِ[۳] وَالنِّسَاءُ حَبَائِلُ الشَّيْطَانِ[۴] وَحُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ" [۵] قَالَ: وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ:[٦] "اَخِّرُوا النِّسَاءَ حَيْثُ أَخَّرَهُنَّ اللّٰهُ»". رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه:[۱] او حضرت حذيفه رضي الله عنه وايي، ما د رسول الله ﷺ نه د يوي خطبي په دوران كي واوريدل [۲] (ياد لرئ) شراب څكل د ګناهونه مجموعه ده، [يعنى شراب د ټولو خرابيو بيخ دى، ځكه چي شراب څكلو سره قسم قسم ګناهونه سرزد كيږي] .[۳] او ښځي د شيطان جالونه دي،[۴] او د دنيا محبت د هري ګناه سر دى.[۵] حضرت حذيفه رضي الله عنه وايي. ما دحضور ﷺ نه دا هم اوريدلي دي،[٦] چي ښځي مؤخر كوى څرنګه چي الله تعالى مؤخركړي دي، [يعنى په قرآن كريم كي چيرته چي د ښځو ذكر راغلى دى، د سړو نه پس دى، دغه شان دشاهدى، جماعت او د فضيلت مرتبه كي هغوئ د سړو نه پس ايخودل شوي دي نو تاسو هم په دي څيزونو كي هغوئ مه مقدم كوئ او په سړو فضيلت مه وركوئ] . رزين دا پوره روايت نقل كړى دى.

حل اللغات: - ① جِمَاعُ: په جيم باندي كسره ده دَ جمع كولو په معنى كښي دي. ② اَلْإِثْمِ: ګناه. ③ حَبَائِلُ: جالونه، دامونه، ④ رَأْسُ: سر، بنياد، ⑤ أَخِّرُوا: روستو كړئ.

تسهيلات:

قوله: اَلْخَمْرُ جِمَاعُ الْإِثْمِ: مطلب دا چه شراب څكل دَ ټولو ګناهونو جرړه ده. دَ هر قسم فحاشئي او دَهرقسم قتلونو بنياد شراب دي ځكه چه كله عقل لاړشي نو انسان هره ګناه كولي شي. عقل خو بريك دي چه كله بريك فيل شى نو ګاډي يا انسانى ډهانچه هريو ديوال سره جنګيږي.

۵۲۲-(۱) [۱] وَرَوَى الْبَيْهَقِيُّ مِنْهُ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ) عَنِ الْحَسَنِ مُرْسَلًا: "«حُبُّ الدُّنْيَا رَأْسُ كُلِّ خَطِيئَةٍ»".

ترجمه:[۱] او بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كي د حضرت حسن بصري رحمه الله نه بطريق ارسال د روايت صرف دا حصه نقل كړي ده، چي حُبُّ الدنيا رءس كل خطيئة.

[۵۲۳] د دوو خوفناكو څيزونو ذكر

۵۲۳-(۲) [۵۹۱] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:[۲] "«إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَتَخَوَّفُ عَلَى أُمَّتِي[۳] اَلْهَوَى وَطُولُ الْأَمَلِ[۴] فَأَمَّا الْهَوَى فَيَصُدُّ عَنِ الْحَقِّ،[۵] وَأَمَّا طُولُ الْأَمَلِ فَيُنْسِي الْآخِرَةَ، وَهٰذِهِ الدُّنْيَا مُرْتَحِلَةٌ ذَاهِبَةٌ،[۷] وَهٰذِهِ الْآخِرَةُ مُرْتَحِلَةٌ قَادِمَةٌ،[۸] وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بَنُونَ،[۹] فَإِنِ اسْتَطَعْتُمْ أَنْ لَا تَكُونُوا مِنْ بَنِي الدُّنْيَا فَافْعَلُوا،[۱۰] فَإِنَّكُمُ الْيَوْمَ فِي دَارِ الْعَمَلِ وَلَا حِسَابَ،[۱۱] وَأَنْتُمْ غَدًا فِي دَارِ الْآخِرَةِ وَلَا عَمَلَ»

[۱] اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۵۰۱
[۲] اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۶۱۶

".رواه البيهقي في "شعب الإيمان".

ترجمه: ①او حضرت جابر وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ②د خپل امت باره کې دکومو دوو ځيزونونه چې زه ډير زيات وېرېږم، ③په هغه کې يو خو خواهش دنفس دی، دويم [تاخير عمل او نيکيو نه د غفلت په ذريعه] د عمر د اوږدوالی ارزو ده، ④نو د نفس خواهش (چې د حق مخالف او د باطل موافق دی) دحق قبلولو او په هغه دعمل کولو نه منع کوی، ⑤او ترخوپوري چې د اوږدوالی عمر د ارزو تعلق دی، نو هغه آخرت هيروي، ⑥او ياد لرئ دا دنيا کوچ کولو سره تلونکي ده ⑦او آخرت کوچ کولو سره راتلونکې دې [يعنی دا دنيا لمحه به لمحه تيريږي او آخرت لمحه په لمحه ستاسو طرف ته راروان دی] ⑧او دي دواړو (يعني دنيا او آخرت) کې د هر يو ځامن دی [يعنی څه خلق خو هغه دی، چې د دنيا تابع او محکوم او د هغه دوستي لرونکي دي، ګويا هغوئ د دنيا ځامن دي او څه خلق هغه دي، چې د آخرت محکوم او تابع او د هغه دوست او طلبګار دی، ګويا هغوئ د آخرت ځامن دي] ⑨نو که تاسو نه داکيدي شي، چې تاسو د دنيا ځامن جوړ نه شی نو داسې ضرور وکئ [يعنی داسې کار وکئ او داسې لار باندې روان شئ چې د دنيا دباو په تاسو اونه چليږي او تاسو د هغه د اتباع او فرمانبرداري او د هغه د محبت د دائري نه وتلو سره د آخرت تابع او محکوم او د هغه طلبګار جوړ شئ] ⑩ځکه چې تاسو نن په دنيا کې يې چې دار العمل يعنی د کار ځای دی، چيرته چې دعمل حساب نشي اخستی [نو دا موقع غنيمت وګنئ اود اجل راتلو نه مخکې عمل وکئ] ⑪هرکله چې تاسو به صباته د آخرت کورته لاړشئ، نو هلته به د عمل موقع پيدا نه کي. بلکي هلته به محاسبه وی (بيهقي)

حل اللغات: - ①أخوف: زيات ويرونکې. ②الهوى: د نفس خواهش. ③الأمل: اميدونه. ④يصد: منع کوی. بندوی. ⑤مرتحلة: کوچ کونکې، واپس تلونکې. ⁶ذاهبة: تلونکې. ⑦قادمة: راتلونکې. ⑧بنون: ځامن. يعنی تابعدار دی.

تسهيلات:

قوله: أخوف على أمتي الهوى وطول الأمل:

په امت باندې د دوو ځيزونو ويره: د حديث الباب حاصل دا دې چه نبی کريم ﷺ ارشاد اوفرمائيلو چه زه د امت نه د دوه ځيزونو متعلق خوف او ويره لرم ① خواهش نفس ② اوږده اميدونه دا دواړه ځيزونه داسی دی کوم چه انسان د نيکونه لری کوی.

قوله: وهذه الدنيا مرتحلة ذاهبة: يعنی دنيا او آخرت دواړه په حرکت کښې دی خو دنيا تلونکې ده او آخرت راتلونکې دې او دنيا چه لاړه شی نو واپس به نه راځی او آخرت چه

راشي نو واپس به نه ځي، او په دنيا کښې عمل شته، حساب نشته او په آخرت کښې حساب شته، عمل نشته.

قوله: لَا تَكُونُوا مِنْ بَنِي الدُّنْيَا: يعنى تاسو دنيا والا مه جوړيږى بلکه دنيا دې ستاسو تابعداره جوړه شي او کوم کس چه د الله تعالى شي نو ټوله دنيا د هغه شى کما في الحديث "من كان لله كان الله له.

[۵۲۱۵] دنيا د عمل ځاى دى

۵۲۱۵-() [۲۰] [۱] وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: ارْتَحَلَتِ الدُّنْيَا مُدْبِرَةً، [۲] وَارْتَحَلَتِ الْآخِرَةُ مُقْبِلَةً، [۳] وَلِكُلِّ وَاحِدَةٍ مِنْهُمَا بَنُونَ، [۴] فَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الْآخِرَةِ، [۵] وَلَا تَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الدُّنْيَا ; [۶] فَإِنَّ الْيَوْمَ عَمَلٌ وَلَا حِسَابَ، [۷] وَغَدًا حِسَابٌ وَلَا عَمَلَ. [۸] رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي تَرْجَمَةِ بَابٍ.

ترجمه: [۱] او حضرت علي رضی الله عنه نه بطريق موقوف روايت دى، هغوئ وفرمايل دا دنيا کوچ کولو سره مخ ګرځوي روانه ده، [۲] او آخرت اخوا نه کوچ کولو سره مونږ طرف ته مخ کړې راروان دى [يعني د دنيا زمونږ طرف نه مخ ګرځولو سره خپلي فناء طرف ته مخکښې کيدل او د آخرت خپلي بقاء سره زمونږ طرف ته متوجه کيدل ښکاره کېږي] [۳] او په دې دواړو (دنيا او آخرت) کې د هر يو ځامن دي، [۴] نو تاسو [نيک عمل اختيارولو سره او آخرت طرف ته متوجه کيدو سره] د آخرت ځامن جوړ شئ [۵] او [د آخرت نه بې پروا او دنيا طرف ته راغب او متوجه کيدو سره] د دنيا د ځامنو نه مه جوړيږئ [۶] ياد لرئ نن ورځ د عمل کولو ده، د حساب ورځ نه ده [يعني دا دنيا دار العمل دى، دار الحساب نه دى. دلته بس زيات نه زيات نيک عمل کوئ] [۷] او صباته د قيامت په ورځ به د حساب ورځ وي، دعمل کولو به نه وي، [۸] دا روايت امام بخاري رحمه الله په ترجمة الباب کې نقل کړى دى.

حل اللغات: - ① ارْتَحَلَتْ: کوچ کوى، واپس ځي، ② مُدْبِرَةً: په شا تلونکې. واپس ګرځيدونکې. ③ مُقْبِلَةً: راتلونکې.

تسهيلات:

قوله: رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ فِي تَرْجَمَةِ بَابٍ: "أي من غير ذكر اسناد في كتاب" يعنى امام بخارى رحمه الله دا روايت په خپل کتاب کښې د يو باب په عنوان سره بغير سند نه د حضرت على رضی الله عنه نه موقوف نقل کړې دې ليکن ددې نه مخکې د حضرت جابر رضی الله عنه کوم روايت چه نقل شوې دې، هغې نه ثابتيږى چه د حضرت على رضی الله عنه روايت په اصل کښې مرفوع دې يعنى د نبى کريم صلی الله علیه وسلم فرمان دې ګويا چه حضرت على رضی الله عنه چه کوم مضمون نقل کړې دې دا هغه دې کوم چه د حضرت جابر رضی الله عنه په روايت کښې منقول دې.

[۱] اخرجه البخارى فى كتاب الرقاق/باب فى الأمل وطوله

قوله: أَنْتُمْ مَعْرُوضُونَ عَلَى أَعْمَالِكُمْ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال:

① ستاسو اعمال به تاسو ته وړاندې کړی شي

② تاسو به د خپل رب مخکې د اعمالو سره پیش کیږی

نو به دې دواړو تراجمو کښې دویمه ترجمه ډیره صحیح او وزنی ده او په دې صورت کښې به مطلب دا شي چه کله تاسو د خپل رب مخکې اودریږی نو تاسو ته به د خپلو اعمالو مطابق سزا او جزاء ملاوشي

[۵۲۱۷] د دنیا تابعدار مه جوړیږئ د آخرت تابعدار جوړ شئ:

۵۲۱۷-(۱) [۶۲] ١ وَعَنْ شَدَّادٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: ٢ "«يَا أَيُّهَا النَّاسُ! إِنَّ الدُّنْيَا عَرَضٌ حَاضِرٌ، ٣ يَأْكُلُ مِنْهَا الْبَرُّ وَالْفَاجِرُ، ٤ وَإِنَّ الْآخِرَةَ وَعْدٌ صَادِقٌ، ٥ يَحْكُمُ فِيهَا مَلِكٌ عَادِلٌ قَادِرٌ، ٦ يُحِقُّ فِيهَا الْحَقَّ، وَيُبْطِلُ الْبَاطِلَ، ٧ كُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الْآخِرَةِ، ٨ وَلَا تَكُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الدُّنْيَا، ٩ فَإِنَّ كُلَّ أُمٍّ يَتْبَعُهَا وَلَدُهَا»".

ترجمه: ١ او حضرت شداد رضی الله عنه وايي، ما د رسول الله ﷺ نه دا واوریدل ٢ اې خلقو بلاشبه دا دنیا یوه ناپائیداره متاع ده، ٣ چې په هغه کې نیک وبد (یعنې مؤمن او کافر) دواړه خوري، ٤ او بلاشبه آخرت یوربښتنی او یقیني طور سره پوره کیدونکې وعده ده. ٥ آخرت کې هرقسم قدرت لرونکې او عدل وانصاف کونکې بادشاه به خپل حکم کوی ٦ او د فیصلې په ذریعه به حق ثابت کړي، او باطل به ختم کړي [یعنې د ثواب او عذاب په ذریعه اهل حق او اهل باطل به د یوبل نه جدا کړیا ٧ تاسو د آخرت ځامن جوړ شئ. ٨ او د دنیا ځامنو کې ځان مه شمیرئ ٩ ځکه چې د هري مور خوی د هغه تابع وي.

تسهیلات:

قوله: كُونُوا مِنْ أَبْنَاءِ الْآخِرَةِ: چه تاسو د آخرت ځامن جوړ شی د دنیا ځامن مه جوړیږی. یعنی که د دنیا په طلبګاری او محبت کښې مشغوله اوسیږی نو دوزخ ته به ځی. ځکه چه د باطل دنیا استوګنه دوزخ دې او که تاسو د آخرت ځامن جوړیږی یعنی د آخرت طلب او اخروی امور په صحیح طریقې سره کوی نو جنت ته به ځی

[۵۲۱۸] غوره مال هغه دې چې لږ وی او کافی وی

۵۲۱۸-(۲) [۶۳] ١ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "٢ «مَا

(١) ابو نعیم فی الحلیه ١/ ٢٦٤

(٢) اخرجه احمد فی المسند: ١٩٥/٥

طَلَعَتِ الشَّمْسُ إِلَّا وَبِجَنْبَتَيْهَا مَلَكَانِ يُنَادِيَانِ، [۳] يُسْمِعَانِ الْخَلَائِقَ غَيْرَ الثَّقَلَيْنِ: [۴] يَا أَيُّهَا النَّاسُ! هَلُمُّوا إِلَى رَبِّكُمْ، [۵] مَا قَلَّ وَكَفَى خَيْرٌ [۶] مِمَّا كَثُرَ وَأَلْهَى» "[۷] رَوَاهُمَا أَبُو نُعَيْمٍ فِي (الْحِلْيَةِ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابودرداء ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] كله چې نمر راخيژي، د هغه دواړه طرف ته دوه فرښتې وي، چې اعلان كوي [۳] او د جن او اخيتې نه علاوه نور ټول، مخلوق ته اوروي [يعني د هغوئ اعلان جنات او انس نه اوري. باقي ټول مخلوق يې اوري او هغه اعلان داوي] [۴] اې خلقو! خپل پروردګار طرف ته راشئ. [يعنى د خپل پروردګار د احكامو اتباع كوئ يا دا معنى ده، چې هر طرف نه بې تعلقي اختيارولو سره خپل رب طرف ته رجوع وكړئ، څرنګه چې قرآن كريم فرمايلي دي ﴿وَتَبَتَّلْ إِلَيْهِ تَبْتِيلًا﴾] [۵] او [په دې خبره پوهه شئ] چې كوم مال قليل وي، او [د ديني معاملاتو تكميل يا د زاد عقبٰى (د آخرت د توښې) په طور] كفايت كوي، هغه د هغه مال نه ډير زيات ښه دى [۶] چې زيات وي، اود عباداتِ خداوندي نه يې منع كوي [او د اطمينان او سكون د ژوند نه يې محروم كوي] ، [۷] دا دواړه روايتونه ابونعيم كتاب حليه كې نقل كړي دي.

حل اللغات: - ① بِجَنْبَتَيْهَا: په دواړو طرفونو دهغې، ② يُنَادِيَانِ: آواز كوى دواړه. ③ يُسْمِعَانِ: آوروليې شى. ④ الثَّقَلَيْنِ: جنس او انس، ⑤ هَلُمُّوا: راشئ، ⑥ أَلْهَى: مشغوله ساتونكې، بې پرواه كونكې.

تسهيلات:

قوله: يُسْمِعَانِ الْخَلَائِقَ غَيْرَ الثَّقَلَيْنِ:

دجناتو او انسانانو نه اوريدو وجه: دٔ فرښتو آواز د انسانانو او جناتو نه علاوه ټول اورى ددې وجه دا ده چه دې آواز تعلق د علم غيب سره دې نو كه انسانان آواز واروى نو بيا به علم غيب پاتى نه شى او د سزا وجزا دارومدار په ايمان بالغيب دې نو ددې وجهې نه وئيلې شوى دې چه انسان باندې لازم دى چه ايمان بالغيب باندې يقين ولرى (والله اعلم)

اشكال: د فرښتو دا آواز لګول د انسانانو ته خبردارى دپاره دې نو كله چه انسانان او جنات دا آواز نه اورى نو بيا دوې څنګه خبرداره كيږى؟

داشكال جواب: ددې انحصار صرف د غوګ په اوريدلو باندې موقوف نه دې بلكه مطلب ئې دا دې چه انسان د په خبر دارى سره خبر شى او دا اطلاع او خبر د نبى كريم ﷺ په خبر وركولو او د هغوى په ارشاد فرمائيلو سره حاصل شو

دويم اشكال: په دې كښې صرف انسانانو ته خطاب ولې كړې شوې دې او جناتو ته ولى

خطاب نه دي کړې شوي؟

د دويم اشکال جواب: په انس او جن کښې ډير غافل انسان دې ځکه چه هم انسان د ډير مال ودولت حريص او د عقبیٰ نه غافل دې نو ددې وجهې نه صرف د انسان ذکر کړې شوې دې، خلاصه دا شوه چه ترڅو پورې انسان د دنيا په حاصلولو کښې مصروف او مشغول وی نو ددې انسان اخروی ژوند به تباه کيږی نو ددې وجهې نه انسان له پکار دی چه د دنيا لار پريږدی او د آخرت دپاره دې کوشش اوکړی او د آخرت په لاره کښې کاميابی ده.

[۵۲۳۹] د دنياوي مال او اسبابو د پاره د انسان حرص

۵۲۳۹-(۱)[۲۴] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- يَبْلُغُ بِهِ، قَالَ: ②(إِذَا مَاتَ الْمَيِّتُ قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ: مَا قَدَّمَ؟ ③وَقَالَ بَنُو آدَمَ: مَا خَلَّفَ؟". ④رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره رضی الله عنه نه روايت منقول دی چې هغه يې رسول ﷺ ته رسوي. [يعنی د حضور ﷺ ارشاد گرامي نقل کوي، چې حديث مرفوع ورته وايي]، هغه وايي، ② [د حضور ﷺ ارشاد گرامي دی]، چې کله يو سړی مري نو فرښتې خو دا وايي. چې دې سړي آخرت د پاره د اعمال خير په صورت کې څه ليږلی دي؟ ③ او هغه خلق يعنی د مړي وارثان او نور متعلقين وغيره دا پوښتنه کوي، چې دې سړي خپله ترکۀ ميراث کې څه پريښی دی [گويا د فرښتو نظر خو اعمال باندې وي، او د خلقو نظر دنياوي مال ومتاع باندې لگيدلی وی]، ④ دا روايت بيهقي رحمه الله په شعب الايمان کې نقل کړی دی

حل اللغات: - ① مَاقَدَّمَ؟: مخکښې ئې څه ليږلی دی؟ ② مَاخَلَّفَ؟: روسته ئې څه پريښې دی.

تسهيلات:

قوله: قَالَتِ الْمَلَائِكَةُ: مَاقَدَّمَ؟: يعنی کله چه انسان مرگ ته قريب شي نو خپلوانو سره ئې د ترکې (ميراث) فکر وی او د فرښتو په اعمالو باندې نظر وی او روح قبض کونکې فرښتې د قريب الموت د اعمالو په اعتبار سره راځی، نو که ښه اعمال وی نو د رحمت والا فرښته روح قبض کوی او که بد اعمال وی نو د عذاب والا فرښته روح قبض کوی.

[۵۲۴۰] آخرت ډير نزدې دی

۵۲۴۰-(۲)[۲۵] ① وَعَنْ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: أَنَّ لُقْمَانَ قَالَ لِابْنِهِ: ②(يَا بُنَيَّ! إِنَّ النَّاسَ قَدْ تَطَاوَلَ عَلَيْهِمْ مَا يُوعَدُونَ، ③وَهُمْ إِلَى الْآخِرَةِ، سِرَاعًا يَذْهَبُونَ، ④وَإِنَّكَ قَدِ اسْتَدْبَرْتَ الدُّنْيَا مُنْذُ كُنْتَ، ⑤وَاسْتَقْبَلْتَ الْآخِرَةَ، ⑥وَإِنَّ دَارًا تَسِيرُ إِلَيْهَا أَقْرَبُ مِنْ دَارٍ تَخْرُجُ مِنْهَا). رَوَاهُ رَزِينٌ.

---

(۱) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۴۷۵

(۲) رواه رزين

ترجمه: ① او امام مالك رحمه الله نه روایت دي چې (مشهور حکیم) حضرت لقمان رحمه الله خپل خوی ته اوویل ② اې خما خویه! د کومې خبرې (یعنې د مړو دوباره ژوندي کولو سره راپاڅول، حساب او ثواب وعذاب وغیره) چې خلقو سره وعده شوي وه، د هغه موده، (آدم نه تردې دمه) په هغه اوږده شوه، ③ حالانکې خلق تیزي سره آخرت طرف ته ځي، ④ او اې خما خویه! کوم وخت چې ته پیدا شوی وې، هغه وخت نه ستا شا دنیا طرف ته ده ⑤ او ستا رُخ آخرت طرف ته دی، (یعنې ته د خپل پیدائش د ورځې نه ګویا دنیا وروسته پریښې راروان یې آخرت ته په مخه روان یې) ⑥ او په دې کې هیڅ شك نشته چې کوم کور او مقام طرف ته روان یې، هغه تاته د دې کور او مقام په نسبت زیات نزدې دی، کوم چې ته پریخودلو سره ترې ځې. (رزین)

حل اللغات: - ① تَطَاوَلَ: اوږده شوه، ② سِرَاعًا: جلتئ او تیزئ سره، ③ اسْتَدْبَرْتَ: شا ګرځولې ده تا. ④ اسْتَقْبَلْتَ: مخ کړې دې تا،

تسهیلات:

قوله: وَإِنَّ دَارًا تَسِيرُ إِلَيْهَا أَقْرَبُ مِنْ دَارٍ تَخْرُجُ مِنْهَا:

د آخرت نزدیکت: یعنې قیامت لرې نه دې بلکه قریب دې او هر ساعت او هر لمحه هغه یوم موعود ته ورنیزدې کیږي په دې حدیث کښې اګر که دا خطاب خپلو ځامنو ته دې لیکن په حقیقت کښې ددې نه مراد عام دې،

قوله: وَإِنَّكَ قَدِ اسْتَدْبَرْتَ الدُّنْيَا مُنْذُ كُنْتَ، وَاسْتَقْبَلْتَ الْآخِرَةَ:

د هر انسان مخه د دنیا پاتې کیدل: یعنې کوم کس منزل مقصود طرف ته یو قدم اوچتوی نو دده منزل نیزدې کیږي، هم دغه شان چه کله انسان پیدا شي نو دده مراحل د آخرت طرف ته شروع شي او هر لمحه ده ته قیامت را نیزدې کیږي نو یو ورځ به داسې راشي چه هغه مسافت به پورا شي او منزل مقصود ته به اورسیږي.

دا خبره دې واضح وي چه هر راتلونکې ځیز قریب دې اګر که هغه لرې معلومیږي او هر تلونکې ځیز لرې دې اګر که هغه قریب معلومیږي، لهذا قبر او آخرت نیزدې دی او دواړه ځیزونه په جلدې سره را روان او دنیا په جلدې سره ځي.

[۵۲۳] صفا زړه والا انسان د ټولو نه غوره دې

۵۲۳-(¹)[۲۶] ① وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: «قِيلَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② أَيُّ النَّاسِ أَفْضَلُ؟ ③ قَالَ: "كُلُّ مَخْمُومِ الْقَلْبِ صَدُوقِ اللِّسَانِ". ④ قَالُوا: صَدُوقُ اللِّسَانِ نَعْرِفُهُ، فَمَا مَخْمُومُ

¹) اخرجه ابن ماجه فی السنن کتاب الزهد/باب الورع والتقوی(رقم-٤٢١٥)

الْقَلْبِ؟ ⑤قَالَ: "هُوَالنَّقِيُّ، التَّقِيُّ، لَا إِثْمَ عَلَيْهِ، ⑥وَلَا بَغْيَ، وَلَا غِلَّ، وَلَا حَسَدَ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَه، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "شُعَبِ الْإِيمَانِ".

ترجمه: ①او حضرت عبد الله ابن عمرو ﷺ وايي، يوه ورځ رسول الله ﷺ نه پوښتنه وشوه، ②چې کوم سړی ښه دی؟ ③حضور ﷺ وفرمايل، هرهغه سړی چې مخموم القلب [يعنی دپاك زړه خاوند وی] او د ژبي رښتيني وي ④په دي اوريدو سره صحابه و ﷺ عرض وکړو، د ژبي رښتيني خومونږپيژنو [هغه سړي ته وايي چې هيڅ کله دروغ نه وايي] ليکن مخموم القلب کوم سړي دي؟ ⑤حضور ﷺ وفرمايل داهغه سړی دی چې د هغه زړه پاك صاف وي، پرهيز ګار وي، هغه کې څه ګناه نه وي، ⑥هغه څه ظلم نه کوي، د حد نه تجاوز نه کوي، او په هغه کې کدورت او کينيه او د حسد ماده نه وي. (ابن ماجه وبيهقي)

حل اللغات: - ①مَخْمُومِ: دخم نه مشتق دې د کوم معنی چه صفا کول دی. دې نه پاك او صفا زړه مراد دې، ②النَّقِيُّ: پاک زړه والا، ③التَّقِيُّ: پرهيزګار، ④لَابَغْيَ: ظلم نه کوی. ⑤لَاغِلَّ: دحد نه زياتې نه کوی.

تسهيلات:

قوله: كُلُّ مَخْمُومِ الْقَلْبِ: دې نه هغه پاك او صفا زړه مراد دې په کوم کښې چه د غير الله هيڅ شك اوشبه نه وی اود غير الله د دوړو نه بالکل پاك او صفا وی. کوم چه په غلطو خيالاتو ګنده اخلاقو اود رذيل صفاتونه محفوظ وی هم دغې ته قلب سليم هم وئيلې شوې دې. په حديث کښې د دې تشريح پخپله موجود ده.

قوله: وَلَابَغْيَ: سرکشئی اوتجاوز ته بغی وئيلی شوی دی او د زړه خرابوالې او کينه ته غل وئيلې شوې دې اوحسد خو حسد دې.

[۵۲۲۳] څلور خبرې د دنيا د نفع او نقصان نه بې پروا جوړوي

۵۲۲۳-()[۱۷] ①وَعَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ②"«أَرْبَعٌ إِذَا كُنَّ فِيكَ فَلَا عَلَيْكَ مَا فَاتَكَ مِنَ الدُّنْيَا: ③حِفْظُ أَمَانَةٍ، ④وَصِدْقُ حَدِيثٍ، ⑤وَحُسْنُ خَلِيقَةٍ، ⑥وَعِفَّةٌ فِي طُعْمَةٍ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ①او حضرت عبد الله ابن عمرو ﷺ نه روايت دی، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ②اې خلقو! څلور خيزونه داسې دی. که په تاسو کې پيدا شي، نو د دنيا د فوت کيدو يانه فوت کيدو به تاسو ته هيڅ غم نه وي، ③[۱] يوخود امانت حفاظت کول [يعني د حقوق حفاظت او آدائيګی کول او د هغه حقوقو تعلق خواه دپروردګار سره وي يا بنده ګانو سره يادخپل نفس سره] ④[۲] دويم رښتيني خبره کول، ⑤[۳] دريم د اخلاقو ښه

[1]) اخرجه احمد في السند: ۱۷۷/۲ والبيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۵۲۵۸

کیدل، [۶] ۴ څلورم خوراك کښې احتیاط او پرهیزګاري اختیارول [یعني حرام او ناجائز طعام نه پرهیز کول، او زیات طعام نه پرهیز کولو سره بقدر حاجت او ضرورت باندې اکتفاء کول] (احمد، وبیهقي)

حل اللغات:- ① صِدْقُ حَدِيثٍ: رښتوني خبرې کول. ② حُسْنُ خَلِيقَةٍ: ښه اخلاقو والا. ③ عِفَّةٌ: پاکدامني. ④ طُعْمَةٍ: خوراک

تسهیلات:

قوله: أَرْبَعٌ إِذَا كُنَّ فِيكَ فَلَا عَلَيْكَ مَا فَاتَكَ:

دڅلورو صفاتو خپلولو ترغیب: مطلب دا دې چه د کوم کس ژوند په دې څلورو څیزونو باندې معمور شو نو ګویا چه هغه د اخروی نعمتونو جړ ونیولې[دې او د روحانی کمال درجه ئې حاصل کړه، ده قلب وباطن منور شو لهذا په دې صورت کښې که هغه د دنیا د ټولو نعمتونو او ټولو خواهشاتو او لذاتو نه محرومه شی نو دې هغه له غم او افسوس نه دی کول پکار.

[۵۲۲۳] دَدریو خبرو نصیحت

۵۲۲۳-(۱)[۶۸] [۱] وَعَنْ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: بَلَغَنِي أَنَّهُ قِيلَ لِلُقْمَانَ الْحَكِيمِ: [۲] مَا بَلَغَ بِكَ مَا نَرَى؟ يَعْنِي الْفَضْلَ [۳] قَالَ: صِدْقُ الْحَدِيثِ، [۴] وَأَدَاءُ الْأَمَانَةِ، [۵] وَتَرْكُ مَا لَا يَعْنِينِي. رَوَاهُ فِي (الْمُوَطَّأِ).

ترجمه: [۱] او امام مالك رحمه الله وايي، ماته دا روايت رسيدلی دی، چې کوم وخت لقمان حکیم رحمه الله نه دا پوښتنه وشوه، [۲] چې په کومه مرتبه (یعني د فضیلت په کوم مقام) چې مونږ تاوینو دې ته تاسو کوم شی رسولی یې، [۳] نو لقمان حکیم رحمه الله ورته وفرمایل. رښتیا ویلو [چې ما د رښتیا لمن هیڅ کله نده پرې ایښې، که ماخپله څه خبره کړې وي، یا د چا څه خبره مې نقل کړی وي، همیشه رښتیا ویلو باندې عامل وم] ، [۴] او بل آدائیګی امانت. [یعنی که څه مالي معامله وي یا فعلي، ما همیشه په هغه کې د دیانت داری خیال ساتلی دی] . [۵] او کوم څیزونه چې زما د پاره بې فائدې او غیر ضروري دی، د هغه ترک کولو سره (موطا)

حل اللغات:- ① لَا يَعْنِي: فضول او بې فائدې کارونه،

تسهیلات:

قوله: بَلَغَنِي أَنَّهُ قِيلَ لِلُقْمَانَ الْحَكِيمِ:

دلقمان حکیم مختصر تعارف: په حکمت او هوښیارتوب کښې دَ دنیا په ټول عالم باندې چه

---

(۱) اخرجه مالک في الموطا کتاب الکلام/باب ما جاء في الصدق والکذب (رقم-۱۷)

دَ چا نوم مشهور شوې دې او غتو غتو دانشورو او مدبرانو چه دَ چا حکمتونو نه حصه اخستې ده هغه هستی دَ حضرت لقمان حکیم په نوم سره مشهوره ده. چه دَ حضرت ایوب علیه السلام خوریئی یا دَ ترور ځوئی وو.

د لقمان حکیم په منصب کښې اقوال: دَعلماء کرامو په دې کښې اختلاف دې چه آیا هغه پیغمبر او نبی وو که نبی نه وو. او په دې باندې دَ ټولو اتفاق دې چه هغه کامل ولی وو. حیوٰة الحیوان کښې لیکلی دی چه دَ الله تعالی دَ طرف نه هغوی ته اختیارورکړې شوې وو چه نبوت اختیارکړه یا حکمت او ولایت اختیارکړه. هغه ولایت اختیارکړو او وئی وئیل چه دَ نبوت ذمه وارئی ډیرې دی. نقل دی چه هغوی دَ زرو انبیاء کرامو نه فیض حاصل کړې وو. الله تعالی په قرآن مجید کښې دَ حضرت لقمان نوم اخستو سره تذکره کړې ده. حضرت ابن عباس رضی الله عنهما فرمائیلی دی چه لقمان نه نبی وو او نه بادشاه وو بلکه یو تك تور غلام وو چیلئی به ئی څرولې الله تعالی هغه مقبول جوړکړو او هغه ته ئی حکمت هوښیارتوب عقل او دانش ورکړو.

[۵۲۳۳] دَ قیامت په ورځ به نیک اعمال د بندګانو شفاعت کوی

۵۲۳۳-()[۲۹] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] " «تَجِيءُ الْأَعْمَالُ، فَتَجِيءُ الصَّلَاةُ فَتَقُولُ يَارَبِّ أَنَا الصَّلَاةُ. [۳] فَيَقُولُ: إِنَّكِ عَلَى خَيْرٍ. [۴] فَتَجِيءُ الصَّدَقَةُ، فَتَقُولُ: يَارَبِّ! أَنَا الصَّدَقَةُ. [۵] فَيَقُولُ: إِنَّكِ عَلَى خَيْرٍ. [۶] ثُمَّ يَجِيءُ الصِّيَامُ فَيَقُولُ: يَارَبِّ! أَنَا الصِّيَامُ. [۷] فَيَقُولُ: إِنَّكَ عَلَى خَيْرٍ. [۸] ثُمَّ تَجِيءُ الْأَعْمَالُ عَلَى ذَلِكَ. يَقُولُ اللهُ تَعَالَى: إِنَّكِ عَلَى خَيْرٍ. [۹] ثُمَّ يَجِيءُ الْإِسْلَامُ فَيَقُولُ: يَارَبِّ! أَنْتَ السَّلَامُ وَأَنَا الْإِسْلَامُ [۱۰] فَيَقُولُ اللهُ تَعَالَى: إِنَّكَ عَلَى خَيْرٍ [۱۱] بِكَ الْيَوْمَ آخُذُ، وَبِكَ أُعْطِي. [۱۲] قَالَ اللهُ تَعَالَى فِي كِتَابِهِ: ﴿وَمَنْ يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَنْ يُقْبَلَ مِنْهُ [۱۳] وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ﴾ [آل عمران:۸۵]».

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل، [۲] د قیامت په ورځ به اعمال (د خداوند برتر وبزرگ حضور کي) راشي، د ټولو نه مخکې به مونځ پیش شي، او عرض به وکړي، اې پروردګاره! زه مونځ یم [۳] الله تعالی به ورته وفرمایي، بیشکه ته په خیر یي، [۴] بیابه صدقه یعنی زکاة پیش شی او عرض به وکړي، اې پروردګاره، زه صدقه یم، [۵] الله به ورته فرمایي بیشکه ته په خیر یي، [۶] بیابه روژه پیش شی او عرض به وکړي، اې پروردګار زه روژه یم، [۷] الله تعالی به ورته فرمایي، بیشکه ته په خیر یي، [۸] دغه شان یوبل پسي نور اعمال لکه حج، جهاد او طلبِ علم وغیره به پیش شي، او هر یو عمل به مذکوره بالا الفاظو کې خپله پیژندګلو تعارف پیش کړي او الله تعالی به ورته فرمایي، بیشکه ته په خیر باندې یي، ګویا هر نیک عمل به د خپل تعارف په ذریعه د بنده ګانو په

[۱] اخرجه مالک فی الموطا کتاب الکلام/باب ما جاء فی الصدق والکذب (رقم-۱۷) واحمد فی المسند:۲/۳۶۲

حق کې چې کوم شفاعت کوي، د هغه قبولیت به حق تعالی موقوف ساتي، او د هریوه درخوئ به ډیرپه ملائمت نرمي او مهرباني سره ملتوي (بانده) ساتي[٩] بیا د ټولو نه په آخرکې به اسلام پیش شي، او عرض به وکړي، اې پروردګاره ستانوم سلام دی او څما باره کې تا خپله فرمایلي دي: إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الْإِسْلَامُ،[١٠] نو الله ﷻ به فرمایي، بیشکه ته په خیر یې.[١١] نن ورځ زه ستا په سبب مواخذه کوم او ستا په وسیلې سره ورکوم. (یعنې نن د جزاء او سزا په ورځ کې زه ستا اصل او طاعت او معصیت د فیصلو مدار ګرځوم چې چا اختیار نه کړي، او ستا په لار نه لا رو، دهغه به مواخذه کوم او هغه به په عذاب کې مبتلا کوم، او چاچي ته اختیار کړي او ستا په لار ګامزن شو، هغه ته به جزا او ثواب ورکوم، نو ته چې څه غوارې مونږ ته عرض کړه، مونږ ستا سفارش او شفاعت قبلوو)[١٢] نو الله ﷻ خپل کتاب کې فرمایلي دي: وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الْآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ، یعنی کوم سړی چې د اسلام نه پس بل دین اختیار کی، هغه نه به هغه دین هیڅ کله نشي قبلولی،[١٣] او هغه به په آخرت کې د تاوانیانو نه وي.

تسهيلات:

قوله: تَجِيءُ الْأَعْمَالُ، فَتَجِيءُ الصَّلَاةُ فَتَقُولُ يَا رَبِّ أَنَا الصَّلَاةُ.:

د قیامت په ورځ د اعمال شهادت: د قیامت په ورځ به نیک اعمال د الله تعالی په وړاندې پیش کړې شی او په دنیا کښې چه کوم خلقو نیک اعمال کړی وی هغه نیک اعمال به ددوی خلقو په حق کښې ګواهی ورکړی او ددوی شفاعت به اوکړی او کومو خلقو چه نیک اعمال پریخودی وی نو نیک اعمال به ددوی په خلاف احتجاج او شکایت کوی

اشکال: د چا مخکې پیش کیدل خو د ذی جسم علامت دې حالانکه د اعمالو خو هیڅ جسم نشته، چا چه دا اعمال وکړل نو هغه ته به ثواب ملاویږی نو دلته ئې څنګه اوفرمائیل چه اعمال به پیش کیږی؟

داشکال جواب: د قیامت په ورځ به الله تعالی اعمالو ته ښه صورت او شکل ورکړی، بعضې روایاتو کښې ذکر دی چه د الله تعالی د قدرت نه څه بعید او لرې نه دی چه هغه اعراضو ته د اجسامو شکل ورکړی او ددې تفصیل د اعمالو د وزن په بحث کښې تیر شوې دې. ګویا د قیامت په ورځ به مونځ، روژې، صدقې وغیره ته د اجسامو شکل ورکړې شی، د کوم وضاحت چه د حدیث په ترجمه کښې واضح دې، باقی حدیث کښې اسلام نه مراد کیدې شی چه دین اسلام نه وی بلکه صفت د رضا تسلیم او ترک اختیار وی کوم چه د الله تعالی د مقرب بندګانو د اعلی مراتبو نه دې

[٥٢٢٥] د نیا طرف ته مائل کونکی څیزونه پریږده

۵۲۲۵-(¹)[۷۰] ۱ «وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ۲ كَانَ لَنَا سِتْرٌ فِيهِ تَمَاثِيلُ طَيْرٍ، ۳ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا عَائِشَةُ! حَوِّلِيهِ؛ ۴ فَإِنِّي إِذَا رَأَيْتُهُ ذَكَرْتُ الدُّنْيَا»".

ترجمه: ۱ او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي، ۲ زمونږ سره چې (په دروازه) يا (بطور دد يوار گيري) كومه پرده لګيدلي وه، په هغه د مرغانو تصويرونه جوړ شوى وو، ۳ يوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمايل، اې عائشي رضي الله عنها ! داپرده بدله كړه ۴ ځكه چې زه دي ته ګورم، نو دنيا رايادېږي.

حل اللغات: - ① سِتْرٌ: پرده، ② تَمَاثِيلُ: بتان، ③ حَوِّلِيهِ: بدله كړه دا (پرده).

تسهيلات:

قوله: كَانَ لَنَا سِتْرٌ فِيهِ تَمَاثِيلُ طَيْرٍ:

اشكال: په ماقبل حديث كښې تير شو "لاتدخل الملائكة بيتا فيه كلب أو تصاوير" خو د حديث الباب نه معلوميږي چه د حضرت عائشه رضى الله عنها په كور كښې په پردې باندې د ذى روح تصويران موجود وو نو دا څنګه كيدې شي؟

داشكال دوه جوابونه: ① دا واقعه د نهى نه مخكې واقع شوې وه او په هغه وخت كښې د تصويرانو حرمت نه وو نازل شوى.

② په دې پردې باندې داسې تصويران وو كوم چه واضح نه ښكاريدل بلكه هغه نقوش دومره واړه او غير واضح وو، كومو باندې چه په حقيقى معنى كښې د تصوير اطلاق نه كيدو.

غفلت راوستونكې څيزته نه كتل: ددې حديث نه دا معلوميږي چه هغه اشياء او اسبابو ته كتل كومو سره چه دولت مند خلق په عيش وعشرت سره زندګى تيروى او داسې اسباب د فقيرانو په زړونو باندې اثر انداز كيږي لهذا د عيش وعشرت څيزونه او دنيا طرف ته مائل كولو والا څيزونه نه صرف نه اختيارول بلكه دې څيزونو طرف ته نظر هم نه دى كول پكار، ددې وجې ئې اوفرمائيل چه هر هغه څيز كوم چه د الله تعالى نه غافل كوى د هغې طرف ته كتل بد نظرى ده.

[۵۲۲۶] يو څو قيمتي نصيحتونه

۵۲۲۶-(²)[۷۱] ۱ وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ۲ «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: عِظْنِي وَأَوْجِزْ. ۳ فَقَالَ: "إِذَا قُمْتَ فِي صَلَاتِكَ فَصَلِّ صَلَاةَ مُوَدِّعٍ، ۴ وَلَا تَكَلَّمْ بِكَلَامٍ تَعْتَذِرُ مِنْهُ غَدًا، ۵ وَأَجْمِعِ الْإِيَاسَ مِمَّا فِي أَيْدِي النَّاسِ»".

---

¹) اخرجه احمد فى المسند: ۲۴۱/۶

²) اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الزهد/باب الحكمة (رقم-۴۱۷۱) واحمد فى المسند: ۴۱۲/۵

ترجمه: [١] او حضرت ابو یوب انصاري رضي الله عنه وايي، [٢] يو سړي د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شو، او عرض يي وکی یارسول الله، ماته څه نصيحت وفرمايه چې مختصر او جامع وي، [٣] حضور ﷺ ورته وفرمايل، هرکله چې ته مونځ د پاره ودريږي، نو د هغه سړي په شان مونځ کوه، چې د الله نه ماسوا د هرشي يعنى مخلوق او خپل نفس رخصتونکی او پريخودنکی وی، [حاصل دا چي کله مونځ کوئ نو تولي دنيا نه خپله توجه او خپل خيال گرځولو سره کامل اخلاص او پوره توجه سره دريږه] [٤] او دخپلي خولي نه داسې خبره مه راباسه، چې د هغه په سبب تاته صباته د قيامت په ورځ د الله په حضور کې عذر کول راځي، [يادا چي د عذر خواهي مفهوم عموم باندې محمول دی. يعنى څه داسې خبره د خولي نه مه راباسه، چې د هغه په سبب تاته د خپلو دوستانو. ملګرو، متعلقينو او تولو مسلمانانو مخکې پښيمانه کيدل راځي او د معذرت کولو ضرورت پيښ شي] [٥] او د هغه څيز نه د نا اميده کيدو پخه اراده وکړه، کوم چې د خلقو په لاسونو کې وي يعنى الله چې ستا په قسمت کې څومره ليکلي، او تاته يي څه درکړی دی. په هغه قناعت او کفايت وکړه، او د خلقو مال ومتاع سره خپل اميد مه وابسته کوه مه تړه.

حل اللغات: - ① عِظْنِي: نصيحت اوکړه ماته، ② أَوْجِزْ: مختصر او جامع، ③ مُوَدِّعٍ: رخصتونکې. پريخودونکې. ④ الْإِيَاسَ: نا أميدی.

تسهيلات:

قوله: عِظْنِي وَأَوْجِزْ: يعنى مختصر نصيحت اوکړو حضورپاك اوفرمائيل چه کله مونځ کوې نو داسې په اخلاص سره ئى کوه لکه چه دا ستا آخرى مونځ دې. دويم نصيحت دا چه دَ ژبې نه داسې نامناسب خبره مه اوباسه چه صبا دَ قيامت په ورځ دَ الله تعالى په مخکښې يا صبا دَ خپلو دوستانو په مخکښې عذرونه پيش کوې. اول خبره تله بيا ئى کوه دريم نصيحت دا چه دَ خلقودَطرف نه بالکل نااميده اوسيږه چه هغوى به تاته څه روپيئى پيسې درکړى دې دَپاره چه په حرص اولالچ کښې پرينوځې

[٥٢٢٧] دَرسول الله ﷺ بعضې لور نصيحتونه

٥٢٢٧-( )[٤٧] [١] «وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: لَمَّا بَعَثَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- إِلَى الْيَمَنِ، [٢] خَرَجَ مَعَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُوصِيهِ، [٣] وَمُعَاذٌ رَاكِبٌ وَرَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَمْشِي تَحْتَ رَاحِلَتِهِ، [٤] فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ: "يَا مُعَاذُ! [٥] إِنَّكَ عَسَى أَنْ لَا تَلْقَانِي بَعْدَ عَامِي هَذَا، [٦] وَلَعَلَّكَ أَنْ تَمُرَّ بِمَسْجِدِي هَذَا وَقَبْرِي [٧] " فَبَكَى مُعَاذٌ جَشَعًا لِفِرَاقِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [٨] ثُمَّ الْتَفَتَ فَأَقْبَلَ

[1] اخرجه احمد فى المسند:٢٣٥/٥

بِوَجْهِهِ نَحْوَ الْمَدِينَةِ، ۹ فَقَالَ: " إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِيَ الْمُتَّقُونَ، ۱۰ مَنْ كَانُوا وَحَيْثُ كَانُوا» " رَوَى الْأَحَادِيثَ الْأَرْبَعَةَ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۱ او حضرت معاذ ابن جبل رضی الله عنه نه روایت دی کوم وخت چې رسول الله ﷺ هغه قاضي یا عامل جوړولو سره یمن ته لیږی، ۲ نو حضور ﷺ د هغه درخصتولو د پاره څه لرې پورې ورسره لا ړو. او په دې دوران کې یې ورته تلقین او نصیحت کوی. ۳ او هغه وخت معاذ رضی الله عنه خو په سورلۍ سپور وو، او رسول الله ﷺ د هغه سورلۍ سره پیاده روان وو، ۴ کوم وخت چې حضور ﷺ د نصائحو او هدایت نه فارغه شو، نو وې فرمایل. اې معاذ رضی الله عنه! ۵ خما د عمردې کال نه پس شاید ستا زماسره ملاقات ونه شي. ۶ او ممکنه ده، چې ته یمن نه واپس راځې، نو زماسره د ملاقات په ځای خما دې مسجد او خما قبر باندې تیرشي، ۷ معاذ رضی الله عنه په دې اوریدو سره د رسول الله ﷺ د جدائي په غم کې په ژړاشو، ۸ او رسول الله ﷺ د معاذ رضی الله عنه طرف نه مخ مبارک ګرځولو سره مدینې جانب ته مخامخ شو، ۹ بیایې وفرمایل، ماته زیات نزدې هغه خلق دي، کوم چې پرهیز ګاردی، ۱۰ که هغه هرڅوك وي، او هرچیرته وي، [یعنی که هغه د کوم رنګ او نسل، کوم ملك او قوم او کومې طبقې او مرتبې والاوي]، دا څلور روایتونه امام احمد رحمه الله نقل کړی دی.

حل اللغات: - ① رَاحِلَة: سورلۍ، ② جَشَعًا: په جیم اوشین دواړو باندې فتحه ده، جزع فزع سره ژړا کولو ته وائی. ③ الْتَفَتَ: متوجه شو، ④ نَحْوَ: طرف.

تسهیلات:

قوله: فَبَكَى مُعَاذٌ جَشَعًا لِفِرَاقِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

د معاذ رضی الله عنه د ژړا وجه: حضرت معاذ رضی الله عنه چه کله حضورپاك دَ یمن ګورنر جوړولوسره دَمدینې منورې نه روان کړو نو په ډیر اهتمام سره ئې هغه ته اهم نصیحتونه اوکړل. دَ نصیحتونونه فارغیدوسره حضورپاك دَ خپل وفات طرف ته اشاره اوفرمائیله چه ممکن دی چه ته بیا زما دَ قبر زیارت اوکړې. دَ محبوب په فراق باندې حضرت معاذ رضی الله عنه په چغو چغو اوژړل.

قوله: ثُمَّ الْتَفَتَ فَأَقْبَلَ بِوَجْهِهِ نَحْوَ الْمَدِينَةِ:

د نبی علیه السلام د معاذ رضی الله عنه نه د مخ په اړولو کښې دوه وجوهات:

① نبی علیه السلام دَحضرت معاذ رضی الله عنه دَ ژړا نظاره نه شوه کتله بیا دَ مدینې منورې طرف ته مخ مبارك کولو سره

② نبی علیه السلام دَحضرت معاذ رضی الله عنه نه مخ واړولو چه هغه ته عملی تعلیم ورکړی څکه چه په دنیا کښې فراق لازمی دې.

قوله: فَقَالَ: "إِنَّ أَوْلَى النَّاسِ بِيَ الْمُتَّقُونَ، مَنْ كَانُوا وَحَيْثُ كَانُوا:

امت ته تسلي ور كول: حضورپاك حضرت معاذ ﷛ ته تسلي وركړه چه داعارضي فراق او جدائي ده كومه چه دَ حضرت آدم ﷺ په نسل كښې جاري اوساري ده بيا حضورپاك حضرت معاذ ﷛ او ټول امت ته خوشخبري وركړه چه څوك نيك او پرهيزګار وي هغه ما سره نيزدې دي كه هرڅوك وي اوهرچرته چه وي په ظاهري او بدني لحاظ سره اګرچه لرې وي مګر په قلبي اعتبار سره به نيزدې وي.

[۵۲۲۸] په اسلام باندې دَ شرح صدر علامت

۵۲۲۸—()[۴۳] [۱] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: «تَلَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] ﴿فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ﴾ [الأنعام: ۱۲۵] [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ النُّورَ إِذَا دَخَلَ الصَّدْرَ انْفَسَحَ [۴]". فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! هَلْ لِتِلْكَ مِنْ عِلْمٍ يُعْرَفُ بِهِ؟ [۵] قَالَ: "نَعَمْ، التَّجَافِي مِنْ دَارِ الْغُرُورِ، [۶] وَالْإِنَابَةُ إِلَى دَارِ الْخُلُودِ، [۷] وَالِاسْتِعْدَادُ لِلْمَوْتِ قَبْلَ نُزُولِهِ»".

ترجمه: [۱] او حضرت ابن مسعود ﷛ وايي، چې رسول الله ﷺ دا آيت اووئيلو: [۲] فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ، الله ﷻ چې كوم سړي ته هدايت كول غواړي، يعنى خاص هدايت چې هغه مرتبهٔ اختصاص ته ورسوي نو د هغه سينه اسلام د پاره خلاصه كړي په دي طور چې هغه ته د شرائع اسلام اخلاص سره د قبلولو توفيق وركوي [۳] بيا حضور ﷺ ګويا د آيت تفسير كې وفرمايل: هركله چې د هدايت نور سينه كې داخل شي، نو سينه فراخه او كشاده شي، [۴] صحابه وُ ﷡ عرض وكې، يا رسول الله! آيا د دې حالت او كيفيت څه علامه نشته، چې هغه سره هغه وپيژندل شي، [۵] حضور ﷺ ورته وفرمايل، هو د هغه نښه شته، دار الغرور دنيا نه لرې كيدل، [۶] او آخرت طرف ته [چې هميشه هميشه د پاره باقي پاتې كيدونكى جهان دى]، رجوع كول او پوره طور سره متوجه كيدل. [۷] اود مرګ نه مخكې دمرګ د پاره تياري كول دي.

حل اللغات: ① اِنْفَسَحَ: فراخه او كشاده شي. ② التَّجَافِي: ډډه كول، لرې كيدل، ③ الْإِنَابَةُ: رجوع او رغبت كول، ④ دَارِالْخُلُودِ: د هميشوالى كور، آخرت، ⑤ الِاسْتِعْدَادُ: تيارى كول.

تسهيلات:

قوله: فَمَنْ يُرِدِ اللَّهُ أَنْ يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَامِ:

د شرح صدر درې نښې: د سينې كولاويدل هم يو نعمت دې او د شرح صدر دپيژندګلو

[1]) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۵۵۲

درې علامات مقرر کړې شوی دی.

① دارالغرور (دنیا) نه بعد یعنی زهد او قناعت اختیارول.

② د دنیا طرف نه بے پرواه کیدل او آخرت طرف ته همیشه متوجه کیدل.

③ مرګ راتللو نه مخکې د مرګ دپاره تیاری کول، یعنی توبه او استغفار کول او د الله تعالی نه د خپلو ګناهونو ښښنه غوښتل

د شرح صدر مقام: په کوم کس کښې چه دا دریواړه خصلتونه وی نو ګویا چه دې کس تمام شرائع اسلام په پورا یقین او اخلاص سره قبول کړی دی او هغه دې مقام ته رسیدلې دې.شرح صدر یعنی سینه فراخ کیدلو نه مراد په زړه کښې د قبول حق استعداد او صلاحیت پیدا کیدل دی او قلب مومن کوم چه د هدایت د نور نه ډک وی هغه پخپله د لوې مرتبی حامل وی حتی چه په وسعت کښې د عرش او کرسی، د لوح او قلم، او زمکې او آسمان د ټولو نه وسیع شی نو تر دې چه دا د عرش رب سره تعبیر کړې شوې دې لکه چه یو حدیث قدسی کښې الله تعالی فرمائي چه "لا يسعني أرضي ولا سمائي ولكن يسعني قلب عبدي المؤمن" یعنی نه خو زما زمکه زما ګنجائش لری او نه زما آسمان لیکن زما د مومن بنده زړه زما ګنجائش لری.

قوله: اَلتَّجَافِي مِنْ دَارِ الْغُرُورِ:

دنیا ته د دهوکې کور وئیلو وجه: دنیا ته دارلغرور ځکه وئیلې شوی دی چه ددې دنیا نمود او نمائش ډیر دې لیکن په حقیقت کښې څه هم نشته او د دنیا نه ډیرو خلقو دهوکه خوړلې ده او مال ئې جمع کړې دې او آخرت ئې هیر کړې دې خو کله چه مړ شو نو خالی لاسونه ددې دنیا نه لاړل.

[۵۲۲۹]. حکمې خبرې کولکې او دنیا نه بې رغبتې کولکی ته حکمت ملاویږی

۵۲۲۹-()، ۵۲۳۰-()[۴۷] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ وَأَبِي خَلَّادٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ② "«إِذَا رَأَيْتُمُ الْعَبْدَ يُعْطِي زُهْدًا فِي الدُّنْيَا، ③ وَقِلَّةَ مَنْطِقٍ فَاقْتَرِبُوا مِنْهُ؛ ④ فَإِنَّهُ يُلْقِي الْحِكْمَةَ»". ⑤ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ① حضرت ابوهریره رضی الله عنه او حضرت ابو خلاد رضی الله عنه نه روایت دی، چې رسول

[1]) اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الزهد/باب الزهد فى الدنيا (رقم-٤١٠١) والبيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٤٩٨٥

[2]) اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الزهد/باب الزهد فى الدنيا (رقم-٤١٠١) والبيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٤٩٨٥

الله ﷺ وفرمايل، [۲] هركله چې تاسو يوبنده ووينئ، چې هغه ته ددنيا نه بې رغبتي وركړې شوې ده [۳] اود لغو او بيهوده كار نه اجتناب او كم ګوئي وركړي شوى ده، نو د هغه قربت او صحبت اختيار كړئ، [۴] ځكه چې هغه ته د حكمت او دانائي دولت وركول شوى دى. [۵] دا دواړه روايتونه بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كې نقل كړى دى او مخكنى حديث ډيرو طرقو سره ثابت دى

حل اللغات: - ① زُهْدًا: بې رغبتى، ② قِلَّةَ مَنْطِقٍ: كمې خبرې، كم ګوئى. ③ الْحِكْمَةَ: دانائى. پوهه

تسهيلات:

قوله إِذَا رَأَيْتُمُ الْعَبْدَ يُعْطِى زُهْدًا فِي الدُّنْيَا، وَقِلَّةَ مَنْطِقٍ فَاقْتَرِبُوا مِنْهُ:

اهل الله ته د نزديكت حكم: يعنى كوم سړې چه الله تعالى زهد قناعت اوترك دنيا په صفت سره متصف كړې دې اوكمې خبرې كول ئې دَهغه عادت جوړكړې دې نو دَداسې سړى نه فيض حاصلولو دَپاره دَهغه صحبت اختياركړئې هغه به زهد اودَترك دنيا صفت نورو ته منتقل كړى اودَ قلت كلام په وصف سره به نور خلق متصف كړى.

دنيكانو خلقو د صحبت بركت: حضرت لاهورى رحمه الله ليكلى دى دَ صوفياؤ دَ خپلو نه هغه مرغلرې ملاويږى چه دَ بادشاهانو دَ تاجونو نه شى ملاويدې

[۱] بَابُ فَضْلِ الْفُقَرَاءِ وَمَا كَانَ مِنْ عَيْشِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

دَ فقراء دَ فضیلت او دَ حضورپاک ﷺ د معاشی ژوند بیان

خلاصة الباب

فيه خمسة وثلاثون حديثاً مشتملة على ثماني مسائل:

① فضيلة الفقراء: ۱، ۲، ۳، ۴، ۵، ۶، ۱۳، ۱۴، ۱۵، ۱۶، ۲۶، ۲۷، ۲۸۔
② ذكرعيش النبي صلى الله عليه وسلم: ۷، ۸، ۹، ۱۰، ۲۲، ۲۳، ۲۹، ۳۰۔
③ ذكر عيش الصحابة: ۱۱، ۲۳، ۲۴، ۲۶، ۳۵۔
④ ينظر إلى الأدنى حالاً في الدنيا،لاعلى العكس: ۱۲، ۱۷، ۲۵۔
⑤ عيش المؤمن فى الدنيا: ۱۸، ۳۱۔
⑥ فضيلة الحماية عن الدنيا وقلة المال: ۱۹، ۲۰، ۳۲۔
⑦ كون حب النبي صلى الله عليه وسلم مقروناً بالفقر: ۲۰۔
⑧ فضيلة التعفف والصبر على الفقر: ۳۳، ۳۴۔

دفقیر لغوی معنی: فقراء دَ فقیر جمع ده. دَ فقیر معنی مفلس، محتاج او غریب دي.

دفقیر او مسکین په ترادف او تباین کښې څلور اقوال: ① دا دواړه مترادف الفاظ دی دَ دواړو معانی یو دی.

② مسکین هغه وی چاسره چه څه مال وی لکه چه قرآن کریم کښې دی ﴿ أَمَّا السَّفِينَةُ فَكَانَتْ لِمَسَاكِينَ ﴾ [سورت الكهف: ۷۹] نو دلته مسکینان دَ کشتئی مالکان ګرځولې شوی دی او فقیر هغه وی چاسره چه هیڅ هم نه وی.

③ فقیر هغې ته وائی چاسره چه څه مال موجود وی مګر دَ نصاب نه کم وی او مسکین هغه وی چاسره چه څه هم نه وی.

④ ضابطه دا ده چه چرته چه فقیر او مسکین یوځائی ذکر وی نو دَ دواړو به جدا جدا معنی اخستې شی او چرته چه دواړه جدا جدا ذکر وی نو بیا به دَ ترادف په توګه هم یو مفهوم اخستې شی. ضابطه دا ده "الفقير والمسكين اذا اجتمعا افترقا واذا افترقا اجتمعا"

د مالدارۍ او غریبۍ په افضلیت کښې مذاهب:

① دَ بعضې علماؤ په نیز غنا او مالداری افضل ده

② دعامو علماؤ او دَ جمهورو صوفیانو په نیز فقر و فاقه دَ غنا نه مطلقًا افضل ده.

د اول فریق دلیل: دوی دَ حضرت ابوهریره رضی الله عنه دَ روایت او واقعې څخه استدلال کوی. په کوم کښې چه فقیرانو صحابه کرامو دَ حضورپاک په مخکښې دَ غنیانو دَ درجاتو ذکر او کړو چه هغوی عبادت هم کوی او مالدار هم دی او خرچ هم کوی په دې باندې

حضورپاك هغه فقيرانو صحابه كرامو ته دَ يو څو تسبيحاتو وظيفه اوخودله چه په دې سره به تاسو دَ دغه مالدارانو نه مخکښې شئ. كله چه هغه مالدارانوته معلومه شوه نوهغوی هم دغه وظيفه وئيل شروع كړه. هغه فقيرانو دَ حضورپاك په وړاندې بيا شكايت اوكړو نوحضورپاك اوفرمائيل چه ﴿ ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ﴾ [سورت الجمعة:۴] دا په دې خبره باندې دليل دې چه دَ اغنياؤ مقام اوچت دې

دَدويم فريق دليل: دَ فقروفاقې ژوند ټولو انبياء كرامو اختيار كړې دې اودَ الله تعالى نه ئې دا غوښتې دې معلومه شوه چه دا غوره دې حضورپاك فرمائيلى «الفقر فخري»:

سعدي بابا اويوعالم مناظره: په دې موضوع باندې باباسعدي رحمه الله په گلستان كښې اوږد بحث كړې دې اويوعالم سره ئې اوږده مناظره كړې ده. باباسعدي رحمه الله پخپله دَ غنادَ افضل كيدو قائل وو اودَ هغه مقابله كښې عالم دَ فقروفاقې دَ فضيلت قائل وو. دَ دواړو جگړه اونخته نو دواړه دَ ښارقاضى له لاړل. هغه داسې فيصله واوروله چه دَ غنا اوفقر جدا جدا مواقع دى. په يو موقع باندې فقر افضل وى او په بله موقع باندې غنا افضل وى. څنى جگړه مه كوئى او يوبل مه ذليل كوئى.

دنبى عليه السلام د غريبى وجه: اوس دا خبره چه دَحضورپاك فقر و فاقه څنگه وه نوعلماء ليكى چه دَ هغوى فقر شاهانه وو عاجزانه نه وو هغه اختيارى فقر وو اضطرارى نه وو. دلته په دې خبره باندې هم ځان پوهه كول پكار دى چه حضورپاك دَخپل ځان دَپاره اودَ خپل اهل بيت دَپاره عزيمت باندې مبنى يو امتيازى فقيرانه ژوند اختيار كړې وو اوعام امت ته ئې دا اختياروركړې وو چه هغوى دَوسعت ژوند دَ جائز حدودو په دائره كښې خپلولې شى. "الحمدلله لاضيق ولاحرج ففى الامرسعة".

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۲۳۱] دَ غربت فضيلت

۵۲۳۱-()[۱] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] "«رُبَّ أَشْعَثَ مَدْفُوْعٍ بِالْأَبْوَابِ [۳] لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللّٰهِ لَأَبَرَّهُ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل، [۲] ډير خلق داسې دي چې په ظاهره خو ببر سر او غبار الود (يعني په ښاورو ككړ ډير غريب حال اود پريشاني په صورت كي) په نظر راځي، چې هغوئ (دلاس يا ژبې په ذريعه) د دروازو نه شړل كيږي، [۳] ليكن (هغوئ د الله په نزد دومره اوچته درجه لري)، كه هغوئ د الله په بروسه قسم

---

[۱]) اخرجه مسلم فى كتاب البر والصلة والآداب/باب فضل الضعفاء والخاملين (رقم-۱۳۸ - (۲۶۲۲)

واخلي، نو الله يقيناً د هغوئ قسم پوره کوي.(مسلم)

حل اللغات:- ①رُبَّ: ډير خلق، ②أَشْعَثَ:خيرنو ګډ وډ ويښتو والا، بيرسر، ③مَدْفُوعٍ: دفع کولي شی، شړلي شی، ④لَأَبَرَّهُ:برى به ئي کړى، قسم به ئي رښتيا کړى.

تسهيلات:

قوله: رُبَّ أَشْعَثَ مَدْفُوعٍ بِالْأَبْوَابِ لَوْ أَقْسَمَ عَلَى اللهِ لَأَبَرَّهُ:

دبعضې غريبانانو دالله تعالى په نيز مقام: هغه سړى داسې ورك لاچار او فقيروى فرض کړه که دَ چادروازې له ورشی او ودرېږى نو هغه دَ هغه ځائى نه زغلولې شى اودَهغه هيڅ قدروقيمت نه شى کولې.نه عام محفلونو اومجلسونو کښې دَهغه خوك تپوس کونکې وى.خلاصه دا چه دَدنيا والو په نيز هغه ډيرحقير اوډير فقير وى ليکن دَ الله تعالى په نيز هغه دومره معزز وى که په الله تعالى باندې يقين کولوسره هغه قسم اوخورى چه دَ الله تعالى جل جلاله په ذات مې دې قسم وى چه الله تعالى به دا کارکوى نو الله تعالى دَ هغه دَ قسم لحاظ ساتلوسره دَهغه قسم پوره رښتياکوئى.دادَ هغه سړى لوئى شان دې.معلومه شوه چه دَ فقروفاقې اودَ غربت دَ الله تعالى په نيزډير قدر دې.

د حضرت بلال په قسم صبا راخيژى: په مسند فردوس کښې يوه واقعه ذکرده چه يوځل حضرت بلال په رمضان کښې د صبا د اذان په انتظار وو چه کله صبا راوخيژى نو اذان به کوى بل طرف ته نبى کريم د پيشمنى قجورې خوړلې حضرت بلال د خپلې تجربې مطابق نبى کريم ته عرض اوکړو حضرت تاسو خوراک بند کړئ صبا راوختلو خو نبى ﷺ د هغوى په خبره څه غوږ اونه ګرولو بلکه برابر ئې قجورې خوړلې حضرت بلال دوباره عرض اوکړو حضرت خوراک بند کړئ صبا راوختلو خونبى بيا هم خوراک جارى اوساتل په دريم ځل حضرت بلال رضى الله عنه عرض اوکړو په الله قسم صبا راوختلو تاسو خوراک بند کړئ نبى صلى الله خپله هم خوراک بند کړواو صحابو ته ئې هم اوفرمائيل چه خوراک بند کړئ صبا راوختلو صحابه کرامو ترې تپوس اوکړو حضرت په دې پوښه نشو چه د دويم او دريم ځل په وينا کښې خو دومره وخت نه وو تير شوې حالانکه په دويم ځل وينا باندې تاسو خوراک کولو او په دريم ځل مو سمدستى بند کړو او اوموفرمائيل چه صبا راوختلو نو نبى ﷺ ورته اوفرمائيل حقيقت دا وو چه صبا راختلې نه وو خو چه کله بلال قسم اوخوړلو چه صبا راختلو نو الله تعالى د بلال د قسم د وجې صبا راوخيژولو چه هسې نه زما بنده بلال په خپل قسم کښې حانث شى د دې واقعه نه هم معلومه شوه چه کله الله تعالى د چا سره محبت کوى نو بيا دا هم نه غوارى چه زما دا بنده دې په خپل قسم کښې حانث شى (۱)

(۱) مسند فردوس للديلمى)

[۵۲۳۳] دَ ضعیف په برکت الله تعالی نورو خلقو ته رزق ورکوی

۵۲۳۳ -()[۱] [۲] وَعَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «رَأَى سَعْدٌ أَنَّ لَهُ فَضْلًا عَلَى مَنْ دُونَهُ، [۳] فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ؟!» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت مصعب ابن سعد تابعي رحمه الله وايي، [۲] څما پلار حضرت سعد رضي الله عنه خپل باره کې داګمان وکی، چې هغه د هغه سړي نه افضل دی، چې هغه نه کمتر دی (یعني ضعیف او ناتوان سړی یا فقیر او مفلس) [۳] نو رسول الله ﷺ د هغه داګمان ختمولو اود نور آګاه کولو د پاره وفرمایل، تاسو ته د دښمنان دین په مقابله کې مدد او سهاره او رزق چې د کومو خلقو په وجه حاصلیږي هغه د غه ضعیف او ناتوان او غریب او نادارخلق وي. (بخاري)

د راوي مختصر تعارف:

حضرت مصعب بن سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه: نوم مصعب دَ پلار نوم سعدوو تابعی دي.دوی عموماً دَحضرت علی بن ابی طالب ابن عمروغیره نه روایت نقل کوی.اودَ هغه نه عموماً مجاهد ابواسحاق رحمهم الله وغیره روایت نقل کوی.دَ اسماء الرجال والا دَ هغه په ثقاهت باندې متفق دی.صاحب طبقات بن سعد رحمه الله فرمائی کان ثقه کثیرالحدیث.

حل اللغات: - ① مَنْ دُونَهُ: څوک چه کمتر دی دهغه نه.

تسهیلات:

قوله: رَأَى سَعْدٌ أَنَّ لَهُ فَضْلًا عَلَى مَنْ دُونَهُ:

دسعدبن ابی وقاص مقام: حضرت سعد رضي الله عنه دَ حضوراکرم ﷺ ماما وو.دَ لوئی شان والا صحابی وو دَ عراق فاتح وو او دَ ډیرو زیاتو خوبیانو مالك وو.مثلاً دَ اعلی درجې بهادر وو. فیاض وو. په اعلی شرافت باندې فائز وو.

دسعدرضی الله عنه اصلاح: دَهغه په ذهن کښې داخبره راغله چه کوم خلق زما په شان خوبیانې او خصوصیات نه لری دَهغوی په مقابله کښې دَ خدمت په حوالې سره زه دَ اسلام او دَ مسلمانانو زیات خدمت کوم لهذا دَ اسلام دَپاره زما وجود زیات فائده مند دې لکه چه نور غیرمشهورقسم غریبانان مسلمانان زما دَ وجې نه روستو دی.کیدې شی چه حضرت سعد رضي الله عنه په ژبه سره اظهارهم کړې وی.دَدې په جواب کښې حضورپاك اوفرمائیل چه دا خیال مه کوه بلکه حقیقت خود ادې چه هم دَ دغه فقیرانو مسکینانو او درویشانو په برکت سره ته خورې څکې او په دښمن باندې غالب راځې لهذا دوی سپك مه ګڼره.

() اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسیر/باب من استعان بالضعفاء والصالحین فی الحرب (رقم-۲۸۹۶)واحمد فی المسند:۱/۱۷۳

[۵۲۳۳] غريبانو مسلمانانو ته د جنت زيري

۵۲۳۳-( )[۳] ۱ وَعَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ «قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ، فَكَانَ عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِينَ، ۳ وَأَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوسُونَ، ۴ غَيْرَ أَنَّ أَصْحَابَ النَّارِ قَدْ أُمِرَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ، ۵ وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ۱ او حضرت اسامه بن زيد رضي الله عنهما وايي، يوه ورځ رسول الله ﷺ وفرمايل. ۲ زه د معراج په شپه يا په خوب کې يا په حالتِ د کشف کې د جنت په دروازه ولاړ وم، ما وليدل چې کوم خلق په جنت کې داخليږي، په هغوئ کې زيات تعداد د غريبانو دی. ۳ او مالدار به د قيامت په ميدان کې حصار شوی وي، ۴ البته اصحابِ نار يعنی کافروته به دوزخ ته د تلو حکم ورکول شوی وي، ۵ او کله چې زه د دوزخ په دروازه ودريدم نو اومو ليدل، چې کوم خلق په دوزخ کې اچول شوي دي، په هغوئ کې زيات تعداد د ښځو دی. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① أَصْحَابُ الْجَدِّ: مال ته جد اووئيلې شو او اصحاب الجد مالدار خلق دی. ② مَحْبُوسُونَ: ايسار شوی به وی، ③ أُمِرَ: حکم به کولې شی.

تسهيلات:

قوله: قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ، فَكَانَ عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا الْمَسَاكِينَ:

دجنت اوجهنم منظرپه کتلو کښې دوه احتمالات:

① رسول الله ﷺ دا نظاره دَ معراج په شپه ليدلې وی يائی په کشف کښې ليدلې وی

② رسول الله صلی الله عليه وسلم دا نظاره خوب کښې ليدلی وی.

دجنت زيات اوسيدونکی: نبی عليه السلام فرمائی چه دَ جنت په دروازه کښې اودريدو سره دننه نظر اوکړو نو اکثر داخليدونکی غريبان نادار اومسکينان خلق وو

قوله: وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ:

دجهنم زيات اوسيدونکی: په جهنم کښې دښځوزياتې تعداد څکه وو چه ښځې دَ خاوندانو ناشکری کوی او خپل مينځ کښې لعن طعن يعنی پيغورونه کوی، په غيبت او چغلئی کښې وخت تيره وی. کيدې شی چه په شروع کښې په دوزخ کښې زياتې وی اودَ سزا تيرولونه پس به په جنت کښې زياتې وی يا چه خومره وې دا تعدادهم ډير زيات وو.

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب صفة الجنة والنار (رقم-۶۵۴۷) ومسلم فی کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب أکثر أهل الجنة الفقراء وأکثر أهل النار النساء وبيان الفتنة بالنساء (رقم-۹۳ - (۲۷۳۶) واحمد فی المسند:۵/۲۰۵

[۵۳۳٤] په جنت او دوزخ کې به دکومو خلقو اکثریت وي؟

۵۳۳٤ -() [٤] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«اطَّلَعْتُ فِي الْجَنَّةِ، فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا الْفُقَرَاءَ. ③ وَاطَّلَعْتُ فِي النَّارِ فَرَأَيْتُ أَكْثَرَ أَهْلِهَا النِّسَاءَ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس ﷠ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② ما په جنت کې وکتل، نو په هغه کې اکثره تعداد د غريبو او نا دارو خلقو په نظر رالی. ③ او په دوزخ کې مي وکتل، نو په هغه کې اکثريت د ښځو په نظر رالی. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① اطَّلَعْتُ: اومې کتل (سر اوچتولو سره کتلو ته وائي).

تسهيلات:

نوټ: ددې حديث د مضمون تشريح وړاندې د حديث نمبر (۵۲۳٤) په تسهيل کښې تيره شوه.

[۵۳۳۵] فقيران مهاجرين به جنت ته مخکښې ځي

۵۳۳۵ -() [۵] ① وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ يَسْبِقُونَ الْأَغْنِيَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى الْجَنَّةِ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت عبد الله بن عمرو ﷠ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ② فقراء مهاجرين به د قيامت په ورځ په جنت کې د مالدارو نه څلوېښت کاله مخکې په جنت کې داخليږي. (مسلم)

حل اللغات: - ① يَسْبِقُونَ: مخکښې به ځي. ② الْأَغْنِيَاءَ: مالدار، ③ خَرِيفًا: خريف دَ خزان موسم ته وائي. دلته ترې کال مراد دې.

تسهيلات:

قوله: إِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ يَسْبِقُونَ الْأَغْنِيَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى الْجَنَّةِ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا:

دغريبانانو د مالدارانو مخه جنت ته وړاندې داخليدل: په کال کښې چونکه يو ځل دَخريف يعنی خزان موسم راځی لهذا دې نه کال هم مراد اخستې شی. مطلب دا چه مهاجرينو کښې کوم فقيران دی هغوی به دَمالدارانو نه څلويښت کاله مخکښې جنت ته ځی.

اشکال: په دې حديث کښې او راتلونکی حديث نمبر (۵۳۳٦) کښې واضح تعارض دې ځکه چه هلته پنځه سوا کاله مخکښې جنت ته دَ تلو ذکر دې؟

---

[۱] ومسلم فی كتاب الذكر والدعاء والتوبة والاستغفار/باب أكثر أهل الجنة الفقراء وأكثر أهل النار النساء وبيان الفتنة بالنساء (رقم-٩٤ - (٢٧٣٧) والترمذی فی كتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء أن أكثر أهل النار النساء (رقم-٢٦٠٢) واحمد فی المسند:١/٢٣٤

[۲] اخرجه مسلم فی كتاب الزهد والرقائق (رقم-٣٧ - (٢٩٧٩) وابن ماجه فی كتاب الزهد/باب منزلة الفقراء (رقم-٤١٢٣)

داشکال درې جوابونه:

① پخپله په دغه فقراؤ کښې فرق دې دَ خلویښتو کالو والا هغه فقراء دی چه مجبوراً فقیران دی تارك الدنیا زاهدان نه دی بلکه جبری فقیران دی.او پنځه سوا کاله مخکښې تلونکی هغه فقیران دی چه تارك الدنیا ، زاهدین، متوکلین دی.

② په حدیث کښې تعیین اوتحدید بیانول مقصود نه دی بلکه تکثیر بیانول دی نو خلویښت کاله نه هم تکثیر بیانول مقصود دی اوپنځوسوو کالو نه هم تکثیر بیانول مطلوب دی.یعنی ډیره موده مخکښې به ځی.

③ دلته کوم حدیث دَ عبدالله بن عمرو ﷺ نه نقل دې دَ دې نه هغه فقراء مراد دی کوم چه دَ مهاجرینو نه علاوه وی.دَهغوی دَپاره دَ خلویښتو کالو ذکردې اودَ فصل ثانی حدیث کوم چه دَ ابوهریره ﷺ نه نقل دې هلته دَ فقراء نه دَمهاجرینو فقراء مراد دی هغوی به پنځه سوا کاله مخکښې جنت ته ځی.

درویش خدا مست نہ شرقی ہے نہ غربی　　گھر اس کا نہ دلی نہ صفاہان نہ سمرقند

[۵۲۳۶] په مالداره سړی دَ غریب دیندارہ سړی فضیلت

۵۲۳۶-()[۲] [۱]وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: «مَرَّ رَجُلٌ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ [۲]-فَقَالَ لِرَجُلٍ عِنْدَهُ جَالِسٍ: "مَا رَأْيُكَ فِي هَذَا؟[۳]" فَقَالَ رَجُلٌ مِنْ أَشْرَافِ النَّاسِ: هَذَا وَاللَّهِ حَرِيٌّ[۴] إِنْ خَطَبَ أَنْ يُنْكَحَ،[۵]وَإِنْ شَفَعَ أَنْ يُشَفَّعَ.[۶] قَالَ: فَسَكَتَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۷]ثُمَّ مَرَّ رَجُلٌ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا رَأْيُكَ فِي هَذَا؟[۸]" فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! هَذَا رَجُلٌ مِنْ فُقَرَاءِ الْمُسْلِمِينَ،[۹]هَذَا حَرِيٌّ إِنْ خَطَبَ أَنْ لَا يُنْكَحَ،[۱۰]وَإِنْ شَفَعَ أَنْ لَا يُشَفَّعَ،[۱۱]وَإِنْ قَالَ أَنْ لَا يُسْمَعَ لِقَوْلِهِ.[۱۲]فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَذَا خَيْرٌ مِنْ مِلْءِ الْأَرْضِ مِثْلَ هَذَا»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه:[۱]او حضرت سهل بن سعد ﷺ وایي، یوه ورځ د رسول الله ﷺ و مخې ته یو سړی تیر شو،[۲]نو حضور ﷺ د هغه په لیدو سره دناست یو سړی نه پوښتنه وکړه، دا سړی چې تیر شو، د ده باره کې ستا څه خیال دی؟یعنی دي څه ښه سړی دی یا خراب سړی دی؟،[۳] هغه سړي جواب ورکړو، دا سړی ډیر معزز اود شریف ترین خلقو نه دی، په الله قسم، د دې سړي حیثیت داد ی[۴] که یوي ښځې ته د نکاح پیغام ولیږي، نو هغه ښځې سره به یې نکاح وشي،[۵]او که یو حاکم او سردارته د یوسړي باره کې سفارش وکړي، نو د ده سفارش به ومنل شي،[۶]راوي حضرت سهل ﷺ وایي، رسول الله ﷺ په دي جواب اوریدو سره خاموش وو،[۷]په دې کې یو دویم سړی مخې ته تیر شو،

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب فضل الفقر (رقم-۶۴۴۷) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب فضل الفقراء (رقم-۴۱۲۰)

نو حضور ﷺ د هغه په لیدو سره ناست سړي نه پوښتنه وکړه، ښه د دې سړي باره کې ستا څه خیال دی، ⑧ هغه جواب ورکړو یارسول الله، دا سړی د نادارو، اوغریبانو مسلمانانو نه دی، ⑨ د ده حیثیت خو دادی، که د نکاح پیغام ولیږی نو څوك به ورسره نکاح ونه کړي، ⑩ او که د چا سفارش وکی، نو سفارش به یې قبول نشي. ⑪ او که څه خبره وکړي، نو د هغه اوریدو ته به څوك تیار نشي [یعنی دا سړی د خپل فقر او افلاس په وجه دومره قدر او منزلت هم نه لري چې یوسړی د ده خبره اوریدو ته اماده شي. او ده طرف ته توجه وکړي] ⑫ رسول الله ﷺ چې دا واوریدل، نو وي فرمایل اې نادانه دا سړی چې تا ورته د حقارت په نظر کتلی دی، او یوبې حیثیته سړی دې ګڼلی دی. د هغه سړي په شان د خلقو نه د ډکې زمکې نه هم دې زیات بهتر دی د چاچې تاتعریف کړی دی (بخاري. مسلم)

حل اللغات: - ① حَرِیٌّ: لائقه، حقداره، ② مِلْءِ الْأَرْضِ: ډکه زمکه.

تسهیلات:

قوله: هَذَا خَيْرٌ مِنْ مِلْءِ الْأَرْضِ مِثْلَ هَذَا:

دبې قدره اوګمنامه خلقو فضیلت: ددې مطلب دا دې چه دا ټول زمکه د غه کس په شان خلقو نه ډکه شی کوم چه ددې نه مخکې تیرشوې او د کوم چه تعریف او صفت کیږی نو هغه یو کس چه د خپل فقر په وجه ستاسو په نظر کښې هیڅ قدر نه لری، د مرتبې او د فضیلت په اعتبار به ددې ټولې زمکې نه بهتر وی،

دفضیلت وجه: ددې فضیلت وجه دا بیان شوی ده چه عام طور باندې د غریب مسلمان زړه ډیر صفا وی په دې وجه هغه حق ډیر زر قبلوی او د الله تعالی د احکاماتو تابعداری ډیره کوی. د حدیث ظاهری مفهوم نه دا معلومیږی چه مخکې تیر شوې کس هم د مالداره مسلمانانو نه وو. کافر نه وو ځکه چه د فضیلت تعلق د مسلمانانو او د کافرانو په مینځ کښې نه کیږی، ځکه چه کفارو کښې یو کس ته هم د خیر نسبت نه شی کیدې، په دې وجه یعضې علماء کرامو دا وئیلی دی چه کوم مسلمان په خپله ژبه دا اووئیل "النصراني خیر من الیهودي" نو دهغه په باره کښې ویره ده چه هغه په کفر کښې داخل نه شی ځکه چه هغه په دې جملې سره ګویا د هغه خلقو کښې خیر وجود ثابت کړو په چا کښې چه بلکل د خیر وجود نشته بهرحال په دې باندې د کفر اطلاق په جزم سره نه شی کیدلې

[۵۲۳۷] دَ حضور پاک ﷺ د معاش حالت

۵۲۳۷-(¹)[۷] ⦗۱⦘ «وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: ⦗۲⦘ مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ ⦗۳⦘ حَتَّى قُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⦗۱⦘ او بي بي عائشه ﷺ وايي، ⦗۲⦘ داسې هيڅ کله نه دي شوي، چې د حضور ﷺ اهل بيت يعنی ازواج مطهرات او متعلقين دوه ورځي مسلسل د وربشو روټۍ په ډک نس (خيټه) خوړلي وي، [چيرته لاد غنمو روټۍ] ⦗۳⦘ تردي چې رسول الله ﷺ ددي دنيا نه تشريف يووړی. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① شَبِعَ: موړ شو، ② الشَّعِيرِ: وربشې، ③ مُتَتَابِعَيْنِ: پرله پسې، ④ قُبِضَ: وفات شو.

تسهيلات:

قوله: مَا شَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ:

دنبی عليه السلام غريبی: يعنی دَ غنمو خبره پريږده دَ اوربشو په روټئی سره هم مسلسل دَ حضورپاک دکور والو خيټه نه ده ډکه شوې که چرې يو ورځ خوراک ملاؤ شوې دې نو بله ورځ نه دې ملاؤ شوې.اوس دلته سوال دادې چه حضورپاک او صحابه کرام خو په آخرى عمرکښې دَ کثرت فتوحات دَوجې نه ښه آسوده حال شوی وو بيا دا فاقې اولګې څنګه وې؟ دَدې جواب دادې چه دَ رسول الله ﷺ فقر اختيارى وو په آخر وخت کښې هم حضورپاک دَ دنيا نه فائده نه ده اوچته کړې او اولګې ئی تيرې کړی دی سره دَدې چه آسانی وه.دلته دا خبره هم ياد لرئی چه دا معيار اوپيمانه حضورپاک دَخپل ځان دَپاره اودَ خپل اهل وعيال دَ پاره قائم کړې وه دَعام امت دَپاره دا معيار نه وو.

[۵۲۳۸] حضور ﷺ چرته په مړه خيټه خوراک نه دی کړی

۵۲۳۸-(²)[۸] ⦗۱⦘ وَعَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: ⦗۲⦘ أَنَّهُ مَرَّ بِقَوْمٍ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ شَاةٌ مَصْلِيَّةٌ، ⦗۳⦘ فَدَعَوْهُ، فَأَبَى أَنْ يَأْكُلَ، ⦗۴⦘ وَقَالَ: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الدُّنْيَا وَلَمْ يَشْبَعْ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ⦗۱⦘ او حضرت سعيد مقبري (تابعي ﷺ) د حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت کوي، ⦗۲⦘ چې يوه ورځ حضرت ابوهريره ﷺ په څه خلقو باندې تير شو، چې په يوځای کې د طعام په خيزونه جمع وو، او د هغوئ مخې ته سره کړي بزه (چيلۍ) پرته وه، ⦗۳⦘ هغوئ

(¹) اخرجه البخاری فی کتاب الأطعمة/باب ما کان النبی صلی الله عليه وسلم وأصحابه يأکلون (رقم-۵۴۱۶)ومسلم فی کتاب الزهد والرقائق (رقم-۲۲ - (۲۹۷۰) والنسائی فی کتاب الضحايا/باب الادخار من الأضاحی (رقم-۴۴۳۲) وابن ماجه فی کتاب الأطعمة/باب خبز البر (رقم-۳۳۴۳)

(²) اخرجه البخاری فی کتاب الأطعمة/باب ما کان النبی صلی الله عليه وسلم وأصحابه يأکلون (رقم-۵۴۱۴)

خوراك د پاره حضرت ابوهريره رضي الله عنه هم وبللي، ليكن هغه انكار وكى، [۲] او (د خپل نه خوړلو عذر كي) يي وفرمايل رسول الله ﷺ ددي دنيا نه تشريف يووړى، او هيڅ كله يي په ډك نس (خيټه) د وربشو روټۍ ونه خوړه، انو داځرنگه زغمل كيدلى شي، چي زه د سري كړي بزي (چيلۍ) په شان لذيذي غذا نه خپل نس ډك كړم، هركله چي حضور ﷺ ته په ډك نس (خيټه) د وربشو روټۍ هم حاصله نه وه! (بخاري)

حل اللغات: - ① شَاةٌ: چيلۍ، ② مَصْلِيَّةٌ: دَ مَرْمِيَّةٌ په وزن باندي وريته شوې،

تسهيلات:

قوله: خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الدُّنْيَا وَلَمْ يَشْبَعْ مِنْ خُبْزِ الشَّعِيرِ:

دابوهريره رضى الله عنه د نبى عليه السلام تابعدارى:

په زهد كښي حضرت ابوهريره رضى الله عنه د نبى عليه السلام تابعدارى كوى اوكله چي وريته د وريتي شوي چيلۍ د خوراک دعوت وركړې شو نو انكار ئي وكړو. اوپه دليل كښي ئي دا خبره وكړه چي زه څنگه دا وريته شوې چيلۍ اوخورم حال دا چي نبى عليه السلام خپل ټول عمر په لوږه تنده كښي تيركړې وو.

[۵۲۳۹] درسول الله ﷺ معاشى حالت

۵۲۳۹- ()[۹] [۱] «وَعَنْ أَنَسٍ- رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّهُ مَشَى إِلَى النَّبِيِّ- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِخُبْزِ شَعِيرٍ [۲] وَإِهَالَةٍ سَنِخَةٍ، [۳] وَلَقَدْ رَهَنَ النَّبِيُّ- صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- دِرْعًا لَهُ بِالْمَدِينَةِ عِنْدَ يَهُودِيٍّ، [۴] وَأَخَذَ مِنْهُ شَعِيرًا لِأَهْلِهِ [۵] وَلَقَدْ سَمِعْتُهُ يَقُولُ: "مَا أَمْسَى عِنْدَ آلِ مُحَمَّدٍ صَاعُ بُرٍّ وَلَا صَاعُ حَبٍّ، [۶] وَإِنَّ عِنْدَهُ لَتِسْعَ نِسْوَةٍ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دى، يووار هغه د رسول الله ﷺ په خدمت كي د وربشو روټۍ راوړه [۲] او داسي چربي راوړه چي زياتي ورځي د ايخودلو په وجه بدبويه شوي وه، [۳] او حضرت انس رضي الله عنه بيان وكى، چي رسول الله ﷺ يو ځل خپله زغره په مدينه كي يو يهودي سره گرو ايخودلي وه [۴] چي دهغه نه يي خپل اهل بيت د پاره څه وربشي اخستي وي، [۵] حضرت انس رضي الله عنه نه روايت كونكى داهم بيان وكى، ما د حضرت انس رضي الله عنه نه واوريدل، چي د حضرت محمد ﷺ په اهل بيتو هيڅ داسي مابنام نه وو شوى، چي په هغه كي هغوئ سره به يوصاع غنم ياڅه بله غله وه، [۶] اوحال داوو چي د حضور ﷺ نه بيبياني مباركي وي (بخاري)

حل اللغات: - ① شَعِيرٍ: وربشي، ② إِهَالَةٍ: وازگه، ③ سَنِخَةٍ: سخا شوي، بد بويه شوي، ④ رَهَنَ: گانړه، ⑤ دِرْعًا: زغره، ⑥ بُرٍّ: غنم، ⑦ حَبٍّ: دانې، غله

[۱] اخرجه البخاري فى كتاب الاعتكاف/باب باب: لا يدخل البيت إلا لحاجة (رقم-۲۰۲۹) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب معيشة آل محمد صلى الله عليه وسلم (رقم-۴۱۴۷) واحمد فى المسند: ۱۳۳/۳

تسهیلات:

قوله: وَإِهَالَةٍ سَنِخَةٍ:

د اهدالة په مصداق کښې دوه اقوال: ① اهالة وازګې ته وائی که کلکه وی او که ویلې کړې وی.

② دغه شان دَ ګډ دَلم غوښه او دَ هغې تیل هم مراد اخستې شی.

ملاعلی قاری رحمه الله لیکی "کل دهن یؤتدم به" یعنی هرهغه تیل چه دَ ترکارئی په توګه باندې استعمالولې شی

د سَنِخَةٍ مطلب: دَدې مطلب دادې چه په هغې کښې بدلون راغلې وو دَ ډیروخته پورې کیخودو سره دَهغې بوئی بدل شوې وو لکه چه معمولی شان بدبوئی محسوس کیدله دا قسم وازګه وغیره عام قبائل خلق خوری دا سخاشوې غوښه نه وی صرف دَ ډیروخته پورې کیخودو سره یوقسم بوئی پیدا کیږی.

قوله: وَلَقَدْ رَهَنَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- دِرْعًا لَهُ بِالْمَدِينَةِ عِنْدَ يَهُودِيٍّ:

یهودی سره د زرغې په کیخودو کښې دوه احتمالات: ① حضورپاك دا معامله یهودی سره اوکړه نوکیدې شی چه په مسلمانانو کښې څوك ملاؤ شوې نه وی

② دَ جواز دَبیان دَپاره نبی علیه السلام د یهودی سره خپله زرغه کیخودې وه چې کافر سره خپل یوځیزګانړه کیخودل جائز دی.

قوله: مَا أَمْسَى عِنْدَ آلِ مُحَمَّدٍ صَاعُ بُرٍّ:

اشکال: حضورپاك خودَ خپلو ازواج مطهراتو دَپاره دَټول کال خرچه مخکښې ورکوله لکه چه په نورو احادیثو کښې ذکردی دلته ئی څنګه اوفرمائیل چه یوصاع غنم یا غله به نه وه؟

داشکال دوه جوابونه: ① دلتـه دَ آل لفظ مقحم او زائد وی مطلب دا چه دا معامله دَمحمد ﷺ خپله وه چه حضورپاك سره به هیڅ هم نه وو

② دا حالت دَ اسلام په شروع کښې وو که په مکه کښې وو او که په مدینه کښې بیا چه کله وسعت راغلو نوحضورپاك به دَ پوره کال خرچه ورکوله څنو بیبیانو قبوله کړه او څنو اولګې اختیار کړې.

[۵۳۳۰] دَدنيا زياتوالي دَكافرانوطريقه ده

۵۳۳۰-()[۱۰] [۱] وَعَنْ عُمَرَ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-قَالَ: «دَخَلْتُ عَلَى رَسُولِ اللهِ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-[۲] فَإِذَا هُوَ مُضْطَجِعٌ عَلَى رِمَالِ حَصِيرٍ[۳] لَيْسَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهُ فِرَاشٌ،[۴] قَدْ أَثَّرَ الرِّمَالُ بِجَنْبِهِ،[۵] مُتَّكِئًا عَلَى وِسَادَةٍ مِنْ أَدَمٍ، حَشْوُهَا لِيفٌ[۶] قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! ادْعُ اللهَ فَلْيُوَسِّعْ عَلَى أُمَّتِكَ;[۷] فَإِنَّ فَارِسَ وَالرُّومَ قَدْ وُسِّعَ عَلَيْهِمْ وَهُمْ لَا يَعْبُدُونَ اللهَ![۸] فَقَالَ: "أَوَفِي هَذَا أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ؟[۹] أُولَئِكَ قَوْمٌ عُجِّلَتْ لَهُمْ طَيِّبَاتُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا "[۱۰] وَفِي رِوَايَةٍ: "أَمَا تَرْضَى أَنْ تَكُونَ لَهُمُ الدُّنْيَا وَلَنَا الْآخِرَةُ؟» " مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت عمر فاروق ﷺ فرمايي، يوه ورځ زه د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوم.[۲] نو اومي ليدل چې حضور ﷺ د کجورو د پانړو په تاټ باندې ناست دى.[۳] د رسول الله ﷺ د بدن مبارك او د تاټ په منځ کې څه بستره وغيره نه وه.[۴] چې د هغه په وجه د حضور ﷺ په اړخ (طرف) کښې لګيدلى وو.[۵] او د حضور ﷺ د سرمبارك لاندې چې کومه تکيه پرته وه، هغه د څمړۍ وه، او هغه د کجورو د پوستکو نه ډکه وه.[۶] ماسرکار دو عالم ﷺ په دې حالت کې ليدو سره ورته عرض وکړو. يارسول الله. الله ﷻ نه دعا ولې نه غواړي، چې هغه ستاسو امت ته مالي وسعت او فراخي عطاکړي.[۷] دفارس اوروم خلقو ته خومره مالي وسعت اوفراخي عطا شوى ده، حالانکې هغوئ د الله ﷻ بندګي نه کوي.[۸] حضور ﷺ وفرمايل، اې ابن خطاب! داته څه وايې، آيا ته تر اوسه پورې په هغه خاى يې، [چيرته چې ته د شروع نه وې، او دومره موده وروسته هم ستا انداز فکر او د سوچ معيار دومره مخکښو نه نه دى چې ته حقيقت ته ورسې]،[۹] ياد لره دا اهل فارس او روم او ټول کفار هغه خلق دي، چې دوئ ته ټول نعمتونه او خوبي بس دى دنياوي ژوند کې ورکول شوى دى.[اوداچې د هميشه ژوند يعنى په آخرت کې به دوى ته د فقر او افلاس. ذلت وخواري خسران او نقصان نه ماسوا نور هيڅ نه حاصليږي].[۱۰] او په يوه روايت کې دا الفاظ دي، آيا ته په دې راضي او مطمئن نه يې چې اهل فارس وروم او نورو کفارو ته دنيا حاصله شي، چې فناء کيدونکې ده او مونږ ته آخرت حاصل شي چې دخپلو ټول تر نعمتونو سره هميشه هميشه باقي پاتې کيدونکې دي (بخاري. مسلم)

حل اللغات: - (۱) مُضْطَجِعٌ: ډډه ئې وهلې وه. (۲) رِمَالِ: بونړلې شوې. (۳) حَصِيرٍ: پوزکې. (۴) فِرَاشٌ: بستره. (۵) أَثَّرَ: اثرات. نښې. (۶) وِسَادَةٍ: بالخت. (۷) أَدَمٍ: څرمن. (۸) حَشْوُهَا: د بالخت دننه څيزونو ته وائى لکه مالوچ وغيره. (۹) لِيفٌ: دکهجورو پوستکى. پانړې.

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب تفسير القرآن/باب {تبتغى مرضاة أزواجك} (رقم-۴۹۱۳) ومسلم فى كتاب الطلاق/باب فى الإيلاء، واعتزال النساء، وتخييرهن وقوله تعالى: {وإن تظاهرا عليه} [التحريم: ۴] (رقم-۳۰ - (۱۴۷۹)) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب ضجاع آل محمد صلى الله عليه وسلم (رقم-۴۱۵۳)واحمد فى المسند:۳/۱۴۰

تسهيلات: قوله: هُوَمُضْطَجِعٌ عَلَى رِمَالِ حَصِيرٍ:

د رمال لغوی تحقیق: رمال کښې په راء باندې کسره او ضمه دواړه جائز دی دا جمع ده دې مفرد رمیل دې کوم چه د مرمول په معنی کښې دې او مرمول د منسوج په معنی کښې او د منسوج ترجمه بونړل ده یعنی بونړلې شوې رسئی بیا رمال مضاف دې د حصیر ته او حصیر پوزکی ته وائی ای رمال من حصیر پوزکې چه کله جوړولې شی نو په هغې کښې کله کله رسئی استعمالیږی کله صرف ډکی یو ځائی کولې شی د پوستکونه جوړشوې پوزکې لږ نرم او بهتر وی لیکن د رسو نه جوړشوې پوزکې سخت وی خکه چه دا بونړلې شوې رسئی راولاړې شوې وی چه په بدن کښې ورخښیږی او په بدن باندې نښې جوړیږی. دلته د دې قسم پوزکی نقشه پیش کړې شوې ده چه د بونړلې شوې رسو پوزکې وو او په هغې باندې څه بستره نه وه. دکوم په وجه چه په بدن مبارک باندې نښې جوړې شوې وې.

قوله: أَوَفِي هَذَا أَنْتَ يَا ابْنَ الْخَطَّابِ؟:

عمر رضی الله عنه ته عتاب: یعنی دا سوال خود یو وړې مرتبې والا سړی له هم نه وو کول پکار د خطاب ځویه ستا خو لوئی شان دې تاله دا سوال نه وو کول پکار.

[٥٢٣] د اصحاب صفه د صحابو غربت

٥٢٣-()[1] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: لَقَدْ رَأَيْتُ سَبْعِينَ مِنْ أَصْحَابِ الصُّفَّةِ، [۲] مَا مِنْهُمْ رَجُلٌ عَلَيْهِ رِدَاءٌ، إِمَّا إِزَارٌ وَإِمَّا كِسَاءٌ [۳] قَدْ رَبَطُوا فِي أَعْنَاقِهِمْ، [۴] فَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ نِصْفَ السَّاقَيْنِ، وَمِنْهَا مَا يَبْلُغُ الْكَعْبَيْنِ [۵] فَيَجْمَعُهُ بِيَدِهِ كَرَاهِيَةَ أَنْ تُرَى عَوْرَتُهُ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي، ما د اصحاب صفه نه اویا افراد ولیده، [۲] چې په هغوئ کې هیڅ سړی داسې نه وو، چې د هغه سره څه څادر وي، [چې هغه د دویمې کپړې د پاسه اچولې وي، یا په اوږو یې واچوي ګویا هغوئ سره صرف د یوې کپړې نه علاوه دویمه کپړه نه وه] . او هغه کپړه هم یا خو لنګ وو یا شړی (کمبله) وه [۳] چې خپلو غاړو سره به یې تړلې وه. (او د هغه په ذریعه به یې خپل جسم او ستر پټوی) [۴] هغه لنګ او شړو (کمبلو) کې بعضې خو داسې وه، چې صرف نیمې پندی پورې به راتلل او بعضې داسې وو، چې دواړو پنړکوته به رسیدل [۵] او کله چې یو سړی به سجدې ته تلی یا ګنډې پورته کولو سره به کیناستی، نو هغه به د دې خوف نه چې ستر یې خلاص نشي، هغه لنګ یا کمبل به یې په لاس سره نیولی وو. (بخاري)

حل اللغات:- ① رِدَاءٌ: څادر. ② إِزَارٌ: لنګ. ③ كِسَاءٌ: کمبل. شړئ. ④ رَبَطُوا: تړلې ئې وه.

[1] اخرجه البخاري في كتاب الصلاة/باب نوم الرجال في المسجد (رقم-٤٤٢)

[۵۲۴۲] د غریبۍ په وجه د احساس کمترۍ لرې کولو طریقه

۵۲۴۲-(¹)[۱۳] ① وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ② "«إِذَا نَظَرَ أَحَدُكُمْ إِلَى مَنْ فُضِّلَ عَلَيْهِ فِي الْمَالِ وَالْخَلْقِ ③ فَلْيَنْظُرْ إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْهُ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ. ④ وَفِي رِوَايَةٍ لِمُسْلِمٍ، قَالَ: "«انْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْكُمْ ⑤ وَلَا تَنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ ⑥ فَهُوَ أَجْدَرُ أَنْ لَا تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ»".

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل ② په تاسو کې چې کوم سړی یو داسې سړی وویني، چې د هغه نه زیات مالدار او زیات خوبصورته وي، [او د هغه په لیدو سره خپل حالت باندې ورته رنج او حسرت وشي، د الله شکر اداکولو کې سستي او کوتاهي ورنه واقع کېږي، او د هغه سړي پحقله د رشك او حسد جذبات یې پیدا شي] ،③ نو هغه ته پکار دی، چې هغه سړي باندې نظر واچوي. کوم چې د هغه نه د کمې درجې وي، چې د هغه په لیدو سره په خپل حالت د الله شکر اداکړي او د نعمت عطا کونکی پروردګار نه خوشحاله شي.(بخاري، مسلم) ④ او د مسلم ﷺ په یوه روایت کې دا الفاظ دي، چې حضور ﷺ وفرمایل، تاسو هغه سړي ته وګورئ چې په مرتبه کې درنه کمتر وي،⑤ او هغه سړي طرف ته مه ګورئ چې په مرتبه کې درنه لوی وي.⑥ نو داسې کول به ستاسو د پاره ډیر مناسب وی چې تاسو هغه نعمت کوم چې الله درکړي دی، (حقیر) سپك ونه ګڼئ.

حل اللغات: - ① أَسْفَلَ: ښکته درجې والا، ② أَجْدَرُ: ډیر لائق او مناسب دی. ③ لَاتَزْدَرُوا: سپک او حقیر اونه ګڼئ.

تسهیلات:

قوله: انْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ أَسْفَلَ مِنْكُمْ:

په دنیا کښې ځان ځنځه ښکته ته کتل: یو سړې دَ درمیانه طبقې سره تعلق لری دَ هغه نه زیات مال والا هم شته او دکم مال والا هم. هغه له پکاردی چه کله دَ ځان نه دَ اوچت شان والا مالدار سړې اوګوری نو په حرص اولالچ کښې دې دَهغه طرف ته سترګې ارتولو سره دَ خلې نه واه نه کوی بلکه دَدنیا په حوالې سره چه دَهغه نه کم خلق دی هغوی ته دې ګوری اودَ الله تعالی شکردې اداکوی اودَ دین په حوالې سره دې دَ ځان نه لوئی سړی ته ګوری اودَ هغې مرتبې ته دَ رسیدو کوشش دې کوی. که چرې داسې اونه کړی نو خطره ده چه دَ الله تعالی دَ نعمت ناقدری اونه شی.

(¹) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب: لینظر إلی من هو أسفل منه. ولا ینظر إلی من هو فوقه (رقم-۶۴۹۰) ومسلم فی کتاب الزهد والرقائق (رقم-۸ - (۲۹۶۳) والترمذی فی کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۵۱۳) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب القناعة (رقم-۴۱۴۲)واحمد فی المسند:۳۱۴/۲

الفصل الثاني

[۵۲۳۳] فقیران به د مالدارو نه مخکښې جنت ته ځي

۵۲۳۳-(۱) [۱۳] ۱ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ۲ "«يَدْخُلُ الْفُقَرَاءُ الْجَنَّةَ قَبْلَ الْأَغْنِيَاءِ بِخَمْسِمِائَةِ عَامٍ نِصْفِ يَوْمٍ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ۱ حضرت ابوهریره ﷜ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمایل، ۲ فقراء به جنت ته د غنیانونه پنځه شوه کاله مخکې داخليږي، چې د نیمي ورځي برابر ده. (ترمذي)

[۵۲۳۴] رسول الله ﷺ په مسکینانو کې د شاملیدو دعا غوښتلې ده

۵۲۳۴-(۲) [۱۴] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ "«اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مِسْكِينًا وَأَمِتْنِي مِسْكِينًا، ۳ وَاحْشُرْنِي فِي زُمْرَةِ الْمَسَاكِينِ ۴». فَقَالَتْ عَائِشَةُ: لِمَ يَا رَسُولَ اللهِ؟ ۵ قَالَ: "إِنَّهُمْ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَائِهِمْ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا، ۶ يَا عَائِشَةُ! لَا تَرُدِّي الْمِسْكِينَ وَلَوْ بِشِقِّ تَمْرَةٍ، ۷ يَا عَائِشَةُ أَحِبِّي الْمَسَاكِينَ وَقَرِّبِيهِمْ، فَإِنَّ اللهَ يُقَرِّبُكِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»". ۸ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ۱ او حضرت انس ﷜ نه روایت دی، چې رسول الله ﷺ دا دعا وفرمایله، ۲ اې الله ما مسکین ژوندی لرې، د مسکینیې په حالت کې ماته مرګ راکړې ۳ او د مسکینیانو په ډله کې ځما حشر وفرمايې، ۴ بي بي عائشه ﷝ چې د حضور ﷺ نه دا دعا کول واوریدل، نو هغه وویل، یارسول الله، تاسو داسې دعا ولې کوئ، ۵ حضور ﷺ ورته وفرمایل، ځکه چې مساکیني [د خپل نورو فضائلو او خصوصیاتو او حسن اخلاق وکردار په وجه د آخرت د سعادتونو او نعمتونو خوبه بهره ور وي، لیکن د دې نه قطع نظر د هغوئ د ټولو نه لوی فضیلت دادی، چې هغوئ] به د دولتمندو نه څلویښت کاله مخکې په جنت کې داخليږي، ۶ اې عائشې ﷝ ګوره چې یو مسکین د خپلې دروازې نه نا امیده ونه لیږې، [بلکې په هر حالت کې هغه سره احسان او حسن سلوك کوه]، اګر که هغه ته ورکولو د پاره ستاسره د خرما یوه ټکړه وی، ۷ اې عائشې خپل په زړه کې د مسکینیانو محبت ساته، او هغوئ په خپلو مجلسونو کې نزدې کوه یعنې هغوئ حقیر او کمتر ګڼلو سره د خپل در نه مه منع کوه که ته داسې کوی، نو الله ﷻ به دې د قیامت په ورځ خپل قربت سره ونوازي ځکه چې فقراء او مساکینیو سره د محبت او همدردې سلوك د الله ﷻ د قربت حاصلولو ذریعه ده. ۸ دا روایت ترمذي

---

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن فقراء المهاجرین یدخلون الجنة قبل أغنیائهم (رقم-۲۳۵۴) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب منزلة الفقراء (رقم-۴۱۲۲)

(۲) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن فقراء المهاجرین یدخلون الجنة قبل أغنیائهم (رقم-۲۳۵۲)

نقل کړې دې، او بیهقي هم په شعب الایمان کې نقل کړې دې

حل اللغات: - ① زُمْرَةِ: ډله، جماعت، ② خَرِيفًا: خريف دَ خزان موسم ته وائی دلته ترې کال مراد دې ③ شِقّ: حصه، نيمه حصه.

٥٣٣٥-()[١] [١٥] وَرَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ إِلَى قَوْلِهِ (فِي زُمْرَةِ الْمَسَاكِينِ).

ترجمه: [١] او ابن ماجه دا روایت د حضرت ابوسعید رضي الله عنه نه صرف، زمرة المساکین پورې نقل کړی دی، یعنی د هغوئ په روایت کې د بي بي عائشه رضي الله عنها سوال وجواب او د حدیث باقي جمله نشته.

[٥٣٣٦] د کمزورو خلقو په وجه رزق ملاویدل

٥٣٣٦-()[١٦] [١] وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ-رَضِيَ اللهُ عَنْهُ-عَنِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: [٢] "«ابْغُونِي فِي ضُعَفَائِكُمْ، [٣] فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ-أَوْ تُنْصَرُونَ-بِضُعَفَائِكُمْ»". رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ.

ترجمه: [١] او حضرت ابودرداء رضي الله عنه د رسول الله ﷺ نه روایت کوي، حضور ﷺ وفرمایل. [٢] تاسو خلق ما په خپلو کمزورو خلقو کې تلاش کړئ [٣] ځکه چې تاسو ته رزق درکول کیدل یا وي فرمایل، چې تاسو ته د خپل دښمن په مقابله کې مدد حاصلیدل د دې خلقو د برکته دی، کوم چې په تاسو کې کمزوری دی. (ابوداؤد)

حل اللغات: - ① ابْغُونِي: اولټوئ تلاش کړئ ما.

تسهیلات:

قوله: ابْغُونِي فِي ضُعَفَائِكُمْ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه احتمالات: ① نبی علیه السلام فرمائی که چرې زما رضا او زما خوشحالی غواړئ نو دَ غریبانانو کمزورو او نادارو خلقو امداد کوئی او دَ هغوی خوشحالی حاصله کړئ.

② نبی علیه السلام فرمائی چې ما په مالدارانو او طاقتورو خلقو کښې مه لټوئی بلکه غریبانانو او کمزورو خلقو سره یم لهذا تاسو دَمالدارو دَ مجلسونو اوتعلق وغیره نه ځان ساتئی

قوله: فَإِنَّمَا تُرْزَقُونَ-أَوْ تُنْصَرُونَ-بِضُعَفَائِكُمْ::

د او په کلمه کښې دوه احتمالات: ① دلته دَ او لفظ دَ تنویع دَپاره دې چنانچه بعضې روایتونو کښې واؤ دې کوم چه دَدې تائید دې

[١] اخرجه ابن ما جه فی السنن کتاب الزهد/باب مجالسة الفقراء (رقم-٤١٢٦)

[٢] اخرجه ابوداود فی السنن کتاب الجهاد/باب فی الانتصار برذل الخیل والضعفة (رقم-٢٥٩٤) والترمذی فی کتاب الجهاد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الاستفتاح بصعالیک المسلمین (رقم-١٧٠٢) والنسائی فی کتاب الجهاد/باب الاستنصار بالضعیف (رقم-٣١٧٩) واحمد فی المسند:١٩٨/٥

② داهم ممکن دی چه دلته اود شك دپاره وی او راوی ته شك شوې دې چه حضورپاك کوم یولفظ ارشاد فرمائیلې وو

قوله: بضعفائکم:

د کمزور خلقو په وجه دالله تعالی مدد راتلل: یعنی الله تعالی د دغه نادارو او کمزورو خلقو په برکت سره میدان جنګ کښې ستاسو امداد کوی او هم د دغه نادارو خلقو په برکت سره تاسو ته رزق درکوی څکه چه داخو په ظاهره نیغ بیغ ساده خلق دی لیکن په دوی کښې لوئی د الله والا خلق وی د چا په وجه چه الله تعالی په عامو انسانانو باندې رحمت او شفقت کوی. راتلونکی حدیث کښې هم دا مضمون بیان کړې شوې دې.

[۵۲۴۷] رسول الله ﷺ به د فقراء مهاجرینو په برکت د فتح دعا غوښتله

۵۲۴۷-() [۱۷] ①وَعَنْ أُمَيَّةَ بْنِ خَالِدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَسِيدٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - «عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ②أَنَّهُ كَانَ يَسْتَفْتِحُ بِصَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ». رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: ①او حضرت امیه ابن خالد ابن اسید د رسول الله ﷺ نه نقل کوي، ② چې حضور ﷺ به چې د الله ﷻ نه د کفارو په مقابله کې د فتح حاصلولو د پاره دعا کوی، نو د فقراؤ مهاجرینو د برکت په ذریعه به یې دعا غوښتله. (شرح السنه)

حل اللغات: - ① يَسْتَفْتِحُ: فتح او کامیابی به ئې غوښتله، ② صَعَالِيكِ: د صعلوك جمع ده لکه څنګه چه عصافیر د عصفور جمع ده. دې نه فقیران مسکینان او کمزوری نادار خلق مراد دی.

تسهیلات:

قوله: يَسْتَفْتِحُ بِصَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ:

دغریبانانو په وسیله په دشمنانو د غلبې سوال کول: ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی حضورپاك چه به کله د جنګ په موقع د کافرانو خلاف د نصرت او غلبې دعا غوښتله نو په هغې کښې به ئې فقیران مهاجرین واسطه جوړوله او د هغوی دعاګانې به ئې په دښمن باندې د فتح ذریعه جوړوله چنانچه ابن ملك فرمائی حضورپاك به داسې دعا فرمائیله «اللهم انصرنا على الأعداء بعبادك الفقراء المهاجرين» په دې حدیث سره د مهاجرینو ضعیفانو لوئی فضیلت ثابتیږی.

[۵۲۴۸] د کافر فاجر خوشحالئ ته مه پسخیږئ

۵۲۴۸-() [۱۸] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "②«لَا

---

(۱) اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم الحدیث ۴۰۶۲

(۲) اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم الحدیث ۴۱۰۳

تَغْبِطَنَّ فَاجِرًا بِنِعْمَةٍ[٣] فَإِنَّكَ لَا تَدْرِي مَا هُوَ لَاقٍ بَعْدَ مَوْتِهِ[٤] إِنَّ لَهُ عِنْدَ اللّٰهِ قَاتِلًا لَا يَمُوتُ ". يَعْنِي النَّارَ». رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

توجمه:[١] او حضرت ابو هريره ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل،[٢] ديو فاجر (يعني كافر يا فاسق) ددنياوي نعمتونو (يعني جاه وحشمت او دولت سره مالا مال ليدو سره) په هغه رشك مه كوه [٣] ځكه چې تاته نه ده معلومه، چې مرګ نه پس قبر يا په حشر كې هغه ته څه څه پيښيدونكې دى [يعنى هغه دلته خو بيشكه دنياوي نعمتونو سره مالامال دى. ليكن د دې برعكس په آخرت كې به قسم قسم عذاب او سختيو سره مخ وي] ،[٤] او ياد لره فاجر د پاره د الله په نزد يو داسي قاتل دى چې هغه ته مرګ او فناء نشته، او دهغه قاتل نه د حضور ﷺ مراد اور دى.(شرح السنه)

حل اللغات: - ①لَاتَغْبِطَنَّ: رشک مه کوه، ②لَاقٍ: پيښيدونكى،

تسهيلات:

قوله: قـاتلا" يعنى مركونكي او قتل كونكي داسې دَ عذاب به وى چه هغه عذاب نه پخپله مركيږى اونه به فنا كيږى.دې نه دَ دوزخ اور مراد دي.دَحديث تعليم دادې چه دَ آخرت نه غافل فاسق، فاجر او مالدار آسوده حالى اوشان اوشوكت ته مه ګورئى او مه هغې ته پسخيږئى ځكه چه دَهغه دَپاره راتلونكى حالات ډير سخت دى.

[۵۲۳۹] دنيا د مؤمن دپاره قيد خانه ده

۵۲۳۹-(١)[١٩] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[٢] «الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ وَسَنَتُهُ،[٣] وَإِذَا فَارَقَ الدُّنْيَا فَارَقَ السِّجْنَ وَالسَّنَةَ» ". رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

توجمه:[١] او حضرت عبد الله ابن عمرو ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل،[٢] دا دنيا د مؤمن د پاره قيد خانه او قحط دى،[٣] هركله چې هغه مؤمن د دنيا نه رخصتيږي، نو ګويا قيد خاني او قحط نه نجات خلاصون پيدا كي.(شرح السنه)

حل اللغات: - ①سِجْنُ: جيل، قيدخانه، ②سَنَةُ: قحط.

تسهيلات:

قوله: الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ:

نوټ: د مذكوره جملې تشريح وړاندې د حديث نمبر(۵۱۵۸) په تسهيل كښې تيره شوې ده.

[١] اخرجه احمد فى المسند: ۲/۱۹۷

[۵۲۵۰] الله تعالی خپل محبوب بندیګان د دنیا نه لري ساتي

۵۲۵۰-()[۲۰] [۱] وَعَنْ قَتَادَةَ بْنِ النُّعْمَانِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[۲] «إِذَا أَحَبَّ اللَّهُ عَبْدًا حَمَاهُ الدُّنْيَا [۳] كَمَا يَظَلُّ أَحَدُكُمْ يَحْمِي سَقِيمَهُ الْمَاءَ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت قتاده ابن نعمان رضي الله عنه نه روایت دی، رسول الله ﷺ وفرمایل، [۲] هرکله چې الله تعالی یو بنده دوست لري، نو هغه د دنیا نه ساتی، [۳] څرنګه چې په تاسو کې یو سړی خپل مریض د اوبو نه ساتي. (احمد)

حل اللغات:- ① حَمَاهُ: ساتی هغه، ② يَظَلُّ: همیشه وی، ③ سَقِيم: مریض

تسهیلات:

قوله: كَمَا يَظَلُّ أَحَدُكُمْ يَحْمِي سَقِيمَهُ الْمَاءَ:

دالله تعالی خپل نیکان بندګان د دنیا څخه لري ساتل: څوك په داسې څه مرض کښې اخته شي دَ کوم دَپاره چه دَ اوبو استعمال منع وی مثلاً دَ استسقاء بیماری نو ده لره دَ اوبو والا هغه څیزونو نه دَهمیشه دَپاره لري ساتلو کوشش کیږی دې دَپاره چه زر نه زر جوړ شي. دغه شان الله تعالی چه څوك خپل محبوب جوړول غواړی هغه دَ ګناهونو نه دغه شان لري کوی. لکه څنګه چه دَ استسقاء والا بیمار سړې دَ اوبو نه لري ساتلې شي.

[۵۲۵۱] د مال کمی په حقیقت کې لوی نعمت دې

۵۲۵۱-()[۲۱] [۱] وَعَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«اثْنَتَانِ يَكْرَهُهُمَا ابْنُ آدَمَ: [۳] يَكْرَهُ الْمَوْتَ، وَالْمَوْتُ خَيْرٌ لِلْمُؤْمِنِ مِنَ الْفِتْنَةِ، [۴] وَيَكْرَهُ قِلَّةَ الْمَالِ وَقِلَّةُ الْمَالِ أَقَلُّ لِلْحِسَابِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او حضرت محمود بن لبید رضي الله عنه نه روایت دی، رسول الله ﷺ وفرمایل، [۲] دوه څیزونه داسې دي چې ابن آدم (یعني انسان) یي نه خوښوي، (اګر که د حقیقت د اعتبار نه هغه دواړه څیزونه ډیر ښه دي) [۳] انسان یو خو مرګ نه خوښوي، حالانکي د مؤمن د پاره مرګ د فتني نه ښه دی [۴] دویم د مال ودولت کمی نه خوښوي، حالانکي د مال کمی د حساب د کمی موجب دی. (احمد)

تسهیلات: قوله: وَالْمَوْتُ خَيْرٌ لِلْمُؤْمِنِ مِنَ الْفِتْنَةِ:

د فتنې په مراد کښې اقوال:

① "فتنة" نه مراد په کفر شرك او ګناهونو کښې اخته کیدل،

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الطب عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی الحمیة (رقم-۲۰۳۶) واحمد فی المسند:۵/۴۲۷

[۲] اخرجه احمد فی المسند:۵/۴۲۷

③ دَ ظالم جابر خلقولره پـه داسې كاربانديې مجبوره كول كوم چه دَ اسلامي عقيدو او تعليماتو خلاف وي او داسې حالاتو سره مخ كيدل په كوم سره چه دَ انسان ژوند مجروح كيږي
④ دَ ظالم او جابر په مخكې دَ خپلې عقيدې او دَ اسلام اظهار چه په ښكاره نه شي كولې
⑤ دَ ظالم جابر په ويبنا دَ اسلام خلاف الفاظ جاري كيدل لهذا كه داسې صورت حال هم پيښ شي نو بيا هم دَ مرگ خواهش كول صحيح نه دي.

قوله: وَقِلَّةُ الْمَالِ أَقَلُّ لِلْحِسَابِ:

دقيامت په ورځ غريب سره د حساب آسانتيا: د دنياوي مال دولت كمې دَهرمسلمان دَپاره بهتر دي لهذا چه كوم مسلمان غريب وي هغه له خوشحاليدل پكار دي چه الله تعالى زه دَمال او دولت دَ زياتوالى نه بچ اوساتلم لكه چه دَ آخرت دَ حساب اوعذاب نه ئي بچ كړې يم ځكه چه دَمال اودولت ډيروالى وبال او دَ مال دَحساب دَ وجې نه به ډيرې سختئي په آخرت كښې پيښيږي.

[۵۲۵۲] دنبي عليه السلام په عاشق باندې د غريبۍ راتلل

۵۲۵۲-()[۲۲] ۱ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: «جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَالَ: ۲ إِنِّي أُحِبُّكَ. قَالَ: "انْظُرْ مَا تَقُولُ". ۳ فَقَالَ: وَاللهِ إِنِّي لَأُحِبُّكَ، ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. ۴ قَالَ: "إِنْ كُنْتَ صَادِقًا فَأَعِدَّ لِلْفَقْرِ تِجْفَافًا، ۵ لَلْفَقْرُ أَسْرَعُ إِلَى مَنْ يُحِبُّنِي مِنَ السَّيْلِ إِلَى مُنْتَهَاهُ»". ۶ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ۱ او حضرت عبد الله بن مغفل ﷜ وايي، يوسړى د نبي كريم ﷺ پـه خدمت كې حاضريدو سره عرض وكړو، يارسول الله! ۲ زه ستاسو سره ډير محبت لرم، حضور ﷺ (په دې اوريدو سره) ورته وفرمايل، گوره دا څه وايې؟ (يعني په ښه شان سوچ وكړه چې ته څه وايې، ځكه چې ته د يو ډير لوى شي دعوى كوې، داسې نه چې وروسته په خپله خبره ټينگ پاتې نه شې) ۳ هغه سړي عرض وكړو، يارسول الله قسم په الله زه تاسو سره محبت لرم، او درې ځلې يې دا جمله اداكړه، ۴ حضور ﷺ ورته وفرمايل، كه ته (خما د محبت په دعوى كې رښتنى يې) نو بيا فقر د پاره زغره تياره كړه، ۵ ځكه چې كوم سړى زماسره محبت لري، فقر او افلاس هغه ته د اوبو د رفتار نه هم ډير زر رسيږي چې خپل منتها طرف ته ځي، ۶ دا حديث ترمذي نقل كړى دى، او ويلي يې دي چې دا حديث حسن غريب دى.

حل اللغات:- ① أَعِدَّ: تياره كړه. ② تِجْفَافًا: په جنگ كښې د حفاظت دپاره يو قسم آله يعنى زغره، خو دلته ترې مصيبتونو باندې صبر او برداشت مراد دي.

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في فضل الفقر(رقم-۲۳۵۰)

تسهيلات:

قوله: فَأَعِدَّ لِلْفَقْرِ تِجْفَافًا:

دتجفاف څخه مراد: دَتجفاف په تاء باندې كسره ده او جيم ساكن دې او فاء باندې فتحه ده دښمن سره په جنګ كښې اس ته يو قسم وسله اچولې شى په كوم سره چه اس دَ دښمن دَ وار نه محفوظ وى لكه چه زغره دَانسان بدن محفوظ ساتى دغه شان دا يو قسم زغره ده چه دَ اس بدن دَ دښمن دَ زخم نه بچ كوى دې آلې ته په اردو كښې پاكهر وائى دلته تجفاف نه په مصيبتونو باندې صبر كول او مصيبتونه برداشت كول مراد دى

دنبى عليه السلام سره د مينې تقاضا: دَ عشقِ مصطفى تقاضا داده چه دَ دينِ مصطفى ترقى او حفاظت دَپاره هرقسم قربانى باندې صبر كول پكاردى په دې كښې فقر او فاقه هم شامل ده او دَ دښمن مقابله هم شامل ده يعنى دَ محبت دعوى كولو سره دَمصيبتونو دَپاره ملا او تړه څكه چه دَ حضورپاك سره دَ محبت رښتونى دعوىٰ باندې دَدغه سړى طرف ته مصيبتونه داسې رامنډې وهى لكه څنګه چه ښكته طرف ته زور دار سيلاب راځى دَدې حديث په رنړا كښې مونږ چه كله بريلوى حضراتو ته ګورو نودَ هغوى مشاهداتى ژوندون ښائى چه هغوى دَ عشقِ مصطفى په دعوىٰ كښې دروغژن دى

[۵۲۵۳] دَ الله تعالى په لاركښې دَ حضورپاك ﷺ د تكليفونو ذكر

۵۲۵۳-()[۲۳] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «لَقَدْ أُخِفْتُ فِي اللَّهِ وَمَا يُخَافُ أَحَدٌ، [۳] وَلَقَدْ أُوذِيتُ فِي اللَّهِ وَمَا يُؤْذَى أَحَدٌ، [۴] وَلَقَدْ أَتَتْ عَلَيَّ ثَلَاثُونَ مِنْ بَيْنِ لَيْلَةٍ وَيَوْمٍ، وَمَا لِي وَلِبِلَالٍ طَعَامٌ يَأْكُلُهُ ذُو كَبِدٍ، [۵] إِلَّا شَيْءٌ يُوَارِيهِ إِبْطُ بِلَالٍ» " [۶] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. قَالَ: وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ: حِينَ خَرَجَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- هَارِبًا مِنْ مَكَّةَ وَمَعَهُ بِلَالٌ، [۷] إِنَّمَا كَانَ مَعَ بِلَالٍ مِنَ الطَّعَامِ مَا يَحْمِلُ تَحْتَ إِبْطِهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه وايي، چي رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] د الله د دين ظاهرولو او د هغه طرف ته د خلقو بللو، په لار کي چي خومره زه خوف او دهشت کي مبتلا شوي يم، دومره بل څوك خوف او دهشت کي نه دى اخته شوى. [۳] او د الله د دين په لار کي چي څومره تکليفونو سره زه مخ شوى يم دومره بل څوك نه دى مخ شوى ايعنى ابتداء کي چي ما د اسلام دعوت پيش کړو، او د الله وحدانيت او د خپل رسالت اعلان مي وکړى، نو هغه وخت زه بالکل تنها وم، بل سړى زما سره نه وو نو په دي لار کي راتلونکي ټول مصيبتونه هرقسم دهشت انګيزي برداشت کونکي واحد سړى زه وم]. [۴]

[۱] اخرجه الترمذى فى السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۴۷۲) وابن ماجه فى كتاب فى الإيمان وفضائل الصحابة والعلم/باب فضل سلمان. وأبى ذر. والمقداد (رقم-۱۵۱)

بلاشبه په ماباندې متواتر ديرش ورځي او ديرش شپې داسې تيرې شوي دي چې په هغه کې څما او بلال رضي الله عنه د پاره څه شی نه وو ⑤ علاوه د هغه ډير معمولي څيز نه چې بلال رضي الله عنه په خپل ترخ کې پټ شاتی (او ښکاره ده چې کوم څيز انسان بغل کې اخستي وي. د هغه حيثيت څه وي، خاص طور سره په داسې صورت کې چې دبهر نه هم هغه په نظر نه راځي. چې بغل کې څه دی!) ⑥ ترمذي دا روايت نقل کړی دی، او ويلې يې دی. چې په دې حديث کې د حضور صلى الله عليه وسلم کوم صورت حال بيان شوی دی، د دې تعلق د هغه وخت شره دی. کوم وخت چې حضور صلى الله عليه وسلم د مکې نه وتلو باندې مجبوره شوی وو او هغه وخت حضور صلى الله عليه وسلم سره حضرت بلال رضي الله عنه وو. ⑦ او حضرت بلال رضي الله عنه سره د خوراك څيزونه صرف دومره وه، چې هغه خپل بغل کې دباو کړي وه.

حل اللغات: - ① أُخِفْتُ: په خوف او ويره کښې اچولې شوې يم. ② ذُوكَبِدٍ: تشي والا. يعنی ساه لرونکې. ③ يُوَارِيه: پټ ئې ساتی. ④ إِبْطُ: ترخ. ⑤ هَارِبًا: تختيدونکې.

تسهيلات:

قوله: هَارِبًا مِنْ مَكَّةَ: دا دَ مکې نه دَ مدينې طرف ته دَ هجرت واقعه نه ده، نه دَ طائف دَ سفر واقعه ده. څه بله واقعه ده په کومه کښې چه حضرت بلال رضي الله عنه ورسره وو.

[۵۰۵۳] د رسول الله صلى الله عليه وسلم او صحابه کرامو دلوږې نه په خيټه باندې کانړی ترل

۵۰۵۳ - () [۲۳] ① وَعَنْ أَبِي طَلْحَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: «شَكَوْنَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - الْجُوعَ، ② فَرَفَعْنَا عَنْ بُطُونِنَا عَنْ حَجَرٍ حَجَرٍ، ③ فَرَفَعَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَنْ بَطْنِهِ عَنْ حَجَرَيْنِ». ④ رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوطلحه رضي الله عنه وايي، مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د لوږې شکايت وکی. ② او په خپل نس (خيټه) باندی کاڼي ترلي مو ورته وخودل (يعني په مونږ کې هرسړی د لوږې د شدت نه بيتابه کيدو سره په خپل نس (خيټه) يويو کانی ترلی وو. چې مونږ خپل نس کهولاؤولو سره حضور صلى الله عليه وسلم ته مو وخودل) ③ بيا حضور صلى الله عليه وسلم خپل نس مبارك خلاص کی. نو په هغه باندې دوه کاڼي ترلي وه. ④ ترمذي رحمه الله دا روايت نقل کړی دی، او ويلې يې دی، چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات: - ① الْجُوعَ: اولږه. ② حَجَر: کانړي، تيکه.

تسهيلات:

قوله: فَرَفَعْنَا عَنْ بُطُونِنَا عَنْ حَجَرٍ حَجَرٍ:

په لوږه کښې په خيټه د کانړی ترلو فائده: کله چې اولږه سخته شی اوخيټه بالکل خالی

---

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-۲۴۷۱)

شی نو په دغه صورت کښې په خيټه پورې کاڼړې تړل خيتې، معدې او کولمو ته د هغه حده پورې طاقت وررسوی چه انسان ته د خپل کار روزګار د کولو طاقت حاصليږي.

د خيټو څخه د کاڼړو په ښکاره کولو کښې دوه وجوهات: ① په مذکوره حديث کښې صحابه کرامو ﷺ سوچ اوکړو چه مونږ خو د اولږې د وجې نه په خيټه پورې کاڼړې تړلې دی کيدې شی چه حضورپاک ته زمونږ د اولږې علم نه وی

② د صحابه کرامو ﷺ په زړونو کښې دا خيال راغلې وی چه مونږه اوګې شوی يو حضورپاک به اوګې شوې نه وی.

د نبی عليه السلام په خيټه پورې دوه کاڼړې: خو چه کله صحابه کرامو خپلې خيتې ښکاره کړې نو په هغوی کښې هريو کس يو يو کاڼړې تړلې وو خو چه کله حضورپاک کپړا اخوا کړه نو د محبوب عالم په خيټه پورې دوه کاڼړی تړلې شوی وو. په دې حديث کښې رسول کريم ﷺ خپل امت ته په خپل قول سره هم د صبر کولو حکم ورکړو او په خپل حال سره هم.

[۵۲۵۵] د لوږې په وخت د رسول الله ﷺ يو يو قجوره تقسيمول

۵۲۵۵-(١)[٢٥] ① «وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - أَنَّهُ أَصَابَهُمْ جُوعٌ ② فَأَعْطَاهُمْ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَمْرَةً تَمْرَةً». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره ﷺ نه روايت دی چې د لوږې شدت فقراء صحابه پريشانه کړه، ② نو رسول الله ﷺ په هغوئ کې هريوه ته يو يو خرما عطا کړه. (ترمذي)

تسهيلات:

قوله: فَأَعْطَاهُمْ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - تَمْرَةً تَمْرَةً:

د صحابؤ د غريبۍ ژوند: د دې حديث نه د حضرت ابوهريره ﷺ مقصد دا وو چه په دغه صحابه کرامو باندې د غربت اولږې تندې، د خوراک څښاک د تنګی دومره زياته غلبه وه چه اکثر وختونو کښې به هغوی په يوه يوه کهجوره باندې صبر کولو په يوه کهجوره باندې به اکتفاء داسې کيدله چه الله تعالی به په هغې کښې برکت واچولو د کوم په وجه چه به يوه کهجوره د يو صحابی د پاره کافی کيدله

[۵۲۵۶] صبر کولکې او شکر کونکې څوک دې؟

۵۲۵۶-(٢)[٢٦] ① وَعَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "

[1]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٤٧٤) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب معيشة أصحاب النبی صلی الله عليه وسلم (رقم-٤١٥٧)

[2]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٥١٢)

[٢] «خَصْلَتَانِ مَنْ كَانَتَا فِيهِ كَتَبَهُ اللّٰهُ شَاكِرًا صَابِرًا: [٣] مَنْ نَظَرَ فِي دِينِهِ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ، فَاقْتَدَى بِهِ، [٤] وَنَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ دُونَهُ، [٥] فَحَمِدَ اللّٰهَ عَلَى مَا فَضَّلَهُ اللّٰهُ عَلَيْهِ ; [٦] كَتَبَهُ اللّٰهُ شَاكِرًا صَابِرًا. [٧] وَمَنْ نَظَرَ فِي دِينِهِ إِلَى مَنْ هُوَ دُونَهُ، [٨] وَنَظَرَ فِي دُنْيَاهُ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَهُ [٩] فَأَسِفَ عَلَى مَا فَاتَهُ مِنْهُ، [١٠] لَمْ يَكْتُبْهُ اللّٰهُ شَاكِرًا وَلَا صَابِرًا». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. [١١] وَذَكَرَ حَدِيثَ أَبِي سَعِيدٍ: «أَبْشِرُوا يَا مَعْشَرَ صَعَالِيكِ الْمُهَاجِرِينَ» فِي بَابٍ بَعْدَ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ.

ترجمه: [١] او حضرت عمرو بن شعيب خپل والد نه او هغه خپل نيكه نه نقل كوي، رسول الله ﷺ وفرمايل. [٢] دوه خصلتونه داسې دي، چې په كوم سړي كې پيدا شي، الله ﷻ هغه صابر او شاكر ګرځوي، [٣] يو هغه سړى چې ديني معامله (يعني نيك اعمال وغيره، كې يو سړى ووينې چې [د علم وعمل طاعات او عبادات، قناعت او استقامت او رياضت او مجاهدې د اعتبار نه] د هغه نه برتروي، نو د هغه اقتداء كوي [يعني د هغه ديني برتري او فضيلت نه داسې فيضان حاصل كړي چې خپله دې هم د علم او عمل په لار شي. د طاعاتو او عباداتو، محنت او مشقت او بدو (برائيو) نه پرهيز باندې صبر او استقامت اختيار كړي، او كوم ديني او باطني كمالات چې تري مخكې فوت شوي وي چې په هغه افسوس وكړي] [٤] او دويم داچې هركله د دنيا معامله كې هغه سړى ووينې چې مال ودولت او جاه ومنصب د اعتبار نه هغه نه كمتر وي، [٥] نو د الله ﷻ حمد وثناء وكړي. او د هغه شكر ادا كړي، چې هغه په هغه سړي هغه ته فضيلت او برتري وركړي ده. [٦] نو الله ﷻ داسې سړى صابر او شاكر ګرځوي، [يعنى شاكر، خو د دې د پاره چې هغه دنياوي اعتبار نه ځان نه كمتر سړى ليدو سره د الله شكر اداكې، او صابر، د دې د پاره چې هغه ديني اعتبار سره د ځان نه برتر ليدو سره هغه نه رهنمايي او فيضان حاصل كي] . [٧] او كوم سړى چې داسې وي، چې يو داسې سړى ووينې چې د هغه نه ديني يعنى د اعمال صالحه وغيره اعتبار سره د هغه نه د كمتر درجې وي نو غرور او تكبر كې اونخلي [٨] او هركله چې يو داسې سړى ووينې چې د هغه نه دنياوي يعنى جاه ومال اعتبار نه برتر وي (نو رشك. حسد. حرص. او خواهش كې اونخلي) [٩] او هغه شى (يعني جاه ومال) باندې رنج وغم وكړي. چې د هغه نه هغه محروم دى [١٠] نو داسې سړى الله ﷻ نه شاكر ګرځوي او نه صابر (ترمذي) [١١] او د حضرت ابو سعيد رضي الله عنه روايت (ابشروا يا معشر صعاليك المهاجرين الخ) په هغه باب كې نقل شوى دى، چې د فضائل قرآن د باب نه پس دى

حل اللغات: - ① خَصْلَتَانِ: دوه صفات يا خوبياني. ② أَسِفَ: افسوس اوكړى. ③ صَعَالِيكِ: د صعلوك جمع ده لكه څنګه چه عصافير د عصفور جمع ده دې نه فقيران مسكينان او كمزوري نادار خلق مراد دى.

تسهیلات:

قوله خَصْلَتَانِ مَنْ كَانَتَا فِيهِ كَتَبَهُ اللهُ شَاكِرًا صَابِرًا:

دصبر او شکر په صفت موصوف مسلمان مقام: شکر او صبر دواړه په یو کس کښې په یو وخت جمع کیدل مشکل دی ځکه چه شکر خوډ نعمت په ملاویدلو باندې کیږی او صبر د نعمت په نه ملاویدو یا د نعمت په ختمیدو باندې کیږی خو چه کوم کس په دغه مذکوره دواړو خبرو باندې عمل کوی هغه به هم په یو وخت کښې صابر هم وی او شاکر به هم وی دډې مطلب دادې چه الله تعالی دغه کس لره کامل مؤمن جوړوی. چنانچه په دې آیت کښې ﴿إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ﴾ د صابر او شاکر اطلاق هم په هغه چا باندې کیږی کوم چه کامل مؤمن وی.

په ایمان کښې د صبر او شکر حصه: بل په دې حدیث کښې داهم فرمائیلی شوی دی چه د ایمان دوه نصف دی یو نصف صبر دې او بل نصف شکر دې. لکه چه خپل ځان د بدو نه منع کول صبر سره تعبیر دې او د ظاهری اعضاؤ په ذریعه د طاعاتو پوره کول د شکر په مفهوم کښې دی او ښکاره خبره ده چه د کوم بنده ژوند په دغه دواړو اجزاؤ معمور وی هغه کامل مؤمن وی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۲۵۷] په فقر باندې د صبر کولو فضیلت

۵۲۵۷-(۱)[۲۷] [۱] وَعَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ الْحُبُلِيِّ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] «سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو، وَسَأَلَهُ رَجُلٌ قَالَ: [۳] أَلَسْنَا مِنْ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ؟ [۴] فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ: أَلَكَ امْرَأَةٌ تَأْوِي إِلَيْهَا؟ قَالَ: نَعَمْ. [۵] قَالَ: أَلَكَ مَسْكَنٌ تَسْكُنُهُ؟ قَالَ: نَعَمْ. [۶] قَالَ: فَأَنْتَ مِنَ الْأَغْنِيَاءِ [۷] قَالَ: فَإِنَّ لِي خَادِمًا قَالَ: فَأَنْتَ مِنَ الْمُلُوكِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوعبد الرحمٰن حبلي رحمه الله (چې د هغه اصل نوم عبد الله بن زید مصري دی، او د هغه شمیر ثقه تابعین نه کیږي) وایي [۲] ما د حضرت عبد الله ابن عمرو ابن عاص رضي الله عنه نه واوریدل، کله چې یو سړي د هغه نه پوښتنه وکړه [۳] چې آیا مونږ د هغه فقراء مهاجرینو نه نه یو، [چې د هغوئ باره کې دا بشارت ورکول شوی دی، چې هغوئ به د دولتمندو نه څلویښت کاله مخکې جنت کې داخلیږي]، [۴] حضرت عبد الله په دې اوریدو سره هغه سړي نه پوښتنه وکړه آیا ته ښځې والا یې، چې د هغه سره تاته سکون او قرار حاصلیږي، هغه سړي وویل، هو [۵] بیا حضرت عبد الله پوښتنه ورنه وکړه، آیا ستاسره مکان شته چې په هغه کې ته رهائش اختیاروې، هغه سړي اوویل هو، مکان هم

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق (رقم-(رقم-۳۷ - (۲۹۷۹)

شته [۶] حضرت عبد الله ورته وویل، بیا ته دولتمند وکي یي [یعني ته د هغه مهاجرینو حیثیت مند سړی یي چې فقراوافلاس کې مبتلا نه وو، فقراء مهاجرینو کې ستا شمیر نشي کیدی، ځکه چې هغه فقراؤ سره نه ښځه وه، نه کوربار وو، که د چا سره په دې دوارو کې یوشی وو، نو دویم نه محروم وو] [۷] هغه سړی چې دا واوریدل چې حضرت عبد الله د ښځې او کور والا کیدو په وجه هغه ته ګویا دولتمند ویلی دی، نو هغه وویل. زما سره یوخادم هم شته یعنی غلام یا منځه حضرت عبد الله ورته وفرمایل. بیا خو ته د بادشاهانو نه یي، [یعنی په دي صورت کې خو ستا شمیر رئیسانو او بادشاهانو کې کیدل پکار دی، تاته فقیر او مفلس وئیل په هیڅ شان نه درست کیږي]

[۸] قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: وَجَاءَ ثَلَاثَةُ نَفَرٍ إِلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو وَأَنَا عِنْدَهُ [۹] فَقَالُوا: يَا أَبَا مُحَمَّدٍ! إِنَّا وَاللّٰهِ مَا نَقْدِرُ عَلَى شَيْءٍ. [۱۰] لَا نَفَقَةَ وَلَا دَابَّةَ وَلَا مَتَاعَ. [۱۱] فَقَالَ لَهُمْ: مَا شِئْتُمْ إِنْ شِئْتُمْ رَجَعْتُمْ إِلَيْنَا، فَأَعْطَيْنَاكُمْ مَا يَسَّرَ اللّٰهُ لَكُمْ [۱۲] وَإِنْ شِئْتُمْ ذَكَرْنَا أَمْرَكُمْ لِلسُّلْطَانِ، وَإِنْ شِئْتُمْ صَبَرْتُمْ [۱۳] فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: " إِنَّ فُقَرَاءَ الْمُهَاجِرِينَ يَسْبِقُونَ الْأَغْنِيَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَى الْجَنَّةِ بِأَرْبَعِينَ خَرِيفًا ". [۱۴] قَالُوا: فَإِنَّا نَصْبِرُ لَا نَسْأَلُ شَيْئًا». رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۸] حضرت ابو عبد الرحمن راوي دابیان هم وکی، چې (یوه ورځ) حضرت عبد الله ابن عمرو ﷺ ته دري سړي راغلل، هغه وخت زه هم د هغوئ په خدمت کې حاضر وم، [۹] هغه دریو سړو وویل، اې ابو محمد! په الله قسم مونږ د هیڅ شي استطاعت نه لرو، [۱۰] نه د خرچ کولو چې حج ته لاړشو، نه د څه څناورو چې په جهاد کې شریك شو او نه د څه نور سامان چې هغه خرڅولو سره خپل ضروري اخراجات پوره کړو، [۱۱] حضرت عبد الله ﷺ د هغوئ خبره اوریدو سره ورته وفرمایل، تاسو څه غواړئ، که ستاسو دا خواهش وي، چې زه ستاسو سره مدد وکړم او تاسو ته د خپل طرف نه څه درکړم، نو تاسو خلق بیا څه وخت پس راشئ، زه به تاسو ته هغه شی درکړم، چې د هغه به الله ستاسو د پاره انتظام وکړي، ځکه چې تاسو ته درکولو د پاره دا وخت زما سره هیڅ نشته [۱۲] او که تاسو غواړئ چې زه ستاسو حالت بادشاه امیر معاویه ﷺ ته بیان کړم، او هغه تاسو خپلې ورکړي سره فارغ کړي، او د ټولو نه ښه خبره داده، که تاسو د اهل کمال رتبه حاصلول غواړئ نو صبر کوئ یعنی په دي خپل حالت فقر او افلاس باندې استقامت اختیار کئ [۱۳] ځکه چې ما د رسول الله ﷺ نه اوریدلي دي چې فرمایل به یې: چې فقراء مهاجرین به د قیامت په ورځ جنت ته د مالدارو نه څلوېښت کاله مخکې ځي هغه دریو سړو چې دا حدیث واوریدی [۱۴] نو هغوئ اوویل بیشکه مونږ د صبر وثقامت لار اختیارولو عهد کوو، اوس مونږ ستاسو نه هیڅ نه غواړو یا داچې اوس به آینده مونږ د هیچا نه هیڅ نه غواړو (مسلم)

حل اللغات: ① خَرِيفًا: خریف دَ خزان موسم ته وائی دلته ترې کال مراد دې.

تسهيلات:

نوټ: د حديث د مشكلو جملو وضاحت د مختلفو احاديثو په تسهيل کښې ذکر شوي دي او دکومو تسهيل چې نه دې شوي هغه مضمون کښې څخه مشکل نشته.

[۵۲۵۸] د فقراء مهاجرينو فضيلت

۵۲۵۸—()[۲۸] [۱] «وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] بَيْنَمَا أَنَا قَاعِدٌ فِي الْمَسْجِدِ وَحَلْقَةٌ مِنْ فُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ قُعُودٌ [۳] إِذْ دَخَلَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَقَعَدَ إِلَيْهِمْ، فَقُمْتُ إِلَيْهِمْ، [۴] فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِيُبْشِرْ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ بِمَا يَسُرُّ وُجُوهَهُمْ [۵] فَإِنَّهُمْ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ قَبْلَ الْأَغْنِيَاءِ بِأَرْبَعِينَ عَامًا" [٦] قَالَ: فَلَقَدْ رَأَيْتُ أَلْوَانَهُمْ أَسْفَرَتْ». [۷] قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو: حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ مَعَهُمْ أَوْ مِنْهُمْ. رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله ابن عمرو وايي، [۲] مونږ خلق په مسجد نبوي کې ناست وو. او د فقراء مهاجرين حلقه جوړه وه، [۳] چې ناڅاپه رسول الله ﷺ تشريف راوړی او د فقراؤ طرف ته مخ کولو سره کېنستی، زه هم خپل ځای نه لاړم، او د حضور ﷺ اتباع کې فقراؤ طرف ته نزدې رسيدو سره هغوئ طرف ته متوجه شوم (چې حضور ﷺ هغوئ ته څه فرمايي هغه ملفوظات زه هم واورم) [۴] نو حضور ﷺ وفرمايل، فقراء مهاجرينو ته هغه بشارت رسول ضروري دی، چې هغوئ خوشحاله کي، [۵] نو (هغه بشارت دادی) چې فقراء مهاجرين به په جنت کې د دولتمندو نه څلويښت کاله مخکې داخليږي، [٦] حضرت عبد الله وايي په الله قسم چې ما دا وليدل چې دی بشارت اوريدو سره د فقراء د مخ رنګ روښانه شو، [۷] بيا حضرت عبد الله وفرمايل، دي بشارت اوريدو سره او د فقراؤ د مخونو روښانه ليدو سره ځما په زړه کې دا ارزو پيدا شوه، چې کاش آرمان زه هم د دوئ په شان وی، [يعنی دي دنيا کې په ماهم فقر او افلاس خور شوی وی، او د فقراؤ دي جماعت کې شمير شوی وی، يا داچې د هغوئ نه وی، يعنی په آخرت کې دي جماعت سره پورته کيدای، او د دوئ سره ځما حشر کيدای] (دارمي)

حل اللغات: - ① حَلْقَةٌ: ډله، جماعت ② أَسْفَرَتْ: زير شوی وو.

تسهيلات:

قوله: لِيُبْشِرْ فُقَرَاءُ الْمُهَاجِرِينَ بِمَا يَسُرُّ وُجُوهَهُمْ:

د وجوه ځخه په مراد کښې دوه احتمالات: ① دَ وجوه ځخه مراد ذات دې او مخ ئې ځکه ذکر کړلو چې دا په انساني اعضاؤ کښې مشرف اومعزز اندام دې چې مخ کوم طرف ته وررروان وی تول بدن هغې طرف ت وررروان وی.

[۱]) اخرجه الدارمي في السنن رقم الحديث ۲۸٤٤

② د وجوه څخه خپله اصلي معنی مراد ده. چې مخ دې. په دې صورت کښې به معنی دا شي چه هغه به دَهغوی زړونه خوشحاله کړي او دَ دغه خوشحالئی اثر به دَهغوی په مخونو باندې ښکاره شي.

قوله: حَتَّى تَمَنَّيْتُ أَنْ أَكُونَ مَعَهُمْ أَوْ مِنْهُمْ:

په کلمه د ..او.. کښې دوه احتمالات: ① حرف "أو" تنویع دَپاره دې ② کلمه د او دَ راوی دَ شك ښکاره کولو دَپاره راوړلې شوې دې

یعني حضرت عبد الله ﷺ یا خو "أن أکون معهم" فرمائیلي دي یا دا چه "أن أکون منهم" یعني زما په زړه کښې دا تمنا پیدا شوه چه افسوس زه دَ فقیرانو او دَ مهاجرینو نه یو وې

[۵۲۵۹] دَرسول الله ﷺ نصیحتونه

۵۲۵۹-()[۲۹] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «أَمَرَنِي خَلِيلِي بِسَبْعٍ: [۲] أَمَرَنِي بِحُبِّ الْمَسَاكِينِ وَالدُّنُوِّ مِنْهُمْ، [۳] وَأَمَرَنِي أَنْ أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ دُونِي [۴] وَلَا أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقِي، [۵] وَأَمَرَنِي أَنْ أَصِلَ الرَّحِمَ وَإِنْ أَدْبَرَتْ، [۶] وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَسْأَلَ أَحَدًا شَيْئًا، [۷] وَأَمَرَنِي أَنْ أَقُولَ بِالْحَقِّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا، [۸] وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَخَافَ فِي اللَّهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ، [۹] وَأَمَرَنِي أَنْ أُكْثِرَ مِنْ قَوْلِ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، [۱۰] فَإِنَّهُنَّ مِنْ كَنْزٍ تَحْتَ الْعَرْشِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر ﷺ وایي، څما خلیل (رسول الله ﷺ) ماته د اوو خبرو حکم کړی دی، [۲] یو خو یې دا حکم راکی چې زه فقراء او مساکینیو سره محبت کوم، او هغوئ سره قربت ساتم [۳] دویم حکم دا چې زه هغه سرې طرفته ګورم چې جاه ومال او منصب کې څمانه کمتر دي [۴] او هغه سرې ته نه ګورم چې جاه ومال او منصب کیڅمانه بالاتر دي [۵] دریم حکم یې دا راکی، چې زه قرابتدارو سره رشته قائم وساتم، اګر که یو قرابتدار رشته منقطع کوي، [۶] څلورم حکم داوو، چې زه د چا نه څه شی نه غوارم [۷] پنځم حکم یې دا راکی، چې زه په هرحالت کې حقه خبره کوم، اګر که هغه اوریدونکی ته ترخه معلومیږي. [۸] شپږم حکم یې دا وکی، چې زه د الله د دین په حکم کې او د امر بالمعروف او نهي عن المنکر په سلسله کې د ملامت کونکي دملامتیانه ونه ویریږم، [۹] او اووم حکم یې راته دا وکی چې زه کثرت سره د لاحول ولاقوة الا بالله ورد کوم [۱۰] بیا حضور ﷺ وفرمایل. نو دا اووه خبرې او عادتونه دهغه خزانې نه دی، چې د عرشِ الٰهي لاندي ده، او د هغه فیوض او برکات نازلیږي. (احمد)

حل اللغات:- ① الدُّنُوّ: قربت او نزدیکت، ② دُونِي: ښکته په مرتبه کښې، ③ أَصِلَ: چه زه قائم اوساتم، ④ الرَّحِمَ: رشته داری، ⑤ مُرًّا: تریخ، ⑥ كَنْز: خزانه.

---

(۱) اخرجه احمد في المسند: ۱۵۹/۵

تسهیلات:

قوله فَإِنَّهُنَّ مِنْ كَنْزٍ تَحْتَ الْعَرْشِ:

د انهن د ضمیر په مرجع کښې دوه اقوال: ① د دې مرجع مذکوره اووه خبرې دی. د دې قول قائلین فرمائی چې دا اووه واړه خبرې او عادتونه هم خزانې دی کومې چه دَ الله تعالی دَعرش دَ لاندې ده.

② ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی دَدې ضمیر مرجع صرف آخری خبره یعنی "لاحول ولاقوة إلا بالله" کرخولې دې بیا فرمائی چې د کنز څخه د هغه کنز معنوی یوه حصه ده کوم چه دَ الله تعالی دَعرش لاندې محفوظ ساتلې شوې ده. اودا هم احتمال لری چې د دې څخه دَ جنت دَخزانو څخه یوه خزانه مراد ده. په دې صورت کښې به دَ الله تعالی دَعرش دَ لاندې دَ کیدو مفهوم بالکل واضح وی ځکه چه عرش دَ جنت دَ پاسه دې.

د خزانو څخه د کیدو په اعتبار کښې درې اقوال: ① دې الفاظوته خزانې ځکه وئیلی شوی دی چه لکه څنګه چه خزانه دَعامو خلقو دَ نظر نه پټه وی دغه شان دا الفاظ دَ خپل حقیقت، فضیلت او پاکوالی په اعتبارسره دَ خلقو دَ نظر نه پټ دی.

② دا الفاظ په دې وجه خزانې سره تعبیر کړې شوی دی چه دا دَ جنت دَ ذخیرونه یوه ذخیره ده.

③ دا الفاظ څوك وائی دَ هغه دَپاره دَدیرې اوچتې مرتبې اجر او ثواب په جنت کښې محفوظ کولې شی لکه څنګه چه خزانه محفوظ پاتې وی.

[۵۲۶۰] دَرسول الله ﷺ خوښ څیزونه

> ۵۲۶۰-()[۱] [۳۰] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يُعْجِبُهُ مِنَ الدُّنْيَا ثَلَاثَةٌ: [۳] الطَّعَامُ وَالنِّسَاءُ، وَالطِّيبُ، [۴] فَأَصَابَ اثْنَيْنِ وَلَمْ يُصِبْ وَاحِدًا، [۵] أَصَابَ النِّسَاءَ وَالطِّيبَ، وَلَمْ يُصِبِ الطَّعَامَ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] او بی بی عائشه رضی الله عنها وایی، [۲] د دنیا د څیزونو نه درې څیزونه د رسول الله ﷺ په نظر کې ډیر خوښ وو، [۳] یو خوطعام (چې د هغه په ذریعه جسم او بدن محفوظ او توانا ساتلو سره دینې خدماتو باندې قدرت او طاقت حاصل شي، دویم ښځې (چې د هغوئ په ذریعه نفس د خرابو خیالاتو نه محفوظ وساتل شي) او دریم خوشبو (چې د هغه په ذریعه دماغ ته نشاط او تقویت حاصل شي، ځکه چې د حکماء د قول مطابق د عقل وفراست مخزن دماغ دی)[۴] نو دې دریو څیزونو نه دوه څیزونه زیات حاصل شوه، لیکن

---

[۱]) اخرجه احمد فی المسند: ۷۲/۶

دریم څیز (خوراك) ورته زیات حاصل نه شو. [۵] یعنی یو خو ښځي [ورته زیاتي حاصلي شوی په دي طور چې حضور ﷺ نه ودونه وکړل] او دویم [خارجي طور سره] خوشبو [حضور ﷺ ته ډیره حاصله شوه باوجود د دې چې د حضور ﷺ سینه مبارکه د ټولو خوشبویو نه زیاته معطره او خوشگواره وه] لیکن دریم څیز (خوراك) ورته زیات حاصل نه شو. (احمد)

تسهیلات:

قوله: يُعْجِبُهُ مِنَ الدُّنْيَا ثَلَاثَةٌ:

درې څیزونو سره د محبت وجه: دا څیزونه چونکه دآخرت په امورو کښې معاون ثابتیږی ځکه نبی علیه السلام ته دا خوښ کړی شوی وو.

د دې سره محبت کولو شوو څیزونو سره محبت چونکه دَ آخرت امور رایادوی. الله تعالی دَ حضورپاك دَ خوښو کړې شوو څیزونو نه دوه څیزونه ورکړل په هغې کښې اولنې څیز بیبیانې دی

قوله: أَصَابَ النِّسَاءَ

د زنانو خوښولو دوه وجوهات: ① خپلې بی بی سره محبت دَ نسل کثرت او دَ نصف ایمان سبب دې. بلکه دا چه دَ خپلې ښځې سره محبت دَ تقوی اصل هم دې. کوم سړې چه خپلې بی بی سره محبت نه کوی هغه بدکاره کیږی.

② بعضې شرعی مسئلې داسې وی چه په ښکاره چاته خودلو کښې حیاء محسوسیږی په دې وجه دَ خپلې بی بی په ذریعه مسئلې خودلو کښې آسانی وی.

قوله: وَالطِّيبَ،

خوشبوئې سره د محبت وجه: په خوشبوئی سره روحانی تازه والې راځی څومره چه روحانیت قوی وی هم هغه هومره اندازه باندې به خوشبوئی هم خوښه وی. هم په دې وجه دَ قرآن پاك دَ تلاوت او په نورو موقعو باندې د خوشبوئی دَ استعمال ډیر فضائل راغلی دی. رسول کریم ﷺ ته بیبیانې او خوشبوئی په کثرت سره ملاؤ شوی وی خو خوراك ورته په کثرت سره ملاؤ نه شو.

قوله: وَلَمْ يُصِبِ الطَّعَامَ

د نبی علیه السلام غریبی: دَ حضورپاك دَ پاره به دَ خوراك ضروریات دومره کم وو چه دَ نشت برابر وو لکه څنګه چه مخکښې دا روایات تیرشوی دی چه حضورپاك مسلسل دوه ورځې دَ اوربشو روټئی په مړه خیټه نه ده خوړلې. سره دَدې چه دَ خوراك دا تنګی او کمې حضورپاك پخپله اختیار کړې وو ځکه چه حضورپاك دَ خپل ځان دَپاره دَ ژوند تنګئی او دَ فقر او غریبئی ژوند ته ترجیح ورکړې وه.

[٥٠٣] د رسول الله ﷺ نور خوښ څيزونه

٥٠٣-(¹) [٣١] [١] وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [٢]«حُبِّبَ إِلَيَّ الطِّيبُ وَالنِّسَاءُ، [٣] وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ» ". [٤] رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالنَّسَائِيُّ. وَزَادَ ابْنُ الْجَوْزِيِّ بَعْدَ قَوْلِهِ (حُبِّبَ إِلَيَّ): "مِنَ الدُّنْيَا".

ترجمه: [١] او حضرت انس ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٢] ماته خوشبوا وښځې خوښ کړل شويدي [٣] اوزما قلبي سکون او نشاط په مونځ کې ايخودل شوى دى [٤] (احمد، ونسائي) او ابن جوزي ﷫ دي ارشاد کې، حُبِّبَ إِلَيَّ نه پس مِنَ الدُّنْيَا الفاظ هم زيات نقل کړيدي.

تسهيلات:

قوله وَجُعِلَتْ قُرَّةُ عَيْنِي فِي الصَّلَاةِ:

دقرة لغوى تحقيق:

د قرة په ماده اشتقاق کښې دوه احتمالات اودهريو معنى:

① "قرة" دَ قُرَّة نه مشتق دې دَ دې معنى هم دَ هغه يخوالى او خوند دې چه دَ يو ډير خوښ او دَ محبوب څيز په ليدو او دَ مشاهدې په خوند سره سترګو ته حاصليږى. هم دغه شان خوند په مانځه کښې حاصليږى.

② "قرة" دخو قرّ نه مشتق دې دکوم معنى چه قرار او ثبات ده. چونکه سترګو ته چه کله دَمحبوب ديدار نصيب کيږى نو په هغې سره نظر ته قرار حاصليږى او دغه سترګې بيا بل چا ته دَ کتو رواداري نه وى بلکه زړه او دماغو ته په هغې سره راحت حاصليږى او دَ نه کتلو په وجه نظر پريشان او زړه بې آرام وى. لهذا دغه قرار او سکون رسول الله ﷺ "قرة عينى" سره ذکرکړو

د نبى عليه السلام د سترګو يخوالې په مانځه کښې: يعنى زما دَ زړه سکون او تازه والې په مونځ کښې کيخودلې شوې دې. دَ دې مطلب دادې چه ماته کوم ذوق، خوند، استغراق او حضور او سرور په مونځ کښې حاصليږى هغه په بل هيڅ يو وخت او په بل يو عبادت کښې هم نه حاصليږى.

اشکال: که چرې دَ روايت دواړه الفاظ دې سره شامل شى نو سوال راځى چه په مانځه باندې دَ دنياوى څيز اطلاق څنګه کيدې شى څکه چه مونځ خود دَ دنياوى امورو څخه نه دې؟

داشکال جواب: دَدِنيا نه مراد دَ حضورپاک دَدې عالم حيات دې يعنى لکه چه حضورپاک

¹) اخرجه النسائى فى السنن كتاب عشرة النساء/باب حب النساء (رقم-٣٩٣٩) واحمد فى المسند: ١٢٨/٣

داسې لوفرمائيل چه په دې عالم کښې درې څيزونه زما خوښ دی په کوم کښې چه دوه څيزونه خو طبعي او دنياوي امورو سره تعلق لری يعنې خوشبوئي او ښځې او دَ دريم څيز تعلق ديني امورو سره دې دَ صلوة نه مراد اکثر محدثينو هم مونځ اخستې دې ليکن بعضې حضراتو په حضورپاك باندې درود وئيلو باندې محمول کړی دی

[۵۳۳] دځان آسانی څخه د پرهيز کولو تاکيد

۵۳۳-(١)[۳۲] ۱ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- ۲ «أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- لَمَّا بَعَثَ بِهِ إِلَى الْيَمَنِ، ۳ قَالَ: "إِيَّاكَ وَالتَّنَعُّمَ; ۴ فَإِنَّ عِبَادَ اللَّهِ لَيْسُوا بِالْمُتَنَعِّمِينَ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ۱ او د حضرت معاذ بن جبل ﷺ روايت دی ۲ چې کله هغه لره رسول الله ﷺ د يمن قاضي جوړ کی (وي ليږي) ۳ نو دانصيحت يي ورته وفرمايه چې خپل ځان د راحت طلبي اوآرايش نه ساته ۴ څکه چې د الله پاك خاص بندګان د ارام او د آسائش ژوند نه تيروي

حل اللغات: - ① إِيَّاكَ: ځان بچ ساته، ② التَنَعُّمَ: عيش او راحت، آرائش.

تسهيلات:

قوله إِيَّاكَ وَالتَّنَعُّمَ:

دتنعم تعريف: "تنعم" وئيلی شی دَنفس دَ خواهشاتو په پوره کولو کښې دَزيات نه زيات اهتمام او انصرام کول، ډير زيات دنياوي خوندونو اونعمتونو په مينځ کښې اوسيدل او دَ خوراك څښاك او طبيعت او دَ نفس دَ مرغوباتو حريص کيدل دی

دنياوی خواهشات پوره کولو او مؤمن: حاصل دا چه راحت طلب کول او ځان آسانئ څيزونو کښې پريوتل اودَ عيش اوعشرت ژوندون اختيارول، دا دکافر، فاجر، غافل، نادان او جاهلو خلقو خاصه ده دَ الله تعالى دَ بنديګانود دنياوی خبرو نه څه کار دې لکه چه دَ الله تعالى فرمان دې ﴿ذَرْهُمْ يَأْكُلُوا وَيَتَمَتَّعُوا وَيُلْهِهِمُ الْأَمَلُ فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ﴾ يعنې ته دا کافران دَ دوی په حال باندې پريږده چه دووی ښه خوراکونه اوکړی او ښه آرام اوکړی او خيالی منصوبې دوی لره په غفلت کښې واچوی دوی ته به ډير زر حقيقت معلوم شی

[۵۳۴] د رزق د کموالی فضيلت

۵۳۴-(٢)[۳۳] ۱ وَعَنْ عَلِيٍّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ۲ «مَنْ رَضِيَ مِنَ اللَّهِ بِالْيَسِيرِ مِنَ الرِّزْقِ ۳ رَضِيَ اللَّهُ مِنْهُ بِالْقَلِيلِ مِنَ الْعَمَلِ» ".

---

(١) اخرجه احمد في المسند:۵/۲۴۳

(٢) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۴۵۸۵

ترجمه: [۱] او حضرت علي كرم الله وجهه وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې لږ رزق باندې د الله نه راضي كيږي، (يعني د خپل معاشي ضرورياتو قليل مقدار باندې قناعت كوي [۳] نو الله ﷻ هغه نه (طاعات او عبادات) لږ عمل باندې راضي كيږي

حل اللغات: - ① اَلْيَسِيْرِ: لږ، معمولي، ② اَلْقَلِيْلِ: لږ، كم.

تسهیلات:

دَ حديث مطلب دادې چه كه چرې ته معمولي رزق حاصل كړې او شكر پرې ادا كړې نو الله پاك به ستا دَ معمولي اعمالو ډير قدر او كړي.

[۵۴۳] دَ فقر او فاقې د خلقو نه د پټ ساتلو فضيلت

۵۴۳ - (۱) [۳۴] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: [۲] «مَنْ جَاعَ أَوِ احْتَاجَ، فَكَتَمَهُ النَّاسَ [۳] كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ عَزَّ وَجَلَّ أَنْ يَرْزُقَهُ رِزْقَ سَنَةٍ مِنْ حَلَالٍ». [۴] رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] كوم سړى چې اوږى وي، يا د څه شي محتاج وي او خپله لوږه او محتاجي خلقو نه پټه كړي (يعني د طعام طلب كې چاته دا نه وايي، چې زه اوږى يم او نه غوښتو د پاره چاته خپل احتياج او ضرورت بيان كړي) [۳] نو د الله ﷻ دا يقيني وعده ده چې هغه سړي ته حلاله طريقه باندې د يو كال رزق رسوي، [۴] دا دواړه روايتونه بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كې نقل كړي دي

حل اللغات: - ① جَاعَ: اوږې وى، ② اِحْتَاجَ: محتاج وى.

تسهیلات:

قوله: مَنْ جَاعَ أَوِ احْتَاجَ فَكَتَمَهُ النَّاسَ:

د خلقو څخه د خپلې محتاجې پټولو فضيلت: په حديث كښې دَ اولږې نه مراد هغه اولږه ده كومه چه برداشت كول ممكن وى او دَ خلقو نه دَ دغه اولږې پټول جائز وى ځكه چه كومه اولږه ناقابل برداشت حد ته اورسيږى او دَهغې دَ وجې نه دَ هلاكت خطره وى نو داسې اولګه پټول جائز نه دى. په دې وجه علماء كرام فرمائى چه كوم كس ته مرګ دَدې وجې نه راغلو چه هغه دَ اولږې ذكر هم چاته اونه كړو او نه ئې دَ چا نه څه څيز اوغوښتلو او نه ئې چرته څه داسې څيز اوخوړلو په كوم سره چه هغه ځان بچ كيدې شو چونكه په داسې اولږه هغه ته مرګ راغلو نو په دې وجه به هغه ګناهګار وى.

[۱] اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۰۵۴

[٥٢٦٥] الله تعالى غريب بال بچ دار سره مينه کوي

٥٢٦٥-()[٣٥] ١ وَعَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "٢ «إِنَّ اللهَ يُحِبُّ عَبْدَهُ الْمُؤْمِنَ الْفَقِيرَ ٣ الْمُتَعَفِّفَ أَبَا الْعِيَالِ» ". (رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ).

ترجمه: ١ او حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل. ٢ الله تعالى هغه مسلمان محبوب لري، ٣ چې مفلس ځان ساتونکي او عيالدار وي (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① الْمُتَعَفِّفَ: ځان ساتونکې (دسوال نه). ② أَبَا الْعِيَالِ: عيالدار. اهل وعيال والا

تسهيلات:

قوله: الْمُؤْمِنَ الْفَقِيرَ الْمُتَعَفِّفَ:

ځداره غريب سره د الله تعالى محبت: کوم سړي دَ غربت او اولږې دَ وجې نه صبر کوي اودَ حرام او ناجائز څيزونو نه ځان ساتي اودَ خلقو مخکښې دَ لاس خورولو نه هم پرهيز کوي نوهغه کامل مسلمان دې. په دې وجه الله تعالى هغه لره محبوب جوړوي ځکه چه: کثرت عيال نه پس دَ پاکدامنئ، دَ صبر اوشکر ژوند دَ الله تعالى دَ محبوب جوړيدو سبب دې

[٥٢٦٦] دَ مشتبهاتو څخه د عمر فاروق رضي الله عنه ځان ساتل

٥٢٦٦-()[٣٦] ١ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: اسْتَسْقَى يَوْمًا عُمَرُ ٢ فَجِيءَ بِمَاءٍ قَدْ شِيبَ بِعَسَلٍ ٣ فَقَالَ: إِنَّهُ لَطَيِّبٌ ٤ أَسْمَعُ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ نَعَى عَلَى قَوْمٍ شَهَوَاتِهِمْ فَقَالَ: ٥ ﴿أَذْهَبْتُمْ طَيِّبَاتِكُمْ فِي حَيَاتِكُمُ الدُّنْيَا وَاسْتَمْتَعْتُمْ بِهَا﴾ [الأحقاف: ٢٠] ٦ فَأَخَافُ أَنْ تَكُونَ حَسَنَاتُنَا عُجِّلَتْ لَنَا، فَلَمْ يَشْرَبْهُ. رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: ١ حضرت زيد بن اسلم رحمه الله (تابعي) فرمايي چې يوه ورځ امير المؤمنين حضرت عمر رضي الله عنه د څکلو د پاره اوبه وغوښتلي ٢ نو د هغه په خدمت کې چې کومي اوبه مخکې شوى په هغه کې شهد ګډشوى وو، ٣ حضرت عمر رضي الله عنه ته چې دا معلومات وشو چې په دي کې شهد ملاوشوى دى نو وي فرمايل يقيناً چې دا اوبه پاکې، مزيداري او حلالي دي اليکن زه دا نه څکم ٤ ځکه چې ماد الله باره کې قرآن کريم نه اوريدلي دي او پوهيږم چې هغه يوقوم د نفس د خواهشاتو په وجه باندې مجرم ګرځولى دى. او د تنبيه په طور باندې يي وفرمايل ٥ چې تاسو د دنيا په دي ژوند کې خپل خوندونه او نعمتونه حاصل کړه او د دې نه موپوره پوره فائده واخسته اوس په آخرت کې ستاسو د پاره څه پاتې شوى دى، ٦ لهذا زه ويريږدم چې چيرته زمونږ نيکي هم داسې نه وي چې د

١) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الزهد/باب فضل الفقراء (رقم-٤١٢١)
٢) رواه رزين

هغه بدله د دنياوي نعمتونو په صورت کې زر مونږ ته په دنيا کې ملاوشي او بيا په آخرت کې محروم والي سره مخامخ شو، دي وجه نه حضرت عمر رضي الله عنه په عسلو (شهد) کې هغه ملاو شوى اوبه ونه څکلي. (رزين)

حل اللغات: - ① اسْتَسْقَى: اوبه اوغوښتلې، ② شِيبَ: ګډ شوى وو، ③ طَيِّبٌ: پاکې، ④ نَعِيم. خيرې کول ⑤ عُجِّلَتْ: جلتى اوکړې شى، زر شى.

تسهيلات:

قوله: فَجِيءَ بِمَاءٍ قَدْ شِيبَ بِعَسَلٍ فَقَالَ: إِنَّهُ لَطَيِّبٌ:

دعمر رضى الله عنه د دنياوى نعمتونو د استعمال څخه ويريدل: دَحضرت عمر رضي الله عنه دَ وينا مطلب دادې چه شاتو سره ملاؤ شوې اوبه دادَ دنيا دَ نعمتونو نه يو نعمت دې چه دَنفس هم ډير زيات خوښ دې. که چرې دام اوڅکلو نو دَ ډير لوئى نعمت نه به فائده اوچته کړم. په دې صورت کښې زه ويريږم چه داخو ماته چرته زما دَ اعمالو اجر هم په دنيا کښې نه ملاويږى لکه چه کافرانو ته دَهغوى دَ نيکو اعمالو اجر هم په دنيا کښې ورکولې شى او په آخرت کښې به هغوى ته هيڅ نه نصيب کيږى. دا دَحضرت عمر رضي الله عنه کمالِ تقوىٰ ده ګنى دَدې په څکلو کښې هيڅ کراهت نشته دې.

[۵۲٦۷] دَ اسلام په شروع کښې دَصحابه کرامو دفقر حالت

۵۲٦۷-()[۲۷] [۱] وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: [۲] مَا شَبِعْنَا مِنْ تَمْرٍ حَتَّى فَتَحْنَا خَيْبَرَ. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عمر رضي الله عنه فرمايې [۲] چې مونږ صحابه کرامو رضي الله عنهم د حضور صلى الله عليه وسلم سره د فقر او غريبي د وجي يوځاى په ډک نس (خيټه) خرماوي نه دي خوړلي تردي پورې چې مونږ خيبر فتح کړ (چيرته چې خرماوى ډيري کيږي بيا مونږ ته په ډک نس کې خرماوي راکول شي. (بخاري)

[۱] اخرجه البخاري فى كتاب المغازى/باب غزوة خيبر (رقم-۴۲۴۳)

[۲] بَابُ الْأَمَلِ وَالْحِرْصِ

دَ آرزو او د حرص بیان

خلاصة الباب:

فيه ستة عشر حديثاً مشتملة على اربع مسائل:

① شناعة طول الأمل : ۱، ۲، ۳، ۱۰، ۱۱، ۱۴۔

② شناعة حرص الدنيا : ۳- ۶۔

③ ما يتعلق بطول العمر: ۵، ۱۲، ۱۳۔

④ الأمر بترك الأمل والحرص وفضيلته: ۷، ۸، ۹، ۱۵، ۱۶۔

قوله: الأمل:

دامل تعریف: اوږده اوږده امیدونه تړل اودَ اوږدو آرزوګانو قطارونه لګول اودَهغې دپاره منصوبه سازی کولونوم امل دې.

قوله: الحرص:

دحرص تعریف: دَ اوږدو ارادو پوره کول اودَهغې لالچ ته حرص وائی.

دحرص دوه قسمونه:

① **دنیکۍ حرص:** په نیکو کښې حرص کول او دَخو ارادو خواهش کول مذموم نه دی دَ الله تعالی ارشاد دې ﴿إِنْ تَحْرِصْ عَلَىٰ هُدَاهُمْ، حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾ [سورت نحل: ۳۷. توبه: ۱۲۸]

② **دخواهشاتو حرص:** مګرنفسانی خواهشات پوره کول، دَ دنیا په هرڅیز کښې ډیر والی حرص کول، دَ جائز حدودو نه تیریدوسره مقاصد په ناجائز طریقې حاصلول. دا حرص اولالچ مذموم او خراب څیز دې.

[۵۲۶۸] دَ انسان دَ آرزو او نعفه دَ مرګ مثال

۵۲۶۸-(۱)[۱] ۱ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «خَطَّ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - خَطًّا مُرَبَّعًا، ۳ وَخَطَّ خَطًّا فِي الْوَسَطِ خَارِجًا مِنْهُ، ۴ وَخَطَّ خُطَطًا صِغَارًا إِلَى هَذَا الَّذِي فِي الْوَسَطِ ۵ مِنْ جَانِبِهِ الَّذِي فِي الْوَسَطِ، ۶ فَقَالَ: "هَذَا الْإِنْسَانُ، وَهَذَا أَجَلُهُ مُحِيطٌ بِهِ، ۷ وَهَذَا الَّذِي هُوَ خَارِجٌ أَمَلُهُ، ۸ وَهَذِهِ الْخُطُوطُ الصِّغَارُ الْأَعْرَاضُ، ۹ فَإِنْ أَخْطَأَهُ هَذَا نَهَشَهُ هَذَا، ۱۰ وَإِنْ أَخْطَأَهُ هَذَا نَهَشَهُ هَذَا»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

---

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب فی الأمل وطوله (رقم-۶۴۱۷) والترمذی فی کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۴۵۴) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الأمل والأجل (رقم-۴۲۳۱) واحمد فی المسند:۱/۳۸۵


ترجمه: [۱] حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وايي، [۲] يوه ورځ رسول الله ﷺ زمونږ په وه کولو د پاره څلور کرښي اوخکلو سره يو مربع شکل جوړ کړي [۳] بيا د هغه مربع په منځ کې يوه بله کرښه واوخکله چې مربع نه وتلي وه [۴] د دې نه پس حضور ﷺ وړې وړې څو کرښي په منځ طرف کې اوخکلي [۵] د هغه درمياني کرښي هغه حصي طرف ته چې د مربع کرښو په منځ کې وې [۶] اوبيا يي وفرمايل [په دي نقشه په ښه شان پوهه شئ] درمياني کرښي داحصه چې د مربع کرښو په منځ کې ده ګويا انسان دی او داخط چې د هغه څلورم طرف نه مربع جوړ شوی دی د هغه انسان مرګ دی [يعنی د مربع څلور کرښي ګويا د هغه د مرګ وخت او د هغه د عمر آخري حد دی، چې د څلورو طرفونه يي هغه راګير کړی دی]، [۷] او د درمياني کرښي دا حصه چې مربع نه وتلي ده، د انسان هغه ارزو او خواهش دی [چې د هغه باره کې هغه داخيال لري چې زه به د مرګ نه مخکې داحاصل کړم. حالانکي هغه يوبي بنياده خيال کې مبتلا دی ځکه چې د هغه د ارزوګانو خواهشاتو سلسله اوږده وي چې د هغه نه د هغه زړه او دماغ هيڅ کله خالي کېږي نه حال دا چې د هغه مرګ د هغه د ارزوګانو د تکميل نه زيات نږدې دی] [۸] او د درميانه کرښي دننه حصه باندې چې دا وړې وړې کرښي دي هغه عوارض [يعنی آفات او حادثات لکه لوږه. تنده افلاس او بيماري وغيره دي چې په انسان باندې هروقت مسلط وي، که هغه عوارض خپل کار کوي نو هغه هلاك شي] [۹] او که هغه انسان د يوي حادثي عارضي نه وساتل شي نو دويمه حادثه او عارضه يي راګير کړي، [۱۰] او که د هغه حادثي او عارضي نه وساتل شي، نو بيا دريمه حمله وربانديې کوي [غرض دا چې متعدد حوادثات او عارضات ده ته په تاك کې وي چې يوه په بلې پسې کېږي، تردې چې مرګ راتلو سره د هغه کار تول کړي]. (بخاري)

حل اللغات: - ① خَطَّ: خط او کرښه ئې راښکله، ② مُرَبَّعًا: څلور ګوټه، ③ مُحِيطٌ: احاطه کونکې. راګيرونکې. ④ أَمَل: اميد، ⑤ الأَعْرَاض: آفات او حادثات وغيره، ⑥ نَهَشَهُ: په غاښونو سره پرې کول او تك ورکولو ته نهس وائی، دلته ترې حمله کول مراد دی.

تسهيلات:

قوله: خَطَّ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- خَطًّا مُرَبَّعًا:

د انسانی ژوند د مشکلاتو نقشه: دَ انسان او دَ هغه دَمرګ اودَ هغه دَ خواهشاتو نقشه پخپله حضورپاك هم په خپل لاس مبارك سره په خاورو باندې جوړه کړه او انسان ئې ښه پوهه کړو. شارحين دَ حديث دَدې حديث مطابق دغه نقشه داسې جوړه کړې ده ملاعلی قاری رحمه الله دَدننه وړې کرښې اوه اوه جوړې کړې دی او فرمائيلې ئی دی چه دَ انسان غټ اوه اعضاء يعنی اندامونه دی. لهذا دا نقشه راجح ده. هغه نقشه داده:



دانسان امیدونه: دَدې حدیث حاصل او مطلب دا دې چه انسان په قسم قسم آرزوګانو کښې اخته وی او هروخت په دې فکرکښې راګیر وی چه فلانکې تمنا پوره شی، فلانکې تمنا پوره شی مګر پخپله دا انسان دَ مرګ په مربعِ خط کښې راګیر پروت دې. دَ څلورو وارو طرفونه دا بې چاره دَمرګ په ګیره کښې دې. دَدې باوجود دَ حیرانتیا خبره ده چه دَ ده بعضې امیدونه او آرزوګانې داسې دی چه دَ مرګ دَ مربع خط نه بهر دی اوس که دَ انسان خپلې آرزوګانې پوره کول غواړی نوسره دَ ده دَ بدن اول خو دیرزیات حادثات او عوارضات لګیدلی دی چنانچه دا انسان دَ اولګې، غربت، آفاتو او بلیاتو په موجونوکښې دننه غوپې وهی هره حادثه داسې ده چه دَ مرګ نه کمه نه ده او هغه یو شان په ده باندې حملې کوی که چرې دا انسان دَ دغه عوارضاتونه بچ وتلوکښې کامیاب هم شی اود خپلې آرزو طرف ته په ورتوپ کولو سره څی هم نوبیاهم دې خپله آرزو نه شی حاصلولې څکه چه د آرزو او دَ ده دَ مرګ په مینځ کښې یو داسې دیوال ولاړ دې چه دې وړاندې کیدو ته نه پریږدی او مرګ دَنیزدې نه راشی او دې راقابو کړی

[۵۲۷۹] انسان ته مرګ لږدې وی او امیدونه ئې اوږده وی

۵۲۷۹-(۱)[۲] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: «خَطَّ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- خُطُوطًا فَقَالَ: [۲] "هٰذَا الْأَمَلُ، وَهٰذَا أَجَلُهُ، [۳] فَبَيْنَمَا هُوَ كَذٰلِكَ إِذْ جَاءَهُ الْخَطُّ الْأَقْرَبُ» ". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

[۱]) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب فی الأمل وطوله (رقم-۶۴۱۸) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الأمل والأجل (رقم-۴۲۳۱)

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي يوه ورځ رسول الله ﷺ څو کرښي واوخکلي اخرنکه چې په مخکې حديث کې تير شو چې حضور ﷺ څلور کرښي اوخکلو سره يو مربع شکل جوړ کړي او د هغه مربع په منځ کې يوه بله کرښه واوخکل، چې د مربع نه وتلي وه]. بيايي وفرمايل، [۲] چې د درميانه کرښي داحصه چې مربع نه بهر وتلي ده د انسان ارزو ده او داکرښه چې څلورو طرف نه يي يوه مربع جوړه کړي وه، د انسان مرګ دی. [۳] نو انسان په دي حالت کې يعنی داميدونو او ارزوګانو پوره کولو په فکر کې وي، چې ناڅاپه د مرګ کرښه هغه راګير کړي چې هغه ته زياته نزدې ده. (بخاري)

حل اللغات: - ① الْأَمَلُ: اميدونه، ② أَجَلُ: نيته، مرګ.

[۵۲۷۰] انسان بوډا کيږي خو د مال او عمر حرص لي زياتيږي

۵۲۷۰- (۱)[۳] [۱] وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۲] «يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ وَيَشِبُّ مِنْهُ اثْنَانِ: [۳] الْحِرْصُ عَلَى الْمَالِ، [۴] وَالْحِرْصُ عَلَى الْعُمُرِ»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] انسان په خپله خو بوډا کيږي خو په هغه کې دوڅيزونه ځوان اوقوي کيږي، [۳] يو د مال د جمع کولو حرص [او د هغه د نه خرچ کولو عادت]، [۴] او دويم د عمر د اوږدوالی ارزو. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① يَهْرَمُ: بوډا کيږي، ② يَشِبُّ: ځوانيږي.

تسهيلات:

قوله: يَهْرَمُ ابْنُ آدَمَ وَيَشِبُّ مِنْهُ اثْنَانِ:

په انسان کښې دوو څيزونو حرص نه کميدل: دَحديث مطلب دادې چه انسان څومره بوډا کيږی هم دومره په هغه کښې دوه څيزونه ځوانيږی. اول دَ مال حرص او دويم دَ اوږد عمر حرص يعنی دَ عقل تقاضا خودا وه چه دَ بوډاوالی دَ وجې نه دَ دنيا په څيزونو دَ انسان ګرفت مستيږی مګر کيږی داسې چه بدنی ټول قوتونه کمزوريدو باوجود په انسانی طبيعت کښې دوه څيزونه ځوانيږی. يو مالی حرص دويم دَ عمر حرص، په دې کښې دَ بوډا انسان ګرفت دَ سستيدو په ځائی نور مضبوطيږی لکه چه سړې بوډا او حرص ئی ځوان.

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب من بلغ ستين سنة، فقد أعذر الله إليه فی العمر (رقم-۶۴۲۱) ومسلم فی کتاب الزکاة/باب کراهة الحرص علی الدنيا(رقم-۱۱۴ - (۱۰۴۷) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی قلب الشيخ شاب علی حب اثنتين (رقم-۲۳۳۹) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الأمل والأجل (رقم-۴۲۳۴).

[۵۰۷۸] بوډا په زړه کې د دوه څیزونو محبت ساتي

۵۰۷۸-(۱)[۳] ⓵ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: ⓶ "«لَا يَزَالُ قَلْبُ الْكَبِيرِ شَابًّا فِي اثْنَيْنِ: ⓷ فِي حُبِّ الدُّنْيَا وَطُولِ الْأَمَلِ». (مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ).

ترجمه: ⓵ او حضرت ابوهریره ﷺ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل، ⓶ د بوډا زړه همیشه دوو خبرو کې ځوان قوي وي ⓷ یو خو د دنیا محبت کې او دویم د عمر د اوږدوالی په ارزو کې [او دا دواړې خبرې مضرې دي ځکه چې د دنیا محبت مرګ نه خوښوي او دعمر د اوږدوالی ارزو دتاخیر عمل او کوتاهي عمل مقتضي وي] (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ⓵ الْكَبِيرِ: بوډا ، ⓶ شَابًّا: ځوان، ⓷ الْأَمَلِ: امیدونه.

تسهیلات:

قوله: فِي حُبِّ الدُّنْيَا وَطُولِ الْأَمَلِ:

په انسانی ژړه کښې د دنیا دمحبت اواوږده امیدونو ځوانیدل: دَ حدیث الباب حاصل دادې چه "حب دنیا" دَمرګ نه دَ نه ویریدو ذریعه ده او "طول امل" په أعمال صالحه کښې دَ سستی اودَ بندیز ذریعه ده. "امل" دَدنیا امید او "رجاء" دَ آخرت امید ته وائی په الله تعالی باندې امید دکمالِ ایمان علامت دې.

[۵۰۷۹] د شپیتو کالو بوډا معذوره نه دې

۵۰۷۹-(۲)[۵] ⓵ وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "⓶ «أَعْذَرَ اللَّهُ إِلَى امْرِءٍ أَخَّرَ أَجَلَهُ ⓷ حَتَّى بَلَّغَهُ سِتِّينَ سَنَةً»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ⓵ او حضرت ابوهریره ﷺ وایي: چې رسول الله ﷺ وفرمایل، ⓶ الله ﷻ دهغه سړي د پاره د عذر هیڅ موقع نه ده پرېښې (یعني د هغه عذر یي لرې کړی) ⓷ چې د هغه عمر یي دومره مؤخر کړی چې هغه یي د شپیتو کالو عمر ته ورسوی (بخاري)

حل اللغات: - ⓵ أَعْذَرَ: په دې کښې همزه د سلب مأخذ دَپاره ده یعنی الله تعالی دَ هغه ټول عذرونه او بهانې ختمې کړې.

---

[1]) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب من بلغ ستين سنةً. فقد أعذر الله إليه في العمر (رقم-۶۴۲۰) ومسلم في كتاب الزكاة/باب كراهة الحرص على الدنيا(رقم-۱۱۴ - (۱۰۴۶) والترمذي في كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في قلب الشيخ شاب على حب اثنتين (رقم-۲۳۳۸) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب الأمل والأجل (رقم-۴۲۳۳)

[2]) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب من بلغ ستين سنةً. فقد أعذر الله إليه في العمر (رقم-۶۴۱۹)

تسهیلات:

قوله: أَعْذَرَ اللّٰهُ إِلَى امْرِءٍ أَخَّرَ أَجَلَهُ حَتّٰى بَلَّغَهُ سِتِّينَ سَنَةً:

په شپیته کاله دحجت اتمام: یعنی الله تعالی چه یو سړی له شپیته کاله عمر ورکړو اودغه سړی په دې دومره اوږد عمر کښې هم توبه اونه کړه نو اوس دَ الله تعالی په نیز دَدې سړی هیڅ څه عذر باقی پاتې نه شو. دَ ده ټول عذر معذرت او بهانې ختمې شوې اوس دَ سزا نه علاوه ده ته څه ملاویدې شی؟ ځکه چه دومره اوږده موده ملاویدو او اوږد عمر تیریدونه پس هم هغه دګناهونونه منع نه شو. دَ سر او ږیرې سپینو ویښتو دَخطرې ټنګونه کړی دی مګر هغه په هوش کښې رانغلو. نو اوس دَ الله تعالی په نیز دَ ده هیڅ عذر باقی پاتې نه شو ځکه چه ځوان خو دَ ښه جوړیدو دَپاره دَ بوډا والی انتظارکولې شی مګر یوبوډا چه دَ هغه په سر باندې مرګ چکرې وهی هغه آخر دَ کوم څیز انتظارکوی.

[۵۰۷۳] دَانسان خیټه صرف په خاورو دکیدې شی

۵۰۷۳-(۱)[۲] ⓵ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-عَنِ النَّبِيِّ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: ⓶ "«لَوْ كَانَ لِابْنِ آدَمَ وَادِيَانِ مِنْ مَالٍ لَابْتَغٰى ثَالِثًا، ⓷ وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ، ⓸ وَيَتُوبُ اللّٰهُ عَلٰى مَنْ تَابَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ⓵ او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما د رسول الله ﷺ نه روایت کوي، چې حضور ﷺ وفرمایل ⓶ که بالفرض والتقدیر سړي سره د مال ودولت نه ډك دوه کندي هم وي بیا به هم هغه د دریمي کندي تلاش کوي [یعنی د هغه د حرص او طمع د اوږدوالی دا عالم وي د هغه حد رسیدو سره هغه ته شیري یعنی موړوالی نه حاصلیږي] ⓷ او د سړي نس (خیټه) د خاورو نه علاوه بل شی نشي مړولی [یعنی ترڅوپوري چې هغه قبر ته نه وي رسیدلی هغه پورې د هغه د حرص او طمع خاتمه نه کېږي، بیا هم داخبره د اکثرو خلقو د اعتبار نه فرمایل شوي وه ګینې داسې دالله بندګان هم شته چې هغوئ کې د حرص او طمع پیدا کیدو خوڅه سوال نه پیدا کیږي بلکه د خپل ضرورت بقدر د مال او اسباب هم هغوئ ته پروانه وي] ⓸ او الله ﷻ د خراب حرص نه د کوم بنده توبه چې غواړي قبلوي یي. (بخاري مسلم)

حل اللغات:- ⓵ وَادِيَانِ: دوه کندي، ⓶ جَوْفَ: خیټه، نس

[۱] اخرجه البخاری في کتاب الرقاق/باب ما يتقى من فتنة المال (رقم-۶۴۳۶) ومسلم في كتاب الزكاة/باب لو أن لابن آدم واديين لابتغى ثالثًا (رقم-۱۱۸ - (۱۰۴۹))والترمذى فى كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب فضل ابي بن كعب رضى الله عنه (رقم-۳۸۹۸) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب الأمل والأجل (رقم-۴۲۳۴)

تسهيلات:

قوله: وَلَا يَمْلَأُ جَوْفَ ابْنِ آدَمَ إِلَّا التُّرَابُ:

په دنيا مړيدل نشته: يعنی دَ انسان په جبلت اودَ ده په ضمير کښې دَ دنيا حرص اولالچ داسې پيوست دی که چرې ده ته دَ دوو غرونو په مينځ کښې دوه وادئی دِ کې دَمال ورکړې شی نودا انسان به دَ دريمې وادئی په لټون کښې سرگردان گرځی. په دنيا کښې دَ ده دَ مړيدو هيڅ صورت نشته دې نه ترننه پورې يو مالدارځه حد متعين کړې دې چه دې حد ته په رسيدوسره سړی ته کفايت او قناعت حاصليدې شی. لهذا دَ انبياء کرامو عليهم السلام دَتعليماتو په رڼا کښې دا خبره سل فيصد صحيح ده چه دَ انسان خيټه صرف هم دَ قبر خاورې دِ کولې شی. په دې حديث کښې زيات مالونه دَ آسوده ژوند سبب نه دې خودلې شوې بلکه کمه دنيا اوقناعت دَ آسوده ژوندون سبب خودلې شوې دې. لهذا دَ قناعت په توره سره اودَ سخاوت په تيره څوکه سره دَ بخل ديوال راغورزول پکاردی.

[۵۰۷۳] په دنيا کښې لکه دروان مسافر په شان اوسيږه

۵۰۷۳-() [۲] ۱ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ۲ «أَخَذَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بِبَعْضِ جَسَدِي فَقَالَ: ۳ "كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ، ۴ وَعُدَّ نَفْسَكَ مِنْ أَهْلِ الْقُبُورِ"». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابن عمر رضی الله عنهما وايي ۲ يوه ورځ رسول الله ﷺ ځما د جسم يوه حصه يعنی دواړي اوږي نيولو سره وفرمايل ۳ ته په دنيا کي داسې اوسيږه لکه چې يو مسافر يې يا په لار تلونکي يې، ۴ او ته ځپل شمير هغه خلقو کې کوه چې دنيا نه تير شوي وي يا ځپلو قبرونو کې په خوب اوده وي [يعني د مړو مشابهت اختيار کړه چې څرنګه هغوئ د دنيا د ټول څيزونو نه منع کيدولو سره يو کونج کې پراته دي، دغه شان ته هم د دنيا د علائقو نه ځپله لمن بچ کولو سره ډيري سادګي او يکسوئي سره ژوند تيروه] (بخاري)

حل اللغات: - ① غَرِيبٌ: نا آشنا. مسافر ② عَابِرُ: تيريدونکي، ③ عُدَّ: شميره،

تسهيلات:

قوله: كُنْ فِي الدُّنْيَا كَأَنَّكَ غَرِيبٌ أَوْ عَابِرُ سَبِيلٍ:

دمسافر دوه قسمونه: دَ او لفظ دَ بل په معنی کښې دې کوم چه دَ ترقئی دَپاره دې.

① هغه مسافر دې چه يو ځائی ته راتلوسره دَ سفرژوند تيره وی او په هغه ځائی کښې قيام اختيار وی.

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب قول النبی صلی الله علیه وسلم: «کن فی الدنیا کانک غریب أو عابر سبیل» (رقم-۶۴۱۶) والترمذی فی کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی قصر الأمل(رقم-۲۳۳۳) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب مثل الدنیا (رقم-۴۱۱۴) واحمد فی المسند:۲/۲۴

② دویم هغه مسافردې چه په لاره تیریدونکې او روان مسافر دې هغه یوځائی کښې قیام نه کوی بلکه منزل مقصود طرف ته هروخت روان وی.

په حدیث کښې مراد مسافر: په دې حدیث کښې هم دَدویم قسم مسافر ته توجه راګرځولې شوې ده چه دَ آخرت تیاری او خپل مقصود کښې اخته کیدو کښې صرف مسافر نه بلکه روان مسافر جوړشه اودنیاوی تعلقات پریخودوسره خپل مقصود پسې شاته اولګه

قوله: وَعُدَّ نَفْسَكَ مِنْ أَهْلِ الْقُبُورِ:

هروخت مرګ ته د تیار اوسیدو حکم: یعنی خپل ځان په مړوکښې شمیرکړه اوخلقوته اووایه چه بس ما مړه اوګڼړئی. لهذا زمانه دَ دنیاپه لانجو او جګړو کښې امید مه ساتئی. بهرحال ځنګه چه دَحقیقی مرګ سره دَ دنیا څیزونه هم دغه شان پاتې شی دغه شان هرمسلمان له پکار دی چه هغه دې دَ دنیا دا عارضی څیزونه یوطرف ته کړی اوپخپله دې په مکمل توګه باندې دَ آخرت طرف ته متوجه شی اوخپل نفس آماره دې مړکړی چه دَ دنیا یو څیز سره دَ ده څه تعلق باقی پاتې نه شی. هم دا مضمون په یوحدیث کښې داسې بیان کړې شوې دې «موتوقبل أن تموتوا» یعنی دَ مرګ راتلونه مخکښې خپل ځان مړ اوګڼړئی.

په تخریج کښې تسامح: په دې حدیث کښې چه دَ وعدنفسك نه تر آخره پورې چه کوم الفاظ دی دا بخاری کښې نشته دې. صرف دَ حدیث دا ابتدائی کلمات دی لهذا دا رواه البخاری طرف ته منسوب کول صحیح نه دی بلکه رواه الترمذی وئیل پکار وو.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۲۷۵] د دنیا په ځائی دَ آخرت د څیزونو اصلاح پکار ده

۵۲۷۵-(¹)[۸] ① عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ②«مَرَّ بِنَا رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- وَأَنَا وَأُمِّي نُطَيِّنُ شَيْئًا، ③فَقَالَ: "مَا هَذَا يَا عَبْدَ اللَّهِ؟ ④" قُلْتُ: شَيْءٌ نُصْلِحُهُ. ⑤قَالَ: "الْأَمْرُ أَسْرَعُ مِنْ ذَلِكَ»". ⑥رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① حضرت عبد الله ابن عمرو ﷺ وایي، ② یوه ورځ زه او زما مورپه ختې سره څه شی یعنی د خپل مکان دیوالونه یا چهت ګلوي رسول الله ﷺ زمونږ طرف ته تیر شو ③ رسول الله ﷺ مونږ په دې حالت کې لیدلو سره راته وفرمایل اې عبد الله ﷺ داڅه دي یعنی داڅه آبادوئ ④ ما عرض وکړو چې د دې شي یعنی د دیوالونو یا چهت درست کولو او مرمت کولو دپاره ابادوو ⑤ حضور ﷺ وفرمایل، امر یعنی اجل چې دی هغه

¹) اخرجه ابوداود فی السنن رقم ۵۲۳۶ والترمذی فی السنن رقم ۲۳۳۵ ابن ماجه فی السنن رقم ۴۱۶۰ واحمد فی المسند ۳/ ۱۶۱

تردي زيات زر راتلونکی دی.[٦] احمد وترمذي او امام ترمذي ويلي دي، چې داحديث غريب دی

حل اللغات: - ① نُطَيِّنُ: مونږ ختې کولې، ② نُصْلِحُهُ: جوړوو ئې، مرمت ئې کوو، ③ الْأَمْرُ: حکم. دلته ترې مرګ مراد دې،

تسهيلات:

قوله: وَأَنَا وَأُمِّي نُطَيِّنُ شَيْئًا:

په کور پخولو باندې عبدالله بن عمرو ته تنبيه ورکول: حضرت عبدالله بن عمرو بن عاص ﷺ کيدې شي چه ضرورت ګڼړلو سره دَ کور ليو اوکړو چه ديوالونه اوچت چړته راپريونځی حضورپاك لکه چه دا دَ ضرورت نه زيات اوګڼړلو په دې وجه ئې هغوی له تنبيه اوفرمائيله چه دَ ليو دَ مضبوطوالی سره خو به مکان مضبوط شی مګر دَدې مکان پريوتلو اوخرابيدلو نه مرګ مخکښې راتلې شی.لهذا دَخپل آخرت اصلاح مقدم ساتل پکاردی.دَمکان په اصلاح کښې خپل وخت ولې ضائع کوې.

يوشاعرخه ښه وئيلی دی

مانړۍ څه له آبادوې آخر به کوچ کړې   دومره بس دې چې په تا څڅيږی نه

[۵۲۷٦] مرګ هميشه په ياد کې ساتل پکاردی

۵۲۷٦-( )[۹] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- [۲] «أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- كَانَ يُهَرِيقُ الْمَاءَ فَيَتَيَمَّمُ بِالتُّرَابِ، [۳] فَأَقُولُ: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! إِنَّ الْمَاءَ مِنْكَ قَرِيبٌ، [۴] يَقُولُ: " مَا يُدْرِينِي لَعَلِّي لَا أَبْلُغُهُ» ". [۵] رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ)، وَابْنُ الْجَوْزِيِّ فِي كِتَابِ (الْوَفَاءِ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس نه روايت دی [۲] کله به داسې کيده چې حضور ﷺ به متيازو کولو نه پس او اودس کولو نه مخکې خاوري سره تيمم کوی، [۳] په دې ليدو سره به ما يعنی ابن عباس عرض کوی، يارسول الله اوبه خوتاسو ته ډيري نزدې دی ايعنی هرکله چې اوبه ستاسو نه دومره لرې نه دي چې اودس کولی نشي، بياتيمم ولې کويا. [۴] نو حضور ﷺ به څما د دې خبري جواب کې فرمايل ماته څه معلومه ده چې زه به هغه اوبو ته ورسيږم يانه؟ [۵] داروايت بغوي رحمه الله شرح السنه کې او ابن جوزي کتاب الوفاء کې نقل کړی دی.

حل اللغات: - ① يُهَرِيقُ: تويول کنايه ده د تش اودس ماتی کولو نه.

(۱) اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم الحديث ۴۰۳۱، واحمد فی المسند: ۱/۲۸۸

تسهيلات:

قوله: مَا يُدْرِيْنِي لَعَلِّي لَا أَبْلُغُهُ:

د نبی علیه السلام کم امید: یعنی ماته دا خو معلومه نه ده چه زما عمرخومره دې او هروخت مرګ متوقع دې. په دې وجه زه ویرېږم چه دَ متیازو کولو نه پس به ماته دومره مهلت هم ملاؤ نه شي چه دَ اوبو پورې وراورسم او اودس اوکړم شم لهذا فوری توګه باندې تیمم کوم دې دَ پاره چه یو قسم طهارت خوحاصل شي.

[۵۰۷۷] دَ انسان مرګ دهغه دآرزوګانو نه زیات نیزدې دې

۵۰۷۷-( )[۱۰] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] هَذَا ابْنُ آدَمَ وَهَذَا أَجَلُهُ" [۳] وَوَضَعَ يَدَهُ عِنْدَ قَفَاهُ، [۴] ثُمَّ بَسَطَ، فَقَالَ: "وَثَمَّ أَمَلُهُ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] د حضرت انس نه روایت دی رسول الله ﷺ وفرمایل: [۲] دا خو ابن آدم (انسان) دې او داد هغه مرګ دې، [۳] په دې فرمایلو سره رسول الله ﷺ خپل لاس مبارك شاطرفته کیخو دلو [یعنی مخکې خو یوځای ته اشاره کولو سره يې وخودل چې انسان دی او بیا هغه ځای نه لږ وروسته طرف ته اشاره کولو سره وخودل چې دا د هغه مرګ دی] ، [۴] د دې نه پس حضور ﷺ خپل لاس مبارك خور کی او لرې اشاره کولو سره يې و فرمایل، چې داځای د انسان ارزو ده، یعنی د انسان مرګ هغه ته ډیر نزدې دی. هرکله چې د هغه ارزو د دې نه ډیره لرې ده. (ترمذي)

حل اللغات: - ① أَجَلٌ: نیته، مرګ، ② قَفَاهُ: شټ، ③ بَسَطَ: خوراه ئې کړل.

تسهیلات:

قوله: وهذا أجله" یعنی حضورپاك خپل لاس مبارك په خپل شټ مبارك باندې بالکل متصل اوساتلو او وئی فرمائیل دَ انسان مرګ دومره نیزدې دې بیا حضورپاك خپل لاس دَ شټ نه اخوا کولوسره لرې کړو او اشاره ئی اوفرمائیله دا دَ انسان امید دې یعنی مرګ ورله بالکل نیزدې راغلې دې او آرزو ترې ډیره لرې تلې ده.

قوله: ووضع يده عند قفاه: حضورپاك اول لاس په خپل شټ مبارك باندې متصل کیخودو او وئی فرمائیل چه دَ انسان مرګ دومره نیزدې دې بیا حضورپاك خپل لاس مبارك دَ شټ مبارك نه اخوا کړو او اشاره ئی اوفرمائیله چه دغه دَ انسان امید دې یعنی مرګ بالکل رانیزدې شو او خواهشات ډیر اوږده او ترلرې پورې ترلی دی.

( ) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی قصر الأمل (رقم-۲۳۳۴) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الأمل والأجل (رقم-۴۲۳۲) واحمد فی المسند:۳/۲۵۷

[۵۲۷۸] انسان آرزوګانو پوره کولو کښې لګیا وی چې مرګ ئې راګیر کړی

۵۲۷۸-()[۱] [۱] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- غَرَزَ عُودًا بَيْنَ يَدَيْهِ، [۳] وَآخَرَ إِلَى جَنْبِهِ، وَآخَرَ أَبْعَدَ مِنْهُ. [۴] فَقَالَ: "أَتَدْرُونَ مَا هَذَا؟" قَالُوا: اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ. [۵] قَالَ: "هَذَا الْإِنْسَانُ وَهَذَا الْأَجَلُ" [۶] أُرَاهُ قَالَ: "وَهَذَا الْأَمَلُ، [۷] فَيَتَعَاطَى الْأَمَلَ فَلَحِقَهُ الْأَجَلُ دُونَ الْأَمَلِ» ". رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: [۱] او د ابو سعید خدري ﷺ نه روایت دی [۲] چې رسول الله ﷺ خپل مخې ته یو لرګی په زمکه کې ښخ کی بیایې یو بل لرګي د مخکې لرګي برابر ښخ کی [۳] د دې نه پس یو دریم لرګی دواړو سره یا دواړو لرګو نه څه فاصله باندې نصب کی [۴] بیایې وفرمایل تاسو خلق پوهیږی چې داڅه دي یعنی دي لرګو نه څه مراد دي؟ او دا د څه شي مثالونه دي صحابه وو عرض وکړو الله او د هغه رسول بهتر پوهیږي، [۵] حضور ﷺ وفرمایل واوري، مخکني لرګي ګویا انسان دی، دویم لرګی د انسان مرګ دی (چې انسان ته دومره نزدې دی څومره چې دا دویم لرګی مخکني لرګي ته نزدې دی) [۶] حضرت ابوسعید ﷺ وایي ځما ګمان دی چې د دې نه پس حضور ﷺ دا وفرمایل او دا دریم لرګی چې ما کافي فاصله باندې ښخ کړی دی ګویا د انسان ارزو ده چې هغه نه ډیره لرې ده. [۷] نو انسان ددې خپل امید او ارزو د تکمیل په تلاش کې وي، او خپل وخت دې کوشش کې صرف کوي، چې دا ارزو حاصله کړي، خو داسې وشي چې د هغه مرګ د هغه د ارزو پوره کیدو نه مخکې هغه ختم کړي.

حل اللغات: - ① غَرَزَ: ښخ ئې کړو، ② عُودًا: لرګې، ③ فَيَتَعَاطَى: نو دې په تلاش کښې وی. ④ الْأَمَلَ: امیدونه. آرزوګانې.

[۵۲۷۹] دَ دې امت دَ خلقو عمرونه د شپیتو نه تر اویا ؤ کالو پورې وی

۵۲۷۹-()[۲] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- «عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "عُمُرُ أُمَّتِي مِنْ سِتِّينَ سَنَةً إِلَى سَبْعِينَ» ". [۳] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷺ د رسول الله ﷺ نه روایت کوي، رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] ځما د امت د خلقو عمر شپیتو کالو نه اویا کالو پورې دی، [۳] دا روایت امام ترمذي نقل کړی دی او ویلې یې دی چې دا حدیث غریب دی.

[۱]) اخرجه البغوی فی شرح السنه رقم الحدیث ۴۰۹۳. وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الأمل والأجل (رقم-۴۲۳۲) واحمد فی المسند:۳/۱۸

[۲]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی فناء أعمار هذه الأمة ما بین الستین إلی السبعین (رقم-۲۳۳۱)

تسهيلات:

قوله: عُمُرُ أُمَّتِي مِنْ سِتِّينَ سَنَةً إِلَى سَبْعِينَ:

دامتی محمدی اوسطاً عمر: یعنی دَ شپیتو کالونه تر اویاؤ کالو پورې دَدې امت دَ کسانو عمرونه دی دا اکثری حکم دې. گنې څه خلق خو شپیتو کالو ته رسیږی هم نه او څه په کښې دَ اویاؤ نه هم اوړی. مګر دغه خلق ډیر کم وی. دَدې امت دَ کسانو طبعی عمر ۶۳ کاله دې اودې نه وړاندې اضافی عمر دې. خلاصه دا چه دَ یو انسان عمر پنځلس کاله خودَ بلوغ نه مخکښې ضائع کیږی. باقی پنځلسو کښې دَ څه لیك لوست دَ ژده کولو تیارې کوی. نیم عمر خو ترې دیخواه لاړو باقی ۳۰ کالو عمر که چرې ملاؤ شی نو هغه څه عمر دې دکوم دَپاره چه انسان دَ زمکې آسمان غارې ملاووی او مار داړ سره دَحلال اوحرام تمیز کولونه بغیر ګټه کوی اوخپل دَ آخرت دَ همیشه ژوند خرابوی.

[۵۲۸۰] ددې امت د ډیرو کمو خلقو عمر به د اویا کالو نه زیات وی

۵۲۸۰-()[۱۳] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: «قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۲] "أَعْمَارُ أُمَّتِي مَا بَيْنَ السِّتِّينَ إِلَى السَّبْعِينَ، [۳] وَأَقَلُّهُمْ مَنْ يَجُوزُ ذَلِكَ» ". [۴] رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ. وَذُكِرَ حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الشِّخِّيرِ فِي (بَابِ عِيَادَةِ الْمَرِيضِ).

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل [۲] ځما د امت د اکثرو خلقو عمر به د شپیتو او اویا ترمنځ وي [۳] او ځما په امت کې د داسې خلقو تعداد به کم وي چې اویا کالو نه به زیات وي، [او د هغوئ عمر به سل یا سل کالو نه هم زیات وي] [۴] ترمذي ابن ماجه او د حضرت عبد الله ابن شخیر روایت باب عبادة المریض کې نقل شوی دی.

تسهیلات:

قوله: أَعْمَارُ أُمَّتِي مَا بَيْنَ السِّتِّينَ إِلَى السَّبْعِينَ:

بعضې د اوږد عمر صحابه کرام: دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کښې څه خلق داسې هم موجود وو دَ چا عمر چه دَ اویاؤ کالونه هم اوړیدلې وو. مثلاً دَ حضرت انس بن مالك رضی الله عنه عمر یو سل درې کاله وو. دَ حضرت اسماء بنت ابی بکر رضی الله عنها سل کاله عمر وو اودَ آخر عمر پورې دَ هغې غاښونه نه وو پریوتلی او عقل او حواس ئې بالکل په ځائې وو. دَ هغې نه زیات عمر والا حسان بن ثابت رضی الله عنه دې چه دَ یو سل او شلو کالو په عمر کښې دَدې دنیا نه لاړو. دَ شروع شپیته کالو په کفر کښې پاتې شوې وو او شپیته کاله ئې دَاسلام په حالت

---

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة الجنة عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء فی سوق الجنة (رقم-۲۵۵۰) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الأمل والأجل (رقم-۴۲۳۶)

کښې تیر کړل دَ هغه نه هم اوږد عمر دَ سلمان فارسی ﷺ دې ځکه چه بعضې حضراتو وئیلی دی چه دَ هغوی وفات دَ یو نیم سل کالو په عمر کښې شوې وو بعضې روایاتو کښې راځی چه دَ هغوی وفات په درې نیم سوا کاله کښې شوې دې لیکن اول قول زیات راجح دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۲۸] ددې امت لولې فساد بخل او آرزوګانې دی

۵۲۸ــ( )[۱۳] ۱ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ۲ «أَوَّلُ صَلَاحِ هَذِهِ الْأُمَّةِ الْيَقِينُ وَالزُّهْدُ، ۳ وَأَوَّلُ فَسَادِهَا الْبُخْلُ وَالْأَمَلُ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ۱ حضرت عمرو بن شعیب خپل پلار نه او هغه د خپل نیکه دادا نه نقل کوي چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۲ د دې امت اولنی اصلاح یقین کول او زهد اختیارول دي ۳ او د دې امت مخکنې فساد بخل او دنیا کې د باقي پاتې کیدو ارزو کول دي. (بیهقي)

حل اللغات:- ① صَلَاحِ: اصلاح، ② الزُّهْدُ: بې رغبتی کول.

تسهیلات:

قوله: أَوَّلُ صَلَاحِ هَذِهِ الْأُمَّةِ الْيَقِينُ وَالزُّهْدُ:

دامت د اصلاح دوه څیزونه: دَ یقین نه مراد دَدې خبرې کامل عقیده ده چه رازق دَ الله تعالی ذات دې هم هغه الله جل جلاله رزق ورکوی او هم هغه الله جل جلاله دَ رزق ضامن اوکفیل دې. کله چه دا یقین پیدا شی نو بیا به بخل حرص او لالچ نه پاتې کیږی اودا ویره به هم نه وی چه که چرته نن خرچ اوکرم نو صبا له به څه خورم؟ دادَ بې یقینئی کیفیت دې.

دیقین تعریف: شیخ عبدالوهاب متقی په خپل کتاب الحبل المتین فی تحصیل الیقین کښې لیکلی دی چه یقین دَ هغه اعتقاد جازم نوم دې چه په دلائلو سره دومره مضبوط شی چه دَ سړی دَپاره دَحق خبرې اعلان کول آسان شی دادَ حکماؤ اصطلاح ده لیکن دَ صوفیاؤ په نیز یقین دَ هغه قلبی کیفیت نوم دې چه دَ شریعت په اوامرو باندې انسان راپاسوی او منهیات شرعیه نه انسان منع کړی.

دیقین بنیادی ارکان: یقین په بنیادی توګه په څلورو ارکانو باندې مشتمل دې.

① دَ الله تعالی په توحید باندې کلك یقین ساتل چه الله تعالی وحده لا شریك دې او هم هغه دَدې کائناتو مدبر او متصرف دې.

② توکل یعنی داعقیده لرل چه رزاق یودَ الله تعالی ذات دې او هم هغه دَ رزق ضامن دې.

( ) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۱۰۸۴۴

④ چه دَ جزا او سزا داسې عقیده وي چه دَ هرې نیکئی او بدئی بدله به په قیامت کښې ملاویږي.

⑤ دا عقیده چه الله تعالی دَ بندیګانو په ټولو احوالو باندې هروخت خبر دې.

[۵۲۸۳] داصلی زُهد حقیقت

۵۲۸۳ – () [۱۵] ① وَعَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ قَالَ: ② لَيْسَ الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا بِلُبْسِ الْغَلِيظِ وَالْخَشِنِ، ③ وَأَكْلِ الْجَشِبِ، ④ إِنَّمَا الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا قِصَرُ الْأَمَلِ. رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: ① او حضرت سفیان ثوري رحمه الله نه منقول دی وي فرمایل ② په دنیا کې زهد د دې نوم نه دی چې کلکي او سختي کپړې وا چوي ③ او اوچه سپیره روټۍ او بې مزې طعام وخوري ④ بلکې دنیا کښې زهد اختیارول په حقیقت کې دارزوګانو او امیدونو د کمی نوم دی.

حل اللغات: - ① الزُّهْدُ: بې رغبتي کول، ② لُبس: اغوستل، ③ الغَلِيظ: سختې یا پیړې جامې، لکه دَ خامتا یا د وړئ کپړې، ④ الخَشِن: زیګه کپړې، ⑤ الجَشِب: اوچه سپوره روټئ، بې خونده روټئ، ⑥ قِصَرُ: مختصر، لږ، ⑦ الأمَل: امیدونه.

تسهیلات:

قوله: إِنَّمَا الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا قِصَرُ الْأَمَلِ:

حقیقی زهد: قصر په معنی دَ قصر، لنډ او مختصر آرزوګانې مراد دی یعنی اصل زهد دا نه دې چه شاړه کپړا وی، بې خونده خوراك وی بلکه اصل زهد دَ آرزوګانو مختصرکولونوم دې چه دَ دنیانه داسې بې رغبتی وی چه دَدې په جوړولو کښې بالکل دلچسپی نه وی نه اوړده منصوبه بندی وی او نه څه رغبت وی بلکه دَ دنیا نه ویزاره اودَ آخرت طرف ته راغب وی.

قوله: لَيْسَ الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا بِلُبْسِ الْغَلِيظِ:

د زهد دوه صورتونه: ① کوم زاهد چې په بدني توګه خودَ دنیا نه اجتناب کوی لیکن په زړه کښې دنیا سره محبت لری. اودَ هغه زړه دَ دنیا دَ محبت نه ډك وی نودا مهلك مرض دې او تباه کن صورت حال دې.

② کوم زاهد چې په جسمانی توګه باندې یوسرې دَ دنیا دَ مباح خوندونو نه فائده اوچته کړی لیکن دَهغه زړه دَدنیا دَ محبت نه بالکل خالی وی بلکه دآخرت طرف ته متوجه وی. نودا بهترصورت حال دې لکه چه دَ دنیا مال په لاس کښې دې اودَ آخرت ایمان په زړه کښې دې.

---

۱) اخرجه البغوی فی شرح السنه

ددنیا دضرورت او محبت مثال: ددې مثال داسې دې چه یوه کشتئی په اوبو کښې چلیږی په هغې کښې خلق سواره دی که د سمندر اوبه د کشتئی نه بهر دی نو داد کشتئی دپاره ډیرې ضروری دی ځکه چه د اوبو نه بغیر کشتئی نه شی چلیدې لیکن که هم دغه اوبو کشتئی ته دننه ورشی اوډکه شی نو کشتئی به هم غرقه شی او خلق به هم ډوب شی بالکل هم دغه شان د دنیا مال دې کوم چه د ظاهری بدن د پاره ضروری دې لیکن که د دنیا هم دغه مال د سړی په زړه کښې ورننوځی په هغې قبضه اوکړی نو په دې سره به ایمان بربادشی اوبیابه دا سړې هلاك شی.

انسانی بدن د آخروی سفر سورلی: د انسان بدن په شان د سورلئی دې اوکه سورلئی باندې ښه خوراك څښاك اوکړی اوښه چاق او تازه ئی اوساتې نو هغه سورلی به ښه ستـ په کار راشی لیکن که دا دې کمزورې کړه نو هغه به هلاك شی اود سورلئی قابل به پاتې نه شی دغه شان که بدن دې زیات کمزورې کړو نو دا بدن بیا هم د عبادت په کار نه راځی

[۵۲۸۳] دنیا نه د زُهد اختیارولو څه مطلب دې؟

۵۲۸۳—()[۱۲] [۱] وَعَنْ زَيْدِ بْنِ الْحُسَيْنِ، قَالَ: سَمِعْتُ مَالِكًا [۲] وَسُئِلَ أَيُّ شَيْءٍ الزُّهْدُ فِي الدُّنْيَا؟ [۳] قَالَ: طِيبُ الْكَسْبِ وَقِصَرُ الْأَمَلِ. رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [۱] او حضرت زید ابن حسین رحمه الله [چې د امام مالك د رفقاؤ او مصاحبینو نه وو] وایي ما د امام مالك نه واوریدل [۲] کله چې هغوئ نه پوښتنه وشوه چې دنیا نه زهد اختیارول د څه شي نوم دی؟ [۳] هغوئ وفرمایل حلاله ګټه او د ارزوګانو کمي زهد دی (بیهقي)

حل اللغات: - ① طِيبُ الْكَسْبِ: پاکه ګټه. ② قِصَرُ الْأَمَلِ: کم او مختصر امیدونه

[۱]) اخرجه البیهقی فی شعب الایمان رقم الحدیث ۱۰۷۷۹

[۳] بَابُ اسْتِحْبَابِ الْمَالِ وَالْعُمُرِ لِلطَّاعَةِ

دَعبادت دَپاره مال او عمر خوښولو بیان

خلاصة الباب

فيه أحد عشر حديثاً مشتملة على ثلث مسائل:

① فضل المال الذي ينفق في الطاعات: ۱، ۴، ۷، ۸.

② فضل طول العمر للطاعة: ۲، ۳، ۵، ۶، ۱۰، ۱۱.

③ فائدة طول العمر: ۹.

دبنه مقاصدو دپاره دمال حاصلولو جواز: په دې باب کښې به هغه احادیث بیانیږی دکوم نه چه معلومیږی چه دَ الله تعالی دَ عبادت او طاعت په خاطر اودَ دین دَ خدمت په غرض سره اخروی خیر ښیګړې اومور سر ته دَ رسولو دَپاره دَ مال اودولت طلب کول اودَ دې غوښتل جائز دی.

دمالدارۍ دوه صورتونه: ① اسلام چونکه دَ انسانی ژوند دَپاره کامل اومکمل ضابطهٔ حیات دې اودَ زیاتی کمی نه پاک دَ الله تعالی مبارک قانون دې په دې وجه چه په دې کښې چه څنګه دَ خرابی پیدا کونکی مال مذمت کړې شوې دې

② کوم مال چې د هغې په ذریعه انسان نیکی کوی نو د هغې تعریف هم شوې دې مثلاً جمات جوړول، نهریا کوهې کنستل، مدرسه جوړول، رفاهی اداره قائمول وغیره

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۲۸۳] د الله تعالی محبوب بنده څوک دې؟

۵۲۸۳—(۱) [۱] [۱] عَنْ سَعْدٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ التَّقِيَّ الْغَنِيَّ الْخَفِيَّ» ". [۳] رَوَاهُ مُسْلِمٌ. وَذُكِرَ حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ: " لَا حَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَيْنِ " فِي (بَابِ فَضَائِلِ الْقُرْآنِ).

ترجمه: [۱] حضرت سعد ﷛ وایي، چی رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] یقیناً الله ﷻ هغه دیر خوښوي چې متقي او غني او کوشه نشین وي. [۳] (مسلم) او د حضرت ابن عمر ﷛ روایت لاحَسَدَ إِلَّا فِي اثْنَيْنِ، د فضائل قرآن په باب کې نقل شوی دی.

حل اللغات: — ① اَلتَّقِيُّ: تقوی دار سړي، ② اَلْغَنِيُّ: مالدار، ③ اَلْخَفِيُّ: پټ، غیرمعروف.

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق (رقم-۱۱ - (۲۹۶۵) واحمد فی المسند: ۱/۱۷۷

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① التقي" صاحب تقویٰ سړی ته تقی وئیلې شوې دې. دلته دَتقی نه مراد هغه سړې دې چه په خپل مال کښې بې ځایه اسراف نه کوی.

② الغنی: صاحب مال ته غنی وئیلې شوې دې. دې نه مراد حقوق الله او حقوق العباد اداکونکې شکرګذار مالدار خلق دې.

قوله: إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْعَبْدَ..... الْغَنِيَّ الْخَفِيَّ:

د خفی څخه مراد: هیرکړې شوې غیرمعروف چرته ګوټ کښې ناست ته خفی وئیلې شوې دې. دې نه مراد هغه مالدارسړې دې چه دَ ډیرې زیاتې مالدارئی باوجود عاجز مسکین اوغیرمعروف اوسیږی. دَ مال دَ کثرت دَ وجې نه کبر کوی اونه په نورو خلقوباندې خپل ځان اوچت ګنړی بلکه دَخاموشئی ژوند تیروی اوپه خاموشئی سره خپل دغه حلال مال دَ نیکئی په لاروکښې خرچ کوی.

داسړې الله تعالی ته څکه ګران دې چه په دې کښې ډیرې زیاتې نیکئی راجمع شوی دی. حالانکه الدارخلق خو کبرسره سره ظلمونه کوی اودَ بدمعاشئی تولې ادې چلوی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[٥٢٨٥] غوره خلق څوک دی؟

٥٢٨٥ ــ (١) [٢] ① عَنْ أَبِي بَكْرَةَ ـ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ② «ـ أَنَّ رَجُلًا قَالَ: يَارَسُولَ اللّٰهِ! أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ؟ ③ قَالَ: " مَنْ طَالَ عُمُرُهُ، وَحَسُنَ عَمَلُهُ ④ ". قَالَ: فَأَيُّ النَّاسِ شَرٌّ؟ ⑤ قَالَ: " مَنْ طَالَ عُمُرُهُ وَسَاءَ عَمَلُهُ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① حضرت ابوبکره ﷛ نه روایت دی ② یو سړي پوښتنه وکړه یارسول الله ﷺ کوم سړی ښه دی ③ حضور ﷺ وفرمایل: هغه سړی چې د هغه عمر زیات وي او اعمال يي ښه وي، ④ بیا هغه سړي پوښتنه وکړه، او کوم سړی خراب دی ⑤ حضور ﷺ وفرمایل هغه سړی چې د هغه عمر زیات وي، او اعمال يي خراب وي. (احمد، ترمذي دارمي)

تسهیلات:

قوله: مَنْ طَالَ عُمُرُهُ، وَحَسُنَ عَمَلُهُ:

خوش قسمته انسان: دَ حدیث دَظاهر نه معلومیږی چه مذکوره حکم دَ اغلب په اعتبار سره دې یعنی ښه یا بد عملونه به ئی زیات وی نو هغه کس ته به یا ښه وئیلی شی او یا بد

[١] اخرجه الدارمی فی السنن رقم ٢٧٤٢، والترمذی فی السنن رقم ٢٣٣١

وئیلی شی او که چرې بد عملونه ئې برابر وی نو بیا به هغه ته په یوه وجه خو ښه وئیلی شي او په یوه وجه بد اګر چه ددې خبرې ثبوت نادر دې.

[۵۲۸۶] د اوږد عمر په شهادت باندې فضیلت

۵۲۸۶-()[۳] [۱] وَعَنْ عُبَيْدِ بْنِ خَالِدٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- [۲]«أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- آخَى بَيْنَ رَجُلَيْنِ، [۳] فَقُتِلَ أَحَدُهُمَا، ثُمَّ مَاتَ الْآخَرُ بَعْدَهُ بِجُمُعَةٍ أَوْ نَحْوِهَا، [۴] فَصَلَّوْا عَلَيْهِ، [۵] فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَا قُلْتُمْ؟" [۶] "قَالُوا: دَعَوْنَا اللّٰهَ أَنْ يَغْفِرَ لَهُ وَيَرْحَمَهُ وَيُلْحِقَهُ بِصَاحِبِهِ، [۷] فَقَالَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "فَأَيْنَ صَلَاتُهُ بَعْدَ صَلَاتِهِ، وَعَمَلُهُ بَعْدَ عَمَلِهِ؟ [۸]" أَوْ قَالَ: "صِيَامُهُ بَعْدَ صِيَامِهِ; لَمَا بَيْنَهُمَا أَبْعَدُ مِمَّا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ»" رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ وَالنَّسَائِيُّ.[1]

ترجمه: [۱] او حضرت عبید ابن خالد نه روایت دی [۲] رسول الله ﷺ د دوو سړو په منځ کې وروروليٰ (بهائي چاره) قائمه کړې وه (یعني هغه دواړه صحابه وو ترمنځ دوروروليٰ حالت یې جوړ کړی وو) [۳] په هغوئ کې یو د الله په لار کې ووژل شو (یعني په جهاد کې شهید شو) او د هغه د شهادت نه پس نږدې یوه هفته وروسته هغه دویم سړی هغه صاحب فراش کیدو سره وفات شو، [۴] صحابه وو د هغه سړي د جنازې مونځ وکړو، [۵] کوم وخت چې د جنازې د مانځه نه فارغه شو، رسول الله ﷺ د هغوئ نه پوښتنه وکړه تاسو چې د مرحوم جنازه کړې ده، په هغه کې مو څه ویلي دي، [یعنی تاسو نماز جنازه کې مرحوم د پاره څه دعاء کړې ده] [۶] صحابه وو عرض وکړو مونږ الله ﷻ نه دادعا غوښتې وه، چې د ده ګناه وبخښي په ده رحمت نازل کړي او دې هغه شهید کیدونکی سړي سره جنت کې اعلیٰ درجې ته ورسوي څرنګه چې هغوئ په دنیا کې اتفاق او اتحاد سره یوځای اوسیدل. [۷] رسول الله ﷺ په دې اوریدو سره وفرمایل نو بیا د هغه هغه مونځ څه شو، چې هغه د خپل ملګري د مونځ نه پس ورځو کې کړی وو او د هغه د هغه اعمالو ثواب چیرته لاړو چې هغه د خپل ملګري د اعمالو نه پس ورځو کې کړی دی [۸] او یا یې دا وفرمایل چې د هغه د روژو هغه ثواب څه شو چې هغه د خپل ملګري د روژو نه پس ورځو کې نیولی وي [یعنی تاسو چې د مرحوم په حق کې دا دعا کړې ده چې الله ﷻ هغه خپل ورور او ملګری سره جنت ته ورسوي کوم چې شهید شوی دی نو د دې مطلب دادی چې ستاسو ګمان کې د هغه سړي درجه او مرتبه د خپل ورور د درجې او مرتبې نه کمه ده که تاسو داسې ګنې نوبیا دا اووائي چې د دې مرحوم هغه مونځونه، هغه روژې او هغه نورنیک اعمال او د هغه اجر او ثواب چیرته لاړو، چې هغه د خپل ورور د تګ نه پس ورځو کې کړي وه]

---

[1] اخرجه ابوداود في السنن كتاب الجهاد/باب في النور يرى عند قبر الشهيد (رقم-۲۵۲۴) والنسائي في كتاب الجنائز/باب الدعاء (رقم-۱۹۸۵) واحمد في المسند:۵/۴۰

بلاشبه په جنت کې دننه او قرب الهي کې د دواړو سړو په منځ کې چې کومه فاصله ده هغه د هغه فاصلې نه هم زياته ده، کومه چې د زمکي او آسمان په منځ کې ده.

حل اللغات: - ① آخَى: رونړه رونړه ئې کړل، ② أَبْعَدُ: لرې والې.

تسهیلات:

قوله: فَأَيْنَ صَلَاتُهُ بَعْدَ صَلَاتِهِ، وَعَمَلُهُ بَعْدَ عَمَلِهِ؟:

د اوږد عمر خاوندنيک انسان فضيلت په شهيد باندې: حضورپاك دَ جنازې مونځ کولونه پس صحابه کرامونه تپوس اوکړو تاسو دَ جنازې په مونځ کښې دَدې مړی دَپاره کومه دعا اوغوښتله يا تاسو دَدې دواړو دوستانو باره کښې څه وايئې؟ دَدې دواړو دَ درجوباره کښې ستاسو څه خيال دې؟ صحابه کرامو جواب ورکړو چه دا دواړه په دنياکښې ملګرې وو مونږ دا دعا اوغوښتله چه الله تعالى دا مړې هم دَ ده ملګری سره په يوه درجه کښې اوساتی دې دَپاره چه په آخرت کښې هم يوځائی وی. هغه که شهيد شوې دې ليکن الله تعالى دې دا مړې هم دَهغه درجوته ورا ورسوی زمونږ هم دغه دعا ده او زمونږ خپل مينځ کښې خبرې اترې هم دغه وې. حضورپاك اوفرمائيل چه نه بلکه دَدې دواړو په درجو او په مرتبه کښې ډير لوئی فرق دې څکه چه دَ يوې هفتې مونځونه او روژې دَدې مړی دَ شهيد نه زياتې دی.

اشکال: دَ شهيد درجه خوډيره اوچته وی. دَاحاديث کثيره نه ثابته خبره ده چه دَ شهيد درجه دَ تولو نه اوچته ده. هسې هم دَ شهيد احکام عجيبه دی تردې چه دَ غسل ضرورت هم ورته نه وی. دَ جنازې مونځ دَ اکثر فقهاؤ په نيزنشته دې په وينه کښې لړپړ هم په هغه کپړو کښې الله تعالى ته ورروانولې شی. دَ هغه دَ حقوق العباد نه علاوه ټول صغائر اوکبائر معاف کولې شی. نوبيا دلته يو عام سړې صرف دَ يوې هفتې دَ نيکودَ وجې نه هغه دَدې شهيدنه دومره وړاندې لاړو

داشکال جواب:

① څه خصوصی معامله ده او الله تعالى بعضې وخت مفضول عمل باندې افضل ثواب ورکوی لکه چه دَ ذکرالله په احاديثو کښې ذکردی.

② ملاعلی قاری رحمه الله فرمائی "وذلك لأنه أيضاً كان مرابطاً في سبيل الله فله المشاركة في الشهادة حكماً وطريقةً وله الزيادة في الطاعة والعبادة شريعة وحقيقة وإلا فمن المعلوم أن لا عمل أزيد ثواباً على الشهادة جهاداً في سبيل الله وإظهاراً للدين لاسيما في مبادء الدعوة مع قلة أعوانه من أهل الملة".

ترجمه: په دې دواړوکښې دا فرق څکه دې چه روستو په خپل مرګ باندې مړکيدونکې دا صحابی په رباط فی سبيل الله کښې وو يعنی دَ اسلامی مملکت په سرحدباندې ئې پهره

ورکوله نودَ ضابطې مطابق هغه شهید سره په شهادت کښې شریك وو اودَ شریعت مطابق په عملی توګه هغه تهدَ دغه نیکنۍ او عبادت درجه حاصل شوه.که چرې دا خاص صورت حال نه وی نودا حقیقت معروف اومشهور دې چه دَ ثواب په اعتبار سره دَ شهادت نه لوئی هیڅ عمل نشته دې.اودَ الله تعالی په لارکښې جهاد کولو سره چه سړې شهید شی اودَ الله تعالی دَ دین دَ غالب کولوپاره اووژلې شی خصوصًا چه دې دَجهاد اودَ دین غلبې، دَ اسلام دَ دعوت په شروع مرحله کښې وی اودَ دین منونکی اودَ هغې معاونین ډیر کم هم وی.

دَملاعلی قاری رحمه الله دَ دې عبارت دَ آخری جملې نه په واضح توګه باندې معلومیږی چه دَ صحابه کرامو دعوت جهاد فی سبیل الله وو.هم په دې وجه فقهاؤ دَ دعوت دې قسم ته "دعوت قهریة" وئیلې دې.

۳ دا سړې دَ شهادت په جذبه سره مست وو پخپله مجاهد وو لکه چه ټول صحابه کرام مجاهدین وو.دَ شهادت دې جذبه دې دَ شهید درجې ته اورسولو اودَ یوې هفتې عبادت ئې زیات شو په دې وجه وړاندې شو.

[۵۲۸۷] صدقې کولو سره مال زیاتیږی

۵۲۸۷-()[۳] ۱ وَعَنْ أَبِي كَبْشَةَ الْأَنْمَارِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: ۲ "«ثَلَاثٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ، ۳ وَأُحَدِّثُكُمْ حَدِيثًا فَاحْفَظُوهُ، ۴ فَأَمَّا الَّذِي أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ فَإِنَّهُ مَا نَقَصَ مَالُ عَبْدٍ مِنْ صَدَقَةٍ، ۵ وَلَا ظُلِمَ عَبْدٌ مَظْلِمَةً صَبَرَ عَلَيْهَا إِلَّا زَادَهُ اللّٰهُ بِهَا عِزًّا، ۶ وَلَا فَتَحَ عَبْدٌ بَابَ مَسْأَلَةٍ إِلَّا فَتَحَ اللّٰهُ عَلَيْهِ بَابَ فَقْرٍ.

ترجمه: ۱ او حضرت ابوکبشه انصاري رضی الله عنه نه روایت دی هغه رسول الله ﷺ نه واوریدل ۲ دري خبري دي چې د هغه حقانیت او صداقت باندې زه قسم اخلم، ۳ او زه تاسو ته یوه خبره کوم، یعنی ستاسو مخکې یوحدیث بیانوم تاسو هغه یاد لرئ او په هغه عمل کونکي اوسئ ۴ هغه دري خبري (چې د هغه په حقانیت او صداقت زه قسم اخستي شم). دادی چې د بنده مال د الله په لار کې خرچ کولو صدقه او خیرات کولو په وجه کمیږي نه (یعني د یو بنده خپل مال د الله رضا او خوشنودي د پاره خرچ کول په ښکاره خو خپل مال کمول ښکاري خو د حقیقت د اعتبار نه هغه ته هیڅ نقصان او تاوان نه کیږي، ځکه چې د هغه صدقه او خیرات کول دنیاوي طور سره هم د هغه مال واسباب کې د خیر او برکت موجب وي او په اخرت کې هم دحصول ثواب ذریعه ده او ښکاره ده چې داشی به د کثرت

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء مثل الدنیا مثل أربعة نفر (رقم-۲۳۲۵) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب النیة (رقم-۴۲۲۸)

او زیاتوب په حکم کې وي نه چې د نقصان په حکم کې] ۵ په کوم بنده چې ظلم وشي او د هغه مال په ناحقه واخستل شي او هغه بنده په هغه ظلم او زیاتی صبر وکړي. نو الله ﷻ د هغه عزت زیاتوي [یعنی د هغه سره ظلم او زیاتی کیدل اگر که ظاهري طور سره د هغه دذلت برابر وي، خو حقیقت دادی، چې په هغه ظلم او زیاتوب کولو په وجه د الله په نزد د هغه بنده عزت او مرتبه زیاتیږي، څرنگه چې یو سړی ظلم کوی نو دهغه دظلم په وجه دالله په نزد دهغه ذلت زیاتیږي، یادامطلب دی چې د ظلم او زیاتوب ښکار کیدونکی بنده اگر که وقتي طور سره ذلت او کمتري کې مبتلا کیږي خو په انجام کې الله ﷻ په دنیا کې هم د هغه عزت او مرتبه زیاتوي. څرنگه چې ظالم اگر که وقتي طور سره سربلند کیږي. خو آخر د خپل ظلم په وجه ډیر ذلت او رسوائي سره مخ کیږي. او د دنیا والو په نظر کې وغورځیږي، اگر که هغه اوږدي مودي نه پس هغه انجام بد ته ولې ونه رسیږي اگر که داسې کیږي، چې د قدرت کرشمه سازي صورت حال داسې بدل کړي. چې ظالم یوه نه یوه ورځ خپل سربلندي ضائع کړي، او کله د زوړورکیدو په وجه په کوم سړي چې یې ظلم او زیاتي کولي خپل انجام ته رسیدو سره د هغه مظلوم ترلاس لاندي او د هغه مخکې ذلیل اوسرنگون کیږي] ۶ او کوم بنده چې خپل نفس باندې د سوال دروازه خلاصه کې [یعنی د ضرورت او حاجت په وجه نه، بلکې د مال اودولت جمع کولو اود خواهشات نفس دتکمیل دپاره د خلقونه یې غوښتل شروع کړل نو الله ﷻ هغه دپاره د فقر دروازې خلاصې کړي یعنی هغه په قسم قسم احتیاج او افلاس کې مبتلا کوي. یا د هغه سره چې څه وي هغه هم ختم کړي، چې د هغه په وجه هغه ډیري خرابې کې راځي].

۱ وَأَمَّا الَّذِي أُحَدِّثُكُمْ فَاحْفَظُوهُ" ۲ فَقَالَ: "إِنَّمَا الدُّنْيَا لِأَرْبَعَةِ نَفَرٍ: ۳ عَبْدٍ رَزَقَهُ اللَّهُ مَالًا وَعِلْمًا، ۴ فَهُوَ يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ، وَيَصِلُ رَحِمَهُ، ۵ وَيَعْمَلُ لِلَّهِ فِيهِ بِحَقِّهِ، فَهَذَا بِأَفْضَلِ الْمَنَازِلِ. ۶ وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللَّهُ عِلْمًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ مَالًا، فَهُوَ صَادِقُ النِّيَّةِ ۷ يَقُولُ: لَوْ أَنَّ لِي مَالًا لَعَمِلْتُ بِعَمَلِ فُلَانٍ، فَأَجْرُهُمَا سَوَاءٌ.

ترجمه: ۱ او پاتې شوه د دې حدیث خبره چې ماتاسو ته اوروله د پاره ویلې وه، نو اوس زه هغه بیانوم غور سره یې واورئ او دایاد وساتئ ۲ د دې نه پس حضور ﷺ وفرمایل په دې کې څه شك نشته. چې دا دنیا بس څلور سړو د پاره ده، [یعنی دا دنیا د خپل مال دولت د احوالو او د خپل ښه وبد په اعتبار سره څلور قسمه سړو کې منحصره ده] ۳ یو خو هغه بنده چې الله ﷻ ورته مال وزر عطا کې. او د علم ودولت سره یې هم و نوازی ۴ داسې علم اچې د هغه په ذریعه هغه خپل مال مصارف خیر کې د خرچ کولو طریقه پیژني او د هغه د اثراتو او کیفیاتو نه هم باخبر وي، نو هغه بنده د خپل مال دولت باره کې] د الله ﷻ نه ویریږي. [یعنی هغه حرام او ناجائز او ناخوښه اوخلاف حق امورو کې نه خرچ کوي] ، د هغه په ذریعه خپل قرابت دارو او عزیزانو سره حسن سلوك او احسان کوي، ۵

او د هغه مال زر نه د هغه د حق مطابق الله ﷻ د پاره خرچ کوي. ایعنی د مال ودولت په حقله الله ﷻ چې کوم حقوق متعین کړي دي هغه د احکام خداوندي د تکمیل د پاره اداء کوي، مثلاً زکاة باسي صدقه او خیرات کوي، مالي کفارات اداء کوي او نیک اعمالو کې یې خرچ کوي] ، نو د هغه بنده ډیره لویه او کامل مرتبه ده ایعنی هغه بنده په دنیا کې نیک خصائل او احوال سره متصف ګرځول کیږي یا په آخرت کې د اعلی مراتبو مستحق ګرځول کیږي]. [۶] دویم هغه بنده چې هغه ته الله ﷻ علم خو عطا کی اچې د هغه په ذریعه په ښه شان پوهیږي چې مال کوم کارکي صرف کول د الله رضا او خوشنودي او د هرقسم د اجر او ثواب باعث دی او کوم کار کې خرچ کول د الله د ناراضګي او د هرقسم خسران او عذاب سبب دی] لیکن هغه ته یې مال ندي ورکړي، نو هغه بنده د خپل علم په سبب رښتینی نیت لري، [۷] او د حصول دولت خواهش او ارزو لرلو سره وایي، که زما سره مال او روپی پیسي وی،نو مابه په هغه کې نیک کارونه کولای،څرنګه چې هغه فلانی سړی د خپل مال زرباره کې وو د الله نه ویرېدي، [یعنی څرنګه چې فلانی سړي ته الله علم صادق سره مال دولت هم عطا کړی دی او هغه هغه مال د الله د رضا او خوشنودي له خاطره نیک کارونه کې خرچ کوي یعنی ادائیګی زکاة اقرباوو سره حسن سلوك او د صدقه او خیرات په ذریعه د دنیا او د آخرت سرخروئي حاصلوي دغه شان که الله ﷻ ماته هم ددی علم سره مال دولت هم عطا کړی وې نو مابه هم د هغه سړي په شان خپل مال وزر د الله په لار کې د خرچ کولو سعادت حاصل کړی وای] نو ددواړو سړو ثواب برابر دی [یعنی مخکنی سړی که دننه مالدار کیدو په وجه د الله په لار کې هیڅ نه خرچ کوي، لیکن د ریښتني نیت ساتلو په سبب هغه اجر او ثواب پیداکي کوم چې مخکني سړي پیداکیا] .

حل اللغات :- ① مَا نَقَصَ: نه کمیږي، ② عِزًّا: عزت،

> [۱] وَعَبْدٍ رَزَقَهُ اللّٰهُ مَالًا وَلَمْ يَرْزُقْهُ عِلْمًا، [۲] فَهُوَ يَتَخَبَّطُ فِي مَالِهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ، [۳] لَا يَتَّقِي فِيهِ رَبَّهُ وَلَا يَصِلُ فِيهِ رَحِمَهُ، [۴] وَلَا يَعْمَلُ فِيهِ بِحَقٍّ، فَهٰذَا بِأَخْبَثِ الْمَنَازِلِ، [۵] وَعَبْدٍ لَمْ يَرْزُقْهُ اللّٰهُ مَالًا وَلَا عِلْمًا، فَهُوَ يَقُولُ: [۶] لَوْ أَنَّ لِي مَالًا لَعَمِلْتُ فِيهِ بِعَمَلِ فُلَانٍ، [۷] فَهُوَ بِنِيَّتِهِ وَوِزْرُهُمَا سَوَاءٌ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: [۱] دریم بنده هغه دی چې هغه ته الله ﷻ مال ورکړی دی لیکن علم یې نه دی ورکړی. [داسې علم چې د هغه سره د الله نه ویریږي او خپل مال د حقوق ادائیګی کې خرچ کړي] ، نو هغه بنده د بي علم کیدو په وجه د خپل مال باره کې وغولیږي. [۳] په دي طور [چې اول خو د لالچ او حرص او د دنیا د محبت په وجه بخل کوي] ، چې هیڅ ښه کار او د حقوق ادائیګی کې د خرچ کولو اراده نه کېږي [او که څه فلاحي او رفاهي کار یا د چا مدد او اعانت کې خرچ هم کوي. نو مقصد محض نوم ښوونه او خپلي لويي او دولتمندي اظهار وي. هغه د خپلي بي علمی په سبب د هغه مال او دولت باره کې خپل

رب نه نه ويرېږي، يعنى د آمدني داسې وسائلو او ذرائعو نه پرهيز او احتياط نه کوي. کوم چې حرام ناجائز او مشتبه وي، او نه داسې امورو کې خپل مال خرچ کولو نه منع کېږي، چې غير شرعي او دحق خلاف وي، او د علم وتربيت کمي اود جذبه ترحم دفقدان او د حرص وبخل د کثرت په وجه] خپل قرابتدار او عزيزانو سره مالي احسان او سلوك نه کوي.۴ او نه د هغوئ د حقوقو تعميل کوي، چې د هغه مال دولت سره متعلق وي. ايعنى نه خو زکاة او نور صدقات واجبه په ذريعه د الله حق اداء کوي، او نه د بنده ګانو د حقوقو او مطالباتو د ادائيګی پرواه کوي] نو دا بنده د بدترين مرتبې دي.۵ او څلورم بنده هغه دی چې الله ﷻ نه مال ورکړی وي، او نه يې علم ورته عطا کړی وي. [داسې علم چې د هغه په ذريعه د خير او شر په منځ کې تميز وشي او دا پيژندی شي. چې څما په حق کې کوم شی ښه دی او کوم شی خراب دی] نو هغه بنده وايي ۶ که زما سره مال او روپی پيسې وې نو مابه هم دهغه فلاني سړي په شان خرابو کارونو کې خرچ کولاي.۷ نو دابنده د خپل نيت په سبب مغضوب دی [يا داترجمه هم کيدي شي چې دابنده خراب نيت لرونکی دی] او د ده ګناه د هغه دريم سړی د ګناه برابر ده، يعنى هغه دريم سړی اګر که خپل مال خرابو کارونو کې د خرچ کولو په وجه ګنهګاريږي، او داڅلورم سړی مالدار نه کيدو په وجه خرابو کارونو کې د خرچ کولو مرتکب کېږي خونه، ليکن خرابو کارونو کې د خرچ کولو نيت لري په دي سبب هغه ته هم هغه ګناه رسيږي چې خرابو کارونو کې واقعة خرچ کونکي ته رسيږي]، دا روايت ترمذي نقل کړی دی، او ويلي يې دي چې داحديث غريب دی.

حل اللغات:- ۳ يَتَخَبَّطُ: دهوکه شی. اوغوليږی، ۴ أَخْبَثِ الْمَنَازِلِ: بدترين مرتبې والا. ۵ وِزْرُ: بوج. ګناه

تسهيلات:

قوله: ثَلَاثٌ أُقْسِمُ عَلَيْهِنَّ:

د درې څيزونوپه يقين کيدو باندې د نبی عليه السلام قسم خوړل: يعنى حضورپاك فرمائی چه درې څيزونه داسې يقينی او پاخه دی چه په هغې باندې زه قسم خوړلې شم

۱ يودا چه صدقه اوخيرات سره کله هم مال کميږی نه سره دَدې چه خلق په ظاهره ګڼری چه مال ورکولوسره مال کميږی.

۲ دَمظلوم په ظلم باندې صبرکولوسره دَهغه عزت نه کميږی بلکه زياتيږی. خلق ګڼری چه عزت ئی کميږی خکه چه هغه بدله وانخستله.

۳ په خيرغوښتلوسره اولګه تنده راځی سره دَدې چه سوال کونکې ګڼری چه دې سره دَهغه اولګه تنده ختميږی.

قوله: أحدثكم.

د خلقو څلور قسمونه: يعنې ماچه څه وئيلي وو چه ستاسو په وړاندې يو حديث بيانوم. نو هغه واوړئی چه دَ دنيا او مال په اعتبار سره خلق څلور قسم دی

① يو هغه سړې دې چاته چه الله تعالى مال او علم دواړه ورکړې وی دا ډير ښه سړې دې که چرته دَمال او علم حق اداکړی.

② دويم هغه سړې دې چاته چه الله تعالى علم ورکړې دې او مال ئی نه دې ورکړې کله چه دې په علم باندې عمل کوی نو دا هم ډير ښه سړې دې. دا دَ رښتونی نيت والا دې که چرې مال ورله راغلو نو په خو کارونو کښې به ئی خرچ کوی لهذا دې هم دَ اولنی سړی په شان ښه سړې دې.

③ دريم هغه سړې دې چاته چه الله تعالى ډير ښه مال ورکړې دې او علم ئی ورته هيڅ نه دې ورکړې هغه جهالت سره په مال کښې ناجائز تصرف کوی ګری دا بدترين سړې دې.

④ څلورم هغه سړې دې چه نه هغه سره مال شته او نه علم ليکن هغه آرزو کوی که چرې ما سره مال وې نو ما به دَ فلانکی سړی په شان په غلطو کارونو کښې الوزولو نو دا سړې هم دَ دريم نمبر سړی په شان دې. دَ ګناه په آرزو کښې دا ګناهګار شو لهذا دې هم دَهغه په شان دې.

قوله: وزرهما سواء"

دغريب او مالدار په ګناه کښې ديو شان والی وجه: يعنې مفلس جاهل دې او تمنا کوی وائی که چرې ما سره مال راغلو نو دَفلانکی فاسق او فاجر مالدار په شان به عيش کوم. ډمې به ګډوم، شراب به څکم، پردی حقونه به لاندې کوم، نو دَده ګناه او دَ مالدار فاسق سړی دَ ګناه بوج به برابر وی. لکه چه په ښه نيت سره ښه ثواب ملاويږی او په خراب نيت سره خرابه بدله ملاويږی.

سوال: دلته دا سوال دې چه دَ معصيت دَ ارتکاب نه مخکښې خو په نيت باندې نيول نه کيږی دا دلته ولې کيږی؟

جواب: دَ نيت پنځه درجې دی کوم چه شاعر داسې بيان کړی دی

مراتب القصد خمس هاجس ذكروا	فخاطر فحديث النفس فاستمعا
يليه هم فعزم كلها رفعت	إلا الأخيرة ففيه الأخذ قدوقعا

نو که دَعزم په درجه کښې نيت وی نو په هغې باندې نيول کيږی. دلته دَدغه سړی نيت دَعزم په درجه کښې دې په دې وجه دَ نيولو ذکر کړې شوې دې. عزم دا دې چه سړې ګناه ته سل فيصد تيار دې صرف دَموقعې ملاويدو انتظار دې.

[۵۲۸۸] دَ نیکئ توفیق دَ حسن خاتمې نښه

۵۲۸۸-() [۵] [۱] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: [۲] "«إِنَّ اللّٰهَ تَعَالَى إِذَا أَرَادَ بِعَبْدٍ خَيْرًا اسْتَعْمَلَهُ". [۳] فَقِيلَ: وَكَيْفَ يَسْتَعْمِلُهُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ؟ [۴] قَالَ: "يُوَفِّقُهُ لِعَمَلٍ صَالِحٍ قَبْلَ الْمَوْتِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] الله تعالی چې د بنده د خير يعنې د هغه دحسن انجام اراده وفرمايي، [۳] نو د هغه نه دنيکي کارونه کېږي پوښتنه وشوه، يارسول الله الله تعالی په هغه د نيکي کار څرنګه کوي، [۴] وي فرمايل دمرګ نه مخکې هغه ته د نيک کار توفيق عطا کوي.

حل اللغات: - ① اسْتَعْمَلَهُ: کارونه ترې اخلي.

تسهيلات:

قوله: يُوَفِّقُهُ لِعَمَلٍ صَالِحٍ قَبْلَ الْمَوْتِ:

دمرګ څخه وړاندې د نيک عمل توفيق ورکول: دَ حديث الباب حاصل دادې چه په کوم بنده باندې دَ الله تعالی کرم او مهرباني اوشي هغه ته دَ مرګ نه مخکښې دَ توبې اودَ انابت او دَ عبادت توفيق الله تعالی ورکوی. لکه چه حديث الباب دَ ژوند اهميت او فضيلت ښکاره کوی چه هم دغه ژوندون دې په کوم کښې چه انسان دَ آخرت ښېګړې او کاميابئ دَ پاره څه کولې شی.

[۵۲۸۹] هوښيار څوک دې او کم عقل څوک دې؟

۵۲۸۹-() [٦] [۱] وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲] «الْكَيِّسُ مَنْ دَانَ نَفْسَهُ، وَعَمِلَ لِمَا بَعْدَ الْمَوْتِ. [۳] وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا، [۴] وَتَمَنَّى عَلَى اللّٰهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱] او حضرت شداد بن اوس وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] عقلمند او بهادر سړی هغه دی، چې خپل نفس د الله تعالی دحکم [او فيصله تقدير وقضا او د هغه درضا او خوشنودي] په وړاندې تيټ کړي [او د فرمان الهي مطيع او فرمانبردار جوړ شي]، او هغه داجر او ثواب د پاره نيکي وکړي، کوم چې دمرګ نه پس به يې پيدا کي، [۳] او احمق او نادان او بزدل سړی هغه دی چې خپل نفس د خواهشاتو تابع جوړکړي، [يعنی نفس

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب القدر عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء أن الله کتب کتابًا لأهل الجنة وأهل النار(رقم-۲۱٤۲) واحمد فی المسند:۳/۱۰٦
[۲] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم-۲٤۵۹) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب ذکر الموت والاستعداد له (رقم-٤۲٦۰) واحمد فی المسند: ٤/۱۲٤

چې کوم حرام او مشتبخیزونه او دنیاوي لذت او د مرغوباتو خواهشمندوي، هغه اختیارولو سره ګویا خپل ځان د خواهش نفس قیدي جوړکړي وي، او ګناهونو کې مبتلا کیږي د فرمان حق خلاف چلیږي، د عمل خیر او توبه او استغفار لار نه اختیارولو باوجود د الله ﷻ نه] د دې خبري ارزو مند وي، چې هغه به ورنه راضي وي، هغه به وبخښي او هغه ته به جنت ورکړي.

حل اللغات:- ①الْكَيِّسُ: عقلمند، هوښيار، ②دَانَ: کنترول کړی، قابو کړی، ③الْعَاجِزُ: بې وقوف، ناپوهه، ④هَوَاهُ: دنفس خواهشات، ⑤تَمَنَّى: آرزو،

تسهیلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① الْكَيِّسُ" دا کيس دَ کياسة نه دې دَعقلمند هوښيار په معنی کښې دې.په دې کښې دَبهادرئی مفهوم هم پروت دې يعنی هوښيا بهادر عقلمند سړې هغه دې.

② دان:دَ تيتولو په معنی کې دې يعنی نفس ئې تابعدار او حکم منونکې جوړکړې دې.

قوله: وَالْعَاجِزُ مَنْ أَتْبَعَ نَفْسَهُ هَوَاهَا:

دعاجز څخه مراد: دَعاجز نه دلته کم عقل بې همت او بزدل سړې مراد دې چه دَ هغه نفس دې داسې راګذار کړو چه هغه خپل نفس پسې شاته اولګيدو.په ګناهونو کښې ککړ پاتې شو او صرف دَ آرزوګانو په طمع کيناستو نه ئې توبه اوکړه او نه ئې استغفار اوکړو.په ګناهونو کښې راګيردې او تمنائی داده چه الله تعالی غفور اورحيم دې ماته به جنت راکوی.بې شکه الله تعالی غفور او رحيم دې مګر قهار اوجبارهم دې.دا خويو قسم توقې دی چه يو طرف ته څوك ناراض کوی هم اوپه هغه باندې دَ رضا دَحالت فيصله هم کوی.

دمذکوره په مضمون کښې د عالمانو اقوال: ① حسن بصری ﷫ اوفرمائيل "من ظن أنه يصل الى الله بعمل فهو متعن ومن ظن أنه يصل الى الله بغير عمل فهو متمن" يعنی کوم سړی چه دا خيال اوکړو چه هغه صرف دَعمل په زور باندې الله تعالی ته رسيدې شی نو هغه خپل ځان په مشقت کښې اچونکې دې اوکوم سړې چه دا خيال کوی چه دَعمل نه بغيربه الله تعالی ته اورسی نودې صرف آرزو کونکې دې.

② امام غزالی ﷫ فرمائی چه اول خپل ځان مستحق دَ رحمت محسن جوړکړه بيا دَ رحمت دعاغواړه څکه چه ﴿إِنَّ رَحْمَتَ اللَّهِ قَرِيبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِينَ﴾ دَ قرآن آيت دې.[سورت اعراف: ۵۶]

③ علامه کرخی ﷫ فرمائيلی دی چه دَنيك عمل نه بغير دَ جنت غوښتل دَ ګناهونونه يوه ګناه ده.

بې عمله د جنت امید ساتلو مثال

امام غزالی رحمه الله فرمائیلی دی بې عمله د الله تعالی د مغفرت امید ساتل داسې دی لکه یو زمیندار په پټی څه تخم کرلې نه وی او دې په دې امید ناست وی چې کله نور زمینداران د خپلو پټو څخه فصلونه کټ کوی زه به هم کټ کړم که دې چاته دا خبره اوکړی نو هغه به ورپورې خندا کوی. دغه شان مثال د هغه چا دې چې نیک عمل نه کوی، او دا امید ساتی چې الله تعالی غفور او رحیم دې ماته به معافی اوکړی د الله تعالی نیک بندګان هغه دی چې نیک اعمال کوی خو د دې باوجود په ویره کښې وی چې دا نیک اعمال به الله تعالی قبول کړی که نه؟ لکه څنګه چې یو زمیندار په پټی کښې تخم اوکری او وخت په وخت د هغې د اوبه خور انتظام کوی. د مرغو او ځاروو وغیره څخه ئې حفاظت کوی. او هر وخت د هغې په خسمانه کښې لګیا وی خو بیا هم دې په یقین سره نشی وئیلې چې دا فصل به زه کټ کوم بلکه دا ویره ورسره وی چې هسې نه په دې باندې سیلی، راشی طوفان راشی اور پرې اولګوی ده دا ویره تر هغه وخته پورې وی تر څو چې ئې هغه فصل کټ کړې نه وی. دغه شان نیکان بندګان نیک اعمال کوی خو بیا هم په ویره کښې وی چې دا عمل به الله تعالی ته قبول وی که نه؟

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۲۰] دَ پرهیزګارو دَپاره مال او دولت بد څیز نه دې

۵۲۰ -(١) [۷] ① عَنْ رَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ②«كُنَّا فِي مَجْلِسٍ، فَطَلَعَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ③وَعَلَى رَأْسِهِ أَثَرُ مَاءٍ ④فَقُلْنَا: يَا رَسُولَ اللّٰهِ! نَرَاكَ طَيِّبَ النَّفْسِ. قَالَ: "أَجَلْ". ⑤قَالَ: ثُمَّ خَاضَ الْقَوْمُ فِي ذِكْرِ الْغِنَى، ⑥فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "لَا بَأْسَ بِالْغِنَى لِمَنِ اتَّقَى اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ، ⑦وَالصِّحَّةُ لِمَنِ اتَّقَى خَيْرٌ مِنَ الْغِنَى، ⑧وَطِيبُ النَّفْسِ مِنَ النَّعِيمِ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ① د رسول الله ﷺ صحابه وو کې یو سړی وایي ② مونږ خلق په یو مجلس کې ناست وو، چې رسول الله ﷺ راتلو سره زمونږ په منځ کې تشریف فرما شو ③ هغه وخت د رسول الله ﷺ په سر مبارك د غسل د اوبو لوند والی وو، ④ مونږ عرض وکړو یا رسول الله دا وخت مونږ تاسو ډیر خوشحاله وینو چې د هغه آثار د مخ مبارك نه ښکاره کېږي حضور ﷺ وفرمایل هو. ⑤ راوي وایي د دې نه پس اهل مجلس د دولتمندي ذکر کې مشغول شو، یعنی په خپلو کې خبري کولې، چې مالداري او دولتمندي ښه شی دی یا خراب شی ⑥ رسول الله ﷺ زمونږ داخبري اوریدو سره وفرمایل د هغه سړي دولتمندي کې څه حرج نشته، چې د الله ﷻ نه ویریږي، ⑦ او د جسم صحت مندي دالله نه

[١] اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب التجارات /باب الحث على المكاسب (رقم-۲۱٤۱) واحمد في المسند: ۳۷۲/۵

ويربدونكى سرى يعنى دمتقي او پرهيزګار سړي د پاره ددولتمندي نه زياته ښه ده، [اګر که هغه صحت مندي فقر او افلاس سره ولي نه وي]٨ او شادماني او خوش دلي خوشحالي د الله ﷻ د نعمتونو نه يو نعمت دي [چې په هغه د الله ﷻ شكر اداء كول واجب دى، او په دي باره كې به د قيامت په ورځ د بنده نه پوښتنه كيږي، څرنګه چې قرآن كريم كې فرمايل شوي دي، ﴿ثُمَّ لَتُسْئَلُنَّ يَوْمَئِذٍ عَنِ النَّعِيمِ﴾] (احمد)

حل اللغات: - ① طَيِّبَ النَّفْسِ: ښه زړه والا، خوشحاله. ② أَجَلْ: د نَعَمْ په معنى كښې دې. يعنى آو. ③ خَاضَ: مشغول شو. ④ الْغِنَى: مالدارى.

[٥٢٩] مال او دولت دَ مؤمن ډهال دې

٥٢٩ - (١) [٨] ١ وَعَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ كَانَ الْمَالُ فِيمَا مَضَى يُكْرَهُ، ٣ فَأَمَّا الْيَوْمَ فَهُوَ تُرْسُ الْمُؤْمِنِ. ٤ وَقَالَ: لَوْلَا هَذِهِ الدَّنَانِيرُ لَتَمَنْدَلَ بِنَا هَؤُلَاءِ الْمُلُوكُ. ٥ وَقَالَ: مَنْ كَانَ فِي يَدِهِ مِنْ هَذِهِ شَيْءٌ فَلْيُصْلِحْهُ، ٦ فَإِنَّهُ زَمَانٌ إِنِ احْتَاجَ كَانَ أَوَّلَ مَنْ يَبْذُلُ دِينَهُ. ٧ وَقَالَ: الْحَلَالُ لَا يَحْتَمِلُ السَّرَفَ. رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ).

ترجمه: ١ او حضرت سفيان ثوري رحمه الله فرمايي ٢ مخكې زمانه كې به مال بد ګڼل كيدي [ځكه چې د هغه زماني خلقو كې زهد او قناعت ډير زيات وو، اوددې نه علاوه د هغه وخت د بادشاهانو او حاكمانو دطرف نه درعاياؤ بنيادي ضرورتونو دفراهمي خاص انتظام وو اوخلقو به بغيردخه كوشش اوبغير دخه پريشاني په كور كښې ناست قوت لايموت حاصلول اوپه دي سلسله كې به دهغه بادشاهانو اوحاكمانو دطرفه څه ذلت اوخوارى يې هم نه محسوسولي]٣ اوهر چې نن ورځ نو روپۍ پيسي ګڼل اومال دولت دمسلمانانو سپر(ډهال) دى ٤ حضرت سفيان رحمه الله داهم وفرمايل كه زمونږ خلقو سره دادرهم ودينار او روپۍ پيسي نه وى، نو نن صبا سلاطينو او امراؤ به مونږ ذليل او پامال كړى وې ٥ او هغوئ وفرمايل، كه يوسړي سره څه لږ ډير مال وي، نو هغه ته پكار دي چې د هغه اصلاح وكړي، ايعنى هغه لږ مال هسي ضائع نه كړي، بلكې تدبير او هنر سره هغه تجارت وغيره كې لګولو سره د زياتولو كوشش وكړي، يا داچې هغه ډير كفايت او قناعت سره خرچ كړي، چې زر ختم نشي]٦ ځكه چې زمونږ دا زمانه داسې ده، كه په دي كې څوك محتاج او مفلس وي، نو هغه به د حاصلولو په غرض خپل دين د خپل لاسه پامال كيدونكى اولنى سړى وي. ٧ د حضرت سفيان يوقول داهم دى چې حلال مال كې د اسراف احتمال نه وي (شرح السنه)

حل اللغات: - ① تُرْسُ: ډهال. ② لَتَمَنْدَلَ: پامال كړي او ذليل كړې به وې مونږ لره ③ يَبْذُلُ: خرچ كرى.

(١) اخرجه البغوى فى شرح السنه رقم الحديث ٤٠٩٨

تسهيلات:

قوله: كَانَ الْمَالُ فِيمَا مَضَى يُكْرَهُ:

مال که د مؤمن ډهال: پخوانئي زمانه کښې به مال اودولت ناخوښه ګڼړلې شو مؤمن او متقي حضراتو به مال مکروه ګڼړلو ځکه چه عام ماحول دَ زهد اوتقویٰ وو خلقو به غريب او فقير ذليل او سپك نه ګڼړلو دَ مالي کمزورئي دَ وجې نه به ئې دَ هغه ايمان نه تباه کولو بل دا چه بادشاهان اوحکمرانان به هم ښه وو چه غريب او فقيرته به ئې حوصله ورکوله نوځکه به خلقو مال او دولت نه راجمع کولو او راجمع کول به ئې معيوب ګڼړل مګر اوس معامله دَدې برعکس ده غريب اوفقير سړې په معاشره کښې ذليل او حقير ګڼړلې شي او دَ پيسو په زور دَ هغه ايمان اخستلې شي بل دا چه حکمرانان هم خيرخواه پاتې نه شونونتيجه به دا راوځي چه غريب سړې به دَمالدارانو او دَحکمرانانو لاس ته ناست وی اودَ هغوی دَ لاس پناه به جوړشي او دَ هغوی لاسونه صفا کول اوخيری صفاکولو دَپاره به توليه او رومال جوړشي.

قوله: مَنْ كَانَ فِي يَدِهِ مِنْ هَذِهِ شَيْءٌ فَلْيُصْلِحْهُ:

دمال د اصلاح په مفهوم کښي دوه اقوال: ① مطلب دا چه لږه پيسه هم وی نو هغه دې په ځه کاروزګار کښې اولګوی دا دَهغې اصلاح ترقي اوزياتوالې دې.

② مطلب دادې چه دادې په قناعت سره خرچ کوی اسراف دې نه کوی.

قوله: الْحَلَالُ لَا يَحْتَمِلُ السَّرَفَ: يعني حلال مال اسراف نه برداشت کوی ځکه چه هغه دومره زيات خو نه وی په کوم کښې چه دَ اسراف ګنجائش وی په حلال طريقې سره حاصل شوې مال دومره زيات چرته وی په کوم کښې چه سړې اسراف شروع کړی. اسراف خو په هغه مال کښې کيږی چه په ناجائز اوحرام طريقې سره حاصل کړې شوې وی نوکوم مال چه دغه شان د حرامو په طريقه په زيات مقدارکښې راځی هم دغه شان به دَحرامو په لارو ځی

[۵۰۳] شپيته کاله عمر ډير لوئي عمر دې

۵۰۳ - (۱) [۹۱] ① وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " ② «يُنَادِي مُنَادٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَيْنَ أَبْنَاءُ السِّتِّينَ ③ وَهُوَ الْعُمُرُ الَّذِي قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: ④ ﴿أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُمْ مَا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَنْ تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ﴾ [فاطر: ۳۷] ». ⑤ رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ① او حضرت ابن عباس ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ② يوه اعلان کونکې فرښته به د قيامت په ورځ د الله ﷻ په حکم سره دا اعلان وکړي، چې شپيته

[۱] اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۱۰۲۵۴

کالو عمر والا خلق چیرته دی، [یعنی په دنیا کې چې کومو خلقو شپیته کاله عمر پیدا کړی وو، هغوئ دي د خپل عمر حساب ورکولو د پاره خپل ځان پیش کړي]،[٣] او داعمر هغه عمر دی چې د هغه باره کې الله ﷻ دا فرمایلي دي [٤] أَوَلَمْ نُعَمِّرْكُم مَّا يَتَذَكَّرُ فِيهِ مَن تَذَكَّرَ وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ، ایا مونږ تاسو ته داسې عمر نه وو درکړی، چې په هغه کې نصیحت حاصلونکی نصیحت حاصل کړي، حالانکې تاسو ته ویرونکې هم راغلی وو.[٥] دا روایت بیهقي په شعب الایمان کې نقل کړی دی.

حل اللغات:- ① النَّذِيرُ: ویرونکې،

تسهیلات:

قوله: وَجَاءَكُمُ النَّذِيرُ:

د نذیر په مصداق کښې دوه اقوال:

① دَ ویرونکی نه مراد دَ الله تعالی هدایات او احکامات رسونکی یعنی قرآن مجید او دَ هغه رسولان دی.

② د نذیر څخه مراد بوډاوالې او مرګ دې. په دې وجه دَ بوډاوالی عمر ته رسیدو باندې دَ الله تعالی نه توبه او استغفار نه کونکې ډیر لوئی بدقسمت دې.

[٥٠٣] نیک عمل سره عمر زیاتیږی او درجات ورسره اوچتیږی

٥٠٣-(١)[١٠] [١] وَعَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ شَدَّادٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] «إِنَّ نَفَرًا مِنْ بَنِي عُذْرَةَ ثَلَاثَةً أَتَوُا النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- فَأَسْلَمُوا [٣] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "مَنْ يَكْفِينِيهِمْ؟" [٤] قَالَ طَلْحَةُ: أَنَا. فَكَانُوا عِنْدَهُ، [٥] فَبَعَثَ النَّبِيُّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- بَعْثًا، فَخَرَجَ فِيهِ أَحَدُهُمْ، فَاسْتُشْهِدَ، [٦] ثُمَّ بَعَثَ بَعْثًا فَخَرَجَ فِيهِ الْآخَرُ، فَاسْتُشْهِدَ، [٧] ثُمَّ مَاتَ الثَّالِثُ عَلَى فِرَاشِهِ،

ترجمه: [١] او حضرت عبد الله ابن شداد وایي [٢] دبني عذره د قبیلي خلق چې د هغوئ تعداد دري وو د رسول الله ﷺ په خدمت کې حاضر شوه او اسلام یي قبول کی [او هغه خلق د حصول دین د خاطره، د الله په لار کې د ریاضت او مجاهدي په نیت سره دحضور ﷺ سره پاتې شو د هغوئ مالي حالت ډیر کمزوري وو او هغوئ خپل ضروریات د ژوند کفالت باندې خپله قادر نه ووا]، [٣] نو رسول الله ﷺ وفرمایل څوك نشته چې د دې خلقو کفالت و کړي، [یعنی حضور ﷺ صحابه وو نه پوښتنه وکړه چې په تاسو کې څوك شته داسي، چې د دې خلقو د ضروریات ژوند کفالت او د هغوئ د خیر ګیري او دلداري ذمه داري برداشت کې چې ماته د دوئ د خیر ګیر جوړیدو ضرورت پاتې نشي او

(١) اخرجه احمد في المسند: ١٦٣/١

زه د دوئ د طرف نه بي فکره شم] .[۴] حضرت طلحه ﷺ عرض وکړو یارسول الله زه د دوئ ذمه داري قبلوم .[۵] نو هغه دري سره حضرت طلحه ﷺ سره او سیدل څه ورځي وروسته چې رسول الله ﷺ یوطرف ته یو لښکر ولیږی نو هغه لښکر سره هغه دري سره یو سړی هم لاړو او په میدان جنګ کې د دښمنانو سره جنګیدو سره شهید شو .[۶] د دې نه پس بي یوبل لښکر ولیږی د هغه سره دویم سړی لاړ ، هغه هم شهید شو .[۷] بیا دریم سړي خپله بستره باندې په حق ورسیدی .[او دې سړي اګر که په میدان جنګ کې د شهید کیدو موقع پیدا نه کړه ، لیکن مرابط ضرور وو میدان جنګ کې د دښمنانو سره د جهاد کولو نیت یې هم لرې] .

[۱] قَالَ: قَالَ طَلْحَةُ: فَرَأَيْتُ هَؤُلَاءِ الثَّلَاثَةَ فِي الْجَنَّةِ، [۲] وَرَأَيْتُ الْمَيِّتَ عَلَى فِرَاشِهِ أَمَامَهُمْ [۳] وَالَّذِي اسْتُشْهِدَ آخِرًا يَلِيهِ، وَأَوَّلَهُمْ يَلِيهِ، فَدَخَلَنِي مِنْ ذَلِكَ، [۴] فَذَكَرْتُ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - ذَلِكَ، [۵] فَقَالَ: "وَمَا أَنْكَرْتَ مِنْ ذَلِكَ؟ ! [۶] لَيْسَ أَحَدٌ أَفْضَلَ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ مُؤْمِنٍ يُعَمَّرُ فِي الْإِسْلَامِ: [۷] لِتَسْبِيحِهِ وَتَكْبِيرِهِ وَتَهْلِيلِهِ»".

ترجمه: [۱] راوي وايي حضرت طلحه ﷺ بیانوي چې هغه دریو سړو کې د دوو شهادت او د یوقدرتي مرګ نه پس یوه ورځ ماخوب ولیدی ، چې دري سره په جنت کې دي .[۲] او ما ولیدل چې کوم سړی په خپله بستره په حق رسیدلی وو ، هغه د ټولو نه مخکې وو [۳] او کوم سړی چې دویم لښکر سره شهید شوی وو ، هغه د هغه نه پس دی ، او هغه ته بالکل نزدې دی ، او هغه دریو سړو کې چې د ټولو نه مخکنی سړی لښکر کې شهید شوی وو ، هغه د ټولو نه په آخر کې دی نو دا دري سره دغه شان یوبل نه مخکې وروسته لیدو سره خما په زړه کې اندیښنه پیدا شوه [چې د قاعدي مطابق خو د ټولو نه مخکې او نمایان هغه سړی کیدل پکار وو ، کوم چې مخکې د الله په لار کې شهید شوی وو ، یاداچې دواړه شهیدان یوځای برابر برابر وي ځکه چې د دواړو د شهید حیثیت سره دیوشان د مرتبي مستحق وو او کوم سړی چې په خپله بستره وفات شوی وو ، هغه د ټولو نه په آخرکي کیدل پکار وو . لیکن ما هغه دري سره چې کوم ترتیب سره ولیدل هغه زما د پاره غټ تعجب او شك شبه کې مبتلا کونکی وو] .[۴] نو ما حضور ﷺ ته د خپل خوب ذکر وکی .[۵] حضور ﷺ هغه خوب او په هغه خما رد عمل اوریدو سره وفرمایل چې ستا د پاره په دي کې د شك او شبهي او د انکار باعث کوم شی دی؟[۶] تاچې خپل خوب کې دادري سره کوم ترتیب سره لیدلی دی ، هغه بالکل موزون دی ، ځکه چې د الله په نز د هغه مسلمان نه زیات افضل هیڅوك نشته ، چې هغه د اسلام په حالت کې زیات عمر پیدا کی .[۷] او د هغه په وجه ورته د الله د تسبیح وتکبیر او تهلیل او نور ټول مالي او بدني عبادتونو زیاته موقع حاصله شوه .

تسهیلات:

قوله: لَيْسَ أَحَدٌ أَفْضَلَ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ مُؤْمِنٍ يُعَمَّرُ فِي الْإِسْلَامِ:

د اوږد عمر د خاوند فضیلت: کوم سړي چه اول شهید شو هغه د ټولو نه په آخری درجه کښې وو او کوم چه څه موده پس شهید شو هغه د دوه نه په مخکښې درجه کښې وو. لیکن کوم چه په آخره کښې په خپل مرګ باندې مړه شوی وو هغه د ټولو نه مخکښې په اعلی درجه کښې وو. صحابی په دې باندې حیران شو چه نبه ده څه د اول شهیدنه دویم شهید مخکښې اووتلو نو هغه زیات اعمال اوکتل لیکن دا په آخره کښې مړه کیدونکی خو شهیدان نه وو دا د ټولو نه څنګه مخکښې شو؟ په دې باندې حضورپاك اوفرمائیل چه د روستو پاتې کیدونکی سړی هغه نیك اعمال چرته لاړل؟ ګورې نه چه هغه په دغه موده کښې څومره نیك اعمال اوکړل.

په دې حدیث باندې هم هغه اعتراض او سوال دې چه د دې باب په حدیث نمبر (۵۲۸۶) باندې شوې وو هلته په تفصیل سره جوابونه لیکلې شوی دی.

[۵۲۹۳] د قیامت په ورځ د دنیاوی ژوند قدر معلومیدل

۵۲۹۳-(۱)[۱] ⑴ وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي عَمِيرَةَ-وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: ⑵«إِنَّ عَبْدًا لَوْ خَرَّ عَلَى وَجْهِهِ مِنْ يَوْمَ وُلِدَ إِلَى أَنْ يَمُوتَ هَرَمًا فِي طَاعَةِ اللّٰهِ ⑶ لَحَقَّرَهُ فِي ذٰلِكَ الْيَوْمِ، ⑷ وَلَوَدَّ أَنَّهُ رُدَّ إِلَى الدُّنْيَا ⑸ كَيْمَا يَزْدَادَ مِنَ الْأَجْرِ وَالثَّوَابِ». رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ⑴ او حضرت محمد ابن ابي عمیره، چې د رسول الله ﷺ د صحابه وو نه دی فرمایي ⑵ که یوبنده د خپل پیدائش د وخت نه بوډاتوب کې مرګه پورې د خپل پوره او طویل ژوند په دوران کې صرف د الله طاعت او عبادت کې مصروف وي، ⑶ نو هغه به هم د قیامت په ورځ د خپل عمل ثواب لیدو سره خپل هغه طاعت او عبادت ډیر کم وګني، ⑷ او دا ارزو به کوي چې کاشکې دي دنیا ته واپس ولیږل شي ⑸ د پاره د دې چې د هغه اجر او ثواب زیات شی دا دواړه روایتونه امام احمد نقل کړی دی.

حل اللغات:- ① خَرَّ: راپریوتو، ② هَرَمًا: بوډاتوب، ③ لَحَقَّرَهُ: سپک او معمولی به اوګنړی.

تسهیلات:

قوله: ابو عمیرة" په عین زبر او میم باندې زیر دې. د ده د ځوئی نوم محمد دې چونکه د محمد صحابی کیدل زیات مشهور نه وو په دې وجه د هغه نوم سره دا تعارف لګولې شی چه هغه د حضورپاك صحابی وو. په دې حدیث کښې د اعمالو ډیرلوئی ترغیب دې چه یو

[۱]) اخرجه احمد فی المسند: ۴/۱۸۵

سړی دَ تصور نه هم زیات عبادت اوکړو لیکن دَ قیامت په ورځ به هغه هم آرزو کوی چه که ما لږ شان زیات عبادت کړې وې نو څومره به ښه وه

[۴] بَابُ التَّوَکُّلِ وَالصَّبْرِ

دَ توکل او دَ صبر بیان

خلاصة الباب

فيه ثمانية عشر أحاديث مشتملة على ست مسائل:

① فضيلة التوكل على الله : ۱، ۳، ۵، ۷، ۱۰، ۱۴، ۱۶۔
② فضيلة الصبر: ۳، ۷، ۱۸۔
③ المنع عما ينافي التوكل: ۴۔
④ كون الرضاء بالقضاء من التوكل: ۶، ۷، ۹، ۱۱، ۱۲، ۱۷۔
⑤ عدم تعلق الرزق بالحرفة : ۱۳۔
⑥ ثمرات طاعة الله تعالى: ۱۵۔

دتوکل او صبر په یوباب کښې دجمع کولووجه: توکل او صبر چونکه لازم او ملزوم دی په دې وجه دواړه هم په یو باب کښې جمع کړې شوی دی. خودَ توکل اکثر استعمال دَ ارزاقو په معاملاتوکښې کیږی اودَ صبر اکثر استعمال مصائبو او شدائدوکښې کیږی.

د توکل لغوی معنی: حواله کولو اواعتماد او یقین ته وائی

دتوکل اصطلاحی تعریف: دَ قضاء الهی په مخکښې دَمنلو دَپاره سرښکته کولو نوم توکل دې.

داسبابو اختیارول اوتوکل: په شریعت کښې توکل دَ اسبابو دَ تعطل نوم نه دې بلکه تول اسباب استعمالول د توکل لاندې دی. څومره چه دَ بنده نه کیدې شی هغه دې کوی وراندې دې په الله تعالی باندې یقین ساتی.

لکه څنګه چه په یوحدیث کښې راغلی دی چه حضورپاك یوصحابی ته اوفرمائیل «قیدو توکل» یعنی اوښ اوتړه اوبیا په تړلو توکل مه کوه بلکه په الله تعالی توکل کوه. بهرحال دَ اسبابو استعمال جائز دې په اسبابو باندې یقین او اتکال جائز نه دې. دَ اسبابو دَ استعمال نه پس دَ الله تعالی دَ طرف نه دغه اسبابو ته مستقل حکم کیږی چه هغه اثر اوکړی یا اونه کړی. دې نه معلومه شوه چه اسباب څه مستقل علت نه دې بلکه داهم ذرائع دی دَدوی په لاس کښې هم هیڅ نشته دې. ټول هرڅه دَ الله تعالی په قبضه کښې دی.

دتوکل عمومیت: توکل یوعام لفظ دې په ټولو امورو او ټولو معاملاتوکښې توکل جاری وی لیکن دَدې زیات استعمال رزق او کسب او دَ اکتساب په باب کښې کیږی او هم په

دي کښي زيات مشهور دي

قوله : وَاصْبِرْ-

دصبر لغوی معنی : په لغت کښي صبر منع کيدو او منع کولو ته وائی.

دصبر شرعی تعریف : "الصبرهوحبس النفس على ما يقتضيه العقل والشرع" يعنی په هغه څيز باندي نفس ايسارول چي دعقل او شريعت د تقاضا مطابق وی دي ته صبر وائی. (قاله ملا علی قاری في مرقاة)

د صبر دري قسمونه :

① الصبرعلى العبادة: يعنی دعبادت په مشقت باندي صبر كول

② الصبرعن المعصية: يعنی د ګناه څخه ځان ساتلو کښي د نفس په مقابله باندي صبر كول

③ الصبرعلى المصيبة: يعنی په مصيبت باندي صبر كول.

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۲۹۵] دكامل توكل كونكو فضيلت

۵۲۹۵-()[۱] [۱] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [۲] "«يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي سَبْعُونَ أَلْفًا بِغَيْرِ حِسَابٍ، [۳] هُمُ الَّذِينَ لَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَتَطَيَّرُونَ، [۴] وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : [۱] حضرت ابن عباس وايي چي رسول الله ﷺ وفرمايل، [۲] څما په امت کښي اويا زره خلق به بي حسابه په جنت کښي داخل شي، [۳] دا هغه کسان دي چي طلب ددم نه کوي، بدفالي نه کوي [۴] اوخپلو ټولو کارونو کښي چي د هغه تعلق ديو شی دکولو سره وي يا د هغه پريخودلو سره وي صرف په خپل پروردګار باندي بهروسه کوي (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① لَا يَسْتَرْقُونَ: رقيه منترته وائی. يعنی طلب نه کوی د دم درها. ② لَا يَتَطَيَّرُونَ: نه بد فالی کوی.

تسهيلات:

قوله: لَا يَسْتَرْقُونَ وَلَا يَتَطَيَّرُونَ:

د رقيه لغوی معنی : سين او تاء دَ طلب دَپاره ده رقيه طلب كول مراد دی. رقيه منترجنترته وائی.

---

[۱] اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب: {ومن يتوكل على الله فهو حسبه} [الطلاق: ٣] (رقم-٦٤٧٢) ومسلم فی كتاب الإيمان/باب الدليل على دخول طوائف من المسلمين الجنة بغير حساب ولا عذاب (رقم-٣٧٢ - (٢١٨) والترمذی فی كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-٢٤٣٧) وابن ماجه فی كتاب الزهد/باب صفة أمة محمد صلى الله عليه وسلم (رقم-٤٢٨٦) واحمد فی المسند: ٤٤١/٤

دمنتر دوه قسمونه: ① دَ جاهليت منترجنتر دي دا اسلام مطلقا منع كړي دي كه چرې دلته دَ رقيه نه دَ جاهليت منتر جنتر مراد دي نودا دَ ادنى مؤمن دَپاره هم جائز نه دي
② دم درود اوعلاج معالجه ده

د حديث په مصداق كښې دوه اقوال: ① شيخ عبدالحق رحمه الله اشعة اللمعات كښې ليكلي دى چه زيانه واضحه خبره داده چه په دې حديث كښې دَ منتر چه كوم ذكركړې شوې دې دې نه دَ جاهليت دَ زمانې ټوټكې او مشركانه منترمراد دې دَ كوم چه قرآن اوحديث سره هيڅ تعلق نشته دې (اشعة اللمعات) دَ "لايتطيرون" جمله په دې باندې واضح دلالت كوى ځكه چه دَتطيير عمل دَ جاهلت دَ بدفالئى شامل دې كوم چه په اسلام كښې منع دې لهذا منتر جنترهم منع دې اودَ تطيير عمل هم منع دې.
② په دې حديث كښې دَ دم درود اوعلاج معالجه دَترك كولو ذكر دې دې نه دَ خواصو توكل مراد وى اودا خواص الناس او عارفينو اودَ مخلصينو دَتوكل درجه وى. دَ كوم شان چه دا وى چه كله هغوى ته اووئيلې شى چه "أَدْعِيَ لك الطبيب؟" آيا دَ علاج دَپاره طبيب راؤغوښتې شى؟ نوپه جواب كښې وائى "والطبيب أمرضني" يعنى هم طبيب خو زه په بيمارئى كښې اخته كړې يم نوعلاج ولې اوكرم. يعنى دا ټوله معامله دَ الله تعالى په لاس كښې ده

[٥٢٩٦] ددې امت دمتوكلينو اويا زره كسان به بغير حساب كتاب جنت ته داخليږى

٥٢٩٦-()[٢] ① وَعَنْهُ قَالَ: ② «خَرَجَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَوْمًا فَقَالَ: "③ عُرِضَتْ عَلَيَّ الْأُمَمُ ④ فَجَعَلَ يَمُرُّ النَّبِيُّ وَمَعَهُ الرَّجُلُ، ⑤ وَالنَّبِيُّ وَمَعَهُ الرَّجُلَانِ، ⑥ وَالنَّبِيُّ وَمَعَهُ الرَّهْطُ، ⑦ وَالنَّبِيُّ وَلَيْسَ مَعَهُ أَحَدٌ، ⑧ فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ، ⑨ فَرَجَوْتُ أَنْ يَكُونَ أُمَّتِي. ⑩ فَقِيلَ: هَذَا مُوسَى فِي قَوْمِهِ ⑪ ثُمَّ قِيلَ لِي: انْظُرْ ⑫ فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ،

ترجمه:- ① او حضرت ابن عباس وايي ② يوه ورځ رسول الله ﷺ بهر ته تشريف راوړى او وي فرمايل (حالت كشف يا په خوب كې چې ځما په مخكې امتونه د هغوئ دانبياؤ وو سره پيش شو، ③ هرنبي د هغه امت سره ماته وخودل شو ④ هركله چې هغه نبيانو ځپلو امتونو سره تيريدل شروع كړل نو ما وليدل چې يونبي سره صرف يو سړى وو (يعنى په دنيا كې د هغه پيروي كونكي يو سړي نه علاوه بل څوك نه وو) ⑤ او يونبي داسې وو چې هغه سره دوه كسه وه ⑥ يوبل نبي تير شو نو هغه سره پوره يوجماعت وو، ⑦ او بيا يونبي

[١]) اخرجه البخارى فى كتاب الرقاق/باب: يدخل الجنة سبعون الفا بغير حساب (رقم-٦٥٤١) ومسلم فى كتاب الإيمان/باب الدليل على دخول طوائف من المسلمين الجنة بغير حساب ولا عذاب (رقم-٣٧٤ - (٢٢٠) والترمذى فى كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٤٤٦)

داسي هم تیر شو چې د هغه سره یو سړی هم نه وو ایعنی به دنیا کې د هغه پیروي یوه سړی هم نه وه کړي] ⑧ د دې نه پس ماخپل مخې ته یو ډیر لوی جماعت ولیدی. چې د اسمان دکنارو پورې خورشوی وو ⑨ دومره لوی جماعت لیدو سره ما امید وکی چې دابه څما امت وي، ⑩ لیکن ماته وخودل شو، چې دا حضرت موسی علیه السلام او د هغه د امت خلق دي، [چې هغه باندې ایمان راوړی وو] ⑪ بیا ماته اوویل شو چې لږ پورته نظر کولو سره وګوره ⑫ ماچې پورته وکتل نو خپل مخې ته مې ولیدل چې یو بې انتهاء لوی جماعت دی، چې د آسمان دکنارو پورې خورشوی وو [دومره لوی جماعت لیدو سره مطمئن شوم او د الله شکر مې اداء کی]

حل اللغات:- ① الرَّهْطُ: ډله، جماعت، ② سَوَادًا: لوئې جماعت، ③ سَدَّ: بند کړې وو. ګیر کړې وو. ④ الْأُفُقَ: کنارې او اطراف (د آسمان)

> ① فَقِيلَ لِي: ② انْظُرْ هٰكَذَا وَهٰكَذَا، ③ فَرَأَيْتُ سَوَادًا كَثِيرًا سَدَّ الْأُفُقَ. ④ فَقَالَ: ⑤ هٰؤُلَاءِ أُمَّتُكَ، ⑥ وَمَعَ هٰؤُلَاءِ سَبْعُونَ أَلْفًا قُدَّامَهُمْ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ بِغَيْرِ حِسَابٍ، ⑦ هُمُ الَّذِينَ لَا يَتَطَيَّرُونَ، ⑧ وَلَا يَسْتَرْقُونَ، ⑨ وَلَا يَكْتَوُونَ، ⑩ وَعَلَى رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ " ⑪ فَقَامَ عُكَّاشَةُ بْنُ مِحْصَنٍ فَقَالَ: ⑫ ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ. ⑬ قَالَ: (اللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ مِنْهُمْ). ⑭ ثُمَّ قَامَ رَجُلٌ آخَرُ فَقَالَ: ادْعُ اللّٰهَ أَنْ يَجْعَلَنِي مِنْهُمْ. ⑮ فَقَالَ: "سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ")). مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه ① بیا ماته اوویل شوه، [چې یوازې دایو جماعت مه ګڼه د دې نه به نورزیات خلق هم ووینې] ، ② لږ اخوا [یعنی ښي او چپ طرف ته هم] وګوره، ماښي او چپ طرف ته وکتل ③ نو دواړه طرف ته بې انتهاء هجوم وو، چې دآسمان کنارو پورې د انسانانو یو ډیر لوئې تعداد په نظر راغې، ④ او ماته اوویل شوه ⑤ چې داټول ستا د امت خلق دي، ⑥ او د دوئ نه علاوه (یعنی منجمله د دې خلقو نه یا دوئ نه علاوه مزید دوئ نه مخکې] اویازره خلق داسې دي چې بې حسابه به په جنت کې داخلیږي، ⑦ او داهغه دی چې نه بدفالي کوي، ⑧ نه دم، ⑨ او نه خپل جسم ته داغ ورکوي ⑩ او په خپل پروردګار باندې توکل کوي، ⑪ په دې اوریدو سره یوصحابي عکاشه ابن محصن رضي الله عنه عرض وکړو یارسول الله! ⑫ الله تعالی نه زماد پاره دعا وغواړئ چې ماهم په دې خلقو کې شامل کی، کوم چې په الله توکل کوي، او بې حسابه په جنت کې داخلیږي ⑬ حضور صلی الله علیه وسلم ورته دعا وکړه یاالهي! عکاشه رضي الله عنه دې خلقو کې شامل کی.

⑭ بیا یوبل سړی اوریدلو هغه هم عرض وکړو یارسول الله! زما د پاره هم د الله تعالی نه دعا وغواړئ چې دې خلقو کې مې شامل کی، ⑮ حضور صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل د دې دعاپه سلسله کې عکاشه ستا نه سبقت یووړی. (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ⑤ لَا يَتَطَيَّرُونَ: بدفالي نه کوی، ⑥ لَا يَسْتَرْقُونَ: دم درها نه کوی، ⑦ لَا يَكْتَوُونَ: دَاکتوا نه دې داغ ورکولو په معنی کښې دې.

تسهیلات: قوله: مَعَ هٰؤُلَاءِ سَبْعُونَ أَلْفًا"

د مذکوره جملې په مصداق کښې دوه اقوال: ① دا دې کثیر جماعت نه علاوه اویا زره داسې دی چه بغیرد حساب کتاب نه به جنت ته ځی.

② هم دا دوی نه به اویا زره داسې وی چه د حساب کتاب نه بغیربه جنت کښې داخلیږی. په یو روایت کښې دی چه په دوی کښې هریو سره به اویا زره کسان جنت ته ځی دا تعداد دیر زیات دې.

قوله: سَبَقَكَ بِهَا عُكَّاشَةُ:

د عکاشه پیژندګلو: دا عکاشه بن محصن اسدی مشهورصحابی دې. د دوی تعلق د غنم سره وو چې د بنو اسد یو شاخ وو. په مکه مکرمه کښې د قریشو د حلیف په طور اوسیدو. د دوی کنیت ابومحصن وو. په خلقو کښې په بهادری. اوکمال عقل او پرهیزګاری سره مشهور وو. د نبی ﷺ د وفات په وخت د دوی عمر څلورڅلویښت کاله وو. په د طلیحه مدعی نبوت سره په یوه جهادی معرکه کښې شهید شو.

د عکاشه د سبقت مطلب: یعنی د الله تعالی په نیز دادرجه صرف یو سړی د پاره وه اوهغه عکاشه مخکښې یوړه. اوس ئی ته غواړې خو مګر هغه عکاشه نه مخکښې اوړلې ده. حضرت عکاشه رضی الله عنه جنګ یمامه په موقع باندې شهید شوې وو.

[۵۲۹۷] د مؤمن خاص شان

۵۲۹۷-()[۲] [۱] وَعَنْ صُهَيْبٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۳] «عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ! إِنَّ أَمْرَهُ كُلَّهُ لَهُ خَيْرٌ، [۴] وَلَيْسَ ذٰلِكَ لِأَحَدٍ إِلَّا لِلْمُؤْمِنِ، [۵] إِنْ أَصَابَتْهُ سَرَّاءُ [۶] شَكَرَ [۷] فَكَانَ خَيْرًا لَهُ، [۸] وَإِنْ أَصَابَتْهُ ضَرَّاءُ صَبَرَ [۹] فَكَانَ خَيْرًا لَهُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت صهیب رضی الله عنه وایی، [۲] چی رسول الله ﷺ وفرمایل، [۳] د مؤمن هم عجیبه شان دی چې د هغه هرحالت هغه د پاره د خیر ښیګڼی باعث دی [۴] او داخبره صرف د مؤمن د پاره مخصوص ده بل څوك ورسره په دې وصف کې شریك نه دی، [۵] که هغه ته [رزق او فراخي او وسعت. راحت ارام صحت وتندرستي، نعمت ولذت او د طاعت او عبادت د توفیق په صورت کې] خوشحالي حاصلیږي [۶] نو هغه د الله شکر اداء کوي، [۷] او دا شکر د هغه د پاره د خیر او ښیګړي باعث کېږي. [۸] او که هغه ته [د فقر او افلاس، امراض وتکلیف رنج والم او آفات او حادثات په صورت کې] مصیبت رسیږي، نو په هغه صبر کوي [۹] بس دا صبر هم د هغه د پاره د خیر او فلاح باعث کېږي. (مسلم)

حل اللغات: - ① سَرَّاءُ: خوشحالی. ② ضَرَّاءُ: تکلیف

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب المؤمن أمره کله خیر (رقم-۶۴ - (۲۹۹۹) واحمد فی المسند: ۱۷۷/۱

تسهیلات:

قوله وَعَنْ صُهَيْبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ:

د صهیب پیژندګلو: حضرت صهیب بن سنان دَموصل او سیدونکي وو. موصل په عراق کښې مشهور ښار دي. رومیانو داکه واچوله او هغه ئې یوړو او بیائې غلام جوړ کړو حضرت صهیب رضي الله عنه هلته ځوان شو بیا بنو کلب هغه واخستلو او د هغه ځائې نه ئې راوړو په مکه کښې ئې په عبدالله بن جدعان باندې خرڅ کړو. هغه دَ اخستلو نه پس دې آزاد کړو. په مکه مکرمه کښې دې مسلمان شو دَ ضعفاء مسلمین نه وو. په ۸ هجری مدینه کښې وفات شو او په جنت البقیع کښې دفن کړې شو. یاد لرئی چه صهیب رضي الله عنه رومی نه دي اصلاً دې عراقی موصلی دې هغوی ته رومی ددې وجې نه وائی چه دې دَهغوی په خاندان کښې غټ شوې دې. خلق ورته دَ غلطئی نه رومی وائی

قوله: عَجَبًا لِأَمْرِ الْمُؤْمِنِ

د مؤمن دوه حالتونه: ① که چرې په مؤمن مصیبت راشي نو په صبر کولو باندې ورته ثواب ملاویږی

② که چرې په مؤمن راحت راشي نو په شکر کولو ورته ثواب ملاویږی.

ددې وجې په حدیث کښې راغلو چه دَ مؤمن عجیبه شان دې دَهغه هرحالت دَ آخرت دَ پاره فائده مند دې

[۵۲۹۸] طاقتور مسلمان دَ ضعیف مسلمان نه بهتر دې

> ۵۲۹۸-()[۳] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "③ «الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ خَيْرٌ ④ وَأَحَبُّ إِلَى اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ، ⑤ وَفِي كُلٍّ خَيْرٌ، ⑥ احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ ⑦ وَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ، ⑧ وَلَا تَعْجِزْ، ⑨ وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ فَلَا تَقُلْ: ⑩ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا، ⑪ وَلَكِنْ قُلْ: ⑫ قَدَرُ اللَّهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ، ⑬ فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهریره رضي الله عنه وايي، ② چې رسول الله ﷺ وفرمایل ③ قوي مسلمان د ضعیف مسلمان نه ښه دی ④ او الله د کمزوري مسلمان نه زیات خوښ دي ⑤ او په هریو ښه والي شته. ⑥ کوم شی چې تاسو ته د دین او اخرت په اعتبار سره نفع رسونکی وي، د هغه حرص کوه ⑦ الله ﷻ نه د نیك عمل کولو مدد او توفیق طلب کوي. ⑧ او دي طلب مدد او توفیق نه مه عاجزه کیږي، خکه چې الله ﷻ په دي پوره قادر دی چې تاسو ته د خپل طاعت او عبادت توفیق عطا کړي، په شرط د دې چې تاسو د هغه په استعانت

---

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب القدر/باب فی الأمر بالقوة وترک العجز والاستعانة بالله وتفویض المقادیر لله (رقم- ۳۴ - ۲۶۶۴) واحمد فی المسند: ۲/ ۳۷۰.

... د ضرور سره قائم او وسيږي، او بعضي حضراتو د دې مطلب دا بيان کړی دی، چې تاسو هغه شي باندې عمل کولو نه مه عاجزه کېږئ، د کوم چې تاسو ته حکم درکول شوی دی او هغه مه ترك کوی[۹] او که تاسو ته د دين دنيا څه مصيبت او افت ورسيږي، نو داسې مه وايئ،[۱۰] که ما داسې کړي وي نو داسې به وه،[۱۱] بلکه زبان قال يازبان حال سره دا وايئ، [۱۲]چې الله ﷻ مقدر کړی دی نو څه چې پيښ شوی دی، د قضاء وقدرِ الهي مطابق پيښ شوی دی، او الله چې څه غواړي هغه کوي، او داځکه چې لفظ دلَوْ (يعني که چيرته داسې واي) په يوشي باندې د حسرت او پريشاني د اظهار، اود تقدير الهي سره د معارضې او مقابلې او خپل قوت او تدبير باندې اعتماد کولو د پاره استعمالیږي،[۱۳]نو دشيطان دعمل دخل دروازه خلاصه کړي،]او په زړه کې داغلطه وسوسه او خيال اچوي چې د هرکار نتيجه زمونږ په تدبير سره راوځي، د تقدير الهي هيڅ اهميت نشته]. (مسلم)

حل اللغات:- ① احْرِصْ: لالچ کوه، ② لَاتَعْجِزْ: عاجزه کيږه مه.

تسهيلات: قوله: "اَلْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ"

د قوی په مصداق کښې درې اقوال: يعنی دَ قوت والا قوی مسلمان دَ ضعيف مسلمان نه بهتردې.

① دلته دَ مؤمن دَ ايمان هغه غيرمتزلزل حوصله او عزم مراد دې دَ کوم دَ وجې نه چه دا مؤمن دَ جهادميدان ته وردانګی او ښه جنګ کوی اودَ هغه جذبه دَ نيکو کولوحکم او دَ بدو نه په منع کولو کښې ډير مضبوط وی او په دغه لارکښې په هرمصيبت باندې ښه صبرکوی

② قوی مسلمان هغه دې چه خلقو سره تعلق ساتی دَهغوی ښه رهنمائی کوی او په دغه لارکښې دَ خلقو تکليف برداشت کوی دادَ کناره کش مسلمان نه بهتردې.

③ قوی مسلمان هغه وی چه دَ اسبابو په ځائی مسبب الاسباب ته ګوری. چه دَ هغه ايمان دومره مضبوط وی چه هلته دَ اسبابو امکان نه وی. دَ ده په مقابله کښې ضعيف مسلمان په اسبابو باندې نظر ساتی دَ هغه يقين کمزورې وی. (کذا في مرقاة بتغير)

قوله: فَإِنَّ لَوْتَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ:

د مذکوره جملې مفهوم: يعنی دَ لوکلمه دَ شيطان دَ عمل دروازه کولاووی. مطلب دادې چه لفظ "لو"په قضاء الهی باندې مه داخلوئی چه که چرې داسې شوې وې نو داسې به کيدل اوکه چرې داسې نه کيدل نو داسې به شوې وې وغيره وغيره ځکه چه په دې سره دَ شيطان عمل شروع کيږی يعنی دَ تقدير الهی مقابله شروع کيږی اودَ شيطان دَ وسوسو دروازه کولاويږی.

اَلْفَصْلُ الثَّانِيْ

[٥٢٩٩] کامل توکل سره رزق فراخه کیږي

٥٢٩٩-(١)[٥] [١] عَنْ عُمَرَبْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: [٢] سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: "[٣] «لَوْ أَنَّكُمْ تَتَوَكَّلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ [٤] لَرَزَقَكُمْ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ، [٥] تَغْدُوْ خِمَاصًا وَتَرُوْحُ بِطَانًا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [١] حضرت عمر بن خطاب ﷺ وايي، ما د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل [٢] که تاسو الله ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړي څرنګه چې د توکل حق دی [٤] نو يقيناً هغه به تاسو ته داسې روزي درکوي څرنګه چې مرغانو ته روزي ورکوي [٥] چې هغه مرغان سهار اوږې نسونه (خيټې) وځي او مانښام ته په ډك نس (خيټه) خپلو ځالوته واپس راځي

حل اللغات:- ① تَغْدُو: سحر وتل او رزق لټولو ته تغدو وئيلې شوې دې ② خِمَاصًا: دَ خميص جمع ده خالي خيټې ته وائی. ③ تَرُوحُ: د مانښام په وخت کښې راتلل ④ بِطَانًا: دَ بطين جمع ده غټې او ډکې خيټې ته وائی.

تسهيلات:

قوله: تَغْدُوخِمَاصًاوَتَرُوحُ بِطَانًا:

د رزق په تالاش کښې کوشش کول: دې نه معلومه شوه چه دَ رزق په لټون کښې سحر وتل يا مانښام وتل منع نه دی اونه دَ توکل خلاف دی. دا سعی ده فيصله دَ الله تعالی په لاس کښې ده.

دَدې حديث نه معلومه شوه چه اصل رازق الله تعالی دې. بنده که څه کارکسب کوی نو هغه دَ توکل منافی نه دې. دَ قرآن پاك آيت ﴿وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا﴾ [سورت هود: ٦] دَ انسان دَ سعی اوکسب لټولو خلاف نه دې ځکه چه دَ رزق وعده په دې آيت کښې اجمالی ده. دَ دې تفصيل دادې چه سړې دې اوځی محنت دې کوی، حرکت دې کوی، تجارت دې کوی، دا آيت انسان معطل کولو سره نه کينوی بلکه په تفصيلی مواقعو کښې دَ رزق لټولو دَپاره انسان راپاسوی.

د عزرائيل په يوکس دوه ځله افسوس کول: ملاعلی قاری ﷫ دويمه قصه ليکلې ده چه الله تعالی دَ عزرائيل نه تپوس اوکړو چه دَ ساخستلو په وخت ستا په چا باندې ترس هم راغلې دې؟ نو عزرائيل اووئيل چه په يو ماشوم باندې مې ترس راغلې وو. يوځل چه کله په درياب کښې کشتئ ماته شوه نويو پيغلې روونکې ماشوم مور سره پاتې شو. ستا

---

(١) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب فی التوکل علی الله (رقم-٢٣٤٤)وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب التوکل واليقين (رقم-٤١٦٤)

حکم اوشو چه دَ ده دَ مور نه سا واخله ما دَهغې نه سا واخستله اوهغه ماشوم په ژړا باندې پاتې شو په هغه باندې زما ډير لوئی ترس راغلې وو.
الله تعالی اوفرمائيل چه وړاندې واؤره ما هغه يو جزيرې ته اورسولو او يوه ازمرئی مې دَ هغه په پيئو ورکولو باندې مقرر کړو. کله چه داماشوم لږ شان غټ شو نودَ پيريانو په ذريعه مې هغه ته دَ انسانانو خبرې اوخودلې. کله چه داماشوم ښه لوئی شو نودې آبادئی ته راغلو تردې چه هغه ته حکومت ملاؤ شو. کله چه مضبوط شو نوهغه دَ خدائی دعوىٰ اوکړه دَ هغه نوم شداد وو. "فتبارك الله من هوعالم بأسرار العباد".

د کانړي په مينځ کښې چينچی ته رزق ورکول: حضرت مولانا پير ذوالفقار صاحب دامت فيوضاتهم يوه واقعه بيان کړې ده چې زما يو دوست د سيل دپاره سوات ته تلې وو.هلته هغه ته يوډيرښکلې گول کانړې په نظر راغلو،په ليدو سره ئې خوښ شو ماشومانو ورته اووئيل چې دا کانړی به خان سره کور ته يوسو، دوی دا خبره خوښه کړه چې زه د ډيکوريشن او ښاآئست ذريعه هم ده او بله دا چې د سوات د چکر يادگار به هم وی وائی چې دوه کال ئې دغه کانړی په کور کښې د زيب او زينت دپاره کيښودو وو دوه کاله پس دوئ هغه کانړې راواخستلو او وئ ئيل چې څومره ښکلې کانړې دې په دې کښې ناڅاپه هغه کانړې ئې د لاس څخه راپريوتلو اومات شو دوی ډير خفه شو خو چې وې کتل نو د کانړي په مينځ کښې يوسورې وو او په هغې کښې يوژوندې چينړې وو.په دې ليدلو سره هغه ډير حيران شو او وئې وئيل رشتا ده ربه چې ته روزی رسان ئې.

د کارغه د بچو رزق: ملاعلی قاري رحمه الله دَدې حديث لاندې ليکلی دی چه کارغه خپل بچی سپين ليدوسره پريږدی نو الله تعالی مچان دَ دغه بچو طرف ته متوجه کوی. مچ دَهغوی په منبوکه باندې زيږوالې کښې خپل رزق لټولو له راځی نودا بچې هغه خوری. تردې چه لوئی شی بيا کارغه راشی دې سنبال کړی.

[۵۳۰۰] د رزق حاصلولو باره کښې هدايات

۵۳۰۰-(¹)[٦] [١] وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[٣] «أَيُّهَا النَّاسُ! لَيْسَ مِنْ شَيْءٍ يُقَرِّبُكُمْ إِلَى الْجَنَّةِ [۴] وَيُبَاعِدُكُمْ مِنَ النَّارِ [۵] إِلَّا قَدْ أَمَرْتُكُمْ بِهِ، [٦] وَلَيْسَ شَيْءٌ يُقَرِّبُكُمْ مِنَ النَّارِ [٨] وَيُبَاعِدُكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ [٩] إِلَّا قَدْ نَهَيْتُكُمْ عَنْهُ، وَإِنَّ الرُّوحَ الْأَمِينَ-

ترجمه: [١] او حضرت ابن مسعود وايي [٢] چی رسول الله ﷺ وفرمايل [٣] اې خلقو هيڅ شی داسې نشته، چې تاسو جنت ته نزدې [۴] او دوزخ نه موليرې کې [۵] مگر د هغه د اختيارولو حکم ماتاسو ته درکړی دی [٧] اوهيڅ شی داسې نشته،چې تاسودوزخ ته نزدې

(¹) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ١٠٤٧٦، والبغوی فی شرح السنه رقم الحديث ٤١١١

کړي، ⑧ او د جنت نه مو لري کړي، ⑨ مګر هغه نه ماتاسو منع کړي يي او روح الامين .

حل اللغات:- ① يُبَاعِدُكُمْ : چه لرې کړی تاسو .

① وَفِي رِوَايَةٍ: ② وَإِنَّ الرُّوحَ الْقُدُسَ - ③ نَفَثَ فِي رُوعِي ④ أَنَّ نَفْسًا لَنْ تَمُوتَ حَتَّى تَسْتَكْمِلَ رِزْقَهَا، ⑤ أَلَا فَاتَّقُوا اللَّهَ، ⑥ وَأَجْمِلُوا فِي الطَّلَبِ، ⑦ وَلَا يَحْمِلَنَّكُمْ اسْتِبْطَاءُ الرِّزْقِ أَنْ تَطْلُبُوهُ بِمَعَاصِي اللَّهِ، ⑧ فَإِنَّهُ لَا يُدْرَكُ مَا عِنْدَ اللَّهِ إِلَّا بِطَاعَتِهِ». رَوَاهُ فِي (شَرْحِ السُّنَّةِ) وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ) إِلَّا أَنَّهُ لَمْ يَذْكُرْ (وَإِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ).

ترجمه : ① او په يوه روايت کې دي، ② چې روح القدس [يعنی حضرت جبرائيل] ③ خما په زړه کې داخبره واچوله، [يعنی ماته يې وحي خفي راوړه] ④ چې بلا شبه، هيڅ سړی هم هغه وخته پورې نه مري، ترڅوپورې چې هغه دنيا کې خپل رزق پوره نه کړي، [يعنی کوم سړی چې هم دې دنيا ته راځي، هغه خپل رزق پوره کولو نه بغير د دې دنيا نه نه ځي، چې د هغه پيدائش سره د هغه مقدر کې ليکلې دي څرنګه چې حق تعالی دې طرف ته اشاره فرمايلې ده اللهُ الَّذِي خَلَقَكُمْ ثُمَّ رَزَقَكُمْ ثُمَّ يُمِيتُكُمْ، هرکله چې دا معامله ده، چې کوم رزق مقدر شوی دی هغه په هرحال کې ورته حاصليږي] ، ⑤ نو ګوری د الله د نافرماني نه ويره کوي ⑥ او د حصول معاش سعي او جد وجهد کې نيک روی، او اعتدال اختيار کړي [چې ستاسو رزق تاسو ته جائز او حلال وسائلوا وذرائعو او مشروع طور طريقو سره ورسيږي] ، ⑦ او چيرته داسې نه وي، چې رزق رسيدو کې تاخير تاسو دې خبرې ته اماده کې چې تاسو د ګناهونو کولو په ذريعه د رزق حاصلولو کوشش شروع کی، ⑧ حقيقت دادی چې کوم شی د الله سره دی هغه د طاعت او خوشنودی په ذريعه پيدا کيدي شي، دا روايت بغوي په شرح السنه کې او بيهقي په شعب الايمان کې نقل کړی دی، ليکن بيهقي د إِنَّ رُوحَ الْقُدُسِ، الفاظ نه دي نقل کړي.

حل اللغات:- ② نَفَثَ : په پټه طريقې سره پوکې وهلوته نفث وائی. دلته دَ وحی القاء کول اوخبره اچولو په معنی کنبې دې. ③ رُوعِي : زړه اونفس ته روع وائی. مراد دادې چه جبرائيل امين دَ پټې وحی په ذريعه سره داخبره رارسولې ده. ⑦ اسْتِبْطَاءُ : روستو کيدل،

تسهيلات:

قوله : لَيْسَ مِنْ شَيْءٍ يُقَرِّبُكُمْ إِلَى الْجَنَّةِ"

د جنت او جهنم اسبابو تفصيل بنودل : يعنی چه کوم اعمال افعال اواقوال جنت ته دَ نيزدې کولو دی اودَ دوزخ نه لرې کونکی دی ما تاسو ته دَهغې حکم درکړې دې اوکوم چه دَدې برعکس دی ماتاسو دَهغې نه منع کړی يئی.

قوله : فَاتَّقُوا اللَّهَ، وَأَجْمِلُوا فِي الطَّلَبِ،

د الله تعالی رزق په جائزه طريقه د طلب کولوحکم : دادَ جمال نه جوړدې يعنی تاسو دَ رزق

په حصول او د معاش په کسب کښې د اعتدال لار اختياره کړئ په کوم کښې چه د شريعت د حقوق او د حقوق العباد پوره پوره خيال ساتلې شوې وى. په جائز طريقې سره د رزق رسيدو کښې که چرې تاخير او شى نو ناجائز طريقې مه اختياروئ. ځکه چه د الله تعالى د طرف نه حلال او خوښ کړې شوې رزق د هغه په اطاعت سره ملاويږى په معصيت سره نه ملاويږى.

[۵۳۰۱] د زهد حقيقت

٥٣٠١-()[٧] ① وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "«الزَّهَادَةُ فِي الدُّنْيَا لَيْسَتْ بِتَحْرِيمِ الْحَلَالِ ② وَلَا إِضَاعَةِ الْمَالِ، ③ وَلَكِنَّ الزَّهَادَةَ فِي الدُّنْيَا ④ أَنْ لَا تَكُونَ بِمَا فِي يَدَيْكَ أَوْثَقَ بِمَا فِي يَدَيِ اللَّهِ، ⑤ وَأَنْ تَكُونَ فِي ثَوَابِ الْمُصِيبَةِ إِذَا أَنْتَ أُصِبْتَ بِهَا أَرْغَبَ فِيهَا لَوْ أَنَّهَا أُبْقِيَتْ لَكَ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَقَالَ التِّرْمِذِيُّ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَعَمْرُو بْنُ وَاقِدٍ الرَّاوِي مُنْكَرُ الْحَدِيثِ.

ترجمه: او حضرت ابوذر د رسول الله ﷺ نه روايت کوي حضور ﷺ وفرمايل ② دنيا نه زهد اختيارول دا نه دي چې حلال څيزونه حرام کړل شي ③ او مال و اسباب ضائع شى ④ بلکې دنيا نه زهد اختيارول دا دي [يعنى دا دي دنيا په حقله کامل او معتبر زهد دا دي] چې مال دولت او نور دنياوي اسباب نه چې څه ستا په لاس کې دي په هغه دهغه څيزونو نه زيات اعتماد او بهروسه مه کوه کوم چې د الله تعالى په لاس کې دي ⑤ او زهد دا دى چې ته څه مصيبت کې مبتلا شى نو د طلب ثواب له خاطره هغه مصيبت طرف ته چې تا د پاره باقي وي زيات رغبت ساته. ترمذي ابن ماجه او ترمذي ويلي دي چې دا حديث غريب دي او ددي يو راوي عمرو ابن واقد منكر الحديث دي.

حل اللغات:- ① الزَّهَادَةُ: بې رغبتى کول، ② أَوْثَقَ: زيات اعتماد، ③ أَرْغَبَ: زيات رغبت والا.

تسهيلات:

قوله: الزَّهَادَةُ فِي الدُّنْيَا لَيْسَتْ بِتَحْرِيمِ الْحَلَالِ

د حلالو حرامو او زهد: يعنى زهد فى الدنيا دا نه دې چه سړې په خپل ځان باندې حلال څيزونه مثلاً غوښه ميوې وغيره خوندونه حرام کړى لکه څنګه چه عيسائى پادرى او خشك غوندې صوفيان داسې کوى دا خود حلالو حراموالې دې چه بالکل ناجائز دې.

قوله: أَنْ لَا تَكُونَ بِمَا فِي يَدَيْكَ أَوْثَقَ بِمَا فِي يَدَيِ اللَّهِ،

د خپل ملکيت څخه زيات د الله په ملکيت باندې اعتماد کول: اصل زهد دا دې چه د انسان په خپل لاس کښې کوم مال او اسباب دى په هغې باندې ئى دومره يقين او اعتماد نه وى

---

[1] اخرجه الترمذي فى السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى الزهادة فى الدنيا (رقم-٢٣٤٠) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب الزهد فى الدنيا (رقم-٤١٠٠)

خومره یقین او اعتماد چه دَ الله تعالی دَ غیب په خزانو باندې دې. هغه انسان زاهد دې چه دَ الله تعالی دَغیبو په خزانو باندې هغه زیات یقین ساتی.

په دې حدیث کښې دَ زهد دا یوصورت بیان کړې شوې دې. دې نه پس دَ زهد دویم صورت داسې بیان کړې شوې دې.

قوله: وَأَنْ تَكُونَ فِي ثَوَابِ الْمُصِيبَةِ إِذَا أَنْتَ أُصِبْتَ بِهَا أَرْغَبَ فِيهَا لَوْ أَنَّهَا أُبْقِيَتْ لَكَ

د مصیبت په ثواب کښې زیات رغبت کول: د زهد یو صورت دا دې. چه کله مصیبت راشی نو دَ هغې په بدله کښې چه کوم ثواب ملاویږی تاته دې دَهغه ثواب رغبت دَ هغه مصیبت دَ نه راتلو اوثواب نه ملاویدو نه زیات وی یعنی دَ دغه مصیبت راتلل دې دَ هغې دَ نه راتلونه دې تاته زیات محبوب اومرغوب وی ځکه چه په دې باندې ثواب ملاویږی.

قوله: لَوْ أَنَّهَا أُبْقِيَتْ لَكَ:

ابقیت د عدم اصابت په معنی: کوم لفظ دې دا دَ "لم یصب" په معنی کښې دې یعنی دَ مصیبت نه راتلل او دَهغې منع کولو سره دفع کول إبقاء ده. بهرحال دَ زهد دا دواړه صورتونو ښه په ذهن کښې ساتل پکاردی.

[۵۳۰۲] نفع او نقصان رسونکې ذات صرف الله تعالی دې

۵۳۰۲-()[۸] [۱] وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲] «كُنْتُ خَلْفَ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَوْمًا فَقَالَ: [۳] " يَا غُلَامُ احْفَظِ اللَّهَ يَحْفَظْكَ، [۴] احْفَظِ اللَّهَ تَجِدْهُ تُجَاهَكَ، [۵] وَإِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللَّهَ، [۶] وَإِذَا اسْتَعَنْتَ فَاسْتَعِنْ بِاللَّهِ، [۷] وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوِ اجْتَمَعَتْ عَلَى أَنْ يَنْفَعُوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوكَ [۸] إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ لَكَ،

ترجمه: [۱] او حضرت ابن عباس رضی الله عنهما وایي، [۲] یوه ورځ (د سفر په دوران کې) زه د رسول الله ﷺ په سورلی د حضور ﷺ پسې وروسته ناست وم چې حضور ﷺ (زه مخاطب کولو سره) وفرمایل [۳] اې هلکه! د الله ﷻ د ټول احکامو امر ونهي خیال ساته، نو الله به هم ستا خیال ساتي [۴] که ته د الله ﷻ د احکامو فرمانبرداري کولو سره هغه څیزونو باندې عمل کوې چې په هغه د عمل کولو هغه حکم کړی دی او د هغه څیزونو پرهیز کوې د کومو نه چې هغه د منع حکم کړی دی [او ته هروقت او هره معامله کې د هغه د رضا او خوشنودي طالب یې، نو یقینًا الله ﷻ به هم ستا خیال ساتي په دې طور چې تا به په دنیا کې هم دهرقسم آلام او مصیبتونو نه بچ ساتي، او په آخرت کې به دې هم هغه دعذاب دسختی نه محفوظ ساتي، څرنګه چې فرمایل شوي دي، من کان لله کان الله له یعنی کوم

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۵۱۶)واحمد فی المسند: ۲۹۳/۱

سره چې د الله شي، نو الله هم د هغه شي، که د الله ﷻ د حق خيال ساتي، نو الله ﷻ به د ځان سره پيدا کي يعنى که ته د الله ﷻ د حقوق ادائيگى هره لمحه يادلري د هغه نظام قدرت کي غور او فکر کوي د هغه د نعمتونو شکر اداء کوي، نو ته د هغه بي انتهاء رحمتونه او د هغه انعامات به خپل مخې ته پيدا کي]،[۵] او هرکله چې سوال کوي، نو صرف د الله ﷻ مخکې د سوال لاس اوږدوه،[٦] اوهرکله چې ته د دنيا او آخرت څه معامله کي مدد غواړې، نو صرف د الله ﷻ نه مدد غواړه. [٧]او په دي پوه سه، که ټول مخلوق [که عوام وي، ياخواص، انبياء وي يا اولياء او آئمه دين وي ياسلاطين دنيا]، ټول يوځاى کيدو سره هم تا ته څه نفع رسول وغواړي، [يعنى که بالفرض محال داټول مخلوق په دي خبره اتفاق وکړي، چې ټول يوځاى کيدو سره تا ته څه دنيا وي يا اخروي معامله کې څه فائده ورسوي نو هغوئ هيڅکله تا ته څه نفع نشي رسولي]،[٨] علاوه دهغه څيز نه چې الله ﷻ ستا په مقدر کې ليکلي وي

[١] وَلَوِ اجْتَمَعُوا عَلَى أَنْ يَضُرُّوكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوكَ [٢] إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللّٰهُ عَلَيْكَ، [٣] رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ» "رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او که د دنيا خلق ټول يوځاى شي او تاته څه نقصان او ضرر رسول غواړي نو هغوئ هيڅکله تاته څه نقصان او ضرر نشي رسولى،[٢] علاوه دهغه څيز نه چې الله ﷻ ستا په مقدر کې ليکلي وي[٣] قلم پورته کولو سره کيخودل شو او صحيفي اوچي شوي دي. (احمد، ترمذي)

حل اللغات:- ① جَفَّتِ: اوچې شوى دى. ② الصُّحُفُ: کاغذونه. رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ: يعنى کوم احکام چه صادريدل وو هغه ټول ليکلې شوى دى.

تسهيلات: قوله: تَجِدْهُ تُجَاهَكَ:

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① که چرې ته دَ الله تعالى دَ حقوق اداکول يعنى دَ هغه عبادت، اطاعت او دَ هغه دَ احکامو په منلو باندې په پابندئى سره عمل کوې نو الله پاك به تا په خپل حفاظت او پناه کښې ساتى او تاسره به په معاملاتوکښې امداد او په مشکل کښې آسانى کوى. او ستا په ارادو او مقصدونوکښې به تاله کاميابى درکوى.

② ته دَ الله تعالى دَ حقوقو ادا کولو دَ هغه دَ تابعدارئى او عبادت پابندئى اودَ هغه دَ رضا او خوشحالولو په طلب کښې مشغول او مستغرق اوسيږه نوهغه وخت به ستانظر الله تعالى له داسې اومومى لکه چه هغه ستا مخې ته موجود دې اوهغه ستا دَ امداد اونصرت دَ پاره موجود دې.

قوله: وَإِذَا سَأَلْتَ فَاسْأَلِ اللهَ.

د هر حاجت دپاره دالله تعالی څخه سوال کول: یعنی دَ الله نه علاوه دَ بل چا پـه مخکښې لاس مه خوروه څکه چه دَ ورکړې او بخشش خزانې ټولې دَ هغه سره دی او دَ هغـه دَ قدرت په لاس کښې دی. په دنیا او آخرت کښې هرقسم ښیګړه اوهرقسم رحمت چه دررسیږی هغه هم دَ هغه دَ طرف نه رسیږی. اودَ الله تعالی په مخکښې لاس خورول په حقیقت کښې دَ هغه په وړاندې دَ خپلې عاجزئی، بې کسئی او دَ محتاجئی اظهار کول دی کوم چه دَ بندګئی شان دې.

په غوښتلو د الله تعالی خوشحالیدل: یو شاعر څه ښه وینا کړې ده:

اللّٰه یغضب إن ترکت سؤاله وأبناء آدم حین یسأل یغضب

یعنی الله تعالی تانه هغه وخت خفه کیږی کله چه ته دَ هغه نه سوال نه کوې او بنیادم هغه وخت خفه کیږی چه کله ته دَ هغه نه څه سوال کوې.

قوله: جَفَّتِ الصُّحُفُ:

د تقدیر څخه فراغت: دَدې مطلب دادې چه ترقیامته پورې څه کیدونکی دی اودَ چا په حق کښې چه څه پیښیدونکی دی هغـه ټول دَ تقدیر پـه کتـاب کښې لیکلې شـوی دی. کتاب اوچ شو کوم څه چه لیکلې شوی دی هغه نه ورانیدې شی او نه دَ هغې دَ پاسه نور څه لیکلې کیدې شی.

اشکال: دا روایت چه قلم اوچتولو سره کیخودې شوې دې او صحیفې اوچې شوی دی دادَ قرآن آیت ﴿يَمْحُوا اللهُ مَا يَشَاءُ وَيُثْبِتُ وَعِنْدَهُ أُمُّ الْكِتٰبِ﴾ خلاف دې.

د اشکال دوه جوابونه: ① محـو او إثبات هم پـه اصـل کښې دَهغه څیزونونه دی کوم چه مقدر شـوی دی اودَ کـوم دَ لیکلو نه پس چه قلم کیخـودې شـوې دې او صحیفې اوچې شوی دی.

② بعضې حضراتو وئیلی دی چه الله تعالی سره دوه کتابونـه دی یـو خـو پـه لـوح محفـوظ کښې دې چه په هغې کښې هیڅ ادل بدل نه کیږی او بـل کتـاب هغه دې پـه کـوم کښې چـه فرښتې دَ خلقو اعمال لیکی اودَ محو او اثبات تعلق هم دې کتاب سره دې. بهرحال په دې حدیث کښې دا ترغیب دې چه بنده له دَ حقوق الله او دَ حقوق العباد خیـال کـول پکـار دی او په الله تعالی باندې توکل او یقین او اعتماد ساتل پکاردی او دَ الله تعالی پـه رضـا باندې راضی کیدل پکاردی.

[۵۳۰۲]دَ انسان د نيک بختئ او بد بختئ علامت

۵۳۰۳-( )[۹] [۱] وَعَنْ سَعْدٍ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲]«مِنْ سَعَادَةِ ابْنِ آدَمَ رِضَاهُ بِمَا قَضَى اللّٰهُ لَهُ،[۳] وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ تَرْكُهُ اسْتِخَارَةَ اللّٰهِ،[۴] وَمِنْ شَقَاوَةِ ابْنِ آدَمَ سُخْطُهُ بِمَا قَضَى اللّٰهُ لَهُ»". رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه :[۱]او حضرت سعد وايي چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۲] د ابن آدم (انسان) نيک بختي داده، چې الله ﷻ دهغه مقدر کې څه ليکلي دي، په هغه راضي شي،[۳] او د ابن آدم بدبختي داده، چې هغه د الله ﷻ نه خير او نيکي غوښتل پرېږدي، [۴] او د ابن ادم بدبختي نه داهم ده، چې الله د هغه په مقدر کې څه ليکلي دي، په هغه ناراضه وي.
داروايت احمد او ترمذي نقل کړی دی او ترمذي ويلي دي چې داحديث غريب دی.

حل اللغات:- ① سَعَادَةِ: نيک بختی، ② شَقَاوَةِ: بدبختی.

تسهيلات:

قوله: تَرْكُهُ اسْتِخَارَةَ اللّٰهِ،

د استخارې ترغيب: په دې جمله کښې دَ استخاره کولو ترغيب طرف ته هم اشاره کيدې شی. دَ استخارې په ترغيب کښې يوعجيبه حديث دې فرمائی: «ماخاب من استخار ولاندم من استشار ولاعال من اقتصد» دَ استخاره کونکې ناکام کيږی، مشورې والا پښيمانه کيږی نه او ميانه رو فقير کيږی نه.

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① په دې کښې سين او تاء دَ طلب دَپاره دی يعنی خير اوشر نفع اوضرر دواړه دَ الله تعالی دَ تقدير فيصلې دی ليکن انسان له پکاردی چه هروخت دَ الله تعالی نه دَخير اودَ نيکئ طلبګاروی نيکی نه طلب کول او دَ دې سوال پرېخودل دَ انسان دَ بدبختئ علامت دې.

② دَ انسان دَ خوشبختئ علامت دا دې چه په هغه څيز باندې راضی اوخوشحال پاتې شی کوم چه الله تعالی دَهغه دَپاره خوښ کړې دې. دَ الله تعالی په فيصله باندې خفه کيدل دَبدبختئ علامت دې. لهذا هغه له پکاردی چه هروخت دَ الله تعالی نه دَخير غوښتونکې وی.

داستخارې آسان طريقه: دَ استخاره کولو يوه طريقه خو معروف ده کوم چه په کتابونو کښې ليکلې شوې ده. مګر يومختصرطريقه دا هم ده چه سړې دا کلمات دَ استخارې په نيت سره اووائی. "اَللّٰهُمَّ خِرْلِيْ وَاخْتَرْلِيْ فَلَا تَكِلْنِيْ إِلَى اِخْتِيَارِيْ"

---

[۱] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب القدر عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الرضا بالقضاء (رقم-۲۱۵۱) واحمد فی المسند:۱/۱۶۸

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٥٣٠٤] په الله تعالى باندې د كامل اعتماد اثر

٥٣٠٤-()[١٠] ١ عَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- ٢ «أَنَّهُ غَزَا مَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قِبَلَ نَجْدٍ، ٣ فَلَمَّا قَفَلَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَفَلَ مَعَهُ، ٤ فَأَدْرَكَتْهُمُ الْقَائِلَةُ فِي وَادٍ كَثِيرِ الْعِضَاهِ، ٥ فَنَزَلَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٦ وَتَفَرَّقَ النَّاسُ يَسْتَظِلُّونَ بِالشَّجَرِ، ٧ فَنَزَلَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٨ تَحْتَ سَمُرَةٍ فَعَلَّقَ بِهَا سَيْفَهُ، ٩ وَنِمْنَا نَوْمَةً،

ترجمه: حضرت جابر ﷺ نه روايت دى ٢ چې هغه رسول الله ﷺ سره په يو جهاد كې شريك وو، چې د نجد اطرافو كې شوى وو، ٣ او كله چې رسول الله ﷺ د جهاد نه فارغه شو او واپس راغلو نو حضرت جابر ﷺ هم ورسره راغلو، [د دې سفر په دوران كې دا واقعه پيښه شوه] ٤ چې يوه ورځ صحابه ﷺ د غرمې په وخت يو داسې جنګل ته ورسيدل، چې په هغه كې د كيكر زياتې ونې وې، ٥ نو رسول الله ﷺ صحابه وو سره هلته خكته شول، ٦ او ټول خلق د و نوسايې په تلاش كې اخواديخوا خواره شوه [يعنى هرسړى د يوې يوې ونې د سايې لاندې آرام د پاره پريوتى] ٧ رسول الله ﷺ د يوې لوى ونې لاندې پريوتى، ٨ او خپله توره يې د هغه ونې په خانګه كې وځوړندوله. ٩ حضرت جابر وايي مونږ خلق لږ شان اوده شوي وو،

حل اللغات:- ① نَجْدٍ: دزمكې اوچتې حصې ته نجد وائي. دلته د عربو د حجاز علاقې مراد دى. ② قَفَلَ: راواپس شو، ③ الْقَائِلَةُ: قيلولې ته قائله وئيلې شوې ده. ④ الْعِضَاهِ: دكيكر اونه. ⑤ يَسْتَظِلُّونَ: سورى، سايه ئې تلاش كوله،

١ فَإِذَا رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَدْعُونَا، ٢ وَإِذَا عِنْدَهُ أَعْرَابِيٌّ فَقَالَ: ٣ "إِنَّ هٰذَا اخْتَرَطَ عَلَيَّ سَيْفِي وَأَنَا نَائِمٌ، ٤ فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ فِي يَدِهِ صَلْتًا. ٥ قَالَ: مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي؟ ٦ فَقُلْتُ: اللّٰهُ، ثَلَاثًا" ٧ وَلَمْ يُعَاقِبْهُ، وَجَلَسَ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: ١ چې ناخاپه مونږ واوريدل، چې رسول الله ﷺ مونږ ته اواز كوي، [نو مونږ خلق خپل ځاى نه اودريدو سره رسول الله ﷺ ته ورسيدو] ، ٢ چې ګورو حضور ﷺ سلامت دى، او هلته رسول الله ﷺ سره يو باندچي (كليوال) كافر موجود دى حضور ﷺ زمونږ جمع كيدو سره وفرمايل، ٣ دا باندچي (كليوال) هغه وخت چې زه اوده وم، په ما خما توره اوخكلو سره ودريدى، ٤ او هركله چې خما سترګې وغړيدى نو ماوليدى، چې برېنډه (بغير تيكى) توره د ده په لاس كې ده، ٥ ده ماته اوويل اوس به تا زما نه څوك

---

[1] اخرجه البخاري فى كتاب الجهاد والسير/باب من علق سيفه بالشجر فى السفر عند القائلة (رقم-٢٩١٠) ومسلم فى كتاب الفضائل/باب توكله على الله تعالى، وعصمة الله تعالى له من الناس (رقم-١٣ - (٨٤٣) واحمد فى المسند:٣٦٥/٣

خلاصوي، [٦] ما سمد ستي جواب ورکړو، خما الله به ما خلاصوي حضور ﷺ داخبره دري ځلي وکړله،د [٧] او هغه باندچي (کليوال) ته يي هيڅ سزا ورنه کړل، بيا حضور ﷺ کينا ستی (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- (٩) اخترَطَ :دَ وژلودَپاره توره راويستلو ته اختراط وائی. (٥) صَلتًا: دَ تيکی نه بربنډه توره ويستلو ته صلتًا وائی.

تسهيلات:

قوله : غَزَامَعَ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قِبَلَ نَجْدٍ"

د نجد محل وقوع : دَنجد علاقه په اوچته زمکه باندې واقع ده دَدې مقابل تهامه ده کومه چه په ښکته زمکه کښې واقع ده. پخوانئی زمانه کښې نجد ډيره مختصر علاقه وه مګر اوس دَ جزيرة العرب ټولې مينځمې علاقې ته نجد وئيلې کيږی. دکوم چه انتهائی طول يعنی اوږدوالي تقريبًا ٨ سوا ميله دي او پلنوالي تقريبًا پاؤ باندې دووه سوا ميله دې. نن صبا دَ سعودی حکومت کښې رياض او دې طرف ته ټولې علاقې په نجد کښې راځی او په سعودی باندې هم دَدغه قبائلو حکومت دې کوم چه نجدی دی.

قوله : فَقُلْتُ: اللهُ، ثَلَاثًا:

د الله د نوم اثر : لفظ الله سره حضورپاك په دغه سرې باندې جلالی توجه واچوله نو په هغه باندې رڼج شروع شو اودَ لاس نه ئی توره پريوتله.

[٥٣٠٥] بچ کونکې او حفاظت کونکې ذات صرف يو الله دې

٥٣٠٥-(¹) [١] وَفِي رِوَايَةِ أَبِي بَكْرٍ الْإِسْمَاعِيلِيِّ فِي (صَحِيحِهِ) [٢] «فَقَالَ: مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي؟ [٣] قَالَ: (اللهُ) [۴] فَسَقَطَ السَّيْفُ مِنْ يَدِهِ، [٥] فَأَخَذَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- السَّيْفَ فَقَالَ: [٦] "مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّي؟" [٧] فَقَالَ: كُنْ خَيْرَ آخِذٍ. [٨] فَقَالَ: "تَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ؟" [٩] قَالَ: لَا، [١٠] وَلَكِنِّي أُعَاهِدُكَ عَلَى أَنْ لَا أُقَاتِلَكَ وَلَا أَكُونَ مَعَ قَوْمٍ يُقَاتِلُونَكَ [١١] فَخَلَّى سَبِيلَهُ، [١٢] فَأَتَى أَصْحَابَهُ، فَقَالَ: جِئْتُكُمْ مِنْ عِنْدِ خَيْرِ النَّاسِ». هَكَذَا فِي (كِتَابِ الْحُمَيْدِيِّ) وَفِي (الرِّيَاضِ).

ترجمه : [١] او په هغه روايت کې چې ابوبکر اسماعيلي خپل صحيح کې نقل کړی دی، د ده الفاظ دي، [٢] چې هغه باندچي (کليوال) حضور ﷺ باندې توره را خکلو سره وويل، اوس به تا زما نه څوك بچ کوي؟ [٣] حضور ﷺ وفرمايل الله به مي بچ کوي، [۴] په دي اوريدو سره باندچي (کليوال) د لاس نه توره ولويده [٥] حضور ﷺ توره پورته کړه او وي فرمايل که زه تا قتلول غواړم، [٦] نو ونسايه چې اوس به تا زما نه څوك بچ کوي؟ [٧]

¹) اخرجه البخاری فی کتاب الجهاد والسير/باب تفرق الناس عن الإمام عند القائلة. والاستظلال بالشجر (رقم-٢٩١٣) ومسلم فی کتاب الفضائل/باب توکله علی الله تعالی. وعصمة الله تعالی له من الناس (رقم-١٣ - (٨٤٣) واحمد فی المسند:٣/٣٩٠

باندې (کلیوال) جواب ورکړو تاسو ښه آخستونکي شي [یعنی ستا د شان نه خو ځما دا امید دی چې زما د پاره به انتقامي کار وايي نشي کولی، او تاسو به ما د لطف وکرم د مخې معاف کړي] ،⑧ حضور ﷺ ورته وفرمایل، ښه دی د دې خبرې ګواهي کوي، چې د الله نه سوا بل معبود نشته، او بلا شبهه زه د الله رسول یم، [ګویا حضور ﷺ هغه ته دا وفرمایل، که ستا په ماباندې د ومره زیات اعتماد دی، نو بیا یقیناً په دې خبره به هم ښه پوهیږې چې ځما دعوت اسلام بالکل برحق او صداقت باندې مبني دی، په دې صورت کې خو تاته پکار دی، چې کلمه اووائې، او مسلمان شې] ،⑨ باندې (کلیوال) اوویل زه خو مسلمانیدی نشم،⑩ البته تاسو سره دا وعده ضرور کوم، چې نه به خپله د رسره جنګ کوم اونه به هغه خلقو سره ملګري کېږم، کوم چې ستاسو سره جنګ کوي،⑪ بهرحال حضور ﷺ هغه باندې (کلیوال) پریخودلو ،⑫ او کوم وخت چې هغه باندې (کلیوال) خپل قوم ته رالی، نو هغه اوویل، زه تاسو ته دیوداسې سړي د طرفه راغلی یم چې تولو نه ښه انسان دی. د بخاري او مسلم مذکوره بالاروایات د دې الفاظو اضافي سره کتاب حمیدي اود امام محي الدین نووي په تصنیف، ریاض الصالحین کې هم منقول دی

تسهیلات:

قوله: فَسَقَطَ السَّيْفُ مِنْ يَدِهٖ:

دَ حدیث څخه مستنبط فوائد: ① په ونه وغیره کښې توره او وسله دَ حفاظت په غرض زوړندول صحیح دی او دا امر معمول به دې. او په سنت کښې دَ دې اصل موجود دې.

② دَ شپې او قیلولې په وخت کښې دَ امام اوْ سلطان حفاظت کول په خلقو باندې واجب او ضروری دی اودَ دې خبرې خیال نه ساتل غلطی او امر قبیح دې.

③ دَ حدیث باب نه دَ رسول الله ﷺ دَ صبر او برداشت پته لګی چه سره دَ دې خبرې چه هغوی ﷺ ته دَ دغه اعرابی نه دَ بدلې اخستلو طاقت حاصل وو لیکن حضور ﷺ معاف کړلو. جاهلانو سره هم دغه طریقه اختیارول پکار دی.

④ دَ مصنف ابن ابی شیبه رحمه الله دَ روایت نه معلومیږی چه دَ حدیث واقعه دَ آیت مبارك

﴿والله يعصمك من الناس﴾

دَ نزول سبب جوړ شوې وو، حضرت ابوهریره رضي الله عنه فرمائی:

((كنا إذا نزلنا طلبنا للنبي صلى الله عليه وسلم أعظم شجرة وأظلها قال: فنزلنا تحت شجرة فجاء رجل وأخذ سيفه فقال: يا محمد من يمنعك مني؟ قال: الله، فأنزل الله: ﴿والله يعصمك من الناس﴾-

یعنی چه کله به یو ځای کښې کوزیدو نو دَ نبی ﷺ دَپاره به مو لویه ونه اودَ دې سورې لټولو نو یوځل مونږ دَ یوې ونې لاندې اوده شو نو یو سړې راغلو اوهغه دَ حضور ﷺ

توره راوچته کړه او وئي وئيل اې محمد مانه به تاڅوك بچ كوي؟ نو نبي ﷺ اوفرمائيل الله! الله تعالى دا آيت نازل كړو (والله يعصمك من الناس).

او دَ نبي اكرم ﷺ دَ حراست او حفاظت په سلسله كښې تفصيلي بحث روستو تيرشو.

[۵۲۰۶] تقوی سره د رزق لارې کهلاویږی

۵۲۰۶-( )[۱۱] [۱] وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-قَالَ: [۲] «إِنِّي لَأَعْلَمُ آيَةً لَوْ أَخَذَ النَّاسُ بِهَا لَكَفَتْهُمْ: [۳] ﴿وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ﴾ [الفاتحة: ۲-۸۸۷]» رَوَاهُ أَحْمَدُ، وَابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوذر ؓ نه روايت دى، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] بلاشبه زه داسې آيت پيژنم كه خلق په دې آيت باندې عمل وكړي نو د هغوئ په حق كې دايو آيت كافي كيږي [۳] وَمَن يَتَّقِ اللهَ.......الخ. كوم سړى چې د الله نه ويريږي، نو الله ﷻ د هغه د پاره د دنيا او آخرت د غمونو نه د نجات لار پيداكوي، او هغه ته دداسې ځاى نه د محنت او مشقت او فكرو تردد نه بغير، روزي وركوي، چيرته چې دهغه وهم او گمان هم نه كيږي (ابن ماجه، دارمي)

حل اللغات:- ① مَخْرَجًا: ځائې د وتل، د نجات لاره.

تسهيلات:

قوله: وَمَنْ يَتَّقِ اللهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ:

دَ مذكوره آيت شان نزول: دَحضرت عبدالله بن عباس ؓ نه روايت دې چه عوف بن مالك اشجعي ؓ دَ رسول الله ﷺ په خدمت كښې حاضر شو اوعرض ئې اوكړو چه زما خوئې سالم دښمنانو گرفتاركړو بوئې تللو. دَهغه مور سخته پريشانه ده ماله څه كول پكاردى. رسول الله ﷺ اوفرمائيل چه زه تاته اودَ هلك مور ته دا حكم دركوم چه تاسو په كثرت سره لاحول ولاقوة الابالله لولئى. دې دواړو دَحكم تعميل اوكړو په كثرت سره ئې دغه كلمه لوستله. دَدې دا اثر اوشو چه كوم دښمنانو هغه هلك قيد كړې وو هغوى يوه ورځ لږ شان غافل شو اوهلك دَهغوى دَ قيد نه په څه طريقه راؤوتلو اودَهغوى څه چيلئى ئې ځان سره راؤشړلې راتې وستلې اوخپل پلار له راغلو. بعض رواياتو كښې دى چه دَهغوى يو اوښ هغه ته ملاؤشو په هغې سور شو او نور اوښان ئې ځان سره كړل تول ئې پلار له راؤرسول. دَهغه پلار دَدې خبر سره دَ حضورپاك په خدمت كښې حاضرشو. او بعض رواياتو كښې دى چه دا سوال ئې هم اوكړوچه دا اوښان اوچيلئى كوم چه زما خوئې ځان

---

[۱] اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الزهد/باب الورع والتقوى (رقم-۴۲۲۰)واحمد فى المسند: ۱/۲۴۸ والدارمى فى السنن رقم ۲۷۲۵

سره راوستلې دی دا زمونږ دپاره جائز اوحلال دی که نه په دې باندې دا آيت نازل شو ﴿وَمَن يَتَّقِ اللَّهَ﴾ الايه [1]

دتقوی لغوی معنی: دَ لفظ تقوی اصلی اولغوی معنی دَ بچ کیدلو ده

د تقوی اصطلاحی تعریف: دَ شریعت په اصطلاح کښې دَ گناهونونه دَ بچ کیدلو دَپاره دا لفظ وئیلې شی اوکله چه دَالله تعالی طرف ته اضافت او نسبت کیږی نوترجمه دَالله تعالی نه دَ ویریدلو کولې شی اومطلب دا وی چه دَالله تعالی دَ نافرمانئی اومصیبت نه بچ شئی او اوویریږئی؟

د تقوی دوه برکتونه: په دې آیت کښې دَ تقوی دوه برکتونه بیان کړې شوی دی

① تقوی اختیارونکی دَپاره الله تعالی دَبچ کیدلو لار راوْباسی دَ یوخیزنه بچ کیدل. په دې کښې صحیح خبره داده چه داعام دی. دَ دنیادَ ټولومشکلاتو اومصیبتونودَپاره هم اودَ آخرت دَ ټولو مشکلاتو او مصیبتونودَپاره هم. اودَ آیت مطلب دادې چه الله تعالی دَمتقی یعنی دَ گناهونونه دَ بچ کیدونکی سړی دَپاره دَ دنیا اوآخرت دَهرمشکل نه دَخلاصی لار راوْباسی.

② متقی ته دَداسې ځائی نه رزق ورکوی دکوم ځائی نه چه دَ هغه خیال اوگمان هم نه وی صحیح خبره داده چه دلته دَ رزق نه مراد هردَ ضرورت څیز دې که هغه دَ دنیا وی اوکه دَ آخرت وی. دَمؤمن متقی دَپار دَالله تعالی وعده په دې آیت کښې ده چه دَهغه هرمشکل هم آسانوی اودَ هغه ضرورتونه هم پوره کوی. اودَ داسې لارونه دَهغه ضرورتونه راپیدا کوی دکوم چه دَ هغه وهم اوگمان هم نه وی. [کذا فی الروح] [2]

[۵۳۰۷] رازق صرف الله دی

٥٣٠٧-(٣) [١٢] ① وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: ② «أَقْرَأَنِي رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ». رَوَاهُ أَبُودَاوُدَ، وَالتِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابن مسعود ﷺ وايي، ② چې رسول الله ﷺ ماته دا آیت وښووی إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ...الخ. یعنی اې انسانه پوه شه چې بلاشبه زه رزق ورکونکی یم او غالب طاقت والایم. (ابوداؤد ، وترمذي) اوترمذي ويلي دي، چې دا حديث حسن صحيح دی

حل اللغات:- ① ذُو الْقُوَّةِ: طاقت والا ، ② الْمَتِين: مضبوط ، غالب

[1] جامع العلوم والحكم لإمام ابن رجب الحديث التاسع عشر: [ج: ٢١ ص:٤١]
[2] روح المعاني [ج: ٢١ ص:٦٨]
[3] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب القراءات عن رسول الله صلی الله علیه وسلم /باب: ومن سورة الذاریات (رقم-٢٩٤٠)

تسهيلات:

قوله: إِنِّي أَنَا الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ"

د آيت دوه قرآءتونه: ① دا قرات شاذ دي مشهورقرات په قرآن كښې داسې دې ﴿ إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ ﴾

② په شروع كښې آيت هم داسې وو لكه څنګه چه ابن مسعود رضي الله عنه اووئيل روستو يا آيت منسوخ شو يا شاذ شو

[۵۳۰۸] دَ ديني زده كړې دَ وجې هم الله تعالى رزق وركوى

٥٣٠٨-( )[٣] ١ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: «كَانَ أَخَوَانِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٣ فَكَانَ أَحَدُهُمَا يَأْتِي النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٤ وَالْآخَرُ يَحْتَرِفُ» ٥ فَشَكَا الْمُحْتَرِفُ أَخَاهُ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- ٦ فَقَالَ: "لَعَلَّكَ تُرْزَقُ بِهِ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ١ او حضرت انس رضي الله عنه وايي، ٢ د رسول الله ﷺ په زمانه كې دوه ورونه وو، ٣ چې په هغوئ كې يوخو د نبي كريم ﷺ په خدمت كې اوسيدى، [څكه چې د هغه اهل وعيال نه وو او هغه د حصول معاش ذمه واري نه بي فكر كيدو سره طاعت او عبادت او ديني خدمت كې مشغول وو، په دي وجه د هغه اكثره وخت بارګاه رسالت كې د حاضر بشي په ذريعه حصول علم او د معرفت كې صرف كيدى] ٤ او دويم ورور څه كار كوى ايعنى حصول معاش د پاره د څه هنر اوكاروبار په ذريعه يي ګټه كوله، او دواړو ورونو په يوځاى خوړل څكل كول]

٥ نو ګټه كونكى د خپل دويم ورور باره كې رسول الله ﷺ ته شكايت وكى. [چې څما ورور نه خو زما سره څما په كار كې راسره مدد كوى، او نه په خپله څه كار كوي، او دغه شان د خوراك څكاك بوج يي زه برداشت كوم] ، ٦ حضور ﷺ د هغه دا شكايت اوريدو سره وفرمايل كيدي شي چې تاته د هغه د بركته رزق دركولى شي، دا روايت ترمذي نقل كړى دى او ويلي يي دي چې داحديث صحيح غريب دى

حل اللغات:- ① أَخَوَانِ دوه ورونړه، ② يَحْتَرِفُ دَ احتراف نه دي حرفه كار روزګار او كاريګرئ ته وائى ③ فَشَكَا نو شكايت اوكړو

تسهيلات:

قوله: فَشَكَا الْمُحْتَرِفُ أَخَاهُ"

د كاسب ورور د طالب ورور باره كښې شكايت: دا دوه رونړه په مدينه منوره كښې اوسيدل يو به كار روزګار كولو اودَ كورخرچه به ئې برداشت كوله او دويم دَ اصحاب صفه طالب

[١]) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في التوكل على الله (رقم-٢٣٤٥)

علم وو دَ حضورپاك درس او مجلس كښې به ناست وو ښكاره خبره ده چه دَ هغه به ټول وخت دَ علم په حصول كښې خرچ كيدلو دَ هغه رور شكايت اوكړو چه زما رور كار روزګار نه كوى زه يوازې يم دَ كور بوج زيات دې كه چرې دې هم ماسره په كار كښې شريك شى نوزمونږ حالت به لږ شان ښه شى تاسو دې ماسره كړئى چه دې هم ګټه وټه كوى او مونږ ټول ئى خورو دَ شكايت لاندې داټول څيزونه راتلې شى اګرچه په ژبه باندې هغه صرف دَ شكايت په لهجه كښې اشاره كړې وى عوام ډير هوښيار وى دَهغوى دَ اشارونه شاته لويه منصوبه وى مګر دنياوى منصوبه وى دَ نن صبا عامې معاشرې هم دغه خيال دې چه دَ دې دينى مدارسو نظام بې كاره دې په دې كښې سبق ويونكى طالب علم بې كاره دى، فضول ناست دى، وخت ضائع كوى وغيره وغيره

قوله :لَعَلَّكَ تُرْزَقُ بِهِ"

د ديندارۍ په وجه د رزق ملاويدل : يعنى نبى كريم ﷺ دَ دغه سړى دَ پوره منصوبې اندازه اولګوله نوحضورپاك هغه ته دَ اقتصادى اومعاشى ګټې په حوالې سره جواب وركړو مطلب دا چه ته دا ولې ګڼړې چه تاسو ته كوم رزق ملاويږى هغه ستاسو دَمحنت او ګټې دَ وجې ملاويږى تاسو داسې خيال ولې نه كوئى چه دَدې طالب علم دَخدمت كولو په بركت سره الله تعالى تاسو ته رزق دركوى نو په دې صورت كښې ستاسو دَ شكايت او احسان كولو هيڅ وجه نشته دې. تاسو له خودَده احسان منل پكاردى چه دَ ده په وجه ستاسو په مال كښې بركت راځى. دَدې حديث نه معلومه شوه چه دَ دينى علومو دَ حصول دَپاره دَ دنيانه ځان ددې ته كول جائز دى اودا هم معلومه شوه چه كمزورو او دَ ضرورت مندو كسانو په كفالت سره په مال كښې بركت راځى په يوروايت كښې دى ((إنماتأكلون بضعفائكم)).

[۵۲۰۹]په توكل سره د ټولو كارونو سميدل

۵۲۰۹-(')[۱۳] [۱] وَعَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " [۳] «إِنَّ قَلْبَ ابْنِ آدَمَ بِكُلِّ وَادٍ شُعْبَةٌ، [۴] فَمَنْ أَتْبَعَ قَلْبَهُ الشُّعَبَ كُلَّهَا [۵] لَمْ يُبَالِ اللّٰهُ بِأَيِّ وَادٍ أَهْلَكَهُ، [۶] وَمَنْ تَوَكَّلَ عَلَى اللّٰهِ كَفَاهُ الشُّعَبَ» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه : او حضرت عمرو ابن عاص ﷛ وايي، [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۳] بلاشبه د انسان زړه د پاره هرځنګل كې يوښاخ او يوه ګوشه ده. (يعني د انسان زړه او د هغه جبلت كې) اد رزق اسباب وذرائع او د هغه د حصول تعلق سره قسم قسم فكرونه او غمونه ويا. [۴] كوم سړى چې خپل زړه دې ښاخونو او ګوشو طرف ته متوجه وساتي. (يعنى هغه

') اخرجه ابن ما جه فى السنن كتاب الزهد/باب التوكل واليقين (رقم-۴۱۶۶)

خپل زړه په دې تفکراتو او غمونو کې مشغول وساتي، او د پريشان حالي ښکار شي].

[۵] نو الله ﷻ ته هيڅ پرواه نشته، چې هغه په کومه کنده کې هلاك کړي [يعنی هرکله چې هغه سړی په الله ﷻ باندې توکل او اعتماد نه بي پروا کيدو سره ټوله توجه خپل ذاتي تدبيراو کوشش کې مشغول ساتي. نو بيا الله ته څه پروا ده. چې هغه څرنګه هلاکت او تباهي کې مبتلا کړي، او د دې دنيا نه په کومه مشغله کې رخصتيږي. او په کوم حالت کې وربانديې مرګ راځي] [٦] او کوم سړی چې الله ﷻ باندې توکل او اعتماد وکړي او خپل ټول کارونه يې هغه ته وسپارل، نو الله ﷻ د هغه د ټول کارونو درست کولو د پاره کافي کيږي [يعنی د الله ﷻ مدد او رحمت د هغه د زړه او دماغ، پريشان حالي او د ضروریاتو د تکميل د پاره اخوا ديخوا ګرځيدو او د قسما قسم جسماني محنت او مشقت د غم نه نجات ورکوي] (ابن ماجه)

حل اللغات: - ① شُعْبَةٌ خانګه. ② كَفَاهُ: کافي کيږي ده لره

تسهيلات:

قوله : إِنَّ قَلْبَ ابْنِ آدَمَ بِكُلِّ وَادٍ شُعْبَةٌ-

د ژوند د ضروریاتو د لټون په اعتبار سره د انسانانو دوه قسمونه: ① يعنی د انسان د زړه د يو نه يو ښخ او د هغه د سوچ او خيال څه نه څه لار د رزق په لټون کښې په هره وادئی او هردشت او بيابان کښې تقسيم شوې ده يعنی هغه ته دا فکر لګيدلې وی چه څنګه او د کوم ځای نه به ګټه کوم؟ بيا کله په عملی توګه باندې په دغه واديانو کښې د آخرت نه غافل کيدو سره اوځی او سروهلې بروهلې ګرځی او ناڅاپی هلاك شی نو د الله تعالی هيڅ پرواه نه وی چه دا غافل او د دنيا عاشق په کومه وادئی کښې هلاکيږی

② بل هغه انسان چې د خپل ژوند مقصود آخرت جوړکړی او د الله تعالی په عبادت کښې اخته شی نو د دغه ټولو واديانو د منډو ترړو نه به محفوظ پاتې شی او د هرې وادئی د پاره به الله تعالی کافی شی

[٥٢١٠] د ټولو بندګانو د فرمانبردارئ برکات

٥٢١٠-(١) [١٠] [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- [٢] أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "[٣] «قَالَ رَبُّكُمْ عَزَّ وَجَلَّ: لَوْ أَنَّ عَبِيدِي أَطَاعُونِي [۴] لَأَسْقَيْتُهُمُ الْمَطَرَ بِاللَّيْلِ، [۵] وَأَطْلَعْتُ عَلَيْهِمُ الشَّمْسَ بِالنَّهَارِ، [٦] وَلَمْ أُسْمِعْهُمْ صَوْتَ الرَّعْدِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه : او حضرت ابوهريره ؓ وايي، [٢] رسول الله ﷺ وفرمايل [٣] ستاسو بزرګ او برتر پرودرګار فرمايي [۴] که څما بندګان څما فرمانبرداري کوي (يعني څما په نبودلي لار

١) اخرجه احمد في المسند: ٢/٣٥٩

خي، او خما د رضا او خوشنودي خلاف څه کار نه کوي. [۴] نو يقينا زه به په هغوئ د شپې باران ورووم، [چې د راحت او آرام په خوب اوده شي] [۵] او د ورځې به باندې د نمر د رڼا خادر غوړوم چې خپل کار کې مشغول وي. او که شپه وي، که ورځ وي. [۶] هغوئ ته به د وريځې د ګړزهاري اواز ونه اوروم. [چې نه خو د هغوئ خوب او آرام کې خلل راځي. او نه هغوئ ويريږي. او د ويرې په وجه خپل کار روزګار کې څه نقصان سره مخ نشي]

حل اللغات:- ① لَأَسْقَيْتُهُمْ: څروب به کړم دوی، يعنی اوبه وروم په دوی ② اَلْمَطَرَ باران. ③ صَوْتَ: آواز. ④ اَلرَّعْدِ ګړزاري، وريځ

تسهيلات:

قوله: لَوْأَنَّ عَبِيدِي أَطَاعُونِي لَأَسْقَيْتُهُمُ الْمَطَرَ بِاللَّيْلِ"

د شپې باران او د ورځې نمر: دَدې اطاعت نه عام اطاعت مراد دې ليکن دَ دې په ضمن کښې توکل او صبرهم داخل دې کوم چه دلته مقصود دې دَداسې حکم منونکوباره کښې ئې اوفرمائيل که چرې دَ دوی پوره معاشره په اطاعت باندې راشی نودوی دَ ضرورت مطابق به دَ شپې باران کيږی چه دَ پرق پړوق ويره دوی ته نه وی اودَ ورځې به نمر راوځی چه دَدوی په کاروزګارکښې خلل پرينوځی دَ شپې ورځې موسم به دَهغوی دَ پاره سازګار شی داسې معلوميږی چه دا فيصله دَ عاموکسانودَ خواعمالو نتيجه وی دَ شخصی ژوند دا اثرنه وی او کله کله شخصی کسانو سره شخصی معامله کيدې شی

[۵۲۱۱] دَصبر اوتوکل يوه عجيبه واقعه

(۱۶)[۲] [۱] وَعَنْهُ، قَالَ: [۲] «دَخَلَ رَجُلٌ عَلَى أَهْلِهِ، [۳] فَلَمَّا رَأَى مَا بِهِمْ مِنَ الْحَاجَةِ [۴] خَرَجَ إِلَى الْبَرِّيَّةِ، [۵] فَلَمَّا رَأَتِ امْرَأَتُهُ قَامَتْ إِلَى الرَّحَى فَوَضَعَتْهَا، [۶] وَإِلَى التَّنُّورِ، فَسَجَرَتْهُ ثُمَّ قَالَتْ: اللَّهُمَّ ارْزُقْنَا، فَنَظَرَتْ [۷] فَإِذَا الْجَفْنَةُ قَدِ امْتَلَأَتْ. [۸] قَالَ: وَذَهَبَتْ إِلَى التَّنُّورِ، [۹] فَوَجَدَتْهُ مُمْتَلِئًا. [۱۰] قَالَ: فَرَجَعَ الزَّوْجُ، [۱۱] قَالَ: أَصَبْتُمْ بَعْدِي شَيْئًا؟

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، [۲] د يوسړي واقعه ده چې هغه يوه ورځ خپل کور والاوو ته رالی [يعنی چيرته بهر نه راتلو سره خپل کورکي داخل شو] [۳] هغه کور والاوو باندې د محتاجی او فقروفاقي اثار وليدل. [۴] نو هغه د الله تعالیٰ په حضور کې خپل حاجات پيش کولو او يکسوئي سره د هغه بارګاه کې عرض او مناجات کولو دپاره جنګل طرف ته لاړي [۵] نو د هغه ښځې چې دا وليدل چې خاوند سره يې هيڅ نشته او د شرم په وجه د کور نه بهر وتلی دی، نو هغه ولاړه شوه او ژرندې ته ورغله، ميچنه يې خپل مخې ته کيخودله، ايا د هغه ميچني پورتنې کاڼی يې لاندينې کاڼی باندې

(۱) اخرجه احمد في المسند: ۲/۵۱۳

کیخودله، یا دا معنیٰ ده، چې هغې هغه میچنه صاف کړله، او تیارولو سره یې کیخودله د هغه دا خیال وو چې خاوند به د بهر نه څه راوړلو سره به راشي. نو هغه به میده کولو سره روټۍ څنې پخه کړم[.] ⑥بیا هغه تنور ته ورغله او هغه یې ګرم کې د دې نه پس یې دا دعا وکړه اې الله مونږ ستا محتاج یو ستا د غیر نه مونږ خپل امید قطع کړی دی.[ته خیر الرازقین یې، د خپل طرف نه مونږ ته رزق راکړې]. ⑦بیا چې هغه نظر پورته کې، نو ګوري چې میچنه داوړو نه ډکه ده، ⑧راوي وایي د دې نه پس چې هغې هغه اوړه اخیستلو سره تنور ته یو وړل چې دهغه نه روټۍ پخې کړي، ⑨نو تنور یې د روټۍ نه ډك ولیدی ایعنی الله دخپل قدرت داکرشمه وربنکاره کړله، چې خپله د هغه اوړو روټۍ جوړیدو سره تنور کې ولګیدي، یاداچې اوړه خو په خپل ځای میچن کې وو او په تنور کې د غیب نه روټۍ ظاهري شوی] ⑩راوي وایي لږ ساعت وروسته چې خاوند بارګاه رب العزت کې عرض ومناجات او د دعا نه فارغیدو سره کورته رالی، ⑪نو ښځې نه یې پوښتنه وکړه، آیا څما تلو نه پس تاته دیو ځای نه څه غله وغیره حاصله شوې ده. [چې تا دا روټۍ تیارولو سره ایښې ده]،

حل اللغات:- ① اَلْبَرِيَّةِ: ② الرَّحَى: میچن، ③ التَّنُّورِ: تنور، ④ فَسَجَرَتْهُ: نوهغه ئې ګرم کړو. ⑤ اَلْجَفْنَةُ: کاسه. وړوکې لوښې ⑥ مُمْتَلِئًا: ډکه،

①قَالَتِ امْرَأَتُهُ: ②نَعَمْ، مِنْ رَبِّنَا ③وَقَامَ إِلَى الرَّحَى، ④فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -، فَقَالَ: " ⑤أَمَا إِنَّهُ لَوْ لَمْ يَرْفَعْهَا لَمْ تَزَلْ تَدُورُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: ①ښځې ورته ووې ②او، دا مونږ ته د الله د طرف نه حاصله شوي ده، [یعنی دا دعامې طریقې مطابق یامطلب دا چې یو انسان مونږ ته نه دې راکړې بلکې دارزق محض د غیب نه الله ﷻ راته راکړی دی خاوند چې داواوریدل نو هغه ته ډیر تعجب وشو]، ③او هغه اودریدو سره میچن ته ورغلی او میچن یې پورته کړه چې د هغه کرشمه ووینې ④ کله چې د دې واقعې ذکر د رسول الله ﷺ مخکې وشو نو حضور ﷺ پوره واقعه اوریدو سره وفرمایل⑤ بوهه شوم په دې کې هیڅ شك نشته، که هغه سړی هغه دمیچنې سر نه وې پورته کړې. نو هغه میچن به مسلسل ترقیامته پورې ګردش کې وه [او هغه نه به اوړه راوتل] (احمد)

حل اللغات:- ⑥ تَدُورُ: تاویدله به

تسهیلات:

قوله: فَلَمَّا رَأَى مَا بِهِمْ مِنَ الْحَاجَةِ خَرَجَ إِلَى الْبَرِيَّةِ

صحرا ته په وتلو کښې دري احتمالات: ① خاوند دَ کورنه دَ صحرا طرف ته ځکه لاړو چه

خان له دعا اوغواړی.

② دَ کورنو پریشانو کتلو سره دَ څه وخت دَپاره غائب پاتې کیدل خوښ کړي وی

③ دَ رزق په لټون کښې وتلې وی.

قوله: فَقَامَتْ إِلَى الرَّحَى فَوَضَعَتْهَا:

دښځې عملی اقدام: ښځې چه کله اوکتل چه خاوندئی دَ دعا یا کور د پریشانی یا د مزدورۍ دَپاره وتلې دي نو هغه میچنې طرف ته وروړاندې شوه اوهغه ئې کیخوده.

قوله: ثُمَّ قَالَتْ: اللَّهُمَّ ارْزُقْنَا:

د غیبو څخه د رزق بندوبست: دا ښځه هم دَ الله تعالی ولیه صحابیه وه هغې هم په زارو سره دعا غوښتله اوبیا میچنې له دکتلو دَپاره لاړه نو هغې اوکتل چه میچن غاړې دَ اوړو نه ډکې دي او تنور دَ پخو روټونه ډك دي. دَ الله تعالی د قدرت دا کرشمه دَهغوی دَ صبر او توکل دَ وجې ښکاره شوه.

[۵۲۱۲]رزق دَ انسان په تلاش کښې وی

۵۲۱۳—(۱)[۱۷] ۞ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ:۞ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "۞ «إِنَّ الرِّزْقَ لَيَطْلُبُ الْعَبْدَ كَمَا يَطْلُبُهُ أَجَلُهُ» "رَوَاهُ أَبُو نُعَيْمٍ فِي (الْحِلْيَةِ).

ترجمه: ۞او حضرت ابودرداء ﷺ وایي،۞ چې رسول الله ﷺ وفرمایل، ۞ په دي کې هیڅ شك نشته چې رزق بنده داسې تلاش کوي څرنګه چې انسان لره د هغه مرګ تلاش کوي. دا روایت ابونعیم په کتاب حلیه کې نقل کړی دی.

حل اللغات:- ① أَجَلٌ: نیټه، مرګ،

تسهیلات:

قوله: كَمَا يَطْلُبُهُ أَجَلُهُ"

دوه څیزونه د انسان په طلب کښې: ① رزق انسان پسې داسې لګیدلې وی څنګه چه مرګ دَ هغه په لټون کښې لګیدلې وی. ترکومې چه مرګ دې نه مومی هغه دَ ده په لټون کښې لګیاوی.

② ترکومې چه انسان خپل مقررشوې رزق پوره کولو سره اونه خوری رزق دې نه پریږدی. مطلب دا چه رزق لټوي اوکه نه لټوي ګټې اوکه نه ګټې هغه تا لټوی. دَ مرګ راتلونه مخکښې رزق راځی سړې هغه خوری نوبیا مرګ راځی.

---

(۱) ابو نعیم فی الحلیه ۶/ ۸۶

[۵۲۱۲] د يو نبي بې مثاله صبر

۳-(...)[۱] وعن ابن مسعود -رضي الله عنه- قال: [۲] «كأني أنظر إلى رسول الله -صلى الله عليه وسلم- يحكي نبيا من الأنبياء، [۳] ضربه قومه فأدموه [۴] وهو يمسح الدم عن وجهه ويقول: "[۵] اللهم اغفر لقومي فإنهم لا يعلمون» ". متفق عليه.

ترجمه: [۱] او حضرت ابن مسعود ﷺ بيان وکړ [۲] چې ګويا زه دا وخت هم رسول الله ﷺ وينم چې د يو داسي نبي قصه بيانوي او د هغه صورت مونږ ته ښايي [۳] چې خپل قوم او وهلي. [۴] او په وينو کې رنګ رنګ کې اليکن هغه نبي په خاى د دې چې خپل قوم سره بغض او نفرت کې اونخلي). [۵] او د هغوئ په حق کې بد دعاء وکړي. خپل مخ نه يې وينه وچوله او دابي وئيل ابلکي د صبر او تحمل لمن نيولو سره! [۵] اې الله خما قوم وبخښي داخلئ خما د حقيقت نه واقف نه دي (بخاري. مسلم)

حل اللغات: - ① فَأَدْمَوْهُ نو وينې وينې ئې کړو

تسهيلات: قوله يَحْكِي نَبِيًّا مِنَ الْأَنْبِيَاءِ

د نبي په مصداق کښې اقوال: ① ابن حجر ﷫ فرمائي چه يقين سره نه شي وئيلې کېدې چه دا نبي څوك وو؟

② د دې نبي نه مراد نبي آخرزمان محمدعربي ﷺ ذات بابرکات دې کله چه د احد په موقع باندې کافرانو په حضورپاك باندې حمله اوکړه اوهغوى وينې وينې کړو هغه وخت ئې د مخ نه وينې اوچولې اودا الفاظ ئې فرمائيل «اللهم اغفرلقومي فانهم لايعلمون» يعنې د دغه تکليف رسولو په وجه په هغوى باندې په دنياکښې فوري عذاب رانه شي علماء، ليکې چه دا راجع دى چه ددې نه د حضورپاك ذات مراد واخستې شي

③ بعضې رواياتو کښې دى چه دې نه حضرت نوح ﷺ مراد دې د هغه قوم به هغه دومره وهلو چه هغه به بې هوشه شو او په زمکه به راپريوتلو او په هوش کښې راتلو سره به ئې بيا دعوت ورکولو

قوله: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِقَوْمِي

د دعا محمل: يعنې اې الله زما قوم اوبخښې دوى نه پوهيږى دلته د مغفرت دعا د هغه قوم د ايمان اوهدايت دپاره هغه نبي غوښتلې ده چه اې الله دوى ته هدايت ورکړه دې دپاره چه د دوى ټول ګناهونه معاف شي

دا مطلب ئې نه دې چه په شرك اوکفرباندې د مرکيدونه پس د هغوى دپاره د مغفرت دعاغوښتلې شي.

---

[۱] اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب حديث الغار (رقم-۳۴۷۷) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب الصبر على البلاء (رقم-۴۰۲۵) واحمد في المسند: ۴۴۱/۱

[۵] بَابُ الرِّيَاءِ وَالسُّمْعَةِ

دَ رياكارئ او شهرت بيان

خلاصة الباب

فيه أربعة وعشرون حديثاً مشتملة على ثلاث مسائل:

① الاعتبار للقلب والنية: ۱، ۴، ۵، ۹، ۱۰، ۲۲، ۲۴.

② شناعة الرياء: ۲، ۳، ۵، ۶، ۱۱، ۱۲، ۱۳، ۱۴، ۱۶، ۱۷، ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۳.

③ فائدة العمل الخالص الرياء: ۴، ۱۵، ۱۸، ۲۱.

قوله الرِّيَاءِ:

د ريا لغوي معنى: دَ رياء معنى دا ده، خپل ځان دَخلقو په نظر کښې ښه کولو سره پيش کول. هم دې ته ځان خودل اورياء وائي

د ريا شرعي مطلب: دَ رياء مطلب دادې چه خپل عبادت کښې خلقو ته ځان خودل او دَ عبادت او نيکئ په ذريعه په خلقو کښې خپل قدروقيمت اومنزلت پيدا کول

د رياء کارئ محل: دَدې تفصيل نه معلومه شوه چه دَ رياکارئ تعلق دَ عباداتو او نيکو سره دې يعنې په ښه اعمالو کښې رياکاري کيږي

دنياوي امورو کښې خپل مهارت ښودل لکه په کرکټ وغيره کښې مقابله په امتحان کښې مقابله اوخوښودل نو په دې کښې خلقو ته ښودلو ته رياء نشي وئيلې بلکه دې ته فخر اونمائش اوتکبرونيلې شي

شاګرداومريدته د عمل ښودلوحکم: دغه شان بعضې مرشدين حضرات خپلو مريدانو ته ترغيب ورکولو اوشوق زياتولو په غرض سره بعضې اعمال ظاهره وي هغه هم په رياکارئ کښې نه راځي هم دَدې دَپاره وئيلي شوي دي "رياء الصديقين خير من إخلاص المريدين" دلته داخبره هم په خيال کښې ساتل پکاردي چه دَ رياکارئ عمل هغه عمل جوړيدې شي چه په چاکښې هغه عمل موجود وي او په هغه کمال باندې دغه سړې متصف وي اودغه ښه عمل دا سړې په خلقو کښې ځکه مشهورول غواړي چه دَدې په وجه د هغه قدر اومنزلت په خلقو کښې پيدا شي ليکن که په دغه سړي کښې دَنيکئ اوعبادت څه کمال موجود نه وي اوهغه هسې خپل ځان په خلقو کښې مشهوره وي نو دا رياکاري نه بلکه دهوکه فراډ اوصريح دروغ دې دا يو جدا جرم دې

د ريا دوه صورتونه: ① امام غزالي رحمه الله ليکلي دي ترکومې پورې چه مخلوق جماداتو، احجارو او اشجارو په درجه کښې اونه ګنړلې شي دَ رياکارئ نه بچ کيدل ګران دي او

ترکومې پورې چه خلق په نفع او نقصان کښې معذور او مجبور اونه ګنړلې شی نودې قلبی بیمارئی نه وتل ګران دی

② که یو سړی په اخلاص سره عبادت کوی اوبیا خلقو ته په څه طریقه سره خبر اوشی او په خلقو کښې دَ دې سړی ښه مشهورتیا اوشی او په دې باندې دا سړې خوشحال شی نودا ریاکاری نه ده بلکه دادَ دنیاوی بشارت یوه حصه ده اودَ نیکو اعمالو هغه بدله ده چه الله تعالی ئې ورته په دنیاکښې ورکوی سره دَدې چه بنده دا پټوی

دَ ریاکارئ څلور قسمونه: دَعبادت کولو او دَ ثواب حاصلولو نیت کولو په اعتبارسره دَ ریاکارئی څلورقسمونه دی

① **صرف د خلقودپاره عبادت کول**:دَ ریاکارئی دَ ټولو نه لوئی اوغټ قسم دادې چه یوسړې عبادت او ریاضت دَ الله تعالی دَ رضا او ثواب حاصلولو په ځائی صرف خلقو ته دَ خودنې او خپل قدر زیاتولو دَپاره کوی مثلاً په عام مجمع کښې اوږده اوږده مونځونه کوی اوکله چه ځان له شی نواوږد خوځه چه پخپله هغه مونځ ئې ورك شی په عام مجمع کښې کم خوراك کوی چه بادشاهانو او بااثرخلقوکښې دا ګمان پیدا شی چه دا ډیر پرهیزګاره سړې دې دَ ریاکارئی په دې قسم کښې دَ بعضې علماؤ داخیال دې چه دَدې سړی هیڅ یوعمل قبول نه دې بلکه دَده فرض هم نه اداکیږی داسړې صرف په ستړیوالی اومشقت کښې خپل ځان ساتی

خپل مونځ هم دوباره اوکړه:ګلستان کښې باباسعدیﷺ یوه قصه لیکلې ده چه یونیك سړې بادشاه سره په خوراك کښې شریك شو نوهغه بادشاه ته دَ خودلودَپاره ډیرکم خوراك اوکړو اوکله چه دَ مونځ وخت راغلو نوډیر اوږدمونځ ئې اوکړو بادشاه ونیل چه دا خو ډیر زاهد اوعابدسړې دې کله چه دا سړې کورته راغلو نوخوئې ته ئې اووئیل ما کم خوراك کړې دې خوراك راوړه خوئی ورته اووئیل چه ته خودَ بادشاه دعوت له تلې وې هلته دې خوراك اونه کړو؟ هغه ونیل بچیه ما کم خوراك اوکړو دې دَپاره چه دَ بادشاه په زړه کښې ځائی پیدا کړم خوئی ورته اووئیل باباجان چه ته کله خوراك دوباره خورې نو ته مونځ هم دوباره اوکړه ځکه چه دَ ریاکارئی دَ وجې نه ستا مونځ هم خراب شوې دې دَ ریاکارئی په دې قسم کښې عابد کس دَ ثواب نیت نه کوی بلکه نیت ئې دَ ځان خودلو وی [ګلستان سعدی: ۷۰حکایت: ۶]

② **د اخلاص په نسبت دریا کارئ غلبه**: دَ ریاکارئی دویم قسم دادې چه ریاکار سړې عبادت هم کوی او دَ ثواب نیت هم کوی مګر دې سره سره ځان هم ښائی لیکن دَ ځان خودلو او ریاکارئی اړخ غالب وی اودَ ثواب دَ نیت اړخ مغلوب وی که چرته ځان له وی نوکیدې شی چه عبادت هم اونه کړی دَدې قسم ریاکارئی حکم هم دَ رومبی قسم په شان

دې ځکه چه دَدې رياکار د نيکئي چه کومه جذبه ده دَ هغې علت او سبب هم رياکاري ده.

③ **د ريا او اخلاص برابري**: دَ رياکارئي دريم قسم دادې چه دَ رياکارئي او دَ ثواب دَحاصلولو جذبه دواړه برابر وي. په دې قسم کښې په ظاهره داسې معلوميږي چه نفع او نقصان دواړه به وي. دَ احاديثونه معلوميږي چه دا صورت هم ډير مذموم او قبيح دې او دا عمل هم ناقابل قبول دې.

④ **د اخلاص غلبه**: دَ رياکارئي څلورم قسم دادې چه دَ ثواب دَ حاصلولو او دَ الله تعالى دَ رضاء جذبه غالب وي ليکن ورسره معمولي شان رياکاري هم ورګډه وي. نو په دې صورت کښې خو به عمل باطل نه شي مګر که دا رياکاري دَعمل په شروع کښې راشي نو ډيره خرابه خبره ده او که چرته په مينځ کښې راشي نو لږه شان کمه بده خبره ده. دَ رياکارئي دا څلور قسمونه دي کوم چه بيان کړې شو.

دلته دَ رياکارئي جدا جدا اعتبارات دي مثلاً يا خو به رياکار دَ رياکارئي پخه اراده کړې وي نو دا ډيره خرابه خبره ده يا به ئې دَ رياکارئي اراده پخه نه وي بلکه دَخيال دَ حده پورې به وي دا ډيره کمه درجه ده. بهرحال رياکاري يو داسې خرابه بلا او داسې قلبي بيماري ده دکوم نه چه بچ کيدل ډير ګران دي.

قوله: وَالسُّمْعَةِ:

د سمعت څه مراد: په عنوان کښې دَ رياکارئي نه پس لفظ سمعة هم دې. دَسمعه تعلق دَ سماعت او غوږ سره دې نو دَ کومو نيکو اعمالو خودلو تعلق چه سترګو سره کيږي هغه ريا ده او دَ کوم تعلق چه دَ غوږونو سره وي هغه سمعه ده يعنى خپل درجه زياتولو دَپاره نورو خلقو ته قسم قسم اعمال اورولو سره مقام پيدا کوي چه خلق ده ته ښه سړې اووائي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[٥٣١٤] الله تعالى صورتونو او مالونو ته نه ګوري دَ زړونو اخلاص ته ګوري

٥٣١٤-(١)[١] ① عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ② قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "③ «إِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ إِلٰى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ ④ وَلٰكِنْ يَنْظُرُ إِلٰى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① حضرت ابوهريره ﷛ وايي، ② چې رسول الله ﷺ وفرمايل ③ الله ﷻ ستاسو صورتونو او مال ومتاع ته نه ګوري، [يعنى د هغه نظر رحمت وعنايت کې ستاسو د صورتونو او ستاسو د اموال هيڅ اعتبار نشته، ځکه چې د هغه په نزد نه خو د ښه يا بدصورت څه حيثيت شته، او نه د مال ومتاع دکمی يابيشي څه اهميت شته]، ④ بلکي

[١]) اخرجه مسلم فى كتاب الزهد والرقائق/باب من أشرك فى عمله غير الله (رقم-٤٦ - (٢٩٨٥) وابن ماجه فى كتاب الزهد/باب الرياء والسمعة (رقم-٤٢٠٢)واحمد فى المسند:٢٠١/٢

هغه ستاسو زړونو او ستاسو اعمال ته ګوري، ایعنی د هغه په نزد خو بس داشی کتل کیږي. چې ستاسو زړونو کې یقین او صدق او اخلاص وغیره شته یا نفاق او ریاء سمعه وغیره دغه شان د هغه په نزد د ښه او بداعمال اعتبار دی. چې د هغه مطابق هغه تاسو ته جزاء او سزاء درکوي ا (مسلم)

تسهیلات:

قوله : لَا يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ"

ظاهر ته نه کتل: یعنی الله تعالی صرف ظاهری شکل اوصورت اود انسان رنګ روغن جبې اوقبې ته نه ګوری اونه په دې ظاهری شکل اوصورت باندې د قبولیت او د عدم قبولیت فیصله کوی بلکه معامله دانسان د دننه کیفیاتو ده لکه چه اوس راځی

د ینظر څخه مراد: علامه ابن اثیر رحمه الله په خپل کتاب نهایه کښې لیکلی دی چه په دې حدیث کښې "لاینظر" او "ینظر" الفاظ د خوښې او ناخوښې، رحمت اوشفقت او اختیارولو اونه اختیارولو په معنی کښې دی. په دې مطلب سره ډیرزیات اعتراضات ختمیږی خلق وائی زړه صفا کیدل پکاردی د ظاهری شکل اوصورت هیڅ اعتبارنشته دې حالانکه حقیقت دادې چه کله دننه ټیک وی نوبهرهم ټیک کیږی. د ونې تکې شنې کیدو مدار په جرړو باندې دې که چرې جرړه خرابه شی نوپاڼې رژیږی او ونه اوچیږی

قوله : وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ"

اخلاص ته کتل: یعنی الله تعالی د زړه نیت اوجذبې د اخلاص، صداقت او صفائئی ته ګوری دغه د زړه حسد، کینه بغض اونفاق اوریارئی ته ګوری دغه شان الله تعالی د زړه ښه اوبد صفاتو اود هغې خیالاتو اواحساساتو اوجذباتو باندې فیصله کوی

[۵۲۱۵] د ریاکار د عمل مذمت

د-د-( )[۱] ۱ وَعَنْهُ، قَالَ: ۲ قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "۳ «قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ، ۴ مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي، ۵ تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ» ". وَفِي رِوَايَةٍ: " «فَأَنَا مِنْهُ بَرِيءٌ، هُوَ لِلَّذِي عَمِلَهُ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه : ۱ او حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي. ۲ چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل ۳ الله تعالی فرمایي زه د ټول شرکاء په اعتبارسره د شرک نه ډیر زیات بې نیازه یم ا یعنی د دنیا دستوردې چې خلق خپلو معاملاتو او کارو بار کې د یوبل د اشتراك او تعاون محتاج وي. او په خپلو کې یوبل شریك جوړیږي او هغوئ دې شرکت او تعاون باندې راضي او

[۱] اخرجه مسلم فی کتاب الزهد والرقائق/باب من أشرک فی عمله غیر الله (رقم ۴۶- - (۲۹۸۵) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الریاء والسمعة (رقم-۴۲۰۲) واحمد فی المسند:۳۰۱/۲

مطمئن وي. او په دې سلسله کې د هغوئ په منځ کې درې درجې مفاهمت وي. چې په هغوئ کې هريو شريك متعلقه معاملات او کارو بار کې خپل پوره عمل دخل لري. ليکن خما معامله بالکل جداګانه ده او زه على الاطلاق خالق او حاکم يم. خپل احکام، فيصلې او خپل نظام قدرت کې نه خو ماته د چا د تعاون او اشتراك حاجت او ضرورت شته او نه زه داغوارم چې خما بنده دې څوك زما سره شريك وګرځوي. او خما کېدونکي يو عمل کې دې خما نه علاوه بل څوك مد نظر وساتي. تر دې چې خما په نزد د هغوئ صرف د هغه عمل اعتبار دی. چې هغوئ خالص طور سره زما د پاره کوي. واضحه دې وي. چې د الله ﷻ خپل ذکر د شرکاوو په ضمن کې کول يعنې خپله ځان د يو شريك په ذريعه تعبير کول محض د هغه بنده ګانو د اعتبار نه دی. چې د خپل جهل او ناداني په وجه د هغه ذات وصفات او د هغه عبادت کې څوك دويم ورسره شريکول. او دغه شان هغوئ الله ته هم د يو شريك درجه ورکوي نعوذ بالله د دې نه پس بيا الله دې خبرې سره د خپلې بې نيازي. او ناخوښي اعلان وفرمايه. چې څوك دې د هغه شريك وګرځول شي. نو ارشاد وشوا. [۴] چې کوم سړی خما د اطاعت او عبادت په طور څه داسې عمل وکړي. چې په هغه کې زما سره څوك دويم شريك کړي.[۵] نو زه هغه سړي او دهغه شرك سره پرېږدم [او په يوه روايت کې ترکته وشرکه. په ځای دا الفاظ دي. فانا منه برئ هو للذي عمله. يعنی کوم سړی چې خما عبادت کې څوك دويم شريکوي. نو زه د هغه نه خپله بې نيازي او بيزاري ظاهروم هغه سړی يا د هغه هغه عمل د هغه د پاره دی د چا د پاره چې هغه هغه عمل کړی دی] (مسلم)

حل اللغات:- ① أَغْنَى: ډېر زيات بې نيازه.

تسهيلات:

قوله: أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ.

د مذکوره جملې مفهوم: يعنی زه دَ شرك په معامله کښې دَ ټولو شريکانو نه ډېر زيات بې نيازه يم. دلته شرکاء په معنی دَ مشارکت دی کومه چه مصدری معنی ده مطلب دادې چه زه دَ شرك او مشارکت په معامله کښې دَ ټولو شريکانو نه بالکل بې نيازه او ويزاره يم زه خالق اومالك يم. زما په ذات اوصفاتو کښې هيڅوك شريك کيدې نه شی کوم سړې چه په يوعبادت کښې په توګه دَ رياکارئی ماسره څوك شريك کوی زه هغه سړې دَ هغه دَعمل سره ديکه کوم اوس رياکار سړې دې خپل ثواب دَ الله تعالى نه نه غواړی بلکه دَ چادَپاره چه ئی هغه عمل کړې دې هم دَهغه نه دې خپله بدله غواړی کله چه دې رياکار دغه کار دَ الله تعالى دَپاره نه دې کړې نو الله تعالى به هغه ته څه ورکړی او ولې به ئی ورکوی.

قوله : تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ

د ریاء کار اوریا څخه دالله تعالی بیزاری: د واؤ حرف دمع معنی کښې دې یعنی ریاکارسړی او د هغه ریاکاری کوم چه شرك اصغردې دواړه پریږدم دا عمل هم دهغه دپاره دې د چا دپاره چه هغه کړې دې لهذا هم دهغه نه دې خپله بدله واخلی زه د دغه عمل نه ویزاره یم

[٥٢١٦]ذَریا او شهرت والا عمل یا ندې سخت وعید

٥٣١٦-( )[٣١] [١] وَعَنْ جُنْدُبٍ، قَالَ: [٢] قَالَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " [٣] «مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ، [٤] وَمَنْ يُرَائِي يُرَائِي اللَّهُ بِهِ» ". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه :[١] او حضرت جندب رضي الله عنه وایي، [٢] چې رسول الله ﷺ وفرمایل [٣] کوم سړی چې خلقو ته اورولو او شهرت حاصلولو د پاره څه عمل کوي نو الله ﷻ به د هغه حال خلقو ته واوري. ایعنی د قیامت په ورځ به یي د خلقو مخکښې د هغه عیوبو سره ذلیل او رسواء کړیا. [٤] او کوم سړی چې د خلقو د ښوونې د پاره څه عمل کوي، نو الله ﷻ به هغه ته د ریاء کاري سزا ورکړي ایعنی د قیامت په ورځ به هغه ته وایي، چې خپل اجر او ثواب د هغه نه وغواړه د چا د پاره چې تا عمل کړی وو]. (بخاري، مسلم)

حل اللغات: - ① سَمَّعَ: اورول اوکړی. (یعنی ریا دپاره څه عمل اوکړی چه خلق ئې تعریف اوکړی)
② يُرَائِي: ریا اوکړی (یعنی خلقو ته د خودنې دپاره څه عمل اوکړی).

تسهيلات:

قوله : مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ،

خپل قولی عمل یل ته د ښودلوسزا: یعنی کوم سړې چه دخلقو د اورولو اوخودلودپاره اوشهرت حاصلولو دپاره کوم یو عمل کوی نو الله تعالی به د قیامت په ورځ دهغه عیبونه رانبکاره کړی او د هغه پټ احوال به خلقو ته ښکاره کړی اوهغه به رسوا کړی دغه شان چه کوم سړې د خودنې په غرض څه عمل کوی الله تعالی به د قیامت په ورځ هغه سړې د ټولو خلقو مخکښې نه راولی او ورته به ئی ښائی چه دې سړی داعمل د فلانکې دپاره کړې وو اوس ماسره د ده هیڅ ثواب نشته دې دې دې خپل ثواب دهغه سړی نه حاصل کړی د چادپاره چه ده دا عمل کړې وو دادَ ناکامئی او رسوائیئی دیرزیات لوئی صورت دې.

---

[1] اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب الرياء والسمعة (رقم-٦٤٩٩) ومسلم في كتاب الزهد والرقائق/باب من أشرك في عمله غير الله (رقم-٤٨ - (٢٩٨٧) والترمذي في كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في الرياء والسمعة (رقم-٢٣٨١) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب الرياء والسمعة (رقم-٤٢٠٧) واحمد في المسند: ٤٠/٣

[٥٣١٧] د يو نيک عمل په وجه پخپله مشهوريدل رياء نه ده

٥٣١٧-() [٣] ١ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ «قِيلَ لِرَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: ٣ أَرَأَيْتَ الرَّجُلَ يَعْمَلُ الْعَمَلَ مِنَ الْخَيْرِ وَيَحْمَدُهُ النَّاسُ عَلَيْهِ ٤ وَفِي رِوَايَةٍ: يُحِبُّهُ النَّاسُ عَلَيْهِ. قَالَ: "تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ»". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي، ٢ رسول الله ﷺ نه چا پوښتنه وکړه ٣ ماته د هغه سړي باره کې وښايه، چې يو نيک کار کوي او د هغه په وجه خلق د هغه تعريف او توصيف کوي ٤ او په يوه روايت کې دي چې خلق د هغه تعريف او توصيف کوي (دي نه پس داهم دی چې او هغه خلق هغه سره محبت کوي د داسې سړي څه حکم دی. د هغه اجر او ثواب کالعدم کېږي يانه)، ٥ حضور ﷺ ددي سوال په اوريدو سره وفرمايل درحقيقت د هغه مؤمن په حق کې دنياوي پيدا کيدونکی بشارت دی (چې د خلقو د هغه سړي تعريف او توصيف کول، او هغه محبوب ګرځول). (مسلم)

حل اللغات:- ١ عَاجِلُ: جلتې سره، ډير زر (يعنی په دنيا کښې).

تسهيلات:

قوله تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ:

د بشارت دوه قسمونه: ١ يو سعادت او بشارت هغه دې کوم چه باقی دې او په آخرت کښې به ملاويږي ٢ دويم سعادت او بشارت هغه دې کوم چه زرهم په دې دنيا کښې ملاو شوي دي.

دعمل د قبوليت نښه: حاصل دادې چه الله تعالی دَعمل په برکت سره دَ خلقو په زړونو کښې محبت اچولې دې چه دَ خلقو ژبې دَ هغه دَ نيکئی تعريفونه کوی او دَ هغه په حق کښې دَ خلقو دا معامله لکه چه دَ دې خبرې بشارت دې چه دَ هغه دغه نيک عمل دَ نيکئی قبول شو او په آخرت کښې به ثواب ملاويږي.

دحديث مطلب: لکه چه حضورپاک دَ دې ارشاد په ذريعه دا واضح کړه چه دَ دغه کس هغه نيک عمل کړی دَ کوم په وجه چه هغه دَ دنيا والو په نظر کښې دَ احترام قابل او محبوب جوړ شوي دې هغې ته به ريا نه شی وئيلې.

١) اخرجه مسلم فی کتاب البر والصلة والآداب/باب إذا أثنى على الصالح فهي بشرى ولا تضره (رقم-١٦٦ - (٢٦٤٢) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الثناء الحسن (رقم-٤٢٢٥) واحمد فی المسند:٣/٤٦٦

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۳۱۸] د رياکار دپاره سخت وعيد

۵۳۱۸-( )[د] [۱] عَنْ أَبِي سَعْدِ بْنِ أَبِي فَضَالَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: " [۲] «إِذَا جَمَعَ اللّٰهُ النَّاسَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِيَوْمٍ لَا رَيْبَ فِيهِ [۳] نَادَى مُنَادٍ: [۴] مَنْ كَانَ أَشْرَكَ فِي عَمَلٍ عَمِلَهُ لِلّٰهِ أَحَدًا [۵] فَلْيَطْلُبْ ثَوَابَهُ مِنْ عِنْدِ غَيْرِ اللّٰهِ [۶] فَإِنَّ اللّٰهَ أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ» ". رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [۱] حضرت ابو سعيد ابن ابي فضاله ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت کوي چې حضور ﷺ وفرمايل [۲] هرکله چې الله د قيامت په ورځ چې د هغه په راتلو کې هيڅ شك او شبه نشته خلق حساب او کتاب د پاره راجمع کړي. [۳] نو يو اعلان کونکي فرشته به دا اعلان وکړي [۴] چې کوم سړی په خپل هغه عمل کې چې هغه د الله د پاره کړی وو [۵] د الله نه سواء بل څوك يي ورسره شريك کړی وي (يعنی کوم سړی چې په دنيا کې د رياء په طور څه نيك عمل کړی وي. نو هغه ته پکار دی چې هغه د خپل هغه عمل ثواب د هغه غير الله نه طلب کړي، کوم چې هغه شريك کړی وو)، [۶] ځکه چې الله ﷻ د شرك نه د ټولو شريکانو په نسبت ډير زيات بې نيازه دی (احمد)

حل اللغات:- مُنَادٍ آواز کونکي. (يوه فرشته)

تسهيلات:

قوله يَوْمَ الْقِيَامَةِ لِيَوْمٍ لَا رَيْبَ فِيهِ

د قيامت په ورځ د خلقو راجمع کيدل: کله چه الله تعالی ټول خلق دَ هغه ورځ دَ پاره راجمع کړی دَ کومې راتلل چه يقيني دی او دَ هغه ورځ په راتلو کښې څه شك شبه نشته دې او دا راجمع کول به دَ دې دَ پاره وی چه هر يو کس ته دَ هغه دَعمل مطابق جزا او سزا ورکړی کوم چه هغه په دنياوی ژوند کښې اختيار کړې وو

[۵۳۱۹] رياکار به حقير او ذليل وی

۵۳۱۹-( )[۲] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- [۲] أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: " [۳] «مَنْ سَمَّعَ النَّاسَ بِعَمَلِهِ [۴] سَمَّعَ اللّٰهُ بِهِ [۵] أَسَامِعَ خَلْقِهِ [۶] وَحَقَّرَهُ وَصَغَّرَهُ» ". رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [۱] او حضرت عبد الله بن عمرو ﷺ نه روايت دی، [۲] هغه د رسول الله ﷺ نه دا واوريدل. [۳] کوم سړی چې خپل عمل ته د خلقو په منځ کې شهرت ورکوي، نو الله ﷻ به

[۱] اخرجه الترمذي في السنن كتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الكهف (رقم- ۳۱۵۴) واحمد في المسند: ۴۶۶/۳

[۲] اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۶۸۲۱ واحمد في المسند: ۱۶۲/۲

د هغه دارياء كارانه عمل د خپل مخلوق غوږونو ته ورسوي. ايعنى كوم سړى چې څه نيك كار كولو سره خلقوته دا واوروي چې هغه داكار كړى دى. او د هغه په ذريعه د هغه مقصد شهرت او عزت حاصلول وي! [٢] نو الله ﷻ به د هغه هغه رياكاري ښكاره كړي. [٥] او د خلقو غوږونو ته به داخبره ورسوي اچې داسړى رياكار او غير مخلص دى!. [٦] او د قيامت په ورځ به هغه رسواء كړي. او په دنيا او آخرت كې به بې ذلت او خوارۍ سره مخامخ كړي. دا روايت د بيهقي رحمه الله په شعب الايمان كې نقل كړى دى

حل اللغات: - ① سَمَّعَ: دَ باب تفعيل نه دماضى صيغه ده چه د اورولو په معنى كښې دې ② حَقَّرَهُ: رسوا او سپک به ئې كړى ③ صَغَّرَهُ: ذليل او خوار به ئې كړى

تسهيلات:

قوله: أَسَامِعَ خَلْقِهِ:

د أَسَامِعَ د صيغې تحقيق: دا جمع الجمع ده چه دَ اَسْمَعَ جمع ده او اَسْمَعْ دَ سَمْعَ جمع ده او سَمْعَ دَغوږ

معنى كښې استعمال شوي دې لكه أكالب واكلب وكلب چه دې دې نه مراد دَخلقو غوږونه اودَ اوريدو طاقت دې

د حديث مطلب: الله تعالى به دَ خلقو دَ غوږونو نه دَ دغه سړى رياكارى اومكارى عيارى او دعارى او شطارى رسولو سره واوروى. دكوم نتيجه چه به دا شى چه داسړي به ذليل اوخوار شى دكوم تفصيل چه ددې حديث په آخرى كلماتو كښې بيان كړې شوې دې چه حقره وصغره

[٥٣٢٠] د نيت داخلاص اوعدم اخلاص اثر

٥٣٢٠-(١)[٤] [١] وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- [٢] أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: " [٣] «مَنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ طَلَبَ الْآخِرَةِ جَعَلَ اللَّهُ غِنَاهُ فِي قَلْبِهِ، [٤] وَجَمَعَ لَهُ شَمْلَهُ، [٥] وَأَتَتْهُ الدُّنْيَا [٦] وَهِيَ رَاغِمَةٌ، [٧] وَمَنْ كَانَتْ نِيَّتُهُ طَلَبَ الدُّنْيَا [٨] جَعَلَ اللَّهُ الْفَقْرَ بَيْنَ عَيْنَيْهِ، [٩] وَشَتَّتَ عَلَيْهِ أَمْرَهُ، [١٠] وَلَا يَأْتِيهِ مِنْهَا إِلَّا مَا كُتِبَ لَهُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او دحضرت انس رضي الله عنه روايت دى، [٢] چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [٣] د كوم سړي نيت چې محض د آخرت طلب وي. نو الله ﷻ به د هغه زړه غني كړي. [٤] او د هغه پريشاني جمع كولو سره اطمينان خاطر ورته وبخښي [٥] او هغه ته به دنيا راځي. [٦] په داسې حال كښې چې دنيا په ذليله ده ته راځي [٧] او د كوم سړي نيت او اصل مقصد چې د دنيا طلب وي. ايعنى كوم سړي باندې چې دنيا ددې حده پورې سپره شي. چې هغه

(١) اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم باب (رقم-٢٤٦٥) وابن ماجه في كتاب الزهد باب الهم بالدنيا (رقم-٤١٠٥)

خپل اعمال خیر هم محض د دنیا د حصول واسطه جوړول شروع کړیا، [۸] نو الله ﷻ د هغه فقر او احتیاج د هغه د سترګو په مخکې پیش کوي. [۹] نو الله ﷻ هغه د خلقو مخکې د لاس خورولو په ذلت او خوای کې مبتلا کوي. [او دهغه خپل فقرو افلاس او محتاجي د هغه د سترګو مخکې وي. او هغه په هره معامله کې د ذهني انتشار او تفکراتو ښکار ويا، [۱۰] او هغه ته بس دومره حاصلیږي، څومره چې الله د هغه د پاره مقدر کړي وي. [یعنی ددې سړی کارونه دومره متشتت وی چی دهغو په وجه به حیران او سرګردان وی. او هغه ته هغه رزق خو ضرور رسیږي کوم چی دهغه مقدر کی دی. خو دهغه حصول دپاره هم هغه ته سخت محنت او مشقت اوپریشانی برداشت کول ويا] ترمذي

حل اللغات: - ① غِنَاهُ بې پرواهی، مالداری، یعنی محتاجی به نې لرې کړی. ② شَمْلَهُ: اجتماعیت. یعني رعب او دبدبه. ③ رَاغِمَةٌ: ذلیل.

۵۳۲۱ - (¹) [۱] وَرَوَاهُ أَحْمَدُ، وَالدَّارِمِيُّ عَنْ أَبَانَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ.

ترجمه: [۱] او احمد او دارمي دا روایت دابان ﷫ نه او هغه د زید بن ثابت نه نقل کړی دی

حل اللغات: شَمْلَ دا دَ شمل جمع ده په معنی دَ حاجت یا عادت

تسهیلات:

قوله وَجَمَعَ لَهُ شَمْلَهُ،

دحدیث مطلب: الله تعالی دَ اخلاص والو ته دَ زړه استغنا هم ورکوی او دَ هغه ګډوډ حاجتونه هم راجمع کوی او په کورکښې په ناسته ناسته (په سهولت) سره دَهغه ټول ضرورتونه پوره کیږی دنیا او دنیادار ټول دَ ده ته خادمان جوړیدو سره راځی کما في الحدیث «من کان لله کان الله له»

[۵۳۲۲] دآخرت په نیت سره دَ نیکئ په شهرت باندې خوشحالیدل ریاکاری نه ده

۵۳۲۲ - (²) [۱] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] «قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! [۳] بَيْنَا أَنَا فِي بَيْتِي فِي مُصَلَّايَ، [۴] إِذْ دَخَلَ عَلَيَّ رَجُلٌ، [۵] فَأَعْجَبَنِي الْحَالُ الَّتِي رَآنِي عَلَيْهَا، [۶] فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۷] رَحِمَكَ اللَّهُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ! لَكَ أَجْرَانِ: [۸] أَجْرُ السِّرِّ وَأَجْرُ الْعَلَانِيَةِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهریره ﷛ وایي، [۲] یوه ورځ ما عرض وکړو؟ یارسول الله [۳] ما خپل کورکي مصلي باندې مونځ کوی. [۴] چې هغه وخت ناڅاپه یو سړی ماته راغلی [۵] ماته

¹) واحمد فی المسند: ۱۸۳/۵

²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب عمل السر (رقم-۲۳۸٤) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب الثناء الحسن (رقم-٤٢٢٦)

دي خبري سره خوشحالي حاصله شوه چې هغه زه د مانځه په حالت کې وليدم.[نو آيا هغه وخت ځما خوشحاليدل به رياء کې شمار وي يانه؟! ٦ رسول الله ﷺ راته وفرمايل ٧ اې ابوهريره په تادې د الله رحمت وي، ته د دوو ثوابونو مستحق شوي ٨ يو خو د پټ او دويم د ښکاره کيدو، امام ترمذي دا روايت نقل کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی

حل اللغات:- ① السِّرِّ: پټ، ② العَلَانِيَةِ: ښکاره

تسهيلات:

قوله: فَأَعْجَبَنِي الحَالُ·

دريا په باره کښې دصحابي تپوس: يعنی زه په کورکښې په پټه توګه مونځ کوم ليکن دډې نيکئی په حالت کښې کله ماته څوك ګوری نوزه خوشحاليږم آيا دا رياکاری خونه ده؟

د دوو اجرونوملاويدل: حضورپاك په جواب کښې اوفرمائيل چه دا رياکاری نه ده بلکه په دې باندې به دوه اجرونه ملاويږی

① يو اجر خو په پټه توګه باندې دَ مونځ کولو دَ وجې ملاويږی

② دويم اجر به په دې ملاويږی چه ته دَخپل عبادت په حالت باندې خوشحال شوې په عبادت باندې خوشحاليدل هم عبادت دې. يو روايت کښې دی أجرالسروأجرالعلانية دوارو مفهوم نيزدې نيزدې دی.

[٥٣٢٢] دَرياکاردينداردَپاره سخت وعيد

٥٣٢٢ -() [٩] ١ وَعَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٢ " «يَخْرُجُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ رِجَالٌ يَخْتِلُونَ الدُّنْيَا بِالدِّينِ، ٣ يَلْبَسُونَ لِلنَّاسِ جُلُودَ الضَّأْنِ مِنَ اللِّينِ، ٤ أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ السُّكَّرِ، ٥ وَقُلُوبُهُمْ قُلُوبُ الذِّئَابِ، ٦ يَقُولُ اللهُ: أَبِي يَغْتَرُّونَ أَمْ عَلَيَّ يَجْتَرِئُونَ؟ ٧ فَبِي حَلَفْتُ لَأَبْعَثَنَّ عَلَى أُولَئِكَ مِنْهُمْ فِتْنَةً ٨ تَدَعُ الْحَلِيمَ فِيهِمْ حَيْرَانَ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٢ زه تاسو ته ښايم په آخره زمانه کې به داسې خلق هم پيدا شي چې د دين په بهانه د دنيا طلبګار وي ايعنی د دين او اخروي اعمال په ذريعه به دنيا ګټي او چاپلوسي او اظهار تواضع د مخه به[٣ خلقو باندې اثر پريوتلو د پاره د پسونو د څمړی لباس اغوندی [چې خلق ورته عابد او زاهد، د دنيا د نعمتونو نه بې پروا او د آخرت طلبګار ګڼلو سره د هغوئ مريد او معتقد شي[، ٤ د هغوئ ژبې به دشکري نه زياتي شيريني وي، ٥ ليکن د هغوئ زړونه به د

---

¹) اخرجه الترمذي في السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٤٠٤)

شرمخانو د زړونو په شان وي ايعنی د هغوئ خبري به ډيري خوشگواري او نرمي نه ډکي وي د هغوئ تقرير او گفتگو اوريدو سره به خلق داگني چې دا زمونږ ډير همدرد او خير خوا او غم خوار دوستان دي. او د هغوئ په زړونو کې د دين وملت ډير درد دي ليکن حقيقت به داوي چې دخپل ذاتي اغراضو او منافعو د پاره دوستي دښمني کوي او اهل تقوی او ددين او ملت حقيقي خدمتگاروته به نقصان او تکليف رسوي. او تورو بهيمانه او حيواني خصلتونو کې به د هغوئ زړونه د شرمخ د زړه په شان سخت او شقي وي[٦] الله ﷻ داسې خلقو ته تنبيه کولو د پاره فرمايي آيا داخلق زما طرف نه په مهلت ورکولو باندې او وخت ورکولو په سبب مغرور شوی دی. او دهوکه کې مبتلا دی ايعنی آيا دوئ دي غلط فهمي کې مبتلا دي. چې زه د دوئ معين او مددگار يم او په دي دنيا کې چې دوئ ته کومي کامرانی او کاميابی نصيب دي، هغه په دوئ څما د رحمت نازليدو په بناء دي؟ آيا دوئ ته معلومه نه ده چې مونږ دي قسم خلقو ته دغه شان مهلت ورکوو. يا دي ځی کې د اغتراء نه مراد د الله ﷻ نه نه ويريدل او خپل بد افعال نه توبه نه او خکل دي په دي صورت کې د يَغتَرُّونَ، معنی به داوي چې داخلق څما د غضب او عذاب نه نه ويريږي. او يا څما په مقابله کې په دوئ کې دومره جرات پيدا شوی دی چې د اعمال صالحه په ذريعي او د دين په نوم خلقوته دهوکه ورکولو سره گويا څما مخالفت باندې کلک ولاړ دی[٧] نو زه خپل قسم اخلم، چې زه به يقينًا په دي خلقو فتنه او بلامسلط کړم. ايعنی دي خلقو نه به داسې امراء او حکام او داسې افراد. او ډله بندي متعين کړم. چې دوئ به په آفاتو او مصائبو او قسم قسم نقصان او ضرر کې مبتلا کړي. او هغه آفات او مصائب به داسې وي‌ا چې لوی نه لوی دانشور او عقلمند سړی به هم هغه آفات او مصائب لري کول. [اودهغه خطرناك حالت نه ځان کهولاؤول] او د هغه په سلسله کې څه مناسب او موزون اقدام او کاروايي کولو نه] عاجز او حيران کړي (ترمذي)

حل اللغات:- ① يَخْتِلُونَ: دا صيغه د باب ضرب يضرب نه ده دهوکه ورکولو سره د يوخيز حاصلولوته خَتَلٌ وائی ② يَلْبَسُونَ: اغوندی. ③ جُلُودَ: څرمن. ④ الضَّأْنِ: گډ. ⑤ اللِّينِ: دخود غرضئ دپاره عاجزی چاپلوسی او تواضع کوی ⑥ أَحْلَى: ډيري خوږې. ⑦ السُّكَّرِ: شکر. چينی. ⑧ الذِّئَابِ: د ذئب جمع ده شرمخ. ⑨ يَغْتَرُّونَ: په دهوکه کښې پريوتل داخلق. ⑩ يَجْتَرِئُونَ: په ما باندې اوچت اوچت راځی. جرأت کوی ⑪ حَلَفْتُ: قسم کوم. ⑫ الْحَلِيمَ: عقل مند هوښيار بوج وجتونکې. ⑬ حَيْرَانَ: پريشان

تسهیلات:

قوله: رِجَالٌ يَخْتِلُونَ الدُّنْيَا بِالدِّينِ"

د حدیث مطلب: مطلب دادې چه دین دَ دنیا دَ حصول ذریعه جوړول او په هغې کښې هم دَ دهوکې نه کار اخستل چه دَ ریاکارئی پیرې جامې اختیارکړی بلکه دګډو چیلودَ څرمنونه لباس جوړولو سره واغوندی دې دَپاره چه خلق پرې دَ زاهد اوتارك الدنیا ګمان اوکړی ژبه دَ شاتونه زیاته خوږه کړی دې دَپاره چه خلق پرې ګمان اوکړی چه زبردست اخلاقو والا دې. خوږې خبرې کوی حالانکه دَ هغه زړه دَ لیوه اوشرمخ دَ زړه په شان سخت سنګین وی.

قوله: تَدَعُ الْحَلِيمَ فِيهِمْ حَيْرَانَ،

د سزا په طور دظالم حکمران مقرر کول: یعنی دَ ظالم حکمرانانو په صورت کښې کوم چه به هم دهغوی نه وی. په هغوی باندې به داسې قهراوغضب نازل کړم چه دا ریاکارخلق به دَخپلې غارې خلاصولودَپاره خپې لاسونه وهی مګر دَ خلاصی لار به نه بیامومی اوخوار او ذلیل به پاتې شی.

[٥٣٢٤] خوږه ژبه او سخت زړه والا خلق

٥٣٢٤ - ()[١٠] ① وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا -، عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " ② «إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَالَ: ③ لَقَدْ خَلَقْتُ خَلْقًا أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ السُّكَّرِ، ④ وَقُلُوبُهُمْ أَمَرُّ مِنَ الصَّبِرِ، ⑤ فَبِي حَلَفْتُ لَأُتِيحَنَّهُمْ فِتْنَةً تَدَعُ الْحَلِيمَ فِيهِمْ حَيْرَانَ، ⑥ فَبِي يَغْتَرُّونَ أَمْ عَلَيَّ يَجْتَرِئُونَ» ؟ ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: ① او حضرت ابن عمر ﷺ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي، حضور ﷺ وفرمایل ② الله تبارك وتعالی فرمایې: ③ ما یو داسې مخلوق پیدا کړی دی، چې د هغوئ ژبې د شکر نه زیاتې شیریني وي ④ او د هغوئ زړونه به مصبر (دیو بوټی وی چی په رنګ تور او ډیر زیات تریخ وي صبر دارو) زیات تریخ وی ⑤ نو زه خپله قسم اخستو سره وایم، چې زه به په هغوئ یقینًا داسې بلاګانې نازلې کړم چې لوی لوی دانشور. عقلمند سړی به هم حیران او عاجزه پاتې کړي ⑥ نو آیا دا خلق ماته دهوکه راکوي، یا په ما باندې جرات او زړورتیا د لرې نه بنایي. ترمذي دا حدیث نقل کړی دی، او فرمایلي یي دي چې دا حدیث غریب دی.

حل اللغات: - ① أَمَرُّ: دَ مرارة نه دې یعنی زیات تریخ او تریو. ② الصَّبِرِ: یوه ترخه ونه ده په اردوکښې "ايلوا" وائی، پښتو کښې ورته مصبر وائی. ③ حَلَفْتُ: قسم خورم. ④ لَأُتِيحَنَّهُمْ: دَ إتاحة نه دې مقرر کولو او مسلط کولو په معنی کښې دې.

[١] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الزهد عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-٢٤٠٤)

تسهیلات:

قوله: أَلْسِنَتُهُمْ أَحْلَى مِنَ السُّكَّرِ"

ظاهري اخلاق او منافقت: يعنی داخلق به منافقان او ملحدان وی ژبه خو به ئی ډیره خوږه وی دپیغمبرانو والا خبرې به کوی مګر د کردار اوعمل په اعتبارسره به دهغوی زړونه دغلطو عقیدو او غلطوسوچونونه ډك وی

قوله: تَدَعُ الْحَلِيمَ فِيهِمْ حَيْرَانَ

عقل مند هوښیار اوبوج اوړونکی سړی ته حلیم وئیلې شوې دې مطلب دا چه دغه ریاکار منافق او بدکرداره خلقوعیارئی مکارئی او بدکردارئی ته کتلوسره به سنجیده او باوقار خلق هم حیران ګوته په خله پاتې شی دداسې خلقو دپاره په دی حدیث کښې اودې نه مخکښې حدیث نمبر ۹ کښې سخت وعید دې

[٥٣٢٥] د میانه روی فضیلت

٥٣٢٥-( )(٣) [١] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٢] "«إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ شِرَّةً، [٣] وَلِكُلِّ شِرَّةٍ فَتْرَةً، [٤] فَإِنْ صَاحِبُهَا سَدَّدَ وَقَارَبَ فَارْجُوهُ، [٥] وَإِنْ أُشِيرَ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ فَلَا تَعُدُّوهُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوهریره وايي چی رسول الله ﷺ وفرمایل. [٢] هرشي د پاره حرص او زیاتوب دی، [٣] اوبیاد هرحرص او زیاتوب د پاره سستي او سپکاوی دی [٤] که عمل کونکی میانه روی نه کار واخستی او د اعتدال نزدې وو او دغه شان هغه افراط وتفریط یعنی کمی زیاتي نه پرهیز وکی نو د هغه باره کې امید لرې چې هغه به خپل مراد پیدا کې [٥] او که د هغه طرف ته په ګوتو سره اشاره وشوه. (معنی هغه طاعت او عبادت او اورادو او د وظائفو په مشغولیت او دنیاوي نعمتونوترك کولو کې په دي وجه مبالغه او کثرت اختیار کی چې خلقو کې عابد او زاهد مشهور شي، او بیا هغه په خلقو کې عابد او زاهد مشهور هم شوا، خو تاسو هغه عابد او زاهد او صالح مه شمیرئ اخکه چې درحقیقت د ریاکارو نه دی) (ترمذي)

حل اللغات: - ① شِرَّةٌ: د تیزئ چالاکئ او تازګئ په معنی کښې دې ② فَتْرَةٌ: د فتور نه دې سستئ ته وائی ③ سَدَّدَ: اعتدال یعنی برابری ئې اختیار کړه. ④ قَارَبَ: میانه روی اختیارول ⑤ فَارْجُوهُ: د هغه د کامیابئ امید لرئ ⑥ فَلَا تَعُدُّوهُ: مه ئې شمیرئ

( ) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب منه (رقم ٢٤٥٣) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب التوقی علی العمل (رقم-٤٢٠١)

تسهيلات:

قوله: وَلِكُلِّ شِرَّةٍ فَتْرَةٌ،

په ابتداء کښې د يو څيز تيزي: مطلب دا چه کوم يو تحريك يا جماعت کله چه په شروع کښې راپيدا کيږي نو په ډيره تيزئي او تازګئي سره کارکوي دغه شان چه کله انسان په شروع شروع کښې په څه عبادت کښې لګياشي نو ډيره تيزي او چستي ښائي مګر څه موده پس هم دغه خلق او دهغوی تحريکونه سست شي څکه چه د عروج نه پس زوال فطري قانون دي لکه چه په شروع کښې افراط وي او په انتهاء کښې تفريط راځي په دغه دوران کښې رياکاري خامخا شامليږي. په دې حديث کښې دَ سدد او قارب الفاظو سره حضور پاك دَ ميانه روئي او دَ اعتدال تعليم ورکړې دې

قوله: وَإِنْ أُشِيرَ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ،

بعضې تعريفونه سبب د هلاکت وي: يعنې دَ شهرت او نمائش مقام ته اورسيدو او خلقو په ګوتو سره دَهغه طرف ته اشارې کول شروع کړې چه واه واه روان دې فلانکې دې او فلانکې داسې دې اوهغه شان دې. دا اشارې چه څنګه په ګوتو سره کيږي دغه شان د ژبې په نعرو سره هم کيږي. بل دا چه څنګه دا اشارې دَدنيا دَ دولت او دَمنصبونو دَ وجې کيدې شي دغه شان دَ دين او ديندارئی په حوالې سره هم کيدې شي دا اشارې څکه مذموم دی چه په دې سره کله انسان دَ شان شوکت، دَ رياکارئی او تکبر او دَ اقتدار په چکر کښې پريوځي

قوله: فَلَا تَعُدُّوهُ.

د مذکوره سړي عدم اعتبار: يعنې دا قسم سړې په دينداری او دنيادارئی يوه درجه کښې هم مه شميرئی که دې دَ آخری انجام پورې هم په دغه حالت باندې پاتې شو نو دا تباه حال او برباد سړې دې او که چرې توبه اوکړی او دَ دغه حالت نه اوځی نو هغه جدا خبره ده راتلونکې حديث نمبر ۱۲ کښې دَدې نور وضاحت دې

[۵۳۲٦] دَمشهورتيا ژوند سره خطرات

۵۳۲٦- (۱) [۱۲] ⟨۱⟩ وَعَنْ أَنَسٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: ⟨۲⟩ "«بِحَسْبِ امْرِءٍ مِنَ الشَّرِّ ⟨۳⟩ أَنْ يُشَارَ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ فِي دِينٍ أَوْ دُنْيَا ⟨۴⟩ إِلَّا مَنْ عَصَمَهُ اللّٰهُ» "رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: ⟨۱⟩ او حضرت انس ﷺ د رسول الله ﷺ نه نقل کوي. رسول الله ﷺ وفرمايل. ⟨۲⟩ د انسان دبدي د پاره دومره کافي ده، ⟨۳⟩ چې د دين يا دنيا د اعتبار نه هغه طرف ته په ګوتو سره اشاره وشي. ⟨۴⟩ خو دا چې الله ﷻ څوك محفوظ وساتي نو هغه محفوظ شي. بيهقي

۱) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ٦٩٧٨

په شعب الايمان کی نقل کړی دی.

حل اللغات:- ① بِحَسْبِ امْرِئٍ: د انسان دبدئ د پاره دومره کافی ده.

تسهيلات:

قوله: بِحَسْبِ امْرِءٍمِنَ الشَّرِّ أَنْ يُشَارَ إِلَيْهِ بِالْأَصَابِعِ

د دنياوي شهرت اوتباهي: دَ دنياوي شهرت حاصلولو په غرض يو کار کول په آفتونو او فتنوکښې دَ اخته کيدو اودَ ايمانی امن او دَ سلامتيا دَ لارې نه دَ لرې کيدو سبب دې خو که يو کس دَ خپل ژوند په اعتبار سره مشهور اومعروف دې نوهغه هم دَ خطرې نه خالی نه دې ځکه چه په دې صورت کښې په دغه دَ رياکار کيدو ګمان کيدې شی خو چه کوم کس په دنياکښې مال او دولت لری اودَ هغه مالدارئی او دولت دَ وجې نه هغه مشهور اومعروف دې او په فسق اوفجورکښې اخته نه وی اودَ دين په اعتبار سره دَ کتاب اوسنت تابعدار او منونکې وی نو هغه په دې حکم کښې داخل نه دې.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۳۲۷]دَ رياکارئ مذمت

۵۳۲۷-()[۱۳] ① وَعَنْ أَبِي تَمِيمَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: ②«شَهِدْتُ صَفْوَانَ وَأَصْحَابَهُ،③وَجُنْدَبٌ يُوصِيهِمْ، فَقَالُوا: ④هَلْ سَمِعْتَ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-شَيْئًا؟ قَالَ: ⑤سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-يَقُولُ: "مَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ،⑥وَمَنْ شَاقَّ شَقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ" ⑦⑧قَالُوا: أَوْصِنَا،

ترجمه : ① حضرت ابو تميمه رحمه الله تابعي وايي، ② يوه ورځ زه د حضرت صفوان او د هغوئ د ملګروپه مجلس کې هغه وخت حاضرشوم،[کله چې مشهور اوجليل القدر صحابي حضرت جندب ابن عبد الله ابن سفيان بجلي، حضرت صفوان او دهغه ملګرو ته د رياضت او مجاهدي راه مستقيم اختيارولو، او دسمعه او رياء او د حصول شهرت د طلب او خواهش نه د پرهيز کولو وصيت کوي]،③ نو حضرت صفوان او د هغه ملګرو هغه ته اوويل ④ آيا تا د رسول الله ﷺ نه څه اوريدلي دي [يعنی که تاڅه حديث اوريدلی وي، نو هغه زمونږ مخکې بيان کې، او مونږ ته د ارشاد نبوي اوريدو موقع راکړي حضرت جندب رضي الله عنه داحديث بيان کی]،⑤ ما رسول الله ﷺ نه دا اوريدلي دي چې کوم سړی اوروي يعنی خلقوته داورولو، او شهرت حاصلولو د پاره څه نيک کار کوي، نو الله تعالیٰ به د قيامت په ورځ هغه رسواکري،⑥ او کوم سړی چې خپل ځان مشقت کې

[۱]) اخرجه البخاری کتاب الأحکام باب مَنْ شَاقَّ شَقَّ اللّٰهُ عَلَيْهِ

اچوي نو الله ﷻ به د قيامت په ورځ هغه مشقت کې واچوي، يعنی د خپل همت او د مشقت نه زيات څه کار کولو صورت کې خپل ځان تکليف کې مبتلا کړي، يا يو دويم سړی مثلاً خپل خادم يانوکر وغيره څه داسې کار باندې مامور کړي چې د هغه د همت او طاقت نه وتلی وي ناقابل برداشت محنت او مشقت اذيت کې مبتلا کړي۔ ٨ په دې اوريدو سره هغوئ صحابه وويا حضرت صفوان او د هغه ملګرو حضرت جندب ﷺ ته وويل۔ چې مونږ ته څه نور نصيحت وفرمايه۔

حل اللغات:- ① شَاقَّ: سخت مشقت۔

١ فَقَالَ: ٢ إِنَّ أَوَّلَ مَا يُنْتِنُ مِنَ الْإِنْسَانِ بَطْنُهُ، فَمَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا يَأْكُلَ إِلَّا طَيِّبًا فَلْيَفْعَلْ، ٣ وَمَنِ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا يُحَوْلَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجَنَّةِ مِلْءُ كَفٍّ مِنْ دَمٍ أَهْرَاقَهُ فَلْيَفْعَلْ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ نو حضور ﷺ يا حضرت جندب وفرمايل، ٢ د انسان کوم شی چې د ټولو نه مخکې ډيرزرخرابيږي په دنياکې ياپه قبرکې هغه د هغه خيټه ده۔ ٣ نو کوم سړی چې قدرت لري، چې هغه څيز نه علاوه نورڅه خپلې خيټې ته ونه رسوي کوم چې حلال او جائز دی نو بيشکه هغه ته داسې کول پکار دی ٤ او کوم سړی چې د دې قدرت لري چې د هغه او جنت په منځ کې ناحق بهيونکی يوچونګ وينه هم حائله نه وي، نو بيشکه هغه ته داسې کول پکار دی چې د چا يوچونګ هم ناحقه وينه بهيولو نه پرهيز وکړي (بخاري)

حل اللغات:- ② يُنْتِنُ: بدبوئی دار کيدو ته وائی مراد سخا کيدل او شليدل دی ③ بَطْنٌ: خيټه۔ ④ أَهْرَاقَ: بهيول۔ تويول ⑤ يُحَوْلَ "دا دَ حائل نه دې دَ پردې جوړيدو په معنی کښې دې

تسهيلات:

قوله: إِنَّ أَوَّلَ مَا يُنْتِنُ مِنَ الْإِنْسَانِ بَطْنُهُ:

په قبر کښې د ټولو څخه وړاندې خرابيدونکې اندام: يعنی په قبرکښې دَ ټولو نه مخکښې خيټه بدبويه کيږی اوخرابيږی۔ اوبيا باقی اندامونه متاثرکيږی۔ لهذا سړی له پکار دی چه دې دَ حرام خوراك نه دې خپله خيټه بچ اوساتی

قوله: مِلْءُ كَفٍّ مِنْ دَمٍ أَهْرَاقَهُ فَلْيَفْعَلْ

دناجائزويني تويولووعيد: يعنی چه يوچونګ برابر وينه هم په جنت کښې دَ داخليدو دَپاره بنديز جوړنه شی په اوچه په سيرونو اومنونو اندازې سره وينه وی۔ بياخو به داخليدل ممکن نه وی۔ دَدغه وينې نه ناجائز وينه تويول مراد دی۔

[۵۳۲۸] د اولياء الله لوئى شان

۵۳۲۸-()[۱] [۱] وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- [۲] «أَنَّهُ خَرَجَ يَوْمًا إِلَى مَسْجِدِ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۳] فَوَجَدَ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ قَاعِدًا عِنْدَ قَبْرِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَبْكِي [۴] فَقَالَ: مَا يُبْكِيكَ؟ [۵] قَالَ: يُبْكِينِي شَيْءٌ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- [۶] سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: [۷] إِنَّ يَسِيرَ الرِّيَاءِ شِرْكٌ،

ترجمه: [۱] امير المؤمنين حضرت عمر بن الخطاب نه روايت دى [۲] هغوئ يوه ورځ د رسول الله ﷺ مسجد (مسجد نبوي) ته تشريف يو وړى. [۳] نو هغه حضرت معاذ بن جبل ﷛ د رسول الله ﷺ قبر مبارك سره ناست په ژړا وليدى [۴] حضرت د هغه نه پوښتنه وكړه ولي ژاړې؟ [آيا د حضور ﷺ جدائي دي ژړوي يا د څه آفت او مصيبت په وجه ژاړې. يا د دې نه علاوه څه بل سبب په ژړا مجبوره كړې يي] [۵] حضرت معاذ جواب وركړو. ما د يوي خبري ياد ژړوي [۶] چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي وه. [۷] او هغه دا چې لږ ريا، هم شرك دى،

[۱] وَمَنْ عَادَى لِلَّهِ وَلِيًّا [۲] فَقَدْ بَارَزَ اللَّهَ بِالْمُحَارَبَةِ [۳] إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْأَبْرَارَ الْأَتْقِيَاءَ الْأَخْفِيَاءَ [۴] الَّذِينَ إِذَا غَابُوا لَمْ يُتَفَقَّدُوا [۴] وَإِنْ حَضَرُوا لَمْ يُدْعَوْا وَلَمْ يُقَرَّبُوا [۵] قُلُوبُهُمْ مَصَابِيحُ الْهُدَى [۶] يَخْرُجُونَ مِنْ كُلِّ غَبْرَاءَ مُظْلِمَةٍ». رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [۱] او رسول الله ﷺ دا هم وفرمايل كوم سړى چې د الله ولي سره دښمني اختيار كړه [يعنى اولياء الله ته يي څه قول او فعل سره ناحقه تكليف ورسوى هغوئ يي غصه كړل] . [۲] نو هغه ګويا د الله سره مقابله وكړه او هغه سره يي جنګ وكړ [او ښكاره ده چې كوم سړى د الله سره مقابله وكړه، د هغه تباهي بربادي ذلت او رسوائي كې هيڅ شك نشته] . [۳] يقيناً الله ﷻ نيكو كار پرهيزګار او مخفي حال خلق دوست لري. [۴] او دا هغه خلق دي چې كله هغوئ د نظر نه غائب وي نوخوك يي پوښتنه نه كوي. . چې د هغوئ ظاهري حالت خو كمزوري او عام نظرونو كې دومره ناقابل توجه وي. [۴] هر كله چې موجود وي. نو هغوئ په څه دعوت او مجلس كې نه بلل كيږي او كه وبلل شي هم. نو د خان سره نزدي نه كينوي. اليكن باطني او روحاني طور سره د هغوئ مقام ډير بلند وي [۵] د هغوئ زړونه د هدايت څراغونه وي چې د هغوئ د نورو نه شيده لار پيدا كوى شي. [۶] او داخلق دهري توري تيار ي (تاريك) زمكي نه راوځي. دا روايت ابن ماجه او شعب الايمان كې د بيهقي ﷫ نه نقل شوى دى

[۱] اخرجه ابن ما جه في السنن كتاب الفتن/باب من ترجى له السلامة من الفتن (رقم-٣٩٨٩) والبيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ٦٨١٢

حل اللغات:- ① بَارَزَ جنګ ئې اوکړو ② الْمُحَارَبَة مقابله. ③ الْأَبْرَارَ د بر جمع ده نیکانو خلقو ته وائی ④ الْأَتْقِيَاءَ د تقی جمع ده پرهیزګار. ⑤ الْأَخْفِيَاءَ د خفی جمع ده. پټ حال او هیر کړي شوي. ⑥ يُتَفَقَّدُوا د تفقد نه دې دمجهول صیغه ده د لټولو په معنی کښې دې ⑦ مَصَابِيحُ دمصباح جمع ده ډیوه. ⑧ غَبْرَاءَ د خضراء په مقابله کښې زمکې ته وائی

تسهیلات:

قوله فَوَجَدَ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ قَاعِدًا عِنْدَ قَبْرِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَبْكِي،

دمعاذ رضی الله عنه د ژړا وجه: دحضرت معاذ ﷺ د ژړا وجه دا وه چه د شرک دومره باریك شعبې دی چه کتلوسره د هغې نه بچ کیدل ډیر ګران وی لکه چه ونیلی شوی دی "فانه أدق من دبیب النملة السوداء علی الصخراء الصماء فی اللیلة الظلماء" یعنی شرک د تور میږی په توره شپه کښې په مضبوط کاڼړی باندې په مزه تللو پتوالی نه هم زیات پټیدې شی

قوله وَمَنْ عَادَى لِلّٰهِ وَلِيًّا فَقَدْ بَارَزَ اللهَ بِالْمُحَارَبَةِ

دوه قسمه خلقو ته د الله تعالی اعلان جنګ: د نصوصو نه ثابته ده چه دوه قسمه خلق داسی دی چه هغوی سره الله تعالی د جنګ اعلان کړې دې ① یو سودخور لکه د قرآن پاک په دریمه پاره سورة بقره کښې چه راغلی دی ② اودویم هغه کس سره د جنګ اعلان کوی څوک چه د الله تعالی دوست سره دشمنی کوی

قوله وَإِنْ حَضَرُوا لَمْ يُدْعَوْا وَلَمْ يُقَرَّبُوا"

د مذکوره جملې مطلب: یعنی که چرته دعوت کښې راوبللې هم شی یا دوی پخپله راشی نو هیڅوك هم دوی خپل ځان سره د کینولو د پاره تیارنه وی بلکه خپلو سره خواکې بې کاره ځائی کښې کینولې شی. دخلقو په نیزخو به دوی دومره کمزورې وی لیکن د الله تعالی په نیز دوی روښانه چراغونه دی ددوی زړونه د هدایت په رڼا سره روښانه دی رحمن بابا هم دداسې خلقو باره کښې په خپل لغت کښې فرمائیلی دی

چه په یو قدم ترعرشه پورې رسی   مالیدلې دې رفتار د درویشانو

قوله: يَخْرُجُونَ مِنْ كُلِّ غَبْرَاءَ مُظْلِمَةٍ"

د مذکوره جملې په مفهوم کښې دوه اقوال: ① علامه طیبی فرمائی ددې خلقو حالت دومره خراب وی چه په تنګ اوتیاره اوکچه کورونو کښې او سیږی په کوم کښې چه د ژوند آسانتی نه وی هم هغې ته ورځی اود هغې نه راوځی لکه چه ګمنام اوخسته حال دی دامفهوم زیات واضح دې

② داخلق د ایمانی نور په ذریعه سره د هرتور او تنګ تیاره مشکل نه په ډیره آسانه اوځی اوکامیابیږی.

قوله وَمَنْ عَادَى لِلّٰهِ وَلِيًّا:

دولي په تعريف كښې اقوال: ① ولي هغه وى چه په دليل محكم سره دَ صحيح عقيدې مالك وى او په پوره شريعت باندې تلونكې وى دَدې تعريف په رڼا كښې علماء په اولياء الله كښې داخليږى چنانچه ملاعلي قاري رحمه الله فرمائي چه بعضې اكابرو ويلي دى "إن كان العلماء ليسوا أولياء الله فليس لله ولي"

② ملاعلي قاري رحمه الله دَ ولي تعريف داسې كړې دې "إن الأولياء هم العلماء العاملون"

د مذكوره حديث مفهوم ښكاره نوراحاديث: ① قال الله تعالى اوليائي تحت قبائي لا يعرفهم غيري

② "من عادى لي وليا فقد آذنته بالحرب"

③ "وإني لأغضب لأوليائي كما يغضب الليث للحرو" الله تعالى دې هر يو مسلمان دَ اولياء الله دَ توهين او تحقير نه بچ اوساتي.

[٥٣٢٩] دَمخلص مسلمان ظاهر او باطن يو شان وى

٥٣٢٩-()[١٥] ① وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: ② قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "③ «إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا صَلَّى فِي الْعَلَانِيَةِ فَأَحْسَنَ، وَصَلَّى فِي السِّرِّ فَأَحْسَنَ، ④ قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: هَذَا عَبْدِي حَقًّا» ". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابوهريره وايي، ② چې رسول الله ﷺ وفرمايل، ③ بنده چې په اخلاص سره د ټولو مخكې مونځ كوي، نو په ښه طريقه سره يې كوي (يعنى د مونځ ټول شرائط او واجبات سنن او مستحبات لحاظ ساتلو سره يې كوي، او دغه شان نور عبادات او طاعات هم پوره آداب او شرائط سره اداء كويا، ④ او هركله چې پټ طور سره (يعنى تنهائي كې كويا. نو هغه وخت هم داسې خوبي سره يې كوي، كومې خوبي سره چې د خلقو مخكې يې كوي، ④ نو الله ﷻ فرمايي چې ځما بنده د صدق او راستي حامل دى. يعنى د ده طاعت او عبادت درياكاري نه پاك دى (ابن ماجه)

تسهيلات:

قوله. إِذَا صَلَّى فِي الْعَلَانِيَةِ فَأَحْسَنَ،

په خلوت او جلوت كښې په ښه شان دعبادت كولو ستائنه: په حديث الباب كښې الله تعالى دَ هغه كس تعريف كړې دې چه كوم په خلوت كښې هم دَ جلوت په شان ښكلې مونځ كوى چه دا مخلص دې رياكار نه دې اودا زما رښتونې بنده دې لكه چه ده ته دَ احسان صفت هم حاصل دې

(١) اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الزهد باب التوقي على العمل (رقم-٤٢٠٠)

[۵۳۳۰] ذ ریاکاره خلقو مذمت

۵۳۳۰-()[۱] ⓵ وَعَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-: أَنَّ النَّبِيَّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- قَالَ: "⓶«يَكُونُ فِي آخِرِ الزَّمَانِ أَقْوَامٌ إِخْوَانُ الْعَلَانِيَةِ، أَعْدَاءُ السَّرِيرَةِ". ⓷فَقِيلَ: ⓸يَا رَسُولَ اللَّهِ! وَكَيْفَ يَكُونُ ذَلِكَ؟ ⓹قَالَ: ذَلِكَ بِرَغْبَةِ بَعْضِهِمْ إِلَى بَعْضٍ، وَرَهْبَةِ بَعْضِهِمْ لِبَعْضٍ»".

ترجمه: ⓵ اود حضرت معاذ بن جبل ﷺ نه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل ⓶ په آخره زمانه کې به داسې قومونه او جماعتونه پیدا شي، چې په ظاهرکې به دوست ثابتیږي خو په باطن کې به دښمني کوي. ⓷ عرض وشو یا رسول الله ﷺ ⓸ داسې به ولې او په څه سبب وي، ⓹ حضور ﷺ وفرمایل داسې به په دې وجه وي چې په هغوئ کې به بعضې دبعضو سره غرض او لالچ لري، او بعضې نه به خوف زده وي

حل اللغات:- ① إِخْوَانُ الْعَلَانِيَةِ: په ښکاره د يوبل رونړه وی. ② أَعْدَاءُ السَّرِيرَةِ په پټه د يوبل دښمنان وی. ③ رَغْبَةِ: طمع او لالچ. ④ رَهْبَةِ: ويره.

تسهیلات:

قوله: إِخْوَانُ الْعَلَانِيَةِ"

په ظاهره دوست باطن کښې دشمن: یعنی یوبل سره مخامخ ملاویږی نودَ خان خودلو. بناوټ او ریاکارئی دَ وجې نه پاخه دوستان ښکاری لیکن چه لږ اخوا دیخوا غائب شی نوبیا پاخه دښمنان وی. دَ یو بل په خپو باندې تیرونه وهی. قیامت ته دَ نیزدې خلقو به هم دغه حالت وی.

قوله: بِرَغْبَةِ بَعْضِهِمْ"

د مطلب یارانه: یعنی لالچ اوطمعې دَ وجې دَ یوبل خودغرض دوستان وی مکر دَ یوبل نه ویره اوخطره او ضرر دَ وجې نه ویریږی. لکه دَ اغراضو اومقاصدو اوطمع اولالچ بنده ګان وی.

[۵۳۳۱] د ریاکار مونځ، روژه او صدقه هم شرک دي

۵۳۳۱-()[۲] ⓵ وَعَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- يَقُولُ: "⓶«مَنْ صَلَّى يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ، ⓷وَمَنْ صَامَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ، ⓸وَمَنْ تَصَدَّقَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ»". رَوَاهُمَا أَحْمَدُ.

ترجمه: ⓵ او حضرت شداد ابن اوس وايي ⓶ ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي دي ⓷ کوم سړی چې ښووني د پاره مونځ وکړو هغه شرك وکړ ⓸ کوم سړی چې ښووني د پاره روژه

[۱] اخرجه احمد في المسند: ۲۳۵/۵
[۲] اخرجه احمد في المسند: ۱۲۶/۴

ونيوله هغه شرك وكى. [۵] او كوم سړى چې ښوونې د پاره صدقه خيرات وكى هغه شرك وكى دا دواړه روايتونه احمد نقل كړي دي

تسهيلات:

قوله: وَمَنْ صَامَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ:

په روژه كښې د ريا كارۍ ثبوت: ملاعلى قارى وايى دا حديث دى طرف ته اشاره كوى چې د رياء دخل روژه كى هم كيدي شى په دى اعتبار سره دا حديث گويا د هغه حضرات خلاف يو دليل دى چې دا وايى چې د رياء تعلق روژى سره نه شى كيدى او د دي سبب دا بيانوى چې د روژى دارو مدار په نيت دى. د كوم سړى نيت چې صحيح نه وى د هغه خوراك څكاك نه دمنع كيدو هيڅ اعتبار نشته او ظاهره ده چې نيت كى رياكارى. يعنى دښوونى عمل دخل نشي كيدى،

په روژه كښې د ريا راتلو مطلب: يكن زمونږ وئيل دا دى چې په دى كى شك نشته چې حقيقي معنى كى رياء روژه كښى نشى متصور كيدى خو داهم يو حقيقت دى چې د ير خله رياء داشتراك په طور وى، يعنى دا هم كيږي چې يو سړى ديو نيك كار او عبادت څكه قصد او اراده كوى چې دالله ﷻ رضا اوخوشنودى حاصله كړى خو دهغه سره دهغه په نيت كى دا خبره هم شامله وى، چې دهغه نيك كار او عبادت په ذريعه هغه ته شهرت حاصل شي. يافلانى غرض پوره شى چې دهغه تعلق دالله ﷻ رضا اوخوشنودى سره نه وى. او داجدا خبره ده چې دواړه مقصد برابر وى، يا په هغه كى يو غالب وى څرنگه چې دباب په ابتداء كى تفصيل تيز شوى دى، معلومه شوه چې په روژه كى هم درياء دخل كيدي شى

[۵۳۳۲] د نبى عليه السلام په خپل امت باندې د ريا كارۍ ويره

۵۳۳۲-( )[۱۸] [۱] وَعَنْهُ، [۲] «أَنَّهُ بَكَى، [۳] فَقِيلَ لَهُ: مَا يُبْكِيكَ؟ [۴] قَالَ: شَيْءٌ سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ، [۵] فَذَكَرْتُهُ، فَأَبْكَانِي، [۶] سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "أَتَخَوَّفُ عَلَى أُمَّتِي مِنَ الشِّرْكِ وَالشَّهْوَةِ الْخَفِيَّةِ"، قَالَ: قُلْتُ: [۹] يَا رَسُولَ اللهِ! أَتُشْرِكُ أُمَّتُكَ مِنْ بَعْدِكَ؟

ترجمه: [۱] او د حضرت شداد ابن اوس رضي الله عنه باره كې منقول دى، [۲] چې په يوه موقع هغه په ژړا شو [۳] پوښتنه څنې وشوه د ژړا سبب څه دى؟ [۴] جواب يې وركى زه دي خبرې ژړولى يم. چې ما د رسول الله ﷺ نه اوريدلي وه، [۵] داوقت ماته هغه خبره رايادة شوه، نو زه په ژړا مجبوره شوم [۶] او هغه خبره داده چې حضور ﷺ وفرمايل [۷] زه خپل امت

[1] اخرجه ابن ماجه فى السنن كتاب الزهد/باب الرياء والسمعة (رقم-۴۲۰۵) واحمد فى المسند: ۱۲۶/۴ والبيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ۶۸۳۰

باندې د شرك او پټ خواهشاتو نه خوف كوم.[۸] حضرت شداد ﷜ وايي په دي اوريدو سره ما عرض وكړو[۹] يا رسول الله ﷺ ايا ستاسو امت به ستاسو نه پس په شرك كې مبتلا كيږي

حل اللغات:- ① أَتَخَوَّفُ: زه ويريږم.

> [۱] قَالَ: "نَعَمْ، [۲] أَمَا إِنَّهُمْ لَا يَعْبُدُونَ شَمْسًا، [۳] وَلَا قَمَرًا، [۴] وَلَا حَجَرًا، [۵] وَلَا وَثَنًا، [۶] وَلَكِنْ يُرَاؤُونَ بِأَعْمَالِهِمْ، [۷] وَالشَّهْوَةُ الْخَفِيَّةُ أَنْ يُصْبِحَ أَحَدُهُمْ صَائِمًا، فَتَعْرِضَ لَهُ شَهْوَةٌ مِنْ شَهَوَاتِهِ [۸] فَيَتْرُكَ صَوْمَهُ». رَوَاهُ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [۱] رسول الله ﷺ وفرمايل هو يادلره. [۲] خو د امت خلق به د نمر عبادت خونه كوي. [۳] د سپوږمۍ عبادت به نه كوي [۴] د كاڼي عبادت به نه كوي [۵] او نبكاره بت پرستي به نه كوي [يعنې هغوئ به شرك جلي كې مبتلا نه وي]. [۶] ليكن د خلقو د ښوونې د پاره به نيك كار كوي [او داشرك خفي دى، چې په هغه كې به هغوئ اخته وي]. [۷] او پټ خواهش دادی چې مثلاً په تاسو كې يوسړى د روژې په حالت كې صبا كړي او بيا په هغه نفساني خواهشاتو كې د يو خواهش غلبه اوشي[۸] اور خپله روژه به ماته كړى [لكه د خوراك خواهش باندې غالب شي يا جنسي خواهش يې راپورته شي. او هغه د هغه خواهش دخلې په وجه طعام خوړلو سره يا هم بستري كولو سره خپله روژه ماته كړي. اوحال دا چې شرعي طور باندې ديو قابل اعتبار ضرورت او حالت پيش راتلو بغير روژه ماتول حرام دي] (احمد، بيهقي)

حل اللغات:- ② الشَّهْوَةُ الْخَفِيَّةُ: پټ شهوت، ③ وَثَنًا: بت.

تسهيلات:

قوله وَالشَّهْوَةُ الْخَفِيَّةُ أَنْ يُصْبِحَ أَحَدُهُمْ صَائِمًا.

د شهوت خفي په مصداق كښې دوه اقوال: ① پټ خواهش ئې ورته ددې وجې نه اوفرمائيلو چه كوم وخت دې سړى د روژې نيت كړې وو هغه وخت دې سړى په خپل نفس كښې دا خواهش پټ ساتلې ووچه كه څه نفساني تقاضا راغله نو زه به روژه ماتوم

② امام طيبي ﷫ د پټ خواهش نه مراد خوراك اخستې دې ليكن صحيح داده چه د پټ خواهش نه مراد نفساني خواهشاتو نه په خاص توګه هغه نادارالوجود خواهش دې چه هروخت نه پيدا كيږي بلكه په يو خاص موقع باندې يا په خاص وخت كښې پيدا كيږي اوكله چه هغه خواهش راوچت شي نودَ هغې دَ پوره كولو داعيه په طبعي توګه باندې غالب راشي او بيا دَ يو شرعي حكم دَ مخالفت ويره هم بنديز نه جوړيږي

[٥٣٢٢] ریاکاری دَ دجال دَ فتنې نه هم زیاته خطرناکه ده

٥٣٢٢-()[١٩] ① وعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ② «خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - وَنَحْنُ نَتَذَاكَرُ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ، فَقَالَ: ③ "أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَا هُوَ أَخْوَفُ عَلَيْكُمْ عِنْدِي مِنَ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ؟" ④ فَقُلْنَا: بَلَى يَا رَسُولَ اللَّهِ! ④ قَالَ: "الشِّرْكُ الْخَفِيُّ، ⑤ أَنْ يَقُومَ الرَّجُلُ فَيُصَلِّيَ، ⑥ فَيُزَيِّدَ صَلَاتَهُ ⑦ لِمَا يَرَى مِنْ نَظَرِ رَجُلٍ» " رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: ① او حضرت ابو سعید ﷺ وايي، ② يوه ورځ مونږ د مسيح دجال د فتنو او د هغه د ابتلاء ذكر كوى چې رسول الله ﷺ راتلو سره زمونږ په منځ كې تشريف فرماشو، او بيا زمونږ خبري اوريدو سره يې وفرمايل، ③ آيا زه تاسو ته د هغه شي باره كې ونه ښايم. چې خما په نزد يعنى خماپه شريعت او خما طريقه كې ستاسو د مسيح دجال د فتني نه هم زيات خوفناك دى[او دي اعتبار نه د هغه خيال ساتل او د هغه نه پرهيز كول ستاسو د پاره ډير ضروري دى]، ④ مونږ عرض وكړو، هو يارسول الله د هغه شي باره كې مونږ نه ضرور وښايه. ④ حضور ﷺ وفرمايل هغه شي شرك خفي دى ⑤ او شرك خفي دي ته وايي چې مثلاً يو سړي مونځ د پاره ودريږي او مونځ كوي، ⑥ او هغه د مونځ په ټولو اركانو يا بعضې اركانو كې د كيفيت ياكميت د اعتبار نه څه زياتي وكى. ⑦ محض د دې وجي نه چې يو سړى هغه په مونځ كولوويني (ابن ماجه)

تسهیلات:

قوله: أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِمَا هُوَ أَخْوَفُ عَلَيْكُمْ عِنْدِي مِنَ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ؟"

د رياكارى فتنه د دجال د فتنې څخه لويه كيدلو وجه: دَ دجال فتنه به چونكه ښكاره كيږى په دې وجه به د هغې نه بچ كيدل دومره ګران نه وى مګر دَ رياكارئى فتنه دومره پټه ده چه ښه ښه خلق د دې ښكار كيږى په دې وجه دا دَ دجال دَ فتنې نه لويه او خودلې شوه

د تشبيه په وجه كښې دوه اقوال: ① دلته په حديث كښې دانه دى خودلې شوى چه دا فتنه د دجال د فتنې نه لويه ده بلكه دا خودلى شوى دى چه دَهغې نه زياته خطرناكه ده څكه چه په هغې كښې دَ راګيريدو اودَ ښكاركيدو مواقع زياتې دى

② دا هم ممكن ده چه دا تشبيه دَ مادياتو اودنياوى امورو باره كښې وى چه دَ دجال په فتنه كښې به سړى ته دنياوى نقصان رسى خوچه كله څوك دَ دجال دَ پروګرام نه انكار اوكړى ليكن په رياكارئى سره دَمسلمانانو ايمان ته نقصان رسى په دې وجه دا ډيره خطرناكه ده

---

[١] اخرجه ابن ماجه في السنن كتاب الزهد/باب الرياء والسمعة (رقم-٤٢٠٤)

[٥٣٢٤] رياكاري شرك اصغر دی

٥٣٢٤-(١)[٢٠] [١] وَعَنْ مَحْمُودِ بْنِ لَبِيدٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: [٢] أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[٣] «إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ" قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ! [٥] وَمَا الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ؟ [٦] قَالَ: "الرِّيَاءُ» "، رَوَاهُ أَحْمَدُ.

ترجمه: [١] او حضرت محمود ابن لبيد نه روايت دی [٢] چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٣] ډير زيات خوف زده شی چې زه ترې تاسو بيروم، شرك اصغر د وړې درجې شرك دی. [٤] صحابه وو په دې اوريدو سره عرض وكړو، يارسول الله! [٥] شرك اصغر څه څيز دی. [٦] حضور ﷺ وفرمايل رياء (احمد)

[١] وَزَادَ الْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ): "[٢] «يَقُولُ اللهُ لَهُمْ يَوْمَ يُجَازِي الْعِبَادَ بِأَعْمَالِهِمْ: [٣] اذْهَبُوا إِلَى الَّذِينَ كُنْتُمْ تُرَاؤُونَ فِي الدُّنْيَا، [٤] فَانْظُرُوا هَلْ تَجِدُونَ عِنْدَهُمْ جَزَاءً وَخَيْرًا؟» ".

ترجمه: [١] او بيهقي په شعب الايمان كې دا الفاظ زيات نقل كړي دي [٢] چې الله ﷻ به په هغه ورځ هركله چې هغه بنده ګانو ته د هغوئ د اعمالو بدله وركوي يعنی د قيامت په ورځ رياكارو ته به فرمايي [٣] تاسو خلق هغوئ ته ورشئ چاته دنبوونې د پاره تاسو عمل كوی [٤] پس و ګورئ تاسو ته دهغوئ نه څه جزاء او خير حاصليږي؟

حل اللغات:- ① يُجَازِي: بدله به وركوی.

تسهيلات: قوله الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ

ريا او شرك اصغر: په دې حديث كښې ريا ته شرك اصغر ونيلې شوې دې خكه چه مشرك په خپل عبادت سره خپل دَ درغو معبودانو دَ راضی كولو نيت كوی خو رياكار به خپل عبادت سره خپل دَ دروغو مقاصدونو يعنی دَ خلقو دَ راضی كولو نيت كوی به دې وجه رياكاری دَ وړې درجې شرك دې.

[٥٣٢٥] په اخلاص سره عمل پټهله خلقوته ښكاره كيږی

٥٣٢٥-(٢)[٢١] [١] وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [٣] «وَلَوْ أَنَّ رَجُلًا عَمِلَ عَمَلًا فِي صَخْرَةٍ لَا بَابَ لَهَا وَلَا كُوَّةَ، [٤] خَرَجَ عَمَلُهُ إِلَى النَّاسِ كَائِنًا مَا كَانَ» ".

ترجمه: [١] او ابوسعيد خدري ﷺ وايې [٢] چې رسول الله ﷺ وفرمايل [٣] كه څوك ديوداسې لوی كانی لاندې هم څه عمل و كړي چې په هغه كې نه څوخه دروازه وي او نه څه روښن دان [٤] نوبيا به هم د هغه، هغه عمل په خلقو كې مشهور شی كه دهغه عمل هررنګه وي

(١) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ٦٨٣١
(٢) اخرجه البيهقی فی شعب الايمان رقم الحديث ٦٩٤٠

حل اللغات: - ① صَخْرَة مضبوط كانړى او سخت چټان ② كَوَّة روشندان، طاخ. ③ كَائِنًا مَا كَانَ كه هغه هرڅنګه وى

تسهيلات:

قوله : وَلَوْ أَنَّ رَجُلاً عَمِلَ عَمَلاً فِي صَخْرَةٍ لَا بَابَ لَهَا وَلَا كَوَّةَ،

دحديث په مفهوم كښې دوه اقوال: ① يو مخلص بنده له پكاردى چه هغه دې دخپل نيك اعمالو په هره طريقه دَ پټولو كوشش كوى څكه چه دَ رياكارئى ډيره لويه خطره ده اكثريو سړې په پټه توګه عمل كوى مګر بياهم هغه عمل دَداسې څايونونه ښكاره كيږى دَ چرته نه چه پخپله هم دې سړى ته داخيال نه وى لهذا مكمل احتياط كول پكاردى خودا مطلب زيات واضح نه دې څكه چه راتلونكې حديث دَ دويم قول تائيد كوى

② كه چرې يو سړې په اخلاص سره په مكمل رازدارئى او پټه توګه څه عمل كوى اوغواړى چه چاته پته اونه لګى مګر بياهم الله تعالى دَدې سړى عمل خلقو ته ښكاره كوى دې دپاره چه دې سړى ته په دنيا كښې هم دَدې ميوه حاصله شى لهذا دَ رياكارئى هيڅ ضرورت نشته دې

[٥٣٣٦] د ښه اوبد اثر ښكاره كيدل

[٢٢] (١) ١ وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ٢ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: ٣ «مَنْ كَانَتْ لَهُ سَرِيرَةٌ صَالِحَةٌ أَوْ سَيِّئَةٌ، ٤ أَظْهَرَ اللَّهُ مِنْهَا رِدَاءً يُعْرَفُ بِهِ» ".

ترجمه : ١ او حضرت عثمان ابن عفان رضي الله عنه وايي، ٢ چى رسول الله ﷺ وفرمايل ٣ كوم سړي كي چې څه ښه يابد عادت او خصلت پټ وي، ٤ نو الله جل جلاله هغه عادت او خصلت ښكاره كونكى څه داسې شى پيداكوي چې دهغه په ذريعه دهغه سړى په هغه عادت اوخصلت سره شناخت كولى شي

حل اللغات: - ① سَرِيرَةٌ پټ. ② أَظْهَرَ ښكاره به ئې كړى. ③ رِدَاءً څادر، دلته ترې علامت او شناخت مراد دې.

تسهيلات:

قوله : أَظْهَرَ اللَّهُ مِنْهَا رِدَاءً يُعْرَفُ بِهِ.

د څادر نه څه مراد: څادر ته رداء وائى دلته دَ څادر نه علامت او شناخت يعنى پيژندګلومراد ده لكه څنګه چه دَ سړو په علاماتو كښې جدا قسم څادرې وى دغه شان دَ ښځو په علامتونو كښې هم جدا قسم څادرې وى په كوم سره چه دَ دواړو جدا جدا پيژندګلو كيږى

---

(١) اخرجه البيهقى فى شعب الايمان رقم الحديث ٦٩٤٢

دحديث مطلب: په كوم سري كښې ښه يا بدخصلت وي چه دسې باني كيدو د وجې نه د عامو خلقو په نظر كښې نه راځي ليكن الله تعالى په هغه سړي كښې څه داسې صورت ياهئيت يا علامت ښكاره كوي د كوم د وجې نه چه خلقو نه ښكاريږي چه دا سړي ددې قبيلې او ددې قسم سړې دې

[۵۲۳۷] دوه مخې پاليسي داسلام دپاره د تولو نه زياته خطر ناکه ده

۵۲۳۷ - (¹) [۳۳] [۱] وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - عَنِ النَّبِيِّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "[۲] «إِنَّمَا أَخَافُ عَلَى هَذِهِ الْأُمَّةِ كُلَّ مُنَافِقٍ [۳] يَتَكَلَّمُ بِالْحِكْمَةِ وَيَعْمَلُ بِالْجَوْرِ» "رَوَى الْبَيْهَقِيُّ الْأَحَادِيثَ الثَّلَاثَةَ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ)

ترجمه: [۱] او حضرت عمربن الخطاب ﷺ د رسول الله ﷺ نه روايت كوي حضور ﷺ وفرمايل [۲] زه د دې امت (يعني امت محمديه) باره كې چې دكوم څيز نه ويريږم. هغه د يو منافق يعني رياكار يافاسق شر دى. [۳] چې خبرې خو د علم د حكمت موعظت او نصيحت كوي ليكن كار د ظلم زياتي كوي. دادري سره روايتونه بيهقي په شعب الايمان كې نقل كړي دى

حل اللغات: - ① الحِكْمَة: دانائي. د نصيحت خبري. ② الجَوْر ظلم

تسهيلات:

قوله: يَتَكَلَّمُ بِالْحِكْمَةِ"

دگفتار په ځائې د كردار ښه خپلول: يعني خلقوته د خودلو دپاره دامنافق خلق دعلم حكمت وعظ او نصيحت ښه ښه خبرې كوي مګر پخپله په هغې باندې عمل نه كوي ددوى هم دغه دوه مخيزه منافقانه پاليسي داسې څيزدې په كوم سره چه اسلام او مسلمانانوته ډيرزيات نقصان رسيږي كوم چه حضورپاك دخپل امت دپاره خطرناك ګرځولي دى او هم دغه نفاق دې د اسلام او مسلمانانو بنيادخوزوي نن صباهم ددې پاليسئ چرچه ده مسلمانان بدنام دى او امريكه او د هغوى غلامان نيك نامه دې د حديث خلاصه داده چه دا منافقان خلق خو په خبرې ډيرې ښائسته كوى خو عمل به خالص د ظلم په بنيادباندې كوى

[۵۲۳۸] د حسن نيت اهميت

۵۲۳۸ - (²) [۳۴] [۱] وَعَنِ الْمُهَاجِرِ بْنِ حَبِيبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ [۲]: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۳] «قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنِّي لَسْتُ كُلَّ كَلَامِ الْحَكِيمِ أَتَقَبَّلُ [۴] وَلَكِنْ أَتَقَبَّلُ هَمَّهُ وَهَوَاهُ [۵] فَإِنْ كَانَ هَمُّهُ وَهَوَاهُ

¹) اخرجه البيهقي في شعب الايمان رقم الحديث ۱۷۷۷
²) اخرجه الدارمي في السنن رقم ۲۵۲

فِي طَاعَتِي ⑤ جَعَلْتُ صَمْتَهُ حَمْدًا لِي وَوَقَارًا ⑥ وَإِنْ لَمْ يَتَكَلَّمْ»". رَوَاهُ الدَّارِمِيُّ.

ترجمه: ① او حضرت مهاجر ابن حبيب ﷺ وايي ② چې رسول الله ﷺ وفرمايل ③ الله ﷻ فرمايي زه د عقلمند او دانشور هره خبره نه قبلوم [يعنې ځما دستور دانه دی، چې عالم وفاضل او عقلمند او داناسړی کومه خبره وکړي، هغه قبوله کړم] ③ بلکه زه د هغه قصد اراده، محبت او نيت قبلوم [يعنی دا ګورم چې هغه کومه خبره کړي ده، هغه په کوم قصد او اراده او کوم نيت سره يې کړي ده] ④ که د هغه نيت او محبت ځما د طاعت او فرمانبرداري په حقله وي، ⑤ نو زه د هغه خاموشي هم خپل حمد او ثنا او د هغه حلم او وقار برابر ګرځوم، ⑥ اګر که هغه څه خبره ونه کړي. (دارمي)

حل اللغات:- ① هَمَّهُ: قصد، اراده، ② هَوَاهُ: مينه، محبت، ③ صَمْتَ: خاموشی، ④ وَقَارًا: عزت

تسهيلات:

قوله: كَلَامِ الْحَكِيمِ"

دحکيم څخه مراد: دَحکيم نه عالم او دانشور مراد دي. مطلب دا چه الله تعالى فرمائی چه زه دَهرعالم دانشور اونکته دان خبره نه قبلوم يعنی زما په نيز صرف دَ خبرو کونکوغازيانو هيڅ اعتبارنشته دي بلکه زمونږ په نيزخودَ کردار قدر او قيمت دي کله چه اخلاص اودَ الله تعالى دَ رضا، ښه نيت ښکلي اوبهترين وی اودَ کردار معيار اوچت وی نوکه دَ خبرو انداز څومره هم ساده ولې نه وی دَالله تعالى په نيز هم دَ دغې اعتباردي

[۶] بَابُ الْبُكَاءِ وَالْخَوْفِ

د ژړا او د الله تعالى نه د وېرې بيان

خلاصة الباب:

فيه أحد و عشرون حديثاً مشتملة على ثلاث عشر مسئلة:

① كون البكاء أثر العلم بأحوال الآخرة: ۱، ۹-
② كون البكاء سبب النجاة في الآخرة: ۲۱،
③ الخوف من عاقبة المستقبل: ۲-
④ الخوف من عذاب المعاصي مطلقا: ۳، ۵، ۱۷، ۱۸-
⑤ الخوف بسبب كثرة الخبث: ۴-
⑥ الخوف من عموم العذاب: ۶، ۷-(هذا من طرد الأول)
⑦ الخوف من النار: ۸-
⑧ خوف الله تعالى سبب الهرب من المعاصي: ۱۰-
⑨ خشية الله سبب النجاة: ۱۱-
⑩ خوف عدم قبول العمل: ۱۲، ۱۹-
⑪ خوف قرب الساعة: والموت: ۱۳، ۱۴-
⑫ خوف سب الشيب: ۱۵، ۱۶-
⑬ لزوم الخوف من الله تعالى في كل الأوقات: ۲۰-

د ژړا مختلف مراحل: ① کله چه په ژړا کښې د خلې نه آواز اوځی هغې ته بکاء وائی
② که چرته د خلې نه د ژړا په وخت آواز نه اوځی مګر اوښکې بهيږی نو دغه ژړا ته هم بکاء وائی
③ کله چه د ژړا په آواز کښې چغې وی نو دغې ژړا ته عويل وائی
④ که چرې آواز بالکل ښکته وی نو هغې ته رنين وائی که دې نه هم رو آواز وی او اوښکې جاری وی نو دې ته حنين وائی

دخلقو ژړونو دوه قسمونه: ① د کومو خلقو چه زړه نرم وی د تلاوت په وخت يا د الله تعالى د ذکر په وخت يا د تذکير او وعظ په وخت هغوی ژاړی نو دا د الله تعالى ورکړه او احسان وی ② د څه خلقو زړه د کاڼړی نه هم سخت وی شاعر وائی

لاينفع الوعظ قلبًا قاسيًا ابدًا وَهَلْ يلين بذكر الواعظ الحجر

د باب موضوع: په دې باب کښې درج تولو احاديثو تعلق د الله تعالى ويرې او د آخرت د

وجي نه ژړا سره دي خلاصه دا چه د آخرت عذاب او د الله تعالی عتاب او عقاب د ويرې نه په زارئي سره ژړا ته البكاء والخوف وئيلې شوې دي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۳۳۹] دَ آخرت استحضار دَ ژړا سبب دې

۵۳۳۹-(۱) [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، قَالَ: [۲] قَالَ أَبُو الْقَاسِمِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "[۳] «وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ، [۴] لَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا وَلَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا» "، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي [۲] چې ابو القاسم حضرت محمد ﷺ وفرمايل. [۳] قسم دی په هغه ذات چې د هغه په قبضه قدرت کې خما خان دی که تاسو په هغه شي پوهه شئ کوم چې زه پيژنم. [۴] نو يقيناً ستاسو ژړا به زياته او خندا به کمه شي. ايعنی د قيامت احوال او د هغه هولناکی د مبداء او معاد حقيقت د گنهگارو په حقله د الله ﷻ عتاب او عذاب د يوم حساب شدت او سختي، او د باري تعالی صفات قهريه او جلاليه چې د خوف او مصيبت باعث دی، څومره قدر چې زه پيژنم. بيا د هغه په تعلق سره ستاسو د انجام باره کې چې ماته کوم معلوم دی، او د هغه په وجه خما زړه باندې چې هر وقت غم او خوف خور وي، که تاسو دي تولو نه آگاه شئ. نو په دي کې هيڅ شک نشته. چې د خوف او هيبت نه به خندا هيره کړي او زيات وخت به ژړلو او غم خوړلو کې صرف کړي. ځکه چې په دي صورت کې به تاسو د رحمت خداوندي د اميد په مقبله کې د عذاب خداوندي خوف ته زيات ترجيح ورکول شروع کړي (بخاري)

حل اللغات: - ① بَكَيْتُمْ: اوبه ژاړئ تاسو. ② ضَحِكْتُمْ: اوبه خاندئ تاسو

تسهيلات:

قوله: لَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا

نبی عليه السلام ته دالله تعالی د عظمت استظهار: يعنی دَ قيامت دَ احوال اهوال او د مبدا او معاد حقيقت او د الله تعالی د ذات عظمت او دَ هغه جلال او جبروت. د هغه قهر او غضب او د يوم حساب سختني او تکليفونه. دحساب کتاب سختني او د الله تعالی صفات جماليه او جلاليه چه څومره زه پيژنم او دغه شان دَ خلقو انجام سره متعلق چه کوم واقعات او سختني څومره چه زه پيژنم که چرې تاسو په هغه اندازه کښې پيژندل نو تاسو

---

¹) اخرجه البخاري في كتاب الرقاق/باب قول النبي صلى الله عليه وسلم: «لو تعلمون ما أعلم لضحكتم قليلًا ولبكيتم كثيرًا» (رقم ۶۴۸۵) ومسلم في كتاب الكسوف/باب صلاة الكسوف (رقم ۱ (۹۰۱)) والترمذي في كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في قول النبي صلى الله عليه وسلم: «لو تعلمون ما أعلم لضحكتم قليلًا» (رقم-۲۳۱۳) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب الحزن والبكاء (رقم-۴۱۹۱) ومالک في الموطا كتاب الصلاة كتاب الطهارة. باب ما جاء في النداء للصلاة (رقم-۱) واحمد في المسند: ۲/۲۵۷

به کم خندل بلکه نه به مو خندل او په ژړا کښې به مو وخت تیرولو مګر ستاسو د دغه څیزونو مشاهده نشته ځکه خاندئی او په عیش او عشرت کښې لګیایئی

[۵۳۴۰] أخروی انجام صرف دَ الله تعالی په علم کښې وی

۵۳۴۰-(۱)[۱۲] [۱] وَعَنْ أُمِّ الْعَلَاءِ الْأَنْصَارِيَّةِ، قَالَتْ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "[۳] «وَاللهِ لَا أَدْرِي، وَاللهِ لَا أَدْرِي، وَأَنَا رَسُولُ اللهِ، [۴] مَا يُفْعَلُ بِي وَلَا بِكُمْ» "، رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] او بي بي ام العلاء انصاریه رضی الله عنها وایي. [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۳] باوجود د دې چې زه د الله رسول یم. لیکن قسم په الله زه په دې نه پوهیږم قسم په الله زه په دې نه پوهیږم [۴] چې زما سره به څه معامله کول کیږي او ستاسو سره به څه معامله کیږي (بخاري)

تسهیلات:

قوله: مَا يُفْعَلُ بِي "یعنی دَ الله تعالی رسول کیدو باوجود ماته دا علم نشته دې چه دنیائی اعتبار سره به ستا انجام څه جوړیږی او زما انجام به څه جوړیږی

په حدیث باندې اشکال: سوال: په دې مقام باندې یو مشهور سوال دې هغه دا دې چه نبی خو دَ نورو خلقو دَهدایت دَپاره دَ الله تعالی دَ طرف نه سفیر جوړیدو سره راځی که چه نبی بخپله دَ خپل آخرت په عاقبت او خپل انجام کښې متردد وی په ګډوډ کیفیت کښې راګیروی نو هغه به دَ نورو دَپاره څنګه لارخودونکې جوړشی

بل دا تردد او دَ بې یقینئی کیفیت خو دَ نبی دَ معصومیت هم منافی دې نو حضورﷺ دا سې قسم جملې څنګه ارشاد او فرمائیلې؟

داشکال درې جواب: ① ددې حدیث مطلب دا دې چې ماته زما او ستا د انجام د تفصیلاتو علم نشته دې په اجمالی توګه باندې خپل نجات او کامیابی خو پیژنم مګر د تفصیل تعلق د علم غیب سره دې نو ماته ددې علم نشته دې ځکه چه په دې باندې نه یم خبر کړې شوې

② دې حدیث دوارو تعلق هغه دنیاوی معاملاتو او واقعاتو سره دې کوم چه په راتلونکی وخت کښې راتلونکی وو چه زه به اول مړکیږم که ته به مړکیږې یا زه به په تا باندې غالب راځم که ته به په ما باندې غالب کیږې په دې جنګ کښې به نه ماتې خورې که مونږ به ماتې خورو دَمستقبل ددې په شان دَ واقعاتو تعلق چونکه علم غیب سره دې او علم غیب دَ الله تعالی خاصه ده په دې وجه حضور پاک نفی او فرمائیله او دا څه دینی او اخروی امور هم نه دی دکوم پیژندل چه دَنبی دَپاره ضروری وی

---

۱) اخرجه البخاری فی کتاب التعبیر/باب العین الجاریة فی المنام (رقم-۷۰۱۸)

④ د حضرت عثمان بن مطعون په وفات باندې حضورپاك د هغه دياره دعاګاني اوغوښتلي د نولو نه مخكښې په بقيع غرقد كښې هم هغوى دفن كړې شو حضورپاك دهغوى مخ اوتندي ښكل كړو په دې باندې يوې ښځې اووئيل عثمان ستاد پاره جنت مبارك شه په دې باندې حضورپاك د خفګان اظهار اوكړو چه زه د الله تعالى رسول كيدوباوجود دخپل خان باره كښې داسې خبره نه كوم تاد صحابى باره كښې داسې حكم څنګه اولګولو؟ داخو د مستقبل د غيب معامله ده داسې فيصله نه دى كول پكار اولنى دوه جوابونه واضح او راجح دى

[٥٣٤١] په دوزخ كښې د بنى اسرائيلو د يوې ښځې كيفيت

٥٣٤١-(١)[٣] ① وَعَنْ جَابِرٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: ② قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "③ «عُرِضَتْ عَلَيَّ النَّارُ، ④ فَرَأَيْتُ فِيهَا امْرَأَةً مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ ⑤ تُعَذَّبُ فِي هِرَّةٍ لَهَا، رَبَطَتْهَا ⑥ فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ ⑦ حَتَّى مَاتَتْ جُوعًا، ⑧ وَرَأَيْتُ عَمْرَو بْنَ عَامِرٍ الْخُزَاعِيَّ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ، ⑨ وَكَانَ أَوَّلَ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ» "، رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: ① او حضرت جابر رضي الله عنه وايي ② چې رسول الله ﷺ وفرمايل. ③ د معراج په شپه يا په يو بله موقع په حالت دخوب يابيداري كې څما مخكې د دوزخ اور خودلو د پاره را وستل شو. ④ نو ما په هغه كې د بني اسرائيلو يوه ښځه شوزيدونكي وليده چې د بني اسرائيلو د اهل ايمان نه وه. ⑤ هغه ته د يوي پيشو باره كې عذاب وركول كيدي چې هغي تړلي وه. ⑥ نه يي خوراك څكاك وركوى او نه يي پريخودله چې په خپله حشرات الارض. (يعنى مږي مږكان وغيره. څه وخوري) ⑦ آخر هغه پيشو د لوږي دبي قراري سره مړه شوه. ⑧ او عمرو ابن عامر خزاعي مي وليدى چې خپلي كولمي يي په اور كي راخكلي ⑨ دا اول هغه سړى دى چې د سائبو رواج يي په عربو كى رائج كړي وو

حل اللغات: - ① هِرَّةٍ پيشو. ② رَبَطَتْهَا: ترلي ني وه. ③ خَشَاشِ چينجي وغيره. ④ جُوعًا اولږه. ⑤ يَجُرُّ رابكلي ني. ⑥ قُصْبَهُ كولمي ⑦ السَّوَائِبَ د سائبة جمع ده هغه اوښې ته وائى چه د بتانو په نوم باندې آزاده پريخودې شي

تسهيلات:

قوله تُعَذَّبُ فِي هِرَّةٍ لَهَا

د فـي متعلق: دا فى د علت او سببيت دپاره ده چه پيشو ته ناجائز تكليف رسولو اوقتلولو وجې نه هغه ښځه دوزخ ته لاړه .

---

[1] اخرجه البخارى فى كتاب أحاديث الأنبياء/باب حديث الغار(رقم-٣٤٨٢) ومسلم فى كتاب الكسوف/باب ما عرض على النبى صلى الله عليه وسلم فى صلاة الكسوف من أمر الجنة والنار(رقم ٩ - (٩٠٤)) والنسائى فى كتاب الكسوف/باب نوع آخر (رقم-١٤٨٢)واحمد فى المسند:٣٣٥/٣

قوله: وَرَأَيْتُ عَمْرَوبْنَ عَامِرِ الْخُزَاعِيَّ يَجُرُّ قُصْبَهُ فِي النَّارِ.

دعمروبن عامر پیژندګلو: عمروبن عامر په خپله زمانه کښې داهل مکه مشر وو دحرم شریف نګران هم وو داسړي کاهن هم وو یوخل دي بیمار شو د چا نه ئې اوریدلي وو چه په شام کښې یوخائې داوبو یوه چینه ده که چرته بیمار په هغې کښې غسل اوکړي نو جوړیږي دا سړي شام ته لاړو اوهلته دي سړي اوکتل چه خلق بت پرستي کوي د ده هم شوق پیدا شو او په واپسئ کښې ئې دهغه خلقو نه یو بت څان سره راوړلو د کوم نوم چه هُبَل وو چونکه دا سړي کاهن وو نو ابلیس ده ته اوونیل چه جده ته لاړ شه په فلانکي ځائې کښې د حضرت نوح علیه السلام دزماني پنځه بتان پراته دي هغه هم راوړه چنانچه عمرو بن عامر لاړو او دهغه ځائې نه ئې پنځه بتان ود، سواع، یغوث، یعوق او نسر راوړل او بیت الله سره ئې اودرول په کوم سره چه په مزه مزه د شرك او بت پرستئ رسم په حجاز مقدس کښې روان شو بیا دي بدبخته د بتانو په نوم باندي سنډګان آزاد پریخودل

قوله: وَكَانَ أَوَّلَ مَنْ سَيَّبَ السَّوَائِبَ:

د سائب ګرځیدوصورتونه: ① یومسافر سړي د سفر نه په خیر سره واپس کور ته راغلو
② چه کله به یوي اوښې لس ماده بچي پیدا کړل
③ یو بیمار د بیمارئ نه شفاحاصلوله

نو د عربو دا دستور وو چه یوه اوښه به ئې آزاده پریخوده نه به ئې د هغې نه پیئي لوشل اونه به ئې په هغې باندي سورلي کوله نه به ئې هغه د فصل نه منع کوله بس کولاؤ او آزاده به ګرځیدله عربو به د خپل بتانو د خوشحالولو په خاطر داسې کول په دي حدیث کښې هم دغه تفصیل طرف ته اشاره ده

اشکال: بعضي روایاتو کښې د دغه سړي د پلار نوم لُحَي یعنې عمرو بن لحي دي. دلته د ده نوم عمرو بن عامر خودلې شوې دي

داشکال جواب: ممکن ده د ده د نیکه نوم لحي وي. نوکله پلار یعنې د عامر طرف ته منسوب کیږي اوکله د لحي نیکه طرف ته منسوب کیږي

په جهنم کښې د عمروبن عامرپه لیدو کښې درې احتمالات: ① د دي حدیث نه معلومه شوه چه جنت اودوزخ هم د اوس نه موجود دي اوځه خلق هم د اوس نه دوزخ کښې اچولې شوي دي لکه څنګه چه په دي حدیث کښې ذکر دي

② کیدي شي چه عالم برزخ کښې د دوزخ یوښاخ وي نوهغه هم دوزخ دي

③ کیدي شي چه حضورپاك ته د وحي په ذریعه د دوزخ د مستقبل حالات خودلې شوي وي چه بیابه دوزخ کښې دي خلقوسره داسې معامله کیږي.

[٥٢٤٢] د ګناهونو په وجه هلاکت

٥٢٤٢-(٦) [١] وَعَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهَا- [٢] «أَنَّ رَسُولَ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- دَخَلَ عَلَيْهَا يَوْمًا فَزِعًا يَقُولُ: [٣] "لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ، وَيْلٌ لِلْعَرَبِ مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ، [٤] فُتِحَ الْيَوْمَ مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مِثْلُ هٰذِهِ" [٥] وَحَلَّقَ بِإِصْبَعَيْهِ: الْإِبْهَامِ وَالَّتِي تَلِيهَا، [٦] قَالَتْ زَيْنَبُ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! أَفَنَهْلِكُ وَفِينَا الصَّالِحُونَ؟ [٧] قَالَ: "نَعَمْ، إِذَا كَثُرَ الْخَبَثُ"» مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [١] او بي بي زينب بنت جحش ﷺ نه روايت دى. [٢] يوه ورځ رسول الله ﷺ هغه سره به داسې حالت کې تشريف راوړى لکه چې ډير خوف زده وي. بيايي وفرمايل [٣] د الله نه بغير هيڅ معبود د عبادت لائق نه دى. افسوس صد افسوس په عربو د هغه شر او فتنه په وجه چې په خيل آخريني هلاکت سره نزدې را رسيدلى دى [٤] نن د ياجوج ماجوج په ديوال کې د ومره قدر سورى شوى دى. [٥] په دې ويلو سره حضور ﷺ د بهې ګوتې او دا ترې ګوتي په ذريعه حلقه جوړه کړه. [٦] بي بي زينب ﷺ وايي. ما عرض وکړو يارسول الله! آيا مونږ به په دې صورت کې هلاك شو حال دا چې په مونږ کې صالح او پاکباز خلق موجود وي. آيا زمونږ په منځ کې د الله د نيك بنده ګانو د وجود برکت به د دې فتنو دخوريدولو اود بلاګانو او آفاتو نازليدو کې بنديز نه جوړيږي. [٧] حضور ﷺ وفرمايل هو چې کله په تاسو کې خرابي ډيري خوري شي. او هرطرف ته د فسق وفجور دور دوره وي نو د هغه خرابيو او فسق وفجور په سبب به نازليدونکي فتني او آفات د صلحاؤ او بزرګانو موجودګى. او د هغوئ برکت به يې هم بند نه کړى (بخاري، مسلم

حل اللغات:- ① فَزِعًا خوف زده. د ويرې په حالت کښې. ② رَدْمِ لوئي بند. مضبوط ديوال ③ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ يو فسادى انساني مخلوق. ④ حَلَّقَ حلقه او دائره ئې جوړه کړه. ⑤ الْإِبْهَامِ مته ګوته. ⑥ الْخَبَثُ فسق اوفجور. فساد

حضرت ام المؤمنين زينب تعارف: نوم زينب ام الحکم کنيت دقريشوخاندان اسد بن خزيمه سره ئې تعلق وو د پلار نوم ئې جحش بن رباب د مور نوم اميمه دا دحضور ﷺ د حقيقى ترور لوروه د هغې د اسلام باره کښې صاحب اسدالغابه ليکي کانت قديمة الاسلام هغه په اسلام کښې قديمه وه (٢) دهغې رومبې نکاح حضرت زيد بن حارثه ﷺ چه د حضور ﷺ ازادکړې شوې غلام او متبنى يعنى په خوئ نيولې وو هغه سره شوې وه د هغه نه پس بيا دحضوراکرم ﷺ په نکاح کښې راغله رسول الله ﷺ به هغې سره

---

[1] اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب قصة يأجوج ومأجوج (رقم ٣٣٤٦) ومسلم في كتاب الفتن وأشراط الساعة/باب اقتراب الفتن وفتح ردم يأجوج ومأجوج (رقم ١ (٢٨٨٠) والترمذي في كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء في خروج يأجوج ومأجوج (رقم-٢١٨٧) وابن ماجه في كتاب الفتن/باب ما يكون من الفتن (رقم-٣٩٥٣)

ډیره مینه کوله هم په دې وجه حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمائي هي التي كانت تساويني منهن في المنزلة عند رسول الله صلى الله عليه وسلم په بیبیانوکښې هم هغې د رسول الله ﷺ په نظر کښې په عزت اومرتبه کښې زما مقابله کوله هغه ډیره اخلاقي او عبادت گذاره وه. حضرت ام سلمه رضي الله عنها فرمائي كانت زينب صالحة صوامة قوامة (زرقاني) حضرت زینب نیکه روژه داره او مونځ گذاره وه.

وفات: د هغې وفات په ۲۰ هجری ۵۳ کالو په عمر کښې شوې وو د حضوراکرم ﷺ سره د نکاح په وخت کښې د هغې عمر ۳۸ کال وو علامه واقدی ۳۵ کال لیکلي دي خود اکثرو په نیز رومبي قول راجح دي.

مرویات: دهغې نه یوولس (۱۱) روایات نقل دی په دوو روایتونوکښې بخاری اومسلم دواړه متفق دی.

تسهيلات:

قوله: مِنْ شَرٍّ قَدِ اقْتَرَبَ.

د شر مصداق: یعنی یو شر او فساد دې چه عربو ته بالکل رانیژدې شوې دې. د دغه شر نه دغه عام و فتنو طرف ته هم اشاره ده کوم چه د شهادت عثمان نه پس په دې امت کښې شروع شوې وې او ترننه پورې یو شان جاری دی لیکن د هغې فتنو نه یوه لویه فتنه او فساد د یاجوج ماجوج خروج دې کوم چه په دې حدیث کښې بیان کړې شوی دی.

قوله: مِنْ رَدْمِ يَأْجُوجَ.

د ردم نه مراد: د نیژدې شوی شر تفصیل او بیان په دې جمله کښې کړې شوې دی او دې سره د سلطان سکندر ذوالقرنین د جوړ کړې شوی دیوال طرف ته اشاره ده د کوم سره چه یاجوج ماجوج بند کړې ساتلې شوی دی.

د یاجوج ماجوج نه د حفاظت دپاره جوړ شوې دیوالونه: د یاجوج ماجوج د لوټ مار د ویرې د وجې نه د حفاظت په توگه په دنیا کښې څو دیوالونه جوړ دی په هغې کښې مشهور څلور دیوالونه دی.

① دریم دیوال روسی علاقه داغستان کښې واقع دې هغې ته هم دربندوائی
② د ټولو نه لوئی دیوال د چین دیوال دې دا فغفور بادشاه جوړ کړې دې چه زر میله اوږد دیوال دې
③ دویم دیوال وسط ایشیاء کښې د بخارا او ترمذ په مینځ کښې واقع دې کوم ته چه دربندوائی دا دیوال د مغل بادشاه تیمور لنگ جوړ کړې دې
④ څلورم دیوال کاکیشیا کښې دې چه هم د دغه داغستان مغربی علاقه کښې واقع دې

چه د ډيرو اوچتو غرونو په مينځ کښې دې دې خانې کښې درۀ داريال په نوم باندې بوه درۀ مشهوره ده په هغې کښې دا ديوال قائم دې کوم ته چه سد کوه قاف وائي هم دغه سد سکندري دې او هم ددې شاته ياجوج ماجوج بند دی نن صبا د چيچنيا نوم ډير مشهور دې داغستان او کاکيشيا او دره داريال او کوه قاف چيچنيا سره خاوشا علاقې دی

د ياجوج ماجوج كثرت: ياجوج ماجوج د زمکې د تول وسعت پنځه سوا کاله مسافت باندې دی د دريو سوو کالو د مسافت علاقه باندې سمندر محيط دې او د ۱۹۰ کالو د مسافت علاقې باندې ياجوج ماجوج آباد دی او د لسو کالو د مسافت په علاقه باندې انسانان آباد دی ياجوج ماجوج د منګوليا يعنې تاتاريانو د هغه وحشي قبائلو نوم دې کوم نه چه د يورپ او د روسي اقوامو د ابتدائي نسل تاريخي ثبوت حاصل دې د ياجوج ماجوج همسايه کمزور قبائلو دوه لويو قبيلو موګ او يوجي په نوم سره ياد کړل دی نه پس يونانيان دی دې ته ئې يوګاګ ميګاګ او ويل دې نه پس عربي او عبراني لغت په دې کښې تصرف او کړو او دائې ياجوج ماجوج جوړ کړه ياجوج ماجوج ترك. روس. چين او د تاتاريانو د هغه وحشي قبائلو نوم دې چه د سد سکندري نه شاته د غيب پردې کښې لاړل او د هغوی څه مهذب نمونې هم د دې قومونو په صورت کښې د دنيا مخې ته موجود دی کتاب الفتن کښې ياجوج ماجوج مزيد څه تفصيل راتلې شی

په حديث کښې بيان شوې فتنې مصداق: بهرحال په دې حديث کښې د کومې فتنې د نيزدې راتلو طرف ته اشاره کړې شوې ده دا د تاتاريانو د چنګيزخان فتنه وه چه هم د دغه علاقې نه راوچته شوې وه او کومې چه اسلامي خلافت ټکړې ټکړې کړو او بغداد ئې لوټ کړو د دين او د ديندارو نښې ئې ورانې کړې او په لاکهونو انسانان ئې مړه کړل دا د ياجوج ماجوج يو مصنوعي شکل وو اصل ياجوج ماجوج به روستو راوځي الله تعالی دې هلاك کړی

[٥٣٤٢] د قرب قيامت د وخت يوڅو عذابونه

٥٣٤٣-( ) [د] [١] وَعَنْ أَبِي عَامِرٍ، أَوْأَبِي مَالِكٍ الْأَشْعَرِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -، قَالَ[٢]: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: "[٣]«لَيَكُونَنَّ مِنْ أُمَّتِي أَقْوَامٌ[٤] يَسْتَحِلُّونَ الْخَزَّ وَالْحَرِيرَ وَالْخَمْرَ وَالْمَعَازِفَ[٥] وَلَيَنْزِلَنَّ أَقْوَامٌ إِلَى جَنْبِ عَلَمٍ[٦] يَرُوحُ عَلَيْهِمْ بِسَارِحَةٍ لَهُمْ يَأْتِيهِمْ[٧] رَجُلٌ لِحَاجَةٍ[٨] فَيَقُولُونَ: ارْجِعْ إِلَيْنَا غَدًا،[٩] فَيُبَيِّتُهُمُ اللَّهُ، وَيَضَعُ الْعَلَمَ،[١٠] وَيَمْسَخُ آخَرِينَ قِرَدَةً وَخَنَازِيرَ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ»". رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [١] او حضرت ابوعامر رضي الله عنه يا حضرت ابومالك اشعري رضي الله عنه نه روايت دی هغوی ابوعامر يا ابومالك بيان وکی[٢] ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه دا واوريدل [٣] خما په امت کې به

( ) اخرجه البخاري في كتاب الأشربة/باب ما جاء فيمن يستحل الخمر ويسميه بغير اسمه (رقم-٥٥٩٠) وابوداود في كتاب اللباس/باب ما جاء في الخز (رقم-٤٠٣٩)

څه داسې ډلي او طبقې پيدا شي.[۴] چې وريښمني کپړې. شراب او باجي به حلال او جائز کړي.[۵] او په هغوئ کې به څه خلق د اوچت غره اړخ کې قيام کوي يعنې هغوی به دقيام کولو ځاى داسې مقامات باندې جوړکړي. چې بلند. ممتاز او نمايان به وي. او د هغه دا ممتاز او نمايان حيثيت ليدو سره غريب او محتاج خلق به خپل حاجتونه او ضرورتونه اخستو سره هغوئ ته ورځي.[٦] د شپې وخت به د هغوئ څاروي چې څرندې د پاره تللي وي. په ډك نس (خيټه) واپس راځي. او هغه څاروي به د هغوئ څرونكي د شيدو نه ډك راولي. [٧] ليكن كوم محتاج چې خپل ضرورت اخستو سره هغوئ ته راځي. [او دا خواهش كوي. چې د هغه څارويو د شيدو نه څه خپل غذائي ضرورت پوره كولو د پاره يوسي] .[٨] نو هغوئ به په دې ويلو سره ټال وركوي چې صبا مونږ ته راسه. [٩] نو بيا د شپې به الله ﷻ په هغوئ باندې خپل عذاب داسې نازل كړي. چې په هغوئ كې به بعضو باندې خو به د غرڅوكه را ولويږي. [چې تر هغه لاندې چختانيدو سره به تباه او هلاك شي. او د هغوئ نوم نښان به هم باقي پاتې نشي] . [١٠] او به هغوئ كې د بعضو صورتونه مسخ كيدلو سره شادوګان او خنزيران به ځني جوړ شي. چې ترقيامته پورې به هغه شكل كې وي، [يا داچې داسې بدكارو خلقو باندې كوم عذاب هم نازل كړي هغه به ترقيامته پورې مسلط وي] (بخاري)

حل اللغات:- ① الْخَزَّ ريښم. ② الْمَعَازِفَ دَ معزف جمع ده. د لهولعب آلاتو. ب جوړوېږو ته وائي ③ جَنْبِ عَلَمٍ غر ته علم وائي يعنې داخلق به دَ غر په لمن كښې استوګنه اختروى ④ يَرُوحُ دَ مابنام په وخت كښې راتلل ⑤ سَارِحَةٍ څرن كونكې څناور. ⑥ فَيُبَيِّتُهُمُ د شپې به الله تعالى په هغوى باندې عذاب راولى. ⑦ يَمْسَخُ شكلونه به ئې بدل كړى.

١ وَفِي بَعْضِ نُسَخِ (الْمَصَابِيحِ) : (الْحَرَّ) بِالْحَاءِ وَالرَّاءِ الْمُهْمَلَتَيْنِ، وَهُوَ تَصْحِيفٌ، وَإِنَّمَا هُوَ بِالْخَاءِ وَالزَّايِ الْمُعْجَمَتَيْنِ، نَصَّ عَلَيْهِ الْحُمَيْدِيُّ، وَابْنُ الْأَثِيرِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، وَفِي كِتَابِ (الْحُمَيْدِيِّ) عَنِ الْبُخَارِيِّ، وَكَذَا فِي (شَرْحِهِ) لِلْخَطَّابِيِّ: (تَرُوحُ عَلَيْهِمْ سَارِحَةٌ لَهُمْ يَأْتِيهِمْ لِحَاجَةٍ).

ترجمه: او د مصابيح په بعضې نسخو كې د الخز. په خاى.حاء. او راء. سره الحر. دى او د ح زير او د را جزم سره الحر. معنې يې ده د ښځې شرمګاه. په دې صورت كې به مطلب داوي. چې هغه خلق به زنا او بدكاري حلاله او جائز كړي ليكن حقيقت دادى چې د دې لفظ حا او را سره يعنې الحر. نقل كيدل صحيح نه دى. بلكې دا د كتابت غلطي ده. چې كاتب نه واقع شوي ده په اصل كې دالفظ خز. يعنې خ او ز سره دى، حميدي او ابن الأثير د دې حديث په سلسله كې د دې معنى وضاحت كړى دى او د حميدي په كتاب كې دامام بخاري رحمه الله نه چې كوم روايت نقل شوى دى، او دغه شان خطابي چې شرح

بخاري کې کوم روايت نقل کړی دی. هغه دوا ړو کې تَرُوحُ عَلَيْهِمْ بِسَارِحَةٍ لَهُمْ تَأْتِيهِمْ يَعْنِي لِحَاجَةٍ به ځای داسې دی. تَرُوحُ عَلَيْهِمْ سَارِحَةٌ لَهُمْ يَأْتِيهِمْ لِحَاجَةٍ.

حل اللغات - ⑧ قِرَدَةً بيزوګان. ⑨ تَصْحِيفٌ غلطی

تسهيلات: قوله : وَالْمَعَازِفَ

د موسيقۍ حلال ګڼل :مطلب دادی چه په آخره زمانه کښې به يو داسې وخت راشي چه خلق به دا حرام کارونه حلال ګڼي لکه نن صبا هم دغه شان کيږي

قوله : وَيَضَعُ الْعَلَمَ

دعذاب مختلف صورتونه :يعنی الله تعالی به په دغه خلقو دا غر راغوزار کړي د کوم په نتيجه کښې چه دوی او سيږي. دوی به هلته هلاک شي او چه څوک بچ شي هغوی به د بيزوګو او خنزيرانو په شکل کښې مسخ کړي

[٥٣٤٤] دَ الله تعالى عذاب عام وی

( )[٢] ١ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا-قَالَ: ٢ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: ٣ «إِذَا أَنْزَلَ اللَّهُ بِقَوْمٍ عَذَابًا أَصَابَ الْعَذَابُ مَنْ كَانَ فِيهِمْ، ثُمَّ بُعِثُوا عَلَى أَعْمَالِهِمْ». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه : ١ حضرت ابن عمر رضي الله عنهما وايي. ٢ چې رسول الله ﷺ وفرمايل ٣ هرکله چې الله ﷻ يو قوم باندې خپل عذاب نازلوي. نو هغه عذاب هرهغه سړی په خپل ګرفت کې اخلي کوم چې په هغه کې وي. ٤ او بيا په آخرت کې به هغه خلق د خپلو اعمالو سره راپورته کيږي (بخاري. مسلم)

تسهيلات:

قوله أَصَابَ الْعَذَابُ مَنْ كَانَ فِيهِمْ

په دنيا کښې د عذاب عموميت :د کلام خلاصه دا چه کله د الله تعالی عذاب راشي نو به خو او به خرابو خلقو ټولو باندې راشي اګرچه بعضې وخت الله تعالی به خپل خاص رحمت سره خپل نيکان او صالحان بنديګان د عذاب نه محفوظ کوي

قوله ثُمَّ بُعِثُوا عَلَى أَعْمَالِهِمْ

په قيامت کښې د نيتونو به اعتبار ژوندی کيدل :يعنی دغه بې قصوره نيکان خلق به دنيا کښې په آفتونو سره متاثر شوې وو په دې وجه به په قيامت کښې هغوی ته ښکلي بدله ورکولې شي لکه چه په دنيا کښې به راتلونکې عذاب د نيکانو خلقو د پاره د درجاتو اوچتيدو سبب وي او د نورو خلقو د پاره به عذاب وی

[١] اخرجه البخاري في كتاب الفتن باب إذا أنزل الله بقوم عذابا (رقم-٧١٠٨) ومسلم في كتاب الجنة وصفة نعيمها وأهلها باب الأمر بحسن الظن بالله تعالى عند الموت (رقم-٨٤ - (٢٨٧٩))واحمد في المسند:٢/ ٤٠

[۵۳۴۵] اصل اعتبار خاتمې لره وی

۵۳۴۵-(۱)[۲] [۱] وَعَنْ جَابِرٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۳] «يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلَى مَا مَاتَ عَلَيْهِ» ". رَوَاهُ مُسْلِمٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت جابر رضی الله عنه وایي [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۳] د قیامت په ورځ به هربنده په هغه حال راپورته کیږي په کوم حال چې هغه مړشوی دی (مسلم)

حل اللغات:- ① يُبْعَثُ راپورته کولې به شی یعني حشربه ئې کیږی

تسهیلات:

قوله يُبْعَثُ كُلُّ عَبْدٍ عَلَى مَا مَاتَ عَلَيْهِ،

د اخری عمل اعتبار: اعتبار به د خاتمې وی په کوم حال کښې یا په کوم حیثیت کښې چه بنده مړشوې دې هم په هغه حالت کښې به د قیامت په ورځ اوچتولې شی او د هغه اخروی انجام به هم د هغې مطابق وی که چرې د ایمان په حالت کښې مړشوې دې نو هم د ایمان په حالت کښې به اوچتولې شی او که چرې د کفر په حالت کښې مړ شوې دې نو د کفر په حالت کښې به اوچتولې شی یا دا دې یو مطلب دادې چه دکومو خلقو مشابهت اختیارکړی او په هغې کښې مړ شوې دې نو هم د هغوی سره به اوچتولې شی

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۳۴۶] جنت غوښتونکې او دوزخ نه ویریدونکې د شپې نه اوده کیږی

۵۳۴۶-(۱)[۱] [۱] عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۳] «مَا رَأَيْتُ مِثْلَ النَّارِ نَامَ هَارِبُهَا [۳] وَلَا مِثْلَ الْجَنَّةِ نَامَ طَالِبُهَا» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضرت ابو هریره رضی الله عنه وایي، [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۲] د شدت، سختي او هولناکي په اعتبار سره، ما د دوزخ د اور په شان داسې هیڅ شی نه دی لیدلی چې د هغه نه تښتیدونکی دې اوده وي. [۳] او د سرور او شادماني د اعتبار نه ما د جنت په شان هیڅ داسې شی نه دی لیدلی چې د هغه طلب کونکی دې اوده وي (ترمذي)

حل اللغات:- ① هَارِبُهَا تختیدونکې دهغې نه

تسهیلات:

قوله مَا رَأَيْتُ مِثْلَ النَّارِ نَامَ هَارِبُهَا

د جهنم ویره او خوب: د حدیث د اولنې جملې مطلب دادې چه کوم کس یو طاقتور کس

---

۱) اخرجه مسلم فی کتاب الجنة وصفة نعیمها وأهلها/باب الأمر بحسن الظن بالله تعالى عند الموت (رقم-۸۳-۲۸۷۸) واحمد فی المسند: ۳/۳۳۱

۲) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة جهنم عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲۶۰۱)

دخپل ځان دَ پاره ضرري او په هلاکت کښې اخنه کونکې ګنړي نو هغه کله هم په غفلت سره نه اوده کيږي بلکه خپل ځان سره وسله وغيره ضرور ساتي ليکن د دوزخ نباهي ددې نه ډيره زياته ده بيا هم انسان دهغې نه په غفلت کښې اوده دې دَ دوزخ د اور نه لرې تختيدل دادي چه انسان ګناه اوخطا پريږدي او طاعت او عبادت په ځان باندې لازم کړي

قوله وَلَامِثْلَ الْجَنَّةِ نَامَ طَالِبُهَا

د جنت طلب اوخوب: د دې جملې مطلب دادې چه انسان چرته دَ يو خوښ کړې شوي خيز طلبګاروي او هغه پوره توګه باندې حاصلول غواړي نو هغه کله هم د غفلت په خوب نه اوده کيږي بلکه هغې پسې شانه منډې وهي او چه هغه څومره منډه تړه او کوشش کولې شي هم هغه هومره کوي ترڅو پورې چه ورته هغه حاصل شوې نه وي بې آرام وي ليکن څومره دَ بدقسمتئ او څومره دَ غفلت خبره ده چه انسان په دنيا کښې مست دې دَ آخرت نه غافل دې

[۵۳۴۷] دالله تعالی دبندګۍ عظمت

۵۳۴۷-()[۹] ۱ وَعَنْ أَبِي ذَرٍّ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "۲«إِنِّي أَرَى مَا لَا تَرَوْنَ، وَأَسْمَعُ مَا لَا تَسْمَعُونَ،۳ أَطَّتِ السَّمَاءُ وَحُقَّ لَهَا أَنْ تَئِطَّ،۴ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ مَا فِيهَا مَوْضِعُ أَرْبَعَةِ أَصَابِعَ۵ إِلَّا وَمَلَكٌ وَاضِعٌ جَبْهَتَهُ سَاجِدًا لِلَّهِ،۶ وَاللَّهِ لَوْ تَعْلَمُونَ مَا أَعْلَمُ لَضَحِكْتُمْ قَلِيلًا، وَلَبَكَيْتُمْ كَثِيرًا،

ترجمه: ۱ او حضرت ابوذر رضي الله عنه وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل ۲ څه چې زه وينم تاسو يې نه وينئ او څه چې زه اورم، تاسو يې نه اورئ ايعنې د قيامت علامې. د قدرت د کرشمه سازيو نښې او د الله ﷻ صفات قهريه او جلاليه څرنګه چې خما مخې ته دی او زه يې وينم. داسې نه ستاسو مخې ته دی، او نه يې تاسو وينئ او د احوال آخرت اسرار او اخبار. د قيامت هولناکې او د دوزخ د عذاب شدت او د سختيو خبرې چې څرنګه زه اورم. تاسو يې نه اورئ ا. ۳ آسمان چغار کوی. اود هغه لره چغار کول پکاردی. ۴ قسم دی په هغه ذات چې د هغه په لاس کې خما ځان دي په آسمان کې د څلور ګوتو برابر هم داسې ځای نشته ۵ چېرته چې فرښتې د الله په حضور کې خپل سر په سجده نه وي ايښې ۶ په الله قسم که تاسو هغه شی وپيژنی کوم چې زه يې پيژنم. نو يقيناً تاسو به کم خاندي او زيات به ژاړي،

حل اللغات:- ① أَطَّتِ د اطيط نه دې دَ زانګو يا کيجاوې وغيره دَ لرګی نه چه کوم دَ چرچر آواز راوځی هغې ته اطيط وائی مراد آواز راوتل دی ② وَاضِعٌ اينودونکې به وی. ③ جَبْهَتَهُ تندې خپل.

( ) اخرجه الترمذي في السنن كتاب الزهد عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب في قول النبي صلى الله عليه وسلم: «لو تعلمون ما أعلم لضحكتم قليلًا» (رقم-۲۳۱۳) وابن ماجه في كتاب الزهد/باب الحزن والبكاء (رقم-۴۱۹۰) واحمد في المسند:۵/۱۷۳

[۱] وَمَا تَلَذَّذْتُمْ بِالنِّسَاءِ عَلَى الْفُرُشَاتِ، [۲] وَلَخَرَجْتُمْ إِلَى الصُّعُدَاتِ تَجْأَرُونَ إِلَى اللَّهِ» "[۳] قَالَ أَبُو ذَرٍّ: يَالَيْتَنِي كُنْتُ شَجَرَةً تُعْضَدُ. رَوَاهُ أَحْمَدُ. حسرت اود درد له مخه وويل، کاش آرمان چې زه يوه ونه وې چې هغه کټ کول کيږي (احمد، ترمذي، ابن ماجه)

حل اللغات: - ④ الْفُرُشَاتِ بسترې. ⑤ الصُّعُدَاتِ صحرا، ځنګل ⑥ تَجْأَرُونَ تاسو به په زارئ سره اوژاړئ ⑦ تُعْضَدُ پريکړې شوې.

تسهيلات:

قوله: إِنِّي أَرَى مَا لَا تَرَوْنَ، وَأَسْمَعُ مَا لَا تَسْمَعُونَ -

د نبي عليه السلام مشاهده: يعنی چه کومې فتنې او فسادونه او واقعات زه وينم او اورم تاسو نه هغه کتلې شئ او نه ئې اوريدلې شئ.

قوله: أَطَّتِ السَّمَاءُ:

د آسمان چغار کول: يعنی آسمان به د ملائکو د کثرت او د ذات باری تعالی د جلال د وجې نه د چغار (چرچر) آواز راوباسی. د حديث راتلونکې حصه کښې د دې چرچر وجه او سبب بيان کړې شوې دې.

قوله: سَاجِدًا:

د ساجد څخه مراد: يعنی فرښتې د الله تعالىٰ په اطاعت کښې لګيادی د اطاعت مطلب دادې چه څوك په سجده کښې دی نو څوك په قيام کښې يا په رکوع کښې دی او څوك په نورو عبادتونو کښې دی ټولې په سجده کښې نه دی لهذا د ساجداً نه اطاعت مراد اخستې شوې دې دې دپاره چه عام شی.

قوله: يَالَيْتَنِي كُنْتُ شَجَرَةً تُعْضَدُ،

دابوذر رضی الله عنه ويره: يعنی د الله تعالىٰ په مخکښې به په زارئ سره ژاړئ دا سخت حالات اوريدو سره حضرت ابوذر ﷺ اوفرمائيل چه افسوس زه چرته ونه وې چه پرې شوې ووم نو قصه به ختمه وه اودې واقعاتو او خفګانونو ته به نه مخامخ کيدم

[۵۳۴۸] يو د حکمت نه ډک نصيحت

٥٣٤٨-(١)[١٠] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ-رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ-قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ-صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۳] «مَنْ خَافَ أَدْلَجَ، [۴] وَمَنْ أَدْلَجَ بَلَغَ الْمَنْزِلَ، [۵] أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللَّهِ غَالِيَةٌ، [۶] أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللَّهِ الْجَنَّةُ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابو هريره ﷺ وايي [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۳] کوم سړی چې دې خبرې نه ويريږي چې په هغه دښمن د شپې په آخري حصه کې حمله کونکی دی نو هغه

[١] اخرجه الترمذي في السنن كتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب (رقم-٢٤٥٠)

د شپې په اولنی حصه کې د خپل بچاو لار اختیاروي چې د دښمن د حملې نه محفوظ شی ۴ او کوم سړی چې د شپې په بې خوابی کښې تلل شروع کړل هغه منزل ته ورسیدي ۵ پوهه شئ چې د الله مال ډیر قیمتي دی.[چې ډېر اوچت قیمت ورکولو بغیر حاصلیدی نشي] ، ۷ او هغه اوچت قیمت د هغه په لار کې د ځان ومال قرباني ده او یاد لري چې د الله ﷻ مال جنت دی (ترمذي)

حل اللغات:- ① أَدْلَجَ: دَ شپې په اوله حصه کښې تلل ② سِلْعَةَ: مال، سامان. ③ غَالِيَةٌ: قیمتی. ګران.

تسهیلات:

قوله: مَنْ خَافَ أَدْلَجَ، وَمَنْ أَدْلَجَ بَلَغَ الْمَنْزِلَ:

د آخرت دسفر دپاره تیار اوسیدل: علامه طیبی رحمه الله فرمائی نبی کریم ﷺ دا پورتنې مثال دَ آخرت دَ سفرکونکی دَ پاره فرمائیلې دې خکه چه شیطان دَ هغه په لارکښې ناست دې اودغه شان دَ انسان نفس هم هغه سره دې که انسان دَ نیکو اعمالو تیارې کوی اود شیطان دَ مکر اوفریب نه بچ شی نودَ هغه دَ پاره دَ جنت لار آسانیږی. (۲)یوشاعر وائی:

بہر غفلت یہ تیری ہستی نہیں　　دیکھ جنت اس قدر سستی نہیں

ترجمه:- په هرغفلت دا ستا ذات اوهستی نه ده اوګوره دا جنت دومره آسان هم نه دې.

قوله: أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللَّهِ غَالِيَةٌ، ۶ أَلَا إِنَّ سِلْعَةَ اللَّهِ الْجَنَّةُ:

دجنت د سودا ګرانوالې: په دې حدیث کښې دا هم ارشاد دې چه دَ آخرت منزلونه پوره کول ډیر سخت او ګران دی دَهغې دَ پاره ډیر کوششونه کول دی خکه چه جنت ډیر قیمتی او ګران څیز دې ترکومې چه سړې ددې دَ پاره دَ خپل ځان اومال قربانی ورنکړی دَ جنت دَ نعمتونو مستحق کیدې نه شی ددې طرف ته دَ قرآن مجید په دې آیت کښې هم اشاره ده. ((إِنَّ اللَّهَ اشْتَرَىٰ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ)) (۳)

ترجمه:- بې شکه الله تعالی ﷻ دَمؤمن مال اوځان دَ جنت په بدله کښې اخستې دې.

[۵۳۴۹] د ذکرالله باوجود دَ الله تعالی نه ویریدل پکاردی

۵۳۴۹- (۱)[۱۱] ۱ وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- ۲ عَنِ النَّبِيِّ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: قَالَ: "۳ «يَقُولُ اللَّهُ جَلَّ ذِكْرُهُ: أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ مَنْ ذَكَرَنِي يَوْمًا ۴ أَوْ خَافَنِي فِي مَقَامٍ» رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ وَالْبَيْهَقِيُّ فِي "كِتَابِ الْبَعْثِ وَالنُّشُورِ".

ترجمه: ۱ او حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی، ۲ چې رسول الله ﷺ وفرمایل ۳ د قیامت په ورځ به الله ﷻ چې د هغه ذکر ډیر باعظمت دی دوزخ باندې مقرر فرشتو ته وفرمایي

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة جهنم عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب ما جاء أن للنار نفسین. وما ذکر من یخرج من النار من أهل التوحید (رقم-۲۵۹۴)

چې هغه سرې د دوزخ نه اوباسي چې هغه يوه ورځ هم ايعنی چيرته يو وخت يې هم زه ياد کړې يم]. [۴] يا څه موقع باندې زما نه ويريدلي وي. ترمذي او بيهقي رحمه الله دا روايت کتاب البعث والنشور کې نقل کړی دی

تسهيلات:

قوله: أَخْرِجُوا مِنَ النَّارِ

د..من.. په مصداق کښې دوه اقوال: ① دې کس نه مراد هغه مؤمن دې چه ترمرګه پورې د اخلاص سره په ايمان باندې قائم پاتې شی او هم په دې باندې د هغه خاتمه اوشی ليکن د څه ګناه اوبدعملئ د وجې نه په دوزخ کښې واچولې شو

② ددې څخه داسې کس مراد دې په چا کښې چه د الله تعالی ويره هم وه ليکن د کبائر په وجه په دوزخ کښې واچولې شو نو الله پاك به اوفرمائی چاچه زه په دنيا کښې يوه ورځ ياد کړې ووم يا ئی مانه ويره کړې وه هغه هم د دوزخ نه راؤباسئ لقوله تعالی ﴿وَأَمَّا مَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِ وَنَهَى النَّفْسَ عَنِ الْهَوَى ۝ فَإِنَّ الْجَنَّةَ هِيَ الْمَأْوَى ۝﴾

قوله: مَنْ ذَكَرَنِي يَوْمًا أَوْخَافَنِي فِي مَقَامٍ

د ذکر اوويرې څخه مراد: امام طيبی رحمه الله فرمائی د ذکر الله نه مراد هغه ذکر دې په کوم کښې چه د ژبې سره زړه هم شريك وی کوم ته چه اخلاص وائی او د الله تعالی د ويرې نه مراد هغه ويره ده د کوم په وجه چه بنده د خپل بدن اندامونه دګناهونو نه منع او په طاعاتو او عباداتو کښې مشغول اوساتی

[۵۳۵۰] په نيکوکې وراندې کيدو نکی خلق څوك دی؟

حديث-(۱)[۱۳] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا- قَالَتْ: [۲] «سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- عَنْ هَذِهِ الْآيَةِ ﴿وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ مَا آتَوْا وَقُلُوبُهُمْ وَجِلَةٌ﴾ [المؤمنون: ۶۰] [۳] أَهُمُ الَّذِينَ يَشْرَبُونَ الْخَمْرَ وَيَسْرِقُونَ؟ [۴] قَالَ: "لَا يَا بِنْتَ الصِّدِّيقِ! [۵] وَلَكِنَّهُمُ الَّذِينَ يَصُومُونَ، وَيُصَلُّونَ، وَيَتَصَدَّقُونَ، [۶] وَهُمْ يَخَافُونَ أَنْ لَا يُقْبَلَ مِنْهُمْ، [۷] أُولَئِكَ الَّذِينَ يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ» "رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: او بي بي عائشه رضي الله عنها وايي [۲] ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم نه ددې آيت باره کې پوښتنه وکړه. وَالَّذِينَ يُؤْتُونَ.....الخ. هغه خلق چې ورکوي. او څه چې ورکوي. ايعنی له قسم د زکاة او صدقاتونه د هغوئ حالت داد یا چې د هغوئ زړونه لرزان او ترسان دي ايعنی هغوئ باندې خوف خور وي، چې هغوئ د الله په لار کې او د هغه د حکم اتباع کې څه چې خرج کړی دي هغه به قبول شي يانه. او چيرته داسې نه وي چې زمونږ داخرچ او ايثار د

(۱) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب: ومن سورة المؤمنون (رقم-۳۱۷۵) وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب التوقی علی العمل (رقم-۴۱۹۸) واحمد فی المسند:۱۵۹/۶

شرائطو او آدابو مطابق واقع نه وي. او مونږ برعکس په وبال کې راښو. د دې آيت متعلق حضور ﷺ نه د بي بي عائشه رضی الله عنها سوال داوو! [٣] چې آيا داهغه خلق دي چې شراب څکي او غلا کوي. اخکه چې د الله جل جلاله د عذاب نه ويريدل د گنهگار کار دی! [۴] حضور ﷺ وفرمايل اې دصديق اکبر رضی الله عنه لوري ينه دا هغه نه دی کوم چې شراب څکي او غلاکوي. [۵] بلکې هغه خلق دي چې روژې نيسي. مونځونه کوي. زکوة ورکوي. [۶] او د دې باوجود هغوئ سره ويره وي چې د هغوئ اعمال شايد قبول نه شي. [٧] داهغه کسان دي چې په نيکيو کې تريوبل وړاندېوالي کوي

حل اللغات: - ① وَجِلَةٌ ويريدونکی. په لړزان

تسهيلات:

قوله أَهُمُ الَّذِينَ يَشْرَبُونَ الْخَمْرَ وَيَسْرِقُونَ؟

دعائشي رضی الله عنها تپوس: حضرت عائشي رضی الله عنها د حضورپاك نه څکه سوال اوکړو چه کوم خلق ژاړي او ويريږي نوکيدې شي چه هغوی لوئی لوئی گناهونه کړي وی په دې وجه به ژاړي نوحضورپاك دحضرت عائشه رضی الله عنها په جواب کښې اوفرمائيل داسې نه ده دا ژړاکونکی گناهگاران نه دی بلکه نيکان خلق به وی البته ويره به د دې خبرې وی چه هغوی کوم نيك اعمال کړي دی هغه دچرته د الله تعالی په نيز نامنظور نه شی

[۵۳۵۱] دذکرالله فضيلت او اهميت

۵۳۵۱-(١) [١٣] [١] وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ - رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ - قَالَ: [٢] «كَانَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - إِذَا ذَهَبَ ثُلُثَا اللَّيْلِ قَامَ فَقَالَ: [٣] " يَا أَيُّهَا النَّاسُ! اذْكُرُوا اللّٰهَ، اذْكُرُوا اللّٰهَ، [۴] جَاءَتِ الرَّاجِفَةُ، [۵] تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ، [۶] جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيهِ، [٧] جَاءَ الْمَوْتُ بِمَا فِيهِ» ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [١] ابي بن کعب رضی الله عنه بيان کوي [٢] چې دوه حصې شپه به تيره شوه نو حضور ﷺ به د تهجد مونځ د پاره ودريدو او فرمايل به يې [٣] اې خلقو الله د هغه دذات دواحدانيت او د هغه ټولو صفاتو سره ياد کی [الله د هغه دثواب اود عذاب سره ياد کی. چې تاسو د الله په حقله د خوف او اميد په منځ کې يې او هغه خلقو کې شمير شی. چې د هغوئ باره کې الله جل جلاله فرمايلي دي چې تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ.... الخ]. [۴] زلزله به راځي [يعنی مخکنی شپيلي پوکونکي ده. چې د هغې سره به ټول مړه شي! [۵] هغه پسې هغه هم راتلونکې ده چې وروسته راتلونکې ده [معنی مخکنی شپيلی نه پس دويمه شپيلی هم پوکل وهونکي ده. چې د هغه آواز باندې به ټول دوباره ژوندي شي. او خپلو خپلو قبرونو نه

(١) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القيامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب (رقم ۲۴۵۷) واحمد فی المسند: ۱۳۶/۵

پاڅیدو سره په میدان حشر کې به جمع شي، غرض دي الفاظو نه د حضور ﷺ مقصد د قیامت یاد ورکول او آخرت طرف ته متوجه کول وو چې داسې طاعات او عبادات او ذکر الله کې د مشغولیدو باعث وي. ۶ مرګ خان سره وابسته ټول احوال سره راخي د دې الفاظو مقصد هم دا تنبیه کول دي، چې غفلت پریخودلو سره هوښیار شي. ۷ ستاسو مرګ ستاسو په سرتیار ولاړ دی، او هغه ټول څیزونو سره چې هغه نه مخکې او هغه نه پس واقع کیدونکی دی به راخي (ترمذي)

حل اللغات:- ① الرَّاجِفَةُ: درزیدونکې. د اسرافیل علیه السلام رومبی ځل شپیلئ ترې مراد ده ② الرَّادِفَةُ: روسته راتلونکې یعنی د اسرافیل علیه السلام په دویم ځل شپیلئ وهلو ته الرادفه وائی. ③ تَتْبَعُهَا: وریسې به راخی.

تسهیلات:

قوله يَا أَيُّهَا النَّاسُ! اذْكُرُوا اللهَ، اذْكُرُوا اللهَ،

داول ذکر څخه مراد: دَ رسول الله ﷺ "اذکروالله" بار بار وئیل په اصل کښې هغه خلقو ته خطاب دې چه دَ آرام او دَ غفلت په خوب اوده وی او دَ تهجد دَمونځ او دَ ذکرالله نه غافل وی حضورپاك به هغوی لره بیدارول دې دَ پاره چه هغوی په ذکر الله او دَ تهجد په مونځ کښې مشغول شی او راتلونکی حادثات یاد کړی.

د دویم ذکر څخه مراد: دَ اذکروالله دَ دویم ځل الفاظو مطلب دا وو چه دَ الله تعالی نعمتونه او دَ هغه ورکړې شوی راحتونه او دَ هغه دَ طرف نه پیښیدونکی تکلیف او آرام یاد کړئ

قوله جَاءَتِ الرَّاجِفَةُ

د راجفه څخه مراد: دَدې لفظ په ذریعه حضورپاك دَدې آیت طرف ته اشاره فرمائیلې ده ﴿يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ ۝ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ ۝﴾ دَ امام طیبی رحمه الله په نیز "الراجفة" نه مراد په اول ځل دَ شپیلئ پوك وهل دی په کوم سره چه به ټول مخلوق مړ شی

قوله تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ،

د رادفه څخه مراد: "رادفة" نه مراد په دویم ځل دَ شپیلئ پوك وهل دی

[۵۲۵۲] مرګ او قبر هروخت یاد ساتل پکار دی

۵۲۵۲-(¹) [۱۴] ۱ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «خَرَجَ النَّبِيُّ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - لِصَلَاةٍ ۳

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۴۶۰) والنسائی فی کتاب الجنائز/باب کثرة ذکر الموت (رقم-۱۸۲۴)وابن ماجه فی کتاب الزهد/باب ذکر الموت والاستعداد له (رقم-۴۲۵۸)

فَرَأَى النَّاسَ كَأَنَّهُمْ يَكْتَشِرُونَ، ③قَالَ: "أَمَا إِنَّكُمْ لَوْ أَكْثَرْتُمْ ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ لَشَغَلَكُمْ عَمَّا أَرَى الْمَوْتُ، ⑥ فَأَكْثِرُوا ذِكْرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ، الْمَوْتِ، ⑧فَإِنَّهُ لَمْ يَأْتِ عَلَى الْقَبْرِ إِلَّا تَكَلَّمَ، فَيَقُولُ: أَنَا بَيْتُ الْغُرْبَةِ، وَأَنَا بَيْتُ الْوَحْدَةِ، وَأَنَا بَيْتُ التُّرَابِ، وَأَنَا بَيْتُ الدُّودِ،

ترجمه: ①او حضرت ابو سعید ﷺ وايي ② يوه ورځ رسول الله ﷺ مونځ د پاره (مسجد ته) تشريف راوړی ③ نو حضور ﷺ وليدل چې خلق ګويا په خپلو کې په څه خبره خاندي ④ حضور ﷺ د هغوئ د غسي په خندا ليدو سره وفرمايل ⑤ خبردار په تاسو چې کوم غفلت خور شوی دی چې داسې بې فکري سره خندا کې مشغول يي. ⑥ بلاشبه که تاسو د لذتونو فنا کيدونکی شی اکثره ذکر کولاي، [نو هغه به تاسو ددې شی يعنی زياتې خندا او د غافل خلقو په شان دکلام او ګفتګو نه منع کړي وي] ⑦ کوم چې زه يې وينم [او هغه يعنی لذتونه فنا کونکی شی يعنی مرګ ډير ياد وي] ، ⑧ حقيقت دادی چې قبر باندې يوه داسې ورځ يعنی داسې وخت او زمانه نه تيريږي، چې په هغه کې هغه په زبان قال يا په زبان حال سره دا وايي ⑨ چې زه د غربت کوريم [يعنی زه د يو داسې لرې اود خاموشي والاځای په شان يم، چې هلته هرڅوك راځي، هغه دخپلو عزيز واقاربو اود خپلو متعلقينو اود خپل کوروالو نه ناقابل عبور لرې مسافت باندې پروت وي نو اې انسانه! تاته لازم دی چې ته په دنيا کې داسې اوسې څرنګه چې يو مسافر د خپلو خپلوانو او کوروالو نه لرې د مسافرت په حالت کې وي] ، ⑩ زه د تنهائي کوريم [يعنی زه يو داسې کوريم. چې په هغه کې د تنهائي او وحشت نه علاوه نور هيڅ نه وي هو، کوم خلق چې د الله رب العزت د وحدانيت نور اخستو سره راځي، هغوئ بيشکه تنهائي نه محسوسوي، ځکه چې هغه نور د هغوئ رفيق او دم ساز جوړيږي] ⑪ زه د خاورو کور يم [يعنی زه د هغه خاورو کوريم. چې د هرجاندار اصل او بنياد دی نو د چا اصل او مرجع چې خاوره وي. د هغه شان داوی چې هغه دي مسکيني او خاك نشين وي، چې خاوري د هغه مناسبت هر وخت تازه وي] ⑫ او زه د چينجو کوريم.

حل اللغات:- ① يَكْتَشِرُونَ: دباب افتعال نه دې دَدې ماده کشر دې چه غابښونه کولاويدو ته وائی دلته مراد خندل دی ② هَاذِمِ: أي قاطع اللذات. هازم دَ پرې کولو معنی کښې دې مراد مرګ دې ځکه چه مرګ هم ټول خوندونه پرې کوی ③ اللَّذَّاتِ: خوندونه. ④ بَيْتُ الْوَحْدَةِ: د يو اځی والی کور يعنی قبر. ⑤ الدُّودِ: چينجی.

①وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْمُؤْمِنُ ②قَالَ لَهُ الْقَبْرُ: مَرْحَبًا وَأَهْلًا ③أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَحَبَّ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ ④فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ ⑤وَصِرْتَ إِلَيَّ ⑥فَسَتَرَى صَنِيعِي بِكَ" ⑦قَالَ: "فَيَتَّسِعُ لَهُ مَدَّ بَصَرِهِ ⑧وَيُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى الْجَنَّةِ ⑨ وَإِذَا دُفِنَ الْعَبْدُ الْفَاجِرُ أَوِ الْكَافِرُ ⑩قَالَ لَهُ الْقَبْرُ: ⑪لَا مَرْحَبًا وَلَا أَهْلًا ⑫أَمَا إِنْ كُنْتَ لَأَبْغَضَ مَنْ يَمْشِي عَلَى ظَهْرِي إِلَيَّ ⑬فَإِذْ وُلِّيتُكَ الْيَوْمَ ⑭وَصِرْتَ إِلَيَّ فَسَتَرَى صَنِيعِي بِكَ"

ترجمه: [۱] بیا حضور ﷺ وفرمایل هرکله چې یو مومن بنده دفن کول کیږي. [نو څرنګه چې یو خوش اخلاق کوربه (میزبان) د خپل عزیز میلمه د راتګ په وخت د ترحیبي کلماتو په ذریعه د هغه استقبال کوي دغه شان قبر هم د هغه استقبال کوي]. [۲] او هغه ته وایي چې په خیر راغلاست، [ته یو کشاده دارام ځای او خپل مکان ته راغلی یې]. [۳] تاته دې معلومه وي. چې ته ځما په نزد دهغه ټولو خلقو نه زیات محبوب یې کوم چې په ما ګرځي. [۴] نو نن چې زه په تاحاکم او قادر جوړ شوی یم. [۵] او ته ځما مجبوره او مقهور شوی یې. [۶] نو ته به ډیر نزدې ځما نیك سلوك ووینې چې زه به یې ستا سره وکړم. [یعنی زه به ستا د پاره کشاده او فراخه شم]. [۷] حضور ﷺ وفرمایل د دې نه پس هغه قبر دهغه بنده د پاره کشاده او فراخه شي. او هغه کشادګي او فراخي د هغه دحد نظر پورې معلومیږي. [۸] او بیا د هغه د پاره جنت طرف ته یوه دروازه خلاصه شي. [چې په هغه کې هغه په جنت کې خپله ټیکاوېه ویني دهغه دروازې نه هغه ته یخې او خوشبودارې هواګانې راځي او هغه د جنت مکانات حورې نهرونه. میوې او ونې روح افزا نعمتونه لیدو لیدو سره خپلې سترګې یخوي]. [۹] او هرکله چې یو فاسق بنده یا کافر دفن کول کیږي [نو څرنګه چې یو سړی خپل راتلونکي نا آشنا او غیر عزیز او ناببللي میلمه سره د بې رخۍ او بې مروتۍ سلوك کوي]، [۱۰] دغه شان قبر هم هغه کافر ته وایي او ورته وایي [۱۱] چې نه دې ستا راتلل مبارك وي [او نه ته ښه کشاده او د ارام ځای او خپل مکان ته راغلی یې]. [۱۲] تاته دې معلومه وي چې ته ځما په نزد هغه ټولو خلقو نه زیات خراب وې کوم چې په ما باندې ګرځي. [۱۳] نو نن چې زه په تا حاکم او قادر جوړ شوی یم. [۱۴] او ته ځما مجبوره او مقهور شوی یې. نو زر به ووینې چې زه ستا سره څومره خراب سلوك کوم.

حل اللغات - ⑥ مَرْحَبًا وَأَهْلًا مرحبًا فراخه ځاې ته راغلې. او اهلا خپلو له راغلې. یعنی په خیر راغلې ⑤ وُلِّيتُكَ نه زما په قابو کښې راغلې ماله په تا باندې تسلط راکړې شو ⑧ صِرْتَ ته را منتقل شوې. راغلې.

[۱] قَالَ: "فَيَلْتَئِمُ عَلَيْهِ حَتَّى يَخْتَلِفَ أَضْلَاعُهُ" [۲] قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بِأَصَابِعِهِ، فَأَدْخَلَ بَعْضَهَا فِي جَوْفِ بَعْضٍ [۳] قَالَ: "وَيُقَيَّضُ لَهُ سَبْعُونَ تِنِّينًا لَوْ أَنَّ وَاحِدًا مِنْهَا نَفَخَ فِي الْأَرْضِ [۴] مَا أَنْبَتَتْ شَيْئًا مَا بَقِيَتِ الدُّنْيَا [۵] فَيَنْهَسْنَهُ وَيَخْدِشْنَهُ حَتَّى يُفْضَى بِهِ إِلَى الْحِسَابِ" [۶] قَالَ: وَقَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: [۷] "إِنَّمَا الْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الْجَنَّةِ، أَوْ [۸] حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النَّارِ". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: [۱] حضور ﷺ وفرمایل بیا هغه قبر دې دباو کړي. تردې چې د هغه پښتۍ یو په بل کې سره ورسي. [۲] ابو سعید رضي الله عنه وایي. حضور ﷺ د پښتو یو ځای کید وصورت خودلو د پاره خپلې ګوتې یو بل کې داخلي کړې [او وې ښودل چې دغه شان د قبر دباو کولو د هغه کافر پښتۍ یو بلې کې ننوځي]. [۳] د دې نه پس حضور ﷺ وفرمایل په هغه کافر

باندي اويا اژدها وي مسلط کول کيږي، ۴ او هغه داسې اژدهاوي دي که په هغه کې يوه اژدها هم په زمکه پوکل وکړی، ۴ نو هغه زمکه ترڅو پوري چې دنيا باقي وي د سبزه زرغونولو قابله به پاتي نشي، ۵ هغه اژدها هغه کافر چيچي او شوکوي يي او دا عمل په هغه تر هغه وخته پورې جاري وي ترڅو پوري چې هغه بنده د قيامت په ورځ د حساب د پاره بوتلل شي ٦ حضرت ابوسعيد ﷺ وايي، رسول الله ﷺ دا هم وفرمايل ۷ په دي کې شك نشته، چې قبردجنت د باغچونه يوه باغچه ده ۸ يا د اور د کندونه يوه کنده ده (ترمذي)

حل اللغات:- ⑨ فَيَلْتَئِمُ: نو زور ورکړی، ⑩ أَضْلَاعُ: پوختنې. ⑪ يُقَيَّضُ: مقرر کولې شی، ⑫ تِنِّينًا: اژدهاگانې. ⑬ فَيَنْهَشْنَهُ: نو چيچی به ئې، ⑭ يَخْدِشْنَهُ: شوکوی به ئې. ⑮ حُفْرَةٌ: کنده.

تسهيلات:

نوټ: کتاب الجنائزکښې د داسې قسم احاديثو تشريحات تفصيل سره ذکر شوی دی

[۵۳۵۳] دآخرت فکر رسول الله ﷺ لره بوډا کړو

۵۳۵۳-()[۱۵] ① وَعَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: ②«قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ! ③ قَدْ شِبْتَ،④ قَالَ: "شَيَّبَتْنِي سُورَةُ هُودٍ وَأَخَوَاتُهَا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه: او حضرت ابوجحيفه ﷺ وايي ۲ چې صحابه ﷺ عرض وکړو. يه رسول الله ﷺ ۳ تاسو خو بوډا شوئ، [يعنی لوی عمر ته رسيدو نه مخکې د سو باندي د بوډاتوب اثرات ظاهر شوي دي]، ۴ نو حضور ﷺ وفرمايل، سورة هود او د دې په شان سورتونو زه بوډا کړی يم. (ترمذي)

حل اللغات:- ① شَيَّبَتْنِي: بوډا کړې يم زه، ② أَخَوَاتُهَا: جمع د أُختَ ده دلته مشابه او ددې پشان سورتونه مراد دی.

تسهيلات:

قوله: شَيَّبَتْنِي سُورَةُ هُودٍ وَأَخَوَاتُهَا:

يعنی سورت هود ﴿ فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ ﴾ په الفاظو کښې دَ استقامت تصور زه بوډا کړم او سورة النبأ، سورة التکوير سورة الواقعة په شان سورتونو زه بوډا کړم ځکه چه په دې کښې دَ قيامت دَا حوالو تفصيلات دی

قوله: شَيَّبَتْنِي سُورَةُ هُودٍ وَأَخَوَاتُهَا:

د نبی عليه السلام په امت شفقت: يعنی په سورت هود کښې ﴿فَاسْتَقِمْ كَمَا أُمِرْتَ﴾ کښې دَ استقامت تصور زه بوډا کړم اودَ دې په شان سورتونه په کوم کښې چه دَ قيامت ذکر دې دَهغې مضامينو ته چه بار بار اوگورم نو دَخپل امت دَ طرف نه ماته دا غم پيدا کيږی چه

---

[1] اخرجه الترمذي في السنن کتاب تفسير القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الواقعة (رقم ۳۲۹۷)

نه ده معلومه چه زما د امت د خلقو به څه حشر وی هم د دې غم په وجه زما دا حال شو چه ویښته مې سپین شو.

[٥٢٥٤] د قیامت د ویرې په رسول الله ﷺ باندې اثر

٥٣٥٣-(١)[١٦] ١ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- ٢«قَالَ أَبُوبَكْرٍ: يَا رَسُولَ اللهِ! قَدْ شِبْتَ،٣ قَالَ: "شَيَّبَتْنِي هُودٌ وَالْوَاقِعَةُ وَالْمُرْسَلَاتُ وَعَمَّ يَتَسَاءَلُونَ وَإِذَا الشَّمْسُ كُوِّرَتْ». رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ. وَذُكِرَ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ: "لَا يَلِجُ فِي النَّارِ" فِي (كِتَابِ الْجِهَادِ).

ترجمه: ١ او حضرت ابن عباس رضي الله عنهما وايي، ٢ یوه ورځ حضرت ابوبکر رضي الله عنه وویل. یا رسول الله ﷺ ته خو ډیر زر بوډا سوي، ٣ حضور ﷺ ورته وفرمایل. هو سورة هود، سورة واقعه، سورة مرسلات عم یتسائلون او اذا الشمس کورت او د دې په شان نور سورتونو چې په هغه کې د قیامت او د هغه د احوالو ذکر دی زه لوی عمر ته رسیدو نه مخکې بوډا کړم. (ترمذي) او د حضرت ابوهریره رضي الله عنه روایت لایلج النار الخ کتاب الجهاد کې نقل شوی دی.

حل اللغات:- ① كُوِّرَتْ: راغونډ به کړې شی. بې نوره او تور به شی. ② لَا يَلِجُ: نه به داخلیږی.

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[٥٢٥٥] هیڅ یوه ګناه سپکه مه ګڼړئ

٥٣٥٥-(١)[١٧] ١ عَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢«إِنَّكُمْ لَتَعْمَلُونَ أَعْمَالًا هِيَ أَدَقُّ فِي أَعْيُنِكُمْ مِنَ الشَّعْرِ، ٣ كُنَّا نَعُدُّهَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ- مِنَ الْمُوبِقَاتِ، يَعْنِي الْمُهْلِكَاتِ». رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ حضرت انس رضي الله عنه د خپلې زمانې مسلمانان مخاطب کولو سره وفرمایل ٢ تاسو داسې کارونه کوئ چې ستاسو په نظر کې د ویښته نه هم زیات باریك وي. ٣ لیکن مونږ به دا کارونه د رسول الله ﷺ په زمانه کې موبقات یعنی هلاکونکو کارونو کې شمیرل (بخاري)

حل اللغات:- ① أَدَقُّ: باریک. معمولی. ② الشَّعْرِ: ویښته. ③ الْمُوبِقَاتِ: هلاکونکی

تسهیلات:

قوله هِيَ أَدَقُّ فِي أَعْيُنِكُمْ مِنَ الشَّعْرِ،

د صحابؤ ګناهونو لره هلاکونکی ګنړل: أي عظيمة في نفس الأمر وتستصغرونها- یعنی د روزمره ګناهونه کوم چه تاسو هغه عادتًا واړه او معمولی ګڼرئی لیکن په نفس الامر

(١) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب تفسیر القرآن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب: ومن سورة الواقعة (رقم ٣٢٩٧)
(٢) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب ما یتقی من محقرات الذنوب (رقم-٦٤٩٢) واحمد فی المسند: ٧٠/٦

کښې هغه ډیر لوئی ګناهونه دی او هم په دې وجه به صحابه کرامو ﷺ دې لره هلاکونکې ګناهونه ګنړل امام طیبی ﷫ ددې معنی دا بیان کړې ده "المعنی انکم تعملون اعمالا وتحسبون انکم تحسنون صنعًا ولیس کذلك فی الحقیقة"

[۵۲۵۶] د وړو وړو ګناهونو نه هم ځان ساتې

۵۳۵۶-( )[۱۹] [۱] وَعَنْ عَائِشَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا - [۲] أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: " [۳] «يَا عَائِشَةُ! إِيَّاكِ وَمُحَقَّرَاتِ الذُّنُوبِ [۴] فَإِنَّ لَهَا مِنَ اللَّهِ طَالِبًا» " رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ، وَالدَّارِمِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (شُعَبِ الْإِيمَانِ).

ترجمه: [۱] د بي بي عائشه ﷵ نه روایت دی [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمایل، [۳] اې عائشه ته خپل ځان د هغه ګناهونو نه هم لرې ساته کوم چې معمولي او حقیر ګڼلی شی [۴] ځکه چې دې ګناهونو د پاره د الله ﷻ په نزد یو مطالبه کونکی هم شته (ابن ماجه بیهقی)

حل اللغات: - ① مُحَقَّرَاتِ: معمولی او حقیر

تسهیلات:

قوله فَإِنَّ لَهَا مِنَ اللَّهِ طَالِبًا:

د طالب څخه په مراد کښې دوه اقوال: ① دَ طالب نه مراد اعمال لیکونکې فرښته ده یعنی صغیره ګناه هم لیکلې شی. یا دَ طالب نه مراد په قیامت کښې تپوس پوښتنه کونکې فرښته ده چه دَ الله پاك دَ طرف نه په دې باندې مقرر ده.

② دَ طالب نه مراد دادې چه په داسې ګناهونوباندې یو قسم عذاب مقرردې چه دَ دغې ګناه مرتکبین په خپل ګرفت کښې اخلی اودا عذاب دَ الله تعالی نه دَ داسې خلقو خپل ځان ته دَ حواله کولو مطالبه کوی او الله تعالی دَ دې مطالبه نه رد کوی په دې صورت کښې به په طالبًا کښې تنوین دَ تعظیم دَ پاره وی لکه چه دا جمله دَ طالبا عظیماً په معنی کښې ده.

د صغیرې ګناه کبیره ګرځیدو دوه صورتونه: ① اکثر خلق واړه واړه ګناهونه ډیر معمولی ګڼړی او صغیره ګناهونو ته هیڅ اهمیت نه ورکوی دکوم نتیجه چه دا وی چه نه هغه دَ ګناه تدارك په توبه او استغفار سره کوی او نه دَ صغیره ګناهونو دَ وجې نه دَ څه عذاب نه ویریږی دارنګ هغوی د دې خبرې نه هم غافل وی چه په یوه وړه ګناه باندې اصرار کولو سره هغه صغیره نه پاتې کیږی بلکه دَ کبیره ګناه په حکم کښې داخلیږی

② هره صغیره ګناه دَ الله تعالی دَ عظمت او لوئیئی په نسبت هم کبیره ده هم په دې وجه باندې الله تعالی کله کبیره ګناه معاف کوی او په صغیره باندې عذاب ورکوی لکه چه دَ

[1]) اخرجه ابن ما جه في السنن كتاب الزهد/باب المداومة على العمل (رقم-۴۲۴۳)

الله تعالی فرمان دي ﴿وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ الآية. حاصل دا چه هیڅ یوه ګناه صغیره مه کنړئ کله کله ورو کې بخیرې پوره کور سوزوی او یوه نیکی هم معمولی ګنړل او پریښودل نه دی پکار ځکه چه کله یو څاڅکې اوبه هم یو ځان بچ کوی. بل دا چه بنده له پکار دی چه د الله تعالی د ګرفت نه هروخت ویریږی چه هغه هر وخت د یوې ګناه په وجه سره هم راګیرولې شی.

[۵۲۵۷] په حضرت عمر رضي الله عنه د الله تعالی د ویرې کیفیت

۵۲۵۷-() [۱۹] [۱] وَعَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] قَالَ لِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ: [۳] هَلْ تَدْرِي مَا قَالَهُ أَبِي لِأَبِيكَ؟ [۴] قَالَ: قُلْتُ: لَا [۵] قَالَ: فَإِنَّ أَبِي قَالَ لِأَبِيكَ: [۶] يَا أَبَا مُوسَى! هَلْ يَسُرُّكَ أَنَّ إِسْلَامَنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۷] وَهِجْرَتَنَا مَعَهُ [۸] وَجِهَادَنَا مَعَهُ [۹] وَعَمَلَنَا كُلَّهُ مَعَهُ بَرَدَ لَنَا؟ [۱۰] وَأَنَّ كُلَّ عَمَلٍ عَمِلْنَاهُ بَعْدَهُ نَجَوْنَا مِنْهُ كَفَافًا [۱۱] رَأْسًا بِرَأْسٍ؟

ترجمه: [۱] او حضرت ابوبرده ابن ابي موسیٰ اشعري چې د اوچتې درجې تابعینو نه دي، وايي [۲] یوه ورځ حضرت عبد الله ابن عمر رضي الله عنه ماته ووېل، [۳] تاته معلومه ده. چې ځما پلار حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ستا پلار حضرت ابوموسیٰ اشعري ته څه ویلي وه. [۴] حضرت ابوبرده وايي، ما جواب ورکړو چې ماته نه ده معلومه [۵] حضرت عبد الله وفرمايل ځما پلار ستا پلار ته ویلي وه، [۶] اې ابو موسیٰ آیا داخبره ستا د پاره خوشحالونکي ده چې زمونږ اسلام چې د رسول الله ﷺ سره وو، [۷] زمونږ هجرت چې د حضور ﷺ سره وو، [۸] او زمونږ جهاد د حضور ﷺ سره وو، [۹] او زمونږ ټول اعمال [یعنی مونځ روژې زکاة حج او دغه شان نور عبادتي اعمال چې د حضور ﷺ سره وو] [۱۰] هغه ټول زمونږ د پاره ثابت او برقرار پاتې شو، [۱۰] او مونږ چې کوم اعمال د رسول الله ﷺ نه پس کړي وي. [۱۱] که مونږ د هغه نه برابر او سرابر هم اووځو نو زمونږ د نجات د پاره به کافي وی،

حل اللغات: - ① كَفَافًا: کافي کیدونکي. ② رَأْسًا بِرَأْسٍ: برابر سرابر.

[۱] فَقَالَ أَبُوكَ لِأَبِي: [۲] لَا وَاللَّهِ، قَدْ جَاهَدْنَا بَعْدَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - [۳] وَصَلَّيْنَا [۴] وَصُمْنَا [۵] وَعَمِلْنَا خَيْرًا كَثِيرًا [۶] وَأَسْلَمَ عَلَى أَيْدِينَا بَشَرٌ كَثِيرٌ [۷] وَإِنَّا لَنَرْجُو ذَلِكَ [۸] قَالَ أَبِي: وَلَكِنِّي أَنَا، وَالَّذِي نَفْسُ عُمَرَ بِيَدِهِ [۹] لَوَدِدْتُ أَنَّ ذَلِكَ بَرَدَ لَنَا [۱۰] وَأَنَّ كُلَّ شَيْءٍ عَمِلْنَاهُ بَعْدَهُ نَجَوْنَا مِنْهُ كَفَافًا رَأْسًا بِرَأْسٍ [۱۱] فَقُلْتُ: إِنَّ أَبَاكَ وَاللَّهِ كَانَ خَيْرًا مِنْ أَبِي. رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: [۱] ستا پلار دا اوریدو سره ځما پلار ته ووېل، [۲] نه قسم په الله داسې نه ده حقیقت دادی چې مونږ د رسول الله ﷺ نه پس جهاد کړی دی [۳] مونځونه مو کړي دي، [۴]

( ) اخرجه البخاري في كتاب المناقب/باب هجرة النبي صلى الله عليه وسلم وأصحابه إلى المدينة (رقم-۳۹۱۵)

روژي مو نيولي دي.۵ او نور ډير نيك اعمال لکه صدقه او خيرات وغيره مو کړي دي. ۶ او ډير خلق زمونږ په لاس يعنی زمونږ په وجه مسلمانان شوي دي ۷ او يقيناً مونږ د مذکوره څيزونو داجر او ثواب اميد لرو اچې زمونږ مخکنی اعمالو په ثواب کې به اضافه وکړي؛ ۸ څما پلار حضرت عمر فاروق ﷺ اوويل چې ستاخبره صحيح ده ليکن څما خو قسم دی په هغه ذات چې دهغه په قبضه قدرت کې د عمر ساه ده، ۹ داخبره زياته خوښوم چې مونږ کوم اعمال درسول الله ﷺ سره کړی دی هغه ثابت او برقرار وی،۱۰ او کوم اعمال چې مونږ د حضور ﷺ نه پس کړی دی، هغه برابر سرابر اوسي ۱۱ حضرت ابوبرده وايي په دي اوريدو سره ما حضرت ابن عمر ته اوويل چې ستا پلار قسم په الله څما د پلار نه ښه وو. (بخاري)

حل اللغات:-۳ بَرَدَ: برد دَ ثبت په معنی کښې دې. يعنی ثابت او برقرار شی.

تسهيلات:

قوله: وَعَمَلَنَا كُلُّهُ مَعَهُ بَرَدَلَنَا؟:

په عمر رضی الله عنه باندې د الله تعالى د ويرې غلبه: مطلب دا چه حضرت عمر ﷺ دَ حضورپاك دَ زمانې دَ خو اعمالوذكراوكړو اوبيائی اوفرمائيل كه چرې هغه اعمال زمونږ په عمل نامه كښې باقی پاتې شی او په هغې باندې مونږته ثواب ملاؤشی اودَ حضورپاك نه پس چه مونږ كوم نيك اعمال كړی دی په هغې كښې مونږ ته نه ثواب ملاؤ شی اونه عذاب يعنی برابرسرابر فيصله اوشی نودابه ډيره ښه خبره وی ستاسو هم داخوښه ده كه نه؟حضرت ابوموسیٰ اشعری ﷺ اوفرمائيل چه داسې نه ده حضرت مونږ دَ حضورپاك نه پس هم ډير ښه ښه اعمال كړی دی په كوم باندې چه مونږ ته دَ ثواب ملاويدو اميد دې چونكه په حضرت عمرفاروق ﷺ باندې خوف او رجاء كښې دَ الله تعالى ويره غالب وه په دې وجه ئی داسې اوفرمائيل او په ابوموسیٰ ﷺ باندې دَ رجاء كيفيت غالب وو په دې وجه په هغه باندې دويم رنگ غالب وو په خوف اورجاء كښې به حضرت عمر ﷺ فرمائيل كه دَ قيامت په ورځ باندې اعلان اوشی چه صرف يو سړې به دوزخ ته ځی باقی ټول به جنت ته ځی نوزه به وايم چه هغه سړې چرته زه نه يم اوكه چرې اعلان اوشی چه صرف هم يو سړې به جنت ته ځی نوزه به وايم چه هغه هم زه يم. بهرحال دَ ابوموسیٰ اشعری ﷺخوئی حضرت ابوبرده ﷺ حضرت ابن عمر ﷺ ته اوفرمائيل چه ستا پلار زما دَ پلار نه په دې رائې كښې بهتر وو.

[۵۳۵۸] رسول الله ﷺ ته د نهو خبرو حکم

۵۳۵۸-()[۲۰] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - قَالَ: [۲] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: " [۳] «أَمَرَنِي رَبِّي بِتِسْعٍ: [۴] خَشْيَةِ اللَّهِ فِي السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ، [۵] وَكَلِمَةِ الْعَدْلِ فِي الْغَضَبِ وَالرِّضَى، [۶] وَالْقَصْدِ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنَى، [۷] وَأَنْ أَصِلَ مَنْ قَطَعَنِي، [۸] وَأُعْطِيَ مَنْ حَرَمَنِي، [۹] وَأَعْفُوَ عَمَّنْ ظَلَمَنِي، [۱۰] وَأَنْ يَكُونَ صَمْتِي فِكْرًا، [۱۱] وَنُطْقِي ذِكْرًا، [۱۲] وَنَظَرِي عِبْرَةً، [۱۳] وَآمُرَ بِالْعُرْفِ» " وَقِيلَ: (بِالْمَعْرُوفِ). رَوَاهُ رَزِينٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابوهریره رضی الله عنه وایي [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمایل [۳] خما رب ماته د نهه خبرو حکم راکړی دی [۴] یو خو دا چې ظاهر او پټ په هرحالت کې د الله نه ویریږي. ایعنی په زړه کې هم د الله خوف ځای وي، او معصیت نه د پرهیز په صورت کې اعضائي جسم باندې هم د خوف خداوندي اثر ظاهر وي، یا دا چې که تنهائي وي یا د خلقو موجودګی په هرحالت کې هغه کار کول پکار دی، کوم چې د خوف خداوندي مظهر وي! [۵] دویمه خبره دا چې رښتیا اوویل شي، د قهر په حالت کې یا د رضامندی ایعنی دډیرو خلقو دا عادت وي چې کله چانه راضي اوخوشحاله وي نو دهغه تعریف کوي دهغه ها سره ها یوځای کوي اودهغه عیوب پټوي اوکله چې دچانه ناراضه وي نو دهغه بدي وایي دهغه دهري خبري مخالفت کوي اودهغه عیبونه ښه ښکاره کوي داخبره مناسب نه ده بلکې داسې کیدل پکاردي چې قهر اوخوښي دواړه حالتو کې خپله ژبه اعتدال باندې ساتي اوهغه خبره کوي چې دحقیقت مطابق اوعین رښتیا وي! [۶] دریمه خبره دا چې فقر او غربت او ثروت او مالداري دواړه حالته کې میانه روی اختیار شي. ایعنی که د فقرو غربت حالت وي یا د ثروت او مالداري بهر صورت د اعتدال لار باندې قائم پاتې شي. چې د فقر او غربت حالت کې غصه او تلخي او جزع وفزع اختیار نشي او د ثروت او مالداري په حالت کې تکبر او سرکشي او سرپورته کولو نه پرهیز وشي. یا دا معنی ده، چې رزق او ضروریات ژوند نور ځیزونه بس په دي مقدار کې طلب کړي، چې د اعتدال حد پورې وي. نه خو د فقر وافلاس حده پورې تنګي او سختي برداشت کړي، او نه د عیش وعشرت ژوند اختیار کړي! [۷] څلورمه خبره داچې هغه سړي سره قرابت داري قائمه وساتم. کوم چې زماسره تعلق قطع کوي ایعنی ماته داهم حکم شوی دی که خما څوك عزیز رشته دار زماسره بد سلوك کوي، او د قرابت داري تعلق هم قطع کوي نو زه به هغه سره هم حسن سلوك کوم او هغه سره به قرابتداري قائم ساتلو کوشش کوم، داخبره د حضور ﷺ د وصف حلم بردباري او کمال تواضع او مروت آئینه ده! [۸] پنځمه خبره داچې زه هغه سړی هم په خپلې ورکړې اوجود وسخا سره ونوازم کوم چې مادخپل

() رواه رزین

لين دين نه محروم ساتي ⑨ شپږمه خبره داچي زه د بدل اخستو دطاقت او قوت باوجود هغه سړي هم معاف کړم کوم چي په ماباندي ظلم او زياتي کوي ⑩ اوومه خبره داچي چپ اوسيدل د عبادت ذريعه وي، [يعنی هرکله چې زه د خاموشي په حالت کې يم، او د چاسره خبري اتري يا د ژبي په ذريعه تبليغ او تلقين کې مشغول نه يم. نو هغه وخت دالله اسمائي صفات، د هغه د قدرت د کرشمه سازيو او د هغه د کلام معانيو او مطالبو کې غور او فکر او استغراق کې مشغول اوسم] ⑪ اتم داچي څما وئيل د ذکر الله مظهر وي [يعنی هرکله چې څما ژبه جاري وي، او زه خبري کوم، نو د الله خبره کوم. او د هغه تعلق که تسبيح او تحميد تکبير او توحيد سره وي، ياتلاوت کلام الله او د هغه د بنده ګانو تعليم وتلقين او تذکير ونصيحت سره وي] ⑫ او نهمه خبره داچي څما نظر دعبرت د پاره وي [يعنی کله چې زه د الله مخلوق طرف ته وګورم، نو څما هغه کتل دعبرت حاصلولو د پاره او توجه او هوښياري سره وي، نه چې ناداني او غفلت سره او څما پروردګار ماته داحکم راکړی دی] . ⑬ چې زه بندګان خداته د نيکي تلقين وتبليغ کوم او په يوه روايت کې، بالمعروف، لفظ دی] (رزين)

حل اللغات:- ① الْغَضَبِ: غصه، ② أَصِلَ: تعلق او رشته اوساتم. ③ حَرَمَنِي: محرومه کړی ما. ④ صَمْتِي: خاموشی زما.

تسهيلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① خَشْيَةِ اللهِ: خوف هرې ويرې ته وائی مګر خشيت هغه ويرې ته وائی کوم سره چه تعظيم او توفير وی او تقوٰی هغه ويرې ته وائی کوم سره چه اطاعت وی.

② فِی السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ: دَدې دوه مطلبونه دی ① ظاهری ويره داده چه په مخ ئی دَ الله تعالی دَ ويرې آثار ښکاره وی او خفيه يعنی پټه ويره داده چه په زړه کښې هم دَ الله تعالی ويره وی ② چه په ښکاره هم ښه اعمال اوکړی او ځان له ځائی کښې هم دَ الله تعالی په نيز هم داسې ويره معتبر ده دَ کوم نه چه په تصوف کښې په خلوت او په جلوت کښې تقوٰی سره تعبير کوی.

③ وَآمُرُ بِالْعُرْفِ: په يو روايت کښې دَ بالعرف په ځائی دَ بالمعروف لفظ دې دَ دواړه معانی هم يو دی.

سوال په حديث کښې دَ امربالمعروف ذکر دې دَ نهي عن المنکر ذکر نشته دې؟

جواب دَ امر بالمعروف لفظ عام دې دَ کوم په دائره کښې چه دَنهي عن المنکر مفهوم هم راځي ليکن واضح دې وی چه رسول الله ﷺ چه دکوم امربالمعروف ذکرفرمائيلې دې هغه دَمذکوره خبرو نه علاوه دې اوهم دغه حکم دَ جامعيت حامل دې.

④ كَلِمَةِ الْعَدْلِ فِي الْغَضَبِ وَالرِّضٰى په غصه او رضا کښې دَ انصاف خبرې کولو نه مراد دادې چه په عام توګه چه انسان دَ چانه خوشحاله شی نودَ هغه دَ دروغو تعريفونه کوی اوکله په هغه باندې غصه ورشی نو دَ دروغو عيبونه پرې لګوی دا دواړه خبرې خرابې دی په هرحال کښې دَخپل ځان اودَ بل متعلق په انصاف سره خبره کول پکاردی که هغه دَ غصې حالت وی اوکه دَ رضا.

⑤ وَالْقَصْدِ فِي الْفَقْرِ وَالْغِنٰى دَدې مطلب دادې چه انسان له پکار دی چه دَ زړه حال او خپل چال هروخت په اعتدال کښې اوساتی نه دې په مالدارئی کښې کبر کوی او نه دې په غريبئی کښې بې صبره کيږی.

أن اصل من قطعنى دَدې مطلب دادې چه څوك تا سره تعلق پريږدی ته ئې ورسره مه پريږده

⑥ وَأَعْفُوعَمَّنْ ظَلَمَنِي دَمعافئی نه مراد اخلاقی معافی او پريخودل دی دَ مجبورئی معافی نه يعنی چه په بدله اخستلو دې قدرت وی اوبيامعافی کړې دا معاف کول دکمال درجې معافیٔ ده. لکه څنګه چه حضرت يوسف عليه السلام خپل رونړه معاف کړل او رسول کريم ﷺ دَ فتح مکه په موقع باندې دَ عام معافئی اعلان اوکړو ﴿لَاتَثْرِيْبَ عَلَيْكُمُ الْيَوْمَ﴾ هم ددې متعلق په يو بل حديث کښې راغلی دی چه دا دَ اولينو او آخرينو اخلاق دی

⑦ وَأَنْ يَكُونَ صَمْتِي فِكْرًا وَنُطْقِي ذِكْرًا ... الخ مطلب دا چه کله خاموش او سم پاتې شې نودَ الله تعالى په نعمتونو اودَ هغه په قدرتونو باندې غور اوفکر اوکړم هم دې غور اوفکرته ذکر وئيلې شوې دې کله چه په خله باندې خبرې کوم نو دَ الله تعالى حمد. تلاوت دَ قرآن اوامربالمعروف او نهي عن المنکر اوکړم په ژبه باندې هيڅ کله غلطې خبرې اترې نه دی کول پکار ځکه چه دَ ژبې نه وتونکې هرلفظ ليکلې کيږی کمافی القرآن ﴿مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيْبٌ عَتِيْدٌ﴾ لهذا په هر دنياوی خبرو اترو کښې دَ الله تعالى ذکر شاملول پکار دی اودَ خپل نظر حفاظت کوه اودَ دنيا دَ انقلاباتو نه عبرت او نصيحت واخله

انقلابات جہاں واعظِ رب ہیں دیکھو ہر تغیر سے آتی ہے صدا فافہم فافہم

[۵۲۵۹]دَ الله تعالی دَ ویرې نه دَ ژړلو فضیلت

۵۲۵۹-()[۲۱] [۱] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: [۲]قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۳]«مَا مِنْ عَبْدٍ مُؤْمِنٍ يَخْرُجُ مِنْ عَيْنَيْهِ دُمُوعٌ [۴]وَإِنْ كَانَ مِثْلَ رَأْسِ الذُّبَابِ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ، [۵]ثُمَّ يُصِيبُ شَيْئًا مِنْ حَرِّ وَجْهِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ»". رَوَاهُ ابْنُ مَاجَهْ.

ترجمه: [۱]او حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه وايي[۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۳] هر هغه مؤمن بنده چې د هغه د سترګو نه د الله د خوف نه اوښکې وبهيدې[۴] اګر که هغه اوښکې د مچ د سربرابر [يعنی ډير کم مقدار کې وي او بيا هغه اوښکې بهيدو سره د هغه مخې ته ګرمايش ورسيږي]، [۵]نو الله ﷻ په هغه د دوزخ اور حراموي. (ابن ماجه)

حل اللغات:- ① دُمُوعٌ: اوښکې، ② الذُّبَابِ: مچ.

تسهيلات:

قوله: ثُمَّ يُصِيبُ شَيْئًا مِنْ حَرِّ وَجْهِهِ إِلَّا حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَى النَّارِ:

دالله تعالی د ويرې د وجې د اوښکو بهيدل: دَ مخ مخې ته چه کومه ښکاره حصه ده هغې ته حرالوجه وائی يعنی دَ الله تعالی دَ ويرې نه چه دَ کوم يو سړی دَ سترګو نه کم نه کم درې اوښکې راتوئی شی او ښکاره په مخ باندې پريوځی نو الله تعالی په دغه مخ باندې دَ دوزخ اور حراموی سره
دَدې چه هغه اوښکې دَ مچ دَ سر برابر ورې ولې نه وی

---

[1]) اخرجه ابن ما جه فی السنن کتاب الزهد/باب الحزن والبکاء (رقم-۴۱۹۷)

[۷] بَابُ تَغَيُّرِ النَّاسِ

په خلقوکښې د بدلون بیان

خلاصة الباب:

فيه أحد عشر حديثاً مشتملة على أربع مسائل.

① كثرة شرار الناس وسببه : ۱، ۳، ۷، ۱۰، ۱۱.
② إتباع اليهود والنصارى: ۲.
③ تسلط الشرار : ۴، ۵، ۶، ۹.
④ مجئ زمن ضعف الدين: ۸.

د زماني په اعتبار سره په خلقو کښې بدلون راتلل: په دې باب کښې هغه احاديث بيانولې شي په کومو کښې چې د دې ذکر دې چې په خلقو کښې به تبديلي راشي او د دې تبديلي شروع د نبی عليه السلام د زماني څخه واخله تر قيامته پورې کيدې شي

اَلْفَصْلُ الْاَوَّلُ

[۵۲۶۰] د نيکانو خلقو کميدل

۵۲۶۰-()[۱] [۱] عَنِ ابْنِ عُمَرَ-رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا-قَالَ:[۲] قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ-صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۳]«إِنَّمَا النَّاسُ كَالْإِبِلِ الْمِائَةِ،[۴] لَا تَكَادُ تَجِدُ فِيهَا رَاحِلَةً»". مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر رضي الله عنه وايي، [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۳] خلق د اختلاف حالات او تغير صفات د اعتبار نه د هغه سلو اوښانو په شان دی [۴] چې په هغه کې به تاسو چيرته يو د سورلی قابل پيدا کولی نشي (بخاري، مسلم)

حل اللغات:- ① الْإِبِلِ الْمِائَةِ: سل اوښان، ② رَاحِلَةً: هغه اوښ چه د سورلئ قابل وی صحت مندوی صحيح طاقتور وی او د بار اوړلو ښه قابل وی

تسهيلات:

قوله: لَا تَكَادُ تَجِدُ فِيهَا رَاحِلَةً:

د نيکو خلقو کميدل: يعنی لکه څنګه په سلو اوښانو کښې په مشکل سره يو اوښ د سورلئ قابل راوځی دغه شان په انسانانو کښې هم د کارسړي په مشکل سره په سلو کښې

---

[۱]) اخرجه البخارى فى كتاب الرقاق/باب رفع الأمانة (رقم-۶۴۹۸) ومسلم فى كتاب فضائل الصحابة رضى الله تعالى عنهم/باب قوله صلى الله عليه وسلم: الناس كابل مائة لا تجد فيها راحلة (رقم-۲۳۲ - (۲۵۴۷) والترمذى فى كتاب المناقب عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/باب ما جاء فى فضل فاطمة رضى الله عنها (رقم-۳۸۷۲) وابن ماجه فى كتاب الفتن/باب من ترجى له السلامة من الفتن (رقم-۳۹۹۰)

یو نیم ملاویدې شي. دغه شان عارفین وائي چه اوس دَ قحط الرجال زمانه ده دَ سلو عدد دَتکثیر دَپاره دې تحدید او تعیین مقصود نه دې دغه شان داکیفیت دَخیرون القرون نه پس دَهرې زمانې دَپاره عام دې هیځ تخصیص نشته دې اوس دَدې دورِجدید متعلق په خانې وئیلې کیدې شي

[۵۲۶۱] مسلمانان به دَ یهودیانو او نصاری تقلید کوي

۵۲۶۱-(۱) [۲] ۱ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ - رَضِيَ اللهُ عَنْهُ - قَالَ: ۲ «قَالَ رَسُولُ اللهِ - صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "۳ لَتَتَّبِعُنَّ سُنَنَ مَنْ قَبْلَكُمْ، شِبْرًا بِشِبْرٍ، ۴ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ، ۵ حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍّ تَبِعْتُمُوهُمْ". ۶ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ! ۷ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى؟ ۸ قَالَ: "فَمَنْ؟"». مُتَّفَقٌ عَلَيْهِ.

ترجمه: او حضرت ابو سعید وایي، ۲ چې رسول الله ﷺ وفرمایل. ۳ یقینًا راتلونکو زمانو کې به تاسو لویشت د لویشت برابر، ۴ او لاس د لاس برابر د هغه خلقو طور طریقې اختیار کړې، کوم چې ستاسو نه مخکې تیر شوی دی. ۵ تردې که هغوی د سمسارې په غار کې ورننوځي، چې ډیره تنګه او خرابه وي. نو تاسو به په هغه کې هم د هغوی پیروي کوی ۶ صحابه وو عرض وکړو یارسول الله، ۷ هغه خلق چې مخکې تیرشوي دي او د هغوی طور طریقې به مونږ اختیار کړو. آیا هغوی یهود او نصارٰی دي؟ ۸ حضور ﷺ وفرمایل که هغوی او نصارٰی نه وي، نو نور څوك دي [یعنی ستاسو نه مخکې تیرو خلقو ته چې ما اشاره کړې ده هغوی نه مراد یهود او نصارٰی دي] (بخاري. مسلم)

حل اللغات:- ① شِبْرًا بِشِبْرٍ: لویشت په لویشت. ② جُحْرَ: سوراخ. سوړه. ③ ضَبٍّ: سمساره.

تسهیلات:

د بعضې مشکلو جملو وضاحت:

① ضَبٍّ یعنی بې فائدې تقلید به کوئی بس دَ یهودو او نصارٰی تقلید پخپله دَمسلمانانو دَپاره به دَ دلچسپئی سبب جوړ شی که فائده په کښې وی او که نه وی لړ شان اوګورئی چه دَ سمسارې په سوړه کښې دَ ورننوتلو څه فائده ده؟

② فَمَنْ؟ یعنی هم یهود او نصارٰی به وی دوی نه علاوه به نور څوك وی؟ چنانچه نن صبا مونږ ګورو چه په هره معامله کښې کلمه ویونکی مسلمان دَغیرمسلم قومونو په لار روان دې که هغه په افعال کښې وی او که په اقوالو کښې وی او که په بدعاتو اوتحریفاتو کښې وی په هرمیدان کښې دَهغوی تقلید شروع دې

۱) اخرجه البخاري في كتاب أحاديث الأنبياء/باب ما ذكر عن بني إسرائيل (رقم-۳۴۵۶) ومسلم في كتاب القدر/باب اتباع سنن اليهود والنصارى (رقم-۶ - (۲۶۶۹))واحمد في المسند:۵۱۱/۲

[۵۳۶۲]بنه خلق به مړه شي او فضول خلق به پاتې شي

۵۰۳۳-(۱)[۳] ١ وَعَنْ مِرْدَاسٍ الْأَسْلَمِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ- قَالَ: ٢ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " ٣ «يَذْهَبُ الصَّالِحُونَ، الْأَوَّلُ فَالْأَوَّلُ، ٤ وَتَبْقَى حُفَالَةٌ كَحُفَالَةِ الشَّعِيرِ أَوِ التَّمْرِ، لَا يُبَالِيهِمُ اللّٰهُ بَالَةً» " رَوَاهُ الْبُخَارِيُّ.

ترجمه: ١ او حضرت مرداس اسلمي وايي، ٢ رسول الله ﷺ وفرمايل. ٣ نيک بخت او صالح خلق به يو دبل پسي ددي دنيا نه تيريږي ٤ او بدکار او ناکاره خلق به د وربشو يا دکجورو د بوسو په شان باقي پاتې شي، ٥ چې د هغوئ به الله ﷻ ته هيڅ پروانه وي. [يعنې د الله ﷻ په نز د داسې خلقو هيڅ قدر ومنزلت نشته او د هغوئ د وجود هيڅ اعتبار نشته]. (بخاري)

قوله: وَعَنْ مِرْدَاسٍ الْأَسْلَمِيِّ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ-:

د راوي مختصر تعارف:

حضرت مرداس الاسلمي رضی اللہ عنہ: نوم: مرداس، دپلار نوم مالک. ددوى تعلق قبيله اسلم سره وو، ددوى شمير اصحاب شجره کيږي، دوى دکوفې اوسيدنکی وو. دوى نه ابن ابی حازم صرف هم دا روايت نقل کړې دي.

حل اللغات:- ① حُفَالَةٌ: دغنمو کهجورو او اوربشو بهوسوته حفالة وائی ② بَالَةً: پرواه، باک.

تسهيلات: **قوله**: وَتَبْقَى حُفَالَةٌ كَحُفَالَةِ الشَّعِيرِ:

قيامت ته نژدې د بې کاره خلقو پاتې کيدل: يعنی بدکار بدکردار او زناکارخلق به پاتې شی اونيکان خلق به د دنيا څخه لاړ شی د دغه پاتو خلقو مثال به داسې وی لکه څنګه چې څوک اوربشې چنړوی اوپه چانړکښې ئې واچوی اوهغې ته پوکې ورکړی نود هغې څخه خاشې بيشې والوزی. دهغې هيڅ څه حيثيت نه وی. نودغه شان به دغه خلق وی په شکلونو به انسانان وی اوکردار به ئې د ځناورو څخه هم بدتر وی الله تعالی به دهغوی هيڅ پرواه نه ساتی حالانکه الله تعالی په ټول مخلوق کښې انسان اشرف المخلوقات پيدا کړې دي

اَلْفَصْلُ الثَّانِي

[۵۳۶۳]يوه پيشنګوئی چه پوره شوه

۵۰۳۳-(۲)[۳] ١ عَنِ ابْنِ عُمَرَ -رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ٢ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ -صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: " ٣ «إِذَا مَشَتْ أُمَّتِي الْمُطَيْطِيَاءَ ٤ وَخَدَمَتْهُمْ أَبْنَاءُ الْمُلُوكِ أَبْنَاءُ فَارِسَ وَالرُّومِ ٥ سَلَّطَ اللّٰهُ شِرَارَهَا عَلَى خِيَارِهَا» ".

(۱) اخرجه البخاری فی کتاب الرقاق/باب ذهاب الصالحين (رقم-۶۴۳۴)
(۲) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم/(رقم-۲۲۶۱)

رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هٰذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] حضرت ابن عمر ﷺ وايي، [۲] چې رسول الله ﷺ وفرمايل [۳] هر کله چې ځما د امت خلق د تکبر چال شروع کي [۴] او د بادشاهانو ځامن چې هغوئ به د فارس اود روم شهزادګان وه، د هغوئ خدمت به کوي [۵] په دي طور چې الله ﷻ به د اهل فارس او روم علاقي او ښارونه د مسلمانانو ماتحته کړي او هغوئ به فتوحات حاصل کړي. انو د هغه په نتيجه کې به د هغه علاقو او ښارونو نه صرف عام سړی، بلکې بادشاهان او شهزادګان به هم قيدي جوړ شي، او مسلمانان به هغوئ تول بطور غلام خپل خدمت باندې ماموره کړي، نو په داسې صورت کې به الله ﷻ د امت خراب خلق نيکو خلقو باندې يعني ظالمان به په مظلومانو مسلط کړي، امام ترمذي دا روايت نقل کړی دی. او ويلي يې دی چې دا حديث غريب دی.

حل اللغات:- ① مَشَتْ: تګ کوی. ② الْمُطَيْطِيَاءَ: دا دَ تمطی نه دې په فخر سره تلو ته وائی مراد تکبر او کبر دې. ③ سَلَّطَ: مامور کړی دی.

تسهيلات:

قوله: إِذَا مَشَتْ أُمَّتِي الْمُطَيْطِيَاءَ:

په تکبر سره تګ کول: په ناز نخرو سره اودَ ګډا په انداز تلو سره حرکات او سکنات کول او دکبر او غرور په چال تګ ته مطيطياء وئيلې شوې دې نن صبا عربو کښې دا څيز ډيرزيات شوي دي

قوله: وَخَدَمَتْهُمْ أَبْنَاءُ الْمُلُوكِ أَبْنَاءُ فَارِسَ وَالرُّومِ:

دروم اوفارس فتح کيدل: دَ رسول الله ﷺ دا ارشاد مبارک دَ معجزاتو څخه دې مسلمانانو چه کله روم او فارس فتح کړل اودَهغوی مالونه دَ مسلمانانو په حق کښې دَ غنيمت مالونه شول اودَهغوی اولاد قيدکړې شو چه هغه وخت خادمان شو نوفتنه جوړه شوه او دحضرت عثمان غنی ﷺ دَ قتل نوبت پيښ شو بيا نوره سلسله اوږده شوه بنو اميه په بنو هاشم باندې مسلط شو او په دنياکښې ځومره دَ اهل اسلام په مينځ کښې جنګونه اوشو د تاريخ پاڼرې دَ واقعاتو نه ډکې دی.

قوله: سَلَّطَ اللّٰهُ شِرَارَهَا عَلٰى خِيَارِهَا:

دبدکردار خلقو تسلط: يعنی خراب خلق به په خو خلقو غالب راشی او په دنياکښې به خرابئی او بدئی زياتې وی.

د رشيداحمد ګنګوهی رائې: حضرت ګنګوهی ﷫ په دې موقع ارشاد فرمائيلې دې تسليط الشرار على الخيار فى الفور لازم نه دی او دَ فتنې عام کيدل هم ضروری نه دی لهذا

حضرات صحابه ﷺ د دي نه مستثنی دی ځکه چه د حضرت عثمان غنی ﷺ قتل کونکی صحابه کرام نه وو بلکه دا د فتنه خورونکو منافقانو چال وو

[۵۳۶۴]قيامت به کله راځي؟

۵۳۶۴-(¹)[۵] ۞ وَعَنْ حُذَيْفَةَ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ -:۞ أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: "۞«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى تَقْتُلُوا إِمَامَكُمْ،۞ وَتَجْتَلِدُوا بِأَسْيَافِكُمْ، وَيَرِثُ دُنْيَاكُمْ شِرَارُكُمْ»" - رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ.

ترجمه:۞ او د حضرت حذيفه ﷺ نه روايت دی ۞ چې رسول الله ﷺ وفرمايل۞ هر کله چې تاسو مسلمانان خپل خليفه ياسلطان او يا حکمران قتل کړي ۞ نو ستاسو توري به په خپلو کې د يوبل سرونه الوځوي.۞ تردي چې ستاسو د دنيا وارث او والي به مکار خلق شي (يعنی سلطنت او حکمراني به ظالمانو ته ورسي. او د مخلوق خدا د اقتدار واګې به بدکارو اود فاسقانو لاس ته راشي. نو هغه وخت به قيامت قائم شي) (ترمذي)

حل اللغات:- ① تَجْتَلِدُوا: تاسو به وهئ يوبل. ② أَسْيَافِكُمْ: په تورو خپلو.

تسهيلات:

قوله: حَتَّى تَقْتُلُوا إِمَامَكُمْ، وَتَجْتَلِدُوا بِأَسْيَافِكُمْ:

داِمام په مصداق کښې دوه اقوال:① د امام څخه سلطان مراد دي لکه چه امير المؤمنين حضرت عثمان ﷺ قتل کړي شو.

② د حضرت مهدی نه لرِ شان وړاندي به د مؤمنانو امير خلق قتل کړی يرث دنياکم شرارکم په ملک او مال دواړو به د ظالمانو قبضه وی

[۵۳۶۵]د قيامت نښانی

۵۳۶۵-(²)[۶] ۞ وَعَنْهُ، قَالَ:۞ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ -: "۞«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يَكُونَ أَسْعَدَ النَّاسِ بِالدُّنْيَا لُكَعُ بْنُ لُكَعٍ»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ).

ترجمه:۞ او د حضرت حذيفه وايي. ۞ چې رسول الله ﷺ وفرمايل.۞ قيامت به هغه پوري نه راځي ترڅوپوري چې په دنيا کې کثرت مال وزر. او د اقتدار او حکمراني د اعتبار نه د ټولو نه زيات نصيبه ور هغه سړی جوړ نشي چې احمق وی او د احمق ځوی وی (يعنی هرکله چې په دنيا کې بداصل بدسيرت او بدکار خلق د ټولو نه زيات د حکومت او اقتدار او مال ودولت مالك جوړ شي. نو پوهه شئ چې قيامت بس راتلونکی دی. دا روايت ترمذي او کتاب دلائل النبوة کې بيهقي نقل کړی دی)

حل اللغات:- ① أَسْعَدَ: نيک بخت. خوش نصيبه. ② لُكَعُ: احمق. کمينه او رزيل

¹) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب ما جاء فی الأمر بالمعروف والنهی عن المنکر (رقم-۲۱۷۰) وابن ماجه فی کتاب الفتن/باب أشراط الساعة (رقم-۴۰۴۳) واحمد فی المسند:۳۸۹/۵

²) اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله عليه وسلم/باب منه (رقم-۲۲۰۹) واحمد فی المسند: ۳۸۹/۵

تسهیلات:

قوله: یَکُونَ أَسْعَدَ النَّاسِ بِالدُّنْیَا لُکَعُ بْنُ لُکَعَ:

د مذکوره جملې ترکیب اومعنی: أَسْعَدَ النَّاسِ: بالنصب والرفع. ابن مالک فرمائی اسعدالناس منصوب دې چه د یکون خبر دې بعضو رفع ضبط کړې ده چه ضمیر شان د یکون اسم دې اود دې نه پس جمله د دې تفسیر دې اسعدالناس اسم او لکع بن لکع خبر جوړول صحیح نه دی په دې صورت کښې معنی فاسدیږی کمالایخفی یعنی کوم سړې چه په دنیاکښې د ډیر مال خاوند وی هغه به خوشحاله او د لوئ منصب والا زیات حکم چلونکې به وی اوهغه به د اوچتې درجې کمینه وی.

قوله: لُکَعُ ابْنُ لُکَعَ:

دلکع بن لکع په تعریف کښې اقوال: ① دا رذیل بن رذیل ته وائی چې دحسب اونسب په اعتبار سره کم اصل وی.

② دهغه کس دې چې اصل اونسل ئې معلوم نه وی اونه ئې څوک د زړه څخه تعریف کوی.

③ په نهایه کتاب کښې دی چې لکع به په عربوکښې د غلام دپاره استعمالیدلو خوبیا ددا د احمق اوبې وقوف دپاره استعمالیږی

دروایت حاصل: قیامت به هغه وخت قائمیږی کله چه په دنیاکښې فساد په ښه اوچته درجه باندې وی کوم سړې چه څومره کمینه وی هم هغه هومره به هغه اوچتې درجې والا شمیرلې شی اودا نن صبا خو هم داسې کیږی. هغه قومونه کوم چه ډیر کم تر شمیرلې شو نن هغوی په اوچت منصب باندې دی او هغوی اسعدالناس شمیرلې شی.

[۵۳۶۶] دعیش اوراحت دڅوند نه د قناعت څوند ښه دې

۵۳۶۶-(۱)[۷] ① وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ کَعْبٍ الْقُرَظِيِّ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ② قَالَ: حَدَّثَنِي ③ «مَنْ سَمِعَ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ - رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ - ④ قَالَ: إِنَّا لَجُلُوسٌ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فِي الْمَسْجِدِ، ⑤ فَاطَّلَعَ عَلَيْنَا مُصْعَبُ بْنُ عُمَيْرٍ، ⑥ مَا عَلَيْهِ إِلَّا بُرْدَةٌ لَهُ مَرْقُوعَةٌ بِفَرْوٍ، ⑦ فَلَمَّا رَآهُ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - بَکَى ⑧ لِلَّذِي کَانَ فِيهِ مِنَ النِّعْمَةِ وَالَّذِي هُوَ فِيهِ الْيَوْمَ،

ترجمه: ① او حضرت محمد ابن کعب قرظي رحمه الله وایي، ② ماته یو سړی داحدیث بیان کی ③ چې هغه د حضرت علي رضی الله عنه نه اوریدلی وو ④ هغه سړي بیان وکی، چې حضرت علي رضی الله عنه وفرمایل یوه ورځ مونږ خلق درسول الله صلی الله علیه وسلم سره مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم یا مسجد قباء کې ناست وو، ⑤ چې معصب ابن عمیر رضی الله عنه هم هلته رالی، ⑥ هغه وخت د هغه په بدن صرف یو څادر وو او هغه څادرکي هم د څمړی پیوند لګیدلی وو، ⑦ رسول الله صلی الله علیه وسلم چې هغه ولیدی، نو په ژړا شو ⑧ چې یوه زمانه داسې وه، چې مصعب رضی الله عنه دومره خوشحاله او د

[1] اخرجه الترمذی فی السنن کتاب صفة القیامة والرقائق والورع عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲٤٧٦)

آرام وراحت ژوند تیروی، او نن یې دا حالت دی،

ترجمه: بیا رسول الله ﷺ د اظهار تعجب او حسرت په طور وفرمایل څه وخت به ستاسو څه حال وي، هرکله چې په تاسو کې یو سړی سهار یوه جوړه اغوستلو سره راوځي، او بیا مابنام ته دویمه جوړه اغوستلو سره راوځي، ستاسو مخې ته به د طعام یوه پیاله ایخودلي شي، او دویمه به پورته کولی شي، او تاسو به خپلو کورونو باندې داسې پردې اچوي، څرنګه چې کعبه باندې پرده غلاف اچولی شي. یعنی حضور ﷺ د دې ارشاد په ذریعه راتلونکې زماني طرف ته اشاره وفرمایله چې هرکله په تاسو باندې د خوشحالی دور راشي الله ﷻ د دنیا د خزانو چابیاني ستاسو قدمونو کې واچوي. ستاسو کورونو کې د مال واسباب فراخي شي، نو تاسو به په ورځ کې څو ځله جوړې بدلوي، د سهار لباس به جدا وي او د مابنام جدا ستاسو لوښي به د قسما قسم طعامونو. لذیذ او مرغوب اشیاء نه ډك وي، ستاسو کورونه به د راحت او اسائش او زیبائش د څیزونو نه مزین وي، او ګویا ستاسو ژوند به د عیش وعشرت مجموعه او د اسراف وتنعم آئنه دار جوړ شي، نو اووائي چې هغه وخت به ستاسو د زړه څه حالت وي، او تاسو به څه محسوسوی، بعضې صحابه په دې اوریدو سره عرض وکړو، یا رسول الله ﷺ مونږ به هغه ورځ کله چې د خوشحالي نعمت سره بهر منديو، د نن ورځې نه چې د فقر او افلاس په منګولو کې یو بهتر حالت کې به یو، ځکه چې هغه وخت به مونږ عبادت د پاره د خپل معاشي د جد وجهد او د حصول رزق د فکر نه ازاد او فارغ یو او مونږ ته به د محنت کولو ضرورت نه وي یعنی هرکله چې هغه وخت مونږ ته معاشي او اقتصادي طور سره خوشحالي حاصله وي، او نوکرو غیره به زمونږ کار روزګار کوی، نو مونږ به ذهني او جسماني پوره طور سره بې فکر او ازاد یو. او په هغه صورت کې به طاعت او عبادت او دیني خدمت کې پوره دلجمعي او سکون سره مشغول یو، حضور ﷺ په دې اوریدو سره وفرمایل داسې نه ده چې هغه وخت به تاسو بهتر یې، بلکې حقیقت دا دی، چې تاسو د هغه ورځې په نسبت نن ورځ زیات ښه یې. (ترمذي)

حل اللغات:- ① فِي الْمَسْجِدِ: مسجد نبوی مراد دې یا مسجد قباء، ② بُرْدَةٌ: څادر، ③ مَرْقُوعَةٌ: د رقعه نه دې د پیوند په معنی کښې دې ④ يَغْدُو: فرو څرمن ته وائی ⑤ حُلَّةٍ: جوړه. ⑥ رَاحَ: د مابنام راتلل،؟ ⑦ سَتَرْتُمْ: پردې به اولګوئ تاسو، ⑧ الْمُؤْنَةَ: ذمه داری، تاوان پورته کول

تسهیلات:

قوله: بَكَى لِلَّذِي كَانَ فِيهِ مِنَ النِّعْمَةِ:

دمصعب بن عمیر په حالت نبی علیه السلام ته ژړا ورتلل: یعنی حضور پاك چه د حضرت مصعب رضی الله عنه فقر وفاقه اوکتله نو حضور پاك په ژړا شو. د دې وجه داوه چه حضرت مصعب

په مکه مکرمه کښې د اسلام نه مخکښې په ډیر نازونعم کښې ژوند تیرولو اونن ئې دا کیفیت وو چه یوڅادر وو او په هغې کښې هم پیوندونه هم د څرمنې د ټکړو. د حضورپاك ژړا د شفقت اورحمت د وجې نه وه ګنی د اسلام تعلیم خوهم داسې وو چه دنیا مه جوړوئی، لکه څنګه چه په دې حدیث کښې دی چه دنیا جوړه کړئی نود دنیا به شئی حضورپاك پخپله هم ددې نه زیات مشقت اوچت کړې دې. حضرت عمر ﷺ چه کله توجه راواړوله چه تاسو د دنیا د وسعت دعا اوکړئی نوحضورپاك خفه شو.

[۵۳۶۷]په آخره زمانه کښې به په دین باندې قائم پاتې کیدل ډیر ګران وی

۵۳۶۸-()[۸] ① وَعَنْ أَنَسٍ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: ② قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "③«يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ، الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ ④ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ» " رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ إِسْنَادًا.

ترجمه: ①او حضرت انس ﷺ وایي، ② چې رسول الله ﷺ وفرمایل ③ په خلقو به یوه زمانه داسې راشي چې هغه وخت به د خلقو په منځ کې په خپل دین باندې صبر کونکی [یعنی ددنیا نه خپل لمن بچ کولو سره د دین احکامو حفاظت او پیروي کونکی] ④د هغه سړي په شان وي، چې هغه په خپل موټ کې سکروټه اخستي وي، امام ترمذي ﷫ دا روایت نقل کړی دی، او ویلي یي دي، چې داحدیث د سند له مخه غریب دی.

حل اللغات:- ① الْقَابِضِ: نیونکې (په موټی کښې)، ② الْجَمْرِ: سکروټه،

تسهیلات:

قوله: الصَّابِرُ فِيهِمْ عَلَى دِينِهِ كَالْقَابِضِ عَلَى الْجَمْرِ:

د روایت په مفهوم کښې دوه اقوال: ①د دین په اعتبار سره به دومره انحطاط اوشی لکه څنګه چه سروټکه په لاس کښې کیخودل ناممکن وی چه د هغې تکلیف او سوزیدل سړې نشی برداشت کولې دغه شان به په دین باندې عمل کول ګران شی ځکه چه د ګناهګارانو غلبه به وی ایمان به ضعیف شی قاله الطیبی ﷫

② ملاعلی قاری فرمائی چه د روایت مطلب دادې چه یوه زمانه به داسې راشی چه په دین باندې قایم پاتې کیدل به د ډیر مشقت سبب وی لکه څنګه چه په موټی کښې سروټکه کیخودل ډیر ګران کار دې نوداسې سړې چه په دغه وخت کښې په دین باندې قایم پاتې شی هغه به ډیر زیات صبر اختیارکړې وی نوهغه ته به اجر او ثواب هم ډیر زیات وی. خلاصه دا شوه چه د داسې فتنې په وخت کښې د دین د حفاظت د پاره او د ایمان د حفاظت د پاره د صبر عظیم ضرورت دې چه د اجر او ثواب باعث به وی

() اخرجه الترمذی فی السنن کتاب الفتن عن رسول الله صلی الله علیه وسلم/باب (رقم-۲۲۶۰) واحمد فی المسند:۲/۳۹۰

[۵۳۶۸]په ژوند کښې ښه او بد حالات

۵۳۶۸-(۱)[۹] [۱] وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُ- قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ -صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: "[۲]«إِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ خِيَارَكُمْ،[۳] وَأَغْنِيَاؤُكُمْ سُمَحَاءَكُمْ،[۴] وَأُمُورُكُمْ شُورَى بَيْنَكُمْ، [۵] فَظَهْرُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ بَطْنِهَا،[۶] وَإِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ شِرَارَكُمْ،[۷] وَأَغْنِيَاؤُكُمْ بُخَلَاءَكُمْ،[۸] وَأُمُورُكُمْ إِلَى نِسَائِكُمْ،[۹] فَبَطْنُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ ظَهْرِهَا»". رَوَاهُ التِّرْمِذِيُّ، وَقَالَ: حَدِيثٌ غَرِيبٌ.

ترجمه: [۱] او حضرت ابوهريره ﷺ وايي، چې رسول الله ﷺ وفرمايل. [۲] هر کله چې ستاسو قائد او سرداران هغه خلق وي کوم چې په تاسو کې بهترين خلق دي. [۳] او ستاسو دولتمند خلق سخيان وي. [۴] او ستاسو معاملات ديوبل په مشورو سره سرته رسي. [يعنې مسلمانان يومرکز باندې متحد او متفق وي، او خپل ټول معاملات او امور په رايې اومشوره سره فيصله کوي] . [۵] نو هغه وخت د زمکې شا به ستاسو د پاره د زمکې دخيټې نه ښه وي، [يعنې داسې مبارکه زمانه کې به ژوند د مرګ نه ښه وي. ځکه چې په دې صورت کې به تاسو ته د کتاب او سنت مطابق د عمل کولو او د دين په لار د تلو توفيق نصيب کېږي، او ښکاره خبره ده چې هغه خلق ډير خوش بخت وي چې چې حسن عمل سره اوږد ژوند ورته حاصل شي] . [۶] او هر کله چې ستاسو قائد او سردار هغه خلق وي. چې په تاسو کې بدترين يعنې فاسق او فاجر او ظالم خلق دي. [۷] او ستاسو دولتمند خلق بخيلان وي. [۸] او ستاسو د معاملاتو واګې د ښځو په لاس کې وي. [۹] نو هغه وخت د زمکې خيټه به ستاسو د پاره د زمکې د شا نه ښه وي، يعنې داسې زمانه کې مرکيدل به د ژوند نه ښه وي. دا روايت امام ترمذي نقل کړی دی او ويلي يې دي چې دا حديث غريب دی. الترمذی: ۵۳۰/۴]

حل اللغات:- ① خِيَارَكُمْ: غوره په تاسو کښې، ② سُمَحَاءَ: سخيان. همدرد . ③ فَظَهْرُ الْأَرْضِ: د زمکې پاس حصه.

قوله: إِذَا كَانَ أُمَرَاؤُكُمْ خِيَارَكُمْ،

د حاکمانو نیکی: کله چه حکمران طبقه ښه ديندار وی نودهغوی ښه اثر به په عوامو باندې پريوځي نوعام حالات به ښه وی.

قوله: وَأَغْنِيَاؤُكُمْ سُمَحَاءَكُمْ،

د مالدارانو سخاوت: يعنی مالداره طبقه به فياض سخی او همدرد وی نوغريبو عوام سره به مالی تعاون جاری وی نوټول به خوشحال وی دين به هم په ترقئ کښې وی اودنيا به هم په ترقئ کښې وی

قوله: وَأُمُورُكُمْ شُورَى بَيْنَكُمْ،

په مشاورت سره کارونه: يعنی ملکی حالات دملك خارجه اوداخله پاليسی به دعقل مندو خيرخواه کسانو په لاس کښې وی نوفيصلې به ښې کيږي

---

[۱]) اخرجه الترمذی فی السنن كتاب الفتن عن رسول الله صلى الله عليه وسلم(رقم-۲۲۶۶)

قوله: فَظَهْرُ الْأَرْضِ خَيْرٌ لَكُمْ مِنْ بَطْنِهَا:

دوژند د مرګ څخه غوره والي: يعنى دزمكې پاس حصه به دځمكې دَلاندې حصې نه ستاسو دپاره بهتر وى يعني دمرګ نه به ژوند ښه وى ځکه چه دحکامو د وجې نه به دين اودنيا دواړه محفوظ وى دهمدرد مالدارانود وجې نه به دَ غريب عوامو سره همدردي كيږى او ملك به په شورائى نظام باندې قائم وى په دې كښې به خودمختارى او استحكام وى نو په ژوندى پاتې كيدو كښې به خيرغالب وى اوژوندى پاتې كيدل به دَ مرګ نه بهتروى

كه چرې دا دريواړه ستنې پريوځى نو بيا دَ ژوندى پاتې كيدو نه مرګ ښه دې ځكه چه غلط حكام عوام ګمراه كوى لكه څنګه چه نن صبا كيږى

قوله: ،وَأُمُورُكُمْ إِلَى نِسَائِكُمْ،

دښځو مشرى: ناقصات العقل ښځو په اشارو باندې تګ به دَ خطرې نه خالى نه وى په دې وجه ملاعلى قارى رحمه الله يوروايت نقل كړې دې "شاوروهن وخالفوهن"يعنى دَ ښځو مشوره اوره مګر په هغې باندې عمل مه كوه. بهرحال په دې صورت كښې به شر غالب وى نو دَ ژوندى پاتې كيدو نه به مرګ ښه وى.

[٥٢٦٩]دَ دنيا محبت او د مرګ نه ويره دَ ذلت اسباب دى

٥٢٦٩-()[١٠] [١] وَعَنْ ثَوْبَانَ -رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ- قَالَ: [٢] قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-: [٣] «يُوشِكُ الْأُمَمُ أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ إِلَى قَصْعَتِهَا»، فَقَالَ قَائِلٌ: وَمِنْ قِلَّةٍ نَحْنُ يَوْمَئِذٍ؟ قَالَ: «بَلْ أَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ كَثِيرٌ، وَلَكِنَّكُمْ غُثَاءٌ كَغُثَاءِ السَّيْلِ، وَلَيَنْزِعَنَّ اللَّهُ مِنْ صُدُورِ عَدُوِّكُمُ الْمَهَابَةَ مِنْكُمْ، وَلَيَقْذِفَنَّ فِي قُلُوبِكُمُ الْوَهْنَ»،

ترجمه: [١] او حضرت ثوبان رضي الله عنه وايي، [٢] چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل [٣] ډير نزدې داسې وخت راتلونكى دى چې دكفر او ضلالت نه ډك دخلقو ډله به خپلو كې ستاسو سره دَ جنګ كولو او ستاسو شان وشوكت ختمولو د پاره به يوه ډله بله ډله رابلى څرنګه چې د طعام كاسه باندې جمع كيدونكي خلق خپلوكي يوبل د طعام كاسي طرف ته متوجه كوي. يعنى څرنګه چې څه خلق جمع كيدو سره د طعام محفل كې كاسي ته كښيني، نو په خپلو كې يوبل طرف ته د طعام لوښي ورمخكي كوي، او په هغه كې چې څه شي وي، هغه ته دخوړلو د پاره وايي نو هغوئ تول بې تكلفه او بغير دڅه بنديز دهغه لوښو نه څه چې غواړي اخستو سره خوري. دغه شان د كفر وضلالت حامل خلق به ستاسو په مقابله كې جمع كيدو سره خپلو كې يوبل راپاروي او آخر هغوئ به تاسو هلاك كړي، ستاسو جائدادونه به تباه كړي ستاسو مال او اسباب به لوټ كړي، او تاسو به برباد كړي په دې كې ګويا دې طرف ته اشاره ده چې تاسو مسلمانان به ددښمنان دين په مخكې د شنه وښو په شان شئ. چې د چا زړه غواړي تاسو به تير كړي، يوصحابي رضي الله عنه په دې اوريدو

^١) اخرجه ابوداود في السنن كتاب الترجل /باب في تداعي الأمم على الإسلام (رقم-٤٢٩٧) واحمد في المسند:٥/٢٧٨

سره عرض وکړو چې د هغوئ زمونږ پخلاف جمع کیدل او په مونږ غالب راتلل، آیا په دي سبب به وي چې هغه وخت به زمونږ تعداد کم وي، حضور ﷺ وفرمایل، نه داسې به په دي وجه نه وي، چې تاسو به کم تعداد کې يي بلکې هغه وخت به ستاسو تعداد ډير وي، ليکن ستاسو د ټولو حيثيت به د هغه زګ په شان وي. کوم چې د درياب يانالیو په غاړو پيدا کيږي، يعني په تاسو کې به جرئت شجاعت او د قوت نيستي وي. او په دي کې څه شک نشته چې الله ﷻ به د دښمنانو د زړونو نه ستاسو هيبت او ستاسو رعب اوباسي، او ستاسو په زړونو کې به ضعف او سستي پيدا کړي.

حل اللغات:- ① يُوشِكُ: دَ افعال مقاربه نه دي دَ قريب او نزدې په معنی کښې دي ② الأَكَلَةُ: روټئ خورونکی، ③ قَصْعَتِهَا: کاسه، ④ غُثَاءٌ: زګ. ⑤ السَّيْلِ: سيلاب. ⑥ الْمَهَابَةُ: هيبت. رعب داب.

قَالَ قَائِلٌ: يَارَسُولَ اللهِ! وَمَا الْوَهْنُ؟ قَالَ: "حُبُّ الدُّنْيَا وَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ». رَوَاهُ أَبُو دَاوُدَ، وَالْبَيْهَقِيُّ فِي (دَلَائِلِ النُّبُوَّةِ).

ترجمه: چا عرض وکړو، يا رسول الله! زمونږ په زړونو کې به د ضعف او سستي پيدا کيدو سبب څه وي؟ حضور ﷺ وفرمايل د دنيا محبت او د مرګ نه بيزاري يعني هرکله چې ژوند ستاسو د پاره عزيز او مرګ ستاسو د پاره ناخوښه شي، نو تاسو به د دښمن د مقابلې کولو اود بهادري جوهر خودلو قابل پاتې نه شي. دا روايت ابوداود او بيهقي کتاب دلائل النبوة کې نقل کړی دی.

حل اللغات:- ⑦ الْوَهْنَ: بزدلي او ويره.

تسهيلات: قوله: أَنْ تَدَاعَى عَلَيْكُمْ كَمَا تَدَاعَى الْأَكَلَةُ:

د مسلمانانو د مغلوبيت پيشنګوئی: په اصل کښې تتداعی دي يعنی يو بل به دَ دنيا کافران راغواړي او وائي به چه راشئ مسلمانان اوخورئ دوی تباه اوبرباد کړئ دَ دوی ملکونه او وسائل ددوی نه په زور واخلئ. نن صبا دَ ټولې دنيا کافران دَ مسلمانانو خلاف راجمع شوی دی اوهم دغه نعره لګوی چه مسلمانان ختم کړئ دا دهشت ګرد دی. دَمسلمانانو حکمرانان او اکثر عوام دغه شان دَخس اوخشاك په شان دی لکه څنګه چه په دي حديث کښې پيشنګوئی ده. دَدنيا په محبت کښې ټول لګيا دی اوجهاد ئې پريخودې دې بلکه انکارترې کوی. ۵۵ ملکونه دی مګر دَ مچ دَ وزر برابر هم نه دی د لويو لويو وسائلو مالکان دی مګر دَ مرګ نه ويريږی. دکافرانو رعب دَ هغوی په زړونو کښې ناست دې. او يو څو مجاهدين دی چه نن صبا دَامت مرحومه د فخر نښې دی مګر خپل هم دَهغوی دښمنان دی اودښمنان خوئی هسې هم دښمنان دی

اَلْفَصْلُ الثَّالِثُ

[۵۳۷۰-]دَ يو څو متعدي ګناهونو نقصان اووبال

۵۳۷۰-(۱۱) ① عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ -رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا- قَالَ: ② "مَاظَهَرَ الْغُلُولُ فِي قَوْمٍ ③ إِلَّا أَلْقَى اللهُ فِي قُلُوبِهِمُ

[۱] اخرجه مالک فی الموطا كتاب الجهاد/باب ما جاء فی الغلول (رقم -۲۶)

الرُّعْبَ، ③ وَلَا فَشَا الزِّنَا فِي قَوْمٍ إِلَّا كَثُرَ فِيهِمُ الْمَوْتُ، ④ وَلَا نَقَصَ قَوْمٌ الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِلَّا قُطِعَ عَنْهُمُ الرِّزْقُ، ⑥ وَلَا حَكَمَ قَوْمٌ بِغَيْرِ حَقٍّ إِلَّا فَشَا فِيهِمُ الدَّمُ، ⑦ وَلَا خَتَرَ قَوْمٌ بِالْعَهْدِ إِلَّا سُلِّطَ عَلَيْهِمُ الْعَدُوُّ". رَوَاهُ مَالِكٌ.

ترجمه: ① روايت دى، حضرت ابن عباس ﷺ وفرمايل ② هر كله چې يو قوم په مال غنيمت كې خيانت كول شروع كړي، ③ نو الله ﷻ د هغوئ په زړونو كې د دښمن رعب او خوف پيدا كوي. ④ كوم قوم كې چې زناكاري خوره شي، په هغه كې څه وبا مثلاً طاعون وغيره خوريدل. يا د اهل علم ودانش ددې دنيا نه د رخصتيدو په صورت كې مرګونه زياتيږي، ⑤ او كوم قوم چې ناپ تول كې كمى كوي، [يعنى د هغوئ تجارت پيشه طبقه په كم ناپ او كم تول په شان عيب كې اونخلي] ، نو د هغوئ په رزق كې بركت ختمول كيږي، [يا د هغه قوم د مقدر نه حلال رزق الوځى] ، ⑥ كوم قوم كې چې غير منصفانه او ناحق احكام جاري كول شروع كيږي، [يعنى د كوم قوم ارباب اقتدار خلق چې احكام فيصلې نافذ كولو كې د عدل وانصاف او مساوات لحاظ نه ساتي. يا د جهل او ناداني په وجه غلطې فيصلې كول شروع كړي] ، نو د هغوئ په منځ كې. خونريزي خوريږي. يعنى د هغه قوم معاشره كې داسې اسباب پيدا كيږي. او داسې عوامل خوريږي. چې د عام فتنه او فساد او خونريزي باعث جوړيږي، ⑦ او كوم قوم چې خپل عهد وپيمان ماتوي. نو الله ﷻ په هغوئ د هغوئ دښمن مسلط كوي. (مالك)

حل اللغات: - ① الْغُلُولُ: په مال غنيمت كښې خيانت كولو ته غلول وائى. ② الرُّعْبَ: هيبت. ③ فَشَا: خوره شى. عام شى. ④ الْمِكْيَالَ: ناپ تول، ⑤ الدَّمُ: خون ريزى. جنګ جګړې. ⑥ خَتَرَ: په وعده كښې دهوكه او غدارى، هم ددې نه ختار كفور دې.

تسهيلات:

د بعضې مشكلو جملو وضاحت:

① الْغُلُولُ: دلته عام خيانت هم مراد كيدې شى. ددې نقصان دادې چه د قوم په زړونو كښې په اجتماعى توګه باندې د دښمن رعب اچولې شى او قوم بزدل كيږى او څوك چه اوويريدو هغه مړشو.

② فَشَا الزِّنَا: كله چه زنا عام شى نو د هغې نقصان دادې چه په قوم كښې وبائى مرضونه پيدا كيږى مثلاً طاعون هيضه وغيره لاعلاج بيمارئى عام كيږى نو مرګ عام كيږى. په ناپ تول كښې د كمى نقصان دادې چه حلال رزق او د هغې نه بركت اوچتيږى او شريعت پريخودو سره خپل د ځان نه جوړشوى قوانينو مطابق د فيصلو كولو نقصان دادې چه وينې تويول عام كيږى.

③ وَلَا خَتَرَ: ددې نقصان دادې چه هم هغه دښمن په دې قوم باندې مسلط كيږى كوم دښمن سره چه ئې وعده خلافى كولو سره دهوكه كړې وه.　　[الحمد لله لسم جلد ختم شو.]